يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ

په پښتو ژبه کښې اولنۍ جامع مفصل، عام فهم او تحقیقي انداز
کښې علمي تحفه

رُشدُ القرآن
فی
تفسیرِ آیاتِ القرآن

څلورم جلد

د سورة بني اسرائيل نه تر آخره د سورة مؤمنون پورې

مؤلف

شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا اُسید الله صاحب هزاروي رحمة الله علیه

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلرُّشۡدِ فَـَٔامَنَّا بِهِۦۖ وَلَن نُّشۡرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدٗا﴾

په پښتو ژبه کښې آسان. عام فهم او تحقیقی انداز کښې. علمی او الهامی نکاتو باندې مشتمل. لاجوابه علمی تحفه

رشد القرآن

فی تفسیر آیات القرآن

خلورم جلد

له ابتداء د سورة بنی اسرایل نه تر آخر د سورة مومنون پورې

تالیف شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا أسید الله صاحب رحمة الله تعالی علیه

د کتاب نوم: رشد القرآن «خلورم جلد» فی تفسیر آیات القرآن

تالیف: شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا أسید الله صاحب رحمة الله تعالی علیه

ضبط وترتیب: مولانا ثناء الله صاحب 03449250706

تصحیح ونظرثانی: مولانا تقی الله صاحب 03005774523

تعداد: ۵۰۰ جلده

طبع: دوم

د ملاویدو پتې:

۱ - مکتبه رشیدیه جدید قصه خوانی پ

۲ - مکتبه دیوبند، کمال پلازه کوهاټ

۳ - مکتبه رشیدیه، اکوړه خټک.

۴ - مکتبه علمیه اکوړه خټک.

ركوع	سورة بنی اسرائیل	آیتونه
۱۲	بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ	۱۱۱

خاص په نوم د الله سره چه بیحده مهربان او ډیر رحم کوونکي دي شروع کوم

رقمها حسب التسلسل (۱۷) **وحسب النزول** (۵۰)

سورة بنی اسرائیل مکی سورة ده دي سیوا دځوایتونو نه (۱۱۰. ۱۱۱) ایتونو باندی مشتمل دي په ترتیب قرانی کښ ولسم اوپه ترتیب نزولی کښ پنځوستم نمبرسورت دي دسورت القصص نه وروستو اودسورت یونس نه مخکښ نازل شویدي زمانه دنزول ئی دور اخیردمکي معظمي دي دهجرت نه یوکال مخکښ نازل شویدي،کل کلمات ئی (۵۳۳) اوکل حروف ئی (۲۴۲۰) دي

ربط: ربط اسمی دسورت النحل سره دادي چي په سورت النحل کښ نحل ته دالهام خیرذکروو اوپه سورة بنی اسرائیل کښي انسانانوته دسبل الخیرذکردي چي ﴿إِنَّ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ يَهۡدِي لِلَّتِي هِيَ أَقۡوَمُ﴾ (ایت نمبر۹).

ربط مضمونی ئی دماقبل سره دادي چي په سورة النحل کښ دمشرکینو مطالبه دعذاب پوره کیدلوذکروو چي دوئ به حضورﷺ ته وئیل چي کوم عذاب نه ته مونږ یره وي هغه عذاب نه واقع کیږي نو الله ﷻ په دوئ باندی قحط سالی مسلطه کړه چي دهغي ذکرپه (۱)سورة النحل ایت نمبر(۱۱۲)(ضرب الله مثلاقرية الخ) کښ تیرشویدي اوپه سورة بنی اسرائیل کښ ددوئ مطالبه په باره دمعجزي کښ پوره کیدلوذکردي چي ستاسومطالبه دعظیم الشان معجزي وه نوهغه پوره شوه اوواقعه دمعراج یوه عظیم الشان معجزه ده،که بیاهم تاسوتوحیدنه منئ نوهلاک به شئ (جواهرالقران) اودغه (۲)شانتی مخکښ سورت کښ اثبات دتوحیداوشوپه اکثردلائل عقلیوسره اوپدیکښ اثبات دتوحیدکیږي په عظیم معجزي سره او(۳)دغه شانتی په سورت النحل کښ تخویف ذکروو دعذاب نه،په سورة بنی اسرائیل کښ ذکردا سبابو دعذاب کیږي،چي هغه خلور(۴)اسباب دي(۱)توحیدنه انکارکول(۲)معجزاتونه انکارکول(۳)اخراج الرسل (۴)

استهزاء بالرسل او (۴) دغه شانتی دسورة النحل په اخیرکښ دصبرتعلیم ورکړې شوې وو او په سورة بنی اسرائیل کښ انجام دَ صبر اودهغې نمونې بیانیږي او (۵) دغه شانتی دسورة النحل په اخیرکښ په طریقه ددعوت اوتبلیغ کښ حکمت ذکروو په سورت بنی اسرائیل کښ دهغې حکمت تفسیرذکرکیږي چې ﴿وَقُل لِّعِبَادِى يَقُولُوا ٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ﴾ سورة بنی اسرائیل ایت نمبر ۵۳

دعوه سورت: دسورت مرکزی دعوه هغه اثبات دتوحید دې اودادعوه دسورت په اخیرکښ ذکرکیږي چې ﴿قُلِ ٱدْعُوا ٱللَّهَ أَوِ ٱدْعُوا ٱلرَّحْمَٰنَ﴾ بنی اسرائیل ایت نمبر ۱۱۰ اوورسره ورسره ذکردځلور (۴) اسبابو دَعذاب هم بیانیږي لپاره دتحذیراوطرق دفعیه دعذاب هم ذکرکیږي.

خلاصه: دَسورت دَ مضامینومختصره خلاصه داده چې پدې سورت کښ یودلیل وحی. شپږدلائل عقلیه، ځلوردلائل نقلیه، پنځه ځلې تخویف دنیوی، پنځه ځلې تخویف اخروی. ځلورځلې پکښ بشارتونه، اته ځلې پکښ زجرونه، ځلورځلې په کښ شکوی دیوسوال جواب. یودلیل عقلي برای اثبات حشراوځلورپکښ امورمصلحه ذکرکیږي اودغه شانتی بعض ایات معجزه اوپه مینځ کښ اموردفعیه دَعذاب اوتفسیردطریقې دَتبلیغ هم بیانیږي او اعلان کیږي چې دخپل اباٸی دشمن شیطان اودَابلیس دَلمسه نه ځان بچ اوساتئ.

تفصیل ئې دادې چې په ایت (نمبر۱) ﴿سُبْحَٰنَ ٱلَّذِىٓ﴾ کښ اثبات ددعوې اولا په دلیل وحی سره کیږي اوبیادلیل عقلي ذکرکیږي په ﴿إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ﴾ سره اوذکردَمعجزه اسراهم ذکرده په ایت نمبر۲، ۳ ﴿وَءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ﴾ نه تر ﴿إِنَّهُۥ كَانَ عَبْدًا شَكُورًا﴾ پورې دلیل نقلي ذکرکیږي دحضرت موسی علیه السلام نه، سره دترغیب نه توحیدنه، دایت نمبر۴ نه تر۸ پورې ﴿وَقَضَيْنَآ إِلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ﴾ نه تر ﴿لِلْكَٰفِرِينَ حَصِيرًا﴾ پورې تخویف دنیوی نمونه ذکرکیږي ایت نمبر۹ ﴿إِنَّ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ﴾ کښ ذکردمعجزې دقرآن دې سره دبشارت اخروی نه، په ایت نمبر۱۰ ﴿وَأَنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ﴾ کښ تخویف اخروي ذکرکیږي، په ایت نمبر۱۱ ﴿وَيَدْعُ ٱلْإِنسَٰنُ﴾ کښ شکوه اوزجرذکرکیږي په طلب کولودشرسره. په ایت۱۲ ﴿وَجَعَلْنَا ٱلَّيْلَ﴾ کښ دویم دلیل عقلي

ذکرکیږي،په ایت نمبر۱۳، ۱۴، ۱۵ ﴿وَكُلَّ إِنسَـٰنٍ أَلْزَمْنَـٰهُ﴾نه تر﴿حَتَّىٰ نَبْعَثَ رَسُولاً﴾پوري کښې تخویف اخروي سره دَ حکمت دارسال رسل بیانیږي ،په ایت نمبر(۱۲، ۱۷) ﴿وَإِذَآ أَرَدْنَآ﴾نه تر﴿مَحْظُورًا﴾ پوري کښې دکفارو دیواعتراض جواب ذکرکیږي سره دتخویف اوبشارت اخروي نه.په ایت نمبر ۲۱ ﴿ٱنظُرْ كَيْفَ﴾کښې ترغیب الی الاخرة بیانیږي، دَایت نمبر۲۲ نه تر۳۸ ﴿لَّا تَجْعَلْ مَعَ ٱللَّهِ﴾نه تر﴿عِندَ رَبِّكَ مَكْرُوهًا﴾پوري اعاده دتوحیدکیږي ثانیا اوامورثلاثه دفعیه دعذاب بیانیږي چې(۱)شرک نه ځان بچ کول دي ایت نمبر ۲۲ (۲) دویم احسان دمخلوق سره ایت نمبر۲۳ نه تر۲۹ (۳) عدل کول اوظلم نه ځان بچ کول. ایت نمبر ۳۱ نه تر۳۸ اوپه مینځ کښې په ایت نمبر ۳۰ ﴿إِنَّ رَبَّكَ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ﴾کښې دریم عقلي بیانیږي،په ایت نمبر۳۹﴿وَلَا تَجْعَلْ﴾ کښې ثمره دماقبل ذکرکیږي سره داعادې دمسئله توحیدنه په دریم ځلي،په ایت نمبر ۴۰، ۴۱، ۴۲ ﴿أَفَأَصْفَـٰكُمْ﴾نه تر﴿ذِى ٱلْعَرْشِ سَبِيلاً﴾پوري کښې زجربیانیږي په شرک بالملئکة اوپه نفرت دقرآن سره،په ایت نمبر۴۳، ۴۴ ﴿تُسَبِّحُ لَهُ﴾نه تر﴿حَلِيمًا غَفُورًا﴾پوري مسئله دتوحیدذکرکیږي چې هرشی که هغه نباتات دي،جمادات دي یاوحوش اوطیوردي داټول دَاللهﷻ پاکی بیانه وي،په ایت نمبر۴۵، ۴۲، ۴۷، ۴۸ ﴿وَإِذَا قَرَأْتَ﴾نه تر ﴿فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلاً﴾پوري دنه منلووجوهات سره دځلورزجرونوبیانیږي (۱) زجرپه انکاردَقرآن سره(۲)زجرپه انکاردَتوحیدسره(۳)زجرپه انکاردَرسول سره (۴)زجرپه انکاردَبعث سره ،په ایت نمبر۴۹﴿وَقَالُوٓاْ أَءِذَا كُنَّا﴾ کښې شکوه ذکرکیږي،په ایت نمبر ۵۰، ۵۱﴿قُلْ كُونُواْ﴾ نه تر﴿أَن يَكُونَ قَرِيبًا﴾پوري جواب شکوه ذکرکیږي،په ایت نمبر۵۲ ﴿يَوْمَ يَدْعُوكُمْ﴾کښې تخویف اخروي ذکرکیږي،په ایت نمبر۵۳. ۵۴ ﴿وَقُل لِّعِبَادِى﴾نه تر﴿وَمَآ أَرْسَلْنَـٰكَ عَلَيْهِمْ وَكِيلاً﴾پوري طریقه دتبلیغ ذکرکیږي،په ایت نمبر۵۵ ﴿وَرَبُّكَ أَعْلَمُ﴾کښې څلورم دلیل عقلي بیانیږي،په ایت نمبر۵۲، ۵۷﴿قُلِ ٱدْعُواْ ٱلَّذِينَ﴾نه تر﴿كَانَ مَحْذُورًا﴾ پوري دلیل نقلي بیانیږي دانبیاء سابقین نه اودَ ملائکونه.په ایت نمبر۵۸﴿وَإِن مِّن قَرْيَةٍ

﴾ کښې تخويف دنيوی ذکرکيږي.ايت نمبر ۵۹. ۶۰ دريم ايت د معجزه دې پد یکښې دويم سبب دنزول عذاب ذکرکيږي چې هغه انکاردمعجزاتونه چې قوم ثمود دناقې معجزي نه انکارکړې وو اومشرکينودمعراج دواقعي تسليم کولونه انکاراوکړو.دايت نمبر ۶۱. نه تر ۶۵ ﴿وَإِذۡ قُلۡنَا﴾ نه تر﴿وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ وَكِيلٗا﴾پوري واقعه دحضرت ادم علیه السلام اوابليس ملعون بيانيږي لپاره ددې چې شيطان ستاسوازلي دشمن دې دَده لمسه مه منئ،په ايت نمبر ۶۶ ﴿رَّبُّكُمُ ٱلَّذِي يُزۡجِي﴾کښې پنځم دليل عقلي ذکرکيږي،په ايت نمبر ۶۷ ﴿وَإِذَا مَسَّكُمُ﴾کښې زجردې په مشرکينوباندی په ايت نمبر ۶۸، ۶۹ ﴿أَفَأَمِنتُمۡ﴾نه تر﴿عَلَيۡنَا بِهِۦ تَبِيعٗا﴾پوري تخويف دنيوي دې په ايت نمبر ۷۰ ﴿وَلَقَدۡ كَرَّمۡنَا﴾کښې ترغيب الى التوحيددې په ذکردنعمتونوسره،په ايت نمبر ۷۱. ۷۲ ﴿يَوۡمَ نَدۡعُواْ﴾نه تر﴿وَأَضَلُّ سَبِيلٗا﴾پوري بشارت سره دتخويف اخروي بيانيږي. دايت نمبر ۷۳ نه تر ۷۵ ﴿وَإِن كَادُواْ﴾ نه تر﴿عَلَيۡنَا نَصِيرٗا﴾پوري تحذيردې دَمداهنت نه په ايت نمبر ۷۶، ۷۷ ﴿وَإِن كَادُواْ﴾ نه تر﴿تَحۡوِيلًا﴾پوري دريم سبب دعذاب بيانيږي چې هغه اخراج دَرسولانودي،دايت نمبر ۷۸ نه تر ۸۱ ﴿أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ﴾نه تر﴿زَهُوقٗا﴾پوري خلوراداب اوامورمصلحه بيانيږي،په ايت نمبر ۸۲ ﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلۡقُرۡءَانِ﴾کښې ترغيب الى القرآن بيانيږي،په ايت نمبر ۸۳، ۸۴ ﴿وَإِذَآ أَنۡعَمۡنَا﴾نه تر﴿هُوَ أَهۡدَىٰ سَبِيلٗا﴾پوري زجردې په سبب داعراض کولوسره،په ايت نمبر ۸۵، ۸۶، ۸۷ ﴿وَيَسۡـَٔلُونَكَ﴾نه تر﴿عَلَيۡكَ كَبِيرٗا﴾پوري زجراوشکوه ده په سوال عناداباندی په ايت نمبر ۸۸ ﴿قُل لَّئِنِ ٱجۡتَمَعَتِ﴾کښې تحدي ده لپاره دَ اثبات دصدق دقرآن،دَ ايت نمبر ۸۹ نه تر ۹۳ ﴿وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا﴾نه تر﴿بَشَرٗا رَّسُولٗا﴾پوري زجرونه اوشکوه ذکرکيږي سره دَجواب شکوه نه په﴿سُبۡحَانَ رَبِّي هَلۡ كُنتُ﴾ سره .په ايت نمبر ۹۴ ﴿وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ﴾کښې شکوه بيانيږي چې کافرانوبه په رسالت

اوبشریت کښ منافات کنړلو ،په ایت نمبر۹۵، ۹۶ ﴿قُل لَّوْ كَانَ ﴾ نه تر ﴿خَبِيرًا بَصِيرًا ﴾پوري دهغې جواب ذکرکيږي،په ايت نمبر۹۷، ۹۸ ﴿وَمَن يَهْدِ ٱللَّهُ ﴾نه تر ﴿خَلْقًا جَدِيدًا ﴾پوري تخويف اخروي ذکرکيږي،سره دَ سبب دانکاردَبعث نه. په ايت نمبر۹۹ ﴿أَوَلَمْ يَرَوْا ﴾ کښ دليل عقلي ذکرکيږي لپاره داثبات دَ بعث، په ايت نمبر ۱۰۰ کښ﴿قُل لَّوْ أَنتُمْ تَمْلِكُونَ ﴾کښ شپږم دليل عقلي ذکرکيږي په توحيدباندی،دايت نمبر ۱۰۱ نه تر۱۰۴ ﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا ﴾نه تر﴿لَفِيفًا﴾پوري خلورم سبب دَعذاب ذکرکيږي چې هغه استهزاء باالرسل ده اومثال ئې ذکرشويدې په واقعه دَ حضرت موسی علیہ السلام اوفرعون سره،په ايت نمبر۱۰۵، ۱۰۶ ﴿وَبِٱلْحَقِّ أَنزَلْنَـٰهُ ﴾نه تر﴿تَنزِيلًا ﴾پوري ترغيب الى القرآن ذکرکيږي،په ايت نمبر۱۰۷،۱۰۸، ۱۰۹ ﴿قُلْ ءَامِنُوا ﴾نه تر﴿خُشُوعًا﴾پوري دريم دليل نقلي ذکرکيږي په توحيدباندی دمؤمنين سابقين نه په ايت نمبر۱۱۰، ۱۱۱ ﴿قُلِ ٱدْعُوا ٱللَّهَ ﴾نه تر﴿تَكْبِيرًا﴾پوري په اخيرکښ دعوه دسورت بطورخلاصه بيانيږي

سُبْحَـٰنَ	ٱلَّذِىٓ	أَسْرَىٰ	بِعَبْدِهِۦ	لَيْلًا	مِّنَ	ٱلْمَسْجِدِ	ٱلْحَرَامِ
«۱» پاك دې	هغه ذات	چې بوتلې ئې	ووبنده خپل	په يوه حصې	دشپې	کښ دمسجدحرام	نه
إِلَى	ٱلْمَسْجِدِ	ٱلْأَقْصَا	ٱلَّذِى	بَـٰرَكْنَا	حَوْلَهُۥ	لِنُرِيَهُۥ	
ترمسجداقصی پوري		هغه چې	برکت اچولې دې مونږه	چاپيره دهغې نه.	لپاره ددې چې اوښايومونږه ده ته		«2»
مِنْ	ءَايَـٰتِنَآ		إِنَّهُۥ	هُوَ	ٱلسَّمِيعُ	ٱلْبَصِيرُ	①
څنی	علامات دقدرت خپل		«3» بيشکه	الله ﷻ	همدې	اوريدونکې	ليدونکې دی

«۱» اشاره برای دليل وحی واول ايت معجزه
«2» نظاره قدرت باری تعالی یاهلاکت مشرکين دربدربعد ازانکارمعجزه اسراء
«3» اول دليل عقلي

﴿سُبْحٰنَ﴾دا اول ایت معجزه دې پدیکښې دعوه دسورت هم ذکرشویده چې توحیددې اودیته دلیل وحی هم وئیلی کیږي اودهغې دَاثبات لپاره معجزه دَ اسراء ذکرشویده. او(سبحن) د راجح قول مطابق مصدر دمجردو دې اوفعل ورله مقدردې دمزیدونه. اوتقدیردعبارت داسی دې چې (سبحوا سبحانا الذی الخ) اوحذف دَ عامل یاسماعي دې لکه دامشهوردې اویاقیاسي دې لکه دامسلک دشیخ رضي دې اولفظ دسبحن اکثرپه هغه اموروکښې استعمالیږي چې هغه عظام اوحیران کن وي اوهرکله چې واقعه دَ معراج یوه عظیم واقعه وه نوددې وجه د دې سورت شروع هم په لفظ دسبحن سره اوشو.

مباحثه متعلقه بواقعه معراج: دَمعراج متعلق یوڅومباحث دی(١)تحقیق دلفظ معراج اواسراء(٢)تاریخ اومقام دَواقعه معراج(٣)معراج جسماني وو یاروحاني فقط(۴) دَ منکرینود شبهاتوجوابونه.

(١)اسری دَاسراء نه مشتق دې دشپې بوتللوته وئیلی کیږي اومعراج دعروج نه دې په بره خیژولوته وئیلی کیږي اوپه اصطلاح دعلماؤکښې،دَمکي نه بیت المقدس پورې دَحضورﷺ دشپې بوتلل پطریقه دَمعجزې سره، ته اسراء وئیلی کیږي اودَبیت المقدس نه په بره ترسدرة المنتهی پورې سیاحت ته معراج وئیلی کیږي اوهرکله چې دَمکي نه تربیت المقدس پورې سفرپه براق باندی وو اوبیاپه بره سیاحت دسیړیو(پاوړیو)په ذریعه وو نوددې وجه نه اول سفرته اسراء اودویم ته معراج وئیلی کیږي اګرچه کله کله دَدواړوسفرونو په مجموعی باندی اطلاق دَاسراء اویامعراج کیږي.

(٢)معراج واقعه دحضورﷺ دمعجزاتو نه یوه عظیمه معجزه ده داکله واقع شوي ده؟ په تعین کښې ئې تقریبالسو(١٠)پورې اقوال دعلماؤنه مروي دي.پدې اتفاق دې چې داواقعه قبل الهجرت وه خودهجرت نه څوکاله مخکښې وه دَدې تعیین ندې شوې،راجح قول دادې چې دَ حضرت خدیجة الکبریٰ رضي الله عنها دَ وفات نه وروستو اودَ بیعت العقبة نه مخکښې دَطائف دَسفرنه بعدمعراج واقع شویدې اوحضرت خدیجة رضي الله عنها دَحضورﷺ سره په شعب ابی طالب کښې موجوده وه دَشعب ابی طالب نه دَوتلونه وروستوحضرت خدیجة رضي الله عنها انتقال شویدې اوحضورﷺ دَشعب ابی طالب نه په(١٠)نبوی کښې وتلې وونوددې وجه زیات راجح قول دادې چې دَمعراج

سفرسن(١١)نبوي دَسفرطائف نه وروستوواقع شويدي اوبعضوسن (١٢)نبوی ته ترجيح وركړي ده اودَمياشتى په تعين كښ پنځه(۵)اقوال مشهوردي.ربيع الاول.ربيع الاخر.رجب. شوال. رمضان،زيات مشهورقول دادي چې دَ رجب په وويشيتم(٢٧)باندي شويدي

دَمعراج واقعه په قرآن مجيدكښ په دوه مواضعوكښ ذكرشويده په دي سورة كښ اوپه سورة النجم كښ ليكن په دواړوځاينوكښ مختصره ده په احاديثوكښ داپه تفصيل سره ذكر شويده،هغه صحابه كرامؓ چې دهغونه واقعه معراج نقل شويده دهغوتعداد تقريبًا خلورخلويښت(۴۴)ته رسيږي،امام ابن كثيرؒ په خپل تفسيركښ داواقعه په پوره تفصيل سره ذكركړيده اوپنځويشت(۲۵)صحابه كرامونومونه ئی ذكركړيدي چې دَهغو نه داواقعه مروي ده اوامام بخاريؒ په خپل صحيح كښ په متعددوځينوكښ امام مسلمؒ په كتاب الايمان اوامام نسائیؒ په كتاب الصلوة كښ ذكر كړيده دټولوخلاصه داده چې حضورﷺ يوه شپه دَ حضرت ام هانیؓ په كوركښ ارام فرمائيلوچې دكورچت سوري شواوحضرت جبرئيلؑ سره دنورو فرشتوراغې اوحضورﷺ يی دځان سره مسجد حرام ته بوتللواوحضورﷺ هلته په حطيم كښ سملاستو،بياحضرت جبرئيلؑ اوميكائيلؑ حضورﷺ بيرزمزم ته بوتللو اوهلته ئی سملولو،سينه مباركه ئی ورله سيری كړه زړه مبارك ئی ورله راويستلو اودزمزم وريه اوبوسره ئې وينځولو اوبيا دسرو زرو لوخی چې دَايمان اوحكمت نه ډك وو راوړي شودَ حضورﷺ زړه ئې نه ډک كړو اوسينه مباركه ئی په خپل اصل حالت باندی ټهيک كړه اوبيابراق راويستلي شوچې په هغی باندی جناب رسول كريمﷺ ترمسجداقصی پوري سفراوكړو،په مسجداقصی كښ انبياء كرام حضورﷺ ته په انتظاروو حضورﷺ براق يوكانړی ته اوتړلو اوحضرت جبرئيلؑ سره مسجداقصی ته لاړلو اوهلته يومؤذن اذان اوكړو اوحضرت جبرئيلؑ حضورﷺ دَلاس مبارك نه اونيسواوامامت ته ئی مخكی كړواوبعض علماء فرمائی چې واقعه دامامت پس دراكوزيدلودَاسمانونونه ده،اوبيادَغوره قول مطابق د جنت نه دزمرداوزبرجدو سيړئی(پاوړئی) راوړي شوي اوپه هغې سره حضورﷺ اسمانونوته اوختلو اودَسيړيوښی اوچپ طرف ته ملائک جلوه وو،اول اسمان ته په رسيدوسره اودهغې دَدَاروغې سره خبروكولونه پس دروازه كولاؤكړې شوه هلته دَ حضرت ادمؑ سره سلام كلام اوملاقات اوشواوهلته ئی دَحضرت ادمؑ ښي طرف ته اصحب اليمين يعني جنتيان اولاد اوكتلو په صورمثليه سره اوچپ طرف ته جهنميان اوكتلواوپه دويم اسمان كښ دَحضرت يحيیؑ

اوعيسى عليه السلام سره سلام كلام اوملاقات اوشوپه دريم آسمان كښې د حضرت يوسف عليه السلام اوپه څلورم كښې د حضرت ادريس عليه السلام .پنځم كښې د حضرت هارون عليه السلام اوشپږم كښې د حضرت موسى عليه السلام اوپه اووم اسمان كښې دحضرت ابراهيم عليه السلام سره ملاقات اوشووچې هغه بيت المعمورته تكيه لګولى وه اوبياحضور ﷺ سدرة المنتهى ته اوچت كړې شو اوهلته حضور ﷺ حضرت جبرئيل په خپل اصل صورت كښې اوكتلو بياحضور ﷺ مشاهده دجنت اود جهنم هم اوكړه اومختلف قسم خلك ئې په جهنم كښې په مختلفوعذابونوسره اوكتلو چې دهغې تفصيل په احاديثوكښې ذكردي، بياحضور ﷺ صريف الاقلام مقام ته عروج اوشو اوبيامقام دصريف الاقلام نه حضور ﷺ په يو(رفرف) باندې كينولې شواوحجابات طې كولونه پس مقام د(دنى فتدلى فكان قاب قوسين اوادنى) ته اورسيدلو اوديدارالهى سره مشرف كړې شواود الله ﷻ ديدارئې په رؤيت بصرئ سره اوكړو اوالله ﷻ ته ئې تحفه د توحيدپيش كړه چې(التحيات لله والصلوة والطيبات)نوالله ﷻ ورته په بدله كښې اوفرمائيل(السلام عليك ايهاالنبى ورحمة الله وبركاته) نوحضور ﷺ بطور درخواست اوفرمائيل(السلام علينا وعلى عبادالله الصلحين) اوالله ﷻ په تحفه كښې پنځوس مونځونه وركړل په واپسئ كښې په موسى عليه السلام باندې راغې نوموسى عليه السلام ورته اوفرمائيل چې ستاامت دامونځونه نشي ادا كولې اوواپس لاړشه په الله ﷻ باندې داكم كړه،نود حضرت موسى عليه السلام باربار اصرارسره پنځه پنځه مونځونه كميدل حتى چې پنځه مونځونه پاتې شو حضور ﷺ صبرشواوحكم راغې چې دَدې پنځومونځونوبدله اواجربه هغه ميلاويګى چې كوم په پنځوس باندې ميلاويده حضور ﷺ چې كله واپس راغې اوخلكوته ئې قصه دمعراج اوكړه نوكافروتكذيب اوكړو اواستهزاء ئې شروع كړه اواعتراضات ئې شروول كړل،څني كافرانواوئيل چې بيت المقدس څنګه دې؟ نوحضور ﷺ ته بيت المقدس مخې ته راوړې شواوحضور ﷺ دوئ ته ټول صفات د بيت المقدس بيان كړل چې دوئ ئې تصديق اوكړو .ابوجهل حضرت ابوبكر رضي الله عنه ته دمعراج واقعه بيان كړه چې تاسوبه داهم منئ چې دمكې نه بيت المقدس ته اوبيااسمانونوته اوبياجنت اوجهنم سيروغيره چې داټول دَشپې په يوه حصه كښې شويدي؟ نوحضرت ابوبكر رضي الله عنه ورنه جواب وركړو چې فرشته په لږ وخت كښې داسمان نه راځي نوحضور ﷺ د هم لاړشي آسمانونوته دا خود عقل نه بعيده نده.

(۳)**معجراج جسمانی یافقط روحاني وو** دَجمهورسلف.وخلف عقیده داده چې دحضورﷺ په حالت دبیداریٔ کښې روح مع الجسدمعراج شویدې.دځنی صحابه کرام مثلاحضرت عائشهؓ حضرت معاویهؓ اوامام بیهقي دحضرت ابن مسعودؓ نه روایت نقل کړیدي چې دحضورﷺ معراج صرف روحانی وویعنی خوب کښې حضورﷺ تلې وو اوجسمانی نو و.اودغه شانتې په تابعین کښې دَحسن بصريؒ نه هم داسې نقل شویدې،اواستدلال کوي دَدې سورت په آیت نمبر ۲۰ ﴿وَمَا جَعَلْنَا ٱلرُّءْيَا ٱلَّتِىٓ أَرَيْنَٰكَ إِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ﴾ سره لیکن جمهورعلماء ددینه مختلف جوابونه کړیدي

(۱) بعض علماء فرمائی چې دَدې ایت تعلق دمعراج سره ندې بلکه پدې ایت کښې دبدرِ دخوب تذکره ده چې حضورﷺ ته په خوب کښې دَرؤسامشرکین ٌمقتولینٌ ځایونه په خوب کښې ښکاره کړې شوی وو.

(۲)بعض علماء فرمائی چې پدې ایت کښې واقعه حدیبیه دَهغې خوب ذکردې چې حضورﷺ صحابهؓ ته اوفرمائیل چې ماخوب کتلې دې چې عمره ادا کوو اوبیادَعمري په ارادې دَصحابه کراموؓ دیوجماعت سره روان شو،چې په هغه موقعه کښې واقعه حدیبیه مخې ته راغله.

(۳)حضرت ابن عباسؓ دَدې ایت په تفسیرکښې فرمائی(رؤیاعین اریهارسول اللهﷺ) یعنی رؤیا،په معنی دَرؤیت بصري سره دې چونکې واقعه معراج یوعجیب اوغریب واقعه وه اوپدې کښې حضورﷺ مختلف عجائب اوغرائب مشاهده کړي وو،نودَدې وجه نه تعبیرورنه په رؤیاسره اوشوچې اکثراستعمال ئې په خوب کښې په یوشي کتلوباندې کیږي اوپه کلام عرب کښې دَدې لپاره ډیرشواهددي چې کله کله لفظ دَ رؤیا په رؤیت بصري کښې هم مستعملیږي لکه داقول دَشاعرشوچې:

وکبرللرؤیاوهش فواده وبشرقلباکان جمابلاله

اوداجواب دټولونه غوره دې .اوحضرت انورشاه کشمیريؒ فرمائی چې رؤیادَعالم غیب کتلوته وئیلی کیږي اورؤیت دعالم مشاهده کتلوته وئیلی کیږي نودلته لفظ دَرؤیادې نه درؤیت باقی دَحضرت عائشهؓ اودَحضرت معاویهؓ روایات چې په هغې کښې تصریح ده چې معراج فقط روحانی وو،حضرت عائشهؓ فرمائی مافقدجسدرسول اللهﷺ ولکن الله اسری بروحه(طبری ص۱۶ ج۸) دحضرت معاویهؓ نه چې کله تپوس اوکړې شوپه باره دَمعراج کښې نواوفرمائیل

نى،كانت رؤيامن الله صادقة)(طبري ص١٦ ج٨) نوعلماء فرمائي چې پدي دواړو رواياتوكښ
يوراوي محمدبن حميددې چې هغه ضعيف دې ځني اصحاب الجرح والتعديل ورته ردي
المذهب اوكذاب وئيلى دي،اودويم راوي محمدبن اسحاق دې چې هغه مختلف فيه راوي دې
ځني ائمؤ ورته كذاب،اودجال وئيلي دي ځنوئى تعديل كړيدې اوراجح خبرده داده چې په كوم
روايت كښ دې متفردوي ياعنعنه كړي وي نوهغه به مشكوك وي اوقابل حجت به نوي اوپدې
ځاى كښ دَده روايت دثقه راويانومخالفت كښ راغليدې ،اودغه شانتي حضرت عائشه دَمعراج
واقعي په وخت كښ ډيره وړه وه اودَ حضورﷺ سره ئى نكاح هم نوو شوې اوحضرت معاويهؓ
په هغه وخت كښ مشرف شوې نوو په ايمان سره، اوباقي دَحضرت ابن مسعودؓ روايت چې
كوم بيهقي نقل كړيدې چې دهغې نه معلوميږي چې دادَخوب واقعه ده نودهغې په سندكښ
ابوهارون عبدي راوي دې چې ابن كثيردهغه په باره كښ فرمائي چې دې اكذب من فرعون وو
اوبي اعتباره دي البته دَحديث انس بن مالكؓ نه چې روايت كړيدې امام بخاريؒ په هغې
كښ الفاظ دي(فاستيقظ وهوفى المسجدالحرام) دهغې نه معلوميږي چې داواقعه دَخوب وه،ليكن دَدې
په سند كښ هم يوراوي دې شريک بن عبدالله اودهغه په باره كښ دَمحدثين اتفاق دې چې دده
حافظه خرابه وه اوډيربه خطاء كيدلو،امام نوويؒ فرمائي چې دَ ده په روايتوكښ ډيراوهام
دي اوصاحب دتهذيب حافظ ابن حجرؒ دده په باره كښ ليكلي دي چې دې دَتقديرنه هم
منكروو،حافظ ابن حجرؒ په فتح الباري په اخركښ دَ حديث شريک اغلاط شماركړيدي
اوبيائى فيصله كړيده چې دَ شريک هغه روايت به قابل استدلال وي چې هغه دَ عام احاديثو
مخالف نوي.

دَجمهورودمذهب لپاره ډيرشو اهداوترجيحات دي:

(١)لفظ دَ ﴿سُبۡحٰنَ﴾هم پدي دلالت كوي چې داواقعه دَخوب نده بلكه دَبيدارئ ده،ځكه چې
په لفظ دسبحن سره دَواقعي عظمت ته اشاره وي،معراج روحاني څه امرعظيم اوقابل تعجب
ندي،بلكه امرعظيم اوقابل تعجب هغه معراج روح مع الجسددي،فالتسبيح انمايكون عندالامورالعظام
فلوكان منامالم يكن فيه كبيرشئ ولم يكن مستعظما(ابن كثيرج٣ ص٢٣).

(٢)لفظ د ﴿ أَسْرَىٰ﴾هم دال دي چې معراج په جسدعنصري سره وو ځکه چې داسراء معنی بوتلل دي په جسدعنصري سره دبيدارئ په حالت کښې خوب اوياصرف روح بوتللوته اسراء نه وئيلی کيږي اودالفظ په قران مجيدکښې په متعددومواضعوکښې استعمال شويدې معنی ئې دبيدارئ په حالت کښې په جسدعنصري سره بوتلل دي.لکه فاسربعبادي ليلا(الدخان ايت نمبر٢٣) وغيره شو.

(٣)لفظ د﴿بِعَبْدِهِۦ﴾ هم دلالت کوي چې معراج په جسدعنصري سره ووځکه چې اطلاق دعبدپه مجموعي دروح مع الجسدباندی کيږي(فان العبدعبارة عن مجموع الروح والجسد)(ابن کثيرج٣ ص٢٣) قران مجيدکښې چې چرته هم لفظ دعبدذکرشويدې نومجموعه دروح اوجسدورنه مرادکيږي صرف روح نه مرادکيږي لکه وان کنتم فی ريب ممانزلنا علی عبدنا(البقره ايت نمبر٢٣).

(٤)﴿وَمَا جَعَلْنَا ٱلرُّءْيَا ٱلَّتِىٓ أَرَيْنَٰكَ إِلَّا فِتْنَةً لِّلنَّاسِ﴾هم دلالت کوي چې معراج په جسدعنصري سره وو ځکه چې دخلکو لپاره فتنه اوازمائش صرف روحاني سيرنووبلکه ازمائش اوفتنه دخلکولپاره هغه معراج په جسدعنصري سره دي اودې وجه نه کفارو داسې قسم مستبعد اوکڼلو اوتکذيب ئې اوکړو حتی که چې ځني نوي مسلمانان هم مرتدشو.

(٥)مازاغ البصر وماطغی(النجم ايت نمبر١٧) هم دلالت کوي چې داپه جسدعنصري سره وو(٦)لقدرای من ايت ربه الکبری(النجم ايت نمبر١٨)هم دال دي چې معراج په جسدعنصري سره ووځکه چې جسدعنصري سره نوې فقط روحاني وې نوداخه لويه نشاني نده ولوکان منامالماکانت فيه اية ولامعجزة (قرطبی)

اودغه شانتی داحاديث نه هم معلوميږي چې داواقعه په حالت ديقظت اوپه جسدعنصري سره وه لکه (١)حضورﷺ دحضرت ام هانیﷺ په کورکښې ارام فرمائيل اوچت سوري کيدل دفرشتي راتلل،(٢)حضورﷺ مسجدحرام ته بوتلل(٣)دحضورﷺ شق صدرکول،دحضورﷺ زړه مبارک دايمان اوحکمت نه ډکه ول(٤)براق باندی سوريدل حالانکه روح بولطيف اوغيرمرئی څيزدې نوهغه په براق څنګه سوريږي(٥) انبياء کرامو عليهم السلام لره امامت کول(٦)حضرت جبرئيل عليه السلام دلاس نه نيول اواسمان ته بوتلل(٧)انبياء کرام عليهم السلام سره سلام کلام کول(٨) حضورﷺ ته شراب اوپئ پيش کول اودحضورﷺ پئ څکل(٩) اوخاص طورپردحضرت ام

هانیؓ روایت چې فرمائی(بات رسول اللهﷺ لیلة اسری به فی بیتی ففقدته من اللیل فقال رسول اللهﷺ ان جبرئیل علیہ السلام اتانی فاخذ بید الخ) (۱۰) اودغه شانتې د حضرت ام هانیؓ مشوره ورکول چې لاتحدث الناس فیکذبوک(۱۱) اودغه شانتې لفضل ابوبکربالتصدیق(۱۲) اودغه شانتې په دغه شپې باندې دَبیت المقدس دروازې نه بندیدل.لکه پدې ګواهي ورکړې وه یوعالم دَیهودیانوتفصیلي واقعه په ابن کثیر(ج۳ ص۲۴)کښ مذکوره ده.داټول پدې دلالت کوي چې داواقعه په جسدعنصري سره وه.

بعضې محدثینو دَدوارو قولینوپه مینځ کښ تطبیق کړیدې چې داواقعات متعددديِ.نویوځل دی په خوب کښ روحاني طورشوې وې اوبل ځل دی په جسدعنصري سره شوې وې.لیکن ابن کثیرؒ پدې ردکړیدې اوفرمائی چې ومن جعل من الناس کله روایة خالفت الاخری مرة علی حدة فاثبت اسراآت متعددة فقدابعدواغرب وهرب الی غیرمهرب ولم یتحصل علی مطلب(ابن کثیرج۳ ص۲۲) تفصیل په ابن کثیرکښ دې من شاء فلیطالع ثمه

مازری په شرح دَمسلم کښ داسې تطبیق کړیدې چې دَمکې نه تربیت المقدس پورې داسیرپه حالت دیقظت کښ وو اوبیاپه بره سیردَاسمانونوروحاني وو(روح المعانی ج۱۵ ص۷) لیکن دې قول ته هم محدثین خاص کرحافظ ابن کثیرضعیف ونیلی دې،بعضې خلکو قول کړیدې په فرق باندې په مینځ دَاسرا اومعراج کښ.لیکن امام بیهقي پدې ردکړیدې اوثابته کړیده چې اسراء اومعراج دواړه په یوه شپه کښ وو

حقه خبره داده چې کومه واقعه دَمعراج په قرآن مجیدکښ ذکرده داپه حالت دبیداریٔ کښ په جسدعنصري سره وه

(۴) خنې ګمراه فرقواودَنفساني خواهشاتومتبعینُ دمعراج رسولﷺ نه دخنې سائنسي خبروپه بنیادانکارکړیدې.قادیاني دجال اوسرسیداحمدخان په ډیرجراءت سره په خپلو کتابونوکښ دَواقعې معراج نه انکارکړیدې اومختلف قسم شبهات ئې ذکرکړیدې چې دومره لرېوخت کښ دومره لوئې سفرځنګه اوشو؟ طبقات نار اوزمهریرباندې تیریدل ځنګه اوشولو؟ داپه حقیقت کښ دَاللهﷻ دَقدرت نه انکارکول دې،اَللهﷻ دَصریح خبرپه مقابله کښ خپل ناقص عقل استعمالول دې،انماامره اذا اراد شیئاان یقول له کن فیکون نه څرګندانکاردې،حالانکه دَاللهﷻ اودَرسول اللهﷺ دَخبرنه پس یوانسان په خلاف عقل امورو کښ چون چرانه کوي اوخپل عقل

ناقص كنړي اوواقعه معراج خودانساني عقل نه هم خلاف نده.سرعت حركت اوتيزرفتارئ يواضافي شئ دې.دهغې څه حداوانتهاء نده مقرره اوقدرت الهى نه بعيده نده چې بوجسم كثيف په آن واحده كښې لرې نه ترلرې حده پورې اوړه سوى.لكه څنګه لهرونه دهوا په يوه لمحه كښې په حكم دَالله ﷻ سره كروړاؤكلوميټرمسافت طى كوي.څنې سيارې په يوساعت كښې انه لاكه اتيازره(۸۸۰۰۰۰) كلوميله حركت كوي دنمرړنا په يوسيكنډكښې يوكم ديرش ارب اود نوي كروړه پنځويشت لاكه (۲۹۹۷۲۵۰۰۰۰۰) كلوميټررفتار كوي دَحضرت سليمان عليه السلام وزيراصف برخيادَسترګى په رپ كښې دبلقيس عظيم الشان تخت داقصى دَيمن نه تراقصى شام پورې راوړى وو.فرشته په آن واحده كښې دَعرش نه فرش پورې دالله ﷻ په حكم سره رانازل كوي،نودَحضور ﷺ دَشپې په يوه حصه كښې معراج نه تلل څنګه خلاف عقل شو؟؟

(۱)طبقات ناريه،اوزمهريريه دَتوهماتو نه دې،(۲)په تقديردَتسليم سره حرارت اوبرودت دهغوصفات ذاتيونه ندې بلكه عرضى دې اوسلب دَعوارضوبالاجماع ممكن دې لكه څنګه چې دَحضرت ابراهيم عليه السلام لپاره داورنه حرارت لرې كړې شوې وو.(۳)دغه شانتې ممكنه ده چې دَمعراج په شپه حضور ﷺ جسداطهردَحضور ﷺ دكثافت جرمى نه پاک كړې شوې وي اوتبول انوارات اوتجليات وو،لكه چې دامعلوميږي دَبعض الفاظودَحديث نه.(۴)دغه شانتې په جسدعنصري باندى دَحرارت اوبرودت اثرات په هغه وخت كښې ظاهريږي چې كله دهغه استقراراوقيام راشي اوكه چرته قيام اواستقرارئى نوي راغلې لكه په اوركښې لاس په تيزئى سره تيرول نوپه هغې باندى بياأثرهم نه ظاهريږي، دَحضور ﷺ دَبراق رفتاريوقدم ترحدبصري هومره وو نودَطبقات ناريه اوزمهريريه اثرات به په څنګه ظاهرشوې وو؟؟

تنبيه:(۱)دَمعراج په شپه حضور ﷺ دَالله ﷻ ديداركړې وو نومسلک دَ اهل سنت والجماعت دادې چې داديداراورؤيت بصري وو،پدې دلالت كوي هغه حديث چې ذكركړيدې امام مسلم په خپل صحيح كښې دَحضرت ابوذر رضي الله عنه نه فرمائى چې(سالت رسول الله ﷺ هل راءيت ربک فقال ..... نور انى اراه الحديث).

(۲) واقعه اسراء اومعراج په دليل قطعى يعنى قران اوپه حديث متواتره سره ثابته ده سره دَاجماع دَامت مسلمه نه،نومنكرئى زنديق،اوملحددې حافظ ابن كثير رحمه الله فرمائى فحديث الاسراء اجمع عليه المسلمون واعرض عنه الزنادقة والملحدون(ابن كثير) اوواقعه معراج په منكركښې اختلاف دې اوعندالبعض ضال مضل مبتدع دې وجه داده چې اسراء ثبوت په ايت قطعى

غیرمحتمل التاويل سره شويده اومعراج اګرچې په احاديثو صحيحوسره ثابت دي خو اِبت ولقدراٰه نزلةً اخرىٰ کښې تاويل کيدلې شي نودډې وجه نه منکرته ئې عند البعض کافرنشي وئيلې

(۳)دمعراج په شپه حضورﷺ دانبياء کرام ﷩سره ملاقات کړې وو.اولاد ادم ﷤ ئې دهغه نبي اوچپ(ګس)طرف ته کتلي وو اودډې امت واعظان بې عمله ئې په جهنم کښې ليدلي وو.نوانبياء کرام ﷩ کښې دحضرت عيسى ﷤ په باره کښې اتفاق دې چې هغه موجودوو اودې په وجودحقيقي سره په اسمانونوکښې اودغه شانتې دحضرت ادريس ﷤ په باره کښې هم يو قول دادې چې دجنت نه اسمانونوته راوستلې شوې وودباقي انبياء کرام ﷩ په باره کښې اګرچې علامه عيني ﷫ فرمائي:قلت الانبياء احياء فقدرآهم النبيﷺ حقيقة(عيني ص۴۸ ج۴)خوظاهردحديث نه دامعلوميږي چې ارواح دانبياء کرام ﷩ ممثل کړې شوې وولکه چې په حديث کښې راغليدي چې(مثلت لى الانبياء) اوملاعلي قاري ﷫ په مرقات شرح دمشکوة کښې اوشيخ الاسلام علامه شبيراحمد عثماني ﷫ په فتح الملهم کښې تصريح کړيده چې ارواح ممثل کړې شوې وو.اودقبرونونه اسمانونوته په وجود نو عنصريوسره نوومنتقل کړې شوي(مرقات ج۱۱ فتح الملهم ج۱) اګرچه انبياء کرام په خپلوقبرونوکښې ژونددې،اوباقي اولادادم ﷤ اوواعظان بې عمله بالاتفاق ممثلات وو.

﴿ اَسْرٰی﴾پديکښې تجريدشويدې په معنىٰ دمطلق بوتللوسره دې بعبده هرکله چې مقام عبديت اولى وو په نسبت دمقام نبوت اورسالت ته نودډې وجه نه ذکردعبداوشولو.ددينه معلومه شوه چې په انبياء کرام ﷩ کښې هم عبديت اولى دې نوپه نورامت کښې په طريق اولى، دې لوکان للنبيﷺ اسم اشرف منه لسماه به فى تلك الحالة العلية(قرطبى) اودغه شانتې وصف عبديت ذکر کولو لپاره دسداًالباب الغلودې چې څوك په محبت کښې غلواونکړي لکه چې نصارى وو کړې وه د حضرت عيسىٰ ﷤ په باره کښې(روح المعانى) اودغه شانتې پديکښې اشاره ده چې درجات عاليه اومراتب رفيعه انسان ته په مقام عبديت سره ميلاويږي،صاحب دروح المعاني فرمائي چې الله ﷻ تعبيرپه عبدسره چې مضاف وي ضميردغائب ته بغيردحضورﷺ نه بل چاته ندې کړې. له وجې دفرق نه په مينځ دمقام حبيب اوکليم کښې

فائده مقام عبديت چې دمقام نبوت نه اولى دې نووجه ئې داده چې په مقام عبديت کښې. انصراف عن الخلق الى الحق وي اوپه نبوت ،رسالت کښې انصراف عن الحق الى الخلق وي،خوداتقابل

اولويت اوعدم اولويت دَانبياء كرامو ﷺ دَخپلو اوصافو په مينځ كښ دې مطلقا ندې والآلازم به شي افضليت دَمطلق عبدپه رسول باندی داباطل دې بلكه داداسی ده لكه قرآن مجيدچه خنی حصه ئی اولی ده دَخنی نورونه لكه څنګه چې دَماتريديومذهب دې چې دقرآن مجيدهغه حصه چې متكلم فيه پكښ الله ﷻ دې هغه اولی ده دَهغی حصی نه چې متكلم فيه پكښ يو كافراومشرك دې نوقل هوالله احد اولی دې دَتبت يدا ابی لهب نه نودغه شانتی دَحضور ﷺ خنی اوصاف اولی دې دَ خُنی نورونه

﴿لَيۡلٗا﴾تنوين لپاره دَتقليل دې پديكښ اشاره ده چې معراج په ټولي شپی نوو مشتمل بلكه دَشپي په يوه حصه كښ وو. ﴿مِّنَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ﴾مرادورنه ټول حرم دې ﴿إِلَى ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡأَقۡصَا﴾مرادورنه بيت المقدس دې اوتوصيف ئی په اقصی سره ځكه كيږي چې يالري دې دَمسجدحرام نه چې ددواړو په مينځ كښ دَځلويښت شپوفاصله ده اويا په دغه وخت كښ اخری جماعت په مخ دزمكه باندی دَغه وو،اويابعيددې دَاقذاروا وخباثت نه دَظاهردَايت نه اګرچه دامعلوميږي چې حضور ﷺ بيت المقدس ته تلې وو اوبيت المقدس ته په دخول باندی ايت دلالت نه كوي خونفي ئی هم نه كوي هغه ثابت دې په احاديثوصحيحوسره نودَايت اودَ احاديثوځه تعارض هم نيشته دي ﴿ٱلَّذِي بَٰرَكۡنَا﴾ملك شام كښ(موجوده فلسطين)الله ﷻ ظاهری اوباطني هرقسم بركات پيداكړيدې نهرونو،ونو بوټو اوپه ميوو باندی هم خسته دې اودَانبياء كرامو ﷺ مقرهم دې اوحشربه دَ مخلوقاتو دَقيامت په ورځ دلته كيږي، ﴿لِنُرِيَهُۥ مِنۡ ءَايَٰتِنَآ﴾لام لپاره دَعاقبت دې اومراد په ايتاسره هغه عجائب دې چې حضور ﷺ كتلی وو.لكه هراسمان كښ دَانبياء كرام ﷺ سره ملاقات.احوال جنت اوجهنم مشاهده اوملائكو سره ملاقات دَالله ﷻ ديداروغيره شو.پدې ايت كښ التفات شويدې دغائب نه متكلم ته لپاره دَتعظيم دَبركاتو اواياتو،ځكه چې تعظيم دَمضاف معلوميږي دَتعظيم دمضاف اليه ،نه اوبعض مفسرين فرمائی چې ﴿أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ﴾كښ ذكردَهغه سيروو چې هغه دعالم مشاهده نه عالم غيب ته وو نودهغې سره مناسب صيغي دَغائب وې،او ﴿بَٰرَكۡنَا﴾كښی انزال دَبركاتو په تعظيم دنازل كونكی باندی وو نوتعظيمًا ئی اضافت متكلم ته اوشولو،او ﴿لِنُرِيَهُۥ مِنۡ ءَايَٰتِنَآ﴾دلالت كوی چې داسفر

انتهائی مسافت والا اونا ممکن وو، اوهلته رسائی دبلندوسعت نه خارج ده. او داخاص الله ﷻ په کرم اومعونت وو ...... نومناسب ورسره صیغه دَمتکلم وه نوځکه ضمیر دمتکلم ته نی اضافت اوشولو (روح ج۱۵ ص۲۳) ﴿إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ﴾ دا اول دلیل عقلی دې په توحیدباندې. انّ، هوضمیرفصل اوخبرمعرف باللام دا ټول په حصرباندې دلالت کوي چې هرڅه اوریدونکې اودهرڅه لیدونکې صرف اوصرف الله ﷻ دې.

وَءَاتَيْنَا	مُوسَى	ٱلْكِتَٰبَ	وَجَعَلْنَٰهُ	هُدًى	لِّبَنِىٓ	إِسْرَٰٓءِيلَ
اوورکړې وومونږه موسی ﷺ ته کتاب (تورات) اوګرځولې وومونږه هغه ذریعه دهدایت لپاره دبنی اسرائیلو						
أَلَّا تَتَّخِذُوا۟	مِن	دُونِى	وَكِيلًا ﴿٢﴾	ذُرِّيَّةَ	مَنْ	حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ
چې مه نیسئ تاسوسیوازمانه (څوک) کارساز [2] اې اولاده دهغه چا چې سواره کړې وو مونږه دنوح ﷺ سره						
إِنَّهُۥ كَانَ عَبْدًا شَكُورًا ﴿٣﴾						
[3] بیشکه هغه وو بنده شکرګزار						

﴿وَءَاتَيْنَا﴾ دا اول دلیل نقلی دې په توحیدباندې دحضرت موسی ﷺ نه په ماقبل ایت کښې اکرام دَحضور ﷺ ذکرشو په سیردَمعراج سره اوپدې کښې اکرام دَحضرت موسی ﷺ ذکرکیږي په عطاء کولودکتاب سره چې سیرئی کړې وو لپاره دَ دې کوه طورته، اوپدې ایت کښې دَتورات خلاصه هم الله ﷻ ذکرکړیده چې دَټول تورات خلاصه داده چې دَالله ﷻ نه سیوابل څوک کارسازمه جوړه وئی.

﴿وَجَعَلْنَٰهُ﴾ ضمیریاراجع دې کتاب ته یاموسی ﷺ ته اوحمل دَ﴿هُدًى﴾ مبالغة دې ﴿أَلَّا

(۱) اول دلیل نقلی

(2) حرف نداء محذوف ثمره شکرګذاری

(3) مقصود بالنداء محذوف ای اشکروا

﴿ تَتَّخِذُواْ ﴾ الأمرکب دي اَن او لانه او اَن یامصدریه ناصبه دي معنیٰ ئی ده لئلا تتخذوا اویاان تفسیریه دي لکه چې په وانطلاق الملاء منهم انِ مشوا (ص ایت نمبر۶) کښې ان تفسیریه دي نومعنی ئی ده ای لاتتخذوا اویاان زائده دې اوقلنا پکښې مقدردي نوتقدیرئی داسی دې فقلنا لاتتخذوا الخ باقی نحویانوچه کوم مواضع دَزیادت دَ ان لپاره بیان کړیدي دااګرچه دهغه مواضعونه ندي خوهغه حصرهم عقلي ندي﴿مِن دُونِي وَكِيلاً ﴾. وکیل په وزن دَفعیل سره په معنی دَمفعول سره دې یعني کارسازچې هغه رب دي ای ربا تکلون الیه امورکم غیری (روح) ﴿ذُرِّيَّةَ﴾پدې ایت کښې ترغیب ذکرکیږي توحید منلوته په دوه طریقوسره اول دا چې ستاسونیکونه می دَنوح ﷺ سره په کشتئ کښې سواره کړي وو دویم دا چې ستاسوپلار حضرت نوح ﷺ هم توحیدبیانونکی وو ، ذریةمنصوب دې بنابرنداء په اصل کښې یاذریة دې اوداقائمقام دَ(یاایهاالناس)دې اومقصود باالنداء محذوف دې چې اشکروا دې څکه دحضرت نوح ﷺ سره په کشتئ کښې دهغه دري ځامن وو سام،حام،یافث اوداټول انسانان دهغوی ذریت نه دې اویانصب براختصاص یامدح دې اواختصُ یاامدحُ فعل مادحه مقدردې، اویامنصوب دې له وجی دَدینه چې دامفعول ثانی دې لپاره لاتتخذوا نوتقدیرئی داسي دې لاتتخذوا ذریة من حملنا مع نوحٍ من دونی وکیلا،﴿إِنَّهُۥ كَانَ عَبۡدٗا شَكُورٗا ﴾ دَمفعول به وزن دَمبالغی صیغه ده معنی ئی ده ډیرشکرکوونکې داپه حقیقت کښې علت دې دَماقبل انجاء لپاره،چې حضرت نوح ﷺ اودهغه ملګروته نجات په برکت دشکرسره وو اوتنبیه په شکرباندی لپاره دَدې ده چې شکر مستلزم دې توحیدلره اوشرك کول اعلی مرتبه دکفران ده اوپدیکښې ترغیب دې اقتداء دَحضرت نوح ﷺ ته چې هغه ستاسوپلاروو چې هغه ناشکري اوشرك نووکړې بلکه توحیدئی اختیارکړې وو نوتاسوهم دَ هغوئی اقتدا اوکړئ،فکانه قیل کونوا موحدین شاکرین لنعم الله مقتدین بنوح الذی انتم ذریته من حمل معه(بحر)ددې ایتونو په مینځ کښې ربط داسې شوچې اول دلیل وحی بیاعقلي اوبیانقلي چې وحی ،عقل اونقل ټول داوائی چې توحیدحق دې.

وَقَضَيْنَآ اِلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ فِى الْكِتٰبِ لَتُفْسِدُنَّ فِى الْاَرْضِ

[1] او فیصله اوروليږ وه مونږه بنی اسرائیلو ته په کتاب (تورات) کښ چې خامخا فساد به کوئی تاسو په زمکه (شام) کښ

مَرَّتَيْنِ وَلَتَعْلُنَّ عُلُوًّا كَبِيْرًا ﴿۴﴾ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ اُوْلٰىهُمَا بَعَثْنَا عَلَيْكُمْ

دوه ځلې او خامخا الوئی به کوئی لوئی ډیره. پس هر کله چې راغله نیټه د اول ځلی فساد نو مسلط کړلو مونږه په تاسو باندې

عِبَادًا لَّنَآ اُولِىْ بَاْسٍ شَدِيْدٍ فَجَاسُوْا خِلٰلَ الدِّيَارِ ؕ وَكَانَ

بندګان زمونږه چې خاوندان د جنګ و (سخت) سخت جنګ والاوو، پس ورننوتل دوئی به په مینځ د کورونو کښ او وه

وَعْدًا مَّفْعُوْلًا ﴿۵﴾ ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ الْكَرَّةَ عَلَيْهِمْ وَاَمْدَدْنٰكُمْ

دا وعده پوره کړې شوې بیا او ایس در کړه مونږه تاسو ته غلبه په هغوئی باندې او امداد مو او کړو ستاسو

بِاَمْوَالٍ وَّبَنِيْنَ وَجَعَلْنٰكُمْ اَكْثَرَ نَفِيْرًا ﴿۶﴾

په مالونو سره او په خامنو سره او او ګرځولی مونږه تاسو ډیرې ډلې والا.

﴿وَقَضَيْنَآ اِلٰى﴾ دا تخویف دنیوی نمونه بیانیږي چې عذاب دنیوي په خلکو باندې په سبب د انکار د توحید سره راځي لکه څنګه چې بني اسرائیلو د توحید نه انکار او کړو دوه (۲) ځلي، نو الله ﷻ په اول ځلي په دوئ باندې سخت او ظالم بادشاهان مقرر کړل چې دوئ ئی ذلیل کړل او د کورونو بې عزتي ئی ورله او کړه، او په دویم ځل بیا الله ﷻ دوئ ته سخت عذاب ورکړو، ﴿وَقَضَيْنَا﴾ په معنیٰ د اعلمناهم اوحیناالیهم سره دي ځکه متعدي شو په الی سره او چې متعدي بنفسه شی مفعول ته نو معنی ئی اعلام او اخبار وي او چې په علی سره شی نو معنی ئی حکم او فیصله وي او چې په لام سره شي نو معنی ئی اتمام وي (فتح القدیر).

---

[1] نمونه تخویف دنیوی

﴿فِي ٱلۡكِتَٰبِ﴾غوره قول مطابق مرادورنه تورات دي﴿لَتُفۡسِدُنَّ﴾ داجواب دي دقسم محذوف لپاره اومتعلقات دَقضينا هم محذوف دي نوتقديردَعبارت داسې دي وقضيناالى بنى اسرائيل بفسادهم وعلوهم والله لتفسدن الخ(بحر) اوداهم جائزه ده چې قضينا دِى جارى وي په مجرى دقسم او ﴿لَتُفۡسِدُنَّ﴾دي ورله جواب قسم وي لكه عرب وائى چې قضاء الله لاقومن(بحر) ﴿فِي ٱلۡأَرۡضِ﴾مراد ورنه ياجنس ارض دي ياملك شام اويامصردي، ﴿مَرَّتَيۡنِ﴾دامفعول مطلق دي ﴿لَتُفۡسِدُنَّ﴾لپاره من غيرلفظه اومرادورنه دوه ځلي فسادكول دي اوپه تعيين دفساد باندى څه قطعي دليل نيشته دې ان الله تعالى ذكره فسادهم فى الارض مرتين ولم يبين ذلك فلايقطع بشيئ لماذكر(روح) اوبعض مفسرينو دهغي فسادتعيين كړيدې چې.اول ځلي فسادهغه مخالفت كول وؤدَشريعت دموسى عليه السلام نه اوقتل دَحضرت زكريا عليه السلام وو او سبب دَقتل دَحضرت زكريا عليه السلام داووچې ددوئ بادشاه مړشو نودوئ په خپل مينځ كښې دَبادشاهئ لپاره جنګونه شروع كړل اويوبل ئې قتل كول حضرت زكريا عليه السلام دوئ ته وعظ اونصيحت كولوخودوئ دهغه دَقتل منصوبه جوړه كړه نوهغه ورنه اوتختيدلو اوپه يوه ونه كښې ئې پناه واخسته نوشيطان دَحضرت زكريا عليه السلام دكپړې يوه حصه اونيوله چې هغه بهرپاتې شوه اوخلكوته ئې اوښودلونوهغوئ هغه اونه په مينځ باندى اره كړه اوحضرت زكريا عليه السلام ورسره په مينځ باندى غوڅ شواوشهيدشو.

اوبعض وائى چې سبب دَقتل هغه تهمت ووچې دوئ لګولې وو په حضرت زكريا عليه السلام باندى دَزنا(نعوذبالله) دَحضرت مريم عليها السلام سره اوبيائې شهيدكړه ،اوبعض مفسرين فرمائى چې اول فسادهغه حبس دَحضرت شعياء بن امصيا عليه السلام وو په ارمياكښې اوقتل دَهغه وو اوپه اونه كښې پناه حضرت شعياء عليه السلام اخيستي وه اوحضرت زكريا عليه السلام په خپل مرګ باندى وفات شوې وو اوسبب دَقتل دهغه داوو چې په بنى اسرائيلوكښې يوبادشاه دَداسې ښځې سره نكاح كولوچې هغه دَده لپاره جائزنوه حضرت شعياء عليه السلام هغه منع كړواودَالله جل جلاله دَعذاب نه ئې ويره ولونوهغه قتل كړو اودهغې ښځې په باره كښې ځلوراقوال دي (۱)دهغه خپله لوروه (۲)دهغه وريره (ورورلور)وه (۳)دَخپل ورورښځه وه اودهغه په عقدكښې وه(۴) دهغه دښځې دَبل خاوندنه لوروه(زادالمسير).

اودويم فسادهغى كښې راجح قول اودَاكثرمفسرينو رائى داده چې هغه قتل دَحضرت يحيىٰ بن زكريا عليه السلام وو اوپدې جزم كړيدې ابن جريرطبري واماافسادهم فى الارض المرة الاخرة فلااختلاف بين

اهل العلم انه كان قتلهم يحي بن زكريا ﷺ (طبري ج۸ ص۲۵) اودَحضرت يحيى دقتل په سبب كښې دوه واقعات مفسرينو بيان كړيدي يوه (۱) واقعه داده چې بادشاه ديوې ښځې سره نكاح كولو چې دهغه لپاره جائزه نوه حضرت يحيى ﷺ منع كړلو.بادشاه حضرت يحيى ﷺ دهغې ښځې په مطالبې سره قتل كړو.دويم (۲) واقعه داده چې حضرت يحيى ﷺ ډيرحسين وو دبادشاه ښځې دحضرت يحيى ﷺ نه مطالبه دَبدكارئ اوكړه اوهغه انكاراوكړو نودبادشاه ښځې خپلې لورته اووئيل چې دَخپل پلارنه دَحضرت يحيى ﷺ دَسرمطالبه اوكړه نوهغې مطالبه اوكړله اوبادشاه دې قتل كړو.و﴿وَلَتَعْلُنَّ﴾ پديكښې دَهغوئ نورومعاصيوته اشاره ده لكه په عامو خلكوباندې ظلم وغيره كول شواوپه ﴿عُلُوًّا كَبِيرًا﴾كښې اشاره ده چې داګناهونه په دوئ كښې په كثرت سره ظاهرشوي وو﴿فَإِذَا جَآءَ﴾ داول عذاب ذكر دې چې دَاول فساد دَوجې نه راغلې وو ﴿وَعْدُ﴾بمعنى دَموعود سره دې مرادورنه عقاب دې اوياوعدپه معنى دَوعيدسره دې﴿بَعَثْنَا عَلَيْكُمْ﴾ مرادورنه بعثت تكويني دې تشريعي ندې مراد﴿عِبَادًا لَّنَآ﴾ددې په تعين كښې څواقوال دې خومشهورقول داديې چې مراد ورنه بخت نصردې چې هركله بنى اسرائلوظلم اوشرك شروع كړو نوالله ﷻ په دوئ باندې بخت نصرمسلط كړو چې هغه ددوئ قتل عام اوكړوڅلويښت زره (۴۰۰۰۰)يااويازره (۷۰۰۰۰) بني اسرائيل ئى قتل كړلواوباقى ئى دَځان سره بطور غلامان بوتللو اوبيت المقدس ئى وران كړلو اوقيمتي سامان ئى ورنه يوړلو.اويا (۷۰) كالوپورې بني اسرائيلودغه شانتې دذلت ژوند تير كړو،چې پدې دوران كښې دَايران يوبادشاه دبنى اسرائيلودَيو زنانه سره نكاح اوكړواودهغې په مطالبې باندې هغه په بابل باندې حمله اوكړه اوبني اسرائيلوته ئى نجات وركړلواودوئ بيابيت المقدس ته راغلل اودَخپلو بداعمالونه توبه تائب شواومسجداقصى ئى په هغه زورطرزباندې ئى بياتعمير كړو اوهم دغه واقعې ته اشاره شويده په ﴿ثُمَّ رَدَدْنَا لَكُمُ﴾كښې(رازي ج۷ ص ۲۹۹)دې قول ته اكثروعلماؤذهاب كړيدې اوځنې احاديث اوتاريخي روايات هم دَدې شاهددي﴿أُولِي بَأْسٍ شَدِيدٍ﴾ دَباس توصيف په شديدسره تاكيدأدې ځكه باس وئيلى كيږي شديدجنګ ته ،نوداپشانته ته دظلّ ظليل دې اوياپكښې

تجرید شوی دی ﴿فَجَاسُوا﴾ دا مشتق دی دَجوس نه اوجُوس وئیلی کیږی طلب الشئ باستقصاء نه نومعنی ئی داده چې دوئ به تجسس کولو اوتالاشی به ئی اخیستله دَدوئ دکورونوچې څوك خوږوندی پاتې نه دی ای مشوابین منازلهم یتجسسون اخبارهم...ینظرون هل بقی احدلم یقتلوه (زادالمسیر) اویا ﴿فَجَاسُوا﴾ په معنی دَغاڅوایعنی افسدوا سره دی او ﴿خِلَٰلَ﴾ په معنی دوسط سره دی نومعنی ئی داده چې دَدوئ په کورونوکښې به ئی دَدوئ بې عزتی کوله ﴿ثُمَّ رَدَدْنَا﴾ دا رَدْ اوغلبه دَسلو (۱۰۰) کالونه یادَاوسوه (۷۰۰) کاله نه پس ووچې سل (۱۰۰) یااوه سوه (۷۰۰) کاله بنی اسرائیلو دَبخت نصریادجالوت غلامی اختیارکړه دَمشقت ژوند ئی تیرکړلودهغې نه وروستوچې کله دوئ دَخپلوبدعملونونه توبه اوویستله نوالله ﷻ دَبوشاهِ فارس په وجې سره دوئ ته نجات ورکړلو، په ﴿عَلَيْهِمْ﴾ کښې اشاره ده غلبې اوفتح دَدوئ ته په هغه فاتح قوم باندې چې دوئ ئی خپل غلامان جوړکړی وو. ﴿وَأَمْدَدْنَٰكُم بِأَمْوَٰلٍ﴾ نومالونه ورنه هغوئ لوټ کړی وو نوالله ﷻ دَنیك عمل په بدلې سره دَدوئ په مالونوکښې اضافه اوکړه. ﴿وَبَنِينَ﴾ دیرکسان ددوئ قتل شوی وو څه غلامان شوی نوالله ﷻ ورله په اولاد کښې هم ترقی ورکړه اوغلامان ئی ورله ازادکړل. ﴿وَجَعَلْنَٰكُمْ﴾ خاندان اونسل کښې ورته هم الله ﷻ ترقی ورکړه.

إِنْ	أَحْسَنتُمْ	أَحْسَنتُمْ	لِأَنفُسِكُمْ	وَإِنْ	أَسَأْتُمْ	فَلَهَا
اوئیل مونږه که نیکی کوئ تاسونونیکی کوئ تاسولپاره دفائدې خپلې اوکه بدی کوئ تاسوپس ضررئی خاص دی په تاسوپورې						

فَإِذَا	جَآءَ	وَعْدُ	ٱلْءَاخِرَةِ	لِيَسُۥٓـُٔوا۟
پس کله چې راغله نیته دروستنی فساد مقررکړل مونږه په تاسوباندې ظالمان چې وران کړې هغوئ				

وُجُوهَكُمْ	وَلِيَدْخُلُوا۟	ٱلْمَسْجِدَ	كَمَا	دَخَلُوهُ	أَوَّلَ	مَرَّةٍ	وَلِيُتَبِّرُوا۟
مخونه ستاسواوچې داخل شی هغوئ بیت المقدس ته لکه چې داخل شوی وو هغوئ دیته اول ځلی اوتس نس کړې							

مَا عَلَوۡا تَتۡبِيۡرًا ۝ عَسٰى رَبُّكُمۡ اَنۡ يَّرۡحَمَكُمۡ ۚ وَاِنۡ

هغه څه چې غالب شي پرې دوئی سم تس نس. قریبه ده چې رب ستاسو مهرباني او کړي په تاسو. او که چرې

عُدۡتُّمۡ عُدۡنَا ۘ وَجَعَلۡنَا جَهَنَّمَ لِلۡكٰفِرِيۡنَ حَصِيۡرًا ۝

بیا او ګرځیدلئ تاسو (فساد ته) نو او به ګرځو مونږه (عذاب ستاسو ته) او ګرځولیدي مونږه جهنم لپاره دکافرانو جیل خانه.

﴿اِنۡ اَحۡسَنۡتُمۡ﴾ په دیکښ قلنا مقدردي ای قلنا ان احسنتم الخ اومراد دَاحسان نه توحید او اطاعت دَالله ﷻ دي، مقصدئی دادي چې که تاسو په توحید او په اطاعت دالله ﷻ باندی دغه شانتي کلك پاتې شوئ نو خپله فائده ده او کچرته شرك او ګمراهئ کښ مبتلا شوئ نو خپل نقصان دي او په تکرار دَاحسان کښ اشاره ده چې رحمت دَالله ﷻ غالب دي په غضب باندی (اللباب) اولام په ﴿فَلَهَا﴾ کښ دَانتفاع والاندي بلکه لام لپاره دَاختصاص دي چې دَاحسان فوائد او دګناه نقصان په تاسو پوري خاص دي بل چاته ندي متعدي، ای الاحسان والاساءة کلاهما مختص بانفسکم لایتعد النفع والضرر الى غیرکم (کشاف) اویالام دَاستحقاق دي لکه په ولهم عذاب کښ چې لپاره دَاستحقاق دي اویالام په معنی دَعلی سره دي اویا په معنی دَالی سره دي او متعلق ئی محذوف دي ای فالیها ترجع الاساءة (قرطبی) ﴿فَاِذَا جَآءَ وَعۡدُ﴾ دادویم ځلي فساد دهغوئ ذکر کیږي چې هغه قتل دَحضرت یحیی ؑ وو او عزم دَقتل دَحضرت عیسی ؑ وو جواب د ﴿فَاِذَا﴾ محذوف دي چې هغه بعثناهم دي په دي دلالت کوي جواب دَاول اذا ﴿الۡاٰخِرَةِ﴾ داصفت دَ ﴿الۡكَرَّةُ﴾ لپاره دي ای فاذا جاء وعدعقوبة المرة الاخرة من افسادکم بعثناهم الخ (زادالمسیر)

دویم ځل په دوئ باندی چې مسلط شوي وو نو مشهور قول دادي چې هغه دَروم یو بادشاه وو چې هغه دَدوئ قتل عام او کړو مسجداقصی ئی وران کړو او ټول قیمتي جواهرات ئی ورنه یوړلو، دهغه نوم یاانطیاخوس وو یا طیطس وو او یا قسطنطین وو، ﴿لِيَسُوۡٓءٗا﴾ لام یالام کئ دي او یالام العاقبة دي او متعلق دي په جواب محذوفه دَ ﴿فَاِذَا﴾ پوري چې بعثناهم دي ﴿وُجُوۡهَكُمۡ﴾

مراد دَ وجوه نه یاتول ذات مراددي اومطلب دادي چې داسې خلك په تاسوباندی مقرر کړل چې هغوئ ستاسو اهانت اوکړو اوتاسوئی قتل کړئی اونسبت دَ اساءت وجوه ته څکه اوشولوچې اثاردَاعراض نفسانیه چې حاصل وي په زړه کښ هغه ظاهریږي په مخ باندی(کبیر)اویامرادورنه معنٰی حقیقة ده چې مخونه دي اومقصدداديّ چې داسې ظالمان په تاسوباندی مونږه مقررکړل چې هغوئ ستاسومخونه وران کړل اویاورنه مراد،سرداران اومشران دي(فتح القدیر) ﴿وَلِيَدۡخُلُوا﴾دالام هم یالام کئ دي اویالام العاقبة دي اوداعطف دې په ماقبل جارمجرورباندی اوهغه متعلق وو په بعثنا مقدرپوري نوداهم په هغې پوري متعلق دي،ای بعثاهم لیدخلوا. ﴿ٱلۡمَسۡجِدَ﴾مرادورنه مسجداقصی دي، ﴿كَمَا دَخَلُوهُ﴾تشبیه په نفس دخول کښ نده مرادبلکه په قتل اذلال،قهر اوغلبي کښ ده چې لکه څنګه اول ځل دَدوئ اذلال اوقتل عام کړي وو نودغه شانتي په دویم ځل باندی هم وو،ای انهم یدخلونه بالسیف والقهروالغلبة والاذلال(بحر)،﴿وَلِيُتَبِّرُوا﴾تتبیر وئیلې کیږي اهدام سره دَ اهلاك ته نوپدي کښ اشاره ده چې دادویم ځلي سزا ډیرسخته وه په نسبت سره اول ته،﴿عَسَىٰ رَبُّكُمۡ﴾ اویا(۷۰) کالوپوري،یهودیانو بیادغه شانتي دذلت اوغلامئ ژوندتیرکړو اودهغې نه وروستو الله ﷻ په دوئ باندی بیاخپل رحم اوکړو اودَغلامئ زندګئ نه ئې ورله نجات ورکړو خوورسره ورسره ئې تنبیه هم ورکړه چې وان عدتم عدنا یعني کچرته تاسوبیاافساد اوکفروغیره اختیارکړل نومونږه به هم دغه شانتي سزاپه دنیاکښ درکړو اوپه اخرت کښ به په جهنم کښ قیدکړې شئ،چنانچه دَحضورﷺ دَبعثت نه بعد دوئ بیاخپل زاړه خباثتونه شروع کړل دَحضورﷺ دَقتل اراده(العیاذبالله) په هغه باندی سحراوپه خوراك کښ زهرورکول وغیرداټول ئې اوکړل نوالله ﷻ دمسلمانانوپه لاس دوئ ته سزاورکړه دَبنوقریظه بالغان ئې ټول قتل کړل،زنانه اوماشومان ئې ورله غلامان کړل، بنونضیرئې اوشړل، اوجزیه پري مقررکړه اوبیادَحضرت عمرؓ په زمانه کښ دَجزیرة العرب نه هم اوشړې شول اودَ وضربت علیهم الذلة والمسکنة وباءوا بغضب من الله مصداق اوګرځیدلو. ﴿جَهَنَّمَ لِلۡكَٰفِرِينَ حَصِيرًا﴾حصیردَفعیل په وزن پهَ معنی دَفاعل یعني حاصرة سره دي ای وجعلنا جهنم حاصرة لهم(کبیر)اویاپه معنی دَمفعول سره دي ای جعلناهاموضعا محصورالهم(کبیر)اومقصدداديّ چې عذاب دَدنیاکه هرڅومره تکلیف ده

شي خو اخركارخلاصی ورنه کیږي که نورخه نوي نوپه مرگ سره ورنه خلاصی راتـي اوعذاب دجهنم نه په هيڅ صورت خلاصي نه كيږي (اللهم اجرنا بفضلك وبكرمك وبجودك من النار امين ثم امين).

إِنَّ هَٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ
[1] بيشكه داقرآن خودنه کوي خلقوته دهغه لارې چې هغه سمه (نيغه ده) [2] اوزيري وركوى مؤمنانو نه هغه كسان
يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا ﴿٩﴾ وَأَنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ
چې عملونه كوي نيك (موافق دسنت) چې بيشكه لپاره ددوئ ثواب لوئ دي [1] اوبيشكه هغه كسان چې نه لري يقين
بِالْآخِرَةِ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٠﴾
په اخرت تيار كړي دي مونږه لپاره دهغوئ عذاب دردناك

﴿إِنَّ هَٰذَا الْقُرْآنَ ﴾پدې ايت كښې بشارة مع ترغيب الى القرآن ذكركيږي ديته ايت معجزه وئيلې شي اوددې تعلق دابتداء دسورت سبحن سره دې چې داقرآن هم داسراء پشانتي يوه معجزه ده،نوكه ايمان موراوړو نو الله ﷻ به تاسوته اجردركړي اوكه ايمان مورانه وړو نوسخت عذاب كښې به گرفتارشئ اوهذا كښې اشاره ده تعظيم دقرآن ته ﴿يَهْدِي﴾مفعول اول (ل)ديهد لپاره محذوف دې چې هغه الناس دې اوپدېكښې اشاره ده چې قرآن دعام انسانيت لپاره ذريعه دهدايت ده د يومخصوص فرقي اوقوم لپاره ندې﴿لِلَّتِي﴾ مفعول ثاني دې الطريقة پكښې محذوف دې اى للطريقة اللتى الخ(روح) اوياورله موصوف حالة محذوف دې اى للحالة اللتى هى اقوم الحالات واسدها(كشاف) اومرادورنه ملة اسلام اوتوحيددي.﴿هِيَ أَقْوَمُ ﴾ اقوم صيغه داسم تفضيل ده اواسم تفضيل اكثر لپاره دزيادت على الغيروي خوكله كله دنفس زيادت لپاره هم راځي په معنى دفاعل

(1) دوم ايت معجزه
(2) بشارت اخروى
(1) تخويف اخروى

سره ـ لکه الله اکبر شو. چې په معنی د الکبیر سره دي. نو دلته هم اسم تفضیل لپاره د نفس زیادت دي ځکه چې توحید او دین اسلام نه علاوه بل دین صحیح او مستقیم نشته دي چې هغه مفضل علیه شي او دې ورله مفضل شي. نو ﴿أَقْوَمُ﴾ معنی قیمة دي لکه فیها کتب قیمة شو (کبیر، بحر)

﴿وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ﴾ دابشارت اخروي دي او مراد د ﴿أَجْرًا كَبِيرًا﴾ نه جنت او دیدار الهی دي.

﴿وَأَنَّ الَّذِينَ﴾ تخویف اخروي دي. او دا عطف دي په ماقبل ﴿أَنَّ لَهُمْ﴾ باندې او د ﴿وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ﴾ ماتحت دي نو معنی ئې داده چې بشارت ورکړي مؤمنانو ته په دوه انواعو د بشارتونو باندې چې دوئ ته به ثواب میلاویږي او دشمن ته به ئې عقاب میلاویږي. والمعنی انه تعالی بشر المؤمنین بنوعین من البشارة بثوابهم وبعقاب ادعائهم (کبیر).

فائده: پدې ایت کښې الله ﷻ مکلفین دوه (۲) اقساموته منقسم کړل چې یو قسم مؤمنین صلحاء دي چې دهغوئ مقام جنت دي دویم قسم غیرمؤمنین چې دهغوئ مقام جهنم دې او دریم قسم ذکر نشو کوم چې معتزله ثابته وي نو معلومه شوه چې دریم قسم نشته دي کچرته دریم قسم وي نو خامخا به ذکر شوې وو او دهغوئ اخروي انجام به هم ذکر شوې وو.

علامه زمخشري په خپل تفسیر کښې د دینه جواب کړیدې چې هغه د هغه د علمي جلالت شان لره غیرمناسب دې لیکلي قلت کان الناس حینئذ امامؤمن تقی وامامشرك وانما حدث اصحاب المعتزلة بین المنزلتین بعد ذلك (کشاف ج۲ ص۶۰۸) خو دا جواب د مشهوري قاعدي العبرة لعموم الالفاظ نه هم مخالف دې او د قران مجید عدم جامعیت لره هم مستلزم دې او خلاف هم دي د واقعي نه.

وَيَدْعُ الْإِنْسَانُ بِالشَّرِّ دُعَاءَهُ بِالْخَيْرِ ۖ وَكَانَ الْإِنْسَانُ عَجُولًا ⑪ وَجَعَلْنَا
[1] او غواړي انسان شر لره پشان د غوختلو دده خیر لره، او دې انسان جلتي کوونکي. [2] او ګرځولیده مونږه
اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ آيَتَيْنِ فَمَحَوْنَا آيَةَ اللَّيْلِ وَجَعَلْنَا آيَةَ النَّهَارِ مُبْصِرَةً
شپه او ورځ دوه دلیلونه د قدرت خپل پس کمه کړیده مونږه علامه د شپې او ګرځولیده مونږه علامه د ورځې رڼا والا

(1) شکوی

(2) دلیل عقلی دوم

لِّتَبْتَغُوْا فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ وَلِتَعْلَمُوْا عَدَدَ السِّنِيْنَ

لپاره ددې چې طلب کړئ تاسو فضل دجانبه درب ستاسو نه اولپاره ددې چې او پيژنئ شمار دکالونو

وَالْحِسَابَ ۭ وَكُلَّ شَيْءٍ فَصَّلْنٰهُ تَفْصِيْلًا ﴿١٢﴾

اوحساب اوهرخيز واضح کړې دې مونږه په کامل وضاحت سره

﴿وَيَدْعُ الْاِنْسَانُ﴾ پدې ايت کښې شکوې ذکر کيږي چې معجزه اسراء دَدې لپاره اوخودلې شوه چې دوئ اويريږي او ايمان راوړي مګردوئ داسې احمقان دي چې مسئله توحيد منلو او دالله ﷻ دَخوف په ځائ التپادَعذاب مطالبه کوي،اودغه شانتې زجردې په استعجال دَعذاب سره.

﴿الْاِنْسَانُ﴾مراد ورنه جنس انسان دې،اونسبت ورته دَبعضوافرديعنى کفارو دَعادت شويدې (روح) اوياورنه مراد مطلق انسان دې اومراد دَ بددعانه هغه بددعاده چې کومه انسان دَغصې په وخت کښې کوي مقصد دادې چې کچرته الله ﷻ بد دعاپشانته دَدعازرقبوله ولې نو انسان به هلاك شوې وو اى ويدعو الانسان على نفسه وولده وماله بالشرفيقول اللهم اهلك والعنه عندضجره وغضبه... فلواستجيب له فى دعائه على نفسه وماله وولده كما يستجاب له فى الخيرهلك(طبري) اودَدې وجه نه منع راغليده په حديث کښې دَبد دعانه چه حضور ﷺ فرمائى لاتدعوا على انفسكم ولاعلى اموالكم ان توافقوا من الله ساعة اجابة يستجيب فيها اوياالف لام عهدخارجي دې اومراد دَالانسان نه مخصوص کافرنضربن الحارث دې چې هغه دخپل ځان لپاره بددعاکړې وه چې اللهم ان كان هذاهوالحقّ من عندك فامطرعلينا حجارة من السماء(الانفال ايت نمبر۳۲).

﴿دُعَآءَهٗ﴾دامنصوب بنزع الخافض دې اى كدعائه ربه اغايهب له العافية(قرطبى) ﴿وَكَانَ الْاِنْسَانُ عَجُوْلًا﴾الف لام په الانسان کښې جنسي دې اومراد ورنه جنس انسان دې چې فطري طورباندې انسان تلوار کوونکې پيدا شويدې اى طبعه العجلة(قرطبي) لکه په سورة الانبياء کښې ذکردې چې خلق الانسان من عجل(ايت نمبر۳۷) اوياورنه مرادمطلق کافراوياهغه کافرمخصوص دې مقصد دادې چې دغه کفاراويانضربن حارث جلتى کوونکې دې دغې عذاب ته اوحالانکه هغه عذاب خامخاراتلونکې

دي،اوپديکښ په دوئ پوري تهکم مقصوددي. اومبالغا فی العجلة ليستعجل الشئ والعذاب وهواتيه لامحالة ففيه نوع تهکم به(روح) اوياورنه مراد حضرت ادم ﷺ دي لکه ابن جريرطبري رحمه الله اوحافظ ابن کثيرپدي ځائ کښ دحضرت ابن عباس رضي الله عنه اوسلمان فارسي رضي الله عنه نه دحضرت ادم ﷺ تفصيلي واقعه نقل کړيده چې کله الله ﷻ په ادم ﷺ کښ روح واچولو اوهغه نوم(ناف) پوري راغلو نوحضرت ادم ﷺ پاسيدو نواوغورزيدلو اوطاقت ئې نه لرلو چې اودريدلې وې نواوئې وئيل يارب عجل قبل الليل(طبري،ابن کثير)﴿وَجَعَلْنَا ٱلَّيْلَ﴾ دادويم دليل عقلي دې په توحيدباندې چې شپه اوورځ دالله ﷻ دقدرت اوواحدنيت دوه عظيم نشانئ دي،نومراددَ ﴿ءَايَتَيْنِ﴾نه نفس شپه ونفس اورځ ده چې دانفس شپه اونفس ورځ الله ﷻ دوه دليله پيداکړيدي اوپدوپوري دمخلوقاتو مصالح دنيوي اوديني متعلق دي،نوبناء پدې توجيه،﴿فَمَحَوْنَآ ءَايَةَ ٱلَّيْلِ﴾ کښ اضافت دآية،ليل اونهارته اضافت بيانی دې نوتقديربه ئې داسې شي فمحونا الاية اللتی هی الليل وجعلنا الاية اللتی هی النهارمبصرة يعني مونږه بې نوره ګرځولي ده يونشانه چې هغه شپه ده اوګرځولي ده مونږه بله نشانه چې هغه ورځ ده رڼا ،اويامراد دَ﴿ءَايَتَيْنِ﴾ نه شمس وقمردې اودآيت مقصددادې چې پيداکړيدي مونږه دشپې اوورځې لپاره دوه علامتونه چې هغه نمراوسپوږمئ دې،نوپدې تقديرالليل نه مخکښ مضاف مقدردې ای وجعلنانيری الليل والنهار ايتين الخ (کبير)اويامراددايتين نه په دې تقديرذی ايتين دې،ای وجعلناالليل والنهارذوی ايتين(روح) ﴿فَمَحَوْنَآ﴾فاء تفصيليه ده داضافت بيانی په صورت کښ مراد دَ ﴿فَمَحَوْنَآ﴾نه تياره دشپې ده چې ددې رڼاالله ﷻ محوکړې اوتياره دشپې راولې،چې په هغې کښ څه شئ په اسانه سره نه ښکاري ای جعلناالليل ممحوالضوء مطموسه مظلمالايستبان فيه شئ(کشاف) اودويم تقديربه بناء مراد دَ﴿فَمَحَوْنَآ﴾ نه کموالې درڼادسپوږمئ دې چې دسپوږمئ رڼاالله ﷻ کمه کړيده اودا ايت ترکيب دقبيلې دضيق فم الرکية نه دې چې حصول دمحوابتداء وو وروستونه وو(روح)اوياپه حقيقت باندې محمول دې چې اولا دنمراوسپوږمئ دواړو رڼايوشانتې وه خوبياحضرت جبرئيل ﷺ پخپل وزرسره،دالله ﷻ په حکم سره سپوږمئ اووهله نودهغې رڼاکمه شوه،داتفسيرمنقول دې دحضرت عکرمه رضي الله عنه نه اومراددَ ﴿فَمَحَوْنَآ﴾نه هغه توړداغ دې په مخ دَ سپوږمئ کښ(طبري) ﴿وَجَعَلْنَآ ءَايَةَ

﴿ٱلنَّهَارِ مُبۡصِرَةً﴾ اسناد مجازي دي مراد ورنه يبصراهلها دي اويا﴿مُبۡصِرَةً﴾ نه مراد مضيئة دي مجاز به علاقى دسببيت سره ، ﴿لِّتَبۡتَغُواْ فَضۡلاً﴾ دامتعلق دي په ﴿وَجَعَلۡنَآ ءَايَةَ ٱلنَّهَارِ﴾ پوري اومراد دفضل نه رزق دي، اوعلت د﴿ءَايَةَ ٱلَّيۡلِ﴾ محذوف دي چې هغه لتسكنوا دي. ﴿وَلِتَعۡلَمُواْ﴾ دامتعلق دي په﴿ءَايَةَ ٱلَّيۡلِ﴾ او ﴿ءَايَةَ ٱلنَّهَارِ﴾ دواړو پوري اودَدينه معلومه شوه چې حساب كول په شمسي سره جائزدي ليكن په قمري سره حساب كول فرض كفائي دي اومراد په ﴿وَٱلۡحِسَابَ﴾ سره حساب دمياشتو اودهفتو اودورځودي، ﴿وَكُلَّ شَيۡءٍ﴾ يعني خومره منافع ديني دي يادنيوي دي هغه ټول مونږ په تفصيل سره واضح كړيدي، څه قسم التباس پكښې نشته دي،دَدې ايت توضيح په سورة النحل ايت نمبر۸۹ كښې تيرشويده.

وَكُلَّ اِنۡسَانٍ اَلۡزَمۡنٰهُ طٰٓئِرَهٗ فِیۡ عُنُقِهٖ ؕ وَنُخۡرِجُ لَهٗ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ

[1] اوهرانسان سره لازم كړيدې مونږ عمل دهغه، په غاړه دهغه كښې، اوراوباسوبه مونږه لپاره دده په ورځې دقيامت

كِتٰبًا يَّلۡقٰهُ مَنۡشُوۡرًا ﴿۱۳﴾ اِقۡرَاۡ كِتٰبَكَ ؕ كَفٰى بِنَفۡسِكَ الۡيَوۡمَ

يو كتاب چې ميلاوبه شي دَه ته خوروور (اوبه وئيلى شي ورته) اولوله عملنامه خپله كافى دي نفس ستا نن ورځ

عَلَيۡكَ حَسِيۡبًا ﴿۱۴﴾ مَنِ اهۡتَدٰى فَاِنَّمَا يَهۡتَدِیۡ لِنَفۡسِهٖ

په تاباندې حساب كوونكې پس څوك چې په حق روان شو نوبيشكه دې په حق روان دې دنفع خپل خان لپاره

وَمَنۡ ضَلَّ فَاِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيۡهَا ؕ وَلَا تَزِرُ

اوڅوك چه چې واوړيدو دحق نه، پس بيشكه اوړي دحق نه چه وبال اوتاوان ئې په خپل خان دې اونشي پورته كولې

---

[1] تخويف اخروى

وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ؕ وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلًا ۝۱۵

پيټی والا پيټی دګناهونو دبل چا اونه[1] يومونږه عذاب ورکوونکی ترهغه وخته پورې چې ا وليږو مونږه رسول

﴿وَكُلَّ اِنْسَانٍ﴾پدې کښ تخويف اخروي ذکرکيږي ﴿وَكُلَّ﴾منصوب دې په فعل مقدرسره اودَمااضمرعلى شريطة التفسيردَقبيلي نه دي ﴿اَلْزَمْنٰهُ طٰٓئِرَهٗ﴾مراد دَطائرنه دهرانسان والاعمل دې خيروي اوکه بدوي دَشيې وي اوکه دورخې وي بطورجزغيرمنفك دده سره لازم دې.اى عمله الصادرمنه باختياره جسماني قدرله خيراکان اوشرا(روح)اوتشبيه په طائرسره ځکه ورکړې شوه چې طائرسره به دوئ فال کولو اويامرادورنه قسمت دې دَانسان والا،چې دهرانسان سره دَتقديرپه وجې سره سعادت ياشقاوت لازم دې اودهغې نه دې انحراف نشي کولې اى شقاوته وسعادته وماكتب له من خيروشر وماطارته من التقدير(قرطبي).

﴿فِيْ عُنُقِهٖ﴾داياکنايه ده شدت لزوم اوکمال ارتباط نه.ځکه چې په عرف کښ دَنه جداکيدونکی شئ نه تعبيرپه دې سره کيږي.اوتخصيص دَعنق ځکه کيږي چې په ټولواعضاؤکښ-عنق(غاړه) داسې عضوده چې پدې کښ لګولې شوې شئ دَانسان دَخائست يادَبيکاروالی سره خصوصی تعلق لري(طبري) اوياتنه مرادحقيقةً عنق(غاړه) ده امام مجاهدرحمه الله فرمائی چې مامن مولود يولدالاوفی عنقه ورقة مكتوب فيهاشقی اوسعيد(خازن) ﴿وَنُخْرِجُ لَهٗ﴾مرادتنه ظاهره ول دي،چې هغه صحيفه اواعمالنامه چې دَانسان نه مخفي ده قيامت په ورځ به ورته ظاهره کړې شي اوحضرت حسن بصري رحمه الله فرمائی چې صحيفه اعمال فرشتې دَانسان سره په قبرکښ دفن کوي اوقيامت په ورځ به دقبرنه راوخکلی کيږي.﴿اِقْرَاْ﴾ دَدينه مخکښ يقال له مقدردې اوقائل دَدې الله تعالی به وي په واسطه دَفرشتوسره ﴿كَفٰى بِنَفْسِكَ﴾باء زائده ده او﴿بِنَفْسِكَ﴾ فاعل دَكفى دې او ﴿حَسِيْبًا﴾تميزدې په معنى دَحاسب سره اودا ايت دليل دې پدې چې هرانسان که هغه امي وي اوکه لوستونکې وي خپله عمل نامه به په خپله لولي، ﴿مَنِ اهْتَدٰى﴾دامتعلق دې په

(1) تخويف دنيوی

ماقبل﴿إِنَّ هَٰذَا الْقُرْآنَ ﴾پوري اوپدي کښ اثاردعملونو اونتیجه دحساب ذکرکیږي.چې
هرانسان به دخپل عمل نتیجه مومي که خیروي اوکه شروي.﴿فَإِنَّمَا يَضِلُّ ﴾ یعني وبال اوګناه
دګمراهئ په هغه باندې دې بل چاته ندې متعدي،﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ ﴾داتاکیددې ماقبل جملې دې
چې دیونفس ګناه به په بل نفس نشي بوج کولې اودا ایت دولید ابن مغیره په باره کښ نازل شوې
دې چې هغه خلکوته اووئیل چې څمااتباع اوکړئ اودحضرت محمدﷺ انکاراوکړئ اوګناه
ستاسوپه ماباندې دې،نودا ایت نازل شو، اودا ایت رددې په هغه چاچې ګناه کوي اووائي چې
ماته فلانی ونیلي دي ګناه ئې په هغه باندې دې اودې ایت تعارض وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ سره نشته دې
څکه هلته یوعذاب دخپلې ګمراهئ دې اوبل عذاب داضلال دې اودغه شانتې ددې ایت تعارض
دحدیث ابن عمرؓ سره هم نشته دې چې هغه روایت نقل کړیدې درسول اللهﷺ نه چې ان الميت
يعذب ببكاء اهله عليه اګرچه حضرت عائشهؓ ددې ایت ظاهري منطوق دوجې نه حدیث په
یومخصوص واقعه باندې حمل کړیدې،خوجمهورمحدثین اومفسرین فرمائي چې ایت اوحدیث
کښ څه تعارض نشته دې حدیث محمول دې په باره دهغه چاکښ چې وصیت علی البکاء ئې کړې
وي،لکه څنګه چې رسم دجاهلیت وو،نودغه تعذیب دقبیلې دجزاء داضلال نه ده،اویامراد دمیت
نه محتضر دې چې قریب المرګ وي اومیت اطلاق پدې مجازا شویدې اومراددتعذیب نه تکلیف
دنیوي دې نومقصددحدیث دادې چې په ژړادأهل سره قریب المرګ ته تکلیف رسیږي خوژړاپرې
نده پکار، ﴿وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ ﴾مراددعذاب نه پدې ځائ کښ عذاب دنیوي دې چې هغې ته عذاب
داستیصال ونیلی کیږي،هغه موقوف دې په ارسال درسل باندې پس داتمام حجت نه اوچې کوم
قوم ته رسول نوي مبعوث نوهغه قوم ته عذاب دنیوي نه ورکولې کیږي اوپه داسې قوم اوکس
باندې ایمان په ذات داللهﷻ اوپه توحیدباندې راوړل ضروري دي دخپل عقل دوجې نه،ددې
وجه نه امام ابوحنیفهؒ فرمائي چې کچرته یوسړې په داسې ځائ کښ وي چې هلته ورته هیڅ
داعي نوي رسیدلې نوبیاهم داکس په توحیدداللهﷻ باندې مکلف دې څکه چې دانسان لپاره
تولونه لوئی داعي دهغه والاعقل دې.

بعض مفسرينو دعذاب نه مراد عام عذاب اخيستى دي او ددې ايت نه ئې استدلال كړيدې په نفي دوجوب عقلي باندى. اوداايت ئې دليل ګرځولى دې پدې چې كه يوقوم ته رسول نوې مبعوث نوهغه قوم اګرچه ايمان نوې راوړې نوبياهم به ورته عذاب اخروې نه ميلاوېږي خوحقيقت دادې چې ددې ايت تعلق صرف دعذاب دنيوي سره دې. چې هغه عذاب استيصال دې اوپدې آيت سره استدلال په نفى دوجوب عقلى باندى عقلاً نقلاً ضعيف دې[1]

---

(۱) هرچه ده وجه ضعف نقلاً هغه داده (۱) چې هرپيغمبرخپل قوم ته اولادعوت په دليل عقلي سره وركړيدې، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمائى قالت رسلهم افى الله شك فاطرالسموات والارض (ابراهيم ايت نمبر ۱۰) نوداواضح دليل دې چې عقل داعي دې اوددې په وجه سره انسان مكلف په توحيد ګرځيږي (۲) حضرت ابراهيم عليه السلام قبل النبوت اثبات دتوحيد په عقل سره كړيدې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمائى چې ابراهيم عليه السلام كله ستوري. سپوږمئ. نمرته اوكتلونو اووئى فرمائيل (هذا ربى) هذاربى (الانعام ۷۶. ۷۷. ۷۸) (۳) دغه شانتې حضرت ابراهيم عليه السلام خپل پلاراوقوم ته اوفرمائيل چې انى ارئك وقومك فى ضلال مبين (الانعام ۷۴) نودوئ ته ضلالت ثابته ول دوحى په ذريعې سره نوو. چې دوئ انكاردوحي نه كړې وو بلكه دوئ توحيدنومنلى دعقل دوجې نه چې دامنل پكاروو نومعلومه شوه چې عقل هم داعي دې اوددې په ذريعې سره انسان مكلف ګرځيږي (۴) الله جَلَّ جَلَالُهُ دجهنميانونه اخباروركوي فرمائى چې دوئ به وائى چې لوكنا نسمع اونعقل ماكنافى اصحٰب السعير (الملك ۱۰) نومعلومه شوه چې ترك انتفاع دعقل دوجې نه دوئ جهنم ته لاړل. لكه څنګه چې دترك انتفاع دنقل وجې نه سړى جهنم ته ځي (۵) دمشرك په باره كښې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمائى ان الله لايغفران يشرك به ويغفرمادون ذلك نودايت مطلق دې چې الله جَلَّ جَلَالُهُ مشرك نه معاف كوي بطور عموم اواطلاق هرقسم مشرك ته شامل دې

هرچه دې عقلاً نوهغه داسې دې كچرته قول په ثبوت دوجوب عقلي اونشي نولازم بشي عدم دثبوت دوجوب شرعي تالي باطل دې مقدم ئى مثل دې په بطلان كښې. هرچه دې دليل دملازمې خكه چې وجوب شرعي مستلزم دې دوجوب عقلي لره اوكچرته وجوب شرعي مستلزم عقلي لره نشي نولازم بشي اثبات الشئ بنفسه يادوريا تسلسل تالى په دريواړو شقوقوسره باطل دې مقدم ئى مثل دې په بطلان كښې دليل دملازمې دادې چې هركله يونبي دعوى دنبوت اوكړي اومعجزه ظاهره كړي نوپه مستمع اومخاطب باندې دخبره اوريدل اوپه دې معجزه كښې تامل كول واجب وي اويابه نوي؟ شق ثاني خوباطل دې بداهة والاباطل بهٔ شي قول بالنبوة. اوكه واجب وي نومدعى ثابته شوله اوكه په شرعي سره راغلي وي نوداشرع مثبت چې ده نودابه بعينه ياهغه مثبت چې مدعى هغه به وي اويابه غيروي. كه شق اول وي نولازم شواثبات الشئ لنفسه اوكه شق ثانى وي نوپه هغې كښې كلام كوم چې دهغې شرعي اثبات په عقل سره شويدې كه په شرع اخرسره كه په عقل سره وي دعوى ثابته شوه اوكه په شرع سره وي نوداشرعه به ياهغه اوله وي يابه بله وي كچرته اوله وي نودورشواوكه غيروي نوتسلسل لازميږي. اوهرچه دې عرفاً، نوعرف پدې شاهددې چې اسباب دعلم دمخلوقاتو دري ۳ دي. حواس. خبرصادق اوعقل خوځنګه چې خبرصادق چې هغه مشتمل دې په خبرمتواتر اوخبررسول باندې سبب دعلم دې نودغه شانتې عقل هم سبب دعلم دې. باقي په نفي دوجوب عقلي باندې چې كوم دلائل

وَ اِذَآ اَرَدْنَآ اَنْ نُّهْلِكَ قَرْيَةً اَمَرْنَا

او هركله چې اراده اوكړو مونږه ددې چې هلاك كړويو كلي نو حكم اوكړو مونږه

مُتْرَفِيْهَا فَفَسَقُوْا فِيْهَا فَحَقَّ عَلَيْهَا

عيش پرستو دهغې ته په اطاعت باندې پس نافرماني اوكړې هغوئ په هغې كښې پس ثابت شي په هغو باندې

الْقَوْلُ فَدَمَّرْنٰهَا تَدْمِيْرًا ﴿١٦﴾ وَكَمْ اَهْلَكْنَا مِنَ الْقُرُوْنِ مِنْۢ بَعْدِ

فيصله دعذاب نو هلاك كړو مونږ هغوئ لره په لوئ هلاكت سره او ډير هلاك كړيدي مونږه د پيړيو نه ورستو

نُوْحٍ ؕ وَكَفٰى بِرَبِّكَ بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ خَبِيْرًاۢ بَصِيْرًا ﴿١٧﴾ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ

دنوح عليه السلام نه او پوره دې رب ستا په ګناهونو دبندګانو خپلو باندې خبرداره ليدونكې [1] څوك چې اراده كوي

الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهٗ فِيْهَا مَا نَشَآءُ لِمَنْ نُّرِيْدُ

دَدنيا نو په تلوار به وركړو مونږه ده لره پدې دنيا كښې څومره چې مونږه اوغواړو د چالپاره چې مونږه اراده كړيده

ثُمَّ جَعَلْنَا لَهٗ جَهَنَّمَ ۚ يَصْلٰىهَا مَذْمُوْمًا مَّدْحُوْرًا ﴿١٨﴾ وَمَنْ اَرَادَ الْاٰخِرَةَ

بيا مقرر كړيدې مونږه لپاره دده جهنم داخل به شي دې ورته بدو نيلې شوې رټلې شوې او څوك چې اراده لري د اخرت

وَسَعٰى لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَّشْكُوْرًا ﴿١٩﴾

او كوشش كوي هغې لره كوشش مناسب دهغې او دې مومن وي پس دغه كسان كوشش ددوئ قبول كړې شوې

كُلًّا نُّمِدُّ هٰٓؤُلَآءِ وَهٰٓؤُلَآءِ مِنْ عَطَآءِ رَبِّكَ ؕ

هريو سره مونږه امداد كوو ددې دنيا غوښتونكو سره او اخرت غوښتونكو سره دادبخشش درب ستا نه دې

ونيلې دي علامه الوسي رحمه الله په روح المعاني كښې دهغې تفصيلاً جوابونه ذكر كړيدي، (من شاء فليطالع ثمه) نو خلاصه دبحث داده چې عقل حجت دې په ايمان بالله او واحدانيت په باري كښې او ارسال درسل لپاره دتتمه ددين او دهغې امورو لپاره دې چې دهغې وخت موقوف دې په شرع باندې.

[1] جواب سوال مقدر.

وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحۡظُورًا ۝٢٠

اونده ورکړه درب ستابند کړې شوې

﴿وَإِذَآ أَرَدۡنَآ﴾ پدې آیت کښ تخویف دنیوي بیانیږي اوډماقبل ایت تفصیل دې چې کله الله ﷻ دیوقوم ډاهلاك اراده اوکړي نوډرسولانو په واسطه سره دهغې مالدارانوته ډاطاعت امراوکړي لیکن هغوئ په فسق اوفجورکښ مبتلاشي نوالله ﷻ ئي هلاك کړي مراددَ﴿أَرَدۡنَا﴾ نه اراده ازلیه نه ده بلکه مرادورنه دُنُوّ اونزدیکت ډوخت دې.ای اذادناوقت اهلاك قوم ولم یبق من زمان امهالهم الاقلیل(کشاف)﴿أَمَرۡنَا مُتۡرَفِيهَا﴾مامور به محذوفه ده چې هغه اطاعت دې چې امرناهم بالطاعة والتوحید.اویا﴿أَمَّرۡنَا﴾ نه مراد کثرت دې نومعنی ئی داشوه یعني ډیرکړومونږه مالدارانولره یعني دهغوئ مالونه وغیره په طورډاستدراج سره ډیرکړو اوعلامه زمخشري فرمائی چې﴿أَمَرۡنَا﴾ مامور به محذوفه وه چې هغه فسق دې ای امرناهم بالفسق اوامرپه خپلې حقیقي معنی کښ مستعمل ندې ځکه الله ﷻ چاته ډفسق حکم نه کوي بلکه مجازي معنی ورنه مراده ده چې الله ﷻ په دوئ باندې ډخپلونعمتونوباران اوکړې اودوئ دهغې ډوجې نه راحت پسند اوعیش پرست شي اوپه فسق کښ مبتلاشي اویوقرائت ډ﴿أَمَّرۡنَا﴾په تشدیدسره هم راغلیدې نومعنی ئی داشوه چې مونږه دهغې مشران اوحاکمان مترفین جوړ کړو ،نوهغوئ فسق کوي نورعیت هم په فسق کښ مبتلاشي ځکه چې الناس علی دین ملوکهم، اومترف وئیلی کیږي عیش پرست ته اوتخصیص ئی ځکه اوشولوچې باقي خلك ډدوئ متبع وي،وخصوا بالامر لان غیرهم تبع لهم(قرطبی) ﴿فَدَمَّرۡنَٰهَا﴾ تدمیراستعمال اکثرپه هغه ځائ کښ کیږي چې هلاکت په ټول قوم باندې په یوځای راشي ای استاصلناهابالهلاك(قرطبی)اوذکرډمفعول مطلق لپاره ډتاکیددې ﴿وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا﴾داهم تخویف دنیوي دې چې کله هم قومونه نافرماني شروع کړي اوفسق کښ مبتلاشي نوډالله ﷻ عذاب راشي اوټول هلاك شي ډنوح ﷺ نه تراوسه پورې څومره قومونه !الله ﷻ هلاك کړیدې چې هغوئ ډخپل پیغمبر خبره نوه منلې،﴿وَكَم﴾ خبریه دې، ﴿مِنَ ٱلۡقُرُونِ﴾ورله تمیزدې اومراد ډقرون نه اهل

قرون دي چې هغه مکذبین وو او اطلاق دقرن یا په څلوېښت (۴۰) یا په اتیا (۸۰) یا په سلو (۱۰۰) او یا په یوسل شلو (۱۲۰) کالو نو باندی کیږي. ﴿مِنۢ بَعۡدِ نُوحٖ﴾ په دیکښې اشاره ده چې د نوح ﷺ نه مخکښې شرك نه وو په توحید باندی خلك وو. نوح ﷺ اول پیغمبر وو چې قوم ورته تکلیف رسولې وو او دشرك ردئې کړې وو او قوم ئې په عذاب سره هلاك شوي وو او په ایت نمبر ۲ کښې هم دېته اشاره شوې ده. ﴿وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ﴾ دا کلام په مقام دمدح کښې راغلیدې نو ځکه په اسم باندی ئې بازائده داخله شویده (طبري) تفصیل ئې مخکښې تیر شویدې. ﴿خَبِيرَۢا بَصِيرٗا﴾ یعنی عالم دې په باطن او په ظاهر په هرڅه باندی ﴿مَّن كَانَ يُرِيدُ﴾ په دې ایت کښې تخویف اخروي دې هغه چالرد چې صرف ددنیاژوندئې مقصد اصلی ګرځولې وی اودآخرت نه غافله وي او دکفارو د یو اعتراض جواب هم ذکر کیږي چې کفارو به اعتراض کولو کچرته دامسئله توحید او دادین اسلام حق وې نو مونږ ته به الله ﷻ ولې مال، دولت او مختلف قسم رزق راکولو ځکه چې مونږه خود دې مخالف یو او مسلمانان به ولې غریبانان وو حالانکه هغوئ دد دې منونکې دي؟ نو جواب او شولو چې په دنیا کښې مال، دولت او وسعت رزق دحقانیت او مقبولیت عند الله دلیل ندې بلکه کوم سړې چې ددنیا طالب شي او دنیا ته په اخرت باندی ترجیح ورکړي نو په دې دنیا کښې مونږه هغه ته مال دولت ورکوو لیکن په اخرت کښې ذلت، محرومئ او دجهنم نه علاوه بل هیڅ شی به ورته نه میلاویږي.

﴿ٱلۡعَاجِلَةَ﴾ دا صفت دې موصوف ئې مقدر دې ای الدار العاجلة مراد ورنه د دنیا زندګی ده یعني دهغه هر کار صرف ددنیا د مقصد لپاره وي د دنیا عزت، ناموس، شهرت او ریالتوي. ﴿عَجَّلۡنَا لَهُۥ فِيهَا﴾ یعني کوم مقاصد دنیوي لپاره چې عمل خیر کوي نو هغه ورته په دنیا کښې میلاویږي. او په ﴿مَا نَشَآءُ﴾ کښې اشاره ده چې هغه په خپلو ټولو مقاصدو کښې نه کامیابیږي او ټولې تمناګانې ئې نه حاصلیږي. د دې ایت د سورة هود ایت نمبر ۱۵ سره تعارض نیشته دې اګرچه هلته ایت مقید ندې په قید دمشیت سره ځکه چې هلته پوره پوره بدله ورکول مشروط دي په شرط سره چې دهغې اعمالو اضداد په نیك اعمالو باندی زائدنوي ددې وجه نه ځني خلك عمل صرف دنیوي مقاصدو لپاره کوي خو بیا هم هغه تمناګانې ئې نه پوره کیږي او په ټولو مقاصدو کښې کامیابی ورته

نه حاصليږي اوياهغه ايت مطلق دي اوداايت مقيددې.خوهغه مطلق ددې ايت دوجې نه هم مقيددې(قرطبی) اوپه ﴿لِمَن نُّرِيدُ﴾كښې اشاره ده چې دهرطالب دنياته هم دنيانه حاصليږي نوهرڅه موقوف دي په مشيئت اوارادي داللهﷻ باندې ﴿مَذْمُومًا﴾داحال دي دضميرد﴿يَصْلَنهَا﴾ نه پدې كښې اشاره ده اهانت اوذم دهغه ته ﴿مَّدْحُورًا﴾په معنی دړټلي شوي سره دې ای مطرودا مبعدا من رحمة الله تعالى(روح) نوپدې كښې اشاره ده چې دوئ به داللهﷻ درحمت مستحق نه ګرځيږي اوهميشه لپاره به په جهنم كښې وي.

﴿وَمَنْ أَرَادَ ٱلْأَخِرَةَ﴾دابشارت اخروي دې دهغه خلكولپاره چې داخرت دنعمتونولپاره سعي كوي اونيك عمل كوي موافق دسنت رسول اللهﷺ اوداللهﷻ رضائی مقصودوي.﴿وَسَعَىٰ لَهَا سَعْيَهَا﴾مرادورنه اطاعات اوقربات دي چې ددې په وجه سره دې داخرت كاميابی مومي. اوبدعات اوخرافاتونه ځان بچ ساتي،اوعمل كول دې موافق دسنت رسول اللهﷺ ای طلب ذلك من طريقة وهومتابعة الرسولﷺ (ابن كثير).﴿وَهُوَ مُؤْمِنٌ﴾طاعات بغيرداېمان نه بالكل نه قبليږي. نومعلومه شوه چې دعمل عندالله قبوليت لپاره شرطونه دي(۱) دټول نه لوئی شرط ايمان دې (۲)نيت اواراده ده(۳)دعمل كوشش(۴) طريقه هم صحيح وي يعني موافق دسنت وي.نوچې كله داخلورشرطونه پوره شي نواللهﷻ فرمائی ﴿فَأُوْلَٰٓئِكَ كَانَ سَعْيُهُم مَّشْكُورًا﴾چې متصف په دغه صفاتو سره ددوئ عمل به مقبول وي﴿كُلًّا نُّمِدُّ﴾ددې ماقبل ايت سره تعلق دي كه څوك دنياطلب كوي اومريدالعاجلة وي اوياداخرت طلب كوي اومريدالاخرة وي اودهغې لپاره ساعي وي،نو دواړو قسموخلكوته اللهﷻ رزق وركوي په دنياكښې اوحاجتونه ئې پوره كوي.دنياكښې څه فرق نيشته دې فرق به بعدالممات وي،تنوين په ﴿كُلًّا﴾كښې عوض دمضاف اليه نه.دې ای كل الفريقين. اودامفعول به مقدم ده د ﴿نُّمِدُّ﴾لپاره.﴿هَٰٓؤُلَآءِ﴾ بدل دې د﴿كُلًّا﴾نه اومشاراليه ددې طالبين ددنيادي يعني اللهﷻ اراده كوونكو ددنياته هم مال اولاد رزق وغيره پدنياكښې وركوي. ﴿وَهَٰٓؤُلَآءِ﴾ مشاراليه ددې طالبين داخرت اودهغې لپاره سعي كوونكی دي﴿مِنْ عَطَآءِ رَبِّكَ﴾

عطاء په معنی دَعطیه سره دې مرادورنه عطاء دنیوي ده. ﴿وَمَا كَانَ عَطَآءُ﴾ مرادورنه عام عطاء ده
دنیوي وي که اخروي(روح). اووضع دَاسم ظاهرپه ځائ دَمضمرباندی لپاره دَمزيد اهتمام شان
دَالله ﷻ دې اولپاره دَاشعارپه عليت دَحکم باندی.

اُنْظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ؕ وَلَلْاٰخِرَةُ اَكْبَرُ
[1] اوګوره ته چې څرنګه غوره والې ورکړيدې مونږه څنی ددوئ لره په څنی نوروباندی اوخامخا اخرت ډيرلوئ دې
دَرَجٰتٍ وَّاَكْبَرُ تَفْضِيْلًا ۞۲۱ لَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ
په اعتباردمرتبوسره اوډيرلوئ دې په اعتباردغوره والی سره، [2] اومه جوړه ته دالله ﷻ سره حق داردبندګئ بل څوک
فَتَقْعُدَ مَذْمُوْمًا مَّخْذُوْلًا ۞۲۲
پس ناست به پاتی شي بدونيلی شوې رسواشوې محروم کړې شوې.

﴿اُنْظُرْ كَيْفَ﴾ پدې ايت کښې ترغيب الی الاخرة بيانيږي چې په دنياکښې دَخلکوپه خپل مينځ
کښې دَمال په اعتبارسره حسن اوقبح په اعتبارسره تفاوت دې خوداتفاوت معتبرندې دَفضيلت
اعتبارپه درجات دَاخرت باندی دې دنياکښې اګرچه اکثراوقاتوکښې کافردَمؤمن نه په مال کښې
زيات وي ليکن دَاخرت والادرجات دَمؤمن سره مختص دې اوکافربه ورنه محروم وي.

﴿لَا تَجْعَلْ مَعَ اللّٰهِ﴾ پدې ايت کښې نتيجه دَماقبل دلائلوعقليه اونقليه اودَواقعاتوبيانيږي
چې دَدې ټولو دلائلو اودواقعاتومقصد اونتيجه داده چې دَالله ﷻ سره شريك مه جوړه
وئی، اودغه شانتې په ماقبل کښې دَدرجاتودَاخرت ذکرکوواوپدې ايت کښې يوسبب
دَاسبابودَحصول دَدرجات داخرت ذکرکيږي، اوخطاب په ﴿لَا تَجْعَلْ﴾ کښې ياحضورﷺ ته دې
اومرادورنه عام خلك دې اوياخطاب عاموخلکوته دې په قاعدې دَخطاب خاص مرادورنه عام
سره لکه ولوتری اذوقفوا. ﴿فَتَقْعُدَ﴾ داجواب نهی دې اوتخويف دنيوی يااخروي دې اومعنی

(1) ترغيب الی الآخرة
(2) ثمره دلائل مذکوره

دتقعد صارده اویامکث ده ﴿مَذْمُوْمًا﴾ چې عیبونه اوبدئ په ده وئیلي شي ځکه چې مشرك سړې
کاذب وي اوکاذب مستحق دذم وي ﴿مَّخْذُوْلًا﴾ په معنی دمحروم سره یعنی کچرته دالله ﷻ نه
علاوه بل څوك ځان لپاره کارساز اوحاجت رواجوړکړي نوپه دنیاکښ به دذلت زندګی تیره وي
اوپه اخرت کښ به هم ستاهغه خدایان چې دالله ﷻ سره دي شریك ګرځولی ووهغه به
ستاامداداونه کړي.

وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ

اوحکم کړیدې رب ستاچې مه کوئ عبادت تاسو دبل چا مګرصرف دهغه اوداحسان کوئ، دموراوپلار سره

اِحْسَانًا ؕ اِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَآ اَوْ كِلٰهُمَا فَلَا تَقُلْ

په نیکئ کولوسره. کچري اورسيږي ستاپه ژوند کښ بوډاوالی ته یو ددې دواړونه یا دواړه پس مه وایه

لَّهُمَآ اُفٍّ وَّلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيْمًا ﴿۲۳﴾ وَاخْفِضْ لَهُمَا

دوئ ته اف قدری اومه رټه ته دوئ اوکوه دوئ ته خبره ادبناکه «نرمه» اوکوزکړه دوئ ته

جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُلْ رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيٰنِيْ

وزردعاجزئ دوجي دشفقت نه اووایه ته اې ربه خما رحم اوکړې په دوئ باندی لکه چې دوئ پالنه کړیده خما

صَغِيْرًا ﴿۲۴﴾ رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَا فِيْ نُفُوْسِكُمْ ؕ اِنْ تَكُوْنُوْا صٰلِحِيْنَ

په ورکوالئ کښ.رب ستاسو ښه خبردې په هغه څه چې ستاسوپه زړونوکښ دې کچري یئ تاسونیکان

فَاِنَّهٗ كَانَ لِلْاَوَّابِيْنَ غَفُوْرًا ﴿۲۵﴾ وَاٰتِ ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ وَالْمِسْكِيْنَ

پس بیشکه الله ﷻ دې توبه کوونکوته بخنه کوونکې دې. اوورکوه خپلوانوته حق دهغوئ اومسکین ته

وَابْنَ السَّبِيْلِ وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيْرًا ﴿۲۶﴾ اِنَّ الْمُبَذِّرِيْنَ كَانُوْٓا اِخْوَانَ الشَّيٰطِيْنِ

اومسافرته اومه خرج کوه مال په بی ځایه خرج کولوسره. بیشکه بی ځایه خرج کوونکي دي رونړه دشیطانانو

وَكَانَ الشَّيْطٰنُ لِرَبِّهٖ كَفُوْرًا ﴿۲۷﴾ وَاِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ ابْتِغَآءَ رَحْمَةٍ

اودي شيطان دخپل رب نه ډيرناشكره اوكه ته مخ اوګرځوی ددوئ نه دوجې دطلب كولودرحمت

مِّنْ رَّبِّكَ تَرْجُوْهَا فَقُلْ لَّهُمْ قَوْلًا مَّيْسُوْرًا ﴿۲۸﴾ وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُوْلَةً

درب ستاچې اميدئی لري ته دهغې پس وايه ته دوئ ته وينانرمه اومه ګرځوه ته لاس خپل تړلې شوې

اِلٰى عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُوْمًا مَّحْسُوْرًا ﴿۲۹﴾

دغاړې خپل سره اومه پرانزه لاس په پوره پرانستلو سره پس ناست به پاتی شي ملامته ستومانه

﴿وَقَضٰى﴾ پدې ايت كښ امورثلاثه دفعيه دعذاب ذكركيږي پس دواقعه داسراء نه اوددلائلو عقليه اونقليه نه، امراول ددفعيه لپاره توحيددې يعني شرك نه بچ كيدل دي. دقضى لپاره معانى كثيره دي كله په معنى دخلق سره وي لكه فقضهن سبع سموات، كله په معنى دحكم اوفيصلې سره وي لكه فاقض ماانت قاض، كله په معنى دفراغ سره وي لكه اذا قضيت الصلوة كله په معنى داراده سره وي لكه اذا قضى امرا، كله په معنى دعهدسره وي لكه اذقضيناالى موسى الامر. اوكله په معنى دامرمحكم سره وي، چې نسخ نه قبلوي، دلته ورنه دغه اخيره معنى مرادده، ﴿وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا﴾ ددينه مخكښ فعل مقدردې اى احسنوا احسانا، اودا دويم امردې دامورثلاثونه لپاره ددفعيه دعذاب، چې هغه دوالدينواودنورو خپلوانوسره احسان كول دي خودوالدينوحقوق په نورو خپلوانواومساكينواومسافرو باندی مقدم اوفائق وو نودَدينه وجه نه حقوق دوالدينو په ټولونورو حقوقوباندی مقدم ذكركړې شو اوپنځه اداب ئى بيان كړې شو، الله ﷻ دوالدينوسره احسان اودهغوئ اطاعت امر، دخپل عبادت امرسره متصل ذكركوي اوعطف ددې ئى كړيدې په ماقبل جملې ﴿تَعْبُدُوْا﴾ باندی وجه داده چې الله ﷻ دوجودانسانى لپاره علت اوجاعل حقيقى دې اومورپلار علت مجازي دې نودَالله ﷻ شكريه داده چې صرف دهغه عبادت اوكړې شي اوبل څوك ورسره شريك نه كړې شي، اودوالدينو شكريه داده چې هغوئ سره احسان اوكړې شي نودَدينه داهم معلومه شوه چې الله ﷻ سره په عبادت كښ والدين هم شريك كول ندي جائزچې

هغوئ علت مجازي دي نونورخيزونه په طريقه اولى سره جائزندي اوتنوين په ﴿إِحْسَانًا ﴾کښې لپاره دَتعظيم دي ای احساناعظيما کاملا(کبیر).

تنبيهٌ والدينوسره احسان اودَهغوئ اطاعت واجب دي خوپه معاصي کښې دهغوئ اطاعت ندي ضروري دَوجي دَدي قول دَالله جَلَّ جَلَالُهٗ نه چې وان جاهداك على ان تشرك بي...فلاتطعهما (سورة لقمان ايت نمبر ۱۵)اودَوجې دقول دَرسول اللهﷺ نه چې لاطاعة لمخلوق فى معصية الخالق اودغه شانتي والدين اگرچه کافروي خوپه اولادباندې حسن سلوك اودهغوئ خدمت کول واجب دي،دَوجي دَعموم دَاياتونو دَاحسان نه اودَ وجې دَدې قول دَالله جَلَّ جَلَالُهٗ چې وصاحبهما فى الدنيا معروفا فامربمصاحبة الوالدين المشركين بالمعروف(جصاص) اودَوجې دَعموم دَهغه احاديثونه چې په هغې کښې امر دَاطاعت اوفضيلت دَاطاعت دَوالدينو راغليدې اودغه شان نزول دَايت لاينهكم الله عن الذين لم يقتلوكم دَحضرت اسماءﷺ دَتپوس په باري دَحسن سلوك دَمشرکی مورسره شويدې،دَوالدينو اطاعت فضيلت په باری کښې احاديث قرطبی،ابن کثير،درمنثور وغيره په تفصيل سره ذکرکړيدې.

تنبيه۲ والدين چې کله کافروي(العياذبالله)نودهغوئ سره دَاحسان طريقه داده چې هغوئ لپاره دَهدايت دعاوکړې شي،هغوئ ته داسلام دعوت ورکول اودَهغوئ خدمت کول په جان اومال سره

﴿إِمَّا يَبْلُغَنَّ ﴾امامرکب دي دَان شرطيه اومازائده نه لپاره دَتاکيدځکه چې لحوق دَنون ثقيله په فعل شرط پوري بغيردَزيادت دَمانه جائزندي،پس نشي وئيلې چې ان تکرمن زيدا يکرمك(کشاف) ﴿عِندَكَ﴾يعني ستازير کفالت،﴿ٱلْكِبَرَ ﴾ تخصيص دَبوډاوالی حالت ځکه اوشولوچې پدې عمرکښې والدين ضعيف شي اودَبچودَخدمت محتاج شي اودَدې وجه نه په يوحديث شريف کښې نبيﷺ ارشاداوفرمايلو چې رغم انفه رغم انفه رغم انفه،قيل من يارسول اللهﷺ؟ قال من ادرك والديه عندالكبراحدهما اوكليهما ثم لم يدخل الجنة(مسلم كتاب البروالصلة) ﴿فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ﴾دااولينې ادب دي کلمه دَاف يااسم دي دهرهغه صوت لپاره چې دزړه تنګوالی اودَبوخيزبدګنړلو وخت کښې دَخولی نه صادريږي، اويااسم فعل دي په معنی دَاتضجرسره اولفظ داف عبارة النص دي په حرمت داف کولوکښې اودلالة النص دي په هرهغه سلوك کښې دَوالدينوسره چې په هغې سره والدينوته

تکليف رسيږي لکه په هغوئ باندی غصه کول شو،دهغوئ دخدمت نه تنګيدل اوسپکی سپورې ورته ونيل،دهغوئ وهل، قيدکول،مزدورجوړول حتّی که چې پلاردخپل اولادپه قتل کړي قصاصاًقتل کول تول حرام دي،﴿وَلَا تَنْهَرْهُمَا ﴾ دويم ادب دې مراد د دينه منع کول دي داظهاردمخالفت نه په قول کښې دوالدينو على سبيل الرد اوياعلى سبيل التکذيب چې دهغوئ يوه خبره ردکړې شي اوياورته دَدروغونسبت اوکړې شي، مطلق نه ورنه ندې مراد ځکه هغه به دلالة النص سره معلوم شويدې دمخکښې جملي نه ﴿وَقُل لَّهُمَا ﴾دادريم ادب دې چې هغوئ ته خائسته اونرمه خبره کوئ چې دهغوئ ادب پکښې ملحوظ وی،دَدې وجه نه حضرت عمرﷺ ددې ايت په ضمن کښې ارشاد اوفرمايلو چې مورياوپلارته په نوم سره اواز کول جائزندې بلکه هغوئ لپاره به دَادب والا الفاظ استعماله ولې شي لکه يابتاه ياامااه شو، ﴿وَٱخۡفِضۡ﴾داڅلورم ادب دې چې دهغوئ سره داسی شفقت اومهرباني والاسلوك کوه لکه څنګه چې هغوئ تاسره دوړوکوالی په حالت کښې کولو﴿جَنَاحَ ٱلذُّلِّ ﴾ ،الذل په معنی دَمذلول سره دې يعني وزري دَعاجزئ اوداکنايه دَانتهائ شفقت اودَعاجزئ نه دَهغوئ سره لکه څرنګه چې يوطائرناست وي په زمکه باندې نوخپلي وزري ئې لاندې کړي وي اوچې کله دَالوتلو اراده اوکړي نوخپلي وزرې کولاؤکړي،اوبعض مفسرين فرمائی چې کلام مبني دې په استعاري باندی چې تشبيه ورکړې شويده دَذل دَطائرسره چې خوف زده وي نودامکنيه ده اوثبوت دجناح، ذل ته تخييليه ده اوثبوت دَخفض ترشيحيه ده ځکه چې کله طائر اويريږي نووزري خپلي ملصقي کړي په زمکه پوري،﴿مِنَ ٱلرَّحۡمَةِ ﴾ يعني داعاجزي اوشفقت صرف دَوجی دَرحمت نه وي خوف اوعاردَوجي نه نوي،اونه رياپکښې مقصودوي. ﴿وَقُل رَّبِّ ٱرۡحَمۡهُمَا ﴾داپنځم ادب دې چې هغوئ ته دعادَرحمت هم کوئ قفال فرمائی چې چې لفظ درحمت جامع دې هرخيرلره چې ديني وي اوکه دنيوي وي،لفظ الرحمة جامع لكل الخيرات في الدين والدنيا والدين چې کله مسلمانان وي نودَهغوئ په حق کښې رحمت دعاکولومقصدظاهردې اوکچري کافروي نودَدعاء رحمت مقصددادې چې هغوئ لپاره دَهدايت سوال اودعاء اوکړې شي ځکه چې هدايت الی الاسلام عين رحمت دې،اوبعض علماء فرمائی چې

داایات دعام مخصوص منه البعض دقبیلي نه دي اوکافروالدین پکښې ندي داخل اوبعض دنسخ قائل دي په ایت دماکان للنبی والذین امنوا الخ(التوبة ایت نمبر۱۱۳)سره او﴿وَقُل﴾ صیغه دامرده اوامرچې کله خالي وي دقرائنونه نوحمل کیږي په وجوب باندی نوددې وجه نه په اولاد باندی والدینوته دعاکول واجب دي، ﴿كَمَا رَبَّيَانِي﴾کاف یاتشبیه لپاره دي نومطلب به داشي چې داسې رحمت په دوئ باندی اوکړه لکه څرنګه چې دوئ څماتربیت اوپه ماباندی رحمت کړې وو اوهرکله چې تربیت مستلزم وورحمت لره نوپه جانب دمشبه کښې ذکردرحمت اوشو اوپه جانب دمشبه به کښې ذکردتربیت اوشو ،اویاکاف تعلیلیه دي نومعنی به ئی داشي چې دوجی د تربیت ددوئ نه مالره،ای لاجل تربیتهما لی(روح) لکه څرنګه چې په واذکروه کماهداکم کښې کاف تعلیل لپاره دي،بعض علماء فرمائی چې دادعادرحمت مختصه ده په بعدالموت پوري یعني دهغوئ په حیات کښې دهغوئ اطاعت کوئ اوپس دمرګ نه ئی ورته دعاکوئ کن بارا فی حیاتهما وادع لهما بعدموتهما(بحرسمرقند) قرطبی پدي مقام کښې یوه عجیبه واقعه په خپل سندسره دحضرت جابر﵁ نه نقل کړیده چې هغه قابل دیده ده، ﴿رَّبُّكُمۡ أَعۡلَمُ﴾اشاره ده تصحیح نیت ته په ټولوطاعاتوکښې اوخاص طورپه احسان کښې دوالدینو سره اوتهدیداوزجردي پدي چې دهغوئ دخدمت نه تنګ شي اوبدئ ګڼري په زړه کښې،﴿بِمَا فِي نُفُوسِكُمۡ﴾ یعني ستاسودزړونو رازونه الله﷯ ته معلوم دي کوم سړي چې په صدق زړه سره اوپه اخلاص سره دوالدینوحقوق اداکوي هغه هم الله﷯ ته معلوم دي اوکوم کس ریاپابل څه وجې نه خدمت کوي اوپه زړه کښې بدګڼري هغه هم الله﷯ ته معلوم دي ﴿إِن تَكُونُواْ صَٰلِحِينَ﴾یعني کچرته قصدکونکې دصلاح اوبرئ دوالدینو سره،نه یئ قصدکوونکی دنافرمانئ اودفساد اوپه زړه کښې صادق یئ اوڅه غلطي درنه اوشوه یادوالدینوپه خدمت کښې څه کوتاهي اوشوه نو﴿فَإِنَّهُۥ كَانَ﴾ یعني الله﷯ به ستاسودغه تقصیرمعاف کړي داایت اګرچې په اعتبارد متعلق سره خاص دي په والدینوپوري خوپه اعتباردالفاظوسره عام دي ټولو طاعاتولره﴿لِلۡأَوَّٰبِينَ﴾ پدیکښې تقریباترلسو(۱۰)پوري اقوال دعلماؤنه مروي دي،خو زیات غوره دادي (۱)چې مراد ددینه هغه څوک دي چې رجوع کوونکې وي دګناهونونه اطاعت دالله﷯ ته،(۲)مرادورنه هغه څوک دي چې په تنهائ کښې خپل ګناه یادکړي اوبیاپه هغې

استغفار کوي(۳)مرادورنه هغه څوك دي چې ګناه ورنه صادرشي نوتوبه اوباسي بېوره ګناه صادرشي نوتوبه اوباسي بياصادرشي بياتوبه اوباسي(۴)مرادورنه محسن دي(۵) مرادورنه صلوة الضحی کوونکی دي.کومه خبره چې مشهوره ده لکه په روايت دابن المنکدردي چې اوابين دمابنام په وخت کښ نفل کول دي داخبره داصحيح نده په صحيح حديث کښ صلوة الاوابين اطلاق په صلوة الضحی باندی شويدي.

﴿وَءَاتِ ذَا ٱلْقُرْبَىٰ﴾پدي آيت کښ دري(۳) نوروحقدارانو دحقوقو ذکرکيږي چې(۱) دوالدينو نه علاوه دنوروخپلوانوسره هم احسان کوئ اوصله رحمي پالئ(۲) مساکين اوغريبانو سره امدادکوئ(۳)اومسافروسره همدردي کوئ﴿حَقَّهُۥ﴾ چې کله رشته داران مساکين وي اوسړي په خپله موسراومالداره وي نوهغوئ سره امدادکول واجب دي.﴿وَلَا تُبَذِّرْ﴾بعض علماء فرمائی چې تبذيراواسراف مترادفين دي خوغوره خبره داده چې تبذيروئيلی کيږي انفاق مال فی غير حقه يعني مال په داسې مصرف کښ خرچ کول چې په هغې ځای کښ خرچ کول شرعا جائزنوي.لکه په شرك اوبدعاتوکښ مال خرچ کول شويالکه رقص اوسرودشو وغيره.﴿إِنَّ ٱلْمُبَذِّرِينَ﴾مبذرته دشيطان ورور ځکه وئيلی شويدي چې شيطان کومې باطل لاري ته خلك رابلي نومبذردمال په ذريعې دشيطان امدادکوي.اودهغه سره مشاکل دي په معصيت دالله ﷻ کښ لانهم يوافقونهم فيمايدعونهم اليه ويشاکلونهم فی معصية الله(زادالمسير) اويامراد داخوة نه مماثلت دي چې مبذرمماثل دي دشيطان سره په دي بدوصفاتوکښ ځکه چې عرب په ملازم للشئ باندی اطلاق داخ کوي لکه چې وائی فلان اخوالکرم والجود،فلان اخوالسفر(اللباب) اويامراد داخوة نه مقارنت دي چې مبذرمقارن دي دشيطان سره په اورکښی لکه الله ﷻ فرمائی ومن يعش عن ذکرالرحمن نقيض له شيطانا فهوله قرين(زخرف ۳۶) ای قرنائهم فی النارعلی سبيل الوعيد(ابی سعود) ﴿وَكَانَ ٱلشَّيْطَٰنُ﴾داتتمه دتعليل ده چې مبذراوشيطان دواړه ناشکره دي دالله ﷻ ځکه چې دمال شکراداکول دادي چې هغه دالله ﷻ داطاعت اوپه مرضی کښ خرچ شي ځکه چې شکروئيلی کيږي صرف العبدجميع ماانعمه الله تعالی الی ماخلق لاجله.اوکله چې دالله ﷻ مرضی اواطاعت خلاف مال خرچه شي نوديته کفران نعمت وئيلې کيږي.نومبذرهم دکفران نعمت مرتکب شو لکه څرنګه شيطان کفران دنعمت دالله ﷻ

کړيدي. ﴿وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ﴾پدي ايت کښ ادب بيانيږي په وخت دعدم قدرت لروداحسان کولوکښ، چې کچرې يوسړی دخپلوانو اومستحقينوسره مالی امداد اواحسان کولوباندی قادرنوي نوهغوئ ته سخته خبره اوبې کاره جواب ورکول ندي جائزبلکه نرمه خبره اوښې طريقې سره خپل عذرپيش کړی. ﴿عَنْهُمُ﴾ ضميردغوره قول مطابق راجع دي مذکورينوته. ﴿ٱبْتِغَآءَ رَحْمَةٍ﴾دامفعول له دي داعراض لپاره اوکنايه ده د فقرنه ځکه چې نيشوالې دمال سبب دي دطلب دمال لپاره اوطلب دمال ورسره لازم دي نودې وجه نه فقرته نوم د ﴿ٱبْتِغَآءَ رَحْمَةٍ﴾ورکړې شواويااچه ﴿وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ﴾شرط دي او ﴿فَقُل لَّهُمْ﴾ورله جواب شرط دي اوابتغاء رحمة دامتعلق دي په جواب شرط پورې اوتقديم دمتعلق جزاپه جزاباندی په مذهب دکوفيانو باندی جائزدي مطلقًا نومطلب دايت دادي چې دوئ ته نرمه خبره کوه نوته به دالله ﷻ رحمت طلب کړې دوجی درحمت ستانه پدوئ باندی ای فقل هم قولاسهلا لينا، رحمة هم وتطييبا لقلوبهم ابتغاء رحمة من ربك،ای ابتغ رحمة الله التی ترجوها برحمتك عليهم(کشاف) ﴿فَقُل لَّهُمْ قَوْلًا مَّيْسُورًا﴾مفعول په معنی دفاعل سره دي يعني نرمه اوخوږه خبره ورته اوکړه ای لينالطيفا طيبا(قرطبی) اويااورنه مراد دعا ديسره ده.چې دوئ ته دعااوکړه چې الله ﷻ دی ستامشکل اسان کړي، ﴿وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ﴾پدي ايت کښ طريقه بيانيږي دمال دخرچ کولو اوامرکيږي په اختيارولودميانه روی سره چې دمال په خرچ کولوکښ افراط اوتفريط نه کاراغستل ندي پکارچې نه بالکل چاسره امدادکوي اوبخل اختيارکړي اونه دومره سخاوت چې هرڅه ختم کړي چې بياحسرت اوندامت کوي،بلکې خيرالاموراوسطها باندی عمل پکاردي. ﴿مَغْلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ﴾دااستعاره تمثيليه دمحسوس ده لپاره دمعقول ځکه چې يدمغلولة محسوس دي اوبخل يوصفت قائمه دي په نفس دانسان پورې نومشابه کړې شوحال دبخيلانو دحال دهغه چاسره چې لاسونه ئې تړلی شوي وي په څټ پورې،لکه څرنګه دهغه لاسونه بند وي دتصرف کولونه په مال کښ نودغه شانتې بخل دبخيل هم مانع وي هغه لره د تصرف کولونه په خپل مال کښ،اوذکردلاس ځکه اوشولو چې په دي سره اخذاواعطاء کيږي ﴿وَلَا تَبْسُطْهَا﴾دااستعاره ده داذهاب دمال نه اوسخاوت نه په مال کښ اودبسط په مقابله کښ قبض ذکرکيږي خوپدي ځائ کښ دبخل نه تعبير په غل سره اوکړې شوځکه چې دا زيات ابلغ وو په نسبت سره قبض نه

اودانهي اګرچې په اعتبارد لفظ سره خاص ده خومرادورنه عموم دې اوهرامتي ورنه مراد
دې ﴿فَتَقْعُدَ مَلُومًا﴾،دالف نشرمرتب دې ﴿مَلُومًا﴾مرتب دې په ﴿وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ ﴾باندی.او ﴿مَحْسُورًا
﴾مرتب دې په ﴿وَلَا تَبْسُطْهَا ﴾باندی.

إِنَّ	رَبَّكَ	يَبْسُطُ	الرِّزْقَ	لِمَنْ	يَّشَآءُ	وَيَقْدِرُ ط
[1]بیشکه رب ستافراخه وي رزق لپاره دهغه چاچې اوغواړي اوتنګه وی ئې،چاته چې اوغواړي،						
إِنَّهُ	كَانَ	بِعِبَادِهِ	خَبِيْرًا	بَصِيْرًا ۳۰		
بیشکه	الله ﷻ	دې	په	خپلو	بندګانوباندی	خبردارلیدونکې

﴿إِن رَبَّكَ ﴾دادریم دلیل عقلي دې په توحیدباندی چې درزق تنګي اوفراخي د الله ﷻ
په اختیارکښ دې اوازاله دتوهم کیږي چې کچرته څوك سخاوت کوي اولاس اونه تړي
نوکیدې شي چې داسړی غریب شي؟
نوددې ازاله اوشوله چې رزق فراخ کوونکې اوتنګی ورکوونکې الله ﷻ دې په سخاوت
سره انسان غریب کیږي نه اوپه بخل سره انسان مالداره کیږي نه
﴿إِنَّهُ كَانَ بِعِبَادِهِ ﴾ داعلت دې دماقبل لپاره چې الله ﷻ څني بندګانو لره رزق فراخ کړي
اوځني باندی تنګستیا راولي، ځکه چې الله ﷻ دخپلو بندګانو په مصلحتونوباندی ښه
خبرداردې.

وَلَا	تَقْتُلُوْٓا	اَوْلَادَكُمْ	خَشْيَةَ	اِمْلَاقٍ	نَحْنُ	نَرْزُقُهُمْ	وَاِيَّاكُمْ	
[2]اومه وژنی [3]تاسو اولادخپل دوجې دیري. روزي ورکوودوئ ته دلوږې نه مونږه اوتاسو ته هم								

[1] دلیل عقلی سوم برتوحید.
[2] امر سوم برای دفعیه عذاب
[3] ظلم اول

إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْأً كَبِيرًا ﴿٣١﴾ وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰ إِنَّهُ كَانَ

بیشکه قتل ددوئ ده گناه لویه.[4] اومه نزدي کیږئ تاسوزناته بیشکه دازنادي

فَاحِشَةً ط وَسَاءَ سَبِيلًا ﴿٣٢﴾ وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا

دبی حیائی کاراوبده لارده. [1] اومه وژنئ تاسوهغه نفس چې حرام کړيدي الله جل جلاله (وژل دهغه) مگر

بِالْحَقِّ ط وَمَنْ قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِ سُلْطَانًا

په حق سره، اوڅوك چې اووژلې شو په ظلم سره پس په تحقیق سره گرځوليدې مونږه وارث دهغه لره اختیار (غلبه)

فَلَا يُسْرِفْ فِي الْقَتْلِ ط إِنَّهُ كَانَ مَنْصُورًا ﴿٣٣﴾ وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا

پس ندې کوي زياتې په قتل کښې. بیشکه دده امدادکړې شويدې [2] اومه نزدي کیږئ مال دیتیم ته مگر

بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُ ص وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ ج

په داسې طریقې سره چې هغه خائسته وي تردې پورې چې اورسيږي دې خوانئ خپلې ته، اوپوره کوئ وعدې لره

إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُولًا ﴿٣٤﴾ وَأَوْفُوا الْكَيْلَ إِذَا كِلْتُمْ وَزِنُوا

بیشکه دوعدې په باره کښې به تپوس کیدې شي، اوپوره کوئ پیمانه چې کله پیمانه کوئ تاسو اوتول کوئ

بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ ط ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴿٣٥﴾ وَلَا تَقْفُ

په تلې برابرې سره (انصاف سره) داکار (برابروالې) ډیرغوره دې اوخائسته انجام والادې [3] اوپیروي مه کوه

مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ ط إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ

دهغې څیز چې نوي تاله په هغې باندې څه علم (دلیل) بیشکه غوږونه اوسترگې اوزړونه

(4) ظلم ثانی

(1) ظلم ثالث

(2) ظلم رابع

(3) ظلم خامس

كُلُّ أُولَٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا ﴿٣٦﴾ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّكَ

ددې ټولو په باره کښې به تپوس کيدې شي [4] اومه ګرځه ته په زمکه کښې په تکبرسره بېشکه ته

لَن تَخْرِقَ الْأَرْضَ وَلَن تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُولًا ﴿٣٧﴾ كُلُّ ذَٰلِكَ

هرګزنشي شلولې زمکه اوهرګزنشي رسيدلې غرونوته په اوږدوالي کښې ټول دغه مذکور

كَانَ سَيِّئُهُ عِندَ رَبِّكَ مَكْرُوهًا ﴿٣٨﴾

دي منهيات ددې په نيزدرب ستاناخوښ

﴿وَلَا تَقْتُلُوا﴾ دادفعيه دَعذاب لپاره دريم امرذکردې چې هغه دَظلم نه ځان بچ ساتل دي،اوپدې کښې اوه منهيات ذکرکيږي،دا اوله نهي ده چې خپل اولاد مه قتلوئ دَفقردَخوف نه. په دورجاهليت کښې عربو به خپلې بچئ دوه(٢) وجونه قتلولې ځني خلکو به ددې وجه نه قتلولې چې هغوئ به ځان لپاره داخبره پيغورکنړله چې ځمالورسره بل څوك نكاح كوي نوځنګه به ئې چې بچئ پيداشوه نوفورا به ئې ژوندئې ښخه کړه(٢) اوځني خلکو به دافکرکولو چې دابچئ خوځه کارروزګارنشي کولې نوديته به رزق څوك وركوي؟ نوهغه به ئې قتل کړه.اودا وجه اکثرې وه،نوپدې ايت کښې ددغې رداوکړې شو چې خپل اولاد فقردَخوف دَوجې نه مه قتلوئ. اومراد دَقتل نه عام دې که جسماني وی اوکه روحاني وي،داوړوقسموته ايت شامل دې.تفصيل ئې په سورة الانعام(ايت نمبر(١٥١) تير شويدې. اومراد دَ ﴿أَوْلَٰدَكُم﴾ نه بنات يعني بچئ دي﴿خَشْيَةَ إِمْلَٰقٍ﴾، املاق فقرته وئيلی کيږي اوهرکله چې مراددَ فقرنه پدې مقام کښې فقرمتوقع وو نودَدې وجه نه لفظ دَخشية ورسره ذکرشو اوپه سورة الانعام کښې ورنه مراد فقرناجزيعنی حالأغربت مرادوو دَدَ وجه نه هلته کښې من املاق بغيردَزيادت دَلفظ خشية نه ذکرشو﴿نَّحْنُ نَرْزُقُهُمْ﴾ داتعليل دنهی دَ چې رزق ورکوونکی مونږه يو اوتقديم دَضميرچې راجع دَ اولاد ته په ضمير دَ خطاب

(4) ظلم سادس

باندی کښې اشاره ده چې تاسوته هم رزق دَاولاد په برکت سره میلاویږي تقدیم ضمیر الاولاد علی المخاطبین علی عکس ماوقع فی سورة الانعام للاشعارباصالتهم فی افاضة الرزق(ابی سعود) ﴿كَانَ خِطْـًٔا﴾کان ناقصه دٰ اسم ئی ضمیرمستتره دٰ خطئا ورته خبردٰ،اوقرات مشهوره بکسرالخاء اوبسکون الطاء دٰ مصدردَخطایخطاء دٰ اوچې بفتح الخطاء شي نوبیااسم مصدردٰ وئیلی کیږي عمداًګناه ته، ﴿كَبِيرًا﴾صفت دٰ ﴿خِطْـًٔا﴾لپاره،یعني لوئی ګناه دې دادلیل دې پدي چې دَخطاء اطلاق کله کله په ګناه کبیره باندی هم کیږي،

﴿وَلَا تَقْرَبُوا۟ ٱلزِّنَىٰٓ ﴾پدي کښې دویمه نهي ذکرکیږي دَظلم نه، په ماقبل ایت کښې دَقتل دَاولادنه نهي وه اوپدې کښې نهې ده دَایجاددولدنه په طریقه غیرمشروعه سره چې هغې ته زناوئیلٰ کیږي اودَ﴿وَلَا تَقْرَبُوا۟﴾ نه مراد نهی دَدواعي، مبادي اومقدمات دَزنادې چې کوم څیزونه اسباب اودواعي دَزنادي هغه هم مه اختیاره وئ هغه هم حرام دي اوزناخوپه طریقه اولی سره حرام ده وهونهی عن دواعی الزنا ولواريد بالنهی عن نفس الزنا تقال ولاتزنوا(مدارك) ﴿إِنَّهُۥ كَانَ فَـٰحِشَةً ﴾فحش اطلاق په هرلوئی ګناه باندی کیږي اوپه هربی حیائی کارباندی کیږي،﴿وَسَآءَ سَبِيلًا ﴾سبیلا منصوب دي بناء پدې چې تمیزواقع شویدې دساء نه اومخصوص بالذم ورله محذوف دې چې هغه هو ضمیردي چې راجع دې زاني ته چې په هغې دلالت کړیدې زنا اوپدې کښې اشاره ده چې دَزنا لپاره مفاسدکثیره دي منجمله دهغې نه دادي چې پدي سره اختلاط په انسابُ کښې راځي،عدم تربیت دَولدالزنا، فسادپه معاشره کښې راځي چې هغه مستلزم دې قتل مقاتلي لره وغیره،﴿وَلَا تَقْتُلُوا۟ ٱلنَّفْسَ ﴾ دادریمه نهي ده دَظلم نه چې هغه قتل دَنفس دې بغیردَسبب شرعي نه ﴿حَرَّمَ ٱللَّهُ ﴾مفعول به مقدره دې ای حرم الله قتلها اومرادورنه حرمت دَهغه نفس دې چې محفوظ وي په اسلام سره یاپه جزئی سره اویاپه عهدسره. ﴿إِلَّا بِٱلْحَقِّ ﴾قتل دَنفس حرمت مغلظه دې اوحل داعارضي دې دَدې وجه نه اولًا نهي دَمطلق نفس دَقتل نه اوشوه اوپه استثناء سره ئی حل ثابت شودَ وجې دَیودَاسبابو شرعیونه چې هغه درې(۳)اسباب دي(۱) ارتداد(۲)، قتل عمدمؤمن (۳)، زنابعدالاحصان اودَدې ایت په ترکیب کښې متعدد اقوال دي...

جارمجرور متعلق دي په ﴿وَلَا تَقۡتُلُواْ﴾پوري اواستثناء مفرغه ده يعني مستثنى منه محذوف دى اى لاتقتلوها بسبب من الاسباب الابسبب الحق(۲) باء لپاره دملابسته ده اوجارمجرورمتعلق دى به مقدرپوري چې هغه متلبس دي اوجارمجرورسره دمتعلق نه حال واقع شويدې دفاعل نه اويادمفعول نه تقديردعبارت داسي دي لاتقتلواها الامتلبسين بالحق داپه هغه صورت كښ چې حال شي دفاعل نه،اوچې حال شي دمفعول نه نوبيابه تقديردعبارت داسې شي لاتقتلوها الامتلبسة بالحق(۳)﴿إِلَّا بِٱلۡحَقِّ﴾دامفعول مطلق دي د﴿وَلَا تَقۡتُلُواْ﴾ لپاره په اعتبار دموصوف مقدره سره تقديردعبارت داسې دي چې لاتقتلوهاقتلا ماالاقتلا متلبسا بالحق، ﴿وَمَن قُتِلَ مَظۡلُومٗا﴾يعني بغيرد يوسبب نه چې مبيح للقتل وي، ﴿فَقَدۡ جَعَلۡنَا لِوَلِيِّهِۦ﴾مراد دولي نه هوالطالب بدمه شرعادې چې هغه وارث دمقتول دې برابره ده سرې وي كه ښځه وي غټ وي ياوړوكي وي خوعلى قدر المواريث چې اقرب به مقدم وي په ابعدباندى اوياورنه مرادسلطان اوبادشاه دې په وخت دعدم دوارث كښ،﴿سُلۡطَٰنٗا﴾ مرادورنه تسلط اوقدرت دې په قاتل باندى په قصاص ياپه ديت سره،اوياورنه مراد حجت دې لپاره دقصاص﴿فَلَا يُسۡرِف فِّي ٱلۡقَتۡلِ﴾ اسراف فى القتل دادې چې ديوپه ځائ باندى دوه قتل كړي،يادأصل قاتل په ځائ بل څوك دهغه په رشته دارانو كښ قتل كړي،اويادمقتول مثله يعني اندامونه پريكړي،﴿إِنَّهُۥ كَانَ مَنصُورٗا﴾ علت دنهي لپاره دې ضميرراجع دې ولى ته، مرادورنه دادې چې په دنياكښ ورته الله ﷻ حق دقصاص وركړې دې اوحق ديت وركړې دې اوحكام ته ئى امركړيدې لپاره دامداد دهغه،اوياضميرراجع دې مقتول ته مطلب دادې چې الله ﷻ دده امداد اوكړوچې په دنياكښ به دده دقاتل نه قصاص ياديت اغستلې شي اوپه اخرت كښ به ده ته اجراوثواب ميلاويږي،يعنى انه منصورفى الدنيا بايجاب القود على قاتله وفى الاخرة بتكفير خطاياه(خازن)

﴿وَلَا تَقۡرَبُواْ﴾دا څلورمه نهى ده دظلم نه چې ديتيم مال په ناحقه سره مه خورئ اوپه نهى دقربت سره مبالغه مقصود ده په نهى دتصرف كښ﴿إِلَّا بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ﴾ ،موصول صفة دې

دموصوف محذوفه لپاره چې هغه خصلة دې ای الابالخصلة التی هی احسن الخصال.یعنی په هغه خصلت اوطریقې سره پکښې تصرف جائزدې چې هغه ښه خصلت اوښه طریقه وي چې هغه دیتیم مال حفاظت دې،یادګټې اوربح پکښې مقصودوي اوتجارت ورله اوکړې وغیره وهی حفظه وطلب الربح فیه والسعی فیمایزیدبه (فتح القدیر) ﴿حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُۥ﴾داغایه دمذکورلپاره نده بلکه دمفهوم لپاره ده چې هغه تسلیم اوحواله کول دي،مطلب دآیت دادې چې دیتیم دمال حفاظت کوئ اوهغه ته ئې مه حواله کوئ ترڅوچې بالغ شوې نوې اوچې بالغ شي اوپه خپلې نفع نقصان باندې پوهه شي نوبیاورته حواله کړئ، اوپه "اشد"کښې اشاره ده کمال عقل دیتیم.والمراد ببلوغ الاشد کمال عقله ورشده بحیث یمکنه القیام بمصالح ماله(خازن) ﴿وَأَوْفُوا۟ بِٱلْعَهْدِ﴾په ماقبل کښې څلورمنهیات ذکرشواواوس په مینځ کښې درې اوامرذکرکیږي اول امردادې چې ایفاء عهدکوئ اومراد په ایفاء سره عمل کول دي دمقتضیٰ دهغې اوعدم نقض دعهد دې اومراد دعهدنه ټول مامورات دالله ﷻ اوټول نواهي دالله ﷻ دي که هغه تعلق لري دحقوق الله سره یادحقوق العبادسره، ﴿إِنَّ ٱلْعَهْدَ﴾ وضع داسم ظاهرپه ځائ دمضمرباندې لپاره داهتمام شان ده ﴿كَانَ مَسْـُٔولًا﴾پدیکښې حذف الایصال شویدې اصل کښې داسې دې (مسئولاعنه) یعني دعهدکوونکي نه به دعهدپه باري کښې تپوس کولې شي چې خپل عهددې پوره کړیدې کنه؟ اویا ﴿مَسْـُٔولًا﴾په معنی دمطلوباً سره دې چې داعهدبه طلب کولې شي دمعاهدنه، اویاداچې داعبارت په حذف دمضاف سره دې یعني انّ الصاحب العهدکان مسئولا،اویاداچې خودعهد نه به تپوس کولې شي په ورځ دقیامت لپاره دتبکیت دناکث اوناقض لکه څرنګه چې به تپوس کولې کیږي دژوندئ ښخه کړې شوي جینئ نه چې بایّ ذنب قتلت (التکویر:۹) ﴿وَأَوْفُوا ٱلْكَيْلَ﴾،دادویم امردې چې ایفاء دکیل اووزن کوئ،اومراد دایفاء نه اتمام یعني پوراوالې دې په تول کښې﴿إِذَا كِلْتُمْ﴾،یعني چې کله تاسوبل چاته تول کوئ نوپه هغې کښې پوراوالې کوئ، ﴿وَزِنُوا﴾دادریم امردې چې په وزن کښې کمې مه کوئ،نوداامردې په اتمام دوزن سره اوماقبل امروو په اتمام دکیل سره،﴿بِٱلْقِسْطَاسِ﴾ په نیز داکثرو علماء دالفظ عربي دې اسم دې لپاره دمیزان (تلی) ځنې علماء فرمائي چې دامشتق دې

دَقسط نه چې هغه انصاف ته وئیلی کیږي نوهرکله چې میزان هم یوه اله دَانصاف وه نوهغې ته قسطاس اووئیلې شو ،خوصاحب دَبحرعلامه ابوحیان پدي ردکړیدې چې دادواړه جدا جدا دي ځکه چې ماده دَقسط ،ق،س،ط ده اوماده دَقسطاس،ق،س،ط،س،ده نولهذا دامأخوذ دَقسطاس نه دي نه دَقسط نه،اوپه نیزدَبعض علماء دالفظ عجمي یعني رومي دې اوبیامعرَب شویدې اوپه لغت رومي کښې قسطاس وئیلې کیږي میزان ته اوداقول دَامام مجاهد رحمه الله اوابن درید رحمه الله اوابن جبیر رحمه الله وغیرهم دي اودې قول ته ترجیح ورکړیده علامه آلوسي رحمه الله هغه فرمائی(وعلی القول بانه رومی معرب وهوالصحیح(روح ج۱۵ ص۷۲)) نولهذا دیته مطلقا غلط وئیل لکه بعض مفسرینوورته وئیلی دې داغیرمناسبه ده اودامخالف دَ انّاانزلنه قرانًاعربیا ،سره ندې ځکه چې نقل کیدل دَدغه شانتې الفاظو عربي ته اوبیامستعمل کیدل په کلام دَفصحاء کښې اواحکام دکلام عربي پدې جاري کیدل مثلا تعریف تنکیروغیره سره داعربي اوګرځی.لانه بعد التعریف والسماع فی فصیح الکلام یصیرعربیا فلاحاجة الی انکارتعربیه(روح) (۲)اویاتول قرآن ته عربي وئیل تغلیبا دي او(۳) یاورنه مراد اسلوب عربي دې ﴿ٱلْمُسْتَقِيمِ ﴾ داتاکیداً اوئیلی شوچې په هغه تله(میزان) کښې څه قسم کوږوالې اوانحراف مه کوئ ﴿ذَٰلِكَ ﴾ مشارالیه ئی ایفاء الکیل اواتمام دوزن دې ﴿خَيْرٌ﴾یعني په دنیاکښې انصاف اوپوره وزن په خلکوکښې دَنیك نامئ اوپه کاروبارکښې دترقئ ذریعه ګرځیږي﴿وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا﴾ اوانجام په اعتبارسره هم ډیربهتردې ځکه چې الله جل جلاله دَطرفنه ثواب اوانعامات میلاویږي اوپه حدیث کښې راغلیدي چې التاجرالصدوق الامین مع النبین والصدیقین والشهداء والصلحین.

﴿وَلَا تَقْفُ ﴾داپنځمه نهي ده دَظلم نه،چې بې تحقیقه خبري مه کوئ اوبې دلیله خبري اتباع مه کوئ،تقف،مشتق دَقیافة نه دې دَچادَنقش قدم باندی تللوته وئیلې کیږي،اوپدیکښې دوه لغته راغلیدي قفایقفو،اوقاف،یقوف ﴿مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ ﴾مراد دَعلم نه پدې ځائ کښې اعتقاد راجح دې برابره خبره ده چې هغه دلیل قطعی نه حاصل شوې وي اوکه ظنی نه،المرادبالعلم هو اعتقادالراجح المستفاد من مستندقطعیا کان اوظنیا(ابی سعود) نولفظ دَعلم ظن اویقین دواړوته شامل دي اوهرکله چې

علم نکره ده اوپه سیاق دَنفي کښ واقع شویده چې مفیددَعموم ده نوداسالبه کلیه ده چې مستلزمه ده ایجاب جزئی لره.نودایت مطلب داشوچې دهغه څیزاتباع مه کوه چې په هغې بندی تاته هیڅ قسم علم نوي،چې کوم علم په هغه ځای کښ مطلوب وي لکه چې په باب دَعقاندوکښ علم قطعي مطلوب دې نوکه هغه وو نواتباع به کیدې شي کنی نه به شي کیدې اودغه شانتې په کوم ځای کښ دلیل ظني کافي وو اومطلوب وو نوهلته به دهغې اتباع کیدې شي.نودَدینه معلومه شوه چې دَدې ایت نه استدلال کول پدې خبره چې خبرواحد مفیدللعلم ندې اویاتقلیددَمجتهد ندې پکار،غلط دې اودغه شانتې داایت عام دې هرقسم اقوالواوافعالولره چې بې دلیله اوبې تحقیقه وي مثلا دروغ،بهتان،بغض عداوت،ناجائزتقلید رسم.رواج پابندي وغیره ته شامل دې،﴿إِنَّ ٱلسَّمْعَ﴾ یعني دَدې ټولو اعضاء په باره کښ به تپوس کیږي دَسترګوپه باري کښ به تپوس کیږي چې دَدې استعمال دِ په کوم ځای کښ کړې دې دغه شانتي دغوږ په باره کښ به تپوس کولې شي چې پدې سره دي څه اوریدلي وو ، دزړه په باره کښ به تپوس کولی شي چې پده کښ دَ څه څیزعزم پټ کړې وو،نودَدې توجیه په بناء داتپوس به دَانسان نه وي،نوپدې ځای کښ دَ ﴿ٱلسَّمْع﴾نه مخکښ مضاف مقدردې یعني ان صاحب السمع کان مسئولا،څکه چې سوال به دَمکلف نه کیږي اوداعضاء خومکلف اوعاقل ندي اویا(۲)مقصد دادې چې سوال به دَدَغي اعضاء نه وي لپاره دَ رسوائی دَدغه انسان چې خپل اعضاء به پرې په خپله ګواهي ورکړي لکه په بل ځای کښ الله ﷻ فرمائی الیوم نختم علی افواههم (یس ۶۵) اودغه شانتې ذکرپه سورة حم السجدة ایت نمبر(۲۰) کښ هم دې اویا(۳)مقصددادې چې دَدې اعضاء نه به دَانسان تصدیق طلب کولې شي چې یوسړې دعویٰ اوکړي چې داخبره مااوریدلي ده نودَغوږ نه به تصدیق طلب کولې شي چې آیاده رشتیااوریدلي وه یاپدې دعوی کښ دروغژن دې،دغه شانتې دَسترګونه به تصدیق طلب کولې شي،زړهنه به تصدیق طلب کولې شي آیاداسړې په فلاني څیزباندی عالم وو اوپه هغې باندی ئې فکرکړې وو چې په کوم څیزباندی دَعلم لرودَعویٰ کوي،یادې په خپلي دعوی کښ دروغژن دې،دَدې دواړو توجیهاتو په بناء تقدیردَعبارت ضرورت نیشته اوتخصیص دَدې درې(۳) اعضاؤدَدې وجه نه اوشولو چې سمع اوبصراسباب دَعلم دي اوفؤاد یعني زړه اله دعلم ده اوهرکله چې سمع اوبصرپه ذریعي علم زیات حاصلیدلو په نسبت سره نورو حواسوته نوددې وجه نه اکتفاء ...

﴿وَلَا تَمۡشِ ﴾داشپږمه نهي ده دظلم نه چي هغه غرور اونکبردي،مَرَحًا ... پدېکښې دوه(٢)قراءته راغليدي عام اومشهور قرائت په فتح دراء سره دي.د مصدرحال واقع شوېدی دضميرفاعل دَ ﴿تَمۡشِ﴾نه په اعتبار دمضاف مقدره سره ای دامرح اوي مفعول مطلق دي دفعل مقدرلپاره چي تمرح دي ای تمرح مرحا اويامفعول له دي ای لاجل المرح اودويم قرائت په کسري سره دي اوصيغه داسم فاعل ده اومنصوب دي بنابرحالبت اومراد دمشي نه فخراوتکبردي اوهرکله چي تکبراوتواضع دواړه دصفاتو دقلب نه دي يعني په زړه کښې وي خوائرئی په گرځېدلوکښې ظاهرېږي نوددي وجه نه دتکبر سره لفظ دمشي راغې اوپه سورة الفرقان آيت نمبر(٣)کښې دمؤمنين په اوصافو کښې هم دمشی علی الارض هونا ذکر راغليدي.﴿إِنَّكَ لَن تَخۡرِقَ﴾ داعلت دي لپاره دنهي دتکبرنه اوپدېکښې تهکم دي په لوئی کوونکې پورې چي اې بنده ته ولي تکبراولوئی کوي؟ ته خويوکمزوري اوضعيف بنده ئی دپاڅه اولاندې نه.گيراومحاط ئی په دوه(٢) انواعودجماديوسره، نه دومره طاقتور اوقدرت والائی چي زمکه سيري کړې اونه دومره دنګ اوغټ ئی چي دغرونو سرته اورسي ځکه چي تکبرخوددغه دوه(٢)څيزونودوجې نه کيږي اودادواړه په تاکښې مفقوددي اوامام رازيؒ فرمائی چي مشي مستلزمه ده ارتفاع اوانخفاض لره يعني اوچت والې اولاندې والې په مشي کښې راځي،نوالله ﷻ تنبيه ورکړه چي په حالت دانخفاض کښې دزمکې په شلولوباندی قادرنه ئی اوپه حالت دارتفاع کښې دغرونوسرته په رسيدلوباندی قادرنه ئی بلکه يوعاجز اوکمزورې بنده ئی،نوڅه لپاره تکبرکوي. قرطبي فرمائی استدل العلماء بهذه الاية علی ذم الرقص وتعاطيه،يعني ددينه دګډاحرمت هم معلومېږي ځکه چي په رقص اوګډاکښې مرح په طريقې داشديت سره موجود دي.

﴿كُلُّ ذَٰلِكَ﴾مشار اليه دذلك لپاره ماقبل ذکرکړې شوي خصلتونه اوعادتونه دي نوبناء پدي اضافت به په سيّئه کښې به اضافت لامي وي اوذا به اضافة البعض الی الکل دقبيلی نه وي.نومعنی به نی داسې شي چي ټول دغه مذکور خصلتونه ،منهيات دي الله ﷻ ته ناخوښ يعني پدغه مذکورکښې کوم منهيات چي دي هغه الله ﷻ ته ناخوښ دي.نومراد دسيّئة نه فقط منهيات شو.اوتنبيه فقط په منهياتوځکه اوکړې شوه چي تخليه اولی وي دتحليه نه اودفع دمضرت

اودمفاسدو اهم وي دجلب منفعت اومصالحونه. اوياضافت بياني دي اويه ذٰلِكَ سره اشاره
تهولومذكوروته ده كه اوامردي اوكه نواهي دي خونواهي ورنه مراددي صراحت يعني هغه
صراحتامذكوردي اومامورات ورنه دلالةً مراددي يعنى ددي اضداد مراددي مثلا ﴿وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ
﴾ نه ددي ضديعني عدم ايفاء عهدوالاحرمت دلالة معلوميږي نومطلب به ئى داشي چي دغه ټول
مذكوركه اوامردي كه نواهي دي داټول خراب اوبدڅيزونه دي ,,بعض بعينه اوبعضو
اضداديا صراحتا اويادلالة,, الله ﷻ ته ناخوښ دي،اوداترجمه حضرت شيخ الهند رحمه الله غوره كړيده
او ﴿مَكْرُوهًا﴾ خبردې د ﴿كَانَ﴾ لپاره اومراد د ﴿مَكْرُوهًا﴾ نه مبغضا يعني ناخوښ دي وهوالذی لايرضاه
الله عزوجل ولايامربه(قرطبی) اومراد ورنه هغه ندي چي كوم مصطلح دفقهاؤدي اګرچي هغې ته هم
شامل دي ځكه چي مبغض كله حرام وي اوكله مكروه اصطلاحي وي،نودلته ورنه مراد حرام دي
اوتعبيرورنه په لفظ دمكروه ځكه اوشوچي اشاره راشي دې خبري ته چي يوشى الله ﷻ ته مبغض
اومكروه وي نومجرد كراهت كافي دي ديوبنده لپاره په وجوب دمنع كښ دهغې څيزنه چي ده
خپل ځان دهغي څيزنه منع كړي،ووصف بذلك بمطلق الكراهة مع ان اكثره من الكبائرللايذان بان
مجردالكراهة عنده تعالى كافية فى وجوب الكف عن ذلك(ابى سعود،روح).

ذٰلِكَ مِمَّآ اَوْحٰۤى اِلَيْكَ رَبُّكَ مِنَ الْحِكْمَةِ ؕ وَلَا تَجْعَلْ
داچي ذكرشول اوامراونواهي دبعضي هغه احكاماتونه دي چي وحى كړيده تاته رب ستادحكمت نه[1] اومه ګرځوه
مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ فَتُلْقٰى فِيْ جَهَنَّمَ مَلُوْمًا مَّدْحُوْرًا ﴿٣٩﴾
دالله ﷻ سره معبود بل پس اوبه غورځولى شي ته په جهنم كښ ملامته كړي شوي رټلي شوي.[2]
اَفَاَصْفٰىكُمْ رَبُّكُمْ بِالْبَنِيْنَ وَاتَّخَذَ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ اِنَاثًا ؕ
ايا پس غوره كړي ئى تاسوربستاسوپه ځامنوسره اونيولى دي دملائكونه لونړه

1. ثمره ماقبل واعاده توحيدبارسوم
2. زجر

اِنَّكُمۡ لَتَقُوۡلُوۡنَ قَوۡلًا عَظِيۡمًا ۝

بیشکه تاسو خامخا وائی کوئ خبره ډیره لویه

﴿ذٰلِكَ ﴾مشار اليه دَدې لپاره په تاويل دَمذكورسره ماقبل ټول اوامراو نواهي دي اوپه يكښ تفسيردهغه حكمت ذكركيږي چې دكوم بيان په سورة النحل ادع الى سبيل ربك ،ايت نمبر۱۲۵ كښ ذكرشوې وو يعني دامذكورټول احكامات كه اوامر دي يانواهي په حكمت الهي باندى مبني دي اودَدي احكاماتو په منلوكښ دَانسان خيراوفائده ده او"من" په﴿مِمَّا﴾ كښ دغوره توجيه مطابق تبعيضيه دې ځكه چې دامذكوربعض احكامات شرعيه دي اوټول ندي.من الحكمة،دحكمت ډيرمعاني كړې شويدي دلته تنه راجحه معنى دَعلم الشرائع ده چې په هغې سره انسان ته دَالله ﷻ معرفت اوپه عمل سره ورته خيرحاصليږي،اويامراد دَحكمت نه محكم دي چې نسخ نه قبلوي،نومقصد دادې چې دامذكورهغه احكامات دي چې محكم دي نسخ نه قبلوي اوعقل هم دَدې په صحت باندى دال دې اوصاحب دكشاف دَحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه نقل كړيدي چې داآيتونه په الواح دَحضرت موسیٰ عليه السلام كښ هم موجودوو او﴿مِنَ الۡحِكۡمَةِ ﴾ جارمجرور يامتعلق دې په﴿أَوۡحَىٰ﴾ پوري اى اوحى من الحكمة، اومن پكښ ياتبعيضيه دې ځكه چې دابعضې دَحكمتونونه دي اويابتدائيه دې اوياجار مجرور متعلق دې په مقدرپوري اوپه اعتباردَمقدرسره حال واقع شويدې دَمّا كښ دَموصول نه اى من الذى اوحاه اليك ربك كائنا من الحكمة(روح)اوياجار مجرور بدل واقع شويدې دَموصول نه.

﴿وَلَا تَجۡعَلۡ ﴾پدې كښ اوومه نهي دَظلم نه ده چې هغه شرك دې،دَدې مذكوراحكاماتو ابتداء هم په نهي دَشرك سره شوې وه اوپه اختتام كښ ئې هم دوباره نهي دَشرك نه اوشوه پديكښ اشاره ده چې دَټولو طاعاتواوحسناتوبنياد توحيددې اودَټولو ظلمونو اوشرونو بنياد اوجړه شرك دې كوره لانه المقصود والتوحيد راس كل حكمة(جامع البيان) اوخطاب په﴿وَلَا تَجۡعَلۡ ﴾ كښ امت ته دې په واسطه دَحضورﷺ سره،﴿فَتُلۡقَىٰ﴾ دانتيجه اوتخويف اخروي دي ﴿مَلُومًا مَّدۡحُورًا ﴾په مخكني

ايت كښ ﴿مَذْمُومًا مَّخْذُولاً ﴾ذكرشوې وو.نوفرق په مينځ دملوم اومذموم كښ دادې چې مذموم استعمال په هغه ځائ كښ كيږي چې كس په يوفعل قبيح كښ شروع كوي نو په هغې وخت كښ دَهغه فعل قبح اوګناه اونقصان ورته ذكركړې شي،اوذم ورته بيان كړې شي نوديته مذموم وئيلې كيږي، اوملوم وئيلى كيږي هغه چاته چې هغه ته دَفعل ذم بيان كړې شوې وي اوهغه دهغه فعل قبيح ارتكاب اوكړې نودَهغې نه وروستو ملامت كولې شي اوورته وئيلې شي لم فعلت كذا(داكارتاولې اوكړو) ماحملك عليه(څه باعث وو په تاباندى) نوديته ملوم وئيلې كيږي.نواول امردَشرك هغه ذم دې په دنياكښ اواخرئى لوم دې په عقبى كښ اوفرق په مينځ دمخذول اومدحور كښ دادې چې مخذول وئيلى كيږي هوالمتروك اعانته ونصره والمفوض الى نفسه چې دهغه اعانت اوامداد پريخودلې شوې وي اوخپل ځان ته حواله كړې شوې وي اومدحور وئيلى كيږي المطرود المبعد على سبيل الاهانة والاستخفاف به يعني چې هغه رټلې شوې اولرې كړې شوې وي په طريقې دذلت اوسپكوالى سره،نودَمشركينومعبودانو په دنياكښ ددوئ نصرت اوامدادنشي كولې نومخذول شو اوپه اخرت كښ به دَالله ﷻ درحمت نه لرې اومطرود به وي على سبيل الاهانة ورته به وئيلى شي اين شركاؤكم ماكنتم تعبدون، نوخلاصه داده چې وصف دَذم اوخذلان په دنياكښ دې،نوځكه هلته﴿فَتَقْعُدَ مَذْمُومًا مَّخْذُولاً ﴾ ذكرشو،اوعذاب جهنم ورسره ذكرنشواووصف د(لوم)او(دحور)په اخرت كښ دې نوځكه دلته ورسره جهنم ذكرشو اوداسې اووئيلى شو﴿فَتُلْقَىٰ فِي جَهَنَّمَ مَلُومًا مَّدْحُورًا ﴾اوهركله چې افعال دَانسان په دنياكښ اختياري دي اوپه اخرت كښ دې غيرخودمختاروې نوځكه په مخكنې ايت كښ﴿فَتَقْعُدَ﴾ ذكرشو،چې هغه يوفعل اختياري دې اودلته ذكر د﴿فَتُلْقَىٰ﴾ اوشو چې هغه دَالقاء نه دې چې داپه اوصافو اوافعالو غيراختياريوباندى دلالت كوي(وفى القعود هناك والالقاء ههنا اشارة الى ان للانسان فى الدنيا صورة اختيار بخلاف الاخرة)(النيشابوري).

«أَفَأَصْفٰكُمْ» يدي كښې زجربيانيږي په مشركينو باندې په شرك بالملئكه سره چې مشركينو

به ونيل نعوذبالله چې فرشتې دالله ﷻ لونړه دي .اواستفهام انكاري دي اوداخل دې په

مقدر باندې يعني مستفهم عنه مقدر دي اوفاء عاطفه ده او

«أَفَأَصْفٰكُمْ» عطف دې په هغه مقدر باندې نوتقديرد عبارت داسې دې افضلكم على جنابه فخصكم

بافضل الاولاد(روح) اويافاء استنافيه ده اوتقديرد عبارت ته ضرورت نيشته او اصفكم باب افعال

دې دصفوة نه دې اوداوئيلې كيږي ترجيح وركولوته،نومقصد دادې چې آياالله ﷻ تاسونه

فضيلت دركړيدې اوتاسوته ئې ترجيح دركړيده په نارينه اولاد سره اوخان لپاره زنانه اولاد يعني

لونړه نيولي دي؟ چې هغه يوكمزوري مخلوق دې چې تاسوئې خان لپاره هم نه خوښوئ

اوتعبيرد بنات نه په اناث سره ځكه اوشوچې اشاره راشي ضعف دهغوئ ته «قَوْلاً عَظِيمًا» يعني

يودالله ﷻ لپاره اولاد ثابته ول چې هغه مستلزم دې تركيب لره په الله تعالى كښې چې منافي دې

دقدم اووجوب سره دايو جهل دې اوقول باطل دې اودويم اضعف الاولاد چې هغه بنات دي دهغې

ثبوت الله ﷻ لره كول جهل عظيم دې.

وَلَقَدْ	صَرَّفْنَا	فِيْ	هٰذَا	الْقُرْاٰنِ

اوخامخاپه تحقيق سره بارباربيانه كړيده (مسئله دتوحيد)مونږه پدې قرآن كښې[1]

لِيَذَّكَّرُوْا	ط	وَمَا	يَزِيْدُهُمْ	اِلَّا	نُفُوْرًا ٤١

لپاره ددې چې نصيحت قبول كړې دوئې اونه زياته وي داقرآن دوئې لره مگر لرې والې دحق نه.

قُلْ	لَّوْ	كَانَ	مَعَهٗٓ	اٰلِهَةٌ	كَمَا	يَقُوْلُوْنَ	اِذًا	لَّابْتَغَوْا

اوايه ته كچرې وو دالله ﷻ سره نورمعبودان لكه چې دوئ وائې نوپدغه وخت كښې خامخا تالاش كړې به وه دوئې

(1) زجربانكار القرآن

إِلَىٰ ذِي الْعَرْشِ سَبِيلًا ۝ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يَقُولُونَ

خاوند دعرش نه یوه لاره .پاکی ده الله جل جلاله لره اولوئ دې دهغې نه چې دوئ وائي په حق د الله جل جلاله کښې

عُلُوًّا كَبِيرًا ۝ تُسَبِّحُ لَهُ السَّمَاوَاتُ السَّبْعُ وَالْأَرْضُ وَمَن فِيهِنَّ ۚ

په لوئي ډيري سره پاکي بيانه وي الله جل جلاله لره اووه اسمانونه اوزمکه اوهغه خوك چې پدې كښې دي

وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَٰكِن لَّا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ ۗ

ونشته هيڅ شئ مګرتسبيح وائي متلبس دحمد دهغه سره ليکن نه پوهيږئ تاسو په تسبيح دهغوئ باندې

إِنَّهُ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا ۝

بيشكه الله جل جلاله صبرناك بخښونكي دي

﴿وَلَقَدْ صَرَّفْنَا ﴾په دې ايت كښې زجرذكركيږي په نفرت ددوئ باندې دقرآن سره د اوصرفنا دَباب تفعيل نه دي په لغت كښې تغييرته وئيلې كيږي اوپه اصطلاح كښې يوشيزامثله متعدده ته تحويل كولوته وئيلې كيږي اودلته مفعول چې هغه التوحيد دي مقدردې نومقصد دادې چې مونږ دامسئله توحيد په مختلفو دلائلوسره بيان كړيده، كله په دلائلوعقليوسره كله په نقليوسره كله په امثالوسره.كله په واقعاتوسره وغيره اوبعض مفسرين فرمائي چې مفعول مقدرهغه داقول سابق دَ مشركينو دې چې الملئكة بنات الله نوتقديردَعبارت داسې دې چې صرفناهذا القول خوقول اول زيات راجع دي ﴿لِيَذَّكَّرُوا﴾مراد دَ تذكرنه،تدبر تفكر اووعظ قبولول دي اومراد تنه هغه ندې چې بعدالنسيان حاصل شي ﴿إِلَّا نُفُورًا﴾يعنې دَدغې تصريف دَ وجه نه پكاروه چې دوئ حق ته قريب شوي وې خودَضد اوعناد دَوجې نه دوئ دَحق نه نورهم لري شولو.نومراد دَ﴿نُفُورًا﴾نه تباعداولري والي دَحق نه دې اى تباعدا عن الحق وغفلة عن النظروالاعتبار(قرطبي)

﴿قُل لَّوْ كَانَ مَعَهُ ﴾ دامتعلق دې په ﴿لَا تَجْعَلْ مَعَ اللَّهِ﴾پورې اودارد دې شرك فى الالوهيت باندې اوعام مفسرين دَايت مقصد داسې بيانه وي كچرته دَالله جل جلاله سره بل خدائ موجود وې نودَعادت موافق هغه به دَ ذى العرش(الله جل جلاله) سره په سلطنت كښې جګړه كوله اودخپلي حصې

سلطنت مطالبه به ئی کوله چې هغه مستلزم دي امکان تمانع لره او امکان فساد لره او داخو باطل دي نومعلومه شوه چې بل خدائ هم نیشته دې «ددې تحقیق انشاء الله په سورة الانبیاء کښې به راشي» نودَدي توجیه په بناء مراد دَ ﴿سَبِيلًا﴾نه اسباب دَغلبي اوجګړي مراددي یعني لاره دَجګړي ای بالمغالبة والقهر لیزیلوا ملکه(خازن) اودَحضرت شیخ الشیوخ ﷫ په نیز راجحه توجیه دَایت داده چې دادلیل دې په عجز دَمعبودانو مشرکینو ، ځکه چې مشرکینوبه دخپلو معبودانو په باره کښې به ئی وئیل چې مونږه دَ دوئ عبادت ځکه کوو چې دازمونږه سفارشیان دي الله ﷻ ته نو الله ﷻ اوفرمائیل چې بیاخوپکارده چې داسفارشیان دي الله ﷻ ته دَقربت اونزدیکت لاره طلب کړي. ځکه چې سفارش کوونکې چې چاته سفارش کوي نواول دهغه قربت اونزدیکت حاصله وي اوځوك چې نزدیکت اوقربت طلب کوونکې وي نوهغه عاجزه وي اوځوك چې عاجزه اومحتاجه وي نوهغه اله نشي کیدې ځکه چې عجز اواحتیاج خاصه اوعلامه دَامکان اوحدوث ده اواله واجب الوجود اوقدیم وي،نودَدي توجیه په بناء مراد دَ ﴿سَبِيلًا﴾نه لاره دَقربت اونزدیکت ده ﴿سُبْحَٰنَهُۥ﴾پدې ایتونو کښې مسئله توحید بیانیږي اوپه ﴿سُبْحَٰنَهُۥ﴾کښې اشاره ده نفی دَ شرك فی الوهیت ته چې هغه مستلزم وو امکان تمانع لره اومغالبه لره یعني الله ﷻ دَعجز اوتصادم نه پاك دې اوپه﴿وَتَعَٰلَىٰ﴾کښې اشاره ده نفي دَشرك فی الملئکة ته چې هغه داقول ددوئ دې چې الملئکة بنات الله چې دامستلزم دې تماثل لره یعني الله ﷻ لره مماثل راتلل دَدینه الله ﷻ اعلی دې په لوئی علوې سره اوتقیید په وصف دَ ﴿كَبِيرًا﴾سره لپاره دَمبالغي دې په کمال تنزه کښې(کشاف) ﴿تُسَبِّحُ لَهُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ﴾پدې کښې علت بیانیږي لپاره دَمسئله توحید چې ټول مخلوقات اودکائناتوذره ذره په زبان حال یاقال سره دَالله ﷻ تسبیح اوپاکي بیانه وي اودَالله ﷻ دَوحدانیت ګواهي ورکوي نواې مشرکینو تاسو الله ﷻ لره شریك جوړول او الله ﷻ لره اولادثابته ول ډیره شرمناك خبره ده ﴿وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلَّا﴾،ان نافیه دې اومن زائده دې اوشئ نکره ده په سیاق دَ نفي کښې واقع شویده مفیده دَعموم ده نومقصد دادې چې زمکې اواسمانونه اوپه دیکښې کوم انسانان،جنات،ملائك

دي اودَدينه علاوه نورڅومره څيزونه چې دي كه هغه نباتات دي ياجمادات دي ټول دَالله ﷻ تسبيح
وائی پوهه شه پدې چې تسبيح لپاره څلوراقسام دي (۱)قلبي (اعتقادي)،(۲)فعلي(۳)قولي(۴)حالي ياتهري، **قلبي يااعتقادي** وئيلى كيږي اعتقاد ساتل په تنزيه دَالله ﷻ باندى دَهرقسم عيوب اودَنقصان نه، **تسبيح فعلي** وئيلى كيږي هغه فعل ته چې دال وي په تنزيه دَواجب تعالى باندى لكه مونځ وغيره شو او **تسبيح قولي** عبارت دې په ژبه باندى دَالله ﷻ پاكې بيانولونه او **تسبيح حالي ياتهري** هغه دلالت دَحال دَمخلوق دې په تنزيه دَخالق باندى لكه وجود اوصورة دَانسان وغيره دال دې په تنزيه اوپه قدرت دَالله ﷻ باندى نوملائكو والا تسبيح دَغه څلورقسمه مذكورټول دي اودَمؤمن كه دَانس نه وي يادجناتونه وي هغوئ تسبيح هم دغه څلورواړه انوع مذكوره دي اودكافر والاتسبيح اگرچې قلبي.فعلي.قولي خونيشته ليكن حالي تسبيح ئې شته دې اودَ نباتاتو ،جماداتوكښې اختلاف دې بعض مفسرين مطلقا دَتسبيح حالي قائل دي اوبعض فرمائی چې نباتات كه شنه وي نوتسبيح قالي ورله شته دې خوكچرته نباتات اوچ شي اوياجمادات مات شي نوبيائی تسبيح حالي وي اوقالي ئې ختمه شي اواستدلال ئې كړيدې په هغه حديث سره چې نقل كړيدې امام بخاري رحمه الله په كتاب الوضوء كښې،باب من الكبائر ان لايستتر من بوله،عن ابن عباس رضي الله عنه ان النبي ﷺ مرعلى قبرين فقال انهما ليعذبان.....ثم قال لعله يخفف عنهما مالم ييبسا،نودَدينه معلومه شوه چې نباتات چې ښوپوري شنه وي نوتسبيح قولي كوي اوچ شي نوتسبيح قولی ئې ختم شي،ليكن راجح اوغوره مذهب دادې چې دَجماداتو ،نباتاتو والا تسبيح هم دغه ټول اقسام مذكوره دي،هرچې دې اعتقادي دَنوثابت دې دَدې قول دَالله ﷻ نه وانَّ منها لمايهبط من خشية الله (البقره،۷۴) اوهرچه دې تسبيح فعلي دَنوثابت دې دَدې قول دَالله ﷻ نه ،كل قدعلم صلوته وتسبيحه (النور،۴۱) اوهرچې دې تسبيح قولي نوهغه ثابت دې دَوجهي دَدې قول دَالله ﷻ دَالله ﷻ نه ياجبال اوّبي معه الخ(سباء، ۱۰) اودغه شانتې اناسخرناالجبال معه يسبحن بالعشى والاشراق (ص:۱۸) اودغه شانتې په ځينو احاديثو كښې دَنباتاتو اوجماداتونه تسبيح قولي ثابت دې لكه حديث دَابن مسعود رضي الله عنه چې نقل كړيدې امام بخاري رحمه الله په كتاب المناقب كښې چې حضرت ابن مسعود رضي الله عنه فرمائی چې مونږه به معجزات باعث بركت گڼرلو اوتاسوئی سبب دَيرى گڼرئ مونږه دَرسول الله ﷺ سره په سفركښې وو چې اوبه كمې شولې،حضور ﷺ ارشاداوفرمايه چې كومې اوبه چاسره باقي دي هغه ماله راوړئ نوصحابه رضي الله عنهم يو لوښې راوړوچې په هغې كښې لږې شانتې اوبه وې حضور ﷺ

خپل لاس مبارك په هغې كښې كېخودلو اوبيائې اوفرمائيل چې دبركت والا پاكو اوبوته راشئ اوبركت دجانبه دالله ﷻ نه دې پس ماخپله اوبه كتلې چې راوتلې دمينځ دګوتو دحضور ﷺ نه اوبه تحقيق سره مونږ به اوريدلو تسبيح دخوراك حالانكه هغه به خوړه لې كيدلو . اودغه شانتې نورو احاديثو كښې دجماداتو وغيره تسبيح ثابت دې اودغه شانتې دجماداتو اونباتاتو نه په لسان القال سره خبرې په ډيرو احاديثو اواثاروكښې ثابت دې،دكانړې حضور ﷺ ته سلام كول. دغه شانتې دمؤذن په حق كښې شجر مدر،حجر ګواهي وركول يوغربل غرته اوازكول چې هل مرّبك اليوم ذاكر لله عزوجل؟ دغه شانتې دزمكې يوه حصه بلې حصې ته اوازكول هل مرّبك اليوم عبدفصلى الله اوذكرالله عليك اوبياخاص طورداسطوانه حنانه ژړا اوسلګئ وغيره داقصه عام مسلمانانوته هم معلومه ده داټول دصحيح احاديثو نه ثابت دي نومعلومه شوه هريوځيزشعور اوادراك لري اوبه لسان القال سره خبري وغيره كولې شي نولهذا دتسبيح نه مراد تسبيح قولي مرادكول زيات غوره اوراجح دي،مزيد تفصيل امام قرطبى اوابن كثير په خپلوتفاسيروكښې كړيدې.

﴿وَلَٰكِن لَّا تَفْقَهُونَ﴾كچرته مراد دتسبيح نه حالي شي نوداخطاب بياكفاروته دې او﴿لَّا تَفْقَهُونَ﴾ په معنى دلاتفكرون سره دې چې اى مشركينو تاسوددې اشياؤ په تسبيح حالي باندې سوچ اوفكرنه كوئ،اوكه مراد دتسبيح نه قولي شي لكه داراجحه هم ده نوبياخطاب عام دې او﴿لَّا تَفْقَهُونَ﴾ په خپلې معنى سره دې يعنې لاتعلمون تسبيحهم.

وَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ جَعَلْنَا بَيْنَكَ وَبَيْنَ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ

[1]اوكله چې تلاوت كوې ته دقرآن نواوګرځوومونږه په مينځ ستاكښې اوپه مينځ دهغه كسانوكښې چې ايمان نه راوړي

بِالْآخِرَةِ حِجَابًا مَّسْتُورًا ﴿٤٥﴾ وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ

په اخرت باندې پرده پټه اوګرځولې دي مونږه په زړونو ددوئ باندې پردې دوجې دېدكړلو ددپوهې دقرآن نه

(1) نه منلووجه

وَفِيٓ اٰذَانِهِمۡ وَقۡرًا ۚ وَإِذَا ذَكَرۡتَ رَبَّكَ فِي الۡقُرۡاٰنِ

اوګرځولي دي مونږه، په غوږونو ددوئ کښې دړندوالي. اوکله چې یاده وې ته رب خپل په قرآن کښې

وَحۡدَهٗ وَلَّوۡا عَلٰٓى اَدۡبَارِهِمۡ نُفُوۡرًا ۞ نَحۡنُ اَعۡلَمُ بِمَا

یواځې هغه. اوګرځي دوئ په خپل شاګانو باندې تښتیدونکې. مونږه ښه پوهیږو په هغې مقصد

يَسۡتَمِعُوۡنَ بِهٖٓ اِذۡ يَسۡتَمِعُوۡنَ اِلَيۡكَ وَاِذۡ هُمۡ نَجۡوٰٓى

چې غوږ دي دوئ قرآن ته په هغې سره کله چې غوږ ایږدي دوئ تاته اوکله چې دوئ پټې جرګې کوي

اِذۡ يَقُوۡلُ الظّٰلِمُوۡنَ اِنۡ تَتَّبِعُوۡنَ اِلَّا رَجُلًا مَّسۡحُوۡرًا ۞

کله چې وائی ظالمان چې تابعداری نه کوئ تاسومګردیوداسې سړي چې جادوېري کړې شویدې

﴿وَإِذَا قَرَأۡتَ﴾ پدې ایت کښې دَمسئله توحیدنه دَانکارعلت اووجه بیانیږي سره دزجرنه په انکار دقران سره چې دوئ پدې ایتونوکښې غوراوفکر نه کوي بلکه دَدینه نفرت اوپدې پورې توقې کوي ﴿وَبَيۡنَ الَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ﴾وضع دموصول په ځائ دَضمیرلپاره دَمبالغې دې په ذم دَهغوی کښې اوهرکله چې ایمان بالاخرة دَمعظمو اموروداَیمان نه وو اودا ایت تمهید وولپاره دَراتلونکې ایت چې هغې کښې ددوئ انکار بالاخرة ذکرکیږي نودَدې وجه نه دلته کښې دکفارو وصف دَعدم ایمان بالاخرة باندې تصریح اوشوله اونوراوصاف کفریه ذکرنشو﴿حِجَابًا مَّسۡتُورًا﴾ ، مستورا یاپه خپلې معنی سره دې اومرادتنه حجاب معنوي دې ظاهري ندې مراد ځکه چې داکفاربه دَحضورﷺ سره قریب اویوځای به ناست وو اوپه ظاهرکښې به نې کتلو خودنبيﷺ دَاتباع نه ورله مانع هغه حجاب معنوي چې هغه ضدعناد اوجهل دې اویا﴿مَّسۡتُورًا﴾ په معنی دَذاسترسره دې لکه سیل مفعم ای ذامفعم یالکه جارية مغنوجة ای ذات غنج شو اویاپه معنی دَاسم فاعل سره دې ای ساترالك اومراد حجاب نه حجاب حقیقي دې خوهرکله چې هغه حجاب به په ظاهرکښې ښکاریدلونه نوځکه نې توصیف په ساترایاذاسترسره اوشولو اویادا کلام دَقبیلې دَحذف الایصال نه دې ای مستورابه الرسولﷺ اوپدې احتمال هم دَحجاب نه مراد حجاب حقیقي دې

اودي احتمال ته (حجاب حقيقي ته) ترجيح ورکړيده قرطبي اورازي اواکثرومفسرينو اودروایاتونه هم دَدي احتمال ترجيح معلوميږي ځکه چې اکثرومفسرينو دَدي ايت په ضمن کښ يوه واقعه بيان کړيده چې کله تبت يدا ابى لهب نازل شو نودَابولهب ښځي ام جميل يوکاڼړی رواغستلو اوراغله چې(العياذبالله) حضورﷺ پري اوولي اوحضورﷺ پدغه وخت کښ دَحضرت ابوبکرؓ سره ناست وو ليکن هغې ته حضورﷺ په نظررانغي اوهغې دَحضرت ابوبکر نه تپوس اوکړو چې ستا ملګرې څه شوهغه ځماهجوکړيده؟ حضرت ابوبکرؓ ورته اوفرمائيل چې په خدائ قسم! هغه خونه شاعردي اونه شعر ونه وائى نوځرنګې ستاهجونى اوکړه نوهغې ښځي اووئيل چې ماداکاڼړي دهغه لپاره راغستي وو کچرته ميلاوشوي وي نومابه(العياذبالله) هغه په سرويشتلې وي اوواپس لاړه،حضرت ابوبکرؓ دَهغې ښځي تللونه پس حضورﷺ ته عرض اوکړو چې يارسول اللهﷺ هغې ښځي خوته اونه ليدلی څه وجه ده؟ حضورﷺ اوفرمائيل چې ځما اودهغې په مينځ کښ يوفرشته حائله شوي وه اوپه ځني رواياتوکښ داسې راغليدي چې حضرت ابوبکرؓ عرض اوکړو چې يارسول اللهﷺ انى اخاف ان تراك يعني زه يريدم چې تااونه ګوري نوحضورﷺ ورته اوفرمائيل چې دامانشي کتلې ځکه چې مادَقرآن څه اياتونه تلاوت کړيدي،خوبهرحال دَدې رواياتو نه داثابتيږي چې مراددَحجاب نه حقيقي حجاب دي اوامام قرطبى اونورو مفسرينو دَحضرت کعبؓ نه روايت کړيدې چې کله به حضورﷺ دکافرانو دَسترګو نه پټيدل اوغوختلو نودَقرآن مجيد درې(۳) اياتونه به ئې تلاوت کړلو ،نودهغې دَاثرپه برکت سره کفارو به بياحضورﷺ نشوليدلې،يودَسورة النحل ايت اولئك الذين طبع الله على قلوبهم وسمعهم وابصارهم(النحل:۱۰۸) دويم دَسورة الکهف ايت اناجعلنا على قلوبهم اکنة ان يفقهوه وفى آذانهم وقرا(الکهف:۵۷) اودريم دَسورة الجاثيه ايت افرايت من اتخذ الهه واضله الله على علم وختم على سمعه وقلبه وجعل على بصره غشاوة(الجاثيه:۲۳) اوامام قرطبيؒ دَدي درې(۳) مذکوره ايتونو سره سورة يٰسين ابتداء نه ترفهم لايبصرون پوري اضافه هم کړيده اوبيائى خپله واقعه هم بيان کړيده ﴿وَجَعَلْنَا عَلَىٰ﴾پدي ايت کښ هم زجردي چې کله دوئ ضداوعناد شروع کړونو اللهﷻ دَدوئ په زړونوباندی مهرجباريت ثبت کړو﴿أَكِنَّة﴾ جمع دکنان ده وئيلی کيږی پردی ته اومراد تنه

معنوي پرده يعني مهرجباريت دي ﴿أَن يَفْقَهُوهُ﴾ دامفعول له دي په تقدير دَمضاف سره اي كراهة ان يفقهواعلى كنهه ويعرفوا انه من عندالله تعالى.

حضرت مولانا شبيراحمد عثماني رحمه الله فرمائي چې قرآن مجيد ډېرمؤثر كلام دي خو په كفرو باندې دَدې تاثيرځكه نه ظاهريږي چې هغوئ طلب كوونكې دهدايت ندي اوكوم سړي چې طلب كوونكې نوي نوپه هغه باندې قرآن مجيد اثرهم نه كوي اوهدايت ورته نه ميلاويږي اودَدې مثال داسې دې لكه نمرچې رڼائي تول جهان ته رسي اوهرڅيز دَنمردَرڼانه فائده اخلي خوكچري يوسړې ځان په ته خانه كښې بند كړي دروازې، كهړكئ، اوروشن دان هم په ځان پسې بند كړي.بلكه ستركې هم پټې كړي نودَه ته به دَنمررڼا اونه رسي اونه به ئې اوګوري.﴿وَفِيٓ ءَاذَانِهِمۡ وَقۡرٗا﴾ وقروئيلى كيږي ثقل اوبوجه ته نومقصد دادې چې دَغوږونونه ئې دَسماع قبول استعداد سلب شويدې اوپه غوږونو كښې ئې ثقل اوبوج دې نوپه سماع قبول سره حق نشي اوريدلى

﴿وَإِذَا ذَكَرۡتَ﴾ زجردې په انكاردَتوحيدسره چې دا قرآن هسې پدوئې باندې بدنه لګي اوورته ناست وي خوچې كله هم پدې كښې دَتوحيد ذكرراشي اوذكردَالله تعالى وحده اوشي نودوئې بيادَدې قرآن سره نفرت شروع كړي ځكه چې دَوئ داخوښوي چې دَالله تعالى دَذكرسره زمونږ دَالهه اومعبودان باطله ذكرهم وي، ﴿نُفُورٗا﴾ دامفعول مطلق دې دَ﴿وَلَّوۡاْ﴾ لپاره اومفعول مطلق من غيرلفظه اومن غيربابه په مذهب دَسيبويه باندې جائزدې چې كله دواړه متحدالمعنى يامتقارب المعنى وي ﴿نَّحۡنُ أَعۡلَمُ﴾پدې كښې زجردې په استهزاء دَرسول سره څني مشركينو به دَحضورﷺ نه قرآن اوريدلو اوهغې ته به ئې غوږكيخودلو خوداوريدلومقصدبه ئې فائده اخستل مقصود نه وو بلكه استهزا اواعتراض به ئې مقصد وو خوچې كله به ورته دَحضورﷺ په خبروكښې اوپه قرآن مجيدكښې څه قسم اعتراض موقعه ميلاؤنشوه نوبيابه ئې خپل مينځ كښې مشوره اوكړه چې دا(حضورﷺ) مسحوردې اودَسحردَوجې نه(العياذبالله) دَده دماغ خراب شويدې نوځكه دې داسې خبرې كوي،نو الله تعالى اوفرمائيل چې مونږ ته علم دې چې داظالمان دَڅه مقصدلپاره دي قرآن ته اودَحضورﷺ خبروته غوږ كيدي اودَهغې بدله به ورته ميلاويږي ﴿إِذۡ يَسۡتَمِعُونَ﴾ظرف دې دَ ﴿أَعۡلَمُ﴾لپاره اى اعلم وقت استماعهم بمابه يستمعون(كشاف) اومراد پدې اخبارسره تاكيددې په

وعيد کښې اومرادتنه تقييددعلم دالله ﷻ په دغه وقت پورې ندې ﴿إِذۡ يَقُولُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴾بدل دې د ﴿وَإِذۡ هُمۡ نَجۡوَىٰٓ ﴾نه اووضع داسم ظاهرپه ځائ دمضمر باندې اشاره ده چې داجرګې ددوی دظلم په وجه دې،﴿إِن تَتَّبِعُونَ ﴾ان نافيه دې اوداکلام مبنی دې په فرض اوتقديرباندې يعنی انكم ان تبعتموه فقداتبعتم رجلا مسحورا(کبير) ځکه چې پدغه وقت کښې مخاطبين ددې قول والا ايمان نو راوړې اومراد د﴿مَّسۡحُورًا﴾ نه دادې چې په هغه جادوکړې شوې دې اودماغ ئې خراب شوې دې اويا﴿مَّسۡحُورًا﴾په معنی دساحرسره دې ځکه چې مفعول کله په معنی دفاعل سره راځي نومقصد دادې چې داپيغمبر ﷺ ساحردې اودده په کلام کښې دسحرتاثيردې اويا﴿مَّسۡحُورًا﴾ په معنی دمخدوع دهوکه کړې شوې سره دې اويامسحور دسَحۡر(په فتح دسين سره) نه دې چې خوراك اوڅښاك ته محتاج وي نومقصد دادې چې دې ستاسو پشانتې يوبشردې خوراك اوڅښاك کوي.

تنبيه: دلفظ مسحورنه کوم مطلب کفارو مرادکولودهغې دنفي نه دانده لازمه چې په حضور ﷺ باندې دسحرعارضي طورپراثرنه کولو،اوداآيت مکي دې اوپه حضور ﷺ باندې په مدينه منوره کښې جادو اوسحرکړې شوې وو چې دهغې اثرات عارضي طورحضور ﷺ باندې څه وخت لپاره ظاهرشوې وو چې دامورِدنيوي کښې به ورته کله کله ذهول کيدلو چې داواقعه په صحيحواحاديثو کښې ذکرده، نولهذا دآيت اودحديث په مينځ کښې څه تعارض نيشته دې،پوره تفصيل به ئې انشاء الله په معوذتين کښې راشي.

انۡظُرۡ كَيۡفَ ضَرَبُوۡا لَكَ الۡاَمۡثَالَ فَضَلُّوۡا فَلَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ سَبِيۡلًا ﴿۴۸﴾
اوګوره ته چې څرنګې بيانه وي دوئ په تاپورې مثالونه بد پس ګمراه شول دوئ پس طاقت نه لري دوئی دسمې لارې
وَقَالُوۡۤا ءَاِذَا كُنَّا عِظَامًا وَّرُفَاتًا ءَاِنَّا لَمَبۡعُوۡثُوۡنَ خَلۡقًا جَدِيۡدًا ﴿۴۹﴾
[1]اووائی دوئ آياچې کله شومونږه هډوکی اوذرې ذرې نوآيامونږه به دوباره ژوندي کړې شوپه پيدائش نوی سره

(1) شکوی

قُلْ	كُونُوا	حِجَارَةً	أَوْ	حَدِيدًا	٥٠ أَوْ	خَلْقًا	مِّمَّا يَكْبُرُ

[2] ته ورته اوايه چې شئ تاسو کانړي اويا اوسپنه. اويا بل مخلوق دهغې نه چې لوئ وي

فِي	صُدُورِكُمْ	فَسَيَقُولُونَ	مَن	يُعِيدُنَا	قُلِ

ستاسو په سينو (زړونو) کښې. پس قريبه ده چې دوئ به اوائی څوك به دوباره پيدا کړي مونږه ته ورته اوايه

الَّذِي	فَطَرَكُمْ	أَوَّلَ	مَرَّةٍ	فَسَيُنْغِضُونَ	إِلَيْكَ	رُءُوسَهُمْ

چې هغه ذات به مو پيدا کړي چې پيدا کړي يئ تاسو اول ځل. پس قريبه ده چې خوزوي به دوئ تا ته سرونه خپل

وَيَقُولُونَ	مَتَىٰ	هُوَ	قُلْ	عَسَىٰ	أَن	يَكُونَ	قَرِيبًا ٥١	يَوْمَ يَدْعُوكُمْ

او وبه وائی کله به وي دا وخت؟ ته اوايه چې شايد چې وي دا وخت ډير نژدي، په هغه ورځ چې اواز به درکړي تاسو ته

فَتَسْتَجِيبُونَ	بِحَمْدِهِ	وَتَظُنُّونَ

پس قبوله به کړئ تاسو دا (بلنه) چې متلبس به وئ په حمدالله ﷻ سره او ګمان به کوئ تاسو

إِن	لَّبِثْتُمْ	إِلَّا	قَلِيلًا ٥٢

چې	ندي	وخت	تيرکړي	تاسو په	دنيا کښې	مګر ډير لږ وخت

﴿انْظُرْ كَيْفَ﴾ دا زجردې کفارو ته سره دتسلي نه حضور ﷺ ته ﴿الْأَمْثَالَ﴾ مراد ددينه بيکاره صفتونه دي چې کله به ئې (العياذ بالله) حضور ﷺ ته ساحر وئيل کله کاهن، کله شاعر، کله مفتری ﴿فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا﴾ مراد د سبيلا نه ذرائع دي يعني دخپل کوشش باوجود دوئ ته داسې ذرائع نه ميلاويږي چې دوئ هغه اختيار کړي اويو نوم په تا باندې چسپان کړي اوپخپل مقصد کښې کامياب شي اوخلك ستا نه منع کړي اويا اورنه مراد لاره دهدايت ده يعني دخپلو اقوالو او په پيغمبر ﷺ پوري استهزاء کولو دوجې نه دسمي لاري نه بي لاري شول او اوس طاقت دهدايت نه

(2) جواب شکوی.

مومي، ﴿وَقَالُوٓاْ أَءِذَا ﴾شکوه ده دکفارونه اوعطف دَدي په ﴿ضَرَبُواْ﴾باندی دي اود﴿كَيۡف ﴾ ماتحت دي ای انظر کیف قالوا ااذاکنا چې پیغمبرﷺ ته کله ساحر.کله شاعر.کله مجنون.کله مفتری وئیل خوقابل دَتعجب دي خودهغې نه زیات دَتعجب خبره داده چې دوئ وائی چې دَمرګ نه پس چې کله زمونږ بدنونه خاوري شي هډوکي ریزه ریزه شي نوآیا دوباره به مونږه ژوندي کیږو،داخوبالکل ناممکنه خبره ده،دابه څرنګه کیږي؟ اوهمزه په ﴿أَءِنَّا لَمَبۡعُوثُونَ ﴾کښې استفهامي ده اواستفهام لپاره دانکاردي چې مفید دي لپاره دکمال استبعاد اواستنکارچې دوئ به دوباره ژوندي کیدل ډیربعیدکنړلو. ﴿خَلۡقًا جَدِيدًا ﴾خلقا مفعول مطلق دي من غیرلفظه دَ﴿لَمَبۡعُوثُونَ﴾ لپاره اویاحال دي دَضمیرد ﴿لَمَبۡعُوثُونَ﴾نه اوخلق په معنی دَمخلوق سره دي ای حال کوننا مخلوقین ﴿قُل كُونُواْ ﴾داجواب شکوه ده.چې خاوري نه پیداکیدل تاسوبعیدتصورکوئ حالانکه دَخاوري نه یوځلي تاسوپیداکړې شوي هم یئ بلکه دَمرګ نه پس کچري تاسوکانړی یااوسپنه یابل داسې څیزچې دَهغې نه پیداکیدل تاسوته ډیرمشکل ښکاري هغه هم جوړشئ نوالله ﷻ پدي قادر دي چې تاسودوباره دهغې څیزونونه پیداکړي،نودَ ﴿كُونُواْ ﴾نه مخکښې لفظ دَ نعم مقدردي اومراد پدي امرسره امرتکلیفی ندي بلکه امرتقدیري دي چې په معنی دَشرط سره دي ای لوکنتم حجارة اوحدیدا اوجواب شرط ئی مقدردي لمااعجزتم الله تعالی عن الاعادة اوبعض مفسرین فرمائی چې امرلپاره دَتعجیزدي لکه په فاتوا بسورة کښې چې دي

اوبعض مفسرین فرمائی چې دالفظ اګرچه امردي خومعنی ئی دَخبرده اومقصد دادي چې الله ﷻ دوئ ته خبرورکوي چه کچري تاسودکانړی یااوسپني یادَبل سخت څیزنه هم جوړشوي ونی نوبیاهم ستاسو دوباره پیداکول الله ﷻ ته مشکل نوو ﴿أَوۡ حَدِيدًا ﴾داترقي ده چې دکانړي نه خوهم یومخلوق پیداشویدي نوتاسو اوسپنه جوړشئ یعني انسان دَمرګ نه پس دغه انساني اعضاء اواجزاء په اوسپنه باندی هم بدل شي اواوسپنه تنه جوړه شي چې په هغې کښې دَحیات څه قسم اثرات هم نیشته دي بیابه هم الله ﷻ تاسودوباره پیداکړي ﴿أَوۡ خَلۡقًا ﴾په معنی دَمخلوق سره دي یعني داسې سخت مخلوق چې دهغې نه دوباره ژوندي کیدل ستاسوپه زړونوکښې

ډیر مستبعد وي لکه اسمان حتی که مجسمه دَمرګ جوړه شي نوبیابه هم الله ﷻ تاسو پیدا کړي ﴿فَسَيَقُولُونَ﴾ دا دهغوئ اعتراض نقل کیږي چې دوئ به ډیر حیرت سره سوال کوی چې مونږه ذري ذري شو یا کاڼي شو یا اوسپنه او یا بل څه مخلوق جوړ شو نو مونږ به څوک دوباره پیدا کوي نو جواب اوشو چې ﴿قُلِ ٱلَّذِى فَطَرَكُمْ﴾ یعني هغه ذات چې تاسو ئې دَعدم محض نه امکان ته او بیائې دَخاورونه وجود ته راوستئ نو دغه ذات پدي قادر دي چې دوباره هم تاسو دَدي خاورونه پیدا کړي ځکه چې اعاده اسانه وي دَانشاء او ابداع نه. ﴿فَسَيُنْغِضُونَ﴾ دا دریم سوال دې دَدوئ بطور استهزاء دوئ به تپوس کولو چې بنه دا دوباره پیدا کیدل به کله وي؟ نغض په کلام عرب کښې کته، بره حرکت ته وئیلی کیږي النغض فی کلام العرب انما هو حرکة بارتفاع ثم انخفاض او انخفاض ثم ارتفاع (طبری) نو نغض دراس مقصد دا دي چې سر بښکته کوي او بیا اوچته وي او دا عمل بار بار کوي او دا عمل به دوئ استهزاء کولو. ﴿قُلْ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ﴾ یعني دا وخت ډیر قریب دې اګرچه تعین علم ئې بغیر دَالله ﷻ نه بل چاته نیشته دې عسیٰ په کلام دَالله ﷻ کښې لپاره دَتیقن وي او دالپاره تاکید دَقربت دې چه دغه وخت ډیر قریب دې ﴿يَوْمَ يَدْعُوكُمْ﴾ دا تخویف اخروي دې او حال دَبعث بیانیږي او ﴿يَوْمَ﴾ بدل دې دَ ﴿قَرِيبًا﴾ نه او یا منصوب دې بناء پدي چې مفعول به دې دَفعل مقدر لپاره چې اذکر دي او مراد دَ ﴿يَدْعُوكُم﴾ نه یا نفخه ثانیه ده (دویمه شپیلئ) لپاره دَبعث او یا تنه مراد آوازدي لپاره دَحشر چې آوازبه او کړې شي هلموا الی عرض الرحمن او بعض فرمائی چې دَدینه مراد هغه آوازدي چې حضرت اسرافیل ﷺ به په کاڼي دَبیت المقدس او دریږي او اهل قبور ته به په یو بنکر کښې اعلان او کړي ایتها العظام البالیة واللحوم المتفرقة والعروق المتقطعة اخرجوا من قبورکم. فتستجیبون باب استفعال لپاره دَتاکید دي مراد تنه اجابت دې یعنی تاسو به موافقت کوئ دبلنه کوونکی چې کوم شی ته تاسو رابلي، او (باء) په ﴿بِحَمْدِهِۦ﴾ کښې ملابست لپاره ده ای متلبسین بحمده. او مراد دحمدنه دَالله ﷻ تسبیح او تقدیس دي مؤمنان به هم دَالله ﷻ حمد بیانه وي چې الحمدلله الذی اذهب عنا الحزن (ابن کثیر) او کافر به هم تسبیح وائی لکه چې په ځني روایاتو کښې راغلي چې کافر به دَالله ﷻ تسبیح بیانه وي او وائي به سبحنک اللهم وبحمدک (روح) څوک فرته به

داځه نفع نه ورکوي.اوعلامه زمخشري رحمة الله عليه دعا.استجابت او حمد دري واړه په مجاز باندې حمل کړي دي چې مراد دَ ﴿يَدۡعُوكُمۡ﴾نه انبعاث دې اومراد استجابت نه مطاوعت دې دانبعاث اومعنے دادې چې په کومه ورځ مونږه ستاسو دوباره پيداکيدل اوغواړو نوفورا به تاسو راپاسئ اوځه شئ به هم ستاسو لپاره مانع اورکاوټ دَ بعث نه نوي.اومراد دَ ﴿بِحَمۡدِهِۦ﴾نه مبالغه دہ په انقياد کښې، اوبعض مفسرين فرمائی چې مراد دحمد نه امر دې اوباء سببيت ده يعني تاسو به استجابت اوکړئ په سبب دَامردَالله جل جلاله سره ، ﴿إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا قَلِيلًا﴾مراد تنه يا هغه وخت دې چې کوم ئې په دنيا کښې تيرکړي وي يعني چې کله دَاخرت والا سختيو معائنه اوکړي نو دَدنيا والاعمربه ډيرکم ښکاره شي اويا تنه مراد هغه وخت دې چې کوم ئې په قبرکښې تيرکړي وي چې داخرت عذاب اوسختيو دَوجې نه دَقبر عذاب اوزندګی به ورته کمه محسوسه شي اى مالبثتم فى القبور الاقليلا(روح) اودَحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه منقول دي چې دَدينه مراد هغه وخت دې چې مابين النفختين وي ځکه پدغه وخت کښې به پدوئ باندې عذاب نوي اوچې کله نفخه ثانيه اووهلې شي اوقبرونونه راپاسي نوداوخت به ورته ډيرکم محسوس شي اودابه اووائی چې ياويلنا من بعثنامن مرقدنا.

وَقُلۡ لِّعِبَادِيۡ يَقُوۡلُوا الَّتِيۡ هِيَ اَحۡسَنُ ؕ اِنَّ الشَّيۡطٰنَ يَنۡزَغُ بَيۡنَهُمۡ
[1] او اوايه بندګانو خماته چې کوی دې دوئ هغه خبره چې هغه خائسته ده، بيشکه شيطان فساد اچوي په مينځ ددوئ کښې
اِنَّ الشَّيۡطٰنَ كَانَ لِلۡاِنۡسَانِ عَدُوًّا مُّبِيۡنًا ۞ رَبُّكُمۡ اَعۡلَمُ بِكُمۡ ؕ اِنۡ يَّشَاۡ
بيشکه شيطان دې لپاره دانسان دشمن ښکاره،رب دستاسو ښه پوهه دې په حال دستاسو باندې که اوغوړي
يَرۡحَمۡكُمۡ اَوۡ اِنۡ يَّشَاۡ يُعَذِّبۡكُمۡ ؕ وَمَاۤ اَرۡسَلۡنٰكَ عَلَيۡهِمۡ
نورحم به اوکړې په تاسو باندې اوکه اوغواړي نوعذاب به درکړي تاسوته ،اونه ئې ليږلي مونږه ته په دوئ باندې

(1) طريقه تبليغ

وَكِيلًا ۝

نګران (ذمه وار)

﴿وَقُل لِّعِبَادِى﴾ په دې آيتونو کښې طريقه دَدعوت او تعليم بيانيږي چې دهغې ذکر په سورة النحل ايت نمبر (۱۲۵) ادع الى سبيل ربك کښې شوې وو، يعني په وخت دَ دعوت کښې نرمي کوئ کچرې يو جاهل ستاسو مذاق او تمسخر کوي نو تاسو ورسره سختي مه کوئ او مراد ﴿لِّعِبَادِى﴾ نه مؤمنان دي ځکه چې اکثر په ايات قرآنيه کښې دَ (عباد) نه مراد مؤمنين دي لکه په سورة الزمر ايت نمبر (۱۷) فبشر عباد او سورة الفجر ايت نمبر (۲۹) فادخلی فی عبادی او سورة الدهر ايت نمبر (۲) عينا يشرب بها عباد الله وغير ذلك، او مراد پدې توجيه سره دَ ﴿الَّتِى هِىَ أَحْسَنُ﴾ نه مراد نرمه او مدلله خبره ده او قرطبي فرمائي چې پدې ايت کښې خطاب مؤمنانو ته دې او هدايت بيانيږي چې په خپل مينځ کښې په وخت د اختلاف کښې سختي خبري مه کوئ بلکه نرمئ سره خبري کوئ دَسختو خبرو په وجې سره شيطان ستاسو په مينځ کښې اختلاف پيدا کوي.

﴿إِنَّ الشَّيْطَٰنَ يَنزَغُ﴾ نزع وئيلی کيږي الاغراء بالفساد ته يعنی چې شيطان ستاسو په مينځ کښې فساد پيدا نکړي، دَدې لپاره تاسو په دعوت کښې نرمي کوئ.

فائده: دا ممانعت دَهغه سختئ نه دې چې هغه بې ضرورته او بې محله وي او په وخت دَضرورت او قتال کښې سختی کول ضروري دې.

﴿رَّبُّكُمْ أَعْلَمُ﴾ ددينه مخکښې لفظ دقولوا هم مقدر دي او دا خطاب مشرکينو ته دې په واسطه دَمؤمنانو سره، او دا تفسير دي دَ ﴿هِىَ أَحْسَنُ﴾، او ﴿إِنَّ الشَّيْطَٰنَ﴾ دا دوه جملې په مينځ کښې بطور معترضي راغلي وي، او مراد په ﴿يَرْحَمْكُمْ﴾ سره توفيق دَ ايمان دې يعني تاسو دوئ ته نرمه خبره کوئ چې هغه داده چې تاسو دوئ ته داسې وائي چې ستاسو رب ښه عالم دې په تاسو باندې او هدايت دَهغه په اختيار کښې دې که خوښه شي نو تاسو ته به توفيق دَهدايت او ايمان به درکړي يا به عذاب درکړي چې کله تاسو په شرک باندې مړه شئ او دوئ ته صراحتاً جهنمي يا نور سخت قسم الفاظ مه استعماله وئ، او يا خطاب مؤمنانو ته دې په طريقې دَالتفات سره لکه ماقبل کښې

خطاب مؤمنانو ته وو. اومراد په ﴿يَرْحَمْكُمْ﴾ سره نجات دي د كفارمكه نه او ﴿يُعَذِّبْكُمْ﴾ نه مراد
تسلط دې دهغوئ يعني كچري تاسو دعوت اوتبليغ كوئ پدغه طريقي مذكوري سره نو الله ﷻ به
په تاسو باندى رحم اوكړي چې دَدشمنانو نه به تاسو ته نجات دركړي. اوپه ترك دَدعوت سره به
تاسو ته سزا دركړي په تسلط دَدشمن سره.

وَرَبُّكَ	اَعْلَمُ	بِمَنْ	فِي	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ ؕ	وَلَقَدْ
[1]اورب ستاښه پوهه دې په هغه چاچې په اسمانونوكښ دي اوپه زمكه كښ دى اوخامخا نه تحقيق سره						
فَضَّلْنَا	بَعْضَ	النَّبِيّٖنَ	عَلٰى	بَعْضٍ	وَّاٰتَيْنَا	دَاوٗدَ	زَبُوْرًا ﴿۵۵﴾
غوره والي وركړيدې مونږه ځنى پيغمبرانوته په ځنوباندى اووركړې وومونږه داؤد عليه السلام ته زبوركتاب							

﴿وَرَبُّكَ اَعْلَمُ﴾ داځلورم دليل عقلي دې په توحيدباندى چې علم محيط په ټولو څيزونو باندى
الله ﷻ لره ثابت دي اوستاسوپه احوال ظاهره اوباطنه باندى خبرداردې نوچاته اوغواړي
پيغمبرئى جوړكړي دادهغه خپل حكمت دې. ﴿وَلَقَدْ فَضَّلْنَا﴾ ځني انبياؤته موفضيلت كلي
ياجزئى په ځني نورو انبياؤ باندى وركړيدې داهم دَالله ﷻ دَعلم محيط اوحكمت بالغه په وجه
سره دې او اختلاف په مراتبودَانبياء كښ شته دې تفصيل ئى په سورة البقرة ايت نمبر(۲۵۳) كښ
تيرشويدې. ﴿وَاٰتَيْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا﴾ يعني داؤد عليه السلام ته ئى زبور وركړې وو نوحضور ﷺ ته قرآن
وركول څه بعيده خبره نده. اوتخصيص دَحضرت داؤد عليه السلام كښ مختلف توجيهات دي غوره
توجيه داده چې كفاروبه داوئيل چې لولا نزل هذا القران على رجل من القريتين عظيم، نوپدې ايت
كښ اشاره اوشوله چې عظمت اوفضيلت عندالله مال اوبادشاهئ دَوجې نه ندې حضرت داود عليه السلام
ته الله ﷻ بادشاهي هم وركړي وه اوزبوركتاب هم، خوفضيلت دهغه په كتاب سره وو، نه دَدنيا په
بادشاهى سره. اوبعض علماء فرمائى چې پدې تخصيص كښ دَحضور ﷺ فضيلت كلي ته

(1) دليل عقلى چهارم برتوحيد.

اودَامت محمدیهﷺ فضل اوشرف ته اشاره ده څکه چې په زبورکښ دَحضورﷺ خاتم النبیین کیدل اودَ حضورﷺ دَامت فضل اوشرف ذکروولکه اللهﷻ فرمائی ولقدکتبنا فی الزبور من بعدالذکر ان الارض یرثها عبادی الصالحون (انبیاء ۱۰۵) ،اوبعض علماء فرمائی چې په دې تخصیص کښ حضورﷺ ته دَغلبې اوریاست بشارت دې، اوحضرت مولاناعثمانیؒ فرمائی چې وجه دَتخصیص داده چې حضرت داودؑ به جهاد هم کولو اودزبور تعلیم به نې هم ورکولو .نوهغه دوه خیزونه دلته هم دي قرآن اوجهاد ،قرطبی فرمائی چې په زبورکښ احکامات دحل اوحرمت نوو بلکه په هغې کښ اذکار،تسبیحات اومواعظ وو، نوممکنه ده چې دَ جهاد حکم اللهﷻ په زبورکښ نوي ذکرکړې بلکه مستقلا ذکرشوې وی اوپه حدیث کښ ذکردې چې کان لایفر اذالاقی.

قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ فَلَا يَمْلِكُوْنَ
[1]اوایه ته راوبلئ هغه بتان چې گمان پرې کوئ تاسو (دخدائ سره دشریکانو) سیوا داللهﷻ نه، پس اختیار نه لري هغوئ
كَشْفَ الضُّرِّ عَنْكُمْ وَلَا تَحْوِيْلًا ۝ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ
دلري کولو دتکلیف ستاسونه اونه دکمولویامنتقل کولوبل چاته.هغه معبودان چې دوئ(مشرکین)بلنه کوی(دهغوئ
يَبْتَغُوْنَ اِلٰى رَبِّهِمُ الْوَسِيْلَةَ اَيُّهُمْ اَقْرَبُ وَيَرْجُوْنَ رَحْمَتَهٗ
تالاش کوی هغوئ رب خیل ته نزدیکت چې کوم یوددوئ نه زیات نزدې دې(اللهﷻ ته) اوامید لری دوئ درحمت دهغه
وَيَخَافُوْنَ عَذَابَهٗ ؕ اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُوْرًا ۝ وَاِنْ مِّنْ قَرْيَةٍ اِلَّا نَحْنُ
اویریږي دعذاب دهغه نه بیشکه عذاب درب ستادې چې یره تنه کیدې شي،اونیشته هیڅ یوکلې مګرمونږ
مُهْلِكُوْهَا قَبْلَ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ اَوْ مُعَذِّبُوْهَا عَذَابًا شَدِيْدًا ؕ كَانَ ذٰلِكَ
هلاک کوونکی یودهغې مخکښ دورځې دقیامت نه یاعذاب ورکوونکی یوهغې ته عذاب سخت. ده دافیصله

[1] ثمره مقصودی برای دلائل ثلاثه.

فِي ٱلۡكِتَٰبِ مَسۡطُورٗا ﴿٥٨﴾

په لوح محفوظ کښې ليکلې شوې

﴿قُلِ ٱدۡعُواْ ٱلَّذِينَ﴾ دا دليل نقلي پيش کيږي په توحيد باندې دَملائکو اوانبياء سابقينو نه، چې دکومو انبياء کرامو يادملائکو يادَ نورو اولياؤ تاسو عبادت کوئ اوخپل کارسازۍ اوحاجت روائي کنړئ نو هغوئ تاسو ته هيڅ قسم فائده نشي رسولې اوضرر درنه نشي دفع کولې بلکه هغوئ په خپله الله ﷻ نه لارې اوذرائع دَقربت تلاش کوي اود الله ﷻ درحمت اميد اوعذاب نه ئې خوف لري، اوپدې کښې رد په شرک فی الدعا اوشرک فی التصرف باندې هم دې اوشان نزول دَدې ايت په حديث دَبخاري کښې چې روايت دې دَابن مسعود ﷜ نه داسې ذکرشويدې چې مشرکينو کښې ځنې خلکو دَپيريانو عبادت کولو اوهغه پيريان مسلمانان شوځو دغه مشرکينو دَهغوئ عبادت نه پريخودلو، نو دا ايت نازل شو، ﴿زَعَمۡتُم﴾ زعم دوه مفعولينو ته متعدي کيږي اودلته کښې دواړه مقدردي، اصل کښې داسې دې زعمتموهم شرکاء او﴿مِّن دُونِهِۦ﴾ کښې من بيانيه دې اودابيان دَ﴿ٱلَّذِينَ﴾ نه لپاره دې اوامرلپاره دَتهديد اوزجردې، قرطبي اوصاحب دَمدارك اوصاحب دَبحر وغيره ټول فرمائي چې پدې ايت کښې حضرت عيسى ﷺ، عزير ﷺ اوملائك وغيره چې عبادت شوي وي هغه داخل دي نودغه شانتې هغه اولياء الله هم پدې کښې داخل دي چې دهغوئ عبادت کيږي ژوندي وي اوکه مړه وي، ﴿كَشۡفَ ٱلضُّرِّ﴾ کشف دضرر عبارت دې دَدېنه چې تکليف بالکلية ختم کړې شي اوهيڅ ځيزهم پاتې نشي اوتحويل عبارت دې بدلولو دَيوحالت نه بل حالت اويادَيومکان نه بل مکان ته، مقصد دادې چې تاسوچې دَچاعبادت کوئ نوهغوئ کښې څوك هم دومره اختيارنه لري چې ستاسو نه تکليف بالکلية ختم کړي، يائې کم کړي اويائې بل چاته منتقل کړي ﴿أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ﴾ دا علت دې دَماقبل ايت لپاره چې هغوئ ستاسو نه ضرر لرې کولو باندې څکه ندي قادرچې هغوئ په خپله الله ﷻ ته تقرب لپاره لارې تلاش کوي اودالله ﷻ رحمت طلب کوي اودهغه دَعذاب نه يريږي ﴿إِلَىٰ رَبِّهِمُ ٱلۡوَسِيلَةَ﴾ اسم اشاره مبتدا ده

الذين يدعون بدل دي دَاسم اشاري نه اوعائد پکښې محذوف دې يعني يدعونهم اويبتغون ويرجون ويخافون معطوف عليه سره دَمعطوفاتو خبردي دَ مبتداء لپاره. اوالی ربهم الوسيلة نه مراد تقرب دي الله ﷻ ته په طاعاتو اوعبادت سره اويا الی په معنی دَمن سره دي اووسيله په معنی دَحاجت سره دې لکه داتفسيرمنقول دي دَابن عباس رضي الله عنه نه نومعنی ئی داده چې دوئ خپل حاجتونه دَالله ﷻ نه پوره کوي اوالله ﷻ ته سوال کوي ای يبتغون من ربهم الحاجات، ﴿أَيُّهُمْ أَقْرَبُ﴾ دابدل البعض دي دَضميردَ ﴿يَبْتَغُونَ﴾ نه او ایّ په شپږو معانيو کښې استعماليږي(۱) کله شرطيه وي لکه ايّاماتدعو فله الاسماء الحسنى(۲) کله استفهاميه وي لکه ايّکم زادته ايمانا(۳) کله موصوله وي لکه ايّهم اشد على الرحمن (۴) کله لپاره دَتعجب وي لکه سبحان الله ای رجل هذا(۵) کله متصله دَنداء سره راځي لکه ياايها الرجل (۲) کله لپاره دَدلالت په کمال باندی راځي لکه زيد رجل ای رجل،نودلته يااستفهاميه ده نومعنی به ئی داشي چې څوك په هغوئ کښې اقرب دي الله ﷻ ته؟ اويا موصوله ده نومعنې به ئی داشي چې په هغوکښې کوم کس زيات اقرب الی الله ﷻ دي هغه هومره زيات تقرب طلب کوي، ﴿مَحْذُورًا﴾ يعنی لائق دَدي چې هرڅوك تنه ځان بچ کړي اوويريږي تنه.

تنبيه: مسئله توسل په تفصيل سره په سورة المائدة کښې ذکرشويده من شاء فليطالع فانه بحث انيق وتحقيق غريب، ﴿وَإِن مِّن﴾ داتخويف دنيوی دې اوماقبل ايت کښې چې دکوم عذاب نه دَځان بچ کولو حکم وو نوپدې آيت کښې دَهغې دَوقوع خبرورکولې کيږي چې دافيصله حتمي اولوح محفوظ کښې ليکلې شويده چې دَقيامت نه مخکښې مخکښې به په هرقريې باندی هلاکت اوياعذاب راځي اومشرکينوته به خپل معبودان باطله هيڅ قسم نجات ورنکړي اوڅه مددبه ئی اونکړي اوان نافيه دي اومن زائده دې اودَقرية نه مراد ياهرګناه ګاره قريه ده اودآيت مقصد دادي چې دَقيامت نه مخکښې به هره ګناهګاره قريه به دَخپل ګناهونودَوجي نه به يابالکلية هلاك شي کچري ګناهونه ئی سخت قسم وو اويابه په نورو انواعو دعذاب کښې مبتلاشي لکه قحط شوه،بدامني شوه وغيره کچري ګناهونه ئی دَانتهائی لوئی درجي والانه وو. اويامراد دَقرئي نه قرية ظالمة ده چې دَمشرکينو والاقريي دې اومقصد دَايت دادې چې دَمشرکينو اودَظالمانو والاقريه به دَقيامت نه مخکښې مخکښې هلاك کړوپه هلاکت استئصال سره اويابه ئی په نورو عذابونوکښې مبتلا کړو لکه شکست اوغلامی جزيه وغيره شوا يامراد دَقريتونه عامه قريه ده

لكه چې دَاتقاضا دَعموم دَايت اودَمن زائده هم ده،نودايت مقصد دادي چې دَدنياهره قريه به دَقيامت نه مخكښې مخكښې ختميږي،يابه په خپل طبعي موت سره چې هغه به دَتعذيب نه خالي وي كچري مؤمنان وو اوسيدونكې دَهغې اوياپه سخت قسم عذاب سره كچري اهل دهغې مشركين اوكفاروو نودَ﴿مُهْلِكُوهَا﴾ نه مراد طبعي موت دې اوپه طبعي موت باندى اطلاق دَهلاكت په قرآن اوحديث دواړو كښې شويدي لكه حتى اذا هلك قلتم اوپه حديث كښې دي كلما هلك نبي (الحديث)داتوجيه زياته غوره ده، ﴿كَانَ ذَٰلِكَ﴾يعنى دافيصله لوح محفوظ كښې ليكلې شويده اودَدنيا هيڅ قسم طاقت اواسباب دافيصله نشي بدله ولې،حضرت شاه عبدالقادر رحمه الله دَدې ايت مقصد داسي بيانه وي چې دَهرشهرخلك ديوبزرگ عبادت كوي چې مونږ دَده رعيت يو اودَده په پناه كښې يوخوچې كله وخت دَعذاب راشي نوبيابه هغه ورته پناه ورنكړي.

وَمَا مَنَعَنَآ اَنْ نُّرْسِلَ بِالْاٰيٰتِ اِلَّآ اَنْ كَذَّبَ بِهَا الْاَوَّلُوْنَ ۗ وَاٰتَيْنَا
[1]اونه يومنع كړې مونږه دليږلودفرمائشي معجزاتونه مگرداچې نسبت ددروغوكړې وودېته مخكنوخلكو.اوورکړې وه مونږه
ثَمُوْدَ النَّاقَةَ مُبْصِرَةً فَظَلَمُوْا بِهَا ۗ وَمَا نُرْسِلُ بِالْاٰيٰتِ اِلَّا تَخْوِيْفًا ﴿۵۹﴾
ثمودیانوته اوښه معجزه ښكاره پس ظلم اوكړو هغوئ پدې باندى اونه ليږومونږه معجزې مگرلپاره ديرولو

﴿وَمَا مَنَعَنَآ﴾دادريم ايت معجزه دې اوپديكښې دويم سبب دَنزول عذاب ذكركيږي چې هغه انكاردې دَمعجزاتونه اوكفاروبه باربار فرمائشي معجزات طلب كول لكه صفا،مروه دَسروزرو غرونه جوړيدل،يادَمكي نه غرونه ختمول اودَمكي زمكه دَزراعت قابله جوړول وغيره نو الله ﷻ پدې ايت كښې دَدغې متعلق ارشاد فرمائى چې داسې معجزاتو مطالبه پوره كول ستاسو په حق كښې ښه ندې ځكه چې كله هم دَيوقوم فرمائشي معجزه پوره كړې شي اوهغوئ بياايمان رانوړي نوپه هغوئ باندى عذاب راځي اوبالكليه هغه قوم هلاك كيږي لكه مخكني قومونو سره داسې شويدي لكه قوم ثمود ته دهغوئ دَفرمائش معجزه وركړې شوي وه چې ناقه وه بيائى هم

---

[1] سوم ايت معجزه.

نکار وکړونو الله ﷻ عذاب پرې راوستونو او بالکلیه هلاک شو او ما په ﴿وَمَا مَنَعَنَآ﴾ کښې نا نفیه ده
ونا ضمیر مفعول دمنع لپاره دي او ﴿أَن نُّرْسِلَ﴾ ورله مفعول ثاني دي او ﴿إِلَّآ أَن كَذَّبَ بِهَا
ٱلْأَوَّلُونَ﴾ جمله په تاویل دمصدر سره فاعل دمنع دي تقدیر دعبارت دادي چې ومامنعنا ارسال الآیات
لا تکذیب الاولین (کشاف) او نسبت وقوعی دمنع الله ﷻ خپل خان ته کول مجازا او استعارة دي نه
حقیقة خکه چې منع وئیلی کیږي کف الغیر وقسره عن فعل یرید ان یفعله یعنی بندول
دغیر او مجبوره کول دغیر دهغه فعل نه چې هغه دهغې دکولو اراده کړې وي (روح) او دا معنی
محاله ده په الله ﷻ کښې نو ددې وجه نه دا استعاره ده دترک الارسال دمعجزاتو مطلوبه نه. دوجې
دتاخیر دحکمت نه دچه هغه عذاب مؤخر کول دي نو دآیت مقصد دادي چې مونږه هغه معجزات
چې تاسو ئې طلب کوئ او فرمائش ئې کوئ نو هغه مونږه پریخودلی دي دوجې دحکمت نه چې
هغه تاخیر دعذاب دي (روح) ﴿وَءَاتَيْنَا﴾ دا یو فرد او یوه نمونه د اولون ذکر کیږي چې هغه ثمودیان دي
چې دحضرت صالح ﷺ نه ئې فرمائشي معجزه طلب کړه چې دیو کانړي نه دلسو میاشتو بلاربه
اوښه راوباسه نو الله ﷻ ددوئ دغه مطالبه پوره کړه خو چې بیائې هم انکار او کړو نو الله ﷻ
بالکلیه هلاک کړل او واو لپاره دعطف دي او دا جمله عطف ده دماقبل کلام په فحوی باندې
نو معطوف علیه ددې مذکور دي معنی چې په هغې باندې ماقبل کلام دلالت کوي چې هغه دکفارو
اوښو فرمائشي معجزات طلب کول او بیا دهغې نه تکذیب کول دي (روح) او تخصیص په
استشهاد سره دقوم صالح خکه او شو چې ددوئ دهلاکت اثار او امثال دیر قریب وو قریش مکه ته
او هر تلونکي راتلونکي به کتلو (فتح. کشاف) او خني محققینو یوه نکته ذکر کړیده دتخصیص
دناقې لپاره چې فرمائي چې مراد پدې ایتونو سره اثبات دقدرت دي په اعادې باندې پس دمرګ
نه خکه چې کفارو به داوئیل چې ااذا کنا ترابا وعظاما ورفاتا اانا لمبعوثون خلقا جدیدا. نو دهغې په
جواب کښې الله ﷻ او فرمائیل چې ﴿كُونُواْ حِجَارَةً أَوْ حَدِيدًا﴾ نو بیا پدې باندې دوه امرین مرتب
کړل په طریقې دلف نشر غیر مرتب سره. نو په ذکر دداؤد ﷺ سره اشاره ده اثبات دقدرت ته په
حدید باندې او په ذکر دناقې دحضرت صالح ﷺ کښې اشاره ده په قدرت باندې حجارة ته

﴿مُبۡصِرَةً ﴾داحال دي ﴿ٱلنَّاقَةَ﴾نه په اعتبارد موصوف مقدره سره چې اية دي او ﴿مُبۡصِرَةً ﴾ په
معنی دمضينة سره دي لکه والنهار مبصرا شو اويا په معنى د ذات ابصاراوبصيرة سره دي ﴿فَظَلَمُواْ بِهَا
﴾ مرادترينه انكار اوتكذيب اوكفراوقتل داوبني دي ﴿وَمَا نُرۡسِلُ﴾مراد په﴿بِٱلۡأٓيَٰتِ ﴾ سره
يافرمائشي معجزات دي نود ﴿إِلَّا تَخۡوِيفٗا ﴾نه مراد بيانزول دعذاب عاجله دي نومقصد دادي چې
دغه فرمائشي معجزاتو سره هم دوئ دالله ﷻ نه ،نه اويريږي او ايمان رانه وړي نوبيا په دنيا کښې
پري عذاب راځي،اوکچري مراد په بالايات سره معجزات غيرمطلوبه شي نوبيا مراد د ﴿إِلَّا تَخۡوِيفٗا
﴾ نه عذاب اخرت دي نومقصد دايت دادي چې کوم معجزات چې مونږ ظاهره وو لکه ايات
قرانيه شوو غيره دعذاب اخرت نه د يريدو لپاره دي(کشاف).

وَإِذۡ	قُلۡنَا	لَكَ	إِنَّ	رَبَّكَ	أَحَاطَ	بِٱلنَّاسِۚ

(او يادکړه هغه وخت) چې کله اوئيل مونږ تاته چې بيشکه رب ستا هغه گيره اچولي ده په خلقو (په قدرت سره)

وَمَا	جَعَلۡنَا	ٱلرُّءۡيَا	ٱلَّتِيٓ	أَرَيۡنَٰكَ	إِلَّا	فِتۡنَةٗ	لِّلنَّاسِ	وَٱلشَّجَرَةَ	ٱلۡمَلۡعُونَةَ

اوندي گرځولې مونږ هغه ليدل چې خودلي دي مونږ تاته مگرازمائش لپاره دخلکو او (دغه شان هغه ونه چې لعنت کړ شوې ده)

فِي	ٱلۡقُرۡءَانِۚ	وَنُخَوِّفُهُمۡ	فَمَا	يَزِيدُهُمۡ	إِلَّا	طُغۡيَٰنٗا	كَبِيرٗا ٦٠

په قرآن کښې اويره وومونږ دوئ لره پس نه زياتوي دوئ لره مگرسرکشي لويه

﴿وَإِذۡ قُلۡنَا لَكَ ﴾هرکله چې په مخکښني ايت کښې دکفارو فرمائشي معجزي نه پوره کولو سبب
بيان شو نو اوس پدي ايت کښې دهغوئ طعن اوتشنيع باندې حضور ﷺ ته تسلي ورکولې کيږي
چې دوئ طعن شروع کړو چې داځرنگه پيغمبردې چې مونږ ته يوه فرمائشي معجزه نشي راوړې؟
نو الله ﷻ فرمائي چې دټولو مخلوقاتو حالات که ظاهري دي ياباطني الله ﷻ په هغې باندې په
اعتبارد علم او قدرت سره احاطه کړيده کچري د دوئ مطالبه پوره هم کړې شي بيا هم دوئ ايمان نه

راوړي بيابه هم دوئ استهزاء کوي. اودوه ايات بطورمثال الله ﷻ ښائي چې يوه واقعه معراج چې څومره عظيمه معجزه وه اودوئ استهزاء ورپورې شروع کړه او دويم شجره ملعونه چې هغه په جهنم کښې ده نوپه هغې پورې هم استهزاء کوی اودغه شانتې الله ﷻ تيزی ورکوي پيغمبر ﷺ ته په دعوت کښې چې دَدوئ خبروته التفات مه کوه خپل دعوت اوتبليغ کوه اوالله ﷻ په اعتبار دَقدرت سره په هرڅا احاطه کړيده نوستا حفاظت به هم الله ﷻ کوي. ﴿وَإِذْ قُلْنَا﴾ظرف زمان دې دَفعل مقدرلپاره چې اذکر دې ﴿أَحَاطَ بِٱلنَّاسِ﴾مراد تنه يااحاطه په اعتباردَعلم سره ده چې الله ﷻ ته علم دې چې څوك ايمان راوړي اوڅوك نه راوړي اويا احاطه په اعتباردَقدرت سره ده چې داخلك ټول دالله ﷻ په قدرت کښې دي،نودَالله ﷻ دَارادي نه بغيردوئ په هيڅ څيزباندی قادرندي اوتاته هيڅ قسم تکليف نشي درکولې،ستاحافظ اوناصرالله ﷻ دې،ددې دواړو توجيه په اعتبار الف لام په الناس کښې لپاره دَاستغراق حقيقي دې اوټول انسانان تنه مراد دي اوياعهدي دې اومراد تنه قريش مکه دي اومراد داحاطې نه اهلاك دهغوئ دې نودَايت مقصد بيادادې چې واقعه معراج دوئ اوکتله اودهغې باوجود ئې ايمان رانوړو نواوس دَدوئ دَهلاکت وخت قريب راغليدې اوبدرکښې الله ﷻ خپله وعده پوره کړه(قرطبي) اوپه صيغې دَماضي سره ذکرکول لپاره دَتحقق الوقوع دي.

﴿وَمَا جَعَلْنَا ٱلرُّءْيَا﴾دا اول ايت بطورمثال بيانيږي چې دوئ دَفرمائشي معجزو په پيش کيدلو سره هم ايمان نه راوړئ لکه څنګه چې دوئ تکذيب اوکړو دَعظيم معجزي دَمعراج نه اووجه داده چې معجزي اوايات ټول خلاف عادت کيدلو کښې مشترك دي اودَانازليږی دَجانبه دَالله ﷻ نه لپاره دَتصديق دَرسالت. نوتکذيب دَبعضو معجزاتو مستلزم دې تکذيب لره دکل معجزاتو (ابی سعود) اودَغوره قول مطابق مراد د ﴿ٱلرُّءْيَا﴾نه رؤيت بصري يعني په سترګو سره ليدل دي په شپه دَمعراج کښې دا قول منقول دې دَابن عباس ﷺ نه نقل کړيدې امام بخاري. تفصيل ئې په ابتداء ددې سورت کښې ذکرشويدې. ﴿إِلَّا فِتْنَةً﴾کفارو داواقعه بعيده اوخلاف عقل ئې اوکڼله نوانکارئې اوکړو .حتی که بعض نوي مسلمانانو قدمونه هم اوخويځيدل، اومخلص مسلمانانو تصديق اوکړو .ايمان کښې ورته ترقي اوشوه دا واضح دليل دې چې معراج په جسد عنصري سره په حالت ديقظت يعني په ويخه باندی وو . کچري په ويخه باندی نوې بلکه دَخوب ليدل وې اوروحاني وې

نو په هغې سره امتحان نه کيږي. ﴿وَٱلشَّجَرَةَ ٱلۡمَلۡعُونَةَ﴾ دا دويم مثال بيانيږي او دا عطف دې په ما قبل ﴿ٱلرُّءۡيَا ٱلَّتِيٓ﴾ باندې او په ايت کښې تقديم او تاخير دې اى ماجعلنا الرؤيا التى اريناك والشجرة الملعونة فى القرآن الافتنة للناس(قرطبی) چې هر کله الله ﷻ دوئ ته خبرورکړو دَوني دَ زقوم نه چې دا په جهنم کښې دِه او د کافرانو خوراك به وي نو دوئ استهزاء شروع کړه او دائې اووئيل چې په جهنم کښې څرنګه ونه زرغونيږي حالانکه دغه اور به په کانړو بليږي، نو دا هم فتنة او امتحان دَ خلکو لپاره وو. کفارو خلاف عقل او کنړلو او انکارئې تنه او کړو، او مسلمانانو ئې تصديق او کړو، او مراد دَ دې شجرة نه شجر دَ زقوم ده او ديته ملعونه وئيل يا مجازا دې په اعتبار دَ آکلين سره چې خوړونکې دَ دې ملعونين فى القرآن دي، چې هغه کفار دي چې اصل کښې حقيقة لعنت په قرآن کښې په هغوئ وئيلې شوې دې او ونې دزقوم نه څه ګناه ندې شوې چې په هغې باندې لعنت اوئيلې شي، او يا ملعون په معنى دَ ضار سره دې يعني تکليف رسونکې او عرب هر تکليف رسونکې خوراك ته ملعون وائي. نو مطلب دَ ايت دا شو چې دهغې ونې تکليف رسول جهنميانو ته ذکر دې په قرآن کښې(کبير)، او يا ملعون په معنى لغوي سره دې چې ابعاد لري والي ته وئيلې کيږي او اونه دزقوم هم مبعده ده دَ صفات الخير نه او په هغې کښې صفات دَ خير نيشته دې نو دَ ايت مطلب دا شو چې هغه ونه چې دهغې بدصفات بيان کړې شوې دې په قرآن کښې لکه چې په سورة الدخان کښې ذکر دې، والله اعلم بالصواب. ﴿وَنُخَوِّفُهُمۡ﴾ يعنى دې تخويف دَ دوئ سرکشې نوره هم زياته کړه او مزيد شرارت ئې زيات کړو.

وَإِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ ٱسۡجُدُواْ لِأٓدَمَ فَسَجَدُوٓاْ إِلَّآ إِبۡلِيسَ
او ياد کړه هغه وخت چې کله اووئيل مونږ ملائکو ته چې سجده او کړئ ادم ؑ ته نو سجده او کړه دوئ ټولو سوا د ابليس نه
قَالَ ءَأَسۡجُدُ لِمَنۡ خَلَقۡتَ طِينٗا ۝ قَالَ أَرَءَيۡتَكَ هَٰذَا ٱلَّذِي
اوئيل ده آيا سجده او کړم څه هغه چاته چې پيدا کړيدې تا د ختې نه، اوئيل ده (ابليس) خبر را کړه ته چې دا هغه سړى دې
كَرَّمۡتَ عَلَيَّ لَئِنۡ أَخَّرۡتَنِ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ لَأَحۡتَنِكَنَّ
چې عزت ورکړيدې تا ده ته په ما باندې، کچرې تا ماله مهلت را کړو تر ورځې دقيامت پورې نو خامخا به څه غلبه حاصله کړم

ذُرِّيَّتَهٗٓ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٦٢﴾ قَالَ اذْهَبْ فَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ فَاِنَّ جَهَنَّمَ
په اولاد دده باندې سيوا د لږو کسانو نه. اوئيل الله ﷻ خه ته پس هغه چاچې تابعداري اوکړه ستا ددوئ نه پس بيشکه جهنم
جَزَآؤُكُمْ جَزَآءً مَّوْفُوْرًا ﴿٦٣﴾ وَاسْتَفْزِزْ مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ بِصَوْتِكَ وَاَجْلِبْ
بدله ده ستاسو پوره بدله. برانگيخته(آماده) کړه ته هغه څوك چې وس پرې برشي ستا د دوئ نه په اواز خپل سره او راجمع کړه
عَلَيْهِمْ بِخَيْلِكَ وَرَجِلِكَ وَشَارِكْهُمْ فِي الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ وَعِدْهُمْ
پدوئ باندې سواره خپل او پياده خپل اوشريك شه ددوئ سره په مالونو کښې او په اولاد کښې او وعده کوه ددوئ سره
وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ اِلَّا غُرُوْرًا ﴿٦٤﴾ اِنَّ عِبَادِيْ لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ
اونه کوي وعده ددوئ سره شيطان مگر دهوکي،بيشکه بندگان خمانيشته دې تالره پدوئ باندې
سُلْطٰنٌ ؕ وَكَفٰى بِرَبِّكَ وَكِيْلًا ﴿٦٥﴾
غلبه دگمراه کولو اوکافي دې رب ستا ذمه وار.

﴿وَاِذْ قُلْنَا﴾ داقصه ادم ﷺ او ابليس ملعون ذکرکيږي لپاره دَدې چې شيطان ستاسو ابائی دشمن دې دَده لمسه مه منئ، او داواقعه معراج دَدې لپاره ظاهره کړې شوه چې تاسومسئله توحيد او منئ او دَشيطان په لمسه کښې رانشئ لکه څرنگه چې شيطان دَالله ﷻ ديوايت نه انکارکړې وو ،او دهغې توهين ئې کړې وو نو دهغې دَوجې نه ملعون اوگرځيدو ،نو تاسو چرته دَدې واقعې او ايت نه انکار اونکړئ کنې تاسو به هم ملعون اوگرځيږئ، داواقعه څوځلې مخکښې تيره شويده.﴿قَالَ ءَاَسْجُدُ﴾ استفهام تعجبي لپاره دَانکاردې، طينا دامنصوب بنزع الخافض دې ای خلقت من طين، او ياحال دې دَموصول نه او عامل پکښې اسجد،فعل دې ای ااسجد له وهو طين،نومقصد دادې چې څه هغه چاته سجده اوکړم چې هغه په اصل کښې خاوره ده يعني ماده ئې خاورده ده او څما ماده اور دې او اورغوره وې دَخاوري نه،نوڅه ولې سجده اوکړم نو دالله ﷻ دَحکم په مقابله کښې خپل دليل عقلي پيش کړو.﴿قَالَ اَرَءَيْتَكَ﴾ داذکر دَحسد دَابليس لعين دې

دَحضرت ادم ﷺ سره اوپه ذکر دَقال کښ اشاره ده چې دَابلیس لعین داکلام په دي مخکښني کلام باندی ندې مرتب بلکه دَدي ترتب اوابتناء په بل کلام ده اودا دَماقبل سره ندې متصل او ﴿أَرَءَيْتَكَ﴾ کښ کاف حرف خطاب دې دَتاکید دَماقبل تاء خطابیه لپاره راغلیدې خوداتاکید نحوي ندې بلکه تاکیدلغوي دې ځکه چې کاف ضمیرمنصوب متصل دې او .ت.ضمیرمرفوع متصل دې نومنصوب تاکید دَمرفوع لپاره نه واقع کیږي،اورؤیت نه مرادرؤیت علمي دې په معنی دَاخبرنی سره اودادوه مفعولین ته متعدي کیږي اودَدینه وروستو اکثرجمله استفهامیه مقدره وي،نو ﴿هَٰذَا الَّذِي﴾ داجمله ورله مفعول اول دې اوجمله استفهامیه چې کومه مقدره ده هغه ورله مفعول ثانی د ې،نوتقدیردَعبارت داسې دې اخبرنی عن هذا الذی کرمته علی لم کرمته علی؟ اوبعض فرمائی چې دلته حرف استفهام مقدردې چې داخل دې په ﴿هَٰذَا﴾باندی او ﴿هَٰذَا﴾ مبتدا ده، او ﴿الَّذِي﴾ موصول سره دَصلي نه خبردې ای اهذاالذی کرمت علیّ؟ اوداستفهام ئی علی وجه الاستصغار واستحقار وو، چې داضعیف اوکمزوری انسان چې دَختو نه پیداکړې شویدې دَده دوجې نه تا په مالعنت اوکړو اوده ته دې فضیلت ورکړو په ماباندی په سجدې سره.
﴿لَئِنْ أَخَّرْتَنِ﴾لام موطئه للقسم دې اومراد دَ تاخیرنه مهلت ورکول دي دَژوند، ای لئن اخرت اهلاکی الی یوم القیمة، ﴿لَأَحْتَنِكَنَّ﴾دا یاماخوذ دې احتنك الجراد الزرع،نه چې کله جراد ټول فصل ختم کړي اوبیخ کني ورله اوکړي،نو معنی ئی داده چې څه به دَ اولاد ادم بیخ کني اوکړم اودوئی به هلاك کړم په اغوا اواضلال سره، ای لاستاصلن ذریته بالاغواء والاضلال (قرطبی) اویا ماخوذدې دَحنك الدابة نه چې دَاس والا لاندې شونډ دبره سره میلاؤکړې شي اوواګې پکښ واچولې شي دَدي لپاره چې مالك کوم خواته غواړي نوهلته ئی بوځي،نومقصدئی داشو چې څه به اولاد ادم باندی غالب شم اوکوم خوا ته ئی چې غواړم نوهلته به ئی بوځم،دَدواړو مقصد متقارب دي چې دسمي لاري اودتوحید دعقیدي نه ګمراهئ اوشرك ته راوستل دې،اومراد په ﴿إِلَّا قَلِيلًا﴾سره مخلصین بندګان دي لکه چې په سورة الحجرکښ هم تیرشوي وو چې الاعبادك منهم المخلصین.

﴿قَالَ اذْهَبْ﴾ تخويف اخروى ذكر كيږي دمتبعين دشيطان لپاره پس دذكر دعداوت دهغه نه
دانسانانو سره، اومراد په﴿اذْهَبْ﴾ سره امرحقيقة په ذهاب سره ندي چې ضد د مجئ راتلل دي
بلكه مقصود پدي سره دابليس لعين درخواست پوره كيدل دي دمهلت والا . اودا امر ورته اهانة
اوخذلانا شويدي (كشاف) ﴿فَإِنَّ جَهَنَّمَ جَزَآؤُكُمْ﴾ كم ضمير خطاب يا تغليبا راوړي شويدي
دمخاطبينو په غائبينو باندى اصل كښ داسې وو فان جهنم جزاؤهم وجزاؤكم خو يا غلبه وركړي
شوه مخاطبين ته په غائبين باندى او اوئيلى شو﴿جَزَآؤُكُمْ﴾ او ياالتفات شويدي دغائب نه
حاضرته، چې ﴿فَمَن تَبِعَكَ﴾ كښ متبعين غائب ذكرشوي وو اوپدي ځاى كښ په صيغي د
حاضرسره ذكرشو، اويادا چې دكم ضمير سره مراد فقط ابليس دي اوخطاب دوعيد فقط ابليس ته
دوجي داصالت نه دي په هرمعاصي كښ چې دالعين دهرمعاصى لپاره اصل دي(وفي الحديث من
سن سنة فعليه وزرها ووزرمن عمل بها الى يوم القيمة)﴿جَزَآءً مَّوْفُورًا﴾ وفرلازمى اومتعدي دواړه
استعماليږي، نوكه متعدي شي نوبيا په معنى داسم مفعول سره دي يعنى جزاء موفرا يعنى داسې
سزا چې پوره كړې شويده څه كمى به پكښ نوي، نوبناء پدي تقديرددينه به مراد سزا دكافر
اومشرك وي چې په هغې كښ به څه قسم كمى نشي كيدلې اودمؤمن گناه گارسزا ته به نوي شامل
خكه چې په هغې كښ به كمى كيدې شي، دعفو اومغفرت دوجي نه، اويالازمي دي نو﴿مَّوْفُورًا﴾
په معنى د وافرا يعنى پوره كيدونكي سره دي، يعني جهنم به پوره پوره سزاوي ستاسو.
﴿وَاسْتَفْزِزْ﴾ پديكښ خلورطريقي دگمراه كولو بيانيږي دشيطان والا. اوداعطف دي په ماقبل
﴿اذْهَبْ﴾ باندى اودا امرهم يا اهانةً دي اويا تهديداً دي اوقرطبى فرمائي چې امردتعجيزلپاره دي
يعنى ته خپل كوشش كوه خوته داضلال په هيڅ چاباندى قادرنه ئې، اوپدي باندى قرينه روستنې
آيت ﴿إِنَّ عِبَادِي﴾ دي او استفز په معنى دخويولو، يرولوسره هم راځي دبرانگيخته كول اود قطع په
معنى سره هم راځي دلته په معنى دبرانيگيخته يعنى اماده كول مراد دي. ﴿بِصَوْتِكَ﴾ دا اوله
طريقه د اضلال اودگمراه كولوده او مراد په صوت سره هرهغه اوازدې چې دالله ﷻ معصيت ته

بلونکي وی، داشامل دي اواز دکفراوشرك بدعت ته اودغه شانتی مزمار اوغنا ګانو ته هم شامل دي اوبعض فرمائی چې مراد دَصوت نه شیطانی وسوسي دي، ﴿وَأَجْلِبْ عَلَيْهِم﴾ جلب په اصل کښ وئیلی کیږي یوځیز دَیومقام نه بل مقام ته منتقل کول لکه حدیث کښ راغلیدي لاجلب چې غله دَیوځائی نه بل ځائی ته مه منتقل کوئ خوچې کله په صله کښ ئی علی راشي نوپه معنی د جمع کولوسره وي، دادویمه طریقه ذکرکیږي،یعنی دَانسانانو دګمراه کولولپاره خپل ټول چلونه اوکیدونه جمع او استعمال کړه ﴿بِخَيْلِكَ﴾باء زائده ده اوخیل اطلاق کیږي سوارلښکرباندی. اولفظ خیل جمع ده مفرد ورله من لفظه نیشته دي اګرچې بعضو ورله مفرد خائل وئیلی دي اورجل فَعِل په وزن په معنی دَفاعل راجل سره دي دااګرچې مفرد دي خومراد تنه پدي ځائ کښ جمع ده، اووئیلي کیږي پیاده لښکرته ، علامه زمخشري رحمه الله فرمائي چې استفزازپه صوت سره،او اجلاب په خیل اورجل سره داتمثیل دي الله تعالیٰ مثال اوتشبیه دَحال دَابلیس په تسلط کښ دَحالت دَهغه چا سره ورکړیده چې هغه په چاباندی حمله اوکړي اوپه هغوئ باندی چیغي اووهي اواوئي یره وي اوهغوئ دَخپلو مراکزونه اوتخته وي،نودغه شانتي الله تعالیٰ شیطان ته هم تهدیداً یاتعجیزاًوائی چې ته هم دغسي اوکړه، اوامام رازي رحمه الله فرمائی چې دابطور محاوره اوضرب المثل وئیلی شویدي، اومراد تنه خپل ټول کیدونه اوچلونه استعماله ول دي لکه څرنګې چې یوسړی په یوکارکښ کوشش مکمل کوي نوته ورته اووائي چې جئتنا بخیلك ورجلك،یعني خپل ټول چلونه دَاستعمال کړل،اوداتوجیه زیاته غوره ده ځکه چې داهرقسم کیداومکرته شامل دي، اودارنګي داشامل دي،هرهغه چاته هم چې په سورلئ یاپیاده ګرځي په معصیت دَالله تعالیٰ کښ لکه چې دامنقول دي دَحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه، ﴿وَشَارِكْهُمْ﴾دادریمه طریقه بیانیږي دَاغوادشیطان اومراد په مشارکت فی الاموال سره انفاق دَمال دي په معصیت دَالله تعالیٰ کښ اوکسب کول دَمال دي په طریقه حرام سره،اونذرلغیرالله،تحریمات لغیرالله اوسائبه وصیله وغیره داټول تنه مراد دي،اومشارکت فی الاولاد نه مراد اولاد ته ناجائزنومونه ایخودل لکه شرکیه نومونه شول،عبدالعزی،عبدالدار اونن سبالکه عبدالرسول،پیربخش وغیره شول، دهغوئ دَاعطاء نسبت دَالله تعالیٰ نه علاوه بل چاته کول، اودغه شانتي پدیکښ دَاولاد غلط تربیت

هم شامل دي، چې والدين دخپل اولاد تربيت داسې اوکړي چې دهغه نه يهودي. يانصرانی يامجوسي جوړکړي لکه دنن سبا داکثرسکولونو اوکالجونو حال دې چې والدين پيسې هم خرچه کوي اوبچي تربيت عملي طورديهوديت،نصرانيت په طريقي سره کوي، اولوئی افسوس مقام دادې چې په هغې طريقې باندې والدين فخرهم محسوسه وي،بچي ته دسلام په ځای د ټاټا لفظ اوداسلامي تعليم اوشعائرو اوتهذيب په ځای غيراسلامي تعليم پينټ،شرټ اوټائی خوونه ورته کوي والی الله المشتکی،وفی الحديث کل مولود يولد علی فطرة الاسلام فابواه يهودانه اوينصرانه اويمجسانه اوکماقال ﷺ. ﴿وَعِدْهُمْ﴾داخلورمه طريقه بيانيږي چې غلطې اوددروغو وعدې ورسره کوه اوبی اصله تمناګانو کښې ئی راوله،لکه دغه شريکان چې تاسوئی عبادت کوئ دابه ستاسو پکارراځي، اودوئ به ستاسو حاجتونه پوره کوي، زمخشری باوجود دخپل جلالت شان د اعتزال دمجبوریٔ نه ډيره غلطه اوناجائزه خبره کړيده چې د ﴿وَعِدْهُمْ﴾په مصداق کښې ليکلي دي الاتکال علی الرحمة وشفاعة الرسول فی الکبائروالخروج من النار بعد ان يصيروا حمما)نو(العياذبالله) زمخشری دالله ﷻ په رحمت باندې اعتماد ،اودرسول الله ﷺ شفاعت اودګناه ګارانومؤمنين دجهنم نه وتل داټول دشيطان د دروغو وعدو اودبی اصله تمناګانو مصداق ګرزوليدي اللهم ارزقنا شفاعة شفيع المذنبين ﷺ وصحبه اجمعين) ﴿وَمَا يَعِدُهُمُ﴾دا ادخال الهی اوجمله معترضه ده چې دشيطان وعدې سراسردهوکي دي اوحقيقت ئی هيڅ هم نيشته، اوپديکښې التفات شويدې د خطاب نه غائب ته، اودغه شانتې وضع داسم ظاهرشويده په ځای دمضمرباندی لپاره دتصريح په وصف دشيطينيت باندې او"غرور" وئيلی کيږي چاته غلط څيز خائسته ښکاره کول پدسې طريقې سره چې هغه ئی صحيح اوکنړي، (روح) اونصب د ﴿غُرُورًا﴾ياد وجې دډينه دې چې دامفعول مطلق دې د﴿يَعِدُ﴾لپاره په اعتباردموصوف مقدره سره چې "وعدا" دې اويامفعول له دې ای ومايعدهم ويمنيهم الا لان يغرهم.

﴿إِنَّ عِبَادِي﴾پدې کښې حفاظت دبعض بندګانو ذکرکيږي دابليس د اغواء نه اواضافت دعباد ياء متکلم ته تشريفا دې مرادتنه مخلصين بندګان دي، ﴿لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ﴾نفی دسلطان نه مراد ياحجت اودليل دې اويا تنه مراد عدم قدرت دې په ګمراه کولودهغوئ باندې

﴿وَكَفٰى بِرَبِّكَ﴾خطاب یادابلیس لعین سره دی، اویاحضور ﷺ سره دی او یا دانسان سره دی
ځکه چې ماقبل کښې د شیطاني تسلط ذکر اوشونو دانسان په زړه کښې خوف پيدا کيږي نو الله ﷻ
تسلي ورکړه انسان ته چې ځه ستاکارسازاومحافظ یم، پدیکښې اشاره ده چې هرانسان په
عصمت کښې محتاجه دې الله ﷻ ته.

رَبُّكُمُ الَّذِي يُزْجِي لَكُمُ الْفُلْكَ فِي الْبَحْرِ لِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ
[1]رب ستاسو هغه ذات دې چې چلوی ستاسو لپاره کشتئ په دریاب کښې لپاره ددې چې طلب کړئ تاسو دفضل د الله ﷻ،
إِنَّهُ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴿٦٦﴾ وَإِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِي الْبَحْرِ ضَلَّ مَنْ
بیشکه هغه دې په تاسو باندې مهربانه، اوکله چې اورسیږي تاسو ته تکلیف په دریاب کښې نو هیرشي تاسو نه هغه څوک چې
تَدْعُونَ إِلَّا إِيَّاهُ ۖ فَلَمَّا نَجَّاكُمْ إِلَى الْبَرِّ
سوالونه ترینه کوئ عبادت کوئ سیوا دالله ﷻ نه، پس هرکله چې راخلاص کړي الله تاسو اوچې خشکې ته
أَعْرَضْتُمْ ۚ وَكَانَ الْإِنْسَانُ كَفُورًا ﴿٦٧﴾
نو مخ گرځوئ تاسو (دالله ﷻ نه) او دې انسان ناشکره.

﴿رَبُّكُمُ الَّذِي﴾داپنځم دلیل عقلي دې په توحیدباندې چې په سمندرکښې ستاسو کشتئ
الله ﷻ په خپل فضل اورحم سره چلوي اوتاسودهغې په ذریعې سره کاروبار،تجارت
کوئ،ددریاب دغرقیدونه بچ کوي،ددې تقاضه داده چې تاسو دالله ﷻ شکریه اداکړئ اوخالص
دهغه عبادت کوئ﴿يُزْجِي﴾ ،باب افعال نه صیغه دمضارع ده اوازجاء وئیلې کیږي راخکلو
اوچلولو ته اوازجاء الفلك دادې چې هغه په نرمو هواگانو یاپه نورو آلاتو سره په سمندرکښې محض

---

(1) دلیل عقلي پنجم برتوحید.

دالله ﷻ په حکم چليږي. ﴿لِتَبْتَغُواْ مِن ﴾من تبعيضيه دې اومراد دفضل نه رزق اوتجارت دې.﴿وَإِذَا مَسَّكُمُ ﴾ پدې کښې زجر دې مشرکينوته چې کله په تاسوباندې په سمندرکښې طوفان راشي نوددغې سختئ په وخت کښې خپل معبودان باطله پريدئ اوخالص الله ﷻ رابلئ خوچې کله هغه تکليف ختم شي اوصحيح سالم دسمندرنه رابهرشئ نوبياورسره شريکان جوړه وئ.﴿ٱلضُّرُّ فِي ٱلْبَحْرِ ﴾ مرادتنه هغه سختي ده چې خوف غرقيدو يادنورو اهوالودسمندر دوجې نه وي﴿ضَلَّ﴾په معنی دزړه نه دغائب کيدلوسره دې اى ذهب عن خواطركم.يعنى ستاسودزړونونه هم هغوئ غائب شي اواستثناء په ﴿إِلَّآ إِيَّاهُ ﴾ کښې غوره توجيه مطابق متصله ده ځکه چې مشرکينو به دالله ﷻ عبادت هم کله کله کولو اوخپل معبودان باطله به ئې دالله ﷻ سره شريک کنړلو ،اوکچرته دمن ﴿تَدْعُونَ﴾نه مراد فقط معبودان باطله شي نوبيااستثناء منقطع ده.

﴿أَعْرَضْتُمْ ﴾مراد تنه اعراض دايمان اواخلاص اوطاعت نه دې ﴿وَكَانَ ٱلْإِنسَٰنُ﴾مراد دالانسان نه ياهغه انسان دې چې متصف وي پدې صفات مذکوره سره يعني کافرتنه مراد دې اوياتنه مطلق انسان مراددې اومقصد دادې چې دانسان په طبيعت کښې کفران نعمت دې خوپه چاباندې الله ﷻ خپل فضل اوکړي نوهغه بچ کړي (قرطبی).

أَفَأَمِنتُمْ أَن يَخْسِفَ بِكُمْ جَانِبَ ٱلْبَرِّ أَوْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ
آياپس بې غمه ئې تاسوددينه چې ژوندې به ښخ کړي تاسوپه طرف دوچې زمکې ياراواليږي په تاسوباندې[1]
حَاصِبًا ثُمَّ لَا تَجِدُواْ لَكُمْ وَكِيلًا ﴿٦٨﴾ أَمْ أَمِنتُمْ أَن يُعِيدَكُمْ
باران دکاڼوبيابه اونه مومئ خپل ځانونو لپاره ذمه وار. اوکه يابې غمه ئې تاسو ددينه چې واپس بوځي تاسو
فِيهِ تَارَةً أُخْرَىٰ فَيُرْسِلَ عَلَيْكُمْ قَاصِفًا مِّنَ ٱلرِّيحِ فَيُغْرِقَكُم بِمَا
په درياب کښې دوباره پس راواوبه ليږې په تاسوباندې تيزه ماتونکې سيلئ پس غرق به کړې تاسوپه سبب دهغې

(1) تخويف دنيوي.

كَفَرْتُمْ ثُمَّ لَا تَجِدُوا لَكُمْ عَلَيْنَا بِهِ تَبِيعًا ﴿٦٩﴾

چې كفر كړيدي تاسو بيابه اونه مومئ تاسو دخانونو لپاره په موږ باندې ددې عذاب نه څوك بدلې اخوسنونكې تپوس كوونكې

﴿أَفَأَمِنتُمْ﴾پدې كښې تخويف دنيوى ذكر كيږي،چې ستاسو دا خيال دې چې دسمندر دعذاب نه راووتلو اوپه اوچه كښې په امن يو اودخپلو معبودانو په پناه كښې يو ،داسې نشې كيدې كچرې الله ﷻ اوغواړي نوتاسوبه په زمكه كښې ننه باسې، اويابه دړباندې دكانړوباران او وره وې اواستفهام لپاره دانكاردې يعنى تاسوپه امن كښې نه ئى، اوفاعاطفه ده معطوف عليه ورله مضمون دماقبل جملې دې(اى الحسبتم بخروجكم الى البرآمنتم من انتقامه وعذابه(ابن كثير)، اويامعطوف عليه ورله مقدر دې اوتقديرداسې دې انجوتم فامنتم فحملكم ذلك على الاعراض (كشاف) ﴿أَن يَخْسِفَ﴾ لكه څنګه چې قارون خسف شوې وو او(باء) په ﴿بِكُمْ﴾كښې يادمصاحبت ده او﴿جَانِبَ﴾مفعول به دې د ﴿أَن يَخْسِفَ﴾لپاره اوجارمجرور په موضع دحال كښې دې، نومعنى به ئى داشې، چې دغه جانب دبرالله ﷻ به ته دزمكې ته بوځي په دسې حال كښې چې تاسو به مصاحب ئې ددغې زمكې،يعني پدې باندې به اوسيږې اويانصب د﴿جَانِبَ﴾ بنابرظرفيت دې اوباء لپاره دتعديت ده اومراد دجانب نه جهت دې دااحتمال زيات غوره دې،﴿أَوْ يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا﴾ حاصب دكانړوباران ته وئيلى كيږي،لكه څنګه چې دحضرت لوط ﷺ په قوم باندې وريدلې وو، ﴿أَمْ أَمِنتُمْ﴾داهم تخويف دې چې الله ﷻ پدې هم قادردې چې ستاسو يوضرورت پيداكړې اوبياتاسودسمندر سفراوكړئ اويوه زبردسته سيلئ راوليږې اوتاسو هلاك كړې ﴿أم﴾منقطعه دې په معنى دبل سره دې اوضميرد﴿فِيهِ﴾ راجع دې بحرته، ﴿تَارَةً أُخْرَىٰ﴾تارة منصوب دې بناء برظرفيت،په معنى دكرة سره جمع ددې تير اوتارات رازي، اى وقتا غيروقت الاول، فيغرقكم بماكفرتم (باء) سببيه ده اى بسبب كفركم، ﴿عَلَيْنَا بِهِ تَبِيعًا﴾تبيع په معنى دتابع سره دې لكه عليم په معنى دعالم سره دې اوتبيع په كلام عرب كښې هرهغه چاته وائې چې هغه طلب

کوونکي ددم یادَدين وغيره وي يعني انتقام اوبدلي اغستونکي وي. والعرب تقول لکل طالب بدم اودين اوغيره تبيع(طبری)

وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيٓ ءَادَمَ وَحَمَلْنَٰهُمْ فِي ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ وَرَزَقْنَٰهُم
[1] اویقینا عزت ورکړیدی مونږه اولاد دادم ﷺ ته اوسواره کړیدي مونږه دوئ په اوچه اوپه دریاب کښې او روزي موورکړیده دوئ ته
مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَفَضَّلْنَٰهُمْ عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا ﴿٧٠﴾
دپاکیزه خوراکونونه اوغوره کړي مودي دوئ په ډیرو باندی دهغه چانه چي مونږپیدا کړیدي په ډیرغوره کولوسره
يَوْمَ نَدْعُوا۟ كُلَّ أُنَاسٍۭ بِإِمَٰمِهِمْ ۖ فَمَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ
[2] یادکړه هغه ورځ چي رابه غواړو مونږه هریو کس (دله) په نوم دپیشوا ددوئ سره پس هرهغه څوك چي ورکړې شي هغه ته عملنامه
بِيَمِينِهِۦ فَأُو۟لَٰٓئِكَ يَقْرَءُونَ كِتَٰبَهُمْ وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٧١﴾
دهغه په ښي لاس دده کښې پس دغه کسان لولي به عملنامې خپلي اوظلم به اونکړې شي پدوئ باندی په قدردتاردکجوري دهډوکي
وَمَن كَانَ فِي هَٰذِهِۦٓ أَعْمَىٰ فَهُوَ فِي ٱلْءَاخِرَةِ أَعْمَىٰ وَأَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٧٢﴾
اوهغه څوك چي وي په دي دنیاکښې ړوند(دحق نه) پس هغه به په اخرت کښې ړوندوي اوډیرخطا دلاري نه

﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا﴾ داتذکیربآلاء الله دي په وجوه اربعه سره لپاره دترغیب الی التوحید (۱) ﴿كَرَّمْنَا بَنِيٓ ءَادَمَ﴾ دااول نعمت ذکرکیږي، اوداکرامت په مختلف وجوه سره دي په عقل، په نطق، په تمیز، په خط، په خائسته صورت، په معتدل قامت، په تدبیردامر معاش اومعاد سره دي اودغه شانتي دانسان نه علاوه نورحیوانات خوراك په خلوسره کوي اوانسان په واسطه دګتوسره خوراك کوي دامنقول دي دابن عباس رضی الله عنه نه صاحب دکشاف واقعه نقل کړیده چي هارون رشید ته

---

[1] ترغیب الی التوحید
[2] بشارت وتخویف اخروي

یوخلي خوراك راوړي شو اوهغه سره امام ابویوسف رحمه الله هم ناست وو نوهارون رشید چمچی(کاشوغ)طلب کړې نوامام ابویوسف رحمه الله ورته اوفرمائیل چې ستانیکه دحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه دَدي ایت ﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا﴾په تفسیرکښ منقول دي چې وجعلنا لهم اصابع یاکلون بها. چې مونږ ددوئ لپاره ګوتي ورکړيدي چې دوئ دَهغې په ذریعي سره خوراك کوي اوته چمچی غواړي اوپدغه وخت کښ چمچی راوړې شوي وي نوهغه چې کله داواوریدلونوهغه چمچی واپس کړي اوپه ګتوباندی ئی خوراك شوروع کړو اودغه شانتي پدي کښ داخل دي اکرام دَسړي په ګیري سره اواکرام دَښځي په کونځوسره(۲)﴿وَحَمَلْنَٰهُمْ﴾دادویم انعام دې چې په اوچه اوپه سمندر دواړو کښ تاسو لره تسلط درکړیدې په اوچه باندی سورلئ لکه موټر،اسونه، خچري،اوښان اوخرونه وغیره شو، اوپه اوبوکښ کشتی جهازونه وغیره شو (۳)﴿وَرَزَقْنَٰهُم﴾ دادریم انعام دې ددینه مرادمختلف قسم خوراکونه، څښکاك څیزونه، لباس اونور مزیدارمزیدارڅیزونه دي چې هغه انسانانوته په خپل صنع یابغیردَصنع خپلي نه میلاویږي.

(۴)﴿وَفَضَّلْنَٰهُمْ﴾داځلورم انعام دې چې الله تعالی انسان ته فضیلت ورکړیدې په ډیرو مخلوقاتو باندی،په نیزد بعض مفسرینو داتاکید دي دَماقبل لپاره چې ﴿كَرَّمْنَا﴾دې خواکثرمفسرین فرمائی چې داتاسیس دې،امام رازي رحمه الله فرمائی چې تکریم استعمال په صفات اوامورخلقیه طبیعه ذاتیه کښ کیږي،اواستعمال دَتفضیل په اموراکتسابیه بالعقل کښ کیږي،نومراد په ﴿كَرَّمْنَا﴾سره امورخلقیه دي لکه عقل شو نطق،تمیز وغیره شو اومراد په ﴿وَفَضَّلْنَٰهُمْ﴾سره اموراکتسابیه بالعقل دي لکه عقائد حقه اواخلاق فاضله شو.

﴿كَثِيرٍ مِّمَّنْ﴾کثیریاپه خپلي معنی سره دي اوتفضیل دَانسانانو په اکثرو مخلوقاتو دې نه په ټولومخلوقاتو، او"من" په معنی دَ"ما"سره دي اومفضل علیه ورلره جمادات نباتات وغیره دي اویا﴿كَثِيرٍ﴾په معنی دکل سره دي قرآن، حدیث اوپه کلام عرب کښ کثیرپه معنی دکل سره استعمال شویدي لکه واکثرهم کاذبون مراد تنه ټول دي او"من" په خپلي معنی سره دي اوتفضیل

په اعتبارد افرادو سره مراد دي خو "من" عام مخصوص منه البعض دي او دا تفضيل خاص دي په مؤمنين پوري او کافرتنه ندي مراد .نو ددي توجيه په اعتبارثابت شو فضيلت دمؤمنانو په ملائکو باندی او دي احتمال ته راجح وئيلی دي امام رازی رحمه الله او نورو مفسرينو او تائيدئی پيش کړيدي په هغه حديث سره چې نقل کړيدي امام بيهقي.اوابن کثيروغيره چې حضورﷺ ارشاد اوفرمايه چې کله الله جل جلاله حضرت ادم عليه السلام اوده هغه ذريت پيداکړو نوملائکو عرض اوکړو چې ياالله تاخودا انسان پدسې طاقتنو سره پيداکړو چې دې خوراك هم کوي څښکاك هم کوي بيبيانو سره نزديکت هم کوي، او په سورليو باندی سواري هم کوي نو پس ته ددنيا دَدوئی لپاره اوګرځوه او اخرت زمونږ لپاره خاص کړه، نو الله جل جلاله اوفرمائيلو چې کوم مخلوق ما په خپل لاس پيداکړيدي او په هغه کښ ماخپل روح پوکلې دي هغه څه دَهغې مخلوق پشانتي نه ګرځوم چې هغه ما په "کن" سره پيداکړيدي اودغه شانتی بل روايت دي دَحضرت ابوهريرةرضي الله عنه نه چې المؤمن اکرم علی الله تعالی من الملئکة الذين عنده، او بعض مفسرين فرمائی چې تفضيل په اعتبارد جنس انسان سره مرادي چې جنس دَانسان ته الله جل جلاله فضيلت ورکړيدي په نورو مخلوقاتو باندی او تفضيل دَجنس مستلزم ندي تفضيل دَافرادو لره، لکه الرجل خيرمن المراة ددي توجيه په اعتبارمن په خپل عموم باندی برقراردي.

تنبيه:څني مفسرينو پدي مقام کښ دابحث ذکرکړيدي چې په انسانانو او ملائکو کښ کوم افضل او کوم مفضول دي،خوصاحب دَروح المعانی فرمائی چې اولا خودايقينی نده چې پدي خائی کښ دَتفضيل نه مراد هغه متنازع فيه تفضيل مراد شي اوثانيا بتقديرالتسليم افضليت دَملائکو پدي مقام کښ ثابتيږي په اعتبارد مفهوم مخالف سره او دهغې په حجيت کښ اختلاف دي،نوزياته راجحه خبره داده چې دابحث دَدې مقام سره غيرمناسب دي اګرچه دَاحنافو او دَجمهور شوافع او اشاعرو مسلك دادي چې انبياء کرام عليهم الصلوات والتسليمات په کل مخلوقاتو کښ بهتردي او بيارسل دَملائکه لکه جبرئيل عليه السلام وغيره شوهغوئی افضل دي او عام ملائك په عامو بني ادم باندی افضل دي.

﴿يَوْمَ نَدْعُوا﴾پدي دوه ايتونوکښ بشارت اخروی اوتخويف اخروي ذکرکيږي.او ﴿يَوْمَ﴾منصوب دي مفعول به دي دَفعل مقدرلپاره چې اذکردي﴿بِإِمَـٰمِهِمْ﴾ امام وئيلی کيږي لمن ائتموابه چې مقتدي او پيشوا دقوم وي که دَهدايت والاوي يادَضلالت والاوي، نوپيغمبر عليه السلام امام

دې دخپل امت خليفه وقت امام دې دخپل رعيت.قرآن امام دې دامت مسلمه امام مسجد دخپلو مقتديانو اودهرانسان عمل خيروي كه شروي دهغه لپاره امام دې څكه چې دخان لپاره نی مخكښ ليږلي دې اودوئ وريسي روان دي. اوعلمنامي ته هم امام ونيلی كيږي اوهركله چې مواقف دحشرډيردي نوددې وجه نه بلنه به هم په مختلفو اسماؤسره كيږي.كله به په نوم دپيغمبرسره چې هاتوا متبعی ابراهيم هاتوا متبعی موسی وغيره، اوكله به بلنه وركولې كيږي په نوم دكتاب سره چې يااهل التوراة يااهل الانجيل وغيره اوكله به بلنه وركولې كيږي په نوم دامام وقت سره لكه په روايت دحضرت علي ﷺ كښ راغليدي چې(قال رسول الله ﷺ يدعی كل قوم بامام زمانهم وكتاب ربهم وسنة نبيهم(ابن مردويه)) اودغه شانتې روايت نقل كړيدې قرطبی فقال ﷺ كل يدعی بامام زمانهم وكتاب ربهم وسنة نبيهم فيقول هاتوا متبعی ابراهيم.... ويقول هاتوا متبعی الشيطان هاتوارؤساء الضلالة امام هد وامام ضلالة، ددينه داهم معلومه شوه چې نن سبا كوم گمراه اوغيراسلامي(سيكولر) جماعتونه دي دهغوئی اتباع كول اودهغوپه جماعتونو كښ شامليدل دآخرت درسوائی اودتاوان سبب دي(اعاذناالله منها اللهم احشرنافی زمرة العلماء).

اوكله به بلنه په خپل نوم سره كيږي، اوكله به بلنه په نوم دمورسره كيږي، اوابن كثير رحمه الله فرمائی چې غوره خبرداده چې مراد دامام نه پدې مقام كښ علمنامه ده په قرينې دمابعد ﴿فَمَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ﴾سره، يعنی هرسړی به دخپلې علمنامی سره رابللې شي چې رادې شي اصحاب اليمين اورادې شي اصحاب الشمال.

﴿فَمَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ﴾مراد كتاب نه علمنامه ده اوپه ښي لاس كښ وركول به لپاره دعزت اوتشريف دمؤمن وي اوپه اول الامركښ به ورته خوشخبري وي چې ته كامياب ئی، حضرت مولانا عثمانی رحمه الله فرمائی چې دقيامت په ورځ به ځني خلكوته علمنامې دمخامخ طرف نه په ښي لاس كښ ميلاويږي اوچاته به دشادطرفه په چپ لاس كښ ميلاويږي گويا چې دابه يوحسې علامت وي دده دمقبول كيدلو يادمردود كيدلو،﴿فَأُوْلَٰٓئِكَ﴾ من په اعتباردمعنی سره جمع وو نوځكه اسم اشاره جمع راوړې شوه، ﴿يَقْرَءُونَ﴾قرائت دعلمنامې به اصحاب اليمين اواصحاب الشمال دواړه كوي خوتخصيص داصحاب اليمين ځكه اوشو چې قرائت دهغوئ به

واضح اودَخوشحالئ والاوي، اونورخلکو ته به هم خپله عملنامه ښائی اودهغې دَقرائت دعوت به ورکوي اوهرچې دي اصحاب الشمال نوهغوئ چې کله عملنامه اوګوري نوهيبت اوخوف به پري غالب شي اوژبه به ئی ترترئی شي نودَهغوئ قرائت پشانته دَنه قرائت دې نوځکه پدي ايت کښ تخصيص دَقرات په مؤمنانو پوري اوشو.

﴿وَمَن كَانَ﴾داداَصحاب اليمين په مقابلي کښ دَاصحاب الشمال حالت بيانيږي اومشاراليه دَ"هذه" لپاره دا دنياده اومراد دَ "اعمی" نه عمی بصري نده مراد بلکه مرادتنه عمی قلبی ده چې دَالله ﷻ په نعم اودلائل دَقدرتونوکښ سوچ اوفکرنه کوي اوتوحيد پريدي شرک کښ مبتلاشي.(ای عن حجة الله وآياته وبيناته(ابن کثير))

﴿فَهُوَ فِي ٱلْآخِرَةِ أَعْمَىٰ﴾دَدينه يامراد عمی باطنی ده چې دَجنت دلاري نه ړنديدل مراددي، نوداکنايه شوه دَعدم دخول دَجنت نه اويااتنه مراد عمی دَاعتذار نه ده چې په دنياکښ ئ کومې خبري کولې اوځان لپاره ئ چې کوم عذرونه تياره ول اوکوم اختراعي دلائل ئې جوړول نوهغه عذرونه اودلائل به ورنه هيرشي، اوهيڅ خبره به ورته هم ياده نوي لکه په سورة القصص ايت نمبر(۶۶) فعميت عليهم الانباء کښ ذکردې، اوپه دواړو موضعين کښ اعمی صيغه دَصفت مشبه ده اوکوم مفسرين چې فرمائی چې دويم اعمی صيغه داسم تفضيل ده اوداقانون چې اسم تفضيل په وزن دَافعل سره هغه وخت کښ رازي چې کله دَده په مفهوم کښ عيب اولون(رنګ) نوي نودهغې نه مراد عيب ظاهري دې نه معنوي اوعمی دَقلب داعيب معنوي دې نوځکه اسم تفضيل په وزن دَافعل سره راغې اوبعض فرمائی چې دويم اعمی نه مراد عمی دَبصرده يعنی سترګي به ئی ړندې وي اوداړوندوالی به په بعض مواقف کښ وي،نواعتراض نه واردیږي چې دَايت تعارض دې دَايت دَ(سورة ق) سره چې هلته ورله اثبات دَسترګو شويدې لکه فکشفنا عنك غطاؤك فبصرك اليوم حديد تفصيل به ئی انشاء الله په سورة طه کښ راشي،

﴿وَأَضَلُّ سَبِيلًا﴾داتاکيددې دَمضمون دَماقبل جملې لپاره. چې په اخرت کښ به داسې رانده وي چې دَتدارك هيڅ قسم امکان به ئی نوي په خلاف دَعمی په دنياکښ.چې دَمافات دَتلافئ امکان په دنياکښ شته دې اويامراد دَسبيل نه لاره دَجنت ده.

وَاِنْ كَادُوْا لَيَفْتِنُوْنَكَ عَنِ الَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ لِتَفْتَرِيَ

[1] او بیشکه غواړي دوئ (مشرکان) چې تیرباسي (واړه وي) تالره دبیان دهغې نه چې وحي کړېده مونږه تاته لپاره ددې چې اونړې نه

عَلَيْنَا غَيْرَهٗ ۖ وَاِذًا لَّاتَّخَذُوْكَ خَلِيْلًا ﴿٧٣﴾ وَلَوْلَآ اَنْ ثَبَّتْنٰكَ

په مونږباندی غیرددې قرآن نه اوپدغه وخت کښې اوبه نیسي دوئ تا یوپوخ دوست، اوکچرته نوې محکم کړې مونږه نه

لَقَدْ كِدْتَّ تَرْكَنُ اِلَيْهِمْ شَيْـًٔا قَلِيْلًا ﴿٧٤﴾ ۙ اِذًا لَّاَذَقْنٰكَ

نوپه تحقیق سره نزدې وې ته چه میلان به دې کړې وۀ دوئ ته لږ غوندې نوپه دغه وخت کښې خامخاڅکولی به وې مونږه تاته

ضِعْفَ الْحَيٰوةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيْرًا ﴿٧٥﴾

دوه (۲) چند عذاب په ژوند ددنیا اودوه (۲) چند عذاب پس دمرگ نه بیابه اونه مومې ته خان لره په مونږباندی مددگار

وَاِنْ كَادُوْا لَيَسْتَفِزُّوْنَكَ مِنَ الْاَرْضِ لِيُخْرِجُوْكَ مِنْهَا وَاِذًا

اوبیشکه غواړي دوئ چې چلونه جوړکړي تاته پدې زمکه دمکه کښې لپاره ددې چې اوباسي تاددینه اوپدغه وخت

لَّا يَلْبَثُوْنَ خِلٰفَكَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٧٦﴾ سُنَّةَ مَنْ قَدْ اَرْسَلْنَا

دوئ به ژوند تیره نکړي ورستو ستانه مگرلږ شانی، طریقه جاري ده دهغه چاسره چې بیشکه لیږلی وومونږه

قَبْلَكَ مِنْ رُّسُلِنَا وَلَا تَجِدُ لِسُنَّتِنَا تَحْوِيْلًا ﴿٧٧﴾ ۧ

مخکښې ستانه درسولانو څمنگه نه او اوبه نه مومې ته زمونږ طریقې لره بدلیدل

﴿وَاِنْ كَادُوْا﴾ داځلورم ایت معجزه دې اومتعلق دې په ابتداء دسورت پورې اوپدیکښې تحذیردې دمداهنت کولونه، چې مشرکانو کوشش دادې چې تادحق دلاري اوتوحید نه گمراه کړي خومونږه تاته استقامت نصیب کړو، اودغه شانتې دکفاروکوشش دې چې دحق په بیانولو

(1) چهارم ایت معجزه

کښې تاسو نرمي اختيار کړئ او دهغوئ طرف ته ميلان اوکړئ. نودوئ به ستاسو ملګرتيا اوکړي او داايت دَوفدثقيف په باره کښې نازل شويدې چې هغوئ راغلل اوحضورﷺ ته ئې اوئيل چې مونږه ايمان راوړو خوپه يوڅو شرائطو سره يوشرط دادې چې مونږ به په مونځ کښې رکوع اوسجده نه کوو دويم شرط دادې چې مونږ به خپل بوتان په خپلولاسونو باندې نه ماتوو، اودريم شرط دادې چې مونږ به تريوکال پورې هغه نذراني اوشکراني خورو چې کوم په لات اوعزی باندې دي، حضورﷺ دوئ ته داول شرط په باره کښې اوفرمائيل چې دکوم دين په عبادت کښې رکوع اوسجده نوي نوپه هغې کښې هيڅ خيرنيشته اودَدويم شرط په جواب کښې ورته اوفرمائيل چې خپل بوتان په خپل لاس باندې نه ماتول دَدې اختيارستاسوسره دې اوددريم سوال په جواب کښې ورته اوفرمائيل چې دَدغې نذرانو اجازت څه تاسوته نشم درکولې نوهغوئ اوئيل چې يارسول اللهﷺ زمونږ خواهش دې چې عرب داخبره اوکړي چې مونږ ته څه خصوصي څيزونه تاسوراکړيدې چې بل چاته ندې ورکړي اوکچرې څوک اعتراض اوکړي نوتاسو ورته اووائې چې دادالله ﷻ امروو، حضورﷺ دَدوئ دَدې خبرې بدکنړولو دَوجه نه غلې شو، اودوئ داخيال اوکړو چې حضورﷺ راضي شو، نوالله ﷻ داايت نازل کړونوپدې توجيه داايات مدني دې اوبعض مفسرين فرمائي چې داايت مکي دې لکه څنګه چې سورة مکي دې اوشان نزول داسې بيانه وي چې حضورﷺ ته مشرکين مکه راغلل اوورته ئې اوئيل چې مونږه ستا مجلس ته حاضريدل غواړو خوچونکه تاسره داکمزوري فقرا ناست وي نودوئ سره کيناستل زمونږ لپاره شرم دې چې کله مونږه راځونوته دوئ دَخپل مجلس نه باهر کوه، حضورﷺ اراده اوکړه چې دامجلس دَدوئ لپاره فارغ کړم دَڅه وخت لپاره نوداايت نازل شو.

﴿وَإِن كَادُواْ﴾ کښې "ان" مخففه عن المثقله دې اوضميرشان مقدره ورله اسم دې په اصل کښې "انه" دې او﴿كَادُوا﴾ دَافعال مقاربه نه دې اولام په ﴿لَيَفْتِنُونَكَ﴾ کښې لپاره دتاکيد اودفرق دې په مابين دَان مخففه او"ان" نافيه کښې، اومراد دَ"فتنه" نه پدې ځائ کښې اړول دې دَحق خبرې نه يعنې قريبه وه چې دوئ تادَحق خبرې دبيان نه واړوي اودا په اعتباردزعم دَدوئ سره وو حقيقة نوو خکه چې حضورﷺ معصوم وو نودوئ کوشش اوخواهش دَدغې خبرې وو (بحر) ﴿أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ﴾ مرادتنه اوامراونواهي وعد اووعيد دې﴿لِتَفْتَرِيَ عَلَيْنَا﴾ لام تعليليه دې اودَلام نه وروستو ان

ناصبه مقدردې يعنى دَدې لپاره تادَحق خبرې نه واړه وې چې ته په مونږ باندې دروغ اوتړې. اويالام العاقبت دې يعنى تادهغې خبرې نه چې کوم تاته مونږ وحې کړيده دهغې نه تاواړه وې نوانجام به ئې داوې چې ته به په مونږ باندې دروغ اوتړې. ﴿غَيْرَهُ﴾مراد دَدينه هغه خبره ده چې کوم بنى ثقيف نبي ﷺ ته کړې وه چې کچرې څوك تپوس اوکړې چې تاولې دوئ ته ترجيح ورکړه نوته ورته اووايه چې داداللهﷻ امر وو، اودويم توجيه اوشان نزول مطابق مراد دَافتراء نه بغيردَاذن اواجازت دَاللهﷻ نه فقراء صحابو ﷺ نه دوئ لپاره مجلس فارغ کول دې.څکه چې دنبي هرکارپه اذن دَاللهﷻ سره وې، اودَدې اذن خواللهﷻ نوو ورکړې نوبغيردَاجازت اواذن نه مجلس فارغه کول داګوياچې په اللهﷻ باندې افتراء وه.

﴿وَإِذًا لَّاتَّخَذُوكَ ﴾داجواب دَ شرط محذوف دې اودَ﴿وَإِذًا﴾ نه وروستو قسم مقدردې او ﴿لَّاتَّخَذُوكَ﴾ورله جواب قسم دې والتقدير والله اذا اى افتننت وافتريت لاتخذوك(بحر) اوزمخشري فرمائى چې ﴿لَّاتَّخَذُوكَ﴾جواب دَلو محذوفه دې اى لواتبعت مراد هم لاتخذوك خليلا(کشاف) او﴿خَلِيلًا﴾کچرې ماخوذ شي دَ "خُلة" بضم الخاء نه نوهغه دوست ته وئيلى کيږي چې هغه قريبى اومخلص دوست وي چې زړه دهغه دَمحبت لپاره دنورچا دَمحبت نه خالي وي،نودَايت مقصد دادې چې کچرې ته ددوئى خبره اومني اوپه اللهﷻ باندې دروغ اووائى نودوئ به تاخپل قريبى اومخلص دوست کړي اواوس چې کومه دشمني کوي تاسره نوداصرف دَتوحيد اودَحق بيانولو دَوجې نه کوي اوکچرې ماخوذ شي دَ"خَلة" بفتح الخاء نه نووئيلى کيږي ضرورت مند اوحاجت مندته نودايت مقصد به داشي کچرې تاددوئى اتباع اوکړه اوددوئ خبرې دې اومنلې نوته به دوئ نه محتاجه شي اى فقيرا بحاجته اليهم(قرطبي) ﴿وَلَوْلَا أَن ﴾پدې کښې نفي دَمداهنت بيانيږي دَپيغمبرﷺ نه ،چې پيغمبرﷺ دَحق بيانولو کښې هيڅ قسم مداهنت نه کارندې اغستې بلکه دَاللهﷻ دَطرفه ورته تثبت حاصل دې اودادليل دې په عصمت دَپيغمبرﷺ باندې،په ډيروتاکيداتوسره دانفى راغليده(۱)﴿كِدتَّ ﴾دااول تاکيددې کاد دَافعال مقاربه نه دې په وقوع دفعل باندې دلالت نه کوي(۲)﴿تَرْكَنُ﴾دادويم تاکيد دې﴿تَرْكَنُ﴾ دَرکون نه ماخوذ دې چې

دزره والا معمولی میلان ته وئیلی کیږي(۳)﴿شَيْـًٔا﴾دادریم تاکید دي(۴)﴿قَلِيلًا﴾خلورم تاکید دي(۵) اوتنوین پکښې لپاره دَتقلیل دي،نومطلب داشوچې ته پیغمبرﷺ ئی چې ستاحفاظت اوعصمت مونږه په خپل خصوصي فضل سره کوو گني ته به هم ددوئ دَمکر اوفریب دَوجه نه دوئ ته به ډیرمعمولي غونته مائله شوې وې،نودامعمولي غونته میلان هم نیشته یعنی امکان دَمیلان هم نیشته ځکه چې ته پیغمبراومعصوم ئی ﴿وَلَوْلَا﴾زاخي لپاره دَانتفاء ثانی لوجود الاول نومیلان منتفی شو له وجي دَوجود د اول چې هغه تثبت دي اوعصمت دي اوپه روایت کښې راغلیدي چې کله داایت نازل شو نودَدینه وروستو به حضورﷺ بیابه دادعا کوله لاتکلنی الی نفسی طرفة عین(طبری)

﴿إِذًا لَّأَذَقْنَٰكَ﴾ دازجردي په مداهنت باندی اوخطاب عام امت ته دي په واسطه دَحضورﷺ سره چې پیغمبرﷺ که بالفرض والحال مداهنت اوکړنوهغه ته مداهنت معاف ندي اوعذاب پري ورته میلاویږي نوعام خلکوته په طریق اولی سره معاف ندي، ﴿ضِعْفَ ٱلْحَيَوٰةِ﴾ضعف منصوب دي بناء پدي چې داصفت دَمفعول به محذوفه دي تقدیر دَعبارت داسې دي(لاذقناك عذابا ضعفا فی الحیاة وعذابا ضعفا فی الممات(کشاف)) بیاموصوف حذف کړي شو اوصفت دَهغه قائمقام شواوبیادَدغي صفت اضافت اوکړي شو اومراد دَضعف نه دوه چنده سزاء ده پدي دنیاکښې اودَ﴿وَضِعْفَ ٱلْمَمَاتِ﴾ نه مراد عذاب دَقبر اواخرت دي اوپدي ایت کښې اشاره ده چې دَمقربین سزاء په نسبت سره عام ابرارته زیاته سخته وي،لکه چې مشهوره ده حسنات الابرارسیئات المقربین.

﴿وَإِن كَادُوا۟ لَيَسْتَفِزُّونَكَ﴾پدي ایتونوکښې دریم سبب دَعذاب بیانیږي چې هغه اخراج دَرسل دي،دَحضرت شیخ په نیزراجحه خبره داده چې داایت هم مکي دي لکه ځنگه چې پوره سورت مکي دي اودَدي ایت تعلق دَابتداء دَسورت سره دي چې واقعه معراج مونږه ظاهره کړه لپاره دَدي چې دامشرکین توحید اومني اوایمان راوړي خودوئ بیاهم توحید منلوته تیارنشو بلکه دَمکي نه ستا دَاخراج اواوباسلو منصوبی جوړه وي،خوکچري دوئ ته په اخراج باندی مجبوره کړي اوته هجرت اوکړي نودوئ بهٔ هم په ارام سره زندگي تیره نه کړي اوبیا دغه شانتي

اوشوه هم چې دَحضورﷺ دَ هجرت نه پس کفارمکه په ارام سره ژندګي تيره نه کړه قحط سالي اوپه مختلف قسم عذابونو کښې ګرفتارشو اخرکارچې دَهجرت نه دوه کاله ورستو دبدرپه موقعه کښې لوئی لوئی سرداران ئې مردارشو ، اوبعض مفسرين فرمائي چې دَاايت مدنی دې لکه څنګه چې دماقبل ايت دهغوئی په مذهب مدنی دې چې په حيله مداهنت کښې د ناکامئ نه وروستودوئ ستادَاخراج کوشش کوی اومنصوبې جوړه وي اوشان نزول ئې داسې بيان کړيدې چې حضرت ابن عباس﷛ فرمائي چې حضورﷺ کله مدينې ته راغلونويهوديانو ورسره حسد شروع کړو ،نويوځلي دوئ حضورﷺ ته راغلل اوورته ئې اووئيل کچري ته په رښتياپيغمبرﷺئې نوشام ته لاړشه ځکه چې هغه دَاکثروانبياء کرام مسکن دې نوداايت نازل شو ﴿وَإِن كَادُواْ ﴾ ضميرکچرته راجع شي يهودودَمدينه ته لکه څنګه چې دويم قول دې نوځه اشکال نيشته دې اوکچرته راجع شي مشرکين مکه ته لکه څنګه چې قول اول دې چې راجح هم دې.نوپيدې اشکال دې چې دَدې ايت تعارض دې دَايت دَسورت محمد وكاين من قرية هى اشد قوة من قريتك اللتى اخرجتك سره هلته نسبت وقوعی دَاخراج شويدې اهل قرية يعنی مکی والوته اودلته لفظ دکاد استعمال شويدې چې هغه دلالت په مقاربت کوي نه په نسبت وقوعی باندی، علامه ابوحيان فرمائي چې په سورة محمدکښې دَنفس اخراج ذکردې چې هغه واقع شويدې اودلته دَ هغه اخراج ذکردې چې هغه علت دَاستفزازلپاره دې هغه ندې واقع شوې(بحر) ﴿لَيَسْتَفِزُّونَكَ﴾استفزاز ونيلی کيږي په چلو نواومکرونوسره ويستل،﴿مِنَ ٱلْأَرْضِ﴾ اول قول په بناء مراد تنه مکه معظمه ده اودويم قول مدينه منوره تنه مراد ده،﴿وَإِذًا لَّا يَلْبَثُونَ﴾پدې کښې اشاره ده عذاب ته، او﴿وَإِذًا﴾کښې تنوين عوض دَجملي نه راغليدې ای واذا اخرجوك لايلبثون اومراد دَلبث نه خوشحالئ اودراحت ژندګي تيرول دي،نوداعتراض نه واردېږي چې نفی خودَلبث يعنی دَژوند تيره ولوراغليده حالانکه هغوئی خودَاخراج رسول نه وروستو هم ژوندې وو ، داتوجيه دحضرت والدصاحب نورالله مرقده ده،اوحضرت تهانوی﷫ فرمائي چې په بدرکښې کوم لوئی لوئی سرداران مردارشو هغه په منزله دکل سُکَّان مکه وو نوددې وجه نه ترتب ﴿لَّا يَلْبَثُونَ﴾پرې صحيح دې اوکه قول ثانی مرادشي نوځه اشکال نيشته ځکه چې دَيهوديانو دَطرفنه اخراج

نو ومتحقق، اگرچې په نفس کوشش کولو سره هم هغوئ ته سزا میلاؤشوه لکه قتل دبنوقریظه او اجلاء دبنونضیرشو.

﴿سُنَّةَ﴾ دا مفعول مطلق دې دفعل مقدره لپاره سنّة الله سنة یعنی دهرقریبې سره د الله جل جلاله سنت داجاري دې چې کله هغوئی پیغمبر ﷺ اوباسي نو بیا دوئ هم هلاك کیږي (بحر، کشاف).

أَقِمِ	الصَّلَوٰةَ	لِدُلُوكِ	الشَّمْسِ	إِلَىٰ	غَسَقِ	الَّيْلِ	وَقُرْءَانَ	الْفَجْرِ
قائم‌سم[1]	کوه ته مونځونه	دوخت دزوال	دنمرنه	ترتیاري	دشپې	پوري	او(قائم کوه)	مونځ دصبا
إِنَّ	قُرْءَانَ	الْفَجْرِ	كَانَ	مَشْهُودًا ﴿۷۸﴾	وَمِنَ	الَّيْلِ	فَتَهَجَّدْ	بِهِۦ
بیشکه	مونځ دسحرته		حاضري کیدیشي،		اوپه ځني حصه	دشپې کښ	تهجدکوه	تەپه لوستلوءدقرآن سره
نَافِلَةً	لَّكَ	ق	عَسَىٰ	أَن	يَبْعَثَكَ	رَبُّكَ	مَقَامًا	مَّحْمُودًا ﴿۷۹﴾
دازیاتی	ده	ستالپاره.	قریبه ده	چې	اوبه رسوي	تارب	ځائ ستا	ستائیلی شوي ته

﴿أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ﴾ دا ذکر دامور مصلحه اودخلورو آدابو کیږي، دا اول امر مصلح او ادب دې پدیکښ دمونځ اودهغې داوقاتو ذکردې، چې په خپل وختونو کښ مونځ اودتهجد اهتمام کوه چې داپه صبراواستقامت کښ مدد ورکونکې دې، ﴿لِدُلُوكِ﴾ لام یاپه معنی دبعد سره دې ای بعددلوك الشمس، لکه داقول دعربوشو کتبته لثلاث خلون ای بعدثلاث خلون، اویالام تعلیلیه دې ای لاجل دلوك الشمس، یاسببیه دې ای بسبب دلوك الشمس، اویالام په معنی دوقت سره دې ای من وقت دلوك الشمس(جلالین) اودلوك د دلك نه دې مخلوته وئیلی کیږي بیضاوي فرمائی چې د.ل. ك. ماده دلالت په انتقال کوي بلکه فرمائی چې دال اولام چې په کومې کلمې کښ راشي دریم حرف چې هریووي ورسره، ددې په مفهوم کښ به انتقال معنی وي، لکه دلك، دلج، دلح، دلع، دلف وغیره شو اومالش اومخلوته ځکه دلك وئیلی کیږي چې په هغی کښ هم لاس مسلسل انتقال کوي په یوځائ باندی نوي او زوال اوغروب ته "دلك" ځکه وائی چې پدیکښ هم انتقال دنمروي.

---

(1) امور مصلحه

اواطلاق دَدلوك په دوومعنیوباندی کیږي، زوال اوغروب،خودلته راجحه معنی زوال ده. ابن جریرطبری اوابن کثیر داقول دَډیرتابعینونه نقل کړیدي اوحدیث مرفوع ئی هم په تائیدکښ ذکرکړیدي، اودغه شانتي چې مراد تنه زوال شي نوپدیکښ به اشاره شي دَدري مونځونوته. ماسپخین،مازیګر،اوماښام اوکچري مرادتنه غروب شي نوصرف ماښام مونځ ته به اشاره اوشي، ﴿إِلَىٰ غَسَقِ﴾پدیکښ اشاره ده ماسختن(عشاء)مونځ ته،﴿وَقُرْءَانَ ٱلْفَجْرِ﴾ دامصدر دې په معنی دَقرات سره او مراد تنه دَسحرمونځ دې اوهرکله چې قرائت رکن اعظم وو دَمونځ لکه څنګه چې رکوع اوسجده ده نوځکه تنه تعبیردَپوره مونځ نه په قرآن سره اوشو اوپدیکښ اشاره ده دَسحرمونځ کښ تطویل دَقراءت ته،او﴿وَقُرْءَانَ﴾منصوب دې بنابرمفعولیت،دامفعول به دې دَاقم لپاره اوعطف دې په ﴿ٱلصَّلَوٰةَ﴾باندی، ﴿ إِنَّ قُرْءَانَ ٱلْفَجْرِ ﴾وضع دَاسم ظاهرپه ځائ دَمضمر دَتاکید اواهتمام شان لپاره دي،﴿كَانَ مَشْهُودًا ﴾ یعنی وخت دَحاضریدلو دَملائکودې یعنی دَشپي اودورځي ملائك پدي وخت کښ جمع کیږي، اوحدیث دَابوهریرةﷺ کښ راغلیدي چې قال النبیﷺ تجمع ملائکة اللیل وملائکة النهار فی صلوة الفجرثم قال ابوهریرة اقروا ماشئتم وقرآن الفجر ان قرآن الفجرکان مشهودا (بخاری،مسلم) اویامراد دَ﴿مَشْهُودًا﴾نه شهود دَډیرو مصلینو دې پدي وخت کښ اوامام رازيرحمه الله فرمائی چې پدي وخت کښ شواهد دقدرت دي، چې هغه مختلف انقلابات دي په عالم کښ(والتفصیل فی الکبیر).

﴿وَمِنَ ٱلَّيْلِ﴾دادویم امرمصلح دې چې دَشپي په څني حصه کښ مونځ دَتهجد کول دې من تبعیضیه دې اوجارمجرور متعلق دې په فعل مقدرپوري چې "اقم" یا"اسهر" دې ای واسهرمن اللیل(روح) او(فاء) په ﴿فَتَهَجَّدْ﴾کښ عاطفه ده معطوف علیه ورله فعل مقدردي، اوهجد دَهجود نه ماخوذ دي،بعض اهل لغت فرمائی چې دالفظ دَاضدادونه دې اطلاق ئی په نوم اوپه ترك نوم دواړو باندی کیږي، اوتعیین دَاحدهما به په قرینه سره وي لیکن څني نوراهل لغت دافرمائی چې هجود اوهجد دَمجردو نه معنی ئی نوم یعنی خوب ده،خوباب تفعل نه چې کله راشي نومعنی ئی ترك نوم ده ځکه چې د تفعل یوخاصیت سلب ماخذالاشتقاق دې بعض مفسرینو دلفظ تهجدنه

داخبره ثابته کړیده چې صلوة تهجد به شرعا هغه مونځ ته وئیلی کیږي چې وروستودبیداریدلو دخوب دشپې نه وي اوکچري یوسړي اولاً بیدار وو او اوده شوي نوو نودهغه والا نوافلو ته به تهجدنه وئیلی کیږي، اودغه شانتي قول دامام مجاهد وغیره نه هم منقول دي چې التهجد الاستیقاظ من النوم للصلوة، نودا تقاضه دسبق نوم کوي، لیکن اکثرمفسرین فرمائی چې اشتراط دسبق نوم دصلوة تهجد لپاره ددینه ایت نه،نه معلومیږي،ځکه چې ترک النوم عام دې حقیقة وي چې یوکس اوده وي اوخوب پریدي اوراپاسي، اویاحکماوي چې په وقت نوم کښ نوم پریدي، دواړو ته ترک النوم اوتهجد وئیلی کیږي اومبرد فرمائی چې تهجد وئیلی کیږي وهوالسهر للصلوة اولذکرالله تعالی نوددینه معلوم شوه چې اشتراط داستیقاظ بعدالنوم صحیح ندې،البته دحضورﷺ اودصحابه کرام عام معمول داوو چې په اولوحصوکښ به ئی خوب اوکړواوپه ثلث اخرکښ به ئی صلوة تهجد کولو ،ددې وجه نه داصورت افضل دې.

﴿نَافِلَةً لَّكَ﴾ نفل په لغت کښ زائدعلی الاصل ته وئیلی کیږي،نویوه معنی ئی داده چې تهجد ستالپاره یوزائدحکم دې،یعني دپنځه مونځونو نه علاوه په تاباندی تهجدهم فرض دې معناه الك مخصوص بوجوب ذلك وحدك(ابن كثير) اوبیضاوي فرمائی چې تخصیص ددې فرضیت په حق دنبيﷺ کښ لوجه دفضیلت نه دې،نوددینه معلومیږي چې تهجد په حضورﷺ باندی فرض وو، اوددې تائید په حدیث دحضرت عائشهؓ سره هم کیږي چې فرمائی چې حضورﷺ ارشاد اوفرمایه ثلث عليّ فريضة ولامق تطوع: قيام الليل، والوتر، والسواك(مستدرك الحاكم،طبراني) اوداقول مروي دې دابن عباسؓ،امام شافعيؒ نه اوداغوره کړیدې ابن جریرطبری هم،لیکن دجمهورمذهب دادې چې ابتداء کښ تهجدپه حضورﷺ اوامت په ټولوباندی فرض وو،لیکن په فرضیت دصلوة خمسه سره فرضیت دتهجدومنسوخ شو دحضورﷺ نه هم اودامت نه هم، اوپه عدم فرضیت باندی ډیراحادیث دلالت کوي،چې نقل کړیدې مظهری اوشربینی اوجمهوردَ﴿نَافِلَةً لَّكَ﴾ تفسیرکوي، چې داستا لپاره زائد دې په فرضو باندی ای عبادة زائدة لك على الصلوة الخمس (کشاف) ای تطوعا وزیادة علی الفرائض (کبیر) اوکچري څوك اشکال اوکړي چې تهجدخودټول امت په حق کښ نفل دې نوتخصیص ئی په حضورﷺ پوري والې اوشولو؟ نوجواب ئی دادې چې نوافل اوتهجد دحضورﷺ په حق کښ زوائد محض وو،خالص رفع درجات ذریعه وه ځکه چې

حضور ﷺ معصوم وو په خلاف دَامت نه چې امت لپاره کفاره دذنوب گرځيږي.نو ددي وجه نه تخصيص ئی په حضور ﷺ پوري اوشولو اوياتنه مراد عطيه اوبخشش دې يعني داعطيه اوبخشش ستالپاره دي، اوقرطبی احتمال اول رد کړيدې په دوه وجهينو سره (۱) نافلة نه زائده فريضه مرادکول مجازدي اوارتکاب مجازته بغيردتعذردَمعنی حقيقی نه غيرصحيح دي (۲) کچري مراد دَنافلة نه فرض شي نوتعارض به راشي دَډيراحاديثو صحيحو سره چې هغه دال دې په فرضيت دَصلوة خمسه مطلقا په حق دَهرچاکښې برابره خبره ده پيغمبروي اوکه امتي وي.لکه په حديث صحيح کښې راغليدي خمس صلوات فرضهن الله على العباد، اوهغه شانتي په حديث اسراء کښې راغليدي،هن خمس وهن خمسون لايبدل القول لدى، دااحاديث مطلق دي په حق دَهرچاکښې.

﴿عَسَىٰٓ أَن يَبۡعَثَكَ﴾ عسیٰ په کلام الهی کښې لپاره دَوعدي وي اومرادپه مقام محمود سره مقام دَشفاعت کبری دي اوشفاعت کبری هغه دي چې کله اولين اواخرين راجمع شي اوهرپيغمبر ﷺ ته خپل فرياد اوکړي اوهريوپيغمبر ﷺ به خپل عذرظاهرکړي او دَشفاعت کولونه به معذرت اوکړي نواخرکښې به مخلوقات حضور ﷺ ته درخواست اوکړي نوحضور ﷺ به دَالله ﷻ په حضورکښې سجده اوکړي اودَالله ﷻ تعريفات به بيان کړي اواجازت دَشفاعت به طلب کړي اخرکارحضور ﷺ ته به شفاعت اجازت ميلاؤشي اوورته به اوئيلی شي،يامحمد ارفع راسك قل تسمع،سل تعطه،واشفع تشفع الحديث، نوحضور ﷺ به شفاعت اوکړي اومخلوقات به دَتکليف نه خلاص کړي نوپدې وخت کښې به هرڅوك دَحضور ﷺ تعريف کوي اوالله ﷻ به هم دَحضور ﷺ تعريف کوي دَشان محمديت پوراپورا ظهوربه اوشي دغه مراد دې دَمقام محمود نه اوهم دغه مقام مراد دې چې لواء الحمد به په لاس دَحضور ﷺ کښې وي.

وفی الحديث عن جابربن عبدالله رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ قال من قال حين يسمع النداء اللهم رب هذه الدعوة التامة والصلوة القائمة آت محمدا الوسيلة والفضيلة وابعثه مقاما محمودا الذی وعدته حلت له شفاعتی يوم القيمة(البخاری) احاديث دَشفاعت حافظ ابن کثير رحمه الله اومظهری په تفصيل سره ذکرکړيدې اوصاحب دَمظهری وغيره فرمائی چې دَحضور ﷺ لپاره درې قسمه شفاعتونه دي،ليکن حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری(ج۱۳ص ۲۵۰- ۲۵۱) اوعلامه عينی په عمدة القاری کښې تفصيلا داذکرکړيدې چې حضور ﷺ لپاره لس(۱۰) قسمه شفاعتونه ثابت دي اوبعض مفسرين فرمائی

چې مراد دَمقام محمودنه اعطاء دَلوآء الحمد ده حضورﷺ ته. اوبعض فرمائي چې مراد تنه زيات قربت دې الله ﷻ ته، لکه داقول منقول دې مجاهد رحمه الله نه ليکن قول اول راجح دې لکه بعض مفسرينو پدې باندې اجماع نقل کړيده.

وَقُلْ رَّبِّ اَدْخِلْنِیْ مُدْخَلَ صِدْقٍ وَّاَخْرِجْنِیْ مُخْرَجَ صِدْقٍ وَّاجْعَلْ لِّیْ
اووايه ته چې اې ربه څما! داخل کړې مالره په داخلولودرشتياسره اواوباسې ماپه ويستلورشتياسره اواوګرځوې مالره
مِنْ لَّدُنْكَ سُلْطٰنًا نَّصِیْرًا ﴿۸۰﴾ وَقُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ ؕ اِنَّ الْبَاطِلَ
له جانبه خپل نه حجت مددګار، اواوايه ته چې راغې حق او روک شوباطل بيشکه باطل دې
كَانَ زَهُوْقًا ﴿۸۱﴾ وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِیْنَ
ورروکيدونکې.اونازله وومونږه دقرآن نه هغه چې هغه شفاده اورحمت دې لپاره دمومنانو،
وَلَا یَزِیْدُ الظّٰلِمِیْنَ اِلَّا خَسَارًا ﴿۸۲﴾
اونه زياتوي داقرآن ظالمانولره مګرتاوان.

﴿وَقُلْ رَّبِّ﴾ دادريم امرمصلح اوداب ذکردې اودامتعلق دې په ﴿وَاِنْ كَادُوْا لَیَسْتَفِزُّوْنَكَ﴾ پورې، چې داکافرکه ستادَوخکلو منصوبې جوړه وې نوته پرواه مه کوه اودادعا وايه ﴿رَّبِّ اَدْخِلْنِیْ﴾ اوستا دمکې ته وتل اومدينې ته داخليدل دَاسلام دَسربلندئې اودَمسلمانانو لپاره دَفتح اوخيرباعث دې، ﴿مُدْخَل﴾ او﴿مُخْرَج﴾ صيغې دمصدرميمي دې دَباب افعال نه اوبعض فرمائي چې دامصدر دَ دخل او خرج مجردو دې اودلته مصدرواقع شويدې دَباب افعال لپاره من غيرلفظه اوبعض فرمائي چې دادواړه صيغې دظرف مکان دې يعنې ځائې دداخليدلو اوځائې دَخارجيدلو(بحر) اواکثرمفسرين فرمائي چې مراد دَدې ادخال اواخراج نه خاص ادخال اوخاص اخراج دې چې هغه ادخال مدينې طيبې ته دې اواخراج دَمکې معظمې نه دې، داقول مروي دې دَابن عباس رضي الله عنه نه اوامام ترمذي رحمه الله په کتاب التفسيرکښې په سند صحيحه سره دابن عباس رضي الله عنه نه نقل کړيدې چې حضورﷺ په مکه کښې وو چې کله ورته امراوشو په هجرت سره

نودا ايت نازل شو ، اوبعض فرمائی چې ادخال او اخراج دواړو نه مراد مکي ته ادخال او اخراج دی. ای اخرجنی من مكة امنامن المشركين وادخلنی مكة ظاهرا عليها بالفتح(خازن) اوبعض فرمائی چې ادخال قبرته مراددي په وخت دوفات کښې او اخراج دقبرنه مراد دی په وخت دبعث کښې اونورا قوال هم پکښې راغليدي ليکن صاحب دبحر فرمائی چې زياته غوره خبره داده چې داپه خپل عموم باندی پريخودلې شي اومرادتنه عام ادخال او اخراج شي په جميع مکان او اوامر اومصادر اوموارد دينيه اودنيويه پورې(بحر، ج۲ ص۳۱) اوابن کثير اوابن جرير قول اول ته ترجيح ورکړيده

اومراد د صدق نه متعارفه معنی نده مرادځکه چې هغه صفت دکلام خبري لپاره واقع کيږي اوداکلام انشائی دی بلکه مراد تنه افضل اواعلی اواکمل دی لکه يوسړی ښه جنګ اوکړي نوعرب وائی هوصدق فی القتال اودی وجه نه هرعمده اومرضی اوافضل شئ توصيف په صدق سره کيږي لکه مقعد صدق قدم صدق اولسان صدق وغيره شو ،نودلته هم مراد تنه دغه تمثيل اومحاوره ده نومعنی داشوه چې داخليدل هم ځماپه عزت اوښه طريقې سره وي اوخارجيدل هم په عزت سره وي اوځه قسم بدحالت راته اونه رسي او اضافت ئی صدق ته مبالغة دی.

﴿سُلْطَٰنًا نَّصِيرًا﴾مراد دسلطانا حکومت اوتسلط دی اود﴿نَّصِيرًا﴾نه مراد طاقت دی چې په هغې سره نفاذدحدود اونورو قوانين داسلام اوشي، يعنی داسې حکومت راته راکړې چې دهغې دوجې نه په مخالفينو باندی غلبه حاصله شي اوداسې طاقت راکړي چې په هغې سره قيام اونفاذ ددين اواستحکام ددين راشي (کشاف) حضرت مولاناشبيراحمدعثمانی رحمه الله فرمائی دنياکښې چې کوم قانون وي که هغه سماوي(يعنی الله ﷻ راليږلي وي) ياارضي وي(يعنی دانسانانو خودساخته وي) دهغې دنفاذلپاره ضروری ده چې دحکومت مدد وي ځکه چې کوم خلك دلائل اوبراهينو اوريدلونه پس هم عنادا په خپل کفرباندی مضبوط ولاړدي دهغوئ ضرر اوفساد حکومت ختمولې شي اوحافظ ابن کثير رحمه الله فرمائی چې لابد مع الحق من قهرلمن عاداه وناداه ولهذا يقول تعالی ولقدارسلنارسلنا بالبينت..... وانزلنا الحديد الاية، وفی الحديث ان الله ليزع بالسلطان مالايزع بالقرآن ای ليمنع بالسلطان عن ارتكاب الفواحش والاثام مالايمتنع كثيرمن الناس بالقرآن ومافيه من الوعيد الاكيد والتهديدالشديد وهذا هو الواقع(ابن كثيرص ۵۹ ج۳)(تفسيرعثمانی) ددينه معلومه شوه چې دنفاذ اسلام لپاره دحکومت دحصول جدو جهدکول جائزنه بلکه يوه اهم فريضه اومطلوب شئ

دي اودَدي وجه نه حضورﷺ ته دَحکومت دَغوختلو دعاحکم ورکړي شو اودهغي خلکو قول په الحاد اوګمراهئ باندی مبني دي چي علماء ته دَحکومت دَحصول لپاره جدوجهدکولوباندی پیغوروركوي، اواسلام اوسیاست جداجدا ګڼړی لیکن ضروري خبره تصحیح نیت اواخلاص وللّهیت دي اوضد ،عناد ،حسد اوتکبرنه دَخپل ځان حفاظت پکاردي کنی دامحدوح په مذموم باندی بیابدل شي اونن صباداامورکالعنقاء دی الاماشاء الله.

﴿وَقُلْ جَآءَ﴾داخلورم امرمصلح اوادب بیانیږي اوداحکم په طوردَپشنګوئی دي ای قل عنددخولك مكة(جلالین) یعنی حکومت اوغلبه به میلاؤشي اوچي کله په وخت دَفتح کښ مکي ته داخلیږي نوداوایه چي﴿جَآءَ ٱلْحَقُّ﴾ اومراد دَحق نه دین اسلام اوتوحید دي اوباطل نه مراد کفر،شرك دي اوپه حدیث کښ راغلیدي عبدالله بن مسعود نه روایت دي قال: دخل النبيﷺ مکة وحول البیت ستون وثلثمائة نصب فجعل یطعنها بعود فی یده ویقول جآء الحق وزهق الباطل... جآء الحق ومایبدئ الباطل ومایعید(البخاری ومسلم) یعنی حضورﷺ دَفتح مکه په ورځ مکي ته داخل شونودَمکي نه ګیرچاپیره(۳۶۰) بتان پراته وودَحضورﷺ په لاس مبارك کښ لرګی وو په هغې لرګي سره به حضورﷺ هربت وهلو اوغورځلوبه ئې اوداایتونو به ئې تلاوت کول قل جآء الحق جاء الحق ومایبدئ الباطل .

﴿إِنَّ ٱلْبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقًا﴾ دادویمه پشنګوئی ده چي باطل همیشه لپاره ورکیدونکی دي چي کوم کفردکعبی نه اووتلوبیابه کله هم واپس رانشي، زهوق په وزن دَفعول سره صیغه دَمبالغي ده معنی ئې ده ډیرپه تیزئی سره زائله کیدونکي اوپه ﴿كَانَ زَهُوقًا﴾کښ اشاره ده چي زوال دَهرباطل دَذات سره لازم دي چي چرته حق راشي باطل نشي پاتي کیدلي،اګرچي وقتی اوعارضي طورباطل کله کله غلبه اومندي، اوداجمله په منزله دَعلت ده لپاره دماقبل.

﴿وَنُنَزِّلُ﴾دا مؤمنین ته بشارت اومنکرین ته زجربیانیږي، اوترغیب الی القرآن دي چي داقرآن داللهﷻ دطرف نه دَمؤمنین لپاره رحمت،اودهرقسم باطني امراض لپاره شفاء ذریعه ده،اودَمنکرینولپاره سراسردَنقصان ذریعه ده، اومِن په ﴿مِنَ ٱلْقُرْءَانِ﴾کښ بیانیه دي چي بیان ئې کړیدي دَ د﴿مَا هُوَ﴾ اوتقدیردَعبارت داسي دي وننزل ماهوشفاء الذی هوالقرآن لکه فاجتنبوا الرجس

من الاوثان دي اوتقديم دمن بيانيه په مبيّن باندي لپاره داهتمام شان دي. او بعض فرمائي چي من تبعيضيه دې اوتبعيض په اعتباردانزال سره دې چې هره حصه دقرآن چې نازلي ده هغه بعض وه دپوراقران نه نوهغې هري يوي حصي په باره کښې اونيلې شوچې داشفاء ده نوګوياچې ټول قرآن ته شفاء اونيلې شو، (قرطبي) اوبعض فرمائي چې من تبعيضيه دې اومراد دشفاء نه دامراضوجسمانيونه شفاء مراد ده اودقرآن مجيد ځني حصي دامراض جسمانيه لپاره ذريعه دشفاء ده لکه سورة الفاتحه وغيره سورتونه شولو اوصاحب دبحروغيره ترجيح ورکړيده ديته چې من دابتداء دغايه لپاره دې اوداقول زيات واضح دې.

﴿شِفَآءٌ﴾مرادتنه دهرقسم امراض دی که روحاني وي ياجسماني وي. امام رازي رحمه الله فرمائي چې امراض روحانيه په دوه قسمه دي يو اعتقادات باطله اودويم اخلاق مذمومه دي. په اعتقادات فاسده کښې سخت هغه اعتقادات فاسده دی چې فساد داعتقاد په باره دالهيات، نبوات،معاد، قضااوقدرکښې راشي،نوقرآن مجيد مشتمل دې په دلائلوباندی لپاره داثبات دمذهب حق اوپه ابطال داديان باطلوباندی،اوهرچې دي اخلاق مذمومه نوقرآن دهغې تفصيلات تعريفات،مفاسدوغيره تفصيلاذکرکړيدی اودغه شانتي اخلاق فاضله،کامله او اعمال محموده ته ارشاد قرآن مجيدپه تفصيل سره کړيدې نوځکه قرآن مجيد دټولوامراض روحانيه لپاره شفاء دې اودغه شانتي دامراض جسمانيولپاره هم ذريعه دشفاء ده،ځکه چې دامراض جسمانيه لپاره دقرآن دم لوستل په احاديثو صحيحوکښې ثابت دې،لکه په روايت دحضرت انس رضي الله عنه وغيره کښې دی آن رسول الله ﷺ رخص في الرقية من الحمة والنملة(رواه الترمذی) اودغه شانتي دحضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه مشهورروايت دې چې ان ناسا من اصحاب النبي ﷺ مروا بحي من العرب فلم يقروهم ولم يضيفوهم الى... فجعل رجل منايقراء عليه بفاتحة الكتاب فبراء فلمااتيناالنبي ﷺ ذکرناذلك له،قال ومايدريك انهارقية ولم يذکرنهيامنه وقال کلوا واضربوالي معکم بسهم(ترمذی) اودغه شانتي نورډيرروايات شو لکه هغه روايات چې دمعوذتين په باره کښې راغليدی.علامه آلوسي رحمه الله دقشيري نه نقل کړيدی چې دهغه بچی بيمارشو اوډيرسخت شو چې دې ددَه ژوند نه مايوس شونوپوه شپه ئې دالله ﷻ ديدارپه خوب کښې اوکړواودخپل بچي دمرض شکايت ئې اوکړو، نوالله ﷻ ورته اوفرمائيل چې ايات الشفاء راجمع کړه اوهغه په ده باندي اولوله اويائی په

یولوخي کښې اولیکله اوهغه پده باندي اوځکوه. نوقشیری دغه کاراوکړو نوهغه بچي نی صحت یاب شو اوایات الشفاء هغه شپږ ایاتونه دی(۱)ویشف صدورقوم مؤمنین(۲)شفاء لما فی الصدور(۳)فیه شفاء للناس(۴)وننزل من القرآن ماهوشفاء ورحمة للمؤمنین(۵)واذامرضت فهویشفین(۶)قل هوللذین امنوا هدی وشفاء.

امام رازی رحمه الله فرمائی چې ټول جمهورفلاسفه اوجادو والاپدي متفق دي چې هغه دمونه چې دهغې الفاظ مجهول المعنی دی په تحصیل دمنافعو اوپه دفع دمفاسدوکښې لپاره دهغې لوئ اثردي نوقراءت دقران چې مشتمل دې په ذکردالله ﷻ باندی اوپه کبریائی دالله ﷻ باندی خامخابه سبب وي لپاره دحصول دنفع په دین اودنیاکښې اودې وجه نه حضور ﷺ ارشاد اوفرمایه من لم یستشف بالقرآن فلاشفاه الله تعالی(کبیر) اوباقي تعویذ لیکل هم په نیزدجمهور جائزدی اوثابت دی په حدیث اوپه قول اوعمل دصحابه رضی الله عنهم اوتابعین اواسلافو سره(والتفصیل فی القرطبی) البته هغه تعویذات چې په هغې کښې استمداد دغیرالله نه وي، یاپداسې الفاظوباندی مشتمل وي چې هغې معنی اومقصدچاته معلوم نوي داناجائزدی اومنع په احادیثوکښې ددغه شانتي تعویذنونه راغلیده. ﴿وَرَحْمَةٌ﴾داعطف دې په ﴿شِفَآءٌ﴾باندی یعنی قرآن دامراضولپاره ذریعه دشفاء ده اوداظاهري باطنی نعمتونواوصحت ذریعه ده، نوپه ﴿شِفَآءٌ﴾کښې اشاره ده تخلیه ته اوپه﴿وَرَحْمَةٌ﴾ کښې اشاره ده تحلیه ته اوتخلیه مقدمه وي په تحلیه باندی نوځکه شفاء مقدم شوپه رحمة باندی(روح) ﴿وَلَا یَزِیدُ ٱلظَّٰلِمِینَ﴾قرآن دمؤمنانولپاره ذریعه دشفاء ده ځکه چې هغوئی پدي سره نفع اخلي، اوکافر تنه نفع نه اخلي نوامراض باطنی ورځ په ورځ زیاتیږي په سبب دامراض سره لکه په سورة توبه کښې دي فاماالذین فی قلوبهم مرض فزادهم رجسا الی رجسهم الایة(توبه:۱۲۵) اونسبت دزیادة دنقصان قرآن ته تسبیبادې چې ددوئ اعراض عن القرآن داسبب دې لپاره دزیادت دخسران اودنقصان.

وَإِذَآ أَنْعَمْنَا عَلَى ٱلْإِنسَٰنِ أَعْرَضَ وَنَـَٔا بِجَانِبِهِۦ ۖ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ كَانَ
[۸۳]اوکله چې انعام اوکړو مونږه په انسان باندی نومخ اوګرځوي اولري کړي خپله ډډه(څنګ) اوچې کله اورسیږي ده ته تکلیف نووي دې

(1) زجر

يَئُوسًا ﴿۸۳﴾ قُلْ كُلٌّ يَّعْمَلُ عَلٰى شَاكِلَتِهٖ ؕ فَرَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَنْ

ناامیده، اووایه ته هرڅوك عمل كوي په طريقي خپلي سره پس رب ستاسوښه پوهه دي په هغه چ چي

هُوَ اَهْدٰى سَبِيْلًا ﴿۸۴﴾

هغه ښه موندونكى دي لاري لره.

﴿وَإِذَآ أَنْعَمْنَا ﴾داز جردې په كافر اومشرك باندى چې دانعام په وخت كښ هم دالله ﷻ دياد اوذكرنه غافل وي په سبب دتكبرسره اودالله ﷻ انعامات خپلو خودساخته معبودانو ته منسوب كوي، اودسختئ په وخت كښ هم دالله ﷻ دذكرنه غافله وي اومايوسه ناامیده وي. اومراد د ﴿أَنْعَمْنَا ﴾نه جسمانى صحت اومالي وسعت دي اومراد د﴿ٱلْإِنسَٰنِ﴾ نه دانوعه مذكوره دانسان ده چې كوم ذكريه﴿وَلَا يَزِيدُ ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ كښ اوشو ﴿أَعْرَضَ﴾مرادتنه اعراض دي دذكردالله ﷻ نه اوشكرنه اداكول دي، ﴿وَنَـَٔا بِجَانِبِهِۦ ﴾داتاكيددي دماقبل لپاره،يعنى خپل ځان دبيان دحق نه لري كړى دوجي دتكبرنه، ﴿وَإِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ ﴾مرادتنه مرض،فقر،اونورتكاليف دى﴿كَانَ يَـُٔوسًا ﴾،يؤس فعول په وزن مبالغى لپاره دي اى شديداليأس من رحمتنا(روح) سخت ناامیده شي دالله ﷻ درحمت نه، ﴿قُلْ كُلٌّ ﴾داهم زجراوذم دي دكافراومدحه اوبشارت دمؤمن ده چې هريو انسان دخپل نيت،طبيعت موافق عمل كوي،ليكن فيصله حقانيت ددين ددوئ په طبعيتونو اوخيالاتوباندى نده مبنى،الله ﷻ ته علم دي چې دهدايت والادين دچادي، اوڅوك په حق دين باندى قائم دي دالله ﷻ دعلم محيط نه څوك هم بهرندي ،د﴿شَاكِلَتِهِۦ﴾ تفسير،نيت.طبعيت اوطريقي سره شوېدي اومقصد اومفهوم دتولومتقارب دي چې هرانسان دخپل نيت اوعادت اورسم رواج چې هغه دده فطرت ثانيه اوګرزيدلي دهغې موافق عمل كوي،امام جصاص رحمه الله فرمائى فيه تحذير من الف الفساد والمساكنة اليه فيستمرعليه(احكام القرآن ج۳)چې پدي ايت كښ تحذيراوتنبيه ده پدي خبره چې دغلط مجلسونو اوغلط ماحول نه ځان بچ كول پكاردى، اوبيافرمائى چې﴿شَاكِلَتِهِۦ﴾

معنی هم شکل جوړیدل هم رازي، مایشاکله ویلیق به ویشبهه(احکام القرآن) اودایت مقصد دادي چې هرسړی دخپل شکل اودخپل مزاج موافق سړی سره میلاویږي.شریردشریراونیك دنیك سره،لکه څرنګه چې په سورة النورکښ دي، الخبیثات للخبثین (النورایت نمبر۲۲)قرطبی واقعه نقل کړیده چې صحابه کرامو په خپل مینځ کښ مذاکره دقرآن اوکړه، نوحضرت ابوبکر اوفرمائیل چې ماقرآن اول نه تراخره پوري اولوستلوپه ټول قرآن کښ څمالپاره دزیات امید والاایت داایت مذکوره دي ﴿قُلْ كُلٌّ يَعْمَلُ﴾څکه چې مزاج دبنده،عصیان دي اوعادت درب غفران دي، اوحضرت عمر اوفرمائیل چې ماقرآن داول نه تراخره پوري اولوستلو نوماته زیات امید والاایت دسورة غافروالا اولنی دري ایتونه ښکاره شو(حم(۱) تنزیل الکتب من الله العزیزالعلیم(۲)غافرالذنب وقابل التوب) (3)اوحضرت عثمان اوفرمائیل چې ماته (نبئ عبادی انی اناالغفور الرحیم(الحجر:۴۹))زیات امیدوالا ښکاره شو اوحضرت علي اوفرمائیل چې ماته قل یعبادی الذین اسرفوا علی الخ (الزمر:۵۳)زیات امیدوالاښکاره شو،اوقرطبی فرمائی قرات القرآن من اوله الی اخره فلم ارایة احسن وارجی من قوله تعالی(الذین آمنوا ولم یلبسوا ایمانهم بظلم الخ) (الانعام:۸۲).[1]

وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ ۖ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ الْعِلْمِ
[2]اوتپوس کوي دوئ ستانه په باره دروح کښ ته اوایه چې روح دامردرب څما،نه دي، اوندي درکړې شوې تاسوته دعلم نه
إِلَّا قَلِيلًا ﴿٨٥﴾ وَلَئِن شِئْنَا لَنَذْهَبَنَّ بِالَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ
مګرلږ غوندي،اوکچرته خوښه شي زمونږ نوبوځوبه مونږ هغه شی چې وحی کړیده مونږ تاته بیابه اونه مومي ته خپل خان لپاره

(1) تنبیه: امام رازی فرمائی چې دایت مذکوره دلیل دي پدي چې تشکیك په ماهیاتوکښ جائزدي اونفوس ناطقه مختلف دي په اعتباردماهیت سره، څکه چې داقرآن دځنې خلکولپاره رحمت اودځنولپاره ذریعه دنقصان ده اوعلت ئې دابیان شو چې کلّ یعمل علی شاکلته، چې دقرآن والاثارکمال اوذکاء په نفوس طاهره کښ ظاهریږي،اوخزی اوضلال په نفوس کښ کدوره کښ ظاهریږي اودا په دي صورت کښ ممکن دي چې ارواح اونفوس مختلف وي په اعتباردماهیت سره، ولکن القول هذا الاستدل غیرتام ولایخفی امافی هذا علی من له ادنیٰ تامل.

2: شکوه

بِهٖ عَلَيْنَا وَكِيْلًا ﴿٨٦﴾ اِلَّا رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ ۭ اِنَّ فَضْلَهٗ

بدي سره به مونږ باندې څوك كارسازليكن دوجي درحمت درب ستانه نه بوخو بيشكه فضل دالله

كَانَ عَلَيْكَ كَبِيْرًا ﴿٨٧﴾

دې په تا باندې ډير لوئ

﴿وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الرُّوْحِ﴾ دا ازجراوشكوى ذكركيږي دَ مشركينو په سوال عنادا باندې اوربط دَدې ايت دَماقبل سره دادې چې په ماقبل ﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ﴾ كښې اثبات درسالت ووعموم اوپدې كښې اثبات دَرسالت دې خصوصا(تهانوى) اوددې ايتونو په شان نزول كښې روايات مختلف دي دَدې وجه نه دَدې ايت مكي اومدني كيدلوكښې هم اختلاف راغليدې.په روايت دَعبدالله بن مسعودﷺ دى چې نقل كړيدې شيخينو چې فرمائي(بينا انامع النبيﷺ فى حرث وهومتكئ على عسيب اذمراليهود فقال بعضهم لبعض سلوه عن الروح (بخاري ج۲ ص۲۸۲))چې رسول اللهﷺ دَمديني په يوباغ كښې وو اوځه ورسره ووم اوحضورﷺ دكهجورى په شاخ باندې تكيه لګولې وه چې دَيهوديانو يوجماعت تيرشو.نوپدوئ كښې ځنى كسانوځنى نوروته اوئيل چې دَده نه (حضورﷺ نه) دَروح متعلق تپوس اوكړئ، نوځينوپكښې اوئيل چې مكوئ داسې نه چې تاسوته جواب دركړي چې هغه بياتاسونه خونبوئي،خوځنواوئيل چې ضرورتنه تپوس اوكړئ،نودوئ دَروح په بارى كښې تپوس اوكړو، حضورﷺ خاموش شو اودوئ ته ئې فوري څه جواب ورنه كړو.پس ځه پوه شوم چې حضورﷺ ته وحى كيږي، نوځه هم دَځپل ځائ نه پاڅيدم چې كله وحى نازله شوه(يعنى وحى نزول كيفيت ختم شو) نوحضورﷺ داايت تلاوت كړو.اوبل روايت چې هغه دَسيرروايت دې چې منقول دې دَابن عباسﷺ نه چې قريش مكه دوه كسان نضربن حارث اوعقبه ابن ابى معيط دَمديني يهوديانوعلماؤته اوليږلواوورته ئې اوئيل چې تاسوددوئ نه دمحمدﷺ په باره كښې تپوس اوكړئ ځكه چې دوئ اهل علم دى چې دوئ دَده په باره كښې څه وائى؟ داكسان چې لاړل اوتپوس ئې اوكړو نودوئ ورته اوئيل چې تاسو دَمحمدﷺ نه دَدرې څيزونو په باري كښې تپوس اوكړئ نوكچري هغه دَدرې واړو جواب دركړو اويائى دَيوڅيزجواب هم درنه كړو نوپوهه شئ چې دې نبي نه دې،اوكچري ددوو جواب ئې دركړو اودريم

جواب ئې درنه کړو نوپوهه شئ چې نبي دې اوهغه درې څيزونه دادی (۱ هغه نوجوانانو واقعه څه ده اوهغه څوک وو چې ديوظالم بادشاه نه تختيدلي وو اوپه يوغارکښې ئې پناه اغستيوه (۲ هغه څوک وو چې دَمشرق نه مغرب ته ئې سفرکړې وو (۳) روح څه شئ دې؟ قريش دَحضورﷺ نه دادرې تپوسونه اوکړل نوحضورﷺ ورته اوفرمائيل چې څه به صباستاسوددې سوالونو جوابونه درکړم (وانشاء الله ئې اونه وئيلو اووحی کښې تاخيراوشولو اوداتاخير ياپنځلس اوياڅلويښت ورځې وو، اواهل مکه مختلف قسم خبرې شروع کړې اوحضورﷺ ته به ډيرتکليف رسيدلو. (اوبيا اچانك وحی راغله اوداايت ولاتقولن لشئ انی فاعل نازل شواوبيادډرې واړو سوالونو جوابونه نازل شو ، داول سوال په جواب کښې (ام حسبت انّ اصحٰب الکهف) نازل شواودَدويم سوال په جواب کښې واقعه دذوالقرنين نازله شوه اوددريم سوال په جواب کښې دا ايت نازل شوليکن قول اول ته ترجيح ده ځکه چې داروايت دَصحيحينو دې اودويم وجه داده چې پدې روايت کښې حضرت ابن مسعودﷺ خپله واقعه اونزول کيفيت وحی په خپله بيانه وي، اودَحضرت ابن عباسﷺ په روايت کښې داترجيحات نيشته دې سيوادډې نه چې ايت مکي يادېږي لکه څنګه چې ټول سورت مکي دې، اوحافظ ابن کثيرﷺ تطبيق بين الروايتين کړيدې اوفرمائی چې قدتکون نزلت عليه بالمدينة مرة ثانية کمانزلت عليه بمکة قبل ذلك(ابن کثير).

﴿وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلرُّوحِ﴾ مسئول عنه چې روح دې دَده په تعيين کښې اختلاف دې راجحه خبره داده چې مرادتنه روح انسانی دې،چې حقيقت اوماهيت دروح انسانی څه دې؟ لکه څنګه چې بدن انسانی اصل ماده خاوره ده اوماده توليدئی منی ده نودغه شانتې دروح والاصل ماده اوماده تخليق څه شئ دې؟ اويادخال دروح انسانی اوحيوانی په جسدکښې کيفيت څه دې؟ نوجواب راغی چې﴿قُلِ ٱلرُّوحُ مِنۡ أَمۡرِ رَبِّى﴾يعنی روح دَعالم امرنه راکوزشوېدې اوپوره کنه (وحقيقت ئې صرف اللهﷻ ته معلوم دې اوانسان ته دَدې په باره کښې تفصيلی علم ندې ورکړې شوې ځکه چې انسان په علم تفصيلی دروح باندی نشي پوهيدې اويامراد دروح نه قرآن دې (واطلاق په قرآن باندی دروح په مختلف مواضعوکښې شوېدې لکه (ينزّل الملئکة بالروح من امره(النحل ۲)) وکذلك اوحينا اليك روحا من امره(الشوری:۵۲) نودَدوئ دَسوال مقصد دادې چې داقرآن تادَخپل ځان نه جوړکړيدې ياجبرائيلﷺ دَخپل ځان نه رانازل کړيدې،دَدې څه حقيقت

دي؟ نوجواب اوشو ،﴿ٱلرُّوحُ مِنۡ أَمۡرِ رَبِّی ﴾ چې دَادالله ﷻ كلام دي اودهغه په حكم سره نازل شوېدي، اويامراد دَروح نه حضرت جبرئيل ﷺ دې چې دَهغه حقيقت څه دي اوهغه دَڅه شي نه پيداشوېدې، نوجواب ئې اوشوچې الروح من امرربی چې دَدې حقيقت علم صرف الله ﷻ ته دي په امردَالله ﷻ سره پيداشوېدې، اوڅلورم احتمال پکښې داهم ذكرشوېدې چې دروح نه مراد حضرت عيسى ﷺ دي اوسوال دهغه دَپيدائش متعلق دې چې حضرت عيسى ﷺ څرنګې پيداشوېدې نوجواب اوشو﴿مِنۡ أَمۡرِ رَبِّی ﴾ ، چې په امردَرب سره چې كن دي پيداشوېدې. دَدينه علاوه نوراحتمالات پكښې هم ذكرشوېدي ليكن په ټولواحتمالاتوكښې غوره اوظاهراولنی احتمال دي. اوامام رازي ﷫ احتمال ثانی ته ترجيح وركړيده ځكه چې مرادكول په روح سره قرآن دَامناسب دې دَسباق اوسياق سره، ځكه چې ماقبل كښې ذكردَ ﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلۡقُرۡءَانِ ﴾وو چې داقرآن شفاء ده دَامراض روحانيه اوبدنيه لره، اودغه شانتې په راتلونكوايتونوكښې دَقرآن اودهغې دَحقانيت ذكركيږي﴿وَلَئِن شِئۡنَا لَنَذۡهَبَنَّ ﴾،﴿قُل لَّئِنِ ٱجۡتَمَعَتِ ٱلۡإِنسُ وَٱلۡجِنُّ ﴾.

﴿مِنۡ أَمۡرِ رَبِّی ﴾من تبعيضيه دې اواضافت دَامررب ته تعظيمًا اوتشريفًادې اومراد په امرسره حكم دَالله ﷻ دي يعنى هغه كلام دَالله ﷻ چې په هغې سره دَمخلوقاتو تدبيراوتصريف په داسې طريقې سره اوكړې شي چې په هغې باندې دَايجاد اودَتكوين والا اغراض مرتب شي، لكه څرنګې يومشين اودهغې دَپرزو چلولواوكاراغستلولپاره دبجلئ دكرنټ وي هم دهغه شانتې ددې نظام دَچلولو لپاره دَالله ﷻ حكم چې هغه كلمه دَكن ده د دَبجلئ دكرنټ حيثيت لري چې ديته روح وئيلې شي،اوحديث كښې دغې خزانې كهربائيه ته اشاره شوېده چې الارواح جنود مجندة اوتعلق دهرمادې سره على حسب الهيئة والاستعداد دې، لكه هيئت انسانی سره خپل روح اوپه ستركه كښې دَخپل استعداد موافق روح چې هغه په غوږ اوپوزه كښې نيشته دې،وعلى هذا القياس نوخلاصه داده چې روح په اصل كښې شان اوصفت دَالله ﷻ دې چې مبداء الحيات دې لپاره دبدن، يعنى اثرات ددغې امرظاهريږي په بدن كښې على حسب الهيئة والاستعداد . نومُظهرئ الله ﷻ دي اوظاهريدونكې هغه اثرات دی اوددغې اثراتونه تعبيرپه مختلف الفاظوسره شوېدې څوك ورته جوهر مجرد وائي څوك ورته جسم لطيف وائي اوڅوك تنه تعبيرپه هغه (عرض) سره كوي

چې بخارلطيف دې چې حلول ئې کړيدې په بدن کښې په حلول سريانې سره لکه ماء الورد چې په ورد کښې حلول کړيدې (هذاخلاصة ماقال شيخ الاسلام وحکيم الاسلام نورالله مرقدهما) اودروح متعلق پوره تفصيل امام رازي په تفسيرکبيرکښې اوعلامه الوسي په روح المعاني کښې ليکلي دي

بعض مفسرين فرمائي چې من په ﴿مِنْ أَمْرِ رَبِّي﴾ کښې بيانيه دې او امر عبارت دې دشان دالله ﷻ نه اواضافت لپاره داختصاص دې اى هوجنس مااستاثرالله بعلمه من الاشياء اللتى لم يعلم عباده (فتح القدير) اى من علمه الذى منع ان يعرفه احد (زادالمسير) يعنى علم ددې خاص دې په الله ﷻ پورې اوبل چاته ئې ددې علم ندې ورکړې اوهم داوجه ده چې دروح متعلق قديم اوجديد فلاسفو اومحققينو تحقيق سرته ندې رسيدلې اودروح په حقيقت باندې ندې متفق شوې. اودقديم اوجديد محققينو اقوال ددې په باره کښې تقريبا (۱۱۸) يعنى يوسل اتلس ته رسيدليدى اودهريونظريه دبل نه جداده

﴿وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ﴾ هذااشارة النص دې پديکښې چې دروح په معامله کښې ډيربحث اوتمحيص ندې کول پکار. ځکه چې انسان ته ددې په باره کښې علم قليل ورکړې شوېدې. چې څومره انسان ته ضرورت دې دهغې مطابق علم ورته الله ﷻ ورکړيدې چې داروح مبداء دحيات ده چې حيوان په نفخ دروح سره ژوندې کيږي اوپه مفارقت دروح سره بدن مړکيږي اويابوبخارلطيف دې ساري دې په بدن کښې لکه ماء الورد په وردکښې. اوتنوين په ﴿قَلِيلًا﴾ کښې تنکيراوتقليل لپاره دې اوداحکم عام دې په پيغمبر اوغيرپيغمبر ﷺ ټولوته اوداحصرحصراضافي دې په نسبت سره علم دالله ﷻ ته دې اوعلم دممکن په نسبت سره واجب ته داسې دې لکه دمرغئ په مخوکه کې اوبونسبت سمندرسره نولهذا دااعتراض نه واريديږي چې ددې ايت تعارض دې دبل ايت سره چې يؤتى الحكمة من يشآء ومن يؤتى الحكمة فقداوتى خيرا كثيرا(البقره:۲۲۹) اويارفع دتعارض لپاره جواب دادې چې په سورة البقره کښې ذکردخيرکثيردې اودلته ثبوت دعلم قليل دې اوثبوت دعلم قليل منافي دخيرکثيرسره ندې بلکه لږ علم هم ذريعه دخيرکثيرګرځيږي.

﴿وَلَئِن شِئْنَا﴾ هدې ايتونوکښې تسلي ذکرکيږي پيغمبر ﷺ ته اوصدق دقرآن ذکرکيږي چې د قرآن حق الله ﷻ تاته ددې علم درکړيدې که بالفرض مونږه اوغواړو نولږ وخت کښې به مونږه

ستادزړه نه وباسو ليکن ستادرب لويه مهرباني ده په تاباندی نوځکه ئی دا نعمت عظمی نه درکړيدې اوستا دزړه نه ئی نه اوباسي، اولام په﴿وَلَئِن﴾ کښې موطئه للقسم دې اوجواب قسم محذوف دې او﴿لَنَذْهَبَنَّ﴾ داجزاء ده دَشرط﴿شِئْنَا﴾ لپاره اوقائمقام ده دجواب قسم نوتقديردَعبارت داسې دې لئن شئناذهبنا بالقرآن عن الصدورلنذهبن اومراد په ذهاب سره محوه کيدل دې دقرآن دَمصاحفونه اودَسينودَانسانانونه،﴿أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ﴾ قرآن تنه مراددې.﴿ثُمَّ لَا تَجِدُ﴾ ثم لپاره دَتراخي دې يعني بعدالذهاب﴿عَلَيْنَا وَكِيلاً﴾، يعني داسې څوک نيشته چې هغه دقرآن دَواپس کولوذمه داري واخلي اى متعهدا وملتزما استرداده بعدالذهاب به(روح) ﴿إِلَّا رَحْمَةً﴾استثناء منقطع ده په معنى دلکن سره ده اى لکن رحمة من ربك تمنع من ان تسلب القرآن(بحر) يعنى دالله ﷻ رحمت په تاباندی دومره زيات دې چې هغه مانع دې دذهاب دَقرآن نه دَستادسيني مبارکي نه.

اوداآيت دليل دې پدې چې قرآن دَانسان دَسينونه وتلې شي اګرچې دې ئی حافظ وي. اودَدې وجه نه حضرت عبدالله بن مسعودؓ اوفرمائيل چې(اول ماتفقدون من دينكم الامانة واخرماتفقدون الصلوة وان هذا القرآن كانه قدنزع منكم تصبحون يوما ومامعكم منه شئ فقال رجل كيف يكون ذلك ياابا عبدالرحمن وقدثبتناه فى قلوبنا واثبتناه فى مصاحفنا نعلمه ابناء نا ويعلمه ابناء نا ابناءهم الى يوم القيمة قال: يسرى به فى ليلة فيذهب بمافى المصاحف ومافى القلوب فتصبح الناس كاالبهائم ثم قراء عبدالله ولئن شئنا لنذهبن الخ) اودغه شانتې روايت ذکرکړيدې امام ترمذی په خپل سنن کښې دَحضرت ابودرداءؓ نه چې فرمائی(كنامع النبىﷺ فشخص ببصره الى السمآء ثم قال هذا اوان يختلس العلم من الناس حتى لايقدروامنه على شئ فقال زيادبن لبيد الانصارى كيف يختلس منا وقدقرانا القرآن فوالله لنقراءنه ولنقراءنه نسائنا وابنائنا قال ثكلتك امك يازياد ان كنت لاعدّك من فقهآء اهل المدينة هذه التوراة والانجيل عندالیهود والنصارى فماذا تغنى عنهم الحديث)(ترمذی ج٢ ص ٩٠ ابواب العلم) اودَصحيحينو په روايت کښې چې ذکر دې چې ان الله لايقبض العلم انتزاعا ينتزعه من الناس ولكن يقبض العلم بقبض العلماء الحديث نودَدې احاديثو په خپل مينځ کښې تعارض نيشته دې تطبيق ئی ممکن دې چې اولاً به دَعلماء قلت راشي، نيکان ، صلحاء،علمآء به کم شي اوبيابه دَزړونو نه علم اوښکلې شي، ﴿إِنَّ فَضْلَهُ

كان ﷺ پديكښ اشاره ده عظمت شان درسول الله ﷺ ته چي نزول دقرآن اوحفاظت قرآن نى سى به سينه كښ كړيدي وغيره.

قُلْ لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلٰٓى اَنْ يَّاْتُوْا بِمِثْلِ هٰذَا الْقُرْاٰنِ

اوايه ته كچري جمع شي انسانان اوجنات په دي خبره چي راوړي(پيش كړي)په شان ددي قرآن

لَا يَاْتُوْنَ بِمِثْلِهٖ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيْرًا ﴿۸۸﴾ وَلَقَدْ صَرَّفْنَا

نونشي راوړي دوئ په شان ددې قرآن اگركه وي بعضي ددوئ لره دبعضو مددگار. اوبه تحقيق سره مكرر بيان كړيدي مونږه

لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ ۡ فَاَبٰٓى اَكْثَرُ النَّاسِ اِلَّا كُفُوْرًا ﴿۸۹﴾

لپاره دخلكو پدي قرآن كښ دهرقسم مثال(بيان)نه پس نه كوي ډيرخلك(بل كار) سيوا دناشكرئ نه.

وَقَالُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ حَتّٰى تَفْجُرَ لَنَا مِنَ الْاَرْضِ يَنْۢبُوْعًا ﴿۹۰﴾

اووائي دوئ چي هرگزمونږايمان نه راوړو په تاباندي ترهغه پوري چي جاري كړي ته مونږلره دزمكي «دمكي» نه چيني

اَوْ تَكُوْنَ لَكَ جَنَّةٌ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّعِنَبٍ فَتُفَجِّرَ الْاَنْهٰرَ خِلٰلَهَا تَفْجِيْرًا ﴿۹۱﴾

اوياوي تالره باغ دكجورو اودانگورو پس روان كړې نهرونه په مينځ دهغې كښ په ډيرو روانولوسره

اَوْ تُسْقِطَ السَّمَآءَ كَمَا زَعَمْتَ عَلَيْنَا كِسَفًا اَوْ تَاْتِيَ بِاللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ

اوياراوغورزوي ته اسمان لكه څنگه چي ستا گمان دي په مونږ باندي ټكړي ټكړي اوياراولي ته الله ﷻ اوملائكولره

قَبِيْلًا ﴿۹۲﴾ اَوْ يَكُوْنَ لَكَ بَيْتٌ مِّنْ زُخْرُفٍ اَوْ تَرْقٰى فِي السَّمَآءِ وَلَنْ نُّؤْمِنَ

مخامخ. اوياوي ستالپاره يوكوردسرو زرونه اوياخيژي ته اسمان ته اوهيڅ كله يقين نه كومونږه

لِرُقِيِّكَ حَتّٰى تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتٰبًا نَّقْرَؤُهٗ قُلْ سُبْحَانَ رَبِّيْ

په ختلوستاباندي ترهغه پوري چي نازل كړي ته په مونږباندي يو كتاب(خط) چي مونږه اولولوهغه. اوايه ته پاكي ده رب خمالره.

هَلۡ كُنۡتُ اِلَّا بَشَرًا رَّسُوۡلًا ﴿۹۳﴾

نه يم څه مګر يو بشر ليږلى شوى يم

﴿قُل لَّئِنِ ٱجۡتَمَعَتِ﴾ په دې ايت کښې اثبات دَصدق دَقرآن کيږي په طريقې دَتحدى چيلنج سره چې چا به داسوال کولو چې داقرآن منزل من عندالله ندې او ﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلۡقُرۡءَانِ﴾ مبه دروغ وې نو الله ﷻ تحدي اوچيلنج ورکړو چې تاسو انس اوجن ټول راجمع شئ اودَدې قرآن پشانتې فصيح بليغ قرآن پيش کړئ. خوتاسوقدرت نه لرئ ددغه شانتي فصيح بليغ قرآن په مثل باندی اګرچه تاسو دَيوبل نه مددهم اوغواړئ، نودَيوپيغمبر ﷺ په مقابله کښې ټولو انسانان اوجنات راجمع شي اودَيوبل مددهم کوي ټول په شريکه باندى دَدې قرآن نظيرنشي پيش کولې نومعلومه شوه چې دَادانساني قوت اوقدرت نه بهردې. اودَالله ﷻ کلام دې اوپه سورة البقرة کښې تيرشوېدې چې دَعامومفسرينوپه نيز دَتحدي ځلورځلي شوېده،(۱) په پوره قرآن سره لکه دلته(۲)په لسو سورتونوسره لکه په سورة هود آيت (نمبر۱۳)(۳)په يوه سورت سره لکه سورة البقرة کښې(۴)اوپه يوي جملې سره لکه په سورة الطورکښې اودَحضرت والدصاحب نورالله مرقده وبردمضجعه واجعل رفاقته ررفاقتنامع النبين والصدقين والشهداء والصلحين امين، په نيز پنځه ځلي تحدي شوېده. ځلور دا مذکوره دى اويوځلي په يوحرف سره شوېده. ن.ق. وغيره شوچې داسې پرمعنی حرف پيش کړئ. ﴿لَّئِنِ ٱجۡتَمَعَتِ﴾ کښې لام موطئه للقسم دې اوجواب قسم ﴿لَا يَأۡتُونَ بِمِثۡلِهِۦ﴾ دې يعنى والله لئن اجتمعت ....لايئتون بمثله. اودَدې وجه نه داجمله مرفوع ده اوداقول راجح دې اومراد په مثليت سره فصاحت اوبلاغت کښې مراد دې

﴿وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا﴾ دازجردې په انکاردقرآن سره اوترغيب الى القرآن ذکرکيږي چې مونږ پدې قرآن کښې مختلف قسم احکامات وعد،وعيد اودَعبرت نموني. اودلائل دَتوحيدبيان کړيدى خوبياهم دابدبخته کفارتنه انکارکوي، پکارده چې پدې ايمان راوړې وي خودوئ په ځائ دَايمان انکارکوي اومراد دَ ﴿صَرَّفۡنَا﴾نه بيانه ول دې په مختلفو وجوهو سره اومراد دَ﴿كُلِّ مَثَلٍ﴾ نه هرمقصداوهرمعنی اوعبرتونه،احکام، وعداووعيدونه دې. اوتعبيرتنه په مثل سره ځکه

اوشوچې لکه څرنګې مثل مشتمل وي په حسن اوغرابت اوندرت باندې دغه شانتې قرآن مجید الفاظ اومضامین هم مشتمل دي په فصاحت اوبلاغت اوپه ندرت باندې. من کل معنی هو کالمثل فی غرابته وحسنه(کشاف).

﴿وَقَالُوا لَن﴾داشکوه ده په طلب کولودفرمائش معجزو باندې اوزجردې په سوالونو تعنتاً اوضداًباندې وروستو دبیان اعجاز قرآن نه، چې دوئ به حضورﷺ ته وئیل چې څوپورې تازمونږمطالبات نوي پوره کړي نوموږ په تاباندې ایمان نه راوړو اوهغه فرمائشي معجزات چې پدې ځائ کښې ذکردي هغه اوه(٧) مطالبات دي(١)په زمکه دمکي کښې چینې(چشمې)راویستل چې اوبه دهغې دائمي وي نه ختمیدونکې وي(٢) ستاپاره دې دکهجورو یولوئ باغ وي چې په هغې کښې داوبونهرونه جاري وي(٣)اسمان په مونږ باندې ټکړې ټکړې کړه اورا اوغورزه په مونږ باندې(۴) دخپل صداقت لپاره داسمان نه فرشتې مخامخ راوستل(۵) ستاپاره دسرو زرو کورکیدل(٦) زمونږ په مخامخ اسمان ته ستاختل(٧) زمونږ په نوم باندې دالله ﷻ دطرف نه دځان سره خط راوړل. اومطالبه کوونکې ددې رؤساء قریش اومکه وو لکه څرنګه چې دشان نزول نه معلومیږي، چې حضرت ابن عباسؓ فرمائي چې رؤساء مکه ابوجهل، ولیدبن مغیره، زمعه ابن اسود، عتبه بن ربیعه، شیبه بن ربیعه اونوروکسانودحضورﷺ ته اطلاع اوکړه چې ته زمونږخواته راشه،حضورﷺ پدې خیال چې کیدیشي دوئی ایمان راوړي نودوئ خواته لاړو،نودوئ ورته ټولونه اول مطالبه اوکړه چې ستاددې خبرواودین ددعوت دوجه نه مونږ ته لوئ تکلیف پیداشویدې، نولهذا که ستامقصد حصول مال وي نومونږ به تاته چنده اوکړو اومال به درکړو اوکچرته ستامقصدحصول عزت وي نومونږ به تاخپل سردارجوړکړو اوکچرته حکومت دمقصدوي نومونږ به تاخپل حاکم جوړکړو اوکچرته په تاباندې څه جنات مسلط شوې وي نومونږ به ستاعلاج اوکړو ،حضورﷺ ددوئ داټولې خبرې ټکراؤکړې اوورته ئې اوفرمائیل چې(ولکن الله بعثنی الیکم رسولا وانزل علی کتابا وامرنی ان اکون لکم بشیرا ونذیرا فبلغت لکم رسالات ربی ونصحت لکم ونصحت لکم فان تقبلوامنی ماجئتکم به فهو حظکم فی الدنیا والاخرة وان تردوه علی اصبرلامرالله حتی یحکم الله بینی وبینکم (ابن کثیر)).

نودوئ بیادحضورﷺ نه دغه مذکوره مطالبې اوکړې چې تاته علم دې چې زمونږ علاقه مکه ډیره تنګه ده ګیرچاپیره تنه غرونه دي اومونږه ډیرغریبان یو اوزندګي زمونږه ډیره تنګه ده نوته

داغرونه دَدي ځائ نه لري کړه چې زمونږه داشهروسيع شي اوزمونږ لپاره نهرونه جاري کړه لکه ځرنګې چې په ملك شام کښې دي، اويازمونږ اباؤ اجداد راژوندي کړه چې په هغې کښې به خاص طور دَقريش جداعلى قُصى بن کلاب وي چې زمونږه دهغه نه تپوس اوکړو چې ته رښتني ئې که دروغژن ئې،حضورﷺ ورته بيادغه مذکورجواب کړوچې(ولکنّ الله بعثنی اليکم رسولا الخ) نودوئ بيادفرشتي مطالبه اوکړه چې هغه دي راشي اوستاتصديق دي اوکړي اودَسرو اوسپينو زرو دَخزانو مطالبه ئې اوکړه نوحضورﷺ ورته بيادغه مذکورجواب ورکړو. نودوئ مطالبه اوکړه چې په مونږ باندې اسمان را اوغورزوه لکه ځرنګه چې ستادعو ده چې اللهﷻ پدې قادردې. حضورﷺ اوفرمائيل کچري اللهﷻ اوغواړي نوپه تاسوباندې به اسمان رااوغورزه وي. نويوکس پکښې دااوئيل چې ځوپوري اللهﷻ اوفرشتي مخامخ زمونږه نوي راغلي نومونږه ستاتصديق نه کوو،حضورﷺ دَدوئ دَمجلس نه پاسيدلونوعبدالله ابن ابی اميه ورته اوئيل چې ستاپه خبرو باندې به مونږه هغه وخت يقين اوکړو چې ته زمونږه په مخامخ يوه سيړهئ اولګوي او اسمان ته اوخيژي اوبيازمونږپه نوم باندې يوکتاب(خط) راوړي اودَتصديق لپاره ورسره ځلورفرشتي هم وي حضورﷺ ددوئ دَدي خبرونه ډيرغمژن شو نو اللهﷻ داایاتونه نازل کړو(ابن کثير،قرطبی).

﴿قُلْ سُبْحَانَ رَبِّي ﴾دادوئ دَدغي مطالباتو جواب دې په ﴿سُبْحَانَ رَبِّي ﴾کښې اشاره ده بطلان دَمطالباتو ددوئ ته لکه ﴿أَوْ تَأْتِيَ بِاللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ قَبِيلاً ﴾وغيره شواوپه هل کنت الابشرا رسولا کښې اشاره ده عجز خپل ته اومقصدرسالت ته، کانه قال هل کنت الابشرا والبشرلاقدرة له على الاتيان بذلك اودامطالبات پوره کول ځماپه فرائض منصبی کښې داخل ندی لکه ځرنګه چې دَنورو پيغمبرانو په فرائض منصبی کښې داخل نوو نوځه هم دهغوئ پشانته بشريم او﴿هَل﴾ نافيه دې اوتفصيل جوابات ددوئ ددي مطالباتو په نورو موضعو کښې ذکردې لکه سورة الانعام ايت(نمبر۷) اوسورة الحجر(ايت نمبر۱۴) وغيره شو.

وَمَا مَنَعَ النَّاسَ اَنْ يُّؤْمِنُوْٓا اِذْ جَآءَهُمُ الْهُدٰٓى اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا اَبَعَثَ اللّٰهُ

اونډي منعه کړي خلك ددې نه چې ايمان راوړي چې کله راغی دوئ ته هدايت مګر دی خبرې چې دوئ وائي آيا راولېږه الله

بَشَرًا رَّسُوْلًا ﴿٩٤﴾ قُلْ لَّوْ كَانَ فِي الْاَرْضِ مَلٰٓئِكَةٌ يَّمْشُوْنَ مُطْمَئِنِّيْنَ لَنَزَّلْنَا

بشرلره رسول، ته او ايه که چرې وې په زمکه کښې ملائك چې ګرځيدلي او سيدونکي وې نو خامخا نازله کړې به وه مونږه

عَلَيْهِمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَلَكًا رَّسُوْلًا ﴿٩٥﴾ قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًاۢ بَيْنِيْ

په دوئ باندې داسمان نه فرښته رسول، ته او ايه چې پوره دې الله ﷻ ګواه «فيصله کوونکی» په مينځ خما

وَبَيْنَكُمْ ۚ اِنَّهٗ كَانَ بِعِبَادِهٖ خَبِيْرًاۢ بَصِيْرًا ﴿٩٦﴾ وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ

او په مينځ ستاسو کښې بيشکه الله ﷻ دې په بندګانو خپلو باندې خبرداره ليدونکی، او هغه څوك چې هدايت او کړي الله ﷻ هغه ته

فَهُوَ الْمُهْتَدِ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ

پس هغه په سمه لار روان وي[1] او هغه څوك چې بې لارې ئې کړي هغه پس هيڅ کله به او نه مومې ته هغوئ لره

اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِهٖ ۚ وَنَحْشُرُهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ عُمْيًا

مددګاران سوا د الله ﷻ نه، او را جمع به کړو مونږ دوئ په ورځ دقيامت کښې په مخونو ددوئ باندې چې ړانده به وي

وَّبُكْمًا وَّصُمًّا ۚ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۚ كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنٰهُمْ سَعِيْرًا ﴿٩٧﴾

او چاړ اګان به وي، او کاڼه به وي، ځائ ددوئ دوزخ دې هر کله چې کمې شي لمبې نو زياته وو به مونږه دوئ لره لمبې داور.

ذٰلِكَ جَزَآؤُهُمْ بِاَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا وَقَالُوْٓا ءَاِذَا كُنَّا

دا او ر بدله ددوئ ده په سبب ددې چې دوئ کفر کړې وو په ايتونو زمونږه باندې او وئيل به دوئ چې آيا چې کله شو مونږه

---

(1) جواب شکوی.

(1) تخويف اخروي.

عِظَامًا وَرُفَاتًا ءَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ خَلْقًا جَدِيدًا ﴿۴۹﴾

هډوکي اوذري ذري دخاورو آیامونږ به بیېرته راپورته کړی شو په پیدائش نوي سره

﴿وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ ﴾دازجرذکرکیږي په انکاردبشریت سره درسول نه. اوشکو ده چې هرکله دمخکني شکوی په جواب کښ اووئیلې شو چې﴿هَلْ كُنتُ إِلَّا بَشَرًا رَّسُولاً ﴾نومشرکینو اوئیل چې مونږه په بشرباندی ایمان نه راوړو ځکه چې رسالت اوبشریت کښ منافات دي بشر رسول نشي کیدې، اومراد دَ ﴿ٱلنَّاس﴾نه مشرکین دی. ﴿أَن يُؤْمِنُوٓاْ ﴾مفعول د﴿مَنَعَ﴾دې او﴿أَن قَالُوٓاْ﴾ ورله فاعل دې او ﴿أَن ﴾مصدریه دې او ﴿قَالُوٓا ﴾په معنی دقولهم سره دې او﴿إِذْ جَآءَهُمُ ٱلْهُدَىٰٓ﴾ جمله متعلقه ده په ﴿مَنَعَ﴾پورې اوظرف دې دَمنع لپاره اومراد په﴿ٱلْهُدَىٰ﴾ سره وحی اورسالت دې ای مامنعهم وقت مجئ الوحی ان یؤمنوا بالقرآن اوبنبوتك الاقولهم ابعث الله الخ(روح) اویاظرف متعلق دې په مفعول پورې چې ﴿أَن يُؤْمِنُوٓاْ ﴾دې نومطلب به ئې داشي مامنعهم ان یؤمنوا وقت مجئ القرآن الاقولهم الخ ﴿أَبَعَثَ ٱللَّهُ ﴾استفهام انکاري دې اویااستفهام تعجبی دې

﴿قُل لَّوْ كَانَ ﴾ داجواب شکو ده چې رسول دَمرسل الیهم دجنس نه پکاروي نده مرسل دَجنس نه،لپاره ددې چې مرسل الیهم سره ئې التفات وي اوهغوئ ورنه فائده حاصله کړي. نومرسل الیهم خوبشردې نولهذا رسول به هم ورته بشرراتلل پکاردی اوکچرته رسول بشرنوي بلکه دَجنس دَملائکونه وي اونورمحض وي نوهغه به بشرته څرنگی عملي تعلیم ورکړي ځکه چې هغه به خودَبشریت دَضروریاتونه پاك وي،﴿يَمْشُونَ مُطْمَئِنِّينَ ﴾ داقید ځکه ذکرشو چې ملائك په زمکه کښ موجوددي خودانسان پشانتي په زمکه کښ مقیم ندي اوپه زمکه کښ ژوند تیره ونکي پشانته دَانسان ندي بلکه هغوئ اسمانونوته خیژي اوزمکه کښ عارضي دي.

﴿قُلْ كَفَىٰ بِٱللَّهِ﴾دامتعلق دې دَماقبل ﴿أَوْ تَأْتِىَ بِٱللَّهِ ﴾سره چې کفارو اوئیل چې الله ﷻ دې مخامخ راشي اومونږ ته دی اوائی چې دارسول دې نومونږ به اومنو نوجواب ئې اوشو چې الله ﷻ

خماتصديق كوي په خپل فعل سره چې خه دعوی دنبوت کوم اوالله ﷻ ماته ظاهري اوباطني امورچه خارق العادة دي عطاء كړي دي اوپه خپل مقصد کښې خه ورځ په ورځ ترقي کوم اوتکذیب کوونکی ورځ په ورځ ناکامه کیږي نوداالله ﷻ شهادت دې په رسالت خمباندی. ﴿شَهِيدًا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ﴾ (شهيد په معنی دګواه سره دې نومراد تنه معجزات اوفتوحات اوترقی عطاء كول دی.چې دايوفعلي ګواهي ده. اويامراد دګواهي نه علم دالله ﷻ دې. يدې خبره چې خه داالله رسول يم اوماتاسوته تبليغ كړيدې اوتاسو خماتكذيب كړيدې ﴿إِنَّهُۥ كَانَ بِعِبَادِهِۦ﴾ يعنی الله ﷻ په ظاهراوباطن په ټولو خبرداره دې.نوپدې هم خبردې چې ستاسو انكاراوتكذيب محض عناداً اوتعنتاً دې.

﴿وَمَن يَهْدِ ٱللَّهُ﴾ داتخويف اخروی دې اوذكر ددوه جماعتونو كيږي هدايت يافته اوګمراه جماعت دالله ﷻ طرف ته رجوع كوونكې اوجذبه صادقه لرونكي خلكوته الله ﷻ دصحيح لاري راهنمائی كوي اودمعاندينوپه زړونو باندی مهر دجباريت ثبت كوي چې سمي لاري ته دراتللو توفيق ورته هم نه ميلاويږي.(واو) په ﴿وَمَن يَهْدِ ٱللَّهُ﴾ كښې استنافيه دې او"من" شرطيه دې په خپلي معنی باندی دې اوقرطبی فرمائی چې "من" په معنی د"لو"سره دې اودايت مقصددادې كچري الله ﷻ دوئ ته جبرا هدايت كولې نودوئ به هدايت موندلې وي اى، لوهداهم الله لاهتدوا(قرطبی) ﴿وَمَن يُضْلِلْ﴾ يعني كوم كس چې معاندوي اوپه اختيارسره ضلالت اختياره وي نوده لپاره څوك امداد كوونكی نوي،نونسبت داضلال الله ﷻ ته خلقاً دې. اوددې ايت نه معلومه شوه چې خالق دهدايت اوضلالت الله ﷻ دې اونسبت ئې انسان ته كسباً دې. ﴿فَلَن تَجِدَ لَهُمْ﴾ (هم) ضميرجمع دې او ﴿أَوْلِيَآءَ﴾ هم جمع دې اومقابله دجمع دجمع سره فائده كوي انقسام الاحاد علی الاحاد نومعنی ئې داشوه چې هيڅ يوكس لپاره به هيڅ څوك هم مددګارنوي اوجمعيت دضميرپه اعتباردمعنی د"مَنْ" سره دې اوپه ماقبل كښې ضميرمفرد ارجاع په اعتباردلفظ من سره دواومراد په ﴿أَوْلِيَآءَ﴾ سره هدايت وركونكی دوستان دی، اومراد په ﴿مِن دُونِهِۦ﴾ سره من دون اذنه دې يعنی بغيردااذن اوارادي دالله ﷻ نه دوئ ته څوك هدايت نشي وركولې څكه چې په هرشئ

پوري اراده دالله ﷻ متعلقه کیږي نو که هدایت دَدوئ ممکن وی نو هغه به په اذن اوارادې دَالله ﷻ سره وي، اودَدوئ دَعناد اوتعنت دوجې نه الله ﷻ ددوئ په هدایت پوري خپله اراده نه متعلقه کوي نودوئ ته هدایت میلاویدل ندی ممکن. ﴿وَنَحْشُرُهُمْ﴾ دا التفات دې دغیبت نه تکلم ته، ﴿عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ﴾ دا ذکردَبعض مواقفو دَحشردې اودایاحمل دې په حقیقت باندی چې دوئ به په خپلو مخونو باندی به حشرته روان وي لکه په حدیث کښې ذکردي چې نقل کړیدې امام بخاری اومسلم دَحضرت انس ابن مالک ﷺ (انّ رجلا سال رسول الله ﷺ کیف یحشرالکافرعلی وجوهه یوم القیمٰة قال انّ الّذی امشاه علی رجلیه فی الدنیا قادرعلی ان یمشیه علی وجهه یوم القیمة(بخاری ومسلم)) چې یوسړی دَحضور ﷺ نه تپوس اوکړو چې څرنګه به دکافرحشر دَقیامت په ورځ په مخ باندی کیږي نوحضور ﷺ ورته اوفرمائیل چې هغه ذات چې دې ئی په خپوباندی ګرځولیدې هغه قادردې پدې چې دَقیامت په ورځ دې په مخ باندی اوګرځوي، اوابن عباس ﷺ فرمائی چې دوئ به په اورکښې راخکلې کیږي به په مخونوباندی لکه سورة القمر(ایت نمبر۴۸) کښې دی چې یوم یسحبون فی النّارعلی وجوههم اوابن الانباری فرمائی چې دامحاوره استعمالیږي په تیزئ اوپه منډوسره تللولپار لکه عرب وائی چې قدم القوم علی وجوههم، اذا اسرعوا،نودَایت مقصد داشو نحشرهم مسرعین مبادرین،یعنی په تیزئ سره به ئی بوځو. ﴿عُمْيًا وَبُكْمًا وَصُمًّا﴾ ، عمیا دامنصوب دې بناء برحالیت حال واقع شوېدې دَضمیرمجروره نه، اومراد دړوندوالي،ګونګوالي اوکونړوالي نه یاحقیقة دې چې دابه ابتداء په وخت دَقیام دَقبوروکښې به وي بیابه ورته الله ﷻ سترګې،غوږونه اوژبه به ورکړي اودوئ به جهنم اوګوري اودهغه اوازونه به واوري(بحر) اوبعض فرمائی چې دااستعاره ده، چې دَشدت حیرت اوذهول دَوجې نه دوئ به مشابه شي دَړندو، ګونګویانو اودکنړوسره، اوبعض فرمائی چې دَعمی نه مراد دادې چې دوئ به په سترګوسره هغه څه به نه ګوري چې دوئ ورسره خوشحاله شي اودَصما نه مراد دادې چې دوئ به دَخوشحالئ خبري نه اوري بغیردَتکلیف دَخبرونه اودَ﴿بُكْمًا﴾ نه مراد دادې چې دوئ به دَځان لپاره څه حجت نشي پیش کولې،

﴿كُلَّمَا خَبَتْ زِدْنَٰهُمْ ﴾مراد په خبت سره هغه حالت دې چې دَدوئ څرمني او غوښي دبدن اوسيزي نو داور په لمبو کښې به څه سکون راشي چې دَدوئ دَڅرمنو اودغوښي اعاده اوشي لکه چې په سورالنساء رايت نمبر۵۲) کښې دي. اودَدي وجه نه ابن عباس رضي الله عنه نه دَدي ترجمه داسي منقوله ده كلمافرغت من احراقهم فيسكن اللهب القائم عليهم قدرمايعادون(بحر) او(خبو) داور مستلزمه نده تخفيف لره په عذاب کښې داممکنه ده چې خبودَاور دي راشي اوتخفيف دَعذاب دي نوي راغلي،نودَدي وجه نه دَدي ايت تعارض نيشته دي دَ(لايخفف عنهم العذاب)سره ﴿زِدْنَٰهُمْ سَعِيرًا ﴾مراد په زيات والي سره ياپه نفس اور دَجهنم کښې دې چې دهغې لمبی دَهغې سختي اودهغې ګرمی به زياته شي بعض مفسرين فرمائی چې زياتوالې په نفس اورکښې مستلزم دې دي لره چې حالت اولی دَعذاب جهنم اسان وو په نسبت سره دي دويم حالت ته اودامعارض دې دلايخفف عنهم العذاب سره نوددي وجه نه علامه ابوحيان فرمائی چې مراد په زياتوالي سره زياتوالې دې په حيز دَهغوئ کښې اوجهنم به په خپل حالت باندی وي په هغه به څه قسم ردبدل نه راځي، يعني چې هركله دهغوئ څرمني اوغوښي نوي راشي نودغه نوي څرمني اوغوښي به دَعذاب احساس زيات كوي. په ﴿زِدْنَٰهُمْ سَعِيرًا ﴾کښې مفسرينو نکته بيان کړيده چې الله جَلَّ جَلَالُهُ پدي قادردې چې دوئ څرمني اوغوښي دې داسي اونه سوزوي چې په دويم ځل اعاده پکښې راشي خوبياهم الله جَلَّ جَلَالُهُ دوئ ته داسي سزا ورکوي چې څرمني اوغوښي به ئی سوزي اوبيابه ئی اعاده کيږي ځکه چې دَهرجرم سزا دهغې مشاکل وي، نودوئ هم دَاعادي بعدالفناء نه منکروو، نوځکه الله جَلَّ جَلَالُهُ دَدوئ څرمني اوغوښي به فناء کوي اوبيابه ئی اعاده کوي،

﴿ذَٰلِكَ ﴾مشاراليه عذاب دې داعلت بيانيږي دَسزاء لپاره ﴿بِأَنَّهُمْ كَفَرُوا۟ ﴾باء سببيه ده اومراد په کفرسره ثبات على الكفردې،اومراد په ﴿بِـَٔايَٰتِنَا﴾سره ايات قرانيه اونوردلائل دَتوحيد اورسالت اوقيامت دې ﴿وَقَالُوٓا۟﴾دادويم علت دې دَسزاء لپاره چې انكارعن البعث باندی دوئ شبه کوي چې آيامونږه خاورو سره خاوري شو اوذري ذري شو نوبيابه پيداکيږو، اومراد په ﴿خَلْقًا جَدِيدًا ﴾سره اعاده مرةً ثانيةً.

اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ قَادِرٌ عَلٰٓى

[1]آیا نه گوري دوئ چې بیشکه الله ﷻ هغه ذات دې چې پیداکړي دي اسمانونه اوزمکه قادردی هغه سره

اَنْ يَّخْلُقَ مِثْلَهُمْ وَجَعَلَ لَهُمْ اَجَلًا لَّا رَيْبَ فِيْهِ ۭ فَاَبَى الظّٰلِمُوْنَ

چې پیداکړي مثل ددوئ اومقرر کړي ئ ده لپاره ددوئ یوه نیټه چې نیشته شك په هغې کښې پس نه کوي ظالمان بل کار

اِلَّا كُفُوْرًا ۝ قُلْ لَّوْ اَنْتُمْ تَمْلِكُوْنَ خَزَاۗىِٕنَ رَحْمَةِ رَبِّيْٓ اِذًا لَّاَمْسَكْتُمْ

سیوا د ناشکرئ نه[2] اوایه ته کچري تاسومالکان شئ دخزانو درحمت درب خمانو په دغه وخت به ئ خامخا بند کړئ تاسو

خَشْيَةَ الْاِنْفَاقِ ۭ وَكَانَ الْاِنْسَانُ قَتُوْرًا ۝

دویري دخلاصیدلو نه اودې انسان ډیرتنګ زړی.

دادلیل عقلي دې په ثبوت دقیامت باندی چې الله ﷻ دانسان نه لوئی لوئ اجسام زمکي اواسمانونه پیداکړیدی نودانسان پشانتي معمولي جسم والامخلوق پیداکول الله ﷻ ته څه مشکل ندی بلکه الله ﷻ پدي قادردې چې دوباره ئی پیداکړي اودغي لپاره الله ﷻ یواجل اونیټه مقرره کړیده چې په هغې کښې هیڅ شك نیشته دې.

اواستفهام په ﴿أَوَلَمْ يَرَوْا﴾ کښې لپاره دتوبیخ دې اومراد په رؤیت سره رؤیت قلبي دې چې په معنی دعلم اوفکرسره راځي. ﴿عَلَىٰٓ أَن يَخْلُقَ مِثْلَهُمْ﴾ خلق په معنی داعادي سره دې اومراد په ﴿مِثْلَهُمْ﴾ سره نفس ذوات ددوئ دی ځکه چې په کلام عرب کښې مثل کله کله په معنی دنفس ذات سره راځي، لکه چې وئیلې کیږي مثلك لايبخل اى انت لايبخل نومطلب داشو. چې کوم ذات په پیدائش دزمکي اواسمانونو باندی قادر دې په اعادي دذوات دانسانانو باندی اقدردې، اوبعض فرمائی چې مثل په خپلي متبادري معنی سره دې اومقصد دایت دادې چې الله ﷻ داموجوده

(1) دلیل عقلي براثبات حشر.

(2) دلیل عقلي ششم براثبات توحید.

انسانان فناء کړي اوددوئ په ځائی نور دَدوئ مثل پیداکړي لکه په سورة التوبه ایت نمبر ۳۹،کښې دي لیکن داتوجیه دَسیاق دکلام سره مناسبه نده. ﴿ لَهُمْ ﴾واوعاطفه دې اوداعطف دې په ﴿أَوَلَمْ يَرَوْا ﴾باندی اومعطوف علیه یعنی ﴿أَوَلَمْ يَرَوْا ﴾متضمن وو معنی دَتقریرلره.نولهذا ددې په معنی کښې هم تقریردې نومطلب دَایت دادې چې قدعلموا بدلیل العقل جعل لهم الخ اوبعض فرمائی چې واو استنافیه دې اوداجمله په سوال مقدره دَسائل کښې واقع شوېده گویاچې سائل سوال اوکړو چې دادومره خلك مړه شوېدي نواولي دوباره ندي راژوندی کړې شوې؟ نوجواب اوشو چې وجعل لهم الخ (عثمانی) اوقرطبی فرمائی چې په ایت کښې تقدیم تاخیردې نواصل کښې داسې دې چې اولم یروا انّ الله الذی خلق السموات والارض وجعل لهم اجلا لاریب فیه قادرعلی اومراد په اجل سره نیټه دَمرګ ده اویادَبعث ده.﴿فَأَبَى ٱلظَّٰلِمُونَ ﴾وضع دَاسم ظاهرپه ځائ دَمضمرباندی لپاره دَاشعاراوتنبیه ورکول دي پدې خبره چې انکاردَقدرت دَالله ﷻ نه دالوئی ظلم دې اومخرج عن الملة دې

﴿قُل لَّوْ أَنتُمْ ﴾داشپږم دلیل عقلي دې په توحید باندی چې متصرف اومختاراومالك دکل خزانو صرف الله ﷻ دې ځکه کچرې دَخزانومالك دَالله ﷻ نه علاوه مخلوقات اوګرځیږي نودوئ دَالله ﷻ درحمت خزانې په مخلوقاتو باندی به بند کړي اونه به ئې خرچ کوي دَدې یرې نه چې دابه ختمې شي.نومعلومه شوه چې مخلوقات استحقاق دَتصرف اواختیارنه لرې په خزانو دَالله ﷻ کښې. ﴿لَّوْ أَنتُمْ ﴾لوحرف شرط دې اوحرف شرط داخلیږي په فعل شرط باندی.نه په اسم باندی نودَدې وجه نه ﴿أَنتُم ﴾فاعل دې دَفعل مقدرلپاره چې تفسیردهغې شوېدې وروستو فعل سره. نوتقدیردَعبارت داسې دې لوتملکون انتم .اولوانتم تملکون خزائن رحمة ربّی مقدم دې او﴿لَّأَمْسَكْتُمْ﴾تالی دې او﴿خَشْيَةَ ٱلْإِنفَاقِ ﴾ تعلیل دې دَتالي لپاره. او﴿وَكَانَ ٱلْإِنسَٰنُ قَتُورًا ﴾ دلیل دملازمې دې نودلیل په نمط دَقیاس استثنائي رفعي کښې داسې دې کچرې تاسو مخلوقات دَخزانومالکان وئی نولازم به وې امساك بوجه دَخشیة دَانفاق دَستاسونه لکن تالي باطل دې یعنې امساك خونیشته دې مشاهدة. نومقدم ئی مثل دې یعني تاسومالکان نه ئی اودلیل دَملازمې دادې چې انسان فطری طوربخیل اوحریص،تنګ زړي دې اوهرکله چې انسان مالك نه شو

باوجود دعلم اوعقل نونورمخلوقات په طریقه اولی سره مالکان نشي کرخیدې دا ابت صریح رد دي په هغه خلکوباندی چي اولیاء الله یادانبیاؤ کرامو نه امداد غواړي.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى تِسْعَ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ فَسْـَٔلْ بَنِیْٓ اِسْرَآءِيْلَ

[1]اوپه تحقیق سره ورکړي وي مونږه موسی ته نهه معجزات واضحه پس تپوس نی اوکړه دبنی اسرائیلو

اِذْ جَآءَهُمْ فَقَالَ لَهٗ فِرْعَوْنُ اِنِّیْ لَاَظُنُّكَ يٰمُوْسٰى مَسْحُوْرًا ۝

هرکله چي راغی(موسی) دوئ ته پس اوئیل ده ته فرعون بیشکه خه گمان کوم په تاباندی اې موسی دجادو کړی شوی.

قَالَ لَقَدْ عَلِمْتَ مَآ اَنْزَلَ هٰٓؤُلَآءِ اِلَّا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ بَصَآئِرَ

اوئیل موسی په تحقیق سره پوهه ئی ته چي ندی نازلې کړي دامعجزي مگررب داسمانونواودزمکي واضح دلائل

وَاِنِّیْ لَاَظُنُّكَ يٰفِرْعَوْنُ مَثْبُوْرًا ۝ فَاَرَادَ اَنْ يَّسْتَفِزَّهُمْ

اوبیشکه خه گمان کووم په تاباندی اې فرعونه دهلاك کړې شوې پس اراده اوکړه فرعون چي اوباسي دوئ لره

مِّنَ الْاَرْضِ فَاَغْرَقْنٰهُ وَمَنْ مَّعَهٗ جَمِيْعًا ۝ وَّقُلْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ

دزمکي(دمصرنه)پس غرق کړومونږه دي اوهغه خوك چي دده ملگری ووټول، اواوئیل مونږه ورستو(دغرق کولو)دهغه نه

لِبَنِیْٓ اِسْرَآءِيْلَ اسْكُنُوا الْاَرْضَ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ الْاٰخِرَةِ جِئْنَا بِكُمْ لَفِيْفًا ۝ وَبِالْحَقِّ

بنی اسرائیلوته چي اوسیږئ تاسوپه زمکه کنبي پس هرکله چي راشي وعده داخرت رابه ولومونږ تاسو گډوډ(جمع)[1] اوپه حق سره

اَنْزَلْنٰهُ وَبِالْحَقِّ نَزَلَ ؕ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا مُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ۝

نازلول شروع کړیدی مونږه ددي قرآن اوپه حق سره نازل شوبدي اونه ئی لیږلې مونږه ته مگرزيری ورکوونکی اویره وونکی

---

(1) پنځم ایت معجزه

(1) التفات بسوئ اصل مکه

﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا﴾ دا پنځم ایت معجزه دې او متعلق دې یا دا بتداء دسورت سره چې ﴿ سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِ﴾ دې مقصد دادې چې لکه څرنګه مونږه حضرت موسی ﷺ ته نهه(۹) معجزې ورکړې وې لېاره ددې چې فرعون اودهغه قوم ئي تصدیق اوکړي او ایمان راوړي خوهغوئی تکذیب اوکړو نو الله ﷻ هلاک کړل، نودغه شانتې ای مشرکین مکه! که تاسو ددې معجزې کتلونه ورستو ایمان رانوړئ نو تاسو به هم هلاک کړې شئ، اویامتعلق دې د سنة من قد سره اومقصد دادې چې لکه څرنګې فرعون موسی ﷺ اودهغه قوم دمصرنه په وتلو باندې مجبوره کړو نوخپله هم پاتې نشو، دغه شانتې مشرکین مکه حضور ﷺ په هجرت باندې مجبوره کړو نودوئی به هم وړوخت په مکه کښې پاتې نشي، ﴿تِسْعَ ءَايَٰتٍ﴾ تنوین په آیت کښې لپاره دتعظیم دې اومرادتنه هغه نهه(۹) لوئی لوئی معجزې دی چې په ژوند دفرعون کښې موسی ﷺ ته ورکړې شوېدی. ورنه هسې خودموسی ﷺ معجزې دنهو(۹) نه زیاتې وې.

په تعین دآیت کښې دعلماؤ مختلف اقوال راغلیدی غوره قول دادې چې اوه(۷) هغه دی چې سورة اعراف کښې ذکردی،قحط، میووکښې کمی، طوفان، ملخان،سپږئی، سینځخي اووینه مسلط کول اوبله یدبیضاء اوعصاء ده، داقول دعکرمه اومجاهد اودحضرت عطاء دې،اوضحاك دابن عباس رضی الله عنه نقل کړیدی چې نهه معجزات عصا،یدبیضاء، دژبې لکنت ختمیدل، انفلاق دبحر، طوفان،ملخان، سنځخي، سپږئی اووینه دی اوڅوك پکښې دطمس(دصورتونو مسخ کیدل) اضافه کوي، څوك پکښې دکوه طوراوچتیدل اضافه کوي نوخلاصه داده چې دسورة اعراف کښې مذکورپنځه معجزې(فارسلنا علیهم الطوفان الخ)اتفاقی دی اوداباقې اختلافي دی،

اوبعض مفسرینو د ﴿تِسْعَ ءَايَٰتٍ﴾ نه مراد نهه احکام مرادکړیدي چې هغه مذکوردی په حدیث دصفوان بن عسال رضی الله عنه کښې چې ذکرکړیدې امام ترمذی رحمه الله اونسائی اوابن ماجه په خپلوسنن کښې چې یویهودی بل یهودي ته اوئیل چې څه لاړشودې نبی ته اوتپوس تنه اوکړو، نوهغه بل ورته اوئیل چې نبی مه وایه ګني دده سترګي به څلورشي(دیرخوشحاله به شي)دوئی راغلل نبی ﷺ ته اوپوښتنه ئی اوکړه ددې ایت﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَىٰ تِسْعَ﴾ په باره کښې نوحضور ﷺ ورته جواب کښې اوفرمائیل چې(لاتشرکوا بالله شیئا، ولاتزنوا،ولاتقتلوا النفس التی حرم الله الابالحق ولاتسرقوا، ولاتسحروا، ولاتمشوا ببریئ الی سلطان فیقتله، ولاتاکلوا الربا،ولاتقذفوا محصنة اوقال ولاتفروا من الزحف

(شك شعبة) وعليكم يامعشر اليهود خاصة ان لاتعدوا في السبت الخ) امام ترمذی دي حديث ته حسن صحيح وئيلی دی اوحافظ ابن كثير رحمه الله پدي توجيه ردكړيدي ځكه چې مدار سند پديكښ عبدالله بن سلمة دي اودهغه په باره كښ حافظ ابن حجر رحمه الله ليكلي دي چې صدوق الا ته تغير كړاوددي وجه نه ابن كثيرفرمائی چې شايدپه ده باندی اشتباه شوېده اووهم ورته شوېدی اصل سوال چې كوم يهوديانو كړي وو نوهغه دلس (۱۰) كلماتو اوداحكاماتو متعلق وو چې كوم په حديث كښ مذكوردی نه ده نهه معجزاتو متعلق اودغه لس (۱۰) وصايادقبيلی دحجت نه ندی اوپه ايت كښ ذكردنهه معجزاتودي چې هغه حجج اوبراهين وو په صدق دنبوت دحضرت موسی عليه السلام باندی اوعبدالله بن سلمه لپاره نورهم منكرروايات موجوددی نولهذا داروايت هم دمناكيردعبدالله بن سلمه نه دي نودابن كثيردعبارت خلاصه داده چې دايت سياق اوسباق پدي دلالت كوي چې مراد پدي ايت كښ نهه معجزات دي نه هغه لس وصاياچې كوم په تورات كښ ذكردي.ليكن دراوي نه التباس شوېدي نوهغه كلمات عشره په ځائی تسع ايات ذكركړو.ليكن دابن كثيردارد محل نظردي ځكه چې ددي روايت ټول راويان ثقه دي.هرچې دي عبدالله بن سلمه نو هغه نه مطلقاضعيف دي اونه ئې مطلقاحافظه خرابه وه بلكه دكبرسني دوجي نه ئې په حافظه كښ تغيرراغلې وو اوددغه شانتي راوي په باره كښ دمحدثينورائی داده چې قبل التغيرروايات دده مقبول وي لكه اسحق سبعی وغيره شوباقی داتوجيه دسياق دايت نه مخالفه كيدل هم دليل دنكارت ندې ځكه چې ممكنه ده چې دادي جواب علی اسلوب الحكيم وي چې معجزات دومره ضروري ندي لكه څومره چې لس احكامات ضروري دي. والله اعلم بالصواب.

﴿فَسْئَلْ بَنِي إِسْرَائِيلَ﴾ خطاب حضور ﷺ ته دي اومراد په سوال سره سوال لپاره داستفادي دعلم ندې، بلكه لپاره داستشهاد اودتقريردصدق دي، چې دابنی اسرائيل به هم ستاسره موافقت اوكړي چې كوم ته دغيبی نه خبروركوی دوئی ته. اوبعض مفسرين فرمائی چې خطاب حضرت موسی عليه السلام ته دي اوبنابرقانون شيخ رضی چې كله هم امرحكايت وي دماضي نه نو قلنا به ورسره مقدروي نوتقديردعبارت به داسي شي فقلناله ﴿فَسْئَلْ﴾ او ﴿بَنِي إِسْرَائِيلَ﴾ مفعول ثانی دې داسئل لپاره اومفعول اول چې فرعون دې محذوف دې اواسال په معنی داطلب سره دې ای اطلبهم منه لتذهب بهم الی الشام (جمل) اوپه يوقرائت كښ په صيغي دماضي سره راغليدي فسئل اوفاعل

دهغې لپاره هم موسى ﷺ دې ليکن غوره توجيه اوله ده. ﴿إِذْ جَآءَهُمْ﴾ دغورى اواولى توجيه مطابق دامتعلق دې په ﴿فَسْـَٔلْ﴾ پورى اوفسئل داپه مينځ کښې بطورجمله معترضه ذکرشوېده. اودنوروتوجيهاتومطابق ددې تعلق دقلنامقدرسره دې يعنى قلنا اذجاءهم. انى لاظنك ياموسى مسحورا، ﴿مَسْحُورًا﴾ په معنى دساحرسره دې لکه مشؤوم په معنى دشائم سره دې. داقول دفرا دې يعنى ته په دې خپلو عجيبه معجزاتو اوافعالوکښې جادوګرئې اى ساحرا بغرائب افعالك (قرطبى) اويا ﴿مَسْحُورًا﴾ اسم مفعول خپلې معنى سره دې مقصد دادې چې په تاباندې سحرکړې شوېدې اودماغې توازن دې خراب شوېدې ځکه داسې خبرې کوې. لکه په سورة الشعراء کښې دې (ان رسولکم الذى ارسل اليکم لمجنون) اوابن جريرطبرى فرمائى چې ﴿مَسْحُورًا﴾ معنى ده چې تاته تعليم دسحردرکړې شوېدې. ﴿قَالَ لَقَدْ عَلِمْتَ﴾ داد حضرت موسى ﷺ جواب دې فرعون ته چې ته هم پدې پوهه ئې چې داسحرندې بلکه دالله ﷻ دطرفنه په ماباندې نازل کړې شوې معجزات دې ځمادصداقت لپاره اودخپل قدرت اظهارلپاره دلائل دې، اوهرچه دې سحرنوهغه خوبصائر نوې بلکه تخيل وې حقيقت نوې، اومشاراليه د﴿هَـٰٓؤُلَآءِ﴾ لپاره ﴿تِسْعَ ءَايَـٰتٍۭ﴾ دې ﴿بَصَآئِرَ﴾ جمع دبصيرة ده مراد تنه واضح دلائل دى يعنى داامورمذکوره هغه دلائل اومعجزات دى چې ځمادصدق لپاره الله ﷻ نازل کړيدې، مګرته ورنه عنادا انکارکوې اوتعبيردډينه په ﴿بَصَآئِرَ﴾ سره ځکه اوشو چې فرعون دغې معجزاتو ته سحروئيلې وو اوسحرتخيل وې نودهغې په جواب کښې بصائرذکرشوچې داتخيلات ندې بلکه حقيقت دې چې عصاء په مارباندې بدليږې داصرف داسې نده چې ناظرينوته ماربنکارې اونورپه حقيقت کښې لرګى دې بلکه الله ﷻ ماهيت دلرګي په ماهيت دمارسره بدل کړو اوددې فرق په اعتبارسره دساحرانو دسحرلپاره کلام داسې راوړې شوېدې چې يخيل من سحرهم انها تسعى (طه ۶۶) اودموسى ﷺ عصاپه باره کښې الفاظ داسې راوړى شوفاذا هى حية تسعى (طه ۲۰). ﴿وَإِنِّى لَأَظُنُّكَ﴾ ظن په معنى ديقين سره دې ځکه چې ظن دموسى ﷺ په داسې علاماتوباندې مبنى وو چې هغه مفيدديقين وو په خلاف دظن فرعون نه ځکه چې هغه دادله قطعيه مخالف وو نوځکه دهغه ظن باطل وو ﴿مَثْبُورًا﴾ دثبرنه، دې په معنى

دمحوس عن الخيرسره. هلاك شوي ته. ناقص العقل ته اوملعون ته هم ونيلي كيږي. ﴿فَأَرَادَ﴾ نو چې
ظلم ذكر كيږي دفرعون چې سبب دعذاب اوګرځيدو دده ليږه چې موسی ﷺ ودهغه بني اسرائيل
اسرائيل نی دمصرنه اوباسلو باندی مجبور کړو نوالله ﷻ فرمائي چې دغه فرعون وددده ملګري
مونږه غرق كړل. ﴿أَن يَسْتَفِزَّهُم﴾ داوليل شو دمخکښ تيرشوي ايت ليږه چې ﴿وَإِن كَادُوا
لَيَسْتَفِزُّونَكَ﴾ كچري ای مشركين مكه؛ تاسوحضور ﷺ دمكي نه اوباسئ نوتاسو به هلاك شي
لكه څرنګی چې فرعون موسی ﷺ اوباسلو باندی مجبوره کړو نومونږه غرق کړو ﴿مِنَ الْأَرْضِ﴾
مرادتنه يازمكه دمصرده اوياتنه مرادټوله زمكه ده اودټول زمكي نه اخراج كنايه ده دقتل
دهغوئي نه استصالا.

﴿فَأَغْرَقْنَاهُ﴾ دامرتب دې په ماقبل ﴿فَأَرَادَ﴾ باندی يعنی دوئ دموسی ﷺ اودبنی اسرائيل
استفزازكولو اودقتل منصوبې ئې جوړه ولي نومونږه ددوئي استفزازاوکړو په غرق جميعا سره
(روح).

﴿وَقُلْنَا مِنْ بَعْدِهِ﴾ داذکردانعام دې په بنی اسرائيلوباندی چې دفرعون دغرق كولونه پس
مونږه بنی اسرائيلوته اوئيل چې تاسو په مصر اوشام كښې په اطمينان اوسكون سره ژوندتيره وئ.
اوخماپه هداياتوباندی عمل کوئ اوداحکم وئيل په واسطه دموسی ﷺ سره وو. اوضميردبعده
راجع دې مفهوم دفعل سابق ته چې اغراق دې اواغراق مشتمل دې په فرعون اودهغه په قوم په
ټولوباندی نوافراد دضميرپه اعتباردمفهوم داغرقنه اخ سره دي.

﴿اسْكُنُوا الْأَرْضَ﴾ مرادتنه يامصر دې اوياشام دې اويامطلقا زمكه ده اوپديكښې تسلي ده
حضور ﷺ اوصحابه مهاجرينوته چې څرنګی بنی اسرائيلوته الله ﷻ غلبه وركړه اوفرعون ئي
هلاك كړو اوبنی اسرائيل ئي هلته ابادكړل دغه شانتي ستاسو دشمن به هم الله ﷻ هلاك كړي
اوتاسو به په مكه كښې اباد كړي اودسكون اواطمينان ژوندبه نصيب كړي.

﴿فَإِذَا جَآءَ وَعۡدُ ٱلۡأٓخِرَةِ﴾ مرادتنه ورځ دقيامت ده چې په دنياکښ زندګي تيره وني خو قيامت وعدي نه مه غافله کيږئ، ﴿لَفِيفًا﴾ دا اسم جمع ده وئيلې کيږي هغه جماعت ته چې دمختلفو قبائلونه وي مقصد دادې چې دقيامت په ورځ به تاسوټول جمع کيږئ که شقي وي ياسعيد، مؤمن وي که کافر، هلاك شده وي يانجات يافته اوبيابه اصل اودائمی فيصله به هلته کيږي، ﴿وَبِٱلۡحَقِّ أَنزَلۡنَٰهُ﴾ ماقبل کښ دحضرت موسیٰ ؑ معجزات بيان شو نوپدي ايت کښ ترغيب الی القرآن ذکرکيږي چې دادحضور ﷺ لويه علمي معجزه ده چې نزول ددې قرآن په حق سره شوېدې اوپه حق سره زمکې ته رسيدلې دې په مينځ کښ پکښ هيڅ قسم تبديلي نده کړې شوې نومراد په ﴿وَبِٱلۡحَقِّ﴾ سره په دواړوموضعينوکښ محفوظ کيدل دې دتغير اوتبديل نه اودشيطانو درصدنه (روح) اوباء په دواړو موضعينوکښ لپاره دملابست ده اوبعض مفسرين فرمائي چې مراد په ﴿وَبِٱلۡحَقِّ﴾ سره حکمت الهيه دې چې مقتضی دې دانزال د قرآن لپاره، اومراد په دويم ﴿وَبِٱلۡحَقِّ﴾ سره عقائد اواحکام شرعيه دی چې قرآن په هغې باندی مشتمل دې. نومطلب دايت دادې چې نازل کړيدې مونږه داقرآن چې متلبس دې دهغه حکمت سره چې مقتضی دې دانزال دقرآن سره، اونازل کړيدې مونږه قرآن چې متلبس دې په عقائدو احکام سره ﴿إِلَّا مُبَشِّرًا﴾ دواړه منصوب دې بناء برحاليت ای حال کونك مبشرا للمطعين باالجنة ومنذرا للعاصين من النار.

وَقُرۡءَانًا فَرَقۡنَٰهُ لِتَقۡرَأَهُۥ عَلَى ٱلنَّاسِ عَلَىٰ مُكۡثٍ وَنَزَّلۡنَٰهُ تَنزِيلًا ۞
اوقرآن تقسيم کړيدې مونږه په حصولپاره ددې چې اولولې ته داپه خلکوباندی په دمه دمه اونازل کړيدې مونږه داقرآن په نازلولو سره.
قُلۡ ءَامِنُواْ بِهِۦٓ أَوۡ لَا تُؤۡمِنُوٓاْۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ مِن قَبۡلِهِۦٓ
ته اوايه ايمان راوړئ تاسوپدې قرآن اوکه ايمان نه راوړئ، [1] بيشکه هغه کسان چې ورکړې شوېدې ورته علم مخکښ ددې قرآن نه

(1) سوم دليل نقلي برتوحيد ازمؤمنين سابقين.

اِذَا	يُتْلٰى	عَلَيْهِمْ	يَخِرُّوْنَ	لِلْاَذْقَانِ	سُجَّدًا	ۙ	وَّيَقُوْلُوْنَ	
هركله چې اولوستلې شي په دوئ باندې پريوځي دوئ په زنوباندې سجده كوونكي اووائي دوئ								
سُبْحٰنَ	رَبِّنَآ	اِنْ	كَانَ	وَعْدُ	رَبِّنَا	لَمَفْعُوْلًا	وَيَخِرُّوْنَ	لِلْاَذْقَانِ
چې پاكي ده درب زمونږه بيشكه ده وعده درب زمونږه خامخا پوره كړې شوې اوپريوځي په زنوباندې								
يَبْكُوْنَ وَيَزِيْدُهُمْ خُشُوْعًا۩								
چې ژاړي دوئ اوزياتوي دَدوئ عاجزي								

﴿وَقُرْاٰنًا﴾دا ايت هم دَدې مخكني ايت سره متعلق دې اودَمنكرينو دَيو اعتراض جواب دې چې دوئ په قرآن باندې كولو ،چې كچرته دا قرآن دَالله ﷻ دَطرفنه نازل شوې وى نوپكار ده چې دادې په يوځل نازل شوې وې، لكه څرنګه چې تورات په يوځل نازل شوېدې، دالږ لږ ولې نازليږي نومعلومه شوه چې داته دَخپل ځان نه جوړه وى؟ نوجواب اوشو چې دالږ لږ نازليدل مقتضىٰ دَ حكمت ده ځكه چې لږ لږ نازليدلو كښ مخلوقاتوته په حفظ كښ، اوعمل كولو كښ سهولت دې چې ته ورته په دمه دمه اولولې نودوئ به ئې يادكړي اوعمل به پرې په اسانئ سره اوكړي او﴿وَقُرْاٰنًا﴾منصوب دې په فعل مضمرسره چې تفسيرئې ورستوفعل سره شوېدې نودادَقبيلې دَمااضمر على شريطة التفسيرنه دې اى فرقناقرآنا، ﴿فَرَقْنٰهُ﴾دلته دوه قراته دې يوپه تخفيف سره چې داكثرى دې اودويم په تشديدسره دې اودواړونه مراد تقسيم دَقرآن دې ايتونواوسورتونه ته، اګرچه بعض مفسرين فرمائي چې دَتخفيف په صورت كښ مراد نزول دَقرآن دې لوح محفوظ نه اسمان دنياته اودَتشديدپه صورت كښ تقسيم اوتفريق دَقرآن دې سورتونو اوايتونوته،ليكن غوره خبره داده چې په دواړو صورتونوكښ تنه مراد تقسيم دې اونزول نجمادې ځكه چې ورستوريسى ذكر دَ﴿لِتَقْرَاَهٗ عَلَى النَّاسِ عَلٰى مُكْثٍ﴾دې، ﴿عَلٰى مُكْثٍ﴾دا صفت يادرسول لپاره دې چې خطاب ورته شوېدې په﴿لِتَقْرَاَهٗ﴾ كښ نومكث داوصافودقارى نه شو ،چې قاري صفت

دادې چې هغه به قرآن په دمه دمه لولې او یاصفت دَمقروء لپاره دې چې قرآن دې یعنی حق دقرآن دادې چې په دمه دمه اولوستلې شي، ﴿وَنَزَّلۡنَٰهُ تَنزِيلٗا﴾ فرقه دال وو په نزول تدریجي باندی خوراجع وو سهل الحفظ اوفهم ته او﴿وَنَزَّلۡنَٰهُ﴾ هم دال دې په نزول تدریجي باندی خوراجع دې حوادثو اومصالحوته یعنی سورتونه اوایتونه موجدا جدانازل کړیدی لپاره دَدې چې حفظ اوفهم کښې اساني وي اوتدریجي تدریجي نازل کړیدې لپاره دَدې چې دَحالاتومناسب هدایت تاسوته حاصل شي نولهذا تکرار نیشته دې، ﴿قُلۡ ءَامِنُواْ بِهِۦٓ أَوۡ لَا﴾ دازجردې دَ منکرینولپاره. چې حقانیت اوصدق دَقرآن واضح شوېدې اوس که تاسوایمان راوړئ اوکه نه راوړئ ﴿أَو﴾ دَتسوي لپاره دې اوجواب دَدې جملې محذوف دې چې هغه فهوحق فی نفسه د (ابن کثیر) ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ﴾ دادریم دلیل نقلي دې په توحیدباندی دَمؤمنینوسابقینونه یعنی دَیهود اونصاریٰ هغه علماء چې ایمان ئی قبول کړیدې دهغوئ حالت دادې چې کله هم دَقرآن ایتونه واوري نوپه سجده پریوځي اودَالله ﷻ تسبیح اوتقدیس بیانه وي، نومراد په ﴿أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ﴾ سره هغه علماء دَیهود اونصاریٰ ؤدي چې هغوئ به خپل کتابونه تلاوت کول مخکښې دَنزول دقرآن، اوپه حقیقت دَوحي باندی عالمان وو اودحضورﷺ اوصاف ئی اوکتلوایمان ئی راوړلو، لکه عمروبن نفیل ورقه بن نوفل اوعبدالله بن سلام وغیره، ﴿يَخِرُّونَ لِلۡأَذۡقَانِ﴾ خوروئیلې کیږي سقوط بسرعة په تیزئ سره غورزیدوته اولام په﴿لِلۡأَذۡقَانِ﴾ کښې په معنی دَ علی سره دې او اذقان جمع د ذقن ده وئیلې کیږي خنې ته اومجازا اطلاق ئی په ږیره باندی هم کیږي، اودغه شانتې اطلاق ئی مجازا په پوره مخ باندی هم کیږي، نومرادتنه دلته مخونه یعنې تندې اوپوزه دې اودَدې وجه نه ابن عباس رضی الله عنه ترجمه کوي یسقطون بسرعة علی وجوههم (جصاص) اوپدې کښې اشاره ده زیاتوالې دَخشوع ته چې دَخشوع دَوجې نه خپلې خنې اوګیرې زمکې ته نزدې کوي اودَدې وجه نه﴿لِلۡأَذۡقَانِ﴾ اووئیلې شو اوعلی الاذقان اونه وئیلې شو، اوبعضې مفسرین فرمائی چې پدیکښې اشاره ده مشقت اوچتولوته په حالت دَسجدې کښې په تندې اوپوزه باندی، چې دومره مشقت اوچتوونکې وي چې ګویاچې خنې ئی دَزمکې سره ملصق کړې وي (روح) اوصوفیه کرام فرمائی چې مراد دَ ﴿لِلۡأَذۡقَانِ﴾ نه دادې چې په

خله باندې څه وائي چې څني حرکت کوي او بعض صوفيه کرام فرمائي چې مراد ترينه تعفير اللحا على التراب دې ليکن دَ دې تولو توجيهاتو رجع کمال خشوع ته کيږي او که څوك اشکال اوکړي چې دومره اوږد عبارت اوئيلې شو داسې ولې نه اوئيلې شوچې يسجدون؟ نو امام رازي رحمه الله فرمائي چې پديکښې اشاره ده مسارعت اوجلدي کولوته په سجده کښې. يعني دَ الله تعالىٰ په عبادت او سجده کښې دَ سستئ نه کار نه اخلي، ګوياځانونه غورزه وونکي وي، ﴿سُجَّدًا﴾ يعني دَ الله تعالىٰ دَ تعظيم اودَ شکر لپاره سجده اداکوي چې سابقه کتابونوکښې کومه وعده دَرسول کړي وه دهغې ايفاء الله تعالىٰ اوکړه اودوئي رسول الله ﷺ اوموندلو اوپه هغه باندې ئې ايمان راوړلو. ﴿وَيَقُولُونَ﴾ يعنى په حالت دَ سجدې کښې دَ الله تعالىٰ تسبيح بيانه وي دا دليل دې په جوازدتسبيح باندې په حالت دسجدې کښې، مسلم شريف کښې دَحضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چې (کان رسول الله ﷺ يكثران يقول فى سجوده وركوعه سبحنك اللهم وبحمدك اللهم اغفرلى) اودَحضرت عقبه ابن عامر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائي چې لمانزل فسبّح باسم ربك العظيم،قال رسول الله ﷺ اجعلوها فى ركوعكم فلما نزل سبح اسم ربك الاعلىٰ قال رسول الله ﷺ اجعلوهافى سجودكم اودَحضرت ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دې عن النبى ﷺ قال اذاركع احدكم فليقل فى ركوعه سبحن ربّى العظيم ثلاثا، فاذا فعل ذلك فقدتم ركوعه،وذكرفى سجوده، سبحن ربى الاعلىٰ ثلاثا(ترمذى).

فائده: په حالت دَسجدې کښې دَحضور ﷺ نه مختلف قسم تسبيحات مروي دي، دَجمهور فقهاؤ په نيزمسنون تسبيحات په رکوع کښې سبحان ربى العظيم دې اوپه سجده کښې سبحان ربى الاعلى دې کم ازکم درې درې ځلې، ځکه چې حضرت علي رضي الله عنه اوابن عباس رضي الله عنه اوعقبه ابن عامر رضي الله عنه نه مروي دي چې نورتسبيحات مخکښې دَنزول دَفسبح باسم ربك العظيم اودَسبّح باسم الاعلى نه وو.(والتفصيل فى كتب الفقه).

﴿إِن كَانَ وَعْدُ﴾ان مخففه عن المثقله دې اسم ورله ضميرشان دې، اومراد په وعدې سره ارسال دَمحمد ﷺ اوانزال دقرآن دې چې دَدوئ په کتابونوکښې پيشنګوئي شوې وه. ﴿وَيَخِرُّونَ﴾ دانوراوصاف ددوئ ذکرکيږي چې دَقرآن په اوريدلوسره دوئي باندې خوف الهي غالب شي

ژاړي، اوخشوع اوعاجزی نوره زیاته شي، او ﴿وَيَخِرُّونَ﴾مکرر ذکرشوعام مفسرین فرمائی چې داتکرار لوجي داختلاف دسبب نه دې چې داولی سجدي لپاره سبب شکرکول وؤ په انجازدوعدي باندی، اودویم وارسجدې سبب اوریدل دقرآن اودهغې اثرات دي چې بکاء اوخشوع ده. لیکن حضرت شیخ نورالله مرقده فرمائی چې تکرارلوجي دبعدعهد دوصف اول نه دي اودحضرت شیخ رائی زیاته الیقه ده دمقام سره،ځکه چې اختلاف داسبابو حقیقة نیشته دې. ځکه چې دواړه مرتب دي په ﴿إِذَا يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ﴾باندی، اوبعض مفسرین فرمائی چې داول خرور نه مراد سجده ده اودویم وارخرورد نه مراد انحنا یعني سرټیټول دي دژړا لپاره. لیکن داتوجیه خلاف ظاهرده نولهذا دواړو کښ تنه مراد سجده کول دی.

فائده: (۱) حالت دبکاء په فعل سره ذکرشواوحالت دسجده په اسم سره ذکرشو وجه داده چې بکاء ناشی ده دتفکرنه اوتفکرمتجددوي نوحالت بکاء هم متجدده ده نودَدي وجه نه دي سره مناسب فعل وو چې هغه په تجدد باندی دلالت کوي اوحالت دسجو هروخت کښ متجدد نه وي ددې وجه نه مناسب ورسره اسم وو.

فائده:(۲) دقرآن وئیلو اوداوریدلو وخت کښ ژړا مستحبه ده اوکه ژړانه راځي نودژړا صورت اختیاره ول پکاردی عن سعدابن ابی وقاص ﷺ قال قال رسول الله ﷺ ابکوا فان لم تبکوا فتباکوا(ابن ماجه) اودالله ﷻ دخوف اوخشیت دوجي نه ژړا کول ډیرممدوح دی،په احادیثوکښ ډیره مدحه راغلیده، حضرت ابوهریره ﷺ نه روایت دې فرمائی(قال رسول الله ﷺ لایلج النار رجل بکی من خشیة الله تعالی حتی یعود اللبن فی الضرع ولااجتمع علی عبدٍغبارفی سبیل الله تعالی ودخان جهنم) (مسلم، ونسائی)ترجمه: حضور ﷺ ارشاد اوفرمایه چې کوم سړی دالله ﷻ دخوف دوجی نه اوژاړي هغه به جهنم ته نه داخلیږي ترڅوپوري پئ غولانځوته واپس نوي تلی(تعلیق بالمحال دې) اونه جمع کیږي په یومومن بنده باندی دالله ﷻ دلاري دوړه (ګرد)اولوګی دجهنم،یعنی په یومؤمن باندی دالله ﷻ په لاره کښ خه دوړه(ګرد) لګیدلې وي نوپه هغه باندی دجهنم لوګی حرام دې(۲) دحضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دې فرمائی چې سمعت رسول الله ﷺ یقول عینان لاتمسهما النارعین بکت من خشیة الله تعالی وعین باتت تحرس فی سبیل الله. ترجمه: یعنی مادنبي ﷺ نه واوریدل چې فرمائیل ئی چې دوه قسمه سترګي دي چې هغې ته به دجهنم اورنه رسیږي یوه هغه سترګه چې دالله ﷻ دخوف نه ئی ژړلې وي اودویمه هغه سترګه چې دالله ﷻ په لاره کښ پهره ورکوي ویښه تیرکړي شپه (۳) حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ

روایت دی فرمائی قال رسول الله ﷺ ما من عبد علمه خرج من غیبه تعرف ... کی من ... من
حسنة الله تعالی ثم نصیب شیئا من حر وجهه الا حرمه الله علی النار ... حر ... بحد
حضور ﷺ ارشاد وفرمایه چې ښشته دې یو بنده مؤمن چې د هغه د سترګو نه ... ﷺ ...
وخشت دوجې نه اوښکې اوځي مګر الله ﷻ به دا بنده ضرور اور د جهنم حرام کړي
اوخصوصًا اهل علم سره دا مقام او مرتبه زیاته مناسبه ده او ددې وجه نه قرطبي فرمائي چې ... حق
من توسم بالعلم وحصل منه شیئا ان یجری الی هذه الرتبة فیخشع عند استماع القرآن ویتواضع ویذل ... فی
او ابن جریر طبری وغیره د عبد الاعلی التیمی رحمه الله قول نقل کړیدې ان من اوتی من العلم ما لا یبکیه حقیق
ان لایکون اوتی علما ینفعه (طبری)).

قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ اَوِ ادْعُوا الرَّحْمٰنَ ؕ اَيًّا مَّا تَدْعُوْا فَلَهُ الْاَسْمَآءُ

[1] او وايه ته چې بلنه کوئ تاسو په نوم د الله ﷻ او يا بلنه کوئ په نوم د رحمان په هر نوم سره چې تاسو بلنه کوئ نو ښه دي هغه ته نومونه

الْحُسْنٰى ۚ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا ۝

خائسته او مه ږیره اوچت اوازمه کوه دعا خپله او مه پټ والي کوه پدې سره او طلب کړه په مینځ ددې کښې یوه لار

وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَّلَمْ يَكُنْ لَّهٗ

[2] او ته اوايه چې ټول صفات دالوهيت خاص الله ﷻ لره دي هغه ذات دې چې نه نې دې نيولې خوځ ولد بچى او نشته هغه ته

شَرِيْكٌ فِي الْمُلْكِ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ وَلِيٌّ مِّنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيْرًا ۝

څوك شريك په بادشاهئ کښې او نيشته هغه لره څوك دوست مددګار، دوجې دعاجزئ نه او لوئى وايه د هغه په لوئى وئيلو سره

﴿قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ﴾ دا په اخير کښې دعوى دسورت ذکرکيږي او د مشرکينو د يو سوال جواب
ذکرکيږي حضور ﷺ په حرم کښې ناست وو دعائى کوله چې يا الله يا رحمن يا رحيم

(1) خلاصه و اعادۀ دعوی سورت
(2) بمنزله علت برای قل اول



نو مشرکینو اوئیل چې مونږه دَ دیرو معبودانو دَعبادت نه منع کوي اوخپله دَ دیرومعبودانو عبادت کوي نودهغې په جواب کښې داآیت نازل شوچې په اسماء حسنی کښې په کوم نوم سره تاسو دَالله ﷻ نه غوښتنه کوئی نوکولې شئ، ستاسو اختیاردې که یاالله وائی یایارحمن وائی تعبیرات اګرچه بدل بدل دي لیکن مراد تنه ذات واحده دې.

عباراتنا شتّى وحسنك واحد وكل الى ذاك الجمال يشير

نو او په ﴿أَوِ ٱدْعُوا۟﴾ کښې لپاره دَتخییردې اودعا کله په معنی دنداء یعنی بلنې سره راځي اوکله په معنی دَتسبیح اوتقدیس سره راځي، اوکله په معنی دَتسمیه «نوم ورکول»سره راځي. نوزمخشری فرمائی چې دعاپدې مقام کښې په معنی دَتسمیې سره دې اودعاچې کله په معنی دَتسمیه سره وي نودوه مفعولینوته متعدي کیږي خوکله کله مفعول اول حذف کړې شي لوجه دَاستغناء نه اکتفاءً بالمفعول الثانی، لکه دعوته زیدا نوبیامفعول اول ه ضمیرحذف کړې شو اوونیلې کیږي دعوت زیدا، اودعاء پدې ځائ کښې باب افعال دې نومفعول ثانی ته متعدی دې پواسطه دَحرف جریعنی باء سره،لکه دعوت والدی بزید، شو خوبیادلته باء حذف کړې شوه نومعنی دَقل ادعو الله شوه سموا معبودکم بالله اوبالرحمن، ايّاما تدعوا "اىّ" حرف شرط دې تنوین عوض دَمضاف الیه نه راغلیدې چې هذین الاسمین دې اوما زائده دَتاکیددَابهام د"اىّ" لپاره راغلیده اوجزاء دَدې جملې شرطیې لپاره مقدره ده چې فهوحسن ده.﴿فَلَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ﴾داجمله واقع ده په موقع دَجزاء باندې اوداپه حقیقت کښې تعلیل دې دَماقبل جملې لپاره،یعنې دَالله ﷻ لپاره اسماء حسنی دی اومن جمله دهغې نه الله اورحمن هم دي.

فائده(۱) امام رازي رحمه الله فرمائی چې تخصیص دَدې دوه اسمینوپه ذکرسره دلالت کوي په اشرف والې دَدې دواړو په نورو اسماؤباندې، اوتقدیم دَلفظ الله په رحمن باندې لوجه دَاعظم والي نه دې اوامام غزالي رحمه الله فرمائی چې اسم دَالله ﷻ په تولو اسماؤباندې اشرف دې ځکه چې لفظ دَالله ﷻ دلالت کوي په تولوصفاتوکمالیوباندې په خلاف دَنورو اسماؤنه ځکه چې احاد دهغوئ دلالت کوي په احاددَمعنی باندې لکه علیم،قدیروغیره شو، نودَادالله ﷻ لپاره اسم محضه دې اودَدې وجه نه اطلاق ئې په غیردَالله ﷻ باندې جائزندې نه حقیقة اونه مجازا اودغه شانتې لفظ دَرحمن هم دی چې اطلاق ئې په غیرالله ﷻ باندې جائزندې اګرچې مشتق دې دَرحمت نه.

فائدہ ۲)اسمآء دَالله ﷻ توقیفی دی موقوف دی په ادله دشرع باندی اوادله دشرعي مه یودلیل اجماع هم ده نولهذا په کوم اسم چې اجماع منعقده شوې وي نو اطلاق ئی په الله ﷻ باندی جائزدي، اودغه شانتی هغه اسماء اعلام چې موضوع وي په نورو لغاتو کښې نودهغې اطلاق په الله ﷻ باندی جائزدي لکه لفظ دخدائ پاك یاپروردګاروغیره شو اوپدي تصریح کړیده صاحب دروح المعانی چې فرمائی چې کوم اسماء اعلام چې موضوع وي په نورو لغاتوکښې نواطلاق ئی په الله ﷻ باندی کولوکښې دهیڅ چانزاع نیشته دې اوددي وجه نه صاحب دنبراس(ص۱۷۰)کښې لیکي(قال بعض المحققین لانزاع فی جوازاطلاق اسمائه الاعلام الموضوعة فی اللغات که خدا فی الفارسیة وتنکری بالترکیة الخ) نومعلومه شوه چې خداوغیره هم داسماؤدالله ﷻ نه دی اګرچې داسماء الحسنی نه،ندی نولهذا پدي سره نداکول اودعاغوختل جائزدي.اوداقول دبعضومعاصرو مفسرینوچې ای خدایه ددعاپه وخت کښې چې خلك وائی ددي ایت اودسورۂ اعراف دایت نه صریح مخالفت دې ددي لفظ پریخودل ضروري دي قول باطل دې اوهرچې دې دلیل پدي قول چې لفظ خدا اګرچه معنی ده دمالك، لیکن تعبدپه معانوسره صحیح ندې الخ دلیل باطل دې ځکه چې مراد د(تعبد)نه کچرته مونځ وغیره وي نوهغه مراد زمونږ ندې اونه په هغې کښې دچانزاع شته اوکچرته مراد دتعبدنه دعاوي نوداتحکم دې اومخالف دې داجماع نه اودویم داچې موصوف فرق ندي کړې په مابین داسماء اعلام اوهغه اسماؤکښې چې ماخوذوي دصفاتو اودافعالونه،لفظ (خدا)داسمائ اعلام نه،دې لکه قول دصاحب نبراس مصرح دې پدي اوموصوف دافهم کړیده چې دالفظ دهغه اسمآؤنه دې چې ماخوذدي دصفاتو اوافعالونه لکه چې داواضحه ده دقول دهغه نه، چې وائي(اګرچه دمعنی په لحاظ سره اطلاق ئی په طریقه دتوصیف اواخبارپه الله ﷻ باندی صحیح دې) اود ﴿قُلِ ٱدْعُواْ ٱللَّهَ﴾مقصد دانه دې چې دعاصرف په اسمآء حسنی سره جائزه ده اوپه نوروااسماؤسره جائزنده ځکه چې ایت نص دې په جوازدتوسل باندی په اسماء حسنی سره په وخت ددعاء کښې﴿وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ﴾ داادب ددعاذکرکیږي چې ډیرپه اوچت اوازسره هم دعامه غواړئ چې چیغې وهئ اونه ډیره آهسته یعني بالکل په چپه سره دعاغواړئ بلکه درمیانی لاره اختیاره وئ.نومراد په صلوة سره دعاده داقول نقل کړیدې ابن جریرطبری دحضرت عائشه رضي الله عنها ،حضرت ابن عباس رضي الله عنه،حضرت زبیر رضي الله عنه،حضرت ابوعیاض.

حضرت مجاهد رحمه الله،حضرت عطاء رحمه الله اودَحضرت مکحول رحمه الله نه اودَسياق او سباق دکلام هم سره موافق داده چې مراد دَصلوٰة نه پدې ځائې کښې دعاده اوبعضې مفسرين فرمائې چې مراد په صلوٰة سره مونځ دې اوعبارت په حذف دَمضاف سره دې يعنې ولاتجهربقراءة صلوتك. نومطلب داشو چې مونځ کښې هروخت کښې جهرقرات مه کوه اونه هروخت کښې پټ قرائت کوه بلکه درمياني لاره اختيارکړه،څنې مونځونوکښې جهری قرائت کوه اوپه څنوکښې سری قرائت. نوپه ﴿وَلَا تَجْهَرْ﴾سره مراد ماسپخين اومازيګرمونځونه دی او﴿وَلَا تُخَافِتْ﴾ سره اشاره ده دَماښام اوماسخوتن اوودَسحرمونځونوته اووجه دابيان کړې شوېده چې حضور ﷺ به په مکه کښې مونځ کولوپه اوچت قرائت سره نوکفاروبه قرائت دَقرآن اوريدلو نوقرآن په حق کښې اودَالله ﷻ په حق کښې به ئې ردې بدې وئيلې نوددې وجه نه ماسپخين اومازيګرمونځونوکښې حکم دَاخفاء اوشولو.اودَماښام په وخت کښې به په خوراك اوڅښکاك کښې مصروفه وو، اوماسخوتن وخت کښې به اوده وو اودَسحرپه وخت کښې به هم دَخوب نه نووبيدارشوې نوددې وجه نه پدې مونځونوکښې جهرا قرائت حکم راغليدې،اودَجمعې مونځ چونکه په مکې کښې نوو بلکه په مدينې کښې فرض کړې شوېدې نوددې وجه نه په هغې کښې هم جهرا قرائت حکم راغليدې،

اوبعضې فرمائې چې ﴿وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ﴾سره ټول جهر مونځونه مراددي، اودايت مقصد دادې چې په جهري مونځونوکښې ډيرپه اوچت اوازسره هم قرائت مه کوه اونه ډيرخفيه قرائت کوه بلکه درميان آوازسره قرائت کوه،دااقول هم مروي دې دَابن عباس رضی الله عنه نه فرمائې چې حضور ﷺ به په مکه کښې دارارقم کښې په پټه باندې مونځ کولونوچې په اوچت اوازسره به ئې قرائت کولونومشرکينوبه قرآن ته کنځلې کولې اوچې روروبه ئې قرآن تلاوت کولونوصحابه کرامو رضی الله عنهم نه به په اوريدلو کښې تکليف وونودهغې په باره کښې داايت نازل شوچې ډيرپه اوچت اوازسره هم تلاوت مه کوه چې مشرکين واوري اوبياکنځل کوي اومه ډيرپه پټه تلاوت کوه چې صحابه ئې هم نه اوري بلکه متوسطه لاره اختيارکړه.

﴿وَقُلِ الْحَمْدُ﴾داد ټول سورت لب لباب اوخلاصه اودَسورت مرکزي دعوىٰ ذکر کيږي چې داخومره دلائل عقليه نقليه اومعجزي بشارتونه تخويفونه وغيره ذکرشول دادې لپاره چې نفي دشرك اوشي اووحدانيت ثابت شي، اوپدې ايت کښې نفي دَشرك شوېده په درې(۳)

اعتبار اتو سره (۱) لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا (۲) ﴿وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٌ فِي ٱلْمُلْكِ﴾ (۳). ﴿وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ وَلِيٌّ مِّنَ ٱلذُّلِّ﴾ وجه داده چې شريك كله ادنى وي، كله مساوي وي او كله اعلى وي. نو ﴿لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا﴾ سره نفى دَشريك ادنى راغله او په ﴿وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٌ﴾ سره نفي دَشريك مساوي راغله او په ﴿وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ وَلِيٌّ﴾ سره نفي دَشريك اعلى راغله، او بعض مفسرين فرمائى چې پديكښې په دريو فرقو باندى رد دې په ﴿لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا﴾ سره رد راغى په نصارىٰ باندى چې هغوئ دَمسيح ابن الله قائل وو او په ﴿وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٌ﴾ سره رد راغى په مشركينو باندى. او په ﴿وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ وَلِيٌّ مِّنَ ٱلذُّلِّ﴾ سره رد راغى په يهوديانو باندى ځكه چې (العياذبالله) دهغوئ عقيده وه چې حضرت يعقوب عليه السلام په كشتئ كښې په الله تعالى باندى غالب شوې دې، او دا دري صفات سلبيه مستلزم دى دري صفات ثبوتيه كماليه لره ﴿لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا﴾ مستلزم دې كامل الذات لره چې الله تعالى كامل الذات دې او ﴿وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٌ فِي ٱلْمُلْكِ﴾ مستلزم دې منفرد والي لره په خلاّقيت كښې چې الله تعالى په خلاقيت كښې منفرد دې، او ﴿وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ وَلِيٌّ مِّنَ ٱلذُّلِّ﴾ مستلزم دې منعم على الاطلاق لره چې الله تعالى منعم دې على الاطلاق، نو ددې وجه نه ترتب دَحمد پرې راغى چې هر ذات چې پدې اوصافو متصف وي نو هغه قابل دَحمد وي.

﴿وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ وَلِيٌّ مِّنَ ٱلذُّلِّ﴾ قانون دا دې چې كله نفي داخله شي په كلام مقيد باندى نو نفي عام طور پر دَقيد كيږي نه ده مقيد، نو دَظاهر دَايت نه معلوميږي چې (العياذبالله) دَالله تعالى لره ناصريامانع شته دې خو دَوجې دكمزورئ نه نيشته دې،نفس ناصريامانع ورله شته دې نو جواب دادي چې دلته ﴿مِّنَ ٱلذُّلِّ﴾ كښې من صله دې ﴿وَلِيٌّ﴾ لپاره، نومقصد دَايت دادې چې الله تعالى كمزورى ندې چې محتاج وي ولى ناصر او مانع ته (ابن كثير) او بعض مفسرين فرمائى چې ﴿وَلِيٌّ﴾ په خپلې معنى سره يعنى دوست سره دې او من تعليليه دې او دايت مقصد دادي چې الله تعالى لپاره دوستان لوجې دكمزورئ نه نيشته دې او الله تعالى كه ځان لپاره يو بنده دوست نيسى نو دا محض

اصطناع ده په شان دَعبدکښ، نه دَدي وجه نه چې الله ﷻ ورته محتاج دې. ﴿وَكَبِّرْهُ﴾ مراد پدې سره یاتکبیرتحریمه ده اودَایت مقصد دادې چې کله براءت عن الشرك اوکړئ نوعملی طوراثبات دَتوحید اوکړئ اوپه تکبیرتحریمه سره مونځ شروع کړئ، اویاتنه مطلق تعظیم دَالله ﷻ مراد دې چې کله نفي دَشریك په اعتبارات ثلاثه سره اوشوله اوهیڅ قسم شریك الله ﷻ لره نیشته دې نوتاسو دَالله ﷻ تعظیم اولوئی بیان کړئ، اولفظ دَتکبیرابلغ دې په معنی دَتعظیم کښ اوتقیدئی په مصدرمنکرسره اشاره ده دیته چې انسان څومره جهداومبالغه اوکړی په عبادت تحمید ،اوتمجید دَالله ﷻ کښ خودَالله ﷻ حق نشي اداکولې، دَخپل قصوراوعاجزئ اووصف دَعبدیت اظهارورته پکاردې دسورت ابتداء په تنزیه دَالله ﷻ سره شوې وه اواختتام ئې په تعظیم سره اوشو ،په ابتداء کښ پیغمبر ﷺ لپاره وصف دَعبدیت ذکرشوې وو اوپه اختتام کښ دَټولو انسانو عجزته اشاره شوله نومعلومه شوه چې عبادت لائق صرف الله ﷻ دې نوثابت شوچې لااله الاالله.

تم تفسیرسورة بنی اسرائیل.

ركوع ۸	سورة الكهف مكية	آيتونه
۱۲	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	۱۱۰
	خاص په نوم د الله سره چه بيحده مهربان او ډير رحم کوونکي دي شروع کوم	

رقمها حسب التسلسل (۱۸) وحسب النزول (۶۹)

سورة الكهف مكي سورة دې سيوادَيوايت واصبرنفسك الخ نه(۲۸) په نيزدَ ابن عباس رضي الله عنه اومقاتل فرمائي چې اول اته(۸) ايتونه يعنى اول نه ترصَعِيْدًا جُرُزًا پورې مدني دى اوباقى سورة مكي دې، سورة الكهف ۱۱۰، ۱۱۱ ايتونوباندې مشتمل دې په ترتيب قرآني کښې اتلسم(۱۸) اوپه ترتيب نزولي کښې يوکم اوياوم(۶۹)نمبرسورت دې،دَسورة النحل نه مخکښې اودَسورة الغاشية نه بعدنازل شويدې،زمانه دَنزول ئې دوراخيردَمكي معظمې دې، كل كلمات (۱۵۷۷) اوكل حروف ئې(۶۳۲۰)دى.

وجه تسميه: پدې سورت کښې چونکه واقعه دَاصحاب كهف ذكركيږي نوددې وجه نه داسورت پدې نوم سره موسوم کړې شو،تسمية الكل باسم الجزء.

فضيلت:عن ابى درداء رضي الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال من حفظ عشرآيات من اول سورة الكهف عصم من الدجال (مسلم،ابوداؤد،نسائى،ترمذى).(۲)عن ابن عمر رضي الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من قراءسورة الكهف فى يوم الجمعة سطع له نورمن تحت قدمه الى عنان السمآء يضئ له يوم القيمة وغفرله مابين الجمعتين(ابن كثيربحواله ابن مردويه وقال ابن كثيراحسن احواله الوقف)(۳) عن ابى سعيدعن النبى صلى الله عليه وسلم انه قال من قراء سورة الكهف فى يوم الجمعة اضاءله من النورمابينه وبين الجمعتين(ابن كثيربحواله بيهقي)(۴) عن على رضي الله عنه مرفوعا من قراء سورة الكهف يوم الجمعة فهومعصوم الى ثمانية ايام من كل فتنة، وان خرج الدجال عصم منه.

حصّه ثالثه: په سورة الفاتحه کښ تفصيلاً ذکرشوي وو چې دَمضامينو په اعتبارسره ټول قرآن څلورحصوته منقسم دي اودهرې حصې ابتداء په الحمدلله سره شوېده اوله حصه دَسورة الفاتحه نه تراختتام سورة المائده پورې،دويمه حصه دَسورة الانعام نه تراختتام سورة الاسراء پورې اودادريمه حصه ده چې ابتداء ئې دَدې سورت نه کيږي ترسورة سباپورې اوڅلورمه حصه دَسورت سباء نه تراخره پورې، په اولې حصې کښ زياده ترمضمون دَخالقيت بيان شوې دې.دويمه حصه کښ مضمون دَربوبيت بيان شوې دې، اوپدې حصې کښ مضمون دَ حاکميت يعنی تصرف اوبرکت بيانيږي چې دَټول کائنات حاکم اومالك صرف ذات دَالله ﷻ دې،ټول تصرفات دَهغه په اختيارکښ دې،په خپلواختياراتوکښ څه حصه يوپيغمبرﷺ ياولي يابل چاته نده ورکړې اوبرکاتواچوونکې هغه دې.

ربط: ربط اسمی دَماقبل سره دادې (۱)چې په سورة بني اسرائيل کښ انسانانوته دَسبل الخيرذکرووچې(ان هذا القرآن يهدى للتى هی اقوم (ايت نمبر۹)) اوپه سورة الکهف کښ اشاره کيږي اسبابودَربط قلبي ته پدې هدايت باندې چې﴿وَرَبَطْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ ﴾(ايت نمبر۱۴)(۲)اودغه شانتې تعليم ورکول کيږي دَدعاچې (واربط قلوبنا على هذا کماربطت قلوب اصحاب الكهف)(۳) دغه شانتې په ماقبل کښ ذکردَواقعه اسراء وو چې هغه اوله درجه ده دکمالاتو اوپدې سورت کښ ذکردَنزول کتاب دې چې هغه غايه دَه دَدرجاتو دکمال (کبير باختصار)(۴) اودغه شان په سورة الاسرآء کښ مانع عادی دکفارودايمان ذکرشوي وو ومامنع الناس الخ (ايت نمبر۹۴) اوپدې سورة کښ مانع حقيقې ذکردې ومامنع الناس الخ (ايت نمبر۵۵).

ربط مضمونی: ربط مضمونی ئې دَماقبل سره په څووجوه سره دې(۱)چې ماقبل کښ مضمون دَخالقيت اوربوبيت ذکرشونوپديکښ ورپسې مضمون دَحاکميت يعنی تصرف اوبرکت ذکرکيږي

(۲)په ماقبل کښ رددَشرك اوشو اودَحضورﷺ دَحقانيت لپاره دَلوئ عظيم الشان معجزې ذکروو نوپدې سورت کښ دفعيه دَشبهاتوده په توحيدباندې چې دکوموشبهاتودَوجې نه کفارپه شرك کښ مبتلاوو(۳)دَسورة بني اسرائيل اختتام په حمدسره شوې وو اوددې سورة افتتاح په حمدسره اوشوه(۴) سورة بني اسرائيل افتتاح په تسبيح سره شوې وه چې هغه متعلق بالذات والتخليه وه، اوددې سورة ابتداء په حمدسره کيږي چې هغه متعلق بالصفات والتحليه دې ځکه

چې دَتخليې نه وروستوتحليه پکاروي(۵) په سورة النحل کښې دَتوحيدنه تعبيرشوې ووپه روح سره دغه مضمون په سورة بني اسرائيل کښې دَعوې په صورت کښې سره دَدليله ذکرشو .قل ادعو الله الخ دعوه او وقل الحمدلله الذى الخ ورله په منزله دَدليل وو نوداتحقيق اوشولو دَمسئله توحيداوپه سورة الکهف کښې دغه دليل دعوه اوګرځيدله اوددې دَاثبات لپاره نوردلائل ذکرکيږي نوتدقيق دَمسئله توحيدکيږي په سورة الکهف کښې اوسورة مريم اوطه وغيره تتمات دی لپاره ددې سورت.

دعوه سورت: ددې سورت مرکزي دعوه اثبات دَتوحيدديې په رد دَاقسام اربعو دَشرک سره،چې شرک فى العلم،فى التصرف،فى العبادة اوفى الدعاء دې، اونفي دَعلم غيب کيږي دَانبياء نه لکه موسىٰ عليه السلام اوخضرعليه السلام اودَاولياء نه لکه اصحاب الکهف شو اودَملوکونه لکه ذوالقرنين شو.

شان نزول: دَحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه دَدې سورت شان نزول داسې منقول دې چې قريش مکه نضربن حارث اوعقبه ابن ابى معيط مديني ته دَيهوديانوعلماؤته اوليږلوچې تاسودَهغوئ نه دَحضور ﷺ په باره کښې تپوس اوکړئ چې دابرحق پيغمبردې اوکنه دې ځکه چې دوئ اهل علم دی، نودادوه(۲)کسان چې مديني ته راغلل اواحباريهود سره ميلاؤشول اوهغوئ ته ئې دَحضور ﷺ ټولي احوال بيان کړل،نوهغوئ ورته اوئيل چې تاسولاړشئ اودَدې مدعي نبوت نه درې تپوسونه اوکړئ که دَټولوجوابونه ئې درکړل،يابالکل جواب درنه کړونوپوهه شئ چې داصحيح پيغمبرنږدې اوکه دَځنوجواب ئې درکړواودَيوجواب ئې درنه کړونوبياصحيح پيغمبردې.

اول: تپوس تنه دااوکړئ چې مخکښې زمانه کښې يوڅوځوانان دَيوظالم بادشاه نه پټ شوی وو اوپه يوغارکښې ئې پناه اغستې وه دهغوئ واقعه څه ده؟؟

دويم: دَهغه کس دَحال تپوس تنه اوکړئ چې هغه دَمشرق نه ترمغربه پورې سفرکړې وو. اودريم: دَروح په باره کښې تنه تپوس اوکړئ چې ددې حقيقت څه دې؟؟

نوهرکله چې دادوه کسان واپس مکي معظمې ته راغلل اوکفاروته ئې داټوله واقعه بيان کړه نوقريش مکه دَحضور ﷺ نه دغه درې سوالونه اوکړل،حضور ﷺ ته ورته اوفرمائيل چې څه به ستاسودَسوالونوجوابونه صبادرکړم اوانشاء الله ئې اونه وئيلو چې دهغې دَوجې نه وحي کښې تاخيراوشو ،دولس ياپنځلس،ياڅلورويشت بناء براختلاف اومشرکينومختلف قسم غلطې خبرې

کولې چې دَهغې دَوجې نه حضورﷺ ته به ډيراذيت رسيدلو.آخردَغه مذکورو ورځونه پس دَدوؤ سوالونوپه جواب کښې سورة الکهف نازل شو، اودروح په باره کښې دَسورة بني اسرائيل دايت نمبر ۸۵ ويسئلونك عن الروح الخ نازل شو.

خلاصه: داسورت يوتمهيد، څلورحصو اويوې خاتمې ته منقسم دې.دَسورت دَابتداء نه ترايت (نمبر۸)پورې تمهيدبيانيږي، (ايت نمبر۹ نه تر۴۹)پورې دسورت اوله حصه.د(ايت نمبر ۵۰ نه تر۵۹)پورې دَسورت دويمه حصه اودَايت(نمبر ۲۰ نه تر۸۲)پورې دَسورت دريمه حصه اودَ(ايت نمبر۸۳ نه تر۱۰۱)پورې دَسورت څلورمه حصه ذکرکيږي اوبياپه اخرکښې يعنی(۱۰۲نه تر۱۰۱)پورې خاتمه دَسورت ذکرکيږي.

اول تمهيدبيانيږي په (ايت نمبر۱)کښې﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْٓ ﴾دعوه دَتوحيدذکرکيږي په (ايت نمبر۲، ۳) ﴿قَيِّمًا﴾تا﴿فِيْهِ اَبَدًا ﴾کښې مقصد دکتاب الله ذکرکيږي په انذاراوبشارت سره. په (ايت نمبر۴، ۵)﴿وَّيُنْذِرَ﴾کښې زجرذکرکيږي په اتخاذدَولدسره په ايت (نمبر۶)کښې﴿فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ ﴾کښې حضورﷺ ته تسلې ذکرکيږي په ايت(نمبر۷، ۸) ﴿اِنَّا جَعَلْنَا ﴾تر ﴿صَعِيْدًا جُرُزًا ﴾کښې تزهيدفي الدنيابيانيږي،بيادهغې نه وروستو دسورت اوله حصه ام حسبت الخ نه شروع کيږي پدې حصه کښې دَيوې شبهې اجمالي اوتفصيلي جواب اوځه متعلقات اوزجرونه اوڅلورامورمتفرعه. اودرې(۳)امورمصلحه لپاره دَمنکرينوذکرکيږي.

په ايت(نمبر۹) ﴿اَمْ حَسِبْتَ ﴾تا(نمبر۱۲) ﴿اَحْصٰى لِمَا لَبِثُوْٓا اَمَدًا ﴾پورې دَشبهې مختصر جواب دې شبهه دکفارو دَطرف نه داسې کيده چې اصحاب کهف يوځونوجوانان وو.درې سوه (۳۰۰)کالونه زيات وخته پورې په غارکښې صحيح سلامت پراته وو.دومره اوږدې مدې کښې دوئ ته څه قسم تکليف نوو رسيدلې، نومعلومه شوه چې دوئ مافوق الاسباب قدرت اودَطاقت مالکان اومتصرف وواوددې وجه نه دوئ به اوه(۷)روتئ دَاصحابو کهفوپه نوم اويوه(۱) روتئ به ني دَهغوئ دَسپي په نوم نذرکوله،نومختصرجواب ئې داسې کيږي چې دَاصحابو کهف واقعه دَالله ﷻ دَقدرت دَنشانونه يوه نشانې ده، پدې کښې دَاصحابوکهف خپل څه تصرف اواختيارڅه دخل نيشته.دَظالم بادشاه نه تبنتيدل، په غارکښې پناه اغيستل، اوده کيدو ته محتاج کيدل. په راپاسيدلوکښې محتاج کيدل اودَالله ﷻ نه ربط قلبي سوال کول داټول پدې دلالت کوي چې دوئ

دَالله ﷻ عاجزان،موحدان بندگان وو،بيادَايت نمبر۱۳، ﴿نَحۡنُ نَقُصُّ ﴾نه ترايت نمبر۲۱، ﴿وَكَذَٰلِكَ أَعۡثَرۡنَا ﴾پوري ددي شبهي تفصيلي جواب دې، پهايت نمبر۲۲، ۲۳، ۲۴، ۲۵، ﴿سَيَقُولُونَ﴾نه تر﴿وَٱزۡدَادُوا تِسۡعًا ﴾پوري كښ زجربيانيږي په اختلاف كولوسره په تعيين دَعددكښ اوځه اداب اوبعث دَاصحاب كهف په غاركښ ذكركيږي، اودغه شانتي په ايت نمبر۲۲ تاآيت نمبر ۳۰، پوري ﴿قُلِ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ ﴾نه تر﴿مَنۡ أَحۡسَنَ عَمَلًا ﴾ پوري څلورشپږ تفريعات ذكركيږي پدي واقعه باندې، بيادَايت نمبر۳۲،﴿وَٱضۡرِبۡ لَهُم مَّثَلًا﴾نه ترايت نمبر۴۴،﴿وَخَيۡرٌ عُقۡبًا ﴾ پوري اول امرذكركيږي لپاره دَاصلاح دَمنكرينوچې په كومي دنياباندې تاسې مغرورئې اودَالله ﷻ احكاماتونه مومخ گرځوليدې هغه فاني ده دابه ستاسونه واغستې شي اودنياكښ به دَدي دَوجه نه په عذاب كښ مبتلاشي په ايت نمبر۴۵، ۴۶، ﴿وَٱضۡرِبۡ لَهُم مَّثَلَ ﴾نه تر﴿وَخَيۡرٌ أَمَلًا ﴾پوري دويم امرلپاره دَاصلاح دَمنكرينوذكركيږي، چې دادنياانتهائې حقيره ده قابل ترجيح اخرت دې دهغې تيارې اوكړئ پهايت نمبر ۴۷، ۴۸، ۴۹، ﴿وَيَوۡمَ نُسَيِّرُ ٱلۡجِبَالَ ﴾نه تر﴿ وَلَا يَظۡلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا﴾پوري دريم امرلپاره دَاصلاح دَمنكرينوذكركيږي كچرته دغې حقيردنياته تاسوترجيح وركړه نوپه آخرت كښ به داستاسولپاره باعث عذاب گرځي، اوبياحصه ثانى شروع كيږي په حصه ثانى كښ دَيوې شبهې جواب يوتخويف اخروي يوتخويف دنيوې اوڅلوررزجرونه ذكركيږي

شبه: شبه داكيده چې كفاروبه په څني حالاتوكښ دَجناتونه استعانت غوختلونو الله ﷻ به دَخپل تكوينې قانون مطابق هغه كارپوره كولو، اودوئ به دافهم كوله چې داكاردې جناتواوكړلونودهغوئ عبادت اودهغوئ په نوم باندې به ئې نذرونيازكولو،نوپهايت نمبر ۵۰، ۵۱، ﴿وَإِذۡ قُلۡنَا ﴾نه تر ﴿عَضُدًا﴾پوري ددي شبهي جواب ذكركيږي چې داشياطين ستاسوزاړه دشمنان دى ،دوئ به په مختلفوطريقوسره ستاسوعقيده خرابه وي، دوئ ستاسودوستان اومددگاران نشي جوړيدې، اوپه ايت نمبر۵۲، ۵۳، ﴿وَيَوۡمَ يَقُولُ﴾نه تر﴿مَصۡرِفًا﴾ پوري تخويف اخروي ذكركيږي مشركينوته اوايتنمبر۵۳ تا ۵۸، ﴿وَرَءَا ٱلۡمُجۡرِمُونَ ٱلنَّارَ ﴾نه تر﴿مَوۡبِلًا﴾پوري

څلورزجرونه ذکرکیږي،اوپه ايت (نمبر۵۹) ﴿وَتِلْكَ ٱلْقُرَىٰٓ﴾کښې تخويف دنيوي ذکرکیږي

وبیادسورت دریمه حصه شروع کیږي

په حصه ثالثه کښې دیوي شبهي جواب دی، شبه داسي کیدله چې حضرت خضر﷣ غيب

دان وو ځکه چې هغه څه امورغيبيه حضرت موسى﷣ ته بيان کړي وو .نولهذا عالم الغيب صرف

ذات دالله ﷻ ندې نوددي شبهي جواب لپاره دايت(نمبر ۲۰ نه تر ۸۲) ﴿وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ﴾نه

تر﴿مَعِىَ صَبْرًا﴾ پوري دحضرت موسى﷣ اودحضرت خضر﷣ واقعه بيانيږي اوبیادسورت

څلورمه حصه شروع کیږي. **په حصه رابعه** کښې دیوي شبهي جواب اوتخويف اخروي ذکرکیږي

شبه: داسي کیدله چې الله ﷻ ذوالقرنين ته لوئې طاقت اوقدرت ورکړی وو اوهغه

کارسازاومتصرف وولکه سفردمغاربواومشارقو،بندل دیاجوج ماجوج شول، نوددي شبهي

جواب لپاره(ايت نمبر۸۳ تا ۹۸) ﴿وَيَسْـَٔلُونَكَ﴾نه تر﴿وَكَانَ وَعْدُ رَبِّى حَقًّا﴾پوري واقعه

دذوالقرنين بيانيږي چې ذوالقرنين ته بقدرضرورت ظاهري اسباب ورکړې شوې وو اومافوق

الاسباب يوڅيزباندې هم قادرنوو اوپه ماتحت الاسباب اموروکښې هم محتاجه وواوپه ايت

نمبر۹۹، ۱۰۰، ۱۰۱) ﴿وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ﴾نه تر ﴿لَا يَسْتَطِيعُونَ سَمْعًا﴾پوري تخويف اخروي

بیانيږي اوبیاخاتمه دسورت شروع کیږي.

خاتمه مشتمله ده په تفريعاتو اوپه زجراوتخويف بشارت اوپه خلاصي دسورت باندې(ايت

نمبر۱۰۲، تا۱۰۸) ﴿أَفَحَسِبَ ٱلَّذِينَ﴾نه تر﴿لَا يَبْغُونَ عَنْهَا حِوَلًا﴾ پوري اوله تفريع ده داد اولې

شبهي په جواب باندې بالذات اوددويمي شبهي په جواب باندې بالتبع متفرع ده چې دالله ﷻ

نیک بندګان کارساز اومتصرف ندي لکه اصحاب کهف شو نوجنات به څرنګه کارسازاومتصرف

شي اوپه (ايت نمبر۱۰۹، ۱۱۰) ﴿قُل لَّوْ كَانَ﴾کښې دويمه تفريع ده اوداتفريع ددريمي شبهي په

جواب باندې بالذات اودڅلورمي په جواب باندې بالتبع متفرع ده چې غيب دان صرف الله ﷻ

دی بل هيڅ څوک ندې نولهذا متصرف هم فقط هغه دی اوبل څوک نيشته دی، اوبیادسورت په

حرني جملي ﴿فَمَن كَانَ يَرْجُوا۟﴾کښې دټول سورت خلاصه اولب لباب ذکرکیږي چې کوم کس په

اخرت کښې دَالله ﷻ دملاقات اودهغه درحمت امیدواروي نوهغه دې نیک عمل کوي او توحید دِ اومني ،اصحاب کهف،حضرت خضر ﷺ ،جنات، ذوالقرنین دکارساز. متصرف نه کنړي اوشرك جلي اوخفي دخپل ځان بچ ساتي.

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡۤ اَنۡزَلَ عَلٰی عَبۡدِهِ الۡكِتٰبَ وَلَمۡ يَجۡعَلۡ
[1]ټول صفات دخدای [2]خاص الله ﷻ لره دي هغه ذات چې نازل کړیدې په خپل خاص بنده باندې کتاب قرآن چې ندی ګرځولې
لَّهٗ عِوَجًا ؕ ﴿۱﴾ قَيِّمًا لِّيُنۡذِرَ بَاۡسًا شَدِيۡدًا مِّنۡ لَّدُنۡهُ
پدې کتاب کښې هیڅ قسم کوږوالی،[3]سیدها برابردې لپاره ددې چې اویره وي خلك دعذاب سخت نه دالله ﷻ دطرف نه
وَيُبَشِّرَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ الَّذِيۡنَ يَعۡمَلُوۡنَ الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمۡ اَجۡرًا حَسَنًا ۙ﴿۲﴾
او لپاره ددې چې زیری ورکړي مؤمنانو ته هغه مؤمنان چې عملونه کوي نیك چې بیشکه لپاره ددوی بدله ښائسته ده
مّٰكِثِيۡنَ فِيۡهِ اَبَدًا ۙ﴿۳﴾ وَّيُنۡذِرَ الَّذِيۡنَ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا ﴿۴﴾
دیره به وي په هغې کښې همیشه.[4] او اویره وي هغه کسان چې وائې هغوی نیولې دې الله ﷻ (ځان لپاره) ولد بچی
مَا لَهُمۡ بِهٖ مِنۡ عِلۡمٍ وَّلَا لِاٰبَآئِهِمۡ ؕ كَبُرَتۡ كَلِمَةً تَخۡرُجُ
نیشته لپاره ددوی پدې باندې هیڅ علم اونه پلارانو ددوی لپاره .دیره لویۍ ده داخبره(په قباحت کښې) چې راوځي
مِنۡ اَفۡوَاهِهِمۡ ؕ اِنۡ يَّقُوۡلُوۡنَ اِلَّا كَذِبًا ﴿۵﴾
دخلو ددوی نه. نه وائي دوی مګر صرف دروغ (وائي).

(1) تمهید برای ازاله شبهات ودعوی توحید

(2) موصول باصله علت ودلیل

(3) علت نزول قرآن

[4] تخویف واشاره به شبهات اربعه

﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ دَدي ځائ نه دَقرآن دريمه حصه شروع كيږي چې دَسورة سباء تراخره پوري ده نوځكه دَدي سورت ابتداء په ﴿اَلْحَمْدُ﴾ سره اوشوه اوپدي حصه كښ زياده ترمضمون دحاكميت بيانيږي چې دَټول جهان مالك متصرف اومختارصرف دَالله ﷻ ذات دې. اوڅوك ورسره هم پدي كښ شريك نيشته دې. او ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ تمهيد دې اودعوه دَتوحيدده چې ټول صفتونه دَالوهيت چې علم غيب اوقدرت كامله دي دا خاص دي په الله ﷻ پوري ﴿اَلَّذِىٓ أَنزَلَ﴾ موصول سره دَصله نه دليل دې چې الله ﷻ مستحق دَټولو محامدو ځكه دې چې په پخپل بنده (محمد ﷺ) باندې ئې كتاب نازل كړيدې چې هغه مشتمل دې په اصلاح دَمعاش اومعاد باندې. اوپدي تعليل باندې اشعارلپاره موصول ذكرشوپه ځائ دَوصف، ﴿عَلَىٰ عَبْدِهِ﴾ هركله چې نزول دَقرآن يوه عظيمه معجزه وه چې ټول مخلوقات دهغې دَمثل پيش كولونه عاجزه وو نوددي وجه نه دَحضور ﷺ لپاره پدي مقام كښ وصف دَعبديت غوره كړې شولپاره دَدفع توهم دَالوهيت، اواضافت دَ(عبد) هاء ضميرته لپاره دَتعظيم دَحضور ﷺ اولپاره دَتعظيم دَقرآن دي ﴿وَلَمْ يَجْعَل لَّهُۥ﴾ واو حاليه دي ولام، په معنې د (فى) سره دي اى لم يجعل فيه عوجا او دَادعوي توحيدداَول جزلپاره دليل دې يعنى الله ﷻ عالم الغيب دې اوعلم غيب صرف صفت دَالله ﷻ دي ځكه چې داسې قرآن ئې په خپل بنده نازل كړيدې چې په هغې كښ هيڅ كوږوالى نيشته دې دَفصاحت اوبلاغت په اعلى ترين معياركښ دي بيان ئ بالكل واضح دې اودَمضامينوپه اعتبارسره كامل اوجامع دي نوداسې كتاب نازلول صرف دهغه ذات نه ممكن دې چې علم دَهغه محيط الكل اوهغه عالم غيب وي، ودَدويمې حصې (قدرت كامله) لپاره دليل ﴿لِّيُنذِرَ بَأْسًا﴾ سره ذكركيږي، او ﴿عِوَجَا﴾ كوږوالى ته وئيلې كيږي ددي استعمال دوه قسمه كيږي (١) بكسرالعين او (٢) بفتح العين اكثرواهل لغت قول دادې چې بكسرالعين هغه نقصان كوږوالى ته وئيلې كيږي چې معنوي وي اومدرك بالبصرنوي وبفتح العين هغه نقصان ته وئيلې كيږي چې حسې وي اومدرك بالبصروي اوتنوين په ﴿عِوَجَا﴾ كښ لپاره دَتنكيردې يعنى هيڅ قسم نقصان پكښ نيشته دې نه لفظي اونه معنوي يعنى فصاحت اوبلاغت خلاف ندې، په معانيو كښ څه تعارض اواختلاف نيشته دې او الله ﷻ طرف ته دعوت وركولو كښ دَمقصدنه انحراف نيشته دې، اونه په ايت كښ دَمصلحت نه خروج شته

دي،اوبعض مفسرينودَعوج ترجمه په مخلوق سره کړيده نود ﴿وَلَمْ يَجْعَل لَّهُۥ عِوَجَا﴾ معنی دچې داقرآن مخلوق ندي ځکه چې دابن عباس رضي الله عنه نه دغیرذی عوج،الزمر ۲۸ تفسیرپه غیرمخلوق سره منقول دي(خازن) ﴿قَيِّمًا﴾ داپامنصوب دي ددي وجه نه چې فعل ورله مقدردي چې جعل دي او جعله قیما اوپاحال دي دَ ﴿ٱلْكِتَٰبَ﴾نه اوپادَضمیردَله نه اوپابدل واقع شویدي دَ ﴿وَلَمْ يَجْعَل لَّهُۥ عِوَجَا﴾ جملي نه اوقانون په بدل کښې دادې چې دې مقصود بالحکم وي اومبدل منه په حکم دَتنحي اوترك کښې وي، نومعني به ئي داسي شي چي الحمدلله الذ انزل على عبده الكتب وجعله قيما(كبير) بعض علماء فرمائي چې په ايت کښې تقديم تاخيردي اصل عبارت داسې دې انزل على عبده الكتب قيما ولم يجعل له عوجا، ليکن غوره توجيه اوله ده او ﴿قَيِّمًا﴾ معنې ده چې متصف دې په استقامت سره مضبوط مضمون والادې داسې کامل اوجامع دې چې موحدپه توحيدباندي کلکوي اودَمشرك شبهات دفع کوي، دَعدم اعوجاج اودَقيم مفهوم تقريبا يودي خوبياهم دَ ﴿وَلَمْ يَجْعَل لَّهُۥ عِوَجَا﴾ نه ورستو ﴿قَيِّمًا﴾ذکرشووجه داده چې کله کله يوڅيزقيم اواستقامت والا وي خومعمولي غوندې اعوجاج پکښې وي چې عام طورنه محسوس کيږي، نودَدي وجه په دواړواوصافوباندې تصريح اوکړې شوه امام رازي رحمه الله اوځني نورمفسرين فرمائي چې داصفت لپاره دَتاکيدندې بلکه لپاره دَتاسيس دې اودَدواړو په مفهومونوکښې فرق دې. ﴿وَلَمْ يَجْعَل لَّهُۥ عِوَجَا﴾ مقصددادې چې داقرآن په خپله يعنی دذات په اعتبار سره کامل دې اودَ ﴿قَيِّمًا﴾ مقصد دادې چې دې مکمل دې دَغيرلپاره يعنی داقرآن سبب دَهدايت دې دَمخلوقاتولپاره اوقرآن دَمخلوقاتولپاره داسې دې لکه څرنګه چې يوقيم(منتظم،مربی) وي دَماشومانولپاره،نوارواح بشريه په شانتې دَاطفالو(ماشومانو)دې اوقرآن په منزله دَيوشفيق،مهربانه مربي دې چې دَدوئ مصالحوباندې خيال کوونکې وي دَدشمن نه بچ کوونکې وي دَهرقسم مضراتوکه حالی يااستقبالی دَهغې نه ئې بچ کوي اودَدي وجه نه اولاً ﴿وَلَمْ يَجْعَل لَّهُۥ عِوَجَا﴾ ذکرشو اوورپسې ﴿قَيِّمًا﴾ ذکرشو اوداتوجيه زياته اليقه ده.

﴿لِّيُنذِرَ ﴾داتخويف ذكركيږي اولام تعليليه دې اودامتعلق دې په انزال پورې نوداحكمت اوعلت دقرآن بيانيږي، دقرآن مجيددنزول دوه (۲)حكمتونه اومقصدونه بيان شويدي. چې يوه انذاراوبل تبشيردې، انذاردوه مفعولينوته متعدي كيږي چې يو(منذر)وي اوبل (منذرمنه) وي پشانته دتبشير،لكه اناانذرنكم عذابا قريبا نوپدي ايت كښې منذرمنه مذكوردې اومنذرمحذوف دې ځكه چې په هغې دلالت كوي ورستنې ايت﴿وَيُنذِرَ ٱلَّذِينَ قَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدًا ﴾اوپه هغې كښې (منذرمنه) محذوف دې ځكه چې په هغې باندې دلالت كوي داايت اوهركله چې مقصود پدې سورت كښې دمنكرينودشبهاتوازاله ده نودَدې وجه نه تخويف مكرر ذكرشو.اوبشارت مكرر ذكرنشو اودعدم تكراردبشارت نه په جملې دبشارت كښې مبشراومبشربه دواړه ذكرشو﴿بَأْسًا شَدِيدًا ﴾ پديكښې اشاره ده چې مقصود بالكلام (منذرمنه) دې اوتوصيف ئې په﴿شَدِيدًا ﴾سره اشاره ده سختئ دعذاب ته(اعاذناالله منها) ﴿وَيُبَشِّرَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾دابشارت ذكركيږي چې دويم مقصداوحكمت دقرآن دې﴿أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا حَسَنًا ﴾دامبشربه دې اومراد په اجرحسن سره جنت دې اوپه تقديم دجارمجروركښې اشاره ده اختصاص دمؤمنينوته په جنت سره﴿مَّٰكِثِينَ فِيهِ﴾منصوب دې بناء برحاليت چې داحال واقع شويدې دضميرمجروردَ﴿لَهُم ﴾نه اوهركله چې مكث تقاضادتابيدنه كوله نودَدې وجه وريسې ذكرشو﴿أَبَدًا ﴾يعنى دَدې مكث لپاره به څه انتهاء نه وي.﴿وَيُنذِرَ ٱلَّذِينَ ﴾داعطف دې په ﴿لِّيُنذِرَ ﴾باندې اوپدې كښې منذرلهم مذكوردې اومنذرمنه محذوف دې،عام مفسرين فرمائى چې پدې انذاراوماقبل انذاركښې فرق دې ماقبل انذارعام وشامل وو هركافرته اودا انذارخاص دې هغه چاته چې داتخاذ ولدعقيده لري اوتخصيص ئې لپاره دشدت شناعت اوقباحت دكفرظاهره وي اوحضرت الشيخ فرمائى چې پدې اوپه ماقبل كښې فرق نيشته بلكه دبعدعهددوجې نه دانذاراعاده اوكړې شوه اوتنبيه مقصود ده په منذرلهم باندې،يعني هغه كوم منكرين دې چې دهغوئ انذارپدې ځائ كښې مقصوددې اودهغوئ دشبهاتوازاله مقصودده؟ پدې باندې تنبيه ده نوداهغه څوك دې چې هغوئ عقيده داتخاذ ولدلري اوپه لفظ داتخاذكښې اشاره ده چې مشركين اللهﷻ لره اولاد حقيقة نه ثابتولو بلكه

مرادپه اولادسره متبني وو،چې الله جل جلاله خپل ځنې مخصوص بندګان انبیاء کرام،فرښتې اواولیاء خپل متبنې یعنی نائبین جوړکړیدي اوهغوئ ته الله جل جلاله بعض مافوق الاسباب امورکښې تصرف اواختیارورکړیدې لکه څرنګه چې والدحقیقې خپل ولدحقیقې ته څه امورحواله کوي نوددې وجه نه دوئ بیادانبیاء کرام،ملائکو اواولیاء عبادت ضروري کنړي او﴿وَيُنذِرَ﴾فعل دې او ﴿ٱلَّذِينَ﴾مفعول د﴿وَيُنذِرَ﴾لپاره دې اوپه صیغې دماضي اوموصول کښې اشاره ده په تحقق دکفردهغوئ اورسوخ دشرك ته په زړونودهغوئ کښې﴿مَّا لَهُم بِهِۦ مِنْ عِلْمٍ﴾پدې کښې دهغوئ دقول ردّ دې اوضمیرمجروره راجع دې دهغوئ قول(اتخاذولد) ته چې ددوئ داقول سراسرجهالت باندې مبني دې اوپدې باندې دوئ سره هیڅ قسم دلیل نیشته دې،صرف دآباؤتقلیدکوي او(من) په ﴿مِنْ عِلْمٍ﴾کښې لپاره دتاکیددنفي دې اوکه څوك اشکال اوکړي چې اتخاذ الله جل جلاله ولدلره محال فی نفسه دې نوڅرنګې به صحیح شي نفي دعلم ددوئ نه په اتخاذولد باندې چې دوئ سره په اتخاذ دولدباندې علم نیشته دې نوجواب دادې چې نفی دعلم دیوشئ نه ددوه وجوه نه وي(۱)کله هغه څیزفی نفسه موجودوي خوتعلق دعلم ورسره نوي راغلی اوانسان جاهله وي هغې ته په رسیدلوباندې(۲)اوکله کله هغه څیزبالکل موجود نوي معدوم محض وي اوتعلق دعلم ورسره نوي ممکن نوبیاهم نفي دعلم ورنه راځي اودې وجه منطقیان وائي چې سالبه په وخت دعدم دموضوع کښې هم صادقه وي،نودلته چې نفي دعلم راغلیده نودقسم ثاني دقبیلې نه دې، چې اتخاذدولدمعدوم محض دې محال فی نفسه دې نوځکه ورنه نفي دتعلق دعلم هم راغله،(ونظیره قوله تعالی ومن یدع مع الله الها آخرلابرهان له(المؤمنین:۱۱۷))﴿كَبُرَتْ كَلِمَةً﴾ (كبرت) فعل دې ضمیردمؤنث چې راجع دې﴿ٱتَّخَذَ ٱللَّهُ وَلَدًا﴾ته په تاویل د(مقالة) سره فاعل دې اوکلمة منصوب دې تمیزواقع شویدې دهغې فاعل نه لیکن قول دجمهورراجع دې چې کلمة منصوب دې اوتمیزدې اوپدې کښې معنې دتعجب ده﴿تَخْرُجُ مِنْ أَفْوَٰهِهِمْ﴾ داپه محل دنصب کښې صفت دماقبل یعنی﴿كَلِمَةً﴾لپاره دې اوپدیکښې مزیدتقبیح اوشناعت اوددوئ والادالوئ جرامت په ددې دروغوباندې ذکرکیږي، اوپدیکښې اشاره ده چې وسوسه اوحدیث النفس دکفریه

خبروقابل مواخذه ندي، چې ترخوپوري تکلم اوعزم پري نوي راغلي﴿إن يقولون إلا كذبا﴾ ان، نافيه دي اودا په منزله دَدليل دي دَماقبل لپاره چې دَدوئ داقول قبيح دي ځکه چې داکذب محض دي اودَصدق شائبه پکښې هم نيشته ځکه چې نسبت دَولدالله ﷻ ته ممتنع دي عقلا (کمامرمرارا) اوثبوت دَممتنع عقلي کول کذب محض وي اوددي وجه نه الله ﷻ فرمائی په سورة مريم کښې وقالوا اتخذالرحمن ولدا لقدجئتم شيئاادًا،تكادالسموات يتفطرن منه وتنشق الارض وتخر الجبال هدا(مريم: ۸۸، ۹).

فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ عَلَىٰٓ اٰثَارِهِمْ اِنْ لَّمْ يُؤْمِنُوْا بِهٰذَا الْحَدِيْثِ
پس آيا ته هلاکت کښې اچوونکې ئې خان خپل لره په دوئ پسي کچرې دوئ ايمان نه راوړي پدي خبره قرآن باندي
اَسَفًا ﴿٦﴾ اِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْاَرْضِ زِيْنَةً لَّهَا
نه وجې دغم نه بيشکه گرځولي دي مونږه هغه څه چې په زمکه باندې دي خايست لپاره ددې زمکې،
لِنَبْلُوَهُمْ اَيُّهُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ﴿٧﴾ وَاِنَّا لَجٰعِلُوْنَ
لپاره ددي چې ازمائش اوکړو مونږه ددوئ چې کوم يودَدوئ نه ښائسته عمل والادي، اوبيشکه خامخا گرځوونکې يومونږه
مَا عَلَيْهَا صَعِيْدًا جُرُزًا ﴿٨﴾
هغه خيزلره چې پدي زمکه باندي دي ميدان هموار(صفا، بې گياه)

﴿فلعلك بٰخعٌ﴾فاء استنافيه ده پدي کښې تسلي ذکرکيږي حضورﷺ ته هرکله چې حضورﷺ دَمشرکينو دَايمان راوړلو نه مايوسه شونوسخت تکليف ورته اورسيدلواوپريشانه شونوداايت نازل شو ،(لعل) دَاکثرو مفسرينو په نيزلپاره دَترجي وي په محبوب څيزکښې اولپاره دَاشفاق وي په محذورکښې،نودلته لپاره دَاشفاق دي اوبعض مفسرين فرمائی چې لعل پدي ځائ کښې لپاره دَنهي دي تشفيقا اى لاتبخع نفسك(بحر) اوبعض فرمائی چې لپاره دَاستفهام انكاري دي، اوعلامه زمخشري رحمه الله فرمائی چې داکلام محمول دي په تشبيه باندي چې حضورﷺ ته به دَقريش مکه دَايمان نه راوړو دَوجې نه به ډيرسخت تکليف اوډيرفکرکښې مبتلاوو ،دَحضورﷺ داحالت مشابه کړي شودهغه حالت سره چې هغه دَخپل دَيومحبوب په فراق کښې مبتلاوي اوصبر اونکړي شي

اوخپل ځان هلاکت ته اورسوي او ﴿بَٰخِعٞ﴾ صيغه دَاسم فاعل ده ونيلې کيږي هغه ځاته چې ځان
اوفکردَوجي نه خپل ځان هلاك كوونكي وي اودا په اضافت اوپه ترك اضافت دواړو سره
راغليدي. ﴿عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِمۡ﴾ دااستعاره فصيحيه ده (اثار) وئيلې کيږي نقش قدم ته چې يو سړي
لاړشي اونشان ئې پاتې شي اودلته تنه مراد دادې چې دَدوئ دَايمان راوړلونه مايوسي نه ورستو
اويادَدوئ موت على الكفرنه ورستو ﴿إِن لَّمۡ يُؤۡمِنُواْ﴾ (ان) شرطيه دې اوجمله ﴿لَّمۡ يُؤۡمِنُواْ﴾ دې ورله
شرط دې اوجواب ئې محذوف دې چې په هغې باندې باخع نفسك دلالت کړيدې اوبعض فرمائي
چې جواب شرط ﴿فَلَعَلَّكَ بَٰخِعٞ﴾ دې اوهغه مقدم اوحرف شرط سره دَفعل شرط نه مؤخردې
اومراد په ﴿بِهَٰذَا ٱلۡحَدِيثِ﴾ سره قرآن دې اوقرآن ته حديث په اعتباردَالفاظودَقاري سره وئيلې
شويدې او ﴿أَسَفًا﴾ مفعول له دې لپاره دَ ﴿بَٰخِعٞ﴾ او (اسف) وئيلې کيږي شدت غم ته. يعنى دَدوئ
دَايمان نه راوړلودَ وجې ته شدت غم نه خپل ځان مه هلاك كوه ﴿إِنَّا جَعَلۡنَا مَا عَلَى ٱلۡأَرۡضِ﴾ په دې
ايتونوکښې تزهيدفى الدنيااودَمشرکينوايمان نه راوړلو علت اووجه بيانيږي، چې دوئ ايمان
دَدې وجه نه، نه راوړي چې دوئ سره مال اودولت دې باغات اومحلات دې حالانکه دا څيزونه
دَفخرقابل ندي،دَدنيا داټول څيزونه ديوڅوورځوزينت دې اودَانسان لپاره ابتلاء اوازمائش دې
نوپدې مه دهوکه کيږي اودَغوره قول مطابق مراد دَ ﴿مَا عَلَى ٱلۡأَرۡضِ﴾ نه مرادعام دې که
حيوانات وي،معدنيات اوكه نباتات وي اوبعض مفسرينو ئې تخصيص په نارينوپوري کړيدې
بعضوئې په علماء پوري اوبعضوپه نيکوبندګانوپوري کړيدې ﴿زِينَةٗ لَّهَا﴾ دامنصوب دې بناء پدې
چې دامفعول ثانى دې دَ ﴿جَعَلۡنَا﴾ لپاره اويامفعول له دې دهغې لپاره اوپدېکښې اشاره ده چې
اسباب اومال دولت ددې دنيااواولاد ،ازواج،عهدې داټول صرف دَدې دنيازينت دې اوداخرت
زينت ندي، اودغه شانتې اشاره ده سرعت فناء دَدې اسبابو ته څکه چې دافقط زينت دې اوزينت
عرض دې اوعوارض کلهاپه معرض دزوال كښې وي اودَدې وجه نه حضور ﷺ ارشاد اوفرمايه
چې (عن ابى سعيدعن النبى ﷺ قال ان الدنيا حلوة خضرة وان الله مستخلفكم فيها فناظر ماذا تعملون فاتقوا
الدنيا واتقوا النساء (متفق عليه) ترجمه:يقيناً چې دنياخوګه اورنګينه ده،اوالله ﷻ ورته تاسوليږي

چي او گوري چې تاسو څه عمل کوئ.نو دنيا او ښځونه ځان ساتئ.او دحلوة حضره مقصد دادي چې صرف په خولي کښې خوند پيدا کوي او سترگي ورته خوشحاله کيږي.دوام او څه حقيقت نه لري ﴿لِنَبْلُوَهُمْ﴾ دا علت دزينت دې چې دادنيامونږه صرف زينت گرځوليده لپاره ددي چې امتحان وازمائش ورسره واخلو اوامتحان كله لپاره دفائدي دممتحن وي چې هغه ته پته نه لري اودامتحان په ذريعي سره پته اولگوي چې څوك قابل اوڅوك نه نافابله وي اوكله امتحان ددي لپاره وي چې امتحان وركوونكي دخپل ځان دحقيقت نه واقفه شي څكه چې دهغه دخپل ځان په باره كښې گمان دلائق وي نو دامتحان په ذريعي سره ورته پته اولري چې څه څومره لائق يم. نو دلته اوله معني او مقصد په الله ﷻ كښې محال دې څكه چې هغه عالم الغيب دې بلكه دلته او دغه شانتي په نورو مواضعو كښې تنه مراد مقصدثانى دې اودي وجه مفسرينو ددي ايت ترجمه داسي كړيده نعاملهم معاملة المختبر(روح، رازي، شربيني) يعنى دوئ سره داسي معامله اوكړو لكه دامتحان اخستونكي يعنى دوئ ته دوئ حقيقت حال اوښايو ، اوبعضو جهلآء لكه هشام بن الحكم وغيره څواستدلال كړيدې پدي ايت سره چې الله ﷻ دحوادثوباندي قبل الوجود علم نه لري.ليكن دوئ قول مبني دې په جهل باندې، تفصيل ئې امام رازي په تفسيركبيركښې كړيدې اومراد په ﴿أَحْسَنُ عَمَلًا﴾سره دادې چې ددنيانه زهد اوبې رغبتي وي اواخرت ته رغبت وي. اويا تنه مراد هغه اعمال دې چې موافق دشرع اوسنت وي اوخالص دالله ﷻ درضالپاره وي﴿وَإِنَّا لَجَاعِلُونَ﴾يعنى دادنيا اوددي زينت، اوددي داشين والي به يوه ورځ ختم شي اوداټول څيزونه به فناء شي اودنيا به يو صفاميدان پاتي شي﴿صَعِيدًا﴾ وئيلي كيږي وجه الارض ته او﴿جُرُزًا﴾وئيلي كيږي هغې ته چې څه ونې بوټي ورباندې نوي، ، تردي ځائ پوري داتمهيدوو.

﴿أَمْ حَسِبْتَ أَنَّ أَصْحَابَ الْكَهْفِ وَالرَّقِيمِ كَانُوا مِنْ آيَاتِنَا عَجَبًا﴾ ⑨

[1] آيا گمان كوي ته چې بيشكه غاروالا اورقيم والا وو دنشانو(دقدرت)زمونږه نه عجيبه

---

[1] جواب شبهه اولى اجمالا بطرق سبعه.

اِذۡ	اَوَی	الۡفِتۡیَۃُ	اِلَی	الۡکَهۡفِ	فَقَالُوۡا	رَبَّنَاۤ	اٰتِنَا

(یاد کړه هغه وخت) چې کله مائله شو (لپاره پناه اغستلو) ځوانان غارته پس اوئیل دوئ اې ربه زمونږه راکړې مونږ ته

مِنۡ	لَّدُنۡکَ	رَحۡمَۃً	وَّهَیِّئۡ	لَنَا	مِنۡ	اَمۡرِنَا	رَشَدًا ۝	فَضَرَبۡنَا

خپل طرف نه رحمت (استقامت) او اسان کړې مونږ ته زمونږ ددې کار (هجرت) نه کامیابی. پس واچوله مونږه پرده دخوب

عَلٰۤی	اٰذَانِهِمۡ	فِی	الۡکَهۡفِ	سِنِیۡنَ	عَدَدًا ۝	ثُمَّ	بَعَثۡنٰهُمۡ لِنَعۡلَمَ

په غوږونو ددوئ باندې په غارکښ څوکالونه دشمار. بیارابیدارکړل مونږه دوئ لپاره ددې چې اوښایو مونږه

اَیُّ الۡحِزۡبَیۡنِ اَحۡصٰی لِمَا لَبِثُوۡۤا اَمَدًا ۝

چې کوم یوددواړو ډلوزیات صحیح شمارکونکې دې دهغوئ داوسیدومدت

﴿أَمۡ حَسِبۡتَ﴾ دادَسورت اوله حصه شروع کیږي په ابتداء کښ دَشبهي اجمالي جواب دې اوبیاتفصیلي جواب ذکرکیږي، او﴿أَمۡ﴾ یاپه معنې دَاستفهام انکاري سره دې چې کفارو دَاصحاب کهف واقعه دَحضورﷺ دَصداقت معیارګرځولي وه چې داډیره عجیبه واقعه ده کچري حضورﷺ ته دَدې په باره کښ علم وي نودي به صحیح پیغمبروي نوالله ﷻ دَدې په باره کښ اوفرمائیل چې﴿أَمۡ حَسِبۡتَ﴾یعنی داګمان مه کوئ چې دَالله ﷻ دَقدرت دَنشانیونه اصحاب کهف واقعه لویه نشاني ده،بلکه ددې نه هم لوئ لوئ نشانات شته دې لکه نمر، سپوږمئ اودستورو عجیب اوغریب نظام، دَاسمان اودزمکي تخلیق یاواقعه دَمعراج وغیره شو اویادَاستفهام تقریري په معنې سره دې او﴿حَسِبۡتَ﴾په معنې دَ(علمت) سره دې نومطلب ئې دادې آیاتاته پته ده چې بیشکه اصحاب کهف اورقیم زمونږدَعجیبه نشاناتونه دې یعنی داپته لګول پکار ده چې دادالله ﷻ دَقدرت عجیب نشاناتونه دي، لیکن غوره خبره داده چې ام پدې مقام کښ ام منقطعه دې په معنې دَ(بل) سره اودا دابطال دکلام لپاره ندې بلکه لپاره دَاضراب، اوانتقال دکلام دې اوپدې سره دکفاردهغه شبهي جواب مقصود دې چې هغوئ به وئیل چې اصحاب کهف هم کارسازاوعالم الغیب وو،ځکه چې په سوو نوکاله اوده وو اوبیاپکښ هم څه

قسم تغیرنووراغلي نمرورته څه قسم تکلیف نوو ورکړي دَدینه معلومه شوه چې هغوئ ته مافوق الاسباب قدرت تصرف حاصل وو ، الله ﷻ دَدوئ داخبره اوشبه په اوه(۷)طریقوسره رد کړه(۱)﴿مِنْ ءَايَٰتِنَا ﴾یعنی داواقعه دالله ﷻ دقدرت یوه نشاني ده(۲) ﴿عَجَبًا ﴾یعني مخلوق لپاره عجیبه ده اوددي علاوه نوري هم عجیبه واقعات شته دي(۳)﴿إِذْ أَوَى ٱلْفِتْيَةُ ﴾په غارکښ پناه اغستل دَدوئ په عجز باندې واضح دلیل دې(۴)﴿فَقَالُوا۟ رَبَّنَآ ءَاتِنَا ﴾په غارکښ پناه اغستلونه ورستودوئ دَالله ﷻ نه په ډیري عاجزئ سره په توحیدباندې ثابت قدم پاتي کیدلو. درزق، اودَدشمنانونه دَحفاظت لپاره دعااوغوختله اودَصحیح رهنمائي دعائې اوغوختله چې﴿وَهَيِّئْ لَنَا مِنْ أَمْرِنَا رَشَدًا ﴾ (۵)﴿فَضَرَبْنَا عَلَىٰٓ ءَاذَانِهِمْ ﴾یعنی دهغوئ اراده صرف دمه کول وو په غارکښ اومونږ درباندې خوب مسلط کړو اوپه سوونوکاله اوده پاتي شولو(۶)﴿ثُمَّ بَعَثْنَٰهُمْ ﴾یعنی بیاپه راویخیدوکښ هم مونږته محتاجه وو ، دَدینه هم دهغوئ متصرف کیدلواوکارسازجوړیدلو نفی کیږي(۷)﴿لِنَعْلَمَ أَىُّ ٱلْحِزْبَيْنِ ﴾یعنی هغوئ دَخپلي مدي(مدت) دَخوب نه هم بې خبره وو چاپکښ اوئیل چې﴿لَبِثْنَا يَوْمًا ﴾ اوځنوپکښ اوئیل چې﴿بَعْضَ يَوْمٍ ﴾اوځنوپکښ علم دَدهغي مدت الله ﷻ ته حواله کړو چې﴿رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا لَبِثْتُمْ ﴾نودوې ټولونه معلومه شوه چې هغوئ ته مافوق الاسباب هیڅ قسم قدرت دَتصرف حاصل نوو اونه هغوئ کارسازوو.

اودغه شانتي پدې آیت کښ تسلي هم حضور ﷺ ته ذکرکیږي چې دامعاندین کفارچې ستادشمني کوي اوایمان نه راوړي نو الله ﷻ به دوئ هلاك کړي لکه څرنګه چې دقیانوس ئې په زندګئ دَاصحاب کهف کښ هلاك کړې وو.

﴿أَنَّ أَصْحَٰبَ ٱلْكَهْفِ ﴾ (کهف) وئیلې کیږي لوئ غارته چې وسیع اوفراخ وي اوچې وړوکې وي نوبیاورته غارویلي کیږي ﴿وَٱلرَّقِيمِ﴾په تعیین د(رقیم)کې اختلاف دې اواقوال پکښ تقریبالسو(۱۰)ته رسیدلیدی دَامام بخاري رحمه الله دَصنیع نه داسي معلومیږي چې دهغه په نیزدادواړه جداجدادي، امام بخاري رحمه الله په اصحاب الرقیم ترجمي تحت دَبني اسرائیلودهغه

دري كسانومشهوره واقعه ذكركړيده چې په لاره روان وو سفرئې كولوچې باران پرې راغې نودوئ په يوغاركښ پناه واغسته اودغارپه خله كښ يولوئ ګټ رااوغورزيدلواودوئ لاره ئې بنده كړه،نودوئ كښ هريوكس خپل نيك عمل اللهﷻ ته پيش كړواودهغې په وسيله ئې دعااوكړه نوهغه غارخله ورته اللهﷻ خُلاصه كړه اودوئ را اوتلو په هغې كښ يوكس مستاجروبل عفيف اوبل بارالوالدين وو(بخاري)ليكن شراح دبخاري ليكي چې دادبعضوخلكوتوهم دې چې هغوئ دامام بخاري رحمه الله ددې صنيع نه ددواړو والامحمل جداجدافهم كړيدې اودافهم څكه صحيح ندې چې دامام بخاري رحمه الله نظرډيردقيق دې په انعقاد دتراجموكښ، كله كله دېومعمولي مناسبت دوجې نه هم په يوباب كښ حديث ذكركوي.نوممكنه ده چې دامام بخاري رحمه الله په نيزاصحاب الكهف اواصحاب الرقيم دواړه يووي خوجداحديث په اصحاب الرقيم باندې ذكركول ددې وجه نه وي چې په غاركښ دري كسانو والا واقعي اشتراك راغليدې داصحاب الرقيم داصحابوكهف واقعي سره په ژوندي پاتي كيدلوكښ په غارونوكښ،نوددې اشتراك دوجې نه امام بخاري رحمه الله په دواړوباندې عليحده عليحده ابواب قائم كړيدې،اوداتوهم څني خلكوته ددې وجه نه راغليدې چې واقعه دغارنقل كولويوراوي حضرت نعمان بن بشير رضي الله عنه نه دااضافه مروي ده چې(انه سمع النبيﷺ يذكرالرقيم فقال انطلق ثلاثة فكانوا فی کهف فوقع الجبل علی باب الکهف الخ)(فتح الباري) يعني نبي عليه السلام درقيم،تذكره كوله نواوفرمائيل چې درې كسان روان وو اويوغارته داخل شونودغارپه خولې يوګټ راوغورځيدو(۱)ليكن په يوروايت كښ تصريح نيشته پدې باندې چې حضورﷺ داصحاب الرقيم مصداق دغه دري كسانو والاواقعه متعينه كړيده بلكه روايت مصرح دې پدې چې حضورﷺ داصحاب الرقيم واقعه بيانه وله نودغه درې كسانوواقعه ئې هم ذكركړه(۲)اوداهم ممكنه ده چې اصحاب كهف اواصحاب الرقيم دې يووي خوچې په كوم غاركښ اصحاب كهف پناه اغستې وه هم په هغه غاركښ ددغه دري كسانوهم پناه اغستوي، نوديته اشاره كولوپاره حضورﷺ داصحاب الرقيم په واقعه كښ بيان ددغه دري كسانوداواقعي هم كړې وي. نوغوره خبره داده چې د﴿وَٱلرَّقِيمِ ﴾عطف په﴿أَصۡحَٰبَ ٱلۡكَهۡفِ﴾باندې عطف تفسيري دې. اواصحاب الكهف اواصحاب الرقيم دېوجماعت دوه نومونه دي،لكه چې دامسلك دجمهورودې اوداظاهردې داسلوب دقرآن نه هم. چې د﴿وَٱلرَّقِيمِ﴾ ذكرصرف پدې ځائ كښ په طريقه دعطف

تفسيري سره اوشولو اوپه ټول سورت کښې بيا چرته هم ذکرنشولکه څرنګې چې اصحاب الکهف لفظ شپږځلې ذکرشويدې،کچرې دواړه يونوې نوپکارده چې دَ﴿وَٱلرَّقِيمِ﴾ ذکرخوچرته شوې وې صراحتا ياااشارة، اودغه شانتې ورستوايت ﴿نَّحۡنُ نَقُصُّ عَلَيۡكَ نَبَأَهُم﴾چې دانفصيل ددې اجمال دې نوکچرته اصحاب الرقيم چې په اجمال کښې ذکردې غيروې دَاصحاب کهف نه نوپکارده چې تفصيل کښې دهغوئ واقعه ذکرشوې وې لپاره دَموافقت دَاجمال اودَتفصيل

البته دَجمهوروااختلاف صرف په وجه تسميه کښې دې چې دوئ ته اصحاب الرقيم ولې وئيلې کيږې نوېدې کښې زيات مشهوردرې(۳)اقوال دې:

(۱)رقيم نه مرادهغه تختې اوکانړې دې چې په هغې باندې داصحاب کهف نومونه.سره دَدوئ دَانساب ليکلې شويدې داقول مختاردسعيدبن جبير،امام مجاهد اودَفراء دې(فتح.کبير) نوېدې صورت کښې ﴿وَٱلرَّقِيمِ﴾په معنې دَالمرقوم فيه سره دې(۲) رقيم نوم دهغه وادې دې چې په هغې کښې هغه غردې چې دکوم غريه غارکښې اصحاب کهف پناه اغستې وه، (طبرى ج۸).(۳)رقيم نوم دَاصحاب کهف دَقريې دې،داقول مختار دکعب الاحباردې،يزعم کعب انهاالقرية(طبرى ج۸) ددې نه علاوه نوراقوال پکښې هم راغليدى.

﴿كَانُواْ مِنۡ ءَايَٰتِنَا عَجَبًا﴾"عجبا"مفعول مطلق دې دَ﴿ءَايَٰتِنَا﴾لپاره په اعتباردَموصوف مقدره سره يعنى (آية عجبا) اوحمل ئې په آية باندې مبالغة دې اوياپکښې مضاف مقدردې يعنى (ذات عجب) ﴿إِذۡ أَوَى ٱلۡفِتۡيَةُ﴾پدې ايت کښې عجزدَ اصحاب کهف ذکرکيږې په هجرت کولوسره غارته.اودعادهغوئ ذکرکيږې اوعامل په "اذ"کښې فعل مقدر"اذکر"دې اومرادپه﴿أَوَى﴾سره ټهکانه نيول دې،او ﴿ٱلۡفِتۡيَةُ﴾جمع تکسير دَفتى ده اوجمع قلته ده اومراد تنه اصحاب کهف دى ... ظاهريه ځائ دَاسم ضميرراوړې شولپاره دَاظهاردَدې چې دَدين لپاره هجرت اوپه دين ... استقامت داټول په حالت دَجوانې کښې وو،بوډاګان نوو،

درجوانى توبه کردن شيوهٔ پيغمبريست- وقت پيرى گرگ ظالم ميشود پرهيزگار

﴿فَقَالُواْ رَبَّنَآ ءَاتِنَا ﴾دا دهغوئ دعاده وروستودتهکانی نیولونه چې بالله مونږته دخپل طرف نه رحمت راکړي اومراد په رحمت سره هدایت، صبر،رزق اودشمنانونه امن دي ﴿وَهَيِّئۡ لَنَا ﴾مراد پدي سره په امراومعامله دهجرت کښ صحیح رهنمائي اومنزل مقصود ته رسول دی. اوابن کثیر رحمه الله فرمائی چې دادعادحسن عاقبت ده چې زمونږ ددي هجرت عاقبت رشد اوهدایت اوگرځوي﴿فَضَرَبۡنَا عَلَىٰٓ ءَاذَانِهِمۡ ﴾ دابل عجزدأصحاب کهف ذکرکیږي. چې دوئ په خپل خوب کښ محتاجه وو الله ﷻ ته،داکنایه ده دَدروند اوپوره خوب نه. ځکه چې کمال اودروندخوب هله وي چې په غوږونوسره څه نه اوري، په خلاف دَسترگونه چې کله کله دخوب دَوجې نه کتل نه کوي خوبیاهم سرې ویخ وي اوچې قوت سامعه معطله شي نوخوب خپل حدکمال ته اورسیږي اوددې وجه نه په حدیث کښ داسي راځي،ذلك رجل بال الشيطن في اذنه (بخاری ج۱ کتاب التهجد) اوپدیکښ اشاره ده چې دااوده کول دَجه دَشفقت نه وولکه څرنگې چې موربچي اوده کوي په غوږونوئې ټپوي. اومفعول دَ﴿فَضَرَبۡنَا ﴾لپاره مقدردې چې حجابادې اوفاء پکښ دَتعقیب لپاره ده. اوپدیکښ اشاره ده دیته چې کوم سرې دَدین خدمت کوي نو الله ﷻ به دَه ته دَخپل طرف نه سکون اوراحت ورکوي، ﴿ثُمَّ بَعَثۡنَٰهُمۡ ﴾دابل عجزدأصحاب کهفو ذکرکیږي چې دَطویل مدت دَاوده کولونه وروستوبیاراویخیدلوکښ مونږته محتاج وو اومرادپه بعث سره دوباره راویخول دي اوهرکله چې خوب په منزله دَمرگ دې اوخاص طوردأصحاب کهفوخوب خلاف عادت ډیره زیاته مودې پورې یعنی(۳۰۹)کاله وو نوددې وجه په ځائ دَایقظنهم،﴿بَعَثۡنَٰهُم ﴾ ذکرشواودَدې وجه نه په حدیث کښ دَخوب بیداریدلونه پس دعاداسي منقوله ده الحمدلله الذی احیانا بعدمااماتناواليه النشور، ﴿لِنَعۡلَمَ ﴾لام لپاره دَغایة دې چې دَطویل مودې نه پس رابیداره ولوغایت داوو چې مونږه خلکو ته اوښایوچې کوم یوفریق حساب کوي دَخپلې مودې، اومراد په ﴿لِنَعۡلَمَ ﴾سره علم دَاظهاردې یعنی نوروخلکوته ښکاره کول، ځکه چې نصوص قطعیه پدې دال دې چې الله ﷻ عالم الغيب دي ﴿أَيُّ ٱلۡحِزۡبَيۡنِ ﴾مراد دَحزبین نه یاهغه دوه ډلې په اصحاب کهفوکښ دي چې دَرابیدارئې نه پس یوې ډلې اونیل چې﴿لَبِثۡنَا يَوۡمًا ﴾اوبلې ډلې اونیل چې﴿أَوۡ بَعۡضَ ﴾اویاورنه مرادیوه ډله

دَاصحاب كهفوده اوبله ډله دهغوئ معاصردَعلاقي دَخلكوده چې هغوئ پدوئ كښې اختلاف كړې وو اودَدينه علاوه نورتوجيهات پكښې هم راغليدي﴿أَحْصَى﴾صيغه دَواحدمذكرغائب ده دَباب افعال نه﴿أَمَدًا﴾مفعول دَ﴿أَحْصَى﴾ لپاره دي يا احصىٰ صيغه داسم تفضيل ده او امداً ورله تميزدې،او﴿أَمَدًا﴾ امام راغب فرمائيلي چې هغې مودې ته وئيلې كيږي چې دهغې لپاره حدوي،يعنى انتها ورله معلومه وي پخلاف دزمان نه چې هغه عام دي په مبدا اوغاية كښې.

فائده: پدې مقام كښې څومباحث دي چې مفسرينوذكركړيدي (۱)اصحاب كهف څوك وو؟ اودَدوئ واقعه څه ده؟ (۲)داغارپه كوم ځائ كښې واقع دې؟(۳) دَدوئ مدت دَخوب څومره ده؟ اودَدوئ تعداد څومره وو(۴)آيااصحب كهف اوس هم ژوندې دي يانه؟

(۱)دَاصحاب كهفو دَواقعي دوه جهته دي يوجهت ئې هغه دې چې مذكوردې په قرآن مجيدكښې اودويم جهت ئې هغه دې چې تاريخي رواياتوسره يااسرائيلي رواياتوسره ثابت دې چونكه قرآن مجيددَهدايت اونصيحت والاكتاب دې مبشراومنذردې،محض دَتاريخ والاكتاب ندې نوددې وجه نه قرآن مجيددَواقعاتو هغه اجزاذكركوي چې كوم سره انساني هدايت اوتعليمات متعلق وي،ددې وجه نه په سورة الكهف كښې هم الله ﷻ دَواقعي هغه اجزاء ذكركوي كوم چې مسئول عنه دَيهوديانووو اوچې په كوم اجزاء دَانسان هدايت اوتعليم ورسره متعلق دې اودَواقعي په ابتداكښې تعليم وركړوچې دادومره څه عجيبه واقعه نده چې انساني هدايت پدې باندې موقوف كړې شي﴿أَمْ حَسِبْتَ أَنَّ أَصْحَٰبَ ٱلْكَهْفِ﴾اوهم داوجه ده چې حضورﷺ هم داواقعه صحابهؓ ته په اهتمام سره تفصيلانده بيان كړې،باوجود ددې چې دَحضورﷺ دَبعثت په ذمه دَ...يو كښې يوه ذمه دارې دَاوه چې ويعلمهم الكتب اونه دَحضورﷺ نه په يوصحيح روايت سره نقل شويده. صاحب دَبحرعلامه ابوحيان اندلسىؒ فرمائى،والرواة مختلفون فى قصصهم وكيف كان اجتماعهم وخروجهم ولم يات فى الحديث الصحيح كيفية ذلك ولافى القرآن(بحر ج۲ ص۹۸) اودَ اسلافوضابطه هم داده چې،ابهموا ماابهمه الله (الاتقان) ليكن متاخرينومفسرينومختلف تاريخي رواياتوسره داواقعه نقل كړيده تفصيلا چې دهغې خلاصه داده.

واقعه: داواقعه دَحضرت عيسيٰؑ داسمان ته دَختلونه دوه نيم(۲۵۰) سوه كاله ورستو څه شوه. چې په روم باندې يوبادشاه چې نوم ئې دقيانوس وو مسلط شو. دابادشاه ډيرظالم

اوبت پرست وو، څومره نیکان خلك وو هغه ئې قتل کړل اوپه خلکوباندې رعب اچولولپاره ئې دَهغوئ جسمونه دَشهرپه مختلف چوکونو، لاروباندې زوړند کړيوو

بادشاه اودَده قوم به په کال کښې يوه مذهبې ميله (عرس) هم کوله. يوه ورځ چې بادشاه اودده قوم خپل مذهبې ميلې ته روان شوچې دَښارنه بهرمنعقده وه، نو اصحاب کهف ورسره هم لاړل چې دوئ دَسلطنت دَعمائدو اودَاشرافواومشرانوځامن وو،خوفطري موحدين وو. دوئ چې هلته اوکتل چې ددوئ قوم دَبتانوعبادت کوي اودهغوئ په نوم باندې قربانياني کوي نوددوئ ورنه نفرت اوشو،نوپه دوئ کښې يوکس چې نوم دهغه په ځنې رواياتوکښې مکسلمينا. راغليدې جداشو اودَيوې اونې دَلاندې کيناستلو، بياورپسې بل هم راغې دريم هم راغې څلورم هم راغې. اودوئ ټول پدې ځائ کښې جمع شويوبل ئې نه پيژندل،خويوبل سره ئې محبت پيداشو

دوئ ټول هلته دَاونې لاندې جمع شوليکن هريوخپل مقصد اوعقيده دَبل نه پته وله. چې داسې نه چې څوك پکښې دَبادشاه جاسوس نوي اودوئ ته پته هم نوه چې دَټولومقصد يودې،آخريوکس پکښې ته اووئيل چې په خدائ قسم! مونږټول چې دَدې قوم نه جداشوي يو اودلته راجمع شوي يو ددې څه وجه به ضرور وي؟ هريوکس دې خپل مقصد واضح کړي، نويوکس پکښې ته اوئيل چې په خدائ قسم!څه خوصرف ددې وجه نه جداشوې يم چې ځمايقين دې چې ځماداقوم چې په کوم دين باندې دې داغلط دين دې، حقداردَبندګئ صرف الله ﷻ دې چې دهغه سره څوك هم شريك نيشته دې، اوالله ﷻ هغه ذات دې چې تن تنهائې زمکې، اسمانونه اوټول کائنات پيداکړيدې، بل اوئيل چې څه هم دغسې خيال راجداکړې يمه، بل همدااقرار اوکړو حتی که ټول پدې يوخيال اوپه يوې کلمې موافق شو، اودايوجماعت جوړشو دوئ دَځان لپاره يوه عبادت ګاه جوړه کړه چې په هغې کښې به دوئ خالص دَالله ﷻ عبادت کولو،رو رو دَدوئ خبردَشهرخلکوته اورسيدلوو اوځنې خلکو بادشاه ته اوئيلو چې نورخلك دَالله ﷻ دَعبادت نه منع کوي خودَزعماء سلطنت اولاد صرف دَالله ﷻ عبادت کوي اوستادين نه نفرت کوي،بادشاه ددوئ دَحاضرولوحکم اوکړو چې کله حاضرکړې شو نوبادشاه تنه تپوس اوکړو چې تاسودَچاعبادت کوئ نودوئ په ډيرهمت اوجرات سره دکلمې توحيداعلان اوکړو چې ﴿رَبُّنَا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾ اوبادشاه ته ئې هم دَصحيح عقيدې اودين دعوت ورکړلوبادشاه اولاددَدوئ دَقتل حکم جاري کړو خودَځنې درباريانو په مشورې سره بادشاه دوئ ته مهلت ورکړواودَدوئ

دَجسم نه ئې قيمتي لباس اووخكلو اودوئ ته ئې اووئيل چې تاسوځوانان يئ ځکه ستاسو په قتل كښې جلدي نه كووم،تاسوته مهلت دركووم چې تاسوپدې خپلې عقيدې باندې سوچ اوكړئ اودا پرېدئ اوخپل اصل دين ته واپس شئ.

دې مهلت دوئ ته دَبادشاه نه تختيدلوموقعه وركړه اوچې دوئ كله بهرته رااووتلو نوخپل مينځ كښې ئې فيصله اوكړه چې دَخپل دين دَحفاظت لپاره به اوتختودوئ دَخپل ځان سره دكورونونه لږې لږې پيسې هم رواغستلې، لاره كښې دوئ سره يوشپونكې ميلاؤشو هغه هم ورسره شو اودهغه سره يوسپې وو چې هغه هم پدوئ پسې روان شو دوئ ډېركوشش دهغه دَلرې كولو اوكړو خوهغه نه تلو اوځنې رواياتوكښې راځي چې هغه ته الله ﷻ قوت گويائې وركړو اودَدوئ نه ئې سوال اوكړو چې تاسومامه واپس كوئ ځه به ستاسوته چوكيداري كووم،دوئ تلل، تلل نوسترې شودَارام په خيال يوغارته ننه وتل نوهلته پدوئ خوب غالب شودوئ په غاركښې دننه اوده شول اوسپي ورته دَغارپه خوله كښې دوه(۲)خپې اوگدي كړي اوپه هغې باندې ئې سركيخودلو اواوده شو اودوئ دغه شانتې اوده پاتې كړې شو دري سوه(۳۰۰) كاله(شمسي حساب سره) اويادري سوه اونه(۳۰۹)كاله(قمري حساب سره) بل طرف ته دَمهلت ورځې ختميدلونه پس بادشاه بياددوئ دَحاضرولوحكم اوكړو، خلكوددوئ ډېرتالاش اوكړو خوچاته هم ميلاؤنشو ،بادشاه په بندرگاه اوسرحداتوباندې پهرې سختي كړې خودَدوئ هيڅ پته اونه لگيده اخركږچې بادشاه مايوسه شونوددوئ نومونه،نسب،پتې وغيره ئې شائع كړې(لكه څرنگه چې نن صباپه اشتهارې ملزم پسې كيږي)اودَانعام اعلان ئې اوكړوبعض مؤرخين وائې چې دَدوئ نومونه،بادشاه نوولیكلي بلكه دَبادشاه په خاندان كښې دوه (۲)كسان نورمؤمنان وو چې هغوئ خپل ايمان پټولوچې دَيونوم يندروس اودَبل نوم راياش وو هغوئ پدې خيال چې دَاهل ايمان حكومت به راشي نوهغوئ ته لپاره دَعبرت دوئ دَاصحاب كهفو نومونه، نسب خاندان اوټوله واقعه اوليكله اوبيائې دَتانبې په يوصندوق كښې كيخودله اوهغه ئې دفن كړو.

قيانوس الله ﷻ هلاك كړو ، صدئ تيرېدلې بادشاهان فناء كيدلو اخركار يومسلمان بادشاه بيدروس،حكومت راغې،بيدروس، په خپله مسلمان وو ليكن دَده سره يولوئ جماعت حزب اختلاف دكافرانو هم وو چې هغوئ دَده سره په بعث بعدالموت كښې اختلاف كولو ، اوهغوئ بيدروس. ته وئيلې وو چې په بعث بعدالموت باندې مونږه ته تسلي بخش نشانې پيش كړكنه مونږه ستادَحكومت نه بغاوت كوو ،بيدروس ،دَالله ﷻ نه دَشپې دعاء اوكړه چې ياالله ماته يوه

داسي نښاني اوښائي چې څه پرې داخلك مطمئن کړم، نوچې صباشونو دَاصحاب کهفو دَبيدارئ واقعه رونماشوله.

اصحاب کهف چې کله غارته ننوتل نومازيګرې وخت وواوکله چې دَخوب نه رابيدار شونوصبائي وخت وو،دوئ چې خپل ځانونو ته اوکتل نوبالکل تهيك ټهاك وو نوځکه دوئ اوئيل چې ﴿لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ﴾ دَبيدارئ نه ورستو دوئ ته لوږه لګيدلې وه نوددوئ دايقين وو چې دقيانوس به زمونږ په تالاش کښې وي اوبل طرف ته دوئ سره دَخوراك متبادل بندوبست هم نووبغيردَبازارته دَتللونه،نومشوره ئې اوکړه اوپه مشورې سره ئې يوکس(تمليخا) بازارته اوليږلو، اونصيحت ئې ورته هم اوکړو چې خپل ځان اوخپل حالت پټ اوساته اوپه بازارکښې چې کوم زيات صفا(نيك)سړې وي نودهغه نه روټئ راوړه،تمليخا چې کله بازارته راغې نوداعلاقه اوخلك ورته ټول نااشناغوندې ښکاره شو،دَده ورسره څه غرض نوو،دده مقصد خپلوملګروته طعام اوړل وو نودې يوتنوروالاته لاړاوهغه نه ئې روټئ راواغستله اوپيسي ئې ورته ورکړې تنوروالاچې کله دَزړې زمانې پيسې اوکتلې نوحيران شواوبل کس ته ئې اوخودلې هغه بل ته اوهغه بل ته، کيدکيده چې په لږوخت کښې ټول بازارخبرشو،بادشاه ته خبراورسيدلوچې داسې يوکس دې چې هغه سره دَزړې زمانې خزانه ده، تمليخاچې کله بادشاه ته حاضرکړې شونوهغه ورنه دَنوم،نسب اودَعلاقې تپوس اوکړونوده ورته خپل نوم نسب اوښودلو،ورته ئې اوئيل چې هغه خودرې سوه(۳۰۰)کاله مخکښې هلاك شويدې،نوبياورته تمليخاخپل ټول حقيقت بيان کړو،اوبادشاه دَسرکارې محافظ خانې نه دَدوئ والا تاريخي،کاغذهم رااويستلو اوبادشاه په ټول حقيقت باندې پوهه شو،چې اللهﷻ څمادعاقبوله کړيده چې دادَبعث بعدالموت لپاره يوه لويه نښاني ده.

هغې نه ورستوبادشاه اودهغه ملګرې دَاصحاب کهفو سره ملاقات ته غارته لاړلو اوټولوسره ئې ملاقات اوکړلواودوئ ډيرخوشحاله شوچې اللهﷻ دقيانوس هلاك کړيدې اودهغه په ځائې دَمسلمانانوحکومت راغليدې،بادشاه دوئ ته شهرته دَتللوپيشکش اوکړو خودوئ معذرت اوکړو چې مونږ پدې غارکښې پدې حالت باندې خوشحاله يو،اوڅادرې ئې په ځان واچولو اوبيااوده شوچې ارواح ئې قبض شو(ابن کثير،قرطبي،مظهري).

(۲)داغارپه کوم ځائې کښې واقع دې؟ دايوه تاريخي مسئله ده اوپه نصوصوکښې ددې څه ذکرنيشته اوددې وجه نه پديکښې اقوال دَعلماء ومتعدد راغليدي.

(۱) ځني علماء فرمائی چې دا دَترکي په شهرافسوس کښې واقع دې.چې دهغې اسلامي نوم طرسوس دې اوداغرچې په کوم کښې داغاردې دَشهرنه،(۱۵) کلومیټرلرې دې.علامه عینی رحمه الله دې په باره کښې فرمائی چې هورای اکثرالمفسرین اوحضرت مولانامحمدتقی عثماني صاحب فرمائی چې اکثرومسلمانانومفسرینوداقول ځکه اختیارکړیدې چې مسیحي مصادروکښې تقریباپه جزم سره داذکرشویده چې داکهف په افسوس کښې دې.

(۲) ځني مفسرین فرمائی چې داغارپه اندلس کښې غرناطه شهرکښې واقع دې امام قرطبی رحمه الله متعدد اقوال ذکرکړیدی اوپه اخرکښې ئې دَ غرناطه قول ذکرکړیدې چې داابن عطیه قول دې اودهغه مشاهده ئې هم ذکرکړیده فرمائی چې:اندلس کښې دغرناطه شهرکښې یوه قریه ده دهغې سره نزدې،یوغاردې چې په هغې کښې څه مړي پراته دی اودوئ سره یودَسپي والاډهانچه هم پرته ده،اکثروجسمونونه غوښه ختم شویده صرف هډوکي دي اوپه ځنوپورې لاتراوسه پورې غوښه هم شته دې اوفرمائی چې پدې باندې صدئ تیرې شوې خوچاته ئې صحیح پته نیشته دې چې داڅوك دې اوخلك دهغوئ په باره کښې داګمان کوي چې دااصحاب کهف دی اوبیادَابن عطیه رحمه الله مشاهده ذکرکوي،چې څه پخپله دَدې غارکتلوته تلې یم، په سنه(۵۰۴) اودَهغوئ والاجسمونو په خپل حالت وو اونزدې ورسره یوجماعت هم وو،اویورومي زماني تعمیرهم دې چې هغې ته رقیم وئیلې کیږي اوبیامخکښې لیکلي چې دَغرناطه په اوچته حصه کښې دَقدیم شهراثاراونشانات هم موندلي شویدي چې هغه دَرومیانوپه طرزباندې دي،اودې شهرته رقیوس وئیلې کیږي.دَامام ابن عطیه رحمه الله ددې قول نه معلومیږي چې دهغه ترجیح دیته ده،چې په غرناطه کښې واقع دغه غاراوپه هغې کښې پراته جسمونه دَاصحاب کهف دی، لیکن امام قرطبی رحمه الله دَ صنیع نه معلومیږي چې هغه پدې حق کښې ندې البته صاحب بحرپه ډیرزوراندازسره غرناطه ته ترجیح ورکړیده اوځه اثاراوخپل مشاهدات بیانولونه ورستو فرمائی ویترجح کون اهل الکهف بالاندلس لکثرة دین النصاری بها حتی انها هی بلادمملکتهم العظمی، (بحرج۶ ص۹۸).

(۳) ځني مفسرین فرمائی چې داغارپه شام کښې دې امام قرطبي رحمه الله داقول هم دَابن ابی عطیه رحمه الله نه نقل کړیدې اودَیوغارمشاهده ئې هغه والاذکرکړیده.

(۴) ځني مفسرین فرمائی چې داغاردَفلسطین نه لاندې اوایلة ته قریب واقع دې اوپه بلاد ښه کښې دې،دا قول منسوب دې ابن عباس رضی الله عنه ته،اومفسرینودَدې تحت روایت ذکرکړیدې،

چې حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چې مونږه دحضرت معاویه رضی الله عنه سره دروم سره جهادته اووتلو، نولاره کښې زمونږه تیریدل دَاصحاب کهفوپه هغه غاراوشو چې دهغې ذکرالله تعالیٰ په قرآن کښې کړیدې حضرت معاویه رضی الله عنه اراده اوکړه چې غارته دننه لاړشي او د اصحاب کهفو دَجسمونو مشاهده اوکړي نوحضرت ابن عباس رضی الله عنه منعه کړو.اوورته ئې اوفرمائيل چې داسي مکوه، ځکه چې الله تعالیٰ ددي مشاهدي نه هغه هستي منع کړیده چې هغه ستانه ډیرغوره ده یعني حضور صلی الله علیه وسلم ځکه چې الله تعالیٰ هغه ته فرمائی ﴿لَوِ اطَّلَعْتَ عَلَيْهِمْ لَوَلَّيْتَ مِنْهُمْ فِرَارًا وَلَمُلِئْتَ مِنْهُمْ رُعْبًا﴾ لیکن حضرت معاویه رضی الله عنه دَحضرت ابن عباس رضی الله عنه داخبره اونه منله اودَغارکتلولپاره ئې څوکسان اولیږلونوچې څنگه هغوئ غارته داخليدل نو الله تعالیٰ یو سخته هواراولیږله چې هغوئ ټول ئې دغارنه اویستلو(روح المعانی بحواله ابن ابی حاتم)

دَدینه دامعلومیږي چې دَحضرت ابن عباس رضی الله عنه رائې داده چې دَاصحاب کهفو الاغارپه روم کښې واقع دې لکه څنگه چې امام ابن عطیة اوابوحیان وئیل لیکن ددي اودَهغوئ کښې فرق دادې چې هغوئ تعین دمقام کړیدې چې لوشه ده اوپدې قول کښې ددې مقام تعین نیشته دې. اگرچې محدثینوپدې اثرمنقوله باندې کلام کړیدې اوصحت ددې مشکوک دې.

(۵) دَماضي قریب محققین علماء لکه مولاناابوالکلام ازاد،مولاناحفظ الرحمٰن سیوهاروی رحمه الله مولاناسیدسلیمان ندوی رحمه الله وغیرهم دَځني تاریخي روایاتوسره دَتورات په ځنونسخوسره اواثارکثیره سره داثابته کړیده چې دامذکوره مقام اوغارپه روم کښې موجوده پیټراچې دهغې اسلامي نوم بطراء ووهلته دې چې په مخکښې کتابونوکښې دَهغې نوم راقیم،یاراقمه راغلیدې، اودَحضرت مولانامفتي محمدشفیع رحمه الله رجحان هم دیته دې

(۶) دَاردن ځنې محقیقینودَډیرلوئ تحقیق نه داثابته کړیده چې دَاصحاب کهفودا غارپه اردن کښې دَعمان سره نزدې یوغرکښې داغارواقع دې، محقق عالم رفیق وفاالدجانی اوتیسیرظبیان په خپلوخپلوکتابونوکښې ددي لپاره ډیرقرائن اواثارذکرکړیدی محقق العصرحضرت مولانامحمدتقی عثمانی صاحب مدظلهم هم دَدوئ رائې غوره کړیده،لیکن بهتره اواحوط خبره هغه ده چې حضرت مولاناډاکټرشیرعلي شاه صاحب رحمه الله په خپل تفسیرتفسیرسورة الکهف کښې لیکلي ده چې والحق ان امثال هذه الوقائع قدتعددت فی مختلف الازمنة والامكنة، فکلمااشتدالخناق علی الدعاة ورجال الایمان اوروالی الکهف من الکهوف حفاظاعلی عقیدتهم وایمانهم.... فکل ینسب قصتهم

الى ماحدث لرجال بلدهم، واماالكهف المذكورفى القرآن فلم يصرح القرآن ولاالحديث بموقعه.
تفسيرسورة الكهف ص۲۲) يعنى حقه خبره داده چې دغه شانتي واقعي(لکه څنګه چې داصحاب كهفوواقعه ده) په مختلفوزمانو اوپه مختلفوعلاقوكښ واقعي شويدي اوکله چې هم ظالمانوپه داعيانودَحق اوپه ايمان والوخلكوباندې به سختي شروع کړه نوهغوئ به دَخپلي عقيدي اودَايمان حفاظت لپاره به ئې په يوغاركښ پناه واغستله.... نوچاته چې په خپل علاقي كښ دغه شانتي غارظاهرشويدې نوهغوئ بس دغي مذكورفى القرآن واقعي ته منسوب کړيدې اوهرچې ده هغه واقعه چې په قرآن كښ مذكوره ده نوپه قرآن كښ دهغي دَموقعي په تعين باندې تصريح نشته اونه په حديث كښ، اودَارائ دَجمهورومفسرينوهم ده لكه دَامام قرطبى پشانته محقق عالم اومفسردَصنيع نه هم معلوميږي چې مختلف اقوال ذكركولونه ورستويوجانب ته ئې ترجيح نده وركړې، اوامام ابن كثير رحمه الله فرمائى چې الله جل جلاله داواقعه مونږته بيان کړه ددي لپاره چې مونږ پدې باندې سوچ اوفكراوكړو(دَعبرت لپاره) اوداخبرئې رانكړو چې داغاردَزمكي په كوم يوشهركښ واقع دې څكه چې پدې كښ زمونږه څه فائده نيشته دې اونه څه شرعي مقصدددې سره متعلق دې... اوكچرته زمونږ لپاره پدې كښ يوديني مصلحت وې نوخامخابه الله جل جلاله مونږته اوخپل رسول ﷺ ته ددې غاررهنمائي کړې وه دَدې وجه نه چې حضور ﷺ ارشاد فرمائيلې دې چې ماندې پريخودلې يوداسي څيز(حكم) چې هغه تاسوجنت ته نزدې كوي،اوجهنم نه مولرې كوي مگرضرورماتاسوته دهغي علم دركړيدې.نواحوط اواليق داده چې ددې علم الله جل جلاله ته اوسپارلې شي

(۳) ددوئ مده دَخوب څومره ده؟ دَدوئ موده دَخوب دَشمسي كال په حساب سره دري سوه(۳۰۰) اوقمري په حساب سره دري سوه (۳۰۹)نهه كاله وه نودَدوئ دَخوب نه بيدارئ كال(سنه۵۵۰) شو،اودَحضور ﷺ ولادت (سنه۵۷۰) كښ شويدې نوګوياچې دَحضور ﷺ دَولادت مبارکه نه محض شل (۲۰)كاله مخكښ داواقعه رونماشويده، اوتعداد دهغوئ اوه(۷) وواوپه څنې رواياتوكښ راغي چې اوه(۷) كسان اصل وو اويوورسره په لاره كښ شپونكې ملگرې شوې وو،دابحث عنقريب راروان دې) اودَحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه ددوئ نومونه داسي منقول دي(۱) مكسلمينا(۲)تمليخا(۳)مرطونس(۴) بينونس(۵)وسارينوس(۶) دنوانس (۷)كشفيططنونس دَ راعى وو)اودَسپي نوم ئې قطميروو(خازن ج۳ ص۱۲۱) اوطبري دَابن عباس رضي الله عنه نه نقل کړيدى

چې ټول دوئ اته(۸)کسان وو نومونه ئې دادي(۱) محسیمیلنینا(۲)یملیخا(۳)مرطوس(۴) کشوطوش(۵) بیرونس(۶) دینموس(۷)ویطونس(۸) قالوس(طبری ج۸ ص ۱۸۳)

(۴)اصحاب کهف ژوندي دي که مړه؟؟ نوصحیح اوراجح قول دادي چې اصحاب کهفو باندې الله ﷻ موت طاري کړیدې اوهغوئ وفات دي،لکه څرنګه چې تفصیلي واقعه کښې تیرشویدی

نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَاَهُمْ بِالْحَقِّ ؕ اِنَّهُمْ فِتْيَةٌ اٰمَنُوْا بِرَبِّهِمْ

[1]مونږه بیانوو په تاباندې قصه ددوئ په حق سره. بیشکه دا یو ځوانان وو چې ایمان ئې راوړی وو په رب خپل باندې.

وَزِدْنٰهُمْ هُدًى ۝ وَّرَبَطْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اِذْ قَامُوْا

اوزیات کړې وو مونږه ددوئ لره هدایت، اومظبوط کړومونږه زړونه دهغوکله چې اودریدل هغوئ دبادشاه په مخکښې

فَقَالُوْا رَبُّنَا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَنْ نَّدْعُوَا۟ مِنْ دُوْنِهٖۤ اِلٰهًا

پس اوئیل ئې چې رب زمونږه رب داسمانونو اودزمکې دې هیڅ کله نه بلومونږه سیوا دالله ﷻ نه بل څوك حقدار دعبادت

لَّقَدْ قُلْنَاۤ اِذًا شَطَطًا ۝ هٰۤؤُلَآءِ قَوْمُنَا اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖۤ

خامخا په تحقیق سره وئیلې به وې مونږه په دغه وخت کښې خبره ډیره دروغ،داقوم زمونږه دوئ نیولې دي سیوا دالله ﷻ نه

اٰلِهَةً ؕ لَوْلَا يَاْتُوْنَ عَلَيْهِمْ بِسُلْطٰنٍۭ بَيِّنٍ ؕ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى

خدایان نور. ولې نه راوړي دوئ به خپلوخدایانو باندې دلیل ښکاره پس څوك لوئ ظالم دې دهغه چانه چې تړي

عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ۝

په الله ﷻ باندې دروغ.

﴿نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ ﴾مخکښې ایتونوکښې دشبهې اجمالي جواب وو، اوس تفصیلي جواب ذکرکیږي (قصة) په لغت کښې دچادقدمونو داثارو پیروي کولوته وئیلې کیږي،دلته تنه مراد په تفصیل سره دهغوئ واقعه بیانول دي، اوجمله اسمیه غوره کړې شوه په فعلیې باندې لپاره

(1) جواب شبهه اولی تفصیلا بطرق چهارده

دتاکید ،ځکه چې جمله اسمیه کښې دوام اواستمراروي.اوپدي ځائ کښې تکراردا سنادهم دي﴿نَبَأَهُم﴾ پدیکښې اشاره ده عظمت دواقعي ته ځکه نبا وئیلې کیږي دلوئ شان والاخبرته﴿بِٱلۡحَقِّ﴾ په معنې دصدق سره دي اوجارومجروریاصفت دې دمصدرمحذوف لپاره ای نقص قصصامتلبسا بالحق، اویاحال دي دضمیردنقص نه اویادضمیرد﴿نَبَأَهُم﴾ نه ای نقصه حال کونامتلبسین بالحق اویاتقریردعبارت داسي دي،نحن نقص نباهم حال کونهم متلبسابالحق(روح) اوپدي کښې اشاره ده چې دحضورﷺ په دورکښې هم داواقعه بیانیدله لیکن دروغ به ورسره خلط وو ﴿إِنَّهُمۡ فِتۡيَةٌ﴾ داجمع د(فتی) ده لکه چې (صبیة) جمع د(صبې) راځي اوبدل دي دضمیرد﴿إِنَّهُم﴾نه اوپدي کښې اشاره ده چې دوئ قبول دحق اودظالم بادشاه په مخ کښې کلمه حق وئیل دنوجوانئ په اولي مرحلي کښې وو اودوئ ته ددنیاهرقسم لذتونه اوخواهشات میسروو لیکن پدي عمرکښې دوئ خواهشات اوغورځول اوپه دین باندې صبراواستقامت لپاره دغره اوغارژوند اختیارکړو اوپه اصحب الکهف سره ملقب شو اوحافظ ابن کثیرؒ فرمائی وهم اقبل للحق واهدی للسبیل من الشیوخ الذین قدعتوا وانغمسوا فی دین الباطل،ولهذا کان اکثرالمستجیبین لله تعالی ولرسوله شبابا(ابن کثیرص۹۳ ج۳)یعنی نوجوانان ډیرښه اوزرقبولونکی دحق دي اوډیرزرهدایت لاري موندونکي وي په نسبت سره هغه بوډاګانوته چې هغوئ سرکشي اختیارکړي وي اوپه باطل کښې درننوتي وي ﴿ءَامَنُواْ بِرَبِّهِمۡ﴾ پدیکښې التفات دي دتکلم نه غیبت ته اودپدیکښې اشاره ده چې ددنیا خواهشات پریخودل دځوانئ په عمرکښې اواخرت غوره کول دادتربیت رباني،اثروو﴿وَزِدۡنَٰهُمۡ هُدٗى﴾ مراد دزیادت دهدایت نه ثمرات دهدایت دي، یعني داوامروامتثال اوترک دمنهیاتو پدیکښې ورته ترقي میلاؤشوه اویامراد هدایت نه یقین دي چې دوئ یقین به اللهﷻ باندې مضبوط شو اویامراد په زیادت سره توفیق دي اعمال صالحواوتثبت دې په خپلي عقیدي باندې،نورجع ددي اقوالوتهولودیته ده چې مراد په زیادت دهدایت سره نفس ایمان کښې زیادت ندي پلکه ثمراتودایمان اوتوفیق اوتثبت علی الایمان کښې زیاتوالی مراددې اودامستلزم ندي زیادت لره په نفس ایمان کښې،﴿وَرَبَطۡنَا عَلَىٰ﴾یعنی چې دوئ په خپل رب ایمان راوړلو نودنیک اعمالوتوفیق ورکولوسره سره اللهﷻ دوئ ته ربط قلبي،مرتبه هم ورکړه چې دادهدایت په

مراتبوكښ دريمه مرتبه ده چې په مقابله كښ ئې ختم راځي.اوتفصيل ددې مراتبودهدا.ـ
اوضلالت په ابتداء دسورت البقره آيت نمبر ختم الله على قلوبهم الخ كښ تيرشويدې اومراد په
﴿وَرَبَطْنَا﴾سره زړونه دهغوئ مضبوط كول اومطمئن كول دي. څكه چې ربط قلبي دهغه قوت
معنوي نه عبارت دې چې دسختيواوتكليفونوپه وخت كښ انسان ددې قوت په بركت سره په
هغې باندې صبرلرونكې اوپه خپلې عقيدې باندې مطمئن وي اويادهغه كيفيت اطميناني نه
عبارت دې چې حاصليږي په وخت دشدائدوكښ لكه څرنګې چې په محسوساتوكښ
ديولذيذخوراك نه ورستوچې كوم دسرور كيفيت حاصليږي

﴿إِذْ قَامُواْ ﴾ (اذقاموا) ظرف متعلق دې د﴿وَرَبَطْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ ﴾سره اومراد په قيام سره ياقيام
اولاړواليدې دهغه ظالم بادشاه په مخ كښ، چې كله هغه دوئ رااوغوختلونودوئ دهغه په مخ
كښ اودريدلواوپه ډيرجرائت اوبهادرئ سره ئې نعره توحيداوچته كړه،اوبياد دوئ ته دبت
پرستې نه اختيارولودوجې نه دقتل دهمكي وركړه،اوددوئ دبدنونه ئې عمده لباس اوزيورات
اويستلونوالله ﷻ پدې وخت كښ ددوئ زړونه مضبوط كړل اودهغه ددهمكيونه مرعوبه
نشو،اوبعض مفسرين فرمائي چې مراد دقيام نه،مضبوط عزم دهجرت ددوئ دې،هركله چې
يوسړې ديوكارمضبوط عزم اوكړې نوعرب وائي قام فلان الى كذا چې فلانې سړې پدې كارپسې
پاسيدلو،نودلته هم مراد ددوئ مضبوط عزم مراد دې.

﴿رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾چې كله بادشاه دوئ ته اوئيل چې بتانوته سجده اوكړئ نودوئ
انكار، اوكړو اودااوئيل چې ﴿رَبُّنَا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾چې زمونږه رب هغه دې چې هغه
داسمانونو اوزمكې رب دې نوداتوحيد دربوبيت دې.

﴿لَن نَّدْعُوَاْ ﴾ (لن) دنفي تابيدلپاره دې او﴿إِلَٰهًا ﴾نكره ده په سياق دنفي كښ واقع شويده
نومفيده ده لپاره دعموم اوشمول اومراد په﴿نَّدْعُوَا ﴾سره عبادت دې، مقصد دادې چې مونږ دبل
هيڅ چاعبادت نه كوو كه هغه فرشته وي، نبي وي،ياولي وي داتوحيددالوهيت
دې،اوتوحيددربوبيت په منزله دوسيلې دې اوتوحيددالوهيت په منزله دغاية اومقصود دې
اووسيله مقدمه وي په اوغائې باندې نوددې وجه نه اولاً ذكردتوحيد ربوبيت اوشواوثانيا

دَتوحيد اولوهيت ذكراوشولو﴿لَّقَدْ قُلْنَآ إِذًا شَطَطًا﴾لام په﴿لَّقَدْ﴾كښې لام موطئه للقسم دي اودلته قسم محذوف دې او﴿إِذًا﴾ حرف جزاء دې نومعلومه شوه چې داجمله جزاء ده اوددې نه مخكښې جمله شرطيه مقدره ده اى لودعونا وعبدنامن دونه الها والله لقدقلناااذا الخ او«شطط» وئيلې كيږي بعد اولرې والي ته دَحق نه اوتوصيف دَقول په شطط سره يامجازفى الحذف دې يعنې قولا ذاشطط اوياحمل ئې مبالغة دې اودوئ په عبادت دَغيرالله باندې قول شطط مرتب كړو ځكه چې عبادت خالي نوي دَاعتراف دَالوهيت دَمعبودنه،چې څوك دَچاعبادت هم كوي نوپه قول اوپه خولې سره به دهغه دَالوهيت اعتراف كوي.

﴿هَـٰٓؤُلَآءِ قَوْمُنَا﴾داهم دَهغوئ دَبيان حصه ده چې دَظالم بادشاه مخې ته كړې وو چې زمونږدقوم مشركانوځان لپاره خودساخته معبودان جوړكړيدي چې دهغې عبادت كوي كچرته دامعبودان صحيح اوبرحق وي نودوئ ولې پدې باندې ثبوت اودليل نه پيش كوي﴿هَـٰٓؤُلَآءِ﴾مبتداده او﴿قَوْمُنَا﴾ بدل ياعطف بيان دې او ﴿ٱتَّخَذُوا مِن﴾جمله فعليه په محل دَخبركښې ده، اوپه اسم اشاره يعنې﴿هَـٰٓؤُلَآءِ﴾سره ذكركولوكښې دَهغوئ دَمعبودانو تحقيرته اشاره ده﴿لَّوْلَا يَأْتُونَ عَلَيْهِم﴾ لولا په معنې دَحرف تخضيض «هلا»سره دې اودامطالبه دَدليل على سبيل التعجيزوالانكارده او﴿عَلَيْهِم﴾په تقديردَمضاف سره دې يعنې على الوهيتهم ﴿فَمَنْ أَظْلَمُ﴾ داتتمه دَهغوئ دَبيان ده چې دخدائ سره شريك جوړه ول الله ﷻ باندې افتراء ده اوداډيرلوئ ظلم دې.

وَإِذِ ٱعْتَزَلْتُمُوهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ فَأْوُۥٓا۟ إِلَى ٱلْكَهْفِ
اوهركله چې تاسوجداشوئ ددوئ نه اودهغه څانه چې عبادت كوي دوئ سيوا دالله ﷻ نه پس لاړشئ يوغارته
يَنشُرْ لَكُمْ رَبُّكُم مِّن رَّحْمَتِهِۦ وَيُهَيِّئْ لَكُم مِّنْ أَمْرِكُم مِّرْفَقًا ۝
فراخ به كړي لپاره دتاسورب دستاسو درحمت خپل نه اوپيدا(جوړكړي) به كړي لپاره دستاسو،ستاسوپدې كاركښې ارام(فائدې)
وَتَرَى ٱلشَّمْسَ إِذَا طَلَعَت تَّزَٰوَرُ عَن كَهْفِهِمْ ذَاتَ ٱلْيَمِينِ
وبه وينې به ته نمرلره (كچرې ته هلته ته وې) چې كله راخيژي ميلان كوي(اړيږي) دغاردوئ نه ښې طرف ته

وَإِذَا	غَرَبَتْ	تَّقْرِضُهُمْ	ذَاتَ الشِّمَالِ	وَهُمْ	فِي فَجْوَةٍ	مِّنْهُ ۚ	ذَٰلِكَ

اوكله چې ډوبيږي(غروب كوي)نوپريږدي دوئ چپ(كس) طرف ته اودوئ په ارت ځاى كښې دي دغاړنه د

مِنْ	آيَاتِ	اللَّهِ ۗ	مَن	يَهْدِ	اللَّهُ	فَهُوَ الْمُهْتَدِ ۖ

دلائلو دقدرت داللهﷻ نه دى. هغه څوك چې هدايت ورته اوكړي اللهﷻ پس هغه هدايت موندونكى دى

وَمَن	يُضْلِلْ	فَلَن	تَجِدَ	لَهُ	وَلِيًّا	مُّرْشِدًا ۝

اوهغه څوك چې اللهﷻ ئې گمراه كړي پس هيڅ كله به اونه مومي ته لپاره دده دوست لاره خودونكى

﴿وَإِذِ اعْتَزَلْتُمُوهُمْ﴾داتفصيل دَ ﴿إِذْ أَوَى الْفِتْيَةُ إِلَى الْكَهْفِ﴾دي اوداخطاب دهغوئ يوبل ته دي اوداقول ئې په هغه وخت كښې اوكړو چې كله بادشاه دوئ ته مهلت وركړو نودَدوئ رئيس،مكسلمينا،يايمليخا، دوئ ته اوئيل چې كله تاسودَدي مشركانودين پريخودلو اوددوئ نه په دين كښې جداشولئ نواوس دَخپل دين اودځان دَحفاظت لپاره يوغاركښې پناه واخلئ اوپه بدن سره تنه هم جداشئ اوبعض وائي چې داكلام دَاللهﷻ دي يعني اللهﷻ دوئ ته اوفرمائيل چې تاسوغارته هجرت اوكړئ ليكن داقول ضعيف دي اواعتزال ونيلي كيږي جداكيدلوته كه په زړه سره وي يابدن سره وي﴿وَمَا يَعْبُدُونَ﴾(ما)ياموصوله ده اويامصدريه ده په دواړو صورتونوكښې عطف ئې په ضميرمنصوب متصل يعني﴿هُم﴾باندې دي اودَاعتزال تحت دي يعني تاسودَهغوئ نه اودهغوئ دَمعبودانو نه جداشولئ﴿إِلَّا اللَّهَ﴾دااستثناء يامتصله ده كچرته داصحاب كهفوقوم دَبتانو دعبادت سره دَاللهﷻ عبادت هم كولو اوكچري هغوئ اللهﷻ نه پيژندلواوصرف دَبتانوعبادت ئې كولونوبيااستثناء منقطعه ده(بحر)اومدارك وائي چې﴿وَمَا يَعْبُدُونَ إِلَّا اللَّهَ﴾ جمله معترضه ده اوداكلام دَاللهﷻ دي چې اَصحاب كهفودَاعتزال وجه ئې بيان كړه، چې دوئ صرف دَاللهﷻ عبادت كولواودبل چاعبادت ئې نه كولو ،اوپدې صورت كښې مانافيه ده اواستثناء مفرغه ده﴿فَأْوُوا إِلَى الْكَهْفِ﴾داجواب دَ (اذا) دي﴿يَنشُرْ لَكُمْ﴾دامتعلق دي

دَ﴿رَبَّنَآ ءَاتِنَا مِن لَّدُنكَ رَحۡمَةً﴾سره يعنى الله ﷻ به خپل رحمت په تاثوباندې خورکړې اوپدې هجرت په کارکښ دَاسانئ سامان به مهياكړې اوپدې کښ اشاره ده چې مهاجرِدَپاره په الله ﷻ په ذات باندې توکل اوبهروسه کول پکاردی،﴿مِّرۡفَقًا﴾ غوره قول مطابق ‹مرفَق› بکسرالميم وبفتح الفاء اوبفتح الميم وبكسرالفاء دواړو لغاتو معنې يوه ده منفعت،کاميابی اوارام ته وئيلې كيږې﴿وَتَرَى ٱلشَّمۡسَ﴾ دادَتفصيل دَ ﴿كَانُواْ مِنۡ ءَايَٰتِنَا عَجَبًا﴾دې اوحالت دَغار ذكركيږي، چې الله ﷻ په خپل قدرت سره دوئ ته داسي غارورکړو چې پدوئ باندې نمرنه لګيدلوليکن تازه هوابه ورته هروخت رسيدله اوپه ﴿تَّزَٰوَرُ﴾سره خطاب هرمخاطب ته اويا حضور ﷺ ته دې،تزاور داپه اصل کښ تتزاور وو يوه تاء تخفيفا حذف كړې شويده،او يوطرف ته كيدلوته وئيلې كيږي، يعنى نمرچې كله طلوع اوكړې دَغارپه ښي طرف ته په څنګ باندې دَدوئ نه تيرشي﴿وَإِذَا غَرَبَت تَّقۡرِضُهُمۡ﴾قرض په معنې دَترك سره دې يعنى نمرچې كله غروب كوي دَغارپه چپ ‹ګس›طرف ته اوګرځي اوپه غاركښ دننه نه داخليږي، نودَجمهورو په نيزدَايت مقصد دادې چې نمردَطلوع اودَغروب پدواړو وختونوكښ ددوئ نه ږده كوي اوپدوئ باندې نه لګي باوجود ددې چې دوئ دغارپه يو ارت ځائ كښ پراته دې ليكن بعض مفسرين فرمائى چې دَ﴿تَّقۡرِضُهُمۡ﴾ مقصد دادې چې دَغروب په وخت کښ پدوئ باندې نمرلګ وخت دپاره لګې اوبيا په جلدئې سره تنه لرې كيږي.لكه څرنګه چې قرض وركړې شي اوبيا په جلدئې سره او غوختلې شي ‹بحر› ﴿وَهُمۡ فِي فَجۡوَةٖ مِّنۡهُۚ﴾ ‹فجوه› وئيلې كيږي ارت ځائ ته يعنى دوئ دَغارپه ارت ځائ كښ، پراته دې چې هلته نمرلګيدل ډيرممكن وي خوالله ﷻ دَدوئ دَبدنودَحفاظت لپاره اودوئ دګرمئ اودَيخنئ نه بچ کولوپاره داسي انتظام کړې دې چې نه خوپه دوئ داسي نمرلګي چې رنګونه يې متغيرشي اونه ته نمرداسي غائب دې چې دوئ بدبويه شي اويادَيخنئ دَوجې نه په تكليف كښ مبتلا شوي دي‹قرطبي› ﴿ذَٰلِكَ مِنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِۗ﴾په ‹ذلك› سره غورقول مطابق اشاره ده﴿تَّزَٰوَرُ﴾ او‹قرض› ته په طلوع اوغروب كښ ﴿مَن يَهۡدِ ٱللَّهُ﴾يعنى دَهدايت اوايمان توفيق وركونكې صرف الله دې،اوالله

توفيق هغه چاته ورکوي چه دحق اوهدايت طلب کونکې وی لکه اصحاب کهف. اومعاندته الله توفيق نه ورکوی لکه قوم داصحاب کهف

وَتَحۡسَبُهُمۡ اَيۡقَاظًا وَّهُمۡ رُقُوۡدٌ ۖ وَّنُقَلِّبُهُمۡ ذَاتَ الۡيَمِيۡنِ وَذَاتَ الشِّمَالِ ۖ
اوته به گمان کوي هغوئ باندې دويخوحالانکې دوئ اوده دي.اواړه وواړه وو مونږ دوئ ښي طرف ته اوکس طرف ته
وَكَلۡبُهُمۡ بَاسِطٌ ذِرَاعَيۡهِ بِالۡوَصِيۡدِ ؕ لَوِ اطَّلَعۡتَ عَلَيۡهِمۡ
اوسپې ددوئ غوړونکې دې دواړو ليچو خپلولره په درشل باندې ‹په غار›کچرې ورښکاره شوې ته په دوئ باندې
لَوَلَّيۡتَ مِنۡهُمۡ فِرَارًا وَّلَمُلِئۡتَ مِنۡهُمۡ رُعۡبًا ⑱
نواوبه گرځې ته ددوئ نه تيخته کونکې اوډك به شې ته ددوئ نه په رعب سره

﴿وَتَحۡسَبُهُمۡ﴾دامتعلق دي دَ﴿فَضَرَبۡنَا عَلٰٓى اٰذَانِهِمۡ ﴾سره پدې کښې دَاصحاب کهفو په غارکښې دَخوب کيفيت بيانيږي اودغه شانتې دَغاردَرعب والامنظرذکرکيږي يعنی چې کوم وخت کښې هغوئ په غارکښې اوده وو نوکه چاورته کتلې وې نوهغه به په دوئ باندې دَويخوگمان کولو .اوالله ﷻ دوئ په يواړخ اوبل اړخ اړل راړولو ، اودَدوئ سپې دغارپه خله کښې خپې مخې ته اوږدې کړې پروت وو اوداغاردومره دَرعب نه ډك وو چې څوك هم ورته دننه نشوتللې﴿أَيۡقَاظًا﴾ جمع ده يقظ ده ويخ ته وئيلې کيږي،اوپه دوئ باندې دَويخوگمان کولوسبب څه شې وو؟ نوبعض مفسرين فرمائی چې سبب لپاره دگمان په دوئ باندې دَويخوهغه پرانستل دَسترگودَدوئ وو، چې دوئ اوده وو خوسترگې به ئې کولاوې وې ‹قرطبی،بحر›اوابن کثير رحمه الله دَذئب نه نقل کړيدی، چې دوئ اوده وو خوسترگې به ئې پټۀ ولې اوپرانستلې لکه دَويخ سړی پشانتې.ليکن محدثين فرمائی چې داوجه په يوصحيح سندسره نده ثابته نوددې وجه نه داوجه غيرمختاره ده، اوځنې مفسرين فرمائی چې علت ددې گمان لپاره تقليب ‹اړو راړول› ددوئ وو چې دوئ به کله ښي طرف ته اوختلواوکله چپ ‹گس›طرف ته.ليکن داوجه لپاره دَحسبان وئيل ځکه غوره نده چې کچرې داعلت اوسبب لپاره دَحسبان وي نوپکارده چې دَامقدم ذکرشوې وې. نوزياته صحيح وجه دگمان هغه داده چې دَدوئ جسمونه بالکل تروتازه وو ،کپړې ئې صاف ستهره وې چې څه قسم

خيري پرنوو، اونه ئې په بدن باندې څه قسم تکاوټ اوانقباض وو. حکمت پدې کښې دَهغوئ دَجسمونوحفاظت وو دَروستيدلونه ﴿وَكَلْبُهُم بَٰسِطٌ﴾ مرادتنه سپې دې اوزمرې تنه مرادکول بعيد اوخلاف مشهوراوظاهردی او(باسط) صيغه دَاسم فاعل ده غوړولوته وئيلې کيږي. اوداهيأت دَچوکيدارۍ دې اودَسپي پدسې هيأت سره کيناستل لپاره دَحفاظت دَهغوئ وو. چې څوك انسان ياحيوان دننه داخل نشي، او﴿بِٱلْوَصِيدِ﴾ وئيلې کيږي درشل اوخارج دَبيت ته. نوپديکښې اشاره ده چې داسپې دَغارنه بهرووو اوپدې کښې دَالله ﷻ حکمت وو ځکه چې حديث کښې راغلې انّ الملئكة لاتدخل بيتا فيه كلب اوتصاويرو اودغه شانتې دَايت نه داهم معلومه شوه چې دَچوکيدارئ لپاره سپې ساتل جائزدې، اوبلاضرورته سپې ساتل سخت ګناه اوناجائزدې اوپه احاديثوکښې ممانعت راغليدې عن ابى هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ من اتخذكلبا الاكلب ماشية اوصيدزرع انتقص من اجره كل يوم قيراط (وفي رواية) قيراطان(متفق عليه) ترجمه:نبي ﷺ فرمائي:چاچې داخارو يافصل حفاظت نه علاوه بل څه دپاره سپې اوساتلونوروزانه دهغه داجراوثواب نه يوقيراط ثواب کميږي اوپه بل روايت کښې ددوه قيراطونوذکردې.

قرطبي دَابن عطيه رحمه الله نه نقل کړيدې چې هغه اوفرمائيل چې ماته خپل پلارداوئيل چې ماداَبوالفضل جوهري رحمه الله نه واوريدوچې هغه جامع مسجدمصرکښې ووپه سنه(۴۲۹)کښې چې هغه اوفرمائيل چې کوم کس دَنيکانوخلکوسره محبت ساتي نودَهغوئي دَنيکئ حصه ده ته هم ميلاويږي، دَاصحاب کهفوسپي چې کله خپل محبت اوتعلق دَهغوئي سره جوړکړو نوالله ﷻ په قرآن مجيدکښې دَهغوئ دَسپي تذکره هم دَهغوئ سره اوکړه، امام قرطبي رحمه الله فرمائي چې کله دَسپي داحال دې چې دَصلحاء اواولياء سره محبت اوتعلق ساتلو دَوجې نه دالويه مرتبه حاصله وې چې الله ﷻ دَده ذکرپه قرآن کښې دهغوئ سره کوي(اوپه تلاوت ئې نيکې ميلاويږي) نوستاڅه خيال دې په هغه انسانانوباندې چې مؤمنان دې اوموحدين دې چې محبت ساتي دَاولياء وصالحينوسره بلکه پدې کښې تسلي ده هغه مؤمنانوته چې عملونه دَهغوئ دَلويو مراتبو حاصلولونه کوتاه دې.

دَ حضرت انس ﷺ نه روايت دې چې فرمائي چې زه دَحضور ﷺ سره دَمسجدنبوي ﷺ نه راوتلم چې په دروازې کښې يوکس (اعرابي) ميلاؤشو اودَحضور ﷺ نه ئې تپوس اوکړو يارسول الله ﷺ متى الساعة؟ اې دَالله ﷻ رسوله ﷺ قيامت به کله وي؟ حضور ﷺ ورته اوفرمائيل چې څه

تیاری دې کړیدې(چې داسې تپوس ئې کوي) نوهغه سړې شرمنده غوندې شوبیائې اوئیل چې یارسول اللهﷺ چې مادقیامت لپاره تیاري نه په ډیرونفلي مونځونوسره کړیده اونه په ډیرونفلي روژوسره اونه په ډیرو(نفلي) صدقاتوسره کړیده لیکن دالله ﷻ اورسولﷺ سره محبت ساتم نوحضورﷺ هغه ته ارشاداوفرمایه چې فانت مع من احببت.یعني ته به دقیامت په ورځ دهغه چاسره وې چې ته ورسره محبت ساتې حضرت انسؓ اوفرمائیل چې پس څه محبت ساتم دالله ﷻ سره دهغه رسولﷺ سره اودابوبکراوعمرؓ سره،څه امید ساتم چې څماحشربه دهغوئ سره وي اګرچه څماعمل دهغوئ داعمالو پشانتي ندې.

فائده: دسپي داصحاب کهفوسره مماثلت هم نوو،هغې باوجود الله ﷻ دومره لوئ مقام ورکړو،اودانسان چې داولیاء سره مماثلت هم دې اوورسره مشارکت هم وي په عقددایمان کښې اوکلمې داسلام کښې نوچې کله محبت هم راشي نودده مقام بیاډیرلوئ شي اوداصحاب کهفو دسپي په باره کښې داخبره مشهوره ده چې دې به الله ﷻ جنت ته دانسانې شکل کښې داخله وي،خوداپه حدیث صحیحه سره نده ثابته.

﴿لَوِ ٱطَّلَعۡتَ عَلَیۡهِمۡ﴾دادهغوئ دغارحالت بیانیږي اوداهم دهغوئ یوکرامت وو چې الله ﷻ دهغوئ غارته داسې رعب ورکړې وو چې څوک ورته هم دننه نشوتللې اوسبب درعب کښې دمفسرینومتعدد اقوال راغلیدي څوک وائي چې سترګي کولاوپاتې کیدل سبب درعب وو،څوک وائي چې دهغوئ ویخته اونوکونه اوږده شوي ووڅوک وائي چې اړخونه به ئې په کثرت سره بدلول رابدلول، اوڅوک وائي چې محل وقوع دغارداسې وه چې سړې به هلته یریدلو څکه چې دابادئ نه لرې په یواوچت غیرابادځائ کښې وو،لیکن داټولې توجیهات خلاف ظاهراوخلاف متبادردي، صحیح خبره داده چې الله ﷻ ددوئ غاردرعب نه ډك کړې وو،اوخطاب په ﴿ٱطَّلَعۡتَ﴾او﴿لَوَلَّیۡتَ﴾کښې اګرچې حضورﷺ ته دې لیکن مقصود پدې سره عام انسانان دي نودحضورﷺ مرعوبه کیدل لازمې ندي څکه چې الله ﷻ حضورﷺ ته ددې نه لوئ لوئ قدرتونه اوعجائبات ښکاره کړي وو،اوکچرې مقصود بالحکم هم حضورﷺ شي نوبیامرادپدې سره په اعتباردنفس طبعیت بشریه سره دې یعني نفس طبعیت بشریه چې مرتبه دلابشرط شئ ده نودهغې په اعتبارسره رعب اوفرارمراددې،اوهرچې دې خطاب حضورﷺته مرتبه دبشرط شئ یعني نبوت دصفت په متصف کیدلوکښې نوپدې حکم سره ندې متصف، څکه چې پدې مرتبه کښې الله ﷻ

حضورﷺ ته ددي نه هم لوئ لوئ عجائبات اوقدرتونه خودليدې چې دعام انسان لپاره دهغې كتل ناممكن دي(۳)اوياتنه مراداطلاع حاصل پدوئ باندي بغيرداذن اواجازت دالله جل جلاله نه ده،نوپدي صورت كښ رعب اوفرارراخي، اوبغيرداذن دالله جل جلاله نه حضورﷺ اطلاع نه وه حاصل كړي اونه ده حضورﷺ نه، دا ممكنه وه نوددي وجه نه ترتب دجزاء پري نيشته دي

وَكَذٰلِكَ بَعَثْنٰهُمْ لِيَتَسَآءَلُوْا بَيْنَهُمْ ۭ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ كَمْ
اودغه شان بيداركړل مونږه دوئ لپاره ددي چې تپوسونه اوكړي په خپل مينځ كښ اوئيل يوويونكي ددوئ نه چې څومره وخت
لَبِثْتُمْ ۭ قَالُوْا لَبِثْنَا يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ۭ قَالُوْا رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَا
حصارشوئ تاسو دوئ اوئيل حصارشوي يومونږه يوه ورځ يانميګړې ورځ. دوئ اوئيل رب ستاسو ښه خبردې په هغې
لَبِثْتُمْ ۭ فَابْعَثُوْٓا اَحَدَكُمْ بِوَرِقِكُمْ هٰذِهٖٓ اِلَى الْمَدِيْنَةِ فَلْيَنْظُرْ اَيُّهَآ اَزْكٰى
چې حصارشوئ تاسو پس اوليږئ تاسو يوكس پدي پيسو خپلو سره ښارته. پس اوديې ګوري چې كوم يوددوئ نه زيات پاكيزه
طَعَامًا فَلْيَاْتِكُمْ بِرِزْقٍ مِّنْهُ وَلْيَتَلَطَّفْ وَلَا يُشْعِرَنَّ بِكُمْ
خوراك والادي پس راى وړي تاسوته رزق دهغه نه اونرمي دې كوي اونه دې خبره وي په تاسو باندې
اَحَدًا ۝ اِنَّهُمْ اِنْ يَّظْهَرُوْا عَلَيْكُمْ يَرْجُمُوْكُمْ اَوْ يُعِيْدُوْكُمْ
هيڅ څوك.بيشكه دوئ كچرې غالب شي په تاسوباندې سنګساربه كړى تاسويابه مواوګرځوي تاسو،واړه وى،
فِيْ مِلَّتِهِمْ وَلَنْ تُفْلِحُوْٓا اِذًا اَبَدًا ۝
خپل دين ته اوهرګزبه كامياب نشئ تاسوپدغه وخت كښ هيڅري هم

﴿وَكَذٰلِكَ بَعَثْنٰهُمْ﴾ دامتعلق دې په ﴿ثُمَّ بَعَثْنٰهُمْ﴾ سره اودهغې تفصيل دې. اوپدي كښ دهغوئ دخوب نه درابيدارولو حالت اوحكمت ذكركيږي چې دوئ ديوبل نه تپوس اوكړې چې څومره موده دوئ خوب كړيدې. نودابه معلومه شي چې اصحب كهف دخپل حالت نه هم خبرنوو.اوكاف په﴿وَكَذٰلِكَ﴾كښ دعامومفسرينو په نيزلپاره دتشبيه دي، مشبه

ایقاظ(رابیدارولو)دَدوئ دې، اومشبه به دغه انامتاوده کول) ددوئ دې اووجه دشبه داده چې دواړه حالتونه دال دې په کمال قدرت دَالله ﷻ باندې،نودعامو مفسرینو په مذهب دَایت مقصد دادې چې الله ﷻ ددوئ په صحیح بدن سره بغیردَانقباض دَنفس نه رابیدارولو حالت تشبیه ورکوي،دَاوږود خوب باندې اوده کولوحالت سره،چې دادواړه حالته دَالله ﷻ دقدرت لوئ نشانئ دي،یعني څرنګې مونږه دوئ په اوږدوخوب سره اوده کړي وو ،اوهغه حالت دالله ﷻ په قدرت باندې دال وو ،نودغه شانتي دوئ مونږه په صحیح بدن سره رابیدارهم کړل او دحضرت شیخ الشیوخ مولاناحسین علي صاحب رحمه الله په نیز(کاف) لپاره دَبیان کمال دې اودتشبیه لپاره ندې اودایت مقصد دادې چې پدې کښ دَالله ﷻ کمال قدرت بیانیږي چې الله ﷻ فرمائي چې دومره اوږدې مودې نه پس مونږه دوئ صحیح،سالم رابیدارکړل دازمونږه دَقدرت کمال وو اودَهغوئ په تصرف کښ دانوه، اوداتوجیه زیاته الیقه ده ددې مقام سره﴿لِيَتَسَآءَلُوا﴾ دامتعلق دې په﴿بَعَثۡنَٰهُمۡ ﴾پورې اولام دَغوره قول مطابق لپاره دَعاقبت دې اوبعض مفسرین فرمائي چې لام لپاره دَعلت دې اوداحکمت اوعلت دَبعث بیانیږي﴿قَالَ قَآئِلٞ مِّنۡهُمۡ ﴾مرادتنه دَهغوئ مشرمکسلمینا دې﴿كَمۡ لَبِثۡتُمۡ ﴾داسوال دې دَعدد نه چې څومره ورځې تاسوخوب اوکړو؟ اوباعث پدې سوال باندې یادَهغوئ ظاهري حالت بدلیدل وو چې خپل ظاهري حالت ته ئې اوکتلونوهغه بدل بدل وو نوځکه ئې سوال اوکړو، اویاورته لوږه سخته لریدلې وه نودوئ یقین پیداشو چې دادومره سخته لوږه دَډیروخت دَتیریدلودَوجې نه ده اویادوئ داوقاتو دَمونځ فوت کیدلودګبهراهټ نه داتپوس کړې وو.

﴿قَالُوا لَبِثۡنَا يَوۡمًا﴾نودوئ دَشمارېه باره کښ دوه ډلې جوړې شوې یوې ډلې تعین اوکړو اوبلې ډلې علم الله ﷻ ته حواله کړو ،او﴿أَوۡ ﴾لپاره دَشك دې چې پوره ورځ خوخوب کړیدې یانیمه ورځ اووجه داوه چې امارات دَخوب دَدوئ دَسترګونه نوو زائله شوي اودوئ خپل ځانونه نووکتلي نوځکه ئې داخبره اوکړه، اویا﴿أَوۡ ﴾لپاره داضراب دې چې اول ئې اوئیل چې پوره ورځ خوخوب کړیدې بیائې اوئیل چې ناپوره ورځ خوندې کړیدې بلکه څه حصه دَورځې خوب موکړیدې. اووجه داده چې دوئ چې کله غارته داخلیدلو نودَورځې اوله حصه وه اوچې کله

دَخوب نه رابیدارشو نومازیگر وخت وو.نودروځي اول حصي نه تراخرحصي پوري اکثره ورځ وي اواکثرلپاره حکم دکل وي نوځکه ئې اولاً اوئیل﴿لَبِثْنَا يَوْمًا ﴾اوچې حکم دکل ورته ورنکړې شي نواو په خپل اصل باندې پریخودلې شي نو﴿بَعْضَ يَوْمٍ ﴾دې. اویا﴿أَو ﴾لپاره دتفصیل دې چې ځنوکسانوپکښې اوئیل﴿لَبِثْنَا يَوْمًا ﴾اوځني نورو اوئیل چې﴿بَعْضَ يَوْمٍ ﴾بحر، اوداجواب ددوئ مبني وو په ظن غالب باندې، اوپه اجتهادباندې اودادلیل دې پدې خبره چې دظن غالب دَوجې نه قول کول اوعمل کول جائزدی اوداپه دروغوکښې نه راځي اګرچې امکان دخطاء پکښې موجود وي.

﴿رَبُّكُمْ أَعْلَمُ ﴾دادریمه ډله ده چې دَماقبل دَدواړو ډلو ردئې په احسن طریقې سره اوکړو چې ځنوئیل﴿لَبِثْنَا يَوْمًا ﴾اوځنو وئیل چې﴿بَعْضَ يَوْمٍ ﴾نودوئ ورته اوئیل چې مودي دَخوب نه تاسو نه یئ خبر، الله ﷻ بنه عالم دې پدې مودې باندې، اوبعض مفسرین فرمائی چې قائلین ددې قول﴿رَبُّكُمْ أَعْلَمُ ﴾دوئ ټول دي چې اول ئې خپل اقوال ذکرکړو تخمینا اوبیائې علم الله ﷻ ته حواله کړو تحقیقا.

﴿فَٱبْعَثُوٓاْ أَحَدَكُم ﴾هرکله چې دوئ دَاوړدخوب نه راپاسیدلو نودوئ ته لوږه لګیدلي وه نودَمودې دَخوب کښې بحث کول ئې پریخودلو اوچې کوم پدې وخت کښې اهم امروو، دَدوئ لپاره چې هغه خوراك وو نوهغې ته متوجه شو، او﴿فَٱبْعَثُوٓاْ﴾مرتب دې په مقدرجملې باندې، چې تقدیرئ داسې دې، ربکم اعلم بذلك لاطريق لكم الى علمه فخذوا فى شئ اخرممايهمكم(كشاف)

﴿بِوَرِقِكُمْ هَٰذِهِۦٓ ﴾مراد تنه هغه دراهم وو چې دوئ غارته راتلو په وخت کښې دَخپل ځان سره راغستي وو، اودادلیل دې پدې خبره چې اسباب مهیاکول حتی الوسع داخلاف دَتوکل ندې.

﴿إِلَى ٱلْمَدِينَةِ ﴾مرادتنه هغه معهود شهردې چې دوئ تنه وتلي وو﴿فَلْيَنظُرْ أَيُّهَآ ﴾مرادپه نظرسره بانظربصري دې اویاتنه نظرقلبي مراددې، اوپدې کښې دري هدایات دَهغوئ والاذکرکیږي چې خپل مبعوث ملګرې ته ئې کړي وو، اول هدایت داوو چې﴿فَلْيَنظُرْ﴾ځکه چې دوئ ته پته وه چې پدې شهرکښې ځنې کسان دَطواغیتواوبتانوپه نوم باندې ذبحې کوي،اودهغه دَذبحې نه خوراك

کول حرام دي،نوځکه ئې ورته اوئيل چې دَمشرك نه خوراك مه راوړه بلکه﴿أَزۡكَىٰ﴾يعني چې ذبحه ئې صحيح وي دهغه نه راوړه، نو﴿أَزۡكَىٰ﴾په معنې دَاطيب، يعني حلال سره دې اودا معنې زيته اليقه ده دمقام سره اوبعض مفسرينو﴿أَزۡكَىٰ﴾په معنې دَارخص سره يعني دَزيات ارزان پوش سره کړيده﴿وَلۡيَتَلَطَّفۡ﴾دادويم هدايت دې چې خپل حالت پټه ولولپاره دې دَچاسره چيرچاړنه کوي بلکه په خبرو کښې اومعاملاتوکښې نرمي دې کوي﴿وَلَا يُشۡعِرَنَّ بِكُمۡ أَحَدًا﴾دادريم هدايت دې يعني خپل حال دي چاته نه ښکاره کوي،يعني کچرې ګيرشي نونورملګري دې چاته نه ښائې

فائده:ددې ايت کريمه نه يوڅومسائل مستنبط کيږي(۱) کوم مسئلې پټه چې انسان ته نوي نودهغې علم الله ﷻ ته مفوض کول ضروري دي(۲) مسافرته زاد سفرانتظام کول ضروري دي(۳)، چې په کوم شهرکښې دَغيرمسلمو،ياپه کوم هوټل کښې دَحرام خوراك اکثريت وي نوهلته بغيرتحقيق خوراك کول جائزندي(۴) شرکت په مال کښې جائزدې(۵) مال مشترك دَتصرف لپاره وکالت هم جائزدې(۶)په مال مشترك سره اغستلې شوي خوراك اودغه شانتې شرکت په طعام کښې جائزدې اګرچې مقداردَخوراك مختلف وي څوك زيات خوراك کوي اوڅوك کم (احکام القرآن للجصاص)

﴿إِنَّهُمۡ إِن يَظۡهَرُواْ﴾داعلت دې دَماقبل لپاره او﴿إِن﴾ تعليليه ده يعني تاسونرمي دَخپل ځان دَپټولولپاره ځکه کوئ کچرې دوئ خبرشي په تاسوباندې نوتاسوبه رجم کړي اويابه موهغوئ خپل دين ته واړه وي، عام طوردَظهرَپه صلي کښې چې (على) راشي نوپه معنې دَغلبې سره وي، دلته په معنې دَاطلاع سره دَ ﴿يَرۡجُمُوكُمۡ﴾رجم په معنې حقيقي سره يعني په کاڼرو باندې ويشتل سره دې اوداسزابه په هغه دورکښې هرهغه چاته ميلاويده چې دَبادشاه بغاوت اونافرماني به ئې اوکړه (روح)،اوبعض مفسرين فرمائي چې مراد درجم نه رجم بالسب يعني سختې کنځلې کول دي چې دادَيومعزز اوشريف لپاره قتل نه هم سخته سزا ده،﴿أَوۡ يُعِيدُوكُمۡ﴾ مرادتنه اول ځلې داخلول دي اواعاده استعمال په صيرورة کښې داپه کلام عرب کښې ډيرکيږي، لکه وئيلې کيږي ماعدت الفعل كذا، چې څه به دې کارته اعاده اونکړم اومرادئې تنه ابتداء دکلام وي(کشاف) اوپه تقديم دَرجم کښې په اعاده باندې اشاره ده ثبات اواستقامت دَهغوئ ته په خپل دين باندې.

﴿وَلَن تُفۡلِحُوٓاْ إِذًا أَبَدٗا﴾اذا حرف جزاء دي اوداجمله جزاء ده لپاره دجملي شرطيي مقدري نوتقديردَعبارت داسي دي ان دخلتم في دينهم ولن تفلحو اذا ابدا اومراد په دخول سره په كفركښ حقيقة دي يعني چې تاسومجبوره كړې شئ اوكفرته داخل شئ حقيقة نولن تفلحوا نوترتب دَجزاء په كفر حقيقةً باندې ده اوهرچه دي فقط تلفظ په كلمه كفرباندې نودَهغې اجازت شته دي اوپه هغې صورت كښ عدم فلاح پرې نه مرتب كيږي، اوبعض مفسرين فرمائي چې تلفظ په كلمه كفرباندې كله كله سبب اوګرځيږي دَاستدراج شيطاني لپاره چې دَعامودنيوي مصلحتنو لپاره انسان په كلمه كفرباندې تلفظ كولوته تياروي چې دازريعه ګرځيږي دَحقيقة كفرلپاره نوددي وجه نه پدې باندې ترتب دَعدم فلاح راغې اويامراددَفلاح نه فلاح تام اوكامله مرادده .نوتلفظ بالكفراګرچه په حالت دَاكراه كښ جائزوي ليكن عزيمت اختياره ول اولې وي اوفلاح كامله په هغې باندې مرتبه ده،

وَكَذَٰلِكَ أَعۡثَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ لِيَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞ وَأَنَّ ٱلسَّاعَةَ
اودغه شان خبركړل مونږ(خلك)پدوئ باندې لپاره ددې چې پوهه شي چې بيشكه وعده دَالله ﷻ حقه ده اوبيشكه قيامت
لَا رَيۡبَ فِيهَآ إِذۡ يَتَنَٰزَعُونَ بَيۡنَهُمۡ أَمۡرَهُمۡۖ فَقَالُواْ
نيشته هيڅ شك په هغې كښ كله چې دوئ جګړه كوله په خپل مينځ كښ په باري داصحابوكهفوكښ پس اوئيل هغوئ
ٱبۡنُواْ عَلَيۡهِم بُنۡيَٰنٗاۖ رَّبُّهُمۡ أَعۡلَمُ بِهِمۡۚ قَالَ ٱلَّذِينَ غَلَبُواْ
چې جوړكړئ په دوئ باندې يوه ابادي(عمارت)رب ددوئ ښه پوهه دې په دوئ باندې اوئيل هغه كسانوچې زوراورو
عَلَىٰٓ أَمۡرِهِمۡ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيۡهِم مَّسۡجِدٗا ٢١
په خپل كارباندې چې خامخاجوړه وبه مونږه په دوئ باندې جمات(عبادت گاه)

﴿وَكَذَٰلِكَ أَعۡثَرۡنَا عَلَيۡهِمۡ﴾پدې كښ دَاصحاب كهفو دَرابيداړولو حكمتونه ذكركيږي چې خلكوته پدې يقين پيدا شي چې قيامت ضروروراځي، اودَقيامت په راتلوكښ څه شك نيشته پدغه زمانه كښ خلك دَبعث بعدالموت په باره كښ دوه فريقين وو ،يوفريق دَدې قائله وو چې هغوسره دَهغه زماني بادشاه هم شامل وو اوبل فريق چې هغودَدې انكاركولو ،نوچې كله داواقعه اوشوه

نو مسلمان فريق ډير خوشحاله شو ځکه چې هغوئ ته په خپل موقف او مدعي باندې يوه مشاهده حاصله شوه او ايماني قوت ئې زيات شو او مشركين ئې لاجوابه كړل او كاف په ﴿وَكَذَٰلِكَ﴾ كښې دَجمهورو په مسلك باندې لپاره دَتشبيه دې اومشبه به دَهغوئ اوده كول وو اوبيادوباره رابيدارول دي اومشبه په هغوئ باندې خلكو ته اطلاع وركول دي او وجه دَشبهي حكمت دې يعني لكه څرنګه چې دَهغوئ په اوده كولو كښې اوبيارا پاسولو كښې حكمت وو .نو دغه شان دَهغوئي په حالت باندې خلك خبرولو كښې حكمت وو ،چې هغه يقين دې په قيامت باندې. او د حضرت شيخ په نيز باندې كاف دلته هم لپاره دَبيان كمال قدرت دې يعني دا زمونږ كمال قدرت وو چې مونږ پدوئ باندې خلك خبر كړل، او (عثر)د (عثار)نه دې وښيلې كيږي پرمخي راغورځيدل (په مخ باندې)او بيا په عرف كښې دَهغې اطلاع لپاره استعماليږي چې هغه بغير دَطلب نه وي يعني ديوكار اطلاع كول نه غواړي اوهغه مشهور شي، او خلكو ته ئې اطلاع اوشي او مفعول اول د ﴿أَعْثَرْنَا﴾ محذوف دې چې هغه "الناس" دي.

﴿لِيَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ﴾ لام لپاره دَتعليل دې، غوره قول مطابق مراد دَ﴿وَعْدَ ٱللَّهِ﴾ نه بعث بعدالموت دَبدنونو سره دَارواحونه دې، اوبعض مفسرين فرمائى چې مراد تنه فلاح دَاصحاب كهفو ده نو اول مسلك په بناء ضمير دَجمع دَ﴿لِيَعْلَمُوٓا۟﴾ راجع دې منكرينو دَبعث ته او دَمسلك ثانى په بناء ضمير راجع دې اصحاب كهفو ته ﴿إِذْ يَتَنَٰزَعُونَ﴾ دا ظرف دې لپاره د ﴿أَعْثَرْنَا﴾ اوهغه مقدم ذكر كړې شو لپاره دَاظهار كمال عنايت، او يا ظرف دې لپاره دَ﴿لِيَعْلَمُوٓا۟﴾ او يا ورله عامل مقدر دې چې اذكر دې ځكه چې تنازع مخكښې وه دَاعثارنه او متنازع فيه يا امر دَبعث بعدالموت وو او ضمير دَ﴿بَيْنَهُمْ﴾ راجع دې كافرانو او مسلمانانو ته يعني چې دوئ تنازع كوله په خپل امر كښې چې هغه بعث بعدالموت دې او يا ضمير راجع دې اصحاب كهفو ته يعني دوئ دَاصحاب كهفو په امر كښې تنازع كوله او هغه په اصحاب كهفو باندې بناء او جمات جوړولو كښې تنازع وه، لكه ورستو الله تعالىٰ فرمائى ﴿فَقَالُوا۟ ٱبْنُوا۟ عَلَيْهِم بُنْيَٰنًا﴾ او ځني مفسرين فرمائى چې مراد دَدې تنازع نه دَهغوئ په ژوند او مرګ كښې تنازع ده چې كله هغوئ په دويم ځلې اوده شو نو خلكو تنازع جوړه كړه چاوئيل چې مړه دي او چاوئيل چې ژوندي دي او څوك وائې چې

ددي اصحاب کهفو په حالت کښې تنازع مراد ده چې چاوئیل چې دانیکان صالحان وو او چاوئیل چې علم ني الله ﷻ سره دې اومونږ پرې څه حکم نشولګولې اولنۍ دواړه توجیهات غوره دي.
﴿فَقَالُوا ابْنُوا عَلَيْهِم ﴾بناء برقول اول فاء په﴿فَقَالُوا ﴾ کښې فصیحیه ده اوتقدیردعبارت دارنګې دې چې فتوفاهم الله تعالى بعدان حصل الغرض من الاعثارفقالوا الخ اودویم قول په بناء فاء لپاره دتفصیل وعطف ده ماقبل کښې اجمالي منازع ذکراوشو اوپه ﴿فَقَالُوا ابْنُوا ﴾سره دهغې تفصیل بیانیږي،او ﴿بُنْيَنًا ﴾منصوب دې بناء برمفعولیت چې دامفعول به ده د﴿ابْنُوا﴾ لپاره اویامفعول مطلق دې دهغې لپاره اومراد ددې بناء اوتعمیرنه دهغوئ حفاظت وو ، ددې په ذریعې سره﴿رَّبُّهُمْ أَعْلَمُ بِهِمْ ﴾ داياجمله معترضه ده اودادمتنازعینُ کلام دې چې کله هغوئ داصحاب کهفو په نومونو ، نسبونو کښې اوپه تعداد کښې تنازع اوکړه لیکن څه حقیقت ته اونه رسیدلونوعلم ئې الله ﷻ ته حواله کړو اودائې اوئیل چې﴿رَّبُّهُمْ أَعْلَمُ بِهِمْ ﴾اویاداکلام دالله ﷻ دې چې پدې متنازعینوباندې رد اوکړو چې کله مجوسیانو اوئیل چې دامجوسیان دي،عیسائیانو وئیل چې عیسایان دي وغیره، نو الله ﷻ پدوئ باندې رد اوکړو، چې ددوئ رب په دوئ باندې ښه خبردې،
﴿قَالَ الَّذِينَ غَلَبُوا ﴾مراددډینه یابادشاه اودهغه ملګرې دې اویاتنه اولیآء داصحاب کهفودې اویاتنه مراد رؤسآء دهغې شهردی خلاصه دکلام داده چې کوم خلکوته غلبه حاصله وه نوهغوئ دافیصله اوکړه چې مونږه دغارپه خولې کښې یوجومات جوړه وو چې هغه به داصحاب کهفویادګاروي اوپه هغې کښې به خلك دالله ﷻ عبادت کوي اومراد په﴿مَّسْجِدًا﴾سره دهغې امت دمؤمنانو معبد(عبادت خانه) ده.

فائده بعضې خلکوپدې ایت سره استدلال کړیدې چې جمات جوړول په قبرونو دنیکانو خلکوداجائزدې، لکه خفاجي ذکرکړیدې په حاشیه دبیضاوي کښې، اویاددې زمانې ځنې مبتدعینوذکرکړیدی په خپلو کتابونو کښې،لیکن پدې ایت سره استدلال کول ځکه صحیح ندې چې پدې ایت کښې دهغوئ مدحه پدې عمل نده ذکرشوې بلکه په ایت کښې صرف دهغوئ غلبه ذکردې اوبیاخاص طورابن جریرطبرى رحمه الله فرمائي چې دامطالبه دکفارو وه اودمسلمانانو نه.عن ابن عباس رضي الله عنه قوله تعالى قال الذين غلبوا الخ قال يعني عدوهم (طبرى ج۸ ص۲۰۵) نو کچرې

داعمل دکفاروشي نوپه عدم جوازکښ بياخه تامل نيشته دي. اوکچري داقول دمسلمانو وي نوبياهم پدي سره استدلال کول صحيح ندي ځکه چي شرائع من قبلنا زمونږ لپاره هغه وخت مستدل ګرځيږي چي په هغې باندې انکارنوي واردشوي دجانبه دشارع نه.اوپه جماتونوجوړولوپه قبرونو دَصلحاؤباندي نهي اوانکاروارد شوي دي دجانبه دشارعﷺ نه.چي مفهوم دَهغې تواتررسيدلي دې،اګرچې لفظا متواترندې. عن ابن عباسؓ قال قال رسول اللهﷺ لعن الله زائرات القبور والمتخذين عليها المساجدوالسرج(ابوداؤد،ترمذی کتاب الصلوة. نسائی،ابن ماجه يعنی اللهﷻ لعنت وائي په هغه زنانوباندې چې(بې پرده.دسړو سره مخلوط، دقبرونو زيارتونو ته ځي،اوپه هغه چاچې په قبرونوباندې جماتونه جوړه وي اوپه قبرونوباندې ډيوي بلوي.اودمسلم په روايت کښ دې،الاإنّ من کان قبلکم کانوا يتخذون قبور انبياءهم مساجد،الافلاتتخذوا القبورمساجد انی انهاکم عن ذلك(مسلم ج۱)يعنی خبردارچې ستاسونه مخکښي امتونوبه دَخپلو انبياؤقبرونونه جماتونه جوړول، خبردارتاسوقبرونه جماتونه،مه جوړوئي بيشکه ځه تاسو دَدينه منع کووم. اودغه شانتي دَبخاري اومسلم په روايت کښ دې، لعن الله اليهود والنصاری اتخذوا قبورانبيائهم مساجد(بخاری ج۱ کتاب الجنائز)يعنی اللهﷻ دي په يهودواونصاريٰ باندي لعنت اوفرمائي چې دوئ دَخپلو انبياء کرامو قبرونونه جماتونه جوړکړيدی.

دغه شانتي نورډيرروايات چې ذکرکړيدی په تفصيل سره قرطبي اوصاحب دروح المعانی په خپلوتفسيرونوکښ.

فائده۲:دَدي مذکوره احاديثومطلب دااغستل هم غلط دی چې دَمقبري سره نزدي جمات ندی جوړول پکار،ياقريب دَقبرسره دَمونځ عدم جوازباندې استدلال کول وغيره. بلکه علماء فرمائی چې کچرته يوقبرمنفصل دَجمات نه دَجمات په چارديوارئې کښ راشي اودهغه قبرتعظيم مقصدنوي نوداجائزدی اوکوم چې دَاحاديث نه معلوميږي هغه دَقبرتعظيم اوقبرته سجدي کول دي نفس مونځ اودهغوئ په قبرونوسره تبرك ناجائزندې دَدي وجه نه مدارك مقصدبيانوي چې يصلي فيه المسلمون ويتبرکون بمکانهم(مدارك،مظهری، معارف).

سَيَقُوْلُوْنَ ثَلٰثَةٌ رَّابِعُهُمْ كَلْبُهُمْ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ خَمْسَةٌ سَادِسُهُمْ
قريبه ده چې ځوك به وائي دوئ دري کسان دي څلورم ددوئ سپې ددوئ دي اوځوك به وائی چې دوئ پنځه تنه دي شپږم ددوئ

كَلْبُهُمْ رَجْمًا بِالْغَيْبِ ۚ وَيَقُولُونَ سَبْعَةٌ وَّثَامِنُهُمْ كَلْبُهُمْ

سپي ددوئ دي ويشتل كوي په غيبوسره .اوځوك به وائي چې دوئ اوه(۷)كسان دي اواتم(۸)ددوئ سپي ددوئ دي

قُل رَّبِّيٓ أَعْلَمُ بِعِدَّتِهِم مَّا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا قَلِيلٌ

نه اوايه رب څما ښه پوهه دي په شمار(تعداد)ددوئ باندې.نه پوهيږي ددوئ په شماربندي مګرلږ كسان

فَلَا تُمَارِ فِيهِمْ إِلَّا مِرَآءً ظَاهِرًا ۖ وَلَا تَسْتَفْتِ فِيهِم مِّنْهُمْ أَحَدًا ﴿۲۲﴾

پس جګړه(بحث)مه كوه ددوئ په باره كښ مګرجګړه(بحث)سرسري اومه كوه تپوس ددوئ په باره كښ ددي خلكوډهيڅ يوتن نه

﴿سَيَقُولُونَ ثَلَٰثَةٌ﴾قائلين ددي قول دَراجح مسلك مطابق اهل كتاب اومسلمانان دي. ځنواهل كتابو(يعقوبيه)دااوئيل چې ددوئ تعداد دري(۳)وو اوڅلورم ورسره سپي وو اوځنواهل كتابو(نسطوريه) دااوئيل چې هغوئي پنځه وو اوشپږم ورسره سپي وو. اومسلمانانو اوئيل چې هغوئې اوه وو اواتم ورسره سپي وو،داول دوه قولونوسره ﴿رَجْمًا بِالْغَيْبِ﴾اووئيلي شونومعلومه شوه چې هغه صحيح ندى اودريم قول داخل نه كړي شو﴿رَجْمًا بِالْغَيْبِ﴾ ، دلاندي، نومعلومه شوه چه دااقرب الى الصواب دي اوحضرت ابن عباس﷛ دَهغوئ اوه(۷)تعدادباندي جزم كړيدي اواستدلال ئې كړيدې په مخكني ايت سره چه﴿قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ﴾نوپه هغې كښ تپوس كوونكې يو(۱)دي.اوجواب وركوونكى كم ازكم دري(۳) يقيني دى.څكه چې صيغه دجمع﴿قَالُوا﴾ ذكرشويده. اواقل افراد دَجمع درى(۳)دي اوكوم كسانوچې مودي دخوب والاعلم الله ﷻ ته حواله كړي وو نودهغوتعداد هم كم ازكم دري(۳)دي.څكه چې هغه هم په صيغې دَجمعي سره ذكرشويده.﴿قَالُوا رَبُّكُمْ﴾نوداټول مجموعه اوه شو(مدارك ج۳ ص)او﴿ثَلَٰثَةٌ﴾خبردي دمبتداء محذوفى لپاره يعني هم ثلثة او﴿رَّابِعُهُمْ﴾جمله صفت دَخبردي،اوضميرپه ﴿رَّابِعُهُمْ﴾او﴿كَلْبُهُمْ﴾ دواړو كښ راجع دي﴿ثَلَٰثَةٌ﴾ ته او﴿رَّابِعُهُمْ﴾دَتكميل عددلپاره دي اوهركله چې مرتبه اوجنس دَسپي غيروو دَدوئ نه اودَدي وجه نه دَهغوئ دَسپي ذكر په هغې اسم سره اوشو چې دال دې په

مرتبي باندې، اوپديكښې اشاره ده چې اصحاب كهف دهرهغې درې كسانو پشان ندې چې سپي ورسره وي بلكه ددوئ حكم دنورونه جدادې، اودَدې وجه الله ﷻ ددوئ دَصحبت په بركت سره سپي هم په زمرې دَمتبتلين اومعتكفين كښې شماركړو (روح) ﴿وَيَقُولُونَ خَمْسَةٌ﴾دادويم فرقې قول دې او﴿وَيَقُولُونَ﴾اګرچه صيغه دَمضارع ده چې مشتركه ده بين الحال والاستقبال ليكن دلته تنه مرادصرف استقبال دې په قريني دَماقبل ﴿سَيَقُولُونَ﴾سره.ځكه چې داعطف دې په هغې باندې اوهغه خاص وو په مستقبل پورې دَوجې دَدخول دَسين نه نوداهم خاص دې په مستقبل پورې﴿رَجْمًا بِالْغَيْبِ﴾ دامنصوب دې مفعول مطلق دې، دَفعل مقدرلپاره يعنى يرجمون رجما بالغيب اويامفعول له دې دَ﴿وَيَقُولُونَ﴾ لپاره اومرادپه﴿بِالْغَيْبِ﴾ سره خبرغائب يعنى هغه پټ خبرچې دَهغې اطلاع دوئ ته نده وركړې شوې په داسې امركښې بحث كولوته رجمابالغيب وئيلې كيږي (كشاف)اويامراد دَرجم نه ظن دې اوپه كلام عرب كښې هربې دليله اوبې سنده خبرې ته رجمابالغيب وئيلې كيږي،لكه څرنګه يوانسان مجهول ځائ په كانړوباندې وولي او اطمينان ورته نوي خوپدې اميدوي چې كيداې شي صحيح ځائ باندې اولږي،نودغه شان بې سنده اوبې دليله خبرې هم وي.

﴿وَيَقُولُونَ﴾ددينه هم مراد استقبال دې﴿سَبْعَةٌ وَثَامِنُهُمْ﴾(ثامنهم) جمله په موضع دَصفت كښې ده لپاره دَماقبل،ماقبل اقوال كښې عدد اودَصفت په مينځ كښې (واو) نووظاهركړې شوې اوپدې ځائ كښې (واو ذكرشولو)، پدې واوكښې دَمفسرينو متعدد اقوال راغليدي(۱)علامه زمخشري پدې جزم كړيدې چې داواو تاكيديه دې،اوواو تاكيديه هغه واو ته وئيلې كيږي چې هغه داخليږي په هغه جملې باندې چې هغه صفت دَنكرې لپاره واقع شوې وي، اوياحال واقع شوې وي دَمعرفې نه لكه وما اهلكنا من قرية الا ولها كتاب معلوم كښې چې واو دې.

اوديته واو تاكيديه ځكه وائي چې ددې (واو) فائده داده چې دې پدې دلالت كوي چې داموصوف پدې صفت باندې متصف كيدل يااذوالحال معرفه پدې كيفيت باندې متكيف كيدل امرثابت اومستقردې، اوپديكښې څه قسم تردد اوشك نيشته دې،اوهركله چې داامرصحيح اوثابت وونوددې وجه نه واوپكښې ذكرشواوداخل نه كړې شودَرجما بالغيب دَلاندې.

(۲) بعض مفسرين فرمائی چې داواوعاطفه دې اومعطوف عليه ورله جمله مقدره ده اوداليپاره دَتصديق دَقائلينوددې قول ذکرشويدې تقديردَعبارت داسې دې ويقولون سبعة نعم وثامنهم كلبهم نوداجمله عطف ده په نعم، باندې، اوددې نظيرهغه قول دې چې يوسړې اوائي چې انّ زيداً شاعرا نوته ورته اوائې چې وفقيه نوګويا چې داداسې ده چې تادَده تصديق اوکړو اوداسې دې ورته اوئيل چې نعم هو كذلك وفقيه ايضا.

(۳) بعض مفسرين فرمائی چې پدې (واو) کښ اشاره ده دَمجموعي عددته دَمخکني دواړوقولينونه، چې دَمخکني دواړو قولينونه چې کومه مجموعه حاصليږي هغه مقصودده. چې مخکني قولينوکښ يوقول دَدرې (۳) وو اوبل دَپنځه نومجموعه ئې اته (۸) جوړيږې. اودا صحيح عددوو، نوديته اشارې کولوليپاره پدې عددثامنهم باندې واو داخل کړې شو (زادالمسير).

(۴) زجاج اومقاتل اوثعلبی فرمائی چې دا واو استنافيه دې (زادالمسير).

(۵) بعض مفسرين فرمائی چې دا (واو) ثمانيه دې او (واو) ثمانيه اصطلاح دَمتاخرينو نحويانو ده او (واو) ثمانيه هغه (واو) ته وئيلې کيږې چې هغه دَاته (۸) په عددباندې داخليږې، ځکه چې عرب تراوه (۷) پورې شماربغيرد واو نه کوې اوچې په اوه باندې زيات شي نوبياپرې واؤ داخله وې لکه التائبون العابدون الحامدون الخ (التوبه ۱۱۲) شوچې په اتم وصف والناهون عن المنكرباندې واو داخل کړې شويدې يادغه شان عسى ربّه ان طلقكن ان يبدله ازواجا خيرا منكن مسلمات الخ (التحريم ۴) شونودلته هم په اتم عددچې وابكاراً دې باندې واو داخل شويدې، دا اصطلاح اګرچې متاخرينو نحويانو قائمه کړيده خوپدې باندې علامه قفال اوابن قيم رحمه الله رد کړيدې، اومنقوضه ده پدې ايت کريمه سره هوالله الذى لااله الّاهو الملك القدوس السلام المؤمن المهيمن العزيزالجبارالمتكبر، چې پديکښ المتكبرباندې واو ندې داخل شوې (کبير) والتفصيل فی کتب النحو

﴿قُل رَّبِّيٓ أَعۡلَمُ﴾ عددکښ اختلاف نه وړستو اوس پدې جملې سره اشاره ده احسن طريقې ته په داسې مقام کښ، چې هغه الله تعالیٰ ته علم سپارل دې، حافظ ابن کثير رحمه الله فرمائی چې الله تعالیٰ اول دواړه قولونه داخل کړل، دَ﴿رَجۡمَۢا بِٱلۡغَيۡبِ﴾، دلاندې چې داخوياصحيح ندې اوياکه صحيح وې خودوئ اراده نوه کړې، اودريم قول ئ ذکرشواوسکوت تنه اوکړې شوپديکښ اشاره وه چې داقول فی نفسه صحيح دې، خوليکن پدې پسې داجمله ﴿قُل رَّبِّيٓ أَعۡلَمُ﴾ ذکرشوه نوپدې کښ ئې

دغه احسن طريقي ته اشاره اوکړه اوادب ئې بيان کړو چې په داسي مقام کښې علم الله ﷻ ته حواله کوئ ځکه چې دَداسي مقام په تفصيل کښې ضرورت نيشته.البته چې کوم په صحيح دليل سره معلوم وي نو دهغې ونيل پکاردي(ابن کثير ج۳)﴿مَّا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا قَلِيلٌ﴾حضرت ابن عباس رضي الله عنه عدد داصحاب کهفو اوه ذکرکړل اوفرمائيل ئې چې زه هم دهغه قليلونه يم چې کوم په صحيح عدد دَدوئ باندې خبردي.﴿فَلَا تُمَارِ فِيهِمْ﴾دا بل ادب ذکرکيږي چې ته دَدوئ سره داصحاب کهفو پدي واقعه کښې دَسرسري بحث نه سيوا زيات بحث مه کوه،اودَسرسري بحث مقصددادي چې دَدوئ سره په تعين دَعدد کښې مناظره مه کوه اوتکذيب ئې مه کوه صرف دَوحي مطابق واقعه ورته بيان کړه، اوپه عددکښې توقف کوه.﴿وَلَا تَسْتَفْتِ فِيهِم﴾دا بل ادب ذکرکيږي چې دَاصحاب کهفو په باري کښې دَاهل کتابونه څه قسم تپوس مه کوه ځه چې هغوئ صرف دَخپل اوهامونه خبري کوي اومستندي نوي اوتاته الله ﷻ دوحې په ذريعې ټوله واقعه بيان کړه،داآيت دلالت کوي چې واقعه داصحاب کهفو په اهل کتابو کښې متداوله وه په زمانه ته دَنزول دَقرآن کښې په مختلف طرق اوپه مختلف تفاصيلو سره خوليکن هغه ټول غيريقيني وو اودروغ ورسره خلط وو،اودغه شان ايت دلالت کوي پدي چې مسلمانانولره جائزندي چې دَخپل دين اويادَهغه ځيزچې دهغې ذکر په قرآن اوحديث کښې موجود وي دغې په باري کښې دَاهل کتابونه استفاده کوي البته په قصصودَاهل کتابو کښې چې عبرت وي ورکښې اومخالف نوي دَقرآن اودَحديث سره دَهغې نقل اوذکرجائزدي(لقوله عليه السلام حدثوا عن بنى اسرائيل ولاحرج).

وَلَا تَقُولَنَّ لِشَايْءٍ إِنِّي فَاعِلٌ ذَٰلِكَ غَدًا ﴿٢٣﴾ إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ
[1] اوهرگزمه وايه په باري ديوکارکښې چې زه کوونکې يم داکارصبامگر(داسي وايه چې) کچري خوښه شي دالله ﷻ
وَاذْكُر رَّبَّكَ إِذَا نَسِيتَ وَقُلْ عَسَىٰ أَن يَهْدِيَنِ رَبِّي لِأَقْرَبَ
اوياده وه رب خپل هرکله چې هيرکړي ته اووايه چې قريبه ده چې اوبه ښائي ماته رب زما ډيره نزدي (واضح،يابهتر)

---

(1) جمله معترضه

مِنْ هٰذَا رَشَدًا ﴿۲۴﴾ وَلَبِثُوْا فِيْ كَهْفِهِمْ ثَلٰثَ مِائَةٍ سِنِيْنَ

ددي ، وافعي نه په اعتبار د هدايت سره. او حصار شوي وو دوئ به غار خپل كښې درې سوه كاله د شمسي حساب موافق،

وَازْدَادُوْا تِسْعًا ﴿۲۵﴾

او زيات ئې نېر كړل نهه كاله د قمري حساب موافق

﴿وَلَا تَقُوْلَنَّ لِشَايْءٍ﴾ دا جمله معترضه ده او پديكښې ددرې (۳) ادابو تعليم ور كول مقصود دى

اول ادب دا دې چې څه كار په مستقبل كښې كوي نو هغه د الله ﷻ د مشيئت سره متعلق كوه

شان نزول: هركله چې قريشو د حضور ﷺ نه د روح، اصحابو كهفو او د ذوالقرنين په باره

كښې تپوس اوكړو نو حضور ﷺ دوئ ته اوفرمائيل چې غدا اخبركم. يعنى صبا به څه تاسو ته

د هغوئ متعلق خبر دركړم او ان شاء الله ئې نه اوئيل نو د هغې د وجې نه وحې پنځلس (۱۵)

يا څلويښت (۴۰) ورځې بنده شوه، حضور ﷺ ډير پريشانه وو نو اخر كار وحې راغله او دا ادب بيان

كړې شو

تنوين په ﴿لِشَايْءٍ﴾ كښې لپاره د تنكير دې او لام اجليه دې اى لاجل شيئ من الاشياء صغيرا كان

او كبيرا. ﴿إِنِّيْ فَاعِلٌ ذٰلِكَ﴾ كښې اشاره ده الشئ ته، او مراد په ﴿غَدًا﴾ سره مطلقا زمانه مستقبل ده

عرفا. اگرچه لغتًا ونيلې كيږي هغه صباته چې د نن ورځې پسې وي، ﴿إِلَّآ أَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ﴾ دا استثناء

د نهى نه ده، او په كلام كښې باملابست مقدره ده چې داخله ده په انّ باندې مقصد دا يت دا دې چې

نه د هيڅ يو څيز په باره كښې مه وايه چې دا به څه كووم مگر چې متلبس وي په مشيت د الله ﷻ

بوري يعنى انشاء الله ويونكې وي نو بيا وايه، او بعض مفسرين فرمائى چې مستثنې منه

غيرمذكوره ده چې هغه عموم د احوالو يا عموم د اوقاتو دې اى لاتقولن ذلك فى حال من الاحوال

الاحال ملابسته بمشية الله تعالى، او يا تقدير د عبارت داسې دې لاتقولن ذلك فى وقت من الاوقات

الاوقت ان يشاء الله (فتح القدير) او بعض مفسرين فرمائى چې استثناء قائمقام ده په ځاى

د تابيد باندې، لكه په دې قول د الله ﷻ كښې ومايكون لنا ان نعود فيها الاّ ان يّشاء الله (الاعراف: ۸۹)

نو عود الى الكفر مشيت دَالله ﷻ ندي نودَدي وجه نه مقصد ئې دادي چې مونږ به هميشه لپاره عود الى الكفر اونكړو، نودلته هم دغه تابيد مراد دې اى لاتقولنه ابدا (كشاف)

﴿وَاذۡكُر رَّبَّكَ﴾ دادويم ادب دې اوددې جملې څومطلبونه مفسرينو بيان كړيدى (۱) داحكم دَنسيان بيانيږي چې انشاء الله درنه هيرشي نوچې كله هم درته راياد شي نوبيائې اوايه (۲) مراد د ذكر نه استغفاردې، يعني چې ان شاء الله درنه هيرشي نوپدې هيريدلوباندې استغفاركوه (۳) بعض فرمائى چې مراد په ذكرسره دَالله ﷻ عذاب ياده ول دي.چې كله ستانه يوحكم هيرشي اوپاتې شي نودَالله ﷻ عذاب يادكړه (۴) بعض فرمائى چې مراد په (اذا نسيت) سره (اذا غضبت) دې يعنى چې كله تاغصه درشي نو الله ﷻ يادكړه، اوله معنې زياته غوره اولائقه ده دَمقام سره

فائده: (۱) انشاء الله استثناء ده چې داخليږي په كلام باندې لپاره درفع دحكم يعنى چې دكوم كلام سره انشاء الله اوئيلې شي نودهغې كول اونه كول دواړه برابروي اوفائده ئې داوي چې پدې سره انسان كاذب نه ګرځيږي په خپله خبره كښې اوددې وجه نه حضرت موسى عليه السلام حضرت خضر عليه السلام ته اوئيل چې ستجدونى ان شآء الله صابرا اوصبرئې اونكړې شوخوكاذب هم اونه ګرځيدو ځكه چې انشاء الله ئې وئيلې وواودَدې وجه نه حديث شريف كښې دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنه نه مروي دى فرمائى قال رسول الله ﷺ من حلف على يمين فقال ان شآء الله فلاحنث عليه يعنى چې چاپه يوكارباندې قسم او خوړلواوانشاء الله ئې اوئيل نودهغې مخالفت كولونه په ده باندې څه ګناه نيشته (۲) دَټولوائموپدې اتفاق دې چې كچري ان شاء الله دكلام سره موصولا اوئيلې شو نودامبطل دَحكم دې .طلاق،نكاح، قسم وغيره پدې سره نه واقع كيږي، كچرته يوسړې خپل بې بې ته اوئيل چې ته په ماباندې طلاقه ئې انشاء الله، نوداطلاق نه واقع كيږي، دغه شانتې نكاح اوقسم شو.ليكن اختلاف دَائموپه كلام غيرموصولې يعنى منفصل كښې دې، يعني يوسړې دَخپل كلام سره متصلا ان شاء الله اونه وائې بلكه منفصلا اووائې نوآيادَانشاء الله مغيرللحكم اومبطل دَحكم دې كه ندې؟؟ نوپدې كښې اختلاف دې، دَحضرت حسن بصري رحمه الله اودَحضرت طاؤس رحمه الله مسلك دادې چې ترڅوپورې دې پدې مجلس كښې وي نودَده انشاء الله وئيل معتبردې اودابه مغيرللحكم وي.

دَحضرت ابن عباس رضي الله عنه ،حضرت مجاهد رحمه الله،حضرت سعيدابن جبير رحمه الله اود حضرت ابو العاليه رحمه الله مسلك دادې چې كچري يوسړې موصولا انشاء الله اونه وئيل نوتركاله پورې

وئيلې شي. كه كال ورستو ورته رايادشي نودې دې انشاء الله اوائي اودجمهورو فقهاؤ مسلك دادې چې كچرې انشاء الله موصولا وو نومغيرللحكم دې ګڼې نه دې. دحضرت حسن بصري رحمه الله اودحضرت طاؤس رحمه الله استدلال دحضرت عكرمه روايت سره دې چې فرمائي. قال رسول الله ﷺ والله لاغزون قريشا والله لاغزون قريشا ثم سكت ساعة فقال انشاء الله نوددې معلومه شوه چې اتصال فى الكلام ضروري ندې بلكه وجود دمجلس ضروري دې، ليكن جواب تنه دادې چې داروايت دسماك نه قيس هم نقل كړيدې اوشريك هم نقل كړيدې، دقيس په روايت كښې اګرچه داسې راغليدي چې دوه خلې حضور ﷺ اوفرمائيل چې والله لاغزون قريشا، ثم سكت ساعة. ليكن دشريك په روايت كښې داسې راغليدي چې حضور ﷺ درې(۳)خلې اوفرمائيل چې والله لاغزون قريشا، ثم قال فى اخرهن ان شاء الله، نوددې روايت نه معلوميږي چې حضور ﷺ غلې شوې نووبلكه دريم خلې سره ئې متصلا ان شاء الله وئيلې وو، اوكه په ماقبل كښې ايمان كثيره وو يعنى ډيرقسمونه خوړلي شوې وو خوپه اخيركښې انشاء الله اوئيلې شي نودااستثناء به راجع وي ماقبل ټول كلام ته، اوامام جصاص رحمه الله فرمائي چې وهو اولى لماذكرنا، چې دشريك روايت اولې دې دقيس دروايت نه چې كوم مونږ اول ذكركړې وولېكن دمحدثينوپدې اتفاق دې چې ثقه راوي دې اوشريك ضعيف اوزيادت دثقه معتبروي اومخالفت دضعيف دثقه نه منكروي، نوزياته صحيح خبره هغه ده چې ابن كثير رحمه الله نقل كړيده دابن عباس رضي الله عنه نه په حواله دطبراني سره چې فرمائي، هى خاصة برسول الله ﷺ وليس لاحد منا ان يستثنى الافى صلة من يمينه (ابن كثير) والله اعلم. اودحضرت ابن عباس رضي الله عنه اودهغه دمتبيعينو استدلال پدې مذكورايت كريمه سره دې، ليكن دطبراني دروايت نه دامعلومه شوه چې دابن عباس رضي الله عنه مذهب دعاموخلكو په باري كښې داكثرفقهاؤپشان دې. اوانفصال صفت خاص دې په رسول الله ﷺ پوري، اوياد ﴿وَٱذۡكُر رَّبَّكَ﴾ نه مراد انشاء الله وئيل ندې بلكه نفس ذكرد الله تعالى دې څكه چې نسيان دشيطان دطرفه دې اوپه ذكرد الله تعالى سره شيطان تښتي، نونسيان هم ورسره ختميږي(ابن كثير) اوددې وجه نه ابن جرير رحمه الله دابن عباس رضي الله عنه ددې قول ستي ولوبعدسنة يعنى كچرې ان شاء الله دچانه هيرشي نوكه كال ورستوورته يادشي نودوائي مقصد دابيان كړيدې چې دانشاء الله، وئيلو دوه فائدې دي.

(۱)تبرك حاصلول دَوجي دَاداكولودَسنت نه(۲) الغاء اوابطال دَحكم دكلام نوكال ورستو وئيلوسره اگرچې سنت به ئې اداشي خو الغاء اوابطال دَحكم ورسره نه راځي دَهغې لپاره كلام سره اتصال دَاستثناء پكار دي(طبري) اودَجمهورو استدلال دَقرآن نه اودَمختلفوروايا تو سره دي

(۱) حضرت ايوب عليه السلام قسم خوړلې وو اوخپلې بی بی ته ئې وئيلې وو چې څه به تاسل(۱۰۰) لختي وهم، نوالله تعالیٰ دَحنث نه دَبچ كيدلوطريقه ورته اوښودله چې وخذبيدك ضغثا فاضرب به الخ نوكچرته متراخيااستثناء صحيح وې نو ايوب عليه السلام ته به دَهغې حكم كړې شوې وو(۲)دغه شان حديث شريف كښې مذكور دې حضور ﷺ ارشاد فرمائي من حلف على يمين فرای غيرها خيرا منهافلياءت الذى وهوخير واليكفرعن يمينه،نوكچرته استثناء صحيح وې نو بيادكفارې ضرورت به نه وو بلكه استثناء به كافي وه(۳)اودغه شان دَعقل تقاضا هم ده چې استثناء دموصولا صحيح شي نه مفصولا گني لازم به شي خلل په نظام دَزندگئ كښې،عهد ،اقرار، طلاق،عقود به قابل اعتبارپاتي نشي.

واقعه: منقول دي چې خليفه منصورته چادَامام ابوحنيفه رحمه الله خلاف چغلي اوكړه چې امام صاحب ستادَنيكه حضرت ابن عباس رضي الله عنه دَقول مخالفت كوي چې وائي انشاء الله به متصلا وئيلې شي اومفصولا اعتبارنه كوي، خليفه حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله طلب كړو اوتپوس ئې تنه اوكړو چې ته څمادَنيكه حضرت ابن عباس رضي الله عنه دَقول مخالفت ولې كوې؟ امام صاحب رحمه الله ورته اوفرمائيل چې دهغه قول ستاخلاف گرځيږي، څكه چې ته دَرعايانه دَوفادارئې اواطاعت بيعت واخلې ليكن هغوئ ستاددربارنه وتلونه وروستو انشاء الله اوائې نودَحضرت ابن عباس رضي الله عنه دَفتوې اودَقول مطابق هغه بيعت به قابل اعتبار نشي پاتې، نوخليفه دَامام صاحب قول تسليم كړو ،اوهغه چغلي كوونكې ئې دَخپل دربارنه اوشړلو.

﴿وَقُلْ عَسَىٰٓ أَن يَهْدِيَنِ﴾دَغوره قول مطابق اشاره پدي كښې په ﴿هَـٰذَا﴾سره واقعې دَاصحاب كهفوته ده اودايت مقصددادې چې دوئ ته واقعه دَاصحاب كهفوديرعجيبه ښكارې نودَدې وجه نه دَدې سوال ئې اوكړو نوته ورته اوايه چې قريبه چې څمارب به ماته زيات واضح واقعات اودلائل دَدې واقعې نه اوښائې لكه واقعات اوقصص دَانبياؤسابقينو اودهغوئ دَامتونو،

اويايه ﴿هَـٰذَا﴾سره اشاره شئ (منسې) هيركړلې شوې ته ده اودَايت مطلب دادې چې كله تاته هغه شئ چې ستانه هيركړې شوي دې يادنه شي نوته اوايه چې څمارب به ماته دَدې هيركړلې شوې

ځينه زيات غوره اوبهترڅيزبه اوښائي، اوياشاره وخت ته ده چې ځماړب به ماته ځما دسوال جواب دهغې وخت نه مخکښې اوښائي چې کوم ماتاسوته خودلې وو

﴿وَلَبِثُوا فِي كَهْفِهِمْ﴾ دجمهورو دقول مطابق واو استنافيه دې اواخباردې دالله ﷻ اوواصل واقعي ته عود دې اومتعلق دې په ﴿فَضَرَبْنَا عَلَىٰ آذَانِهِمْ﴾ پوري اودهغې اجمال تفصيل دې اوبعض مفسرين فرمائي چې واوعاطفه دې اوداعطف دې په يقولون باندې. اوداهم قول دې داهل كتابو ،دامروي دې دابن مسعود رضي الله عنه اوابن عباس رضي الله عنه نه

﴿ ثَلَاثَ مِائَةٍ سِنِينَ ﴾ پدې كښې دوه قرائته دی يوقرائت دجمهورودې چې هغوئ په مائة باندې تنوين وائې او سنين منصوب وائې چې دايابدل دې د﴿ثَلَاثَ مِائَةٍ﴾ نه اوياعطف بيان دې اوتميزندې ځكه چې تميزدمائة مفرد اومجروروراځي لكه چې پدې باندې تصريح كړيده نحاتو ،دويم قرائت دحمزه اوكسائي دې چې هغوئ ﴿مِائَةِ﴾ بغيردتنوين نه مضاف وائې سنين ته.اوسنين دهغوئ دمذهب موافق تميزدې د﴿مِائَةِ﴾ لپاره اوداقاعده چې تميزدمائة مفردوي اكثري ده كلي نده بلكه كله كله تميزجمع راشي په موضع دمفردباندې لكه دلته په ځائې دمفرد راغليده. اودقرآء نه منقول دې چې ځنې عرب سنين يعنى جمع په ځائې دسنة يعنى مفرد استعماله وي اودغه شان دابوعلي الفارسي نه منقول دې چې ددې اعدادو اضافت اگرچې احادوته مشهوردې خوليكن كله كله ئې اضافت جموع ته هم كيږئ البحرالمحيط،فتح القدير)اوسماع مقدمه وي په قياس باندې

﴿وَازْدَادُوا تِسْعًا﴾ مراد په تسعاسره نهه كالونه دې اومختصره جمله اونه وئيلې شوه چې ثلث مائةوتسع سنين بلكه داجمله جداذكركړې شوه،وجه داده چې پدې اسلوب سره ذكركولوكښې حساب شمسي اوقمري دواړوته اشاره كيږي ځكه چې اهل كتابوبه حساب دشمسي مطابق كونواوعربوبه دقمري مطابق كولو.

نودرې(۳۰۰)سوه كاله په اعتباردشمسي حساب سره دې اودرې(۳۰۹)سوه نهه كاله دقمري حساب سره دې،ځكه چې دشمسي حساب په سلوكالونوكښې دقمري حساب درې كاله زياتيږي،نوپه درې سوه كالوكښې نهه كاله قمري حساب سره زياتيږي نوددې وجه

نه ﴿وَازْدَادُوْا تِسْعًا﴾ جدا راوړي شو، اوعام طور باندې په حرف کښې اکثر کسر کله پوره کيږي چې نصف يا د نصف نه زائد وي، اوکله حذف کيږي چې کله د نصف نه کم وي. نو د لنه هم کسر حذف کړې شويدې ځکه چې فرق پوره نهه (۹) کاله ندې بلکه څه مياشتې او ورځې پرې زائدې دې، ځکه د شمسي کال تول (۳۲۵) ورځې او پنځه ګهنټې او په (۲۹) منټ دې او قمري کال تول (۳۵۴) ورځې اته (۸) ګهنټې او (۴۸) منټ دې. نو سالانه فرق د شمسي او د قمري (۱۰) ورځې (۲۱) ګهنټې او يو (۱) منټ دې او د سل (۱۰۰) کالو فرق (۱۰۸۷) ورځې (۱۳) ګهنټې او څلور منټه دې چې د دينه جوړيږي درې (۳) کاله (۲۴) ورځې (۱۱) ګهنټې (۱۲) منټه، نو پدې حساب سره د درې سوه کالو فرق په مينځ د حساب شمسي او قمري کښې راځي، نهه (۹) کاله، (۷۳) ورځې (۹) ګهنټې او (۴۸) منټه (روح) خو د کسر اعتبار ندې شوې نو ځکه ﴿تِسْعًا﴾ ذکر شو.

قُلِ اللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوْا ۚ لَهٗ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ
[1] اوايه ته چې الله ﷻ ښه پوهه دې په هغې موده چې دوئ پکښې حصار شوي وو [2] خاص الله ﷻ لره دې علم د پټ خيزونو د اسمانونو
وَالْاَرْضِ ۭ اَبْصِرْ بِهٖ وَاَسْمِعْ ۭ مَا لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِيٍّ ۡ
او د زمکې څه ښه ليدونکې دې او څه ښه اوريدونکې دې. نيشته لپاره د دوئ سيوا د الله ﷻ نه څوک مددګار
وَّلَا يُشْرِكُ فِيْ حُكْمِهٖٓ اَحَدًا ۝ وَاتْلُ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنْ كِتَابِ رَبِّكَ ۚ
اونه شريکوي الله ﷻ په خپلو اختيارتو کښې هيڅوک. [3] او لوله بيانه وه ته هغه چې وحې کړې شويده تاته د کتاب د رب ستا نه
لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ ۚ وَلَنْ تَجِدَ مِنْ دُوْنِهٖ مُلْتَحَدًا ۝
نيشته څوک بدلوونکې د کلماتو د هغه لره او هرګز به اونه مومې ته سيوا دده نه بل ځائ د پناه.

(1) امر متفرع عه اول امر متفرع

(2) ثمره قصه

(3) دوم امر متفرع ودليل وحی

﴿قُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ﴾پدي ايت کښې شپږ امورمتفرعه ذکرکيږي په واقعي داصحاب کهفو باندې.
د اونه تفريع ده په دې واقعي باندې.چې داصحاب کهفوصحيح مدت الله ﷻ ته معلوم دې اوپه
ول لبث يعنی﴿وَلَبِثُواْ فِي كَهْفِهِمْ﴾سره مراد مدت دخوب دهغوئ دې اوپدي لبث سره مراد
بعدالنوم يعنی دخوب دبيداريدلونه ورستوترمرګه پوري وخت دې چې دادخلکونه مجهول
دې،نوجمهوررومفسرينوباندې اعتراض نشي کيدې چې کچري﴿وَلَبِثُواْ فِي كَهْفِهِمْ﴾اخباردالله ﷻ
شي نوبياپدي ايت سره دهغې رد ولي کيږي؟؟ اوځنې مفسرين فرمائی چې دامتعلق دې
د﴿وَٱزْدَادُواْ تِسْعًا﴾سره،چې په﴿تِسْعًا﴾کښې خلکواختلاف اوکړو چې ځنوئيل چې دتسعانه مراد
نهه ساعات دې، چاوئيل مراد ورنه نهه ورځې دې چاوئيل چې نهه مياشتې مراد دې اوچاوئيل
چې نهه کاله تنه مراد دې،نوالله ﷻ اوفرمائيل چې ﴿قُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ﴾ليکن غورره توجيه اولنې ده
اود﴿تِسْعًا﴾ نه مراد نهه کالونه دې حتما،ځکه چې عددپدي کلام کښې دکالونوبيانيږي نه
دمياشتووغيره.﴿لَهُۥ غَيْبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾پدي سره ثمره دواقعي داصحاب کهفوذکرکيږي.
داصحاب کهفودذي عجيب اوغريب واقعي دوجې نه مشرکين مکه ته داشبه شوې وه چې
اصحاب کهف غيب دان اومختاردې،الله ﷻ دهغې تفصيلی رد اوفرمايلواوس په اخرکښې
دټولې واقعي ثمره اونتيجه بيانه وي چې غيب دان اومختارکل صرف اوصرف الله ﷻ دې
اوهرچه دې انبياء کرام اواولياء لکه اصحاب کهف نوهغوئ دالله ﷻ نيکان بندګان دی نده چاپه
نفع قادردی اونه ضرر اونه ورته علم غيب ثابت دې،لام په﴿لَهُۥ﴾ کښې لپاره داختصاص علمي دې
اوتقديم دله لپاره دافادي دحصردې،چې داسمان اودزمکې دپټ ځيزنوعلم الله ﷻ سره
دې،اوهرکله چې الله ﷻ په پټ ځيزونوباندې عالم دې نوپه ښکاره ځيزونوباندې په طريق اولې
سره عالم دې نوددينه په ټولومخلوقاتو باندې علم دالله ﷻ ثابت شو﴿أَبْصِرْ بِهِۦ وَأَسْمِعْ﴾دا
دواړه صيغي دتعجب دی اوکلام مندرج دې د﴿قُلْ﴾ دلاندې يعنی قل الله اعلم اوقل ابصربه واسمع
او﴿بِهِۦ﴾ضميرراجع دې الله ﷻ ته اوواقع دې په محل درفع کښې ځکه چې دې فاعل دې دفعل
تعجب لپاره.اوباء پکښې زائده ده نوداتعجب دالله ﷻ دطرف نه ندې اومراد پدي تعجب سره

مبالغه ده په اوريدلو اوكتلوكښې اوپدې سره اشاره مقصود ده چې علم دَالله ﷻ دممكن توپ ن پواسطې دَحاسې سره ندې بلكه علم دَالله ﷻ مطلقا حضوري قديم دې اودغه شان دادليل دې پدې چې استعمال دَصيغودتعجب په ځنې صفاتودَالله ﷻ كښې جائزدې

اويادادواړه صيغې دَامردې اوضميردَ﴿بِهِۦ﴾راجع دې وحې يادين اوياهدايت ته قرطبي اوباء پدې صورت كښې هم زائده ده، يعني ابصروحي الله، ياابصردين الله. ياابصرهدى الله. اومراد په كتلوسره دَزړه كتل مراد دې يعني خپل ځان ښه پوهه كول، اومراد په﴿وَأَسْمِعْ﴾سره نوروخلكوته اورول دې، خواوله توجيه زياته غوره ده(والتفصيل في الروح) ﴿مَا لَهُم مِّن دُونِهِۦ﴾غوره قول دادې چې ضميرجمع راجع دې (اهل السموات والارض) ته اواهل اګرچه صراحت ندې مذكور خوحكمامذكوردې ځكه چې دامدلول دې دَ﴿لَهُۥ غَيْبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾لپاره. اومراد په﴿وَلِيٍّ﴾ سره اختيارمند، اوكارسازدې، اوياضميرراجع دې اصحاب كهفوته اومراد په ﴿وَلِيٍّ﴾سره محافظ دې اى لم يكن لاصحاب الكهف ولي يتولى حفظهم دون الله(قرطبي)﴿وَلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِۦٓ أَحَدًا﴾مراد په حكم سره قضاء اوقدردې، يعني الله ﷻ په خپل تصرف اواختيار اوقضاء اوقدركښې څوك هم ندې شريك كړې اويامراد دَحكم نه علم غيب دې، يعني الله ﷻ په علم غيب كښې څوك هم ندې شريك كړې، اى لايشرك في علم غيبه احدا(فتح القدير) داايت دليل دې په نفي دَعلم غيب عطائي باندې

فائده: قصه دَاصحاب كهفوپه ډيرو فوائدو باندې مشتمله ده اوددې دَمعظم نتائجوكښې يوه نتيجه داهم ده چې دَدينه معلوميږي چې كرامات دَاولياء حق دې اودَانكارګنجائش پكښې نيشته، دامسلك دَاهل اسنة والجماعت دې اوثابت په قرآن حديث اوعقل سره، اوصاحب دَشرح عقائدفرمائي والدليل على حقية الكرامات ماتواترعن كثيرمن الصحابة ومن بعدهم بحيث لايمكن انكاره، هرچه دې ثبوت په قرآن سره لكه (۱)واقعه دَمريمؑ چې هغې ته به تازه ميوه اورزق راتلو، تفصيل ئې په سورة آل عمران كښې تيرشويدې، اودغه (۲)شان واقعه دوزيردَسليمانؑ چې اصف بن برخياوو چې دَبلقيس تخت ئې دَسترګي په رپ كښې راوړې وو(۳)اودغه شان واقعه دَاصحاب كهفوشوه چې (۳۰۰)دري سوه كاله پراته وو پغيردَځه تغيرنه اوهرچې دې احاديث نولكه روايت

مبالغه ده په اوريدلو اوكتلوكښې اوپدې سره اشاره مقصود ده چې علم دالله ﷻ دممكنتوپـ
پواسطې دَحاسې سره ندې بلكه علم دالله ﷻ مطلقا حضوري قديم دې اودغه شان دادليل دې
پدې چې استعمال دَصيغو دتعجب په ځنې صفاتو دَالله ﷻ كښې جائز دې
اويادادواړه صيغې دَامردې اوضميردَ﴿بِهِۦ﴾راجع دې وحي يادين اوياهدايت ته .قرطبي
اوباء پدې صورت كښې هم زائده ده، يعنى ابصروحى الله، ياابصردين الله. ياابصرهدى الله. اومراد په
كتلوسره دَزړه كتل مراد دې يعنى خپل ځان ښه پوهه كول. اومرادپه﴿وَأَسْمِعْ﴾سره نوروخلكوته
اورول دې،خواوله توجيه زياته غوره ده(والتفصيل فى الروح) ﴿مَا لَهُم مِّن دُونِهِۦ﴾غوره قول دادې
چې ضميرجمع راجع دې (اهل السموات والارض) ته اواهل اگرچه صراحت ندې مذكور
خوحكمامذكوردې ځكه چې دامدلول دې دَ﴿لَهُۥ غَيْبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾لپاره. اومراد پهٔ
﴿وَلِيٍّ﴾ سره اختيارمند، اوكارسازدې، اوياضميرراجع دې اصحاب كهفوته اومراد په ﴿وَلِيٍّ﴾سره
محافظ دې اى لم يكن لاصحاب الكهف ولى يتولى حفظهم دون الله(قرطبى)﴿وَلَا يُشْرِكُ فِى حُكْمِهِۦٓ
أَحَدًا﴾مرادپه حكم سره قضاء اوقدردې، يعنى الله ﷻ په خپل تصرف اواختياراوقضاء
اوقدركښې څوك هم ندې شريك كړې اويامراد دَحكم نه علم غيب دې، يعنى الله ﷻ په علم غيب
كښې څوك هم ندې شريك كړې،اى لايشرك فى علم غيبه احدا(فتح القدير) داايت دليل دې په نفى
دَعلم غيب عطائي باندې.

فائده: قصه دَاصحاب كهفوپه ډيرو فوائدو باندې مشتمله ده اوددې دَمعظم نتائجوكښې يوه
نتيجه داهم ده چې دَدينه معلوميږي چې كرامات دَاولياء حق دې اودَانكارگنجائش پكښې نيشته،
دامسلك دَاهل اسنة والجماعت دې اوثابت په قرآن حديث اوعقل سره، اوصاحب دَشرح
عقائدفرمائى والدليل على حقية الكرامات ماتواترعن كثيرمن الصحابة ومن بعدهم بحيث لايمكن انكاره،
هرچه دې ثبوت په قرآن سره لكه (۱)واقعه دَمريم ؑ چې هغې ته به تازه ميوه اورزق راتلو ،تفصيل
ئې په سورة آل عمران كښې تيرشويدې، اودغه (۲)شان واقعه دوزيردَسليمان ؑ چې اصف بن
برخياوو چې دَبلقيس تخت ئې دَسترگې په رپ كښې راوړې وو(۳)اودغه شان واقعه دَاصحاب
كهفوشوه چې (۳۰۰)درې سوه كاله پراته وو پغيردَڅه تغيرنه اوهرچې دې احاديث نولكه روايت

دحضرت ابوهريرةﷺ چې نقل کړيدي امام بخاريﷺ چې(۱)حديث تکلم فی المهد دي انه قال النبیﷺ لم يتکلم فی المهد الاثلاثة الخ يادغه (۲)شان حديث الغارشونوردغه شان ډېراحاديث شو چې تفصيل سره ذکريدی خطيب شربينی په خپل تفسيرکښې(شربينی ج۲ ص۴۰۷)، اوصاحب دنبراس په خپل کتاب کښې(نبراس ص۴۷۷) من شاء فليطالعهما

﴿وَٱتۡلُ مَآ أُوحِيَ إِلَيۡكَ﴾دابل امرمتفرع دې په واقعي داصحاب کهفو باندې چې هغه په کثرت سره تلاوت کول دی دقرآن مجيدلپاره دتقرب الی الله. اودغه شان دليل وحی هم ذکرکيږي په دي چې عالم الغيب اومتصرف فی الامورصرف دالله ﷻ ذات دې اوبل څوک نيشته دې.

او﴿وَٱتۡلُ﴾يامشتق دې د(تلاوت) نه اوياتلونه په معنې داتباع سره اوامرلپاره دايجاد دفعل ندې بلکه ابقاء دفعل لپاره دې نوپه اول صورت کښې معنې ئې داده چې لازم تلاوة ذلك على اصحابك چې په خپلو اصحابو باندې دې قرآن تلاوت لازم اونيسه(روح) اودويم صورت کښې ئې معنې داده چې پدې وحې باندې عمل کول لازم اونيسه،﴿مِن كِتَابِ رَبِّكَۖ﴾من بيانيه دې اودابيان دې لپاره د﴿مَآ أُوحِيَ﴾ ﴿لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِهِۦ﴾دغوره قول مطابق مراد د﴿لِكَلِمَٰتِهِۦ﴾نه ټول قران دې، اودايت مقصد دادې چې دقرآن کلماتو بدلولو قدرت بغيردالله ﷻ نه بل چاته ندې حاصل، اوقرآن مجيددتحريف لفظي اومعنوي دواړونه محفوظ دې، اودې ايت تعارض دسورة النحل ايت نمبر(۱۰۱) واذا بدلنا اية مكان آية، سره نيشته دې ځکه چې دلته مراد دمبدل نه محرف يعنی تحريف کوونکې اوتبديلې کوونکې بغيردالله ﷻ نه مراددې، اوهرچه دې الله ﷻ نوهغه قادرمطلق دې که يوحکم منسوخ کوي يائې برقرارپريدي څوك پرې اعتراض نشي کولې، اوبل جواب دادې چې نسخ جداشئ دې اوتبديلي جداشې دې، بدلول ونيلې کيږي ديته چې يوشې اوبل حکم دېوعارض دوجې نه پريخودلې شي اودهغه په ځائې بل اختيارکړې شي، اونسخ عبارت دې دبيان دمدت دانتهاء الحکم نه چې کوم زمونږپه اوهاموکښې ثابت وو دائما ،اومطلق تبديلی نه نسخ نه ونيلې کيږي، اوځني مفسرين فرمائی چې مراد د﴿لِكَلِمَٰتِهِۦ﴾نه خصوصي طوروعد او وعيددې چې الله ﷻ دخپلو موحدينو ،صالحينوبندګانو سره کومې وعدې کړيدې، او مشرکينو سره کوم وعيدونه دې هغه څوك نشي بدلولې﴿وَلَن تَجِدَ مِن دُونِهِۦ مُلۡتَحَدٗا﴾واو تعليليه دې

اوداجمله دماقبل لپاره علت دې يعنې دَالله ﷻ دکلماتو لره څوک بدله وونکې نيشته دې ځکه چې دَالله ﷻ نه علاوه بل دَپناه ځائ نيشته دې، اوپديکښې رددي په شرک فى التصرف باندې

وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ
[1] اوټينګ کړه خپل ځان دهغه کسانوسره چې بلي(عبادت کوي)درب خپل صباني اوبيګاني اراده کوي غواړي. دوی
وَجْهَهٗ وَلَا تَعْدُ عَيْنٰكَ عَنْهُمْ ۚ تُرِيْدُ زِيْنَةَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَلَا تُطِعْ مَنْ
ذات(رضا)دهغه [2] اومه اړه وه سترګې خپلې ددوئ نه چې غواړې ته خائست د ژوند ددې دنيا [3] اوخبره مه منه دهغه چاچې
اَغْفَلْنَا قَلْبَهٗ عَنْ ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ وَكَانَ اَمْرُهٗ فُرُطًا ﴿۲۸﴾
غافل کړيدې مونږه زړه دهغه ديادزمونږنه او تابعداري ئې کړيده دخواهش خپل اودې کاردهغه دحدنه تيريدل
وَقُلِ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكُمْ ۗ فَمَنْ شَآءَ فَلْيُؤْمِنْ وَّمَنْ شَآءَ فَلْيَكْفُرْ ۚ
[4] اواوايه ته چې داقرآن حق دې دجانبه درب ستاسونه. پس څوک چې غواړي ايمان دې اوړي اوڅوک چې غواړي نوکفردې اوکړي
اِنَّآ اَعْتَدْنَا لِلظّٰلِمِيْنَ نَارًا ۙ اَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا ۚ وَاِنْ يَّسْتَغِيْثُوْا
[5] بيشکه مونږه تيارکړيدې لپاره دظالمانو اورچې چاپيره به وي په دوئ باندې ديوالونه دهغې اوکچرې دوئ فرياد اوکړي دتندې
يُغَاثُوْا بِمَآءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِي الْوُجُوْهَ ۚ
نوفريادرسي به ئې اوکړې شي په داسې اوبوسره چې پشان دويلي کړي شوي ګرمې تانبې به وي چې وريته وي به مخونه ددوئ

(1) سوم امرمتفرع

(2) چهارم امرمتفرع

(3) پنجم امرمتفرع

(4) ششم امرمتفرع

(5) تخويف اخروى

بِئۡسَ ٱلشَّرَابُ وَسَآءَتۡ مُرۡتَفَقًا ﴿٢٩﴾

ناكاره څکل (اوبه) دي او ډېر بد دي (دوزخ) ځای د استوګنې

﴿وَٱصۡبِرۡ نَفۡسَكَ﴾ دا دريم امر متفرع دې چې كوم خلك سحر او مانبام الله ﷻ ته دعاګانې غواړي او د هغه سره څوك شريك نه جوړه وي نو د هغوئ په مجلس كښې كينه او مشركينو او دنيا پرستو سره مجلسونه مه كوه او هغوئ نه جدا شه لكه څرنګه چې اصحاب كهف د هغوئ نه جدائي اختيار كړي وه، او مراد په صبرالنفس سره دوام او ثبات دې د هغوئ مجالسو كښې شركت كولو باندې چې د دوئ مجلسونو ته څه او د چادوجي نه دوئ د ځان نه مه جدا كوه

﴿مَعَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ﴾ مراد ددې نه هغه فقراء صحابه دي چې اكثرو اوقاتو كښې به د حضور ﷺ سره ناست وو لكه عمار، صهيب، سلمان، ابن مسعود او بلال ﷺ شو

شان نزول: ددې ايت په شان نزول كښې دوه (۲) واقعات مفسرينو ذكر كړيدي. يوه واقعه داده چې د كفار مكه رئيس اميه بن خلف وغيره حضور ﷺ ته راغلو او ورته ئې اوئيل چې كچرې ته دا فقراء د خپل ځان نه جدا كړې او زمونږ سره ئې په مجلس كښې نه شريكه وې نو مونږ به ستادين قبول كړو او ستادين ته به ترقې ميلاؤشي، نو پدې مشورې باندې الله ﷻ دا ايت نازل كړو چې ددې كفارو دا مشهوره او نه مني او دا غريب او فقراء مسلمانان د مجلس نه جدا كول خو در كنار بلكه ددوئ مجالس لازم او نيسه (روح)، او دويمه واقعه امام بغوي رحمه الله نقل كړيده د حضرت سلمان فارسي ﷺ نه چې عيينه بن حصين فزاري ﷺ د اسلام راوړلو نه مخكښې حضور ﷺ ته حاضر شو چې په هغه وخت كښې د حضور ﷺ سره فقراء صحابه كرام ناست وو، چې د هغوئ سره كمزورې لباس. او فقيرانه هيئت وو، نو عيينه فزاري ﷺ درخواست اوكړو چې مونږ لپاره ستا د مجلس نه مانع د غه شان خلك دې دا سې كمزورې او فقيرانو خلكو سره مونږ نشو كيناستلې. يا خو دوئ د خپل ځان نه مستقل لرې كړه او يا كم از كم زمونږ لپاره جدا مجلس قائم كړه، او دوئ لپاره جدا. نو پدې باندې دا ايت نازل شو، او طبري رحمه الله د حضرت عبدالرحمن بن سهل بن حنيف ﷺ او د حضرت قتاده ﷺ او د حضرت سلمان فارسي ﷺ نه نقل كړيدې چې كله دا ايت نازل شو نو حضور ﷺ به سيدو او د غه فقراء صحابه كرام ئې تالاش كړل حتى كه چې دوئ د جماعت په اخيرې حصې كښې

اوموندل چې د الله جَلَّ جَلَالُهٗ ذکرئې کولونو حضور ﷺ ارشاداوفرمایه. الحمدلله الذی لم یمتنی حتی امرنی ان اصبرنفسي مع رجال من امتی معکم المحیاومعکم الممات ترجمه:شکردې د الله جَلَّ جَلَالُهٗ چې ماته بې مرګ رانکړوتردې چې ماته بې حکم اوکړوچې څه خپل ځان تینګ اوساتم دخپل امت څه کسانوسره،تاسوسره څماژوندااوتاسوسره څمامرګ دې(طبری ج۸ ص ۲۱۵). ﴿بِٱلۡغَدَوٰةِ وَٱلۡعَشِيِّ﴾ د دینه یامراد دوام دې په عبادت باندې په اعتبارد عموم د اوقاتوسره.څکه چې دغسې عبارت محاورة استعمالیږي د عموم د اوقاتولپاره چې مبدا اومنتهې ذکرشي اومرادتنه کل وقت شي اویاتنه مراد سحراومابنام مخصوص اوقات دی اوتخصیص د دې اوقاتوڅکه اوشوچې دااوقات معظم اومقدس دی اوعام طورپرخلك پدې اوقاتوکښې غافل وي د وجې د اشتغال بالامورنه.

﴿يُرِيدُونَ وَجۡهَهُۥ﴾ داجمله په موضع د حال کښې ده د فاعل د ﴿يَدۡعُونَ﴾ نه یعنی ددوئ عبادت خالص د الله جَلَّ جَلَالُهٗ د رضالپاره وي اوریاء اوشهرت لپاره نوي اونه څه دنیوې اغراضولپاره وي.

﴿وَلَا تَعۡدُ عَيۡنَاكَ﴾ داخلورم امرمتفرع دې اومراد په نهې سره نهې ده د حقیرکنړلو د هغوئ نه. اودهغوئ ملګرتیاپریخودل دې یعني د دنیوې منافعولپاره هغوئ حقیرمه کنړه اودهغوئ ملګرتیامه پریږده﴿تُرِيدُ زِينَةَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا﴾ (ترید)فعل مضارع په موضع د حال کښې ده د ﴿عَيۡنَاكَ﴾ د کاف ضمیرنه، یعنی دوئ پریږدې اوروٴساقریش مجالس اختیارکړې داسې مه کوه،نومراد د زینت د دنیانه د روٴساؤاومالداروموشرکینومجالس اختیارول دې اوداحکم اګرچې حضور ﷺ ته دې په فرض اومحال سره لیکن مقصود تنه عام امت دې. څکه چې حضور ﷺ د دې امورونه معصوم اوپاك وو﴿وَلَا تُطِعۡ مَنۡ أَغۡفَلۡنَا﴾ داپنځم امرمتفرع دې چې دکومو خلکوزړونه د الله جَلَّ جَلَالُهٗ دذکراویادنه غافل دې اود خپلوخواهشاتواتباع کوي نوته د هغوئ اتباع مه کوه،اونهې په ﴿وَلَا تُطِعۡ﴾ کښې د تحریم لپاره ده اودادلیل دې پدې چې د فساق اتباع کول حرام دې، اومراد په ﴿مَنۡ أَغۡفَلۡنَا﴾ سره یاشغل بالدنیادې چې دهغوئ زړونه دنیاسره ډیرمشغول وي ای شغل عن الدین(ابن کثیر)اویاتنه مراد ختم قلب دې، چې د دوئ په زړونوباندې مهرد جباریت لګولې شوې دې (قرطبی) اومراد په ﴿مَنۡ﴾ سره امیه بن خلف دې اونسبت د ﴿أَغۡفَلۡنَا﴾ الله جَلَّ جَلَالُهٗ خپل ځان ته خلقا

وتكوينا كړيدي، اودامذهب دَاهل السنة والجماعت دي اومعتزله چې انسان دَافعال اختياريو خالق ګنړي نوهغوئ تاويل كوي چې غافلا عن الذكر بالخذلان اويا ﴿أَغْفَلْنَا﴾ترجمه كوي وجدناه عافلا عنه(كشاف) اومراد په﴿ذِكْرِ﴾سره قرآن، توحيد، تسبيحات وغيره ټول كيدي شي﴿وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ﴾ مراد په "هواء" سره شرك اوبدعت دي﴿وَكَانَ أَمْرُهُۥ فُرُطًا﴾يعنى په عقيدي أواعمالوكښ تجاوزكوونكي دي. چې دَالله ﷻ اودَرسول الله ﷺ دلاري اتباع هم نه كوي اومحبت ورسره هم نه ساتي(ابن كثير) ددينه معلومه شوه چې ددوئ دَمتكبرانه سوالونووجه دري څيزونه دي(۱) زړونه دَالله ﷻ دَياد نه غافله كيدل(۲) دنيوي لذتونو اوخواهشاتو كښ غرق كيدل(۳) دَدين په امورو كښ افراط كول﴿وَقُلِ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ﴾داشپږم امرمتفرع دي چې خلكوته دااعلان اوكه چې توحيد اوداقرآن چې په دي كښ مسئله توحيداونوراحكامات بيان شويدي دَالله ﷻ دَطرفه په حق سره نازل شويدي ﴿ٱلْحَقُّ﴾خبردي لپاره دَمبتداء محذوفى چې (هو)دي او﴿مِن رَّبِّكُمْ﴾حال مؤكده دي اوياخبربعدالخبردي اويا﴿ٱلْحَقُّ﴾مبتداء ده او﴿مِن رَّبِّكُمْ﴾ورله خبردي، اومبتداء خبردواړه معرفي دي نومفيدلپاره دَحصردي، نومقصدداشوچې حق صرف اوصرف هغه دي چې دَجانبه دَالله ﷻ نه وي، اومراد په ﴿ٱلْحَقُّ﴾سره توحيددي لكه چې دامنقول دي دَضحاك رحمه الله نه. اوياتنه مرادقرآن دي اودامنقول دي دَمقاتل نه،﴿فَمَن شَآءَ فَلْيُؤْمِن﴾داتهديد اوتخويف بيانيږي چې حق الله ﷻ واضح كړيدي اوس كه څوك مني نوخپله فائده ئي ده اوكه انكاركوي نوخپل نقصان ئي دي، الله ﷻ ته فائده اوضرر نشي رسولي. (فاء) لپاره دَترتب ده پماقبل باندي اوامرلپاره دَتهديددي اوتخييراووجوب وغيره لپاره ندي (كبير) اوپديكښ دليل دي پدي چې بنده ته اختيارحاصل دي، مجبورمحض ندي،﴿ إِنَّآ أَعْتَدْنَا﴾داقرينه ده پدي چې امرلپاره دَتهديددي﴿أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا ﴾دا تخويف اخروي اوتاكيددي په دغه تهديدكښ او(سردق) څني مفسرين فرمائى چې مفرد معرّب دي څكه چې په كلام عربي كښ پدي وزن مفرد ندي راغلي اوبعض فرمائى چې داجمع ده اومفرد ورله سرادق دي اوبعض فرمائى چې مفرد عربي دي اوپدي وزن مفردات راغليدى لكه قرابص،علابط وغيره شو اوددي متعددي معاني

راغلیدی(۱) فسطاط النار یعنی داور یوه خیمه ده. نودایایوه مخصوصه خیمه ده اوپه ددې جهنم تشبیه ورکړې شویده دخیمې سره لکه څرنګه خیمه محاط وي نودغه شان دي اوربه هم پدوی باندې احاطه کړیوي نودااستعاره تصریحیه ده اواحاطه ترشیخیه ده(۲) اوبعضې فرمائی چې سرادق هغه باړته وئیلې کیږي چې دخیمې نه ګیرچاپیره وي. نومطلب دادې چې په جهنم کښې به دجهنمیانونه ګیرچاپیره باړلګیدلې وي چې دوئ به دجهنم نه نشي وتلې(۳)بعض فرمائی چې مراد دسرادق نه لوږې دي چې هغې به دجهنمیانونه احاطه کړې وي لکه په سورة المرسلات کښې دي، انطلقوا الی ظل ذی ثلث شعب(۴)حضرت قتادة رحمه الله فرمائی چې دلوږې اواورمجموعې ته سرادق وئیلې کیږي(۵) بحرمحیط دې چې په دنیاکښې احاطه دټولې دنیانه کړیده اوپه اخرت کښې به دادااورسمندراوګرځې په اوپه کفاروباندې به محیط وي. وعن یعلی ابن امیة ان رسول الله ﷺ قال انّ البحرهومن جهنم ثم تلاتارا احاط بهم سرادقها(ابن کثیر)ترجمه:نبي ﷺ فرمایلې دي چې سمندردجهنم یوه حصه ده، بیابیې داآیت تلاوت کړو(۲) څلور(۴)دیوالونه دي دجهنم چې دهردیوال غټ والی(پلنوالی) دڅلوېښت کالومزل برابردې، لکه په حدیث دترمذی کښې دي

﴿وَإِن يَسْتَغِيثُواْ﴾ داباب استفعال دې وئیلې کیږي مددطلب کولوته فریاد کولوته،اودافریاد به دوئ دشدت عطش(سختې تندې) دوجې نه به کوي، اوبعض فرمائی چې (استغاث) وئیلې کیږي طلب الغیث ته(یعنی باران غوختلوته) یعنی دجهنم مختلف الانواع عذابونو اودسخت ګرمۍ دوجې نه به دوئ باران رحمت طلب کړي﴿يُغَاثُواْ بِمَآءٍ﴾ داتهکما وئیلې شویدې مراد تنه عذاب دې او(مهل) وئیلې کیږي هغه ګنداوخیرې ته چې دتیلوپه آخرکښې پاتې شي یعنی داسې ګنده اوبه به ورته پیش کړې شي چې بدمزګې کښې په دتیلو دخیرې پشان وي اودحضرت ابوسعیدخدرې رضی الله عنه نه روایت دې چې حضور ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چې انه کعکر الزیت فاذا قرب الیه سقطت فروة وجهه فیه(ترمذی) یعنی دااوبه به دتیلودخیرې پشان وي اوهرکله چې قریب کړې شي(دسخت ګرموالی دوجې نه) دمخ څرمنه به ئې په هغې کښې اوغورځیږي، اوابن مسعود رضی الله عنه نه نقل دې چې مهل وئیلې کیږي ویلې کړې شوې تانبې ،اوسپنې،اوسره،سپین زروته. اومجاهد رحمه الله دمهل تفسیرپه وینو اوزوو دجهنمیانو سره کړیدې،لکه چې په سورة ابراهیم کښې تیرشویدی چې ویسقیٰ من مآء صدید، یتجرعه الخ اوبعض فرمائی چې دایوقسم دباران دې ﴿يَشْوِي

﴿ٱلۡوُجُوهَ﴾دا دويم صفت دَهغې ابودې.اول صفت ئې ماقبل كښې تيرشوچې بدمزګې وه اودويم صفت ئې حرارت (سخت ګرموالې)دې يعنى داسې سختې ګرمې اوبه به وې چې دګرموالې دوجې نه به ئې مخونه وريته شي (اعاذناالله منهابفضله ومنه وكرمه) ﴿بِئۡسَ ٱلشَّرَابُ﴾مخصوص بالذم محذوف دې چې (مآء) دې اوپدې سره اشاره ده چې اوصاف ذميمه دَدې اوبو ډيرزيات دې لكه ګرموالى شو . بدبوشوه تنده پرې نوره زياتيدل شو .وغيره چې انسانې عقل ئې ادراك نه قاصردې پدې دنياكښې. ﴿وَسَآءَتۡ مُرۡتَفَقًا﴾مراد دَ﴿مُرۡتَفَقًا﴾نه مقام دې اواصل كښې مرتفق وئيلې كيږې په څنګلې سره تكيه لګولوته اودا كنايه ده په اطمينان سره كيناستلونه اوپه جهنم كښې به اطمينان نوې. نواطلاق پدې مقام باندې دَ﴿مُرۡتَفَقًا﴾مشاكلة شويدې څكه چې ورستو دَجنتيانولپاره دالفظ استعمال شويدې، اوياجهنم ته مرتفق وئيل تهكمادې اوبعض فرمائى چې ارتفاق وئيلې كيږې ديته چې څنګله اودرَولې شې اولاس دَځنې لاندې كيخودلى يس شي اودا حالت اوكيفيت دَحزن اودتحسروې، نومطلب داشوچې جهنم ځائ دَغم اوپريشانئ دې(روح).

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجۡرَ مَنۡ
[1]بيشكه هغه كسان چې ايمان ئې راوړې دې اوعملونه ئې كړيدى نيك(دسنت برابر) بيشكه مونږه نه برباده وو ثواب دهغه چا چې
أَحۡسَنَ عَمَلًا ۞ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهِمُ ٱلۡأَنۡهَٰرُ
ځائسته ئې كړې وې عمل ،دغو كسانو لپاره جنتونه دې دهميشه اوسيدلو،چې بهيږې به لاندې دبنګلودهغې نه نهرونه
يُحَلَّوۡنَ فِيهَا مِنۡ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٖ وَيَلۡبَسُونَ ثِيَابًا خُضۡرٗا مِّن سُندُسٖ وَإِسۡتَبۡرَقٖ
اجولې به شي دوئ ته په هغې كښې بنګړې دسروزرو اواغوندې به دوئ جامې شنې دنرې ريښمونه اوغتوريښمونه
مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِۚ نِعۡمَ ٱلثَّوَابُۚ وَحَسُنَتۡ مُرۡتَفَقٗا ۞
تكيه به ئې وهلې وې په هغې كښې په پالنګونوباندې ډيره ښه بدله ده(جنت) اوډيرخائسته ځائ دې دستوږنې

---

[1] بشارت اخروى

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا ﴾پديکښې بشارت اخروي ذکرکيږي مؤمنانوته انّ حرف مشبه بالفعل دي ﴿ٱلَّذِينَ ﴾موصول او﴿ءَامَنُوا ﴾ معطوف عليه او﴿وَعَمِلُوا ٱلصَّٰلِحَٰتِ﴾معطوف. دا اسم د انّ شو، او ﴿إِنَّا لَا نُضِيعُ ﴾ټوله جمله اسم سره دَخبره داخبرشو دانّ اول لپاره. اورابط منهم دي چې هغه محذوف دي اوپديکښې اشاره ده ديته چې نيک عمل هغه وخت قبول دي چې ايمان ورسره وي اوبلاايمان نيک عمل حبط وي(قرطبی) اوعطف دَ﴿وَعَمِلُوا ٱلصَّٰلِحَٰتِ﴾په﴿ءَامَنُوا﴾باندې دليل دې پدې چې ايمان اوعمل صالح کښې مغايرت دې، ايمان نفس اذعان اوتصديق قلبي ته وئيلې کيږي ﴿أَجْرَ مَنْ أَحْسَنَ﴾وضع دَاسم ظاهرده په ځائې دَمضمرباندې اوپديکښې اشاره ده چې نيک اعمال مکملات دَايمان دي، اومراد دَاحسن؛ نه اخلاص دې اودَدې ايت تعارض دَحديث عبدالله بن مسعود ﷺ سره نيشته دې چې منقول کړيدې امام بخاري رحمه الله اوغيره چې فوالله انّ احدکم او(قال) الرجل ليعمل بعمل اهل النّارحتی مايکون بينه وبينها غيرذراع اوقال ذراع فيسبق عليه الکتاب فيعمل بعمل اهل الجنّة فيدخلها اوانّ الرّجل ليعمل بعمل اهل الجنة حتی مايکون بينه وبنيها غيرذراع او (قال)ذراع فيسبق عليه الکتاب فيعمل بعمل اهل النّار فيدخلها(بخاری ج۲ کتاب القدر) ترجمه په خداي ﷻ دې قسم وي چې يوسړې به دجهنميانوعمل کوي ترديې پورې چې جهنم اودده په مينځ کښې به ګزيادګزنه کم(په اختلاف روايات)فاصله پاتې شي،نوتقديربه رامخکي شي اودې به دجنتيانوعمل شروع کړي اوجنت ته به داخل شي،اودهغه شان تې يوسړې به جنتيانوو الاعمل کوي ترديې پورې چې جنت اودَده په مينځ کښې به ګزيادګزنه کم(بنابراختلاف روايات)فاصله پاتې شي نوتقديربه راوړاندې شي نودې به دجهنميانوعمل شروع کړي اورته به داخل شي،دلته خودينه معلوميږي چې يوسړې به نيک عمل کوي کوي په آخرکښې به دده هغه نيک عمل بربادي شي، ځکه چې دَحضرت سهل ﷺ په حديث کښې ورسره اضافه راغليده چې مايبدوللناس. چې په ظاهرکښې به خلقوته نيک عمل ښکاري خوحقيقت کښې به نوي ځکه دغه نيک عمل به دې بطور رياء کوي(فتح الباري ج۳ ص۳۲۳) نوځکه به دَده اعمال ضائع شي اوجهنم ته په داخل شي، اوځکه ورسره دلته پدې ايت کښې هم ذکردَاحسن ورسره اوشولو ،اودا نه ضائع کول يعني پدې نيک اعمالوباندې اجر وثواب ورکول دَالله ﷻ دَطرف نه تفضلا دې په مسلک دَاهل السنت

والجماعت باندې﴿أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ﴾ دا تفصيل دې په بشارت اخروي کښې او﴿عَدۡنٍ﴾ په اصل کښې ونيلې کيږي اقامت ته اودَجنت توصيف په عدن سره ځکه کيږي چې جنت هم مقام داقامت قائمه دې او دَحضرت ابن مسعود ﷺ نه مروي دې چې عدن دَيو مخصوص جنت نوم دې﴿يُحَلَّوۡنَ فِيهَا مِنۡ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٖ﴾ اول (من) ابتدائيه دې اودويم (من) بيانيه دې داذکردَلباس دې وروستو دَذکر دَمکان نه، اولباس په دوه قسمه دې(۱)يولباس تستر او(۲)دويم لباس تحلي. نوپه ﴿يُحَلَّوۡنَ﴾ سره لباس تحلي ذکرکيږي، اوپه﴿وَيَلۡبَسُونَ﴾سره لباس تستر ذکرکيږي. اوتقديم دَلباس تحلي په تستر له وجې دَتعظيم نه دې، ځکه چې جنتيانو ته لباس تحلي وراچونکې يابه پخپله الله ﷻ وي اويابه فرشتې وي په حکم دَالله ﷻ سره. اوځکه چې لباس تحلي وراچوونکې بل څوك دې ددې وجه نه ﴿يُحَلَّوۡنَ﴾ صيغه دَمجهول ذکرشوه په خلاف دَلباس تستر نه چې دهغې اچوونکې به په خپله جنتيان وي ددې وجه نه ﴿وَيَلۡبَسُونَ﴾صيغه دَمعلوم ذکرشوه، اودَدې ايت تعارض دَايتونو دَسورة الدهر وحلوا اساور من فضة(الدهر) اودَسورة الحج يحلون فيها من اساور من ذهب ولؤلؤا (الحج) اودسورة فاطر جنت عدن يدخلونها يحلون فيها من اساور من ذهب ولؤلؤ(فاطر) سره نيشته دې(۱) ځکه چې داکالې (اساور) به څنې دَسرو زرو، څنې دَسپينوزرو اوڅنې به دَملغلرونه جوړشوې وې، (۲)اويادا چې اصل بنګړي به دَسروزرو وي او اوبه به ورته دَسپينوزرو ورکړې شوې وي اوپه صفائې کښې به دَملغروپشان وي (۳)اويادا چې څنې حصه به ئې دَسپينو اوڅنې به ئې دَسروزرو وي اوګل کاري به پکښې په ملغلروسره شوي وي اودااعتراض هم نه واريديږي پدې مقام کښې چه ﴿أَسَاوِرَ﴾لائق اومناسب ندي دَسړوسره بلکه داخودَزنانولپاره زينت دې اودَسړولپاره ندې، ځکه چې ددې دنيا اودهغې څائې په احکاماتو کښې فرق دې لکه څرنګه دَيوې علاقې اودَبلې علاقې په عرف کښې فرق وي دَيوې زمانې اودَبلې زمانې دَخلکو په رسم اورواج کښې فرق وي، نودغسې کوم څيزچې دلته عيب دې هغه به هلته حسن، زينت اواعزازبه وي، حضرت شاه ولي الله صاحب فرمائي

احکام آنجاديگراند واحکام اينجاديگراند.

﴿وَيَلْبَسُونَ ثِيَابًا خُضْرًا﴾ خضر جمع دَ اخضر ده شين ته وئيلې كيږي. او ذكر دَ خضر. حصر اَندي
خكه چې الله ﷻ فرمائي وفيها ماتشتهيه الانفس وتلذ الاعين(الزخرف ۷۱) اوتخصيص ني خكه او شو
چې شين رنګ په ټولو رنګونوكښ خائسته دې اونفس ته ورسره سرور اوخوشحالي ميلاويږي.
وقيل ثلاثة مذهبة للحزن الماء،والخضرة،والوجه الحسن(روح)﴿مِّن سُندُسٍ﴾ من بيانيه دې او(سندس)
باريك ريشم ته وئيلې كيږي، او(استبرق) غټ(موټا) ريشم ته وئيلې كيږي

﴿مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ﴾ دا كيفيت دَ جلوس بيانيږي او ارائك جمع دَ اريكة ده هغې پالنګ
ته وائي چې دَ ناوې لپاره تيار كړې شوې وي، څلورو طرفونو ته ورته پردې لګيدلې وي. او دا كنايه ده
دَ تنعم او اسائش نه، خكه چې دغسې پالنګونو باندې تكياګانې لګول دَ متنعمين (نعمت كښ روزلې
شوې) خلكو كار دې.

تنبيه: حقيقة دَ ارائك او دَ اساور او دَ سندس او دَ استبرق وغيره دَ جنت والا پدې دنياكښ
مجهول دې انساني فهم دهغې ادراك نه قاصر دې او دَ دنيا والا پالنګونو او بنګړو او ريشم سره
مشابهت صرف په لفظ كښ دې نه په حقيقت كښ.

وَاضْرِبْ لَهُم مَّثَلًا رَّجُلَيْنِ جَعَلْنَا لِأَحَدِهِمَا جَنَّتَيْنِ مِنْ أَعْنَابٍ
[1]اوبيان كړه ته دوئ ته يو مثال ددوه سړو چې وركړې وو مونږه يو ددوئ ته دوه باغونه دانګورو

وَحَفَفْنَاهُمَا بِنَخْلٍ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمَا زَرْعًا ﴿٣٢﴾ كِلْتَا الْجَنَّتَيْنِ
او بيټ كړي وو مونږه هغه دواړه په كجورو سره او پيدا كړې وو مونږه په مينځ دهغې كښ فصل، دې دواړو باغونو به

آتَتْ أُكُلَهَا وَلَمْ تَظْلِم مِّنْهُ شَيْئًا ۚ وَفَجَّرْنَا خِلَالَهُمَا نَهَرًا ﴿٣٣﴾
وركولې ميوې خپلې او نه به ئې كمولو دهغې نه څه شې او روان كړې وو مونږه په مينځ دهغې دواړو كښ يو نهر

وَكَانَ لَهُ ثَمَرٌ ۚ فَقَالَ لِصَاحِبِهِ وَهُوَ يُحَاوِرُهُ أَنَا أَكْثَرُ مِنكَ مَالًا
او وه لپاره دده نور آمدني، پس اوئيل ده ملګري خپل ته چې ده خبرې اره ولې دهغه سره چې زه زيات يم ستانه په اعتبار دمال سره

(1) بيان طرق ثلاثه براى اصلاح منكرين طبقه اولى.

وَّاَعَزُّ نَفَرًا ﴿۳۴﴾ وَدَخَلَ جَنَّتَهٗ وَهُوَ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ ۚ قَالَ مَآ اَظُنُّ

اوغالب يم په اعتبار دډلي سره، اوورننوتلو دئ باغ خپل ته حال داچي دئ ظلم كوونكي وو په خپل خان باندي ونيل ئې چي خه نه كوم

اَنْ تَبِيْدَ هٰذِهٖٓ اَبَدًا ﴿۳۵﴾ وَّمَآ اَظُنُّ السَّاعَةَ قَآئِمَةً ۙ وَّلَئِنْ رُّدِدْتُّ اِلٰى رَبِّيْ

گمان چي هلاك به شي دا باغ چرته. اونه كوم خه گمان په قيامت چي قائم (واقع) به شي او كه چرته اوگرخولي شوم خه بوتلي شوم رب خپل

لَاَجِدَنَّ خَيْرًا مِّنْهَا مُنْقَلَبًا ﴿۳۶﴾ قَالَ لَهٗ صَاحِبُهٗ وَهُوَ يُحَاوِرُهٗٓ

ته نو خامخا به اومومم خه غوره ددي باغ نه خائ دور تللو. اوونيل ده ته ملگري خپل حال داچي هغه دده له جواب ور كولو

اَكَفَرْتَ بِالَّذِيْ خَلَقَكَ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ سَوّٰىكَ رَجُلًا ﴿۳۷﴾

آيا ته كفر كوي دهغه ذات سره چي پيداكړې ئې ته دخاورونه بيادنطفي نه بيائې برابر كړې ته سړې

لٰكِنَّا۠ هُوَ اللّٰهُ رَبِّيْ وَلَآ اُشْرِكُ بِرَبِّيْٓ اَحَدًا ﴿۳۸﴾

ليكن خه وايم) چي الله ﷻ رب خمادي اونه شريك كوم خه دخپل رب سره هيڅ څوك

﴿وَاضْرِبْ لَهُمْ﴾ دا اول امر مصلح ذكر كيږي اوواقعه بيانيږي لپاره داصلاح دمنكرينو چي هغوئي دنيوي شان وشوكت اومال، دولت دوجي نه حق سره تكراو كوي اودنيوي مال متاع باندي فخر كوي

بعض مفسرين فرمائى چي داايت دقبيلي دتمثيل محض نه، دي اووجود خارجي ددي واقعي لپاره نيشته دي، اودا صرف دافهام اوتوضيح لپاره بيانيږي، اوبعض مفسرين فرمائى چي داتمثيل دي دحالت دعيينه بن حصين اودهغه دملگرو اودحالت دسلمان فارسي رضي الله عنه اودهغه دملگرو دبنى اسرائيلو كښ ددوه (۲) رونړودحالت سره، چي په هغو كښ يومسلمان وو لوړنوم دهغه يهودا اويا تمليخاوو، اوبل كافروو اونوم دهغه فرطوس، فطروس يا قطفروو چي دادواړه رونړه وو دپلار په وراثت كښ دواړوته (۸۰۰۰) اته زره ديناره اورسيدلو. دواړو په خپل مينخ كښ تقسيم كړل اوخپله خپله حصه ئې واغستله، كافرخان له په زرو ديناربانديې يوعظيم الشان باغ واغستلو. نو هغه مسلمان (۱۰۰۰) زرديناره صدقه كړل اودعا ئې اوكړه چي يا الله ﷻ خما

ورور په زرو دیناروباندې زمکه واغستله اوځه ستانه په جنت کښې زمکه غواړم. هغه کافرپه زرو دینارو باندې ځان له کوراوبنګله جوړه کړه نودې مسلمان زر دیناره صدقه کړل اودعائې اوکړه چې یاالله ﷻ ځه ستانه په جنت کښې بنګله غواړم، هغه کافرزردیناره خرچ کړل اوځان له ئې واده اوکړو. نومسلمان زر(۱۰۰۰)دیناره دالله ﷻ په لاره کښې صدقه کړل اودعائې اوکړه چې یاالله ﷻ ځه ستانه سوال کووم چې ته ځمانکاح دجنت دحورو سره اوکړې. هغه کافربیازر(۱۰۰۰)دیناره خرج کړل ځان له ئې دکوراسباب خادمان.غلامان وینځې واغستلې. نومسلمان زر(۱۰۰۰)دیناره دالله ﷻ په نوم صدقه کړې اودعائې اوکړه چې یاالله ﷻ ځه ستانه په جنت کښې اسباب اوخادمان وغیره غواړم.

هرکله چې دې مسلمان خپل ټول مال دالله ﷻ په لارې کښې صدقه کړل نوځه وخت ورستو دته ځه حاجت پیش شو ،نوخیال ئې اوکړو چې خپل ورورپسې به لاړشم چې کیدې شي چې دهغه نه ماته ځه،شئ میلاوشي،نودې دهغه په لاره کښې کیناستو،نوچې کله دغه کافر ورور دخپلونوکرانو سره په لاره کښې تیریدلو نوخپل ورورئې اوپیژندلو تپوس ترې نه اوکړو هغه ورته اوئیل چې ځما ځه حاجت پیښ شویدې تاته،نوهغه کافرورته اوئیل چې مااوتاته خویوشان پیسې میلاؤ شوې وې نوتاخپلې پیسې ځه کړې، هغه ورته خپله دصدقاتوواقعه بیان کړه. نوهغه کافرته دخپلوباغونو ،مال، دولت اودنوکرانو ،خادمانو ذکراوکړو . اوپه ځنې روایاتوکښې دې چې دې کافرهغه مسلمان دلاس نه اونیسنواوخپل باغونوکښې ئې ورته چکر ورکړو خپل اولاد ،مال وغیره ئې ورته اخودلو اودیرپه فخراوغرور سره ئې ورته اوئیل چې﴿أَنَا۠ أَكْثَرُ مِنكَ مَالًا وَأَعَزُّ نَفَرًا﴾نودې مسلمان ورور ورته داسلام تعلیم اوتلقین اوکړو ،اودقیامت نه ئې اویرولولیکن هغه کافر ورته جواب کښې اوئیل چې﴿وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ﴾چې اول خوځه داګمان نه کووم چې قیامت به راشي اوکچرته قیامت راهم شي نوبیابه هم ځماانجام ښه وي، اوهغه غریب مسلمان ئې هسې اوشړلو ،نو الله ﷻ عذاب رااولیږو دهغه کافر مغرور باغات اوهرځه ئې ورله تباه کړل. اوبعض مفسرین فرمانې چې مصداق د﴿رَّجُلَيْنِ﴾ دوه(۲)کسان (رونړه) دمکې اوسیدونکې دې چې قبیله بنی مخزوم سره ئې تعلق لرلویومسلمان وو چې هغه دام المؤمنین حضرت ام سلمه رضي الله عنها اولنې خاوند حضرت ابوسلمه رضي الله عنه عبدالله بن عبدالاسود دې اودویم کافر چې دهغه نوم اسود بن

عبدالاسود بن عبدياليل وو﴿وَٱضْرِبْ لَهُم مَّثَلًا ﴾ (مثلا) مفعول به دي د اضرب لپاره او ﴿رَّجُلَيْنِ﴾ورنه بدل دي اوعبارت په حذف دمضاف سره دي اى حال رجلين اويا ﴿رَّجُلَيْنِ﴾ مفعول ثانى دي د﴿وَٱضْرِبْ﴾ لپاره چې دامتضمن دې معنې داجعل لره اوضميرد﴿لَهُم﴾راجع دې مؤمنانوته، اوداهم ممكنه ده چې دواړو ته (مؤمنانو كافرانو)راجع شي﴿مِنْ أَعْنَـٰبٍ ﴾ پديكښې اشاره ده كثرت دميوو ته اودهغې انواعو متعددوته،دا اول صفت ددغې باغ دی

﴿وَحَفَفْنَـٰهُمَا بِنَخْلٍ ﴾دادويم صفت دهغې باغ دي چې هيڅ يوځاې هم ددي باغ بيكاره نه وو چې په مينځ كښې فصلونه اومختلف قسم ميوې وې،اوګيرچاپيره تنه كهجورې اوميوې وې ﴿وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمَا ﴾دا دريم صفت دې اوپديكښې اشاره ده وسعت ددغې باغ ته. اوحسن نظم اوخائست دباغ ته، ﴿ كِلْتَا ٱلْجَنَّتَيْنِ ﴾داڅلورم صفت ددغې باغ دې عام طورباندې باغونه يوكال ميوه زياته اونيسي نوپه بل كال كمه وركوي، خوددې باغ نوعيت دنورو باغونونه بدل وو، هركال به ئې ميوه زياته وركوله اوكموالى به ئې پكښې نه راويستلو. لفظ د﴿كِلْتَا ﴾ اودغه شان كلا دبصريانو دمذهب موافق مفرددې خومعنىٔ تثنيه دې اواستعمال ئې بغيرداضافت تثنيې نه ،نه كيږي. اوسيبويه وائې چې كلتا په اصل كښې كلوى وو الف لپاره دتانيث دې اوواو بدل كړې شوپه تاء سره، نوكلتاشو اوبعض نحويان لكه ابوعمرو نحوې فرمائى چې تاء داصل كلمې نه نده بلكه تاء ملحقه ده لپاره دفرق دكلا سره اوفراء وائې چې كلتا تثنيه مؤنث دكل ده په اخيركښې الف دتثنيې زائد كړې شو، اولام تخفيفا ساكن كړې شونوكلتا تنه جوړشو، خوراجح مذهب دبصريانو دې نوددې وجه نه ورستو ضميرپه﴿ءَاتَتْ ﴾ كښې مفرد مؤنث ورته راجع شو، ﴿أُكُلَهَا﴾جمع داكل ده دمفرد اوجمع فرق په سكون دكاف اوپه ضمې دكاف سره دي،اول مفرد اوثانى جمع ده، ﴿وَفَجَّرْنَا﴾ داپنځم صفت ددې باغ دې چې ددې باغ په مينځ كښې يوعظيم الشان نهر هم وو چې هغې دباغ په حسن كښې نورهم زياتوالې كړې وو، اوپه باغ كښې دكوهې ضرورت ئې ختم كړې وو. واو و﴿وَفَجَّرْنَا﴾ كښې دمطلق جمع لپاره دې نولهذا دا اعتراض نه واريديږي چې تفجيردنهر مقدم وي په اعطاء دثمرباندې عقلا ،نولهذا دلته كښې هم مقدم كول پكاروو اونكته په تاخيردتفجيركښې

داده چې دا تفجیر یو مستقل نعمت وو. او باغونو دې نه بغیر هم فصل میوې ورکولې لکه چې په سورة البقرة ایت نمبر(۲۶۵) کښ دي. فان لم یصبها وابل فطلّ (روح) ﴿وَكَانَ لَهُۥ ثَمَرٌ﴾ دا عطف دې په ماقبل ﴿جَعَلْنَا﴾ باندې او مراد په ﴿ثَمَر﴾ سره نور قسم اموال دي ځکه چې عطف تقاضه دمغایرت کوي، نو پدې کښ اشاره ده چې دده لپاره نور ډیر اموال وو او د آمدنې ذرائع ډیر وو او په ځنې قرائتونو کښ ثمر بضم الثاء دې چې هغه وئیلې کیږي اموال کثیره ته. نو په اول (بفتح الثاء) صورت کښ دا کنایه ده د اموال کثیره نه او په دویم (بضم الثاء) صورت کښ خپله وضعي معنې ئې اموال کثیره ده ﴿فَقَالَ لِصَٰحِبِهِۦ﴾ فاء لپاره دتفریع ده، ماقبل کښ د کافر و الاموال او باغونه او د هغې حسن ترتیب وغیره ذکر شو اوس دهغه تکبر او غرور بیانیږي چې هغه په غریب مسلمان باندې په خپل کثرت مال او اولاد سره فخر او غرور کولو ﴿وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ﴾ واو حالیه دې او دا جمله حال واقع شویده د ضمیر د ﴿فَقَالَ﴾ نه، او ضمیر په ﴿يُحَاوِرُهُۥٓ﴾ کښ راجع دې کافر ته او یحاور باب مفاعله دې وئیلې کیږي مراجعت دکلام ته نو مقصد دادې چې دې کافر به هغه مسلمان سره جګړه او مخاصمت کولو په شرك بالله او په انکار بالبعث سره او په خپل مال او کثرت اولاد سره په مسلمان باندې فخر او غرور کولو (بحر).

او بعض مفسرین فرمائی چې دا حال دې د ﴿لِصَٰحِبِهِۦ﴾ نه، یعنې هغه مسلمان به ورته وعظ. نصیحت کولو او ده به فخر او غرور کولو ﴿أَنَا۠ أَكْثَرُ مِنكَ﴾ دا سبب د تکبر او غرور د مالدار ذکر کیږي، او اکثر اسم تفضیل دې، او مراد په ﴿وَأَعَزُّ نَفَرًا﴾ سره یا خدمتګاران او نوکران دي او یا ئې نه اولاد مراد دي. او دې احتمال ته ترجیح ورکړې شویده ځکه چې ورستو د فقیر مسلمان قول ددې په مقابل کښ ذکر کیږي نو هغې کښ ذکر دې. ﴿إِن تَرَنِ أَنَا۠ أَقَلَّ مِنكَ مَالًا وَوَلَدًا﴾ نو معلومه شوه چې دلته هم په ﴿نَفَرًا﴾ سره مراد اولاد دی ﴿وَدَخَلَ جَنَّتَهُۥ﴾ دا کلام په تقدیر د عبارت سره دې (ای مع صاحبه) ورسره مقدر دې او اضافت د جنت. ه. ضمیر ته لپاره د استغراق دې او مراد د جنت نه ټول هغه مال او ځیزونه دي چې هغه به ورنه فائده اغستله، برابره خبره که هغه یو باغ وو یا دوه (۲) یا زیات یا د باغونو نه علاوه نور اسباب وو. او جنت مفرد ذکر کولو کښ اشاره ده دیته چې

كافرلپاره جنت صرف دا دنيا اودَدي اسباب دي اونورجنت ورله نيشته دي.كشاف. كبير. اوياجنت ددي وجه نه مفرد ذكرشوچې دكافرداقول اوفخراوغرور اول باغ ته دداخليدلو په وخت كښ كړې وو ځكه چې دواړه باغونوته په يوځل داخليدل ممكن ندي. نودې چې څنګه اول باغ ته داخل شو اودَهغې حسن اومال ئې اوكتلو نوپه غروركښ مبتلاشو(بحر) اوياددې وجه نه مفرد ذكرشوچې دادواړه باغونه يوبل سره متصل وو اودَدواړو لپاره جداريعني ديوال يووو. لكه دَسدي نه نقل كړې شويدي چې دَدي باغونوپه مينځ كښ يونهروو اوديوال دَدواړو يووو. نو(جنّتين) ورته پدې اعتبارسره وئيلې شويدې چې نهرتقسيم كړې وو اوجنت ورته پدې اعتبارسره وئيلې شويدې چې ديوال ئې يووو(روح)﴿وَهُوَ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِۦ ﴾داياجمله معترضه ده چې واقع شويده دَدوه(۲) كلامينودكافر په مينځ كښ لپاره دَتنبيه دَدي خبري چې په مال باندې غرور اوتكبردې كفرته اورسولو چې هغه په حقيقت كښ په خپل ځان ظلم كول دي. اوياجمله حاليه ده اوحال واقع شويده دَضميرفاعل دَ ﴿دَخَلَ﴾نه. ﴿قَالَ مَآ أَظُنُّ ﴾داجمله مستانفه ده واقع شويده په سوال دَسائل كښ چې ګوياسائل سوال كولوچې دَه پدې وخت كښ څه وئيل نوجواب اوشوچې﴿مَآ أَظُنُّ أَن تَبِيدَ ﴾ (ان) مصدريه دې او﴿تَبِيد﴾دَباد يبيد نه وئيلې كيږي هلاكت ته. اودَ﴿أَبَدًا﴾ نه مراد حيات ابدې ندې ځكه چې دكفاروهم داعقيده نده چې انسان(بشخصه) به هميشه لپاره ژوندې وي اوچرته به هم نه مړكيږي.بلكه ددې نه مراد دادې چې دانعمتونه به برباديده زمانه خماسره وي.نو﴿أَبَدًا﴾نه مرادطول مكث اوحيات دې اوياتنه مراد حيات ابدې دې خوداقول په لسان حالي سره دې نه په لسان قالي سره. ځكه چې دَهغوئې حالت اواعمال. اوتكبرپدې دلالت كولوچې ګوياچې دَده يقين اوعقيده داوه چې په ده باندې قطعا مرګ نه راځي لكه چې داحالت دَاكثرو اغنياؤدې. (كشاف) ﴿وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ ﴾دازيادت دَهغه دې په كفراوطغياني كښ چې منكراوګرځيدلودَبعث نه﴿قَآئِمَةً ﴾مرادتنه تحقق دَقيامت دې. ﴿وَلَئِن رُّدِدتُّ ﴾پدې كښ خپل كرامت اوعزت ثابتوي چې كچري بالفرض قيامت راهم شي لكه څنګه چې نه ګمان كوي نوبيابه هم خماانجام ښه وي. اوهلته به هم ماته دَعيش وعشرت زندګي نصيب وي.اوامام رازيؒ فرمائي چې پدې غلط فهمئ كښ واقع كيدلوسبب داوو چې ده دا ګمان

وو چې په دنياكښ مال ميلاويدل دادده استحقاق ذاتي دي اودا استحقاق به بعد الموت هم باقي وي، نوځكه به دَده خيال وو چې اخرت كښ به هم ځماانجام ښه وي. حالانكه دنياكښ اكثرد مال كثرت لپاره دَاستدراج وي (كبير) ﴿مِّنْهَا﴾ ضميرراجع دې باغ ته اى خيرا من هذه الجنة. اوبعض قراتونوكښ ضميردَتثنيي راغليدې ﴿مُنقَلَبًا﴾ دظرف مكان دې يعنى ځائ دواپسي. اودامنصوب دې بنابرتميز ﴿قَالَ لَهُۥ صَاحِبُهُۥ﴾ دادَمشرك په جواب كښ دَموحدرورد كلام ذكركيږي اوځيل مشرك رورته وعظ اونصيحت كوي اودهغه دهري خبري جواب په طريقي دَلف نشرغيرمرتب وركوي، ﴿أَكَفَرْتَ بِٱلَّذِى﴾ دازجراوتوبيخ دې په شرك باندې. اواستفهام انكاري دې اودا په جواب دَهغه قول دكافركښ دې چې هغه وئيلي وو چې ﴿وَمَآ أَظُنُّ ٱلسَّاعَةَ﴾ اوپديكښ اشاره ده چې منكردَبعث اوشك كوونكي دَبعث كافر دې، اوداعتراض نه واريديږي چې دې خومنكردبعث نه نوو ځكه چې دَه وئيلي وو چې ﴿وَلَئِن رُّدِدتُّ إِلَىٰ رَبِّى﴾ داقول دَهغه دليل دې پدې چې دې مُقردَبعث وو، (۱) ځكه چې دَده دامذكوره كلام بطورشك دې ځكه چې داجمله شرطيه ده اوجمله شرطيه دال ده په تردد باندې او ايمان شرعي داعتقاد جازمه نه عبارت دې (۲) اودغه شان دَده داكلام على سبيل الفرض دې نه على سبيل التيقن دې (۳) اودغه شان داكلام مذكوره دال دې په نفس معرفت باندې اونفس معرفت مستلزم ندې ايمان لره، ځكه ډيرعارفين منكرين دَاخرت وي اواعتمادئې په خپل اموالوباندې وي (۴) اويامراد دكفرنه پدې ايت كښ كفر اوانكار دې دَتوحيد دَالله ﷻ نه ځكه چې دې مشرك وو لكه چې دَده خپل اعتراف مخكښ ذكركيږي چې ﴿يَٰلَيْتَنِى لَمْ أُشْرِكْ بِرَبِّىٓ أَحَدًا﴾ نومراد دَ ﴿أَكَفَرْتَ﴾ نه اشركت دې (روح) ﴿خَلَقَكَ مِن تُرَابٍ﴾ دادليل عقلي دې په بعث باندې، چې هغه ذات چې ته ئې اوّلا دَخاورونه پيداكړې ئې نوهغه په اعادي دَستاباندې هم قادردې اودَانسان دَپيدائش لپاره سبب بعيده تراب يعنى خاوره ده ځكه چې ابوالبشرحضرت ادم ؑ دَخاورونه پيداكړې شوې وو، اودغه شان نطفه جوړيږي دَويني نه اوويني لپاره سبب غذا ګرځيږي اوغذا انساني دَخاورونه پيداكيږي، نوددې وجه نه داقول دَمؤمن چې ﴿خَلَقَكَ مِن تُرَابٍ﴾ صحيح دې ﴿ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ﴾ (ثم) لپاره دَتراخي زماني دې، ځكه چې دَخاورونه غذاحاصله

شي دَهغې نه وینه جوړه شي اوبیادَویني نه نطفه جوړیږي اودانطفه سبب قریبه دي دانسان دَتخلیق لپاره، ﴿ثُمَّ سَوّٰىكَ رَجُلًا ﴾سوّي باب تفعیل نه دي دَدي استعمال په دوه(۲)معانیوکښ کیږي، کله په معنې دَبرابرولو سره راځي.چې دائې اصلي وضعي معنې ده اوکله استعمالیږي په معنې دَخلق اوایجاد کښ،لکه ونفس وَماسوَاها(الشمس:۷) قانون یدي لفظ کښ دادې چې کله دې متصل ذکرشي دَخلق سره نومراد به دَده نه هم خلق وي په کامل اواتم طریقي سره.بغیردَافراط اوتفریط نه، نودلته تنه مراد دامعنې ده چې ته ئې برابرسړې پیداکړې ئې او﴿رَجُلًا ﴾یامنصوب دې بناء یدي چې حال واقع شویدي دکاف ضمیرنه، اویامفعول ثانی دې دَ﴿سَوّٰىكَ﴾لپاره نومقصد دادې چې هغه ذات چې ته ئې دَیوحالت نه بل حالت ته اودیوطورنه بل طورته منتقل کړې.نوهغه یدي قادردې چې تادَخاورونه دوباره راپاڅوي، اودَبعث نه انکارکول اویادهغې په وقوع کښ شك کول دَالله ﷻ دَقدرت نه انکاراویاپه هغې کښ شك کول دي اوپه ذکردَ"رجلا" کښ اشاره ده تذکیرته په نعمت دَرجُلیت سره چې رجلیت دَالله ﷻ یونعمت دې﴿لّٰكِنَّا۠ هُوَ اللّٰهُ رَبِّيْ ﴾دااقرار اواظهارتوحیددې دَمؤمن دَطرف نه، اودااستدراك دې دَماقبل﴿اَكَفَرْتَ ﴾نه یعنی ته خوکفر کوې په توحیدباندې لیکن څه چې یم نوځه دَالله ﷻ دَوحدانیت اوربوبیت اقرارکوم، او﴿لّٰكِنَّا﴾ صیغه دَواحد ده جمع نده، اودامرکب دې دَ"لکن انا" نه همزه دَ"انا"نه حذف کړې شوه اونون په،نون کښ مدغم کړې شو.اوپه اخیرکښ الف لیکلې کیږي اوونیلې کیږي نه، اودَدې جملې ترکیب داسې دې چې انا مبتداء اول، هوضمیرشان مبتداء ثانی،اواسم الله ﷻ مبتداء ثالث، او﴿رَبِّيْ ﴾ خبردَمبتداثالثې لپاره، مبتدا خبردا جمله اسمیه خبرشولپاره دَمبتداء ثانی، مبتداثانی اوخبرداجمله اسمیه بیاخبرشو دَمبتدا اولې لپاره،اوبعض مفسرین فرمائی چې تقدیردَعبارت داسې دې، لکن اناقول، نودلته لفظ دَاقول مقدردې،نوترکیب به ئې داسې وي چې انامبتدا اواقول فعل فاعل هوضمیرشان مبتدا،اواسم الله ﷻ مبتداثانی او﴿رَبِّيْ ﴾ ورله خبر،مبتدا سره دَخبره داجمله اسمیه خبرشولپاره دَمبتدا،اومبتداء ثانی سره دَخبرنه دامقوله شوه لپاره دَقول،قول سره دَمقولې نه خبرشولپاره دَمبتداء اول ﴿وَلَآ اُشْرِكُ بِرَبِّيْٓ ﴾پدیکښ تعریض دې خپل رورمشرك طرف

ته. نو دا جمله دال ده پدې چې دې مشرك وو. او بعض مفسرين ددې جملې مقصد داسې بيانه وي چې خه، دَالله ﷻ سره په اعطاء كښې شرك نه كووم. كه غناوې او كه فقر دا ټول د الله ﷻ د طرف نه دي پدې تصرفاتو كښې څوك دَالله ﷻ سره شريك نيشته دې. او دا هم ممكنه ده چې مراد په شرك سره نفس كفر شي، ځكه چې كله كله ذكر دَشرك او شي او مراد ترې نه مطلق كفر وي لكه انّ الله لايغفر ان يشرك به الخ (روح).

وَلَوْلَآ اِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ قُلْتَ مَا شَآءَ اللّٰهُ ۙ لَا قُوَّةَ

اوولې نوې ته چې كله ننوتلې خپل باغ ته چې ونيلې دې وې چې هغه (كيږي) چې اوغواړي الله تعالیٰ نيشته قوت د هيڅ كار

اِلَّا بِاللّٰهِ ۚ اِنْ تَرَنِ اَنَا اَقَلَّ مِنْكَ مَالًا وَّوَلَدًا ۝ فَعَسٰى رَبِّيْٓ

مګر په توفيق د الله ﷻ سره دې اګر كه وينې ته ما كم خپل ځان نه په اعتبار د مال او اولاد سره. نو اميد دې چې رب خما

اَنْ يُّؤْتِيَنِ خَيْرًا مِّنْ جَنَّتِكَ وَيُرْسِلَ عَلَيْهَا حُسْبَانًا مِّنَ السَّمَآءِ فَتُصْبِحَ صَعِيْدًا

به راكړي ماته غوره د باغ ستا نه او راواوبه ليږي په باغ ستا باندې عذاب د بره طرف نه نو اوبه ګرځي دا باغ ميدان

زَلَقًا ۝ اَوْ يُصْبِحَ مَآؤُهَا غَوْرًا فَلَنْ تَسْتَطِيْعَ لَهٗ طَلَبًا ۝ وَاُحِيْطَ

خويه هموار او يا به شي اوبه ددې او چې نو هرګز به ته طاقت اونه لرې د هغې درانښكاره كولو او راګير كړې شو په عذاب سره

بِثَمَرِهٖ فَاَصْبَحَ يُقَلِّبُ كَفَّيْهِ عَلٰى مَآ اَنْفَقَ فِيْهَا

مالونه د هغه پس او ګرځيدلو دې چې مخل نې ورغوې لاسونه، خپل په هغه مال باندې چې خرچ كړې ئې وو پدې باغ كښې

وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوْشِهَا وَيَقُوْلُ يٰلَيْتَنِيْ لَمْ اُشْرِكْ بِرَبِّيْٓ اَحَدًا ۝

او هغه باغ راغورځيدلې وو په چتونو خپلو باندې او ونيل ده چې هاې افسوس دې ما لره نه مې وې ګرځولې شريك د رب خپل هيڅ څوك

وَلَمْ تَكُنْ لَّهٗ فِئَةٌ يَّنْصُرُوْنَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَمَا كَانَ مُنْتَصِرًا ۝

اونه وه لپاره ددهٔ څه ډله چې مددنې كړې وې دده سيوا دَالله ﷻ نه او نه وو دې بدله اخستونكې

هُنَالِكَ الْوَلَايَةُ لِلّٰهِ الْحَقِّ هُوَ خَيْرٌ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ عُقْبًا ۝

يدي وخت كښ اختياريوالله ﷻ حق لره دي هغه غوره دې بدلې والاوغوره نتيجه وركوونكي دى

﴿وَلَوْلَآ إِذْ دَخَلْتَ﴾دَمشرك اندازخپل باغ ته دَداخليدلوپه وخت كښ ډيرمتكبرانه وو نومسلمان ورور ورته نصيحت اوكړو چې كله خپل باغ ته داخليږي نودَالله ﷻ شكريه اداكوه. خكه چې هرڅه دَالله ﷻ په مشيت اوارادي سره كيږي﴿وَلَوْلا﴾حرف تحضيض دې داخل دې په قنتُ باندې حروف تحضيض كښ قانون دادې چې كله هم داخل شي په ماضي باندې نودابه لپاره دَزجر اوتوبيخ وي(لباب) او﴿إِذْ دَخَلْتَ﴾په محل دَنصب ياپه محل دَجركښ واقع دې اومتعلق دې دَ﴿قُلْتَ﴾سره، اوهركله چې ظروف په منزله دَمحارمودي اوتوسع ده پكښ نوددي وجه نه تقديم ئې په عامل اومحضض باندې جائزدې، اوپه تقديم كښ اشاره ده ديته چې داالفاظ ﴿مَا شَآءَ اللّٰهُ﴾ فوراوئيل پكار دي بغيردڅه تاخيرنه دَهرنعمت په وخت كښ(روح) ﴿مَا شَآءَ اللّٰهُ﴾(ما)يدي كلام كښ ياشرطيه ده په معنې دَا . شئ سره ده په محل دَنصب كښ واقع ده اومنصوبه ده په (شاء) سره او(شاء الله) شرط دې اوجزاورله محذوفه ده تقدير دَعبارت داسې دې اى شئ شآء الله كان يعنى څه شي چې الله ﷻ اوغواړي نوهغه كيږي كه مالداري وي يافقيري وي اوڅه چې پدي باغ كښ دي دَالله ﷻ په مشيت سره دي كه الله ﷻ اوغواړي باقي به ئې پريدي اوكه اوغواړي خراب به ئې كړي اوياما موصوله ده په محل دَرفع كښ ده اوداجمله يعنى موصول سره دَصلې نه يامبتداء ده اوخبرئې محذوف دې،تقديرئې داسې دې ماشآء الله كائن اوياخبردې اومبتداء ئې محذوف دې اى الامرماشاء الله اودَتولورجعه يوي معنې ته ده،چې هرڅه دَالله ﷻ په مشيت سره كيږي﴿لَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ﴾پديكښ اعتراف دَخپل عجزدې چې دَانسان په طاقت اوقوت اوتصرف كښ هيڅ نيشته هرڅه دَالله ﷻ په قوت اوتصرف كښ دي.

دَحضرت انس رضي الله عنه نه مروى دي چې فرمائى قال رسول الله ﷺ ماانعم الله تعالى على عبدٍنعمة فى اهل اومال اوولد فيقول ماشاء الله لاقوة الاّ بالله الاّدفع الله تعالى عنه كل آفة حتى تاتيه منيته وقراء ولولا

اذدخلت الخ ترجمه حضورﷺ ارشاد اوفرمايه چې الله تعالیٰ په خپل يوبنده باندې دهغه داهل مال اواولادپه باره کښې چې کوم يونعمت يې پرې کړې وي چې هغه په هغې نعمت باندې ماشاء الله الخ اوائي نوضرور الله تعالیٰ دهغې نعمت نه هرقسم تکليف لرې کوي حتی چې ده ته مرګ راشي،اوحضورﷺ داايت ولولا اذدخلت الخ تلاوت کړو داحديث اګرچې ضعيف دې لکه څرنګه حافظ ابن کثيرفرمائيلي دي ليکن حافظ ابن حجر عسقلاني رحمه الله په المطالب العالية کښې دحضرت انس رضی الله عنه نه په څه زيادت سره په سندصحيح سره نقل کړيدې

دحضرت انس رضی الله عنه نه داهم منقول دې چې فرمائي چې څوك دچا مال اوکوري اوهغه ورته ښه ښکاره شي اودې ماشاء الله اووائي نوده مال ته به چرته هم تکليف اونه رسيږي اودحضرت ابوهريرة رضی الله عنه نه مروي دې چې حضورﷺ ارشاد اوفرمائيلو چې اې ابوهريرة آيا څه تاته دجنت دخزانونه يوه خزانه چې لاندې دعرش نه،ده اونه ښايم.فرمائي چې ماورته اوئيل چې څماموْر،پلارپه تاقربان وي ضروراوښايه،نوحضورﷺ ارشاد اوفرمائيلوچې ته لاحول ولاقوة الابالله وايه، دځني اسلافوپه باره کښې نقل دې چې هغوئي په خپلي دروازې باندې داکلمات ليکلي وو ،اودروياتو دمجموعي نه دامعلوميږي چې څوك يونعمت اوکوري دده لپاره وي يادبل چاوي نو داکلمات وئيل مستحب دي اودنظربد دلګيدلو نه ددفعيې لپاره مجربه نسخه ده

﴿إِن تَرَنِ أَنَا۠﴾ دادهغه کافردهغې خبرې په جواب کښې دې چې وئيلوچې ﴿أَنَا۠ أَقَلَّ مِنكَ مَالًا وَوَلَدًا﴾ ﴿إِن﴾ حرف شرط دې ﴿تَرَنِ﴾فعل شرط دې چې په اصل کښې "ترنی" وو او﴿أَنَا۠﴾ ضميرتاکيددضمير منصوب متصل لپاره دې چې په"ترنی" کښې دې، او﴿أَقَلَّ﴾يامفعول ثانی دې د﴿تَرَنِ﴾ لپاره کچرې مراد دترن نه رؤيت علمی وي.لکه چې داظاهره ده اويا﴿أَقَلَّ﴾حال دې دضميرمنصوب يعنی مفعول د"ترن" نه او﴿مَالًا وَوَلَدًا﴾تميزدې د﴿أَقَلَّ﴾ نه او﴿فَعَسَىٰ رَبِّىٓ﴾قائمقام دجزاء دې اواصل جزامحذوفه ده چې فلاباس دې نوتقديردعبارت داسې دې ان ترن كذلك فلاباس، يعنی که څه دمال او اولاد په اعتبارسره ستانه کمزورې يم نوڅه پرواه نيشته دې الله تعالیٰ به ماته ددې باغونونه بهترباغ به راکړي اوبعض مفسرين فرمائي چې ﴿فَعَسَىٰ رَبِّىٓ﴾جمله جزاء ده اومقصد دادې که چرې څه ستانه کمزورې يم نوڅه دالله تعالیٰ نه اميدلرم چې هغه به

څوفقرپه غنې بدل کړي ماته به جنت راکړي. اوستانه به خپل نعمت سلب کړي اوستا داباغونه به ختم کړي(روح)﴿وَيُرْسِلَ عَلَيْهَا حُسْبَانًا﴾ حسبان(۱)مصدردې دَ غفران.اوبطلان پشان.په معنې دَحساب اومحسوب يعنى مقدرسره نومرادتنه هغه عذاب دې چې دَالله جَلَّ جَلَالُهُ دَطرف نه مقدردې چې هغه حکم دې په تخريب دَباغ سره، اوياتنه دګناهونو برابرعذاب مراددې. اويادلته کښې مضاف مقدردې دَقبيلې دَمجازفى الحذف نه دې(اې عذاب الحساب) يعنى چې کوم عملونه دوئ کړيدي دَهغې دَحساب موافق عذاب ورته رااوليږي

(۲) اوياحسبان جمع ده اومفرد ئې حسبانة راځي. وئيلې کيږي هغه کانړوته چې دَاسمان نه نازليږي اوياورته اوياتندرته وئيلې کيږي، اودَحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه مقول دي چې مطلق عذاب چې اسمان نه نازليږي هغې ته حسبان وئيلې کيږي اوابن کثير رحمه الله فرمائى چې ددينه مراد سخت طوفانې باران دې چې فصلونه اووونې دَ ويخ نه رااوباسي﴿فَتُصْبِحَ صَعِيدًا﴾صعيد وئيلې کيږي وجه الارض ته يعنى ستاداباغ خالي زمکه پاتي شي ميوي او ونې به ورنه ختمې شي. او﴿زَلَقًا﴾ تاکيددې لپاره دَ ﴿صَعِيدًا﴾اوزلق وئيلې کيږي خويه ځائې ته چې خپې پرې نه ټينګيږي اوغوره خبره داده چې مراد دزلق بلکه مراد تنه دادې چې پدې کښې به هيڅ قسم فصل اوبوټي وغيره پاتې نشي نو مقصد دادې چې دابه بدترين زمکه اوګرځيږي ورستو دَدينه چې نافع ترين زمکه ده (قرطبى) نودايوقسم دعذاب ذکرشو چې عذاب سماوي دي.

﴿أَوْ يُصْبِحَ مَاؤُهَا غَوْرًا﴾ دادويمه نوعه دَعذاب ذکرکيږي چې افت اوعذاب ارضيه دي او (او) په ﴿أَوْ يُصْبِحَ﴾کښې لپاره دَتنويع اومانعة الخلو دې، ندې لپاره دَمانعة الجمع،او﴿ غَوْرًا ﴾ په معنې دَغائرا سره دې يعني دا اوبه به الله جَلَّ جَلَالُهُ په زمکه کښې دننه کړي اواوچې به ئې کړي﴿فَلَن تَسْتَطِيعَ لَهُ طَلَبًا ﴾ضميرپه (له) کښې راجع دې غائر(اوچ شوو) اوبوته، اومرادپه نفي دَاستطاعت دطلب سره نفې دَ استطاعت دوصول اورسيدلو دې يعنى ته به هغې اوبوته دَرسيدلوطاقت هم نه لرې. اونفي دَاستطاعت دَطلب ځکه اوشوه چې داسې اوبوته رسيدل ناممکن دې اوعاقل سړې دناممکناتو طلب هم نه کوي او داولاد هلاکت ذکر اونشو حالانکه هغه په خپل اولادبانديې هم فخرکوو لکه څرنګه چې په مال کولو ،حضرت تهانوي رحمه الله فرمائى چې وجه داده چې مال

دهلاکت نه پس دَ اولاد کثرت وبال جان اوذريعه دَعذاب اوګرځي نوددي وجه نه اولاد هلاك نکړي شو

فائده دامذکوره کلام دَمسلمان اخبار بطور کشف وو او کشف او کرامات دَاولیآءُ الله حق دي اويا داجمله دعائيه ده معنې اوصورتاً اخبار دې لکه رضي الله عنهم ورضوا عنه

﴿وَأُحِيطَ بِثَمَرِهِۦ﴾ په دیکښ ذکر دَعذاب الهي دې اودا ماخوذ دې د احاط العدوّنه کله چې څوك دَدښمن په ګيري کښ راشي اوهغه پري غلبه حاصله کړي او په عرف کښ مستعمليږي په عموم دَعذاب کښ، چې مکمل عذاب پري راغې اوټول مال ئې ورله هلاك کړو (قرطبي)

﴿فَأَصۡبَحَ﴾ فاء دَتعقيب ده دا يا په معنې دَصار سره دې اويا په معنې دَ سحر په وخت کښ داخليدلو سره دې، نو دا به بيا قرينه وي پدې چې داعذاب دَشپې په يوه حصه کښ راغلي وو.

﴿يُقَلِّبُ كَفَّيۡهِ﴾ دا کنايه ده دَحسرت اوندامت نه ځکه چې دَندامت اوحسرت په وخت کښ انسان خپل لاسونه مروړي اودافعلي حسرت وو اووروستو په ﴿يَٰلَيۡتَنِي لَمۡ أُشۡرِكۡ﴾ سره حسرت قولي ذکر کيږي اوتقديم دَحسرت قولي په فعلي باندې ځکه اوشو چې اشاره راشي دهشت دَعذاب ته چې داعذاب ډير سخت وو او چې پدې سره دده نه قوت ګويائي سلب شو اوصرف لاسونه ئې په اول وهلت کښ مروړل اوروستو بيا ګويا شو ﴿وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا﴾ مراد دَعروش نه هغه ځائې دې چې دَانګور په بوټي کښ دَدانو لپاره جوړ شوې وي.

﴿وَيَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي لَمۡ أُشۡرِكۡ﴾ دا قرينه ده پدې چې دې مشرك وو اوپدیکښ اشاره ده سبب دَعذاب ته، اوداندامت دَدې مشرك په خپل شرك باندې بطور توبه وو دَشرك نه اوکه مجرد حسرت اوندامت وو په تلف کيدلو دَمال باندې؟؟ دَمفسرينو نه دواړه اقوال راغليدي خو محققينو مفسرينو لکه علامه آلوسي رحمه الله وغيره ديته ترجيح ورکړيده چې داتاسف اوتحسر په زوال اودَتلف کيدلو دَنعمت باندې وو اوداندامت په خپل کفر او معصيت باندې نه وو. اوتوبه هغه ندامت ته وئيلې کيږي چې په هغې کښ بيا ګناهونو ته عود نه کولو باندې عزم وي، اودلته دَده ندامت اورغبت الى التوحيد وو خو صرف دَطلب دَدنيا لپاره وو (کبير) اودغه شان مجرد ندامت په کفر باندې ايمان ندې چې څو پورې ضروريات دَشرعي ئې تسليم کړي نوي.

مدارك اوكشاف ليكلي چې يجوز ان يكون توبة من الشرك وندما على ماكان منه ودخولا في الايمان(مدارك،كشاف)ترجمه كيدلې شي چې دادشرك نه توبه وي اوپه هغې ندامت ددې اوداسلام قبلول وي، ليكن ظاهر دقرآن دهغه دايمان نه ساكت دې اوددوئ خبره ظاهردسباق سره مناسبه نده چې﴿وَلَمْ تَكُن لَّهُۥ ﴾دې اوكه څوك اشكال اوكړي چې ظاهردايت معارض دې دايت دسورة الزخرف. ولولا ان يكون الناس امّة واحدة لجعلنالمن يكفربالرحمن لبيوتهم سقفا من فضة ومعارج الخ(زخرف ٣٣)، سره اودغه شان دحديث سره چې حضورﷺ ارشاد اوفرمائيلوچې خص البلاء بالانبيآء ثم الامثل فالامثل(ترمذى)يعني اكثراوزيات تكليفونه په انبياوو رازي اوبياچې څوك څومره دهغوئ مشابه وي هغه راځي. نوددې ايت مذكوره نه معلوميږي چې زوال دنعمت دنياليپاره ذريعه دهغه كفروو دنورو مذكوره ايتونو اواحاديثونه معلوميږي چې ازمائش اوتكاليف اكثرپه مؤمنانو باندې واقع كيږي؟؟ جواب دادې چې دسورة الزخرف په ايت كښې دكافرلپاره كومونعمتونو دنياذكردې هغه استدراجًا دې،اود انجام په اعتبارسره الله ﷻ بياپه هغه باندې په مختلف طريقوسره عذاب راليږي چې دنيوي اوديني دواړو،نعمتونو نه محروم پاتې شي اومؤمن باندې تكاليف راتلل به طورازمائش وي،چې په هغې ازمائش كښې مؤمن ته سكون بلكه لذت ميلاويږي، اوديني نعمتونوكښې ورته ترقي حاصليږي لكه څرنګه يوسړې چې خوراك كښې چكنى استعماله وي چې په هغې سره لذت هم حاصله وي اوهضم ورسره هم برابريږي(والله اعلم)

﴿وَلَمْ تَكُن لَّهُۥ ﴾مشرك په خپل خانداني جمعيت اوقوت باندې نازوو، اوكوم معبودان باطله چې هغه متصرف اوكارسازكڼلونودتكليف په وخت كښې يوهم پكاررانغلل،اودالله ﷻ عذاب ئې ورنه ئې دفع نه كړو﴿لَّهُۥ ﴾ خبردكان دې او﴿فِئَةٌ﴾ورله اسم دې اوتقديم دخبرپه اسم باندې لپاره داختصاص دعجزاوذلت دې په هغه پورې، اومرادپه﴿فِئَةٌ﴾سره دهغه خاندان اولاد اونوكران دي چې هغه پرې فخركولو﴿يَنصُرُونَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ داجمله په محل دصفت كښې واقع ده اوددې مقصد داندې چې دالله ﷻ نه علاوه بل چا دده مدد اونكړو بلكه دايت مقصد دادې چې څوك دده په مددباندې قادرنوو، اوالله ﷻ دده په مددباندې قادر ووليكن دحكمت دوجه نه ئې دهغه مدد اونكړو (مدارك) ﴿وَمَا كَانَ مُنتَصِرًا﴾ددې نه مراد دهغه په خپل قوت سره بچ كيدل دي،يعنى نه ئې

قوم اوخاندان دَالله ﷻ دَعذاب نه بچ کړو اونه په خپل قوت سره بچ شو. اوبعض مفسرين فرمائي چې داول نه مراد دنيوي عذاب وو اودَدي نه مراد عذاب اخروي دې چې دَعذاب اخروي نه هم بچ نه شو(بحر) ﴿هُنَالِكَ ٱلْوَلَٰيَةُ﴾ پديکښې اثبات دتوحيد في التصرف دې چې ددې واقعې نه معلومه شوه چې ټول اختيارات اوتصرفات دَالله ﷻ په قبضه اوقدرت کښې دی ﴿هُنَالِكَ﴾ ظرف دی اوعامل کښې ئې اختلاف دې. بعض فرمائي چې عامل پديکښې ﴿وَلَمْ تَكُن لَّهُۥ﴾ دې اوددې تعلق دَماقبل سره دې، يعني دَدې عذاب په وخت کښې دده امداد اونکړې شو نومعلومه شوه چې قدرت مالك صرف الله ﷻ دې اويا عامل پديکښې ورستو ﴿ٱلْوَلَٰيَةُ﴾ دې اوپه ظروفو کښې توسع ده نوددې وجه نه دوئ په خپل عامل باندې مقدم کيږي، نواصل عبارت داسې دې الولاية لله الحق هنالک اومراد تنه دَقيامت ورځ ده(قرطبي) اوولاية په کسرې دَواو اوپه فتحې دَواو سره وئيلې کيږي سلطنت اوقدرت ته، اوزمخشري فرمائي چې په فتحې دَواو سره نصرت ته وئيلې کيږي نومقصد دادې چې پدسې شدائدوکښې مدد اونصرت دَالله ﷻ دَطرف نه وي(مدارك) اوپه کسرې سره وئيلې کيږي سلطنت اوبادشاهي ته ﴿هُوَ خَيْرٌ ثَوَابًا﴾ کلمه دَخير پدې مقام کښې صفتي ده اوتفصيلي نده ځکه چې دَالله ﷻ سره څوك په نفس ثواب ورکولو کښې شريك نيشته، اوصاحب دَ جلالين فرمائي چې خير په خپلې معنې يعني تفضيلي دې، اوکلام يعني نسبت غيرته په فرض سره دې چې کچرې بالفرض بل څوك ثواب ورکوونکې موجود وي نوبياهم دهغه نه الله ﷻ بهترثواب ورکوونکې دې

وَٱضْرِبْ لَهُم مَّثَلَ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا كَمَآءٍ أَنزَلْنَٰهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَٱخْتَلَطَ

[1] اوبيان کړه دوئ ته مثال د ژوند ددنيا په شان دهغه اوبو چې رااوورو مونږه دطرفه داسمان نه پس ګنړرااوخيژي

بِهِۦ نَبَاتُ ٱلْأَرْضِ فَأَصْبَحَ هَشِيمًا تَذْرُوهُ ٱلرِّيَٰحُ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ

په هغې سره بوټې دزمکې پس شي بيازرې چې الوخوي هغې لره بادونه. اودې الله ﷻ په هرځيزباندې

(1) طريقه ثانيه براى اصلاح منكرين

مُّقْتَدِرًا ﴿۴۵﴾ اَلْمَالُ وَالْبَنُوْنَ زِيْنَةُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ

قدرت لرونكي، مال اواولاد ښائست دژوند ددنيادي اوباقي پاتې كيدونكي نيك عملونه غوره دي

عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ اَمَلًا ﴿۴۶﴾

په نيزدرب ستا په بدلې كښې اوغوره دي په اميد كښې

﴿وَاضْرِبْ لَهُم﴾ دادويم امر مصلح دَمنكرينولپاره ذكركيږي چې دنيا قابل فخرڅيزندې دافاني كيدونكي څيزدي صرف دنيوي زينت دي اواصل څيزاوباقي پاتې كيدونكي څيزاعمال دي اوضميردَجمع راجع دې هغومنكرينو اومتفخرينوته چې دَدنيا په زندګئ اودنيوي مال ومتاع باندې فخركولو ﴿مَّثَلَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا﴾ مفعول اول دې دَ (اضرب) لپاره يعنى دَدنيا والازندګي صفت اوحالت په يومثال سره ورته بيان كره ﴿كَمَآءٍ اَنْزَلْنٰهُ﴾ (كمآء) ياخبردې دَمبتداء محذوفي لپاره اي هي كمآء اويامفعول ثانى دې لپاره دَ ﴿وَاضْرِبْ﴾ كچري اضرب په معنې دَصيّرسره شي، اويامتعلق دې په معنې مصدري پوري ا . اضرب لهم ضربا كمآ الخ اودابيان دَمثال دې، اوحاصل دَمثال دادې چې لكه څرنګه چې يوه زمكه وي په هغې باندې باران اوشي ګنړاومختلف بوټي را اوخيژي اوبياڅه وخت ورستواوچ شي اوذري، ذري شي اوهواګانې والوځي اوخالي ميدان پاتې شي، نودغه شان حالت دَ دنيادَزندګئ اوپه هغې باندې دَفخركونكوهم دي، چې دوئ دَدنياپه نعمة باندې فخركوي اودهغې په خوړوالي اوشين والي باندې مغروره دې نو اچانك پدوئ باندې مرګ راشي اوهرڅه ورنه پاتې شي، اوداتمثيل دې چې پدي كښې دَيومركب حالت تشبيه دَمركب څيزدَمركب حالت سره وركړې شويده، مشبه به هغه مركب كيفيت دې چې منتزع دې دَمجموعي دباران، شنواوګنړوبوټو، اوبيادَدغي بوټو اوچيدلو اوبيادَهواګانوپه ذريعي سره يوطرف اوبل طرف ته منتشركيدلونه، اومشبه هغه كيفيت دې چې منتزع دې دَمجموعي دَروح اوبدن انسانې اودهغې دَنشونما اوانسانې فخر اوغرور اوبيافانې كيدلونه.

حضرت شاه عبدالقادردَدي ايت په تطبيق كښې فرمائى چې څرنګه باران دَاسمان دَطرف نه راوريږي، نودغه شان روح انسانې دَاسمان نه راغليدې اوڅرنګه چې په باران سره زمكه راژوندئ كيږي دغه شان بدن انسانې په روح سره ژوندې كيږي، چې دي هم دَخاوري نه جوړدي، اوبياپه

دهغې په نتيجې کښې بوټي رازرغون شي اوسرسبزه پيداشي نودغه شان دروح په نتيجي کښې انسان ورځ په ورځ ترقي کوي، حتی که چې دې حدکمال ته اورسيږي. دده لپاره مال، اولاد، اودوستان جوړشي اودې په هغې باندې اعتماداوکړي نومرګ پرې راشي اودې دهرڅه نه لاس اووينځي اووجه دتشبيهي ظاهره ده.

﴿فَأَصْبَحَ هَشِيمًا﴾(اصبح) په معنې د(صار)سره دې اوبعض مفسرين فرمائی چې ددې نه مراد عذاب راتلل دې په وخت دسحرکښې، اوعذاب الهی اکثرپه وخت دصبا کښې راځي. او ﴿هَشِيمًا﴾ په وزن دفعيل سره په معنې دمفعول سره دې ونيلې کيږي چې وچ کړې شي اوذرې ذرې شي﴿مُّقْتَدِرًا﴾ دامبالغه ده په قدرت کښې په معنې دکامل القدرة سره﴿ٱلْمَالُ وَٱلْبَنُونَ﴾ پماقبل ايت کښې ذکرشوچې دنياسريع الزوال ده اوقابل فخرځيزنده. نوپدې ايت کښې دهغې دوه(۲) متاع دنيوي اواسبابورد بيانيږي چې عام طورپرمتکبرين په هغې باندې فخراوغرور کوي. چې هغه مال اواولاد دې، اوصورت دقياس په نمط داقترانی سره داسې دې چې مال اواولاد زينت دحياة دنيوي دې، اوکوم څيزچې زينت دحياة دنيوي دې هغه سريع الزوال اوانقضاء وي، نونتيجه داشوه چې مال اواولاد سريع الزوال والانقضاء دې، اوداشکل اول دې بديهي الانتاج دې اودانتيجه به بياصغرې شي اوکبرې به ورسره ضم کړې شي، چې مال او اولاد سريع الزوال دې. اوکوم څيزچې سريع الزوال وي قابل دفخرنوي، نومعلومه شوه چې مال اواولاد قابل فخرځيزونه ندي،نوددينه دامعلومه شوه چې کوم کس په مال او اولاد يادنيا په نورو څيزونوباندې فخرکوي هغه احمق وي.﴿ وَٱلْبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ ﴾هرکله مال اولاد قابل توجه فخرځيزونه ندي نوقابل توجه څيزڅه شئ دي نواوفرمائيل چې باقيات صٰلحٰت قابل توجه دی. اودې به تفسيرکښې دمفسرينو نه ډيراقوال راغليدی، بعض مفسرين فرمائی چې ددينه مراد تسبيح، تحميد . تهليل،تکبير اولاحول ولاقوة الخ دې، دحضرت ابوسعيدالخدري ﷺ نه روايت دې چې حضورﷺ ارشاد اوفرمائيلو ،استکثروا من الباقيات الصالحات قيل وماهن يارسول اللهﷺ قال التکبيروالتهليل والتسبيح والتحميد ولاحول ولاقوة الابالله (درالمنثور،طبری) دحضرت ابی درداء ﷺ نه فرمائی چې قال رسول اللهﷺ سبحان الله والحمدلله ولااله الاالله والله اکبرولاحول ولاقوة الابالله هن الباقيات الصلحت، وهن يحططن الخطايا کماتحط الشجرة ورقها وهن من کنوزالجنة(درالمنثور)ترجمه

سبحان الله، الحمد لله، لااله الاالله والله ولاحول ولاقوة الابالله داباقيات صالحات دي. اوداګناهونه داسې غورزوي لکه څرنګه چې ونه پاڼې غورزوي. اوداجنت خزانونه نه دي. اودغه شان دحضرت انس، حضرت عثمان، حضرت عائشه، حضرت ابن عباس اودنورصحابه کرام اوتابعينو نه دغه شان روايات منقول دي، چې امام سيوطي اوطبري په خپلو تفاسيروکښ نقل کړيدي

(۲) اوبعض مفسرين فرمائی چې ددينه مراد پنځه وخته مونځونه دی، داقول دحضرت سعيدبن جبير، ابن عباس اودحضرت ابراهيم نخعي اودحضرت ابی ميسره نه منقول دي (۳) اوبعض فرمائی چې ددينه مراد الکلام الطيب يعنی خائسته خبري دي خوزيات (۴) بهترقول دادي چې ددينه مراد هرعمل صالح دې که قولا وي اوکه فعلا وي څکه چې هرنيک عمل هغه دخپل عمل کوونکي لپاره اخرت ته باقي وي اوپه هغې باندې ده ته بدله اواجرميلاويږي. (طبری)

اوباقي په ډيرورواياتوکښ چې داراغليدی چې ددينه مراد سبحن الله، والحمدلله الخ دي اويامونځ وغيره دهغې نه مراد دانده چې ټول باقيات صالحات دادی اوياباقيات صالحات صرف دادی اونورنيشته دي بلکه مراد دهغې نه داده چې دا امورهم په باقيات صالحاتو کښ داخل دی.

﴿خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَخَيْرٌ أَمَلًا﴾ خير اسم تفضيل دې مفضل عليه ورله اعمال فانيه اوامورفانيه دي لکه اموال اواولاد وغيره شو څکه چې دمال اواولاد اميدونه به بربادشي اودنيک اعمالواميدونه اواجرونه به باقي وي اوکارآمدبه وي اوياورله مفضل عليه هغه دې چې کوم دوئ کمال ووا اويااسم تفضيل په معنې صفتي سره دې زيادت علی الغيرپکښ ندې معتبرلکه اصحٰب الجنة خير مستقرا واحسن مقيلا (فرقان: ۲۴) قرطبی.

وَيَوْمَ	نُسَيِّرُ	الْجِبَالَ	وَتَرَى	الْأَرْضَ	بَارِزَةً ۙ وَحَشَرْنٰهُمْ
او یادکړه هغه ورځ چې روان به کړومونږ غرونه اووينې به ته دازمکه هموارميدان اوراجمع به کړو مونږ دوئ					

---

1 ځریفه ثالثه برای اصلاح منکرین

فَلَمۡ نُغَادِرۡ مِنۡهُمۡ أَحَدًا ﴿٤٧﴾ وَعُرِضُوا عَلَىٰ رَبِّكَ صَفًّا

پس پرې به نکړو مونږ د دوئ نه هيڅوک. او پيش به کړې شي دوئ په رب دستا باندې صفونه صفونه او به ونيلې سې چې

لَقَدۡ جِئۡتُمُونَا كَمَا خَلَقۡنَٰكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٍۭۚ بَلۡ زَعَمۡتُمۡ

په تحقيق راغلئ تاسو مونږ ته (په هغه حالت سره) لکه چې څنګه پيدا کړي وني مونږه تاسو اول خلې. بلکه ګمان کولو تاسو

أَلَّن نَّجۡعَلَ لَكُم مَّوۡعِدٗا ﴿٤٨﴾ وَوُضِعَ ٱلۡكِتَٰبُ فَتَرَى ٱلۡمُجۡرِمِينَ

چې هرګز به مونږه مقررنه کړو ستاسو لپاره ځائ دوعدې (قيامت) او کيخودلې به شي عملنامې نوويني به نه مجرمانو لره

مُشۡفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَٰوَيۡلَتَنَا مَالِ هَٰذَا ٱلۡكِتَٰبِ لَا يُغَادِرُ

چې يريږي به دهغې نه چې په دې کښ وي او وائي به هائې افسوس دې مونږ لره څه وجه ده ددې کتاب چې ندې پريخودلې

صَغِيرَةٗ وَلَا كَبِيرَةً إِلَّآ أَحۡصَىٰهَاۚ وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِرٗاۗ وَلَا يَظۡلِمُ رَبُّكَ أَحَدٗا ﴿٤٩﴾

وړوکي ګناه او نه غټ ګناه مګر راګير کړيدي ټول او وبه مومي دوئ خپل عملونه حاضر او ظلم نه کوي رب ستا په هيڅ چا باندې

﴿وَيَوۡمَ نُسَيِّرُ ٱلۡجِبَالَ﴾ دا دريم (۳) امر مصلح دي چې دَدنيا لپاره دين مه پريږدئ کوم خلک چې دنيا دَخاطره دين پريږدي نو دادنيا به دَهغه لپاره په اخرت کښ ذريعه ددردناك عذاب وي. او ﴿وَيَوۡمَ﴾ منصوب دې په فعل مقدر اذکر سره او مراد په ﴿نُسَيِّرُ﴾ يعنې چلولو سره غرونه دَويخ نه رااوباسل دي، چې دَقيامت په ورځ به داغرونه دَخپل ځايونونه رااويستلې شي او په هوا به کړې شي اوبعض مفسرين فرمائي چې دَدينه مراد افناء (فناء کول) ده مجازا ، ځکه چې تسيير سبب دې دَافناء. اودَدې ايت تعارض دَسورة الواقعة دَايت (نمبر ۲) (فكانت هبآء منبثا) سره اودَايت دَسورة المزمل وكانت الجبال كثيبا مهيلا (مزمل: ۱۴) سره نيشته دې ځکه چې په هغې ايتونو کښ اول احوال ذکر دی اوپه دې مذکوره ايت کښ، اخرې حالت مذکور دې، علمآء فرمائي چې وقوع قيامت کښ به غرونه اول دَشګو، ډيرئې جوړ شي اوبيا به ذري ذري شي او په هوا کښ به والوځي اوبيا به هغه ذري هم فناء شي ﴿وَتَرَى ٱلۡأَرۡضَ﴾ خطاب هر يو کس چې صلاحيت دکتلو پکښ وي هغه ته دې

اومراد په ﴿بَارِزَةً﴾ سره دادي چې کومه حصه دَ زمکې په غرونو سره اوونو سره پټه وه هغه به ظاهره شي لکه په بل ځائې کښې فرمائي (لاترى فيها عوجا ولاامتا) ﴿وَحَشَرْنَٰهُمْ﴾ تعبيرتنه په صيغې دَماضي سره اوشولوجه دتيقن نه. اوعلامه زمخشري فرمائي چې ﴿وَحَشَرْنَٰهُمْ﴾ صيغه دماضي ذکرکولوکښې اشاره ده ديته چې حشردَانسانانوبه اول وي اودهغې نه ورستوبه بياتيسير دغرونووي اوبيابه دَهغې دَوجې نه بروز دزمکې وي. لکه چې داتقاضادَصيغودَمضارع ده چې ﴿نُسَيِّرُ﴾ او ﴿وَتَرَى﴾ ذکرشويدې ليکن دااقول ځکه صحيح ندې چې تسييردَغرونو اودَعماراتو دابه په نفخه اولې کښې وي، اوحشربه په نفخه ثانيه سره وي. اودغه شان ورستو نورې صيغې هم دَماضي ذکرکيږي چې ﴿وَعُرِضُوا﴾، ﴿وَوُضِعَ ٱلْكِتَٰبُ﴾، ﴿وَوَجَدُوا﴾. دې نوبياخوپکارده چې عرض اووضع دکتاب اودَخپلواعمالوثمره ټول دې دَتسييراوبروز نه مقدم شي، ﴿فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ أَحَدًا﴾ (غادريغادر) باب مفاعله نه لپاره دَمبالغې اومجردئې راځي، دَباب ضرب يضرب نه. وئيلې کيږي. پريخودلو (ترک) ته اووعدې نه پوره کولوته هم غدردې وجه نه وئيلې کيږي چې په هغې کښې هم ترک ايفاء وي، او ﴿أَحَدًا﴾ نکره ده په سياق دَنفې کښې واقعه شويده نومفيده دَعموم ده نومقصد دادې چې څوک به هم نشي پريخودلې که غټ که وړوکې وي، پيغمبروي که امتې وي، اميروي که غريب وي، ﴿وَعُرِضُوا عَلَىٰ رَبِّكَ﴾ پدې کښې کيفية دَعرض ذکرکيږي ورستو دَذکر دحشرنه. اومراد دَعرض نه پيش کيدل اوحاضريدل دي دَالله جل جلاله قضا اوفيصلې ته. صفًا داحال دې دَ ﴿وَعُرِضُوا﴾ دَضميرنه، او ﴿صَفًّا﴾ ياپه معنې دَ ظاهرسره دې چې داټول مخلوق به الله جل جلاله ته صف بسته يعنې ظاهرولاړوي. اودَدينه (صَفصَف) هم دې چې وئيلې کيږي صحراته ځکه چې هغه هم ظاهروي وې اوبوټې پکښې نوي، اويامراد دَصف نه صفوف يعنې جمع ده لکه يخرجکم طفلا غافر ۶۷ نه مراد (اطفالا) دې، اودَقيامت په ورځ به دَهرچاخان ته جداجدا صفونه وي، دانبياء کرامو، دملائکو، اودَصديقينو، شهداء اوصالحينو ځان ځان نه صفونه وي چې دَيوصف و لا فارغ شي نوبيابه بل صف والاوړاندې شي (کبير) اوبعض فرمائي چې مراد دَصف نه جميع دې. وفي الحديث عن معاذ بن جبل رضي الله عنه ان النبي صلى الله عليه وسلم قال ان الله تعالى ينادى يوم القيمه ياعبادى انا الله لا

اله الاانا ارحم الراحمين واحكم الحكمين واسرع الحاسبين احضروا حجتكم ويسروا جوابا فانكم مسئولون محاسبون ياملائكتى اقيموا عبادى صفوفا على اطراف انامل اقدامهم للحساب (روح بحواله ابن منده) وفى الحديث الصحيح يجمع الله تعالى الاولين والاخرين فى صعيد واحد صفوفا يسمعهم الداعى وينفدهم البصر الحديث(بخارى).

﴿لَّقَدْ جِئْتُمُونَا ﴾دامعمول دَقلنا محذوف لپاره دې او ﴿كَمَا خَلَقْنَٰكُمْ ﴾صفت دې دمصدر محذوف لپاره ،تقديردَعبارت داسي دې اى مجينا مثل مجيئ خلقكم اوّل مرّة(بحر) يعنى څرنګه چې تاسو اول پيدائش وو بربنډ ،غيرمختون نودغه شان به ستاسوحشرهم وي ددنيازينتونه به ختم شي.وفى الحديث عن عائشةﷺ قالت سمعت رسول اللهﷺ يقول يحشرالناس يوم القيمة حفاة،عراة غرلا،قلت يارسول اللهﷺ الرجال والنسآء ينظربعضهم الى بعض قالﷺ ياعائشة الامراشدمن ان ينظرالى بعض(مسلم) ترجمه:حضرت عائشهﷺ چې مادرسول اللهﷺ نه واوريدل چې دقيامت په ورځ به خلق خپې ابله،بربنډ ،اوپه داسې حالت چې سنت شوي به نوي(غيرمختون)رااوچت كړې شي،نومادرته اوويل:اې دالله‌ﷺ رسوله!ځې اوسړي به يوبل ته نه ګوري نونبيﷺ اوفرمائيل:اې عائشه! چې هغه به دومره سختي وي چې خلق به يوبل نه غافله وي اوددې ايت اودَمذكوره حديث تعارض دَحضرت ابوسعيد خدريﷺ نه روايت سره نيشته دې چې په هغې كنې دي چې كله دَحضرت ابوسعيد خدريﷺ ته وفات قريب راغې نو نوي كپړې ئي اوغوختلې او فرمائيل ئې چې مادَرسول اللهﷺ نه اوريدلى دى چې حضورﷺ ارشاد اوفرمائيلوچې كومو كپړو كنې انسان مړشي نوپه هغې كنې به پاڅولې شي(۱) ځكه چې دهغې نه مراد ثياب عمل (دعمل والاكپړې) مراد دى اوپه عمل باندې دثياب اطلاق په قرآن كنې شويدې ولباس التقوى ذلك خير. اوحضرت ابوسعيد خدرىﷺ دَحديث په ظاهر اوباطن دواړوباندې عمل كولو لپاره نوې كپړې طلب كړې وې خوليكن دغه شان يوروايت دَحضرت معاذبن جبلﷺ په باره كنې هم راغليدې چې هغه خپلې مورته دنوې كپړوكفن واچولواو اوئ فرمائيل چې مړوته په ښه كپړوكنې كفن وركوئ ځكه چې هغوئ پدغه كپړوكنې پاڅولې شي(فتح البارې.كتاب الرقاق)اودغه شان يوروايت دَحضرت عمرﷺ نه هم مروى دې،نوددې وجه نه بعض محدثينو داجواب كړيدې چې دَ(۲) بعضوخلكو حشربه عارياكيږي اودَبعضوبه دكپړوسره كيږي (۳)اولابه حشرعاريا اوورستو به بياكپړې واچولې شي لكه چې دادَظاهرحديث تقاضاهم ده(۴) اويابه خروج عن القبوردَهغه

کړو سره وي چې په کوموکښې دفن شويدې اوبيابه ورنه ابتداء دَحشرکښې کيږي لري کړې شي. نواحاديث دکپړو محمول دې په بعث باندې اوحديث دَعاريامحمول دې په حشرباندې(۵) اوپ احاديث دَثياب والا محمول دې په شهداء باندې اوعاريا والامحمول دې په غيرشهداء باندې ﴿بَلْ زَعَمْتُمْ ﴾ (بل) لپاره دَاضراب دې اودامبالغه ده په توبيخ کښې او"موعدا" ظرف زمان دې مرادتنه قيامت دې. ﴿وَوُضِعَ ٱلْكِتَٰبُ ﴾داعطف دې په ﴿وَعُرِضُوا﴾باندې اوپديکښې تخويف اخروي او دَقيامت يوبل حالت ذکرکيږي چې عمل نامې به کيخودلې شي نومجرمين به ډيرافسوس اوکړي او اوبه وائې چې داڅرنګه عملنامې دې چې نه ئې زمونږه وړوکې جرم پريخې دې اونه غټ.

اومراد په﴿ٱلْكِتَٰبُ﴾سره کتب اوصحائف دَاعمالو دې نوپدې دواړو تقديرينومراد په وضع سره ياايخودل دې په ميزان کښې اويا ايخودل دې په لاسونودَمخلوقاتو کښې نومؤمنانوته به په ښي لاس کښې عمل نامې ورکړې شي اوجهنميانوته به ګس(چپ)لاس کښې. اوالف لام پکښې لپاره دَجنس دې چې اطلاق ئې په قليل اوکثيرټولوباندې کيږي. اوياالف لام دَاستغراق دې مرادتنه جميع صحائف دَاعمالودې، اوبعض مفسرين فرمائي چې دَټول انسانانو والاعمل نامې به په يوړجسټراويوکتاب کښې جمع کړې شي اوبيابه هغه کتاب په مينځ کښې کيخودلې شي لپاره دَمحاسبې دَمخلوقاتو ، نوپدې تقديرمراد په وضع سره ابراز اوظاهره ول دى.

﴿يَٰوَيْلَتَنَا﴾ويل په معنې دَهلاکت سره دې نودوئ به په دغه وخت کښې خاص هلاکت ته اوازکوي دَوجې دَحسرت اوافسوس نه ځکه چې ددوئ به يقين وي چې پدې سخت ساعت کښې ويل اوهلاکت دَدوئ ملګرې دې. نوګوياچې ددوئ دَاواز مطلب به داوي چې ياهلاك اقبل فهذا اوانك(روح) اوبعض مفسرين فرمائي چې ددې مقصد دادې چې دوئ به تمنادَمرګ کوي ځکه چې د دوئ به يقين وي چې اوس ددې دردناك عذاب نه دَخلاصې بل صورت نيشته دې لکه په سورة النباء کښې ذکردې چې ويقول الكفرياليتنى كنت ترابا. اوبعض فرمائي چې دَخپلې بې قرارئ اظهاراوپه دوئ باندې نازل شوې مصيبت نه نورخلك خبرولو لپاره به دا اوازکوي

﴿مَالِ هَٰذَا ٱلْكِتَٰبِ﴾استفهام تعجبي دې په معنې دَاى شئ سره دې اوصاحب دَنظم الدرر فرمائي چې په ﴿مَال هَٰذَا ﴾کښې لام مجروره منفصل ذکرشويدې پديکښې اشاره ده چې کله

مجرمین خپل عملنامې اوګوري نوډېرګبراهټ اوډ ویرې وجه نه به خبرې سمې نشي کولې الفاظ به جدا جدا وائي. ﴿لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةً﴾ دا کنایه ده دا حاطې دجمیع ګناهونو نه چې نه ئې وړوکې ګناه پریخیدئ اونه غټ ګناه اوباقې فرق پمابین دګناه صغیره اوکبیره کښ په سورة النسآء ایت نمبر(۳۱) کښ تفصیل سره ذکرشویدې من شاء فلیطالع ثمه. ﴿وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا﴾ یعنی چې کوم عملونه ئې په دنیاکښ کړیدی هغه به په عملنامو کښ ثبت وي. ﴿وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا﴾ یعنی چې کوم عمل ئې نوې کړې نوهغه به لیکلې شوې هم نوي. اوچې کوم ئې کړې وي هغه به پاتې شوې نوي. غیرمستحق دعذاب ته به عذاب نه میلاویږي. اونه بل څوک دبل چا په جرم کښ به ګرفتار کیږي. اوداد الله ﷻ عدل دې، اوداعدل دالله ﷻ سنت دې اووجوب ئې په الله ﷻ نیشته دې.

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوٓا إِلَّآ إِبْلِيسَ ؕ
[1]اوریادکړه هغه وختچې اوئیل مونږه فرشتوته چې سجده اوکړئ آدم علیه السلام ته پس سجده اوکړه دوئ مګرابلیس اونکړه،
كَانَ مِنَ الْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ أَمْرِ رَبِّهٖ ؕ أَفَتَتَّخِذُونَهٗ وَذُرِّيَّتَهٗٓ أَوْلِيَآءَ مِنْ دُونِي
وودې دپیریانونه پس نافرمانې ئې اوکړه دحکم درب خپل نه. آیانو نیسئ تاسودې اواولاد دده لره دوستان سیواځه نه
وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ ؕ بِئْسَ لِلظّٰلِمِينَ بَدَلًا ۝ مَآ أَشْهَدْتُّهُمْ خَلْقَ السَّمٰوٰتِ
اوحالانکه دوئ ستاسودشمنان دي بددې شیطان دظالمانولپاره په بدل دالله ﷻ کښ ندي حاضرکړي مادوئ پیدائش داسمانونو
وَالْأَرْضِ وَلَا خَلْقَ أَنْفُسِهِمْ ۠ وَمَا كُنْتُ مُتَّخِذَ الْمُضِلِّينَ عَضُدًا ۝
اوزمکوته اونه پیدائش دخانونوددوئ ته اونه یم څه نیوونکې ګمراه کوونکوله مددګار(دخان لپاره)

﴿وَإِذْ قُلْنَا﴾ دا دسورت حصه ثانی شروع کیږي اوداودیم شبهې جواب دې. شبهه داکیدله چې دعوې دتوحید څکه صحیح نده چې اولیاء کرام ته اوجناتو ته اختیار دتصرف فی الامور حاصل

(1) جواب شبهه ثانیه

دي اودغه شان څني غيبوخبرو هغوئ ته پته لګي. لکه چې دهغوئ استعانت اوغوختلي شي نوامدادکوي، يادغه شان د اولياء کرامو د مزارات نه وني کټ کولود وجې نه هغوئ هغه سړي ته ضرر اونقصان رسوي. او دغه شان د نذرانو ورکولودخوب په ذريعه حکم کوي نوددينه معلومه شوه چې هغوئ ته هم تصرف اوعلم غيب حاصل دي. دجواب خلاصه داده چې اولې. کرامو نه ددي بدعاتو اوخرافاتو پته هم نه لګي بلکه هغوئي به دقيامت په ورځ قسمونه خوري چې(اناکنا عن عبادتکم لغفلين) نوددې وجه نه داټول دستاسو ازلي دشمن ابليس شرارت دې چې هغه په مختلفو طريقو سره ستاسو دګمراه کولوکوشش کوي. نوستاسو خپل دشمن اودهغه دذريت سره دوستي کوئ اودهغه حکم منئ اود توحيدنه انکار کوئ اوددې ايت تفسيرپه سورة البقره کښې تيرشويدې﴿كَانَ مِنَ ٱلْجِنِّ﴾غوره قول مطابق داجمله مستانفه ده چې واقع شويده په سوال دسائل کښې ګوياچې سائل سوال کولو چې ماله لم يسجد؟ چې ده ولې سجد اونکړه؟ جواب اوشوچې ﴿كَانَ مِنَ ٱلْجِنِّ﴾داايت صريح دې پدې کښې چې ابليس د جناتو نه وو. اوپه جماعت دملائکوکښې به پاتې کيدلو. اودملائکو دجنس نه نوو، اوبعض مفسرينو رائې داده چې دې نوع دملائکونه وو، او﴿كَانَ مِنَ ٱلْجِنِّ﴾ کښې په ده باندې(۱) اطلاق دجن لغوی دې ځکه چې جن ماخوذدې د اجتنان نه وئيلې کيږي پټ ته، نوملائکه هم پدې معنې سره جنات دی(۲)اويامراد په ﴿مِنَ ٱلْجِنِّ﴾سره دادې چې دې خازن الجنة وو لکه چې دامروی دی د ابن مسعودﷺ نه.(۳) اوياکان په معنې دصارسره دې. ۱ صارمن الجن. ليکن داټول توجيهات ضعيف اوکمزورې دی(۱) ځکه چې په اعتباردلغت سره اګرچې جن پټ ته وئيلې کيږي. ليکن په حسب د عرف دامختص دې په جناتوپوري، لکه لفظ د دابه چې په اعتبار دلغت سره وئيلې کيږي کل ما يدب على الارض ته.ليکن په عرف کښې سره اطلاق ئې کيږي په ذات قوائم الاربع باندې.(۲) اودا تاويل کول چې﴿مِنَ ٱلْجِنِّ﴾نه مراد خازن الجنة دې داهم باطل دې ځکه چې پدې مقام کښې ﴿كَانَ مِنَ ٱلْجِنِّ﴾تعليل دې د ترك سجود لپاره چې ده سجده ځکه اونکړه چې دې جنی وو، اوکچرې مراد د﴿كَانَ مِنَ ٱلْجِنِّ﴾نه داشي چې دې خازن الجنة وو نوتعليل نه صحيح کيږي.(۳) اوداتاويل کول چې کان په معنې دصارسره دې داهم صحيح ندې ځکه چې کان په معنې د صارسره وئيل

تاويل دې په خلاف ظاهر اوخلاف ظاهرته رجوع كول دضرورت په وخت كښې وي. اوبلاضرورته خلاف ظاهر مراد كول غيرصحيح دې اوهرچي دې دليل پدي چې دې دجنس دملائكونه نوو،بلكه دنوع دجناتونه وو،نوپدي باندې دلائل كثيره دي(۱) اول دليل دادې چې ددوئ دواړو په ماده خلقت كښې فرق دې.ماده دملائكو نور دې اوماده دابليس او شيطان نار دې لكه په روايت دزهرې كښې چې نقل كړيدې دحضرت عائشه ﷺ نه فرمائي عن رسول الله ﷺ انه قال خلقت الملائكة من نور وخلق الجان من مارج من نار اودغه شان په ډيروايتونو كښې ماده دجن نار ذكرشويده(۲) دويم دليل دادې چې دابليس لپاره ذريت او اولاد دې لكه الله ﷻ فرمائي ﴿أَفَتَتَّخِذُونَهُۥ وَذُرِّيَّتَهُۥٓ أَوْلِيَآءَ﴾اودملائكو لپاره اولاد اوذريت نبشته دې

(۳)دريم دليل دادې چې ملائك معصوم دی دګناهونونه لكه الله ﷻ فرمائي لايعصون الله ماامرهم، اوابليس خوكافردې.(۴) اوڅلورم دليل دادې چې ملائك رسولان اوقاصدان دی دالله ﷻ لكه الله ﷻ فرمائي جاعل الملئكة رسلا(فاطر:۱) اوابليس خوقاصد نه بلكه دالله ﷻ دشمن دې(۵) پنځم دليل دادې چې الله ﷻ فرمائي بل كانوا يعبدون الجن(سورة السباء:۴۱) پديكښې جنات جدا نوع خودلې شويده(۶) اوشپږم دليل چې بالكل صريح هغه دامذكوره ايت دې چې ﴿كَانَ مِنَ ٱلْجِنِّ﴾.اوباقې دااعتراض كول چې هركله دې په جنس دملائكو كښې ندې داخل نودې ماموربالسجود هم نوو څكه چې امرسجدې ملائكوته شوې وو، وغيره اعتراضونو جوابونه په سورة البقرة كښې تيرشويدی.

﴿فَفَسَقَ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِۦٓ﴾فاء لپاره دسببيت ده اوفسق په معنې دخروج سره دې اودا ماخوذدې ددې قول دعربونه چې هغوئې وائې فسقت الرطبة عن قشرها ا خروجها منه، نومطلب دايت داشو چې په سبب دكيدلودده جني دې اوتلوداطاعت دالله ﷻ نه اوسيبويه فرمائي چې فسق په خپلې معنې سره دې چې فجر دې اى اتاه الفسق،څكه چې كله الله ﷻ ده ته امرسجدې اوكړو نوده انكار اوكړو نوداعصيان اونافرمانې سبب دفسق اوګرځيدلو(زاد المسير).

﴿أَفَتَتَّخِذُونَهُۥ وَذُرِّيَّتَهُۥٓ﴾استفهام لپاره دانكاراوتعجب دې،اوفاء لپاره دتعقيب ده اى عقب علمكم لصدور تلك القبائح عنه تتخذونه الخ(ابوسعود) وذريته مراد دذريت نه يااتباع دابليس دی

او اطلاق پرې دذريت مجازاً دې، اويامراد دذريت نه حقيقة اولادې لكه چې منقول دې دامام مجاهد رحمه الله نه چې دابليس حقيقة اولاد اوذريت دې. چې ديونوم «زلنبور»دې چې دې په بازارونوكښې گرځي اودابليس جهنډه ورسره وي.

دويم نوم«ثبر»دې چې دې صاحب المصائب دې، ددريم نوم«اعور»دې چې دې خلك په زنابانديې برانگيخته كوي، دڅلورم نوم«مسوط»دې چې هغه په خلكو ددروغوخبرې مشهوره وي. اودبل نوم «داسم»دې چې دې دهغه سړي سره كورته ننه وځي چې هغه په خپل اهل اوكوروالوبانديې سلام وانه چوي، اودهغه سره په خوراك كښې شريك كيږي چې كله بسم الله اونه وائي اودغه شان نورهم دې لكه«ولهان» او«خنز،هفاف» وغيره شو چې تفصيل ئې ذكركړيدې طبرى اومظهري اوخازن اوداقول دجمهورومفسرينو دې.

﴿أَوْلِيَآءَ﴾مرادتنه متبعين او اطاعت كوونكي دشيطان دی.يعنى تاسو شيطان اودهغه ذريت سره دوستانه كوئ چې دهغه خبره منئ اودهغه اطاعت كوئ﴿مِن دُونِي ﴾ مقصد دانه دې چې ځماسره ئې په عبادت كښې شريك كړئ اوځمانه بغيرصرف دهغه عبادت مه كوئ بلكه مقصد دادې چې ځما نه تجاوزهغه ته مه كوئ دامعنې داستبدال ده نومعنې د ﴿مِن دُونِي ﴾داده چې مجاوزين عنى اليهم، اوددې وجه نه مفسرينو معنې داسې كړيده تستبدلونهم بى فتطيعونهم بدل طاعتى«روح، ابى سعود»﴿وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ ﴾ضمير دجمع مذكرغائب راجع دې ابليس اودهغه ذريت ته اوداجمله حال واقع ده دماقبل نه يعنى تاسوئې په دوستانه سره نيسئ حالانكه هغوئې ستاسودښمنان دې. نودښمن سره دوستي كول ډيره عجيبه غوندې خبره اوهركله چې لفظ د ﴿عَدُو ﴾ اسم جنس وو نودې وجه نه مفرد راوړې شو.

﴿بِئْسَ لِلظَّٰلِمِينَ بَدَلاً ﴾مراد دظالمانونه هرهغه څوك دی چې اطاعت اوخبره منې دشياطينو گرچې صدق دظلم په خپلو افرادو باندې متفاوت دې ځكه چې داكلي مشكك دې، او﴿بَدَلا﴾ منصوب دې تميز واقع شويدې د﴿بِئْسَ﴾ نه اوفاعل دده ضميرمستقره دې چې «هو»دې، اومخصوص بالذم محذوف دې چې ابليس اودهغه ذريت دې، اى بئس البدل من الله ابليس«كشاف»

﴿مَّآ أَشۡهَدتُّهُمۡ﴾ داعلت دي د ماقبل لپاره چې ابليس اودهغه ذريت چې تاسوئې عبادت كوئ اودوستي ورسره كوئ آيادزمكي اواسمانانودپيدائش په وخت كښې ياپخپله دهغوئې دپيدائش په وخت كښې دوئ سره مونږه مشوره كړې وه يامونږه دوئ دځان سره پديكښې شريك وو؟ ونه الله ﷻ ددوئ مدد ته محتاج دې. نوتاسو څرنګه هغوئ په عبادت كښې دالله ﷻ سره شريكوئ .ضميردمفعول راجع دې ابليس اودهغه ذريت ته اومراد په اشهاد سره حضوردهغوئ دې لپاره د مشورې يعنې دوئ مونږه دمشورې لپاره نوو حاضركړې چې آيا مونږه دا تخليق اوكړو كنه؟ يعنې دوئ سره مومشوره نه وه كړې. (قرطبى) ﴿وَلَا خَلۡقَ أَنفُسِهِمۡ﴾ داعطف دې پماقبل "خلق" باندې مرادپدې سره نفى دمشورې ده په تخليق دځنو نورونه، چې مونږه دبعض مخلوقاتو په پيدائش كښې په دوئ كښې دبعضوسره مشوره هم نده كړې.لكه څرنګه چې (فاقتلوا انفسكم) كښې مراد "انفسكم" نه "بعضكم بعضاً" مراد دې، اوامام رازي رحمه الله فرمائى چې ضمير "هُم" مفعول راجع دې كفاروته چې هغوئ دحضور ﷺ نه مطالبه كړې وه چې داغريب مسلمانان دخپل مجلس نه لرې كړه كنې مونږه ايمان نه راوړو چې هغوئ مدكوردې په ﴿بِئۡسَ لِلظَّٰلِمِينَ بَدَلٗا﴾ كښې. اوايت مقصد دادې چې دوئ ته يعنې دې كفاروته څه خصوصيت اوفوقيت ندې حاصل چې دوئ مطالبه كوې چې داغريب مسلمانان دې دحضور ﷺ مجلس ته نه راځي كچرې مونږ دوئ حاضركړې وې دمخلوقاتو دَپيدائش پوخت كښې يامودَدوئ نه مشوره اوڅه مدد غوختلې وي نوبيابه خودوئ ته فوقيت حاصل وي ليكن داسې خومونږه ندې كړې، نودوئ هم دنورو مخلوقاتو پشان دې ﴿وَمَا كُنتُ مُتَّخِذَ ٱلۡمُضِلِّينَ﴾ مراد دَمضلين.نه ابليس اودهغه ذريت دې.اووضع داسم ظاهرپه موضع دَمضمر باندې لپاره داظهاردمذمت دهغوئ دې، چې دوئ متصف دې حقيقة په وصف دضلالت سره.اوقيد د﴿ٱلۡمُضِلِّينَ﴾ احترازي ندې بلكه اتفاقي دې اوددوئ دذم لپاره راوړې شويدې اوالله ﷻ دهيڅ چانه هم مدد ندې اغستلې، نه ده هادين نه اونه دمضلين نه.او﴿عَضُدٗا﴾ په اصل كښې مټ(بازو) ته وئيلې كيږي، مرادتنه معين اومددګادې، او﴿عَضُدٗا﴾جمع ذكرنشوځكه چې دانكره ده په سياق دنفي كښې واقع شويده نومفيدده لپاره دعموم ده، اولپاره درعايت درؤس

دایتونو چې په اول کښې هم مفرد دې نو په اخیرکښې هم مفرد ذکرشولې ده درعایت د حروف ول سره. اوبعض مفسرین فرمائی چې جمع ځکه ذکرنشوه چې اشاره راشي دینه چې عدم صلاحیت داعتضاد اوامدادکښې دوئ جمیع په منزله دواحددې.چې لکه څرنګه واحد او یوکښې صلاحیت دامداد دالله ﷻ نشته دې نو دغه شان په جمیع اوټولوکښې نیشته دې نوخلاصه دایت داشوه چې کله دوئ ځمامددګاران ندي په تخلیق کښې بلکه دخپل ځان په تخلیق کښې ئي هم څه قسم دخل اوکردارنیشته دې نوځنګه تاسو ددوئ عبادت کوئ. (مدارك) اوعلامه زمخشري یوبل احتمال هم ذکرکړیدې چې (کنت) په فتحې سره دې یعني مخاطب صیغه ده اوپدیکښې خطاب دې حضور ﷺ ته چې ددې کفارونه امداد مه اخله ددوئ نه امداد اغستل ستاپاره صحیح ندي اوصاحب دروح المعاني فرمائی چې په دې تقدیرددې ایت نه بعض ائمه واستدلال کړیدې چې دکافرنه مددطلب کول جائزندي.اود دې تفصیل دادې چې کافرنه په امور دینیه کښې مدداغستل دائمو په نیزیوه مختلف فیه مسئله ده. لکه دهغوئ نه په جهادمع الکفاریاقتال مع البغی کښې مددغوختل جائزدې که ندي. خولیکن په اموردنیوې کښې دهغوئ نه مدد غوختل بالاتفاق جائزدې.برابره خبره ده که هغه امداد په ممتهن امرکښې وي لکه دهغوئ کنیفه(عبادت خانه) ورانه ول یاغیرممتهن وي لکه منبراومحراب اوکپړې جوړول شو

وَيَوْمَ	يَقُولُ	نَادُوا	شُرَكَآءِيَ	الَّذِينَ	زَعَمْتُمْ

[1]او یادکړه هغه، ورځ چې اوبه وائي(الله ﷻ) اوازاوکړئ هغه شریکانوځماته چې ګمان کولوتاسو(په هغوئ باندې دشریکانو)

فَدَعَوْهُمْ	فَلَمْ	يَسْتَجِيبُوا	لَهُمْ	وَجَعَلْنَا	بَيْنَهُمْ	مَّوْبِقًا ۝٥٢

بس دوئ به ورته اواز وکړي نو وربه نکړي جواب هغوئ دوئ ته اواوبه ګرځوو مونږه په مینځ ددوئ کښې ځائ دتباهئ

وَرَاَ	الْمُجْرِمُونَ	النَّارَ	فَظَنُّوٓا	اَنَّهُمْ	مُّوَاقِعُوهَا	وَلَمْ	يَجِدُوا	عَنْهَا

او وبه وینی مجرمان اورلره نو یقین به ئې راشي چې بیشکه دوئ پریوتونکي دې پدې کښې اونه به مومي دهغې نه ځائ لاره

---

[1] تخویف اخروی

مَصۡرِفًا ۝ وَلَقَدۡ صَرَّفۡنَا فِيۡ هٰذَا الۡقُرۡاٰنِ لِلنَّاسِ مِنۡ كُلِّ مَثَلٍ ؕ وَكَانَ الۡاِنۡسَانُ

داوړيدلو ‌نجات، [2] او په تحقيق سره باربار بيان كړيدي مونږه په دي قرآن كښ خلكو ته د هر قسم بيان نه او دی انسان

اَكۡثَرَ شَيۡءٍ جَدَلًا ۝

زيات د هر څيز نه په جګړي كښ

﴿وَيَوۡمَ يَقُولُ ﴾په دي كښ تخويف اخروي ذكر كيږي چي قيامت په ورځ به الله ﷻ مشركينو ته تبكيتًا حكم اوكړي چي دخپل امداد لپاره هغه خوك را اوغواړئ چي خماسره موشريك جوړ كړي وو نو مشركين به هغوئ ته ډيرا وازونه اوامداد درخواست په ورته اوكړي خو هغوئي به ورته څه قسم جواب نه وركوي اوټول به په جهنم كښ جمع كړې شي، ﴿وَيَوۡمَ﴾منصوب دي اومتعلق دي فعل مقدرپوري چي اذكردي اواضافت دشركاء (ي) دمتكلم ته مبنى دي په زعم دهغوئ باندي ندي حقيقة اومراد په ﴿شُرَكَآءِىَ﴾سره غوره قول مطابق بتان دی او گمراه متبوعين دی اوملائك اوانبياء هم مراد كيدي شي اوامر په﴿نَادُوا﴾ لپاره دتبكيت دي، ﴿فَلَمۡ يَسۡتَجِيۡبُوۡا لَهُمۡ ﴾مراد داستجابت نه نصرت دي چي نصرت به يي اونكړي نولهذا ددي ايت تعارض دسورة يونس ايت وقال شركآئهم ماكنتم ايانا تعبدون(۸۲) سره نيشته دي څكه چي دلته نفی داجابت كامله يعني نصرت ده اوهلته كښ اثبات دمطلق اجابت دي يعنى نفس جواب وركول دي

﴿وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُمۡ مَّوۡبِقًا ﴾ موبق صيغه دظرف مكان ده په معني دځائ دهلاكت اومراد ترې اوردجهنم دی، داقول دابن عباس ﷺ اوفراء وغيره دي

اوحضرت عبدالله بن عمرو اوابن عربی وغيره فرمائی چي موبق په معني دحاجزسره دي، ابن عربی فرمائی كل حاجزبين شيئين فهو موبق(فتح القدير) نو په دي تقديربياموبق نه مراد دجهنم هغه كنده ده چي په هغي كښ ويني زوي وي نو الله ﷻ به ددي په ذريعي سره داهل الضلالة اواهل الهدي په مينځ كښ تفريق اوجدائ راولي (زاد المسير) نوكچري "شركائی" نه مراد مطلقا شركاء

---

[2] زجر

شي كه انبياء وي كه ملائك وغيره وي نوبيادَموبق نه دامعني مرادكول اولي دي. اوكه په شركَ سره مراد دَانبياء اوملائكواودَاوليآء نه علاوه بتان اوگمراه متبعين مرادشي نوبيااوله معني زياته اولىٰ ده، ﴿وَرَءَا ٱلْمُجْرِمُونَ﴾ داهم تخويف اخروى دي او وضع داسم ظاهرپه ځاى دمضمرلپاره دتصريح ده په جرمونوددوئ باندې اوتصريح ده په سبب باندې ددخول ددوئ جهنم ته، اومراد په رؤيت سره رؤيت بصرى دي اوپه حديث دابى سعيدخدرى رضي الله عنه كښ دى چې حضورﷺ اوفرمائيل چې ددوئ ليدل دجهنم به دڅلويښت كالو دمسافت باندې وي. عن ابى سعيد رضي الله عنه عن رسول اللهﷺ انه قال ان الكافريرى جهنم فيظن انها مواقعته من مسيرة اربعين سنة(طبرى ج۸ ص ۳۴۱)، ﴿فَظَنُّوٓا﴾ظن په معني ديقين سره دي اىفايقنوا(كشاف) اوياظن په خپلي معني سره دي اودايت مقصددادې چې دڅلويښت كالو دمسافت برابرلري نه چې كله دوئ جهنم اوګوري اودهغې اواز اوغصه واوري نودوئ به په هغه وخت كښ داګمان كوي چې اوس اوس بغيردڅه مهلته اوتاخيره مونږ پدي كښ غورزيدونكى يو(ابن كثير)اودې معني اواحتمال ته ترجيح وركړيده امام رازي رحمه الله ﴿وَلَمْ يَجِدُواْ عَنْهَا مَصْرِفًا﴾واو حاليه دي اومصرف ياصيغه دمصدرميمي ده په معني دواپس كيدلوسره اوياصيغه دظرف مكان ده ځائې دواپس كيدلو. يعني دوئ ته به څه دامن پناه والاځائې به نه ميلاويږي اوفرشتي به ئې جهنم،ته راكاږي(اللهم اعذنامنها).

﴿وَلَقَدْ صَرَّفْنَا﴾ پديكښ زجرذكركيږي ﴿صَرَّفْنَا﴾باب تفعيل دي تقاضا دتكرار كوي اومرادتنه مختلف طريقوسره مضامين بيانول دي لكه وعدوعيدوغيره شو اوبعض فرمائى چې مرادتنه نزول دقرآن دي نجمانجما،﴿لِلنَّاسِ﴾مرادتنه ټول انسانان دى اوجنات تابع دانسانانودى نوځكه دهغې ذكراونشو،اومن په﴿مِن كُلِّ مَثَلٍ﴾كښ زائددې، اوياتبعيضيه دي اومراد په كلٌ سره كل كلي جنسي دي نومعني به ئې داسي شي چې بعضي دهرجنس نه (روح) اومراد په﴿مَثَل﴾ سره يامشهوره معني ده چې مثالونه دى چې اللهﷻ دانسانانودهدايت لپاره په قرآن مجيدكښ ذكركړيدى لكه واضرب لهم مثلا الرجلين وغيره شو، اوياتنه مراد مضامين دى،اوداعبارتٌ ورسره مقدرذي چې فلم يقبلوه ولم يتركوا المجادلة الباطلة،يعني دوئ قبول نه كړواوبلاوجه اودليله مناظره

بازي يې پرې نخوده. اوپدې باندې دلالت مابعد جمله کوي چې ﴿وَكَانَ ٱلْإِنسَٰنُ أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا﴾ جدلاً منصوب دې بنابرتميزرفع دابهام کړيده د اکثر نه اومراد په ﴿ٱلْإِنسَٰنُ﴾ سره څوك وائې چې نضربن حارث دې چې هغه خصومت اوجهګړه کوله پدې قرآن کښې. اوځوك وائې چې ابی بن خلف ته مراددې اوزجاج نه منقول دی چې مراد په ﴿ٱلْإِنسَٰنُ﴾ سره انسان كافردې خکه چې جدال په باطل سره دکافرکاردې لکه الله تعالیٰ فرمائی چې ويجدل الذين كفروا بالبٰطل اوپه ددې دريو واړو احتمالاتوپه تقديرمرادبه دجدل نه جدال باطل وي

ليكن غوره قول دادې چې مراد په ﴿ٱلْإِنسَٰنُ﴾ سره مطلق انسان دې لکه په روايت دبخاري (ج۲) کښې دحضرت علي ﷺ نه مروي دی ان رسول الله ﷺ طرقه وفاطمة بنت رسول الله ﷺ ليلة، فقال الاتصليان فقلت يارسول الله ﷺ انما انفسنا بيدالله فاذا شاء ان يبعثنا بعثنا. فانصرف حين قلت ذلك ولم يرجع الى شيئا ثم سمعته وهومولى يضرب فخذه وهويقول وكان الانسان اكثرشئ جدلا ترجمه: يعني يوشپه نبي ﷺ دوئ خواله راغې اواويې فرمايل چې تاسومونځ نه کوئ؟ نوماورته اووې چې زمونږ ځانونه دالله تعالې په قبضه قدرت کښې دي. چې کله هغه زمونږ راپاسول اوغواړي نومونږ راپاسو، کله چې مادااووې نونبي ﷺ واپس شواوماله هيڅ جواب رانکړو، اوخپل زن يې وهلواودا آيت يې لوستلو ﴿وَكَانَ ٱلْإِنسَٰنُ أَكْثَرَ شَيْءٍ جَدَلًا﴾

وَمَا مَنَعَ النَّاسَ اَنْ يُّؤْمِنُوْٓا اِذْ جَآءَهُمُ الْهُدٰى وَيَسْتَغْفِرُوْا رَبَّهُمْ
[1] اوندې منع کړې خلکولره ددينه چې ايمان راوړي هرکله چې راغې دوئ ته هدايت اوچې بخنه اوغواړي درب خپل نه
اِلَّآ اَنْ تَاْتِيَهُمْ سُنَّةُ الْاَوَّلِيْنَ اَوْ يَاْتِيَهُمُ الْعَذَابُ قُبُلًا ۝
مگرانتظارکولو، ددې خبرې چې راشي دوئ ته طريقه (عذاب) دپخوانوخلکواوياراشي دوئ ته عذاب مخامخ

[1] زجرمع تخويف اخروی

وَمَا نُرۡسِلُ ٱلۡمُرۡسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ ۚ وَيُجَٰدِلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ

او نه لیږو مونږه رسولان مګرزیری ورکوونکي اوېره ورکوونکي [1] اوجګړه کوي هغه کسان چې کفران دی [2]

بِٱلۡبَٰطِلِ لِيُدۡحِضُواْ بِهِ ٱلۡحَقَّۖ وَٱتَّخَذُوٓاْ ءَايَٰتِي وَمَآ

په باطلو،شبهاتوسره لپاره ددې چې اونړه وي پدې سره حق اونیولي دي دوئ ایتونه ځما اوهغه چې

أُنذِرُواْ هُزُوٗا ۝٥٦

دوئ له یرې یره ورکړې شوي وه توقي

﴿وَمَا مَنَعَ ٱلنَّاسَ﴾دازجرمع تخویف اخروي ذکرکیږي،مانافیه ده اوپه ﴿ٱلنَّاس﴾سره مرادمشرکین مکه دي﴿أَن يُؤۡمِنُوٓاْ ﴾ان مصدریه ده په محل دنصب کښې واقع شویده اوددې نه مخکښې من مقدردې ای من ایمانهم بالله تعالی (روح)اوپدې سره اشاره ده توحیدنه منلوته. ﴿إِذۡ جَآءَهُمُ ٱلۡهُدَىٰ﴾دامتعلق دې په منع پوري اوپه "الهدیٰ"سره مراد قرآن مجیداوحضورﷺ دې. اوپه دوئ باندې اطلاق د"هدیٰ" مبالغة دې ځکه چې دوئ سراسردهدایت ذریعي دي﴿وَيَسۡتَغۡفِرُواْ﴾داعطف دې په ﴿أَن يُؤۡمِنُوٓاْ ﴾باندې اومراد پدې سره توبه ویستل دې دشرك نه اواضافه داستغفاربعد ایمان نه یالپاره دتعمیم ده چې ایمان اواستغفار دواړه پکاردی ضرورینې اویا پدې کښې اشاره ده چې ایمان سره داستغفارنه اکمل وي په نسبت سره فقط ایمان نه. ځکه چې استغفار دافع دعذاب اوقهرالهي دې.لکه الله ﷻ فرمائي چې وماکان الله معذبهم وهم یستغفرون. اویالپاره دتاکیدده چې هغه ایمان چې سره داستغفارنه وي نو هغه پاك وي دمخالطت دنفاق نه.﴿إِلَّآ أَن تَأۡتِيَهُمۡ ﴾استثناء مفرغه ده اوداجمله په تاویل دمصدر.مفرد سره فاعل دې د﴿مَنَعَ﴾لپاره. اوداکلام په حذف دمضاف سره دې چې هغه لفظ د"طلب"دې یا"انتظار"دې اومراد

---

[1] جواب سوال مقدر
[2] ح.

په﴿سُنَّةُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾سره عذاب استيصالی دې چې ټول هلاك شي.لکه څنګه چې دتيرشوز قومونوحال وو ، اواضافت د﴿سُنَّة ﴾ ﴿ٱلْأَوَّلِين﴾ته مجازًا دې ځکه چې داسنت دالله ﷻ وو چې کله به تيرقومونوتکذيب زيات کړو نودالله ﷻ دطرف نه به بياعذاب استيصالی راتللو.ليکن داسنت دالله ﷻ جاري وو په دوئ باندې نوځکه ئې اضافت دوئ ته اوشولو . ﴿أَوْ يَأْتِيَهُمُ ٱلْعَذَابُ قُبُلًا﴾قبل په ضمې دقاف اوباء سره مخامخ ته هم وئيلې کيږي اوفجاءة(ناساپې) ته هم وئيلې کيږي نومطلب به ئې داسې شي چې ياراشي دوئ ته عذاب مخامخ. اچانك.نوبيا به دوئ ايمان راوړي. اوياقبل جمع دقبيل ده وئيلې کيږي داسې متفرق ته چې په يوبل پسې وي نومرادتنه يې دريې عذابونه دى(معانی القرآن للفرآء) اوامام رازی فرمائی چې قبيل، وئيلې کيږي، انواعوته نومعنې ئې داده چې دوئ ته مختلف الانواع عذابونه راشي.او (او)په ﴿أَوْ يَأْتِيَهُمُ ﴾ کښې ياپه معنې د واو سره دې چې هغه دمطلق جمع لپاره راځي، اويالپاره دتنويع دې. اوبعض فرمائی چې اوتبعيضيه دې. ای ان بعضهم يقع به هذا(زادالمسير) اوکه څوك اعتراض اوکړي چې هرکله مرادپه ﴿سُنَّةُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾سره عذاب وو نودوباره په ﴿أَوْ يَأْتِيَهُمُ ٱلْعَذَابُ ﴾ذکرکولوڅه فائده ده؟ نوجواب دادې چې﴿سُنَّةُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾، افاده دعذاب مبهم کړې وه اوپه﴿أَوْ يَأْتِيَهُمُ ﴾سره تعين دنوع دهغې عذاب مبهمه کيږي

فائده: په ظاهرکښې ددې ايت تعارض معلوميږي دايت دسورة الاسراء سره، ځکه چې هلته په حصرسره دايمان راوړلو لپاره مانع وصف بشريت وو درسول لپاره لکه چې په ايت نمبر(۹۴) ومامنع الناس ان يؤمنوا اذجآءهم الهدىٰ الاان قالواابعث الله بشراً رسولاً .کښې واضح تصريح ده، اوپدې مذکوره ايت کښې دايمان راوړلولپاره مانع په حصرسره انتظارهلاکت اوعذاب ته ذکرشولو. نولهذا په دواړواياتونوکښې تعارض دې، خوعلمآء فرمائی چې تعارض نيشته دې، ځکه چې مانع په دوه قسمه دې(۱)مانع حقيقې(۲)مانع عادې، مانع حقيقې هغې ته وئيلې کيږي چې په هغې کښې شئ ممنوع ارتکاب محال وي اوتخلف دمانع نه نشي راتللې اومانع عادې هغې ته وئيلې کيږي چې په هغې اتيان شئ ممنوعه ته محال نوي اوتخلف دمانع نه راتلې شي. نوپه سورة الاسراء ايت(نمبر۹۴)کښې ذکردمانع عادې وو اوپدې ايت کښې ذکردمانع حقيقې دې اوددې وجه

نه ډيروخلکو چې ابتداء کافروو نورسالت به ئې دبشرسره منافي کنړلو اوداورله مانع وو داسلام لپاره خودهغې باوجود ايمان ئې راوړې وو، اوپه کوموخلکو باندې فيصله دالله ﷻ دعدم ايمان شويده نوهغوئې دعذاب استيصالى انتظارکوي اوداوائې چې(ان کان هذاهوالحق من عندك فامطر علينا حجارة من السّمآء) الخ.

اوکه څوك اعتراض اوکړي چې هرکله انتظار دهلاك مانع وولپاره ددوئ دايمان نه نوپکاروه چې انتظارمقدم وي په عدم ايمان باندې اوحالانکه ددوئ ايمان نه راوړل مقدم دې، په انتظارباندې نوجواب تنه دادې چې انتظارمانع دايمان سابق لپاره ندې بلکه انتظارمانع دهغې ايمان لپاره دې چې هغه دانتظارنه ورستومتحقق کيږي. چې هغه عدم ايمان مرتبه دختم ده اوياجواب دادې چې داتنزيل داستحقاق دې په منزله دطلب باندې، لکه يوسړې خپل خادم، نوکر، يابچي ته اوائې چې کله هغه نافرمانې اوکړې، ته وهل غواړې. حالانکه هغه وهل غوختلې نوې اوطلب ئې دوهلونوي کړې خوچونکه هغه په سبب دعصيان سره مستحق دوهلو ګرځيږي نودغه استحقاق په منزله دطلب نازل کړې شو، نودلته هم داسې ده، نوګوياچې اصل عبارت داسې دې، مامنعهم من ذلك الااستحقاق الهلاك الدنيوى اوالعذاب الاخرة(روح).

﴿وَمَا نُرْسِلُ﴾پدې ايت کښې حکمت دارسال درسل ذکرکيږي، اودېوسوال مقدرجواب ذکرکيږي، چې مشرکينوبه وئيل حضورﷺ ته، ته مونږباندې عذاب ولې نه راولې حالانکه مونږه ستاخبره اوحکم نه منو؟ نوجواب تنه اوشولو چې انبياء کرام راليږلې شوي دې لپاره ددفعيې دعذاب چې خلکوته په ايمان راوړلوسره خوشخبري ورکړې اوپه نه راوړلوسره ئې دالله ﷻ دعذاب نه اويره وي اودمنکرينودشبهاتو جوابونه ورکړي چې اتمام حجت اوشي اوکه بياهم څوك اونه مني نوعذاب به پرالله ﷻ دطرف نه راځي﴿إِلَّا مُبَشِّرِينَ﴾داجمله حال واقع شويده دماقبل نه.

﴿وَيُجَٰدِلُ ٱلَّذِينَ﴾دازجردې په مجادلينو باندې، يعنى دوئ باطل شبهې پيش کوي اودحق دپاڅولوکوشش کوي، اومختلف قسم تعنتي سوالات کوي اوباء په ﴿بِٱلْبَٰطِلِ﴾کښې سببيه ده اومراد په دې سره غلط دلائل اوشبهات اواعتراضونه کول دې لکه دوئ به وئيل(لوشآء الله لانزل ملئكة،مال هذا الرسول ياكلوا الطعام ويمشى فى الاسواق) وغيره شو اواتصاف دجدال په باطل سره لپاره دبيان دمذموم منه دې﴿لِيُدْحِضُوا﴾ داماخوذ دې د(ادحاض القدم) نه دقدم خويدلوته وئيلې

کیږي. اوضمیرپه ﴿بِهٖ﴾ کښې راجع دي جدال ته ای لیزیلوا ویبطلوا باجدال ﴿اَلْحَقَّ﴾ اومراد په حق سره هغه احکامت اوشرائع دي چې انبیاء کرام راوړي وو ﴿وَاتَّخَذُوْٓا اٰيٰتِيْ﴾ مراد په "ایٰتی" سره معجزات دي که هغه قولاً دي لکه قرآن مجید اویافعلاً دي لکه نورمعجزات شو. اومراد په ﴿وَمَآ اُنْذِرُوْا﴾ سره اخباردي نزول دعذاب متوقعه نه که دنیوي وي یااخروي. اوماپه ﴿وَمَآ اُنْذِرُوْا﴾ کښې یامصدریه ده په معنې د "انذارهم" سره دي او (واو) بمعنې مع دي ای واتخذوا ایتی مع انذارهم الخ اویا ماموصوله ده اوانذروا جمله ورله صله ده اوعائدپه صلې کښې "ه" ضمیردي محذوف دي ای ماانذروه (کشاف) او ﴿هُزُوًا﴾ په معنې ده مَهزُواً سره دي، اویاحمل ئې مبالغة دي

وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ فَاَعْرَضَ عَنْهَا وَنَسِيَ

اوڅوک نوی ظالم دي دهغه چانه چې ورته یادکړې شي آیتونه درب خپل نومخ واړه وي دې دهغې نه اوهیرکړه

مَا قَدَّمَتْ يَدٰهُ ؕ اِنَّا جَعَلْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً اَنْ يَّفْقَهُوْهُ

هغه عملونه چې مخکښې لیږلي دي لاسونو ده بیشکه مونږه ګرځولیدي په زړونو ددوئ باندې پردې دپوهې دقرآن نه

وَفِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرًا ؕ وَاِنْ تَدْعُهُمْ اِلَى الْهُدٰى فَلَنْ يَّهْتَدُوْٓا اِذًا

اوپه غوږونو ددوئ کښې درندوالې دې اوکه ته رابولې دوئ سمې لارې ته نوهرګز لاره نه مومي دوئ پدغه وخت کښې

اَبَدًا ۝ وَرَبُّكَ الْغَفُوْرُ ذُو الرَّحْمَةِ ؕ لَوْ يُؤَاخِذُهُمْ بِمَا كَسَبُوْا

هیڅرې اورب ستاډیربخښونکې دې رحمت والادې کچرې نیولې ئې دوئ په سبب دهغه عملونوچې دوئ کړیدي

لَعَجَّلَ لَهُمُ الْعَذَابَ ؕ بَلْ لَّهُمْ مَّوْعِدٌ لَّنْ يَّجِدُوْا مِنْ دُوْنِهٖ

نوذربه ئې رالیږلې وې دوئ ته عذاب بلکه شته دې لپاره ددوئ ځای دوعدې چې هرګزبه اونه مومي دوئ بغیردهغې نه

مَّوْئِلًا ﴿٥٨﴾ وَتِلْكَ الْقُرَىٰ أَهْلَكْنَاهُمْ لَمَّا ظَلَمُوا وَجَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِم مَّوْعِدًا ﴿٥٩﴾

بل ځائ دپناه، اودادکلوخلك هلاك کړل مونږه هرکله چې ظلم ئې اوکړواومقررکړې وومونږه لپاره دهلاکت ددوی یووخت مقرر

﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن﴾ داهم زجردې په اعراض کوونکوباندې دقرآن نه چې دقرآن تلاوت اوریدلونه مخونه واړه وي اوپه تیرشوي ګناهونوباندې توبه نه اوباسي. او استفهام انکاري دې ﴿بِآيَاتِ رَبِّهِ﴾ مرادپه ایتونوسره قرآن مجید دې اوددې وجه نه ورستو﴿أَن يَفْقَهُوهُ﴾ کښې ضميرورته دمفرد مذكرراجع شويدې، اوبعض مفسرين فرمائي چې مرادتنه جنس ايات دي كه قرآن وي يانورمعجزات. ﴿فَأَعْرَضَ عَنْهَا﴾ پديکښې اشاره ده چې دقرآن مجيدپه ايتونوکښې سوچ. فکر اوتدبرنه کول اعراض دې دقرآن نه﴿وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ﴾ مرادتنه اعمال اوافعال سيئه دي «ابن کثیر» اومراد په نسيان سره عدم تفکردې په عاقبت اوانجام ددې کښې اويامراد په نسيان سره ترك توبه ده «قرطبی».

﴿إِنَّا جَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً﴾ داجمله مستانفه ده واقع ده په سوال دسائل کښې ګوياچې سائل سوال اوکړو چې ماعلة الاعراض والنسيان؟ نوجواب اوشوچې علت داعراض لپاره دادې چې﴿إِنَّا جَعَلْنَا﴾ اكنة جمع ده كنان ده پردوته وئيلې كيږي. اوتنوين لپاره دتعظيم دې، اومراد په دې سره مرتبه د«طبع اوختم» ده اوداتنيجه داعراض ددوئ ده لكه څرنګه دزهرخوړونكې باندې نتيجه اواثردمرګ مرتب كيږي نودغه شان په اعراض كوونكې باندې نتيجه دختم اوطبع مرتب كيږي چې دا بمنزله دموت معنوي دې، اوپدې كښې څه دليل دجبريه لپاره نيشته دې او «ان» په ﴿أَن يَفْقَهُوهُ﴾ كښې مصدريه دې﴿وَفِي آذَانِهِمْ﴾ داعطف دې په﴿عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ﴾ باندې او﴿وَقْرًا﴾ وئيلې كيږي بوج ته نومراد تنه دادې چې ددوئ غوږونه په سماع قبول سره حق نه اوري﴿وَإِن تَدْعُهُمْ﴾ داشرط دې او﴿فَلَن يَهْتَدُوا﴾ ورله جزاء ده.اوجزاء مرتبه وي په شرط باندې، نوپه ظاهركښې اشكال كيږي چې دعوت دحضورﷺ خوذريعه دعدم هدايت لپاره نه ګرځيږي اودحضورﷺ په دعوت الى الاسلام باندې ترتب دانتفاء دايمان اوهدايت نه كيږي نوڅرنګه به

دلته ﴿فَلَن يَهْتَدُوٓاْ ﴾ترتب په ماقبل ﴿وَإِن تَدْعُهُمْ ﴾باندې صحيح شي؟ نوجواب دادې چې دا انشاء نده حقيقة بلكه دااخباردې دمستقبل نه اوپيشنگوئي ده اوجواب دې دسوال تقديري لپاره چې گويا چې حضورﷺ ددوئ په ايمان باندې دډيرحرص دوجې نه تپوس اوكړو چې مالې لا ادعوهم؟ نو الله ﷻ ورته اوفرمائيل كچرې ته دوئ دعوت هم وركړې خودوئ ته هدايت نه ميلاويږي ځكه چې الله ﷻ ددوئ په زړونوباندې مهردجاريت تثبت كړيدې.(طبرى) اود ﴿إِذًا ﴾ لپاره مضاف اليه جمله مقدره ده يعنى چې پدغه وخت كښې چې كله ددوئ په غوږونوباندې بوج اوغوږخولې شي اوپه زړونوباندې پردې راوستلې شي نوبيادوئ ته هدايت نه ميلاويږي. اوتقيدپه ﴿أَبَدًا﴾ سره مبالغه ده په نفي دهدايت كښې دهغوئي نه﴿وَرَبُّكَ ٱلْغَفُورُ ﴾ پدې ايت كښې هم زجرذكركيږې هغه خلكوته چې دالله ﷻ دصفت مغفرت اورحمت نه غلط مطلب اخلې اوپه گناهونوباندې جرائت كوې پدې خيال چې الله ﷻ غفور اورحيم دې ليكن داخيال نه كوې چې دبداعمالو په سبب دالله ﷻ قهر اوغضب هم نازليږې چې بيادهغې نه ئې څوك خلاصولې نشي﴿وَرَبُّكَ ﴾ مبتداء ده او﴿ٱلْغَفُورُ ﴾ او﴿ذُو ٱلرَّحْمَةِ ﴾ورله خبربعدالخبردې اوصفت دمغفرت په صيغې دمبالغې سره ذكرشو اوصفت درحمت دمبالغې سره نشوذكروجه داده چې مذكورپدې مقام كښې عدم مواخذه ده فى الحال ددوئ په لوئې لوئې جرمونوباندې اوپدې لوئې جرمونوباندې عدم مواخذه ددوئ مغفرت عظيمه دې اوصفت درحمت دالله ﷻ پدې دنياكښې عام دې پدوئ باندې خوتام ندې ځكه كچرې تام شي پدوئ باندې نودوئ به ايمان راوړې وو اوعذاب نه به بچ شوې وې مكمل. اگرچه رحمت دالله ﷻ ته سبقت حاصل دې په غضب باندې(روح بحواله خفاجى)

﴿لَوْ يُؤَاخِذُهُم ﴾دااستشهاد دې لپاره دترك مواخذې اودمغفرت چې داهل مكه دلوئ جرمونو باوجود ددوئ په مواخذه كښې جلتې اوتعجيل الله ﷻ ندې كړې اوكچرې الله ﷻ دوئ سره دمغفرت والامعامله نوې كړې اودوئ ته ئې مهلت نوې وركړې نوپه عذاب كښې به ئې جلتې كړيوه په دنياكښې به ئې فورې عذاب راوستې وو اودوئ ټول به ئې هلاك كړې وو او(ما)په ﴿بِمَا كَسَبُواْ ﴾كښې يامصدريه ده اى بكسبهم اوياموصوله ده موعد صيغه دظرف زمان يعنى وخت

ءوعدې اومرادورنه عذاب دې يادنيوي لکه يوم البدرکښ ددوئ قتل اوذلت شوې وو
وينورډغه شان فتوحات شو. اوياتنه دمرګ والا ساعت اووخت مراددې. اوياتنه داخرت
والاعذاب مراد دې،اوبعض مفسرين فرمائی چې موعدصيغه دظرف مکان ده مراد تنه جهنم دې
﴿مِن دُونِهِۦ﴾ ضميرراجع دې "موعد"ته او"موئل" وئيلې کيږي ځائې دپناه ته اوپدې کښ مبالغه
مقصودده په عدم نجات کښ چې دنيوي عذاب نه دبچ کيدلواودخلاصي ګنجائش ممکن وي
ليکن عذاب اخروي نه دبچ کيدلو هيڅ صورت به نوي(اللهم اعذنا منها بفضلك وبمنك امين).
﴿وَتِلْكَ ٱلْقُرَىٰٓ﴾ پدې کښ تخويف دنيوي دې. چې دغه کلې چې تاسوکښ دهغوئې واقعات
مشهوراومعروف دي دخپلوګناهونو په سبب هلاك شويدي. او﴿وَتِلْكَ﴾ سره اشاره محسوس ته
ده ځکه چې هغوئې خوهلاك شوي ووبلکه معهود فی الذهن ته ده، اوقرې نه مخکښ مضاف
مقدردې چې اهل دې اومرادتنه عاد،ثمود،قوم لوط وغيره دی. اوهرکله چې ددوئ حالات
اوواقعات پدوئ کښ مشهوراومعروف وو نودکمال معلوميت دوجې نه نازل کړو په منزله
دمحسوس نوځکه ورته اشاره په﴿وَتِلْكَ﴾ سره ورته اوشوه﴿لَمَّا ظَلَمُوا۟﴾ مرادتنه کفردې اومفعول
دظلموا حذف کړې شويدې لپاره دتعميم دظلم چې ددوئ ظلم په هرڅيزکښ وو. اوداتعليل
وسبب دې لپاره داهلاك دهغوئې ﴿وَجَعَلْنَا لِمَهْلِكِهِم﴾ مهلك په معنې داهلاك سره دې اوياصيغه
دظرف ده ای وقت هلاكهم.او﴿مَّوْعِدًا﴾ هم ياظرف زمان دې يعنی دهرقوم دهلاك کولولپاره يوه
نيټه معلومه ده اويامصدردې په معنې دوعدې سره اوپدې کښ اهل مکه ته تعليم ورکول دې
دهغوئي ته تخويف دې چې څرنګه دغې قومونوظلم اوکړواودخپلو بدو عملونونه وانه ګرځيدل
نوالله ﷻ ددوئ دهلاکت لپاره يوه ورځ اونيټه مقرره کړې وه چې کله هغه نيټه راغله
نوالله ﷻ هلاك کړل دغه شان ستاسونيټه چې راشي نوتاسوبه هم هلاك شئ

وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِفَتَاهُ لَا أَبْرَحُ حَتَّىٰ أَبْلُغَ

[1]اویادکړه هغه وخت چې اوئیل موسی علیه السلام خادم خپل ته چې زه به همیشه روان یم سردې چې اورسیږم

مَجْمَعَ الْبَحْرَيْنِ أَوْ أَمْضِيَ حُقُبًا ۝ فَلَمَّا بَلَغَا مَجْمَعَ

ځائ دجمع کیدلو ددوه دریابونو ته اویابه تیره شي ډیره زمانه. پس هرکله چې اورسیدل دوئ دواړه ځئ دجمع کیدلو

بَيْنِهِمَا نَسِيَا حُوتَهُمَا فَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ سَرَبًا ۝

ددوه دریابونو ته نو هیرکړلو دوئ دواړو مهي خپل پس اونیوله (مهیئي) لاره خپله په دریاب کښې په شانته د سورنګ.

فَلَمَّا جَاوَزَا قَالَ لِفَتَاهُ آتِنَا غَدَاءَنَا لَقَدْ

پس هرکله چې دوئ تیرشو (دهغې ځائ نه) اوئیل (موسی علیه السلام) خپل خادم ته راوړه مونږته ناشته زمونږه په تحقیق سره

لَقِينَا مِن سَفَرِنَا هَٰذَا نَصَبًا ۝

رسیدلي دي مونږته ددې سفرنه سترې والي

﴿وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ﴾ دا دَسورت دریمه حصه شروع کیږي اوپدې کښې هم دیوشبهې جواب دې چې حضرت خضر علیه السلام ته ځنې اموغیبیه خودل ددې علامه ده چې حضرت خضر علیه السلام غیب دان اوعالم الغیب وو نولهذا عالم الغیب صرف الله جل جلاله ذات ته ونیل صحیح نشو. نو ددې جواب اوشو چې حضرت خضر علیه السلام عبدوو لکه چې الله جل جلاله فرمائی ﴿فَوَجَدَا عَبْدًا﴾ اوعبد محتاجه وي الله جل جلاله ته اوتصرف اختیارورته نوي حاصل، اوهغه ته دځنې اموروتکوینیه علم لدنی ورکړې شوې وو. اوټول امورخارقه للعادت په حکم دالله جل جلاله سره کړي وولکه چې هغه خپله اقرارکړې ووچې ﴿وَمَا فَعَلْتُهُ عَنْ أَمْرِي﴾ اوحضور صلی الله علیه وسلم فرمائی چې حضرت خضر علیه السلام موسی علیه السلام ته اوفرمائیل چې (انّ لی علما لاینبغی لك ان تعلمه وان لك علما لاینبغی لی ان اعلمه) (الحدیث) یعني ماسره داسې علم دې چې هغې زده کړه تاسره مناسب نده اوتاسره چې کوم علم دې هغې زدکړه

[1]، جواب ازشبهه ثالثه

سره مناسب نده. نوحضرت خضر ؑ دخپلي عاجزني اوخني امورو په باري كښې دلاعلمي اظهارهم اوكړو. بلكه حديث كښې راځي چې كله دوي په كشتۍ كښې كښناستلونويوه مرغۍ رغله چې دسمندرنه ئې په خپله خوله كښې اوبه راوغستلي نوحضرت خضر ؑ موسى ؑ ته اوئيل چې والله ماعلمي وعلمك في جنب علم الله الاكمااخذ هذا الطائربمنقاره من البحر الحديث يعني خدائ اوستاعلم دالله تعالى علم په مقابله كښې دومره دې څومره چې ددي مرغۍ په خوله كښې اوبونسبت سمندرسره دي. اودا قول دخضر ؑ صرف لپاره داقرارعجزوو كنې دبندګانوعلم نسبت دالله ﷻ دعلم سره دقطرې اودسمندرهم ندي ځكه چې قطره متناهي ده اوسمندرهم متناهي دي نوهلته دمتناهي نسبت متناهي ته دي اوعلم دالله ﷻ غيرمتناهي دي اوعلم دانبياء كرامو متناهي دې نودلته دمتناهي نسبت دغيرمتناهي سره دي

اومراد د ﴿مُوسَىٰ﴾نه موسى بن عمران بن قاهث بن لاوي بن يعقوب بن اسحاق بن ابراهيم عليهم السلام دي اومرادپه ﴿لِفَتَىٰهُ﴾سره دهغه خادم حضرت يوشع بن نون بن افراثيم بن يوسف بن يعقوب ؑ دي. اواطلاق په هغه باندې د "فتى" تاديبادي اوددي وجه نه خپل خادم. نوكرياغلام ته فتى وئيل مستحب اومسنون دي لكه حديث كښې راځي چې حضور ﷺ ارشاد اوفرمائيلوچې (لايقل احدكم عبدى ولامتى وليقل فتاى وفتاتى)(مسلم) اوپه ځني رواياتوكښې راځي چې حضرت يوشع ؑ دحضرت موسى ؑ خوره ئي وو(بحر) اوكوم وخت كښې چې دي خادم وو نوهغه وخت كښې ورته نبوت نوو ميلاؤاوبيادحضرت موسى ؑ دوفات نه پس ورته نبوت وركړې شو

فائده پدي ايت كښې دليل دې په جواز داستعانت باندې دخادم نه اوپه امورو شرعيه كښې استعانت دغير نه سنت دانبياؤ دي.

﴿لَآ أَبْرَحُ﴾ابرح دافعال ناقصه نه دي اوخبرئې محذوف دې چې اسيردي اوقرينه په حذف دخبرباندې داقول دالله ﷻ دي چې ﴿أَبْلُغَ مَجْمَعَ ٱلْبَحْرَيْنِ﴾ ځكه چې بلوغ مجمع البحرين ته غايه ده اودتقاضا دهغه فعل كوي چې كوم فعل لپاره داغايه ګرځيدليدي نوهغه سيردي اودغه شان قرينه حاليه هم پدي باندې موجوده ده چې دلته اسير مقدردي ځكه چې داحالت دسفروو.مدارك. اوامام بخارى رحمه الله پدي واقعي باندې باب منعقد كړيدي په كتاب العلم كښې اومقصد ئي دادي

چې علم لپاره خروج اوطلب دعلم لپاره کوشش اومشقت برداشت کول پکار دي اوکه يو ځائ کښې علم حاصل نشي نوبل ځائ ته ورپسي تلل پکاردی اګرچې په سمندر کښې ورپسي سفر کول وي

﴿مَجۡمَعَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ﴾ موسیٰ علیه السلام ته دوحي په ذريعې خودلې شوي وه چې کله هغه تپوس اوکړو: ای رب این؟ اي ربه هغه کوم ځائ کښې دې نو الله جل جلاله ورته اوفرمائيل چې بمجمع البحرين يعني په مجمع البحرين کښې دې مجمع ظرف مکان صيغه ده يعنی ددوه بحرونو ميلاودو والا ځائ اوپه تعيين دمجمع البحرين کښې ډيراقوال راغليدي منجمله دهغې نه دادی چې (۱) بعض فرمائي مراد ددينه بحرفارس اوبحرروم دميلاويدو والاځائ دې. داقول دحضرت قتادة رحمه الله نه مروي دې اوددې قول په اعتبارمراد به دمجمع نه قرب اتصال وي ځکه چې بحيره فارس اوروم يوبل سره ميلاويږي نه بلکه قريب تيريږي (۲) بعض فرمائي چې دامقام په خرطوم (سوډان) کښې واقع دې چې هلته ددريائي نيل دوه شاخونه يوبل سره ميلاويږي چې نيل ابيض اونيل ازرق دې. اودې احتمال ته ځنې مفسرينو ترجيح ورکړيده چې داواقعه دسفرپه هغه وخت کښې پيښه شوي وه چې کله موسیٰ علیه السلام په مصرکښې قيام فرماوو (۳) بعض فرمائي چې مراد په دې سره مقام طنجه دې اوطنجه په اسپين کښې دجبل الطارق سره قريب واقع دې اوديته مضيق جبل طارق هم وئيلې کيږي اوپه دغې مقام کښې بحرابيض المتوسط اوبحرمحيط اطلسي ميلاويږي اوددينه علاوه نوراقوال هم راغليدي خوچونکه قرآن اوحديث کښې تعيين ندې کړې شوې اوپه تعيين کښې څه حکم شرعي ندې متعلق نوددې وجه په اثبات دتعيين کښې وخت صرف کول ندې پکار. اونه بالجزم يومقام متعين کيدې شي بلکه مفسرينودآثاراوقرآئن دوجې نه متعدد مقامات بيان کړيدی اوځنې مفسرينودخپل مزاج مطابق ځنواحتمالاتو ته ترجيح ورکړيده. خوبهرحال مقصود دادې چې حضرت موسیٰ علیه السلام دحضرت خضر علیه السلام نه دعلم دحصول لپاره سفراوکړو.

﴿أَوۡ أَمۡضِيَ حُقُبًا﴾ حقب مفرد دې اوجمع ئې احقب اواحقاب راځي. ابن عباس رضی الله عنه نه دحقب په باري کښې مروي دي چې ددې اطلاق په مطلق زمانې باندې کيږي او حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه اودحصرت ابوهريرة رضی الله عنه فرمائي چې دحقب اطلاق په اتيا (۸۰) کالو باندې کيږي. اودحضرت حسن بصري رحمه الله مروي دي چې حقب اويا (۷۰) کالو باندې اطلاق کيږي. خوغوره خبره داده چې پدې ځائ کښې دحقب نه مراد ډيره زمانه ده اوپديکښې اشاره ده دحضرت موسیٰ علیه السلام عزم ته په حصول دعلم باندې. چې دخپل سفرلپاره ئې دوه غائې ذکرکړي چې يوه بلوغ اورسيدل مجمع

البحرين ته دې اوملاقات دحضرت خضر عليه السلام سره دې اويابوه اوږده زمانه سير اوسفر كول دې او ﴿أو﴾ لپاره داحد الامرين دې (روح) اوبعض مفسرين فرمائي چې ﴿أو﴾ په معنې د الیٰ سره دې اوددې نه ورستو ان ناصبه مقدر دې او استثناء مفرغه ده نومقصد دادې چې څه هميشه لپاره به سفركوم حتى چې مجمع البحرين ته اورسيږم مګر داچې دومره سفراوكړم چې مې يقين راشي چې اوس خپل مقصود نشم حاصلولې

فائده (۱) ددينه ايت نه معلومه شوه چې دطلب علم لپاره عزم اومشقت برداشت كول ضروري دې اوسفرلپاره دعلم عظيم عبادت دې اګرچې ديوې كلمې لپاره ولې نوې؟ اوددې وجه نه امام شعبي رحمه الله نه مروى دې چې فرمائي (لوان رجلا سافرمن اقصى الشام الى اقصى اليمن ليسمع كلمة مارايت ان سفره ضاع) اوحضرت والدصاحب به دلته اشعارفرمائيلو چې دست ازطلب نه دارم تاكامِلم برآيد من رسدبجانان ياجان زتن برآيد

(۲) ددې ايت نه داهم معلوميږي چې داستفادى علمى لپاره څه انتهاء نيشته دې حتى كه انبياء كرام عليهم السلام دكمال علم باوجودمزيدعلم ته محتاجه وو اودغه شان واقعات دصحابه كرامو رضي الله عنهم اودتابعينو نه هم مروى دى. حضرت جابربن عبدالله رضي الله عنه ديوحديث اوريدلولپاره دحضرت عبدالله بن انيس رضي الله عنه ته شام ته تللې وو اوديوې مياشتې سفرئې كړې وو. اودغه شان دحضرت قيس بن كثير رحمه الله نه مروى دې په ترمذى شريف باب فضل العلم كښ چې فرمائي: كنت جالسا مع ابى الدرداء فى مسجد دمشق وجاءه رجل فقال ياابالدرداء انى جئتك من مدينة رسول الله ﷺ لحديث بلغنى انك تحدثه عن رسول الله ﷺ ماجئت لحاجة الخ يعني څه ابوالدرداء رضي الله عنه دمشق په جماعت كښې ناست وم چې يوسړې راغې اواويل يې اې ابوالدرداء! څه دمدينې نه صرف ديوحديث داوريدلودپاره راغلې يم بل هيڅ حاجت مې نشته چې هغه مې هم دې سفر نه مقصود وي.

(۳) ددې ايت نه داهم معلوميږي چې ځوك دسفر اراده كوي نوپكارده چې ځان له دې رفيق سفراوګوري اويواځې سفردى نكوي. اوپه احاديثوكښ دځنې اسفاريواځې كولونه منع هم راغليده

قصه موسى عليه السلام اوخضر عليه السلام:

امام بخاري رحمه الله اومسلم رحمه الله دحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه نقل كړيدې چې هغه دحضرت ابى بن كعب رضي الله عنه نه روايت نقل كړيدې چې حضور ﷺ اوفرمائيل چې يوځلې حضرت موسى عليه السلام بنې

اسرائیلو ته وعظ اونصیحت اوکړو حتی که چې دخلکو دسترګونه اوښکي رواني شوي اوزړونه ئي نرم شولو. یوکس ورنه تپوس اوکړو چې دزمکي په مخ ستا نه لوئي عالم بل څوک شته دی؟ نوموسی علیه السلام اوفرمائیل چې نه ،اوداجواب اګرچې فی نفسه صحیح وو خکه چې پیغمبر ﷺ هغه اعلم الناس وي خوچونکه دپیغمبر ﷺ دشان اود مقربینو سره داجواب مناسب نوو نودخپل شان سره غیرمناسب جواب ورکولودوجي نه، دالله جل جلاله دعتاب لاندي راغي. نوورته اووئیلي شو هاؤستانه لوئي عالم شته دي. موسی علیه السلام تپوس اوکړو چې اي ربه! په کوم ځاي کښ دي؟ نوالله جل جلاله ورته اوفرمائیل چې په مجمع البحرین کښ دي. حضرت موسی علیه السلام هغه نه درسیدلولپاره یوه نشاني طلب کړه. نوالله جل جلاله ورته اوفرمائیل چې یومهي په ټوکرئ کښ دخپل ځان سره واخله اوکوم ځائ کښ چې دامهي ژوندي شو نوهلته به هغه موجودوي. حضرت موسی علیه السلام په ټوکرئ کښ مړمهي دځان سره واغستلو اوخپل خادم حضرت یوشع علیه السلام ته ئ اوفرمائیل چې کله هم دامهي ژوندي شي نوماته خبرراکړه اودواړه روان شوحتی که چې دوئ دواړه یوځائي ته اورسیدلوچې هلته یوکاڼړي اوشګه اواوبه وي حضرت موسی علیه السلام آرام اوفرمائیلو اواوده شو .نوپه دغه دوران کښ اچانك مهي حرکت اوکړو اوژوندي شو اوسمندرته ئي توپ کړل اوپه کوم ځائي کښ چې اوبوته ننوتلونوهلته کښ یوسرنګ غوندي جوړشو. حضرت یوشع علیه السلام دځان سره اوئیل چې حضرت موسی علیه السلام به پخپله راپاسي اوځه ئي نه راویښوم اوچې کله خپله راویښ شي نوبیابه ورته اوایم. کله چې موسی علیه السلام راویښ شو نویوشع علیه السلام نه واقعه هیره شوي وه اوپه سفرروان شوحتی که چې دوئ کافي سفراوکړو نوحضرت موسی علیه السلام خپل خادم ته اوفرمائیل چې ﴿ءَاتِنَا غَدَآءَنَا ﴾چې داخوراك راکړه چې اوخورو پدي سفرکښ ستومانتیاراته ډیره اورسیدله، حضرت موسی علیه السلام ترکوم وخته پوري خپل منزل ته نوو رسیدلي نوستړي کیدلونه، اوکله چې په خپل منزل مقصودتیرشولو نوبیاورته ستومانتیااورسیدله.نوحضرت یوشع علیه السلام ته واقعه رایاده شوله اواوئیل ئي چې کوم کاڼړي سره مونږه ارام کړي وو نومهي خوهلته ژوندي شوي وو اوځمانه داخبره هیره شوي وه اوشیطان ځمانه هیره کړي وه اومهي په سمندرکښ عجیبه لاره هم جوړه کړي وه. نوموسی علیه السلام ورته اوفرمائیل چې داخوزمونږ منزل مقصود وو اودواړه واپس دخپل قدمونوپه نشاناتو باندي واپس شول حتی که چې هغي ځائي ته را اورسیدل نوهلته ورته حضرت خضر علیه السلام میلاؤشو چې خپل ځان ئي په کپړو کښ پټ کړي وو .حضرت موسی علیه السلام ورته سلام اوکړو .نوهغه دخپل مخ نه

ځادرلري کړو اواوئيل ئې چې دزمکي نه سلام داځرنګه؟ اوتپوس ئې اوکړو چې ته څوك ئې؟ موسیٰ عليه السلام ورته اوفرمائيل چې څه موسیٰ عليه السلام يم.هغه تنه تپوس اوکړو چې دبني اسرائيلو الاموسیٰ؟ موسیٰ عليه السلام اوفرمائيل هاؤ. هغه بياتپوس اوکړو چې ته څرنګه راغلي موسیٰ عليه السلام ورته اوفرمائيل چې ددې لپاره راغلې يمه چې کوم علم تاته درکړې شوي دې چې هغي نه ماته هم تعليم راکړې. هغه ورته اوفرمائيل چې اې موسیٰ عليه السلام ستالپاره داکافي نده چې تورات درسره دې اووحي درته راځي، بيشکه ماته چې کوم علم راکړې شويدې هغې نه ته نشې واقف کيدلې. اوکوم علم چې تاته درکړې شويدې هغه څما لپاره مناسب ندې اواې موسیٰ عليه السلام ستانه به صبراونه کړې شي. نوحضرت موسیٰ عليه السلام اوفرمائيلوچې انشاء الله څه به صبرکوم نوهغه ورته اوئيل که چرې ته څما اتباع کول غواړې نوڅمانه به دڅه کارپه باره کښې تپوس نه کوې چې داکاردې ولې داسې اوکړو. ترڅو پورې چې مادرته نوې وئيلې نوره قصه بيا به تفصيل سره به ايتونو کښې ذکرکيږي.

فائده ددې صحيح حديث نه داهم معلومه شوه چې پدې ايت کښې مراد دَ موسیٰ عليه السلام نه مشهورموسی بن عمران دې، اوموسیٰ بن ميشابن يوسف بن يعقوب ندې مراد لکه څرنګه چې قول کړې وو پدې باندې نوف البکالی لکه چې په صحيح حديث کښې دې چې سعيدبن جبير رحمه الله فرمائی چې ماحضرت ابن عباس رضي الله عنه ته عرض اوکړو چې نوف البکالی خيال دادې چې خضر عليه السلام ته سفرحضرت موسیٰ بن عمران نووکړې بلکه هغه بل موسی وو نوحضرت ابن عباس رضي الله عنه اوفرمائيل چې کذب عدوالله اوبيائې دامذکوره حديث بيان کړو،اوحضرت ابن عباس رضي الله عنه دهغه په باره کښې عدو الله الفاظ استعمالول تغليظا اوتشديدا اوپه حالت دغصي کښې وو،ورنه حضرت نوف البکالی صادق مسلمان اوتابعی وو اوهغه داقول (چې پدې ايت کښې موسیٰ نه مراد موسیٰ بن عمران ندې بلکه بل موسیٰ يعني موسی بن ميشا دې) ځکه کړې وو چې دې اول يهودی وو اوديهوديانو په کتابونو کښې اوپه هغوئ کښې دامشهوره وه چې حضرت موسیٰ بن عمران عليه السلام حضرت خضر عليه السلام ته سفر نوو کړې ځکه چې يهوديانوبه داخبره ډيربعيده کنړه چې حضرت موسیٰ عليه السلام بن عمران دعلم حاصلولولپاره په بل چا پسې سفراوکړې نونوف البکالی هم دهغوئې نه متاثره شوې وو اوداقول مذکورئې کړې وو اوکله چې دحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه حديث مذکوره واوريد دهغې نه ورستو بيانوف بکالی نه خپل قول باندې اقرارندې راغلې. والله اعلم بالصواب.

﴿فَلَمَّا بَلَغَا ﴾فاء فصیحیه ده ددینه مخکښې کلام محذوف دې ای فذهبا یمشیان الی مجمع البحرین فلمابلغا اومجمع البحرین.نه حسی دریابونه مراددی چې داقول راجح دې اوضمیردتثنیې په﴿بَيْنِهِمَا﴾ کښې راجع دې بحرین ته﴿نَسِيَا حُوتَهُمَا ﴾ دامهي الله ﷻ ددوئ لپاره نشانی ګرځولې وه دتعیین دمقام خضر.اونسبت دنسیان دواړوته یعنی موسیٰ علیه السلام اویوشع علیه السلام ته شویدې اګرچې نسیان صرف دیوشع نه راغلې ووځکه چې موسیٰ علیه السلام اوده وو خودانسبت دنسیان په اعتبار دحالت دحوت سره دې اولفظ دحال یعنی مضاف مقدردې ای نسیاحال حوتهما اګرچې حالت ددواړو یوبل نه مختلف دې هغه حالت دنسیان چې نسبت حضرت موسیٰ علیه السلام ته کیږي هغه حالت دتفقد اودتذکردې یعنی هغه نه داهیرشو چې دماهي په باره کښې دحضرت یوشع نه تپوس اوکړو چې ماهي موجوددې اوکه ندې موجود؟ اوحضرت یوشع علیه السلام نه هغه حالت یادوو حضرت موسیٰ علیه السلام ته چې کوم هغه کتلې وو هیرشو، اوبعض مفسرین فرمائی چې اصل ناسي صرف یوشع وو اونسبت دواړوته ځکه اوشوچې حضرت موسیٰ علیه السلام دهغه سره مصاحب وو اوکله کله فعل اګرچې دیوکس نه صادرشي خونسبت پوره جماعت ته اوشي دوجې دمصاحبت نه لکه داقول دالله ﷻ دې،یخرج منهما اللؤلؤ والمرجان. اوحالانکه ملغلرې صرف دمالح نه راځي نه دغبرنه . ﴿فَٱتَّخَذَ سَبِيلَهُۥ ﴾فاء فصیحیه ده اوددینه مخکښې جمله مقدره ده تقدیردعبارت داسې دې فحیي وسقط فی البحرفاتخذ الخ (روح)مهي ژوندې شو اودالله ﷻ په حکم سره په سمندرکښې ننوتولو اوپه کوم ځائې کښې چې مهي ننوتلې وو نوهلته کښې دسورنګ په شکل یودرې(طاق) جوړشو . اوداماهي مشوې یعنی وریت کړې شوې وو، اوپه ځنې روایاتوکښې دې چې ددینه دوئ نیم خوړلې وو اوپدې کښې اشاره ده په قدرت دالله ﷻ ته په بعث بعدالموت باندې. اوپه سبب دژوندې کیدلودماهي ځنې روایاتوکښې داسې راځي چې وفی اصل الصخرة عین یقال لها الحیاة لایصیب من مآئها شیئ الاحیی فاصاب الحوت من مآء تلك العین قال فتحرك وانسل من المکتل فدخل البحر بخاری ج۲ کتاب التفسیر ص۶۹۰، یعنی چټان په ویخ کښې آب حیات چینه وه،چې په هغې به څه شي هم لګیدلو هغه به ژوندې کیدو.نوپه دې مهي باندې هم دَ هغې اوبه لګیدلې نوژوندې شو.لیکن علامه الوسي رحمه الله پدې سبب اعتراض کړیدې چې په روایاتوکښې راځي چې حضرت یوشع علیه السلام ددې چینې نه اوبه څکلې وې اواودس ئې پرې هم کړې وو اوباوجود

دي چي هغه خوهميشه لپاره ژوندي پاتې نشونولهذا داصحيح نده. (روح ج۱۴ ص۳۱۵) اقول چي په الفاظو دحديث كښ فكركولونه ورستودامذكوره اعتراض ختميدلي شي خكه چي دحديث الفاظ داسي دي لايصيب من مائها شئ الاحي چي كچرته يوحيوان مړوو اوهغه ته دااوبه اورسيدلي نوهغه به ژوندي كيدلو اودامقصد ندي چي كه يوژوندي هغه اوبه اوڅكي نوهغه به هميشه لپاره ژوندي وي(والله اعلم بالصواب) اوسرب په نيزداكثراهل لغت سرنګ ته وئيلې كيږي. نوچي به كوم ځائي كښ ماهي تلي ووپه سمندركښ نوهلته يوسرنګ پشان لاره جوړه شوي وه لكه په صحيح حديث كښ دي، انّ الله تعالى امسك عن الحوت جريع الماء فصارعليه مثل الطاق(بخارى.مسلم){فَلَمَّا جَاوَزَا}لماظرفيه دي په معني دحين سره متضمن دي معني دشرط ده، او {قَالَ لِفَتَٰهُ}جمله ورله جواب دي، حضرت موسى عليه السلام دمهي ژوندي كيدلووخت كښ اوده وو. اوحضرت يوشع عليه السلام داواقعه اوكتله خوحضرت موسى عليه السلام پاخول ئي مناسب اونه ګڼړل اوځان سره ئي اوئيل چي ورستوبه ورته واقعه بيان كړم اوكله چي موسى عليه السلام راويخ شونويوشع عليه السلام نه هيرشوي وو، اودااګرچي ډيره عجيبه واقعه وه اودعاموخلكونه داسي واقعي نه هيريږي خوحضرت يوشع عليه السلام چونكه موسى عليه السلام سره به هروخت وو. اوداسي خرق للعادة.واقعات به ئي ډيرليدل نوددي وجه نه ورنه هيرشو. اودوئ يوه شپه اويوه ورځ مزيدسفراوكړو لكه چي په صحيح حديث كښ ذكردي، اودادليل دي په نفي دعلم غيب دحضرت موسى عليه السلام نه{ءَاتِنَا غَدَآءَنَا}غداء وئيلې كيږي هغه خوراك ته چي دورځي په اوله حصي كښ كيږي اودادليل دي په عجزدحضرت موسى عليه السلام باندي چي محتاج وو خوراك ته{لَقَدْ لَقِينَا مِن سَفَرِنَا هَٰذَا}مشاراليه د"هذا" هغه سفردي چي دارام نه اودصخري نه ورستووو. اوپه حديث صحيح كښ راغليدي چي لم يجدموسىٰ شيئامن النصب حتى جاوزالمكان الذى امربه(بخارى. مسلم) ديدېكښ لطيفه اشاره ده چي كوم سفرلپاره دحصول دمقصدوي نوپه هغې كښ احساس دستړتياكم وي اوكوم سفر چي بلامقصده وي نوپه هغې كښ ستړتيازياته وي(۱)، اوددي ايت نه دا هم ثابتيږي چي دتكليف او الم اظهار كول جائزدي اومنافي درضا بالقضاء ندي اونه مخالف دتسليم للقضاء سره اوددي وجه نه حضور ﷺ هم دحضرت ابراهيم په وفات باندي دتكليف اظهاروو چي اوفرمائيل ئيو وانابفراقك ياابراهيم لمحزونون.(۲)، اودغه شان ددي ايت نه داهم

معلومه شوه چي دلوېږي په وخت كښې خوراك غوختل جائزدي ۳۔اودغه شان ددي ايت نه داهم معلومه شوه چي خدمت اغستل دشاگرد اودخادم نه اوځان لپاره توشه سفر اغستل جائزدي اوخلاف توكل ندي

قَالَ اَرَءَيْتَ اِذْ اَوَيْنَآ اِلَى الصَّخْرَةِ فَاِنِّيْ نَسِيْتُ الْحُوْتَ وَمَآ اَنْسٰىنِيْهُ

اوئيل هغه خبرسه نه كله چي مونږه ځاي ځاي دآرام اونيولو گټ نه نويبشكه ماهيركړيدي مهي اوندي هيركړي خه نه هغه

اِلَّا الشَّيْطٰنُ اَنْ اَذْكُرَهٗ ۚ وَاتَّخَذَ سَبِيْلَهٗ فِي الْبَحْرِ ۖ عَجَبًا ۝ قَالَ

مگرشيطان چي يادكړې مي وي هغه تاته، اواونيوله هغه لاره خپله په درياب كښې عجيبه.اوئيل موسى عليه السلام

ذٰلِكَ مَا كُنَّا نَبْغِ ۖ فَارْتَدَّا عَلٰٓى اٰثَارِهِمَا قَصَصًا ۝

داهغه ځاي ووچي مونږه طلب كولو پس واپس روان شودواړه په نخود قدمونو خپلو تالاش كول ئي پلونه

فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَآ اٰتَيْنٰهُ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا وَعَلَّمْنٰهُ

پس او موندلودوئ بونده دبندگانوزمونږنه چي وركړې وو مونږه هغه ته نبوت دخپل طرف نه اوخودلي وومونږه هغه ته

مِنْ لَّدُنَّا عِلْمًا ۝

دخپل طرف نه خاص علم.

٭قَالَ أَرَءَيْتَ ٭داجمله مستانفه ده گوياچي سائل سوال اوكړو چي كله موسى عليه السلام خوراك طلب كړونويوشع عليه السلام ورته څه اوئيل اومراد په رؤيت سره معرفت تام دي اومشاهده كامله ده اوپه استفهام سره تعجب دموسى عليه السلام مقصود وو اوداسي قسم جمله په عرف كښې دتعجب لپاره استعماليږي.لكه چي مونږه په پښتوكښې وايو اوداااوگوره وغيره. اومفعول ددي لپاره محذوف دي دوجي دلالت نه په هغه باندي دمابعد كلام چي هغه نسيان دي اوزمخشري رحمه الله فرمائي چي ٭أَرَءَيْتَ٭ په معني د اخبرني سره دي اودااستخبار يعنى استفهام دي ديوشع عليه السلام دموسى عليه السلام نه اومقصد دكلام دادي چي كله موسى عليه السلام ديوشع نه ناشته. طلب كړه نوهغه نه دمهي دژوندي كيدلوهغه ټوله واقعه رايادشوه نوحيران اوپريشان شو نودموسى عليه السلام نه ئي

تپوس شروع کړو، چې ته ماپوهه کړه چې په ماباندې داپريشاني اوحيرانګي ولې راغله چې کله مونږ ارام کولوهغه صخرې سره؟ ،کشاف،نودصاحب کشاف دقول مطابق فاء ﴿فَإِنِّي نَسِيتُ﴾ کښې سببيه ده ليکن صاحب دبحرعلامه ابوحيان ردکړيدې پدې توجيه باندې اوفرمائي چې کله هم ﴿أَرَءَيْتَ﴾په معنې داخبرني سره وي نوهلته کښې دوه امرين ضروري دي،١،يوداچې اسم مستخبرعنه يعنى مستفهم عنه به ددې سره وي. اواسم مستفهم عنه دلته موجود دي،٢،اودويم داچې هغه جمله چې دهغې نه ورستو استفهام راځي نوهغه به هم موجوده وي اوحالانکه دادواړه شرائط پدې ځائې کښې مفقود وي اوبيااخفش نه قاعده نقل کړيده چې کله هم د ارايت نه ورستو داسې جمله چې مصدّره وي په فاء سره راشي. اواستفهام اواسم منصوب نوي نوارايت به په معنې دتنبه يعنى خبرشه، يا ،أمّا، سره وي، نودلته هم داپه معنې دتنبّه سره دي يا امّا سره دي ،وفاء په

﴿فَإِنِّي نَسِيتُ﴾ کښې په جواب ددې کښې راغليده ،اوذکردصخرې اوشواودمجمع البحرين اونشو لپاره دزيادت تعيين دمکان ځکه چې مجمع البحرين وسيع مکان وو

﴿فَإِنِّي نَسِيتُ ٱلۡحُوتَ﴾مخکښې دالله ﷻ په کلام کښې نسبت دنسيان دواړوته شوي وو اودلته حضرت يوشع عليه السلام نسبت دنسيان صرف خپل ځان ته اوکړو اوموسى عليه السلام ئې ځان سره شريک نکړو دوجې دادب نه. اويوشع عليه السلام تصريح په حوت باندې اوکړه اوغداء ئې ذکرنکړه لپاره دسروراوخوشحالئ دموسى عليه السلام ځکه چې په فقداو ورکيدلو دماهي کښې حصول دمقصدوو.

﴿وَمَآ أَنسَىٰنِيهُ﴾ دا اعتذاراوعذرپيش کول دي دحضرت يوشع عليه السلام اونسيان يوامرطبعي دې خوځني امورطبيعه منسوب کيږي شيطان ته ځکه چې شيطان سبب ګرځي دصدوردهغې فعل لپاره لکه تثاؤب ،ارګي کول، نسبت شويدې شيطان ته ځکه چې په انسان باندې غفلت راولي اودهغې په نتيجه کښې تثاؤب راځي نودغه شان دلته هم نسبت دنسيان شيطان ته شويدې سببا اودغه شان نسبت دحيض اواستحاضې رکض دشيطان ته هم تسبيبا اواستعارة دي کمصرح به المحدثون .امام رازي رحمه الله فرمائي چې پدې نسيان کښې الله ﷻ تنبيه تعليم ورکول مقصود وو حضرت موسى عليه السلام ته. ځکه چې موسى عليه السلام خپل علم لوئي کنړلي وو نو الله ﷻ دهغه دخادم دزړه نه علم بديهي زائل کړو لپاره دتعليم ددې چې علم بغيردتوفيق اوتعليم دالله ﷻ

نه نه حاصليږي اوبغير د حفاظت د الله ﷻ نه په ذهن او حافظې كښې نه حاصليږي. او ﴿أَنْ أَذْكُرَهُ﴾ بدل اشتمال دې د ضمير بارز د (انسنيه) نه (روح)

﴿وَاتَّخَذَ سَبِيلَهُ فِي الْبَحْرِ﴾ غوره قول دادې چې دا جمله د تتمه د كلام د يوشع عليه السلام نه ده او ضمير د ﴿وَاتَّخَذَ﴾ راجع دې حوت (ماهي) ته او بعض مفسرين فرمائي دا كلام د الله ﷻ دې او د ا ديوشع عليه السلام او د موسى عليه السلام د كلام په مينځ كښې جمله معترضه ده او د دې دواړو توجيهاتو په بناء ﴿عَجَبًا﴾ مفعول ثاني دې د ﴿وَاتَّخَذَ﴾ لپاره او بعض فرمائي چې ديوشع عليه السلام كلام ﴿فِي الْبَحْرِ﴾ باندې پوره شو. او ﴿عَجَبًا﴾ كلام د حضرت موسى عليه السلام دې او دا مفعول مطلق دې د فعل محذوف عجبت لپاره اى قال عجبت من هذا عجبا (بيضاوي) او بعض فرمائي چې (عجبا) استيناف دې ديوشع عليه السلام او اصل كلام ئې په ﴿فِي الْبَحْرِ﴾ باندې پوره كړو او بيائې او فرمائيل عجبا لهذا الامر (قرطبي)

﴿قَالَ ذَٰلِكَ﴾ مشار اليه د ذلك واقعه د ژوندي كيدلو د مهي او په سمندر كښې تلل دي او ﴿نَبْغِ﴾ په اصل كښې نبغيه دې خوعائد د موصول محذوف دې يعنى زمونږ د منزل مقصود علامت خو دغه وو.

او ﴿قَصَصًا﴾ يا مفعول مطلق دې د فعل محذوف لپاره اى يقصان قصصا او يا مصدر په معنې د اسم فاعل سره حال دې د ﴿فَارْتَدَّا﴾ د ضمير نه اى فارتدا حال كونهم مقتضين على اثارهما او په دې كښې اشاره ده چې اساتذه دې د خپلو شاگردانو عذر قبلوي او هغوئ سره دې د نرمئ معامله كوي

﴿فَوَجَدَا عَبْدًا﴾ حضرت موسى عليه السلام او يوشع عليه السلام دواړه واپس لاړل مجمع البحرين ته اورسيدل نو حضرت خضر عليه السلام تكيه لګولي په كپړه كښې ئې ځان رانغختلي وو. موسى عليه السلام پرې سلام اوكړو نو هغه سلام جواب وركړو او حيران شو او اوئې وئيل انىٰ بارضك السلام؟ چې دا طريقه د سلام د زمكي نه څنګه اوشولو ځكه چې په هغې ځائ كښې د سلام طريقه دا نوه. نو موسى عليه السلام خپل تعارف اوكړو. اود لته د خضر عليه السلام لپاره وصف عبديت ذكر شولو پدې كښې

اشاره ده چې هغه بنده وو اومحتاجه وو الله ﷻ ته. اوتنوين په ﴿عَبۡدٗا﴾ کښې لپاره دتعظيم دې
اوپه نوم دحضرت خضر عليه السلام کښې اختلاف دې امام مجاهد رحمه الله نه منقول دې چې دهغه نوم
اليسع بن ملکان بن فالغ بن عابربن شالخ بن ارفحشذبن سام بن نوح عليه السلام دې او مقاتل رحمه الله نه
مروي دې چې نوم دخضر عليه السلام بليابن ملکان الخ دې اوبعضودبليا په ځائې ايليا وئيلې دې
اودکعب رحمه الله نه مروي دې چې دهغه نوم خضرون بن عماييل وواو داولاد داسحاق عليه السلام نه
وو (عمدة القاري) اوددېنه علاوه نورهم ډيراقوال پکښې راغليدي چې حافظ ابن حجر اوعلامه
عيني په تفصيل سره ذکرکړيدی اوخضرلقب دهغه وو اوده ته خضرددې وجه نه وئيلې کيږي چې
دې دزمکې په کومې حصې باندې کيناستلو اوبيابه پاسيدلو نو هغه ځائې به شين کيدلو .لکه چې
په حديث صحيح کښې ذکردې لانه جلس على فروة بيضآء فاذاهی تهتز من خلفه خضراء (بخاری)
اوبعض فرمائی چې چهره مبارکه ئې تروتازه اوخائسته ده اودزماني په پيدائش کښې هم ډيراقوال
دی څوك وائې چې دحضرت ادم عليه السلام صلبي اولادنه وو اوڅوك وائې چې اولاد دیافث نه وو
اوذوالقرنين وزيروو څوك وائې چې دحضرت ابراهيم عليه السلام په عهدکښې پيداشوي وو اوداهل
بابل کښې دهغه سړی بچې وو چې په حضرت ابراهيم عليه السلام باندې ايمان راوړې وو اودهغه سره
ئې هجرت کړې وو اوڅوك وائې چې دحضرت الياس عليه السلام ورور وو اوددې علاوه نورهم
ډيراقوال دی ليکن حقه خبره داده چې داټول محض احتمالات دی اوپه تعيين باندې څه دليل
يقيني نيشته اونه ورسره څه حکم شرعي متعلق دې.

دغه شان دحضرت خضر عليه السلام په نبوت کښې هم اختلاف دې چې دې نبي وو که صرف ولي؟
نوراجع مسلك دادې چې حضرت خضر عليه السلام نبی وو .(١) ځکه چې دده په باري کښې الله ﷻ
فرمائی ﴿ءَاتَيۡنَٰهُ رَحۡمَةٗ﴾ اورحمت اطلاق په نبوت باندې په ډيرومواضعو کښې شويدې لکه اهم
يقسمون رحمة ربك (الزخرف:٣٢) وماکنت ترجو ان يلقىٰ اليك الكتٰب الا رحمة من
ربك (القصص:٨٦) نوپه دې مواضعوکښې مراد درحمت نه نبوت دې اګرچې هررحمت نبوت نوي
اوهرنبوت رحمت وي (٢) بل ددې وجه نه چې دهغه په باري کښې الله ﷻ فرمائی ﴿وَعَلَّمۡنَٰهُ مِن لَّدُنَّا
عِلۡمٗا﴾ چې دهغه علم بغيردواسطي دبشرنه دې. اوکم علم چې بغيردواسطي دبشرنه وي هغه
وحي وي اوهغه کس نبي وي، اګرچې علوم ضروريه هم بغيردواسطي دبشرنه وي. خوحضرت

خضر علیه السلام ته مطلقا علوم که بدیهي دي یانظري دنیوي دي اوکه دیني ټول ورته بغیرد واسطې دبشرنه الله ﷻ ورښه ورکړیدې اوداصفت دنبي وي.(۳)بل ددې وجه نه چې موسی علیه السلام دده ته عرض اوکړو چې

﴿هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَىٰ أَن تُعَلِّمَنِ﴾اونبي اورسول دغیرنبي اوغیررسول نه علم نه حاصله وي اونه ورته په علم کښې محتاجه وي اونه غیرنبي دنبي نه اوچتیدلې شي (۴) بل ددې وجه نه چې حضرت خضر علیه السلام دخپلوټولواموروپه باري کښې دااوفرمائیلوچې ﴿ وَمَا فَعَلْتُهُۥ عَنْ أَمْرِى ﴾چې دااموړثلاثه(کشتئ خرابول،قتل دنفس،دیوال صحیح کول)صرف اوصرف په حکم د الله ﷻ سره وواودخپل ځان نه مې ندي کړي اونه دیونبي اورسول پواسطې سره مې کړیدې، اودومره یقیني اوجزمي خبره اوکار صرف نبي کولې شي اوبل څوك نشي کولې.(۵) اودغه شان دهغه اظهارترفع په موسی علیه السلام باندې اودموسی علیه السلام اظهارتواضع دهغه په مخکښې هم دلالت کوي چې هغه نبي دې لکه الله ﷻ فرمائي﴿وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلَىٰ مَا لَمْ تُحِطْ بِهِۦ خُبْرًا ﴾اوموسی علیه السلام ورته عرض اوکړو

﴿وَلَآ أَعْصِى لَكَ أَمْرًا ﴾(۶)اودغه شان تنوین په "عبدا" کښې اواضافت د "عباد" ضمیرمتکلم ته هم مؤیدات دنبوت دهغه لپاره دی

اوحافظ ابن حجر رحمه الله روایت نقل کړیدې چې کله موسی علیه السلام په خضر علیه السلام باندې سلام واچولو نوهغه ورته جواب داسې ورکړوچې وعلیك السلام یاموسی، نوموسی علیه السلام تنه تپوس اوکړو چې تاته څنګه پته اولګیده چې زه موسی علیه السلام یم ؟ نوحضرت خضر علیه السلام ورته جواب ورکړو چې ادراني بک الذي ادراک بي(فتح الباری ج۸ ص ۴۱۷) داروایت اګرچې معارض دې دنورو صحیحوروایاتوسره خوکچري تطبیق اوکړې شي اوتاویل اوکړې شي نوداهم صریح دلیل دې په نبوت دهغه باندې

اوبعض فرمائي چې حضرت خضر علیه السلام ولي وو.اوپه رحمت سره رزق حلال عدم احتیاج مخلوقاتوته. اوطول حیاة وغیره اراده کوي اوپه ﴿وَعَلَّمْنَٰهُ﴾سره علم لدنی چې حاصلیږي بغیرد کسب نه اویوکرامت وي هغه مرادکوي اودغه شان دموسی علیه السلام په هغه پسې تلل اودهغه نه دزده کړې کوشش کول اګرچه دهغه په فضیلت باندې دلالت کوي خودا فضیلت جزئي دې

خولیکن راجحه خبره داده چې هغه نبي وو اوداتاویلات مذکوره تکلفات دی اویوضعیف قول دماوردی نه دامنقول دې چې دې فرشته وه لیکن داضعیف بلکه اضعف دې

اوځني خلکو دیرپه جراءت سره داخبره کړیده چې حضرت خضر علیه السلام ولي وو اومرتبه دولي اوچته ده دمرتبي دنبي نه بلکه بعض جهالوداهم وئیلي دي چې دااحکام شرعیه صرف دانبیاؤ اودعاموخلکولپاره دی اوهرچه اولیاء اواهل الخصوص دی هغه محتاجه ندي نصوصوته.ځکه چې دهغوئي قلوب داکدارونه پاك وي.اوهغوئي ته براه راست علوم الهیه منکشف اوواضح وي اواستدلال ئې کړیدې پدې واقعي سره چې حضرت موسی علیه السلام نبي وو اوخضر علیه السلام ولي وو اونبي په ولي پسې سفرکړیدې اوهغه واقعات چه حضرت خضر علیه السلام په خپل سفرکښ کړي وو چه په ظاهرکښ مخالف وو دشریعت نه اوحضرت موسی علیه السلام برداشت نه کړلوخوحضرت خضر علیه السلام لپاره جائزوولیکن امام قرطبی رحمه الله فرمائی چه داسي قول کول زندقیت اوکفردې

قال شیخنا رحمه الله وهذاالقول زندقة وکفریقتل قائله ولایستتاب. یعني داسي عقیدي ساتونکې زندیق اوکافردی اوداسي کلام کوونکې به قتل کولې شي، اودهغه توبه هم نه قبلیږي(قرطبی ج۵ ص٣٣۴). اوتفسیر مدارك لیکي چه تفضیل ثابتول دولي په نبی باندې اوقیاس پدې واقعي باندې کول قیاس مع الفارق دې ځکه چه حضرت خضر علیه السلام نبی وو، پدې قول کول چه ولي افضل دې دنبی نه کفردې(مدارك ج٢)والتفصیل فی القرطبی

اودغه شان اختلاف په حیات دخضر علیه السلام کښ دې چه دې اوس هم ژوندې دې اوکه وفات دې؟؟ مسلك دصوفیاءو دادې چه هغه اوس هم ژوندې دې اوخوراك اوڅښاك کوي دنیکانو، صلحاؤسره ملاقاتونه هم کوي اودیته میلان کړیدې امام قرطبی رحمه الله هم حافظ ابن حجر رحمه الله په مختلفواسانیدوسره دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت نقل کړیدې اودعمروبن عوف عن ابیه عن جده سره نقل کړیدی چې په هغې کښ دخضر علیه السلام سره دهغوئ دمکالمي وغیره تذکره ده لیکن حافظ ابن حجر رحمه الله په هغې ټولواسانیدوباندې ردکړیدې بلکه ځني پکښ موضوعی دي(الاصابة ج٢ ص٢۵٨ حرف الخآء)

اودغه شان حدیث دتعزیت چه منقول دې دحضرت انس رضی الله عنه نه چه نقل کړیدې امام بیهقي وغیره چه فرمائي .لماقبض رسول الله صلی الله علیه وسلم احدق به اصحابه فبکوا حوله واجتمعوا فدخل رجل اصهب اللحیة جسیم صبیح فتخطی رقابهم وبکی ثم التفت الیهم فقال ان فی الله عزآء من کل مصیبة وعوضا من کل فائت وخلفامن کل هالك فالی الله فانیبوا والیه فارغبوا فانما المصاب من لم یجبرالثواب وانصرف. فقال

بعضهم لبعض تعرفون الرجل؟ فقال ابوبكروعلى نعم هذا اخورسول اللهﷺ الخفى. اوداحديث په مختلفواسانيدوسره مروى دي حافظ ابن حجرؒ په تفصيل سره ټول نقل كړيدي خوهغه هم ضعيف دي، حافظ ابن حجرؒ فرمائى وجميع ماورد فى حياته لايصح منه شئ(الاصابة ج۲ ص۲۵۳) اودغه شان حافظؒ ډيروصلحاؤواقعات ملاقات دخضرسره هم نقل كړيدى

اواكثرو محدثينواو جمهورمسلك دادي چه حضرت خضرؑ وفات شويدي اودټولونه قوي اومضبوط دليل ددوئ هغه حديث دي چې نقل كړيدي امام بخارى وغيره په كتاب العلم باب السمرفى العلم كښ دحضرت ابن عمرؓ نه فرمائى. صلى لنارسول اللهﷺ العشآء فى اخرحياته فلماسلم قام فقال ارايتكم ليلتكم هذه فان على راس مائة سنة منها لايبقى ممن هوعلى ظهرالارض احد(بخارى) يعني دشپې نه پس چې ځل كاله پوره شي نوپه مخ زمكه چې څومره ژوندي دي دې كښي به يوهم نوي پاتي،اودغه شان استدلال كوي په آيت دقرآن سره چې اللهﷻ فرمائى،وماجعلنالبشرمن قبلك الخلد(الانبياء۳۴)اودغه شان استدلال كوي په ايت دسورة آل عمران سره واذ اخذالله ميثاق النبين لمااتيتكم من كتاب وحكمة الخ چې دهرنبي نه اللهﷻ وعده اغستي ده كچري آخرالزمانﷺ ستاپه زمانه كښ راغې اوته ژوندې وې نوته به دهغه اتباع كوي اودهغه نصرت اوامداد به كوي نوكچري خضرؑ ژوندې وې نوپكارده چې حضورﷺ ته دبيعت لپاره حاضرشوې وې، اودهغه سره په غزواتوكښ حاضرشوې وې اودهغه نصرت اوامداد ئې كړې وې،حالانكه دهغه بيعت اونصرت اوشركت په غزواتوكښ ندې منقول،اوپدې باب كښ سخت رد امام ابن تيميهؒ اوقاضي ابويعلىؒ كړيدې اوپه مختلفودلائلوسره ئې ثابته كړيده چې خضرؑ وفات دې اوبعيده نده هغه خبره اوحل چې منقول دې دبعض صلحاؤاسلافو اواكابرونه، چې حضرت خضرؑ اوالياسؑ دواړه وفات دې خوداللهﷻ دطرف نه ددوئ روحونوته داسي قوت اوطاقت وركړې شويدې چې دوئ لباس دجسم اچوې اودخلكوسره ملاقات اوخبري كوي،اودايوروحاني قوت دې چې اللهﷻ خپلوبعضونيكانوبندګانوته وركړې لكه واقعه دتكلم بعدالموت دربيع بن خراشؒ يادمسعودبن حراشؒ شوه(طبقات ابن سعد ،تهذيب الكمال،عيني)

﴿ءَاتَيْنَٰهُ رَحْمَةً﴾مرادپه رحمت سره نبوت دي﴿ وَعَلَّمْنَٰهُ لَّدُنَّا عِلْمًا﴾مرادپه علماسره مخصوص علم دې چې دهغې په كنه باندې څوك نه پوهيږي چې هغه علم الغيوب اواخباردي

دمغيباتونه يعنې وحي مراده ده، اوتخصيص فهم كيږي دلفظ د﴿لَّدُنَّا﴾نه هم اودتقديم د﴿لَّدُنَّا﴾په ﴿عِلْمًا﴾باندې دددينه هم.

قَالَ لَهٗ مُوْسٰى هَلْ اَتَّبِعُكَ عَلٰٓى اَنْ تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ
اوئيل هغه ته موسى عليه السلام چې آيا اجازت دې چې څه تابع شم ستاپدې شرط چې تعليم به راكوې ته ماته دهغې نه چې خودلې شويدى
رُشْدًا ﴿۶۶﴾ قَالَ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴿۶۷﴾ وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلٰى مَا
تاته دهدايت خبرې، خضر عليه السلام اوئيل بيشكه ته طاقت نه لرې ځماسره دصبركولو. اوته به څرنګه صبراوكړې په هغې باندې
لَمْ تُحِطْ بِهٖ خُبْرًا ﴿۶۸﴾ قَالَ سَتَجِدُنِيْٓ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ
چې احاطه پرې نوې كړې تاپه اعتباردعلم سره، موسى عليه السلام اوئيل چې زرده اوبه مومې ته ماله كه اوغواړي الله جل جلاله
صَابِرًا وَّلَآ اَعْصِيْ لَكَ اَمْرًا ﴿۶۹﴾ قَالَ فَاِنِ اتَّبَعْتَنِيْ فَلَا تَسْـَٔلْنِيْ
صبركونكې اونافرمانې به نه كوم ستادهيڅ حكم، خضر عليه السلام اوئيل پس كه ته ځمااتباع كوې نو تپوس مه كوه ځمانه
عَنْ شَيْءٍ حَتّٰٓى اُحْدِثَ لَكَ مِنْهُ ذِكْرًا ﴿۷۰﴾
دهيڅ څيزپه باره كښې تر دې چې څه په خپله بيان كړم تاته دهغې ذكر(حكمت)

﴿قَالَ لَهٗ مُوْسٰى﴾دا استيناف بياني دې چې ګويا چې سائل سوال كولوچې ددوئ په مينځ كښې څه خبرې اوشولې؟ نوجواب اوشوچې قال الخ اوپديكښې اشاره ده چې طالب ته پكاردې چې داستاد نه دې اجازت طلب كوي اودهغه اتباع دِكوي

﴿عَلٰٓى اَنْ تُعَلِّمَنِ﴾على لپاره د شرط دې يعنې څه ستااتباع بشرط ددې چې ته به ماته تعليم راكوې كولې شم؟ اودااصوليانوقانون وضع كړيدې چې على كله كله په داسې كلام كښې مستعمل كيږي چې مابعد دماقبل لپاره شرط وي لكه يبايعنك على ان لايشركن الخ اووضع دعلى حقيقة دشرط لپاره ده اوكنه ده؟ نوپديكښې دنحويانو اوفقهاؤ اختلاف دې

﴿مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا﴾من تبعيضيه دي اودلته مجاز فی الحذف دي ای علما ذارشد اومرادپدې سره هغه علم دې چې انسان پرې هدايت مومي اوخيرته رسيدل پرې کيږي اوپديکښ اشاره ده چې انسان دې طلب دعلم په هروخت کښ کوي اګرچه دې دعلم يولوئې حدته رسيدلې وي اودغه شان پدې کښ اشاره ده چې انسان دې دځان نه اعلم ته اظهارتواضع کوي اوکه څوك اشکال اوکړي چې رسول خواعلم وي په خپله زمانه کښ نوڅرنګه به دې دبل چانه علم حاصل کړي، نوعلامه زمخشري رحمه الله ددينه جواب کړيدې چې نبی اورسول اعلم وي په نسبت سره غيرنبی ته اونبی دبل نبی نه علم حاصلولې شي اوعلامه آلوسي رحمه الله فرمائی چې نبی اورسول اعلم وي خوپه عقائداوهغه اموروکښ چې هغه دده دشريعت سره متعلق وي نه مطلقا. اوددې وجه نه حضور ﷺ صحابو رضي الله عنهم ته ارشاداوفرمائيلوچې انتم اعلم بامور دنيا كم.

فائده: موسی علیه السلام اعلم وو یاخضر؟؟

ظاهردنص نه معلوميږي چې حضرت خضر علیه السلام اعلم وو، اودغه شان دحديث دالفاظونه په ظاهرکښ داسې معلوميږي چې (بلى عبدنا خضريا ان لى عبدا بمجمع البحرين هواعلم منك) دي،ددې وجه نه بعضواهل علم ذهاب کړيدې اعلميت دخضرته اوځنې اهل علم ذهاب کړيدې اعلميت دموسی علیه السلام ته،ليکن راجحه خبره پديکښ هغه ده چې صاحب دروح المعانی کړيده چې حضرت موسی علیه السلام اعلم وو دخضر علیه السلام نه من وجه اوحضرت خضر علیه السلام اعلم وو دموسی علیه السلام ه من وجه، حضرت موسی علیه السلام ته علم حقيقت چې مسمي دې په علم باطن اوعلم لدني سره حاصل وو خوليکن حضرت خضر علیه السلام ورنه پدې اعلم وو، اوحضرت خضر علیه السلام نه علم شريعت چې مسمي کيږي په علم ظاهرسره حاصل وولیکن حضرت موسی علیه السلام ورنه پدې کښ اعلم وو، نوهريودبل نه من وجه اعلم وو، اودبلى عبدناخضر،مقصدداندې چې هغه من كل الوجوه اعلم دې بلکه مرادتنه په بعض علوموکښ اعلميت دې خوهرکله چې داکلام (بلى عبدنا اوياان لى عبدا الخ) خارج وو په مخرج دعتاب اوتاديب کښ نوددې وجه نه ظاهراً په عموم کښ پريخودلې شو، اوداخبره علامه ابن حاجب په اِمالئ القرآن کښ دومانريهم من آية الاهي اكبرمن اختهاپه ضمن کښ کړيده چې دظاهردايت ته معلوميږي چې هره روستوورکيدونکې معجزه به

دسابقې معجزې نه به اكبره وه او حالانكه څنې سابقه معجزې به روستونو معجزونه به اكبرې وي نوهغه فرمائى چې اكبريت من وجه مراددې.چې هره يوه معجزه به دبلې نه به من وجه اكبره وه

﴿قَالَ إِنَّكَ لَن تَسْتَطِيعَ﴾حضرت خضر عليه السلام ديراوكدكلام ذكركړو. انّ حرف تحقيق ئې ذكركړو. "لن" ئې راوړو چې هغه نفي دتاكيدلپاره راځي.نفي داستطاعت ئې اوكړه او "صبرا" نكره راوړې شود چې عموم فائده كوي. اودادومره مؤكدكلام حضرت خضر عليه السلام ځكه ذكركړوچې هغه ته علم وو پدې چې حضرت موسى عليه السلام مرسل اونبى دې صاحب شريعت اوكتاب دې نوشان دنبى دادې چې هغه په ظاهركښې خلاف شريعت كاراوګورې نوهغه ئې نه شي برداشت كولې .

﴿وَكَيْفَ تَصْبِرُ عَلَىٰ ﴾داتعليل دې دماقبل لپاره چې انسان دكوم څيزعلم نه لري نوپه هغې باندې صبر هم نشي كولې . او﴿خُبْرًا ﴾مفعول مطلق دې د﴿ لَمْ تُحِطْ ﴾ لپاره من غيرلفظه اوياتميز محول اومنقول عن الفاعل دې اې ممالم يحط به خبرك‌بحر﴿قَالَ سَتَجِدُنِيٓ ﴾داوعده ده دموسى عليه السلام چې معلقه ئ كړه په مشيت دالله تعالى پورې اودا انشاء الله دابطال دكلام لپاره ندې بلكه اظهارتواضع لپاره دې چې څماعزم خودصبردې خوكله كله انسان ديوشي عزم اوكړي اوهغه مراد دالله تعالى نوي نوانسان خپل عزم پوره نه كړې شي

﴿وَلَآ أَعْصِي لَكَ أَمْرًا ﴾.داتخصيص بعدالتعميم دې ځكه چې مفهوم دصبرځرنګه شامل دې صبرعلى الطاعات اوصبرعلى الشدائدته فدغه شان شامل دې صبرمن العصيان ته هم نوداتاكيدلپاره ذكرشو اوپديكښې اشاره ده چې شاګردلپاره دخپل استاذنافرمانې كول بلاامرشرعي جائزندې.

فائده دااشكال نه واردېږي چې حضرت موسى عليه السلام دنافرمانې نه كولووعده اوكړه اوبيائې صبراونكړو اووعده ئې پوره نكړه اوخلاف وعده كول خوګناه دې؟ځكه چې وعده خلافي هغې ته وئيلې كيږي چې وعدي كولوپه وخت كښې دنه پوره كولونيت ئې كړې وي، اوورستوورته دپوره كيدلونه څه شرعي مانع هم نوي موجود نوديته خلاف عهداووعده وئيلې كيږي، اوكچرې دپوره كولوعزم ئې وو خوڅه مانع دوجي نه پوره نكړې شوه نوداګناه نده،اوياجواب دادې چې خلف وعده كښې شرط دادې چې التزام دامرواجب وي اوپه ترك سره دې بل چاته ضرر اونقصان

رسی. اوکچرته التزام دامرواجب نوو اوپه ترک سره ئې بل کس ته نقصان نه رسیدلونوبیاهغې ته خلف وعدنه وئیلې کیږي لکه څرنګه چې دلته دې

﴿قَالَ فَإِنِ اتَّبَعۡتَنِي﴾ داشرائط دې دحضرت خضرؑ دطرف نه اوپدیکښې اشاره ده چې استاذپه شاګردباندې مناسب شرطونه لګولې شي، اوفاء ﴿فَإِنِ اتَّبَعۡتَنِي﴾ کښې لپاره دتفریع دپه شرط مقدرباندې تقدیردعبارت داسې دې ان عزمت علی الصبرفان اتبعتنی الخ ﴿فَلَا تَسۡـَٔلۡنِي﴾ فاء جزائیه ده اوپدیکښې ادب دې دشاګردلپاره چې دخبرې په مینځ کښې رادانګل ندې پکار﴿حَتَّىٰٓ أُحۡدِثَ﴾ حتی لپاره دغائې دې،ندې لپاره دتعلیل یعنی ترڅوپورې چې ماتاته دهغې حکمت نوي بیان کړې په خپله نوته دهغې نه مخکښې تپوس مه کوه.اوبعض مفسرین فرمائی چې دالپاره دتابیددترک سوال لپاره دې چې ته بالکل سواله مه کوه حکمت دهغې کار څه به تاته پخپله بیانه ووم. اوبعض فرمائی چې حتی تعلیلیه ده یعنی ته تپوسونه مه کوه څکه چې حکمت به تاته پخپله ذکرکړم،لیکن اول قول غوره دې.

فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ إِذَا رَكِبَا فِي ٱلسَّفِينَةِ خَرَقَهَا ۖ قَالَ
(1) پس روان شودواړه تردې چې دواړه سواره شوپه کشتئ کښې نوسوري کړه خضرؑ کشتئ، موسیٰؑ اوئیل
أَخَرَقۡتَهَا لِتُغۡرِقَ أَهۡلَهَا لَقَدۡ جِئۡتَ شَيۡـًٔا إِمۡرًا ﴿٧١﴾ قَالَ
آیاسورئ کړه تاکشتئ چې غرق کړې سواره ددې په تحقیق سره راتلل دې اوکړل تاکاردیرلوئ ته،اوئیل خضرؑ
أَلَمۡ أَقُلۡ إِنَّكَ لَن تَسۡتَطِيعَ مَعِيَ صَبۡرًا ﴿٧٢﴾ قَالَ لَا تُؤَاخِذۡنِي بِمَا
آیانوووئیلی ماتاته چې بیشکه ته هرګزطاقت نه لرې څماسره دصبر موسیٰؑ اوئیل مه نیسه ته ماله په هغې

(1) سفروواقعه اولی.

نَسِيتُ وَلَا تُرْهِقْنِي مِنْ أَمْرِي عُسْرًا ۝ فَانْطَلَقَا حَتَّىٰ إِذَا لَقِيَا غُلَامًا
چې ماپه هيره سره اوکړو اومه اچوه په ماباندې دکارځمانه تنگسيا [2] پس روان شو دواړه ترڅو چې مخامخ شول يو هلك نه
فَقَتَلَهُ ۙ قَالَ أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً بِغَيْرِ نَفْسٍ
نوقتل ئې كړو هغه(خضرالعَلَيْهِ السَّلَام) اوئيل موسى العَلَيْهِ السَّلَام آياقتل كړوتايونفس پاك بې دبدلې دبل نفس نه
لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا نُّكْرًا ۝
په تحقيق سره تاراتلل اوکړو کارډېربدته

﴿فَانطَلَقَا﴾ دا دهغوئې دسفرعلمي ذکردې اواوله واقعه ده دهغوئې دسفرچې دملاقات اوخبرونه پس دوئ په ساحل دسمندرباندې،سفرشروع کړو نويوه کشتئ راغله نودوئ ورسره خبره اوکړه دسوريدلو،نوهغوئې خضرالعَلَيْهِ السَّلَام اوپيژندلونوبغيردکرائې اغستلونه ئې سوارکړل،نوحضرت خضرالعَلَيْهِ السَّلَام دکشتئ نه يوه تخته اوويستله اوپدې ځائې کښې صيغه دتثنيئ استعمال شويده اگرچې دوئ درې(۳)کسان ووخوچونکه حضرت يوشع العَلَيْهِ السَّلَام تابع وو نوددې وجه نه دهغه ذکراستقلالا اونشواوپديکښې اشاره ده چې شاگرد دې داکابروپه مخکښې خاموشي اختياره وي اوخپل ځان دې اصل نه گنړې اوبعض مفسرين فرمائي چې حضرت موسى العَلَيْهِ السَّلَام حضرت يوشع العَلَيْهِ السَّلَام واپس اوليږودحضرت هارون العَلَيْهِ السَّلَام دمعاونت اوامدادلپاره،خوداقول ضعيف دې اوقول بلادليل دې ځکه چې په ځني رواياتوکښې راځي چې کله موسى العَلَيْهِ السَّلَام په حضرت خضرالعَلَيْهِ السَّلَام باندې اعتراض اوکړو نوحضرت يوشع العَلَيْهِ السَّلَام ورته خپل عهدچې دخضرالعَلَيْهِ السَّلَام سره ئې کړې وويادکړو(فتح الباري) اودغه شان په صحيح حديث کښې صيغې دجمعې استعمال شويدې چې داقول دحضورﷺ دې فمرت سفينة فكلموهم ان يحملوهم فعرفوا الخضر فحملوه بغير نول(بخاری ومسلم).

اوځني مفسرينو پدې ځائې کښې اسرائيليات ذکرکړيدي اوليکلي دي چې حضرت يوشع العَلَيْهِ السَّلَام دحضرت موسى العَلَيْهِ السَّلَام داجازت نه بغيرآب حيات ځکلي وي نوحضرت موسى العَلَيْهِ السَّلَام

---

2) سفرو واقعه دوم.

دغصې نه سمندرته اوغورځولو اودقيامت پورې به دسمندرپه چپوکښې ژوندي وي داقول مخالف دې دنصوصونه اوموضوعي اوغلط دې اوالف لام په ﴿اَلسَّفِينَةِ﴾ کښې لپاره دتعريف جنسي دې.

﴿خَرَقَهَا﴾کله چې کشتۍ دسمندر مينځ ته شوه نوحضرت خضر عليه السلام په تيرسره دکشتۍ نه تخته ماته کړه خودحضرت خضر عليه السلام معجزه وه چې کشتۍ ته اوبه نه راختلې ﴿لِتُغْرِقَ أَهْلَهَا﴾حضرت موسىٰ ته داکاردخضر عليه السلام په ظاهرکښې غيرشرعې ښکاره شونوځکه ئې پرې اعتراض اوکړو چې هم حملونابغيرنول الخ يعني دوئ مونږکرايه هم وانخستله اوته ورسره داسې سلوک کوي.حافظ ابن کثير رحمه الله فرمائي چې لام په ﴿لِتُغْرِقَ﴾کښې لام العاقبة دې،چې عاقبت اوانجام دتختۍ ماتولودادې چې ددې اهل به هلاك شي اولام تعليليه ندې ځکه چې پديکښې سوء ادب دې ليکن صاحب دروح المعاني فرمائي چې لام تعليليه هم صحيح دې،بلکه انسب دې دمقام سره ځکه چې استفهام لپاره دانکاردې، او﴿لِتُغْرِقَ﴾علت لپاره دانکاردې.﴿لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا إِمْرًا﴾ (امراً) په معنې د(منکربد)سره دې اوتنوين لپاره دتعظيم دې،يعني تادېربدکارسره(خلاف شرع) راتگ اوکړو.اوقتاده رحمه الله نه د﴿إِمْرًا﴾تفسيرپه عجباسره منقول دې چې داکاردېرنااشنااوکړو، اومخشري اوامام رازي وغيره مفسرين فرمائي چې ﴿إِمْرًا﴾ماخوذدې د"امرالامر" نه چې کله څوك يوغټه واقعه اوحادثه اوکړي چې دهغې توقع ورنه نه کيږي اونه ئې څه سبب معلوم وي نوعرب دهغې لپاره لفظ دامر استعماله وي،نومعنې به ئې داشي چې تاپه يوديرغټ کارسره راتگ اوکړو.﴿قَالَ أَلَمْ أَقُلْ﴾دادحضرت خضر عليه السلام دطرف نه موسىٰ عليه السلام ته شرط يادول دې، ﴿قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِي﴾دااعتذاراوعذرپيش کيدل دي دحضرت موسىٰ عليه السلام دطرف نه په نسيان سره.اوموسىٰ عليه السلام داسې اونه وئيل چې انى نسيت بلکه اضافه ئې د﴿قَالَ لَا تُؤَاخِذْنِي﴾ اوکړه چې داابلغ ده په اعتذارکښې ځکه چې دحضرت خضر عليه السلام خواته هم نسيان يوامرمحقق وو.اوما په﴿بِمَا نَسِيتُ﴾ کښې يامصدريه ده اوباء صله ده دمواخذې لپاره.اى لاتواخذنى بنسيانى وصيتك فى ترك السوال(روح) اويا باء سببيه ده اونسيان اگرچه سبب قريب دمؤاخذې لپاره خو ندې

بلکه سبب قريب لپاره دمواخذې سوال کول اوعمل نه کول ووپه وصيت باندې ليکن سبب بعيدې اوپديکښې اشاره ده چې په انبياء کراموباندې دمقتضې بشريت دوجې نه په هغه امورو کښې چې تعلق دامورشرعيو سره نوي نونسيان پرې طاري کيدلې شو .اوپه امور دوحې کښې انبياء کراموباندې نسيان قطعا نه راتلو .اودغه شان پديکښې اشاره ده چې په نسيان باندې مواخذه اوګناه نيشته﴿وَلَا تُرْهِقْنِي ﴾ پدې کښې اشاره ده چې استاذته عذرقبلول پکاردې اوکله کله تسامح هم پکارده او ﴿مِنْ أَمْرِي ﴾نه مراد يانسيان دې اويامتابعت اوشاګردي ده

﴿فَانْطَلَقَا﴾دادويمه واقعه ده چې کله دوئ ددرياب نه پورې لاړل نوڅه نوجوانان ئې اوکتل چې لوبې ئې کولې نوخضر عليه السلام په هغوئې کښې يوکس زاونيسلو اوقتل ئې کړونوحضرت موسى عليه السلام برداشت نه کړې شوه اوبياپرې اعتراض اوکړو چې يوبيګناه کس دې قتل کړوداخوتاډيربدکاراوکړو اوفاء په﴿فَانْطَلَقَا﴾کښې فصيحيه ده اوتقديردعبارت داسې دې چې فقبل عذره فخرجامن السفينة فانطلقا الخ

﴿ إِذَا لَقِيَا غُلَامًا﴾ نوم دهغه نوجوان جيسور ياحيسورياحيسون وو اوپه صحيح حديث کښې دې چې ده دنورو هلکانوسره لوبې کولې اودې په هغوټولوکښې خائسته اوپاك وو،نوحضرت خضر عليه السلام دې رااونيولوقتل ئې کړو اوپه کيفيت دقتل کولوکښې روايات متعدد راغليدي،دبخاري شريف په يوروايت کښې راغليدې اخذبراسه من اعلاه فاقتلعه بيده چې سرئې ورله په لاس سره دځې نه رااويستلواوپه څنې رواياتوکښې راغليدې چې دې ئې سملولواوبيائې په چاړې سره ذبح کړو

اوپه څنې رواياتوکښې داسې ذکردې چې دده سرئې ديوال له راواچولو،اوځوك وائې چې په سرئې ورله په کانړې باندې اويشتلو اوعلماؤددې ټولورواياتوکښې تطبيق داسې کړې دې چې ديوال په يوکانړې باندې ئې اول اويشتلواوبيائې په زمکه باندې رااوغورزولواوبيائې ذبح کړواوبيائې ورنه سرپه لاس سره جدا کړو(فتح،قرطبى،روح)

مسلك دجمهورو په دې غلام كښې دادې چې دې نابالغ وو دليل دادې چې دده لپاره لفظ دغلام استعمال شويدې اوغلام اطلاق په صغيركيږي لكه څرنگه چې اطلاق دجارية په صغيرې باندې كيږي

اودغه شان دده لپاره صفت د﴿زَكِيَّة﴾راغليدې چې داهم دليل دې په عدم بلوغ دهغه باندې،

اودغه شان دحضرت ابن عباس‌ نه هم د﴿زَكِيَّة﴾ تفسيرپه صغيرة سره نقل كړې شوې دې اوبعض علماء فرمائى چې دې بالغ وو دليل دادې چې وئيلې شويدې "بغيرنفس" نوكچري صبې وې نودصبې قتل قصاصا نيشته دې نوبيابه بغيرنفس قيدضرورت نوو اودابه نوې ذكرشوې،

خو ددينه علامه كرماني او نووي‌ جواب كړيدې چې قيددبغيرنفس تاكيدلپاره دې چې قتل ددې صبې بالكل ناحق وو،لكه په يقتلون النبين بغيرحق، كښې قيددبغيرحق تاكيدلپاره دې اوياجواب دادې چې دموسى‌ په شريعت كښې په نابالغ باندې هم قصاص وو

لكه امام بيهقي فرمائى چې زمونږ په شريعت كښې هم ابتداء قصاص على الصبې وو خوبياورستومنسوخ شولو،دويم دليل دادې چې ورستوخضر‌ دهغه په باره كښې داسې فرمائيلې دې

﴿طُغْيَٰنًا وَكُفْرًا﴾نوهغه ته نسبت دطغياني اوكفرشويدې اوماشوم نابالغ كافرنوې ليكن جواب ددينه هم ممكن دې چې نسبت دكفرده ته په تاويل دمايؤل اليه.سره دې ځكه چې حضرت خضر‌ نبى وو داموورباطنيه، نو الله‌ ده ته ددې ماشوم دكفراطلاع وركړه لكه څرنگه چې

دغاصب اوظالم بادشاه اطلاع اولاورکړې وه ليکن راجحه خبره هغه ده چې امام طحاوي رحمه الله نه نقل کړې شويده چې داغلام دعمرپه اعتبارسره نابالغ وو خودعقل اوپوهې په اعتبارسره بالغ وو.

﴿قَالَ أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً ﴾دااعتراض دي دموسی علیه السلام په خضر علیه السلام باندې قصدا اول اعتراض نسياناوو اوپه څنې قراءتوکښې زاکية راغليدي، بعض علماء فرمائي چې زکية اوزاکية کښې فرق نيشته دې اوبعض مفسرين فرمائي چې زاکية وئيلې کيږي هغه ته چې بالکل ئې ګناه نوې کړې اوزکية هغه ته وئيلې کيږي چې ګناه ئې کړې وي اوبيائې توبه ويستلې وي اومراد په ﴿بِغَيْرِ نَفْسٍ ﴾سره دادې چې ده بل څوك هم ندي قتل کړې څکه جوازدقتل ديونفس لپاره موجوديدل دايو امردې ددرې امورونه چې: (۱)زنا دمحصن ده (۲)قتل دنفس دې (۳)اوارتداددې.

﴿لَقَدْ جِئْتَ شَيْئًا نُكْرًا ﴾هرکله چې قتل دنفس سخت جرم دې اوفسادئې ظاهردې نوڅکه پدې ځائې کښې لفظ د﴿نُكْرًا﴾ذکرشو څکه چې داهم ابلغ دې په انکارکښې د﴿إِمْرًا ﴾، نه څکه چې ﴿نُكْرًا﴾استعمال په هغه بدکارکښې کيږي چې دهغې نقصان ډيروي اوښکاره وي چې تدارك ئې نشي کيدلې، په خلاف د﴿امرا﴾نه چې دهغې استعمال په هغه بدکارکښې کيږي چې نقصان ئې کم وي اوتدارك ئې کيدلې شي نوقتل النفس تدارك نشي کيدلې نوڅکه دلته نکرا استعمال اوشو، په خلاف دکشتئ دتختـه اوباسلونه چې دهغې تدارك کيدلې شي نوددې وجه نه هلته کښې

﴿إِمْرًا﴾ استعمال شو .او بعض مفسرينو بالعکس خبره کړيده چې ﴿إِمْرًا﴾ سخت دي د ﴿نُّكْرًا﴾ اودکشتئ دورانولو په صورت کښ اغراق دډيروکسانووو نوهغه جرم ډيرسخت وو دقتل ديونفس نه نوځکه هلته کښ ﴿إِمْرًا﴾ اودلته ﴿نُّكْرًا﴾ استعمال شو

قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكَ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِيَ صَبْرًا ﴿٧٥﴾ قَالَ
اوئيل خضر ﷺ چې آيا مانوو وئيلې تاته چې بيشكه ته هرګزطاقت نه لرې خما سره دصبركولو. اوئيل موسى ﷺ
اِنْ سَاَلْتُكَ عَنْ شَيْءٍ بَعْدَهَا فَلَا تُصٰحِبْنِيْ قَدْ بَلَغْتَ
كچرې ماتپوس اوكړو ستانه په بارد ديوكاركښې پس ددې نه پس مه ملګرې كوه ته مالره په تحقيق سره اوبه رسي ته
مِنْ لَّدُنِّيْ عُذْرًا ﴿٧٦﴾ فَانْطَلَقَا حَتّٰٓى اِذَآ اَتَيَآ اَهْلَ قَرْيَةِ اسْتَطْعَمَآ اَهْلَهَا
خما دطرف نه عذرته.پس روان شول دواړه تردې چې كله راغلل يوكلي والوته نوخوراك ئې اوغوختلوداوسيدونكودهغې نه
فَاَبَوْا اَنْ يُّضَيِّفُوْهُمَا فَوَجَدَا فِيْهَا جِدَارًا يُّرِيْدُ اَنْ يَّنْقَضَّ
نو انكاراوكړو هغوئ چې ميلمستيا وركړي دوئ دواړوته پس اوموندلو دوئ په هغه كلي كښې يوديوال نزدې وو چې پريوتلې وې
فَاَقَامَهٗ ؕ قَالَ لَوْ شِئْتَ لَتَّخَذْتَ عَلَيْهِ اَجْرًا ﴿٧٧﴾
نونيغ كړو هغه ديوال .موسى ﷺ ورته اوئيل كچرته ستاخوښه وې نواغستې به دې وې په دې باندې مزدوري

﴿قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكَ﴾ دا دحضرت خضر ﷺ دطرف نه بياعهد ياده ول دي او اضافه ﴿لَّكَ﴾ لپاره دتاكيددې اوترقې ده په غصې كښې څكه چې دادويم اعتراض قصداووړجانبه دموسى ﷺ نه ﴿قَالَ إِن سَأَلْتُكَ﴾ داشرط لګول دي دموسى ﷺ اواعتراف دې پدې چې كچرته په دريم ځلې هم ماصبراونكړونوبيابه عذرختم وي اوته مادخپل مصاحبت اوسفرنه جداكړه. اوپه حديث شريف كښې راځي حضور ﷺ ارشاد اوفرمائيلوچې الله ﷻ دې رحم اوكړي په موسى ﷺ باندې كچرته ده صبركړې وې داشرط ﴿إِن سَأَلْتُكَ﴾ نوې لګولې نومونږ به نورعجائبات هم اوريدلې وو اوپه ځنې رواياتوكښې راځي چې حضرت موسى ﷺ دخپل ملګرې «دخضر ﷺ» نه حيا اوكړه نوځكه ئې داشرط اولګولو «ابوداود».

﴿قَدْ بَلَغْتَ مِن لَّدُنِّي﴾ پدې كښې اشاره ده چې دوه ځلې پورې دانسان عذرقبلولې شي

﴿فَٱنطَلَقَا حَتَّىٰٓ﴾ دا دریمه واقعه دهغوئ ذکرکیږي چې دوئ روان وو حتی چې یو کلي ته راغلل اودوئ اوږې شوې وو نودکلي خلکونه ئې خوراك طلب کړوخوهغوئې وَرته انکاراوکړو، هلتهٔ دوئ یودیوال اوکتلوچې کوږ شوې وو اوغورزیدلوته نژدې وو حضرت خضر علیه السلام هغه دیوال بغیرداجرت اومزدورئې نه صحیح کړلو، حضرت موسیٰ علیه السلام ورته اوئیل کچرې تاددوئ نه څه مزدوري اغستې وې نوموږ به پرې ځان ته دخوراك بندوبست کړې وې، نوحضرت خضر علیه السلام ورته اوئیل چې بس اوس څما اوستا دجدائې وخت راغلیدې

﴿أَهْلَ قَرْيَةٍ﴾ په تعیین دقریې کښې ډیراقوال دي څوك وائې چې ددینه مراد انطاکیه، ده څوك وائې چې عراق کښې دبصرې سره نژدې ابله قریه ده، څوك وائې چې دفلسطین یوه عظیمه قریه ناصره تنه مرادده، څوك وائې چې داردن یوه قریه ایله ورنه مراد ده ددینه علاوه نوراقوال هم راغلیدې خوپه تعیین باندې څه قوي دلیل نیشته دې اولفظ د اهل کښې اشاره ده چې دې کلې ته راتلل دددوئ دخلکوسره ملاقات وو اوصرف پدې لاره باندې تیریدل نوو مقصود.

﴿ٱسْتَطْعَمَآ أَهْلَهَا﴾ سین اوتاء لپاره دطلب دي یعنی طلب دطعام ئې اوکړو اومرادپدې سره طلب دضیافت دې،خودلته پرې اطلاق دطعام اوکړې شو اوورستو ورباندې اطلاق دضیافت کیږي پدې کښې اشاره ده چې یوقسم خوراك چې نسبت اوکړې شي سائل اوخوراك کوونکي ته نوطعام ورته وئیلې کیږي اوهم دغه خوراك چې نسبت ئې اوکړې شي مسئول اوکوروالاته نوضیافت ورته وئیلې کیږي، اووضع داسم ظاهرپه ځائې دمضمرباندې(استطعمااهلها) په ځائې داستطعماهم راوړې شولپاره دي چې پدې کښې دهغوئې په بخل اوبدسلوك باندې تصریح ده چې حضرت خضر علیه السلام اوموسیٰ علیه السلام ددې قریې داهل نه طعام طلب کړې وو اوداجانب یادمسافرئینونه ئې نوو طلب کړې اوددې قریې اهل ورته انکاراوکړو،حالانکه داقریه وه اومصرنوو چې پکښې څوك مسافروې بلکه ټول ددغې ځائ خلك وو،اودغه شان په شهرکښې سرائې وغیره وې اوپه قریوکښې داسهولت نوې بلکه هلته خلك دمسافرو انتظامات په کورونوکښې کوې اودغه شان دقریوخلك دشهرې خلکوپه نسبت مهمان نوازوې خوددې قریې خلك ډیربخیلان وو اوددې وجه نه په یوروایت کښې داسې راغلیدې چې حتی اذااتیا قریة لئاما

فطمالي المجالس فاستطعما اهلها(نسائي) اوپدې كښې دليل دې چې مسافرلپاره خوراك طلب كول داهل قريه نه جائزدې.

﴿فَأَبَوۡاْ أَن يُضَيِّفُوهُمَا﴾ مقصد پدې سره هم پوره كيدې شوچې وئيلې شوې فليضيّفوهما خواضافه د﴿فَأَبَوۡاْ﴾ لپاره دبخل ظاهره ولواودهغوئ دسپكوالي ظاهره ولولپاره اوشولو

فائده: علامه آلوسي رحمه الله رد كړيدې پدې مقام كښې په هغه واقعاتوباندې چې امام رازي رحمه الله وغيره نقل كړيدي چې كله داايت نازل شونودغه قريې خلك ډيراوشرميدلواونادم شو اوحضورﷺ ته ئې ډيرسره زرپيش كړل اودرخواست ئې اوكړو چې باء د﴿فَأَبَوۡاْ﴾په تاء سره بدله كړه، خوحضورﷺ انكاراوكړو، اوبعضو داواقعه حضرت علي رضي الله عنه ته منسوب كړيده ليكن ددې واقعې په صحت باندې څه دليل نيشته دې اونه دقريې په تعيين باندې څه دليل شته دې

فائده۲: بعض خلكوپدې ايت سره استدلال كړيدې په جوازدسوال باندې لكه صاحب دمقامات وئيلې دې- فان رددت فمالي الرد منقصة، على قدرد موسىٰ والخضرقبل، حالانكه حرمت دسوال بلاضرورته په حديث سره ثابت دې، اوعلامه قرطبي رحمه الله فرمائي چې داسې قول كول لوبې دې ددين سره (قرطبي ج۵ ص۳۲۳)

﴿يُرِيدُ أَن يَنقَضَّ﴾ انقضاض دباب انفعال نه وئيلې كيږي سقوط بسرعة ته اوبعض علمآء فرمائي چې داباب افعلال دې لكه احمّرچې داحمرارنه راځي په معنې دصارذاحمرة سره اواسناداراده جدارته كول يادقبيلې دمجازمرسل نه دې، علاقه پكښې ده سببيت ده څكه چې اراده كوونكې قريب وي فعل ته نواراده سبب دقربت ده نودغه شان قريب السقوط څيزته نسبت داراده كيږي، اودغه شان مجازات عرب په خپلومحاوراتوكښې په كثرت سره استعماله وي. لكه وائي دارى تنظرالى دارفلان نسبت دنظركولودارته مجازادې، اومجازراوړل په كلام كښې دايوه شعبه ده دفصاحت اوبلاغت اوددې وجه نه قرآن مجيدكښې هم مجازات استعمال شويدې. اواقول دجمهوردې اوامام ابواسحاق اسفرائي اودهغه متبعين منكردې داستعمالاتودمجازنه په قرآن كښې څكه چې دادليل دې دعجزتعالى الله عن ذلك علوا كبيرا، خوليكن دادوئ وهم دې(والتفصيل في القرطبي والروح وغيره) اويااسناد داراده جدارته استعارة اوتشبيها دې چې

قرب السقوط مشابه کړې شویدې دَارادې سره څکه چې په دوارِوکښې میل وي ﴿فَأَقَامَهُۥ﴾ یعنی هغه دیوال سیده کړو اوپه کیفیة دسیدوکولوکښې مختلف اقوال دي څوك وائي چې ستنه (عمود) ئې ورته اودروله اوڅوك وائي چې دیوال ئې وران کړو اوبیائې جوړکړو. لیکن غوره توجیه هغه ده چې دابن عباس رضی الله عنه نه مروي ده چې حضرت خضر علیه السلام خپل لاس په دیوال باندې راخکلو. نوهغه بالکل سیده شو، اودا په حدیث دابی بن کعب رضی الله عنه کښې هم راغلیدي.

﴿قَالَ لَوْ شِئْتَ لَتَّخَذْتَ﴾ داعتراض دموسیٰ علیه السلام دي چې مونږته دخوراك ضرورت دي اودوئ زمونږ دضیافت کولونه انکارهم اوکړو نوتاورسره ولې دااحسان اوکړو چې بغیرداجرت نه دي دیوال ورله جوړکړو بلکه دضرورت په بناء باندې به دې ورنه اجرت اغستلې وو. نودا ایت دلیل دي په جوازداجرت باندې اوپه کسب دمعیشت باندې اوبعض مفسرین فرمائی چې داتعریض وو دموسیٰ علیه السلام په خضر علیه السلام باندې چې هرکله ته ددیوالونوپه جوړولوباندې پوهیدلې نوابتداء به دې دادیوال جوړکړې وو اواجرت به دې اغستلې وو اومونږ به پرې څان ته طعام اخستلې وو، اوددوئ نه به موخوراك نوې طلب کړې.

فائده: بعض مفسرینو (لکه ابن الجوزي اوثعلبي وغیره شو) لطیفه ذکرکړیده چې کشتئ سورئ کیدل اوددوئ بچ کیدل دَاداسې وولکه موسیٰ علیه السلام چې مورپه صندوق کښې اچولې وو اوپه دریاب کښې ئې لاهوکړې وو، اومعامله دقتل دغلام داسې وه لکه چې حضرت موسیٰ علیه السلام قبطي قتل کړې وو، اومعامله ددیوال جوړولوبلا اجرت داسې وه لکه چې حضرت موسیٰ علیه السلام دحضرت شعیب علیه السلام لونړوله بغیرداجرت نه څاروي اوبه کړې وو، خودحضرت موسیٰ علیه السلام نه خپل واقعات هیرشوي وو. کچرې یادوې ورته نوبیابه ئې په حضرت خضر علیه السلام باندې اعتراض نوې کړې خولیکن محقیقنوپدې مناسبت باندې ردکړیدې، اولاخودانده ثابته چې حضرت موسیٰ علیه السلام نه خپل واقعات هیرشوي وو اوثانیا ددې واقعاتوپه مینځ کښې ډیرلوئې فرق دې، څکه خرق دسفینه اختیاري وو، اوپه صندوق کښې بنده ول اوپه دریاب کښې لاهوکول دموسیٰ علیه السلام په حق کښې اضطراري اوغیراختیاري وو، دغه شان قتل دقبطي دموسیٰ علیه السلام نه خطاء وو اوقتل دغلام دخضر علیه السلام نه عمدا وو، دغه شان اوبه کول دڅاروو داپه سفردهجرت کښې ووچې په هغې کښې حضرت موسیٰ علیه السلام خپل څان نصرت غیبیة ته حواله کړې وو اوپه هغه وخت کښې هغه ته دخوراك ضرورت هم نوو، اودحضرت شعیب علیه السلام لونړه قابل رحم وکرم

اواحسان هم وي. اوداسفردخضر عليه السلام سره سفرعلمي ووچې په هغې کښې خپل مشقت دفع کول پکاروو، اودوئ خوراك ته محتاج هم وو اوبيادهغې کلي دخلکو رويه هم دوئ سره ښه نوه. نوددې واقعاتو په خپل مينځ کښې څه مناسبت نيشته دې والله اعلم بالصواب. امام قرطبي پدې مقام کښې تفصيلي بحث کړيدې په ثبوت دکراماتو داولياء کښې. اوعلامات دولي ئې ذکرکړيدې چې دابحث قابل ديد دې

قَالَ هٰذَا فِرَاقُ بَيۡنِيۡ وَبَيۡنِكَ ۚ سَاُنَبِّئُكَ بِتَاۡوِيۡلِ مَا لَمۡ تَسۡتَطِعۡ
خضر عليه السلام اوئيل چې داجدائي ده په مينځ زما اوپه مينځ ستاکښې زرده چې خبربه درکړم تاته په حقيقت دهغې چې طاقت نه لروتا
عَّلَيۡهِ صَبۡرًا ﴿۷۸﴾ اَمَّا السَّفِيۡنَةُ فَكَانَتۡ لِمَسٰكِيۡنَ يَعۡمَلُوۡنَ فِي الۡبَحۡرِ
په هغې باندې دصبرکولو، [1] هرچې هغه کشتئ ده نو وه هغه لپاره دعاجزانو غريبانانو، چې مزدوري به ئې کوله په درياب کښې
فَاَرَدۡتُّ اَنۡ اَعِيۡبَهَا وَكَانَ وَرَآءَهُمۡ مَّلِكٌ يَّاۡخُذُ كُلَّ
پس اراده اوکړه ما ددې چه عيب جنه کړم داکشتئ اوخکه چه وو ددوئ مخې نه بادشاد چې نيوله ئې هرده روغه.
سَفِيۡنَةٍ غَصۡبًا ﴿۷۹﴾ وَاَمَّا الۡغُلٰمُ فَكَانَ اَبَوٰهُ مُؤۡمِنَيۡنِ فَخَشِيۡنَاۤ اَنۡ يُّرۡهِقَهُمَا
کشتئ په زورزبردستئ [1] اوهرچه هغه هلك وو نوووموريلاردهغه مؤمنان پس اويريدلومونږه ددېنه چې اوبه غورزوي دې دواړو لره
طُغۡيَانًا وَّكُفۡرًا ﴿۸۰﴾ فَاَرَدۡنَاۤ اَنۡ يُّبۡدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيۡرًا مِّنۡهُ زَكٰوةً
په سرکشئ اوکفرکښې نو اوغوختله مونږه چې بدل به ورکړي دوئ ته رب ددوئ غوره دده نه په پاکئ کښې
وَّاَقۡرَبَ رُحۡمًا ﴿۸۱﴾
اوډيرنزدې په مهربانئ کولوکښې.

[1] بيان حکمت واقعه اولی.

[1] بيان حکمت واقعه ثانيه.

﴿قَالَ هَـٰذَا فِرَاقُ بَيْنِي﴾مشار اليه دهذا انكار او اعتراض ثالث دي او داقول دخضر العليه دهغې شرط موافق دي چې حضرت موسى العليه په ځان باندې ضروري کړي وو . او تکرار دبين اوشو او داسې اونوئيلې شو چې "هذافراق بيننا" لپاره دتاکيد او علامه زمخشري رحمه الله فرمائي چې مشار اليه دهذا لپاره فراق دې او دامتصور او معهود فى الذهن وو په دې قول سره چې ﴿إِن سَأَلْتُكَ عَن شَيْءٍ﴾ دې لکه چې وئيلې کيږي، هذا اخوك نوپدې کښې اشاره په هذا سره داخ نه علاوه بل څيزته نده (کشاف، ﴿سَأُنَبِّئُكَ بِتَأْوِيلِ﴾تاويل وئيلې کيږي ردّ الشئ الى مآله ته اودلته نه هم مراد مال او عاقبت دې او "ما" په معنې د "الذي" سره عبارت دې دهغه افعالونه چې صادر شوې وو دحضرت خضر العليه نه او ﴿لَمْ تَسْتَطِع﴾دا جمله صله ده دموصول او موصول لپاره صله عدم استطاعت دموسى العليه راوړې شو او داسې اونه وئيلې شو چې "مافعلت" يا "مارايت" ځکه چې پديکښې تعريض دې په موسى العليه باندې چې تا دصبر طاقت نه لرو ځکه خما او ستا رفاقت نورنه کيږي او پديکښې اشاره ده چې داعتراض په صورت کښې په انسان باندې جواب ورکول ضروري دي ﴿أَمَّا ٱلسَّفِينَةُ﴾ دا داولې واقعې حکم بيانيږي چې حضرت خضر العليه اوفرمائيلو چې دکشتۍ مالکان ډير غريبانان وو اودهغوئ ذريعه معاش صرف دايوه کشتۍ وه اوذوئ ته مخکښې يو بادشاه وقت ډير ظالم وو نوم دهغه حيسون وو (قرطبی)هغه به هره صحيح کشتۍ رانيوله او غصب کوله ئې نوما پدې کښې عيب پيدا کړو ددې لپاره چې بادشاه ئې غصب نکړي ﴿أَمَّا﴾حرف تفصيل دې اوالف لام په ﴿ٱلسَّفِينَةُ﴾کښې عهدخارجي دې ﴿فَكَانَتْ لِمَسَـٰكِينَ﴾مساکين جمع دمسکين ده ضعيف عاجزته وئيلې کيږي، علامه آلوسي فرمائي چې اطلاق دمسکين په هرهغه چا باندې کيږي چې عاجزه وي يادمال په اعتبارسره يادبدن په اعتبارسره اودوئ ته مساکين په دې اعتبارسره وئيلې شويدې چې دوئ لس (۱۰) ورونړه وو نوپنځه پکښې شل (معذوره) وو او پنځوبه کارکولونودوئ ټولوته مساکين وئيل داموالوپه اعتبارسره وئيل تغليبادې، اوعام مفسرين دافرمائي چې دوئ ته مساکين پدې اعتبارسره دې او امام شافعي رحمه الله پدې ايت سره استدلال کړيدې چې فقيراشدوي په احتياج کښې دمسکين نه ځکه چې مسکين هغه ته وئيلې کيږي چې هغه سره مال وي خونصاب ته نوي رسيدلې اوفقيرهغه ته وئيلې کيږي چې هغه سره

بالكل مال نه وي. پدې ځای کښې پدغې کسانو باندې اطلاق دمسکین شویدې حالانکه دوی سره کشتۍ وه اودوی دهغې مالکان وو اوپدې سره به هغوی معاش ځان ته پیداکولو. لیکن علامه آلوسي رحمه الله فرمائي چې پدې واقعې سره استدلال کول ضعیف دی(۱) وځوددې وجه نه چې مسکین هرعاجزته وئیلې کیږي برابره خبره که دې دمال په اعتبارسره عاجزوي یادبدن په اعتبارسره.(۲) اوداهم ممکنه ده چې لام په ﴿لِمَسَٰكِينَ﴾ کښې لپاره داختصاص وي اوندې وي لپاره دملك اوداکشتۍ دې هغوی عاریة یااجارة اغستې وي دبل چانه(۳) اویااطلاق دمسکین په دوی باندې دترحمًا وي اګرچې په حقیقت کښې دوی فقراء وو. یعنی مال ورسره وو چې هغه ته فقیروئیلې کیږي(عندالاحناف) خولیکن پدوی باندې دمسکین اطلاق(چې هغه عندالاحناف هغه چاته وئیلې کیږي چې بالکل مال ورسره نوي)ترحما شویدې.

﴿يَعْمَلُونَ فِي ٱلْبَحْرِ﴾نسبت دعمل ټولوته کول یاتغلیبا دې اویاعمل دوکلآء په منزله دعمل دموکلینو دې.﴿فَأَرَدتُّ﴾حضرت خضر عليه السلام خپل فعل یعنی خرق السفینة په لفظ دارادې سره ذکرکړو اوداسې ئې اونوئیل چې فاعبتها لپاره داشارې دیته چې ځمامقصدصرف کشتۍ عیب داره کول وو اواغراق مقصدمې نوو.وکان وراءهم لفظ دوراء داضدادونه دې اطلاق ئې په مخکښې ورستو. دواړوباندې کیږي دلته تنه مراد امام یعنی مخکښې دې اوداسبب اوعلت دې دعیب دارکولودکشتۍ لپاره چې کشتۍ مې ځکه عیب داره کړه چې غاصب بادشاه هره صحیح کشتۍ غصب کوله اودلته تقدیم دمسبب راغلیدې په سبب باندې(حالانکه سبب مقدم وي په مسبب باندې) نوداتقدیم عنايةً دې، اودغه شان پدیکښې اشاره ده (په تقدیم دمسبب کښې)چې اخراق دسفینې لپاره صرف خوف دغصب سبب نووبلکه هغه مالکان مساکین هم وونوهرکله چې اوغصب اومسکنت سببین وو دفعل لپاره نومسکنت ئې مقدم کړو په غصب باندې لپاره دعنایت ځکه چې دااقوي سبب وو، (کشاف) اومراد په﴿كُلَّ سَفِينَةٍ﴾(سفینه صالحة) یعنی هره روغه کشتۍ مراد ده، پدې ایت کښې تعلیم دې په رضاء بالقضاء باندې دتکلیف زده خلکولپاره چې ددوی تکلیف دبل لوی تکلیف نه دبچ کیدلوذریعه ګرځیږي.اودغه شان پدې کښې اشاره ده چې دډیرې فائدې لپاره لږنقصان برداشت کول پکاردې. اولوئې ضررنه ځان بچ کولولپاره وړوکې ضرر برداشت کول پکاردې.﴿وَأَمَّا ٱلْغُلَٰمُ﴾دادویمې واقعې حکم بیانوي چې قتل دغلام دې چې

هغه غلام ماخکه قتل کړو چې هغه طبعا بدکرداره وو او کافروو او دهغه والدین مؤمنان صالحان وو. نومونږسره داخطره وه چې دې به خپلو والدینو ته تکلیف رسوي اوهغوئ به په کفرباندې مجبوره کړي،نوماخکه دده دقتل اراده اوکړه اوددې په بدله کښې به الله ﷻ هغوئ ته بهترین ولدورکړي چې هغه به دین داره هم وي اوپه هغوئ باندې به شفقت کوونکي هم وي او صاحب دمدارك دددې غلام نوم حسین ذکرکړیدې. اوپه یوشاذقرائت کښې امّاالغلام فکان کافرا راغلیدې. اوددې وجه نه بعض مفسرین فرمائي چې داغلام بالغ وو. ځکه صبي نه متصف کیږي په کفراوایمان سره اوضحاك رحمه الله وغیره نه منقول دې چې ده په نقصانات کول اوموروپلارته به ئې تکلیف ورکولو اوبعض فرمائي چې ده به ډاکې کولې اوموراوپلارته به ئې قسم خوړلو چې داځما خپل دې اوموروپلاربه دده دطرف نه مدافعت کولو.اوده په خبره به ئې اعتبارکولو. او ﴿وَأَمَّا﴾ حرف تفصیل دې ﴿ٱلْغُلَـٰمُ﴾ مبتداء ده او ﴿فكان﴾ ناقصه دې ﴿أَبَوَاهُ﴾ اسم دې او ﴿مُؤْمِنَيْنِ﴾ ورله خبردې اوپه یوقرائت کښې ابواه مؤمنان راغلیدې نوپه هغې تقدیرکان کښې ضمیردې چې راجع دې غلام ته اویاضمیرشان دې چې اسم دې دکان اوجمله یعنی ابواه مؤمنان ورله په موضع دخبرکښې ده. ﴿فخشینا ان یرهقهما﴾ الخ داسبب دقتل دغلام بیانیږي چې پده باندې مهرلګولې شوېدې اودې کچرته ژوندې پاتې شوې وې نودخپلووالدینولپاره سبب دکفرګرځیدلونوددې وجه نه ماهغه قتل کړو. اودحضرت خضر علیه السلام داخشیت محض عقلي نوو بلکه دوحې په ذریعې سره ورته علم ورکړې شوې وو اوکچرې څوك اشکال اوکړي چې هرکله دخضر علیه السلام غلام قتل کول په ذریعې دوحې سره وو نوبیاولې هغه داسې اوئیل چې ﴿فَخَشِينَآ أَن يُرْهِقَهُمَا﴾ ځکه چې خشیت خوپه هغه مواضعوکښې وي چې دهغې خلاف واقع کیدلې شي اودوحې په ذریعې سره حاصل شوي علم کښې خلاف واقع کیدل نه وي؟ نوجواب تنه دادې چې خشیت راجع دې تعدیې دکفروالدینودهغه ته اوخشیت په قتل دهغه کښې ندې مراد ابن جریر طبری رحمه الله فرمائي چې خشیت په معنې دعلم سره دې ځکه چې عرب خشیت اوخوف نه علم یقیني دهغې معنې مرادکوي چې دهغې ادراك په حواسوسره نشي کیدلې والخشیة والخوف توجههماالعرب الی معنی الظن وتوجه هذه الحروف الی معنی العلم بالشئ الذی یدرك من غیرجهة الحس والعیان،طبری ج۸ ص۲۲۲،اوزمخشری فرمائي چې داهم ممکنه ده چې خشینادې کرهنا په معنې کښې وي ځکه

چې عرب خوف اوخشيت الفاظ په كراهت كښ په كثرت سره استعماله وي. ﴿طغيانا وكفرا﴾ ،مرادپدې سره ياطغياني اوكفردغلام مرادده اوعلت دې دقتل دهغه لپاره اوياطغياني اوكفردوالدينو دهغه مرادده .عطف دكفرپه طغيان باندې لپاره دتقبيح دامردهغه دې. اويا په طغيانا ،سره اشاره ده خلط كيدلودايمان دهغوئ دګناهونوسره اولا. په كفرا سره زائله كيدلودايمان دهغوئ ته ثانيا اوياعطف تفسيري دې اومراد په كفراسره كفردون كفر،مراددې[1]

﴿فَأَرَدْنَآ أَن يُبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا﴾ دادواړه صيغې يعني ﴿فَخَشِينَا﴾ او﴿فَأَرَدْنَا﴾ دجمعي ذكرشولې بعض مفسرينووجه دابيان كړيده چې په قتل دغلام كښ دحضرت موسىٰ عليه السلام دطرف نكيرنه سخت وو نوددې وجه نه حضرت خضر عليه السلام په بيان دحكمت كښ صيغي دجمعي ذكركړې چې

---

[1] اوكه څوك اشكال اوكړي چې علم تابع دى دمعلوم اوصحت دعلم موقوف دى په تحقق خارجي دمعلوم باندې چې معلوم په خارج كښ موجودوي نواوس كچرته دالله جل جلاله په علم كښ داخبره وي چې دى به كفراوطغياني كوي اوموروپلاربه هم په كفرباندې مجبوره وي نوپكارده چې په خارج كښ هم دامتحقق شوى وى. اوحالانكه كفردهغه اومجبوره وڼ دهغه خپل موراوپلارپه په كفرباندې ندى موجود شوى نولازم شو عدم صحت دعلم دالله جل جلاله تعالى الله عن ذلك علوا كبيرا

نوجواب ددينه داكړى شويدى چې داقانون مذكوره چې علم تابع دمعلوم وي الخ دادممكناتولپاره دى اوپه الله جل جلاله كښ معامله برعكس ده هلته معلوم تابع دعلم وي خوليكن داجواب كمزورى دى يوددې وجه نه چې په تخصيص دعلم دواجب تعالى باندې دقانون مذكوره څه دليل نيشته دى. اودويم ددې وجه نه كه تابع علم شي يامعلوم په هرتقديرمطابقت اوموافقت بين العلم والمعلوم ضرورى دى. اوهركله چې معلوم په خارج كښ موجودندى نومطابقت به څرنګه راشي .نوددې وجه نه صحيح جواب دادى چې دامذكوره كلام حقيقت كښ جمله شرطيه ده اوحكم په شرطيئ كښ بين المقدم والتالى دى اوحكم صرف په تالى (جزا) كښ نوي كماهومذهب اهل العربية اوصدق دشرطيئ (متصلي) مبنى دى په صدق دلزوم باندې يعنى مقدم اوتالى كښ علاقه دلزوم صحيح وه نوقضيه شرطيه به صحيح وي اوكچرته علاقه دلزوم كاذبه وه نوقضيه شرطيه به هم كاذبه وي، اوصدق دشرطيئ موقوف ندى په تحقق بالفعل دمقدم يادتالى باندې. بلكه كچرته وجود دمقدم يادتالى محال هم وي نوبياهم صدق دشرطيئ راځي .لكه لوكان فيهماالهة الاالله لفسدتا ، نومقدم چې الهه دى محال دى اوبياهم داقضيه صادقه ده اودغه شان لوكان زيدحمارا لكان ناهقا هم صادقه ده .نولهذا داكلام مذكوره جمله شرطيه ده اوپه علم دالله جل جلاله كښ داخبره چې دى به كفراوطغياني كوي وغيره . داپدې شرط سره وو كچرته دى بالغ شي نوكافربه وي اوخپل والدين به هم په كفرمجبوره كړيو ليكن هغه دبلوغ نه مخكښ قتل كړى شو . اوپدې مقام كښ دااشكال نه واردېږي چې داكلام مذكوره يعنى كچرته دى بالغ شوى وى نوكافربه وى څوقضيه شرطيه متصله لزوميه ده اولزوم مقصد ، دادى چې مقدم علت وي دتالي لپاره اويامقدم اوتالى دواړه معلولين وي دعلت اخره ثالثه لپاره اودلته خودادواړه محال دى نوڅرنګه به لزوم راشي ځكه چې جواب تنه په دى طريقي سره ممكن دى چې دلته دادواړه معلولين دى دعلت ثالثه چې هغه علم آزى دالله جل جلاله دى اوهغه ورله دادى چې داكلام فخشينا الخ دخضر عليه السلام حاكي دى دعلم ازلي دالله جل جلاله نه اوعلم ازلي دالله جل جلاله لپاره په ازل كښ معلومات هم شته دى په وجوداجمالي سره نوهلته كښ مطابقت راغليدى اوفخشينا الخ صرف حكايت دى دهغې نه

داهم دلالت کوي په اظهاراوپه ارادي دقوت باندي، اونسبت دابدال یعنی بدل ورکولوصرف الله ﷻ ته اوشو ځکه چې عوض ورکول داصرف اوصرف دتصرفاتو دالله ﷻ نه دي﴿زَكٰوةً وَّاَقْرَبَ رُحْمًا﴾ .زکوة منصوب دې بنابرتمیز اوزکوة وئیلي کیږي صفاته یعنی دي به دګناهونو اوداخلاق رذیله نه به پاك وي،اورُحْمًا په سکون دحا اوپه ضمي دحاء دواړوسره راغلیدي اوالف پکښې دتانیث لپاره دي یعنی دي به دموراوپلار ډیرفرمانبرداروي اوپه هغوئ به ډیررحم کوونکې وي اواقرب اګرچه اسم تفضیل دي خومعنې ئې دمبالغې ده ځکه چه په اول ولدکښې رحم بالکل نوو. بعض علماء فرمائی چې دهغې ولدپه بدله کښې الله ﷻ هغې موروپلارته بل ولدورکړو چې هغه مسلمان وو ،ابن جریرطبری رحمه الله فرمائی چه کله خضر علیه السلام داهلك قتل کولونومورد هغه حامله وه نوبیائې یومسلمان بچې پیداشو.لیکن دجمهورقول دادې چې ددې مقتول ولدپه بدله کښې الله ﷻ دوئ ته لوروركړه چې دهغې سره یونبي نکاح اوکړو اوبیادهغې دبطن هم نبي پیداشواوبعض علمآء فرمائی چې دهغې په نسل کښې دولس(۱۲)انبیاء کرام اوبعض فرمائی چې اویا(۷۰)انبیاء کرام پیداشویدي

وَاَمَّا الْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلٰمَيْنِ يَتِيْمَيْنِ فِي الْمَدِيْنَةِ وَكَانَ تَحْتَهٗ كَنْزٌ لَّهُمَا
[1]اوهرچه هغه دیوال وونووو ددوه هلکانویتیمانو په هغې ښارکښې اووه لاندې دهغې نه خزانه ددې دواړو
وَكَانَ اَبُوْهُمَا صَالِحًا ۚ فَاَرَادَ رَبُّكَ اَنْ يَّبْلُغَآ اَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا كَنْزَهُمَا
اووپلارددوئ نیک سړي پس اوغوښتله رب ستاچې اورسیږي دوئ دواړه خوانئ خپلې ته اوراوباسي به خزانه خپله
رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ ۚ وَمَا فَعَلْتُهٗ عَنْ اَمْرِيْ ۭ ذٰلِكَ تَاْوِيْلُ مَا لَمْ تَسْطِعْ عَّلَيْهِ صَبْرًا ۝
دوجې درحمت درب ستانه اوندې کړي ماداکارپه خپل اختیارسره دادې حقیقت دهغې چې طاقت نه لرلوتا په هغې باندې دصبرکولو

﴿وَاَمَّا الْجِدَارُ﴾دادریمي واقعي حکمت بیانیږي چې دغه دیوال ددوه یتیمانو وو چې دهغوئ پلارډیرنیك وو اوددې دیوال دلاندې دهغوئ خزانه دفن وه چې دوئ ته دپلارنه په میراث کښې

[1] بیان حکمت واقعه ثالثه

پاتې شوي وه او ددې کلي خلك بيكاره وو كچرته ديوال غورزيدلې وي اودغه خزانه څرګنده شوي وې نوددغې علاقې خلکوبه لوټ کړې وه ،نوددې وجه نه الله ﷻ دااوغوختله چې دادواړه ماشومان غټ شي اوخپله خزانه په خپل استعمال کښې راوړي نوددې وجه نه ماته حکم اوکړې شو دديوال دجوړه ولو.

﴿فَكَانَ لِغُلَـٰمَيْنِ يَتِيمَيْنِ﴾راجحه خبره داده چې دادواړه نابالغه وواونومونه ددوئ احرم اوصريم منقول دي﴿وَكَانَ تَحْتَهُۥ كَنزٌ لَّهُمَا﴾. په كنزكښې اقوال متعدد راغليدي يوقول دادې چې پدې سره مراد سره اوسپين زردي، اوداقول مرفوعا نقل كړيدي حضرت ابودرداء رضي الله عنه دحضور ﷺ نه . دويم قول دادې چې داتختئ وي دسروزرو اوپدې باندې دبسم الله الرحمن الرحيم نه ورستو دابوڅوكلمات ليكلې شوي وو(١)تعجب دې په هغه چاچې تقديرباندې يقين وي اوبياهم غمژن وي(٢)تعجب دې په هغه چاچې دررزق په ميلاويدو باندې يقين وي اوبياهم ځان ستړې كوي(٣)تعجب دې په هغه چاپه مرګ باندې يقين وي اوبياهم بې غمه خوشحاله ګرځي.(۴)تعجب دې په هغه چاچې په حساب كتاب باندې يقين وي اوبياهم غافله وي(۵) تعجب دې په هغه چاچې په زوال ددنياباندې يقين وي اوبياهم پرې مطمئن وي(٦) لااله الاالله محمدرسول الله اوبعض فرمائي چې پدې سره مطلق اموال مراددي. اويوقول دحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه داهم مروي دي چې مراد پدې سره خزانه دعلم ده، ليكن داقول ضعيف دې.

فراء قانون بيان كړيدې چې كنزكله بغيرداضافت نه يعنى مفردراوړلې كيږي اوكله سره داضافت نه ذكركولې شي نوچې په كوم ځائ كښې مفرد ذكركړې شوي وو نومراد تنه مال مدفونه ئې، اوچې په كوم ځائ كښې په اضافت سره ذكركړې شي نومراد به تنه كثرت اوعظمت دمضاف اليه وي لكه چې وئيلې كيږي كنزالعلم كنزالفهم، نودلته هم مفرد ذكركړې شويدې نوځكه مال مدفونه تنه مراددې﴿وَكَانَ أَبُوهُمَا صَـٰلِحًا﴾. ظاهره داده چې مراداب نه دهغوئ خپل پلارمراد دې چې نوم دهغه كاشح ذكركړې شويدې اودمور نوم ئې دهنا نقل كړې شويدې اوبعض فرمائي چې مراد اب نه دهغوئ اوومې(٧)پيړئ نيكه دې اوڅوك وائي چې دلسمې(١٠)پيړئ نيكه تنه مراددې، ليكن اول قول راجح اوظاهردې چې دغه خزانه دددوئ خپل پلاردفن كړې وه اوداشكال چې مال دفن كول باندې خوشديدوعيد راغليدې(والذين يكنزون الذهب والفضة ولاينفقونها في سبيل الله فبشرهم بعذاب اليم(التوبة ۳۴)) نوڅرنګه دې صالح وو؟ داځكه نه واردېږي چې مراد په دې

وعيد سره هغه خلك دي چي هغوئ په خپل مالونو كښې د الله ﷻ حقوق يعني زكوة نه اداكوي. لكه چي دابن عباس رضي الله عنه اوابن عمر رضي الله عنه نه منقول دي چي دكوم مال نه زكوة اداكړې شي نوهغه كنز نه دي .اګرچه هغه مال مدفون وي اوكوم مال نه چي زكوة ادا نكړې شي نوهغه كنز دي.يعني چي په كوم كنزباندې چي وعيدوارد شويدي،نوممكنه ده چي دوئ دخپل مال نه زكوة اداكړې وي. اويا په هغوئ باندې زكوة نووفرض كړې شوې.

فائده: پدې ايت كښې دليل دې چي دوالدينونيكان چورپېدل داولاد دجان اومال دحفاظت ذريعه ګرځيږي يوروايت كښې دي چي الله ﷻ دخپل نيك بنده تراوه (۷) نسلونوپورې حفاظت فرمائي(قرطبي ج۵ص ۳۳۳).

محمدبن منكدرفرمائي چي الله ﷻ دخپل يونيك بنده دوجي نه دهغه داولاد اوداولاد اولاد(نسبو)اودټولي علاقي حفاظت فرمائي، امام قرطبي رحمه الله واقعه نقل كړېده چي حضرت علامه شبلي رحمه الله به فرمائيل چي څه ددې شهراوپوره علاقي لپاره ذريعه دامن يم. نوچي كله هغه وفات شواودفن كړې شو نوكفارديلم په دريائ دجله باندې راپورې وتل اوبغداد باندې ئې قبضه اوكړه نوخلكوبه وئيل چي په مونږباندې دوه(۲)مصيبتونه نازل شو(۱)مرګ دشبلي(۲)اوقبضه كيدل دبغداد(قرطبي ج۵ ص ۳۲۲).

دغه شان پدې ايت كښې اشاره ده چي خلك دې دعلماء اودصلحاؤ اولادباندې دشفقت كوي اودهغوئ دِرعايت كوي.

فائده(۲): بعض معاصرومفسرينوپدې ځائ كښې ليكلي دي (بعض مبتدعين ددې نه استدلال كوي چي ددې ايت نه وسيله ثابته شوه،جواب دادې چي پديكښې وسيله شركيه اوبدعيه نه ثابتيږي، بلكه دمسئلي شرعي په وجه سره ددوئ دمال حفاظت اوكړې شو اوديته وسيله وئيل جهالت دې .هان الله ﷻ كله ديوصالح په وجي سره دهغه په اولادباندې اودهغه په تابعدارئ كوونكوباندې رحم اوبركت كوي، ليكن په بادي النظركښې داكلام ډيرضعيف دې په وجوه سره من جمله دهغې نه دادې (۱) چې سوق دكلام اګرچه دثبوت اوجواز دوسيلي لپاره ندې شوې ليكن په اشارة النص سره وسيله ددې ايت نه ثابتيږي چي هركله ديوصالح بنده دوجي نه دهغه داولاد اوخاندان وغيره حفاظت الله ﷻ كوي خوبلاتوسل نوپه توسل سره به په طريقه اولي كيږي(۲)بل ددې وجه نه چي ﴿صَالِحًا﴾ پدې ځائ كښې خبرد ﴿وَكَانَ﴾ دې ليكن تخصيص ذكري ددې وصف په

منزله دعلت دې دحفاظت داموال دهغوئ لپاره اوداداسي دې لکه چې وئيلې کيږي اکرمت زيدا عالما ای لاجل علمه نوددې نه معلومه شوه چې ددې يتيمانودمال حفاظت دصالح پلارپه برکت سره وو.

﴿فَأَرَادَ رَبُّكَ﴾اضافت درب موسی ته کول تشريفا دي ﴿أَن يَبْلُغَآ أَشُدَّهُمَا﴾اشدجمع دشدة ده اوبعض فرمائی چې داجمع ده خومفردورله من لفظه نيشته دې اوددې اطلاق کيږي دامام ابوحنيفه په قول پنځويشت کالوعمرباندې.چه داعمردانساني عقل دکمال عمردې ځکه چه په دومره عمرکښ انسان نيکه جوړيدل ممکن دې اوعلامه جوهري فرمائی چې داشداطلاق داتلسونه ترديريشت(۳۰)کالوعمرباندې کيږي اوبعض علماء فرمائی چې مرتبه داشديت په څلويښت کالوعمرکښ حاصليږي،لکه چې الله فرمائی حتی اذابلغ اشده وبلغ اربعين سنة﴿وَيَسْتَخْرِجَا﴾ استخراج په معنې داخراج سره دې س اوتاء لپاره دمبالغې دې اومفسرين فرمائی چې دې يتيمانوته علم نووپدې کنزباندې اوددوئ لپاره يووصي وو خوپدې وخت کښ غائب وو، او﴿رَحْمَةً﴾ مفعول له دې﴿وَمَا فَعَلْتُهُ﴾دادشبهې اصل جواب دې چې ما پدې درې واقعاتوکښ چې څه هم کړيدې نوپه خپل اختيارمې ندې کړې اونه راته څه علم غيب حاصل وو بلکه دالله په حکم باندې مې کړيدې ﴿ذَٰلِكَ تَأْوِيلُ مَا لَمْ﴾مشاراليه دذلك لپاره مذکوروواقعات دی او﴿تَسْطِع﴾ په اصل کښ تستطع وو يوه تادتخفيفا حذف کړې شوه. اوپه تخفيف ددې ځائ اوکړې شواوپه ايت نمبر(۷۸)کښ تاء تخفيفا نوهاحذف کړې شوې ددې وجه نه چې داپه دويم ځلې ذکرکيږي نودې مکررشواوتکرارسره تخفيف مناسب دې نوځکه دلته تاء حذف کړې شوه.

فائده: حضرت خضر دکشتئ په واقعي کښ داسي اوفرمائيل چې﴿فَأَرَدتُّ أَنْ أَعِيبَهَا﴾ نسبت دارادې ځان ته ئې صرف کړيدې، اوپه واقعي دقتلدغلام کښ﴿فَأَرَدْنَا﴾وئيلې دې يعني الله اوخپل ځان دواړوته ئې نسبت کړيدې، اوپه واقعي ددیوال کښ نسبت ئې صرف دالله ته کړيدې ددې څه حکمت دې؟ نوغوره توجيه داده چه پديکښ هغه کمال ادب ملحوظ کړيدې ځکه چې کشتئ عيب داره کول فقط شروو ظاهرا نودکمال ادب تقاضاداده چې دشرنسبت الله

ته اونکړي شي لکه حضرت ابراهيم عليه السلام اوفرمائيل چې **واذا مرضت فهويشفين،** نوهرکله چې مرض شروو اوشفا خيروو نوابراهيم عليه السلام نسبت دمرض خپل ځان ته اوکړو اونسبت دشفائي الله جل جلاله ته اوکړو .اوپه اقامت دجدارکښې فقط خيروو.اودشرجانب پکښې نوو نودديې وجه نه دهغې نسبت فقط الله جل جلاله ته اوکړو .اوپه قتل دغلام کښې يوجانب دشروو چې قتل دې اوبل جهت پکښې دخيروو چې هغه ددغه مقتول غلام په بدلې کښې صالح اولاد ورکول وو نودامشترکه بين الخيروالشروه نودديې وجه نسبت ئې هم په طريقې داشتراک سره اوکړواوضميردجمعي متکلم راوړې شو.

وَيَسْـَٔلُونَكَ عَن ذِى ٱلْقَرْنَيْنِ ۖ قُلْ سَأَتْلُوا۟ عَلَيْكُم مِّنْهُ
[1]اوتپوس کوي دوئ ستانه په باره دذوالقرنين کښې ته اوايه چې زرده چې بيان به کړم په تاسوباندې د(واقعې) دهغه نه
ذِكْرًا ﴿٨٣﴾ إِنَّا مَكَّنَّا لَهُۥ فِى ٱلْأَرْضِ وَءَاتَيْنَٰهُ مِن كُلِّ شَىْءٍ سَبَبًا ﴿٨٤﴾
څه خبرې دنصيحت بيشکه مونږه طاقت ورکړې ووده ته په زمکه کښې اوورکړې وومونږه ده ته دهرقسم نه سامان دضرورت
فَأَتْبَعَ سَبَبًا ﴿٨٥﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ ٱلشَّمْسِ وَجَدَهَا تَغْرُبُ
پس روان شودې په يوې لارې(يعنې مغرب)تردې چې اورسيدلوځائ دپناه کيدلودنمرته نواوموندلو ده نمرچې پناه کيدلو
فِى عَيْنٍ حَمِئَةٍ وَوَجَدَ عِندَهَا قَوْمًا ۗ قُلْنَا يَٰذَا ٱلْقَرْنَيْنِ إِمَّآ أَن تُعَذِّبَ
په يوې چينې(درياب)توره کښې اواوموندلونې دهغې سره يوقوم(کافر)اوئيل مونږه چې اې ذوالقرنين ياخوعذاب ورکړه دوئ ته
وَإِمَّآ أَن تَتَّخِذَ فِيهِمْ حُسْنًا ﴿٨٦﴾
اويادا چه اونيسه ته ددوئ په باره کښې يوه ښه لار

﴿وَيَسْـَٔلُونَكَ عَن ذِى ٱلْقَرْنَيْنِ﴾ دادسورت څلورمه حصه ذکرکيږي اودڅلورمې شبهې جواب کيږي.چې شبهه داکيدله چې ذوالقرنين سره ډيرلوئ طاقت وو اوهغه متصرف فى الاموروو نودتوحيددعوې کول غلط دي، نوجواب راغې چې ذوالقرنين محتاجه وو اوکوم طاقت چې

[1] جواب ازشبهه رابعه

ورکړي شوهغه هم دالله ﷻ دطرف نه وو اوظاهري اسباب ماتحت وو اوددغې ظاهري اسبابوباوجود په خپل امورو کښې محتاجه وو، اوخلکونه ئې دامداددرخواست کړې وو لکه چې په ايت(نمبر۹۵)کښې دي، اودغه شان په خپل لغاتوباندې هم نه پوهيدلولکه ايت(نمبر۹۳)کښې دي

تعارف: قرآن مجيد کښې دذوالقرنين تعارف صرف دومره حدپورې ذکرشويدې چې دې يونيک اوصالح،عادل بادشاه ووپه ټوله دنيباندې بادشاهي کړې وه مشرق.مغرب. اوجانب شمال سفرئې کړې وو،په جانب شمال کښې يوقوم چې ياجوج ماجوج ورته وئيلې کيږي هغوئ په يودرې کښې داوسپنې دديوال په ذريعې سره بندکړيدي اودهغې علاقې خلکوته ئې دهغوئ دشرنه حفاظت ورکړيدې. اوددينه علاوه دهغه نوم.سلسله نسب.دهغه زمانه وغيره غيرضروري مباحث دي چې قرآن اوحديث صحيح کښې دهغې نه بحث ندې کړې شوې، اونه يوانسان ددغې معلوماتومکلف دې، البته خپل تاريخي رواياتواودقرآنونه خپل مفسرينودهغه اصل نوم.نسب. زمانه وغيره تعين کړيدي، دده په نوم کښې متعدد اقوال راغليدي راجحه داده چې دده نوم اسکندروو، خوداسکندرپه نوم باندې هم ډيربادشاهان تيرشويدي. دټولونه اخيرکښې داسکندرپه نوم چې کوم بادشاه تيرشويدې هغه کافروو چې دهغه نوم اسکندربن فيليس المقدوني اليوناني وو ارسطاطاليس چې مشهورپه ارسطو دې دهغه وزيروو اوهغه اسکندريه شهرپه خپل نوم باندې ابادکړې وواودهغه جنګ د دارا بادشاه سره شوې وواوهغه ئې قتل کړې وو اوفارس وغيره ممالك ئې فتح کړې وو اودهغه تاريخ باندې دفارسي يوکتاب اسکندرنامه ليکلې شويده، اوکوم اسکندرذوالقرنين چې قرآن کښې مذکوردې دهغه په نبوت کښې اختلاف دې اوپه نيک صالح مسلمان کيدلوکښې اتفاق دې، اوددوئ دواړوپه مينځ کښې تقريبادوه زره(۲۰۰۰)کاله فرق دې، يعنې مسلمان اسکندردکافرنه دوه (۲۰۰۰)زره کاله اول تيرشويدي، اودهغه وزيرحضرت خضر ؈ وو.

وجه تسميه: ده ته ذوالقرنين ولې وائي؟ نوپديکښې هم متعدداقوال راغليدي، راجح پکښې دادي(۱)چې دې دوه عظيم سلطنتونوفارس،اوروم بادشاه وو(۲)ياقرنين نه مراد ښکرې دي اوداکنايه ده دشوکت اودبدبې نه(۳) ياقرنين نه مراد قرني الارض،يعنې مشرق اومغرب دې ځکه چې ده دمشرق نه ترمغربه پورې علاقې قبضه کړې وي(۴)ياده دوه(۲) زلفان وو پمنزله دقرن چې په اوګوباندې به ئې پراته وو(۵) دده په سرکښې يوطرف ته اوبل طرف ته دزخم دوه(۲)نشانونه وو اودهغې په باره کښې حضرت ابی الطفيل ﷺ دحضرت علی ﷺ نه داوجه نقل کړيده چې

ذوالقرنين خپل قوم دالله ﷻ ددين دعوت ورکړونوقوم دې په سرباندې اويشتلونو دې مړشو الله ﷻ بياژوندې کړو نوبيائې دعوت ورکړونوهغوئ بيااويشتلو دسرپه بل طرف باندې اومړشونوددې وجه نه ده ته ذوالقرنين وئيلې كيږي(٦)اويا ددې وجه نه چې ده ته علم ظاهراوباطن دواړه ورکړې شوې وو(٧)اويا ددې وجه نه چې ده په ابتداء كښ خوب ليدلې وو چې مادنمر دواړه طرفونه نيولې دي(٨) اويا ددې وجه نه چې دده مدت دحيات دوه(٢) قرنه يعنى صدئ وه(٩) اويا ددې وجه نه چې الله ﷻ ده ته بطوركرامت يامعجزه دوه (٢)نشانې سپين اوتورورکړې وې چې كله به تكه توره شپه به وه خوچې ده به هغه سپينه ننبه رااويستله نوتوله علاقه به دورخې پشان رڼاشوله اوكه په سپيني ورځې كښ به ئې توره ننبه راويستله نوتوره تياره به شوه(تاريخ الخميس) (١٠)اويا ددې وجه نه چې دې دسپين اوتورو دواړو اقوامومالك وو.اوددينه علاوه نورهم ډيراقوال مفسرينوذكركړيدي.

دده زمانه كومه وه؟ نواكثرمفسرينو دده زمانه دحضرت ابراهيم ﷺ دورخودليدې، چنانچه ابن كثير رحمه الله پدې جزم كړيدې چې ده دحضرت ابراهيم ﷺ سره يوځائ طواف كړې وو، اوبعض فرمائی چې دده اول ځلې ملاقات دحضرت ابراهيم ﷺ سره په بيت المقدس كښ شوې وو،اوپه هغه ئې سلام كړې وو اوپه حضرت ابراهيم ﷺ باندې ايمان راوړې وو،بعض علماء فرمائی چې دده زمانه دحضرت ابراهيم ﷺ نه ورستودحضرت دانيال ﷺ دوركښ وو،چې تقريبا(٥٠٠ ق م) زمانه وه،اودده دوفات اوپه مدفن كښ هم اختلاف دې حافظ ابن كثير رحمه الله په البدايه كښ داسې ليكلې دي،چې كله ده ياجوج ماجوج بندكړل اودچين علاقه تبت وغيره ئې قبضه كړه نوواپس بغدادته راغې اوبيمارشو اويوه مياشت ورستوبياوفات شو اوځوك وائې چې په روم كښ وفات شويدې(والله اعلم) اوپه ځنې رواياتوكښ راغليدي چې څلوركسان دي چې هغوئ په ټولې دنيابادشاهي كړيده، دوه(٢)مؤمنان وو سليمان ؑ اوذوالقرنين اودوه كافرو نمرود اوبخت نصر،اودده په نبوت كښ اختلاف دې راجحه داده چې دې نبي نوو بلكه نيك صالح بادشاه وو اوكوم خلك چې دده دنبوت قائل دى نواستدلال كړيدې هغوئ په ايت(نمبر٨٦) ﴿قُلْنَا يَـٰذَا ٱلْقَرْنَيْنِ﴾سره چې الله ﷻ ده ته خطاب كړيدې په وحې سره، ليكن جواب تنه ممكن دې چې كيدې شي چې داخطاب په واسطه دخضر ﷺ دې چې هغه دده وزيرو.

﴿وَيَسْئَلُونَكَ﴾واو عاطفه دې اوداقصه عطف ده په قصې دموسى عليه السلام باندې اومناسبت ددې دواړو واقعاتوپه خپل مينځ کښې دادې چې دحضرت موسى عليه السلام واقعه په رحلاتودعلم باندې مشتمله وه اودذوالقرنين واقعه په رحلاتو دجهاد باندې مشتمله ده اودغه شان دموسى عليه السلام په واقعې کښې ددرې(۳)امورو ذکروو اواخيري امراقامت دجدار وو نود ذوالقرنين په واقعه کښې درې(۳) امور ذکرذکردې اواخيري امرسدسکندري مذکوردې. اودغه شان حضرت موسى عليه السلام دعلم انتهاء ته رسيدلې وو په انسانانوکښې اوحضرت ذوالقرنين دعمل انتهاء ته رسيدلې وو په انسانانوکښې .اودغوره قول مطابق تپوس کوونکې قريش مکه وو په مشوره ديهوديانوسره، اوسبب ددې سوال دااوچې دهغه تاريخ(ذوالقرنين تاريخ) اوواقعه دخلکونه هيره شوې وه، نوددې وجه نه ددې صحيح جواب ورکول دحضور ﷺ دنبوت دليل وو اوصيغه دمضارع ذکرکولوکښې اشاره ده استحضاردصورة ذهنيه ددې واقعې ته چې تيره شوې وه په زمانې ماضيه کښې.

﴿عَن ذِي ٱلۡقَرۡنَيۡنِ﴾عبارت په جذف دمضاف سره دې اى عن خبرذى القرنين.ځکه چې تپوس ذات اوحقيقت دذوالقرنين نه وو، بلکه دهغه دواقعې نه وو،﴿قُلۡ سَأَتۡلُواْ﴾سين لپاره دتاکيددې چې دلالت کوي په تحقق دفعل باندې، اولپاره داحضاردسامعينووي اوضميرمجروره د منه دغوره قول مطابق راجع دې ذوالقرنين ته اوبعض وائې چې راجع دې الله تعالى ته او من تبعيضيه ده اوپديکښې اشاره ده چې قرآن مجيددهغه ضرورې واقعات بيان کړيدې اوټول حالات ئې دهغه ندې ذکرکړې اوکچرته ضميرراجع شي الله تعالى ته نوبيابه من ابتدائيه وي.چې داواقعه بيانول دالله تعالى نه دې يعنى دهغه په توفيق سره دې او ﴿ذِكۡرًا﴾نه مراد واقعات دهغه دې اوپه«ذِكۡرًا ﴾سره اشاره ده چې واقعات قرآنيه محض تاريخې ندې اونه قرآن مجيدغيرضرورې واقعات ذکرکوي بلکه واقعات دقرآن لپاره دتذکيراونصيحت دې اوقرآن هغه امورذکرکوي چې په هغې سره انسان ته عبرت اونصيحت حاصليږي﴿إِنَّا مَكَّنَّا لَهُۥ﴾تمکين متعدي کيږي بالواسطه هم اوبلاواسطه هم وئيلې کيږي قدرت اوبادشاهي اوغلبې ته، اونسبت ئې ضمير دمتکلم ته کولوکښې اشاره ده چې ده ته قدرت اوغلبه ورکول دالله تعالى دطرف نه وو. اوبعض مفسرين فرمائي چې داتمکين فى الارض په سبب دنبوت سره وواودې نبى وو خوليکن دااحتمال

غیرراجع دي ﴿وَءَاتَيْنَٰهُ مِن كُلِّ شَيْءٍ سَبَبًا ﴾ سبب په لغت کښې وئيلې کيږي رسئ ته اوبيا په استعاري باندې اغستلې شویده دهرهغه څيزلپاره چې په هغې سره رسيدل کيږي مقصودته.نوددې اطلاق په علم قدرت. اوآلات حرب په ټولوباندې کيږي. او(من، په﴿مِن كُلِّ شَيْءٍ ﴾ کښې بيانيه دې اودلته کښې مضاف مقدردې ای من اسباب کل شيئ اوکل لپاره داستغراق حقيقي ندې بلکه استغراق اضافي لپاره دې او اضافت دکل شيئ ته لپاره داستغراق حقيقې ندې،بلکه عرفی دې يعنی چې کوم اسبابواووسائلوته دې محتاجه وو دملکونوپه فتح کولوکښې اوددشمنان په ختمولوکښې وغيره هغه ټول ورته ورکړې شوي وو،اوپديکښې اشاره ده چې دهغه فتوحات اوبادشاهي وغيره ماتحت الاسباب وو اوداسبابو استعمالولوته محتاجه وو.

﴿فَأَتْبَعَ سَبَبًا ﴾فاء فصيحيه ده تقديرعبارت داسې دې اراد بلوغ المغرب فاتبع سببا اودسبب اطلاق په لارې باندې هم کيږي ځکه چې داهم منزل مقصود ته درسيدلو ذريعه ده نومعنې ئې داده چې دې روان شوپه يوې لارې باندې حتی چې مغرب ته اورسيدلواويادسبب نه مراد ذرائع دسفردې نومعنې ئې داده چې ده اسباب استعمال ئې شروع کړو دمغرب په طرف تللولپاره اوابتداء ئې دمغرب نه ځکه اوکړه چې هغه ورته قريب وو اودادلالت نه کوي په تفضيل دمغرب باندې په نوروجهاتوباندې﴿حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ ﴾مغرب صيغه دظرف مکان ده په معنې دځائې دغروب شمس اودلته تنه مراد انتهاء اواخردزمکې دې په جانب دمغرب کښې اومرادتنه اخري مقام دغروب شمس ندې ځکه چې غروب دشمس ممکن ندې په سمندرکښې﴿وَجَدَهَا تَغْرُبُ ﴾ وجداطلاق کله په موندلوباندې کيږي يعنی استعماليږي په معنې دوجود خارجي سره نوپدې معنې سره شيئ معلوم دنفس الامر اوواقعې سره مطابقت ضروري دې. اوکله په معنې داحساس سره راځي يعنی محسوس کول اومشاهده کولوسره راځي نوپدې معنې په اعتبارسره دشيئ مرئې مطابقت دنفس الامرسره ضروري ندې، نودلته هم دادويمه معنې مراده يعنی ذوالقرنين داسې محسوسه کړه چې ګويادې په تور درياب کښې پټيږي اګرچه حقيقة اوپه نفس الامرکښې داسې نده ځکه چې نمرخودزمکې نه په څوچنده سره غټ دې نوپه يودرياب کښې څرنګه غروب اوکړي﴿فِي عَيْنٍ حَمِئَةٍ ﴾ عين اګرچه چشمې(چينې)ته وئيلې کيږي خومرادتنه سمندردې

او ﴿حَمِئَةٍ﴾ماخوذدې دحمئت البير .نه چې کله په کوهې کښې توري ختې رااوخي. اوحمل دحمئة په عين باندې صحيح ندې ځکه چې چشمه دختونوي نوددې وجه نه دلته ذات لفظ مقدردې اې ذات حماءة «روح»اوپه ځنې قراءتوکښې حامية راغليدې يعنې ګرمه چينه.ددې ايت مقصددادې چې ذوالقرنين داسې ځائ ته اورسيدلوچې هلته اوبه وې اوسمندروو اومخکښې نوره ابادې نوه اوده داسې محسوسه کړه چې ګويا داشمس پدې اوبوسمندرکښې غروب کوي اوداحساس په نسبت سره مواضعوته مختلف دې، چې په کوم ځائ کښې غرونه وې نوهلته داسې محسوس کيږي چې دانمردغره نه شاطرف ته غروب کوي اوپه ځنې مواضعوکښې لکه صحرا وغيره شوهلته داسې محسوس کيږي چې ګويا دانمرپه شګوکښې غروب کوي وغيره نودغه شان ذوالقرنين داسې مقام ته اورسيدلوچې هلته نوره ابادې نوه اونه مخکښې دې تللې شو نوده داسې محسوس کړه چې ګوياچې دانمرپدې اوبوکښې غروب کوي اوهرکله چې دې دسمندرپه کنارې باندې وو چې ده ته ترلرې حدپورې پلندئ ښکارې دې نوددې وجه نه ﴿حَمِئَةٍ﴾قيدورسره ذکرشو

دامقام اوځائې کوم يووو؟ نوداتحديداوتعيين کول مشکل دې. ځکه چې قرآن کښې الله ﷻ صرف دومره ذکرکړيدې چې دې يومقام ته اورسيدلوچې هلته ډيرې اوبه، وې اوورسره ګيرچاپيره ختې(پلندئې) هم وې، چې هغې ته حماء وئيلې کيږي، ددې نه زيات دمقام تصريح په قرآن کښې ياپه احاديثوکښې نيشته دې البته ځنې مفسرينودقرائنوپه بنيادامکان په درجې کښې دتعين کوشش کړيدې، نوبعض مفسرين دافرمائي چې دامقام بحراسود، دې ځکه چې دهغې اوبه توري دې اوداسې معلوميږي چې ختمه پکښې اوداذوالقرنين شمالي مغرب ته طرف واقع وو اوداعلاقه ګروزنې اوپوګوسلاوبه ده اودې ته بحراسودوائي چنانچه مولانا عبدالماجد درياابادي رحمه الله پدې جزم کړيدې اودغه شان نورمعاصرومفسرينو هم ذکرکړيدې. ليکن داخبره ځکه محل نظرده چې بحراسود هغه بحيره ده اوبحرندې اومفسرينو ليکلې دې چې دې بحرته رسيدلې وو اودويم ددې وجه نه چې مفسرينوتصريح کړيده چې دې کوم ځائې ته رسيدلې ووو نودهغې نه مخکښې نوره ابادې نوه اواوچه زمکه هم نوه چې دې تللې وې.اوبحيره اسودنه مخکښې نورې اباديانې شته دې اواوچه زمکه هم شته دې. نودقرائنومذکورونه دامعلوميږي چې دې بحراوقيانوس شمالي ته رسيدلې وې چې داد مغرب طرف باندې هم واقع وو، اودهغې نه مخکښې اوچه زمکه هم

نیشته دي، چې دايوه حصه دبحرمحيط ده اوصاحب دفتح القديرليكي، لان من وراء هذه النهاية بحرالمحيط وهولايمكن المضى فيه(فتح) اوپه كوموقراتونوكښ چې حامية يعنى ګرمي اوبه راغليدې نودهغې توجيه هم داسي ممكنه ده چې دبحرتقسيم دوه(۲)اقساموته دې يوبحرمنجمد اوبل غيرمنجمد. غيرمنجمد هغه دې چې دهغه لپاره لهرونه(چپې) وي اوديته دوئ ګرم سمندر او ګرمي اوبه هم وائي نوكوم سمندرچې(۲۰، ۲۲)نه پورته خط باندې واقع دې نوپه هغې كښ لهرونه نيشته دې، اوهغه منجمددې اوددينه لاندې هغه غيرمنجمددې اوديته ګرم سمندر وائي(والله اعلم)

﴿وَوَجَدَ عِندَهَا قَوْمًا﴾يعنى په ساحل دبحرباندې يوقوم ابادوو، دلته ﴿وَجَد﴾معنې اولې كښې استعمال دې اودغه قوم كافروو لكه دراتلونكې جملې نه معلوميږي﴿إِمَّآ أَن تُعَذِّبَ﴾ده اوقاضي بيضاوي فرمائى چې ددوئ لباس دسباع څرمنې وو اوددوئ خوراك دسمندرحيوانات وو﴿قُلْنَا يَـٰذَا ٱلْقَرْنَيْنِ﴾جمهورپه نيزداخطاب په ذريعه دنبي سره دې، اودكوموحضراتوپه نيزچې ذوالقرنين نبى دې نوهغوئ په نيزخطاب بالذات هغه ته دې﴿إِمَّآ أَن تُعَذِّبَ﴾ ذوالقرنين ته دالله تعالى دطرف نه اختيارميلاؤشو ددغې قوم په باره كښ چې يائې قتل كړه اويائې پرې احسان اوكړه اوژوندي ئې پريده، اودااختيارپه اصلح الامرين كښ اجتهاد لپاره وو،چې كوم امرتاته اصلح ښكاره شي نوهغه اختياركړه لكه پدې قول دالله تعالى كښ هم مذكوردې، فامامنابعداخ اومراد په تعذيب سره قتل دهغوئ دې، اوپه﴿حُسْنًا﴾سره مراد ژوندي پريخودل دې بغيردفدئې ياسره دفديې نه،اوحضرت تهانوي رحمه الله توجيه داده چې مراد د(تعذب) نه بغيرددعوت نه جهادكول دهغوئ سره اودحسنا نه مرادپس ددعوت وركولونه جهادكول دي اوددې نه معلوميږي چې دې قوم ته يوځل دعوت رسيدلې وو بلكه څنې رواياتونه معلوميږي چې په دوئ كښ څنې كسان اوس هم مسلمانان دې لكه حديث دخروج دياجوج ماجوج كښ راغلې چې كله الله تعالى ددوئ دخروج اراده اوكړي نودوئ به انشاء الله اووائي اودغه شان علامه عينى دمقاتل نه نقل كړيدې يغدون اليه فى كل يوم فيعالجون حتى يولدفيهم رجل مسلم فاذا غدوا اليه قال لهم المسلم قولوا باسم الله فيعالجونه حتى يتركونه رقيقا

كقشر البيض ويرى ضوء الشمس فيقول المسلم قولوا بسم الله غدا نرجع انشاء الله تعالى فنفحته(عينی ج۱۵ ص۲۳۸).

قَالَ اَمَّا مَنْ ظَلَمَ فَسَوْفَ نُعَذِّبُهٗ ثُمَّ يُرَدُّ

اوئيل ده چې هرهغه څوك چې په ظلم (شرك باندې) پاتې شونو زرده چې عذاب به وركړو مونږه ده ته بيابه بيـرته كړې شي

اِلٰى رَبِّهٖ فَيُعَذِّبُهٗ عَذَابًا نُّكْرًا ۝ وَاَمَّا مَنْ اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهٗ

خپل رب ته نو عذاب به وركړي ده ته سخت عذاب اوهرچاچې ايمان راوړو اوعمل ني اوكړو نيك موافق دسنت. پس لپاره ده د

جَزَآءَ ۨالْحُسْنٰى وَسَنَقُوْلُ لَهٗ مِنْ اَمْرِنَا يُسْرًا ۝ ثُمَّ اَتْبَعَ سَبَبًا ۝

بدله ده خائسته(جنت دې) اوخامخا اوبه وايومونږه ده ته دكار ددين زمونږه اسان.بيا روان شودې په بله لار

حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَطْلُعُ عَلٰى قَوْمٍ لَّمْ نَجْعَلْ

ترهغې چې كله اورسيدلودې ځائ دختلودنمرته اوئې ليدلودانمرچې راختلوبه داسې قوم باندې چې نوؤ گرځولې مونږه

لَّهُمْ مِّنْ دُوْنِهَا سِتْرًا ۝ كَذٰلِكَ ؕ وَقَدْ اَحَطْنَا بِمَا لَدَيْهِ

لپاره دوئ دنمرمخې ته هيڅ پرده. داكارهمدارنگې وو اوبه تحقيق سره احاطه كړې وه مونږه په هغې څيزونوباندې چې دده سره وو

خُبْرًا ۝ ثُمَّ اَتْبَعَ سَبَبًا ۝ حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ بَيْنَ السَّدَّيْنِ وَجَدَ مِنْ دُوْنِهِمَا

به اعتباردعلم سره. بيا روان شوپه بله لارترهغې پورې چې اورسيدلومينځ ددوو غرونوته اوموندلوئې شاته دهغونه

قَوْمًا ۙ لَّا يَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ قَوْلًا ۝

يو داسې قوم چې نوونزدې چې پوهه شوې وې په خبرودده باندې

﴿قَالَ اَمَّا مَنْ ظَلَمَ﴾ دا دذوالقرنين جواب دې پس دتخيير ميلاويدلونه چې كوم كس ددعوت توحيدنه پس هم په خپل كفراوشرك باندې قائم وي نوهغه ته به سزا وركړم، اواخرت كښې به ئے الله هم سخته سزا وركړې. مرادپه ظلم سره شرك دې ځكه چې دټولونه لوئ ظلم شرك دې، او

تعذبه نه مراد قتل كول دي دهغوئ اومضارع صيغه راوړل اوبيا په ابتداء كښي ﴿فَسَوْفَ﴾راوړل . اشاره ده ديته چې حضرت ذوالقرنين هغوئ ته سزا وركولو كښ جلتي نده كړي. بلكه بار بار ئې ورته دعوت وركړو﴿وَأَمَّا مَنْ ءَامَنَ ﴾يعنى چاچې خمادعوت قبول كړو اوايمان ئې راوړو اوتوحيد ئې اومنلو اودايمان دمقتضي مطابق نيك عمل ئې اوكړو. نوهغه ته به ډيرښه بدله وركړې شي﴿فَلَهُۥ جَزَآءً ٱلْحُسْنَىٰ ﴾، جزاء يامنصوب دې لكه چې داقراءت داكثرودې اويامرفوع دې كچرې منصوب شي نودي يامصدرپه موضع دحال كښ واقع شويدې.دالحسنې نه نوتقديردعبارت داسي دې فله الحسنى حال كونها جزاء اوياحال دې دضميرمجروره د(له، نه اوجزاء په معنې دمجزيا سره دې اى فله الحسنى حال كونه مجزيا، اويامفعول مطلق دې دفعل مقدرلپاره چې يجزى جزاء دې اويامنصوب دې بنابرتميزاوكچرې مرفوع شي نودې مبتداء دې او﴿ٱلْحُسْنَىٰ﴾ ورله خبردې اوبعض فرمائى چې داپه اضافت سره دې.يعنى جزاء مضاف اوالحسنې مضاف اليه اواضافت بياني دې اومراد په الحسنې سره دغوره قول مطابق جنت دې، ځكه چې ددنيوي انعامانوپه مقابله كښ ډيربهتردې (بحر) ﴿وَسَنَقُولُ لَهُۥ﴾يعنى دنياكښ به په ده باندې سخت احكامات نشي كيخودلې چې دده دطاقت نه باهروي، بلكه احكامات دشرعي تول اسان دې، (بحر) اوحمل د﴿يُسْرًا﴾ په امرباندې يامبالغة دې اوياپه حذف سره دې ا ذايسر﴿ثُمَّ أَتْبَعَ سَبَبًا ﴾ دابل سفردهغه ذكركيږي چې دې دمشرق په طرف روان شولو﴿حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ ﴾ مطلع په فتحه دلام اوپه كسرې دلام سره دواړه قراته راغليدي يامصدرميمي دې اوياظرف مكان دې، كه مصدرميمي شي نولفظ دمكان به بيادلته مقدروي، اودمطلع الشمس نه مراد عين مشرق ته رسيدل ندي ځكه چې هغې ته درسيدلوامكان نيشته دې، بلكه داسي ځائ ته رسيدل مراددې چې مطلع شمس ته نزدې علاقه وه اومشرق طرف ته ابادي ختموه﴿وَجَدَهَا تَطْلُعُ عَلَىٰ قَوْمٍ﴾ داقوم يووحشي قوم وو ،اواكثر مفسرينوراۍ داده چې دازنج يعنى دسوډانيانويونسل وو چې درنگ نه توروو غتې شونډئ بي وي.اوبعض فرمائى چې دهند دنسل نه وو چې دمكران اوسيدونكې وو﴿لَّمْ نَجْعَل لَّهُم ﴾ په ديكښ دهغوئ وحشيت طرف ته اشاره ده چې داقوم دتهذيب

نه هم ډيرلري وو اودوحشيانو اودځناوروپشان زندګي ئې تيروله.نه ورسره کپړې وې نه ئې کورونه وو بلکه په غارونو کښې به ئې ديخنئ اوګرمئ اودباران نه پناه اغستله﴿سِتۡرًا﴾وئيلې کيږي هرهغه څيزته چې هغه پټوونکې وي اوپه هغې سره سړې پټيږي. نودلته تنه مرادهرهغه څيزونه دي چې په هغې سره دګرمئ اويخنئ وغيره نه بچ کيږي. نوداشامل دې غرونه ته.ونوبوټوته. کپړوته اوکورونه ته،نوددې وجه نه مفسرين فرمائي چې دوئ په داسې علاقه کښې آبادوو چې هلته نه غرونه وو نه بوټي وو. اونه دوئ سره کپړې وې او نه ئې کورونه وو اوپه غارونو کښې به پراته وو اودوئ بالکل په خط استواء پراته وو اوددوئ زندګي دحيواناتو پشان وه کپړې به هم ورسره نوې﴿كَذَٰلِكَ﴾غوره قول دادې چې مشاراليه د ذلك هغه حکم دې چې کوم ئې په مغرب کښې کړې وو.يعنى ذوالقرنين په مشرق کښې اهل مشرق سره هم هغه سلوك اوکړو چې کوم سلوك ئې دمغرب والوسره کړې وو. اوبعض مفسرين فرمائي چې كذلك کښې «ك» لپاره دبيان کمال دې اوداجمله لپاره دتاکيداودتحقيق دې اومقصددادې چې دذوالقرنين واقعه هم دغه شان ده لکه څنګه چې مونږه بيان کړه.

﴿وَقَدۡ أَحَطۡنَا بِمَا﴾عام مفسرين فرمائي چې پديکښې دذوالقرنين وسعت حکومت اوکثرت دفوج اوجنګي آلاتوته اشاره ده. چې دهغه حکومت وسعت اوجنګي الات اوفوج دومره زيات وو چې دهغې علم فقط مونږته دې اوبل چاته دهغې څه اندازه نه لږې، ليکن حضرت الشيخ رحمه الله فرمائي چې پدې کښې دهغه دالوهيت نفى ته اشاره ده چې زمونږعلم دهغه په ټول سازوسامان، فوج لشکر. اوجنګي الاتوباندې حاوي دې، داټول څيزونه مونږهغه ته ورکړې وو اوزمونږ په حکم اوارادې سره هغه پدې څيزونو کښې متصرف وو اوخپل قدرت ورته نووحاصل

﴿ثُمَّ أَتۡبَعَ﴾ داذوالقرنين دريم سفراومهم ذکرکيږي اودادريم سفرکوم طرف ته وو؟ قرآن اوحديث کښې ددې تعين ندې کړې شوې خومفسرينودقرائنوپه بنياد داوئيلې دې چې داسفرجانب شمال ته ووځکه چې قديم ابادياني به شمال طرف ته وې اوخلك به زياده ترهلته پاتې کيدل اوداسفرئې دمطلع الشمس يعنى دمشرقي طرف نه شروع کړې وو﴿بَيۡنَ ٱلسَّدَّيۡنِ﴾بين په غالب احوالوکښې منصوب دې.خوچونکه دې دظروف متصرفه نه دې نوددې وجه نه کله پې رفع کله نصب اوکله پې جرراشي خودلته منصوب دې بناء برمفعوليت چې دې مفعول به واقع شويدې

دبلغ لپاره (كشاف)سدوئيلي كيږي هرهغه خيزته چې هغه حائل اوركاوټ وي دبل څيزلپاره .دلته تنه مراد غرونه دي او اطلاق پدي غرونوباندې دسدين مجاوره دي ګويا چې داد ياجوج اوماجوج دبندش لپاره يوقدرتي ديوالونه وو .او اكثراهل علم فرمائى چې سدپه فتحې سره اوسدپه ضمې سره ددواړومعني يوه ده.اوبعض فرمائى چې پدي كښې فرق دې سُدّ په ضمې سره وئيلي كيږي هغه حاجزته چې په سترګوكتلي كيږي. اوسدپه فتحي سره هغه ته وئيلي كيږي چې په سترګونه كتلي كيږي. قال ابن اسحق الاول ماراته عيناك والثانى مالاتريانه(روح المعانى) اوبعض فرمائى چې په فتحې سره وئيلي كيږي هغه حاجزته چې هغه صرف په خلق دالله ﷻ سره وي اودانسان سعي لره پكښې دخل نوي.اوپه ضمې سره وئيلي كيږي هغې ته چې دانساني سعي لره پكښې دخل وي

﴿وَجَدَ مِن دُونِهِمَا ﴾(دون) په معنې د وراء (شاته) سره دې، اواكثرفرمائى چې په معنې دامام (مخې ته)سره دي اودااحتمال راجح دې ځكه چې شاته ددرې نه ياجوج ماجوج وو بهرتقديرمقصد دايت دادې چې ددې درې اوغرونوسره قريب يوقوم وو چې هغوئ په خبروهم نه پوهيدلو . ځكه چې ژبه ئې بدله وه اوفطانت پكښې هم نووچې په قرائنوسره پوهه شوې وې،اولايكادون يفقهون، اكثرو مفسرينوراي داده چې پديكښې نفى دمطلق فهم دكلام ته اشاره ده چې داقوم دذوالقرنين اودهغه داتباعوپه خبروباندې بالكل نه پوهيدلو اوهغوئ به په اشاروپوهه كولو لكه څرنګه چې كونړ سرې وي، (كشاف) اوبعض مفسرين فرمائى چې پديكښې اشاره ده چې هغوئ به دذوالقرنين په خبرو باندې پوهيدل خوپه تكليف سره اودسوچ اوفكركولونه ورستوبه ددوئ په ذهن كښې به خبره راغله اوذوالقرنين به هغوئ پوهه كولوځكه چې نفى دكاد دلالت كوي په وجود دڅيزباندې په تعسرسره. ليكن داقول ضعيف دې ځكه چې نفى دكادكله كله دتاكيدنفى لپاره هم راځي چې مرادتنه عدم امكان دمدخول ثابتول وي،كماهوالظاهر. اودويم قرائت دمزيدونه دې چې ﴿يُفْقِهُونَ ﴾په ضمې دي)سره دباب افعال نه دې نومعنې ئې داده چې دوئ بل څوك نشوپوهه كولې په خپلو خبروباندې اوداقوم دترك نه وو،اودادوه قسمه وو يوهغه ووچې په بحرخذرباندې وو هغوئ ته كاسپين وئيلي كيدلو، اودويم كاليشاسره نزدې وو چې هغوئ ته كوليشې وئيلي كيدلو.

قَالُوا يٰذَا الْقَرْنَيْنِ اِنَّ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مُفْسِدُونَ فِي الْاَرْضِ فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ

اوئيل دوئ چې اې ذوالقرنين بيشكه ياجوج ماجوج وراني كوونكي دې په ملك كښې پس آياراجمع كړومونږ تالره

خَرْجًا عَلٰٓى اَنْ تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا ﴿٩٤﴾ قَالَ مَا مَكَّنِّيْ
خرڅه پدې چې جوړکړې ته په مينځ زمونږاوپه مينځ ددوئ کښې ديوال هغه اونيل چې هغه مال چې طاقت راکړيدې ماته
فِيْهِ رَبِّيْ خَيْرٌ فَاَعِيْنُوْنِيْ بِقُوَّةٍ اَجْعَلْ بَيْنَكُمْ
په هغې کښې دتصرف کولو رب څماډيرغوره دې. نو امداد اوکړئ تاسوځما په قوت(سړو) سره جوړبه کړم څه په مينځ دستاسو
وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا ﴿٩٥﴾ اٰتُوْنِيْ زُبَرَ الْحَدِيْدِ حَتّٰٓى اِذَا سَاوٰى بَيْنَ الصَّدَفَيْنِ
اوپه مينځ ددوئ کښې يوبند(ديوال). راوړئ ماته ټکړې داوسپنوتردې چې برابرئې کړلې په مينځ دسرونودغرونوکښې
قَالَ انْفُخُوْا ؕ حَتّٰٓى اِذَا جَعَلَهٗ نَارًا ۙ قَالَ اٰتُوْنِيْٓ
ده اونيل چې پښه ئې اوپوکئ تردې پورې چې اوګرځولونې داديوال(پشانته) داورنواونيل ئې چې (اوس) راوړئ ماته
اُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا ﴿٩٦﴾
چې واړوم پدې باندې تانبه ويلې کړې شوې

﴿قَالُوا﴾ داخبره ورته ودوئ پواسطې دترجمان سره کړې وه اونسبت ئې دوئ ته مجازا شويدې اوداهم ممکنه ده چې دوئ دذوالقرنين ته بالذات وئيلې وي بناء پدې چې ذوالقرنين ددوئ په خبروباندې پوهيدلواودوئ په خپلوخبروپوهه کولې شواودافهام اوتفهيم دې داخل وي دالله ﷻ ددې قول تحت چې واتيناه من كل شئ سببا، دې څکه چې افهام اوتفهيم هم هغه اشياؤنه دې چې ذوالقرنين ورته په فتوحات حاصلولوکښې محتاجه وواوبعض فرمائي چې داپه اشاروسره وو،اوتعبيرتنه په قول سره مجازا دې.

﴿إِنَّ يَأْجُوجَ ﴾ ددې قوم اوملك اوديا جوج ماجوج دملك په مينځ کښې دوه(۲) غټ غرونه وو، چې په هغې باندې راختل ياجوج ماجوج ته مشکل وو خوپه مينځ کښې يوه دره وه چې هغه خلاصه وه،نوهغوئ به راتلل پدې درې په لارې باندې، اوددې قوم فصلونه حيوانات وغيره به ئې هلاك کول اوچې کله به ئې فصلونه وغيره اونه موندل نوخلك به ئې قتل کولو،نوددې وجه نه دې قوم ذوالقرنين ته درخواست اوکړوچې ته زمونږ اوددوئ په مينځ کښې زمونږ دحفاظت لپاره

يومضبوط ديوال اوکړه. اوپدي چې کومه خرچه راځي هغه به زمونږه اداکړو اګرچه نه زمونږنه دټيکس په صورت کښ اخلي. ﴿يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ ﴾داپه وزن ديفعُول اومفعُول سره دي. بعض علماء فرمائي چې دااسمين عربي دي. ماخوذدي داجيج النارنه دکثرت تعداد دوجي نه داور شغلو سره اوداوربسرکوسره تشبيه ورکړې شويده.اوياماخوذدي دآج الظليم نه په معني دسرعت سره. اوبعض فرمائي چې دادواړه اسمين عجمي دي اوغيرمنصرف دي له وجي دعلميت اوتانيت نه اويادوجي ده علميت اودعجمه نه.ځکه چې دادواړه نومونه دي دقبيلو لپاره

ياجوج ماجوج دغوره قول اودجمهورو دقول مطابق قبيلې دي دبني ادم .اوداولاد ديافث بن نوح عليه السلام نه دي. حضرت قتادة رحمه الله فرمائي چې دوئ دوه ويشت(۲۲) قبائل وو. پدوئ کښ يوويشت(۲۱)قبائل ذوالقرنين دديوال دشاته بندکړل چې هغه وحشي قبائل وو اويوه قبيله ئې پريخودله چې هغې ته ترک وئيلې کيږي. بعض مفسرينو ددوئ په باره کښ اوددوئ داوصافو په باره کښ عجيب اوغريب اقوال نقل کړيدي. مثلا بعض وائي چې ددوئ قديوه وليشت دي بعض فرمائي چې يوګزددوئ قدونه دي.بعض فرمائي چې د دوئ قدونه (۱۲۰)ګزاوږده دي بعضو(۱۳۰)ګزاوږدوالى وئيلې دي اوهم دومره ئې پلنوالى هم ذکرکړيدي. اوداامام بغوي رحمه الله نه داهم منقول دي چې ددوئ غوږونه دومره غټ دي چې غوږاوغوړه وي اوپه هغې سملي اول غوږ دځان دپاسه واچئ اوواغوندي ئې اوداسي نوراقوال پکښ هم راغليدي.ليکن داټول اقوال اسرائيليات دي.صاحب دبحرفرمائي وقداختلف فى عددهم وصفاتهم ولم يصح فى ذلك شيئ(بحر) يعنى ددوئ په تعداد اوصفات کښ اختلاف کړې شويدي ليکن پدي سلسلې کښ صحيح روايت ندې راغلې په احاديثوکښ دياجوج ماجوج چې کوم ذکرشويدي هغه صرف ددوئ په کثرت باندې دلالت کوي اوددوئ خروج قرب قيامت علامت بيان کړې شويدي.امام بخاري دياجوج متعلق صرف دوه(۲)احاديث ذکرکړيدي چې په هغې کښ يوحديث دهغوئ په لوئ شرباندې دلالت کوي وعن زينب ابنة جحش رضي الله عنها ان النبى ﷺ دخل عليهافزعا يقول لااله الاالله ويل للعرب. من شرقداقترب فتح اليوم من ردم ياجوج وماجوج مثل هذه. وحلق باصبعيه الابهام والتى تليها. قالت زينب ابنة جحش رضي الله عنها فقلت يارسول الله ﷺ انهلك وفينا الصلحون. قال نعم اذاكثرالخبث(البخارى. كتاب احاديث الانبياء) ترجمه ام المؤمنين حضرت زينب بنت جحش رضي الله عنها نه روايت دې فرمائي چې بيشکه حضور ﷺ يوځلې ځماکورته راغې په حالت دګبهراهټ کښ چې دائې وئيل لااله الاالله هلاکت دې

دعربو دهغه شرنه چې نزدې راغلیدې. خلاص کړې شو نن ورځ ددیوال دیاجوج ماجوج نه دومره سورې. اوحضورﷺ ابهاما (ګچنئ) ګوته اوورسره نزدې ګوته میلاوکړه اوحلقه ئې تنه جوړه کړه. حضرت زینب بنت جحشؓ فرمائي چې ماعرض اوکړو چې یارسول اللهﷺ آیامونږ به هلاك کیږو حالانکه مونږه کښې په نیکان خلك هم موجودوي، حضورﷺ اوفرمائیلو هاؤ چې ګناهونه(زناګانې)زیاتې شي

اوسد سکندرې کښې سورې کیدل کنایه ده دکمزورې کیدلو دهغې دیوال نه. اوبعض فرمائي چې په حقیقت باندې محمول دې، اودورستوایت﴿وَمَا ٱسۡتَطَٰعُواْ لَهُۥ نَقۡبٗا﴾. سره دحدیث تعارض ځکه نیشته دې چې دهغې نه مراد په هغه وخت کښې نقب مراددې، اویادنقب نه مرادهغه سورې دې چې هغه دننه اوبهرپورې راپورې دواړو ته وي، اوپه حدیث کښې صرف یو طرف ته سورې کول مراددې. اویا(ردم) مذکورفی الحدیث کنایه ده دشیوعو اوظهوردفتنونه، اوداحدیث امام ترمذی اومسنداحمدوغیره کښې په مختلفوسندونوسره اوپه مختلف متنونوسره ذکرشویدې. بهرحال مقصد ددې حدیث دادې چې حضورﷺ دیاجوج ماجوج شره یولوئ شراوښودلو. اودویم روایت دحضرت ابوسعید خدریؓ نه منقول دې چې هغه داسې دې، عن ابی سعیدالخدریؓ عن النبیﷺ قال یقول الله تبارك وتعالی یاادم فیقول لبیك وسعدیك والخیرفی یدیك، فیقول اخرج بعث النارقال ومابعث النار؟ قال من کل الف تسعمائة وتسعة وتسعین فعنده یشیب الصغیروتضع کل ذات حمل حملها وتر الناس سکاری وماهم بسکاری ولکن عذاب الله شدید، قالوا یارسول الله واین ذلك الواحد؟ قال ابشروا فان منکم رجلا ومن یاجوج وماجوج الفا الخ (البخاری: کتاب احادیث الانبیاء).

ترجمه: حضرت ابوسعیدخدريؓ دحضورﷺ نه ارشاد نقل کړیدې چې حضورﷺ ارشاد اوفرمائیلو چې اللهﷻ به حضرت ادمؑ ته اواز اوکړي چې اې آدم! حضرت ادمؑ به جواب ورکړي چې حاضریم ټول خیرونه ستاپه قدرت کښې دې. نواللهﷻ به ورته اوفرمائي چې دخپل ذریت نه (جماعت داوراوباسه، نوآدمؑ به عرض اوکړي چې(یااللهﷻ ، څومره جماعت داور والادې. اللهﷻ به ورته اوفرمائي چې په هرزرو(۱۰۰۰)کښې نهه سوه نهه نوي کسان داوردې اویو کس دجنت دې.حضورﷺ اوفرمائیلو ، چې دابه هغه وخت وي چې یوماشوم چې به ددهشت اویرې نه بوډاشي، اوهرحمل والاځیزبه خپل حمل اوغورزوي. اووینه به ته(اې مخاطبه) خلکولره بې هوشه خولیکن هغوئ به څه نشي وجه نه بیهوشه نوي لیکن دالله ﷻ عذاب

ډیرسخت دي نوصحابه کرام عرض اوکړو چې یارسول اللهﷺ دایوبه څوك وي؟ حضورﷺ ورته اوفرمائیل چې تاسوزیرې قبول کړئ دستاسو نه به یوکس وي اودیاجوج ماجوج نه به زر(۱۰۰۰)کسان وي الخ نوپدي حدیث کښې دهغوئ دتعداد کثرت ته اشاره ده. اودټولونه جامع حدیث پدي سلسلي کښې دحضرت ابونواس بن سمعانؓ نه مروي دې چې امام مسلم نقل کړیدې په خپل صحیح کښې. چې په هغې کښې ددجال تذکره ده. اوپه هغې حدیث کښې دې. چې حضرت عیسیؑ به دجال په باب لد سره قتل کړي. بیابه اللهﷻ حضرت عیسیؑ ته وحې رااولیږي چې څه اوس خپل هغه مخلوقات بهرته رااوباسم چې دهغوسره دجنگ طاقت څوك هم نه لري،ته څمابندګان کوه طورته دځان سره دحفاظت په غرض بوځه.حضرت عیسیؑ به تعمیل حکم اوکړي اویاجوج ماجوج به دهراوچتې غونډئ نه به راکوزیږي اوخوریږي به. اودهغوئ اول جماعت چې کله په بحیره طبریه(بحرمردار)باندې راشي نوټولي اوبه به اوڅکي نوچې کله ددوئ دویم جماعت بحیره طبریه ته راشي(نوهغوئ به صرف هلته کښې لوندوالی اوګوري اواوبه به نوي) نوهغوئ به وائي چې دلته هم په یوزمانه کښې اوبه موجودي وي الخ اوپه څنې روایاتوکښې راغلیدې چې هغوئ به یوي غونډئ ته اوخیژي اواسمان ته به غشي ولي اللهﷻ به ورته په خپل قدرت سره دغشي سرونه سره رنګ کښې به واپس کوي نودوئ به وائي چې مونږدزمکي والامخلوق ختم کړو اوس داسمان والاهم ختموو اومستدرك حاکم کښې دحضرت عبدالله بن عمرؓ نه روایت دې چې حضورﷺ ارشاد اوفرمائیلوچې اللهﷻ ټول انسانان لس(۱۰)حصي کړیدي، پدوئ کښې نهه حصي یاجوج ماجوج د ي اویوه حصه انسانان دي(روح بحواله مستدرك) نوددي روایاتونه معلومه شوه(۱)چې یاجوج ماجوج دنوع بنی ادم نه دي،(۲)اودغه شان دادتنه هم معلومه شوه چې دهغوئ تعداد دعاموانسانانو په نسبت ډیرزیات دي(۳)اودغه شان دهغوئ شراوفتنه به هم دعظیموفتنونه، به وي(۴)اودهغوئ خروج دعلامات کبري دقیامت نه ده(۵) اودهغوئ خروج به پس دنزول دعیسیؑ اومهدي اوظهورددجال نه به وي. نولهذا قول دهغوخلکوباطل دې چې هغوئ وائي چې یاجوج ماجوج دمخلوقاتوکښې دبني ادم نوعي نه علاوه یوه بله نوعه ده، اویاداچې دحضرت ادمؑ نه احتلام په صورت کښې نطفه دخاورو سره خلط شوي وه دهغې نه داپیداکړې شویدي، لکه چې دا قول منسوب دې کعب احبارته. اودغه شان قول دهغو خلکو هم باطل دې چې وائي چې یاجوج ماجوج تاتاریان دي یادچین اویادروس خلك یاجوج وماجوج دي،نوکچرته مقصد ددې قول داوي چې فتنه تاتاریه

مشابه وه دفتنو دياجوج ماجوج سره اوپدي اعتبارپه هغوئ باندې اطلاق مجازي دياجوج ماجوج خوصحيح كيږي، خوكچرته مقصد ددغې خلكوپدوباندې اطلاق حقيقة وي نودانصوصو نه مخالفه ده اودغه شان دروس اوچين خلكوته پدي اعتبارسره ياجوج ماجوج وئيل چې دوئ به دهغوملګرتياكوي نودصحت امكان شته دې خوحقيقة پدوئ باندې دياجوج ماجوج اطلاق كول غيرصحيح دې علامه آلوسي رحمه الله په روح المعاني كښ فرمائي ولعمري ان ذلك الزعم من الضلالة بمكان، وان كان بين ياجوج وماجوج واولئك الكفرة مشابهة تامة لاتخفى على الواقفين(روح) (والتفصيل في القرطبي، وروح المعاني، وفي البداية والنهاية لابن كثير).

﴿مُفْسِدُونَ﴾مراد دَفساد دخلكو خوراك اودهغوئ قتل اودهغوئ فصلونوته نقصان رسول دي،(كشاف) ﴿فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا ﴾(خَرج اوخَراج) دواړه په يوي معنې سره دي،لكه نول اونوال، اوبعض فرمائي چې خرج مصدردې اوخراج اسم دې دهغه لپاره چې كوم دزمكې نه رااوځي، اوفاء لپاره دتفريع ده اوداتفريع ده په صورت دعرض اودرخواست كښ دهغوئ په فسادباندې چې مونږ به تاله څه چنده جمع كړو اوته زمونږ اودياجوج اوماجوج په مينځ كښ ديوال اوكړه.

﴿سَدًّا﴾مرادتنه حاجزاوركاوټ دې، (روح) ﴿قَالَ مَا مَكَّنِّي ﴾داد ذوالقرنين جواب دې چې ماته ددولت اواجرت ضرورت نيشته دې كوم دولت چې الله ﷻ ماته راكړيدې هغه څما لپاره پوره دې تاسوځماصرف افرادي قوت سره امداد اوكړئ څه په خپل خرچ سره يومضبوط ديوال جوړوم ﴿فَأَعِينُونِي بِقُوَّةٍ ﴾پديكښ هم دذوالقرنين نفي دالوهيت ته اشاره ده چې ديوال جوړولوكښ محتاجه وو﴿رَدْمًا﴾ ، ردم وئيلې كيږي مضبوط ديوال ته اودادسد نه غټ وي، حاجزا حصينا موثقا والردم اكبر من السد(مدارك) اوپديكښ اشاره ده چې ديانت داراوصالح بادشاه درعيت مال بلاضرورت نه اخلي

فائده: ددي ايت نه معلوميږي چې درعيت دتحفظ لپاره اجرت اومحصول اغستل جائزدي اودغه شان ددې ايت نه داهم معلومه شوه چې اجرت لكه څرنګه چې مال سره صحيح كيږي نودغه شان په محنت اومزدوري سره هم صحيح كيږي چې ديته اجرت بدنيه وئيلې كيږي، اودغه شان مفسرين فرمائي چې پدي ايت كښ دليل دې په جيلونوجوړلواودفساد

کوونکو په جیل کولوباندې.اودغه شان حکمران ته تعلیم دې چې دخپل رعیت خیال ساتي اودهغوئ دجان اومال تحفظ دې کوي.

﴿ءَاتُونِي زُبَرَ ٱلْحَدِيدِ ﴾ (زُبَر) جمع ده دزبرة.وئیلې کیږي ټکړوته مرادتنه داوسپنې ټکړې دي یعنی داوسپنوخښتې،بعض مفسرین فرمائی چې ذوالقرنین بنیادونه دومره اوکنستل چې لاندې اوبه څرګندې شوې اوبیائې هغه بنیادونه دغټوغټوکانړونه اودتانبې نه ډک کړل اوپاڅه ئې پرې داوسپنې دیوال اوکړو چې په مینځ کښې لرګي اوکوئله ئې کیخودله.چې کله دیوال دغرونو سرونوسره برابرشو نوبیائې اور ورله ورکړو حتی چې لرګي اوکوئله اوسوزیدله اودیوال داورپشان سورشونوبیائې حکم اوکړو چې اوس ماته ویلې کړې شوې تانبه راوړئ نوخلکو ورله راوړه هغه ئې په دیوال باندې چې توئې کړه نولرګي اوکوئله خوسوزې لیدلې وه اوتانبې دهغې ځائ اونیولو لکه چې سیمټ چې په دیوال کښې اولګې.

﴿حَتَّىٰٓ إِذَا سَاوَىٰ ﴾داغایه دمحذوف لپاره ده ا فاتوه ایاها فاخذیني شیئا فشیئا حتی الخ یعنی خلکوورله ټول سامان اوسپنې وغیره راجمع کړل نوده به یوه یوه ښخته لګوله حتی که چې دغرونوسرونوسره ئې برابرکړو،﴿بَيْنَ ٱلصَّدَفَيْنِ ﴾صدف دتصادف نه دې مخامخ ته وئیلې کیږي، یعنی داوسپنوبلاکونوسره ئې یوبل ته مخامخ دیوالونه ئې ډک کړل اوسرونه ئې یوبل سره برابرکړل.﴿قَالَ ٱنفُخُواْ ﴾په مینځ کښې چې کوم لرګي اوکوئله ئې ورکړې وه نوهغې ته ئې اورورکړو اوبیائې عمّالو یعنی مزدورانوته اوئیل چې دااور ښه بل کړئ یعنی ښه پوکې ورله ورکړئ چې ښه بل شي.﴿حَتَّىٰٓ إِذَا جَعَلَهُۥ نَارًا ﴾داغایه هم لپاره دمحذوف ده اوپه کلام کښې تقدیردې، ای فنفخوا حتی اذا جعله نارا(بحر) او﴿جَعَلَهُۥ نَارًا ﴾دقبیلې دتشبیه بلیغ نه دې، ای اذاجعله کالنار، اووجه دشبې حرارت اوهیئت دې، اوضمیرمرفوع دجعل راجع دې ذوالقرنین ته.اواوراګرچې هغه نووبل کړې بلکه عمالوبل کړې وو، لیکن نسبت هغه اصالة دې څکه چې هغه آمریعنی امرکوونکې وو.﴿أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا ﴾ دقطرنه مراد ویلې کړې شوې تانبه ده او﴿قِطْرًا ﴾دباب دتنازع الفعلین، نه دې چې پده کښې ﴿أُفْرِغْ﴾او﴿ءَاتُونِي﴾،تنازع کړیده اوعمل ورکړې شویدې فعل ثانی یعنی افرغ ته چې افرغه ندې وئیلې شوې اودامذهب دبصرینو دې

اواستدلال ئې پدې ايت اودغه شان نوروايتونوسره کړيدې په اعمال کښې فعل ثاني ته په وخت دتنازع کښې.

فائده: داسدسکندری کوم ځائې کښې واقع دې؟؟ نوپدې سلسلې کښې ډيراقوال راغليدی(۱)دجمهورومسلک دادې چې داغيرمعلوم دې اګرچه موجود دې په خارج کښې اوعدم مشاهده مستلزم نده عدم دوجود لره، اوپه تعيين باندې څه نص اودليل يقيني نشته دې. اوځنې موجودات خارجيه داسي دي چې انسان ته دهغې په وجودباندې اطلاع نوي ورکړې شوې. لکه چې وئيلې کيږي چې په جنوب امريکه کښې يوه حصه دزمکې داسي ده چې په هغې باندې مارغه هم دتيريدلو طاقت نه لري، اودغه شان مروي دې چې دکوه قاف نه شاته څه داسي مخلوقات اوسيږي چې علم ئې بغيرداللهﷻ نه چاته هم نيشته معجمه البلدان، اودغه شان امريکه هم ورستو دريافت شويده، نودغه شان اللهﷻ ياجوج ماجوج هم دانسان نه پټ کړيدې اوددوئ دمکان په باره کښې عاموانسانانوته علم ندې ورکړې. اوبعض مفسرينوداثارو اوقرائنو په بنياددتعيين کوشش کړيدې، مشهورمورخ ابن خلدون رحمه الله ديته ترجيح ورکړيده چې داسدسکندري دکوه قاف سره واقع دې چې دهلته ددوه قبائل اباددي چې هغوته قنجاق اوچرکس وئيلې کيږي اوددې قبائلو دشاته ياجوج ماجوج دي اوددواړو په مينځ کښې داسدسکندرې واقع دې، اوواثق بالله چې عباسي خليفه وو هغه خوب اوکتلوچې داسدکولاؤ شويدې نوډيرګبراؤشو اويوترجمان ئې دتفتيش لپاره اوليږلونوهغه واپس راغې نوددې سدحالات اواوصاف ئې بيان کړل بعض مفسرينوديته ترجيح ورکړيده چې داسددبخارا نه (۱۵۰)ميل لري جنوب مشرق کښې دربند. نوم علاقې کښې واقع دې چې دهغې عرض البلد شمالا(۳۸)درجې باندې دې اوطول البلد شرقا(۲۷)درجې باندې دې.بعضوديوال چين ته سدسکندري وئيلې دې.ددې نه علاوه نوراقوال هم پکښې راغليدی. ليکن غوره خبره هغه ده چې حضرت شاه انورشاه کشميري رحمه الله فرمائيلې ده چې دهغې خلاصه داده چې په مختلف زمانوکښې دمختلفومفسدينواودشرپسندونه دحفاظت لپاره ديوالونه جوړکړې شويدې لکه (۱)ديوال چين چې په چين کښې واقع دې، (۱۵۰۰)ميله اوږد دې.(۲)دويم بخارا اوترمذ په مينځ کښې واقع دې په دربند کښې(۳)دريم په روس کښې په داغستان کښې واقع دې چې دهغې نوم هم دربند دې. اودا په باب الابواب سره مشهوردې

(۴)خلورم په روس کښ په کاکیشاکښ واقع دې چې داپه ققفازیاکوه قاف په سدسره مشهوردې. پدې ټولوکښ حضرت شاه صاحبﷺ دې اخري ته یعنی کوه قاف والاسدته ترجیح ورکړیده. اوبعض مفسرینوکاکیشادربندکښ واقع سدته ترجیح ورکړیده(والله اعلم بالصواب)

فَمَا اسْطَاعُوٓا اَنْ يَّظْهَرُوْهُ وَمَا اسْتَطَاعُوْا لَهٗ نَقْبًا ۝ قَالَ

پس دوئ طاقت نه لرې چې رااوخیژي پدې دیوال اونه طاقت لرې دهغې دسورې کولو اوئیل هغه

هٰذَا رَحْمَةٌ مِّنْ رَّبِّيْ ۚ فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ رَبِّيْ جَعَلَهٗ دَكَّآءَ ۚ وَكَانَ

داخاص رحمت دې دطرفه درب خمانه پس هرکله چې راشي وعده درب خمااوبه گرخوي دادیوال ریزه ریزه اوده

وَعْدُ رَبِّيْ حَقًّا ۝ وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَّمُوْجُ فِيْ بَعْضٍ

وعده درب خما یقیني(صحیح).اوپرېږ به ړدو بعضي ددوئ په دغه ورځ چې ننوځي به په بعضونوروکښ

وَّنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَجَمَعْنٰهُمْ جَمْعًا ۝ وَّعَرَضْنَا جَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لِّلْكٰفِرِيْنَ

اوپوکې به اوکړې شي په شپیلۍ کښ اوراجمع به کړومونږ دوئ په جمع کولوسره،اوراښکاره به کړومونږه جهنم پدغه ورځ کافرانوته

عَرْضَا ۝ الَّذِيْنَ كَانَتْ اَعْيُنُهُمْ فِيْ غِطَآءٍ عَنْ ذِكْرِيْ وَكَانُوْا لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَمْعًا ۝

ښه ښکاره.داهغه کسان دي چې وې سترگي ددوئ په پردوکښ دذکرخمانه اووو دوئ چې طاقت ئې نه لرلودحق داوریدلو

﴿فَمَا اسْطَاعُوْا﴾اسطاعوا په اصل کښ "استطاعوا" وو،تاء تخفیفا حذف کړې شویده اوڈ

﴿اَنْ يَّظْهَرُوْهُ﴾نه مراد پدې دیوال باندې راختل دې چې دادیوال خویه اوډیراوچت دې ددې وجه نه هغوئ په دې دیوال باندې نشي راختلې، بعض مفسرین فرمائی چې ددې دیوال اوچتوالی(۲۰۰)دوه سوه گزه دې اوخوك وائي چې(۱۸۰)گزدې او﴿نَقْبًا﴾نه مراد دادې چې پدې دیوال کښ هغوئ سورې(سوراخ)نشي کولې ځکه چې ډیرمضبوط دې﴿قَالَ هٰذَا رَحْمَةٌ﴾ددې عظیم الشان دیوال جوړولونه ورستوذوالقرنین داقول اوکړو چې دادیوال اوماته پدې باندې

تمکین اوقدرت راکول خالص دالله ﷻ رحمت اوفضل دی. په﴿هَـٰذَا﴾سره اشاره ده هغې سدته،اویاتمکین اوقدرت ته پدې دیوال باندې؛ د﴿فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ رَبِّى﴾ مرادتنه قرب قیامت دې چې هغه وقت خروج دیاجوج ماجوج دې.

فائده: سدسکندرې په قیام کښې اختلاف دې چې داتراوسه پورې قائم دې اوکنه دې؟ نوپدې سلسلې کښې څه نص قطعې نیشته دې اګرچې پدې باندې نصوص قطعیه قائم دې چې خروج دیاجوج ماجوج به قریب دقیامت سره وي اوپس دخروج دجال اونزول عیسی ﷺ نه وي خولیکن په سدسکندرې ترننه ورځې پورې په قیام باندې څه دلیل قطعي نیشته دې. بعض مفسرینو﴿فَإِذَا جَآءَ وَعْدُ رَبِّى﴾ سره استدلال کړیدې خودا ایت هم محتمل دې. قطعي ندې. ځکه چې د﴿وَعْدُ رَبِّى﴾ نه مراد خروج دیاجوج ماجوج هم مرادکیدې شي اوقیامت هم مرادکیدې شي لکه چې داتیرشویدې. اوهغه حدیث چې کوم امام ترمذی رحمه الله وغیره نقل کړیدې چې یاجوج ماجوج روزانه دادیوال سورې کوي(کنې)حتی که چې دوئ دنمرشعاګانې اووینې نودوئ اووائې چې نن واپس شئ اودانوربه صباکولاؤکو، نودوئ چې بیاصباراشي نوهغه دیوال نورهم زیات سخت کړې شوې وي حتی که چې دوئ تریومدې پورې داسې کوي نوکله چې الله ﷻ ددوئ دخروج اراده اوکړې نودوئ کښې هغه یوکس اووائې چې ځئ اوس لاړشئ اونوربه انشآء الله صبااوکنو، نوددې انشاء الله وئیلوپه برکت سره چې دوئ سحرراځي نوهغه دیوال هغه شانتې وي چې دوئ څرنګه پریخودلې وو نودوئ به هغه پاتې دیوال هم اونړه وي اوبهرته رااوځي الخ.دې حدیث ته حافظ ابن کثیرمعلول وئیلې دې فرمائي چې(اسناده جیدقوی ولکن متنه فی رفعه نکارة)اووجه دنکارت ئې داذکرکړیده چې دظاهرروایت سره ئې تعارض دې اوفرمائي چې ممکنه ده چې داقول دې دکعب احباروي اوهغه ځنې اسرائیلې روایات نقل کوي. لیکن حافظ ابن حجر رحمه الله په اسنادصحیحه سره چې په هغې کښې دځنې سندرجال دبخاري دې اومرفوع الی النبی ﷺ ئې نقل کړیدې. نوراجحه خبره داده چې دامذکوره حدیث صحیح دې اودایت سره تعارض نیشته دې لکه لږمخکښې داخبره مونږه دبل حدیث په ضمن کښې ثابته کړیده.خوپدې حدیث کښې داتصریح نیشته دې چې دادیوال سورې کول به اودوئ خروج به متصل وي اودغه شان په حدیث کښې داتصریح هم نیشته چې دیاجوج ماجوج ټول قبائل ددې دیوال داشاته دې

سمکنه ده چې يوه قبيله دې دهغوئ نه ديوال دشانه وي اوديوال دې سوري کړې شوې وي اونورقبائل دې په نورو لاروباندې راشي
خلاصه داده چې سدسکندرې ترقرب قيامت پورې قائم کيدلوباندې نص قطعي نيشته دې.
اګرچې احتمالات راجحه دادې چې ددې انهدام به قريب القيمة وي چې کوم وخت کښې هغوئ رااوخي په هغه وخت کښې به وي(والله اعلم بالصواب).

﴿وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ﴾غوره خبره داده چې ضميرراجع دې خلائقوته او﴿يَوْمَئِذٍ﴾ نه مراد ورځ دقيامت ده اوداتخويف اخروي دې دهغه خلکولپاره چې دتوحيدنه ئې ځان لونړکړيې دې.
اوبعض مفسرين فرمائي ضميرراجع دې ياجوج ماجوج ته او﴿يَوْمَئِذٍ﴾ نه مراد دهغوئ دخروج والا ورځ ده.﴿يَمُوجُ فِي بَعْضٍ﴾موج وئيلې کيږي چپووهلو ته مرادتنه دلته اضطراب اوپريشاني ده مجازا يعنى چې کله دالله ﷻ وعده دقيامت راشي نوداخلك به ډيرمضطرب اوپريشانه وي.
اوډيرې پريشانئ دوجې نه به يوبل کښې ننوځي﴿وَنُفِخَ فِي الصُّورِ﴾ مرادتنه نفخه ثانيه ده ځکه چې دمابعدجملي﴿وَعَرَضْنَا﴾سره ډيرمناسب دې.﴿وَعَرَضْنَا جَهَنَّمَ﴾مراد عرض نه ابتداء جهنم ښکاره کول دې کافرانوته اوداښکاره کول لپاره دسختئ اوددوئ دپريشانئ لپاره به وي وفى الحديث يؤتى بجهنم لهاسبعون الف زمام مع كل زمام سبعون الف ملك يجرونها(مسلم).

﴿الَّذِينَ كَانَتْ﴾اسم موصول داصفت ذامه دکافرانودې اوسبب دعذاب دهغوئ دې اوداکنايه ده دشدت انصراف اواعراض دهغوئ نه دقبول حق نه(کبير) تعبيرددينه په ماضي استمراري سره اوشواشاره ده ديته چې ددوئ اعراض على سبيل الاستمراروو،اومراد په ﴿ذِكْرِي﴾سره توحيددې اوداهم ممکنه ده چې قرآن ترينه مرادشي﴿وَكَانُوا لَا يَسْتَطِيعُونَ سَمْعًا﴾دلته داسي اونه وئيلې شو چې (کانوا اصما)، حالانکه دازيات مختصردې. لپاره ددې چې مبالغه راشي په انتفاء دسمع يعنى اوريدلوکښې دهغوئ نه. ځکه چې کونړسړې کله کله واوري اوداوريدلوطاقت پکښې وي چې کله ورته په چيغه سره اوازاوکړې شي، اوددوئ داسي دې چې بالکل طاقت هم داوريدلونه لري(کشاف).

اَفَحَسِبَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنْ يَّتَّخِذُوْا عِبَادِيْ مِنْ دُوْنِيْٓ اَوْلِيَآءَ ۭ اِنَّآ اَعْتَدْنَا

[1]آياګمان کوي هغه کسان چې کفرئې کړيدې چې اونيسي دوئ بندګان ځماسيواځمانه مددګاران. بيشکه تيارکړيدې مونږه

جَهَنَّمَ لِلْكٰفِرِيْنَ نُزُلًا ۝ قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْاَخْسَرِيْنَ اَعْمَالًا ۝ اَلَّذِيْنَ

جهنم کافرانولره ميلمستيا. اوايه ته آياخبردرکړم تاسوته په باره دډيرتاوان موندونکو په اعمالوکښ. داهغه کسان دي

ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ يُحْسِنُوْنَ صُنْعًا ۝

چې ضائع دي.عبث دي عملونه دَدوئ په ژونددنياکښ اودوئ ګمان کوي چې بيشکه دوئ خائسته عمل کوي دي.

اُولٰۗىِٕكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ وَلِقَاۗىِٕهٖ فَحَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فَلَا نُقِيْمُ

داهغه کسان دي چې کفرئې کړيدې په ايتونودرب خپل باندې اوپه ملاقات دده سره پس برباددي عملونه ددوئ نو اوبه نه دروو مونږه

لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَزْنًا ۝ ذٰلِكَ جَزَاۗؤُهُمْ جَهَنَّمُ بِمَا كَفَرُوْا

لپاره د دوئ دقيامت په ورځ تول(دعمل). داچې ذکرشو) بدله ددوئ جهنم دې په سبب ددي چې دوئ کفرکړيدي

وَاتَّخَذُوْٓا اٰيٰتِيْ وَرُسُلِيْ هُزُوًا ۝

اونيولي ئې وو اياتونه ځمااورسولان ځماپه توقوسره.

﴿أَفَحَسِبَ ٱلَّذِينَ ﴾دسورت خاتمه ده پدي کښ تخويف اخروي دې، اوداَاولې شبهې په جواب باندې بالذات اوددويمې شبهې په جواب باندې بالتبع تفريع ده، چې کله دالله ﷻ نيک بندګان اصحاب کهف وغيره متصرف اوکارسازندي نوشيطانان چې کفارئې عبادت،کوي په طريق اولې سره کارسازندي،اواستفهام لپاره دتوبيخ دې (ابوالسعود)او﴿ٱلَّذِينَ﴾موصول قائمقام دې دمفعولينود﴿أَفَحَسِبَ﴾نواصل عبارت داسې دې اى افحسبو هم انهم يتخذونهم اولياء من

[1] تخويف اخروى متفرع برجواب اولى بالذات وبرثانيه بالتبع

دوني(ابو سعود)او بعض فرمائی چې موصول مفعول اول دې او مفعول ثانی محذوف دې چې هغه نافعًا دې ای افحسبوا اتخاذهم نافعالهم(ابو السعود)، او جواب داستفهام محذوف دې چې كلاً بل هم اعدآء هم يتبرؤون منهما(زاد المسير) نو مقصد دايت داشو چې كافران دې داگمان نه كوي چې مونږ به دالله جَلَّجَلَالُهُ نه علاوه دهغه دمخلوقاتو عبادت كوو او هغوئ به مونږته نفع راكړې داگمان دهرگزنه كوي بلكه دغه معبودان به ددوئ دشمنان اوگرځي اوددوئ نه به دبراءت اعلان كوي. ﴿عِبَادِي مِن دُونِيٓ﴾ مراد په عبادسره بقول حضرت ابن عباس رضي الله عنه شياطين دي، او اكثر مفسرين فرمائی چې مرادتنه عام معبودان دي كه شياطين وي يابتان اويا ملائكه اويا انبياء او اولياء وي. ﴿إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا جَهَنَّمَ﴾ داتخويف دي وضع داسم ظاهرپه ځائ دضمير اوشوله لپاره داشاري دې خبري ته چې دااعتداد جهنم په سبب دكفرددوئ سره دې، او ﴿نُزُلٗا﴾ وئيلي كيږي ميلمستياته. او بعض فرمائی چې هرهغه څيزته وئيلي كيږي چې هغه دميلمه لپاره تيارشوې وي هغه كه مكان وي ياخوراك وي، والنزل موضع النزول والنزل ايضا مايقدم للضيف ويهياء له وللقادم من الطعام(بحر) اودلته دواړه معنې صحيح كيديې شي او بعض فرمائی چې ﴿نُزُلٗا﴾ جمع دنازل ده او منصوب دې بناء برحاليت ليكن اول احتمال زيات راجح دې، او جهنم اودهغې سزاگانوته نزل وئيل تهكمادې. ﴿قُلۡ هَلۡ﴾ داخطاب دې كفاروته په واسطه دحضور صلى الله عليه وسلم او علامه آلوسي رحمه الله فرمائی چې كله استفهام حمل كړې شي په استيذان باندې نوپه هغې كښ اشاره وي تهكم ته، او ﴿أَعۡمَٰلًا﴾ منصوب دې بنابرتميز او قانون په تميز كښ دادې چې كله دې جنس وي نو مفرد به وي وجوبا لكه چې دكافيې عبارت دې فيفرد ان كان جنسا، نو عمل خو مصدر جنس دې نو قانون مطابق مفرد راوړل پكاروو. خودلته جمع څكه راوړې شوه چې دعمل لپاره انواع مختلفه دي او كله چې دتميزنه انواع قصد كړې شي نو بيا جمع كيدلې شي اودلته هم انواع تنه قصد كړې شويدې چې هغه متعدددې اهل كتاب يهود .نصارې وغيره دي

﴿ٱلَّذِينَ ضَلَّ﴾ ادهغوئ دبد انجام بيان دې. چې دامشركين او مبتدعين دخپلو عملونو په باره كښ داخيال كوي چې مونږښه عملونه كوو حالانكه ددوئ داعملونه عبث اوضائع دي او

﴿ٱلَّذِينَ﴾ دا جمله يا محلا مجروره ده بناء بر بدليت چې دا بدل دې د ﴿بِٱلۡأَخۡسَرِينَ﴾ نه اويا منصوب ده په فعل مقدر سره چې اخص دې اويا مرفوع ده اوخبر واقع شويده د مبتداء محذوفي لپاره چې هم دې او ﴿ضَلَّ﴾ په معنې د بطل سره دې او ﴿فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا﴾ متعلق دې په سعې پورې اوندې متعلق په ضلّ پورې، ځکه چې بطلان د سعې دهغوئ دا مختصه نده په ژوند د دنيا پورې فقط بلکه دنيا او اخرت دواړو کښې د دوئ سعې عبثه ده، او ددې په مصداق کښې اختلاف دې چې ددينه څوک مراددې، (۱) د حضرت سعد بن ابی وقاص ﷺ نه مروي دې چې ددينه مراد يهود اونصارا دې لکه چې په روايت د بخاری (ج۲ ص۶۹) کښې راغليدې، ځکه چې دوئ به خپل ځانونه په حق باندې کڼل او دخپل دين موافق به ئې عمل کولو حالانکه د دوئ اديان منسوخ وو، (۲) د حضرت علي ﷺ نه يو روايت دا ددې چې ددينه رهبان اواصحاب الصوامع (تارك الدنيا خانقاه نشين راهب) مراددې، (۳) اوروايت تنه دادې چې ددينه خوارج مراددې اونور اقوال هم پکښې راغليدې. ليکن حقه خبره داده چې دا ټول اقوال محمول دې په تمثيل باندې نه په حصر باندې، او مراد دينه هرهغه څوك دې چې عمل کوي د اسلام اودسنت نه مخالفي طريقي سره .اويا رياکاروي، يابدعتې وي (بحر).

﴿وَهُمۡ يَحۡسَبُونَ﴾ دا جمله حال ده د فاعل د ﴿ضَلَّ﴾ نه، او ﴿يَحۡسَبُونَ﴾ دا حسن نه دې ونيلې کيږي، عبادت او عمل کول په هغې طريقي سره چې هغه لائقه وي، اودا په حقيقت کښې حسن وصفي دې خو مستلزم دې حسن ذاتې لره، يعنى د ﴿يُحۡسِنُونَ صُنۡعًا﴾، نه مراد صرف صحيح طريقه نده بلکه ددينه مراد صحت د نفس اعمالو دې، يعنى د دوئ عقيده داده چې مونږ کوم عملونه کوو دا بالکل صحيح عمل دې، ﴿أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ﴾ دا دويم ځلې مکرر ذکر شو لپاره د تاکيد اولپاره د اشاري ديته چې دوئ د شقاوت اود بدبختئ انتهاء ته رسيدليدي، اومراد په ، ﴿وَلِقَآئِهِۦ﴾ سره بعث بعد الموت دې.

﴿فَلَا نُقِيمُ لَهُمۡ﴾ ضمير راجع دې موصوفينو ته په صفات مذکوره سره، چې کوم خلك د توحيد اوقيامت نه منکر دې نو د دوئ لپاره به وزن هم نشي اودره ولې. اومراد پدې سره د دوئ بې قدري اوبې عزتي اظهار دې چې قيامت په ورځ به د دوئ هيڅ قدر اوعزت نوي لکه چې په حديث

دبخاري ج ۲ كښ دي عن ابى هريرةؓ عن رسول اللهﷺ قال انه ليأتي الرجل العظيم السمين يوم القيمة لايزن عندالله جناح بعوضة،وقال اقرؤا ان شئتم فلانقيم لهم يوم القيمة وزنا ترجمه حضرت ابوهريرةؓ نه روايت دي چې دحضورﷺ نه ئې نقل كړيدي چې حضورﷺ ارشاد اوفرمائيلو چې رابه وستلې شي دقيامت په ورځ يوغټ سورب سړي. اودالله جل جلاله په نيزدهغه قدردماشي دوزن برابربه هم نوي. اواوئي فرمائيل كچرته غواړئ تاسو دليل نودا ايت تلاوت كړئ. فلانقيم لهم الخ اوبعض مفسرينو دايت دظاهرنه استدلال كړيدي چې اعمال دكفارو به وزن نشي كيدلي ليكن دجمهورو رائ داده چې وزن داعمالوبه دهرچا كيږي،مسلمان وي كه كافروي. په دليل ددې قول دالله جل جلاله والوزن يومئذ الحق فمن ثقلت موازينه فاولئك هم المفلحون، ومن خفت موازينه الخ نودا ايت عام دې مسلمان اوكافردواړو وزن داعمالوته شامل دې. اودغه شان الله جل جلاله فرمائى ونضع الموازين القسط ليوم القيمة لخ اودغه شان بل ځائ كښ الله جل جلاله فرمائى ومن خفت موازينه فاولئك الذين خسروا انفسهم فى جهنم خلدون(سورة المؤمنون:۱۰۳) اودغه شان بل ځائ كښ الله جل جلاله فرمائى وامامن خفت موازينه فامه هاوية(القارعة) نودا ايتونو صريح دې چې وزن به داعمالو دكفاروهم كيږي اودايت نه جواب دادې چې(۱)داكنايه ده دبې قدرئ نه(۲)اويامراد دنفى دوزن نه وزن نافع دې،۱ فلانقيم لهم يوم القيمة وزنانافعا، (۳)اويامراد په نفى سره مطلقانده، بلكه نفى دمثل ده يعنى نفى دهغه وزن ده چې هغه پشان داعمال صالحووي، يعنى هغه وزن به ددوئ داعمالولپاره به نشي قائم كولې چې هغه دنيك اعمالولپاره وي، اوممكن دې تطبيق پدې طريقي سره چې ځني كسان دكافروبهٔ بغيردوزن نه اوحساب نه به جهنم ته داخله ولې شي، لكه څرنګه ځني كسان دمؤمنانو بغيرد حساب نه جنت ته به داخليږي(والله اعلم)

اووزن به څه شي والاكيږي؟؟ نوپدې كښ درې اقوال داهل سنت والجماعت نه راغليدي يوداچې وزن به صاحب عمل كيږي لكه چې پدې حديث مذكوركښ چې دې اودغه شان به هغه حديث كښ چې كوم نقل كړيدې امام محمدؒ چې حضورﷺ دعبدالله ابن مسعودؓ په باري كښ اوفرمائيلو چې اتعجبين من دقة ساقيه والذى نفسى بيده لهمافى الميزان اثقل من احد ترجمه:تاسودده پنډوپوري خاندئ،قسم د په خداې چې داپه تله كښې دأحدغرنه هم درني دي،اودويم قول دادې چې وزن به دصحائف داعمالوبه كيږي لكه چې په حديث دبطاقه كښ راغليدي چې نقل كړيدي امام ترمذيؒ وغيره. اودريم قول دجمهورو علماء دي چې وزن به دنفس اعمالوبه كيږي،چې

نيك اعمالوته به يو خائسته صورت وركړې شي اوبداعمالو ته به بيكاره صورت وركړې شي.لكه چې دامضمون په ډيرواحاديثوكښې راغليدې اوپيدي هم الله ﷻ قادردې چې بغيردصورت وركولو نه دنفس اعمالووزن اوكړي، اوتطبيق پدې درې اقوالوكښې ممكن دې.چې دقيامت په ورځ دې ځنې اشخاصو وزن اوكړې شي، اودځنې خلكو دصحائفو وزن اوكړې شي اودځنې خلكوداعمالووزن اوكړې شي(والتفصيل فى كتب الاحاديث والعقائد) اودا ايت صريح رددې په مذهب دمعتزلوباندې چې هغوئ انكاركړيدې دوزن داعمالونه.چې اعمال اعراض دې اوپه عالم مشاهدكښې داعراضووزن نشي كيدلې، ليكن ددوئ داقياس.قياس مع الفارق دې.اومستلزم دې ترددلره بلكه انكارلره دقدرت دالله ﷻ نه. اوجديدتحقيقاتو.ددوئ دانظريه هم غلطه ثابته كړه.بلكه حرارت اوبرودت مقدارمعلومول شو، دغه شان هوا وغيره وزن اومقدارمعلومول شو.وغيرذلك ﴿ذَٰلِكَ جَزَآؤُهُمْ﴾دادوه اسباب بيانيږي دترك اقامت دوزن. لپاره ددوئ.چې ددوئ لپاره به وزن ولې نه قائميږي.ځكه چې يوخودوئ شرك كولو، اودويم داچې دالله ﷻ ايتونو اورسولانوپورې به ئې ټوقې كولې،نوپه﴿ذَٰلِكَ﴾سره اشاره ده ترك اقامت وزن ته.اوذلك پدې تقديرمبتداده﴿جَزَآؤُهُمْ﴾ ورله خبردې، او﴿جَهَنَّمُ﴾ ورله خبربعدالخبردې اوبعض مفسرين فرمائى چې په﴿ذَٰلِكَ﴾سره اشاره مذكورافرادوته ده.نوپدې تقدير﴿جَزَآؤُهُمْ﴾ مبتداده او﴿جَهَنَّمُ﴾ ورله خبردې، اوبعض مفسرين فرمائى چې ذلك نه مخكښې الامرلفظ مقدردې اودامتعلق دې دماقبل سره يعنى فلانقيم لهم يوم القيمة وزنا الامرذلك، او﴿جَزَآؤُهُمْ﴾ مبتداده او﴿جَهَنَّمُ﴾ ورله خبردې اوڅلورم تركيب پكښې داسې راغليدې چې ﴿ذَٰلِكَ﴾ مبتداده ﴿جَزَآؤُهُمْ﴾ خبردې، او﴿جَهَنَّمُ﴾ ورله عطف بيان دې.ددينه علاوه نوراقوال پكښې هم راغليدې ﴿بِمَا كَفَرُوا﴾ باء سببيه ده اومامصدريه ده اوپه﴿وَاتَّخَذُوا آيَاتِي﴾كښې اشاره ده ددوئ ترقې ته په كفركښې،چې دوئ صرف په كفرباندې اكتفاء اونكړه بلكه دالله ﷻ داحكاماتو اودانبياء كرامومذاق هم كولو

إِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنّٰتُ الْفِرْدَوْسِ

[1]بیشکه هغه کسان چې ایمان ئې راوړیدې اوعملونه ئې کړیدې نیك ‹موافق دسنت› وي به ددوئ لپاره جنتونه دفردوس

نُزُلًا ۝١٠٧ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا لَا يَبْغُوْنَ عَنْهَا حِوَلًا ۝١٠٨ قُلْ لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ

میلمستیا تیاره همیشه به وي دوئ په هغې کښې نه به غواړي دهغې نه‹بل ځائ ته› بدلیدل.[2] او ایه ته کچرې شي دادریابونه

مِدَادًا لِّكَلِمٰتِ رَبِّيْ لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ اَنْ تَنْفَدَ كَلِمٰتُ رَبِّيْ

سیاهي لپاره دلیکلو دکلماتو درب خما نو ضرورختم بشي دریابونه مخکښې ددینه چې خلاصي ‹پوره› شي کلمات درب خما

وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهٖ مَدَدًا ۝١٠٩ قُلْ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوْحٰٓى اِلَيَّ

اګرکه راوړو مونږه په مثل دده بل ‹دریاب› مددګار اوایه ته چې بیشکه څه سړي ‹بنده› یم ستاسو پشان چې وحي کولې شي مانه

اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا

چې بیشکه حقدار دبندګئ ستاسو معبود یودې پس څوك چې لري امید دملاقات ‹پیش کیدلو› درب خپل پس عمل دکوي

وَّلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ اَحَدًا ۝١١٠ ع

نیك ‹موافق دسنت› اوشریك دې نه جوړه وي په بندګئ درب خپل کښې هیڅ څوك

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟﴾ دا بشارت اخروي دې ﴿كَانَتْ لَهُمْ﴾ صیغه دماضي یالپاره داشاري دتحقق اوتیقن ته ده اویا مراد تنه تقرر فی علم الله دې، او ﴿جَنَّٰتُ ٱلْفِرْدَوْسِ﴾ نه مصطلح شرعي جنت الفردوس، مراد دې چې دهغې صفت په حدیث کښې داسې مذکوردې، عن ابی هریرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اذاسألتم الله فاسئلوه الفردوس فانه وسط الجنة واعلى الجنة وفوقه عرش الرحمن ومنها تفجر انهار الجنة (متفق علیه).

‹1› بشارت اخروی.

‹2› متفرع برجواب ثالث بالذات وبررابع بالتبع.

ترجمه: حضرت ابی هریره ﷺ نه روایت دې فرمائي چې حضورﷺ ارشاد اوفرمائیلو چې کله تاسو دالله ﷻ نه سوال اودعاء دجنت کوئ نوجنت الفردوس ورنه غواړئ. چې داپه ټولو کښې بهتراواوچت جنت دې ددې دپاسه دالله ﷻ عرش دې، اوددینه دجنت نهرونه جاري کیږي، اودحضرت کعب نه مروي دې چې دجنت الفردوس نه اعلی اواوچت جنت بل نیشته دې اوپدیکښې به امربالمعروف اونهې عن المنکرکوونکي به وي، اوپه یوروایت کښې داهم راغلیدې چې ان اهل الفردوس لیسمعون اطیط العرش چې دَجنت الفردوس والابه دعرش جړه قاري(اوازونه)به هم اوري.اودغه شان نوړډیراحادیث دې چې هغه دلالت کوي چې جنت الفردوس یومخصوص جنت دې اوهغې کښې به مخصوص جنتیان وي. نوکه مرادبه ایت کښې دمخصوص جنت شي دجنت الفردوس نه نوبیابه په﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ﴾کښې موصول دعهدلپاره وي اوپدې سره به مراد مخصوص مؤمنان وي لیکن اکثرعلمآء فرمائي چې مراد په جنت فردوس سره مطلق جنت دې اومخصوص جنت تنه ندې مراد اواضافت دجنات فردوس ته بیاني دې.اوفردوس معنې دانګورپه باغ سره هم شویده والعرب تسمی البستان الذی فیه الکرم فردوسا(زاد المسیر)اوډیرو وونووالاباغ ته هم فردوس وئیلې کیږیو نومعنې به ئې داشي چې ددوئ لپاره باغونه دجنت دې. داترجمه غوره کړیده حضرت شیخ الهندؒ اوحضرت تهانويؒ هم داتوجیه غوره کړیده حضرت تهانويؒ دجنات الفردوس ترجمه کړیده په (بہشت کے باغ) سره اوفرمائي چې اشار الی ان المراد بالفردوس المعنی الشرعي لکن لابمعنی درجة الخاصة العلیا﴿نُزُلًا﴾حال دې دجنات نه. اوجنت ته نزل، وئیل په اعتباردثماریعنی دهغې دمیوو په اعتبارسره دې، نوعبارت په حذف دمضاف سره دې نوپه اصل کښې داسې دې، هم ثمارجنّات الفردوس نزلا، اوداهم ممکنه ده چې حمل د﴿نُزُلًا﴾ په جنات باندې علی سبل المبالغة وي.

فائده: بعض اهل علم نه مروي دې چې جنت اودهغې نعمتونوته نزل وئیلې شویدې نوپدیکښې اشاره ده چې مقصود اعظم اولوئ نعمت دجنتې لپاره هغه جنت اودهغې میوي ندې. بلکه لوئ نعمت اومقصود اصلي دیدارالهي دې(اللهم شرفنا منهاآمین) اوجنت په منزله دیوانتظارګاه ده.

﴿لَا يَبْغُونَ عَنْهَا حِوَلًا ﴾حولا مجرد په معنې مزیدوتحولاسره دې، اوتحول وئیلې کیږي دیوحالت نه بل حالت اړیدل، اویامفعول مطلق دې دفعل مقدرلپاره اوماخوذدې دحال من مکانه حولا.نه

بهرتقدیرمطلب دایت دادي چې جنتیان به په جنت کښ په یوحالت وي.بیماري. مرګ.بل څه تکلیف به ورته نه راځي،لکه په حدیث دمسلم شریف کښ دي چې منادي به اعلان اوکړي. یااهل الجنة ان لکم ان تصحوا فلاتمرضوا ابدا وان لکم ان تعیشوا فلاتموتوا ابدا وان لکم ان تشبوا فلاتهرموا ابدا وان لکم ان تقیموا فلاتظعنوا ابدا(مسلم) ترجمه:اې اهل جنت!تاسوبه همیشه تندرسته وئ.کله به هم بیمارې ګئ نه،تاسوبه همیشه ژوندي وئ،مرکیږئ به نه.اودلته به همیشه دپاره اوسیږئ.بل خواته به نه زئ(اللهم ارزقنا بفضلك وكرمك وجودك).

اوداهم ممکنه ده چې دتحول مقصد داشي چې دوئ جنت پریږدي اوبل طرف ته راغب شي یااوچتې رتبې ته راغب شي څکه چې کوم جنتي ته جنت ورکړې شوې وي نوهغه ته به دهغې نه بل عمده شې نه ښکاریږي. نوطلب دتحول کولوپه هغه وخت کښ وي چې ده ته بل ځائ عمده اوبهترښکاره شي،اوداجمله ﴿لَا يَبْغُونَ عَنْهَا حِوَلاً ﴾ څکه ذکرشوه چې په دنیاکښ کله کله،دیوسړي ډیربهترکوراومکان وي خودده پکښ طبعیت نه لګي اودې ورسره موافق نوي نوبیادبل کوراومکان کوشش کوي،نوجنت به داسي نوي په هغې کښ به جنتي دبل جنت خواهش نه لري،ددي وجه نه صاحب دبحرفرمائی،قال بعض المفسرين تمام النعمة انهم لايتمنون التحول لانهم لوتمنوا التحول عنها لتنقص النعم عليهم(بحر).

﴿قُل لَّوْ كَانَ ٱلْبَحْرُ ﴾داپه شبهې ثالثې په جواب باندې بالذات اودشبهې رابعي په جواب باندې بالتبع تفریع ده، اودالله ﷻ دمعلوماتووسعت ذکردې پکښ. یعنی کچرته دالله ﷻ دمعلوماتولیکلولپاره ددنیاټول سمندرونه سیاهې جوړه شي، نوداسمندرونه به ختم شي خودالله ﷻ معلومات به پوره نکړې اودهغې احاطه به اونکړې شي. نومعلومه شوه چې دبندګانو . علم متناهي دې اوعلم دالله ﷻ غیرمتناهي دې نوانبیاء کرام علیهم السلام اواولیآؤته صرف دومره علم ورکړې شویدې څومره چې دالله ﷻ مرضې وه، نوثابته شوه چې انبیاء کرام اواولیاء غیب دان ندي اوکارساز اومتصرف ندي.اوالف لام په البحرکښ جنسې دې نومراد د﴿ٱلْبَحْرُ﴾نه جنس بحردې

او﴿لِّكَلِمَٰتِ رَبِّي﴾نه مرادمعلومات اوحکمتونه دالله ﷻ دي﴿لَنَفِدَ ٱلْبَحْرُ ﴾څکه چې دامتناهي دي﴿قَبْلَ أَن تَنفَدَ ﴾ څکه چې معلومات دالله ﷻ غیرمتناهی دی. نومتناهی دغیرمتناهی احاطه

نشي كولې، اود ﴿قَبْلَ أَن تَنفَدَ ﴾، معنې دانده چې داسمندرونه مخکښې ختم شي اوكلمات دالله ﷻ ورستوختم شي، ځکه چې (قبل) دلته په معنې د(غير)يا(دون) سره دې. لکه صاحب دجمل فرمائی چې قبل هنابمعنی غيراوبمعنی دون(جمل) نولهذا دااعتراض نه واردیږي چې ظاهرد نص دلالت کوي په تناهې دمعلومات بارې تعالی باندې﴿وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهِۦ مَدَدًا﴾ جواب دلومحذوف دې يعنی لنفديعنی کچرته نورسمندونه هم دمددلپاره راوړې شي نوهغه به هم ختم شي

فائده: (١)بعض اهل علم نه مروي دې چې که څومره مخلوقات دي هغه متناهې دې اوپه هغې فناراځي، ځکه چې الله ﷻ فرمائی، انّاكلّ شيئ خلقناه بقدر، اوکوم شې چې دقبیلې دمخلوقاتو نه ندې نوهغه غيرمتناهې وي اودهغه لپاره ختمیدل نوي نوددې ايت نه معلومه شوه چې كلمات دالله ﷻ دقبیلې دمخلوقاتونه،ندې اوكلام نفسي دالله ﷻ قديم غيرمخلوق دې ځکه چې داهم نه ختمیږي اونه فناء کیږي.

فائده: (٢) حضرت ابن عباس ﷺ ته يو کس خپل شکايت اوکړوچې څه اراده اوکړم چې دشپې به دعبادت لپاره پاڅم، خوپه ماباندې خوب غالب شي اوراويخ نشم، نوحضرت ابن عباس ﷺ ورته اوفرمائيلوچې كوم وخت هم ستاد پاسیدلو اراده وي نوداوده کیدلوپه وخت کښې دامذکوره ايت،قل لوكان تراخيردسورت پوري تلاوت کړه نوالله ﷻ به تاپه مقرره وخت باندې راپاسوي(قرطبي ج٥ ص٣٥٩).

﴿قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ ﴾پدې ايت کښې نفی دعلم غيب ده په ذريعه داعلان دحضور ﷺ سره چې څه غيب دان اوكارسازنه یم، بلکه ستاسو پشان بشريم اوالله ﷻ دطرف نه نبوت رتبه راته راکړې شويده﴿إِنَّمَا ﴾ داداواتودحصرنه دې اومقصدپدې سره حضور ﷺ ته وصف بشريت ثابتول دې، اودا قصردصفت دې په موصوف کښې اوقصرقلب دې،ځکه چې دكفاروعقيده داوه چې پیغمبر ﷺ بشرنشي كيدلې، وصف نبوت أوبشريت به ئې په خپل مینځ کښې متنافی کنړل. لکه نن صباهم دځنې فرقوداعقیده چې حضور ﷺ ته نوروائې اودعقيدې دبشريت قائل ندې،اومثلکم تاكيدلپاره دې يعنی چې څه بشريم ستاسو پشان. اوممائلت (اشتراك فى النوع) ته وئيلې کیږي. يعنی څه هم

ستاسو سره پدي نوع د بشريت كښ، شريك يم او ﴿يُوحَىٰٓ إِلَيَّ﴾ مابه الامتيازدې چې ځما او ستا سو په مينځ كښ امتياز، دادې چې ماته وحې كيږي او تاسو ته وحي نه كيږي ﴿أَنَّمَآ إِلَٰهُكُمْ﴾ دا د ټول سورت خلاصه ده

﴿فَمَن كَانَ يَرْجُواْ﴾ دا تفريع ده پماقبل باندې، او ترغيب دې نيك اعمالو ته او نفى د شرك فى العبادة ده، او ﴿يَرْجُوا﴾ د رجاء نه دې طمع ته وئيلې كيږي. او كله كله په معنې د خوف سره هم راځي. او پدې كښ اشاره ده چې مؤمن د الله تعالىٰ د رحمت اميد او د عذاب نه خوف ساتې او مشهوره خبره ده چې الايمان بين الرجآء والخوف.

او په حديث د ابن ماجه كښ دي، انّ النبيﷺ دخل على شاب وهوفى الموت فقال كيف تجدك؟ فقال والله يارسول اللهﷺ انى ارجو الله واخاف ذنوبى فقال رسول اللهﷺ لايجتمعان فى قلب عبدفى مثل هذا الموطن الااعطاه الله مايرجو وامنه ممايخاف(ابن ماجه)

ترجمه: بيشكه داخل شو حضورﷺ په يو نوجوان باندې چې هغه مبتلاؤ په حالت د مرګ باندې (ځنكندن) نو حضورﷺ تنه تپوس اوكړو چې ستا (اندرونې) څه كيفيت دې؟ هغه عرض اوكړو چې ځما دې په خداې تعالىٰ قسم وي يارسول اللهﷺ څه د الله تعالىٰ نه د رحمت اميد ساتم او د خپلو ګناهونو په باره كښ تنه يريږم نو حضورﷺ ورته ارشاداوفرمائيلو چې نه جمع كيږي د يو بنده په زړه كښ دغه شان حالت مګر الله تعالىٰ ده ته هغه څيز وركوي چې د كوم دې اميد ساتې او د هغې نه ئې په امن كوي چې د كوم نه دې يره كوي

او مراد په ﴿لِقَآءَ﴾ سره د غوره قول مطابق رويت د الله تعالىٰ دې، ځكه چې لقاء. حقيقت دې په رؤيت كښ. او بعض فرمائي چې مراد تنه د الله تعالىٰ په مخ كښ او دريدل دې او كچرته .رجاء، په معنې د خوف سره شي نو بيابه دلته لفظ د سوء مقدروي اى من خاف سوء لقاء ربه (روح).

﴿فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا﴾ دا تفريع ده په رجاء باندې چې رجا د لقاء لپاره نيك عمل پكار دي. او د الله تعالىٰ نه د خوف علامه داره چې نفس نيك اعمالو طرف ته راغب شي او د ګناهونو نه ئې نفرت پيدا شي

﴿وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ﴾شرك كلي مشكك دې صدق ئې په خپلوافرادو باندې على السويه ندې په ځنې افرادوباندې اولې اواقوې اوپه ځنوباندې غيراولې اوضعيف دې وغيره اومحدثين نه تعبيركوي په شرك دون شرك سره،نوشرك په دوه قسم دې يوشرك خفى دې اوبل شرك جلې. دشرك خفى اطلاق په احاديثوكښې په ريا،سمعت اوشهرت باندې شويدې.اودشرك جلې اطلاق دالله تعالیٰ سره په ذات ياصفاتوكښې شريك جوړه ولوباندې شويدې. اوبعض خلكوآيت خاص كړيدې په شرك جلي پورې،

ليكن علامه آلوسي رحمه الله فرمائى چې تقديم دامرياطاعاتواواعمالوصالحوباندې قرينه ده پدې چې نهى دشرك نه پدې مقام كښې عام دې خواه كه شرك جلي وي ياخفي. اوفرمائي ويدخل فى العموم قراءة القرآن للموتى بالاجرة فلاثواب فيها للميت ولاللقارى اصلا(روح) چې پدې عموم كښې هغه قرآن خواني اوقرآن ختمونه چې دمړولپاره كيږي په اجرت سره هغه پكښې هم شامل دې. پس ثواب نه ميلاويږي مړې ته اونه ختم كوونكي ته.اوپه ډېرواحاديثوكښې دشرك خفى نه دخپل ځان بچ كولوحكم راغليدې، وعن سعيدبن فضالة رضي الله عنه قال سمعت رسول الله ﷺ يقول اذا جمع الله تبارك وتعالى الناس ليوم لاريب فيه نادى منادى من كان يشرك فى عمل عمله لله فليطلب ثواب منه فان الله تعالى اغنى الشركآء عن الشرك(رواه الترمذى).

ترجمه: دحضرت سعيدبن فضالع رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چې مادرسول الله ﷺ نه واوريدلوچې هغه اوفرمائيلوچې كله الله تعالیٰ مخلوقات په داسي ورځې چې په هغې كښې شك نيشته (قيامت په ورځ) راجمع كړي يواوازكوونكې به اوازاوكړي چې چاپه خپل عمل كښې دالله تعالیٰ سره څوك شريك ګرځولي وي نوهغه دې دهغه شريك نه اجرطلب كړي پس الله تعالیٰ ډيرغني دې دشريكانو دشرك نه،

اوپه روايت دابوسعيدخدري رضي الله عنه كښې دي چې حضور ﷺ ارشاداوفرمائيلو.الااخبركم بماهواخوف عليكم من المسيح عندى قال قلنا بلى قال الشرك الخفى ان يقوم الرجل يصلى لمكان الرجل(ابن كثير) چې آياځه تاسوته خبردرنكړم دهغې نه چې ځه په تاسوباندې دهغې خطره دمسيح دجال دفتني نه هم زياته محسوسه وم، راوي وايي چې مونږه اوئيل چې هاؤاوښايه،حضور ﷺ اوفرمائيلوچې هغه شرك خفى دې چې مونځ كوي يوسړې لپاره دبل سړي يعنى هغه ته

دښودلولپاره (رياء) لپاره مونځ كوي. نورډيراحاديث دي چې ابن كثيروغيره په تفصيل سره ذكركړيدي

اودَسورت اختتام په نفی دَشرك سره اوشو اودَسورت په ابتداء كښې مسئله توحيد ذكرشوې وه چې﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ چې دَټول كائنات مالك خالق كارسازمتصرف الله ﷻ دې. حمداوصفاتودالوهيت مستحق صرف هغه دې، اودسورت په اخيركښې ذكرشوچې عمل صرف الله ﷻ لپاره پكاردې، اودَالله ﷻ سره څوك شريكول ندې پكار.

تم تفسيرسورة الكهف بحمدالله وبمنته.

رکوع	سورة مريم مكية	آيتونه
۶	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	۹۸
	خاص په نوم د الله سره چه بيحده مهربان او ډير رحم کوونکې دې شروع کوم	

رقمها حسب التسلسل (۱۹) وحسب النزول (۴۲)

تفسيرسورة مريم:سورة مريم مکي سورة دې دَترتيب نزولي په اعتبارسره څلورڅلوېښتم نمبرسورت دې اوترتيب قرآني په اعتبارسره نولسم(۱۹)نمبرسورت دې. سورت الفاطرنه ورستو اوسورت طٰه نه مخکښې نازل شويدې. زمانه دَنزول ئې دَهجرت دَحبشې نه مخکښې ده اوپه (۹۸) اياتونوپه شپږرکوعاتو،په اوه سودوه شپيته(۷۶۲)کلماتواودرې زره اته سوه (۳۸۰۰) حروفوباندې مشتمل دې.

ربط:(۱)ربط اسمی دَماقبل سورت سره دادې چه په سورة الکهف کښې دَاصحاب کهفودَربط قلبي ذکروو،اوپدې سورة کښې دَحضرت مريم اودَنورو انبياء کرامو عليهم السلام دَربط قلبي ذکردې. (۲)اودغه شان ماقبل سورة مشتمل ووپه قصې عجيبه دَاصحاب کهف،دَحضرت موسی عليه السلام اوخضر عليه السلام اوذوالنون باندې نودغه شان داسورة هم مشتمل دې په قصصوعجائبوباندې. يحيی عليه السلام پيدائش اودَحضرت عيسی عليه السلام پيدائش په غيردَاب نه.

ربط مضموني: ربط مضموني دَماقبل سره په څوجوه سره دې(۱)په سورة الکهف کښې دَيوڅوشبهاتوجوابونه ذکراوشولواوپه سورت مريم کښې دَباقي شبهاتوجوابونه ذکرکيږي. نوګوياکه سورت مريم دَسورت کهف لپاره په منزله دَتتمی دې(۲)په سورة کهف کښې نفي دَعلم غيب اوردَشرك ووپه اثبات دَعجزسره دَعبادوصالحينولپاره اوپه سورت مريم کښې رد دَشرك دې په اثبات دَعبديت سره(۳)په سورت کهف کښې اثبات دَنبوت.اثبات دمعاد اوذکرجزا اوسزاوو اوپه سورت مريم کښې هم دامضامين بيانيږي(۴)په سورة الکهف کښې ذکردَ وينذرالذين قالوا اتخذالله ولدا شو.اودَسورة مريم په اخيرکښې دَهغې تفصيل ذکرکيږي﴿فَإِنَّمَا يَسَّرۡنَٰهُ بِلِسَانِكَ﴾(۵)

دسورة كهف په اخيركښ دحضورﷺ درسالت ذكروو نودغه شان دَدې سورت په اخيركښ هم دَځني انبياء عليهم السلام ذكردې

خلاصه دمضامينوپه اعتبارسره سورة مريم دوه(٢)حصوته منقسم دې. اوله حصه دايت نمبر(١) نه ترايت نمبر(٦۵)﴿هَلْ تَعْلَمُ لَهُۥ سَمِيًّا﴾پورې ده،اودويمه حصه دَدې ځائ نه تراخيرپورې دَه. په اولى حصى كښ دمشركينودَيوڅوشبهاتوجوابونه ذكركيږى.

اوله شبهه دحضرت زكريا عليه السلام په باره كښ وه چه دحضرت زكريا عليه السلام په آخرعمركښ بچې پيداكيدل دَدې خبرې دليل دې چه هغه ته يوقوت اوطاقت مافوق البشريت حاصل وو دتصرفاتو،چه څه ئې غوختل نوهغه ئې كولې شو، دَدې شبهې جواب ذكركيږې دايت نمبرا نه ترايت نمبر١۵ پورې،چه دحضرت زكريا عليه السلام بچې پيداكيدل امرخارق للعادت په حكم دالله تعالى سره وو ،اوهغه دالله تعالى نه سوال كړې وو دبچې لپاره.

دويمه شبهه دحضرت مريم عليها السلام اودحضرت عيسى عليه السلام په باره كښ وه، چه حضرت مريم ته بې موسمه ميوې راتلل،مافوق الاسباب بچې پيداكيدل،اودحضرت عيسى عليه السلام مړى ژوندى كول وغيره مافوق البشريت قدرت اوطاقت وو ،نومعلومه شوه چه هغوئى ته قدرت اوتصرف حاصل وو.

دايت نمبر(١٦)﴿وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مَرۡيَمَ﴾نه ترايت نمبر(۴٠)﴿وَإِلَيۡنَا يُرۡجَعُونَ﴾پورې ددې شبهې تفصيلى جواب ذكركيږى،چې حضرت مريم عليها السلام په خپله الله تعالى ته عاجزى كوله اوخلاف عادت بچې پيداكيدل الله تعالى مخلوقاتوته دخپل دقدرت نشانې ښكاره كوله،اوحضرت عيسى عليه السلام هم صاف اعلان كړې ووچه،انّ الله ربّى وربّكم فاعبدوه.

دريمه شبهه دحضرت ابراهيم عليه السلام متعلق وه،چه حضرت ابراهيم عليه السلام الله تعالى ته دومره قريب اونزدې ووچه الله تعالى ورته قدرت دتصرف په مخلوقاتوكښ وركړې وو،دايت نمبر(۴١)﴿وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ إِبۡرَٰهِيمَ﴾نه ترايت نمبر(۵٠)﴿لِسَانَ صِدۡقٍ عَلِيًّا﴾پورې دَدې شبهې تفصيل جواب ذكركيږى چه حضرت ابراهيم عليه السلام دَدې معبودان باطله مخالف وو ،اودهغې خلاف ئې اوازاوچت كړې وو،اوبيا په ايت نمبر(۵١)،﴿وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ مُوسَىٰٓ﴾نه ترايت نمبر(۵٨)﴿خَرُّواْ سُجَّدٗا وَبُكِيّٗا﴾پورې دحضرت موسىٰ عليه السلام ،هارون عليه السلام، اسماعيل عليه السلام،

ادريس عليه السلام ذكركيږي چه دوئی هم الله تعالیٰ ته محتاجه وو، اوكارساز اومتصرف نه وو اودغه شان اجمالي طورباندې دټولو انبياء كرامونه دغه دعوىٰ رانقل كيږي. په ايت نمبر(۵۹)﴿فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ﴾كښې دَيوسوال جواب ذكركيږي،سوال داكيدلوچې كله دټولوانبياءكرامومدعی توحيدوو اوهغوئی خلكوته دتوحيد حكم اوتعليم وركولونوبيادهغوئی عبادت ولې اوكړې شو اوغلط اديان څنګه پيدا شو ، نوپه ايت مذكوره كښې ورنه جواب اوشوچه داناخلف خلكوپيدا كړي علمآء سوء خلكوته داغلطه عقيده اوښودله،اوهغوئی ته ئې دَشرك تعليم وركړواوبيادَايت نمبر(۶۰)﴿إِلَّا مَن تَابَ﴾نه ترايت نمبر(۶۳) من كانَ تقيًاپورې،دَنيكانو خلكو صفات اوهغوئی ته بشارت ذكركيږي اوپه ايت نمبر(۶۴)﴿وَمَا نَتَنَزَّلُ﴾كښې دَفرشتوپه باره كښې دَيوې شبهې جواب ذكركيږي، چې فرشتوته الله تعالیٰ قدرت دَتصرف وركړيدې چې اسمانونوته خيژې راكوزيږي.نوپه ايت مذكوره كښې دَدې جواب اوكړې شوچه دَدوئ اسمان ته ختل اوزمكې ته راكوځيدل دَالله تعالیٰ په حكم سره دې، اودوئ دَالله تعالیٰ محكوم دې،اوپه ايت نمبر(۶۵)﴿رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾كښې بطورثمره دَاصل دعوىٰ ذكردې.

دَسورت دويمه حصه: دَايت نمبر(۶۶)نه دَسورت دويمه حصه شروع كيږي.پدې حصې كښې شپږ(۶)زجرونه،درې(۳)شكوې،څلور(۴)ځلې تخويف اخروی،دوه(۲)ځلې تخويف دنيوی اوڅلور (۴) پكښې بشارتونه ذكركيږي،اودغه شان رد دَشفاعت قهريه هم پكښې كيږي.

تفصيل ئې دادې چه په ايت نمبر(۶۶)﴿وَيَقُولُ ٱلۡإِنسَٰنُ﴾كښې شكوې ذكركيږي په ايت نمبر(۶۷)﴿أَوَلَا يَذۡكُرُ ٱلۡإِنسَٰنُ﴾كښې جواب شكوی سره دَزجرنه ذكركيږي.دَايت نمبر(۶۸)﴿فَوَرَبِّكَ لَنَحۡشُرَنَّهُمۡ﴾نه ترايت نمبر(۷۱)﴿مَّقۡضِيًّا﴾پورې تخويف اخروی ذكركيږي.په ايت نمبر(۷۲)﴿ثُمَّ نُنَجِّي ٱلَّذِينَ﴾كښې بشارت ذكركيږي.په ايت نمبر(۷۳)﴿وَإِذَا تُتۡلَىٰ﴾كښې زجرذكركيږي.په ايت نمبر(۷۴، ۷۵) ﴿وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا قَبۡلَهُم﴾نه تر واضعف جندا پورې تخويف دنيوی ذكركيږي.په ايت نمبر(۷۶)﴿وَيَزِيدُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ﴾كښې بشارت بيانيږي په ايت نمبر(۷۷)نه

تا (۸۰) ﴿أَفَرَءَيْتَ﴾ نه تر ﴿وَيَأْتِينَا فَرْدًا﴾ پورې شکوې سره دتخويف اخروی نه ذکر کیږی. په ایت نمبر (۸۱) ﴿وَٱتَّخَذُوا﴾ کښې زجردې. او په ایت نمبر (۸۲) ﴿كَلَّا سَيَكْفُرُونَ﴾ کښې تخويف اخروی دې. په ایت نمبر (۸۳، ۸۴) ﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّا﴾ تر ﴿نَعُدُّ لَهُمْ عَدًّا﴾ پورې زجرذکر کیږی. په ایت نمبر (۸۵) ﴿يَوْمَ نَحْشُرُ ٱلْمُتَّقِينَ﴾ کښې بشارت اخروی ذکرکیږی. په ایت نمبر (۸۶) ﴿وَنَسُوقُ ٱلْمُجْرِمِينَ﴾ تخويف اخروی ذکرکیږی، په ایت نمبر (۸۷) ﴿لَّا يَمْلِكُونَ ٱلشَّفَٰعَةَ﴾ کښې رددې په شفاعت قهريه باندې. دایت نمبر (۸۸) نه تر (۹۲) ﴿وَقَالُوا ٱتَّخَذَ ٱلرَّحْمَٰنُ﴾ نه تر ﴿أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا﴾ پورې شکوی مع جواب شکوی او زجرذکرکیږی او په ایت نمبر (۹۳، ۹۴، ۹۵) ﴿إِن كُلُّ﴾ نه تر ﴿فَرْدًا﴾ پورې دعوی دسورت بیانیږی، په ایت نمبر (۹۶) ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ﴾ کښې بشارت دې. په ایت نمبر (۹۷) ﴿فَإِنَّمَا يَسَّرْنَٰهُ﴾ کښې ترغيب الى القرآن ذکرکیږی او په اخیری ایت نمبر (۹۸) ﴿وَكَمْ أَهْلَكْنَا﴾ کښې تخويف دنيوی ذکرکیږی.

كٓهيعٓصٓ ﴿١﴾ ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهُۥ زَكَرِيَّآ ﴿٢﴾
الله ﷻ عالم دې په مراد خپل سره ددينه [1] دا یادا شت د رحمت درب ستادې په بنده خپل باندې چې زکریا عليه السلام دی
إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥ نِدَآءً خَفِيًّا ﴿٣﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّى وَهَنَ ٱلْعَظْمُ مِنِّى وَٱشْتَعَلَ ٱلرَّأْسُ
كله چې اواز اوكړو دده رب خپل ته اواز پټ. اوئيل ده اې ربه خما بیشکه کمزوری شویدي هډوکي خما او شغلې وهي سر خما
شَيْبًا وَلَمْ أَكُنۢ بِدُعَآئِكَ رَبِّ شَقِيًّا ﴿٤﴾
له جهته دبوډاوالی نه. او نه يم خه ستانه دعاغوختلو په وجه اې ربه خما محرومه

﴿كٓهيعٓصٓ﴾ دا حروف مقطعات دی چې په مراد باندې عالم الله ﷻ دې، او دحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه مروی دی چې دا ثناء ده دالله ﷻ دطرف نه په خپل ذات باندې نو دكاف معنی ده

1. حصه اول سورت جواب از شبه اول متعلق بزکریا.

کاف خلقهِ هاء معنی ده هادٍ لعباده، یاء معنی ده یدُهُ فوق ایدیهم.عین معنی ده عالم بهم. صاد معنی ده صادق في وعدهِ یعنی الله ﷻ دَخپلو مخلوقاتو لپاره کافي دي،هادي دي دَخپلو بندګانو لره قادر دي په هغوئی عالم دي په هغوئی او رشتوني دي په پوره کولو دَوعدو خپلو کښ.

او دحضرت علي رضی الله عنه نه مروي دی چې دَا اسم دي دَ اسماؤ دَ الله ﷻ نه قرطبي، اوبعض فرمائی چې دا نوم دي دَ قرآن، اوبعض فرمائی چې نوم دي دسورت﴿ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ﴾ دادَ اولی شبهې جواب دي چې په باره دَحضرت زکریا علیه السلام کښ وه،اوپدې تولې واقعي کښ دَحضرت زکریا علیه السلام عجز،ثابتول مقصوددی، چې حضرت زکریا علیه السلام ته دَخدائی قدرت اوتصرف حاصل نوو،بلکه هغه عبدوو چه الله ﷻ پرې خپل رحمت کړې وو،الله ﷻ ته محتاجه ووځکه ئې دعاکړې وه اوضعف اوبوډاولی پرې راغلې وو،خوف اوخطره ئې محسوسه کړې وه دَموالی(تربرانو) نه محتاجه ووبچي(وارث)ته محتاجه وودَبچي په پیدائش کښ علامی ته وغیره،نوداټولی علامې دَعجزدي،دَدې ایت مختلف ترکیبونه شویدی.(۱)اول ترکیب دادې چې ﴿كٓهيٰعٓصٓ﴾مبتداده او﴿ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ﴾ ورله خبردې،لیکن پدې باندې قرطبی رد کړیدې

(۲)دویم ترکیب دادې چه ﴿ذِكْرُ﴾خبردې دَمبتدا محذوف لپاره،چې هذا دې نوهذا مبتداء ذکرخبرمضاف﴿رَحْمَتِ﴾ مضاف الیه، مضاف﴿رَبِّكَ﴾ مضاالیه، مضاف كَ ضمیرمجرورمضاف الیه او اضافت د﴿رَحْمَتِ﴾رب ته دَقبیلی دَاضافت دَمصدرنه دې فاعل ته.او ﴿عَبْدَهُ﴾مبدل منه او ﴿زَكَرِيَّا﴾ورله بدل مبدل منه سره دَبدل دامفعول دې درحمت لپاره اودامجموعه ټوله دَذکرلپاره مضاف الیه شوه،اومضاف سره دَمضاف الیه نه خبرشودَمبتدا لپاره.

(۳)اوبعض مفسرین فرمائی چې ﴿رَحْمَتِ رَبِّكَ﴾دامبتداده اوخبرورله مقدر دې چې فیماسیتلی علیکم دي اودَدینه علاوه نورترکیبونه هم شویدی.

﴿إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُ﴾ظرف متعلق دې په رحمت پورې داعجزذکرکیږی دَحضرت زکریا علیه السلام په دعاسره.او﴿نِدَآءً﴾مفعول مطلق دې دَ"نادَی" لپاره او ﴿خَفِيًّا﴾یاپه هغه معنی سره دې چې ضدِجهردې یعنی په رو اوآهسته آوازسره ئې دعااوکړه.اوپه آهسته آوازسره دعاکول اقرب الی

الاجابت وی اومحفوظ وي دَريانه،اوزياته اليقه وي دَاخلاص سره،اوبعض فرمائی چې چونکه دادعا دَ يودنيوي امرلپاره وه اودَخپل قوم اوموالی دَملامت كولونه دَبچ كيدلولپاره ئې په پټه اوكړه. (قرطبی) غوره اوراجح توجيه داده چې ﴿خَفِيًّا﴾په معنی دَمستورا عن الناس سره دې يعنی دَخلكونه ئې په پټه اوكړه چې په شپه كښې دَتهجدوپه وخت ئې دعا كړې وه اودامطلب اغستل ضعيف دې چه په آهسته اوازسره ئې اوكړه دَدوه(۲)وجهونه:(۱)دلته لفظ دَنداء ذكرشويدې اونداء په جهرسره آوازته وئيلې كيږي(۲)بل ځائ كښې(په سورة ال عمران) كښې دَحضرت زكريا عليه السلام دَدعااجابت وخت مونځ ذكركړيدې فنادته الملئكة وهو قائم يصلى فى المحراب الخ نومعلومه شوه چې دادعا هم په حالت دَمونځ كښې كړې وه اوپه خپل محراب كښې وو،نوددينه معلومه شوه﴿خَفِيًّا﴾پمعنی دَمستورا عن الناس سره دې،اوپدې وخت كښې دَده(زكريا عليه السلام)عمردَغوره قول مطابق شپږ شلې(۱۲۰)كاله وو،اوبعض فرمائی چې(۹۹)بعض فرمائی چې(۹۲)بعض فرمائی(۲۰۰۷۰، يا۷۵)وغيره وو.

﴿قَالَ رَبِّ إِنِّي﴾داجمله تفسيردې دَنداء لپاره اورب په اصل كښې "يارب" دې اوپدې كښې دَحضرت زكريا عليه السلام دَدعا كيفيت ذكركيږي چې حضرت زكريا عليه السلام په خپلې دعاكښې توسل كړيدې په خپل دوه(۲) جسمانی كمزوريوسره،يوداچه هډوكی ئې كمزوري دي،دويم داچې دَبوډاوالي دَوجې نه ئې دَسرويخته سپين شويدي،اودادليل دې په عجزدَهغه باندې اونسبت دَ،وهن،عظم يعنی هډوكوته ځكه اوشولوچې هډوكي دَبدن لپاره په منزله دَدعائم (ستنو،ستن)دي،چې كله په هډوكوكښې ضعف ظاهرشي نوپه ټول بدن كښې بياضعف ظاهريږي،اودَدې وجه نه چې په بدن كښې دټولونه اقوی اوسخت اجزاء هډوكي دي نوهركله چې په هډوكښې ضعف راشي نوپه نوربدن كښې په طريق اولی سره ضعف راځی او﴿ٱلۡعَظۡمُ﴾ اسم جنس دې اطلاق ئې په قليل اوكثيرټولوباندې كيږي اوجمع رانوړې شوه ځكه چې دهغې اطلاق په كل افرادوباندې كيږي،بيابه مطلب داوځما دَبدن ټول هډوكي ضعيف شويدي اوممكنه ده چې دَحضرت زكريا عليه السلام ټول هډوكي نووضعيف شوي لكه چې داظاهره هم ده.

﴿وَٱشۡتَعَلَ ٱلرَّأۡسُ﴾داكلام محمول دې په استعاراتوباندې، تشبيه دَويختوسپين والي اوپه سر كښې دَخوريدووركړې شويده دَاوردلمبې سره،اوبيااضافت دَاشتعال كړې شويدي محل

دَويختوته چې هغه سردې،چې دافاعل گرځولې شوېدې د اشتعل لپاره او ﴿شَيۡبًا﴾ورته تميزواقع شويدې اوتميزمحول عن الفاعل په حقيقت کښې فاعل وی.نوگويا چې اصل فعل ﴿شَيۡبًا﴾دې، اونسبت دَاشتعال سرته مجازادې،اوداجمله دزيادت ترحم لپاره ده ځکه چې سپين ويخته ډيرقابل رحم وي اوالله ﷻ تنه هم حياکوی کماورد فی الحديث.نودايت مقصددادې چې بدن مې هم کمزورې دې اوويخته مې تول داسې سپين دی لکه دَاورلمبې﴿وَلَمۡ أَكُنۢ بِدُعَآئِكَ﴾ داتوسل دې په عادت مستمره دَفضل دَالله ﷻ سره چې ستاعادت دادې چې ځمادعاقبولوې دَدې نه مخکښې دې هم قبوله کړيده څه دې نامراده کړې نه يم،او باء په ﴿بِدُعَآئِكَ﴾کښې سببيه ده او﴿كان﴾ ناقصه دې اوضميرچې تعبيرورنه "انا"سره کيږی ورله اسم او﴿شَقِيًّا﴾ورله خبردې، اومنفې دې په﴿وَلَمۡ﴾ سره نولهذا مرادتنه زمانه تيره شوې ده،اودعاء مصدردې اواضافت ئې ک ضميرته شويدې چې هغه ورله مفعول دې،ای لم اكن بدعائی اياك شقيا ای لم نخيب دعائی اذا دعوتك(قرطبی) اوداهم جائزه ده چې"ك" ضميرفاعل دَمصدرشی اومفعول ئې محذوف شی اوتقديردَعبارت داسی شی چې لم اكن بدعالك ايای شقيا،يعنی چې کله هم تاماته دَايمان دعوت راکړيدې نوځه بدبخته شوې نه يم چې ايمان مې پريخې وی بلکه مادَايمان دعوت قبول کړيدې نودَايمان په برکت سره ځمادعاقبوله کړې،ليکن اوَله توجيه ډيره غوره ده.

وَإِنِّي خِفۡتُ ٱلۡمَوَٰلِيَ مِن وَرَآءِي وَكَانَتِ ٱمۡرَأَتِي عَاقِرٗا فَهَبۡ
اوبيشکه ځه يريږم دتربورانونه(په باري ددين کښې) ورستودَمرگ ځپل نه اوده ښځه ځمابې اولاده(شنډه) پس راوبخې
لِي مِن لَّدُنكَ وَلِيّٗا ۝ يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنۡ ءَالِ يَعۡقُوبَۖ وَٱجۡعَلۡهُ
ماله دَځپل طرف نه يووا رث. چې وارث شي (دَدين)ځمااووارث شي(دَدين) دَاولاد دَيعقوب عليه السلام او اوگرځوې دې
رَبِّ رَضِيّٗا ۝ يَٰزَكَرِيَّآ إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَٰمٍ ٱسۡمُهُۥ يَحۡيَىٰ
اې ربه ځما غوره کړې شوې،اې زکريا عليه السلام بيشکه مونږه زيرې درکووتاته په يوهلك سره چې نوم دَهغه يحيی دې،

لَمۡ نَجۡعَلۡ لَّهٗ مِنۡ قَبۡلُ سَمِيًّا ۞ قَالَ رَبِّ اَنّٰى يَكُوۡنُ لِىۡ غُلٰمٌ

ندي ګرځولي مونږ ده لره مخکښې ددينه همنام. ووئيل زکريا چې اې ربه څنګه به څرنګې سره به څه شي زوئ

وَّكَانَتِ امۡرَاَتِىۡ عَاقِرًا وَّقَدۡ بَلَغۡتُ مِنَ الۡكِبَرِ عِتِيًّا ۞

اوحاصل دا دي چه دده ښځه شنډه ده او به تحقيق سره رسيدلې يم څه ډبوډاوالي نه اخيري حد ته

﴿وَاِنِّیۡ خِفۡتُ﴾ دا هم توسل دې په ذکر د احتياج خپل سره. چې څه ولد ته محتاجه يم. ځکه چې خپل خپلوان ددې اهل ندې چې دادين ځما د مرګ نه پس سنبال کړي نو مراد په ﴿الۡمَوَالِیَ﴾ سره خپلوان او تربوران دَحضرت زکريا العَلَيْهِ دې او هغوئ بې دينه وو نو حضرت زکريا العَلَيْهِ دا خطره محسوسه کړه چې هغوئ به دادين خراب کړي او پديکښې به رد وبدل اوکړي. (مدارك) او مراد په ﴿مِنۡ وَّرَآءِیۡ﴾ سره من بعد موتي. دې او جار، مجرور متعلق دې په محذوف پورې اوندې متعلق په خفت پورې تقدير دَعبارت داسې دې. اى خفت فعل الموالى من بعدى الخ

﴿وَكَانَتِ امۡرَاَتِیۡ﴾ پديکښې اشاره ده نيشتوالى دَاسباب ظاهريو ته. نوم دَهغې کوروالا. اشاع بنت فاقود بن ميل وو، چې خوروه دَحنة بنت فاقود چې هغه دَ مريم بى بى موروه. او عمر دَاشاع په دې وخت کښې عمر (۹۲) کاله وو. او ﴿عَاقِرًا﴾ صفت دَمؤنث او مذکر دواړو واقع کيږي هغه چاته وئيلې کيږي چې اولادئې نه کيږي که بوډاوي که غير بوډاوي او ولد ته ﴿عَاقِرًا﴾ په معنى دَمعقورة سره دې تفصيل ئې په آل عمران ايت نمبر (۴۰) کښې تيرشويدې ﴿فَهَبۡ لِیۡ مِنۡ لَّدُنۡكَ﴾ دا مقصود بالدعا او بالنداء دې چې څه هم کمزورى يم بوډا يم او کور والا مې هم عقيمه (شنډه) ده دهغې باوجود ته په ولد ورکولو باندې قادر ئې نو ماته بچې راکړې، نو مراد دَ ﴿وَلِيًّا﴾ نه صلبى ولد او بچې دې.

﴿يَّرِثُنِیۡ وَيَرِثُ مِنۡ﴾ دا دواړه په رفع سره صفتين دى دَ ﴿وَلِيًّا﴾ لپاره. او په کوم قرائت کښې چې په جزم سره راغليدې بناء پدې چې جوابين دي دَ ﴿اِذۡ نَادٰى﴾ لپاره نو هغه ضعيف دې او مراد په وارثت سره وراثت دَدين دې په نيز دَاهل السنة والجماعت. او استدلال دَشيعه ګانو پدې آيت سره لپاره

ددي چې په اموال دانبياء كرامو عليهم السلام كښې وراثت جاري كيږي.نولهذا حضرت فاطمة رضي الله عنها دحضورﷺ دمال مستحقه وه اوهغه ده ميراث نه محرومول ظلم وو.باطل دي ۱ يوددې وجه نه چې حضورﷺ ارشاددي.انامعشرالانبيآء لانورث ماتركنا صدقة(رواه البخاري)نوپدې حديث كښې دټولوانبياء كرامو په باره كښې دي چې.لانورث.چې انبياء كرام عليهم السلام ميراث نه پريدي بلكه كچرته مال ئې پاتې شي نوهغه به صدقه وي.اوداحديث مؤيدباجماع الصحابة رضي الله عنهم دي.۲.اودغه شان روايت نقل كړيدې امام ابوداؤد په كتاب العلم كښې چې انّ العلماء ورثة الانبياء.لم يورثوا دينارا ولادرهما ورثوا العلم الخ(ابوداؤد)داروايت.هم صريح دي پدې چې انبياء كرام ددينار اودراهم وراثت نه پريدي. بلكه دهغوئ وراثت په دين كښې دي اوداروايت اگرچه صحيح لذاته خوندي ليكن صحيح لغيره دي.ځكه چې ددې مدارپه حفص بن سليمان باندې دي اوهغه متكلم فيه دي خوليكن په طرق متعددسره مروي دي، نوددې وجه نه حسن لذاته اوصحيح لغيره مرتبې ته رسيږي.اوددې وجه نه امام نووي رحمه الله ددې حديث په باره كښې فرمائي انه ضعيف وان كان صحيحا اوداروايت په خپله دشيعه گانولوئي امام محمدبن يعقوب كليني په خپل جامع كښې دامام جعفرصادق رحمه الله نه پدې الفاظونقل كړيدې.عن ابي عبدالله جعفرالصادق رحمه الله انه قال ان العلمآء ورثة الانبياء وذلك ان الانبيآء لم يورثوا درهما ولادينارا وانماورثوا احاديث من احاديثهم فمن اخذبشئ منهافقداخذبحظ وافر، اوپديكښې په حصرسره(انما ورثوا)ذكرشويدې چې دانبياء كرامو ميراث په علم اواحاديثوكښې وي،اوپه مال،دنياكښې نوي(۳)اودغه شان سياق دايت هم دلالت كوي چې دلته دميراث نه مراد په علم اودين كښې ميراث مراددي. ځكه چې ايت داسې دي .﴿يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنْ ءَالِ يَعْقُوبَ﴾چې پدې كښې دټول ال يعقوب دميراث ذكردي نوكچرته ميراث نه مراد مال كښې ميراث مرادشي نوحضرت يحيىٰ عليه السلام به څرنگه دټول آل يعقوب ميراث اغستلو.دابالكل ممكنه نده

اودايت په تاويل كښې داسې قول كول چې ((يرثني مالا ويرث من آل يعقوب النبوة والحكمة)) لكه چې دامنقول دى دحضرت حسن بصرى رحمه الله وغيره نه نواولاً خوددې په اتصال كښې كلام دي اوثانيا داقول مترو ك اومهجوردي ځكه چې مخالف دې دصحيح حديث نه.اوامام قرطبي رحمه الله

فرمائی چې وكل قول يخالف قول النبي ﷺ فهومدفوع مهجور(قرطبی)چې هرقول چې مخالف وی دَقول دَحضورﷺ سره نوهغه به مدفوع اومهجوروی.

(۴)اودغه شان قرينه عقليه هم پدې موجوده ده چې پدې ځائ كښ دَميراث نه مراد ،ديني ميراث دې نه دنيوي، ځكه چې حديث كښ دي چې حضرت زكريا عليه السلام نجاروو يعنی تركانی به ئی كوله اوهغه به ئی هم دَقوت لايموت په درجې كښ وه ورنه اكثراوقات به ئی په عبادت كښ تيرولو ،نودَيوعام انسان اومسلمان په باره كښ داګمان نشی كيدلی چې هغه سره يوه روپئ يادوه روپئ وي اوپه اخيری عمركښ صرف دَبچې دعا ددې لپاره كوی چې ځمادايوه روپئ ځماميراث خورو ته پاتی نشی نودَجليل القدرپيغمبرپه شان كښ دَداسی بخل تصوربه څرنګه كيديشي.

اوكه څوك اعتراض اوكړی چې وراثت حقيقت دې په انتقال دَمال كښ اواستعمال ئی په اخذ دَعلم كښ مجازدې، ځكه چې كله هم وراثت لفظ خالی عن القرآئن وی نومتبادرالی الفهم دَمال والا معنیٰ ده اوداقرينه ده چې اوله معنیٰ ئی حقيقی ده اوبلاضرورت مجازته ارتكاب كول جائزندی؟

جواب دادې لفظ وراثت مشترك دې په اشتراك معنوی سره وراثت دَعلم ،منصب اومال ټولوكښ،اوهرچه دې اختصاص ئی په مال پورې دادَقبيلی دَمنقولات عرفيونه دې لكه دابۃ چې لغت كښ كل مايدب علی الارض ته وئيلی كيږی خوليكن په عرف عام كښ استعمال ئی په ذات قوائم الاربع پورې خاص كړې شويدې،اوكچرته تسليم كړو داخبره چې استعمال دَميراث لپاره دَعلم مجازدې نوبياهم مجازمتعارف دې چې دااولی دې دَحقيقت نه اوخاص طورپه قرآن كښ استعمال دَميراث دَعلم لپاره شويدې لكه ثم اورثنا الكتب الذين الخ دغه شان ان الذين اورثوا الكتب، دغه شان داقول دَالله تعالیٰ فخلف من بعدهم خلفٌ ورثوا الكتب الخ شو.

اوپه مال كښ استعمال ئی ډيركم دې اوپه قرائنوسره دې، مزيدتحقيق علامه.آلوسی رحمه الله په روح المعانی كښ كړيدې.

﴿وَاجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا﴾رضی په معنیٰ دَمرضياسره دې، يعنی دې په اخلاقواوافعالوكښ بهترين اوګرځوی، اوياپه معنیٰ دَراضياسره دې چې دې ستاپه قدراوقضاباندې راضي وي،

اوكه څوك اشكال اوكړی چې پيغمبرﷺ خووي معصوم نوبيادَدې جملی ضرورت څه وو؟

نوجواب دادې چې داجمله په حقيقت کښې تاکيد دې دَماقبل لپاره نودَايت مقصد دادې چې ده ته دَانبياء کرامو والا اعلىٰ اخلاق اوصفات ورکړې يعنی پيغمبرئی اوګرځوی، (فتح القدير).

﴿يَٰزَكَرِيَّآ إِنَّا﴾ پدې کښې ذکردَاستجابت ددعا دَحضرت زکريا ﷺ دې اودلته عبارت مقدردې نوتقديردَعبارت داسې دې، فاستجاب الله له دُعائه فقال يازكريا الخ اوپه مينځ دَبشارت اوولادت بچې کښې صرف يوه مياشت فرق وو، اوغوره قول دادې چې دابشارت اوخطاب پواسطه دَفرشتې سره وو، لکه په سورة ال عمران کښې فنادته الملئكة الخ ﴿ٱسْمُهُۥ يَحْيَىٰ﴾تعيين دَنوم دَتاکيددَوعدې لپاره، اودَحضرت يحيىٰ ﷺ شرافت لپاره دې اويحيىٰ لفظ عربی اودَمضارع ده په اصل کښې ده "يُحيِىٰ دينَ الله" اوداجمله علم واقع شويده اوپه کلام عرب کښې ددې نظيرونه دي لکه يعمر، يموت وغيره شو اويالفظ عجمی دې(تفصيل ئې عمران کښې تيرشويدې).

﴿لَمْ نَجْعَل لَّهُۥ مِن قَبْلُ سَمِيًّا﴾، "سَمِىّ" په معنىٰ دَهم نام" سره دې، نومقصددَايت دادې چې دَدينه مخکښې دَيحيىٰ نوم دَچاهم نوو، بچې هم عظيم اونوم ئې هم عظيم، اوعلامه زمخشری فرمائی چې پديکښې دليل دې پدې چې خائسته اوصحيح نوم ايخودل دَخاندانی شرافت تقاضه ده اواهل علم سره زيات مناسب ده (کشاف).

اويا﴿سَمِيًّا﴾په معنى دَشبيه اونظيرسره دې لکه چې په دې سورت کښې روستوراځی، هل تعلم له سميّا، چې مونږه دَده شبيه اونظيرندې پيداکړې

اودانفی دَمماثل په څه کښې ده؟(۱) نوحضرت تهانوی رحمه الله فرمائی چې داپه خاص اوصافو کښې ده چې دې ولدته به څه خاص اوصاف مونږه ورکړو چې هغه اوصاف به په هغې درجې کښې بل چاته نوې ورکړې شوی مثلًا دَخشيت الهی خاص درجې والا رقت قلب وغيره اودافضيلت جزئی قادح ندې دَمرتبې دَنوروانبياء کرامو عليهم السلام لره، اوامام رازی رحمه الله فرمائی چې دَدينه مراد هغه اوصاف دي چې په سورة عمران کښې ذکردی چې "سَيِّداً وحَصُوراً"دې اوداجمله په جواب دَهغې جملی کښې ده چې حضرت زکريا ﷺ اوفرمائيلوچې ﴿وَٱجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا﴾نوګوياچې داغاية رضاده(۲) بعض فرمائی چې هرولدلپاره نوم خپل والدين وغيره ايږدی خوورستودَپيداکيدلونه اوحضرت يحيىٰ ﷺ خصوصيت داووچې قبل الولادة دَده نوم الله ﷻ ايخودلی وو نوګوياچې پدې خاصيت کښې دَده څوک

مثل په تيره شوي زمانه کښې نيشته۴، اوبعض فرماني چې دده پلار حضرت زکريا ﷺ بوډاووا ومورئې بوډئ اوعاقره وه نودغه شان والدينونه بچې پيدا کيدل ډيرنادردي نوپدې وصف کښې نفي دَمثل مرادده. اوددينه علاوه نوراقوال پکښې هم راغليدي ﴿قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ﴾ داجمله مستانفه ده گويا چې سائل سوال اوکړو چې فماذا قال ﷺ حينئذ؟ نوجواب اوشوچې قال الخ او﴿أَنَّىٰ﴾ په معنی دکيف سره دې اوداسوال دَحضرت زکريا ﷺ په باری دکيفيت کښې دی چې داُبچې پيداکيدل به په کومی طريقی سره وي آيامونږ به دوباره ځوانان کيږو يابه نوی واده کوم يابه پدې حالت کښې يو؟ نولهذا داسوال دَحضرت زکريا ﷺ لپاره دَانکاريااستبعادنوو. اوداهم ممکنه ده چې﴿أَنَّىٰ﴾په معنیٰ دَمِنْ أَيْنَ سره شی اومقصود تنه انکاراواستبعاد شی فقط صورة لپاره دَتکراردَبشارت چې په دويم خلی بيادابشارت ورته واوره ولی شي اودَخوشحالئ په موقعوکښې داسې کلام شائع اوکثيردي﴿يَكُونُ لِي غُلَٰمٌ﴾، "کان" يا تامه ده او﴿غُلَٰمٌ﴾ ئی فاعل دې اويا"کان" ناقصه دې اوغلام ئی اسم دې اوخبرئی يا﴿أَنَّىٰ﴾دې چې مقدم دې اوياخبرورله﴿لِي﴾جارمجرورسره دَمتعلقه دي

﴿وَكَانَتِ ٱمۡرَأَتِي﴾دادوه مانعه دَولادت ذکرکوی چې کوروالا مې هم شنډه ده اوپه خپله هم بوډايم. اوداجمله په تقديردَقد، سره حال واقع شويده دضميرمتکلم نه اودغه شان.﴿وَقَدۡ بَلَغۡتُ مِنَ ٱلۡكِبَرِ﴾هم حال واقع شويده دَضميرمتکلم نه اودا دواړه جملی دَتاکيددَتعجب يااستبعاد لپاره دي او﴿عِتِيًّا﴾دَعتی يعتونه دې وئيلی کيږی سرکشی اوانتهاء ته، دلته تنه مراد دَبوډاوالی اخری حدته رسيدل دی

قَالَ كَذَٰلِكَ ۚ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ وَقَدۡ خَلَقۡتُكَ
اوئيل الله ﷻ همدغه شان به بې تاسو، وئيلی دی رب ستاچې داکارپه ماباندې اسان دې اوپه تحقيق سره ماپيدا کړې وې نه
مِن قَبۡلُ وَلَمۡ تَكُ شَيۡـٔٗا ۞ قَالَ رَبِّ ٱجۡعَل لِّيٓ ءَايَةٗ ۚ قَالَ ءَايَتُكَ
مخکښې دده نه، اونوې ته هيڅ څيز. اوئيل دده اې ربه څما اوګرځوه ماله يوه نښه اوئيل الله ﷻ چې نښه ستاداده

اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَ لَيَالٍ سَوِيًّا ۝۱۰ فَخَرَجَ عَلٰى قَوْمِهٖ

جي خبري به نشي كولى ته دخلكوسره دري شپي حال داچه، روغ به ئى. پس را اووتلو په قوم خپل باندې

مِنَ الْمِحْرَابِ فَاَوْحٰى اِلَيْهِمْ اَنْ سَبِّحُوْا بُكْرَةً وَّعَشِيًّا ۝۱۱ يٰيَحْيٰى

دعبادت خاني نه پس اشاره ئى اوكړه دوئ ته چې تسبيح وائى صبائى اوبيګائى اونيل مونږه، اې يحيى عليه السلام

خُذِ الْكِتٰبَ بِقُوَّةٍ ؕ وَاٰتَيْنٰهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا ۝۱۲ وَّحَنَانًا مِّنْ لَّدُنَّا وَزَكٰوةً

نيسه ته كتاب په كلكه سره اوور كړې وه مونږه ده ته پوهه ددين په ورو كوالى كښې. اوترس كول په مخلوقاتو د طرفه زمونږه اوپ كوالى

وَكَانَ تَقِيًّا ۝۱۳ وَّبَرًّا ۢ بِوَالِدَيْهِ وَلَمْ يَكُنْ جَبَّارًا عَصِيًّا ۝۱۴ وَسَلٰمٌ عَلَيْهِ

اوزو دې تقوى دار. او احسان كوونكى دمورپلار سره اونو ظلم كوونكى په خلكو اونافرمانه. او سلامتيا ده په ده باندې

يَوْمَ وُلِدَ وَيَوْمَ يَمُوْتُ وَيَوْمَ يُبْعَثُ حَيًّا ۝۱۵

په كومه ورځ چې دې پيدا كړې شو اوپه كومه ورځ چې مركولې شي اوپه كومه ورځ چې دوباره ژوندې كړې شي

﴿قَالَ كَذٰلِكَ﴾ دا جواب دې دجانبه دالله ﷻ نه چې خبره هم دغه شان ده چې ته اوستا بي بي په هم پدغه حالت باندې به يئ اوداګرچه دتعجب خبره ده ستاليپاره خو الله ﷻ باندې ډيراسانه ده او الله ﷻ به درنه بچې پيدا كړي.

﴿كَذٰلِكَ﴾ په محل درفعي كښې دې اوخبردې دمبتدا مقدر لپاره په اصل كښې داسې دې الامر كذلك اويامبتداء "انتما" دې يعنى "انتماكذلك" اوبعض علماء فرمائى چې دا په محل دنصب كښې دې اومفعول مطلق دې د ﴿قَالَ﴾ لپاره په اعتبار دموصوف مقدره سره، اى قال قولا مثل ذلك.

اوپه ﴿كَذٰلِكَ﴾ سره اشاره ده يو امرمبهم ته چې تفسيرئى په ، ﴿هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ﴾ سره شويدې لكه په وقضينا اليه ذلك الامر ، كښې مشار اليه دذلك امرمبهم دې چې تفسيرئى انّ دابرهولآء الخ سره شويدې ﴿وَقَدْ خَلَقْتُكَ مِنْ قَبْلُ﴾ مضاف اليه دقبل لپاره ﴿يٰيَحْيٰى﴾ ده اى قبل يحيى ﴿وَلَمْ تَكُ شَيْئًا﴾ مرادتنه معدوم دې اوپدې سره اهل السنة والجماعت استدلال كړيدې چې معدوم شئ نوى

اومرادپدې سره ابتدائي تخليق دبشردې. ځکه چې په هغه وخت کښې انسان معدوم محض وو ،اوداسې اونوئيلي شووقدخلقت اباك ولم تك شيئا لپاره دتاکيددحجت اولپاره دتوضيح دقياس،چې ادم عليه السلام نوموجود نواولادئي خوبالکل معدوم محض وو اوته هم معدوم محض وې نوالله تعالیٰ دومره عظيم قدرت والادې چې انسان له ئې دخاورو نه وجود ورکړو صورت ئې ورله ورکړو اوموجود ئې کړو نوپديکښې څه قسم استبعاد اوتعجب نيشته دې چې ستالپاره به ولدستانه پيداکړي،اوبعض مفسرين فرمائي چې مرادپدې سره تخليق په طريق دتوالد اوانتقال سره دې،نومقصددادې چې ته موجود نوې نوالله تعالیٰ په طريقې معتادې سره دخپلوالدينونه مختلف اطواروته منتقل کيدلونه پس پيداکړې نودغه شان به الله تعالیٰ ستاولدهم دنياته راولي

﴿قَالَ رَبِّ ٱجۡعَل لِّيٓ﴾دادرخواست دې دحضرت زکريا عليه السلام دېوې نشانئ په حمل دخپلې بي بي باندې،اودادرخواست ئې لپاره داستعجال بالتبشيرو اولپاره دشکر ادا کولووو دابتداء دزمانې دعلوق نه ترانتهاء دزمانې دولادت پورې اوچونکه حمل اوعلوق لپاره قرينه ظاهره بندش دحيض وې اودحضرت زکريا عليه السلام بي بي دکبرسنئ(بوډئ والئ)دوجې نه آيسه ګرځيدلې وه يعنې ماهوارې ورته نه راتلله،نودې وجه نه حضرت زکريا عليه السلام دشکراداکولولپاره دابتدائي زمانې دعلوق لپاره قرينه اوعلامه اوغوختله،﴿قَالَ ءَايَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ ٱلنَّاسَ﴾هرکله چې حضرت زکريا عليه السلام نشاني طلب کوله لپاره دزيارت شکر، نوالله تعالیٰ دطرف نه ورته نشاني هم داسې ميلاؤشوه چې هغه معينه اومددګاره وه په زيارت دشکرکولوکښې چې هغه دانسانانوسره خبرې نه کول وو ،اوصرف دالله تعالیٰ ذکرکولوباندې استطاعت اوقدرت وو، اوغوره قول دادې چې ﴿أَلَّا تُكَلِّمَ ٱلنَّاسَ﴾ نفي ده چې ته به دخبروطاقت نه لرې دخلکوسره، اوبعض فرمائي چې دانهي ده دخبروکولونه دخلکوسره اومقصد دادې چې ته درې ورځې دخلکوسره خبرې مه کوه،نوګويا چې داروژه شوه دخبرونه،اوداهغوئې په دين کښې جائزوو ، لکه ورستو دحضرت مريم عليها السلام په واقعې کښې هم دي چې﴿إِنِّي نَذَرۡتُ لِلرَّحۡمَٰنِ صَوۡمٗا﴾..

﴿ثَلَٰثَ لَيَالٖ﴾په سورة آل عمران کښې ايت نمبر(۴۱)کښې لفظ دايام ذکرشوې ووهغه قصه اوداواقعه يوه ده،نوهلته کښې اکتفاء شوې ده په ذکردورځوباندې اګرچه ليال يعنې شپې ورسره هم مراد وې، اودلته اکتفاء اوشوله په ليال باندې اګرچه ايام ورسره هم مراددي،اوداکتفاء په

عرف کښې شائع ده البته هلته دَايام ذکراوشواودلته دَليال ذکراوشواوبالعکس اونشونکته داده چې سورة مريم په اعتبارِدَنزول سره مقدم دې ځکه چې مکی دې اوشپه هم مقدمه ده په ورځې باندې طبعا اوسورة آل عمران مدنی دې مؤخردې اوورځ هم مؤخره ده طبعا په شپې باندې،نوددې وجه نه مقدم طبعی ذکردَمقدم نزولی سره اوشولواومؤخرطبعی ذکردَمؤخرنزولی سره اوشولو، اوهرکله په لاس باندې اشاره دَشپې نه ښکاريږي بلکه دَورځې په وخت کښې ښکاريږي نودَدې وجه نه په سورة آل عمران کښې ورسره،الاّ رمزا هم ذکرشوې وو او ﴿سَوِيًّا﴾نه مراد دادې چې ته به بالکل تهيك تاك وې اوداخبرې نه کول به دَوجې دَمرض نه نوې بلکه په طريقې دَاعجازسره به وې چې صحيح سالم به وې خلکوسره به خبرې نشې کولې اودَالله ﷻ ذکربه کولې شې (ابوالسعود).

﴿فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ﴾نودغه شان اوشوله چې کله وقت مقرره راغی نوحضرت زکريا عليه السلام په خبروکولوباندې قادرنوو اوخلك ورته په انتظارناست وو نودې دَخپلې کمرې اومحراب(خانقاه) نه راواوتلو اوخلکوته ئې په اشارې باندې اوئيل چې تاسوخپل مونځونه کوئ، نومرادپه﴿ٱلْمِحْرَابِ﴾سره هغه اوچته کمره ده چې حضرت زکريا عليه السلام به پکښې عبادت کولو اومحراب صيغه دَاسم ظرف ده يعنی ځائ دَجنګ کولواوچونکه دامقام هم دَشيطان سره دَجنګ کولو والادې نوځکه ورته محراب وئيلی کيږي

اومرادپه ﴿فَأَوْحَىٰٓ إِلَيْهِمْ﴾ سره معنی لغوی ده يعنی اشاره کولواوپه ال عمران کښې تنه تعبيرپه ،الّارمزا،سره شويدې اوداشاره ياپه لاس سره وه اوياپه شونډوسره وه، اوامام مجاهد رحمه الله فرمائی چې مرادتنه کتابت دې،يعنی هغوئ ته ئی اوليکلو ، ليکن اوله معنی زياته راجحه ده.

﴿أَن سَبِّحُوا۟﴾ ،ان، تفسيريه دې او﴿سَبِّحُوا۟﴾نه په نيزدَاکثراهل علم مراد مونځ دې، ځکه چې مونځ مشتمل دې په تسبيح باندې،او﴿بُكْرَةً وَعَشِيًّا﴾نه دَسحراومازيګرمونځونه مراددې، اوبعض علمآء فرمائی چې دَ﴿سَبِّحُوا۟﴾نه مراد مطلق دَالله ﷻ ذکراوتسبيح دې اوهرکله چې حضرت زکريا عليه السلام مامورووپه ذکردَالله ﷻ باندې نوهغه خپل قوم ته هم داحکم اوکړو ،(روح) اوپه﴿بُكْرَةً وَعَشِيًّا﴾سره مراد کل اوقات دی اوتخصيص ددې دوه اوقاتو دَافضيلت دَوجې نه

دي ﴿يَٰيَحۡيَىٰ خُذِ ٱلۡكِتَٰبَ﴾ دلته عبارت مقدر دي تقديري دا سې دي. فلما ولد يحيى وكبروبلغ السن الذي يومر فيه قال الله له الخ (بحر) يعني چې كله حضرت يحيى الطيلا پيدا شو او غټ شو او د عمر هغه حدته اورسيدلى وو چې په هغې كښې حكم كولى شي چانه ئې په هغې وخت كښې ورته الله تعالىٰ اوفرمائيلو چې.يايحيى الخ او الف لام په ﴿ٱلۡكِتَٰبَ﴾ كښې عهدى دې مراد تنه توراة دې. او ﴿بِقُوَّةٍ﴾ سره اشاره ده پورا پورا عمل كولو ته ﴿وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡحُكۡمَ صَبِيّٗا﴾. دا اول وصف د حضرت يحيى الطيلا ذكر كيږي، چې وړوكوالي په حالت كښې ورته ددين پوهه وركړې شوې وه. او د ﴿ٱلۡحُكۡمَ﴾ ډير معانى ذكر كړې شوي دي، غوره معنى دا ده چې حكم نه مراد فهم او پوهه ددين ده په يو مرفوع روايت كښې د ابن عباس الطيلا نه مروى دې چې حضرت يحيى الطيلا ته يو څلى هلكانو اوئيل راځه چې لوبې اوكړو نو هغه ورته اوئيل چې آيا مونږ د لوبو لپاره پيدا كړې شوى يو؟ راځئ چې مونځ اوكړو او ابن عباس رضي الله عنه نه دا هم مروى دې چې كوم بچې د بلوغ نه مخكښې قرآن مجيد اوئيلو نو هغه هم په دې صفت كښې داخل شو، عن ابن عباس رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من قرا القرآن قبل ان يحتلم فهو ممن اوتى الحكم صبيا (مستدرك حاكم).

او بعض مفسرين فرمائي چې ﴿ٱلۡحُكۡمَ﴾ نه مراد نبوت دې او د حضرت يحيى الطيلا او د حضرت عيسى الطيلا خصوصيت دا دې چې دوئ ته په وړوكوالى كښې قبل البلوغ نبوت ميلاؤ شويدې نورو انبياء كرامو ته به نبوت د څلويښت كالونه پس ميلاويدلو ﴿وَحَنَانٗا مِّن لَّدُنَّا﴾ په ديكښې بل وصف د حضرت يحيى الطيلا والا ذكر كيږي او دا عطف دې په ﴿ٱلۡحُكۡمَ﴾ باندې. دا مشتق دې د حنين نه وئيلى كيږي بى حده اشتياق ته او دا چا په فراق كښې جزع ته او بيا استعماليږي د رحمت په معنى كښې. يعنى د يحيى الطيلا په زړه كښې الله تعالىٰ د انسانانو سره شفقت او رحم كولو جذبه پيدا كړه، ﴿وَزَكَوٰةٗ﴾ دا دريم وصف دې، مراد تنه بركت او د ښه اخلاقو والا كيدل دى ﴿وَكَانَ تَقِيّٗا﴾ څلورم وصف دې، چې نه ئې گناه كړې وو او نه د گناه اراده ورته راغلى وه ﴿وَبَرَّۢا بِوَٰلِدَيۡهِ﴾ دا پنځم وصف دې يعني د مور او پلار دواړو سره احسان كوونكى وو .ماقبل صفت ﴿وَحَنَانٗا﴾ نسبت عامو خلكوته وو

اودا وصف ئې خاص دې﴿وَلَمْ يَكُن ﴾داشپږم وصف دې. او﴿جَبَّارًا﴾ او﴿عَصِيًّا ﴾ صيغې دمبالغې دي خودلته مراد مبالغه په نفي کښې ده نه نفي دمبالغې ده نواعتراض نه واردیږي چې که ډیرجبار اوعاصي نوو ليکن لږ لږ به وو.﴿وَسَلَٰمٌ عَلَيْهِ ﴾پدې ايت کښې نوردرې اوصاف دحضرت يحيى عليه السلام ذکرکیږی.اومراد په ﴿وَسَلَٰمٌ﴾سره امن اوسلامتيا ده﴿يَوْمَ وُلِدَ ﴾ دابتدائي ورځ وی دانسان په دنياکښې اوشيطان بچې نه تکليف رسول غواړی﴿وَيَوْمَ يَمُوتُ ﴾ ددنيااخيری ورځ اودقبراوعالم برزخ اوله ورځ وی اوانسان دقبردعذاب اودهغې دمخلوقاتو اودخپل خپلوانودفراق نه وحشت محسوسه وي﴿وَيَوْمَ يُبْعَثُ حَيًّا ﴾ دعالم اخرت اوله.ورځ وي دقيامت سخت هولناك منظروي دجهنم عذاب خوف اوخطره وي اوهرکله چې انسان په دې درې احوالوکښې ډيرضعيف وي اومحتاجه وي امدادته اوچې پدې درې احوالوکښې ورته امن اوسلامتياحاصله شي نوپه نوراحوالوکښې به طريق اولى حاصليږي نودې وجه نه ددې درې احوالوتخصيص اوکړې شو.اوبعض مفسرين فرمائی چې مراد دسلام نه تحية متعارفه يعني معروف اومشهورسلام مراددې يعني په دغې درې حالاتوکښې په ده باندې دالله جل جلاله دجانب نه بطورتشريف اوتکريم سلام به کوی ليکن اول قول زيات راجح اوغوره دي

وَاذْكُرْ فِي الْكِتَٰبِ مَرْيَمَ إِذِ انتَبَذَتْ مِنْ أَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِيًّا ﴿١٦﴾

[1] اوبيان کړه ته په کتاب(قرآن) کښې واقعه دمريم عليها السلام کله چې يوطرف ته شوه داهل خپل نه يومکان دنمرخانه طرف ته

فَاتَّخَذَتْ مِن دُونِهِمْ حِجَابًا فَأَرْسَلْنَا إِلَيْهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا

پس اونيوله ددوئ نه (بچ کيدلودپاره)پرده نواوليږلومونږ هغې ته روح(جبرئيل) دخپل طرف نه.پس اختيارئې کړو شکل هغې ته

بَشَرًا سَوِيًّا ﴿١٧﴾ قَالَتْ إِنِّي أَعُوذُ بِالرَّحْمَٰنِ مِنكَ إِن كُنتَ تَقِيًّا ﴿١٨﴾

دسړی خانسته. اوئيل دې چې بيشکه څه پناه نيسم په رحمن سره دستانه.کچرته ئې ته يريدونکې د الله جل جلاله نهماته څه مه وايه

[1] جواب ازشبه ثانيه متعلق بمريم شبه ازنصارى

قَالَ إِنَّمَآ أَنَا۠ رَسُولُ رَبِّكِ ۖ لِأَهَبَ لَكِ غُلَٰمًا زَكِيًّا ﴿١٩﴾ قَالَتْ

هغه اوئيل چې بېشکه ځه رالېږلی شوي يم دَطرفه دَرب ستانه چې درکړم تالره ځوئ پاکيزه.اوئيل هغې څرنګ

أَنَّىٰ يَكُونُ لِى غُلَٰمٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِى بَشَرٌ وَلَمْ أَكُ بَغِيًّا ﴿٢٠﴾

به وي مالره بچي او لاس ندې لګولې خماسره هيڅ يوبنده اونه يمه ځه بدکاره.

﴿وَٱذْكُرْ فِى ٱلْكِتَٰبِ﴾ دا دويمي شبهې جواب دې چې دَحضرت مريم او دَحضرت عيسى عليه السلام په باري کښې کيدله چې حضرت مريم عليها السلام ته بې موسمه ميوې راتلل، مافوق الاسباب بچې پيدا کيدل،اودَحضرت عيسى عليه السلام مرې ژوندي کول اونورډيرعجيبه اوناآشنا امورظاهريدل پدې دليل دې چې دوئ متصرف اوحاجت روادې، نوپدې رکوع کښې ددغې شبهې تفصيلي جواب ذکرکيږي، چې دَحضرت مريم عليها السلام پناه طلب کول په الله تعالىٰ سره حضرت جبرئيل عليه السلام نه پيژندل، دَبچې پيدا کيدل اودَهغې درد اوتکليف محسوسول، دَمرګ تمناکول اونذرروژه نيول دا ټول دلائل دَعجزدهغې دې، اوحضرت عيسى عليه السلام په خپله خپل عجزبيان کړيدې اوخپل ځان ته ئې عبديت ثابت کړيدې،اوخپل ځان په باره کښې ئې فرمائيلي دي چې ځه نبي يم ماموريم په عباداتو، اوپه سلامتيا کښې الله تعالىٰ ته محتاجه يم،اوپه ډيرصراحت سره ئې اعلان کړيدې چې ﴿وَإِنَّ ٱللَّهَ رَبِّى وَرَبُّكُمْ فَٱعْبُدُوهُ﴾ نو دا ټول پدې دليل دې چې حضرت عيسى عليه السلام ته تصرف کامله حاصل نوو.

﴿فِى ٱلْكِتَٰبِ﴾ نه مراد قرآن دې ﴿إِذِ ٱنتَبَذَتْ﴾ دا مشتق دې دَنبذ نه اونبذ (مجرد) وئيلی کيږی رمی اوغورځولوته او(مزيد)باب افتعال نه وئيلی کيږی اعتزال عن الناس ته يعني دَخلکونه ځان ته يوطرف ته کيدلوته وئيلی کيږي اودابدل اشتمال دې دَماقبل "مريم"نه نولهذا مقصود ذکردَحضرت مريم نه دې بلکه مقصود اصلي ذکردَهغې وقت دې چې داعجيب اوغريب واقعه پکښې رونماشوې وه (کشاف) او﴿مِنْ أَهْلِهَا﴾ دا جارمجرور متعلق دی په ﴿إِذِ ٱنتَبَذَتْ﴾ پورې،اواهل نه مراد هغه خلک دی چې هلته يعني په مسجداقصیٰ کښې موجودوو،او﴿مَكَانًا

﴿شَرْقِيًّا﴾نه جانب شرقی دَبیت المقدس مراددې (ابن كثير) اوبعض فرمائی چې جانب شرقي دهغې دكور مراددې.

اونصب دَ﴿مَكَانًا﴾ كښې اختلاف دې بعض فرمائي چې دامنصوب دې بنابرظرفيت اوبعض فرمائي چې دامفعول به دې دَ﴿إِذِ ٱنتَبَذَتْ﴾ لپاره،او﴿ٱنتَبَذَتْ﴾متضمن دې معنٰى دَاتيان لره، ليكن غوره قول دادې چې مكانا مفعول به دې دَفعل مقدرلپاره، نواصل كښې داسي دې، واتت مكانا شرقيا(ابو السعود).

اوجانب شرقي ته راتلل دَڅه لپاره وو؟ نوبعض فرمائي چې دَغسل لپاره وو چې كله ديته حيض رغي نوبيادَطهارت حاصلولولپاره دَخپل كورنه لري يوشرقي جانب ته لاړه اوبعض فرمائي چې غسل طهارت لپاره نوه تللي بلكه خپل سروينځلواو،مونزكولولپاره تلى وه، اوبعض فرمائي چې تږى شوي وه نودَاوبوڅكلولپاره تلى وه، ليكن غوره خبره داده چې داجانب شرقي ته دَعبادت لپاره راغلي وه ځكه چې دابه په مسجد اقصىٰ كښې پاتي كيدله اوهلته كښې به نورعابدين هم وو، نودادَخلكونه جدا شوه اوپه جانب شرقي كښې ئې عبادت شروع كړلو،اوابن عباس رضي الله عنهما نه منقول دى چې نصارى چې دَجانب شرقي تعظيم كوي نودهغې وجه هم داده، ليكن دادَعيسيانويوبدعت دې ځكه چې دَحضرت مريم عليها السلام جانب شرقي ته جداكيدل محض اتفاقي وو، دَجانب شرقي دَتعظيم په بنياد نه وو.

بهرحال: دَعبادت لپاره، يادكورنه لري جانب شرقي ته دَغسل كولولپاره لاړه،نوپه هغي ځائ ورته حضرت جبرئيل عليه السلام دَالله تعالىٰ په حكم سره دَيوخائسته انسان په صورت كښې ظاهرشو لكه چې الله تعالىٰ فرمائي ﴿فَأَرْسَلْنَآ إِلَيْهَا رُوحَنَا﴾نه مراد حضرت جبرئيل عليه السلام دې اوبعض مفسرين فرمائي چې روح نه مراد دَحضرت عيسى عليه السلام روح دې چې انسانى صورت كښې حضرت مريم عليها السلام راغلى وو ،ليكن داقول ضعيف دې حافظ ابن كثير رحمه الله فرمائى وهذا فى غاية الغرابة والنكارة وكانه اسرائيلى(ابن كثير).

﴿فَتَمَثَّلَ لَهَا﴾تمثل وئيلى كيږى تشكل ته يعني دَبل چاشكل اوصورت اختياره ول، نوحضرت جبرائيل عليه السلام حضرت مريم عليها السلام ته په يوخائسته شكل اوصورت انساني كښې ظاهرشو ،اوپه شكل انساني كښې ظاهريدلووجه داوه چې حضرت مريم عليها السلام گبهراؤنشي اودهغه په

خبرو باندي پوهه شي اوکچري حضرت جبرئيل عليه السلام په صورت دَملك اوفرشتي کښ راغلی وی نو بيا به حضرت مريم عليها السلام ګبهراؤشوې هم وه اودهغه په خبروباندي به پوهه شوي هم نوه (کبير).

اوبعض فرمائی چي پدي تمثل کښ دَحضرت مريم عليها السلام دعفت اوپاکدامنئ په باره کښ ازمائش اوامتحان اغستل وو.چي حضرت جبرنيل عليه السلام په يوحسين صورت کښ راغی خوحضرت مريم عليها السلام ورنه تعوذ اوپناه اوغوختله نومعلومه شوه چي دادپاکدامنئ په اعلی معيارباندي فائقه ده (کشاف).

فائده دَدي ايت نه معلومه شوه چي ملائکوته الله جل جلاله قوت ورکړيدي چي انساني شکل باندي متشکل کيدي شي اوکه څوك اعتراض اوکړي چي دَحضرت جبرئيل عليه السلام جسد خوډيرلوئ دي نوځنګه به دَيووړوکي انسان په صورت کښ راشي؟ نوجواب تنه دادي (۱) (عندالمتقدمين)چي دَحضرت جبرئيل عليه السلام راتلل په شکل انساني سره ثابت دي په نصوص قطعيه سره نو لهذا تسليم اوايمان پري راوړل ضروري دی اوکيفيت ئی مفوض دي الله جل جلاله چي الله جل جلاله ته ئی صحيح علم دي (۲) امام رازي فرمائی چي دَحضرت جبرئيل عليه السلام لپاره دوه قسمه اجزاء دی. اجزاء اصليه اواجزاء فاضله. نواجزاء اصليه دَحضرت جبرئيل عليه السلام ډيرکم دی اواجزاء فاضله ئی ډيرزيات دی نوکله چي حضرت جبرئيل عليه السلام په صورت دَانسان کښ راځي نواجزاء اصليه ورسره وي فقط اواجزا فاضله ورسره نوي اواجزاء فاضله چرته لاړشي نوبعض علماء فرمائی چي اجزاء فاضله فناء کيږی شي دامذهب دَامام الحرمين دي اوبعض علماء فرمائی چي فناء کولی نشي بلکه هسي ورنه جداکړې شي اوبياورته اولګولی شي.

(۳) حافظ ابن حجر رحمه الله دَخپل استادپه حوالي سره فرمائی چي حضرت جبرئيل عليه السلام په خپل اصل حالت کښ راځي خوالله جل جلاله حضرت جبرئيل عليه السلام ته داقوت ورکړيدي چي هغه خپل ځان رااونغاړي چي کله په صورت دَانسان کښ راځي، اوچي کله اوغواړي چي خپل اصلي حالت ته واپس شي نورانغختي اجزاء دوباره کولاؤکړي، اودَدي مثال داسي دي لکه مالوچ،چي کله اوسپړولی شي نوډيرښکاريږي اوچي کله راټول کړې شي اوامنډلی شي نوبياوړوکي شي، خودابحث په هغه صورت کښ دي چي راتږ دَحضرت جبرئيل عليه السلام روح مع الجسدوی. اوکه چرته راتږدَحضرت جبرئيل عليه السلام صرف دَروح په اعتبارسره وي لکه چي ديته ذهاب کړيدي بعض محدثينو نوبياخوپکښ بالکل څه بحث اواشکال نيشته دي.

﴿قَالَتۡ إِنِّيٓ أَعُوذُ﴾ دا استعاذه دَمريمﷺ ده په رحمن سره، نومعلومه شوه چې حضرت مريمﷺ محتاجه وه الله ﷻ ته ﴿إِن كُنتَ تَقِيّٗا﴾ ،دَدي لپاره جزاء مقدره ده چې په هغې باندې سياق دكلام دلالت كړيدې نوتقديردَعبارت داسې دې ان كنت تقيافاني عائذة به منك.اوياجواب ورله. "فلاتعرض لي" دې چې كچرې متقي ئې او الله ﷻ نه خوف كوونكې ئې نوماته څه مه وايه

كه څوك اعتراض اوكړي چې استعاذه خودَفاجرنه پكاروي،نوځنګه حضرت مريمﷺ ﴿إِن كُنتَ تَقِيّٗا﴾. اوئيلو. نوجواب دادې چې ،﴿إِن كُنتَ تَقِيّٗا﴾ شرط لپاره دَاستعاذې ندې بلكه داشرط دې لپاره مكافئة اومنع لپاره خوهركله چې تقوى، مؤثره وه په منع دَغلط اقدام اوفعل كښې نوددې وجه نه ئې داصورتا شرط اوګرځولو ،اوددې مثل داقول دَالله ﷻ دې چې: وذروا مابقى من الرّبٰوا ان كنتم مؤمنين(البقرة نه ۲۷).

اوبعض فرمائي چې ﴿إِن كُنتَ تَقِيّٗا﴾ ،شرط دې او ﴿أَعُوذُ بِٱلرَّحۡمَٰنِ﴾ورله جزاء مقدم ده اوكلام محمول دې په مبالغې باندې،يعني ته كچرې نيك اومتقي ئې نوځه په الله ﷻ سره ستانه پناه نيسم، اوكچرته فاجرئې نوبياخوپه طريق اولى سره پناه نيسم،اوداقول كول چې تقى نوم دَيونيك سړى وو اوحضرت مريمﷺ په جبرئيل‎ باندې ګمان دَهغه اوكړو.ياتقى نوم ديوبدكارسړى ووچې په ښځوپسې به ګرځيدلو اوحضرت مريمﷺ په حضرت جبرئيل باندې دَهغه ګمان اوكړو او استعاذه ئې طلب كړه، داضعيف دې.

﴿قَالَ إِنَّمَآ أَنَا۠ رَسُولُ﴾هركله چې جبرئيل دهغې خوف اوكتلونوخپل تعارف ئې ورته اوكړو چې په كوم رب سره ته پناه نيسې نوځه دَهغه طرف نه راليږلى شوې يم ﴿لِأَهَبَ لَكِ﴾ داحكمت اوسبب دَارسال دې چې ددې لپاره الله ﷻ راليږلى يم چې تاته بچې دركړم.اوپه ﴿لِأَهَبَ لَكِ﴾كښې يااسناد مجازى دې، چې حضرت جبرئيل دَولد وركولونسبت خپل ځان ته كړيدې دانسبت مجازا دې ځكه چې حضرت جبرئيل سبب ګرځيدلى وو دَولد لپاره په نفخ سره اويامجازفى الحذف دې په تقديردَقول سره نواصل عبارت داسې دې چې اى ربك الذى قال ارسلت هذا الملك لاهب لك(روح) اوددې تائيدپه قرآءت دَابوعمرو اونافع سره شويدې چې په هغې

کښ دَ ﴿لِأَهَبَ لَكِ﴾ په ځائ ليهب لكِ راغليدی، بهرتقديردَدې ايت نه دَاهل بدعت استدلال باطل دې چې فرشته هم بچې ورکولی شي،بلکه اولاد ورکوونکي فقط دَالله ﷻ ذات دې بل څوك نشي کيدلی.﴿قَالَتْ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي﴾داقول دَحضرت مريم ؑ بطورتعجب دې اوداتعجب دَوجې دَاستبعاد دَقدرت دَالله ﷻ نه ندې، چې حضرت مريم ؑ دَالله ﷻ دَقدرت نه دابعيده کنړه له چې ديته بغيردَيوبشېردَنزديکت نه بچې ورکړي بلکه داتعجب په اعتبار دَعادت سره دې، ځکه چې عادت پدې جاري دې چې بچې بغيردَنزديکت دَسړي نه نه کيږي،اګرچه خلاف عادت باندې الله ﷻ قادردې،اويا﴿أَنَّىٰ﴾په معنیٰ دکيف سره دې،اوداسوال دکيفيت اودَوجې دې چې آياځه به واده کووم يابه بغيردَواده کولونه به بچې پيداکيږي، ليکن اوله توجيه غوره ده.

﴿وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ﴾داوجه دَتعجب ده چې بچي کيدل دَيوزنانه ياخوپه حلال اوشرعي طريقي سره وي چې نکاح ئې شوي وي اوخاوندورسره جماع اوکړي اوبچي پيداشي اويا په حرام اوناجائزطريقي سره وي چې يوه زنانه بدکاره وي اودَبدکارئ په نتيجي کښ بچې اوشي اودادواړه دلته مفقود دي،نو﴿وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ﴾ نه مرادجماع ده په حلال طريقي سره او﴿وَلَمْ أَكُ بَغِيًّا﴾نه مراد زناده، اوبعض مفسرين فرمائی چې﴿وَلَمْ يَمْسَسْنِي﴾نه مراد مطلق جماع ده خواه که په طريقي شرعي سره وي ياغيرشرعي طريقي سره وي،او﴿وَلَمْ أَكُ بَغِيًّا﴾ دَتاکيددتنزيه لپاره دې، اولفظ دَبغی ياپه زون دَفعول دې په اصل کښ "بَغُوْيٌ" وو، "واو" ساکن دَ "ياء" سره جمع شونودَقانون مرمی مطابق واوپه "ياء" سره بدل کړې شواويا،په ياء کښ مدغم کړې شوه او "ياء" مناسبت دوجهي نه ماقبل ضميرپه کسره سره بدل کړيشوه،نوبغيٌّ تنه جوړشو اويا په وزن دَفعيل سره دې نوفقط ادغام پکښ شويدې اوابدال پکښ نيشته دې اوفعيل بمعنی الفاعل دې اوداصفت دَمؤنث واقع شويدې اوپديکښ اګرچې تاء لرېږی خودلته ورسره لحوق تاء ندې شوې ځکه چې دې په معنیٰ دَفعول سره دې لپاره دَمبالغي، اوپه فعول کښ مذکراومؤنث دواړه برابروی اوتاء دَمؤنث ورسره نه زياتيږي نودغه شان دلته هم تاء زائده نشوه.

قَالَ كَذٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ وَلِنَجْعَلَهٗ
ونيل هغه چې دغسې به وي لكه چې دى اونيل وئيلى دى رب ستاچې داكار په ماباندې اسان دې اوګرځوودى هلك لره
اٰيَةً لِّلنَّاسِ وَرَحْمَةً مِّنَّا ۚ وَكَانَ اَمْرًا مَّقْضِيًّا ۝٢١ فَحَمَلَتْهُ
نښه دقدرت دپاره دخلكو، اورحمت دطرفه زمونږ نه، اودې داكارفيصله كړې شوې. پس حامله شوه داپه بچي سره
فَانْتَبَذَتْ بِهٖ مَكَانًا قَصِيًّا ۝٢٢ فَاَجَآءَهَا الْمَخَاضُ اِلٰى جِذْعِ النَّخْلَةِ
ګ تنګ ته شوه سره دَدغې حمل يوداسې ځائ ته چې لرې وو (دخلكونه)، نومجبوره كړه هغه درد دپيدائش يوې تنې ته دكجورې
قَالَتْ يٰلَيْتَنِيْ مِتُّ قَبْلَ هٰذَا وَكُنْتُ نَسْيًا مَّنْسِيًّا ۝٢٣
ونيل هغې هائ افسوس! چې مړه وې ځه مخكښ دَدې نه، اووې ځه هيره تيره

﴿قَالَ كَذٰلِكِ﴾ دا جواب دې دَفرشتې چې ستارب دا فرمائي چې څنګه اوس ئې هم دغه حالت

ښې به بچې پيدا كيږي (بغير دَمس بشرنه) اوداماته اسان دې، ﴿وَلِنَجْعَلَهٗٓ اٰيَةً لِّلنَّاسِ﴾ دا يا علت

دې دَمعلل اوفعل محذوف لپاره چې نخلقه د . اى نخلقه لنجعله آية للناس(قرطبي) اويا عطف دې په

دليل تعليل باندې چې هغه مضمردې نوپه اصل كښ داسې دې لنبين به قدرتنا ولنجعله اية

الخ(مدارك) اوددې په حذف باندې ﴿هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ﴾ دلالت كوي، نودايت مقصدداشو، چې الله تعالیٰ

فرمائي چې داكارماته اسان دې لپاره دَدې چې پدې سره ځه دَخپل قدرت اظهاراوكړم اودې به

وګرځوم دَخپل قدرت يونشانى دَخلكولپاره ﴿وَرَحْمَةً مِّنَّا ۚ﴾ مرادتنه نبوت دې ﴿وَكَانَ اَمْرًا

مقضيا﴾ ظاهره داده چې داتتمه دهغه كلام جبرئيل عليه السلام ده چې مريم عليها السلام ته ئې كړې وو، چې

داستابچې پيداكيدل دَالله تعالیٰ په علم كښ واقع دې، اوپه لوح محفوظ كښ ليكلې

شويدې، اوامام رازى رحمه الله فرمائي چې ددې جملې په اضافې سره مقصود حضرت مريم عليها السلام ته

تسلې وركول وو، چې دابچې بغيردَپلارنه پيداكيدل معلوم دَعلم دَالله تعالیٰ دې اوكوم څيزچې

معلوم دَعلم الله تعالیٰ شى نودهغې خلاف واقع كيدل ممتنع وي نووقوع واجب شو، اوهركله چې

وقوع ئې واجب شونوتاسف اوحزن بلافائدې شو نودَدې وجه نه ته حزن مه كوه(۲) اوداهم ممكنه

ده چې داخبار داَلله ﷻ شي حضور ﷺ ته، چې دَحضرت عيسى عليه السلام بغير داَب نه پيدا كيدل مقدر وو اوداَلله ﷻ اټله فيصله وه (ابن كثير).

﴿فَحَمَلَتْهُ﴾ فاء فصيحيه ده ددينه مخكښ عبارت مقدردې اى فاطمانت الى قوله عليه السلام فدنامنها فنفخ فى جيب درعها فوصلت النفخة الى بطنها فحملت (كشاف) يعنى حضرت مريم عليها السلام دَفرشتى په خبرى باندې مطمئن شوله اوفرشتى (جبرئيل عليه السلام) دهغې دكرتى په ګريوان ګښ پوكړلو، اوهغه پوكى دَهغې ګيډى ته اورسيدلو نوهغه حامله شوه، اوپدې وخت كښ ددې عمرڅومره وو؟ نوپديكښ اقوال متعدد راغليدى، بعض فرمائى چې لس (۱۰) كاله عمروو، بعضونه دولس كاله بعضونه ديارلس (۱۳) كاله اوبعضونه څوارلس كاله منقول دى. اوامام مجاهد رحمه الله اوحضرت وهب بن منبه رحمه الله نه مروى دى چې حضرت مريم عليها السلام عمرپنځلس (۱۵) كاله وو (بحر). ﴿فَانْتَبَذَتْ بِهِ﴾ نوهركله چې حضرت مريم عليها السلام حمل محسوس كړو نودكوركلي نه لرى دَشرم اودپيغوردَخوف نه يوطرف ته لاړه، اوحضرت وهب بن منبه رحمه الله نه منقول دى چې حضرت مريم عليها السلام بيت اللحم ته لاړه چې دَبيت المقدس نه شلورميله لري دې (قرطبى).

او"به" كښ باء دَمصاحبت لپاره ده اي مصحوبة به اى اعتزلت وهوفى بطنها (بحر) اويابادسببية ده ﴿فَأَجَاءَهَا الْمَخَاضُ﴾، ﴿فَأَجَاءَ﴾ ماضى دَباب افعال ده دَجآء نه اوهمزه لپاره دَتعدية ده، اوعلامه زمخشرى اونورجمهورمفسرين ددې قائل دى چې دَاجاء معنى صرف راوستل ندى بلكه يوكس مجبوركړې شي اوپه زبردستئ سره راوستلى شي نوپه هغې ځائ كښ استعمال دَاجاء كيږي، لكه عرب دَهغى كس په باره كښ چې ډيرمجبورشي اوچاته راشي نوداسي وائى، شرٌمااجاءك الى مخة عرقوب. نولهذا دايت مقصد دادې چې حضرت مريم عليها السلام دَولادت دَدرد نه مجبوره شوه نودغي مجبورئى دَوني يوي ستى ته راوستله، اوپه مدت دَحمل دهغې كښ اختلاف شويدې بعض مفسرين فرمائى چې حمل اوولادت كښ وخت ډيركم وو څكه چې دلته ﴿فَحَمَلَتْهُ﴾، ﴿فَانْتَبَذَتْ﴾، او ﴿فَأَجَاءَهَا﴾ كښ فاء راغليده چې دادلالت كوي په تعقيب مع الوصل يعني تراخي بلامهلت باندې. نومعلومه شوه چې دَنفخ نه پس متصل ظهوردَحمل شويدې اوبيازراوفورا ولادت شويدې اودَدي وجه نه دځنومفسرينونه منقول دي چې دَحمل ظهوراوولادت داټول په يوساعت كښ شويدي اوبعض فرمائى چې داټول په دري ساعاتوكښ شويدې، ليكن دَابن عباس رضي الله عنه نه مروي

دى چې حمل ددې ممتد وولکه څنګه چې دعاموزنانووی، نوداَبن عباس الطّیّیّلا په نیزمدت دحمل نهه میاشتی وو اودحضرت عطاء اوابوالعالیه اودضحاك قول دادې چې اوه(٧)میاشتی وو.اودبعضونه شپږمیاشتي هم راغلیدی علامه آلوسي رحمه الله دحضرت ابن عباس رضي الله عنه قول ته ترجیح ورکړیده.

﴿إِلَىٰ جِذۡعِ ٱلنَّخۡلَةِ﴾دکجوری تنی(ستی)ته راتلل لپاره دتکیه وهلووو،لکه چې عام طورزنانه پدې وخت کښې تکیه وهلوته محتاجه وي، اودامقام دبیت اللحم وو﴿قَالَتۡ يَٰلَيۡتَنِي﴾ پدې باندې شبه واردیږی چې حضرت مریم عليها السلام تمنا دمرګ ولې اوکړه حالانکه تمنا دمرګ جائز نده،اوحضرت مریم عليها السلام ته جبرئیل الطّیّیّلا اطمینان هم ورکړې وو؟

(١)جواب دتنه دادې چې تمنادمرګ هغه جائزه نده چې دیوه دنیاوي تکلیف دوجې نه وي،لکه په حدیث شریف کښې راځي چې لايتمنين احدكم الموت لضررنزل به الخ(رواه مسلم) اودحضرت مریم عليها السلام تمنادمرګ ده وجې دخوف دطعن وو په خپلې دینداری باندې چې خماپه دینداری باندې به طعن اولګي، اودایوه دیني فتنه ده اوددیني فتني دوجې نه تمنادموت جائزه ده

(٢) دویم جواب دادې چې دحضرت مریم عليها السلام تمناددې وجه نه وه چې خمادوجي نه به خلك په ګناهونو کښې مبتلاشي څکه چې خلك به په ماباندې تهمت اوبهتان لګوي نوددې خوف دوجې نه حضرت مریم عليها السلام تمنادمرګ اوکړه.

(٣) دریم بعض داجواب کړیدې چې دحضرت مریم عليها السلام دخولې نه داالفاظ بی اختیاره وتلی وو اومذموم هغه دې چې په قصد اواراده سره وي.

(٤)اوداهم ممکنه ده چې دبني اسرائیلوپه دین کښې دې تمنادمرګ جائزه وي، لیکن اول دوه جوابونه زیات غوره دی.

﴿وَكُنتُ نَسۡيٗا مَّنسِيّٗا﴾ (نسيً)په فتح دنون اوپه کسري دنون دواړوسره راځي،لغت کښې دیلې کیږې هیرکړې شوي څیزته اوعرف عام کښې "نسی" اطلاق په هرهغه څیزباندې کیږي چې هغه قابل التفات اوتوجه والانوي،معمولی څیزوی، کخرقة الطمث(دحیض کپړا)(روح).

بعض نحویان فرمائی چې نسیٌ،ماخوذ دې دنسات اللّبن، چې کله په لړوپیو کښې ډیراوبه واچولی شي اودپیووجود ختم شي اوپه اوبو کښې سپین والی وي،نوګویاچې دې تمنااوکړه چې کاش څه هم

دَهغوپیوپشان دَخلقوزړونونه وتلی وی چې نه کتلی کیږي اونه ئې دَاوبونه جدا والی راځي بحر.
لیکن اول احتمال زیات غوره دې او اضافه دَمنسیًا ځکه او کړې شوه چې دَمعنیٰ عرفي احتمال باقي
پاتې نشي

فَنَادٰىهَا	مِنْ	تَحْتِهَآ	اَلَّا	تَحْزَنِيْ	قَدْ	جَعَلَ	رَبُّكِ
پس اواز ورکړو دې ته (جبرئیل علیه السلام)	دَلاندې	ځائ دَهغې	نه	چې	مه خفه کیږه	بیشکه	پیداکړیده ستارب
تَحْتَكِ	سَرِيًّا ﴿۲۴﴾	وَهُزِّيْٓ	اِلَيْكِ	بِجِذْعِ	النَّخْلَةِ	تُسٰقِطْ	عَلَيْكِ
په لاندې ځائ کښې	ستانه روانه چینه ،	اوخوزوه	خپل	ځان	ته تنه دکجورې	چې راغورځوي	به په تاباندې
رُطَبًا جَنِيًّا ﴿۲۵﴾	فَكُلِيْ وَاشْرَبِيْ وَقَرِّيْ عَيْنًا ۚ	فَاِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ اَحَدًا ۙ	فَقُوْلِيْٓ				
کجورې تازه انړولی	شوې نو خوره اوڅکه ته اویخې لره سترګې (په بچي سره)	پس کچرې اوليدلو تادانسانانونه څوک	نواوايه				
اِنِّيْ نَذَرْتُ لِلرَّحْمٰنِ صَوْمًا فَلَنْ اُكَلِّمَ الْيَوْمَ اِنْسِيًّا ﴿۲۶﴾							
چې بیشکه مامنخته کړیده دَرحمان دپاره روژې دَچپوالي نو هرګز خبرې نه کوم نن ورځ دَهیڅ انسان سره							

﴿فَنَادٰىهَا مِن تَحْتِهَآ ﴾ دَغوره قول مطابق ضمیر دَ﴿فَنَادٰىهَا﴾ راجع دې جبرئیل علیه السلام ته او ﴿مِن تَحْتِهَا﴾ کښې ها ضمیر راجع دې مریم علیها السلام ته، نو دَاَیت مقصد دادې چې کله حضرت مریم علیها السلام ته دَولادت تکلیف شروع شو نو حضرت جبرئیل علیه السلام په دغه وخت کښې یو لاندې ځائ ته منتقل شو او حضرت مریم علیها السلام په یو ،اوچت ځائ باندې وه نو حضرت جبرئیل علیه السلام ورته دَلاندې ځائ نه آواز او کړو چې ته مه غمژنه کیږه اوبعض علمآء فرمائی چې ﴿فَنَادٰىهَا﴾ کښې فاء فصیحیه ده او فاعل دَ﴿فَنَادٰىهَا﴾ لپاره حضرت عیسیٰ علیه السلام دې نو تقدیر دَکلام داسې دې فولدت غلاماً فانطقه الله تعالی حین الولادة فناداها المولود من تحتها الخ (روح) او ﴿تَحْتِهَا ﴾ ضمیر راجع دې حضرت مریم علیها السلام ته. لیکن اول احتمال غوره دې، ﴿اَلَّا تَحْزَنِيْ ﴾ الاّ مرکب دې دَاَنْ او لاَ نه او ان مفسرة دې یعني ته مه پریشانه کیږه په خوراک څکاک نیشتوالی باندې اویادَخلکو دَملامتئ دَخوف نه ﴿سَرِيًّا ﴾ غوره قول دادې چې سَرِيّ ورو کی نهر ته وئیلی کیږی، لکه چې په یو روایت کښې راغلیدلی سئل النبي صلی الله علیه وسلم عن السری

قال هوالجدول، دا روايت اگرچه مرفوعاً ضعيف دې ليکن موقوفاً صحيح دې اورجال ئې دَشروط دَمسلم باندې دی لکه چې امام حاکم په مستدرك کښې ذکرکړيدې. حضرت عباس رضي الله عنه نه منقول دی چې داوړوکی نهرقريب وو دکهجورې سره اوددې اوبه اوچې شوې وې نو الله تعالى دَحضرت عيسىٰ عليه السلام په برکت سره دوباره جاري کړې، اوبعض فرمائي چې دامشتق دې دَسُرُوَ نه شريف اوسردارته وئيلې کيږي اومرادتنه حضرت عيسىٰ عليه السلام دې ﴿وَهُزِّيٓ إِلَيۡكِ﴾ هز وئيلې کيږي خوځولوته، اودلته تنه مراد ځان طرف راخښه ول دی نوځکه متعدي شوپه الى سره او ﴿إِلَيۡكِ﴾ نه مراد الى جهتك دې ﴿بِجِذۡعِ ٱلنَّخۡلَةِ﴾ باء زائده ده لپاره دَتاکيدراغليده، ﴿تُسَٰقِطۡ عَلَيۡكِ﴾ په ديکښې نهه ۹ قراته دی علامه زمخشري په کشاف کښې نقل کړيدي غوره داده چې داپه اصل کښې تتساقط وو. يوه تاء تخفيفاً حذف کړې شوه اوفاعل دَتساقط لپاره نخله دې اوداجواب امردې يعني دَهزّي امرلپاره جواب واقع شويدې دَدې وجه نه مجزوم دې ﴿رُطَبٗا جَنِيّٗا﴾ دا منصوب دې بناء برمفعوليت، چې دامفعول واقع شويدې دَ"تساقط" لپاره، اويامفعول واقع شويدې دَ"هُزي" لپاره اويامنصوب دې بنابرتميز، او ﴿جَنِيّٗا﴾ فعيل په معنى دَمفعول سره دې يعني چې قابل دَدې وې چې سرې ئې وانړه وې راټولې ئې کړي، اوبعض فرمائي چې فعيل بمعنى الفاعل دې، وئيلې کيږي بخوکهجوروته، يعني هغه کهجورې چې هغه دَشوکولوقابلې وې، اوتخصيص دَرطب ځکه اوشوچې دادَبچې دَپيدائش په وخت کښې دَزنانولپاره ډيربهتروې لکه چې دَعمروبن ميمون رحمه الله نه مروي دی فرمائي، مامن شيئ خيرٌ للنفسآء من التمروالرطب ثم تلاهذه الاية الكريمة(ابن كثير)اودغه شان په ديکښې اشاره ده ديته چې کوم ذات دَيخنئ په موسم کښې دَاوچې کهجورې اوني نه تازه کهجورې ورکولی شي نوهغه ذات پدې هم قادردې چې بغيردَپلارنه بچې پيداکړي.

فائده: (۱) علماء فرمائي چې حضرت مريم عليها السلام لپاره الله تعالى بې موسمه ميوې پيداکړې، خودَ خوراك لپاره ئې ورته حکم اوکړو چې ځان طرف ته ئې رااوښنه وه. بغيردَخوزولونه الله تعالى ورته ميوې ورنکړې نوپديکښې اشاره ده چې په تحصيل دَرزق کښې سعى کول پکاردې اودَرزق لپاره سعى اوکوشش کول خلاف دَتوکل ندې.

فائده: (۲) حضرت جبرئيل عليه السلام دَحضرت مريم عليها السلام سره مخاطبه اوخبرې کول. دَ جونهرجاري کيدل دَ اوچې تنې نه تازه کجورې راپيداکيدل داټول دَحضرت مريم عليها السلام کرامت وو

﴿فَكُلِي وَٱشْرَبِي ﴾هركله چې حضرت مريمعليها السلام ته دوه قسمه پريشانئ وي، يوه جسماني اوبله روحاني، نوجسماني مضرت اوپريشانئ دفعي لپاره ورته حكم اوشوچې﴿فَكُلِي وَٱشْرَبِي ﴾ اوروحانی مضرت اوپريشانئ ددفعي لپاره ورته حكم اوشوچې﴿وَقَرِّي عَيْنًا ﴾ اوكه څوك اشكال اوكړى چې روحانى الم اوتكليف ډيرسخت وي په نسبت سره جسمانى ته، ځكه چې الم دروح اقوى وي دَالم اودرد دَجسم نه لكه امام رازي رحمه الله فرمائى چې يوشاة(پسه)اوګي كړې شي اوبياورته واخه اوپانړي كيخودلى شي اوورسره نزدي،ذئب(ليوه) اوتړلى شي نوهغه اوګي پسه دَيري اوخوف دَوجي نه واخوته نه نزدي كيږي اوكچرته دغه اوګى پسه ته خپه ماته كړې شي اوبياورته وهاخه نزدي كړې شي نودَجسماني درد اوتكليف باوجود داپسه ځان وخوته رسوي اوهغه خوري نومعلومه شوه چې روحاني اذيت سخت وي دَجسمانى نه نوپكارده چې دفع دَمضرت روحاني مقدم كړيشوې وه په دفع دَمضرت جسماني؟(۱) امام رازي رحمه الله تنه جواب كړيدې چې مضرت روحاني دَحضرت مريمعليها السلام كم ووپه نسبت دَمضرت جسمانى سره،ځكه چې ددي مضرت روحاني اظهارحضرت مريمعليها السلام يوخلى اول هم كړې ووچې﴿قَالَتْ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَٰمٌ ﴾ اوپه هغه ځائ كښ ورته دَحضرت جبرئيلعليه السلام دَطرف نه ورته تسلي هم ميلاؤشوي وه،په خلاف دَمضرت جسمانى نه چې دهغې په باري كښ ورته اول تسلي نوه ميلاؤشوې، نوځكه دفعيه دَمضرت جسمانى مقدم كړې شوه په روحانى باندې(۲) اوداهم ممكنه ده چې دفعيه دَمضرت روحانى محتاجه وه تفصيل ته اوجسمانى محتاجه نوه تفصيل ته،نوځكه جسمانى مقدمه كړې شوه په دفعيي روحانى باندې.

او﴿وَقَرِّي عَيْنًا ﴾كنايه ده دَخوشحالئ نه،اوقرى ماخوذدې دَ"قرّة" وئيلى كيږي يخوالى ته،نو دَخوشحالئ والااوخكي يخي وي اودَپريشانئ والاګرمي وي، اودَدي وجه نه محبوب ته قرة العين وئيلى كيږي اوغيرمحبوب څيزته، سخنة العين، وئيلى كيږي اوبعض فرمائى چې داماخوذدې دَقرارنه اوكنايه دَخوشحالئ نه ځكه ده چې كله سترګي يوخائسته منظراوګوري نو اودريږي اوقراراونيسي نومطلب دَآيت دادې چې په حضرت عيسىعليه السلام سره خوشحاله شه، اوخپلي سترګي پى يخه وه اوبعض مفسرين فرمائى چې داكنايه ده دَخوب نه، ځكه چې څوك

پریشانه وي نو دهغه سترګي قرارنه نیسي اوخوب ورته نه راځي،نو دآیت مطلب دادې چې نه اوده شه لیکن اول احتمال زیات غوره دې.

فائده: الله ﷻ دتسلی دَاسبابوپه ذکرکښ دَتولونه اول ذکر دَاوبو اوکړو، اوکله چې دَاستعمال نوبت اومرحله راغله نوبیائی ترتیب بدل کړو او اول حکم ئی دَخوراك اوکړو.دَدي نکته علامه آلوسي رحمه الله دابیان کړیده چې دَانسان عادت دادې چې دَاوبو اهتمام دَخوراك نه اول کوي، يعني اوبه اول په دسترخوان باندې ايږدي اوبیاخاص طورباندې چې خوراك هم داسې وي چې دهغې دَ وجه نه تنده لګي نوباخوخامخادَاوبو اهتمام کوي. لیکن په استعمال کښ ترتیب داوي عام طور چې اول خوراك کوي اوبیاڅکاك کوي(روح).

﴿فَإِمَّا تَرَيِنَّ﴾داتفصیل دې دَدفع مضرت روحانی،اوغوره توجیه داده چې داهم دَحضرت جبرئیل علیه السلام کلام دې چې حضرت مریم علیها السلام ته ئی دَطعن نه دَبچ کیدلوطریقه اوخودله،چې خپل بچې واخله اوکورته ځه اوکچرته په لاره کښ تاسره څوك میلاؤشي اودَبچي په باره کښ درنه تپوس اوکړي نوته ورته اوایه چې مانن ورځ دَچپوالی روژي نذرمنلې دې.

﴿فَقُولِيٓ إِنِّي﴾جواب دې دَ﴿فَإِمَّا تَرَيِنَّ﴾ لپاره،او﴿صَوۡمٗا﴾نه مراد روژه دَچپوالی ده، والذی علیه جمهورالمفسرين ان الصوم ههنا الصمت(فتح القدير) اودادَبنی اسرائیلوپه دین کښ عبادت وو، اودَدي وجه نه الله ﷻ حضرت زکریا علیه السلام هم دري ورځوپوري دَخبرونه منع کړې وو،اوزمونږ په دین کښ دامنسوخه کړې شویدې، وهذا منسوخ بماروی عن النبي ﷺ انه نهى عن الصمت يوم الى الليل(احكام القرآن للجصاص) اوداهم ممکنه ده چې دَ ﴿صَوۡمٗا﴾نه دې مراد صوم حقیقی شي اودَ بنی اسرائیلو په دین کښ په حالت دروژی کښ دَمفطرات ثلاثو(خوراك، څکاك، جماع)نه احترازسره دَخبرو کولونه هم احترازضروری وو يعنی دَهغوئ په دین کښ په روژه کښ چې څرنګه خوراك،څکاك اوجماع جائزه نوه نودغه شان خبری کول هم جائزنوو.(مدارك) اوزمونږ په شريعت کښ داهم منسوخ دې اوخبري کول جائزبلکه ضروری دی، وروی عن ابی بکر رضي الله عنه انه دخل على امراءة قدنذرت ان لاتتكلم فقال رضي الله عنه ان الاسلام هدم هذا فتكلمي(روح) .

﴿فَلَنۡ أُكَلِّمَ ٱلۡيَوۡمَ﴾که څوك اعتراض اوکړی چې داخومبطل دې دعمل اودنذردهغې لپاره.څکه چې دی نذرمنلی وودَچپوالی اوکله چې ئی قوم نه دخپل نذراخباراوکړو نوچپ پاتی

نشوه،نولهذا ایفاء دَنذرنی اونه کړه،نوبعضو تنه جواب(۱)دا کړیدې چې داخبرورکول دَنذرنه مستثنی وو،یعني چې دې نذرمنلی ووچې دابه دَانسان سره خبری نه کوي بغیردَدي اخبارنه. (روح) (۲)اوبعض فرمائی چې نذرددَي اخبارنه پس شروع شوي وو نوګویاچې داکلام په اخیری وقت کښې هغې کړیدې اودَدینه بعد وجوب دَنذرراغلیدې (مدارک) (۳)اوبعض فرمائی چې دومره قدري کلام کول دهغې لپاره جائزکړې شوي وو، من جانب الله، (۴)اوبعض فرمائی چې داټول کلام حضرت مریمؑ په اشاري سره کړیدې اوپه اشاري باندې کله کله مجازا اطلاق دَقول کیږي،اوپدي باندې دلیل داورستوکلام فاشارت الیه هم دي.

فَاَتَتْ بِهٖ قَوْمَهَا تَحْمِلُهٗ ؕ قَالُوْا یٰمَرْیَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَیْـًٔا
پس راغله دادَبچې سره خپل قوم ته چې په غیږکښې یې رااوچت کړې وو،دوئ اوئیل،اې مریم: یقینًا تاراتلل اوکړل په کار
فَرِیًّا ﴿۲۷﴾ یٰۤاُخْتَ هٰرُوْنَ مَا كَانَ اَبُوْكِ امْرَاَ سَوْءٍ وَّمَا كَانَتْ اُمُّكِ بَغِیًّا ﴿۲۸﴾
ډیرناآشناسره.اې خوردَهارون نه وو پلارستاسړی ناکاره اونه مورستابدکاره
فَاَشَارَتْ اِلَیْهِ ؕ قَالُوْا كَیْفَ نُكَلِّمُ مَنْ كَانَ فِی الْمَهْدِ صَبِیًّا ﴿۲۹﴾
پس اشاره اوکړه دې بچي طرف ته اوئیل هغوئ چې څرنګه مونږ خبري اوکړو دَهغه چاسره چې دې په غیږ کښې وړوکې بچې
قَالَ اِنِّیْ عَبْدُ اللّٰهِ ؕ اٰتٰىنِیَ الْكِتٰبَ وَجَعَلَنِیْ نَبِیًّا ﴿۳۰﴾ وَّجَعَلَنِیْ
اوئیل دَهٔبچي بیشکه څه دَ اللهﷻ بنده یم راکوي به ماته کتاب اوجوړه وي به ماپیغمبراوجوړه وي به ما
مُبٰرَكًا اَیْنَ مَا كُنْتُ ۪ وَاَوْصٰنِیْ بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ مَا دُمْتُ حَیًّا ﴿۳۱﴾
فائده مندهرځائ چې یم څه اوحکم به کوي ماته دَمانځه اودزکوة ترڅوپوري چې یمه څه ژوندی

﴿فَاَتَتْ بِهٖ قَوْمَهَا﴾نوهرکله چې حضرت مریمؑ مطمئنه شوه نوحضرت عیسیؑ ئې په غیږ رااوغستلواوقوم ته راغله اوقوم ته داراتګ څومره وخت ورستووو.قرآن اوحدیث کښې دَدي تعین ندې راغلی، خوبعض مفسرینودَقرائنوپه بنیاد دافرمائی چې داراتګ څلویښت(۴۰)ورزي روستووو دَولادت نه،چې کله ددې نفاس ختم شو.اوبعض فرمائی چې فورا یوساعت دَولادت نه

سره خپل قوم ته راغله، نوباء په به کښې یادَصاحبت لپاره ده اویادَتعدیة لپاره ده او ﴿تَحْمِلُهُ﴾ جمله حال واقع شویده دَضمیردَمریم نه﴿قَالُوا يَٰمَرْيَمُ﴾هرکله چې حضرت مریمﷺ کورته راورسیدله نوهغوئ پري اولادیرغصه اوکړه اوپه څنوروایاتوکښې راځي چې کله قوم دَحضرت مریمﷺ سره په غیږ کښې بچي اوکتلونوپه ژړاشو ځکه چې داخاندان ډیرپاك وو اونیکان وو، نوهغوئ پري انکاراوکړو ورته ئې اوئیل﴿لَقَدْ جِئْتِ شَيْـًٔا فَرِيًّا﴾ ،فَرِیٌّ وئیلی کیږی عظیم ته اوبعض فرمائی چې فَرِیّ عجیب اونادرته وئیلی کیږی،یعنی تاخوداسي عجیبه حرکت اوکړو چې دَدینه مخکښې دی نووکړي.

﴿يَٰٓأُخْتَ هَٰرُونَ﴾دَهارون نه مراد مشهوراومعروف پیغمبرحضرت هارونعليه السلام ندي مراد،ځکه چې دهغه اودَدي واقعي په مینځ کښې دزرو(۱۰۰۰)نه زیات کالونه تیرشوی وو،بلکه دَدینه مراد دَهغې زمانی یونیك سړی ووچې مسمٰی ووپه هارون سره،لکه په روایت دَمسلم کښې دي چې حضرت مغیره بن شعبهﷺ فرمائی چې کله څه حضورﷺ نجران ته اولیږلم،نوچې څه هلته اورسیدم نواهل نجران ماته اوئیل چې تاسوپه قرآن کښې داایت لولئ چې﴿يَٰٓأُخْتَ هَٰرُونَ﴾ اوحالانکه دَحضرت موسیعليه السلام زمانه دَحضرت عیسیعليه السلام نه ډیره مخکښې ده(نوځنګه به مریم دَهارونعليه السلام خورشي)فرمائی چې ماددي خبری تپوس دَرسول اللهﷺ نه اوکړونورسول اللهﷺ اوفرمائیلوچې هغې خلکوبه خپل نومونه دَانبیاء کرامو عليهم السلام اودَمخکینونیکانو خلکوپه نوموباندي ایخودل(رواه مسلم)نومقصددادي چې دَدینه حضرت هارونعليه السلام ندي مراد بلکه یونیك سړی وو چې مسمی ووپه هارون سره هغه مراددي، بعض مفسرین فرمائی چې دغه هارون دَحضرت مریمﷺ علاتی رور وو، اوبعض فرمائی چې رورئی نوو بلکه هغه نیك وو اوحضرت مریمﷺ هم ډیره عابده اوزاهده وه، نودَمریمﷺ ته دهغه اخت اوخورونیل تشبیها دی یعنی دَډیرعبادت اوزهداوتقوی دَوجي نه خلکو هغې ته دَهارون خوراوئیلولکه چې فضول خرچي کوونکوته دَشیطانانوروڼره وئیلی شویدی پدې قول دَاللهﷻ کښې. انّ المبذرین کانوا اخوان الشیاطین(بنی اسرائیل).

﴿مَا كَانَ أَبُوكِ ﴾داتقريردي دَماقبل زجرچې﴿لَقَدْ جِئْتِ شَيْـًٔا فَرِيًّا ﴾ دې او پدیکښ اشاره ده چې اصول نیك وي يعنى مور، پلارنیکان وی نو اولادئی هم غالبا نيكان ئی او دغه شان پدیکښ اشاره ده چې دَنیکانو دَاولادنه دَبدکارئ اوګناه صدور ډيرقبيح وي

﴿فَأَشَارَتْ إِلَيْهِ ﴾هرکله چې حضرت مريمؑ نذرمنلی وو دَخبرونه کولو اوحضرت جبرئيلؑ دیته بشارت هم ورکړې ووچې ستادابچې به دَغيږې په زمانی کښ به خبرې کوی لکه چې په سورة ال عمران کښ دی،ويكلم الناس فى المهدو كهلا ،نوځکه حضرت مريمؑ حضرت عيسىؑ طرف ته اشاره اوکړه چې دَدي واقعي حقيقت تاسودَده نه معلوم کړئ

﴿قَالُواْ كَيْفَ نُكَلِّمُ مَن كَانَ ﴾استفهام لپاره دَانکاردې اويالپاره دَتعجب دې، په يوروايت کښ دي چې کله حضرت مريمؑ بچي ته اشاره اوکړه چې دَده نه تپوس اوکړئ نوخلك ورته نورپه غصه کښ شواوورته ئي اوئيل چې يوخودې جرم اوکړو اوبل په مونږ پوري توقي هم کوې. په ظاهردَايت باندې اشكال كيږې چې﴿كَانَ ﴾خودلالت په ماضي باندې کوي، نودَايت مقصد داشوچې،کوم کس په زمانه ماضي کښ په غيږکښ وړوکی بچې وونودهغه سره څرنګه خبرې اوکړو ،اوداخومحل دَتعجب اوانکارندې، لکه چې ظاهره ده، جواب تنه مفسرينو په متعدد وجوه سره کړيدې

(۱)امام ابوعبيدة فرمائی چې﴿كَانَ ﴾ زائده دې دَمجرد تاكيدلپاره، راغليدې(۲) بعض فرمائی چې﴿كَانَ ﴾په معنى دَوجود اوحدوث سره دې لکه پدې قول دَاللهﷻ کښ راغليدی،وان كان ذوعسرة، نوپدې قول په بناء كان،تامه دې، ليكن پدې دواړو توجيهاتوباندې ابن الانبارى ردکړيدې هرچه دې كان ، زائده، نوهغه فرمائی کچرته كان،زائده وي نوبيابه ئی ﴿صَبِيًّا ﴾ته نصب نوی ورکړې، اودغه شان کچرې کان تامه وي نوهغه مستغني وی دَخبرنه نوبيابه ئی ﴿صَبِيًّا ﴾ته نصب نوی ورکړې

(۳)قرطبیؒ فرمائی چې زياته صحيح خبره داده چې ﴿كَانَ﴾په معنى دَيکن سره دې يعنى ماضي په معنى دَمستقبل سره ده اوداجمله﴿مَن كَانَ فِى ٱلْمَهْدِ ﴾په معنى دَجزاء مقدمي

سره ده، او ﴿كَيْفَ نُكَلِّمُ﴾، شرط مؤخردې نوتقديردكلام به داسي شي چې﴿كَيْفَ نُكَلِّمُ مَن كَانَ فِي ٱلْمَهْدِ صَبِيًّا﴾ (۴) اوبعض مفسرين فرمائي چې كَانَ لپاره ددوام اواستمرار راغليدي (۵) اوعلامه زمخشري رحمه الله تنه داجواب كړيدې چې دااعتراض به په هغه وخت كښ واريدې دې كچري،كان دَماضي بعيدلپاره وي فقط، اوحقيقت داسي ندې بلكه كان وضع كړې شويدې لپاره دَدلالت په ايقاع دَمضمون دَجملي په زمانه ماضيه مبهمه كښ،كه هغه قريبه وي اوكه بعيده ده،نودَدي جواب په اعتبارسره ﴿مَن كَانَ﴾كښ من موصوله دې،عيسى عليه السلام تنه مراددې(۲)اوبل جواب تنه زمخشرى رحمه الله داسي كړيدې چې﴿كَيْفَ نُكَلِّمُ﴾ حكايت دې دَحال ماضيه نه،او﴿مَن﴾ موصوفه نه دې،اومطلب به داشي،چې څنګه مونږخبرې اوكړويوداسي كس سره چې دده نه مخكښ څومره كسان په دي صفت سره متصف وونودَهغوئ سره مونږه خبري ندي كړي نودده سره به څنګه اوكړو(كشاف) او﴿فِي ٱلْمَهْدِ﴾ وئيلى كيږي ځانګوته،دلته تنه مراد دَمورغيږده.

﴿قَالَ إِنِّي عَبْدُ ٱللَّهِ﴾داجمله مستانفه ده په جواب دَسوال كښ واقع شويده چې دَماقبل نه واقعي نه پيداكيدلو،ګوياچې سائل سوال اوكړو چې بياڅه اوشو؟ نوجواب اوكړې شو چې هغه اوئيل ،﴿إِنِّي عَبْدُ ٱللَّهِ﴾ او حضرت عيسى عليه السلام دَټولونه ړومبئ خبره هغه اعتراف دَعبودية وو الله تعالى لره اوبيادهغې نه ورستو خپل نورلس صفتونه اوحالات ئې ذكركړو، چې په هغې كښ رددې په نصارى اويهودوباندې، اوغوره قول دادې چې حضرت عيسى عليه السلام په وړوكوالئ كښ داخبري صرف كړي وي اوپه وړوكوالئ كښ بيانوري خبري ندي كړي، اوپدي اولي جملي كښ رد دې په عيسايانوباندې.

﴿ءَاتَىٰنِيَ ٱلْكِتَٰبَ﴾غوره قول دادې چې مراد په ﴿ٱلْكِتَٰبَ﴾سره انجيل دې اوماضي په معنى دَمستقبل سره ده، اودغه شان ﴿وَجَعَلَنِي نَبِيًّا﴾هم دې چې ماضي په معنى دَمستقبل سره ده اوذكردَماضي لپاره دَتيقن دې،اوقرطبى رحمه الله فرمائي چې ماضى په خپلي معنى سره دې،

او ﴿ءَاتَنِي﴾ او ﴿وَجَعَلَنِي﴾.مقصد دادي چې ځما لپاره دکتاب اونبوت ميلاويدو فيصله په ازل کښې شويده

﴿وَجَعَلَنِي مُبَارَكًا﴾ مبارك په معنى دنفع سره دي اوحضرت عيسى عليه السلام کښې هرقسم نفع موجوده ده،هم دنيوى اوهم دينى، دنيوى نفع داده چې اکمه اوابرص به ئې به حکم دالله تعالى سره تهيك كولو. اودينى نفع داوه چې خلكوته به ئې دالله تعالى دطرف نه خيرته دعوت وركولو اودبدونه به ئې منع كولو ،اوبعض فرمائى چې مبارك، ماخوذدي دبروك البعيرنه (داوښ كيناستل) اوداكنايه ده د ثابت قدمئ نه په دين كښې، المعنى جعلني ثابتا في دين الله(فتح القدير).

﴿أَيْنَ مَا كُنتُ﴾شرط دې اوجزاء ئې محذوفه ده، چې هغه جعلني مباركا ده چې په هغې باندې دې اول ﴿وَجَعَلَنِي﴾دلالت كريدې اودانده جائزه چې داشرط مؤخرشي، او﴿وَجَعَلَنِي مُبَارَكًا﴾ ورله جزاء مقدمه شي،ځكه چې ﴿أَيْنَ مَا﴾كښې اين شرطيه دې ځكه چې استفهاميه كيدل ظاهرالبطلان دې او نوددي وجه نه هغه جزاء ددي لپاره نشي جوړيدلى، ﴿وَأَوْصَنِي﴾مرادتنه حكم مؤكددي﴿بِالصَّلَوٰةِ﴾ مراد تنه مونځ دې اويادعاءده﴿وَالزَّكَوٰةِ﴾،دزكوة دوه معنې مرادكړې شويدې، ياتنه مراد فرائض ماليه يعنى زكوة مالي دې خوپه شرط دوجود مال سره، يعنى كچرته ځماسره مال وي نوماته حكم راكړې شوې دې چې مابه په هغې كښې زكوة ويستلو اويااحكم دحضرت عيسى عليه السلام امت ته وو ،اوحضرت عيسى عليه السلام ته حكم درسولوددې حكم شوې وو نوپه اصل كښې داسې دې، اوصاني بان امركم بالصلوة والزكوة(مدارك) اويادزكوة معنى دلته تزكيه دنفس ده يعنى خپله عقيده ،اعمال او اخلاق دګناهونو اودشرك نه پاك ساتل دى.

﴿مَا دُمْتُ حَيًّا﴾پديكښې اشاره ده چې مدة اوزمانه دتكاليفوشرعيوهغه مدت حيات دنيوى دې، يعنى ترڅوپورې چې انسان ژوندې وي نومكلف وي،اوچې كله مړشي نوتكليف شرعي ورنه رفع شي، خوددې مقصد داندې چې ددنيوى زندګى دختميدلونه پس څوك هم عبادت نشي كولى،ځكه چې په صحيح حديث كښې دحضرت موسى عليه السلام نه مونځ كول ثابت، دى پس دوفات نه، اګرچې مكلف نوؤ.

وَبَرًّۢا بِوَالِدَتِيْ ؗ وَلَمْ يَجْعَلْنِيْ جَبَّارًا شَقِيًّا ۝ وَالسَّلٰمُ عَلَيَّ

اوجوړه وي به ما احسان كوونكى دَمورسره اونه يم ګرځولي خه سركش(متكبر)اوبدبخته.او سلامتياده«دالله دَطرف نه» په ما باندې

يَوْمَ وُلِدْتُّ وَيَوْمَ اَمُوْتُ وَيَوْمَ اُبْعَثُ حَيًّا ۝

په هغه ورځ چې خه پيدا كړې شوم اوپه هغه ورځ چې خه مړكيږم اوپه هغه ورځ چې خه دوباره راژوندي كړې شم

ذٰلِكَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ ۚ قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِيْ فِيْهِ يَمْتَرُوْنَ ۝ مَا كَانَ لِلّٰهِ

داشان والاعيسى بن مريم دې (وايم خه) ويناريښتونې هغه چه دوئ(يهود نصارئ) پكښې شك كوي،نده مناسب الله ﷻ سره

اَنْ يَّتَّخِذَ مِنْ وَّلَدٍ ۙ سُبْحٰنَهٗ ؕ اِذَا قَضٰٓى اَمْرًا فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ

چې اونيسي هيڅ يوبچې پاكي ده الله ﷻ لره ددې نه،كله چې اراده اوكړي دَيوكارپس صرف داورته اوائي هغه ته اوشه

فَيَكُوْنُ ۝ وَاِنَّ اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ۝

نوهغه اوشي،اوبيشكه الله ﷻ رب خمااورب ستاسودې، پس بندګي كوئ دَهغه، دالاره برابرنيغه.

﴿وَبَرًّۢا بِوَالِدَتِيْ ﴾دا عطف دې په ﴿مُبٰرَكًا﴾باندې اوبرپه معنى دَبارٌسره دې اوبعض فرمائي چې داعطف دې په ﴿بِالصَّلٰوةِ ﴾باندې اودَ﴿ وَاَوْصٰنِيْ﴾ تحت واقع شويدې، يعنى اوصٰنى برًا بوالدتى،يعنى ماته داحكم شويدې چې خه دَخپلې مورسره ښه سلوك كوم،اوامام رازى رحمه الله فرمائي چې پدې كښې اشاره ده تنزيه دَحضرت مريم عليها السلام ته ځكه چې حضرت عيسٰى عليه السلام رسول وو اورسول معصوم وي اوحضرت عيسى عليه السلام ماموروو په تعظيم دَمورخپل،كچرته هغه پاكه اومعصومه نوي بلكه بدكاره وي نودَبدكاري زنانه تعظيم جائزندې نورسول اوپيغمبربه دهغې تعظيم نه كولو.

﴿وَلَمْ يَجْعَلْنِيْ جَبَّارًا شَقِيًّا ﴾جبارونيلى كيږي هغه چاته چې دَتكبردَوجي نه په ځان باندې دَچاحق نه مني،(فتح) او شقي ونيلى كيږي، نامراد ته دَخيرنه اودَمور پلارنافرمان ته﴿وَالسَّلٰمُ عَلَيَّ ﴾ بديكښې دَحضرت عيسى عليه السلام عجزذكركيږي په دري حالاتو كښې چې حضرت عيسىٰ عليه السلام په

دغي دري حالاتو کښې دَالله ﷻ سلامتياته محتاجه وو. او بعض مفسرين فرمائي چې الف لام په ﴿وَالسَّلٰمُ﴾ کښې دَعهد لپاره دې اومعهود پدې سره هغه سلام دې کوم چې په يحيى عليه السلام باندې وو اوعلامه زمخشري رحمه الله فرمائي چې الف لام جنسي دې اوپدې سره تعريض مقصود دې دَلعنت په يهوديانوباندې ځکه چې کله حضرت عيسى عليه السلام دااوفرمائيلوچې جنسي سلام مختص دې په ماپورې نوپدې سره اشاره اوکړه ددې ضدچې هغه لعنت دې مختص دې په تاسوپورې، ځکه چې دامقام مقام دَعناددې اوپدغه شان مقام، کښې چې يووصف مختص شي په يوفردپورې نوضددهغې وصف مختص ګرځي په شخص مخالف پورې. اودَدې نظيرداقول دَالله ﷻ دې والسّلام على من اتّبع الهدى، نوچې کله جنس سلامتيا مختص شوه په متبعينود هدايت پورې نوضدددې چې عذاب دې مختص شوپه مخ ګرځونکي دهدايت نه اوتکذيب کوونکوپورې چې انّ العذاب على من كذّب وتولّى، اوداتوجيه غوره ده اوداسلام اګرچه حضرت عيسى عليه السلام په خپله په خپل ځان باندې وئيلى دې خوپه حقيقت کښې دَطرفه دَالله ﷻ نه دې.

﴿ذٰلِكَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ﴾ دادوه ايتونه بطورجملې معترضې ذکرکيږي اوپه په ﴿ذٰلِكَ﴾ سره اشاره ده متصف پدغې اوصافومذکورو سره. اوپه﴿ذٰلِكَ﴾سره اشاره اګرچه محسوس مشهد بالبصرته کيږي اوحضرت عيسى عليه السلام محسوس مشهدبالبصر اګرچه ندې خوپه اوصافوسره ئې کمال وضاحت حاصل شونونازل کړې شوپه منزله دَمحسوس باندې نوځکه په ذلك سره ورته اشاره اوشوه، اوبيااشاره بعيده راوړې شوه لپاره ددې چې دلالت اوکړي په بعدرتبې اوپه علودَشان دهغه باندې، او﴿ذٰلِكَ﴾ مبتدأ ده ﴿عِيسَى﴾ورله خبردې او ﴿ابْنُ مَرْيَمَ﴾ ورله ياصفت دې اوداقول غوره هم دې اوياخبربعدالخبردې اويابدل اوياعطف بيان دې اوپدې کښې رد مقصود دې په نصارىٰ باندې.

﴿قَوْلَ الْحَقِّ﴾ قول په نصب سره هم راغليدې اوپه رفع سره هم هرچه دې په نصب سره نودامصدردې چې تاکيدئې کړيدې دَمضمون دَجملې ماقبلې اواقول ورته مقدردې او ﴿الْحَقِّ﴾ په معنى دَصدق سره دې اواضافت دَقول حق ته دَقبيلې دَاضافت دَموصوف دې خپل صفت ته، نومقصد دآيت دادې چې داواقعات اواخبارچې حضرت عيسى عليه السلام دَمريم عليها السلام نه بغيردَ اب

نه پيداشويدي وغيره ريښتونی واقعات دی اويامنصوب دې بناء برمدح،اوهرچې دې په رفعي سره نوياداخبردې دَمبتداء محذوفي لپاره چې هغه هو دې اواضافت بياني دې ای هوقول الحق. اوياصفت دې دَعيسی لپاره اوقول نه مراد کلمه ده اوالحق نه مراد الله ﷻ دې﴿ ٱلَّذِى فِيهِ يَمۡتَرُونَ ﴾چې نصاری ورته ابن الله وئيل اويهوديانو ورته ساحروغيره وئيل.

﴿مَا كَانَ لِلَّهِ ﴾دازجردې دَنصاریٰ وو لپاره چې هغوئ الله ﷻ ته نسبت دَولد کولو، من وَلد من زائددې دَاستغراق دَنفي لپاره دې﴿سُبۡحَٰنَهُۥٓ ﴾دادليل دې په نفي دَاتخاذدَولد باندې، چې اتخاذ دَولد مستلزم دې نقص لره په واجب تعالی کښ ځکه چې په اتخاذدولد سره لازميږي تماثل چې مستلزم دې زيادت دَوجود لره په واجب تعالی کښ،دغه شان لازميږي تکافؤ،دغه شان لازميږي امکان دَواجب تعالی، امرمرکب اوامرمنفصل کيدل دَالله ﷻ اوداټول نقصانات دی په الله ﷻ کښ اوالله ﷻ ددې نه منزه دې﴿إِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرٗا ﴾داتعليل دې دَعدم اتخاذدَولدلپاره په بلې وجې سره، چې اتخاذدَولد خوعلامه دَاحتياج ده اوالله ﷻ کښ احتياج نيشته دې، امام رازی رحمه الله دلته تفصيلی بحث چيړليدې چې دهغې خلاصه حضرت والدمحترم نورالله مرقده وبردمضجعه په سورة بقره په ايت نمبر(۱۱۷)کښ په مختصرليکن په ډيرجامع اندازسره پيش کړيده.

﴿ وَإِنَّ ٱللَّهَ رَبِّى﴾ظاهره داده چې داتتمه دَه دکلام دعيسی عليه السلام اوداجمله عطف ده په ﴿إِنِّى عَبۡدُ ٱللَّهِ ﴾باندې اودَقال ماتحت ده اوهرکله چې داکلام دَوړوکوالئ په حالت کښ نوو نودَدې وجې نه دَهغې مخکښ کلام نه جداذکرکړې شواوپه مينځ کښ دوه(۲) ايتونه دَجملې معترضې سره ذکرکړې شو،اوبعض مفسرين فرمائی چې دلته کښ لفظ دَ(قل)مقدردې اوداخطاب دې حضور ﷺ ته ای قل يامحمد ﷺ انّ الله الخ(روح) ﴿هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ ﴾ په 'هذا' سره اشاره ده ماقبل مذکورته،چې هغه توحيد اوربوبيت دې دَالله ﷻ چې صرف دَالله ﷻ عبادت کول اودَالله ﷻ دَربوبيت اقرارکول بالکل برابره لاره ده.

فَٱخۡتَلَفَ ٱلۡأَحۡزَابُ مِنۢ بَيۡنِهِمۡۖ فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن مَّشۡهَدِ يَوۡمٍ عَظِيمٍ ۝٣٧

بيااختلاف اوکړو دلوپه خپل مينځ کښ، پس هلاکت دې هغه کسانولره چې کفرئې کړيدې دَحاضرئ دَورځې لوئ نه

أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ يَوْمَ يَأْتُونَنَا لَٰكِنِ الظَّٰلِمُونَ الْيَوْمَ فِي ضَلَٰلٍ
څه ښه اوريدونکی به وي اوڅه ښه ليدونکی به وي، په هغه ورځ چې پيش به شي دوئ مونږ ته ليکن ظالمان نن ورځ په ګمراهئ
مُّبِينٍ ﴿۳۸﴾ وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ وَهُمْ
ښکاره کښې دي اواويره وه دوئ دَورځي دَافسوس نه کله چې فيصله کړې شي کارونه.اودوئ(اوس) په غفلت کښې دی اودوئ
لَا يُؤْمِنُونَ ﴿۳۹﴾ إِنَّا نَحْنُ نَرِثُ الْأَرْضَ وَمَنْ عَلَيْهَا وَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ ﴿۴۰﴾
ايمان نه راوړي بيشکه مونږ(حقيقي) مالکان يودَزمکي اودهغې څه چې پدې زمکه باندې دی،اوخاص مونږته به دوئ راګرځولی شي

﴿فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ﴾ دادَيو سوال جواب دې، سوال داکيدو چې کله حضرت عيسى عليه السلام په وړوکوالئ کښې اعلان اوکړو چې ﴿إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ﴾ نوبياهغه ته ولې خدائی اوئيلوشو؟ نوجواب اوشو چې دَحضرت عيسىٰ عليه السلام دَرفع الى السمآء نه بعدپه نصارىٰ ؤکښې مختلف ډلې جوړې شوې، (۱) يوغټه ډله پکښې نسطوريه وه چې هغوئ داقول اوکړو چې حضرت عيسى عليه السلام ابن الله(دَالله بچې)دې(۲)دويمه ملکانيه وه چې هغوئ دَدې قائل شوچې خدايان درې دی اودريم پکښې حضرت عيسى عليه السلام دې (۳)اودريم يعقوبيه وه چې هغوئ دَدې قائل وو چې حضرت عيسى عليه السلام بعينه خدائ دې، زمکې ته راکوزشوې وو،په صورت دَعيسى عليه السلام کښې اوبيادوباره اسمان ته اوختلو(قرطبى) اويادَاحزاب نه مراد مسلمانان، يهوديان اوعيسايان دي، عيسايانو دَحضرت عيسى عليه السلام په باره کښې افراط اوکړو،بعينه خدائی، يادريم خدائی اويائی ورته دَخدائ بچې ورته اوئيلواويهوديانوتفريط اوکړو چې(العياذبالله) ولدالزناء نسبت ئې ورته اوکړو.اومسلمانانواعتدال اوصحيح قول اوکړو چې حضرت عيسىٰ عليه السلام دَالله تعالىٰ بنده اورسول دې.

﴿فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ﴾ داتخويف اخروي دې اومرادتنه يهود اودَنصارىٰ ؤفرقې دي،او ﴿فَوَيْلٌ﴾ جمله اسميه په ځائ دَجملې فعليې راوړی شويده لپاره دَدوام اواستمرار، او﴿مَّشْهَدِ﴾ يامصدرميمی دې اوياظرف زمان، ياظرف مکان دې اويامشهدپه معنى دَشهادت سره دې يعنى

چې په کومه ورځ ددوئ په کفراوفسق باندې ملائك انبياء كرام اودَدوئ خپل اعضاء گواهي ورکړي

﴿أَسْمِعْ بِهِمْ وَأَبْصِرْ﴾ داهم تخويف مع الزجرذكركيږي او﴿أَسْمِعْ﴾او﴿وَأَبْصِرْ﴾دواړه صيغې دَتعجب دى اوتعجب په مبالغې دَاوريدلواوكتلودَدوئ باند دې اوپه كلام دَالله ﷻ كښ تعجب دَتعجيب لپاره وي نوگويا چې داتعجيب دې په تيزوالي قوت دَاوريدلواوكتلو دَدوئ كښ، (روح) اوياتعجب لپاره ددې دې چې دَدوئ حالت اودغه مقام به قابل دَتعجب وى دَممكناتولپاره، يعنى په دنياكښ كانړه لانده وو اوپه اخرت كښ به په ښې طريقې سره اورى نودالائقه دَدې ده چې تعجب پرى اوكړې شي.

﴿وَأَنذِرْهُمْ﴾پدي كښ هم تخويف اخروى دې، او ﴿يَوْمَ ٱلْحَسْرَةِ﴾دَقيامت نوم دې اويوم الحسرة ورته ځكه وئيلى كيږي چې منكرين به په دغې ورځې به ډيرافسوس كوى، اوقاضى بيضاوى رحمه الله فرمائي چې قيامت په ورځ به بدكاراونيكوكارهرسړى به افسوس كوى، بدكاربه په خپلې بدكارئ باندې اونيكوكاربه په خپلوكمونيكوباندې به افسوس كوى، لكه چې په روايت دَحضرت معاذ رضي الله عنه كښ دَرسول الله ﷺ نه منقول دى چې اهل جنت ته به په جنت كښ دَهيڅ څيز،افسوس اوقلق نوى سيوادهغه ساعت نه چې بغيردَالله ﷻ دذكرنه تيرشوې وي(طبرى) اودَ ﴿إِذْ قُضِيَ ٱلْأَمْرُ﴾نه مراد حساب كتاب ختميدل اودَهغې نه فراغت دې،

او﴿إِذْ قُضِيَ ٱلْأَمْرُ﴾ يابدل دې دَ ﴿يَوْمَ ٱلْحَسْرَةِ﴾ نه اويامتعلق دې په فعل مقدرپورې چې يتحسّرون دې اى يتحسرون اذقضى الخ ﴿إِنَّا نَحْنُ نَرِثُ﴾پديكښ اثبات دَتصرف دَالله ﷻ دې چې په نفخه اولى سره به داټول نظام عالم الله ﷻ ختم كړي،مخ په زمكې باندې چه څومره څيزونه دي ټول به فناء كړي، دَالله ﷻ نه علاوه هيڅ څوك به باقي نوي، ظاهرا باطنا بلا شركت غيرى ملكيت اوتصرف به الله ﷻ شي لكه څرنګه دَيو مورث په مرګ سره دَهغه اموال وغيره وارث ته پاتې شي، دغه شان چې كوم ظاهرى اومجازي تصرف ددې زمكې انسان ته ميلاؤدې په نفخه اولى سره به داهم ختم شي اوبيابه په نفخه ثانيه سره دوباره مخلوقات ژوندي كړې شي اودَالله ﷻ عدالت ته به ني پيشي كيږي.

وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِبْرٰهِيْمَ ۬ اِنَّهٗ كَانَ صِدِّيْقًا نَّبِيًّا ۝۴۱ اِذْ قَالَ

[1] اوبيان كړه ته په كتاب د الله جل جلاله كښې واقعه د ابراهيم عليه السلام بيشكه دې ډير رشتني وو پيغمبر وو. كله چې اونيل ده

لِاَبِيْهِ يٰۤاَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِيْ عَنْكَ

خپل پلارته اې پلاره څما په څه دليل ته عبادت كوې د هغه چاچه نه اوري اونهويني (څه خيز) اونه لري كولى شي ستانه تكليف

شَيْـًٔا ۝۴۲ يٰۤاَبَتِ اِنِّيْ قَدْ جَآءَنِيْ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَاْتِكَ فَاتَّبِعْنِيْۤ

دهيڅ خيز. اې پلاره څما! بيشكه راغليدې ماته دوحى نه هغه چې ندې راغلى تاته نوتابعدارې اوكړه څما

اَهْدِكَ صِرَاطًا سَوِيًّا ۝۴۳ يٰۤاَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطٰنَ ؕ اِنَّ الشَّيْطٰنَ كَانَ لِلرَّحْمٰنِ عَصِيًّا ۝۴۴

اوبه ښايم تاته لاره سمه (نيغه) اې پلاره څما بندګى مه كوه دشيطان بيشكه شيطان دې، درحمان نه نافرمانه

يٰۤاَبَتِ اِنِّيْۤ اَخَافُ اَنْ يَّمَسَّكَ عَذَابٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ فَتَكُوْنَ لِلشَّيْطٰنِ وَلِيًّا ۝۴۵

اې پلاره څما! بيشكه څه يريږم پدې چې اوبه رسيږي تاته عذاب د طرفه د رحمن نه پس شې به ته د شيطان ملګرى

﴿وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِبْرٰهِيْمَ﴾ دا دريم شبهې جواب دې چې د ابراهيم عليه السلام متعلق وه، دحضرت ابراهيم عليه السلام متعلق مشركينو، يهودو اونصارى ؤتولو دا خيال وو چې دهٔ ته قدرت دتصرف حاصل وو خكه چې دې د الله جل جلاله ډير مقرب وو، اوهم ددې وجه نه مشركين مكه دحضرت ابراهيم عليه السلام صورت په كعبې كښې كيخودلى وو اوپه لاس كښې ئى ورله ازلام وركړي وو، پدې خيال چې دې د انسانانوپه قسمت اوتقديركښې تصرف لري نوجواب ئى اوشوچې حضرت ابراهيم عليه السلام دانبيا كرامو عليهم السلام جدامجددې اوهغه پخپله خپل پلارته دتوحيد دعوت وركړې وو، اودشرك دوجې نه ئى دخپل پلارنه برائت كړې وو اوالله جل جلاله ته عاجزي اوسوال كوونكي وو، نوځرنګه به هغه معبود لوګرځي، اومراد په ﴿الْكِتٰبِ﴾ سره قرآن دې، اوپديكښې اشاره ده چې واقعات د ابراهيم عليه السلام د الله جل جلاله دكتاب موافق بيانول ضروري دي.

[1] شبه ثالثه ازيهود ونصارى، ومشركين عرب متعلق بابراهيم عليه السلام.

﴿إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا﴾ صديق صيغه دَمبالغي ده لكه ضحيك، نطيق وغيره لغوى معنى په اعتبارسره وئيلى كيږي ډيرريښتونى، ته چې په زندګئ كښ ئى كله هم دروغ نوي وئيلى. الصديق من كثرمنه الصدق وقيل بل يقال لايكذب قط«راغب» اوپه اصطلاح اوعرف كښ ئى اطلاق په صحت دَاعتقاد قول،فعل په ټولوباندې كيږي، اوصديقيت كلي مشكك دې دَټولونه اعلى اواقوى مرتبه هغه ده چې مرادف ده دَرسالت اونبوت سره اودَټولونه ادنى مرتبه هغه ده چې دَهغې په انتفاء سره انتفاء دَايمان راځي اودغه شان كذب هم دې چې اعلى مرتبه ئى مرادفه ده دكفرسره اومنافي ده دَايمان سره اولاندې درجې ئى منافي دَايمان سره ندې اوامام بخاري تنه تعبيرپه كفردون كفرسره كړې دې،دَدې وجه نه دَحديث مفهوم دې چې مؤمن دروغژن نشي كيدې. نوددې نه دامعلومه شوه چې دَنبي اوصديق په مينځ كښ نسبت دَعموم خصوص مطلق دې هرنبي صديق وي اوهرصديق ضروري نده چې نبي شي اودَدې وجه نه حضرت مريمعليها السلام ته وصف دَصديقيت په قرآن كښ ثابت دې چې وامه صدّيقة ليكن هغه نبي نوه عندالجمهور، او﴿نَبِيًّا﴾ ذكركول ورستو دَ﴿صِدِّيقًا﴾نه داتخصيص بعدالتعميم دې اوبعض فرمائي چې صديق ورته وئيلى شويدي قبل الوحى او نبيا ورته بعدالوحى وئيلى شويدي،اوداجمله يعني ﴿إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا﴾ جمله معترضه ده په مابين دَبدل اومبدل منه كښ چې﴿إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ﴾دې.

فائده: كه څوك اشكال اوكړي چې په حديث كښ حضرت ابراهيمعليه السلام نه ددروغ صادريدلو ثبوت راغليدې لكه حديث كښ دى، لم يكذب ابراهيمعليه السلام الاّ ثلاث كذباتٍ ثنتين منهن فى ذات الله عزوجل الخ(بخارى كتاب الانبياء).

نودَصديق كيدلوباوجود ارتكاب دكذب څرنګه اوشولو؟ نوجواب دادې چې دَثلث كذبات، نه مراد فى الحقيقت دروغ ندي مراد ،بلكه دَهغې نه مراد توريه ده چې مخاطبين چې كوم مقصد دَحضرت ابراهيمعليه السلام دكلام نه فهم كړې وو نوهغه دَحضرت ابراهيمعليه السلام په اعتبارسره خلاف واقعه وو،ليكن دَحضرت ابراهيمعليه السلام كلام اومقصددنوو،بله معنىٰ وه،چې هغه دَنفس الامرسره موافق وه، اودَضرورت په بناء باندې دَدې جوازدَاحاديثونه ثابت دې، خوهركله چې داتوريه دَحضرت ابراهيمعليه السلام دَبلندرتبې په اعتبارسره خلاف اولى وه نودَحسنات الابرار سيئات

المقربين، قانون مطابق اطلاق پري دكذب اوشولو ، باقي تفصيل به انشاء الله په سورة الانبياء كښې راشي.

﴿إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ﴾ پديكښې بيان دَدعوت دې دَحضرت ابراهيم عليه السلام خپل پلارته اودابدل واقع شويدې دَابراهيم نه اوپلار دَابراهيم عليه السلام تارح وو چې لقب ئې ازروو ، تفصيل ئې په سورة انعام كښې تيرشويدې،اوتاء په يا ابت كښې عوض دَياء متكلم نه راغليده. په اصل كښې وو يا ابي وو اودَدې وجه نه يا ابتى، وئيل جائزندى ځكه چې لازميږي جمع په مابين دَعوض اومعوض منه كښې ﴿لِمَ تَعْبُدُ﴾ حضرت ابراهيم عليه السلام دَدعوت توحيد ابتداء په طلب دَدليل اوعلت سره اوكړه په عبادت دَغيرالله باندې اودَمعبودان باطلوبطلان ئې په صورت دَانتفاء دهغې درې(۳)صفاتو كښې بيان كړو چې هغه په معبود برحق كښې ضروري دي،چې سمع ده بصردې اوحاجت روائى ده، اودادرې(۳)صفات په منزله دَعلت دي دَعبادت دَيومعبودلپاره.اوپدې باندې هرعقل سليم والامتفق دې اودعوت داسلوب اوطريقه ډيربهتره ده اونرمه ده دَهغې نه چې ورته ئې وئيلى وي چې ته ګمراه ئې وغيره، اواستفهام لپاره دَانكاراوتوبيخ دې اودَ ﴿لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ﴾ لپاره مفعول به يامقدره دې اويامحذوف دې په حذف دَنسيامنسياسره چې "شَيْئًا". دې ﴿وَلَا يُغْنِي عَنكَ شَيْئًا﴾ "شيئا" يامفعول مطلق دې اويامفعول به دې ﴿يَا أَبَتِ إِنِّي قَدْ﴾ داحضرت ابراهيم عليه السلام علت ذكركړو خپل پلارته دَخپلې اتباع لپاره،اوتقديم دَعلت اودليل اوشو په اتباع باندې لپاره دَدفع دَتوهم دَبى ادبئ چې څوك داتوهم اونه كړي چې دَابراهيم عليه السلام خپل پلارته حكم كول چې ته ځمااتباع اوكړه داخوبى ادبي ده؟ نوځكه اول دليل ذكرشواوبياحكم دَاتباع اوكړو ،اودَ ﴿قَدْ جَاءَنِي مِنَ الْعِلْمِ﴾ نه مراد وحي ده اوحضرت ابراهيم عليه السلام خپل ځان ته عالم اوپلارته جاهل اونوئيلو ،بلكه خپل ځان ته ئې ثبوت دَوحي اوكړو اوپلارنه ئې دَوحي راتلل نفي كړل،لپاره دَرفق اونرمئ په دعوت كښې ﴿أَهْدِكَ صِرَاطًا﴾ پديكښې اشاره ده چې په اتباع دَپيغمبر عليه السلام سره صراط مستقيم ته رسيدل كيږي ﴿يَا أَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطَانَ﴾ عبادت په معنىٰ دَاطاعت سره دې اودَشيطان اطاعت په حقيقت كښې دهغه عبادت كول دى، (قرطبي).

﴿إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ كَانَ ﴾داعلت دنهی دې، اووضع داسم ظاهرپه ځای دمضمرباندې لپاره دډير وضاحت اوتقريرده، او﴿عَصِيّٗا﴾فعيل په معنی دعاصيا يعنی اسم فاعل سره دې اودشيطان په ټولواوصافوکښې صرف وصف دعصيان ذکرکولوکښې اشاره ده چې معصيت دګناهونو جړ اوبنيادې کماوردفی الحديث(بيضاوی).

﴿يَٰٓأَبَتِ إِنِّيٓ أَخَافُ ﴾داتخويف اخروي دې اوبل علت دې دنهي داتباع دشيطان نه، اوغوره قول دادې چې "اخاف" په خپلې معنی سره دې ځکه چې حضرت ابراهيم عليه السلام ته دخپل پلاردخاتمې علم نوو چې دې به په حالت دکفرکښې مړکيږي يابه ايمان راوړي اوځکه ئې ورته نصيحتونه هم کول﴿فَتَكُونَ لِلشَّيۡطَٰنِ وَلِيّٗا ﴾ ، وليًا، نه مراد ولايت اودوستې حقيقتانه ده مراد لقوله تعالی الاخلآء يومئذبعضهم لبعض عدو الخ(زخرف: ۲۷)بلکه مرادتنه شراکت دې په عذاب اولعنت کښې چې په سبب ددوستئ دشيطان سره راځي ای قرينا فى النار(قرطبی) اوياولي په معنی دقريب سره دې ای تکون للشيطان قريبامنه فى النار(فتح) اوبعض فرمائی چې ولی په معنی دتالي يعنی تابع سره دې.

قَالَ أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنۡ ءَالِهَتِي يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُۖ لَئِن لَّمۡ تَنتَهِ لَأَرۡجُمَنَّكَ
اوئيل ئې پلارآيامخ ګرځوی ته دخدايانوځمانه اې ابراهيم! کچرته منع نه شولې ته نوخامخابه دې په کاڼړو اوولم
وَٱهۡجُرۡنِي مَلِيّٗا ۝ قَالَ سَلَٰمٌ عَلَيۡكَۖ سَأَسۡتَغۡفِرُ لَكَ
اولرې شه ځمانه روغ اوياډيره موده) اوئيل ابراهيم عليه السلام سلام دې دې په تا،زرده دعادبخښنی به اوغواړم زه ستادپاره
رَبِّيٓۖ إِنَّهُۥ كَانَ بِي حَفِيّٗا ۝ وَأَعۡتَزِلُكُمۡ وَمَا تَدۡعُونَ
درب خپل نه بيشکه هغه په مادباندې ډيرمهربانه دې،اوځه جداکيږم ستاسونه اودهغې بتانونه چې تاسونی عبادت کوئ
مِن دُونِ ٱللَّهِ وَأَدۡعُواْ رَبِّي عَسَىٰٓ أَلَّآ أَكُونَ بِدُعَآءِ
سيوا دالله جل جلاله نه اوځه عبادت کوم «دعاغواړم»درب خپل اميددې چې نه به شمه ځه په عبادت«غوښتنې»

رَبِّيۡ شَقِيًّا ﴿٤٨﴾ فَلَمَّا اعۡتَزَلَهُمۡ وَمَا يَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ ۙ وَهَبۡنَا

درب خپل باندې محرومه پس هركله چه جدا شو دوئ نه او دهغو نه چه دوئ ئې عبادت كولو ماسيوا د الله ﷻ نه او ورکړو مونږه

لَهٗۤ اِسۡحٰقَ وَيَعۡقُوۡبَ ؕ وَكُلًّا جَعَلۡنَا نَبِيًّا ﴿٤٩﴾ وَوَهَبۡنَا لَهُمۡ مِّنۡ رَّحۡمَتِنَا وَجَعَلۡنَا

ده ته اسحاق او يعقوب او هريو مونږ گرځولي وو نبي او او ورکړو مونږه دوئ ته ډير د خير نو خپلونه. او گرځولي وو مونږ

لَهُمۡ لِسَانَ صِدۡقٍ عَلِيًّا ﴿٥٠﴾

دوئ لره ذكر خير (نيك) اوچت.

﴿قَالَ أَرَاغِبٌ﴾ دا د حضرت ابراهيم عليه السلام نه د پلار د طرف نه دهمكئ آميز جواب دي، دحضرت ابراهيم عليه السلام د نصائحو په مقابلي كښ د پلار د طرف نه دجواب انداز او اسلوب ډير سخت دي. دحضرت ابراهيم عليه السلام هر نصيحت شروع په ﴿يَاأَبَتِ﴾ سره شويده، او د پلار د طرف نه د يابُنَيَّ په ځائ دنوم تصريح اوكړې شوه چې دا دلالت كوي په غلظت ' په غصي باندې او هركله چې دابراهيم عليه السلام د پلار اعتقاد پدي جوړ شوې وو چې دا بتان قابل دعبادت دي او د دوئ دعبادت نه اعراض كول مناسب ندي نو ددي وجه نه ئې جواب په صورت داستفهام تعجبي او انكاري كښ ذكر كړو، او درغبت په صلي كښ چې 'عن' راشي نو په معنى داعراض او ترك سره وي، والرغبة عن الشئ تركه عمدا (بحر) او علامه زمخشرى فرمائى چې ﴿أَرَاغِبٌ﴾ خبر مقدم دې او ﴿أَنت﴾ مبتدا مؤخر دي او تقديم دخبر داهتمام شان لپاره دي چې داخما معبودان داسي دي چې د دوئ نه اعراض او نفرت قطعا ندې پكار، ليكن غوره خبره داده چې ﴿أَرَاغِبٌ﴾ صيغه داسم فاعل ده، او داسم فاعل دعمل لپاره يو شرط دادې چې اعتماد به ئې راغلى وي په شپږ څيزونو كښ په يو څيز باندې چې په هغې كښ حرف استفهام هم دې، نو چونكه دلته هم داسم فاعل نه مخكښ حرف استفهام راغليدې چې دده اعتماد په هغه دې نو د دې وجه نه، انت ورله فاعل شو، او اضافت د آلهة. ياء دمتكلم او شو پديكښ اشاره ده مبالغي دتعظيم ته دهغه دخپلو معبودان باطلو سره، او صيغه دجمعي ذكر شوه نو پديكښ اشاره ده ديته چې دحضرت ابراهيم عليه السلام پلار به ډيرو آلهو عبادت كولو.

﴿لَأَرْجُمَنَّكَ﴾ داجواب شرط اوقسم دي، اورجم نه مراد يارجم باللسان، يعنی کنځل کول دي اويارجم بالحجارة، سنګسارکول دي، يعني ځه به تاته سخت کنځل اوکړم اويابه دې سنګسارکړم، اوياتنه مرادسخت ضرب اووهل دی ﴿وَٱهْجُرْنِي مَلِيًّا﴾ واو عاطفة ده اوداجمله عطف ده په معطوف عليه مقدرباندې چې فاحذرنی، دې چې دلالت پرې کړيدې، لارجمنك، ځکه چې ﴿لَأَرْجُمَنَّكَ﴾ دتهديدلپاره دې، او﴿مَلِيًّا﴾ په معنی دسالماسره دې، يعنی تاته به ځمادطرف نه تکليف اورسي ښه به داوي چې ته ځمانه روغ لري شي اوبل طرف ته لاړشي (قرطبی) نوپدې صورت کښې مليا، منصوب دې بناء برحاليت اوبعض فرمائی چې ﴿مَلِيًّا﴾ معنی ده دهرا طويلا يعنی اوږده زمانه ياهميشه لپاره، نوپدې صورت کښې بيادې منصوب دې بناء برظرفيت، قال ﴿قَالَ سَلَٰمٌ عَلَيۡكَ﴾ داسلام د تحيه ندې عندالجمهورچې هغه ممنوع دې په کافرباندې، بلکه داسلام يالپاره دمتارکت اومفارقت يعني دجدائی دې اومطلب ئی دادې چې بس ځما اوستاپه مينځ کښې په خيراوسلامتياسره جداکيدل دي لکه چې په سورة القصص ايت نمبر(۵۵) کښې دی لنا اعمالناولکم اعمالکم سلم عليکم الخ (قصص: ۵۵) اوهم داطريقه داهل حلم اودنيکانوده دجاهلانوسره، اوداډليل دې پدې چې کله ناصح ته دمنصوح له، دجانبه دهمکئ اوسخت الفاظ استعمال شي نودې نصيحت پريخودلی شي اوياسلام دمسالمت اودامن دې، مطلب دادې چې ستادطرف نه اګرچه دهمکئ دي خوځمادطرف نه تاته امن اوسلامتياده ځکه چې په ابراهيم عليه السلام باندې قتال فرض نوو، خواوله توجيه زياته غوره ده پدليل دورستني ايت ﴿وَأَعۡتَزِلُكُمۡ﴾ سره ﴿سَأَسۡتَغۡفِرُ لَكَ رَبِّيٓ﴾ بعض مفسرين فرمائی چې دلته داستغفارنه مراد دعاکول دي دهدايت اودتوفيق دايمان چې ځه به دالله تعالیٰ نه ستالپاره دعاغواړم چې تاته هدايت اوکړې اوتيرشوي ګناهونه درته معاف کړې، (روح) اواستغفارپدې معنیٰ سره دکافرلپاره غوښتل جائزدې، ترڅوپورې چې دهغه خاتمه په کفر باندې يقينی شوې نوي، اوکه دهغه خاتمه علی الکفريقيني شي يعني يوپيغمبرته دوحي په ذريعه پته لګيدلي وي نوبيادهغه کافرلپاره هم دامذکوره دعاغوښتل جائزندي ځکه چې داطلب دمحال دې، ليکن پدې توجيه اشکال واردېږي چې سورة الممتحنه، کښې الله تعالیٰ دحضرت ابراهيم عليه السلام داتباع حکم کړې دې اودهغه

استغفارلپاره دَخپل پلاردائی تنه مستثنی کړیدې چې ددې اتباع مه کوئ، الاّ قول ابراهیم لابیه لاستغفرنّ لك، نوکچرته استغفارپدغي مذکوره معنی سره وي نو استثناء به ئی ولي کیدله ځکه چې دااستغفارخودَمشرك لپاره جائزبلکه مستحسن دې، نوددې وجه نه غوره خبره داده چې استغفارپه خپلي معنی سره دې، اودااستغفاردَابراهیمؑ قبل العلم وو. اوتفصیل ئی په سورة التوبة ایت نمبر(۱۴۴)کښې تیرشویدې.

فائده: کافرباندې ابتداء په سلام سره کول جائزدی یاجائزندی، مسلك دَجمهورودادې چې په کافرباندې ابتدبالسلام جائزه نده، ځکه چې په صحیح حدیث کښې راغلیدی چې رسول اللهﷺ ارشادفرمائی، لاتبدؤوا الیهود والنصاری بالسلام فاذا لقیتم احدهم فی الطریق فاضطروه الی اضیقه(مسلم) اوحضرت سفیان بن عیینهؒ دَجوازقائل دې چې په کافرباندې ابتداء په سلام سره کولی شي اواستدلال ئي کړیدې په ظاهردَدې ایت سره چې﴿سَلَٰمٌ عَلَيۡكَ﴾دې اودغه شان استدلال ئی کړیدې په هغې روایت سره چې مروي دې دَحضرت اسامهؓ نه اوذکرکړیدې امام بخاری په متعدد مواضعوکښې، په کتاب التفسیرکښې په باب قوله ولتسمعن من الذین الخ کښې اودغه شان په کتاب الاستیذان، باب التسلیم فی مجلس فیه اخلاط من المسلمین والمشرکین په هغې طویل حدیث کښې دی، فاذا فی المجلس اخلاط من المسلمین والمشرکین وعبدة الاوثان والیهود والمسلمین.........فسلم رسول اللهﷺ علیهم الخ (رواه البخاری ج۲ ص۶۵۶)لیکن مذهب دَجمهورو راجح اوغوره دې اوهرچه دې استدلال دَحضرت سفیان بن عیینهؒ په ایت سره نوهغه ځکه ضعیف دې چې ایت مذکوره محتمل دې دَمتعددو معانیواوغوره داده چې دلته دَسلام نه مراد سلام دَمتارکت اوودیعت دې، لکه ورستو ایت پري قرینه ده اوپه تقدیردَتسلیم سره جواب دادې چې شرائع من قبلنا زمونږ لپاره حجت هله ګرځي چې نهي پري نوي وارده شوي اوحالانکه ذلته نهي وارده ده، لکه حدیث مذکوره اودغه شان نوراحادیث شو،اوهرچه دې حدیث نوعلامه عینی، کرمانی، وغیره فرمائی چې چونکه دامجلس مشتمل ووپه مسلمانانواوکافروباندې نوممکنه ده چې رسول اللهﷺ په سلام سره نیت فقط دَمسلمانانوکړې وي اودکافرو نیت ئی دِنوي کړې اوداهم ممکنه ده چې داپه ابتدا دَاسلام کښې وو اوورستوبیاداحکم دَجواز منسوخ شوې وي لکه چې دامعلومیږي ظاهردَحدیث نه چې، وذلك قبل وقعة بدرچې دَرسول اللهﷺ دکفارو پدې مجلس باندې تیریدل اوسلام اچول وغیره دَجنګ بدرنه مخکښې وو، اوامام قرطبیؒ تطبیق کړیدې چې احادیث دَنهي محمول

دې په عموم باندې اوحديث دَاسامهﷺ محمول دې په خصوص باندې چې بلاضرورت سلام اچول جائزندی په کافرباندې خوکچرته څه، حاجت چاته پيښ شي نوبياجوازشته دې،باقي تفصيل په قرطبي اوطبري کښې دې(من شآء فليطالع ثمه).

﴿وَأَعْتَزِلُكُمْ﴾دا عطف دې په﴿سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ ﴾باندې چې تاته څمادَطرف نه سلام اوځه ستانه اوستادَمعبودانو نه بس جدائی اختياره وم اودلته په اعتزال سره مراد هجرت کول دی، حضرت ابراهيمؑ ارض مقدسه يعني شام ته بياهجرت اوکړو(مدارك) ﴿وَأَدْعُواْ رَبِّي ﴾ددعانه مرادياعبادت دې اوياتنه مراد دعائ استغفارده دَخپل پلارلپاره، اوياتنه مراد مطلق دعاده، لکه په سورة الشعراء کښې ده، رب هب لى حكما والحقنى بالصلحين، اوياتنه مراد دعاده دَطلب دَاولاد والالکه په سورة الصافات کښې دي، رب هب لى من الصلحين، ﴿بِدُعَآءِ رَبِّي شَقِيًّا ﴾پديکښې اشاره ده چې دَاللهﷻ نه غوښتونکی په خساره اونقصان کښې نوي اودَرب العلمين ،درنه نامراده واپس کيدل نشته، په خلاف دَمخلوقاتونه چې دهغوئ نه په غوښتنه کښې ذلت هم دې اونامرادي هم شته.

﴿فَلَمَّا ٱعۡتَزَلَهُمۡ ﴾هرکله چې حضرت ابراهيمؑ خالص دَاللهﷻ لپاره خپل خپلوان پريخودل نودهغې په بدله کښې ورله اللهﷻ معزز اوپيغمبران اولادورکړل، اوذکردَاسحٰقؑ اودَيعقوبؑ څکه اوشوچې دَحضرت اسمعيلؑ ذکرلږورستومستقلا کيږي اويادَدي وجه نه چې دَحضرت اسحقؑ اويعقوبؑ په نسل کښې دَانبياء کرامو تعداد ډيروو اودوئ اصل وو دَانبياء کرامو ؑ لپاره.

﴿وَوَهَبۡنَا لَهُم مِّن رَّحۡمَتِنَا ﴾مراد درحمت نه بعض فرمائی چه نبوت دې، بعض فرمائی چې کتابونه، دي ليکن غوره خبره داده چې مرادتنه هرقسم خيردې، دنيوي وي اوکه ديني وی،(روح) ﴿وَجَعَلۡنَا لَهُمۡ لِسَانَ صِدۡقٍ ﴾دَلسان، نه مراد هغه کلمات اوالفاظ دي چې دژبې نه اداکيږي، نودَلسان صدق نه مراد هغه خبري دي چې په هغې باندې فخرکيږي اوتعريف ئې پرې کيږي اوحضرت ابراهيمؑ شخصيت تولوقومونوته مسلم دې اوپه هرقوم کښې تاابددهغه

ذكرخير كيږي. دلسان اضافت صدق ته او بيا دلسان لپاره صفت "عليًا". ذكر كولو كښې اشاره ده دېته چې ددوئ چې كوم تعريف اوثناء كيږي دې دهغوئ مستحق دي

وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ مُوْسٰىۤ اِنَّهٗ كَانَ مُخْلَصًا وَّكَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا ﴿۵۱﴾
[1]اوبيان كړه ته په دې كتاب كښې واقعه دموسىٰ عليه السلام بيشكه هغه پاك ساتلې شوې وو. او وو رسول نبي
وَنَادَيْنٰهُ مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ الْاَيْمَنِ وَقَرَّبْنٰهُ نَجِيًّا ﴿۵۲﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗ مِنْ رَّحْمَتِنَاۤ
او اواز وركړو مونږ هغه ته دښي طرف دطورنه اونزدې كړې وو مونږه رازدار. اوګرځولې وو مونږه ده ته دوجې درحمت خپل نه
اَخَاهُ هٰرُوْنَ نَبِيًّا ﴿۵۳﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِسْمٰعِيْلَ اِنَّهٗ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ وَكَانَ
ورور دده هارون عليه السلام نبي. اوبيان كړه پدې كتاب كښې حالت داسمٰعيل عليه السلام بيشكه دې وو رشتنى لوظ والا او وو دې
رَسُوْلًا نَّبِيًّا ﴿۵۴﴾ وَكَانَ يَاْمُرُ اَهْلَهٗ بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ ۪ وَكَانَ عِنْدَ رَبِّهٖ
رسول نبي، اووو دې چې حكم به ئې كولو خپل اهل(متبعينو)ته دمانځه اوزكوة اداكولو او وو دې په نيزدرب خپل
مَرْضِيًّا ﴿۵۵﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِدْرِيْسَ اِنَّهٗ كَانَ صِدِّيْقًا نَّبِيًّا ﴿۵۶﴾
غوره كړې شوې، اوبيان كړه ته پدې كتاب كښې حالت دادريس عليه السلام بيشكه چې دې وو ډيررشتنې نبي
وَّرَفَعْنٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا ﴿۵۷﴾
اوپورته كړې وو مونږه دې مرتبې اوچتې ته.

﴿وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ مُوْسٰىۤ﴾ ددرې(۳)انبياء كرامو عليهم السلام تفصيلي واقعات بيانولو نه پس ددرې(۳)انبياء كرامو عليهم السلام واقعات په اختصارسره بيانيږي چې موسى عليه السلام اسمعيل عليه السلام اوادريس عليه السلام دى چې دوئ هم الله جل جلاله ته محتاجه اوعاجزي كوونكي وو﴿اِنَّهٗ كَانَ مُخْلَصًا﴾ مخلص معنى داده چې غوره كړې شوې اوخالص كړې شوې دالله جل جلاله دعبادت لپاره اودشرك

(1) جواب شبهه متعلق به باقى انبياء كرام عليهم السلام

اوګناهونو نه پاك ساتلي شوي، اوپه يو قرائت كښې په كسري دلام سره مخلصًا راغليدى چې صيغه داسم فاعل ده نومعنٰى ئى داده چې دې خالص كوونكې وو الله ﷻ لره خپل عبادت. (جلالين،قرطبي).

﴿أَخَاهُ هَٰرُونَ نَبِيًّا﴾ظاهراشكال وارديږي چې مرتبه درسالت افضله ده دمرتبې دنبوت نه ځكه چې هررسول نبي خامخاوي په خلاف دنبي نه، چې ضروري نده چې هرنبي درسول وي. نوذكردرسول نه پس ذكردنبي عبث دې؟ بعضوتنه جواب كړيدې پدي شان چې دلته نبي ماخوذدې دنبوة نه په معنٰى درفعت اوعلوسره دې نومطلب دادې چې. دې دالله ﷻ عالي مرتبه رسول وو يعني په ډيرو انبياء كراموپه ډيرو مخلوقاتوباندې ده ته الله ﷻ بلندي اواوچته مرتبه وركړي وه.(روح)،(۲)اوبعض فرمائي چې درسول اونبي دواړونه لغوي معنٰى مرادده اوشرعي معنٰى تنه نده مراد ،اوپه دواړو كښې فرق نسبتي دې، رسول يعني مرسل وو دجانبه دالله ﷻ نه. اونبي يعني خبرداري وركوونكي وو مخلوقاتو، نورسول ووپه نسبت سره الله ﷻ ته اونبي وو په نسبت سره مخلوقاتو ته.(۳)اوبعض فرمائي چې نبي عام دې اورسول خاص دې اوعام طورباندې عام دخاص نه مخكښې ذكركيږي خو دلته، دعام قانون نه خلاف اوكړې شو اوذكردعام بعدالخاص اوشو لپاره درعايت دفواصلو ،لكه چې څرنګه په سورة طه ايت نمبر(۷۰) برب هارون وموسىٰ كښې دفواصلو درعايت لپاره تقديم دهارون ﷺ شويدې په موسى ﷺ باندې (تفسيرنيشاپوري).

﴿وَنَٰدَيۡنَٰهُ مِن جَانِبِ ٱلطُّورِ﴾طورنه مراد كوه طوردې چې دمصراومدين په مينځ كښې واقع دې. اونوم دهغه په بعض رواياتو كښې،زبير،راغليدې. او ﴿ٱلۡأَيۡمَنِ﴾صفت دجانب لپاره دې اوايمن ديمين نه دې چې مقابل ديساردې اوداجانب ايمن، په اعتباردموسى ﷺ سره دې. ځكه چې دغرلپاره يمين اوشمال بنفسه نوي. نودايت مقصددادې چې كله حضرت موسىٰ ﷺ دمدين نه مصر ته روان شونوپه كوه طوركښې ديوي ونى نه ورته اواز اوشو اوهغه اونه دموسى ﷺ جانب يمين كښې واقعه وه،اوبعض فرمائي چې، ايمن ديمن نه دې په معنٰى دبركت سره.اوداصفت دې دطورلپاره﴿وَقَرَّبۡنَٰهُ نَجِيًّا﴾ اقربيت په اعتباردمرتبې مراددې چې دينه تقريب تشريف اواكرام وئيلى كيږي،اوداتمثيل دې چې حالت دموسى ﷺ مشابه كړې شويدې دحالت دهغه چاسره چې دبادشاه سره نزدې ناست وي اوبادشاه ورسره درازخبري كوي اوحضرت

سعيدبن جبير﷫ دابن عباس﷠ نه نقل کړيدي چې داقربت په اعتباردمکان اومنزلت سره دې، چې موسیٰ﵇ الله ﷻ خپل ځان ته دمکان په اعتبارسره قريب کړو حتی که چې حضرت موسیٰ﵇ دهغه قلمونوآوازهم واوريدو چې په کوموسره تورات ليکلی کيدلو. عن سعيدبن جبير﷫ عن ابن عباس﷠ قال ادنی حتّی سمع صريف الاقلام(طبری ج۸ ص ۳۵۱) اودادې ايت نوره تشريح به په سورة طه کښې راشي(انشاء الله).

﴿وَوَهَبْنَا لَهُ مِن رَّحْمَتِنَآ﴾ من ياجليه دې ای من اجل رحمتنا اوياتبعيضيه دې او﴿هَٰرُونَ﴾عطف بيان دې او﴿نَبِيًّا﴾حال دې دهارون نه اوپه کلام مقيدکښې عام طورباندې مقصود قيدوي، نوددې وجه نبيادامقصود اوموهوب دې اوذات اوشخصيت دهارون﵇ موهوب ندې ځکه چې حضرت هارون﵇ دعمر په اعتبارسره دموسیٰ﵇ نه مشروو. اوتخصيص ددې موهوب(يعني دحضرت هارون﵇ نبي جوړيدل) حضرت موسیٰ﵇ پوري اوشو. اوداسې اوئيلی شو چې﴿وَوَهَبْنَا لَهُ﴾، خالص دده لپاره مونږه حضرت هارون﵇ نبي جوړ کړو. داځکه چې حضرت موسیٰ﵇ دده په باره کښې دعاکړې وه چې، واجعل لّي وزيرا من اهلي،هارون اخي(طه:۲۹، ۳۰).

﴿وَٱذْكُرْ فِى ٱلْكِتَٰبِ إِسْمَٰعِيلَ﴾داداحضرت اسمعيل﵇ اثبات دعبديت کبرئ﴿إِنَّهُۥ كَانَ صَادِقَ ٱلْوَعْدِ﴾ صدق اوايفاء دوعدې دهرپيغمبرشان اوصفت دې خوهرکله چې داوصف خصوصي اوامتيازي وو په اسمعيل﵇ کښې ددې وجه نه د هغه سره خصوصاذکرشو، اوحضرت اسمعيل﵇ که داللهﷻ سره وعده کړې وه يادانسانانوسره نودهغې دپوره کولواهتمام به ئې په ډيرکلکه سره کولو. خپل پلارحضرت ابراهيم﵇ سره ئې وعده اوکړه چې، ستجدني ان شآء الله من الصبرين، اوبيائې خپل ځان بلاچون چرا قربانۍ ته پيش کړو. اودغه شان په روايت دابوداود کښې دی چې، حضرت اسمعيل﵇ ديوکس سره وعده کړې وه چې ترڅوپورې ته نوي راغلې نوځه به پدې ځائ کښې وم، نوهغه سړې نه خيره هيره شوه اودرې ورځ ورستوورته ياده شونوچه راغی نوحضرت اسمعيل﵇ په خپل ځائ باندې ناست وو. اوپه

خني رواياتو كښې يوه شپه اويوه ورځ راغليدى،(ابوداود كتاب الادب باب في العِدة، طبرى ج۸ ص ۳۵۲، ۳۵۱).

﴿وَكَانَ رَسُولاً ﴾حضرت اسمعيل عليه السلام ته امت نوې ورکړې شوې وو اونه ورته نوې شريعت ورکړې شوې وو ،ليکن کوموخلقوطرف ته دې مبعوث شوې اوليږلى شوې ووهغواعتبارسره دادين نوى وو ،نودَدې وجه نه رسول ورته اوئيلى شو﴿وَكَانَ يَأْمُرُ ﴾يعني حضرت ابراهيم عليه السلام دَالله تعالى دومره فرمانبرداروو چې خپل اهل ته به ئې هم مالي، بدني،قولي عباداتوتلقين کولو،اومرادپه اهل سره ياخپل اهل وعيال دې. اويا ټنه قوم جرهم اوياټنه ټول امت دهغه مراد دې. اوپه صلوة اوزكوة سره مراد عبادات بدنيه وماليه دى اوبعض فرمائى چې په زكوة سره مرادتزكيه دَنفس ده.

﴿وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ إِدۡرِيسَ﴾دَادحضرت ادريس عليه السلام اثبات دَعجزاوعبديت كيږي اكثرعلماء فرمائى چې ادريس عليه السلام دَپلارنوم اخنوخ وو اودې نيکه وودَحضرت نوح عليه السلام لکه چې امام بخاري رحمه الله په ترجمة الباب کښې فرمائى، وهو جدّ ابى نوح عليه السلام ويقال جدّ نوح عليه السلام بلکه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چې بعض علمآء پدې اجماع نقل کړيده، اوپه قرآن مجيد کښې دده ذکردَابراهيم عليه السلام نه ورستوکيدل مستلزم ندي چې زمانه هم دده ورستوده لکه داتوهم کړيدې بعض معاصرمفسرينو ، ځکه چې بعديت ذکري مستلزم ندې بعديت زماني لره.لفظ دَادريس کښې اختلاف دې بعض فرمائى چې دالفظ عربى دې ماخوذدې دَدراسة نه اوده ته ادريس ځکه وئيلى کيدوچې ده دَالله تعالى دکتاب درس ډيرکولو ، ليکن پدې توجيه اشکال کيږي چې لفظ ادريس چې کله مشتق شي دَدراسة نه اولفظ عربي شي نوبياخودې غيرمنصرف کيدل صحيح ندي ځکه چې عجميت پکښې نشته،اوحالانکه دې غيرمنصرف دې له وجې دَعلميت اوعجميت نه، نودَدې وجه نه اولى خبره داده چې دالفظ عجمي دې اوبعض علمآء فرمائى چې لفظ ادريس عليه السلام دَتوافق اللغتين دَقبيلى نه دې، چې عربئ کښې هم وئيلى کيږي کثيرالدرس،ته اوپه بله ژبه کښې هم دغه معنى ده،حضرت ادريس عليه السلام دَعلم نجوم اوحساب موجددې،دټولونه اول هغه په قلم سره، خط ليکلى دې، اوګنډلي شوي جامي ئې اچولي وې.

﴿وَرَفَعْنٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا﴾ دَمكان عليًا، نه مراد شرف نبوت او دَالله ﷻ خواته نزديکت او قربت دې، بعض علماء فرمائی چې رفع الی السمآء تنه مرادده چې الله ﷻ په څلورم اسمان کښې ده ته ځهکانه ورکړيده، او حضور ﷺ دَمعراج په شپه ورسره ملاقات کړې وو. باقي دَحضرت ادريس ؑ جنت ته تلل يا هلته وفات کيدل دا ټول واقعات اسرائيليات دي لکه چې پدې تصريح کړيده حافظ ابن کثير رحمه الله.

أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ مِنْ ذُرِّيَّةِ اٰدَمَ وَمِمَّنْ

[1] داهغه کسان دی چې انعام کړې وو الله ﷻ په دوئ باندې دَانبياؤنه څخه دَاولاد ادم ؑ نه دی او څخې دَاولاده دهغه چنه

حَمَلْنَا مَعَ نُوْحٍ ۡ وَّمِنْ ذُرِّيَّةِ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْرَآءِيْلَ وَمِمَّنْ

چې سواره کړې مونږه سره دَنوح ؑ نه او څخې دَاولاد دَابراهيم ؑ او يعقوب ؑ نه وو او دَهغه خلکونه

هَدَيْنَا وَاجْتَبَيْنَا ؕ اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُ الرَّحْمٰنِ خَرُّوْا

چې مونږ ورته هدايت کړې وو او مونږ غوره کړې وو، هرکله چې لوستلی شو پدوئ باندې ايتونه دَرحمٰن نو غورځيدل به دوئ.

سُجَّدًا وَّبُكِيًّا ۩ ۝٥٨ فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ

سجده کوونکی او ژړا کوونکی [2] پس راغلل دَدوئ نه ورستو نااهله نائبان چې بردباد ئي کړو مونځ او روان شو دَ(نفس) په خواهشاتو پسې

فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ۝٥٩ اِلَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ

نو زر ده چې مخامخ به شي (سزا) دَسرکشئ ته. مگر هغه څوک چه توبه ئي اويستله او ايمان ئي راوړو او عمل ئي اوکړو

صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُوْنَ شَيْـًٔا ۝٦٠ جَنّٰتِ عَدْنِ

نيک (موافق دَسنت) نو دغه کسان به داخليږي جنت ته او ظلم به نه کيږي پدوئ باندې هيڅ قدر، جنتونه دَهميشه اوسيدلو

(1) دا ايت تمام مذکورين انبياء کرام عليهم السلام سره متعلق دی، او ذکر دَشپږو اوصافو لپاره دَنفي الوهيت.
(2) جواب دَسوال مقدر

ٱلَّتِي وَعَدَ ٱلرَّحۡمَٰنُ عِبَادَهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ إِنَّهُۥ كَانَ وَعۡدُهُۥ مَأۡتِيّٗا ﴿٦١﴾

هغه چي وعده کړيده رحمان دبندګانوخپلوسره چي نه ئ دی ليدلي داجنتونه. بيشکه ده وعده دالله ﷻ راتلونکې پوره کيدونکي.

﴿﴾پدي ايت کښې دعوئ دسورت يعني دانبياء کرامو عجزبيانيږي اودهغوئ نفي دالوهيت کيږي په شپږو(۲)طريقوسره (۱) ﴿أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم﴾چي الله ﷻ پدوئ باندې انعام کړي وو(۲)﴿مِن ذُرِّيَّةِ ءَادَمَ﴾آدم چي دوئ اولاد دحضرت ادم ﷺ وو(۳)﴿هَدَيۡنَا﴾چې مونږه دوئ ته دتوحيدلاره خودلي وه(۴)﴿وَٱجۡتَبَيۡنَآ﴾ چې مونږه دوئ ته لوئي مرتبي ورکړي وي(۵)﴿إِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُ ٱلرَّحۡمَٰنِ خَرُّواْ سُجَّدٗا﴾ چې کله په دوئ باندې دالله ﷻ اياتونه تلاوت کړې شي نواظهارعجزلپاره به سجدهٔ ته لاړلو(۲)﴿وَبُكِيّٗا﴾يعني دالله ﷻ دخوف دوجي نه به ئې ژړل، نودوئ به څرنګه متصرف اوکارسازاوګرځي.

﴿أُوْلَٰٓئِكَ﴾اشاره ده عام مفسرين فرمائي چې دده مشاراليه پدي سورت کښې،مذکورانبياء کرام دی. دحضرت زکريا ﷺ نه ترحضرت ادريس ﷺ پوري،اواشاره بعيده ددوئ بعدرتبی لپاره راوړی شوه،ليکن حافظ ابن کثير رحمه الله فرمائي چې مشاراليه جنس انبياء کرام دی خودجنس په ځائ ذکردا شخاصواوشو﴿أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم﴾ مرادتنه هرقسم نعمتونه دی که ديني دی اويادنيوي ﴿مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ﴾ من بيانيه دې اودابيان دې دموصول يعني ﴿ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ﴾ ځکه چې تول انبياء کرام منعم عليهم دی﴿مِن ذُرِّيَّةِ ءَادَمَ﴾ دامن تبعيضيه دې، اومصداق ددې حضرت ادريس ﷺ دې فقط،ځکه چې هغه ادم ﷺ ته قريب وو، اوبعض فرمائي چې﴿مِن ذُرِّيَّةِ ءَادَمَ﴾دابدل دي د ﴿مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ﴾ نه په اعادې دحرف جرسره نوپدي اعتبارسره بيا من بيانيه دې،نه تبعيضيه، نومطلب به ئی داشی چې دمنعم عليهم دذريه دادم ﷺ،نه دي ليکن اوله توجيه زياته غوره ده ځکه چې ذريت دادم ﷺ عام دې اومنعم عليهم پکښې خاص دې، نوکچرته دابدل شي نودقانون مطابق چې بدل مقصود بالحکم وی،نوکل ذريت دادم په منعم عليهم

او کرځي ﴿وَمِمَّنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ﴾ داعطف دې په ﴿ءَادَمَ﴾ باندې اود ﴿وَمِن ذُرِّيَّةِ﴾ ماتحت دي. اى ومن ذرية من حملناهم معه عليه السلام (روح) اومصداق ددې حضرت ابراهيم عليه السلام دې ځکه چې هغه بالاجماع داولاد دسام بن نوح عليه السلام نه وو، اوپديکښې اشاره ده نعم دنيويو ته ﴿وَمِن ذُرِّيَّةِ إِبْرَٰهِيمَ﴾ مرادتنه حضرت اسماعيل عليه السلام، اسحاق، اويعقوب عليه السلام دي. ﴿وَإِسْرَٰٓءِيلَ﴾ مرادتنه موسى عليه السلام، هارون عليه السلام، زكريا عليه السلام، يحيىٰ عليه السلام اوعيسىٰ عليه السلام وغيره دى اوپديکښې اشاره ده نعم دينيه ته، اودادليل دې پدې چې دلور اولادهم په ذريت کښې داخل دي ﴿وَمِمَّنْ هَدَيْنَا﴾ داعطف دې په ﴿مِن ذُرِّيَّةِ ءَادَمَ﴾ باندې اوغوره قول مطابق من دلته هم دتبعيض لپاره دي مرادپه هدايت سره هدايت الى الاسلام والتوحيد دي ﴿وَٱجْتَبَيْنَآ﴾ مرادتنه اعطاء دنبوت ده هغوئ ته ﴿خَرُّواْ سُجَّدًا وَبُكِيًّا﴾ دااخباردې دهغوئ دخشوع اوخوف خداوندى ته ﴿وَبُكِيًّا﴾ صيغه جمع اسم فاعل ده مفرد باكي دې اوپدې ځائ کښې دادعاغوختل مستحب دى اللّهم اجعلنى من عبادك المنعم عليهم المهدين الساجدين لك الباكين عندتلاوة اياتك.

﴿فَخَلَفَ مِنۢ بَعْدِهِمْ﴾ دادیوسوال جواب دې، سوال داکيدلوچې کله قول انبياء كرام پدې متفق وو چې متصرف اوکارسازصرف الله جل جلاله دې اوصحيح لاره دتوحيدده نوبيا څرنګه خلکودوئ ته متصرف اوئيلواوشرك ئې اوكړو، نوجواب تنه اوشوچې دانبياء كرامو عليهم السلام نه ورستودهغوئ صحيح دين غلطواوناکاره خلکوبربادکړلو، هغوئ دالله جل جلاله نه علاوه دمعبودان باطله عبادت شروع کړو، مونځونه ئې ضائع کړل اودخپلوخواهشاتواتباع ئې اوكړه او خلف په سكون دلام سره وئيلى كيږي نالائق اوبدجانشين ته اوپه فتحې دلام سره وئيلى كيږي صحيح اونيك جانشين ته. ﴿أَضَاعُواْ ٱلصَّلَوٰةَ﴾ هرکله چې مونځ بنياد اوستنه ددين ده نوددې ضياع مستلزمه ده عرفا ضياع دنورټول دين لره، اوددې وجه نه حضرت عمر رضي الله عنه ارشاداوفرمائيلوچې ومن ضيعها فهو لماسواها اضيع، نوپدې بنياد خاص طورذکردضياع دمونځ اوشو اوضياع دمونځ شامله ده پريخودلودمونځ ته، دغه شان تعديل نه کولوته په ارکانوکښې اودغه شان مؤخرکولودمونځ ته اوقات مکروهوته وغيره، اوبعض فرمائى چې دلته دصلوة نه مراد دعاده، اوتضييع ددعا مقصد

دادې چې دوئ دَالله ﷻ نه علاونه بل چاته حاجت روا اوئيل اودهغه نه دعااوغوختل﴿وَٱتَّبَعُواْ ٱلشَّهَوَٰتِ﴾ يعني چې كوم كاردَددوئ نفساني خواهش وو بس هغه به ئي كولو دَحلال اوحرام امتيازنو لكه شراب څكل، زناكول وغيره﴿فَسَوۡفَ يَلۡقَوۡنَ غَيًّا﴾ ،غيٌ يوه كنده ده په جهنم كښې اوحضرت ابن عباس﵄ فرمائي چې ددې كندې نه دَجهنم نورې حصې هم پناه غواړي.اوبعض فرمائي چې مرادتنه خسران اونقصان دې اوبعضوتنه شرمرادكړيدې، اودزجاج نه منقول دي چې دَغي نه مراد ضلالت اوګمراهي ده اوعبارت په حذف دَمضاف سره دې اوجزاء الغي اودامعنى زياته مناسبه ده﴿إِلَّا مَن تَابَ﴾ پدې څوايتونوكښې بشارت اخروي ذكركيږي،اودغه شان پدې ايت كښې اوصاف دَمؤمنين هم بيانيږي اواستثناء يامنقطعه ده«عندالزجاج» اويامتصله ده لكه چې داظاهره هم ده اودغه شان غوره خبره داده چې مستثنیٰ داټول كلام ده يعني ﴿مَن﴾موصول او﴿تَابَ﴾ سره دَمعطوفاتونه ورله صله ده، نوداټوله مبتداء مستثنیٰ ده ځكه چې په وعيدسابقه كښې مؤمن فاسق«تارك الصلوة وغيره» هم داخل دې، اګرچه په سزاكښې ئې فرق شته دې، اودَدې وجه نه بعض مفسرين فرمائي چې﴿تَابَ﴾مقابل دې دَ﴿أَضَاعُواْ ٱلصَّلَوٰةَ﴾چې دَاضاعت صلوة نه توبه اوباسي اوصحت دَتوبې لپاره يوشرط داهم دې چې دكوم حكم تضييع ئي كړې وي نودَهغې قضابه راوړي، نوددې وجه نه لفظ دَتاب ذكرشواوصرف دَاقامت الصلوة، ذكراونشواواتباع دَشهواتو سره كله كله انسان كفراختياركړي نودهغې لپاره ذكردَ ﴿وَءَامَنَ﴾اوشواوكله هسې فسق اوفجوروكښې اوپه بدعاتوكښې مبتلاشي نودهغې لپاره ذكردَ ﴿وَعَمِلَ صَٰلِحٗا﴾اوشو، چې خپل نفساني خواهشات پريدي اودَسنت موافق عمل شروع كړي«والله اعلم».

﴿فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ﴾مراد دَدخول نه دخول كامل اودخول اولي دې، نه مطلق دخول، نوداايت مستدل نه ګرځي دَمعتزلولپاره چې عمل شرط ګرځوي دَدخول جنت لپاره اومرتكب دګناه كبيره مخلدفي النارګڼړي اوياالف لام په الجنة كښې دَعهدلپاره دې اومعهود پدې سره جنات عدن دې چې تفسيرئې په دې دويم آيات كښې راځي،اوهغې ته دَدخول لپاره نيك اعمال شرط دی﴿جَنَّٰتِ عَدۡنٍ﴾داپه نصب سره دې اونصب ئې تابع دَجردې،نودابه بدل البعض شي

دۀ ﴿يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ ﴾ نه څکه چې مطلق جنت په جنات عدن باندې مشتمل دې دقبيلې دَاشتمال دکل نه په جزء باندې ،اوعدن علم دې دَاقامة لپاره اويا علم دې دزمکي دَجنت لپاره

﴿وَعَدَ الرَّحْمَٰنُ عِبَادَهُ بِالْغَيْبِ ﴾داجمله صفت دې دَماقبل جنّت عدن نه او اضافت دَعبد ؤ ضميرته لپاره دعهددې،اومعهود پدې سره مؤمنين، تائبين دی ای اللتی يدخلها التائبون من ذنوبهم(ابن كثير) (۱)او باء په بالغيب كښې يادَملابست لپاره ده اوداجمله په موضع دَحال كښې ده دَ﴿الَّتِي﴾ نه اويادَ﴿عِبَادَهُ﴾ نه اوغيب بمعنى الفاعل يعني دَغائب په معنى سره دې نوتقديردَعبارت ئې دارنګې شو ، ای وعدها اياهم متلبسة اومتلبسين، بالغيب ای غائبة عنهم غيرحاضرة اوغائبين عنها لايرونها(روح) يعني الله ﷻ دَخپلو ، بندګانوسره دَجنت وعده کړيده حال دادې چې دَاجنت غائب دې،يعني حاضراومخامخ ندې اوياحال دادې چې بندګانو کښې چې دوئ غائب دي يعني داجنت نه ويني،(۲) اوياباء سببيه ده اومرادتنه ايمان دې په هغه مغيباتوباندې چې ذکرئې په حديث جبرئيل کښې شويدې (۳)اوبعض فرمائي چې داباء صله ده دَ﴿عِبَادَهُ﴾ لپاره اومراد په غيب سره پټ يعني سر دې، نومطلب دَايت دادې چې عبادت کوي دالله ﷻ په پټه يعني رياء كاري نه كوي، وعدالرحمن للذين يكونون عبادابالغيب ای الذين يعبدونه فی السربخلاف المنافقين فانهم يعبدونه فی الظاهرولايعبدونه فی السر(كبير).

﴿إِنَّهُ﴾ضميرياراجع دې ﴿الرَّحْمَٰنُ﴾ته اوياضميرشان دې﴿كَانَ وَعْدُهُ ﴾وعدپه معنى دَموعود سره دې چې هغه جنت دې﴿مَأْتِيًّا ﴾دااياصيغه دَظرف ده يعني ځائ دَراتللو ،اومراد تنه جنت دې يعني جنتيان به جنت ته ضرورداخليږي،اوياصيغه داسم مفعول ده بمعنى الفاعل،يعني الله تعالى وعده ضروراتلونكې ده،اودَدواړو مقصديودې، څكه چې كوم څيزتاته راځي نوته به ورته هم ځي، لكه څرنګه چې دَعربومحاوره ده، اتت علیّٰ خمسون سنة واتيت علی خمسين سنة چې په ماباندې پنځوس كاله تيرشوياځه به پنځوس كالو تيرشوم،دَدواړويك يومقصددې(ابن كثير).

﴿لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا إِلَّا سَلَامًا ۖ وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيهَا بُكْرَةً﴾

نه به اوري دوئ په هغې كښې بې فائدې خبرې ليكن اوري به سلامونه اووي به دَدوئ لپاره رزق دَدوئ په هغې كښې صبانې

وَعَشِيًّا ۝٦٢ تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيْ نُوْرِثُ مِنْ عِبَادِنَا مَنْ كَانَ تَقِيًّا ۝٦٣

او بیگانی (او به وئیلی شي دوئ ته) داهغه جنت دی چې ورکوو مونږه دبندګانو خپلو نه هغه چاته چه وي پرهیزګار

وَمَا نَتَنَزَّلُ اِلَّا بِاَمْرِ رَبِّكَ ۚ لَهٗ مَا بَيْنَ اَيْدِيْنَا

[1] (او وائی ملائك) نه نازلیږو مونږه مګر په حکم دَرب ستا سره دَهغه په اختیار کښې دي هغه څه چې زمونږه مخکښې دي

وَمَا خَلْفَنَا وَمَا بَيْنَ ذٰلِكَ ۚ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ۝٦٤ رَبُّ السَّمٰوٰتِ

او هغه څه چې زمونږ نه ورستو دي او هغه چې په مینځ ددي کښې دي او نه دې رب ستا بې خبره. [2] رب دَاسمانونو

وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهٖ ؕ هَلْ

او دَزمکې دې او دَهغه څه چې په مینځ دَدې کښې دي پس بندګي کوه خاص دَهغه او ځان کلك لره بندګئ دَهغه ته. آیا

تَعْلَمُ لَهٗ سَمِيًّا ۝٦٥ وَيَقُوْلُ الْاِنْسَانُ ءَاِذَا مَا مِتُّ لَسَوْفَ اُخْرَجُ حَيًّا ۝٦٦

پیژنې ته هغه لره همنامې [1] او وائی انسان کافر آیا هر کله چې څه مړ شم نو خامخا به عنقریب څه راویستلې کیږم ژوندې؟

﴿لَا يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا﴾ لغو وئیلی کیږي هر هغه کلام ته چې دَفائدې نه، خالي وي او باطل وي. (قرطبي) او ابن عباس رضي الله عنه نه مروي دی چې هر هغه کلام چې دَالله تعالیٰ دَذکر نه خالي وي هغه لغو دي، نو دَدې وجه نه دَایت التزامي معنی داشوه چې دَجنتیانو کلام به په جنت کښې دَالله تعالیٰ تسبیح او تحمید وي (قرطبي) ﴿اِلَّا سَلٰمًا﴾ استثناء منقطعه ده او سلام یا په معنی مشهوري او معروفي سره دې او مراد ترنه دَجنتیانو په یو بل باندې سلام اچول او دَملائکو سلام او دَالله تعالیٰ سلام اچول دي په جنتیانو باندې او یا دَسلام نه مراد کلام سالم دې دَعیب او نقصان نه، چې جنتیان به په جنت کښې دَعیب او نقصان نه خالي کلام اوري محبوبي خبري به اوري او داسې خبري به نه

(1) جواب از شبه متعلق بملائك.
(2) دعوی سورت.
(1) دویمه حصه دَسورت داشکوی ده.

اوري چې دوئ ته پرې تکلیف رسیږي (روح) اوبعض فرمائی چې استثناء متصله ده اوداکلام دقبیلی دتاکیدالمدح بمایشبه الذم دقبیلی نه دې.

﴿وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيهَا بُكْرَةً وَعَشِيًّا﴾ مرادتنه یادوام دې لکه چې داکنایه معروفه ده اویاتنه مراد مقدرادشپې اوورځې دې ځکه چې په جنت کښې به شپه نوي خودشپې اوورځې مقدار به په ځنې اثاروسره پیژندلی کیږي، لکه چې په یوروایت کښې دحسن بصری رحمه الله ومیسره نه مرسلا مروي دي چې یوکس راغی عرض ئې اوکړو :یارسول الله ﷺ هل فی الجنة من لیل؟ چې ای دالله ﷺ رسول آیاپه جنت کښې به شپه وي؟ رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیلوچې نه، بلکه هلته به دنوروالا یوچمك اوپرق به وي،دسحربه په مانبام باندې اودمانبام به په سحرباندې توارد اوپیش کیدل به وي فقط،اودالله ﷺ دطرف نه په هغه اوقاتوکښې چې دوئ به پکښې مونځونه کول عجیب عجیب تحفې به راځي اودغې اوقاتوکښې به فرشتې په دوئ سلامونه وائی(روح بحواله النوادرلحکیم الترمذی)اودغه شان نوراثار هم دي لکه طبري وغیره په تفصیل سره ذکرکړیدي.

﴿تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي﴾ددینه مخکښې یُقال لهم، محذوف دې، اواشاره ده په ﴿تِلْكَ﴾ سره دبُعدرتبې لپاره ده،یعنی قیامت په ورځ به مؤمنانوته اوئیلی شي چې داعظیم الشان جنت دهغه خلکولپاره دي چې خپل ځان ئې دشرك نه بچ کړیدي﴿نُورِثُ مِنْ عِبَادِنَا﴾ جنت ته میراث وئیلي شویدي(۱)چې داکنایه ده داعطاء اوتملیك نه، خولفظ دمیراث ددې وجه نه اختیارکړې شو چې چونکه وراثت دملکیت اودَاستحقاق قوي ذریعه ده ځکه چې نه مورث دافسخ کولی شي اونه ئې دوارث نه واپس اغستلوخه امکان وي، اونه داردکولی شي اونه ددې اسقاط ممکن دي(۲)اویاورته میراث ددې وجه نه وئیلی شویدی چې جنت کښې ځنې منازل اومکانات به جنتیانوته داسې هم میلاویږي چې هغه به په واقع کښې دجهنمیانولپاره وو کچرته هغوئ کفرنوې کړې، خوچې هغوئ کفراوکړو نوالله ﷻ جهنم ته بوتللونودهغوئ والامکانات اومنازل جنتیانوته به میلاؤشي اودامضمون په یوصحیح حدیث کښې هم راغلیدی چې دحضرت ابوهریرة ﷜ نه روایت دې فرمائی چې رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلوچې په تاسوکښې دهریوکس لپاره دوه(۲)کورونه دي(۱)یوکورپه جنت کښې اویوکورپه جهنم کښې اوکله چې یوکس دمړکیدلونه پس جهنم ته لاړشي نودهغه دجنت والاکوروارث اهل جنت شي اودامطلب دې دالله ﷻ دقول چې

اولئك هم الوارثون(رواه البيهقی)لیکن داتوجیه ضعیفه ده ځکه چې ظاهردَحدیث پدې دلالت کوي چې موروث بعض منازل دَجنت دی اونظم دَقرآن دال دې په موروث دکل جنت باندې(۳)اوداهم ممکنه ده چې جنت ته میراث وئیل تشبیهاًوي لکه څرنګه چې یوسړی مړشي اومال موروث چې هغه ثمره ددې میت ده ورثاؤ ته پاتي شي،نودغه شان جنت ثمره دَاعمالوده نوقیامت کښ به ذات دَعمل ختم شي اودهغې ثمره چې جنت دې هغه په پاتي وي اوعمل کوونکي ته به میلاؤشي.(۴)اوداهم ممکنه ده چې تشبیه پدیکښ وي چې څرنګه په مالِ موروث کښ دَوارث دکسب دَخل نوي، صرف قرابت دَمیت دَوجې نه ده ته مال میلاویږي.دغه شان دخول جنت هم دې چې پدیکښ دَانسان کسب لره دخل نیشته،محض په فضل دَالله ﷻ سره وي، الاّ ان یتغمّدنی الله بفضله(الحدیث)اوهرچه دې اعمال نوهغه اسباب بعیده دي دخول جنت لپاره،په منزله دَقرابت دې لپاره دَفضل الهی ﷻ نواعتراض نه واردیږي په تلك الجنّة الّتی اورثتموها بماکنتم تعملون، سره(۵) اوداهم ممکنه ده چې جنت ته، وراثت په اعتباردَسکنی اولي سره وئیلي شوي وي،چې حضرت ادم علیه السلام اولاً جنت ته داخل کړې شوې وو،اوبیاشیطان دَهغه دَخروج لپاره سبب اوګرځیدلو، نومسکن ابائی دَانسان هغه جنت دې نونیك اعمالوسره به انسان دغه وراثت ګټي، اوبداعمال اوکفراوشرك حاجب دې دغي وراثت لپاره،اوپدیکښ غیَرت ورکول دي انسان ته په نیك اعمالوباندې،چې غیرت مندانسان هغه دې چې دَخپل پلار، نیکه میراث اوګټي،اوجنت دَستاسونیکه میراث دې په نیك اعمالوسره ګټلی کیږي(والله اعلم) اودَدینه علاوه بعض محدثینونورتوجیهات هم کړیدي.

﴿مَن كَانَ تَقِيًّا﴾داسبب دَاستحقاق دې دخول جنت ته، او تقی نه یالغوی معنی مراده یعني خان بچ کوونکی دَشرك نه، من کان تقیاعن الشرك(مدارك) اویاتنه اصطلاحی اوعرفی معنی مراده اوهرکله چې په مسلك دَاحنافوباندې په نصوصوکښ اعتباردَمفهوم مخالف ندې معتبرنودَدې وجه نه داایات ساکت اوخاموش دې دغیرمتقی یعني دَصاحب الکبائرنه چې هغه به جنت ته داخلیږي اویانه؟ اودَ نورو نوصوصونه داثابته ده چې صاحب الکبائربه جنت داخلیږي اګرچې که دخول اولی نوي، امام رازی رحمه الله باوجود دَدې چې شافعي المسلك دې پدې مقام کښ دَاعتراض نه بچ کیدلونه ئې ترجیح دَاحنافومسلك ته ورکړیده فرمائی، والجواب: الایة تدل علی ان المتقی یدخلها ولیس فیها دلالة علی ان غیرالمتقی لایدخلها(کبیر ج۲۱ ص ۵۵).

﴿وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ﴾ دا دفرشتو متعلق دَیوي شبهې جواب دې چې شبه دا کیده چې فرشتي دَاسمانونو نه زمکي ته راکوزیږي اوبیاخیژي نومعلومه شوه چې دوئ ته دَتصرف قدرت حاصل دې، نوجواب تنه اوشو پدي ایت سره حاصل دَجواب دادې چې فرشتي دَالله ﷻ عاجزاو دَهغه دَحکم پابند مخلوق دې، دَالله ﷻ په حکم سره راکوزیږي اوخیژي. الله ﷻ حکم نه محتاجه دې، دَهغه دَحکم نه بغیر زمکي ته نشي راتلی نوځرنګه متصرف شو؟

ربط: دَدې ایت دَماقبل سره څه ربط دې؟ ځکه چې په ظاهرکښ ربط نه معلومیږي ځکه چې ماقبل ایت کښ دَمتقینو حالت اخروي ذکرشواواوس دَحضرت جبرئیل علیه السلام نزول بیانیږي نوپه ظاهرکښ ربط نه ښکاري؟ (۱) بعضي مفسرینو دَربط لپاره داسي قول کړیدې چې دلته دَنزول نه دَحضرت جبرئیل علیه السلام نزول ندې مراد بلکه نزول دَمتقیانو مراددې جنت ته، نو دااخباردې دَاهل جنت نه یعنی چې کله هغوئ جنت ته داخلیږي نودابه وائی چې ﴿وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ﴾ داقول دثعلبی وغیره نه منقول دې، لیکن داقول ضعیف دې، ځکه چې مخالف دې دَاحادیثو صحیحونه، ځکه چې په احادیثو صحیحوکښ داواردي چې دلته دَنزول نه مراد دَحضرت جبرئیل علیه السلام نزول دې، ځکه چې داایات دَحضور ﷺ دَهغې قول په جواب کښ نازل شوچې حضرت جبرئیل علیه السلام ته ئی اوفرمائیلوچې، مايمنعك ان تزورنا اكثر مماتزورنا (البخارى) نو دَدې قول په جواب کښ داایات نازل شو، نودَدې وجه نه دَااخباردَاهل جنت دَقول نه ګرځول بعیددی، (۲) دَنقاش رحمه الله اودَځني اهل علم نه دامنقول دی چې داایت، متصل دې دَ، انما انارسول ربك الخ سره، اوهغه هم کلام دَجبرئیل علیه السلام وو، اودااهم دَهغه کلام دې، لیکن دَدې توجیه ضعف اواستبعاد هم ظاهردې.

(۳) بعض اهل علم فرمائی چې داایت په منزله دَدلیل اوعلت دې دَماقبل لپاره چې داماقبل تول کلام صحیح اوصادق دې ځکه چې داکلام حضرت جبرئیل علیه السلام دَالله ﷻ په امراوحکم سره نازل کړیدې (۴) حضرت علامه مولانا شبیراحمدعثمانی رحمه الله ددې ربط په مختلف طریقوسره بیان کړیدې، (الف) فرمائی چې په ماقبل ایت کښ دَدې ذکراوشوچې دَجنت وارث اتقیاء دی. نوپدې ایت کښ دَدې ذکرکیږي چې، تقوی اوخوف دهغې ذات نه پکارده چې دهغه په قبضې کښ زمکی، اسمانونه، اوزمان اومکان دې اودهغه دَحکم اواجازت نه بغیریوه لویه فرشته وزرنشي رپه ولی، (ب) دغه شان په ماقبل ایت کښ ذکراوشوچې جنت ته به متقین ځي، پدې ایت کښ

نمونه دَاطاعت بيانيږي چې كه څوك جنت وارث،جوړيدل غواړي نودَفرشتو غوندي دَاللهﷻ دَحكم مطيع اومنقاد دشي،(ج)دغه شان په ماقبل ايتونوكښ دَانبياء كرامو عليهم السلام تذكري اوبيامتقيانوته بشارت دَجنت وركړې شونواوس پدي ايت كښ اشارةً دابيانيږي چې دَاللهﷻ نيك بندګان به ضرورجنت ته داخليږي خودَهرڅه لپاره يووخت مقرردې، نوجنت ته داخليدل هم په وقت مقرره سره دي.

شان نزول په روايت دبخاري(ج۲ كتاب التفسير) كښ دَدي ايت شان نزول دَحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه داسي منقول دی چې حضورﷺ حضرت جبرئيل عليه السلام ته اوفرمائيلو چې مايمنعك ان تزورنا اكثرمماتزورنا، نودا ايت نازل شو ، اوبعض مفسرينوطبرى وغيره داسي نقل كړيدى چې كله مشركينودَرسول اللهﷺ نه دَاصحاب كهف، روح اوذوالقرنين په باره كښ تپوس اوكړو نوحضورﷺ ورته اوفرمائيلو چې صبا به څه جواب دركړم اوانشاء الله، ئې هيرشو ، نووحي كښ تاخيراوشو څه وخت ورستوچې وحي نازله شوه نوحضورﷺ دَحضرت جبرئيل عليه السلام نه دَ دومره وخت نه راتللووجه اوپوښتله نودا ايت نازل شوچې ﴿وَمَا نَتَنَزَّلُ ﴾اوتنزل باب تفعل دې، باب تفعل كله په معنى دَافعال سره راځي اوكله په معنى دَتفعيل سره،اوكله په خپلي معنى سره وي نوكچرته باب افعال په معنى سره شي نومعنى به ئې نزول دفعةً واحدةً شي،اوكه په خپلي معنى سره شي نومعنى به ئې نزول على الاطلاق شي اوكه په معنى دَتفعيل سره شي نومعنى به ئې نزول احياناًشي،نودلته دادريمه معنى زياته اليقه اومناسبه ده،اوغوره قول دادې، چې﴿وَمَا نَتَنَزَّلُ ﴾ داحكايت دې دكلام جبرئيل عليه السلام نه﴿لَهُ﴾تقديم دَجارمجرور دَحصراواختصاص لپاره دې،اودا په منزله دَدليل دې دَماقبل لپاره چې مونږه دَاللهﷻ دَحكم نه بغيرنشوراتللى څكه چې﴿لَهُ مَا بَيْنَ أَيْدِينَا ﴾.

﴿مَا بَيْنَ أَيْدِينَا ﴾بعضومفسرينودَدينه ازمنه مراد كړيدى.چې دَ﴿أَيْدِينَا ﴾ نه مراد زمانه مستقبل ده نه﴿وَمَا خَلْفَنَا ﴾ مراد زمانه ماضى ده﴿وَمَا بَيْنَ ذَٰلِكَ ﴾ نه مراد زمانه حال ده وبعضوتنه اماكن مراد كړيدي چې دَ ﴿مَا بَيْنَ أَيْدِينَا ﴾نه مراد دنيااواحوال دَدنيادى. او ﴿وَمَا

خَلْفَنَا ﴾نه مراد آخرت اوهغې احوال دي. اودَ﴿وَمَا بَيْنَ ذَٰلِكَ ﴾ نه مراد حالات ددوو ۲ نفخوبه مينځ كښې مراددي، ليكن غوره قول دادي چې دَدينه مراد عام شي، كه اماكن وي اوكه ازمنه وي. اوتعميم زيات اليق دې دَسباق اوسياق دكلام سره، نودَايت مقصدداشو. چې دَالله جَلّجَلالُه په قبضه قدرت اوتصرف كښې دى هرڅه كه زمان دې كه مكان نو نه مونږه په يوه زمانه اونه په يومكان كښې دهغه دَاجازت نه بغيرنشوراتلى، (روح).

﴿وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ﴾ نسىٓ په معنٰى دَغفلت اوبې خبرئ سره دې، يعني ستارب دَهيڅ څيزنه بې خبره ندې هرڅه دَالله جَلّجَلالُه په علم كښې دي (مدارك) اوبعض فرمائى چې دا په معنٰى دَتاركاً سره دې،نودَايت مطلب دادې چې ستارب تاپريدي اوستاطرف ته مونږ بالكل نه رازو اوسلسله دَوحي ستانه ختم كړي داسي نده، بلكه تاخيردَوحي مبني دې په حكمت باندې،چې دهغې نه الله جَلّجَلالُه واقف دې﴿رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾دلائل ذكركولو اودَشبهاتو ،جوابونوورکولونه بعد ، اوس دعوى دَسورت ذكركيږي،چې دَاسمانونواودَزمكي اودټول كائنات مالك صرف اوصرف الله جَلّجَلالُه دې نولهذا عبادت هم دهغه پكاردې﴿فَٱعْبُدْهُ﴾ فاء دَترتب لپاره ده يعني چې هركله دَاسمان اودَزمكي اودكل كائنات رب الله جَلّجَلالُه دې نوعبادت هم دَهغه كوه، اوعبادت نه مراد توحيددې، اى وحده لذلك (قرطبى) ﴿وَٱصْطَبِرْ ﴾داامردې دَباب افتعال نه‌باب افتعال‌فاء كلمې په مقابله كښې‌صاد‌راغى،نودَقانون صرفي مطابق تاء په طاء سره بدله شوه،اومراد تنه استقامت دې په عبادت باندې،اوصبراګرچه متعدي كيږي په علىٰ سره لكه په سورة طه كښې. واصطبرعليها، خودلته متعدى شو په لام سره اوپه صله كښې ئې لام راغى،وجه داده چې صبرپدې مقام كښې متضمن دې معنى دَثبات لره، اوعبادت ئې ورله په منزله دَمقارن(ملګرى)سره ګرځولى شويدې نودَدې وجه نه دده په صله كښې لام راوړى شو اونظيردَدې دادې چې يوسړى محارب‌جنګ كوونكى، ته اوائى اصطبرلقرنك اوپدې كښې اشاره ده چې په عبادت سره به تكاليف اومشقتو به راځي خودهغې دَوجې نه سستي نده پكاربلكه ثابت قدمي په عبادت باندې پكارده. (كبير)

اوبعض مفسرين فرمائى چې لام په ﴿لِعِبَٰدَتِهِۦ﴾ كښې لام اجليه دې اومفعول بهِ دَ﴿وَٱصْطَبِرْ

﴾مصبورعليه محذوفه ده، نوتقديردَعبارت داسي دي. واصطبرعلى المشاق لاجل عبادة الخلاّق(مدارك).

﴿هَلْ تَعْلَمُ لَهُۥ سَمِيًّا ﴾ سمي. په اصل کښې شريك فی الاسم ته وئيلی کيږي(همنام)، خوهرکله چې شريك فی الاسم تقاضه دَمماثلت کوي نودَدې وجه مراد تنه مماثل اوپه الوهيت اوعبادت کښې شريك مراددې، اواستفهام لپاره دَانکاردې.

فائده: دَايت دَعبادة النص نه دامعلوميږي چې دَالله ﷻ اسمآء مطلقا دَچالپاره. نوم ګرځول جائزندی، خوعلماؤپدې کښې تفصيل کړيدې چې مختصره خلاصه ئې داده، چې په لفظ دَالله ﷻ کښې اتفاق دې چې دادَچالپاره علم نشي ګرځيدې اونه ئې دَالله ﷻ نه علاوه په بل چااطلاق جائزدې اوپه لفظ دَرحيم کښې اتفاق دې چې اطلاق ئې په غيرالله ﷻ باندې جائزدې. اوپه لفظ دَرحمن کښې اختلاف دې، عندالبعض اطلاق ئې په غيرالله باندې مطلقاناجائزدې لکه داقول دَابن مالك رحمه الله وغيره دې، اواستدلال ئې کړيدې پدې قول دَالله ﷻ سره قل ادعو الله اوادعوا الرحمن الخ،طرزاستدلال ئې دادې چې رحمن هم دَلفظ الله ﷻ پشان دَالله ﷻ لپاره علم دې نوځکه ئې اطلاق په غيرالله جائزندې، اوبعض محققينوعلماؤفرق کړيدې په مينځ دَمعرف باللام اوغيرمعرف باللام کښې، چې ناجائزپه غيرالله باندې هغه اطلاق دَالرحمن يعنی معرف باللام دې اودَنکري په صورت کښې يعني غيرمعرف باللام په صورت کښې دَرحمن اطلاق په غيرالله جائزدې چنانچه دَعلامه سبکي قول په شامي کښې داسې ذکرشويدې والحق ان المنع شرعی لالغوی وان المخصوص به تعالی المعرف(شامی ج۱ ص۵) اودېته اشاره معلوميږي دَحافظ ابن کثير رحمه الله په قول کښې چې هغه فرمائی عن ابن عباس رضي الله عنه ليس احديسمی الرحمن غيره تبارك وتعالی(ابن کثير) چې دَعدم جوازاطلاق په صورت دَمعرف باللام کښې دې نه مطلقا (والله اعلم بالصواب).

﴿وَيَقُولُ ٱلْإِنسَٰنُ﴾دَدې ځائ نه دَسورت دويمه حصه شروع کيږي چې پدې کښې څو شکوې، زجرونه، تخويفونه اوبشارتونه ذکرکيږي چې تفصيل ئې مخکښې تيرشويدې.نوپدې ايت کښې شکوی ذکرکيږي چې دانادان انسان داسوال کوي چې دَمرګ نه ورستوبه څه دوباره ژوندې کيږم؟ اوالف لام په﴿ٱلْإِنسَٰنُ﴾کښې ياجنسی دې اوپديکښې مجازفی الطرف شويدې چې ذکردکل اومرادتنه بعض دې، اويامجازفی الاسناد دې چې نسبت دَماصدرعن البعض. کل افرادوته

شویدي له وجه دَرضاء دَتولوکفاروپدي قول باندي اويا الف لام دَعهدلپاره دي اومعهود پدي سره يا جماعت دکفارودي اويامعهود پدي سره شخص معين دي چي هغه ابی بن خلف دي. په روايت کښ دی چي ابی بن خلف يوزوړ وروست شوی هډوکی راوغستلو اوپه لاس کښ ئی ټکړي ټکړي کړو اوبيائي اوئيل چي،زعم محمدﷺ انا نبعث بعدالموت، چي دَمحمدﷺ دا خيال دي چي مونږ به دَمرګ نه ورستوبياژوندي کيږو ، نو دهغه په باره کښ الله جَلَّ جَلَالُهٗ دا ايت نازل کړو (قرطبی)

﴿أَءِذَا مَا مِتُّ﴾استفهام لپاره دَانکاردي او ﴿أَءِذَا﴾ظرفيه دي متعلق دي په فعل مقدر پوري چي "اخرج" دي اوپه مذکورمابعد اخرج پوري ندي متعلق ځکه چي په هغه باندي لام داخل شويدي اودخول دَلام مانع دي دَماقبل کښ دَعمل کولو نه.اوبعض علماؤتوسط دَسوف هم په مانعينو کښ شمار کړيدي

﴿لَسَوْفَ أُخْرَجُ حَيًّا﴾لام په "لَسوفَ" کښ دَمجرد تاکيدلپاره دي، لام دَابتداء ندي، ځکه چي لام دَابتداء چي په مضارع داخل شي نومعنٰی دَمضارع خاصه شي په حال پوري نوبيائي جمع دَسوف سره جائزنوي، اودلته چي ئي جمع راغليده نومعلومه شوه چي دا لام دَتاکيدلپاره دي(والتفصيل فی الکشاف).

اَوَلَا	يَذْكُرُ	الْاِنْسَانُ	اَنَّا	خَلَقْنٰهُ	مِنْ	قَبْلُ	وَلَمْ	يَكُ شَيْـًٔا ﴿٦٧﴾
آيا[1] فکرنه کوي داانسان چي بيشکه مونږ پيداکړي وو دي وړاندي دَدينه، اونوو دي هيڅ شي[2]								
فَوَرَبِّكَ	لَنَحْشُرَنَّهُمْ	وَالشَّيٰطِيْنَ	ثُمَّ	لَنُحْضِرَنَّهُمْ				
نوقسم دي په رب ستاباندي چي ضروربه يوځائ کوو مونږ دوئ اوشيطانان بيابه ضرور حاضره وومونږ دوئ								
حَوْلَ	جَهَنَّمَ	جِثِيًّا ﴿٦٨﴾	ثُمَّ	لَنَنْزِعَنَّ	مِنْ	كُلِّ	شِيْعَةٍ	اَيُّهُمْ اَشَدُّ
چاپيره دَجهنم نه په زنګونانوباندي پراته. بيابه راوکاګومونږ دَهرډلي نه هرهغه کس دَدوئ نه چي ډيرسخت وو								

[1] جواب شکوی

[2] تخويف اخروی

عَلَى الرَّحْمٰنِ عِتِيًّا ﴿٦٩﴾ ثُمَّ لَنَحْنُ اَعْلَمُ بِالَّذِيْنَ هُمْ اَوْلٰى بِهَا صِلِيًّا ﴿٧٠﴾
په رحمان باندې په نافرمانۍ کښې بيا مونږ ښه خبر يو په هغه کسانو چې هغوئ ښه حقدار دي جهنم ته دَ داخليدلو
وَاِنْ مِّنْكُمْ اِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ﴿٧١﴾
او قسم دې نيشته ستاسونه څوك مګرورځي به جهنم ته.ده ستاپه رب باندې داخبره، يقيني فيصله کړې شوې
ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّنَذَرُ الظّٰلِمِيْنَ فِيْهَا جِثِيًّا ﴿٧٢﴾
بيابه مونږ بچ کړو هغه کسان چې ځان ئې ساتلې وو دَشرك نه اوپرېږدو به ظالمان په هغې کښې په زنګونو باندې پراته

﴿أَوَلَا يَذْكُرُ الْإِنسَانُ﴾ دا جواب دَشکوه دې، چې داانسان پدې هم نه پوهيږي اوسوچ نه کوي چې دې هيڅ هم نوو ،معدوم وو مونږ پيدا کړو اووجودته موراويستلو ،نو اعاده ثانيه اهونه اواسانه ده دَايجاد اول نه اودغه شان دليل الله ﷻ په سورة يسين ايت نمبر(۷۹) سورة الروم ايت نمبر(۲۷)سورة اعراف ايت نمبر(۲۹)کښې هم ذکر کوي،اومراد په ذکرسره پدې ځائ کښې فکر کول دي. څکه چې ذکر په خپلې معنى سره هلته وي چې اول عمل حاصل وي اوبيا هيرشي،او استفهام لپاره دَتوبيخ دې اوپه من قبل سره هغه حالت دې چې دې پرې اوس دې يعني حالت بقاء. اوبعض فرمائي چې دَمن قبل. نه مراد دَدې قول کولونه مخکښې حالت دې.

﴿فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ﴾ دا تخويف اخروى دې،او دا قسم دَالله ﷻ په خپل ذات باندې اومضاف کړيدې رسول الله ﷺ ته لپاره دَتشريف اوتفخيم شان. او "واو" په ﴿وَالشَّيَاطِينَ﴾ کښې يالپاره دَعطف دې اويا په معنى دَمعَ سره دې اومراد دَشياطينونه عام دي که انسي وي ياجني، چې په دنيا کښې دکومو انسانانو دوئ اتباع کړيده،او دوئ ګمراه کړيدي اوياجنات دي ټول به ميدان حشرته راويستلى شي،هم ضميردجمع دې، او ﴿وَالشَّيَاطِينَ﴾هم جمع دې نولهذا دَايت مطلب دادې چې هرکافربه دَشيطان سره په هتکړو کښې راوستلى شي (قرطبي و کشاف).

﴿ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ﴾ په "ثمّ" کښې اشاره ده چې دَحشرنه ورستو کافي مدت پورې به خلك دَجهنم نه ګيرچاپيره به وي، او ﴿جِثِيًّا﴾ يا جمع ده دَ"جاثية" وئيلى کيږي په زنګون باندې پروت اوناست

کس ته. او دادډیرهیبت اورعب دَوجي نه کوي، امام رازيؒ فرمائي چې قیامت په ورځ به هرسړی پدي حالت کښې وي لکه چې الله ﷻ فرمائي وترىٰ کلّ امّة جاثية. خودکافرېدي حالت باندې کيدل به لپاره دَذلت دَهغه وي او دَمسلمانانو به داحالت دَعادت جاريه دَوجي نه وي چې دَخلکوعادت پدي جاري دې چې په وخت دَمطالبي دَبادشاه کښې دَبادشاه دَرعب دَوجي نه دکیناستلوداصورت اختیاره وي اوحسن بصریؒ نه مروي دي چې داصورت اختیاره ول به دَځاې دَتنګوالي دَوجي نه وي (قرطبی) اويا ﴿جِثِيًّا﴾ جمع دَ جثوة ده اوجثوة وئیلی کیږي جماعت ته، داقول دَحضرت ابن عباسؓ دې.

﴿ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ﴾ نزع وئیلی کیږي اخراج ته په سختئ سره اوشیعة دَباب ضرب یضرب نه په معنٰی دَخوریدلو اوډیریدلو سره دې، اومرادتنه، اتباع اوفرقي اوجماعتونه دي، اودآیت مقصددادي چې الله ﷻ به اولاً ټول دَجهنم نه ګیرچاپیره راجمع کړي بیابه مسلمانان الله ﷻ جنت ته داخل کړي اوپه کفاروکښې چې کوم سرکش کفاردي هغه به الله ﷻ دَعذاب عظیم لپاره خاص کړي اوهغوئ به اولاً جهنم ته اوغورځوي، اوبیابه ورپسي، بالترتیب نوراغورځوي، نودَ ﴿أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى الرَّحْمَٰنِ عِتِيًّا﴾ نه مراد هغه سرکش کفاردي چې په ګناهونوباندې ئی جرات کولو، اوياتنه مراد رؤسادي اودَهغوئ جرم ځکه زيات سخت دې چې دَهغوئ تقلید کړې شویدې، نوضال هم دي اومضل هم دي، او﴿عِتِيًّا﴾ منصوب دې بناء پرتمیزچې دې تمیزدې دَ﴿أَيُّهُمْ أَشَدُّ﴾ جملي نه، اودَ﴿أَيُّهُم﴾ ترکیب دَمشکل مقاماتونه دې اوپدیکښې دَنحويانولوئی اختلاف دې (۱) مسلك دَجمهورو اودَسیبویه دادې چې ای اسم موصول دې اودامبنی دې ځکه چې صدردَصلي ئی محذوف دې اوکله چې هم دَ ای صلي صدرحذف کړې شي نودې به مبنی وي (عندالسيبويه) نودې مبنی دې په ضمي سره اګرچه دې په محل دَنصب کښې واقع دې اومفعول به دي دَ﴿لَنَنزِعَنَّ﴾ لپاره، نوسیبویه ترکیب داسي کوي چې ﴿لَنَنزِعَنَّ﴾، فعل، فاعل ﴿أَيُّهُم﴾، اسم موصول مبنی برضم، منصوب محلاً مفعول به، او ﴿أَشَدُّ عَلَى﴾ خبردې دَمبتدا محذوفي لپاره، چې هو، دې نومبتدا سره دَخبرنه صله شوه دَموصول.

(۲) دویم مذهب دَخلیل دې چې هغه فرمائی چې حرکت دَدې حرکت اعرابیه دې او ﴿أَيُّهُمْ﴾ مرفوع دې بنابرابدائیت، او ایٌ استفهامیه دې او ﴿أَشَدُّ﴾ ورله خبردې، تقدیردَعبارت عندالخلیل داسې دې، لننزعن من كل، شيعةٍ الذين يقال فيهم ايهم اشدالخ

(۳) دریم مذهب دَفراء دې چې هغه فرمائی چې ﴿أَيُّهُمْ﴾ منصوب دې اوداجمله مفعول به واقع شویده دَ﴿لَنَنزِعَنَّ﴾ لپاره.

(۴) څلورم مذهب دَاخفش دې هغه فرمائی چې من په ﴿مِن كُلِّ شِيعَةٍ﴾ کښې زائددې، اوداجمله مفعول به ده دَ ﴿لَنَنزِعَنَّ﴾ لپاره، او ﴿أَيُّهُمْ﴾ داجمله مستانفه ده چې واقع شویده په سوال دَسائل کښې، اومرفوع ده بناء برابتدائیت نوتقدیردَعبارت (عندالاخفش) داسې دې، ثم لننزعن من كل شيعة، نوسائل سوال اوکړو چې من هم نوجواب ئې اوکړې شو، ايهم اشدّ الخ دَدېنه علاوه نورمذاهب هم دی (تفصیل لپاره بحرملاحظه کړئ).

﴿ثُمَّ لَنَحْنُ أَعْلَمُ﴾ ثم په دې ځائې کښې دَتعقیب ذکری لپاره ده، اوتعقیب زمانی یارتبی لپاره نده چې اعتراض اوکړې شي چې ظاهردَایت نه دامعلومیږي چې دخول دَجهنمیانوبه جهنم ته اول وي اودهغې نه ورستوبه بیاالله ﷻ ته علم حاصلیږي، بلکه دَایت مطلب دادې چې بیاداهم اوره چې جهنم ته داخلیدل به هسې نوي بلکه مونږ ته ښه علم دې چې مستحق دَجهنم څوک دې، اوپدوئ کښې به دَتولونه اول جهنم ته څوک داخلیږي، اواسم تفضیل یعني ،﴿أَعْلَمُ﴾ یاپه معنی دَمبالغې یعنی علیم سره دې، اویاتفضیل په اعتباردَعملنامې لیکونکې فرشتو (كراماً كاتبين) سره دې، چې کراما کاتبین به دَاعمالونه دامعلوم کړي چې سعیدڅوک دې اوشقي څوک دې؟ خواصل علم په تولواحوالوپه سرائرو اوعلانیوباندې الله ﷻ دې.

﴿وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا﴾ قرطبی فرمائی چې واو متضمن دې معنی دَقسم لره اوداقسم دې دجانبه دَالله ﷻ نه پدې چې دَهرانسان ورود (داخلیدل) به جهنم ته خامخاکیږي اودلیل پدې چې داقسم دې هغه حدیث دې چې نقل کړیدې امام بخاري رحمه الله په کتاب الجنائزکښې (باب فضل من مات له ولده فاحتسب) چې روایت دې دَحضرت ابوهریرة رضي الله عنه نه چې رسول الله ﷺ ارشاد

اوفرمائيلولايموت لاحد من المسلمين ثلاثة من الولدفتمسه النارالاتحلة القسم. چې يوكس دَمسلمانانونه داسي ندې چې دَهغه دري بچې(دوړوكوالئ كښې)مړه شي اوبيادې جهنم ته لاړشي(داسي نشي كيدې) مګرصرف اوصرف دَقسم حلال ولولپاره(به څي) يعني چې كوم قسم الله ﷻ كړيدې نوصرف دهغې دَپوره كيدلولپاره به ځي(قرطبي).

ورود: كله په معنٰى دَدخول سره رازي،كله په معنٰى دَاطلاع سره راځي اوكله په معنٰى دَعبورسره راځي اوبياپه ﴿مِّنكُمْ﴾كښې دوه (۲)احتمالات دي يودا چې خطاب صرف كافرانوته شي، اودويم داچې خطاب عام شي،كافرانو اومسلمانانودواړوته شي،نوكچرته خطاب كافرانوته شي نوبياورود په معنٰى دَدخول سره دې اوپه ﴿ثُمَّ نُنَجِّي﴾كښې ثم لپاره دَتعقيب ذكرى ده.اوكه خطاب عام شي مسلمانانواوكافرانوټولوته نوبيايواحتمال دادې چې وُرُود په معنٰى ددخول سره شي نومؤمن اوكافربه الله ﷻ جهنم ته داخل كړي خومؤمن لپاره به جهنم،برداوَسلاما ، شي اوكافرلپاره به ګرم وي اوهغه ته به عذاب ميلاويږي، اوداتوجيه راجحه ده يودَمذكوره حديث دَوجې نه چې لايموت لاحدمن المسلمين الخ اوبل دَهغې حديث دَوجې نه چې نقل كړيدې حكيم ترمذي رحمه الله دَابوسميه رحمه الله نه چې هغه فرمائي، اختلفنافى الورود فقال بعضنا لايدخلها مؤمن وقال اخر:يدخلونها جميعا ثم ينجي الله الذين اتقوا فلقيت جابربن عبدالله رضي الله عنه فذكرت له فقال: واهوى باصبعه الى اذنيه صمتا ان لم اكن سمعت رسول الله ﷺ يقول لايبقى برولافاجر الا دخلها فتكون على المؤمن بردًا وسلامًا كماكانت على ابراهيم عليه السلام الخ(قرطبى وغيره بحواله حكيم) نودَدي احاديثونه معلومه شوه چې دكافراومسلمان دواړو دخول به جهنم ته كيږي اوبيابه الله ﷻ مؤمنانوته نجات وركړي لكه ورستوايت كښې چې دى اوفوائد دَدي ورود اوبياخروج دادى چې(۱)پديكښې سروراوخوشحالئ به مقصود وي دَمؤمنانوچې كله هغوئ اوګوري چې مونږ الله ﷻ ددي سخت عذاب نه خلاص كړي يواومونږ ته ئي نجات راكړيدې(۲) اودغه شان پدي كښې به مزيدتكليف وركول مقصودوي اهل النارته چې دوئ اوګوري چې ددوئ مخالفين مؤمنانوته الله ﷻ نجات وركړو نودوئ به ډيرخفه شي.(۳)اودغه شان پدي كښې به مقصود مزيدالتذاذ اوخونداغستل دي وي دَنعمتونو دَجنت نه ځكه چې كله دوئ دَجهنم عذاب اوګوري اودهغې سختئ معاينه كړي نودَهغې نه ورستوبه دَجنت نعمتونه ډيرلذت اوخود به وركوي،

كماقال الشاعر: وبضدها تتبين الاشيآء اونورهم فوائددي چې امام رازي رحمه الله په خپل تفسيركښ ذكركړيدى.

دويم احتمال دادې چې ورود په معنى دعبورسره دې،داتوجيه دحضرت حسن بصري رحمه الله نه منقول ده مقصد دايت دادې چې هريوكس به په پل صراط باندې تيريږي. اوپه روايت كښ دى چې پل صراط دجهنم دپاسه دې اوجنت الله جل جلاله دپل صراط دپاسه پيداكړيدې. نوكافراومشرك به دپل صراط نه لاندې جهنم ته اوغورزيږي اومتقيانوته به الله جل جلاله نجات وركړي.مدارك وبيضاوي.

دريم احتمال دادې چې ورود په معنى داطلاع سره دې چې جهنم به دقيامت په ورځ موضع دحساب سره به قريب وي، نوپه حالت دحساب كښ به ئي ټول اوګوري،كافران دي كه مؤمنان اوبيابه الله جل جلاله مؤمنانو ته نجات وركړي ولصاحب المظهرى فى هذا المقام تحقيق انيق من شاء فيطالعه ثمه.

﴿كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا﴾ معتزله پدې سره استدلال كوي چې كافرانو اوفاسقانو ته عذاب وركول واجب دي په الله جل جلاله باندې،ځكه چې على په وجوب اوحتم په لزوم دلالت كوي نومعلومه شوه چې په الله جل جلاله باندې وجوب شته دې، اهل سنت والجماعت ته جواب داكوي چې هركله الله جل جلاله يو امرفيصله اوكړي نودهغې خلاف واقع كيدل ممكن ندي نودائي قائمقام اوګرځولو دوجوب، نه داچه داعين واجب دې.

﴿ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ﴾ ثم يادَ تعقيب زماني لپاره دې كچرته دورود نه مراد دخول شي اويادَ تعقيب ذكري لپاره دې كچرته ورود په معنى دعبورشي اوپدې كښ سبب دنجات دجهنم اوذريعه ددخول دجنت ته ذكركيږيو چې هغه تقوى ده.

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ
[1] اوكله چې اولوستلې شي په دوئ باندې ايتونه زمونږ واضح بيان والا وائي هغه كسان چې كفرئي كړيدې هغه كسانو ته

1: شكوى

اٰمَنُوۡۤا ۙ اَیُّ الۡفَرِیۡقَیۡنِ خَیۡرٌ مَّقَامًا وَّ اَحۡسَنُ نَدِیًّا ﴿٧٣﴾ وَ کَمۡ اَهۡلَکۡنَا

چې ایمان ئې راوړيدې، چې کوم يو ددې دواړو ډلونه ښه ځائ والا دې اوخائسته مجلس والا دې [2] اوډیر هلاک کړيدي موږ

قَبۡلَهُمۡ مِّنۡ قَرۡنٍ هُمۡ اَحۡسَنُ اَثَاثًا وَّ رِءۡیًا ﴿٧٤﴾ قُلۡ مَنۡ کَانَ فِی الضَّلٰلَةِ

وړاندې ددوئ نه قومونه ډیر زماني چې هغوئ خائسته سامان والااووواوشکل والا [1] ورته اوايه څوك چې وي په ګمراهۍ کښې

فَلۡیَمۡدُدۡ لَهُ الرَّحۡمٰنُ مَدًّا ۬ۚ حَتّٰۤی اِذَا رَاَوۡا مَا یُوۡعَدُوۡنَ اِمَّا الۡعَذَابَ

نومهلت به ورکړي هغه ته رحمان مهلت ددي ، چې کله اويني دوئ هغه چې دوئ سره ئې وعده کيږي ياعذاب دنيوی

وَ اِمَّا السَّاعَةَ ؕ فَسَیَعۡلَمُوۡنَ مَنۡ هُوَ شَرٌّ مَّکَانًا وَّ اَضۡعَفُ جُنۡدًا ﴿٧٥﴾ وَ یَزِیۡدُ اللّٰهُ

اوياقيامت نوزرده چې پوهه به شي چې څوك دې ډيربدځائ والا اوډير کمزوري لښکروالا . اوزياته وي الله جل جلاله

الَّذِیۡنَ اهۡتَدَوۡا هُدًی ؕ وَ الۡبٰقِیٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَیۡرٌ عِنۡدَ رَبِّکَ ثَوَابًا

هغه کسانولره چې هدايت موندونکي دي نورهدايت اوباقي پاتي کيدونکي نيك عملونه ډيرغوره دي په نيزدَرب ستاپه بدله کښې

وَّ خَیۡرٌ مَّرَدًّا ﴿٧٦﴾

اوډيرغوره دي په اعتباردځائ دَورګرځيدلوسره.

﴿وَاِذَا تُتۡلٰی عَلَیۡهِمۡ﴾ داشکوه ده يعني چې کله دَقرآن ايتونه پدوئ باندې لوستلی شي نودوئ ازروئ تکبر داوائي چې مسلمانانوته پدې قرآن سره څه حاصل شو؟ زمونږه محفلونه ځومره خائسته اوشان وشوکت والادي اومسلمانان دَفقراوغربت زندګي تيره وي، اولام په ﴿لِلَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡۤا﴾ کښې لام التبليغ دې لکه په وقال لهم نبيهم کښې لام تبليغ دې.

---

(2) تخويف دنيوي اوجواب شکوی.

(1) زجر

﴿خَيْرٌ مَّقَامًا﴾ مقام يا اسم ظرف دي په معنى دځائ دا قامت سره او يا مصدر ميمي دي په معنى دقيام سره او ﴿نَدِيًّا﴾ په معنى دمجلس سره دي ﴿وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ﴾ دا تخويف دنيوي دي. چې ددي دنيا په شان وشوكت باندې مغرور خلكو ته دا هم سوچ كول پكار دي چې مونږه ددوئ نه زيات مال ودولت والا خلك. شان وشوكت والا امتونه هلاك كړي دي. او قرن وئيلى كيږي امت اوجماعت ته ﴿هُمْ أَحْسَنُ أَثَٰثًا﴾. اثاث. سامان دكورته وئيلى كيږي وهومتاع البيت من الفرش والثياب وغيرهما (روح) اوكله كله ئې اطلاق په مطلق مال باندې هم كيږي ﴿وَرِءْيًا﴾ وئيلى كيږي منظر اوشكل وصورت ته. يعنى دډير خائسته منظروالاوو. اوداكنايه ده په نازاونعم كښې دكيدلونه. او په يوقرائت كښې بغيردهمزي نه "ريًا". راغليدې په معنى دسيرابي سره. دږوار ومقصد يو دي

﴿قُلْ مَن كَانَ﴾ دا جواب شكوه اوزجردې، چې كوم خلك ددنيا په مال دمتاع باندې تكبر كوي. اوايمان نه اعراض كوي الله ﷻ دغه شان خلكوته ډهيل اومهلت وركوي تردي چې دوعدي مطابق يادوئ ته په دنيا كښې عذاب راشي اويا به قيامت قائم شي اودكفرپه حالت كښې به دالله ﷻ سره ملاقات اوكړي نوبيا به ورته پته اولګى چې دچاټهكانه بنه ده اودچامجلس كمزورى اوضعيف دې.

﴿فَلْيَمْدُدْ لَهُ﴾ دا امربمعنى الخبر دي. يعنى الله ﷻ دغه شان سركش ته مهلت وركوي اوصيغه دامر راوړى شوه چې پدې كښې اشاره ده دېته چې بتقاضائي حكمت دالله ﷻ سره مناسب داده چې دوئ ته مهلت وركړي، لپاره ددې چې عذرونه ئې ختم شي، لكه چې په سورة فاطر ايت نمبر (۳۷) كښې دى، اولم نعمركم مايتذكرفيه مـن تـذكر الخ نودالله ﷻ دطرف نه په دنيا كښې دوئ ته ترقي وركول دليل دحقانيت ندې بلكه استدراج دې، اودغه شان ذكر الله ﷻ په سورة آل عمران ايت نمبر (۱۷۸) كښې هم فرمائى، اويا امر په معنى ددعا سره دي ﴿إِمَّا ٱلْعَذَابَ وَإِمَّا ٱلسَّاعَةَ﴾ دا تفصيل دي د﴿مَا يُوعَدُونَ﴾ په طريقي دمانعة الخلو سره، اود﴿إِمَّا ٱلْعَذَابَ﴾ نه مراد عذاب دنيوي نيدكول، قتل كيدل، او په حالت دنزعه كښې سزا وركول مراد دي. اود﴿وَإِمَّا ٱلسَّاعَةَ﴾ نه مراد

دَقيامت عذاب او يا پس دَمرګ نه عذاب مراد دي، ځکه چې په اصطلاح دَشرع کښې دَقيامت اطلاق کله کله په مرګ نه پس زندګئ باندې هم کيږي کمافي الحديث، من مات فقدقامت عليه القيامة، ﴿فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ هُوَ شَرٌّ مَّكَانًا﴾ دا جواب دَشرط دې او غايه ده دَحتیٰ لپاره يعنی دَعذاب وخته پورې دوئ ته مهلت وي خو چې دَعذاب وخت شروع شي نو بيا مهلت ختم شي. نو پدې وخت کښې به دوئ پوهه شي ﴿مَنْ هُوَ شَرٌّ﴾ دا په مقابله دَ﴿وَأَضْعَفُ جُندًا﴾ کښې دې ﴿وَأَحْسَنُ نَدِيًّا﴾ دا په مقابله دَاحسن نديًا کښې دې.

﴿وَيَزِيدُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ٱهْتَدَوْا۟﴾ دا بشارت دې چې الله ﷻ په خپل توفيق سره مؤمنانو ته په ايمان باندې ثبات او استقامت ورکوي، لکه څرنګه چې کافرانو ته ئې استدراج او مهلت ورکولو ،او دَهغوئ کفر او سرکشي به زياتيدله ،نو دا مقابل دَ ﴿فَلْيَمْدُدْ﴾ دې ،نو دَايت مطلب، دا دې چې کفارو ته مال دولت کښې ترقي دا دهغوئ دَحقانيت دليل ندې او دَمؤمنانو ناداري دَهغوئ دَباطل کيدلو دليل ندې بلکه دنيوی عيش وعشرت سره الله ﷻ کفارو ته په کفر او طغياني کښې ترقي ورکوي او په نادارئ ،فقر وفاقې سره مؤمنانو مراتب بلند کوي.

﴿وَٱلْبَٰقِيَٰتُ ٱلصَّٰلِحَٰتُ﴾ دَدې تفسير په سورة الكهف کښې ،تير شويدې ،چې نيک اولاد ،نيک اعمال، تسبيحات وغيره دا باقي پاتې کيدونکي څيزونه دي، او په اخرت کښې به اجر او بدله دَدې ميلاويږي ،او ﴿خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ﴾ کښې خير اګرچه اسم تفضيل دې خو دلته تفضيل فی نفسه مراد دې او تفضيل علی الغير ندې مراد ﴿وَخَيْرٌ مَّرَدًّا﴾ مرد اسم ظرف دې يعنی ځائ دَواپس کيدلو مراد تنه جنت دې، په سورة الكهف کښې خيراملا، وئيلی شوي وو ،او دلته ﴿مَّرَدًّا﴾ او ئيلی شو .وجه دا ده چې هلته دا کلام دهغه سړي په جواب کښې ذکر شوې وو چې ،مال اولاد ئې ذريعه دَنفعې دائمي ګرځولو ،او پدې باندې ئې سهارا وه ،او دلته په مقابله دَ ﴿شَرٌّ مَّكَانًا﴾ کښې ذکر شويدې نو ځکه ورسره ﴿مَّرَدًّا﴾ ذکر شو.

اَفَرَءَيْتَ الَّذِيْ كَفَرَ بِاٰيٰتِنَا وَقَالَ لَاُوْتَيَنَّ مَالًا

[1] بانه خبرنی په حال دهغه کس باندې چې کفرني کړيدي په آيتونوزمونږ باندې اووائی چې خامخا به راکولې سي ماته مال

وَّوَلَدًا ﴿۷۷﴾ اَطَّلَعَ الْغَيْبَ اَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ﴿۷۸﴾ كَلَّا ؕ سَنَكْتُبُ

اواولاد آيا دې خبر دې په غيب باندې اوکه يانې اخستي ده درحمن نه وعده دنجات، هرګزداسي نده.ضرور مونږه لیکو

مَا يَقُوْلُ وَنَمُدُّ لَهٗ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا ﴿۷۹﴾ وَّنَرِثُهٗ مَا يَقُوْلُ وَيَاْتِيْنَا

هغه خبرې چې دې وائي اوزياته وو ده لره دعذاب نه په زياتولوسره. اوواخلومونږ دده نه هغه چې دې وائي اوراځي به مونږ ته

فَرْدًا ﴿۸۰﴾ وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً لِّيَكُوْنُوْا لَهُمْ عِزًّا ﴿۸۱﴾

بلک يواځې [1] اونيولي دي دوئ سيواداللهﷻ نه حقداران دبندګئ ددې لپاره چې شي ددوئ دپاره مددګاران

كَلَّا ؕ سَيَكْفُرُوْنَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا ﴿۸۲﴾

هرګزنشي کيدې زرده چې انکاربه اوکړي دبندګئ ددوئ نه.اوشي به پدوئ باندې دشمنی کوونکی

﴿اَفَرَءَيْتَ الَّذِيْ﴾ داشکوه مع التخويف دي، دآيت شان نزول امام بخاری‌رحمه‌الله اونور محدثينوداسي نقل کړيدې چې حضرت خباب بن ارت‌رضي‌الله‌عنه فرمائی چې څه لوهار (آهنګر) وم، نوماعاص بن وائل ته څه څيز(توره)جوړکړې وه چې دهغې پيسې دهغه په ذمې څماقرض وې نوماتنه مطالبه اوکړه چې څماپيسي راکړه نوهغه اونيل چې لاوالله لااقضينكَ حتّی تكفرَ بمحمّدٍﷺ .يعنی هغه وخته پورې څه ستاحق تاته نه درکوم ترڅوپورې چې تاپه محمدﷺ سره کفرنوي کړې.حضرت خباب‌رضي‌الله‌عنه فرمائی چې ماورته جواب کښ اونيل چې څه هرګزکفرنه کوم اګرچه ته مړشي اوبياژوندې کړې شي، نوعاص اونيل چې آياڅه به مړکيږم اوبيا به ژوندې کيږم؟ خباب‌رضي‌الله‌عنه فرمائی چې ماورته اونيل چې هاؤ، نوده اونيل چې کله څه دوباره ژوندې شم نوهلته به

1. شکوی مع تخويف اخروی.

1. زجر

هم څما اولاد او اموال وي نو بيا به ئي هلته درله، دركړم. نو الله ﷻ دا ايت نازل كړو. او ﴿أَفَرَءَيْتَ﴾ په معنى د اخبر سره دې، ځكه چې رؤيت د اشياؤ ذريعه د علم ده او خبرور كول ورسره صحيح وي نو ځكه رايت په معنى د اخبر سره راځي. او فاء يا د تعقيب ذكري لپاره ده لكه چې دا ظاهره ده او استفهام مجازاً عبارت دې د امر نه په بيانولو د واقعي سره. او مقصد د ايت دا دې چې د كفارو سابقه حالات ذكر كولو نه ورستو بيا د وئ نه واقعه د دې كافر هم ذكر كړه. اى اذكر حديثه عقيب حديث اولئك (مدارك) او يا فاء عاطفه ده او معطوف عليه ورله مقدر دې. اى انظرت فرايت الذى كفر الخ (روح) يعنى آيا ته نه ګوري چې بيا خبرشي په حالت د هغه كس چې كفرئ كړيدې الخ او استفهام لپاره د تعجيب دې، يعنى د ده دا جرائت شنيعه قابل تعجب دې ﴿مَالًا وَوَلَدًا﴾ لام موطئه للقسم دې. يعنى څما د قسم وي چه ماته به په اخيرت كښ ضرور مال او اولاد ميلاويږي

﴿أَطَّلَعَ ٱلْغَيْبَ﴾ دا جواب د قول د مشرك دې چې دا مشرك (عاص) چې دا وائى چې ﴿لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا﴾. آيا ده ته څه غيب باندې علم وركړې شويدې او كه يائي د الله ﷻ سره عهد شويدې

﴿أَطَّلَعَ﴾ په اصل كښ ءاطتلع، په وزن د افتعل باندې وو، شروع كښ همزه استفهاميه ده. فاء افتعال په مقابلې كښ طاء واقع شوه، د قانون صرفي مطابق تاء په طاء سره بدل كړې شوه او طاء په طاء كښ مدغم كړې شوه او په شروع كښ تنه همزه وصلي حذف كړې شوه، او اطلاع على الغيب. نه مراد علم غيب حاصليدل دي يعنى ده ته الله ﷻ په خپلې ارادې باندې علم وركړيدې چې دې دومره مضبوط قسم خوري، او د ابن عباس ﷺ نه مروي دى چې اطلاع على الغيب، نه مراد په لوح محفوظ كښ كتل دي، يعنى آيا ده خپل قسمت په لوح محفوظ كښ كتلې دې؟

﴿أَمِ ٱتَّخَذَ عِندَ ٱلرَّحْمَٰنِ عَهْدًا﴾ عهد نه مراد يا اعمال صالحه، ايمان او توحيد دې. نو د ايت مقصد دا دې چې آيا ده نيك اعمال، ايمان، او په توحيد باندې عقيده شته دې چې په هغې ده سره د جنت وعده شويده، او يا عهد په خپلې معنى يعنى د وعدې سره دې، نو د ايت مطلب دا دې چې آيا ده سره الله ﷻ وعده د نجات كړيده ﴿كَلَّا ۚ سَنَكْتُبُ﴾ كلا، لفظ د قرآن مجيد په نصف اول كښ نيشته دې او په نصف اخير كښ درې ديرش (۳۳) ځلې راغليدې، او دا اول موضع دې. لفظ د كلا، په دوه (۲) معنيو كښ مشترك دې، كله په معنى د حقاً سره وي او كله په معنى د لا، سره وي، كله چې

په معنی دحقا سره وي دیته کلا حقا.وائی اوچي په معنی د. لا.سره وي دیته ردعیه وائی اودَدینه علاوه کله کله مجازا استعمال ئې په ایجاب اوکله په تنبیه کښې هم کیږي.ابن الانباری دابوالعباس نحوی نه نقل کړیدی چي په کلا،باندی وقف کول جائزندي مطلقا. لیکن دجمهورو رائ داده چي په کوم ځائ کښې. کلا.صله دقسم لپاره. واقع شي لکه کلاّ والقمر(المدثر ۳۲، یالکه کلاورب الکعبة. شو چي بدي مواضعوکښې.کلا.په معنی دای حرف ایجاب سره دي اوصله دقسم لپاره واقع شویده نوپه "کلا"باندي وقف کول جائزندي.اودَدینه علاوه په کوم ځائ کښې چي کلاحقه وي نوهلته په ماقبل دکلا،باندي وقف کول مستحسن دی اوپه کلا باندي ابتداء مستحسنه ده اوداپه قرآن مجید کښې په دیارلس(۱۳)مواضعوکښې راغلیدي. اوچي په کوم ځائ کلا،ردعیه وي نوهلته په کلا، باندي وقف مستحسن دي، مانحن فیه هم دَدغي قبیلي نه دي اوکوم ځائ کښي په "کلاّ"کښي دواړه احتمالات وي هلته وقف هم مستحسن دي اوابتداء هم مستحسنه ده اوداپه قرآن کښې لسو(۱۰)مواضعوکښې راغلیدي، اودَدینه علاوه دوه(۲) مواضع داسي دي چي هلته نه وقف مستحسن دي اونه ابتداء مستحسنه ده بلکه وصل مستحسن دي دَماقبل سره،یو(۱) ثم کلاسیعلمون(النباء:۵)او(۲)ثم کلاسوف تعلمون(التکاثر)،ابتداء ځکه مستحسنه نده چي وقف راځي په حروف عاطفوباندي،اوپه "کلا"باندي وقف ځکه مستحسن ندي چي فائده(کلا)په مابعد کښې ده.

﴿سَنَكْتُبُ﴾ (۱)مرادتنه محفوظ کول دی لپاره دَبدلی ورکولو،ای سنحفظ علیه قوله، فنجازیه به فی الاخرة(قرطبی)(۲) اویاتنه مراد ظاهره ول دي یعنی مونږ به دَه ته اوښایوچي ستاخبري مونږه لیکلي وي، (کشاف)(۳)اوبعض فرمائی چي(سین)لپاره دَتاکید دي او﴿سَنَكْتُبُ﴾کتابت حالی مراد دي اومجازفی الاسناد دي په کلام کښې ځکه چي کتابت ملائك کوي په حکم دَالله ﷻ سره،اودَ﴿مَا يَقُولُ﴾نه مراد دَهغه والادعوی ده چي﴿لَأُوتَيَنَّ مَالاً وَوَلَدًا﴾.

﴿وَنَرِثُهُ مَا يَقُولُ﴾مرادتنه اغستل اوسلب کول دَهغه مال اواولاد(بحر)ویاتینافردا فرد په معنی دمنفرد سره دي یعنی بالکل تن تنهابه زمونږ مخي ته راځي،نه به ورسره اولادوي نه به مال وي اونه به قبیله وي (قرطبی).

﴿وَاتَّخَذُوا مِن﴾دابل زجردې په آلهونيولوسره﴿لِّيَكُونُوا لَهُمْ عِزًّا﴾ .عز په معنی د عون دانصاروسره دې.چې داسبب دَعزت اونصرت دې په دنياكښ. ﴿كَلَّا ۚ سَيَكْفُرُونَ ﴾كلا . نيپره دردنع دې اورد دې دَمشركينودَخيال،چې دوئ دكوم مقصدلپاره دَالله ﷻ سره شريكان گرځولي دي چې په آخرت كښ زمونږ سفارش كوي اوزمونږ نه به عذاب لرې كوي نوداغرض اومقصدبه ددوئ هرگزپوره نشي،بلكه دامعبودان به دَقيامت په ورځ دَدوئ دَعبادت نه به انكاركوي.اودوئ مشركينومخالف به شي،اوضميرپه﴿سَيَكْفُرُونَ ﴾كښ دَغوره قول مطابق راجع دې معبودان او،آلهو،ته اوبعض فرمائی چې ضميرراجع دې كفاروته يعني قيامت په ورځ به داكفار به دَعبادت نه منكرشي لكه په سورة الانعام كښ دی، والله ربّناماكنّا مشركين(انعام:۲۳).

﴿وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا﴾ضدپه معنىٰ دَمخالف سره دې،اودامقابل دې دَعزّا.اولفظ دَضد مفرد راوړی شو حالانكه داخبردې دَجمعى نه،نوبعض وجه دافرمائي چې ضد،مصدردې اومصدرسره توصيف دَجمعي كيدې شي، (بحر) اوبعض فرمائی چې ﴿ضِدًّا﴾ مفرد مقابلةً ذكرشويدې ځكه چې دې په مقابله دَ﴿عِزًّا﴾ كښ راغليدې او﴿عِزًّا﴾ ،مصدردې نولهذا﴿ضِدًّا﴾هم مقابلةً مفرد ذكركړې شو،اوبعض فرمائی چې ضميردَ ﴿وَيَكُونُون﴾راجع دې كفاروته،او﴿عَلَيْهِمْ ﴾ ضميرراجع دې معبودانوته يعني داكفاربه دَخپلومعبودانوسخت مخالف به شي، اوضدًا، مفردځكه راوړی شو چې دوئ ټول به په ضديت كښ داسې متفق وي لكه چې دوئ په منزله دَواحدوي.

أَلَمْ تَرَ أَنَّا أَرْسَلْنَا الشَّيَاطِينَ عَلَى الْكَافِرِينَ تَؤُزُّهُمْ أَزًّا ﴿٨٣﴾

"آياته نه ئی خبرچې بيشكه مونږه پريخي دی شيطانان په كافرانو باندې چې راخوټكوي (تيزه وی) دوئ په راخوټكولو سره

1، بحر

فَلَا تَعۡجَلۡ عَلَيۡهِمۡۖ إِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمۡ عَدّٗا ﴿٨٤﴾ يَوۡمَ
[2] نوتلوارمه کوه ته په دوئ باندې (دعذاب) بیشکه مونږه شماریوره کوو دوئ لره په شمارلوسره [3] په کومه ورځ
نَحۡشُرُ ٱلۡمُتَّقِينَ إِلَى ٱلرَّحۡمَٰنِ وَفۡدٗا ﴿٨٥﴾ وَنَسُوقُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرۡدٗا ﴿٨٦﴾
چې راجمع به کړو مونږ متقیان رحمن ته په حیثیت دمیلمانو [4] اوابه شړو مجرمان جهنم ته تږي.
لَّا يَمۡلِكُونَ ٱلشَّفَٰعَةَ إِلَّا مَنِ ٱتَّخَذَ عِندَ ٱلرَّحۡمَٰنِ عَهۡدٗا ﴿٨٧﴾
[5] اختیاربه نه لري دسفارش کولومگرهغه څوك چې اخستی ده په نیزدرحمن وعده

﴿أَلَمۡ تَرَ أَنَّآ﴾ دابل زجردې په اتباع دشیطانانوسره، چې مونږ په دوئ باندې شیاطین مسلط کړیدي چې هغوئ دوئ په گناهونوباندې تیزه وي،مراد په ارسال سره تسلط ورکول دي شیاطینوته لکه په سورة بنی اسرآئیل، ایت نمبر(۶۴)کښ هم تیرشویدي. اویاارسال. ماخوذ دي دارسلت البعیر،نه چې اوښ ازادپریخودلی،نودایت مقصددادي چې مونږه شیاطین اوکفاردتعلق جوړه ولولپاره په خپل مینځ کښ ازادپریخی دي، اوڅه قسم رکاوټ موندې پیدااکړې اوکچرته الله ﷻ اراده کړي وی نوپه زبردستئ سره به ئی منع کړي وو (کشاف) ﴿تَؤُزُّهُمۡ أَزّٗا﴾، از،هز، استفزاز، تولومعنٰی یوه ده، وئیلی کیږي په یوکارباندې څوك تیزه ول، رااوچتول وغیره، نودایت مطب دادې چې شیاطین دوئ ته وسوسي واچوي اوگناهونه ورته خائسته ښکاره کوي نودوئ په هغې پسې روان شي، اودخواهشاتواتباع اوکړي،اوداجمله په محل دنصب کښ واقع ده بناء برحالیت مقدره د ﴿ٱلشَّيَٰطِينَ﴾نه اویاجمله مستانفه ده چې واقع ده په سوال دسائل کښ، چې کله اوئیلی شوچې﴿أَرۡسَلۡنَا ٱلشَّيَٰطِينَ﴾ نو سائل گویاچې سوال اوکړو چې. فماذا تفعل الشیطین بهم؟

---
[2] تسلي براي رسول الله ﷺ
[3] بشارت اخروی
[4] تخویف اخروی
[5] خصوصیت سورت.نفی شفاعت قهري .

﴿فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ ﴾داتسلي ده رسول اللهﷺ ته.يعنى ته ددوئ دسركشئ دوجي نه به دوى باندي دعذاب تلوارمه كوه،عذاب پدوئ باندي خامخاراتلوونكى دي. خودهغي لپاره يو وخت مقرردي﴿إِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ ﴾عد شمارته وئيلى كيږي نومراد تنه ياشماردشپو . ورځو . مياشتو اودكالونودي، نودايت مقصد دادې چې ددوئ دژندگئ شپي اوورځي محدودي پاتي دي. اوياتنه دانفاسو شمارمراد دې، اوداهم كنايه ده قرب هلاكت ددوئ نه.ددواړو توجيهاتو .په بنا داجمله علت دې دماقبل جملي يعنى نهى،لپاره.

﴿يَوْمَ نَحْشُرُ ٱلْمُتَّقِينَ ﴾دابشارت اخروى دې او﴿إِلَى ٱلرَّحْمَٰنِ ﴾ نه مراد ذات درحمان ندې بلكه ددينه مراد هغه مقام دعزت اوكرامت دې چې په هغي كښ تجليات اوانوارات درحمان به وي چې هغه جنت دې، (فتح)او"وفد"وئيلى كيږي دهغي كسانوجماعت ته چې هغوئ يوبادشاه يايولوئ اميرته په اعزازاواكرام سره ځي،اوبياچونكه غالبأدغه شان كسانوسره سورلئ،هم وي نوددي وجه نه دوفد ، اطلاق په ركباناباندې هم كيږي،نودايت مقصدداشوچې دقيامت په ورځ به متقين خلك به دالله ﷻ ميلمانه وي اوپه خائسته،خائسته سورلوباندې به سواره وي اودالله ﷻ ديدار اودهغه جنت ته به روان وي،(اللهم ارزقنابفضلك وبكرمك امين) اوداسورلئ به يادوئ اعمال وي يعني ددوئ اعمالُ نه به ددوئ لپاره محبوبي سورلئ جوړي كړې شي، لكه ابن كثيرؒ دابن ابى حاتم په سندسره دابن مرزوقؒ نه نقل كړيدې چې،مؤمن چې ځرنگه دقبرنه راپاسي نوددعمل به ديوخائسته صورت اوپاكي خوشبوسره دده قبرسره ولاړوي، نودامؤمن به ورنه تپوس اوكړې چې ته څوك ئى؟ نوعمل به ورته اوائى چې ته مانه پيژنى؟ مؤمن به ورته اوئى چې نه،صرف دومره دى پيژنم چې يوخائسته صورت اوپاكي خوشبووالائي، نودې به ورته اوائي چې ځه ستانيك عمل يم اوځه په دنياكښ هم دغه شان ووم،اوځه په دنياكښ يواوږد وخت پوري په تاباندې سورووم نن ته په ماباندې سورشه، اوددي برعكس دكافر، فاسق عملونه به ديوبيكاره اوبدبوداره سورلئ په صورت كښ به راويستلى شي(اعاذناالله منها) اوبعض فرمائى چې داسورلئ به دجنت نه راويستلى شي اوهرنيك انسان ته به دهغه محبوبه سورلئ پيش كړې شي اوپه هغې به كيني اوجنت ته به روان شي.

فائده په حدیث دبخاری اومسلم کښې دی چې حضرت ابن عباس‌ فرمانی. قام فینارسول الله ﷺ بموعظة فقال الله يايها الناس انكم تحشرون الى الله تعالى حفاة عراة غرلا الخ نوددینه معلومه شوه چې حشردانسانانو به پیدل کیږي. اودماقبل نه معلومیږي چې په سورلئ به سواره وي. نوبعضوبعضوتطبيق. داسي کړیدې چې ترمیدان حشر(موقف)پورې رااتلل به حفاة وي اوبیادهغې نه پس مراحل جنت ته داخلیدل وغیره، دابه په سواریوسره وي. اوبعض فرمائي چې ځني نیك بخته خلك به داسي وي چې دقبرنه پاسیدلوسره هغوي ته سوارئ اولاړه وي. اومیدان حشرته اوبیادهغې نه ورستومنازلوته په سوارئ لاړشي نوابن عباس‌ روایت عام مخصوص منه البعض دی

﴿وَنَسُوقُ ٱلْمُجْرِمِينَ﴾سوق وئيلی کيږي راښکلو. اوزبردستئ بوتللو. ته او ورد. په اصل کښې وئيلی کیږی اوبوته راتلونکي جماعت ته. اوبیانوم اوګرځیدلود تږي لپاره ځکه چې څوك اوبوته راځي نوهغه غالباً تږی وي. (کبیر) اونصب د ﴿وِرْدًا﴾ بناء برحالیت دی، چې دی حال واقع شویدی د﴿ٱلْمُجْرِمِينَ﴾.نه نودآیت مقصد دادې چې مجرمانو په جهنم ته بوتللوحالت به داسي وي لکه څرنګه تږی اوښان اوبوته شړلی‌کیږي، نوداکلام محمول دی په تشبیه باندې،مشبه به محذوف دی نوتقدیردعبارت داسي دی،ونسوق المجرمين كماتساق البهائم الى جهنم وردا(روح) اوداتشبيه په استخفاف اواهانت کښې ده. اویا﴿وِرْدًا ﴾ منصوب دی بناء پدې چه دی مفعول له دې د﴿وَنَسُوقُ ﴾ -لپاره،نواصل کښې داسي دی، الى جهنم للورد لكه جنتك اكراما اى للاكرام.

﴿لَّا يَمْلِكُونَ ﴾پدې کښې نفي دشفاعت قهري ده، اوپدې ایت کښې ډیرتوجیهات دي. ځکه چې ضمیرد جمعي (۱)یاراجع دی ټولومخلوقاتوته چې په هغې دلالت کړیدې ذکرد ددو(۲)، فریقینو چې متقیان،اومجرمان دی(۲)اویاراجع دی ماقبل کښې مذکوردوو(۲)، فریقینوته. (۳)اویاراجع دې فقط متقیانوته(۴)اویاراجع دې فقط مجرمانوته. اودشفاعت نه مراد (یا) شافعین دی اویا مشفوع له مراد دي.

(۱)که ضمیرراجع شي ټولومخلوقاتوته اودشفاعت نه مرادشفاعت د شافعینو شي نواستثناء به په﴿إِلَّا مَنِ ٱتَّخَذَ﴾کښې به متصله شي اود﴿عَهْدًا﴾ نه مراد یاعهدتوحیددی یعنی لااله الاالله.

ویونکی. اویاتنه مرادحکم او اذن. دې اوماخوذ دې دعَهَدَ الامیرالی فلان. نه چې په معنی دَامراوحکم سره دې، نومعنی به ئی داشي دَایت چې هیڅ څوك بهٔ دَشفاعت مالك نوي مګرهغه څوك به شفاعت کولی شي (الف)چې موحدوي(ب)یاهغه څوك چې رحمان ورته اجازت ورکړې وي

(۲)که ضمیرراجع شي تولومخلوقاتو اوشفاعت نه مراد مشفوع له په حق کښ شفاعت شي نودَعهدانه مراد توحیددې،اواستثناء پدي صورت کښ هم متصله ده،دَایت معنی به داشي چې څوك به هم مالك نوي دَشفاعت کولودَبل چاپاره مګردَهغه مشفوع له لپاره به کولی شي چې هغه موحدوي یعنی خاتمه ئی په توحیدشوي وی(۳، ۴) دغه شان دادواړه احتمالات په هغې صورت کښ هم دي چې ضمیرراجع شي متقیانواومجرمانوته.

(۵)که ضمیرراجع شي فقط متقیانوته، اوشفاعت نه مراد دَشافعینوشي اوعهدا نه مراد به اذن وي، نواستثناء پدي صورت کښ هم متصله ده، دَایت معنی به داشي چې مالکان به نوي متقیان دَشفاعت کولومګرپه اذن دَرحمٰن سره.

(۶)که ضمیرراجع شي فقط متقیانوته اودَشفاعت نه مراد مشفوع له شي،نودَایت معنی به داشي چې،مؤمنان به مالکان نوي چې دَچاپه حق کښ شفاعت اوکړي مګردَهغه مشفوع له په حق کښ به کولی شي چې دَهغه خاتمه په توحیدباندې شوې وي.

(۷)که ضمیرراجع شي مجرمانوته اوشفاعت نه مرادشافعینوشفاعت شي نودَعهدا نه مراد په عهدتوحیدوي، اواستثناء به پدي صورت کښ منقطعه وي دَایت معنی به داشي چې مالکان به نوي مجرمان دَشفاعت کولودَهیچالره،لیکن هغه څوك به دَشفاعت کولومالك وي چې حاصل کړې وي عهددَتوحید.

(۸)که ضمیرراجع شي مجرمانوته اوشفاعت نه مراد شفاعت یاب کیدل(مصدرمجهول) شي، اوعهدا نه مراد به عهدتوحیدشي، اواستثناء پدي صورت کښ هم منقطعه ده نودَایت مقصد به داشي چې نوي به مالکان دامجرمان چې شفاعت یاب شي لیکن موحدین به شفاعت یاب کیدلی شي.ددینه علاوه نورتوجیهات هم دی چې ذکرکړیدي علامه زمخشري وغیره په خپلو تفاسیروکښ.

وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا ﴿٨٨﴾ لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْئًا إِدًّا ﴿٨٩﴾ تَكَادُ

[1] اووائي دوئ چې نيولي دي رحمن ځان له ولد(نائب). بيشکه راغلئ تاسوخبرې ډيرې ناکارې ته چې نزد دي چې

السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنْشَقُّ الْأَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا ﴿٩٠﴾ أَنْ

اسمانونه اوچوي ددي خبري دوجي نه اواوشليږي زمکه اوراپريوځي غرونه دړي وړي. ددي وجي نه

دَعَوْا لِلرَّحْمٰنِ وَلَدًا ﴿٩١﴾ وَمَا يَنْبَغِي لِلرَّحْمٰنِ أَنْ يَتَّخِذَ وَلَدًا ﴿٩٢﴾ إِنْ كُلُّ

چې بللي دوئ رحمان لره ولد اونده مناسب رحمان لره چې اونيسي ولد. ندي ټول هغه چې

مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ إِلَّا اٰتِي الرَّحْمٰنِ عَبْدًا ﴿٩٣﴾ لَقَدْ أَحْصٰهُمْ وَعَدَّهُمْ

په اسمانونوکښې دي اوپه زمکه کښې دي مګرراځي رحمان ته په بندګئ سره بيشکه راګيرکړي دي الله ﷻ دوئ اوشمارکړيدي

عَدًّا ﴿٩٤﴾ وَكُلُّهُمْ اٰتِيهِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فَرْدًا ﴿٩٥﴾

په شمارسره.اودوئ ټول به راځي الله ﷻ ته په ورځ دقيامت يواځې يواځې(تش تور)

﴿وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ﴾ دااعاده ده دَشکوی دَسورة الکهف، دَسورة الکهف په ابتداء کښې الله ﷻ فرمائيلی وو چې وينذرالذين قالوا اتخذ الله ولدا.نوبيادهغې نه ورستوپه سورة الکهف اومريم کښې دَمشرکينودَشبهاتو ازاله اوکړې شوه،دَازالې دَشبهاتونه پس دَسورة الکهف دَشکوی اعاده اوکړې شوه،چې دوئ الله ﷻ ته نسبت دَولدکوي.اودَالله ﷻ لپاره نائب متصورکوي.حالانکه دَالله ﷻ لپاره نائب اويادَالله ﷻ نه علاوه بل جاته،کارسازاومتصرف ونيل عظيم جرم دي.﴿لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْئًا﴾ داالتفات دي دَغيبت نه خطاب ته لپاره دَاظهاردکمال شفاعت دَدوئ دَقول.﴿ادا﴾ په معنی دَعظيم المنکريعنی ډيرناکاره سره دي

﴿تَكَادُ السَّمٰوٰتُ﴾ داپه موضع دَصفت کښې ده دَ﴿إِدًّا﴾ لپاره،چې دَدوئ قول داسي ناکاره دي چې قريبه ده چې اسمانونه ټکړې ټکړې شي اوزمکه اوچوي اوغرونه دړې وړې شي دَدوئ

(1) شکوی

ددي خبري دوجي نه. پديکښې اشاره ده چې شرك مفضي دې فساد دنظام ته او توحيد مفضي دې صلاح دعالم اونظام ته، کمايدل عليه الحديث لاتقوم الساعة حتى يقال في الارض الله الله الخ ان دَعَوا الخ دلته لام تعليليه مقدر دې. داعلت دې دَماقبل (فسادعالم) لپاره. دعا يا په معنى دتسمي سره ده اى سموا للرحمٰن ولدا(فتح) اويا په معنى دنسبت سره دې. اى نسبوا للرحمٰن ولدا

﴿وَمَا يَنۢبَغِي لِلرَّحۡمَٰنِ ﴾پديکښې رددې دقول دمشرکينو په اعتبار دمانع عقلي سره چې د اتخاذ ولدلره مانع عقلي موجوددې. اودماينبغي. استعمال په دوو(۲)معانيوکښې دې(۱)په معنى دعدم جوازسره دې(۲) په معنى دغيرمناسب سره دې. اول معنى په صورت کښې. ينبغي به دباب انفعال نه.شي چې مطاوع دباب تفعيل دې نودې به مطاوع شي دبغى، په معنى دطلب سره. اووجود دشئ مطلوب ورستو دطلب نه وي.لکه کسَّرتُه فانکسر.نودلته هم وجود دولد ورستودطلب د الله ﷻ نه وي. نودلته نفي دطلب دولدراغليده چې داديراوکده ده په، نسبت دنفي دذات ولدنه.نودآيت معنى به داشي الله ﷻ طالب دولد ندې اوکه چرته بالفرض الله ﷻ دخپل خان لپاره داولاد طالب وي نوبياهم دالله ﷻ لپاره ولد راتلل ممکن نوو(کشاف)اودويمي معنى په صورت کښې هم دآيت مقصدبالکل واضح دې چې، ولددالله ﷻ دذات سره مناسب ندې دهغه دشان خلاف دې ځکه چې نقص لره مستلزم دې په واجب تعالى کښې ځکه چې دامستلزم دې ترکيب لره،ځکه چې والدوئيلى کيږي ديته چې دهغه انفصال دجزاوشي اودې دهغې دمثل لپاره مبدا اوگرځي. اوانفعال د جزدمستلزم دې نقصان لره په منفصل عنه کښې،اودغه شان تماثل وغيره هم لازميږي چې تفصيل ئى مخکښې تيرشويدې.

﴿إِن كُلُّ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ ﴾دامانع شرعي ذکرکيږي داتخاذ ولدلپاره چې څرنگې عقلا دالله ﷻ لپاه ولد راتلل محال دې،نودغه شان شرعاهم محال دې ځکه چې هرڅه چې پدې کائنات اومخلوقاتوکښې دې داټول دالله ﷻ مملوك دې، او دولديت اومملوکيت په مينځ کښې منافات دې. ولد مملوك نشي جوړيدې اوددې وجه نه چې ولدمملوك نشي جوړيدې الله ﷻ ولديت اوعبديت په طرفينودتقابل کښې ذکرکړل، نومملوکيت ئې ثابت کړو اوولديت خودبخود نفي شونومعلومه شوه چې الله ﷻ دپاره ولدنيشته.(قرطبى) اوان نافيه دې،او کل داستغراق حقيقى لپاره دې

﴿لَقَدْ أَحْصَىٰهُمْ وَعَدَّهُمْ﴾ احصى، په معنى دَاحاطي سره دي.يعنى هرڅه دَالله جل جلاله دَامر اوتدبيراودَقدرت دلاندې دي اوالله جل جلاله په ټولوباندې محيط دې. اودټولو په تفاصيلوباندې عالم دې (كبير) ﴿وَكُلُّهُمْ ءَاتِيهِ﴾داهم رد دې په عقيدې ددوئ باندې په اعتبار دَاثبات دَعجزسره اوفرداً. نه مراد منفرد اوخالي والى دې دَمددګارانو اواموالو وغيره نه

إِنَّ الَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا الصَّٰلِحَٰتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَٰنُ
[1]بيشكه هغه كسان چې ايمان ئې راوړيدې اوعمل ئې كړيدې نيك زړه چې پيدابه كړي دوئ لره رحمن
وُدًّا ﴿٩٦﴾ فَإِنَّمَا يَسَّرْنَٰهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ
مينه په زړونو دَخلكو كښې [2]پس بيشكه اسان كړيدې مونږ دَاقرآن په ژبه ستالپاره ددې چې زيرى وركړې ته په دې سره
الْمُتَّقِينَ وَتُنذِرَ بِهِ قَوْمًا لُّدًّا ﴿٩٧﴾ وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هَلْ تُحِسُّ
متقيانوته اواوېره وې په دې سره قوم جګړمار[3]اوډېرهلاك كړيدې مونږه مخكښې ددوئ نه قومونه آياوينې ته
مِنْهُم مِّنْ أَحَدٍ أَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا ﴿٩٨﴾
ددوئ نه يوكس اوياآورې ته دوئ لره څه كشار

﴿إِنَّ الَّذِينَ ءَامَنُوا﴾ پدې كښې بشارت دې مؤمنانوته اوپه لفظ دَ﴿وُدًّا﴾ كښې واو په حركات ثلاثوسره منقول دې، وَد، وِد،وُد،اودامصدرهم راځي،صفت هم راځي اودَ وديد، دَمبالغې په معنىٰ سره هم راځي،پدې ايت كښې څلور(۴)توجيهات دي(۱) دَدې مطلب دادې چې دَخلكو په زړونو كښې به الله جل جلاله دَنيكانومحبت واچوي، اودَدې تائيدپه مشهورحديث سره هم كيږي چې دَحضرت ابوهريرة رضي الله عنه نه منقول دى فرمائي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو. انّ الله

---

(1) بشارت

(2) دامتعلق دى دټول سورت سره او اعاده دَشكوى دَسورة كهف،بطريقه لف نشرغيرمرتب

(3) تخويف دنيوى

اذا احبّ عبدا دعا جبرئیل علیه السلام فقال انی احب فلانا فاحبه، فیحبه جبریل الخ چې الله جل جلاله کله دیوبنده سره محبت کوي نو جبرئیل علیه السلام ته اوائي چې څه دفلانی بنده سره محبت کوم ته ورسره هم محبت کوه نو حضرت جبرئیل علیه السلام ورسره محبت شروع کړې. بیا حضرت جبرئیل علیه السلام اسمانونو والو ته اعلان اوکړي چې الله جل جلاله دَفلاني سره محبت کوي نو تاسو هم ورسره محبت کوئ. نو اسمانونو والا ورسره محبت شروع کړې، اوبیا دَهغه لپاره په زمکه کښې مقبولیت او محبوبیت پیدا کړې شي.

دویمه توجیه داده چې دنیك اعمالو په وجه سره ددوئ په زړونو کښې خپل محبت به واچوی. **دریمه توجیه** داده چې په خپله به الله جل جلاله دوئ سره محبت کوي. او **څلورمه توجیه** داده چې دَ ﴿وُدًّا﴾ نه مراد مقام محبت دې چې جنت دې.

﴿فَإِنَّمَا يَسَّرْنَاهُ﴾ دا متعلق دې دَابتداء دَسورت سره. چې دَ اتخاذ ولد دَنسبت نه ځان بچ کوونکو لپاره خوشخبري اوره ول او دالله جل جلاله ته دَولدنسبت کوونکو ته یره اوره ول دی، تیسیر نه مراد نازله ول دی ﴿بِلِسَانِكَ﴾ باء په معنی دَعلی، سره ده او فاء په ﴿فَإِنَّمَا يَسَّرْنَاهُ﴾ کښې دَتعلیل لپاره ده، او دَلسان نه مراد لغت عربیه دې نو دَایت مطلب دادې چې ته تبلیغ کوه او پیدي قرآن سره خلکو ته بشارت ورکوه او دَالله جل جلاله دَعذاب نه ئي یره وه ځکه چې مونږ تا ته دا قرآن اسان (کشاف).

﴿وَتُنذِرَ بِهِ قَوْمًا لُّدًّا﴾ لد جمع دَ الد ده وئیلی کیږي شدید الخصومة په باطله سره او ډیر دروغژن ته هم وئیلی کیږي، دلته تنه مراد هغه خلك دي چې نسبت دَولد ئي الله جل جلاله ته کړیدې.

﴿وَكَمْ أَهْلَكْنَا﴾ دا تخویف دنیوي دې په اخیر کښې، او دَتخویف په ضمن کښې دَرسول الله صلی الله علیه وسلم سره دَمشرکینو دَهلاکت وعده هم کیږي، یعنی دَدوئ نه مخکښې ډیر معاندین هلاك کړې شویدي او نوم نشان ئي په دنیا کښې نیشته دې، نو ستا دَدښمنانو حشر به دغه شان وي، (روح) او ﴿وَكَم﴾ پدې مقام کښې خبري دې، ﴿هَلْ تُحِسُّ﴾ تحس یا په معنی دَتجد سره دې او یا په معنی دَتری سره دې. او رکزا وئیلی کیږي الصوت الخفی، یعنی کشارته چې نطق په حروفو سره پکښې نوي، او دَا کنایه ده دَهلاکت استیصال نه چې نوم او نشان ئي هم پاتی نشو داسي مو هلاك کړل (روح).

ربط اول مع الاخر نو معلومه شوه چې نیك اعمال سبب د رحمن الهي دي﴿ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهُۥ زَكَرِيَّآ﴾ اوبد اعمال سبب دهلاكت دی، او دنیك اعمالو په وجي سره، نداء خفی. ته شرف قبولیت حاصلیږي﴿إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥ نِدَآءً خَفِيًّا﴾او په بد اعمالو سره صوت خفی هم دانسان هلاك کیږي او ختمیږي. والله اعلم

ختم شد تفسیر سورة مریم. بتوفیق الله تعالی وعونه، ۱۱رمضان سنه ۱۴۳۲ھ بیوم الجمعة المبارکة

رکوع	سورة طٰه مكية	آيونه
٨	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	١٣٥
	خاص په نوم د الله سره چه بيحده مهربان او ډير رحم كوونكې دې شروع كوم	

رقمها حسب التسلسل (٢٠) وحسب النزول (٤٥)

تفسيرسورة طه: سورة طٰهٰ مكى سورت دې.استثنى بعضهم الاية فاصبرعلى مايقولون(١٣٠) وبعضهم الاية،ولاتمدن الخ(١٣١)فانهامدنية اوديته سورة كليم هم وائى ځكه چې پديكښ واقعه د حضرت موسىٰ كليم الله عليه السلام په تفصيل سره ذكرشويده.

ترتيب قرآني كښ شلم(٢٠) نمبر او په ترتيب نزولي كښ پنځه څلويښتم(٤٥) نمبرسورت دې زمانه دَنزول ئي دَحضرت عمر رضي الله عنه نه دَاسلام راوړلونه مخكښ ده،(١٣٥) ايتونو (٨) ركوعاتو (١٣٤١)يا(١٢٤١)كلماتو او(٥٢٤٢) حروفوباندى مشتمل دې.

فضائل: عن ابى هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ انّ الله تبارك وتعالى قراءَ طٰهٰ وَيٰس قبل ان يَخلق السّموات والارض بالفى عام فلماسمعتِ الملائكة القرآن قالت طوبىٰ لامة ينزل عليها هذا، طوبىٰ لاجواف تحمل هذا،طوبىٰ لالسنةٍ تكلمت بهذا.ترجمه: حضرت ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دې فرمائى چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلوچه بيشكه الله تعالى دَاسمانونواودزمكى دَپيدائش نه دوه(٢٠٠٠)زره كاله مخكښ دَسورة طٰهٰ اويٰس تلاوت اوكړو نوچه كله ملائكوقرآن واوريدلونواوئيل ئي چه خوشحالي ده دهغې امت لپاره چې داقرآن پري نازليږي،خوشحالي ده دهغې زړونولپاره چې داقرآن به اوچته وي(ياده وي)خوشحالي ده دَهغه ژبولپاره چې پدي قرآن سره به تلاوت كوي.

دې حديث ته حافظ ابوحاتم بن حيان موضوعي وئيلي دي اونورو محدثينوورته ضعيف اومنكروئيلى دى، اوحقه خبره داده چې ضعيف دې ځكه چې دَدې په سندكښ ابراهيم بن مهاجربن مسمار اودَهغه شيخ عمربن حفص بن ذكوان ضعيف رواة كښ دي.

عن ابى امامة رضي الله عنه عن النبى ﷺ قال كل قرآن يوضع عن اهل الجنة فلايقروؤن منه شيئا الاسورة طٰهٰ ويٰس فانهم يقرؤون بهما فى الجنة.ترجمه: دَحضرت ابو امامة رضي الله عنه دَنبى ﷺ نه نقل كوى چې رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلوچې دَجنتيانو به دَقرآن مجيد دَټولو سورتونو تلاوت ذمه دارى ساقطه كړې شي، سيوا دَطٰهٰ اويٰس چې جنتيان به دَدې تلاوت په به جنت كښ كوي.

ربط: دسورة طٰهٰ ربط اسمي دماقبل سره داسي دې چې په سورت مريم کښې دحضرت مريمؑ دحالاتو نه معلومه شوه چې هغه اوحضرت عيسیٰ عليه السلام متصرف اوکارسازنو نو اوس په سورة طه کښې اعلان کيږي چې ﴿إِنَّنِي أَنَا ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠﴾ يعني اى موسىٰ عليه السلام دټولو مخلوقاتو کارسازخه يم نولهذا ځماعبادت کوئ (۲) دغه شان په سورة مريم کښې ربط قلبي دحضرت مريم اوعيسیٰ عليه السلام وغيرهما ذکرشو په سورت طه کښې ربط قلبي درسول الله دموسىٰ عليه السلام اودهغه متبيعينو ساحرانو والاذکرکيږي.

ربط مضموني: دسورت مريم سره داسي دې (۱) چې په سورت مريم کښې دحضرت مريمؑ عيسیٰ عليه السلام، ابراهيم عليه السلام اووغيرهم دواقعاتو په ضمن کښې مسئله توحيد، رسالت اوقيامت ذکرکړې شوه، په سورة طه کښې دحضرت موسىٰ عليه السلام دواقعي په ضمن کښې دغه مضامين ذکرکيږي (تهانوي رحمه الله) (۲) دغه شان په سورت الکهف اومريم کښې په توحيدباندې دشبهاتو جوابونه اوکړې شونو په سورت طٰهٰ کښې دتوحيد په تبليغ باندې تشجيع ورکولې کيږي چې دامسئله په بهادرئ سره بيان کړه لکه چې څرنګې موسىٰ عليه السلام بيان کړې وه (۳) دغه شان په سورت مريم کښې نفي دشفاعت قهري شوي وه نو په سورت طه کښې هم دغه نفي په تاکيدسره کيږي (۴) دغه شان په سورت مريم کښې حکم وو دصبراوداستقامت په عبادت باندې نو سورت طه کښې په مشقت کښې ځان غورځولونه ممانعت، اودصبراواستقامت نمونه ذکرکيږي په واقعې دموسىٰ عليه السلام سره. (۵) دغه شان دسورت مريم په اخيرکښې دمنکرينو هلاکت اجمالاً ذکرشوې وو نو په سورت طه کښې دهغې تفصيل ذکرکيږي. **دعویٰ دسورت**: دسورت دعویٰ تشجيع ده په دعوت اوتبليغ باندې. **مختصره خلاصه**: پدې سورت کښې دوه (۲) مضامين بنيادي طورمذکوردي يوتوحيداودويم تشجيع، آيتونه دتوحيد پنځه دي، اوايتونه دتشجيع هم پنځه دې اويوه پکښې تفصيلا واقعه ده، موسىٰ عليه السلام اوبله واقعه دمختصراً دحضرت آدم عليه السلام بيانيږي لپاره دتشجيع. اوځه پکښې دلائل عقليه ، زجرونه، بشارتونه ذکرکيږي، اوپه اخيرکښې امرمصلح هم ذکرکيږي.

تفصيلي خلاصه: په ايت نمبر(۲، ۳) کښې تشجيع ده اوپه ايت نمبر(۴ تا ۹) کښې مسئله توحيد ده دايت نمبر(۹) نه ترايت نمبر(۹۸) پوري واقعه دموسىٰ عليه السلام ذکرکيږي چې دامشتمله ده په شپږومقاماتوباندې اول مقام دايت نمبر(۹) نه ترايت نمبر(۲۴) پورې دې، اوبيادايت

نمبر(۲۵)نه ترايت نمبر(۴۳)پوري دويم مقام دَواقعي مذكوردې. اودريم مقام دايت نمبر(۴۳)نه ترايت نمبر(۵۲)پورې دې،اوپه ايت نمبر(۵۳، ۵۴، ۵۵) كښې ادخال الهى دې لپاره دَذكر ددلائلو عقليو په توحيدباندې، اوبيادَايت نمبر(۵۶)نه څلورم مقام دَواقعي ذكركولې شي ترايت نمبر (۷۶) پورې، چې پدې كښې دَساحرانوايمان راوړلوذكردې.اودَايت نمبر(۷۷)نه ترايت نمبر (۸۲)پوري پنځم مقام دې چې پدې كښې نجات دَمؤمنانواوهلاكت دَفرعونيانو ذكر كيږي. اودَايت نمبر(۸۳)نه ترايت نمبر(۹۷)پوري شپږم مقام دې چې پدې كښې دموسى عليه السلام كوه طورته تلل اودَقوم گمراه كيدل اوبياتوبه ويستل وغيره ذكركيږي،اوپه ايت نمبر(۹۸)كښې بيامسئله توحيدذكركيږي، اوپه ايت نمبر(۹۹)كښې تشجيع ده اودَايت نمبر(۱۰۰)تا(۱۰۸)كښې تخويف اخروي ذكركيږي اوپه ايت نمبر(۱۰۹)كښې نفي دَشفاعت قهري ده،اوپه ايت نمبر(۱۱۰، ۱۱۱) كښې دليل عقلي دې په نفي دَشفاعت قهري باندې، په ايت نمبر(۱۱۲)كښې بشارت. اوپه (۱۱۳)كښې ترغيب الى القرآن ذكركيږي اوپه ايت نمبر(۱۱۴)كښې ثمره دَتوحيدبيانيږي،اوپه آيت نمبر(۱۱۵)تا(۱۲۳)پوري واقعه دَحضرت ادم عليه السلام ذكركيږي،اوپه ايت نمبر(۱۲۴)تا(۱۲۷)كښې تخويفات اخروي ذكركيږي،اوپه ايت نمبر(۱۲۸، ۱۲۹)كښې تخويف دنيوي ذكركيږي، اوپه ايت نمبر(۱۳۰)كښې بياتشجيع ده، اوپه ايت نمبر(۱۳۱، ۱۳۲) كښې امرمصلح اوتزهيدفى الدنياذكركيږي،اوپه اخيري دري(۳)ايتونوكښې زجراوتخويف دنيوي ذكركيږي.

طٰهٰ ① مَآ اَنۡزَلۡنَا عَلَيۡكَ الۡقُرۡاٰنَ لِتَشۡقٰۤى ② اِلَّا تَذۡكِرَةً لِّمَنۡ يَّخۡشٰى

طٰه[1]ندې نازل كړې مونږه په تاباندې داقرآن چې په تكليف شې ته،مگردانصيحت دې دپاره دَهغه چاچه يره لري

③ تَنۡزِيۡلًا مِّمَّنۡ خَلَقَ الۡاَرۡضَ وَالسَّمٰوٰتِ الۡعُلٰى ④ اَلرَّحۡمٰنُ عَلَى الۡعَرۡشِ اسۡتَوٰى ⑤

[2]نازل كړې شويدې دَهغه ذات دَطرف نه چې پيدا كړې ئ ده زمكه اواسمانونه اوچت،هغه مهربانه ذات په عرش باندې متصرف دې

﴿ طٰه﴾غوره قول دادې چې دادَمتشابهاتونه دې، چې په مراد باندې الله جل جلاله عالم دې،اوبعض فرمائي چې﴿ طٰه﴾په لغت عك، نبطية،اوحبشيه كښې په معنى دَيارجل سره دې.

---

(1) اول ايت دَتشجيع.

(2) اول ايت دَتوحيد.

اوبعض فرمائی چې داپه معنٰی دَیاحبیبی سره دې نوګویاچې دااسم صفتی دې دَرسول اللهﷺ اوبعض فرمائی چې داحروف مقطعات دی اوهرحرف په خپلی معنٰی باندی دال دې اوپه تعیین دَمعانیوکښې ډیراقوال دی چې طا دال دې په طوبی اوها دال دې په هاویه. نوداکنایه ده دَقسم نه په جنت اوجهنم باندی، دغه شان نورهم ډیراقوال دی خوټول تکلفات اوتعسفات دی

﴿مَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ﴾دااول ایت تشجیع دې، او﴿لِتَشۡقَىٰٓ﴾شقاء نه دې اوشقاء لفظ استعمال په تعب اومشقت کښې کشیردې لکه وئیلی کیږی چې سیدالقوم اشقاهم، اشقی من رابض مهر .نودَایت مقصد دادې چې مونږ داقرآن په تاباندی ددې دپاره ندې نازل کړې چې ته دکفارودَایمان نه راوړلو دَوجې نه په تکلیف اوپه مشقت کښې اوغورزیږې اوخپل ځان په هلاکت کښې واچوې بلکه ستاکارصرف تذکیراوتبلیغ دې، اوبعض فرمائی چې دامما نعت دَمشقت نه په باري دَمونځ کښې وو،چې رسول اللهﷺ به ډیراوږدقیام کولوحتی چې په خپومبارکوکښې ئې ورم(پړسوب) پیداشونوپدې سلسلې کښې داایت نازل شو،داواقعه اګرچه په خپل ځائ باندی بالکل صحیح ده، لیکن په کوم روایت کښې چې دَدې واقعې ذکردې نوپه هغې کښې داتصریح نیشته دې چې دَایت دَنزول لپاره سبب داواقعه اوګرځیدله اودغه شان دَایت دَسباق اوسیاق سره هم مناسب اول تفسیردې.

﴿إِلَّا تَذۡكِرَةً ﴾دااستثناء منقطعه ده په معنٰی دَلکن سره،اوقرآن اګرچه دَټولومخلوقاتو دَپاره ذریعه دَتذکری،ده خوتخصیص دَ،﴿لِّمَن يَخۡشَىٰ ﴾ ځکه اوشوچې فائده اخستونکي په دې سره هغه صرف هغه خلك دې چې په زړونوکښې ئې دَاللهﷻ خشیت وي،اوکه څوك اشکال اوکړي چې خشیت خواثردَتذکری دې چې تذکره راشي نوخشیت پیداشي،نودَقرآن خشیت والودَپاره تذکره،کیدل تحصیل دَحاصل دې،(۱) جواب دادې چې دلته دَ ،﴿لِّمَن يَخۡشَىٰ ﴾ نه مراد بالفعل صاحب خشیت ندې مرادبلکه بالقوة صاحب خشیت تنه مراددې یعني دهغه شان داوي چې هغه ته پدې قرآن اوریدلوسره خشیت حاصلیږي یائي اللهﷻ ته علم وي چې په دې قرآن اوریدلوسره اوپه تخویف سره ده ته به خشیت حاصل شي(۲)،اویاجواب دادې چې دَایت مقصد دادې چې داقرآن اللهﷻ نازل کړیدې اودَدې تاثیردادې چې پدې سره یوداسې جماعت تیارشویدې چې هغه صاحب خشیت دې اودامطلب ندې چې دوران خشیت کښې تذکره ده(۳)،اویامراتب دَخشیت

لاتقف عندحد،دې نوپه دوران دَخشيت کښې هم تذکره ده چې دَهري مرتبې دَخشيت نه نې فوقانې مرتبې ته رسوي(۴)اوياتنه مراد تثبت اوپوخ والی دې په خشيت باندی.

﴿تَنزِيلًا مِّمَّنْ ﴾دااېت توحيددې چې کچرته تاته پدې دعوت اوتبليغ کښې څه تکليف ميلاؤشي نوپه ښه په بهادرئى سره ئې برداشت کوه،ځکه چې دادهغې عظيم بادشاه اوشهنشاه حکم دې چې دزمکو اواسمانونوخالق دې، اوهرڅه دَهغه په علم اوقدرت کښې دې،او﴿تَنزِيلًا﴾منصوب دې بناء پدې چې دې بدل دې دَ ﴿تَذْكِرَةً ﴾نه اوهغه حال دې دَ﴿ٱلْقُرْءَانَ ﴾،نه اويا﴿تَنزِيلًا﴾مصدردې دَفعل مقدرلپاره،اى نزل تنزيلا. اوانتقال دَتکلم نه غيبت ته لپاره. دَتفخيم شان دَقرآن دې، ځکه چې اولًا نسبت دَانزال دَقرآن الله ﷻ خپل ځان ته اوکړو چې داقرآن ځکه عظيم دې چې نازله وو نکى عظيم ذات الله ﷻ دې،اوپه دويم ځلى اسناد دَتنزيل په صيغى دَغائب سره خپل ځان ته اوکړو خوپه هغې صفاتوسره چې صفات دَعظمت اودَتمجيد دى. نوتفخيم دوچندشو، او﴿ٱلْعُلَى﴾جمع دَعُلياده لکه کُبرىٰ جمع کُبراوصُغرىٰ جمع صُغرراځي اوتوصيف دآسمانونو په عُلاسره لپاره دَدلالت دې په کمال قدرت باندی،اوصرف ذکردَتخليق دَزمکى اواسمانونوځکه اوشولوچې دَاعام خلکوپه مشاهده کښې داټولونه لوئې مخلوقات دى.

فائده: ظاهردَايت نه دامعلوميږى چې په پيدائش کښې زمکه په اسمان باندی مقدمه اومخکښې ده نوپدې کښې دَايتونوتعارض دهغې حل اودَمفسرينواقوال اوتعين دَراجح اومرجوح حضرت والدصاحب نورالله مرقدهٗ وبردمضجعه سه سورة البقرايت نمبر(۲۹)کښې په ډيرجامع اندازکښې کړيدې فجزاه الله خيرا ومن شآءفليطالع ثمه.

﴿ٱلرَّحْمَٰنُ عَلَى ٱلْعَرْشِ ﴾داکنايه ده دَحکومت اوسلطنت نه ځکه چې کله اوئيلى شي،استوى فلان على العرش، نومراد تنه دهغه بادشاهې وې اګرچه دې په تخت باندی بالکل نوي ناست، اوبعض خلکوپدې اعتراض کړيدې چې استوٰى على العرش کنايه وئيل دَسلطنت اوبادشاهئ نه باطل دې ځکه چې په نصوصوسره وجود دَعرش ثابت دې لکه،ويحمل عرش ربك فوهم يومئذثمانية دغه شان په صحيح حديث کښې دى، فاذا انا بموسى اخذبقائمة من قوائم العرش،دغه شان اهتزعرش الرحمٰن لموت سعد،وغيره داټول پدې ګواه دې چې عرش په خپله موجوددې، نولهذا داکنايه ګرځول

دَسلطنت نه صحيح ندې،ليکن قول دَدې بعضو خکه صحيح ندې چې يو وجود دَنفس عرش دې چې داپه نصوصو قطعيو سره ثابت دې،او انکار ئې جائز ندې،او يو دې استوی علی العرش.نو استوی په خپلی معنٰی سره په الله ﷻ کښې محال دې، هم عقلًا او هم نقلًا. هرچه دې نقلا دَدې وجه نه چې الله ﷻ فرمائی،ليسَ کمثله شئ، پديکښې نفی دَمثليت عامه ده په جميع وجوه کښې نو کچرته استوی په خپلي معنٰی سره شي نو لازم به شي مثليت په جلوس کښې. نو معنی دَايت به باطله شي،دغه شان الله ﷻ فرمائی،ويحمل عرش ربك فوقهم يومئذثمانية،نو کچرته ﴿ٱسۡتَوَىٰ﴾په خپلی معنٰی سره شي نو ملائك به حاملين شي دَالله ﷻ لپاره او الله ﷻ به (العياذبالله)په خپل حفاظت کښې به دَهغه فرشتو محتاج به شي،دغه شان الله ﷻ فرمائي،قل هوالله احد،او احدو ئيلی کيږي هغه ذات ته چې په ذات او صفاتو کښې ئي مثل او نظير نوي، نو که﴿ٱسۡتَوَىٰ﴾ په خپلي معنٰی باندی شي نو دَايت معنٰی به باطله شي، او هرچه دې عقلًا نو هغه ددې وجه نه چې عرش حادث دې او ذات دَ الله ﷻ قديم دې نو څرنګه به قديم محتاجه شي په جلوس کښې حادث ته. دغه شان جلوس په عرش دا احتياج دې عرش ته،او احتياج صفت دَممکن دې، دغه شان که جلوس علی العرش متحقق شي نو لازم بشی ترکيب په واجب تعالی کښې او دا باطله ده بداهة نو جلوس هم باطل دې، دليل دَملازمي دا دې چې هرکله جلوس متحقق شي نو جهات به هم متحقق شي چې دا لوازم دَمکان دې نو جهت يمين دَالله ﷻ به غيروی هغه جهت نه چې هغه شمال ته دې او دغه شان هغه حصه چې اتصال ئی راغليدې دَعرش سره غيربه وي، دهغې نه چې اتصال ندې راغلې او دا ترکيب دې، دغه شان کچرته جلوس متحقق شي نو لازم به شي بطلان دکبريائی دَالله ﷻ، او يا به الله ﷻ ذات محدود او ګرځي،او تالی په دواړوشقو قوسره باطل دې بداهة، نو مقدم ئی مثل دې،دليل دَملازمي دا دې چې الله ﷻ په عرش باندی جلوس متحقق شي نو يا به عرش لوئ وي او يا به الله ﷻ لوئ وي،کچرته عرش لوئ وي نو کبريائي باطله شوه او که الله ﷻ لوئ دې نو دَالله ﷻ به امر محدود او ګرځيږی مزيد تفصيل په کتب دَعقائدو کښې او تفسير کبير کښې ملاحظه کړئ.

نو هرکله چې دَاستوی ظاهري معنی مراد کول صحيح نو نودَدې وجه نه په داسي الفاظو کښې چې ديته متشابهات وئيلی کيږی دوه(۲) قوله دَاهل السنة والجماعة نه راغلي يو قول دَمتقدمينو دې او بل قول دَمتاخرينو دې، متقدمين فرمايی چې ﴿عَلَى ٱلۡعَرۡشِ ٱسۡتَوَىٰ﴾نه ظاهري

معنی نده مراد بلکه دَدینه مراد یوصفت دې دَالله ﷻ چې مونږ ته په قطعي طریقي سره ندې معلوم نودَدې وجه نه تفویض دَعلم به ئی الله ﷻ ته کیږي. اودَدې نوجه نه امام احمدبن حنبل رحمه الله نه چې کله دَاستوی په باره کښې تپوس اوکړې شونوهغه اوفرمائیل چې.نؤمن بها ونصدق بها بلاكيف،اومتاخرینُ په زمانه کښې فرقي دَمشبه اومجسمه رااوتلی اوزورئې اونیولونوهغوئ ددې فتنودَدفعیي لپاره پدغه شان نصوصوکښې تاویل غیرمفضی الی التعطیل ئې اوکړو لکه چې دَحضرت ابن عباس رضی الله عنه دَساق، تاویل په شدت سره اود بأید" تفسیرئی په "بقُوَةٍ" سره کړیدې،اوطریقي دَدوارو صحیح دی البته طریقه دَمتقدمینواحوطه اودَ متاخرینو اسلمه ده، اودَصفاتواودَمتشابهاتوپوره تحقیق په یوجامع مانع اندازکښې حضرت والدصاحب نورالله مرقده وبردمضجعه(امين ثم امين)په سورة آل عمران اوپه سورة اعراف اوپه سورة یونس کښې کړیدې. اودَمسلك اهل السنة والجماعت دَترجمانئ حق ئ اداکړیدې،امام رازی رحمه الله فرمائی چې استوی په معنی داستیلاء سره دې،اوبیائی دَاستیلاء تفسیرپه اقتدار اومطلق سلطنت سره کړیدې، لپاره ددې چې اعتراض وارد نشي چې استیلاء وئیلی کیږی حصول دَغلبي ته پس دَعجزنه نودَدې مطلب به(العياذبالله)داشي چې الله ﷻ په عرش باندی غلبه حاصله کړه پس دَعجزنه،اودغه شان استیلاء په هغه ځائ کښې متحققه کیږي چې کله منازع له موجودوي، نودَالله ﷻ سره خوڅوك هم منازع په عرش باندی نیشته، اودغه شان استیلاء په هغه صورت کښې متصوره وي چې مستولی علیه مخکښې نه موجودوي نوعرش حادث دې موجوددې په تخلیق اوپه تکوین دَالله ﷻ سره نودَدې اعتراضاتودَدفعیي لپاره امام رازی رحمه الله داستیلاءنه مطلق سلطنت مراد کړیدې.

دَامام رازی رحمه الله اودَنورمتاخرینوپه قول کښې فرق دادې چې عام متاخرین استوٰی کنایه ګرځوي دَسلطنت اوبادشاهئ نه،اوامام رازی رحمه الله فرمائي چې دَاستوی معنی استیلاءده البته بیاپکښې تجرید شویدې دَسلطنت حصول بعد العجزنه نفس سلطنت ته.

فائده: بعض معاصر مفسرینوپدې ځائ کښې ذهاب کړیدې مذهب دَمجسموته اوالله ﷻ لره ئې مکان ثابت کړیدې،چنانچه هغه لیکي استواء اوعرش معنی ښکاره ده چې دَعرش دَپاسه دې اوعرش دَاسمانونودَپاسه دې، هاں دهغې کیفیت دَمخلوق سره هیڅ مشابهت نه لری، ددې عبارت په ساده اوواضح الفاظوکښې مقصددادې چې دَالله ﷻ لپاره مکان شته دې اوالله ﷻ

متمكن فى المكان دې، او په يوجهت كښې دې،اوبيادديرافسوس خبره داده چې دې عقيدې ته ئې دتولوسلفوصالحينواوائمه مجتهدينو،عقيده وئيلى ده. حالانكه داسلافوعقيده داده چې دداسې الفاظوظاهري معنى نده مراد اګرچه ددې لپاره لغوي معنى شته دې. خوهغه معنى مرادنده،اوكومه معنى چې مرادده هغه موږ ته معلومه نده.لكه چې دامام مالك رحمه الله نه د﴿ٱلرَّحۡمَٰنُ عَلَى ٱلۡعَرۡشِ ٱسۡتَوَىٰ﴾، په سلسله كښې داسې منقول دي چې، كماوصف به نفسه. اودغه شان امام محمد رحمه الله نه چې كوم منقول دى چې، نؤمن بهاونصدّق بها بلاكيف ولامعنىٰ(كتاب الاسماء والصفات ص ۴۰۸) ولامعنىٰ صريح دې پديكښې چې دايت مطلب دابيانول چې الله جل جلاله دعرش دپاسه دې، اوعرش داسمانونودپاسه دې، دسلفوصالحينواودائمه مجتهدينوتفسيرندې.

اوامام ترمذى رحمه الله هم په ترمذى شريف كښې په حديث دنزول الرب تبارك وتعالى كښې دمحدثينو اودسفيان ثورى رحمه الله، سفيان بن عيينه، مالك بن انس رحمه الله،عبدالله بن مبارك، اووكيع وغيره مسلك ئې داسې بيان كړيدې چې، ان تروى هذه الاشيآء كما جآءت ويؤمن بها ولاتفسرولاتتوهم ولايقال كيف، ددينه هم معلومه شوه چې دايت ظاهري معنى مرادكول دمحدثينواوداهل السنة والجماعت مسلك ندې.

بياافسوس بالاافسوس پدې دې چې امام ابوحنيفه رحمه الله ته ئې غلط قول منسوب كړيدې اوپه هغې سره خپل مذهب ثابتولوكوشش كړيدې،چنانچه دې ليكي امام ابوحنيفه رحمه الله نه روايت دې چې چاداسې اوئيل چې څه نه پوهيږم چې څما رب په اسمان كښې دې ياپه زمكه كښې دې نوهغه سړي كفراوكړو،څكه چې الله تعالى فرمائى: الرّحمٰن على العرش استوٰى آه· اوددې نسبت ئې كړيدې فقه اكبرته خوداهغه فقه اكبرنه دې چې هغه دامام صاحب نه دهغه څوي حماد روايت كړيدې،بلكه داعبارت دهغه فقه اكبردې چې هغه دمطيع په روايت سره منقول ده،چې هغه دالفقه الابسط. په نوم سره معروفه ده، اوبياپه الفقه الابسط كښې دري(۳)نسخې دي(۱)يوه نسخه دعلامه بياضي رحمه الله ده. چې دهغې الفاظ داسې دى قال ابوحنيفة رحمه الله من قال لااعرف ربى فى السمآء اوفى الارض فقدكفر،وكذامن قال انه على العرش ولاادرى العرش افى السمآء اوفى الارض.

(۲)دویمه نسخه دابو اللیث ده. دهغې عبارت داسې دې قال ابوحنیفة من قال لااعرف ربی فی السمآء اوفی الارض فقد کفرقال الله تعالی الرحمٰن علی العرش استوی،بان قال اقول بهذه الاية ولکن لاادری این العرش فی السمآء ام فی الارض فقد کفر.

په دې عبارت کښې امام ابوحنیفه رحمه الله دوه (۲) اعتقادی مسئلې بیان کړېدی اوله مسئله داده چې من قال لااعرف الخ یعنی چې چاداسې اوئیل چې څه نه پوهیږم چې څمارب په اسمان کښې دې یاپه زمکه کښې دې نوده کفر اوکړو. اوفتوی دکفرلپاره علت شارح ابو اللیث داسې بیان کړېدې. لان بهذا القول یوهم ان یکون له تعالی مکاناً، فکان مشرکاً. یعنی ددې قول دوجې نه توهم ددې خبرې کیدیشی چې دالله جل جلاله لپاره دې مکان وي نودمکان ثابتولودوجې نه داسړی مشرک اوکافراوګرځیدلو، یعنی ددینه دامعلومیږي چې ددې قول قائل الله جل جلاله لره مکان ثابت کړو. چې الله جل جلاله په زمکه یااسمان کښې په یوځائ کښې خودې ضرور. لیکن په تعیین دمکان کښې مشکوك دې،چې ځائ متعینه ئې کوم یودې، اوددې نظیردادې لکه یوسړی اوائی چې.لاادری زیدٌ فی السّوق ام فی المسجد، چې ماته ددې علم نیتشه،چې زیدپه بازارکښې دې که په جماعت کښې دې مطلب دادې چې پدې باندی یقین دې چې زیدپه یومکان کښې دې ضرور.لیکن په تعین داحدالامرین، کښې مشکوك دې چې هغه مکان کوم یودې،نودغه شان لااعرف الخ دامذکوره عبارت هم دې، چې دی سړی الله جل جلاله لره مکان ثابت کړو نوځکه کافردې.

دویمه مسئله داده چې، وکذا من قال انه علی العرش الخ یعنی چې یوسړي دااوئیل چې الله جل جلاله په عرش باندی دې لیکن ماته داعلم نیشته دې چې عرش په کوم ځائ کښې دې اسمآن کښې دې که په زمکه کښې دې، نوده کفراوکړو اوپدې قائل باندی دکفرفتوی لګولوعلت علامه ابو اللیث رحمه الله اوعلامه بیاضي رحمه الله دواړومشترکه طورباندی داسې بیان کړیدې چې،هذا یرجع الی المعنی الاول فی الحقیقة، یعنی ددې رجعه په حقیقت کښې اول مقصداومطلب ته کیږي، حاصل ئې دادې چې ددې سړي اعتقاد اوعقیده داده چې الله جل جلاله په عرش باندی استوٰی اوناسته کړیده، اوالله جل جلاله متمکن فی المکان دې، لیکن دمکان تعین ئې ندې کړې،ځکه چې دده مطلب دادې کچرته عرش په زمکه کښې وي نوبیابه الله جل جلاله هم په زمکه کښې جلوه افروز،وي،اوداعقیده کفریه عقیده ده، اودادواړه نسخې صحیح نسخې دی، اوهرکله چې ځنې خلکوته ددې صحیح نسخونه خپل غلط مطلوب حاصل نشو نوهغوئ په یوې بلې دریمې نسخې باندی تکیه اوکړه چې دهغې

عبارت داسي دي، من قال لااعرف ربي في السمآء ام في الارض فقدكفر لان الله تعالى قال الرحمن على العرش استوىٰ فان قال انه تعالى على العرش استوى ولكنه يقول لاادرى العرش في السمآء ام في الارض فهوكافرلانه انكركون العرش في السمآء لان العرش في اعلى عليين. اوددريمي نسخي دا مذكوره عبارت غيرمقلدين په زوراوشورسره پيش كوي اوخپل مطلوب ثابتولوناكام كوشش كوي. پدي سره ددوئ مطلوب چې كومه غلطه عقيده ده نه ثابتيږي(۱)يوددي وجه نه چې كوم صحيح نسخ دي په هغې كښې داسې عبارت اوداتعليل موجودندي بلكه درحقيقت داعبادت اوتعليل دابو اسمعيل هروي دي چې هغه دخپل مذهب تجسيم. دترويج لپاره خپل طرف نه اضافه كړيدي.

ثانيا كچرته بالفرض تسليم هم كړې شي نوبياهم دغيرمقلدينومذهب پدي سره نه ثابتيږي، څكه چې پدې نسخې كښې اثبات دمكان ذكرنيشته بلكه صرف استوىٰ على العرش، كمايليق بجلاله تذكره ده لكه چې دامسلك داهل السنة والجماعت متقدمين دي، او د لاادرى الخ په قائل باندى دكفرفتوى څكه لګولي ده چې هغه د الله ﷻ لره دمكان جوازقائل دي، اوتجويزپه باب داعتقادياتوكښې په منزله اوپه حكم دتنجيزكښې وي، نوددي وجه نه پده باندى فتوىٰ دكفرلګولي ده، اوپدي باندى قرينه په خپله دامام ابوحنيفه رحمه الله عبارت دي چې هغه لږ مخكښې پدي نسخي كښې ذكردي، چې، قلت ارايت لوقيل اين الله تعالى يقال له، كان الله تعالى ولامكان قبل ان يخلق الخلق وكان الله ولم يكن اين، ولاخلق ولاشئ وهوخالق كل شئ، يعني كچرته دااوئيلى شي چې الله ﷻ په كوم ځائ كښې دي نوجواب به داوركولى شي چې الله ﷻ دمخلوقاتو د پيداكولونه مخكښې هم موجود وو، اومكان نوو، الله ﷻ وواوځائ(اين) نوو، نه څه مخلوق وو اونه يوبل شئ موجودوو سيوا دالله ﷻ نه اوالله ﷻ دهرڅه خالق دي، نوپدي عبارت كښې صريح نفي داينيت ده چې اينيت، صرف په حادث كښې متصوردي. اودغه شان دمذهب، احنافو ترجمان امام طحاوي رحمه الله په خپل كتاب كښې هم دامام ابوحنيفه رحمه الله امام ابويوسف رحمه الله اوامام محمد رحمه الله عقيده نقل كړيده فرمائي چې، ومن لم يتوق النفي والتشبيه زل ولم يصب التنزيه فان ربنا جل وعلا موصوف بصفات الوحدانية منعوت بنعوت الفردانية وليس في معناه احد من البرية تعالى عن الحدود والغايات والاركان والاعضآء والادوات الخ داعبارت جلي اوواضح دي پديكښې چې احناف (كثرهم الله سوادهم) دالله ﷻ لپاره داينيت قائله هرګزندي خوداهل باطلو طريقه هميشه لپاره داسي ده چې دوئ

دا کابرو مبهم عبارات ذکرکړي او په هغې سره خپلو غلطو او باطلو عقائدو ته ترويج ورکوي (والی الله المشتکی والله يهدی الی الحق والی صراط مستقيم).

لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَمَا

خالص دهغه اختيارکښ دي هغه څه چې اسمانونوکښ دي اوهغه څه چې په زمکه کښ دي اوهغه څه چې

بَيْنَهُمَا وَمَا تَحْتَ الثَّرٰى ⑥ وَاِنْ تَجْهَرْ بِالْقَوْلِ

ددې دواړوپه مينځ کښ دي اوهغه څه چې لاندې دلوندې خټې نه دي. اوکه ته په اوچت اوازسره خبري کوې

فَاِنَّهٗ يَعْلَمُ السِّرَّ وَاَخْفٰى ⑦ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ط

نو بيشکه الله ﷻ پوهيږي په پټه اوپه ډيرپټه (خبري باندې هم) الله هغه ذات دې، نيشته حق داردبندګۍ بل څوک سوا دهغه نه،

لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ⑧ وَهَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ مُوْسٰى ⑨ اِذْ رَاٰ نَارًا فَقَالَ

خاص هغه لره دي نومونه خائسته او آيا (يقيناً) راغلی ده تاته واقعه دموسیٰ علیه السلام. کله چې اوليدلوده اورنو وې وئيل

لِاَهْلِهِ امْكُثُوْٓا اِنِّيْٓ اٰنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّيْٓ اٰتِيْكُمْ مِّنْهَا بِقَبَسٍ

خپلی بی بی ته چې حصارشئ تاسو بيشکه ماليدلې دې اور، کيدې شي چې څه راوړم تاسوته دهغې نه يو شغله

اَوْ اَجِدُ عَلَى النَّارِ هُدًى ⑩ فَلَمَّآ اَتٰىهَا نُوْدِيَ يٰمُوْسٰى ⑪

اويابه اوموندم داور خواته لاره ښودونکی. پس هرکله چې راغی دې اورته آواز ورکړې شوچې ای موسی

اِنِّيْٓ اَنَا رَبُّكَ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ اِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ⑫

بيشکه څه رب ستايم نواوباسه ته پيزار (څپلۍ) خپل بيشکه ته په ميدان پاک کښ يې چه نوم ئې طوی دې.

وَاَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوْحٰى ⑬

او ماته غوره کړې ئې (دنبوت لپاره) نوغوږ کيده ته هغې ته چې تاته ئې وحي کيدې شي.

﴿لَهُ مَا فِي السَّمَوَاتِ﴾ دا نو ضيح ده دَماقبل ايت چې الله داسي عظيم سلطنت اوبادشاهي والا دې چې دزمکي او اسمانونو اوداټول نظام عالم دده په قبضه اوقدرت کښ دې﴿وَمَا تَحْتَ ٱلثَّرَىٰ﴾ ثرى ونيلى کيږي لوندي اونمناك ختي ته. نودَ ،﴿تَحْتَ ٱلثَّرَىٰ﴾ نه مراد دَاومي زمکي نه لاندې چې څه دي نودهغې علم الله ﷻ سره دې،اوپدي مقام کښ چې کوم خبري دَحضرت کعب رضي الله عنه نه مروي دى چې دَزمکي دَلاندې اوبه دي اوبيازمکه ده اوبيااوبه دي حتى چې پنځه(۵) زمکي اوڅلور(۴) سمندرونه دي اوبيادَهغې زمکي دَلاندې يوغټ کاڼړى دې اوبيادهغې دَلاندې يوه فرشته ده اوبيادهغې دَلاندې يوماهى دې چې دهغې لکئ اوسردَعرش سره ميلاؤدي، اوپه څنى رواياتو کښ تنه غوايه ذکراغليدي چې هغه غټ کاڼړى دَيوغوايه په ښکرباندى دې اوداټولي زمکي په هغې باندى قائم دې، اوهغه غوايه په ثرىٰ باندى ولاړدې، وغيره ټول دروغ اواسرائيليات دى اوکوم روايات چې پدي سلسلي کښ راغليدي هغه ضعيف بلکه موضوعي دى، حافظ ابن کثير رحمه الله په تفصيل سره ذکرکړيدي.﴿وَإِن تَجْهَرْ بِٱلْقَوْلِ﴾دا هم دَالله ﷻ دَوسيع علم اوقدرت بيان دې چې الله ﷻ په هرڅه عالم دې ظاهر،باطن سراوعلانيه ټول الله ﷻ ته معلوم دې اوهرکله چې دَقول اودکلام يوقسم دادې چې سرې ئې دَچانه هم نه پټه وي نودهغې ذکرپه ان تجهرسره اوشو اودويم قسم دادې چې دَعامو خلکونه پټه وي اوصرف رازدارته ئې ښکاره کوي نودهغې ذکرپه ﴿فَإِنَّهُۥ يَعْلَمُ ٱلسِّرَّ﴾ سره اوشو،اودريم(۳)قسم دادې چې درازدارنه ئې هم پټه وي اوصرف په زړه کښ وي نودهغې ذکرپه ﴿وَأَخْفَى﴾سره اوشولواوبعض فرمائى چې دَجهربالقول، نه مراد اوچتي خبري يعني چې دَخلکونه ئې نه پټه وي هغه تنه مراددي، ليکن دَ﴿ٱلسِّرَّ﴾،او﴿وَأَخْفَى﴾نه مراد اقوال ندي بلکه مرادتنه افعال دى،نودَ سرنه مراد هغه افعال دى چې انسان ئې عزم کړې وي اودَاخفى نه مراد هغه افعال دي چې حدعزم ته نوي رسيدلي بلکه په مرتبه دهم کښ وي، نودَايت مطلب داشوچې الله ﷻ په سر،اوپه اخفى باندى عالم دې چې غيرموجود اوغيرمحسوس دي نوستاسودعاګاني اوخبري به څرنګه نه اوري(کبير)او﴿وَإِن تَجْهَرْ﴾ داشرط

دي اوجزاء ئي محذوفه ده او ﴿فَإِنَّهُۥ يَعْلَمُ ٱلسِّرَّ﴾ ورله علت دي اودجزاء محذوفي قائمقام دي نوتقديردعبارت داسي دي، وان تجهربالقول فاعلم ان الله يعلمه فانه يعلم السرّ واخفى (روح).

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ﴾ دادعوى دتوحيد ده چې ذات دالله تن تنهادي اواسماء صفاتي ورله ډيردي نودعبادت اوبندګئ لائق صرف اوصرف هغه دي په کوم نوم سره چې تاسورابلئ نوجائزدى اوتقديم دظرف په ﴿لَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ﴾ کښې دافادي دحصر لپاره دې، اوحسنى مؤنث داحسن دي اودي صفت دجمعي (اسمآء) واقع شويدي نوځکه مؤنث راوړى شو. اوپه ټولونومونوکښې دالله ﷻ نومونه ځکه خائسته دي چې ددې معانى دټولو دمعانيونه اعلى اوافضلي دي ځکه چې دوئ دلالت کوي په معانيودتقديس، تمجيد، تعظيم اوپه ربوبيت باندى. اودأسمآء الحسنى متعلق بحث په سورة ـ الاعراف ايت نمبر (۱۸) اوسورة بنى اسرائيل ايت نمبر (۱۱۰) کښې تيرشويدې. ﴿وَهَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ مُوسَىٰٓ﴾ دابل ايت تشجيع دې چې دمسئله توحيدلپاره حضرت موسىٰ عليه السلام څومره مصائب اوتکاليف برداشت کړي وو نولهذا ته هم صبرکوه په تکاليفواومصائبوباندى پدې لارکښې، اواستفهام لپاره دتقريردي نوپه معنى داليس قد أتاك سره دي اوبعض فرمائى چې هل، په معنى دقدسره دې يعنى قد أتاك حديث موسى.

﴿إِذْ رَءَا نَارًا﴾ ددې ځائ نه دحضرت موسىٰ عليه السلام دقصي ابتداء کيږي دااول مقام دواقعي دې پديکښې دحضرت موسىٰ عليه السلام دمدين نه دواپسئ حالت اورسالت ميلاويدل وغيره ذکرکيږي، موسىٰ عليه السلام چې کله په مصرکښې قبطي مړکړو اوبيائي هجرت اوکړو مدين نه دحضرت شعيب عليه السلام سره دلوظ اومعاهدي مطابق لس (۱۰) کاله خدمت اوکړو اوبيادَ خپلي بى بى سره دحضرت شعيب عليه السلام نه رخصت شو اومصرته روان شودخپلي موراوخورزيارت لپاره، نودادسخت يخنئ موسم وو حضرت موسى عليه السلام دشپي سفرکولواوسفرئي هم په عامه لاري باندى نه کولوبلکه غيرمعروفي لاري باندئ روان شوځکه چې کوروالا په اميدکښې وه اودملوك شام خطره هم په عامي لاري باندى وه، نوپه لارکښې ورته داواقعه پيش شوه چې په بى بى باندى دبچي پيداکيدلو حالت راغى اوډيره تياره وه اوساړه هم ډير وو اوموسىٰ عليه السلام نه لاره هم خطاء شوي وه اوشعيب عليه السلام ورله څه بيزي ورکړي وي هغه تنه هم کډي وډى شوي اوپه څني رواياتوکښې دي چې دادجمعي مباركي شپه وه، نوپدي وخت کښې داورسخت ضرورت

وو،نوحضرت موسیٰ علیه السلام دلاري چپ طرف ته په کوه طورکښ ظاهري صورت دَاوراوکتلولکه چې الله تعالیٰ فرمائی. ﴿إِذْ رَءَا نَارًا﴾بعض مفسرين فرمائی چې داحقيقتاً اوروو خوسوزولو(احراق) صفت پکښ نوو ليکن راجحه داده چې داحقيقتاً اورنوو بلکه دَالله تعالیٰ دَجلال نوروو چې حضرت موسیٰ علیه السلام ته دَاور په صورت کښ ښکاريدلواوددي تائيدپه روايت دَمسلم سره هم کيږي چې هلته دناريه ځائ نور،لفظ راغليدې نوموسیٰ علیه السلام خپل کوروالوته اوئيل چې ،﴿ٱمْكُثُوٓا۟ إِنِّىٓ ءَانَسْتُ نَارًا﴾ چې تاسودلته کينئ اومااور اوکتلوځه هغه راوړم. اوصيغه دَجمعي يادَدي وجه نه استعمال کړيده چې هغوئ هم دري کسان وو يوه بي بي اويوبچې اويوخادم وو،اوياخطاب صرف بي بي ته دې اوتعظيماً صيغه دَجمعي استعمال کړيده ځکه چې هغه دَحضرت شعيب علیه السلام بچئ وه. اوياظاهردَلفظ دَاهل دَوجي نه ئي صيغه دَجمعي راوړه ځکه چې اطلاق دَاهل په جمعي باندی هم کيږي لکه څرنګه چې په مفرد باندی کيږي اوامردَمکث، هغوئ ته دَدي وجه نه نوو چې هغوئ چرته بل طرف ته تلل بلکه عام طورباندی په داسي مواقعوکښ بياتول کسان په هغه څيزپسي ځي نوحضرت موسیٰ علیه السلام دوئ منع کړل چې تاسوپه ماپسي دَاورلپاره مه راځئ.﴿لَّعَلِّىٓ ءَاتِيكُم﴾ دَ اور صورت په کتلوکښ حضرت موسیٰ علیه السلام ته څه قسم شك نوو نوځکه ئی هلته انّ حرف تحقيق راوړو اواور راوړلوکښ ورته يقين نوو چې دابه وړم اوکه نه نودَدي وجه نه دائی په لفظ دَلعل، ترجي سره ذکرکړو.﴿بِقَبَسٍ﴾شغله راوړل دګرموالي لپاره چې څه به تاسوله دګرموالي حاصلولولپاره دَاورشغله راوړم، اودَ﴿أَوْ أَجِدُ عَلَى ٱلنَّارِ هُدًى﴾ ، مقصددادې چې اورسره کوم خلك دي دَهغونه به دَلاري تپوس اوکړم ځکه چې دَحضرت موسیٰ علیه السلام نه لارورکه شوي وه، اوامام مجاهد رحمه الله نه مروي دي چې حضرت موسیٰ علیه السلام سره سوچ دَ دين دَامورو په باره کښ زيات وو نودَدي وجه نه دَهدی نه مراد هادي دې په ابواب دَدين کښ ليکن اوله معنی زياته راجحه ده اوعلی په ﴿عَلَى ٱلنَّارِ﴾ کښ په معنی دَ عند ،سره دې اوياعلی ځکه راوړی شوچې دیخنئ په موسم کښ دَاورنه فائده اخستونکي داسي وي لکه چې په اورباندی پراته وي دَدي وجه نه متعدی په علی سره شو.

﴿فَلَمَّآ أَتٰهَا نُودِیَ ﴾نوحضرت موسیٰ علیه السلام هغه اورطرف ته راغی چې کله هغې ته رااورسیدلو نويوعجیب حالت ئي اوکتلوچې داور داشغلي ديوي وني نه رااوځي اوڅومره چې اورتيزيږي نوهومره دَوني په ځانګواوپاڼړو کښې شين والي اوخائست نورهم زياتيږي.حضرت موسیٰ علیه السلام اورته نزدي تللواراده اوکړه چې شايدداوني نه يوښاخ به اوسوزي او اوغورزيږي به نوځه به ئي ځان سره يوځم، ليکن څومره به چې حضرت موسیٰ علیه السلام وني ته نزدي کيدلونو اوربه تنه لري کيدلو ، اوپه ځني رواياتوکښې دي چې حضرت موسیٰ علیه السلام څه اوچ واخه راټول کړل اواورطرف ته ورنزدي کيدلوخواوربه تنه لري کيدلواوچې کله موسیٰ علیه السلام ګهبراؤ شو نوپدغه وخت کښې ورته اوازاوکړې شو چې﴿إِنِّيٓ أَنَاْ رَبُّكَ ﴾ ، اودا اواز موسیٰ علیه السلام ته داوني دَطرف نه اکړې شولکه چې په سورة القصص کښې دی، اوداوونه دَځه شي وه؟

نومفسرينوپديکښې متعدد اقوال راغليدلي خوپه تعين باندی څه قوي دليل نيشته دي﴿إِنِّيٓ أَنَاْ رَبُّكَ ﴾ نوحضرت موسیٰ علیه السلام ته دَووني دَطرف نه اواز راغلی چې ای موسیٰ علیه السلام څه ستارب يمه، اوپه روايت کښې راځي چې حضرت موسیٰ علیه السلام ته دااوازدَهرجهت نه راتلواودَبدن په هرعضواو هرهرويخته سره ئی اوريدلو،اوحضرت وهب بن منبه رحمه الله فرمائی چې حضرت موسیٰ علیه السلام چې کله ، ﴿يٰمُوسَىٰ﴾ واوريدلونوڅوځلي ئي لبيك، اوئيل(يعنی پدي اوازکښې داسي کشش اوخونداولذت اوسروروو چې حضرت موسیٰ علیه السلام بې اختياره څوڅوځلي لبيك اوئيل) اوبيائی عرض اوکړوچې څه ستاآواز اورم خوتانه وينم،ته کوم ځائ کښې ئي نوآواز ورته شوچې څه ستادَپاسه ستانه مخکښې،ستانه ورستواوستاسره يمه، ستادَنفس نه زيات تاته قريب يمه

فائده(۱): کوم کلام اونداء چې حضرت موسیٰ علیه السلام اوريدلی وه نوداکوم کلام وو آیاکلام نفسي وو که کلام لفظي، نومعتزله خودکلام نفسي بالکل قائل ندي دَهغوئ په مذهب خودامتعينه ده چې کلام لفظي وو،اواهل السنة والجماعة چې دکلام نفسي دَوجودقائله دي نوپه هغوئ پدي نداکښې صرف اختلاف دې، اکثراهل السنة والجماعت دَدي قائله دي چې داکلام کلام نفسي وو چې حروفواوصوت،نه پاك بلاتشبيه کلام وو،اوبعض اهل السنة والجماعت(ماوراء النهر) نوهغوئ دَدي قائله دی چې داکلام لفظي وو او الله جل جلاله دغه آواز په اونه کښې پيداکړې وو اواستدلال ئي کړيدې چې الله جل جلاله ندامرتبه کړيده په راتګ دموسیٰ علیه السلام

باندی اورطرف ته، اودهغه راتګ اورته حادث وو، اومرتب په حادث، حادث وي نولهذا داندا ء هم محدثه ده، ليکن استدلال دَدوئ ځکه ضعيف دي چې يوه مطلق نداء ده اويو اسماع دَنداء ده نوسياق دکلام پدي دال دې چې دلته ترتب دَاسماع راغليده په اتيان دهغه باندی نارته، اګرچه تعبيرتنه شويدې په "نودی" سره (والله اعلم).

فائده(۲) حضرت موسیٰ ته څرنګه علم اوشو چې منادي اوآواز کوونکی الله دې نوپديکښې دَمفسرينونه مختلف آراء راغليدي بعض فرمائی چې الله حضرت موسیٰ لره پدې باندې علم ضروري اوبديهي ورکړو چې پدې معرفت کښې دې هيڅ سوچ، فکراودليل ته محتاج نوو، اوپدې باندی الله قادردې اوبعض فرمائی چې دَامورخارقه للعادت، نه حضرت موسیٰ دامعلومه کړه چې اوازکوونکی الله دې اوددې تائيدپه هغه روايت سره هم کيږي چې په هغې کښې دي چې الله آواز اوکړو، ﴿يٰمُوسَىٰ﴾نوحضرت موسیٰ عرض اوکړو چې مَن المتکلّم؟ نوالله ورته اوفرمائيلو ﴿أَنَا رَبُّكَ﴾، نوپدغه وخت کښې شيطان وسوسه واچوله، اوحضرت موسیٰ ته ئې اوئيل څۀ کيديشي چې داآوازکوونکی دی شيطان وي نوحضرت موسیٰ اوفرمائيلوچې ماته علم دې چې آوازکوونکی الله دې، ځکه چې ځه داآواز دَهرجهت نه اوپه هرعضوي سره آورم، والراجح عندی (والله اعلم بالصواب) انّ نداء الله تعالى من قبيل البديهيات الوجدانيات، ځکه چې دَدنيا دَخوږ څيزونوخوږلت اويودنيوي محبوب په خلې دَعاشق نوم راتلل دعاشق لپاره دَهغې سرور، دَهغې خوږلت اوسرور سره دَقطري اوسمندرنسبت هم نيشته کوم خوږلت انسان ته په هغه وخت کښې حاصليږي چې کله الله ده سره ازروئ رحم همکلام شي اوکوم سرورچې انسان ته په هغه وخت کښې ميلاويږي چې کله الله دَده نوم واخلي، اوددي وجه نه دَحضرت وهب نه امام احمدبن حنبل نقل کړيدي چې کله حضرت موسیٰ دَاورنه خوف زده شونوپه هغه وخت کښې، ورته نداء اوکړې شوه ياموسی، نودَحضرت موسیٰ خوف ختم اوانس ئې پيداشو اوباربارئې لبيك، وئيل شروع کړو اودَملاقات خواهش ئې پيداشوورنه دَتنهائ اودَخوف په حالت کښې غيبي آواز راتلل نورهم ذريعه دَخوف ګرځيږي.

الله ﷻ حضرت موسی علیه السلام ته اوفرمائیلو چې څه ستا رب یم اوورسره ئي دا حکم هم ورکړو چې ﴿فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ﴾ چې خپلي پنړي(پیزار) اوباسه. اودپیزار ویستلو حکم بعض فرمائی چې ددي وجه نه ورته اوکړو چې په هغې پوري نجاست(گندگی) وه، اوبعض فرمائی چې دادسي خرمني نه جوړي شوي وي چې دهغې دباغت نوو شوې، اوبعض فرمائی چې داکنایه ده دفارغ کولو دزړه نه دبی بی اودبچي دمعاملي نه خالص الله ﷻ ته.لیکن راجحه داده چې داحکم وه دپیزاراویستلو اوداحکم څکه اوکړې شو چې داطریقه ډیره ابلغه ده په تواضع کښ اواقربه ده تشریف اوتکریم اوحسن ادب ته، اوددي وجه نه تعلیل ئي بیان کړې شو په﴿إِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى﴾ سره، اوددینه معلومه شوه چې مقدس مقاماتو کښ پیزار، ویستل پکاردي اگرچه پیزار صفاوي، اوکچرته نجس وي نوبیاجماعت وغیره کښ ویستل واجب دي، او﴿طُوًى﴾ دهغې وادي نوم دې چې په کوم کښ داواقعه پیش شوې وه،اوطوی، ورته څکه وئیلی کیږي دا برکات راغونډکړې شویدی،اوپه روایت کښ دی چې کله موسی علیه السلام ته داحکم اوشوچې خپل پیزاراوباسه نوهغه فوراً اویستلو اودهغې وادي اومیدان نه ئي بهرته اوغورځولي،نوبیاورته الله ﷻ دوادی طوی، ته راوستلومقصد واضح کړوچې،﴿وَأَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ﴾چې ماته درسالت لپاره منتخب کړې ئي نوچې دکوم څیزوحی درته کیږی هغه ښه په غورسره واوره اوپدیکښ اشاره ده چې نبوت اورسالت دچااستحقاق ندې، اودغه شان پدیکښ دیته هم اشاره ده چې دالله ﷻ کلام په توجه سره اوریدل پکاردي.دحضرت وهب بن منبه رحمه الله نه مروي دی چې دقرآن مجیددااوریدلوآداب دادي چې اعضاء دانسان په سکون اوآرام سره وي اوپه بل کارکښ نوي مشغول، اوسترگي ئي کته وي چې بل شي ته ئي زړه میلان اونه کړي، اوغوږ ئي ورته ایخي وی اوزړه ئي ورته حاضروي، اوپه قرآن باندی عمل کولوعزم ئی وي اوحضرت سفیان بن عیینه رحمه الله فرمائي چې اول پاوړئی دعلم استماع(اوریدل)دی بیاپری څان پوهه کول،بیایاده ول بیاپري عمل کول اوبیائي نشرکول دي اوچې کله هم یو انسان دالله ﷻ کتاب اویادرسول الله ﷺ احادیث په صحیح نیت سره واوري نو الله ﷻ ده ته فهم دهغې ورکوي او الله ﷻ دده لپاره دده په زړه کښ نوراوگرځوي(قرطبی)

إِنَّنِيٓ أَنَا ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدۡنِي

[1] بیشکه زه چې یم الله یم نیشته دې حقدار دَبندګۍ (بل هیڅ څوك) سیوا زما نو بندګي کوه زما

وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكۡرِيٓ (١٤) إِنَّ ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٌ أَكَادُ أُخۡفِيهَا

او پابندي کوه دَمونځ دَپاره دَياداشت زما بیشکه قیامت راتلونکی دې غواړم چې پټ ئې اوساتم

لِتُجۡزَىٰ كُلُّ نَفۡسِۭ بِمَا تَسۡعَىٰ (١٥) فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنۡهَا

دپاره ددې چې بدله ورکړې شي هر نفس ته دَهغې عمل چې ده کړيدې، نو هرګز دې تا منع نه کړي په ايمان راوړلو باندې دَدينه

مَن لَّا يُؤۡمِنُ بِهَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ فَتَرۡدَىٰ (١٦)

هغه څوك چې يقين نه لري پدې (قيامت) باندې او تابع وي دَخپلو خواهشاتو نو هلاك به شې

﴿إِنَّنِيٓ أَنَا ٱللَّهُ﴾ دا دويم آيت دَتوحيد دې او پدې کښې مقصد دَرسالت ذکر کيږي چې دا رسالت مې څکه درکړو چې نعره توحيد بلنده کړې چې زما نه علاوه بل کارساز او متصرف نيشته دې، نو صرف زما عبادت کوه، نو په ﴿لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠﴾ سره توحيد قلبي او اعتقادي ته اشاره شوه، او په ﴿فَٱعۡبُدۡنِي﴾ سره عمل بالاركان ته اشاره شوه، يعني توحيد عملي ته، څکه چې عبادت وئيلې کيږي ديته چې چا ته غايت تذلل او عجز کول، نو لهذا دَ ﴿فَٱعۡبُدۡنِي﴾ مقصد دا شو چې عملي طور باندې غايت عجز او تذلل ما ته کوه او دا اګرچه شامل دې ټولو عباداتو ته که بدنيه دې او که ماليه دې خو هرکله چې مونځ په ټولو عباداتو کښې اهم عبادت وو نو دَدې وجه نه دهغې ذکرئې خاص طور اوکړو، او ددينه معلومه شوه دَايمان راوړلو نه پس لويه او اهم فريضه هغه مونځ دې، هذا دليل على انه لافريضة بعدالتوحيداعظم منها (مدارك) او بيا الله ﷻ موسى عليه السلام ته دَمونځ مقصد هم واضح کړو چې ﴿وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكۡرِيٓ﴾ چې دَمونځ مقصد دَالله ﷻ ياده ول دي. څکه چې

---

(1) دويم ايت دَتوحيد.

صحیح مونځ دادي چې په هغې کښې دَانسان زړه او اعضاء ټول دَالله ﷻ په یاد کښې مشغول وي او داسي نوي چې په خله، باندی الله ﷻ یاده وي تلاوت وغیره کوي خولاس. سترګي اونوراعضاء ئي په ارام اوسکون سره نوي دَزړه توجه ئي برابره نوي په حدیث کښې ددغه شان مونځ کوونکي دَپاره سخت وعیدبیان کړې شویدي، اوبعض فرمائی چې لام په ﴿ لِذِكْرِيٓ ﴾کښې وقتیه دې یعنی اقم الصلوة لاوقات ذکری(مدارك) اومرادتنه مواقیت الصلوة دی، اوبعض فرمائی چې لام اجلیه دې اوذکرپه معنٰی دَتوحیدسره دې یعنی لاجل توحیدی، یعنې دَتوحیدپه تبلیغ باندی دَ صبراواستقامت حاصلولوليپاره مونځ کوه ځکه چې مونځ په مصائبواوتکالیف برداشت کولوکښې ممداومعاون وي،اوبعضو وَ﴿ لِذِكْرِيٓ ﴾ محمول کړیدې په هغه ذکرچې بعدالنسیان وي. اوعبارت په حذف دَمضاف سره دې یعنی اقم الصلوة لذکرصلوتی، چې مونځ درنه هیرشي یااوده پاتی شي اوپه خپل وخت ئي ادانه کړی نوچې کله درته رایادشي نوبیائی اداکړه خوداتوجیه محموله ده په تعسف اوتکلف باندی.دَتوحیداورسالت نه ورستوالله ﷻ پدې آیاتونوکښې حضرت موسی ﷺ ته دَقیامت ذکرفرمائی چې انّ السّاعة آتیة الخ چې قیامت خامخاراتلونکی دې خودهغې وخت ماپټ ساتلی دې اومخلوقاتوکښې مي هیڅ چاته دهغې علم ندې ورکړې پدې آیت کښې دَمفسرینومتعدد اقوال دی، چونکه لفظ دَ،اخفاء دَاضدادونه دې اطلاق ئی په اظهارښکاره کولوباندی هم کیږي اوپټ والي باندی هم کیږي، نواکثرومفسرینودَاخفاء معنٰی پټ والی کړیده، نوپیدې صورت کښې بیا(۱) دَاکثرومفسرینوقول دادې چې دلته من نفسی، مقدردې،اوکلام محمول دې په مبالغې باندی په اخفاء کښې، ځکه چې عرف پدې جاري دې چې کله هم څوك دَیوخیزپه پټوالي کښې مبالغه کوي نوداسي وائي چې داځه دَخپل ځان هم پټومه نودَایت مقصد داشوچې، دَقیامت راتللووخت مادَهرچانه پټ ساتلی دې حتی که کچرته مادَخپل ځان نه هم پټولی شواودامکنه وه نودَخپل ځان به می هم پټ کړې وی لیکن دامکنه نده(۲)بعض فرمائی چې لفظ دَ﴿اَكَادُ﴾، زائددې اودَایت مقصد دادې چې قیامت راتلل مادَمخلوقاتونه پټ ساتلی دې(۳)بعض فرمائي چې﴿اَكَادُ﴾په کلام الهي کښې دَوجوب لپاره وي لکه څرنګه عسی، دې اوکلام محمول دې په تاکیدباندی (کبیر)(۴)بعض فرمایی چې

﴿أَكَادُ﴾په معنٰی دَ أُرِيدُ سره دې، يعني څه داغواړم چې دَقيامت راتګ دَمخلوقاتونه پټ اوساتم،(۵)اوبعضَ مفسرين فرمائي چې،اخفاء،دلته په معنی دَاظهارسره دې، يعني قريبه ده چې څه به ئي ظاهرکړم يعني واقع به ئي کړم(۲)اودَبعضوقول دادې چې ﴿أُخْفِيهَا﴾باب افعال دې، اودَباب افعال يوخاصيت سلب دَماخذالاشتقاق دې، نودلته هم دَسلب لپاره دې، وقال ابوعلی هذامن باب السلب وليس من باب الاضداد(قرطبي) نومعنٰی ئي داشوه چې قريبه ده چې څه به ورنه ازاله دَخفاء اوکړم، اوازاله دَخفاء اظهاردې، نوځکه ئي مطلب داشو چې قريبه ده چې ظاهريعني واقع به ئي کړم، کچري ﴿أُخْفِيهَا﴾، نه مراد پټ والی شي نوبيا ﴿لِتُجْزَىٰ﴾،متعلق دې په ﴿أَكَادُ أُخْفِيهَا﴾، پوري، اوکچري ﴿أُخْفِيهَا﴾ په معنی دَاظهارسره شي نوبيامتعلق دې په﴿ءَاتِيَةٌ﴾ پوري.

﴿فَلَا يَصُدَّنَّكَ﴾الله تعالیٰ حضرت موسیٰ عليه السلام ته وعظ اونصيحت اوکړو چې دَدي دنيا پرست کافرانو سره مداهنت اختيارنه کړې اوپه دين باندې عمل کولوکښې سستي اونه کړې کنې دَبلندمقام نه به لاندې رااوغورزيږې، اودَنهي دَيوڅيزنه امکان دَوقوع نه لازميږي،نولهذا ايت متعارض ندې دَهغې نصوصوسره چې دال دی په عصمت دَانبياء کراموباندې.

تنبيه: دلته مقصوددآيت دادې چې موسیٰ عليه السلام ته حکم دې چې ته دَدين په کارکښې سستي اختيارنه کړې نوصراحتاً داسې تعبيرذکرنه شوبلکه دااويلې شوچې کافردې ستاده پاره دَدين په کارکښې رکاوټ نوې،په دې کښې نکته داده چې کافرچې يومسلمان دَدين نه منع کړې نوداپه حقيقت کښې دمسلمان په دين کښې دَسستئ وجه وې اوپه دين کښې دَضعف وجه وې نوګوياچې داحضرت موسیٰ عليه السلام ته په دين باندې استقامت حکم اوکړې شوچې په خپل دين کښې ضعف اوکمزوری مه اختياره وه چې بياکافرتادَدين نه منع کړې، کانه قيل لاتکن رخوا بل کن فی الدين شديداصلبا(کبير)اوپه من لاَ يؤمن سره مراد فرعون دې خوپه اوصافوسره ئي ځکه ذکرکړو چې اشاره راشي عموم اوجم غفيردَهغوئ ته، يعني ان من لايؤمن بالاخرة هم الجم الغفير(کشاف).

﴿فَتَرْدَىٰ﴾وئيلی کيږې، بری نه خکته راغورزيدلوته، اومراد تنه هلاکت دې، اوپديکښې اشاره ده چې دَدعوت په کارسره الله تعالیٰ ترقي ورکوي مسلمانانوته، اوددعوت په پريخودلوسره ذلت راځي

وَمَا تِلْكَ بِيَمِيْنِكَ يٰمُوْسٰى ﴿۱۷﴾ قَالَ هِيَ عَصَايَ أَتَوَكَّؤُا عَلَيْهَا

اوداڅه شی دي ستاپه ښي لاس کښ اې موسی. اوئيل هغه داهمساه ده ځما تکيه لګوم څه پدی باندی

وَأَهُشُّ بِهَا عَلٰى غَنَمِيْ وَلِيَ فِيْهَا مَاٰرِبُ أُخْرٰى ﴿۱۸﴾ قَالَ

اوراڅنډوم پدي سره پاڼړی په خپلوګډو بيزو باندی اوځمادَپاره پدي کښي فائدي نوري(هم) دی اوئيل الله ﷻ

أَلْقِهَا يٰمُوْسٰى ﴿۱۹﴾ فَأَلْقٰهَا فَإِذَا هِيَ حَيَّةٌ تَسْعٰى ﴿۲۰﴾ قَالَ

اوغورځوه دا اې موسیٰ!پس اوغورځوله هغه داهمسانو پدغه وخت هغه مارشومنډی ئی وهلي.اوئيل الله ﷻ

خُذْهَا وَلَا تَخَفْ سَنُعِيْدُهَا سِيْرَتَهَا الْأُوْلٰى ﴿۲۱﴾ وَاضْمُمْ يَدَكَ إِلٰى جَنَاحِكَ تَخْرُجْ

اونيسه دااومه يريږه نه زرده چه اوبه ګرځوو مونږ داخپل اولني حالت ته .اوجوخت کړه لاس خپل ترخ سره چې راوبه اوځي

بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوْءٍ اٰيَةً أُخْرٰى ﴿۲۲﴾ لِنُرِيَكَ مِنْ اٰيٰتِنَا الْكُبْرٰى ﴿۲۳﴾

تك سپين بغيردَڅه عيب(نقصان)نه نښه بله ده،دَپاره ددې چې اوښايومونږه تاته د نخوزمونږه لويونه.

﴿وَمَا تِلْكَ بِيَمِيْنِكَ﴾ دَدي ځائ نه دَمنصب رسالت تمهيدشروع کيږي اوهرکله چې مقصود حضرت موسیٰ عليه السلام ليږل وو فرعون ته سره دَمعجزونه،نودَدي وجه نه پدي ايتونوکښ ذکردَدوه(۲)عظيمومعجزوکيږی،اوماستفهاميه ده په معنیٰ دَایّ شيئٍ؟ سره،دامبتداء ده او﴿تِلْكَ﴾په معنیٰ دَهٰذه،سره خبردې، او﴿بِيَمِيْنِكَ﴾، حال دې دَمعنی دَاشاري نه اوسوال کول دَالله ﷻ باوجوددَدي نه چې ښه عالم وو نودامبني دي په ډيرحکمتونوباندی من جمله دَهغي نه دادي چې پدي سره تقريردَامرمقصود وو چې حضرت موسیٰ عليه السلام په خپله اعتراف اوکړوچې داځماعصا(همسا)ده نوبيا الله ﷻ هغه په مارسره بدله کړه نوده ته ښه علم حاصل شوچې دامعجزه ده اودغه شان پديکښ مقصود دَحضرت موسیٰ عليه السلام نه يره(خوف)هم لري کول وو ځکه کچرته بغيردَتپوس نه الله ﷻ ددغي عصانه(مار)جوړکړي وی نودَحضرت موسیٰ عليه السلام خوف به ډيرزيات وو ، اوبعض مفسرين فرمائي چې پدي سره مقصود استيناس(حضرت موسیٰ عليه السلام انس پيداکول)وو ځکه چې کله په موسیٰ عليه السلام باندی بارنبوت، کيخودلی شو اومشقتونه ورته

بيان کړې شو نوحضرت موسیٰ عليه السلام په دهشت، اوتحيرکښې مبتلاشو نوالله تعالیٰ دهغه دهشت اوتحيرختمولولپاره اوانس پيداکولولپاره داسي طرزتکلم اختيارکړولکه څنګه يوانسان دبل سره اختيارئ. ﴿قَالَ هِيَ عَصَايَ ﴾حضرت موسیٰ عليه السلام جواب ورکړو چې داځماهمساده، اوحضرت موسیٰ عليه السلام دهغې همسانسبت ځان ته اوکړو ځکه چې دهغه په لاس کښې هم وه اوورستوذکرکيدونکي فوائدتنه هم هغه اخستل دحضرت مقاتل رحمه الله نه مروي دی چې ددې عصا نوم(تبعه) وو اوداهغه عصاده چې آدم عليه السلام دځان سره جنت نه راکوزه کړې وه، اوداشعيب عليه السلام ته رارسيدلی وه اوبيائنه حضرت موسیٰ عليه السلام اخستي وه،اوحضرت موسیٰ عليه السلام دعصافوائداومقاصدبيانول شروع کړل چې﴿أَتَوَكَّؤُا عَلَيْهَا ﴾، چې ستړی شم نوتکيه ورته اولګوم﴿وَأَهُشُّ بِهَا عَلَىٰ غَنَمِي ﴾ ، اوګډوبيزوله پرې پاڼې رڅنډوم ﴿وَلِيَ فِيهَا مَآرِبُ أُخْرَىٰ ﴾يعنې نورحوائج اوضروريات هم ورسره پوره کووم، لکه ګډې بيزې به ئې ورسره شړلي دشمن اوليوګانونه به ئې پرې دځپل ځان حفاظت کولو، بوکې ته به ئې واچوله نواوبه به ئې پرې دکوهي نه را اويستلې،وغيره اومفسرين فرمائی چې حضرت موسیٰ عليه السلام لپاره دومره جواب ورکول کافي وو چې ،﴿هِيَ عَصَايَ ﴾ ليکن دالله تعالیٰ سره همکلام کيدلولذت دوجې نه ئې کلام اوږدکړو،خوچې کله څنې فوائد اومنافع ئې ذکرکړه نودحياد دوجې نه خبره مختصره کړه اواوفرمائيلوچې﴿وَلِيَ فِيهَا ﴾ اوبعض فرمائی چې پدې نورومنافعوذکرکښې اختصارځکه اوکړو چې دحضرت موسیٰ عليه السلام خيال داوو چې کيدې شي چې الله تعالیٰ رانه بياتپوس اوکړي نوپه لذت اواکرام کښې به نوره اضافه اوشي.﴿قَالَ أَلْقِهَا يَٰمُوسَىٰ ﴾نوالله تعالیٰ ورته اوفرمائيلوچې داکثيرالمنافع عصا،اوغورځوه﴿فَأَلْقَىٰهَا فَإِذَا ﴾ عصا غورځول وو چې دهغې نه يوه عظيمه اژدها اوغټ مارتنه جوړشواومنډئ ئې وهلي، امام رازی رحمه الله فرمائي چې کله موسیٰ عليه السلام دعصاډيرمنافع ذکرکړلونوالله تعالیٰ ورته هم دغي عصانه بطورمعجزه مار جوړکړو(حالانکه بلې معجزې ورکولوباندې هم الله تعالیٰ قادروو)لپاره دتعليم ددې چې ماسوی الله چې څومره دی هغې ته التفات کول اوپه هغې کښې مشغول کيدل داانسان لپاره دمهلك مارپشان دی اوددې وجه نه

حضرت ابراهيم عليه السلام اوفرمائيلو ،فانهم عدوّ لي الاّ ربّ العلمين. اودَدي وجه نه په حديث كښې دهغې مال چې مالك پكښې زكوة نوي اداكړې په باره كښې داسي راغي چې. مثّل له يوم القيمة شجاعا اقرع(الحديث).﴿فَإِذَا هِيَ حَيَّةٌ﴾يعني دهغې عصانه مارجوړشو .دلته دحيّ. ذكردې چې دَ اسم جنس دې اطلاق ئې په هرقسم مارباندې كيږي وړوكې وي اوكه غټ وي اوپه سورة النمل اوسورة القصص كښې داسې فرمائيلي دي، كانّهاجانٌ، "جانّ" وئيلې كيږي نري مارته.اوپه سورة الاعراف اوشعراء كښې داسې فرمائيلي دي چې، فاذا هي ثعبان مبين، اوثعبان. وئيلې كيږي اژدها ښامارته، نوتطبيق مفسرينوداسي كړيدې چې دَدې عصانه به ښامارجوړيدلوفي الحقيقت ليكن په تيزئ اوسرعت كښې داسې وو لكه چې جان وړوكي اونرى ماروي. اودَدې وجه نه چې په سورة النمل اوقصص كښې تشبيه مقصوده وه نوكانّها جانّ، اوئيلې شواوداسې اونوئيلې شو چې فاذا هي جانّ، اوبعض فرمائي چې په ابتداء كښې په وړوكي وو نو(جان) ورته اوئيلې شو اوچې بيابه ورو،ورو غټيدونو ښامارتنه به جوړشو ځكه ورته په اعراف اوشعراء كښې،ثعبان، وئيلي دي، ليكن اوله توجيه غوره ده،اوبياهركله چې په دې ايت مذكوره كښې مقصود صرف دَعصادَحقيقت انقلاب خودل وو په مرتبه دَ،لابشرط شيئ، كښې نوځكه دلته ذكرصرف دَ،حيّة، اوشو،اوپه اعراف اوشعراء كښې مقصود انقلاب سره وصف زائد(عظيم الجسامت) خودل هم وو په مرتبه دَبشرط شئ، كښې نوځكه هلته ذكردَثعبان،اوشو، اوپه سورة النمل اوالقصص كښې مرتبه دَبشرط شي، په صورت دَتشبيه كښې مراد وه نوځكه كانها جان،ذكراوشولو.

فائده: امام رازى رحمه الله فرمائي چې دَحضرت موسىٰ عليه السلام په خپو كښې پيزاروو اولاس كښې عصاوه، نوخپي اله دَهرب ده اولاس اله ده طلب ده،نوالله تعالىٰ ورته اولاُحكم اوكړو چې﴿فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ﴾ ، نوپدې سره اشاره مقصود وه ترك هرب ته اوبياورته حكم﴿أَلْقِهَا﴾ ،پدې سره اشاره مقصود وه ترك الطلب، ته نوګوياچې ترڅوپورې انسان په مقام دَهرب،او طلب، كښې وي نومقام دَمحبوبيت نشي حاصلولى،اوكله چې هرب پريدې استقامت اختياركړې اوطلب، پريدې دَالله تعالىٰ په ذات باندې توكل اوپوره اعتماد راشي نوبيامقام ته رسيږي، اومعرفت الهى ورته نصيب كيږي.

﴿قَالَ خُذْهَا ﴾حضرت موسىٰ عليه السلام چې کله داعجيب انقلاب اوکتلونوبمقتضائ بشريت اويريدو. اوچونکه داسې خوف،طبعي وو چې دهربشرپه طبعيت کښې الله ﷻ پيدا کړيدي نودي وجې نه دادانبياء کرامو په جلالت شان کښې عيب اونقص ندې.نو الله ﷻ ورته اوفرمائيلوچې يريږه مه مونږه داواپس اصل حالت ته اړه وو. اوهرکله چې دعصانه مار جوړيدل اوبيادمار،نه عصا جوړيدل معجزه وه، اوپه اختيارد موسىٰ عليه السلام کښې نوه نودې وجه نه ددې امرنسبت الله ﷻ خپل ځان ته اوکړو، اوغورځول اوبيارا غستل دامعجزه نوه بلکه اختياري کارونه وو نودې وجه نه نسبت ئې حضرت موسىٰ عليه السلام ته اوکړو.

﴿وَٱضْمُمْ يَدَكَ ﴾دادويمې معجزې ذکردې چې خپل لاس دګريوان سره لاندې دترخ سره جوخت کړه نوچې بيارااوباسې نودابه ځليدونکې اوروښانه به وي اوداسپين والى به دبيمارئ برص،برګيدوجې نه به نوي،بلکه بطورمعجزه به وي،نومراد په جناح سره مټ دې،اګرچه اطلاق دجناح، دمارغه يادفرشتې په وزربا ندې کيږي خوتوسعا اطلاق ئې دانسان په مټ اواړخ باندې هم کيږي،اوتخرجْ، مجزوم دې ځکه چې داجواب دامريعني دَ،﴿وَٱضْمُمْ ﴾ لپاره دې چې هغه په معنى دادخال سره دې،ليکن صاحب دبحرفرمائي چې په ايت کښې صنعة الاحتباك شويدې،چې د﴿وَٱضْمُمْ ﴾ امرلپاره جزا حذف کړې شوه اود﴿تَخْرُجْ﴾جزاء لپاره شرط محذوف دې، ځکه چې هرموجود دشرط اوجزاء نه دلالت کړيدې په محذوف باندې نو اصل کښې تقديردکلام داسې دې، واضمم يدك الى جناحك تنضم واخرجها تخرج(بحر).اود﴿مِنْ غَيْرِ سُوٓءٍ ﴾نه مراد بيماري دبرص ده، اوهرکله چې په عربوکښې،برص،ابغض اوډيردنفرت والابيماري وه اومريض به ډيرخفه کيدلونودې وجه تعبيرتنه په سوء، سره اوشو،اوحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه منقول دى چې کله به حضرت موسىٰ عليه السلام خپل لاس ترخ کښې کيخودلو اوبيابه ئې چې رااويستلو نو هغه به دسپوږمئ پشان ځليدلو (ابن کثير).

﴿لِنُرِيَكَ مِنْ ءَايَٰتِنَا ﴾لام، متعلق دې په فعل محذوف پورې چې خذدې﴿ءَايَةً أُخْرَىٰ ﴾ ورله مفعول به دې يعنى دعصانه علاوه دامعجزه هم واخله اودادواړه معجزې زمونږ دهغې عظيمونشانيونه دې چې تاته خودل مقصودوو، اوبعض فرمائي چې ددې لپاره

عامل مقدر ،فعلنا،دي اوتقديردكلام داسي دي. فعلنا مافعلنا لنريك الخ اومن.په «من ءَايَـٰتِنَا »كښ څوك دَابتداء لپاره وائي. اوڅوك وائي چې من بيانيه دي ليکن غوره خبره داده چې من ،تبعيضيه دي، يعنی چې دادوه(۲)کومي معجزي تاته درکړې شوې داړمونږ دَعظيم نشانيونه بعض دي،اوحضرت الشيخ رحمه الله فرمائی چې «مِن ءَايَـٰتِنَا» سره اشاره ده اغراق دَفرعون سره دَلښکره اونجات دَبنی اسرائيلوته اومطلب دادي چې مونږبه تاته نوري هم غټې غټې نشانئ دَخپل قدرت چې هغه هلاکت فرعون وي.به درته خايو. او«ٱلْكُبْرَى»ياصفت دي دَ«ءَايَـٰتِنَا»، لپاره اويامفعول ثانی دي.دَ «لِنُرِيَكَ» لپاره،صاحب دَبحرفرمائی چې«مِن ءَايَـٰتِنَا» ، دامفعول ثانی دي. او «ٱلْكُبْرَى» .ددي لپاره صفت دي اوداغوره دي ددوه(۲)وجهونه (۱)چې کله داصفت شي دَآيات لپاره نودَدي به معلومه شي چې آيات دَالله ﷻ ټول عظيم دي،په نسبت سره مخلوق ته اګرچه دَدوئ په خپل مينځ کښ يوي بلي په نسبت سره صغرو کبرشته دي، کماف الاية ومانريهم من اية الاهی اکبرالخ)(۲) کچرته دامفعول شي نوعظمت، اوکبردَمعجزي به صرف يوي ته راجع شي يابه عصاته راجع شي اويابه يدته، اوحالانکه ورکړې شوې دواړه،معجزي عظيمي وي نوپکارده چې بيا الکبريين، ونيلی شوی وی.

اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى ﴿۲۴﴾ قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِيْ صَدْرِيْ ﴿۲۵﴾
لاړشه ته فرعون ته بیشکه ده سرکشي کړیده، [1] اونیل موسیٰ علیه السلام ای ربه خما پرانزي ماله سینه خما
وَيَسِّرْ لِيْۤ اَمْرِيْ ﴿۲۶﴾ وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِّسَانِيْ ﴿۲۷﴾ يَفْقَهُوْا قَوْلِيْ ﴿۲۸﴾
[1]اواسان کړې ماته کارخما [2]اوکولاؤکړې غوټه دَژبې خما چې پوهه شي(خلك)په ويناخما.

(1) اول سوال دَموسیٰ علیه السلام

(1) دويم سوال

(2) دريم سوال

وَاجْعَلْ لِّيْ وَزِيْرًا مِّنْ اَهْلِيْ ﴿۲۹﴾ هٰرُوْنَ اَخِيْ ﴿۳۰﴾ اشْدُدْ بِهٖۤ اَزْرِيْ ﴿۳۱﴾ وَاَشْرِكْهُ فِيْۤ

[3]اوجوړکړې مالره مددګاردکورنئ څمانه هارون ورور څما.کلکه کړې په ده سره ملاڅما [4]اوشریك کړې دې په

اَمْرِيْ ﴿۳۲﴾ كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيْرًا ﴿۳۳﴾ وَّنَذْكُرَكَ كَثِيْرًا ﴿۳۴﴾ اِنَّكَ كُنْتَ بِنَا بَصِيْرًا ﴿۳۵﴾

کارد نبوت څماکښ ددې دپاره چې ستاتسبیح اووایوډیره اوچې یادوو تاډیر.بیشکه ته ئې مونږلره لیدونکی

﴿اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ ﴾ دمعجزاتوورکولونه پس الله جَلَّجَلَالُهُ حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ته درسالت منصب ذمه داري بیان کړه چې فرعون ته لاړشه اوهغه ته دتوحیداوایمان راوړلودعوت ورکړه. اوذکرفقط دفرعون اوشوحالانکه موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ټولوته مبعوث وو ځکه چې قوم تابع وو دهغه کبیر. ﴿اِنَّهٗ طَغٰى ﴾ طغیٰ د طغیان نه دې په معنیٰ دانتهائي سرکشي سره ،اوداعلت دې درسول لیږلوچې فرعون ته ځکه لاړشه چې هغه په سرکشئ کښ دحدنه تیرشویدې دخدائي دعوىٰ ئې کړیده.

﴿قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِيْ ﴾ ددې ځائ نه دواقعې دویم مقام شروع کیږي، چې هرکله موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ته نبوت ذمه داري ورکړې شوه اوهغه محسوسه کړه چې نبوت یوه مشکله ذمه داري ده نوددې ذمه دارئ دتکمیل لپاره ئې الله جَلَّجَلَالُهُ نه پنځه درخواسته اوکړو ،چې هغه ورته الله جَلَّجَلَالُهُ پوره کړل، اول درخواست ئې دااوکړو چې ﴿اشْرَحْ لِيْ صَدْرِيْ ﴾. شرح صدرنه مراد توفیق دصبراواستقامت دې چې درسالت ذمه دارئ اداکولوکښ کوم تکالیف اومشقتونه راځي چې هغه برداشت کړم. اودتکالیفودوجې نه په زړه کښ ئې اضطراب پیدانشي،اودغه شان په زړه کښ شجاعت پیداشي چې بغیرستانه دبل هیڅ چانه،نه یریږم، امام رازی رَحِمَهُ اللهُ فرمائي چې شرح صدر ،حقیقت دادې چې دانسان په زړه کښ دنیاته التفات بالکل پاتي نشي نه په اعتباردرغبت سره اونه په اعتباردرهبت سره، بلکه دده په زړه کښ ددنیااهمیت دماشي، اومچ برابرهم نوي،زړه ئې معلق نوي په اهل

---

(3) څلورم سوال

(4) پنځم سوال

اولاد پوري اونه په بل ځيزپوري،اونه دَيودنيوي شان وشوکت والانه خوف.خطره محسوس کوي، نوحضرت موسىٰ عليه السلام خپل اهل وعيال پريخي وو اودَيومتکبر.مغرور بادشاه ته دَحق دعوت لپاره تللونوځکه ئي دَشرح صدردعااوغوختله﴿وَيَسِّرْ لِيٓ أَمْرِي ﴾ . دادويم درخواست دې يعنى ځماپدي کارکښ يعنى رسالت کښ آساني پيداکړي اوآساني پيداکولومقصد ظاهري اوباطنى اسباب مهياکيدل دي، اوحضرت موسىٰ عليه السلام دَشرح صدر،اوتسهيل الامر.کښ انداز ددعااسي اختيارکړو چې اول ئي شرح اوتيسير، مبهم ذکرکړو اوبيايه﴿صَدْرِي﴾او﴿أَمْرِي﴾سره ئي تفصيل بيان کړو لپاره دَتاکيد،ځکه چې پديکښ تکراردې.

﴿وَٱحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِي ﴾دادريم درخواست دې چې ځما دَژبي غوټه پرانزي چې ځماپه خبروباندى خلك پوهه شي،دَحضرت موسىٰ عليه السلام ژبه مبارکه په وړوکوالي کښ سوزيدلى وه، چې يوه ورځ فرعون موسىٰ عليه السلام په غيږ کښ اغستى وو نوموسىٰ عليه السلام دې دَږيري نه اونيولواوپه مخ باندى ئي ورله يوه زبردسته سپيړه راواچوله، نوفرعون خپلي بي بي حضرت اسيه رضي الله عنها ته اوئيل چې ځمايقين دي چې دې ځمادشمن دې اوداهم هغه بچې دې چې ځمابادشاهي به دَده دلاسه ختميږي، حضرت اسيه رضي الله عنها ورته اوئيل چې داناپوهه بچې دې دَناپوهئ دَوجي نه ئي په تاباندى ګزارکړيدې اودَدشمنئ دَوجي نه ئي ندې کړې اوته پري تجربه اوکړه دې په ياقوت اوسکروټوکښ فرق نشي کولى، نوفرعون حکم اوکړو نوپه يوپليټ کښ سکروټي اوپه بله کښ ياقوت راوړى شو اوموسىٰ عليه السلام ته کيخودلى شو،نوحضرت موسىٰ عليه السلام لاس مبارك، ياقوتوته اوړو، خوحضرت جبرئيل عليه السلام ورله لاس، سکروټوته يوړو، نوحضرت موسىٰ عليه السلام يوه سکروټه رااوچته کړه اوخولي ته ئي واچوله اوژبه مبارك ئي اوسوزيده اوپه هغې کښ غوټه(ګنده)، راغله اوخبري به ئي صحيح نشي کولى نوپدي ايت کښ دهغې نقصان دَختمولودعااودرخواست دې.

فائده(١) دَايت نه دامعلوميږي چې پدي سکروټي سره دَحضرت موسىٰ عليه السلام ژبي مبارکي ته نقصان رسيدلوليکن(لاس)ته ئي ورسره ضرر رسيدلى وو اوکه نه؟ بعض مفسرين لکه قرطبي رحمه الله وغيره فرمائى چې لاس ئي هم سوزيدلي وو اوفرعون دَهغې دَعلاج لپاره ډيرکوشش کړې وو خوصحيح نشو، نوبياچې کله موسىٰ عليه السلام ده ته دعوت ورکړو نوفرعون ورته اوئيل چې

نه ماکوم رب طرف ته رابلې؟ نوحضرت موسی ﷺ ورته اوفرمائیلو هغه رب طرف ته چې کوم لاس، تانشو تهیك کولی اوهغه صحیح کړو هغه رب طرف ته دعوت درکوم.

فائده (۲): دَحضرت موسیٰ ﷺ دژبې غوټه مکمل طورباندې پرانستلې شوې وه اوکه نه؟ نوپدیکښې هم دَمفسرینو اختلاف دې.بعض مفسرین دَدې قائله دی چې دغوټه ټوله خلاصه شوې وه. ځکه چې الله ﷻ فرمائی﴿ قَدْ أُوتِيتَ سُؤْلَكَ يَٰمُوسَىٰ ﴾ . چې ستادرخواست پوره کړې شواوستادعاقبوله کړې شوه،نومعلومه شوه چې دَحضرت موسیٰ ﷺ دژبې غوټه مکمل ختم کړې شوې وه، لیکن اکثرمفسرین دَدې قائله دي چې دانقصان بالکلیه نوو،زائله کړې شوې بلکه دومره حدپورې زائله کړې شوې وو چې حضرت موسیٰ ﷺ به خلك په خپلې خبرې باندې پوهه کولی شو،اوخلك به دهغه په خبره باندې پوهیدلو، یعنی بقدرالحاجت، الله ﷻ دده دژبې نقصان زائله کړې وو،اوحضرت موسیٰ ﷺ هم سوال صرف دَدومره نقصان دَازالې کړې وو چې هغه بقدرالحاجة وو لکه پدې دلالت کوي ورستوجمله چې﴿يَفْقَهُوا۟ قَوْلِى﴾ ده اوکه حضرت موسیٰ ﷺ دَټول نقصان دازالې سوال کړې وي نوالله ﷻ به ورله ټول نقصان ختم کړې وولیکن هغه سوال دَټول نقصان دَازالې نوو کړې (ابن كثير) اودَدې وجه چې کله موسیٰ ﷺ فرعون ودَهغه قوم ته دعوت ورکړو نوفرعون قوم ته داسې اوئیل چې، ام انا خير من هذا الذى هو مهين ولايكاد يبين(الزخرف: ۵۲) نودَلايكاد يبين، مقصد دادې چې صحیح اوپه پوره فصاحت سره خبروکولوباندې قادرندې.﴿وَٱجْعَل لِّى وَزِيرًا﴾داڅلورم درخواست دې مخکښې درخواستونه ئې دَ خپل ځان په باره کښې وو اودادرخواست ئې دَخپل وررور حضرت هارون ﷺ په باري کښې دې چې ځما وررور هارون ﷺ هم ځماسره پدې امرنبوت کښې شریك کړه،او وزیرمشتق دې دَ وِزر،نه معنی ئې ده لوئې اودروند بوج اوچتول اوبیادَاصفت اسم اوګرځیدلو،معاون، دَبادشاه لپاره ځکه چې هغه هم دَبادشاه نه دَمملکت امورو پیټی(بوج) اوچتوي،(روح) اوبعض فرمائی چې داماخوذ ئې دَوَزَرَ الجَبلَ، نه وئیلی کیږي هغه غرته چې پناه لپاره استعمالیږي(پناه ګاه) اودَتکلیف اودخطرې په وخت کښې ورته رجوع کیږي اووزیر،ته هم ځکه وزیروئیلی کیږي چې بادشاه دحکومت په معاملاتوکښې ده ته رجوع کوي اودَتکلیف اوپریشانۍ وخت کښې یعنی نبې مشورې

ورکوي. اودلته دَوزیر نه مراد مشارك اومعاون دې. چې دابوج دَرسالت ډیرګران دې نوماته یوقریبی مددګاراومعاون پکاردې

﴿هَـٰرُونَ أَخِي﴾. ﴿وَزِيرًا﴾ او﴿هَـٰرُونَ﴾ مفعولین دی دَاجعل. لپاره. خو﴿هَـٰرُونَ﴾مفعول اومؤخر ذکر کړې شو او﴿وَزِيرًا﴾مفعول ثانی مقدم ذکرکړې شولپاره دَاهمیت دَامروزارت اولپاره دَعنایت دَامروزارت چې وزارت ئماورورته عنایت اوفرمائی اویا﴿لِّي﴾ او﴿وَزِيرًا﴾. دواړه مفعولین دی او ﴿هَـٰرُونَ﴾عطف بیان دې دَ﴿وَزِيرًا﴾لپاره او ﴿أَخِي﴾ بدل دې دَ﴿هَـٰرُونَ﴾نه ﴿اشْدُدْ بِهِۦٓ أَزْرِي﴾ ازرياپه معنٰی دَقوت سره دې، اویاپه معنٰی دَظهر.سره دې یعنی ئماورورئماسره شریك کړې اوئماپه قوت کښ اضافه اوکړې. یاځماملا ورسره مضبوط کړې ﴿وَأَشْرِكْهُ فِيٓ أَمْرِي﴾داپنځمه دعاده چې ځماداورور نبي اوګرځوي اوپه رسالت اودعوت کښ ځماسره شریك کړې،اوحضرت هارون عليه السلام دَموسٰی عليه السلام نه په عمرکښ دري(۳) یاځلورکاله مشروو ،اوقدکښ هم. ورنه اوچت وو اوجسم کښ ورنه هم غټ وو. اودَحضرت موسیٰ عليه السلام نه دري کاله مخکښ وفات شوې وو﴿كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيرًا﴾داغایت ددغي آخري دعاګانو ذکرکیږي. چې ځماداورور ځکه ځماسره نبي اوګرځوه اوماسره ئي پدي امرکښ شریك کړه چې مونږ ستاعبادت اوکړو . اوستا توحیدپه خي طریقي سره بیان کړو.اوغوره خبره داده چې دَتسبیح. اوذکرنه مراد مونځ. اوهسي ذکر.اودَتوحید دعوت ټول مراد دی.﴿إِنَّكَ كُنتَ بِنَا بَصِيرًا﴾داتوسل دې په صفت دَالله جل جلاله سره.

قَالَ قَدْ أُوتِيتَ سُؤْلَكَ يَـٰمُوسَىٰ ﴿٣٦﴾ وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَيْكَ مَرَّةً أُخْرَىٰٓ ﴿٣٧﴾
اوئیل الله جل جلاله بیشکه درکړې شو تالره غوختلی شوې څیزونه ستا ای موسیٰ: اویقیناً احسان کړیدې مونږ په تا باندی بل ځلې
إِذْ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ أُمِّكَ مَا يُوحَىٰٓ ﴿٣٨﴾ أَنِ ٱقْذِفِيهِ فِي ٱلتَّابُوتِ
[1]کله چې حکم اوکړو مونږه ستامورته دَهغې چې حکم ورکیدې شوچه واچوه ده لره(موسیٰ عليه السلام) په صندوق کښ

(1) اول انعام په موسیٰ عليه السلام باندې

فَاقْذِفِيهِ فِي الْيَمِّ فَلْيُلْقِهِ الْيَمُّ بِالسَّاحِلِ يَأْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّي
بیاواغورځوه صندوق په دریاب کښې پس اوبه غورځوي ده لره دریاب په غاړه باندی اوبه نیسي ده لره دشمن څما
وَعَدُوٌّ لَّهُ ۚ وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّي ۚ وَلِتُصْنَعَ عَلَىٰ عَيْنِي ﴿٣٩﴾
اودشمن دَده [2] اوواچوله ما په تاباندی مینه دَخپل طرف نه اودپاره ددي چې پالنه اوشي ستا په حفاظت څما کښې

﴿قَالَ قَدْ أُوتِيتَ ﴾پدي کښې زیري دي په قبولیت دَدعاګانوسره،سره دَپنځوانعاماتونه چې الله ﷻ په موسیٰ علیه السلام باندی ددې نه مخکښې کړي وو،بعني ستاسوال مي قبول کړو اوستاسوال قبلول څه نوي خبره نده ددې نه مخکښې هم مونږپه تاباندی احسانات کړی وو،نودَپنځه دُعاګانوقبولولوپه جواب کښې دَتیرشوو پنځوانعامات ذکرهم کوي سؤلٌ فُعلٌ په وزن په معنٰی دَمفعول،مسئول، سره دې لکه خبزٌ په معنٰی دَمخبوز، سره دي﴿إِذْ أَوْحَيْنَا ﴾ دادَ اول انعام ذکردي،فرعون ته چې کله نجومیانو اطلاع ورکړه چې بني اسرائیل کښې به بچې پیداکیږي اوستابادشاهي به دَهغه دَلاسه ختمیږي نوفرعون حکم اوکړو چې په بني اسرائیلوکښې کوم بچې پیداکیږي هغه قتل کوئ نوپدي شپوورځوکښې حضرت موسیٰ علیه السلام پیداشونودَده والده ډیرفکرمنده شوه چې کچرته فرعونیانوته پته اولګي نودې به قتل کړی، نوالله ﷻ دَحضرت موسیٰ علیه السلام والده ته په زړه کښې دَفرشتي په ذریعې سره اویادَخوب په ذریعې سره ، داتدبیرواچولوچې دې په یوتابوت کښې بندکړه او دریاب ته ئې اوغورځوه، نوهغې هم دغسې اوکړونودَ ﴿أَوْحَيْنَا﴾نه مراد الهام دې، اویاتنه په خوب کښې خودل مراددی

﴿أَنِ اقْذِفِيهِ ﴾داتفسیردې دَ﴿مَا يُوحَىٰ ﴾ او﴿الْيَمِّ ﴾نه مراددریائي نیل دې چې دَمصرپه مینځ کښې بهیدلو﴿فَلْيُلْقِهِ الْيَمُّ بِالسَّاحِلِ ﴾یعنی داسمندربه دی ساحل ته اورسوي، نودَحضرت موسیٰ علیه السلام والدي موسیٰ علیه السلام په تابوت کښې بندکړو اوپه هغې باندی ئې،زفت،پټرول اولګولواودریائي نیل ته ئې اوغورځولونودَدریائي نیل نه یولوئ نهردَفرعون باغ ته هم تلی وو

[2] دویم انعام ذکرپه موسیٰ علیه السلام باندې

نوهغه تابوت تلوساحل دَسمندرته اوبيايه هغه نهركښې روان شوكوم چې دَفرعون، باغ ته تلى وو.
نويه ځني رواياتوكښې دى چې فرعون په دغه وخت كښې دَخپلي بي بي آسيه رضي الله عنها سره په باغ كښې
ناست وو چې اچانك داتابوت راغى اويه ځني رواياتوكښې دى چې تابوت دَفرعون وينځواونيولو
اوبيائي فرعون بي بي ته پيش كړو اوهغې به بيافرعون ته اطلاع اوكړه.نوفرعون حكم اوكړو چې
داكولاؤكړئ، نوچې كله ئى تابوت كولاؤكړو نويوډيرخائسته بچې په كښې وو.نوفرعون چې
څرنګه اوكتلونوفوراً محبت ئي ورسره پيداشو اودَ ده بي بي. آسيه رضي الله عنها ورته اوئيل چې مونږ به دې
خپل بچې جوړكړو څكه چې ددوئ خپل بچې نوو.بعض رواياتوكښې دي چې فرعون په زړه كښې
الله جل جلاله داخبره هم واچوله چې داهم هغه بچې دې چې دَده دَلاسه به ستاسوبادشاهي ختميږي اودَدې
اظهارئي خپلي بي بي ته هم اوكړو.لكه چې په روايت دَنسائى كښې دى چې كله دَفرعون بى بى
هغه ته اوئيل چې قرة عين لى ولك، نوفرعون ورته اوئيل چې يكون لكِ يعنى ستالپاره د وي
اوماته حاجت نيشته دې، دَنبي ﷺ ارشاددې، لواقرفرعون بان يكون قرة عين له، كماقالت امراءته لهداه
الله تعالى كماهدىٰ به امراءته، ولكن الله حرمه ذلك ترجمه:كه چرته فرعون هم داسي وئيلى وي چې دې
به زماسترګويخ والى وي لكه څنګه چې اسية وئيلي وونوالله جل جلاله دَله هم هدايت وركړي
وو(النسائى)ليكن الله جل جلاله دَحضرت موسىٰ عليه السلام حفاظت كولو نوفرعون دَخپل بى بى په
اصراربباندى موسىٰ عليه السلام دَبچي پشان پرورش اوساتنه ئي شروع كړه اوفرعون ته﴿عَدُوٌّ لِّي وَعَدُوٌّ
لَّهُ ﴾چې وئيلى شويدى نوهغه دَالله جل جلاله دشمن څكه وو چې دَالله جل جلاله دَدين مخالف وو
اودَخدائ جل جلاله دعوىٰ ئي كړي وه اودَموسىٰ عليه السلام دشمن څكه وو چې دادومره قتلونه ئي
دَموسىٰ عليه السلام دَقتل كولو لپاره كولو.نواصل دشمني ئي دَموسىٰ عليه السلام سره وه اودَهغه دَوجي نه
ئي دَبني اسرائيلوبچي قتل كول،اوداهم ممكنه ده چې فى الحال ئي ورسره عداوت نووبلكه
محبت ئي ورسره وو ليكن په اعتباردَمايؤل اليه سره ورته ﴿وَعَدُوٌّ لَّهُ ﴾وئيلي وي چې راتلونكى
وخت كښې بهٔ دې دَده لوئ دشمن وي(كبير).﴿وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّي ﴾ "مني" يامتعلق دې
په﴿وَأَلْقَيْتُ ﴾ پوري نومطلب به داشي چې،القيت منى عليك محبة،چې ماخپل محبت په تاباندى
واچولويعنى ستاسره مي محبت اوكړو نوچې الله جل جلاله ورسره محبت اوكړو دَمخلوقاتوپه

زړونوکښ هم ورسره محبت پيدا شو. (کشاف) اويامتعلق دې په حاصلة محذوف پورې چې هغه صفت دې دَمحبة لپاره نودايت مقصد به داشي اى القيت عليك محبة حاصلة منى بخلقى(کبير ،کشاف)يعنى ما په تاباندې دَخپل طرف نه اثردَمحبت واچولو اودَخلکو په زړونو کښ مې ستاسره محبت پيدا کړو، اودَدې وجه نه چې چابه هم موسىٰ عليه السلام ته کتلونوفوراً محبت به ئې ورسره پيدا کيدلو﴿وَلِتُصْنَعَ عَلَىٰ عَيْنِيٓ ﴾، لام په "لتصنع" کښ "لام کَیْ" دې اوداعلت دې دَالقاء دَمحبت لپاره اوتصنع على الخ نه مراد په خپلې نګرانۍ کښ تربيت کول دى ماخوددې دَصنع الفرس.نه چې کله آس ښه اوساتلى شي نودايت مطلب دادې چې څه ستامحافظ اونګران يم اوستاتربيت مې په خپله اوکړو (مدارك) اوعلامه آلوسى رحمه الله فرمائى چې﴿وَلِتُصْنَعَ عَلَىٰ عَيْنِيٓ ﴾،استعاره تمثيليه ده دَحفاظت نه، قرطبى ددې ايت په تفسيرکښ ليکى اى تربى وتغذى على مراى منى قال النحاس وذلك معروف فى اللغة يقال به صنعت الفرس واضمنته،اى:احسنت القيام عليه(قرطبى) يعنى ستاتربيت اوپرورش څه په خپلې نګرانۍ کښ اوکړم او داسې کنائې الفاظ استعمالول په عرف اولغت کښ مشهوراومعروف دې. اوعلامه زمخشرى دَايت په تفسيرکښ داسې ليکلي لتربى ويحسن اليك وانامراعيك وراقبك کمايراعى الرجل الشئ بعينيه، نودَدې ټولوعباراتونه معلومه شوه چې﴿وَلِتُصْنَعَ عَلَىٰ عَيْنِيٓ ﴾ کنايه ده دَحفاظت اودَنګرانۍ نه، اوعبارت محمول دې په استعارى باندې،اوامام رازى رحمه الله فرمائى چې دَ﴿عَيْنِيٓ﴾نه مراد ارادتى دې لکه څرنګه چې يو سړى څه څيزجوړه وي نو په خپله ورته اولاړوي اوګوري ورته نوهغه شى ورته داسې جوړشي چې څرنګه ئې دې خوښه وي اودده اراده وي اويادَعينى، نه مراد عين العلم، دې اوداکنايه ده دَحفاظت اونګرانۍ نه (کبير)نوددې ټولواقوالونه دامعلومه شوه چې پدې ځائ کښ دَعينى، تفسيرپه سترګو، سره کول مخالف دى دَتفسيردَسلف،اوخلف نه اورجحان دې تجسيم ته،اوداوئيل چې تاويل پکښ هم ندې جائز،ډيرلوئ جراءت دې په اسلافوباندى(والى الله المشتکى) لکه چې داعام عادت دې دَبعض معاصرمفسرينو ،باقى عين، دَالله جل جلاله دَقبيلى دَمتشابهاتونه دې چې ددې په باره کښ تفصيل

بار بار تیرشویدي او د﴿عَيْنِي﴾ اضافت د تشریف او تکریم لپاره دې. ورنه مخلوقات ټول د الله تعالیٰ په نګرانۍ کښې دي

اِذْ تَمْشِيْٓ اُخْتُكَ فَتَقُوْلُ هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰى مَنْ يَّكْفُلُهٗ ؕ فَرَجَعْنٰكَ

[1] کله چې روانه شوه خورستا او ونیل ئ آیا اوښایم تاسوته هغه څوک چې پالنه به اوکړي د ده نو [2] واپس اورسولي مونږه ته

اِلٰٓى اُمِّكَ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ ؕ وَقَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّيْنٰكَ مِنَ الْغَمِّ

خپلې مورته. دې د پاره چې یخې شي سترګي د هغې او چه خفه نشي [3] او مرکړو تا یو تن پس بچ کړې مونږه ته د دغي غم نه

وَفَتَنّٰكَ فُتُوْنًا ۬ فَلَبِثْتَ سِنِيْنَ فِيْٓ اَهْلِ مَدْيَنَ ۙ ثُمَّ جِئْتَ

او ازمیښتونه اوکړو مونږه په تا بندې ډیر ازمیښتونه بیا حصار شوي ته څو کاله په مدین والو کښې بیا راغلي ته

عَلٰى قَدَرٍ يّٰمُوْسٰى ۝ وَاصْطَنَعْتُكَ لِنَفْسِيْ ۝

په وخت مقرر (مقدر) باندې ای موسیٰ! او غوره کړې ما ته د پاره د ځان خپل

﴿اِذْ تَمْشِيْٓ﴾ دا دویم انعام او احسان ذکر دې چې کله حضرت موسی علیه السلام والدي تابوت په دریاب کښې پریخودلو نو د موسی علیه السلام خورچې نوم د هغې مریم دې، ته ئي اوئیل ته لاړه شه او په پټه ئي پته اولګوه چې څه اوشو، نو هغه چې کله د فرعون ځائ ته راغله نو دَي اوکتل چې د موسی علیه السلام لپاره ډیري مرضعي راغوختلی شویدي، لیکن حضرت موسیٰ علیه السلام د الله تعالیٰ په حکم سره د دیوي زنانه پئ نه څکل، کماقال الله تعالی وحرمنا علیه المراضع، نو د حضرت موسی علیه السلام خور او ئیل چې څه تاسو ته یوه زنانه اوښایم چې هغه به ستاسو لپاره د ده پالنه اوکړي او خیرخواه به هم وي، نو د موسی علیه السلام مور را اوغوختلی شوه، نو څرنګه چې هغې موسی علیه السلام د سیني سره نزدي کړو نو هغه پئ څکل شروع کړل فرعون په کور کښې ډیره خوشحالي شوه او د موسی علیه السلام

(1) ذکر د دریم انعام

(2) د څلورم انعام ذکر

(3) پنځم انعام.

مورته ئې اوئيل چې ته به دلته وي او دابچې به ساتي هغې ورته اوئيل چې څه خودلته نشم پاتي کېدلې البته که ستاسوحکم اوخواهش وي نوبچي به څه کورته بوځم اوهلته به ئې ستاسولپاره غټ کړم، نوهغوئ پدې هم راضي شو اوموسیٰ عليه السلام مورته ئې وظيفه هم مقررکړه، نوبچې هم واپس شو اوپيسې هم ميلاويدل شروع شو ،نوپدې آيت کښ ددغې انعام ذکردې،نوره تفصيلي واقعه په سورة القصص کښ به راشي(انشاء الله تعالى).

﴿وَقَتَلْتَ نَفْسًا﴾ دادريم احسان ذکردې، کله چې حضرت موسیٰ عليه السلام لوئ شو، نويوه ورځ ئې بهرته تشريف راوړو نودوه کسان ئې اوکتلوچې جهګړه ئې کوله يوقبطي وو اوبل بني اسرائيلي وو، نوبني اسرائيلي دَموسیٰ عليه السلام نه مدد اوغوختلواوو هم مظلوم چې قبطي پرې ظلم کولونوموسیٰ عليه السلام بلااراده قتل صرف دَظلم نه منع،کولولپاره قبطي ئي په يوسوک(موکه) اووهلونوهغه مړشو اوپدې وخت کښ دَموسیٰ عليه السلام عمر دولس(١٢)کاله وو،نوحضرت موسیٰ عليه السلام ته دوه(٢) قسم خوف اوخطره لاحقه شوه،يوداچه آخرت کښ رانه دَدي په باره کښ نپوس کيږي څکه چې بغيردَاذن الله تعالی نه قتل وو ،اودويمه داچې دَفرعونيانوپه ګرفت کښ به هم راځم هغوئ به مې هم ګرفتاره کوي، نوالله تعالی ورته دَدواړوقسمو،غمونونه نجات ورکړو ،دَاخروی غم نه دَنجات لپاره ئي اوفرمائيلو ،فغفرله،اودنيوی غم اوپريشانئ دَنجات لپاره ئي مصرنه مدين ته اورسولو ،چې هلته ئي دَحضرت شعيب عليه السلام دَبچئ سره نکاح اوکړو ،تفصيلي واقعه په سورة القصص کښ به راشي(انشاء الله).

﴿وَفَتَنّٰكَ فُتُونًا﴾ فتون مصدردې لکه صبور ،شکور، وغيره شو اويا جمع ده دَفتن يادَفتنة نوکچرته دَفتنة جمع شي نودَاخيري تاء اعتباربياندې کړې شوې څکه چې داپه حکم دَمنفصل کښ ده لکه(حجوز)جمع دَحجزة ده چې هلته هم دَتاء اعتبارندې شوې نوڅکه جمع په صورت دَمذکرکښ راغليده اوددې نه مرادمختلف قسم تکاليف دی،(١)لکه ولادت دَحضرت موسیٰ عليه السلام په هغه زمانه کښ کيدل چې فرعون به دَبني اسرائيلوبچې قتل کولو (٢) يادَموسیٰ عليه السلام په درياب کښ غورځول(٣)اويادَفرعون کورته رسيدل اوهغه دَده دَقتل اراده کول(٤) يادَحضرت موسیٰ عليه السلام منع کول دَنورو زنانودَپيونه(٥)يافرعون دَږيرې نه رانيول اوسپيره ورکول اوهغه بياددە دَقتل عزم کول(٦)ياقتل دَقبطي اودَمصرنه تختيدل مدين ته چې لاره ورته هم نوه معلومه، اوياواپس دَفرعون مقابلې ته بې سروسامانئ راتلل وغيره داټول

تکالیف اوپریشانئ وي چې الله ﷻ دَحضرت موسیٰ علیه السلام حفاظت کړې وو او موسیٰ علیه السلام ته
ځې دَدینه نجات ورکړې وو.

﴿فَلَبِثْتَ سِنِينَ فِيٓ أَهْلِ مَدْيَنَ﴾ دادَخلورم انعام ذکردې، حضرت موسیٰ علیه السلام چې کله قبطي
قتل کړو اودَهغې اطلاع فرعون ته اوشوه نوفرعون حکم جاري کړو چې موسیٰ علیه السلام گرفتار کړئ
اوبیائي قتل کړئ نوموسیٰ علیه السلام ته یوکس دَشهرنه راغلواودااطلاع ئي ورته اوکړه چې خان
اوباسه فرعون ستادَقتل لپاره کسان لیږلي دي اوستادَقتل فیصله ئي کړیده. نوموسیٰ علیه السلام
فوراً مدین ته روان شو، اګرچه دَمدین لاره موسیٰ علیه السلام ته نوه معلومه خوپه الله ﷻ باندې ئې
توکل اوکړو اوافرمائیلوچې، عسیٰ ربّي ان یّهدیني سوآء السّبیل (القصص) نوچې کله مدین نه
بهردَځاروو وبه کولوالاخائ ته اورسیدلونوهلته ئي خلك اوکتل چې ډیربې مروته ووخپل ځاروي
ئي اوبه کول اودوه (۲) زنانه هغه لرې اوجداناستي وي اودَهغوئ ځاروو به اوبوته
زورکولواوهغوئ به نه راپریخولو، نوچې موسیٰ علیه السلام تنه تپوس اوکړوچې داڅه واقعه ده چې
تاسوخپل ځاروي نه پریدئ اوبوته، نوهغوئ ورته اوئیل چې زمونږ پلاربوډادې اودَاسلام دَوجې
نه داخلك زمونږ مخالف دي نوچې کومې اوبه دَدوئ دَځاروو نه پاتې شي نوهغه بیامونږ
خپلوځاروته ورکړو، نوموسیٰ علیه السلام دَدوئ ځاروي اوبه کړل، نوهغوئ په وخت کورته لاړې
نوحضرت شعیب علیه السلام تنه تپوس اوکړو دَوختي راتللو، نوهغوئ ورته ټوله قصه بیان
کړه، بهرحال نوهغه موسیٰ علیه السلام راواغوختلویوبل سره تعارف اودَمصرنه مدین ته راتللوقصه
موسیٰ علیه السلام هغه ته بیان کړه اوهغه ورته تسلي ورکړه، اوبیاهغه ورته خپل بچۍ په نکاح کړه څه
وخت پورې هلته پاتې شو اوچې کله دَفرعون غصه سړه شوه اودَقبطي په قتل باندې ډیروخت
تیرشونوبیامصرته واپس راروان شو، نومرادپه سنین، سره هغه لس (۱۰) کاله دي کوم چې په
عوض دَمهرکښ دَاجرت والامقررکړې شوي وو، اودَحضرت وهب بن منبه رحمه الله منقول دي چې
حضرت موسیٰ علیه السلام په مدین کښ دَشعیب علیه السلام سره اته ویشت (۲۸) کاله تیرکړي وو، چې
(۱۰) کاله دَهغې نه دَمهروالاوو اواتلس (۱۸) کاله نورهسي ئي تیرکړي وو، اودَ شعیب علیه السلام
دَبچئ نه ئې اولادهم شوې وو اونوم دهغې بچئ دَشعیب علیه السلام چې بی بی وه دَموسیٰ علیه السلام
صفورا، وو. ﴿ثُمَّ جِئْتَ عَلَىٰ قَدَرٍ﴾ اکثرمفسرین فرمائي چې قدر، نه مراد تقدیردې دالله ﷻ چې
هغه څلویښت کاله عمردې دپاره دَنبوت اورسالت یعني ته دَعمرهغه وخت ته رااورسیدلې چې

الله ﷻ هغه دَنبوت اورسالت ورکولودپاره مقرراوفيصله کړيدي،اوبعض مفسرين فرمائي چې مراد دَدينه هغه نيته پوره کول وو کومه چې دَشعيب عليه السلام سره مقررکړې وه يعنی تاهغه نيته پوره کړه چې کومه تامقرر کړې وه.

فائده: کچرته دَايت مطلب هغه واخستلی شي چې کوم دَاکثرومفسرينوراۍ ده چې قدر، نه مراد تقديري عمر دې دَنبوت لپاره چې هغه څلويښت کاله دی نوبيادَوهب بن منبه رحمه الله قول اقرب الی الصواب دې ځکه چې حضرت موسیٰ عليه السلام چې مدين ته تللی وو نوعمرئې دولس(۱۲)کاله وو اوچې نبوت ورته ميلاؤشونوعمرئې څلويښت کاله وو،نومعلومه شوه چې توله مده چې په مدين کښې تيره کړې وه هغه اته ويشت(۲۸)کاله وو.﴿وَٱصۡطَنَعۡتُكَ﴾داذکردَپنځم انعام دې اودادَتولونه لوئ انعام دې چې الله ﷻ درسالت اونبوت ورته ورکړو،حضرت ابن عباس رضي الله عنه دَ﴿لِنَفۡسِي﴾ترجمه په لوحی ورسالتي، سره کوي،اوعلامه زمخشری اوامام رازی رحمه الله وغيره فرمائي چې لنفسي داکنايه ده اوتمثيل دې دَهغې منزلت اومرتبې دَتقريب اوتشريف اوتکليم نه چې کومه الله ﷻ موسیٰ عليه السلام ته ورکړي وه، يعنی الله ﷻ تشبيه ورکړي ده دَموسیٰ عليه السلام حالت دهغه چادحالت سره چې بادشاه هغه دَخه اخلاقواوکمالاتودَوجي نه په خپلواعزازاتو، اواکرام سره خاص کړې چې دَده نه علاوه بل څوك بادشاه ته زيات قريب اودَبادشاه دَمهربانيوزيات حاصله وونکی نوي.

إِذۡهَبۡ أَنتَ وَأَخُوكَ بِـَٔايَٰتِي وَلَا تَنِيَا فِي ذِكۡرِي ﴿٤٢﴾ ٱذۡهَبَآ
لاړشه ته اوستاورور څماپه نخوسره اوناراستي مه کوئ په بيان دَتوحيدڅماکښې،لاړشئ تاسو دواړه
إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ﴿٤٣﴾ فَقُولَا لَهُۥ قَوۡلٗا لَّيِّنٗا لَّعَلَّهُۥ يَتَذَكَّرُ أَوۡ يَخۡشَىٰ ﴿٤٤﴾
فرعون ته بيشکه هغه سرکشي کړيده نواوکړئ هغه ته خبره نرمه کيدې شي چې دې نصيحت قبول کړی يااويريږي
قَالَا رَبَّنَآ إِنَّنَا نَخَافُ أَن يَفۡرُطَ عَلَيۡنَآ أَوۡ أَن يَطۡغَىٰ ﴿٤٥﴾
اوئيل دواړو اې ربه زمونږ بيشکه يريږومونږه چې زياتي به اوکړي دې په مونږباندې يابه سرکشي اوکړي.

قَالَ لَا تَخَافَآ إِنَّنِي مَعَكُمَآ أَسْمَعُ وَأَرَىٰ ﴿٤٦﴾ فَأْتِيَاهُ فَقُولَآ

اوئيل الله ﷻ مه يريږئ تاسو بيشكه څه تاسو سره يم اورم اووينم. پس ورشئ دواړه هغه ته اوايئ هغه ته

إِنَّا رَسُولَا رَبِّكَ فَأَرْسِلْ مَعَنَا بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ ۙ وَلَا تُعَذِّبْهُمْ ۖ

بيشكه مونږ رااليږلي شوي يو ستا درب دطرف نه نو پريږده مونږسره بني اسرائيل او تكليف مه وركوه دوئ ته.

قَدْ جِئْنَٰكَ بِـَٔايَةٍ مِّن رَّبِّكَ ۖ وَٱلسَّلَٰمُ عَلَىٰ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلْهُدَىٰٓ ﴿٤٧﴾

بيشكه راغلي يو مونږ تاته په معجزي سره دستادرب دطرف نه او عذاب نه بچ كيدل دي هغه چا لره چې تابعداروي دهدايت

﴿ٱذْهَبْ أَنتَ وَأَخُوكَ﴾ دانعاماتو ذكركولو نه ورستو اوس ورته بيا دنبوت مقصد ذكركوي چې ته اوورور دي دواړه لاړشئ او خلقو ته د توحيد تبليغ اوكړئ، او خما په ياد كښې څه قسم سستي مه كوئ، او ﴿وَأَخُوك﴾ عطف دې په ضمير متصل د ﴿ٱذْهَبْ﴾ باندې نو ځكه ئې اولًا تاكيد په منفصل سره اوشو ، اوكه څوك اشكال اوكړي چې عطف د ﴿وَأَخُوك﴾ په ضمير د اذهب باندې صحيح ندې چې دهغې لپاره فاعل ضميروي نه اسم ظاهر او ﴿وَأَخُوك﴾ اسم ظاهر دې، نو جواب دادې چې ﴿وَأَخُوك﴾ لپاره فى الحقيقت فعل مقدر دې چې ليذهب دې خو دلته ظاهرا په صورت د عطف كښې په ضمير متصل باندې ذكر كړې شو لپاره ددې چې اشاره راشي اتحاد ته د دوئ دواړو په دعوت كښې چې د دعوت په سلسلې كښې به تاسو دواړه داسې ئې لكه يك جان ودوقالب. او يا لپاره د اشارې د تبعيت د حضرت هارون ﷺ ته، چې حضرت هارون ﷺ اگرچه عمر كښې مشر دې خو د دعوت په سلسلې كښې به تابع وي ستا، او مراد په ﴿بِـَٔايَٰتِى﴾ سره هغه معجزات دى چې كوم موسىٰ ﷺ ته وركړې شوى وو، او كوم وخت كښې چې حضرت موسى ﷺ ته رسالت وركولې كيدلو نو په هغه وخت كښې حضرت هارون ﷺ په مصر كښې وو، نو چې كله موسىٰ ﷺ راروان شو نو حضرت هارون ﷺ ته هم وحى اوشوه چې د موسى ﷺ سره د ميلاويدلو لپاره مصر نه

بهرته اوزه، نوچې کله هارون عليه السلام دَمصرنه يومنزل بهرته راغی نودَدواړو ملاقات شو . نوپه هغې ځای کښې دواړو ته په صيغې دَتثنيی مخاطبې سره خطاب اوشو چې﴿ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ﴾

﴿ٱذْهَبَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ ﴾ددې ځائ نه دريم مقام داواقعې شروع کيږي او﴿ٱذْهَبَا﴾بدل دې دَماقبل ﴿ٱذْهَبْ﴾نه، ﴿فَقُولَا لَهُۥ قَوْلًا ﴾داطريقه ددعوت بيانيږي، چې دعوت په نرمې لهجې سره اود مَحبت په اندازسره ورکول پکاردی لکه دعوت ورکوونکې ته دَهغه کنيت ياداسې لقب ذکرکړې شي چې هغه پرې خوشحاله شي چې دَداعې خبره واوري،اودغه شان هغه ته بشارتونه واوره ولې شي،يعنی تبشيرپهلوغالبه وي اودَانذارمغلوبه وي.

﴿لَّعَلَّهُۥ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَىٰ ﴾ترجي راجعه ندده الله تعالی ته ځکه چې الله تعالی دَشك نه منزه اوپاك دې بلکه داترجي راجعه ده داعی،يعنی موسیٰ عليه السلام اوهارون عليه السلام ته يعني تاسوپدي اميد اوجذبې باندې دعوت ورکوئ چې دې به نصيحت حاصل کړی اوابه يريږي،(کبير)اويالعل په معنیٰ دَلام کی، سره دې يعنی ستاسودَدعوت مقصد دَفرعون ايمان راوړل دی ليکن اوله توجيه ډيره غوره ده اوتذکراوخشيت کښې فرق دادې چې دَتبليغ نه متاثره شي اوايمان راوړي نوديته تذکر،وئيلی کيږي،اوکه فقط دَمخالفت نه منع شي نوديته خشيت، وئيلی کيږي اوحضرت الشيخ دَشيخ الشيوخ رحمه الله نه نقل کوي چې بغيردکتلواودَمطالبې دَمعجزي نه چې ايمان راوړي ديته تذکر وئيلی کيږي اوچې دَمعجزي کتلونه ورستوايمان راوړي ديته خشيت وئيلی کيږي، اوله درجه اعلیٰ ده اودويمه درجه ادنی ده، اودَقرآن اسلوب هم داسې دې چې اول اعلیٰ مرتبه تذکر، ذکرکوي اوبيادويم نمبرکښې، خشيت،يعنی ادنی ذکرکوي،لکه پدې ايت کښې شو اودغه شان په سورة النازعات کښې دی، هل لّك الى ان تزكّىٰ واهديك الى ربك فتخشىٰ او اوپه يتذكّراويخشىٰ کښې دَمانعة الخلولپاره دي.﴿قَالَا رَبَّنَآ إِنَّنَا ﴾نوچې کله موسیٰ عليه السلام دَهارون عليه السلام سره ميلاؤشواودواړو ته حکم اوکړې شو چې فرعون ته لاړشی دَدعوت لپاره نوهغوئ خپله يوه خدشه ظاهره کړه چې فرعون به دَخپلې بادشاهئ په نشې کښې مست زمونږ خبره به واوري هم اوکنه،مونږ داخطره محسوسه ووچې هغه به دَخبرې اوريدلونه مخکښې مونږ ته تکليف راکړي اويادَخبري اوريدلونه بعددَهغه سرکشي نوره زياته شي، چې ستاپه شان کښې به

گستاخي اوکړي اویابه مونږه قتل کړي، فرط.اوطغیان. کښ فردق ادې چې دخبري اوریدلونه مخکښ انکاراوکړي دیته فرط، وئیلی کیږي اوددینه فارط، هم دې مخکښ کیدونکي.ته وئیلی کیږي،نومطلب داشوچې خبره به دسرنه وانوري اومونږ به گرفتارکړي سزابه راکړي. اوطغیان. دیته وئیلی کیږي چې دخبري اوریدلونه ورستوانکاراوکړي اوبدي ردي اوائي، نودآیت مقصد دادې چې دتوحید خبري اوریدلونه ورستوداسي نه چې ستاپه شان کښ ردي بدي اوائي (روح) امام رازی رحمة الله عليه فرمائی چې(فرط) مقصد دادې چې خبري اوریدلوته تیارنشي.اوطغیان مقصددای چې خبره به هم وانوري اومونږ به قتل کړي، اودیته ترجیح ورکړیده حضرت شیخ الشیوخ رحمة الله عليه ،اوحضرت موسی عليه السلام اوهارون عليه السلام باوجود ددې چې پیغمبران وو لیکن بشروو ،نودبشریت دتقاضی دوجي نه ددوئ په زړونوکښ دامذکوره خوف اوخطره پرته وه اوامام قرطبي رحمة الله عليه فرمائی چې خوف طبعي د دشمنانونه دهرنبي اوولی په زړه کښ الله جل جلاله پیدا کریدې اودامخالف دنبوت اویادولایت سره ندي،باوجود ددي چې هغوئ په زړونوکښ دالله جل جلاله په نصرت،امداد باندی مکمل یقین هم وي، اوهم ددي وجه نه رسول الله ﷺ دمدیني نه گیرچاپیره خندقي، کنستلي دي،بلکه دالله تعالی دانسان په فطرت اوطبعیت کښي ایخودلی دي،ددي وجه نه که یوسړی دخپل ځان په باره کښ دداسي څیزاطلاع اوخبرورکړي چې هغه خلاف وي دهغه تقاضوچې الله جل جلاله په انسانانوکښ پیداکړیدی نودې به دروغژن گنړلی شي(والله اعلم بالصواب).﴿قَالَ لَا تَخَافَآ ﴾نو الله جل جلاله دوئ ته تسلي اواطمینان ورکړوچې تاسولاړشئ اوځماپیغام اورسوئ ځمامددبه ستاسوسره وي،نومراد په معکما،سره کمال حفاظت اونصرت دي.﴿أَسْمَعُ وَأَرَىٰ ﴾داتاکیددې لپاره دماقبل چې ځماامداد اونصرت به ستاسوسره وي ستاسوچې کومې خبري دهغه سره کیږي هغه اورم اوکوم فعل اوکارچې کیږي هغه وینم نوستاسومناسب مددبه کوم اوستاسونه به تکلیف دفع کوم،(روح) اوبعض مفسرین فرمائي چې﴿أَسْمَعُ وَأَرَىٰ﴾ د﴿أَن يَفْرُطَ عَلَيْنَآ أَوْ أَن يَطْغَىٰ ﴾ په جواب کښ وئیلي شویدي،چې موسی عليه السلام اوئیل چې زمونږ خبره به وانوري نو الله جل جلاله اوفرمائیلوچې﴿أَسْمَعُ﴾چې ځه ستاسوخبره اورم نوځه به هغه ستاسولپاره اوستاسوخبري ته غوږ ایخودولپاره مسخرکړم، اوچې موسی عليه السلام اوئیل چې ،﴿ أَن يَطْغَىٰ﴾ چې

مونږ به قتل کړی نو الله جَلَّ جَلَالُهُ دهغې په جواب کښې اوفرمائیلو چې ﴿واری﴾. چې څه دهغه والاافعال اوحرکات ګورم نوځه به هغه تاسوته دنقصان لپاره نزدې کیدلوته نه پرېږدم ﴿فَأْتِيَاهُ فَقُولَآ﴾ مونږ الله جَلَّ جَلَالُهُ ورته اوفرمائیلو چې تاسوفرعون ته لاړشئ اوهغه ته دڅلورو خبرو متعلق دعوت ورکړئ (۱) چې ستا یعني دفرعون اودټولو مخلوقاتو یورب دې چې هغه رسول لیږي نو مونږ دهغه دطرف نه رسولان یو (۲) بني اسرائیل ته ازادي ورکړه اونورتکلیف ورته مه ورکوه دوئ پرېږده چې چیرته دوئ ځي اوآزاده زندګي تیره ول غواړي چې هلته لاړشي (۳) داثبات دتوحید اورسالت لپاره ورته معجزي اوښائي (۴) چې دنیااوپه اخیرت کښې سلامتي اونجات دهغه چالپاره دی چې اسلام قبول کړي، نوسلام په ﴿وَالسَّلَمُ﴾ کښې په معنی دسلامتیاسره دې دعذاب نه اوسلام دتیحة. ندي مراد. (خازن) اوپه حدیث کتاب هرقل، اومسیلمة الکذاب، کښې دي چې حضور ﷺ په هغوئ باندې سلام پدې طریقي سره اچولی وو، «سلامٌ على من اتبع الهدى»، نومعلومه شوه چې کافرته ابتداء بالسلام. پدې الفاظو سره جائزه ده.

إِنَّا قَدْ أُوحِيَ إِلَيْنَآ أَنَّ الْعَذَابَ عَلَىٰ مَن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿٤٨﴾
بیشکه وحی کړې شویده مونږته چې بیشکه عذاب په هغه چاباندې راځي چې دروغژن ګڼړي (حق لره) اومخ اوګرځوي
قَالَ فَمَن رَّبُّكُمَا يَٰمُوسَىٰ ﴿٤٩﴾ قَالَ رَبُّنَا الَّذِيٓ أَعْطَىٰ كُلَّ شَيْءٍ
اوئیل فرعون نوڅوک دې رب دستاسو اې موسی.[1] اوئیل موسی عَلَيْهِ السَّلَام رب زمونږ هغه ذات دې چې ورکړیدې هرڅیزته
خَلْقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ ﴿٥٠﴾ قَالَ فَمَا بَالُ الْقُرُونِ الْأُولَىٰ ﴿٥١﴾ قَالَ
پیدائش(شکل) دهغه بیائې ورته لاره خودلې ده. اوئیل فرعون پس څه حال دې دپیړیو مخکینو، اوئیل موسی عَلَيْهِ السَّلَام
عِلْمُهَا عِندَ رَبِّي فِي كِتَٰبٍ لَّا يَضِلُّ رَبِّي وَلَا يَنسَى ﴿٥٢﴾
خبرد هغې ځما درب سره دې په کتاب (لوح محفوظ) کښې، نه غافل کیږي رب ځما اونه ترینه هیریږي

(1) دریم ایت دتوحید.

الَّذِیْ	جَعَلَ	لَكُمُ	الْاَرْضَ	مَهْدًا	وَّسَلَكَ	لَكُمْ	فِيْهَا	سُبُلًا

(الله ﷻ) هغه ذات دې چې جوړه کړيده ستاسو دپاره زمکه دارام ځائ او تيارې کړيدی ستاسو دپاره پديکښې لارې

وَّ اَنْزَلَ	مِنَ	السَّمَآءِ	مَآءً	فَاَخْرَجْنَا	بِهٖٓ	اَزْوَاجًا	مِّنْ	نَّبَاتٍ	شَتّٰى ۝

اوراورولی دې دطرفه داسمان نه اوبه پس راويستلي (راخيژولي)دي مونږ پدي سره جوړي جوړي دبوټو مختلفو.

كُلُوْا	وَارْعَوْا	اَنْعَامَكُمْ ؕ	اِنَّ	فِيْ	ذٰلِكَ	لَاٰيٰتٍ	لِّاُولِي النُّهٰى ۝

خورئ تاسواوخروئ څاروي خپل بيشکه پديکښ شته ډيري نخي دپاره دعقل والو

﴿اِنَّا قَدْ اُوْحِيَ اِلَيْنَآ ﴾پدي آيت کښ تخويف دې چې داطريقه ددعوت ده چې موسیٰ عليه السلام اوهارون عليه السلام فرعون ته يره ورکړه چې مونږته دالله ﷻ دطرف نه دااطلاع اوخبرپه ذريعه دوحي راکړي شويدې چې ددنيااوآخرت عذاب دهغه چاپاره دې تکذيب اودايمان نه اعرض اوکړي.

﴿قَالَ فَمَنْ رَّبُّكُمَا يٰمُوْسٰى ﴾موسیٰ عليه السلام اوهارون عليه السلام چې کله فرعون ته اورسيدلو اوهغه ته ئي دايمان بالله دعوت ورکړو نوفرعون ورنه سوال اوکړوچې ستاسو رب څوک دې چې تاسودهغه رسولان ئي اوماته په هغه باندی دايمان راوړلودعوت راکوئ، اودهغه دعذاب نه مي يره وئ، اوفرعون لعين رب اضافت دوئ ته اوکړو اوخپل ځان ته ئي مضاف نکړو دوجې دډيرتکبراوغرورنه اونداء ئي صرف موسیٰ عليه السلام ته اوکړه حالانکه هارون عليه السلام هم موجودوو،ددي وجه نه چې تبليغ اوخطاب ورته حضرت موسیٰ عليه السلام کولو اوياددي وجه نه چې موسیٰ عليه السلام سره ئي تعلق زوړوو.

فائده: دلته دفرعون سوال په﴿مَنْ﴾سره ذکرکړې شواوپه سورة الشعرآء په ايت نمبر(۲۳)کښ په ماسره ذکرشويدې وجه داده چې دادواړه سوالونه جداجدادی، اگرچه واقعه يوه ده اوسوال کول دفرعون په مَن سره مقدم وو دسوال نه په ماسره نودلته سوال په من سره لپاره دبيان دکيفيت دربوبيت دې،نوچې کله موسیٰ عليه السلام ده ته دالله ﷻ په ربوبيت باندی دلائل ذکرکړل اوده ته معرفت هم حاصل شو نوبيائې سوال اوکړو په ماسره چې لپاره دطلب دماهيت راځي، نودالله ﷻ ماهيت ئي طلب کړو

﴿قَالَ رَبُّنَا ٱلَّذِىٓ ﴾دادريم ايت توحيددې اودَموسیٰ﷣ جواب دې فرعون ته حاصل دَجواب دادې چې زمونږ رب هغه ذات چې ټول عالم ئې پيدا کړيدې اوهرمخلوق ته يومخصوص صورت اوهيئت ئې ورکړيدې اوبيائې چې څه شئ مخلوق ته ورکړيدې نودَهغې نه دَنفع اخستلوطريقه ئې هم ورته خودلې ده،اکثرمفسرين فرمائی چې﴿خَلْقَهُۥ﴾مفعول اول مؤخردې دَ﴿أَعْطَىٰ﴾ لپاره،او﴿كُلَّ شَىْءٍ ﴾مفعول ثانی مقدم دې نودَايت مطلب دادې چې هرڅه ته وجود الله ﷻ ورکړيدې اوهرشئ په خپل وجود کښې الله ﷻ ته محتاجه دې، (مدارك) اوداهم ممکنه ده چې﴿كُلَّ شَىْءٍ ﴾مفعول اول شي او ﴿خَلْقَهُۥ﴾ورله مفعول ثاني شي اودخلق نه مراد صورت شي، نودايت مطلب به داشي چې الله ﷻ هرڅيزته الله ﷻ دهغه څيز مناسب صورت ورکړيدې، انسان ته ئې صورت دَانسان ورکړيدې داسې نده چې وي انسان اوصورت دَبل څيزوي اودغه شان بيا په انسان کښې هرعضوته دهغې مناسب صورت ورکړيدې، سترګې ته دَسترګې صورت غوږته دَغوږ والاصورت وغيره ورکړيدی.

﴿ثُمَّ هَدَىٰ ﴾ددينه مراد دادې چې مخلوق ته چې څه ورکړيدي نودهغې نه منفعت اخستلوطريقه ئې ورته هم ښودلې ده فطري طورباندی،يوماشوم بچې ته ئې خله ورکړيده نوفطري طورهغه ته ئې داهدايت هم کړيدې چې ددينه به څرنګه فائده اخلي،دَچرګې بچې دَاګئ نه رااوخي نوهغه ته فطري طوردابښودلې ده چې ته به څه شئ خوري اوڅرنګه به خوري وغيره، اوخپل بقاء اوحدکمال ته دَرسيدلوتدبيرئې هم مخلوقاتوخودلی دې، (ابوالسعود).

﴿قَالَ فَمَا بَالُ ٱلْقُرُونِ ٱلْأُولَىٰ﴾هرکله چې فرعون دَموسیٰ﷣ مسکت جواب اودلائل ظاهره وباهره واوريدلونوداخطره ئې محسوسه کړه چې داسې نه چې داعوام دَحضرت موسیٰ﷣ تصديق اوکړي اوايمان راوړي نودَعوام دَموسیٰ﷣ نه متنفرکولولپاره دَتيرشوو خلکوچې دَهغوئ آباء واجدادوو دَهغوئ په باره کښې تنه تپوس اوکړو چې کله دَالله ﷻ په وجود اوپه توحيدباندې دومره واضح دلائل موجودوو نوهغوئ ولې ايمان ندې راوړی، اوهغوئ ولې دَبتانوعبادت کولو؟ دهغوئ په باره کښې ستاڅه رائ ده؟ اوددې سوال نه دَفرعون مقصدصرف اوصرف خلك ئې دَموسیٰ﷣ نه متنفره کول غوختلوچې حضرت موسیٰ﷣ به دَدې خلکو

دآباؤ واجدادو په باره کښ نازيباالفاظ استعمال کړي نوخلك به تنه ناراضه شي.(فتح) نوحضرت موسیٰ علیه السلام دَحکمت نه ډك فصيح بليغ جواب ورکړوچي.﴿قَالَ عِلْمُهَا عِندَ رَبِّي فِي كِتَٰبٍ﴾چي دهغوئ علم ځمادَ رب سره دې چې هغه عالم الغيب دې اودَهغوئ حالات په لوح محفوظ کښ ثبت دي ماته علم نيشته ځه ځه عالم الغيب خونه يمه، ځه ستاسوپشان انسان يم(کشاف).

غوره خبره داده چې﴿عِلْمُهَا﴾مبتداده﴿عِندَ رَبِّي﴾ ورله خبراول دې او﴿فِي كِتَٰبٍ﴾ورله خبرثانی دې اوداهم ممکنه ده چي داترکيب دې دَقبيلي دَهذا حلوحامض نه شي، يعنی مجموعه دَ ﴿عِندَ رَبِّي فِي كِتَٰبٍ﴾ دي خبرشي، اودَ﴿كِتَٰبٍ﴾نه مراد لوح محفوظ دې،اوعلم دَالله جل جلاله ته په کتٰب کښي ثبت وئيل مجازا دي ځکه علم دَالله جل جلاله صفت ازليه دې چي قائم دې په الله جل جلاله پوري، اوندې قائم په لوح محفوظ پوري، لوح محفوظ پوري قائم هغه نقوش دی چې دال دی په هغې الفاظو باندی چې متضمن دي دَشرح اودَوضاحت دَمعلوماتودَالله جل جلاله لره، اوبعض فرمائي چې مرادپه کتب سره دفتردې، اوايت محمول دې په تمثيل باندی،چې ځرنګه يوعالم خپل علم اوليکي اومحفوظ ئي کړي، نوده ته خپل علم يادوي اوپه هغې باندی ورته تمکن اوقدرت حاصل وي نودغه شان الله جل جلاله ته هم احوال دَټولومخلوقاتوياد اومحفوظ دي، ليکن اوله توجيه ډيره غوره ده،﴿لَّا يَضِلُّ رَبِّي وَلَا يَنسَى﴾يعنی الله جل جلاله نه ځه څيزغائب کيدې هم نشي اونه ورنه هيرېږي خوبياهم په لوح محفوظ کښ ليکل دَحکمتونواومصالحوپه بنيادباندی دې،اوفرق په مينځ دَضلال اودَنسيان کښ دادې چې ضلال وئيلی کيږي ديته چې ابتداءً علم ورسره نوي اونسيان ديته وئيلی کيږي چې ابتداءً خوعلم وي خوبقاءً ورسره بيانوي، نوپديکښ اشاره شوه چې علم دَالله جل جلاله ازلی ابدي دې، اوبعض فرمائی چې﴿لَّا يَضِلُّ﴾، په معنی دَلايخطئ،سره دې اوفرق په مينځ دَخطاء اودَنسيان کښ دادې چې په دواړو کښ عمل خلاف واقع صادريدل دی، خوپه خطاء کښ ئي صدوربلااراده وي اګرچه اوعلم ورته حاصل وي،اوپه نسيان کښ ئي صدور، بالاراده وي خوعلم دَحافظي نه وتلی وي، اوپه خزانه کښ موجودوي،

﴿الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ﴾دا ادخال الهی اوتنويردې دَماقبل لپاره هرکله چې موسیٰ علیه السلام دوه ۲، صفات سلبيه الله جل جلاله والاذکرکړو نومزيدوضاحت دَدغي مسئلي لپاره الله جل جلاله خپل

صفات فعليه ثبوتيه پيش كوي اودلائل دَقدرت ذكركوي په څلورامورو سره(۱)﴿جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ مَهۡدٗا ﴾ (۲)﴿وَسَلَكَ لَكُمۡ فِيهَا سُبُلٗا ﴾ (۳)﴿وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ﴾ (۴)﴿فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦٓ أَزۡوَٰجٗا﴾ اومراد په ازواج سره ياجوړي دي چې هرڅيزالله ﷻ جوړه جوړه پيداكړيدي يعنى نراوماده اوياتنه مراد اصناف، اوقسمونه دي﴿كُلُواْ وَٱرۡعَوۡاْ ﴾ پديكښ اشاره ده اختلاف دَمنافعوته، لكه چې په ماقبل كښ اشاره وه اختلاف دَانواعوته. يعني ځني څيزونه داسي دي چې تاسوئي خورئ اوفائدي تنه اخلئ اوځني داسي دي چې ستاسوڅاروي تنه فائدي اخلي.اوامرلپاره دَاباحت دي

﴿لَأٓيَٰتٖ لِّأُوْلِي ٱلنُّهَىٰ ﴾ نهى جمع دَنهية وئيلى كيږي هغه څيزته چې دهغې په ذريعي بدكارونونه بچ كيدل كيږي، اومرادتنه عقل دې ځكه چې دَعقل په ذريعه هم انسان دَغلط كارونونه دَبدوخبرونه بچ كيږي

مِنۡهَا خَلَقۡنَٰكُمۡ وَفِيهَا نُعِيدُكُمۡ وَمِنۡهَا نُخۡرِجُكُمۡ تَارَةً أُخۡرَىٰ ﴿٥٥﴾

دَدي زمكي نه پيداكړي ئى مونږه تاسو اوپدي كښ به دوباره تاسوبوځو اودَدينه به رااوباسوتاسو يوځل بيا

وَلَقَدۡ أَرَيۡنَٰهُ ءَايَٰتِنَا كُلَّهَا فَكَذَّبَ وَأَبَىٰ ﴿٥٦﴾ قَالَ

اوبيشكه اوخودلي مونږ ده ته (فرعون ته)ځني زمونږ ټولي نودروغژن اوګڼړلي ده اوانكارئي اوكړو.اوئيل فرعون

أَجِئۡتَنَا لِتُخۡرِجَنَا مِنۡ أَرۡضِنَا بِسِحۡرِكَ يَٰمُوسَىٰ ﴿٥٧﴾

آياته راغلى ئي مونږته دَي دَپاره چه اوباسي مونږه دوطن زمونږنه دَخپل جادو په زورسره اې موسى.

فَلَنَأۡتِيَنَّكَ بِسِحۡرٖ مِّثۡلِهِۦ فَٱجۡعَلۡ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكَ مَوۡعِدٗا لَّا نُخۡلِفُهُۥ

نوخامخابه مونږه راولوتاته جادو دَدي پشان پس مقرركړه زمونږ اوخپل مينځ كښ وعده چې خلاف به نه كوو

نَحۡنُ وَلَآ أَنتَ مَكَانٗا سُوٗى ﴿٥٨﴾ قَالَ مَوۡعِدُكُمۡ يَوۡمُ ٱلزِّينَةِ

نه مونږ دهغې نه اونه ته.يوځائ برابر(هموار) موسى عليه السلام اوئيل مقرر وخت دستاسوورځ دَخوشالئ (ستاسو ده

وَاَنۡ يُّحۡشَرَ النَّاسُ ضُحًى ﴿۵۹﴾ فَتَوَلّٰى فِرۡعَوۡنُ فَجَمَعَ كَيۡدَهٗ

اوچې راجمع کړې شي خلك په وخت دَچاشت کښ، نو واپس لاړو فرعون پس راجمع ئې کړل خپل چل ول والاسـ

ثُمَّ اَتٰى ﴿۶۰﴾ قَالَ لَهُمۡ مُّوۡسٰى وَيۡلَكُمۡ لَا تَفۡتَرُوۡا عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا

بیا راغی (ځائ مقررته) اوئیل دوئ ته موسیٰ علیه السلام هلاکت دې تاسولره مه جوړه وئی په الله تعالیٰ باندی دروغ

فَيُسۡحِتَكُمۡ بِعَذَابٍ ۚ وَقَدۡ خَابَ مَنِ افۡتَرٰى ﴿۶۱﴾

پس بیخ به اوباسي ستاسو په عذاب سره اوبیشکه نااميده دې هغه څوك چې دروغ ئې جوړ کړي

﴿مِنۡهَا خَلَقۡنٰكُمۡ وَفِيۡهَا نُعِيۡدُكُمۡ﴾ دا دلیل عقلی دې په بعث بعدالموت چې دَ کومې زمکې نه تاسو ته روزي درکولی شي نو تاسو هم دَدینه پیدا کړلی شوي یئ، او مرګ نه پس به تاسو دوباره دیته ځئ، او بیا به دَقیامت په ورځ به دوباره دَدینه ژوندي کولی شئ، او دلته ﴿مِنۡهَا خَلَقۡنٰكُمۡ﴾ یعنی دَټولو انسانانو پیدائش دَخاورونه وئیل په اعتبار دَاصل آدم علیه السلام سره دي، او یا په دي اعتبار سره دي چې دا سبب بعید دي او سبب قریب نطفه ده، او دا خاوره سبب بعید څکه ده چې نطفه او حیض، دواړه دَغذانه ،حاصلیږي او غذا که حیواني ده یا نباتاتي نو هغې لپاره ذریعه خاوره ګرزیږي نو څکه خاوره هم سبب بعید دي.

﴿وَلَقَدۡ اَرَيۡنٰهُ اٰيٰتِنَا﴾ دا اصل مقصود ته رجوع ده او دَدي ځائ نه دَواقعې څلورم مقام شروع کیږي، پدي کښ دَساحرانو سره مقابله او دَهغوئ ایمان راوړل وغیره ذکر کیږي، او پدي ایت کښ دَفرعون ضدا وعناد بیانیږي چې فرعون ته هرقسم دلائل په توحید باندی اوټول معجزات اوښودلی شو خو بیائي هم ایمان نه راوړلو، او انکارئي کولو ،نو مراد په ایتنا سره یا دلائل دي په توحید باندی نو ﴿اَرَيۡنٰهُ﴾ په معنی دَعرّفنا سره دي او یا ایتنه مراد هغه نهه (۹) لوئي لوئي معجزات دي چې دهغې ذکر په سورة بنی اسرائیل ایت نمبر (۱۰۱) کښ دي، نو ارینا بیا په خپلي معنی سره دي، یعنی رؤیت بصري، په معنی سره دي. کل لپاره دَاستغراق اضافي دي او اضافت لپاره دَعهد دي

يعنى ټول هغه معجزات چې دَحضرت موسیٰ العَلَيْهِ لا پـه لاس ظاهري شوي وي اوموسیٰ العَلَيْهِ لا تـه ورکړې شوي وي.

﴿فَكَذَّبَ وَأَبَىٰ ﴾فاء لپاره دَتعقيب ده يعنى دَمعجزات ظاهريدلونه پس ده دَموسیٰ العَلَيْهِ لا تكذيب اوكړوچې دامعجزات دَالله ﷻ دَطرف نه ندى اودهغې دَتسليمولونه ئې انكار اوكړو (حداد). ﴿قَالَ أَجِئْتَنَا ﴾داجمله مستانفه ده واقع شويده په سوال دَسائل كښې ګوياچې سائل سوال كولوچې، فماذا قال فرعون؟ نوجواب اوكړې شو چې﴿قَالَ أَجِئْتَنَا ﴾چې دايمان راوړلو په ځاۍ فرعون موسیٰ العَلَيْهِ لا تـه ساحراووئيل چې تـه ساحرئى اودَسحرپه ذريعې زمونږ په ملك باندى قبضه كول غواړې،اوداقول چې ﴿لِتُخْرِجَنَا مِنْ أَرْضِنَا ﴾فرعون ددې دَپاره اوكړوچې داخلك دَموسیٰ العَلَيْهِ لا په مخالفت كښې نورتيزشي، چې دَموسیٰ العَلَيْهِ لا اراده صرف بني اسرائيلوته آزادي وركول ندي بلكه قبطيانونه دَهغوئ اموال اوزمكې اخستل هم دي.

﴿فَلَنَأْتِيَنَّكَ ﴾فاء لپاره دَترتب ده دَمابعدپه ماقبل باندى اولام موطئه للقسم دې اواتيان په معنىٰ دَمعارضې اومقابلې سره دې،اوهركله چې فرعون هم پدې پوهيدلوچې معارضه اومقابله دَسحرسره كيدې شي اودَمعجزې سره نشي كيدې نودَدې وجه نه داسې ئې اوئيل چې﴿بِسِحْرٍ مِّثْلِهِۦ﴾ اوداسې ئې اونوئيل چې آية مثلها،﴿فَٱجْعَلْ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ مَوْعِدًا﴾فرعون دَمقابلې لپاره دَوخت اوځاۍ تعين اختيارموسیٰ العَلَيْهِ لا تـه وركړو اوغوره قول دا دې چې﴿مَوْعِدًا﴾مصدرميمي دې اوظرف زمان يامكان ندې ځكه چې دَدې توصيف شويدې په﴿لَّا نُخْلِفُهُۥ ﴾سره اوپه اخلاف سره وعده متصف كيږي اوزمان يامكان نه متصف كيږي، اوفرعون چې دَخپل طاقت په نشې كښې مست اوغروراوتكبركښې غرق وو نودَدې وجه نه دَمقابلې لپاره دَوخت اوځاۍ تعين اختيارئى موسیٰ العَلَيْهِ لا تـه وركړو.

﴿مَكَانًا سُوًى ﴾دامفعول دې دَفعل مقدرلپاره چې هغه وعدې چې دلالت پرې موعد كړيدې، اوبعض فرمائى چې دامفعول ثانى دې دَاجعل لپاره يعنى صاف ځاۍ مقرركړه دَمقابلې لپاره.

اويابدل دې دَ ﴿مَوۡعِدُ﴾،نه او ﴿سُوًى﴾صفت دَ ﴿مَكَانًا﴾لپاره دې، په معنىٰ دَ"مستوي"سره دې يعني داسي ځائ چې په هغې کښ غر،غونډئ اولاندې باندې ځايونه نوي،صفاميدان وي چې دکتونکونه څه پټ نوي، (حداد)اوبعض فرمائي چې﴿سُوًى﴾دَاستواء نه دې اومرادتنه نصف دې دَمسافت په اعتبارسره، نومطلب دَ ايت دادې چې داسي مکان مقررکړه چې تاته اومونږته دَمسافت په اعتبارسره برابروي (روح).

﴿قَالَ مَوۡعِدُكُمۡ يَوۡمُ ٱلزِّينَةِ﴾هرکله چې فرعون دَځائ اودوحت تعين لپاره دَمقابلي اختيارموسىٰ عليه السلام ته ورکړو نوموسىٰ عليه السلام ورته اوفرمائيلوچې کومه ورځ ستاسواختروي نوپه هغه ورځ دَچاشت په وخت کښ به مقابله اوکړو ،دَ﴿يَوۡمُ ٱلزِّينَةِ﴾، نه مراد دَهغوئ دَاختروالا ورځ ده چې پدې ورځ به خلکونوي کپړي واچولي اوجشن به ئي کولو ، اوپه مصرکښ به دَجشن لپاره مختلفي ورځي وي،نوروز،باندې به هم جشن کيدلو ،دَفرعون دَپيدائش په ورځ به هم جشن کيدلو ،وفاء النيل،په نوم سره هم دَهغوئ يولړئ جشن به کيدلو ،نوبهرحال مرادتنه دَهغوئ دَجشن اودَخوشحالئ کولووالايوه ورځ ده﴿وَأَن يُحۡشَرَ ٱلنَّاسُ﴾داعطف دې په يوم الزينة باندې،يعني چې دامقابله دَچاشت په وخت کښ کوو چې خلك راجمع شوي وي، اودَحضرت موسىٰ عليه السلام دَالله جل جلاله په ذات باندې کامل اعتماد اوتوکل وو نودَدې وجه نه ئي ورځ هغه مقرره کړه چې خلك تماشوته فارغ وي اوشوق ئي هم دَتماشي وي اووخت ئي هم داسي مقررکړو چې دغې وخت ته دَلري لري نه خلك ځانونه ښارته رارسوي، اوبياشپې ته ځان واپس کورته رسوي.

﴿فَتَوَلَّىٰ فِرۡعَوۡنُ﴾غوره خبره داده چې﴿فَتَوَلَّىٰ﴾ په معنىٰ دَانصرف سره دې، يعنى فرعون دامجلس برخاست کړو اودَدې ځائ نه لاړو اودَمقابلي لپاره تياري شروع کړه،اوبعض فرمائي چې ﴿فَتَوَلَّىٰ﴾په معنىٰ دَاعرض سره دې،يعنى دَحق قبولونه ئي مخ واړولو ،ليکن دامعنىٰ ضعيفه ده.

﴿فَجَمَعَ كَيۡدَهُۥ﴾مرادتنه ذوى کيد، يعني هغه اسباب چې په هغې سره ده مقابله کوله، چې هغه ساحران وو ،يعنى دَملك دَمختلفوحصونه ئى ساحران راجمع کړل،اودَدې ساحرانو په تعدادکښ روايات مختلف دى، بعض فرمائى چې دولس زره(۱۲۰۰۰) وو، بعض

څوارلس(۱۴۰۰۰)زره،بعض دوه اويازره(۷۲۰۰۰)،بعض اتيازره(۸۰۰۰۰) اوبعض څلورلاکه(۴۰۰۰۰۰)وائی، اوبعض فرمائی چې په دوئ ټولوباندې يومشرمقرروو چې هغه په سترګوباندې ړوندوو، اودهغه نوم شمعون يايوحناوو، اودده سره دولس(۱۲)نقيبان وو اودهرنقيب سره شل(۲۰) نجوميان وو، اودهرنجومي سره(۱۰۰۰)زرساحران وواودې ساحرانو سره پړې اورسئ وې(قرطبی) ﴿ثُمَّ أَتَىٰ ﴾مفعول ئې مقدردې چې هغه الموعد،دې يعنې هغه مقرروخت رااورسيدلواوفرعون هم هغه متعين ځائ ته راغی، او﴿ثُم ﴾ لپاره دتراخې دې اوپديکښې اشاره ده چې دفرعون راتګ دزړه په خوشحالئ سره نوو،بلکه په ډيرې مجبورئ اودشرم دوجې نه وو،﴿قَالَ لَهُم مُّوسَىٰ ﴾کله چې فرعون اوساحران اوخلک راجمع شونو موسی عليه السلام دوئ ته وعظ اوکړو چې تاسو دالله تعالی سره شرک ګرزو اوخمامعجزاتوته سحروايئ په الله تعالی باندې افتراء کوئ ددينه منع شئ کنې الله تعالی به تاسونيست ونابود کړي په دنياکښې اوپه آخرت کښې به هم ډيرنامراده شئ﴿وَيْلَكُم﴾، بددعاده اوراجحه خبره داده چې دامنصوب دې په فعل مقدرسره ای الزمکم الله الويل(حداد).﴿فَيُسْحِتَكُم بِعَذَابٍ ﴾سحت وئيلی کيږي(بيخ کنې)،استيصال،ته﴿وَقَدْ خَابَ مَنِ افْتَرَىٰ ﴾ ددينه مراد ناکامې ده په مقابله دموسی عليه السلام کښې چې ظاهرکښې په مقابله کښې به هم کامياب نشې اوسعې به موهم عبث شې اوځه اجراوثواب به پې ميلاؤنشې.

فَتَنَازَعُوٓا أَمْرَهُم بَيْنَهُمْ وَأَسَرُّوا النَّجْوَىٰ ﴿٦٢﴾ قَالُوٓا إِنْ هَٰذَٰنِ
پس اختلاف اوکړو دوئ په خپل کارکښې په خپل مينځ کښې اوپټه جرګه ئې اوکړه اوئيل دوئ چې بيشکه دا دواړه
لَسَٰحِرَٰنِ يُرِيدَانِ أَن يُخْرِجَاكُم مِّنْ أَرْضِكُم بِسِحْرِهِمَا وَيَذْهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ
جادوګران دي، غواړي چې اوباسي تاسو دوطن ستاسونه په جادو خپل سره اولري(ختم) کړي لاره(دين) ستاسو
الْمُثْلَىٰ ﴿٦٣﴾ فَأَجْمِعُوا كَيْدَكُمْ ثُمَّ ائْتُوا صَفًّا ۚ وَقَدْ أَفْلَحَ الْيَوْمَ
چې غوره ده،پس کلک کړئ خپل چل ول بياراشئ تاسرصفونه،اوبيشکه کامياب دې نن

مَنِ اسْتَعْلٰى ۝ قَالُوْا يٰمُوْسٰى اِمَّآ اَنْ تُلْقِيَ وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ اَوَّلَ مَنْ اَلْقٰى ۝

هغه څوك چې بري ئې اومندلو اوئيل دوئ اې موسى عليه السلام ياته اوغورځوه اويابه مونږه شواول دغورځوونكونه

قَالَ بَلْ اَلْقُوْا فَاِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ اِلَيْهِ

اوئيل موسى عليه السلام بلكه اوغورځوئ تاسو نوناڅاپه رسئ دهغوئ اوهمساګاني دهغوئ، په خيال كښ راتلې موسى عليه السلام ته

مِنْ سِحْرِهِمْ اَنَّهَا تَسْعٰى ۝

دوجې دسحردهغوئ نه چې بيشكه دامنډې وهي.

﴿فَتَنَازَعُوٓا﴾هركله چې موسى عليه السلام دوئ ته وعظ اونصيحت اوكړو نودساحرانو په رائ كښ اختلاف پيداشو چاوئيل چې داخبري دنبوت دي اودې نبى دې اوچااوئيل چې.﴿إِنْ هَٰذَٰنِ لَسَٰحِرَٰنِ ﴾دوئ دواړه ساحران دى اودسحر په زورتاسودخپل ملك نه اوباسي اوپدې باندى قبضه كوي.

﴿وَأَسَرُّواْ ٱلنَّجْوَىٰ ﴾غوره خبره داده چې ددينه مراد دساحرانو په خپل مينځ كښ خفيه فيصله ده چې دوئ پټه جرګه اوكړه اوفيصله ئې اوكړه كچرته دې ساحروي نومونږ به پرې غلبه حاصله كړوخوكچرته دې په مونږ،باندى غالب شونوبيابه دې نبي وى مونږ به پده باندى ايمان (طبرى)

﴿قَالُوٓاْ إِنْ هَٰذَٰنِ ﴾دادفرعون اودهغه دمشيرانو اووزيرانو قول دې چې دحضرت موسى عليه السلام اوهارون عليه السلام خلاف پروپيګنده كوله چې دادواړه ساحران دى (حداد) ﴿إِن﴾ مخففه عن المثقله دې اوپه قراءت دابن كثير رحمه الله كښ په تشديد دانْ سره راغليدې،او﴿هَٰذَٰنِ﴾ ئې اسم دې، اولام په ﴿لَسَٰحِرَٰنِ﴾كښ لام فارقه دې چې دادفرق لپاره راځي په مينځ دانْ مخففه اودنافيه كښ. هركله چې داپه قرات دتخفيف دانْ سره شي نوپه آيت باندى څه اشكال نيشته دې چې﴿هَٰذَٰنِ﴾ ، ولى مرفوع دې، ځكه چې اسم دان خودمنصوباتونه دې؟ اودا اشكال دتخفيف قراءت په صورت كښ ځكه نه واردېږي چې اكثرنحاتوپدې تصريح كړيده چې كلمه انْ په فعل باندى داخل شي نو اهمال

ني واجب دي، اوکچرته په اسم باندی داخل شي نو اکثر يکښې اهمال دي اوکله کله پکښې اعمال دي، لکه چې په يو قرآءت کښې، اِن کلاً ، راغليدې کنی اصل قراءت په رفع سره دې، تفصيل ئی په رضی، حاشية الخضری علی شرح ابن عقيل اوحاشية الصبان علی شرح اشمونی کښې دې، البته دتشديدپه قراءت باندی اشکال وارديږي چې، هٰذان، اسم دَ اِنّ دې نوبيا خو هٰذين وئيل پکاروو، اوحالانکه دلته په رفعي سره هذان راغليدې، ددي نه متعدد جوابونه شويدي غوره جواب دادې چې داموافق دې دَبعض عربودَلغت سره لکه، بلحارث کنانه وغيره چې دَدوئ لغت دادې چې تثنيه، ياياءِ ساکنه چې ماقبل تنه فتحه وي نودابه په الف بدلیږي، لکه چې دوئ وائی اتانی الرجلان، رايت الرجلان، دغه شان کسرت يداهُ، رکبتُ علاه، وائی يديه اوعليه نه وائی، نودلته هم هٰذين کښې يائی ساکنه ماقبل مفتوح نوددوئ دَلغت موافق په الف سره بدله شوه، هٰذان، شو(۲)

اوبعض فرمائی چې اسم دَ ﴿إِن﴾دپاره محذوف دې چې هغه ضميرشان دې او﴿هَٰذَانِ لَسَاحِرَانِ﴾ ورله خبردې، نوپه اصل کښې داسي دې، انّهُ هٰذان لَساحران(۳)بعض فرمائی چې اِنّ په معنٰی دَنعم سره کله کله راځي، لکه پدي قول دَ حضرت عبدالله ابن زبيرؓ کښې چې کله هغه ته يو اعرابی راغی اوځه ئی ورنه اوغوښتلواوده ورله ورنکړو نوهغه اعرابي اوئيل چې، لعن الله ناقةً حملتنی اليكَ، نوابن زبيرؓ ورته په جواب کښې اوفرمائيلو، انّ وصاحبها ، نودااِنّ په معنٰی دَ نعم سره دې(۴)اوبعضوتنه داجواب کړيدې چې اِنْ نافيه دې او لام په معنٰی دَاِلاّ سره دې، يعنی ماهٰذانِ الاّ ساحران ليکن داقول ضعيف دې.

﴿أَن يُخْرِجَاكُم مِّنْ أَرْضِكُم﴾مرادتنه ارض مصردې، ﴿وَيَذْهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ الْمُثْلَىٰ﴾طريقي نه مراد سيرت اوهغه حالت دې چې دوئ پرې قائم وو، او﴿الْمُثْلَىٰ﴾مؤنث دَامثل دې په معنٰی دَ اعلٰی اوافضل سره، نودَايت مطلب دادې چې فرعونيانوخلکوته اوئيل چې دَدوئ دواړو اراده داده چې ستاسوپه ملك باندی هم قبضه اوکړي اوستاسواعلی دين هم ختم کړي، اودَفرعون قول په سورة مؤمن ايت نمبر(۲۶)کښې داسي ذکرشويدې،اِنّی اخافُ ان يّبدّلَ دينکم،اوبعض فرمائی چې عبارت په حذف دَمضاف سره دې، يعنی باهل طريقتکم المثلی، اومرادتنه بنی اسرائيل دی ښکه چې هغوئ خاوندان دَعلم وو په هغوئ کښې، اوپه ټولوخلکودَتعداد په اعتبارسره اومال په اعتبارسره هم دوئ زيات وو ، اوداخبره فرعون ښکه کوله چې حضرت موسیٰؑ دَبني اسرائيلودَازادئ

مطالبه کړي وه چې ارسل معنابنی اسرائیل، اودَحضرت علی ﷺ منقول دی چې ﴿بِطَرِيقَتِكُمُ ٱلۡمُثۡلَىٰ﴾ نه مراد مشران اوسرداران دَقوم دی لکه عرب وائی چې طریقة القوم. یعنی دَقوم مشر. نودا یت مطلب، دادي چې دَدوئ اراده داده چې دَخلکوتوجه اومشران څان طرف ته راواړئ (بحر) لیکن اوله توجیه غوره ده، ﴿فَأَجۡمِعُواْ كَيۡدَكُمۡ﴾ فاء فصیحیه ده تقدیردَعبارت داسي دي. اذاکان الامر کماذُکِرَ فاجمعوا الخ(روح) اواجمع اکثرعلمآء فرمائی چې همزه پکښې قطعي ده اودا باب افعال دې اومعنٰی ئې ده مضبوط عزم کول، لکه عرب وائی اجمعتُ علی الخروج ای ازمعت(کبیر) نودا یت مطلب دادې چې هرکله دوئ ساحران دی اودَسحرپه زورتاسودَخپل ملك نه هم اوباسی اودین هم درله ختموي نوتاسودَدوئ خلاف پوخ عزم اوکړئ اوخپل ټول اسباب راوړئ او اختلاف مه کوئ اوصف درصف میدان ته راشئ اوبعض فرمائی چې همزه وصلي ده په معنٰی دَجمع کولوسره،یعنی خپل دَمقابلي ټول اسباب راجمع کړئ، مآل په اعتبارسره مقصد دَدواړو توجیهاتویودې، اګرچه علماء په اجمع اوجمع کښې فرق کړیدې،چې جمع(مجرد)متعلق کیږي دَذواتوسره اواجمع(مزید)متعلق کیږي دَمعانیوسره،لکه وئیلی کیږي جمعتُ قومی، اجمعتُ امری،دغه شان جمع استعمال په هغه ځائ کښې کیږي چې اشیآء متفرق وي اوبیایوځائ کړې شي لکه وئیلی شي جمعت القوم، چې کله متفرق قوم راجمع کړې شي په خلاف دَاجمع نه چې هغه دَغیرمتفرق دَپاره هم استعمالیږي،اودغه شان اجمع(مزید)متعدي کیږي مفعول ته بنفسه هم اوپه واسطي دعلی سره هم لکه وئیلی کیږي اجمعت الخروج،واجمعت علی الخروج، او جمع(مجرد) بغیردَحرف جرنه متعدي کیږي، نوروجوه دَفرق هم علمآء بیان کړیدی، اوکید ،نه مراد سحردې ای مکرکم وسحرکم(حداد).

﴿ثُمَّ ٱئۡتُواْ صَفّٗاۚ﴾ صفًا مصدردې په معنٰی داسم فاعل سره،یعنی تاسوټول یوصف اوپه یوقطارکښې راشئ اوخپلي رسئ اولختي په یوځل اوغورځوئ چې کتونکوپه زړه کښې رعب پیداشي اوموسٰی علیه السلام اوهارون علیه السلام مغلوب شي، (ابن کثیر اوبعض فرمائی چې صف په معنٰی دَعیدګاه اوجشن کولوالاځائ سره دې، اوعرب مصلّی(عیدګاه)ته صف وائی یعنی تاسوټول دَجشن والاځائ ته راشئ (حداد).

﴿وَقَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡيَوۡمَ مَنِ﴾دا جمله معترضه ده یعني کوم فریق چې پدي مقابلي کښ غالب شو نن ورځ بس هغه به کامیاب وي، او﴿ٱسۡتَعۡلَىٰ﴾باب استفعال دې په معنی دَعلو سره دې. اویااستفعال به خپلي معنی سره دې اودادیرابلغ وو په لالچ اوبرانګیخته کولوکښ چې فوز اوکامیابي ئي متعلقه کړیده په نفس طلب دَعلو سره،اودهغې لپاره سعی کولوسره،یعنی صرف په سعی اوکوشش کولوسره به کامیابي اوفرعون تقرب اوعهده به حاصله کړئ اوچې غلبه به موا وموندله نوبیابه خوخامخاکامیاب ئی او انعامات به درته میلاؤشي.

﴿قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلۡقِيَ﴾چې کله هغه مقرروخت راغی نوسیٰ﷤ اوهارون﷤ راغلو،اودوئ هم راغلو،خلك راجمع شوی وو، نوساحرانوموسیٰ﷤ ته اختیارورکړو چې یاته خپله عصااوغورزوه اوخپله معجزه ظاهره کړه اویابه مونږ اول خپلي عصاګاني اورسئ اوغورزه وواودوئ دااختیارموسیٰ﷤ ته یادَدي وجه نه ورکړو چې دَدوئ په خپل سحرباندی دیرلوئ اعتمادوو، اویادَادب دَوجي نه چې دوئ دَموسیٰ﷤ ادب اوکړو ځکه چې دَدوئ په زړونوکښ دي خبري ګردش کولو چې شاید دې پیغمبروي، اوددې ادب په برکت سره الله﷯ دوئ ته دَایمان عظیم دولت نصیب کړو دَدینه معلومه شوه چې ادب ذریعه دَایمان ګرزیږي اوبی ادبي دَمحرومتیادَایمان نه ګرزیږي ویدل علیه قوله تعالی لاترفعوا اصواتکم فوق صوت النبی ولاتجهروا له بالقول کجهربعضکم لبعض ان تحبط اعمالکم(الحجرات:۲).

﴿قَالَ بَلۡ أَلۡقُواْ﴾هرکله چې دوئ حضرت موسیٰ﷤ ته اختیاردَ احدالشقین ورکړو چې یااول ته خپله عصا اوغورځوه اویامونږ غورځوو،نوحضرت موسیٰ﷤ اختیاردَشق ثانی اوکړوچې اولاً تاسواوغورځوئ اوخپل سحرظاهرکړئ،دَدینه معلومه شوه چې حضرت موسیٰ﷤ دوئ ته حکم په سحرکولوسره نووکړې ځکه چې سحرګناه کبیره دې اویاخاص طورچې په مقابلي دَحق کښ راشي نوبیاخوپه طریق اولیٰ ګناه کبیره دې نوحضرت موسیٰ﷤ به څرنګه دوئ ته دَدي اجازت اوحکم کړې وو؟ بلکه دااختیاره ول دَاحدالشقین وو، اوحضرت موسیٰ﷤ شق ثاني ځکه غوره کړوچې اظهاردَحق په طریقي اکمل اواتم سره اوشي چې داساحران یوعظیم سحرپیش کړي اولاً،اوبیاحضرت موسیٰ﷤ خپله عصااوغورځوي اودَدوئ داعظیم سحر،آنَ فَان، کښ ختم کړي،دَحق اوباطل معرکه اوشي اوباطل مغلوبه شي نواظهاردَحق

په اكمل طريقي سره اوشي، اوكچرته موسیٰ علیه السلام اول خپله عصاغورځولی وی نوممکنه وه چې ساحران يريدلي وي اوهغوئ خپل سحرنوی ظاهركړې نومعركه به هم نوه شوي نو دَحق اظهار به په اكملي اواتمي طريقي سره به نووشوی، اوبعض فرمائی چې حضرت موسیٰ علیه السلام دوئ ته حكم په سحرسره وركړيدې خوداحكم تعليقي دې،نه تنجيزی،اوشرط مقدردې تقديرد عبارت داسي دې، قال بل القوا ان كنتم محقين.لكه په سورة يونس كښې الله تعالیٰ فرمائی،فأتوابسورة من مثله ان كنتم صٰدقين(يونس:۳۸) نوهلته هم امرتعليقي دې دغه شان دلته هم امرتعليقي دې،فاذا حبالهم الخ فاء فصيحيه ده اوعبارت مقدردې تقديرئی داسي دې فالقوا فاذا حبالهم الخ او اذا مفاجاتيه دې،يعني چې كله دوئ خپلې رسئ اوهمساگانې اوغورځولې نوناساپه ددوئ رسئ اوهمساگاني كتونكوته سره دَموسیٰ علیه السلام نه داسي محسوسي كيدلې اوښكاريد لې چې دامنډې وهي ﴿يُخَيَّلُ إِلَيْهِ﴾ پديكښې اشاره ده چې سحرصرف نظربندې وي اواثركوي په قوت خياليه باندې، اودَانبياء كرامو په قوت خيالي باندې اثركيدل منافي ندي دَنبوت سره،البته سحردَانبياء كرامو په قوت عاقله باندې هرگزاثرنشي كولی، او مِنْ په من سحرهم، كښې من اجليه دې.

فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِ خِيفَةً مُّوسَىٰ ﴿٦٧﴾ قُلْنَا لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنتَ الْأَعْلَىٰ ﴿٦٨﴾
پس محسوسه كړه په خپل زړه كښې يره موسیٰ .اوئيل مونږه مه يريږه ته، بيشكه هم ته به غالب ئې
وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوا ۖ إِنَّمَا
اواوغورځوه هغه چې ستاپه خي لاس كښې دې تيربه كړی په يوځل هغه چې دوئ جوړكړيدی. بيشكه
صَنَعُوا كَيْدُ سَاحِرٍ ۖ وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ أَتَىٰ ﴿٦٩﴾ فَأُلْقِيَ
دوئ چې څه جوړكړيدی فريب(چل ول)دې دجادوگرو اونه كاميابيږي جادوگرهرچرته چې راشي،پس اوغورځولی شو
السَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ هَارُونَ وَمُوسَىٰ ﴿٧٠﴾ قَالَ
جادوگران سجده كوونكي اوئيل دوئ چې مونږه ايمان راوړيدې په رب دَهارون اوموسیٰ اوئيل فرعون

اٰمَنْتُمْ	لَهٗ	قَبْلَ	اَنْ	اٰذَنَ	لَكُمْ ؕ	اِنَّهٗ	لَكَبِيْرُكُمُ	

آيا ايمان راوړو تاسو پده مخکښ ددينه چې اجازت درکړې وي ماتاسو ته بيشکه دی يقيناچې ستاسو مشر(استاذ)دی

الَّذِيْ عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۚ فَلَاُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ وَّلَاُوصَلِّبَنَّكُمْ

هغه چې ښودلی ئې دی تاسو ته جادو نوضرور ضرور پرې به کړم خه لاسونه ستاسو اوخپې ستاسو ادل بدل اوضرور ضرور پهانسي به کړم تاسو

فِيْ جُذُوْعِ النَّخْلِ ؗ وَلَتَعْلَمُنَّ اَيُّنَآ اَشَدُّ عَذَابًا وَّاَبْقٰى ۝

په تنو د کهجورو باندې اوخامخا پوهه به شئ چې کوم يوزمونږ نه سخت عذاب والادی اوهميشه(عذاب) والادی

﴿فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِ﴾ ايجاس وئيلی کيږي په زړه کښې څه شی محسوسه ول، نوچې کله ساحرانو داعظيم سحرپيش کړونو موسیٰ عليه السلام زړه کښې خوف محسوس کړو، اوداکوم خوف وو؟ بعض علمآء فرمائي چې داخوف طبعي منافي ندې دنبوت سره، نوبناء پدې تنوين په ﴿خِيفَةً﴾ کښې تقليل لپاره دې، يعنی ډيرکم خوف غوندې ئې محسوس کړو، او بعض علماء فرمائي چې خوف دلته په معنیٰ دخطرې او انديشه، سره دې، يعني موسیٰ عليه السلام په زړه کښې داخطره اوانديشه راغله چې دې ساحرانودومره لوئ سحرپيش کړو اوخلك ئې هم اويره ول نوکچرته څه عصااوغورځوم نوداسې نه چې داخلك څمادی معجزې ته هم سحراوائی، اودخلکوپه زړونوکښې شبهات پيداشي، (روح). ﴿قُلْنَا لَا تَخَفْ﴾ هرکله چې موسیٰ عليه السلام خوف اوخطره محسوسه کړه نودالله جل جلاله دطرف نه ورته حکم اوشولوچې ته فکرمه کوه فتح به ستاوې اوته به غالب وې.

﴿إِنَّكَ أَنتَ﴾ الله جل جلاله موسیٰ عليه السلام ته ډيره مضبوطه تسلي ورکړه اوکلام په وجوه سره مؤکد کړو، (۱) يو حرف تحقيق، انّ، په شروع کښې راوړو، (۲) دويم تکراردضميرخطاب پکښې اوکړو، (۳) دريم خبرمعرف بالاّم ذکرکړو، (۴) اوڅلورم لفظ علوئی ذکرکړو، چې داعبارت دې غلبې ظاهري نه، (۵) اوپنځم صيغه داسم تفضيل ئی ذکرکړه.

﴿وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ﴾داتفصيلي تسلي ده موسىٰ ﷺ ته ورستوداَجمالي تسلي نه، او﴿مَا فِي يَمِينِكَ﴾نه مراد عصاده،خوذکرئى اونشوبلکه مبهم پريخودلى شو .ځکه چې په ابهام سره مقصودياحقارت دې دَهغوئ دَهمساگانواودَرسيانو ،چې دَدوئ داهمساگاني اورسياني دومره حقيري اوکمزوري دى چې ستاپه لاس کښ دوړوکى غوندي لرگي په داتول يوه نوړئ لقمه کړي. اوتيربه ئى کړي،اوياتفخيم دې دعصادَموسىٰ ﷺ چې ستادعصادپيرعظيم الشان عصاده چې ځرنگي ئى اوغورځوى نودَدوئ داټول سحربه فناکړى اوذکردَيمين، اوشوپه ځائ دَيد ،ځکه چې پدي کښ معنىٰ دَيمن يعنى برکت ده.

﴿تَلْقَفْ مَا صَنَعُوٓاْ﴾،تلقف،په جزم سره جواب دې دَامر، (قرطبى) اوپه يوقرائت کښ په رفعي سره هم راغليدې نوبيابه تلقف ځان ته مستقل کلام وي،يعني رفع بناء براستيناف ده،اوتلقف معنى ده ابتلاع بسرعة، يعنى زرزر تيره ول يعني داعصابه داټول ځيزونه داسي زرزر اوخوري چې نوړئى به تنه جوړه کړي﴿إِنَّمَا صَنَعُواْ﴾ داعلت دې دَ﴿تَلْقَفْ مَا صَنَعُوٓاْ﴾لپاره، اومايامو صوله ده په معنى دَالَّذى سره،ياموصوفه ده په معنى دَشيئ منکرسره اويامصدريه ده چې﴿صَنَعُوٓا﴾فعل ئى په تاويل دَمصدرصنعهم، سره گرځولى دې او﴿كَيْدُ﴾مرفوع دې ځکه چې دې خبردې دَ﴿إِنَّ﴾ لپاره اوهرکله چې مقصود پدي کلام سره جنس ساحروو اوعدددَساحرانومعتبر نوو ،نودَدي وجه په کيدساحرکښ هم ساحرمفرد راوړى شو ،اوپه﴿وَلَا يُفْلِحُ ٱلسَّاحِرُ﴾کښ هم ساحرمفرد راوړى شو اوکچري جمع ذکرشوې وى نوبيابه داخيال کيدې شو چې مراد به تنه عددوي چې دامخصوص عدد دَساحرانودَدوئ سحردَفائدي نه خالي دې.

﴿وَلَا يُفْلِحُ ٱلسَّاحِرُ﴾اى لايفلح جنس الساحر،ساحرٌ اولانکره ذکرشواوبيامعرف باللام ذکرشو پديکښ اشاره ده چې ټول اقسام دَسحردَمآل اومقصدپه اعتبارسره رجعه ئى مقصدواحدته کيږي چې سحرخالي وي دَفائدي نه اوساحربه هرځائ اوپه هروخت کښ ناکام اونامرادوي، اوخاص طورباندى دَحق په مقابلي کښ ضرورناکام وي اوهم دَدي وجه نه په يوحديث کښ دَساحرقتل کولوحکم راغليدې،عن جندب بن عبدالله البجلى رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اذا اخذتم يعنى الساحر

فاقتلوه ثم قراء ولايفلح الساحرحيث اتیٰ قال لايؤمن به حيث وجد(ابن حاتم ج۶ ص۲۰۳) باقی سحر اقسام اودساحرحکم په سورة البقره کښې تیرشویدی.

﴿فَأُلْقِيَ ٱلسَّحَرَةُ سُجَّدًا﴾فاء فصيحيه ده يعني چې کله موسیٰ عليه السلام دَالله تعالیٰ په حکم سره همسااوغورځوله اودهغې نه يوه لويه اژدهاجوړه شوه اودساحرانووالاتولي همساګاني اورسئ ئې اخوړه لي اوبیاموسیٰ عليه السلام رااوچته کړه نوهغه عصاشوه لکه څرنګه چې وه بغيرڅه دکمي اوزياتي نه نوساحرانوچې دامعجزه اوکتله نوفوراپه سجده کښې پريوتلو،او﴿فَأُلْقِيَ﴾صيغه دمجهول ده پديکښې اشاره دیته چې ساحرانوته دومره زيات حدکښې نورايماني ورکړې شو چې دوئ مجبوره شو اوبي اختياره سجدي کښې اوغورځولی شواودغه شان په لفظ دَ﴿فَأُلْقِيَ﴾کښې اشاره ده ديته چې ددوئ سجده کول فوراً اوډيرپه جلتئ سره وه اوپه څني رواياتوکښې دی چې دوئ ته په سجدي کښې دوئ منازل اوجنت اوجهنم ورته الله تعالیٰ اوخودلو.

﴿قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِرَبِّ﴾دَسجدي کولوسره سره ساحرانودَخپل ايمان اعلان هم اوکړو، په سورة اعراف اوشعرآء کښې، امنابربّ العلمين، ربّ موسیٰ وهارون،وئیلی شويدی يعني اضافه دربّ العلمين اوتقديم دَموسیٰ عليه السلام دې په هارون عليه السلام باندی، اودلته دااضافه هم نيشته دې اوتقديم دَهارون عليه السلام دې په موسی عليه السلام باندی، مفسرينونه پديکښې مختلف توجيهات منقول دی،اکثرمفسرين دافرمائی چې قرآن مجيدکښې دهغوئ دکلام ترتيب ندې ملحوظ کړې شوې بلکه نفس معنیٰ اومقصددَهغوئ دکلام ذکرکول دی نودَدې وجه نه کله څه په اضافي سره ذکرشي اوکله په تقديم دَاموسیٰ عليه السلام اوکله په تقديم دَهارون عليه السلام سره ذکرکړې شي، اوبعض فرمائی چې اصل کلام دَساحرانوهغه دې کوم چې په سورة اعراف کښې دې،ليکن دلته تقديم دَهارون عليه السلام څکه اوشوچې رعايت مقصوددې په فواصلودَايتونوکښې چې داحسن پيداکوي په کلام کښې، اودغه شان موسی عليه السلام اصل وو په اعطاء دَنبوت کښې اوهغه منسوب اليه په عصاسره اوحضرت هارون عليه السلام مشرووموسی عليه السلام نه،نوچې په کوم ايتونوکښې تقديم دَموسیٰ عليه السلام راغليدې نوهغه محمول دې په اصالت اوپه اصل حکايت باندی،اوکوم ايتونوکښې تقديم دَهارون عليه السلام راغليدې نودهغې وجه دَحضرت هارون عليه السلام کبرسنی، اومشروالی ده اوبعض فرمائی چې اختلاف دکلام محمول دې په اختلاف دَقائلين باندی چې

ساحران ډيرووخنويوقسم كلام كړيدي چې اضافه دَرب العلمين، اوتقديم دَموسیٰ عليه السلام نی كړيدي،اوځنوبغيرداَضافي دَرب العلمين، اوتقديم دَهارون عليه السلام ئي كړيدي.نوپه بعضو ځايونوكښ دَځني ساحرانوكلام راغستلى شويدي اوپه بعضو ځايونوكښ دَنوروساحرانوكلام ذكركړې شويدې، ليكن ځماپه ناقص ذهن اوعقل كښ دَدې توجيه داسي راځي(والله اعلم) چې دااختلاف دَترتيب محمول دې په تعدد دَاوقاتوباندی چې ساحرانومختلف اوقاتوكښ متعددځلي دااعلان كړيدې اوصرف يوځلې ئي ندې كړې، اول ځلي كلام ئی داسي وو چې آمنابربّ العٰلمين، ربّ موسیٰ وهٰرون، نوچونكه فرعون هم دَربوبيت دَعالم ددعویٰ كړي وه اودائی وئيل چې انااربّكم الاعلی، اودغه شان فرعون به ځان ته دَموسیٰ عليه السلام رب هم وئيلونواول ځلي دَدوئ دَدي كلام نه فرعون اودهغه متبعينو، غلط مفهوم اومقصد اراده كولوچې رب العلمين، هم ماته وائي اورب موسی، هم ځه يم نوداهم ماته وائي، نودَدي وجه نه په دويم ځلي داسي كلام اوكړو چې فرعون اودهغه متبعينوته دَهغې نه دَيوغلط مفهوم اومقصداخيستلوموقعه ميلاؤ نشي نوځكه اضافه دَرب العلمين، اونه كړه چې داپه ضمن دَرب هارون وموسیٰ،كښ خودبخود راغلي اوتقديم دَهارون عليه السلام اوكړو چې دغه توهم بالكليه ختم شي(والله اعلم بالصواب)

﴿قَالَ ءَامَنتُمْ لَهُۥ قَبْلَ ﴾هركله چې فرعون اوكتلوچې ساحرانوايمان راوړو اودَدوئ دَوجي نه به داټول قوم ايمان راوړي نوفرعون اول دوئ ته زورنه وركړه چې ځمادَاجازت نه بغيرتاسوايمان والى راوړو اودَموسیٰ عليه السلام اتباع خولې اوكړه؟ ايمان په صلې كښ چې كله لام راشي نوبيادَانقياد په معنیٰ سره وي.

﴿ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ﴾فرعون چې كله داخبره محسوسه كړه چې ځمادازورنه به هيڅ فائده اونه كړي نودَعاموخلكوپه زړونوكښ دَپروپيګنډی كينولوكوشش اوكړو اودائی اوئيل چې دې (موسیٰ عليه السلام)ستاسواستاذدې اوتاسوته ئي سحرخودلی دې، كبيركم په معنیٰ دَعظيم سره دې، اوفرعون ته هم دامعلومه وه چې موسیٰ عليه السلام ددوئ استاذهم ندې اونه ساحردې ځكه چې داساحران دَموسیٰ عليه السلام مصرته دَراتللونه مخكښ موجوددو، بلكه دَموسیٰ عليه السلام دَپيدائش نه هم مخكښ موجوددو، خوداخبره ئي صرف دَخلكو دَايمان راوړلونه منع كولودپاره اوكړه،

﴿فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ ﴾هميشه دپاره دَاهل باطلوطريقه داده چې كله هم دَدلائلوپه ميدان كښ

ناکامه شي نوبیا هغوئ دَتشدد لاره اختیاره وي نوفرعون هم ساحرانو ته دهمکي ورکړه چې دا ټول تاسو دَیوي منظمي منصوبې تحت اوکړو کچرته تاسو ایمان پري نه خودلو نو څه به ستاسو لاسونه او خپي ادل بدل پري کړم او بیابه درله پهانسي درکړم نوبیابه تاسوته پته اولګي چې دچاعذاب سخت دي څما او که دَموسیٰ ﷺ دَرب عذاب سخت دي؟؟ مِنْ په ﴿مِّنْ خِلَٰفٍ﴾ کښې دَابتداء لپاره دي،اوجارمجرورپه محل دَنصب کښې واقع شویدي چې داحال دي دَ﴿أَيْدِيَكُمْ﴾ او﴿وَأَرْجُلَكُم﴾، نه نو دَایت مقصد دا شو چې لاقطعنهامختلفات (مدارك)

﴿وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِى جُذُوعِ ٱلنَّخْلِ﴾یعنی خپي لاسونو کټ کولونه پس بیابه موپهانسي کوم،فی په معنی دَعلی سره دي اوفی څکه راوړی شو چې دلالت اوکړی پدي چې دوئ پدي کهجوروباندی تړدیروخته پوري قائم وو لکه څنګه چې استقراردَظرف راغلی وي په مظروف کښې نوګویاچې دا استعاره ده،اوبعض فرمائی چې کلام کښې استعاره نیشته دي بلکه محمول دي په حقیقت باندی څکه چې فرعون دکهجوروتني سورئی کړي وي اودوئ ته ئې په هغې کښې پهانسي ورکړی وه،اوکهجورتي تخصیص ئې څکه اوکړو چې دَدي تنه ډیره اوږده اوغټه وي نواذیت ورسره ډیرمیلاویږي.

﴿وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَآ أَشَدُّ﴾ضمیردَجمع نه مراد دَفرعون خپل څان اوموسیٰ ﷺ وو، اوموسیٰ ﷺ خوچاته هم سزانوه ورکړي خوبیاهم دَفرعون داخبره کول یامحمول ده په استهزاء باندی چې ده په موسیٰ ﷺ پوري تو قي کولي اویامحمول ده پدي چې دده خیال داوو چې دي ساحرانوایمان راوړل دَموسیٰ ﷺ دَعصانه دَیریدلو په وجي سره دي اوداهم ممکنه ده چې دلته دَرب لفظ محذوف شي،اومرادتنه رب موسیٰ، شي یعنی ستاسوخیال دادي چې موسیٰ ﷺ باندی تاسوایمان راوړو نوعذاب نه بچ شوئ اومونږه ته به دَموسیٰ ﷺ رب عذاب راکوي دَایمان نه راوړلودَوجي نه، نو اوس به تاسوته په پته اولګي چې څوك سخت عذاب ورکوونکی دي،اودَدي تائیددَموسیٰ ﷺ تیرشوی قول ﴿فَيُسْحِتَكُم بِعَذَابٍ﴾نه هم کیږي،چې موسیٰ ﷺ اول دوئ الله تعالی دَعذاب نه یر ه ولي وو ،ددی تولودهمکیونه مقصددَفرعون ساحرانویره ول وو چې دوئ اویریږي او ایمان نه واپس شي لیکن هغوئ په ډیرشجاعت سره فرعون ته جواب ورکړوچې.

قَالُوۡا لَنۡ نُّؤۡثِرَكَ عَلٰى مَا جَآءَنَا مِنَ الۡبَيِّنٰتِ وَالَّذِىۡ

اوئیل دوئ هرګزنه غوره کوو مونږتا په مقابلې دهغه کښې چې راغلیدی مونږته د ښکاره معجزاتونه او په هغه ذات

فَطَرَنَا فَاقۡضِ مَاۤ اَنۡتَ قَاضٍ‌ؕ اِنَّمَا تَقۡضِىۡ هٰذِهِ الۡحَيٰوةَ الدُّنۡيَا ؕ‏ ۝۷۲

چې مونږئې پیدا کړی یو پس کوه ته هغه چې ته کوو نکی ئې[1] بیشکه ستاحکم چلیږي په دې ژونددنیوي کښې

اِنَّاۤ اٰمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَـغۡفِرَ لَنَا خَطٰيٰنَا وَمَاۤ

بیشکه مونږ ایمان راوړی دې په رب خپل باندی ددې دپاره چې بخښنه وکړي مونږته دګناهونوزمونږ او هغه سحر

اَكۡرَهۡتَنَا عَلَيۡهِ مِنَ السِّحۡرِ‌ ؕ وَاللّٰهُ خَيۡرٌ وَّاَبۡقٰى‏ ۝۷۳ اِنَّهٗ مَنۡ يَّاۡتِ

چې تازبردستي کړیده په مونږ دهغې په باره کښې او الله ﷻ ډیرغوره دې او همیشه دې[2] بیشکه څوک چې راشي

رَبَّهٗ مُجۡرِمًا فَاِنَّ لَهٗ جَهَنَّمَ‌ ؕ لَا يَمُوۡتُ فِيۡهَا وَلَا يَحۡيٰى‏ ۝۷۴ وَمَنۡ يَّاۡتِهٖ مُؤۡمِنًا

رب خپل ته مجرم پس بیشکه ده لره جهنم دې، نه به مري په هغې کښې او نه به ژوندې وي[3] او څوک چې راشي هغه ته مؤمن

قَدۡ عَمِلَ الصّٰلِحٰتِ فَاُولٰٓـئِكَ لَهُمُ الدَّرَجٰتُ الۡعُلٰى ۝۷۵ جَنّٰتُ عَدۡنٍ

حال داچې نیک عملونه ئې کړي وي نودغه خلک دوئ لره درجې اوچتې دی جنتونه دهمیشه استوګنې

تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَا‌ ؕ وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا مَنۡ تَزَكّٰى ۝۷۶

بهیږي به لاندې دهغې نه نهرونه همیشه به وي دوئ په هغې کښې او دابدله ده دهغه چاچې ځان ئې پاک ساتلی وي

(1) علت دپاره دماقبل
(2) تخویف اخروی
(3) بشارت اخروی

﴿قَالُواْ لَن نُّؤْثِرَكَ عَلَىٰ مَا جَآءَنَا ﴾ساحرانو فرعون ته اووئيل چې حق مونږ ته معلوم شويدې. او مونږ به خپلو سترګو کتلي دې نو اوس مونږ ايمان هرګزنه پريدو اوکه ته څه کوي نو کوه ستاسزا صرف دنياپوري محدوده ده، "ايشار"، نه مراد په فرعون باندې ايمان راوړل وو، او﴿مَا جَآءَنَا مِنَ ٱلْبَيِّنَٰتِ﴾ نه مراد يامعجزې وي دَموسىٰ عليه السلام چې هغه دال وي په صدق دَموسى عليه السلام باندې،اونسبت دَمجئ،دوئ خپل ځان ته اوکړوچې دامعجزات مونږته راغليدې حالانکه دامعجزات دوئ ته هم ووا وغيردَدوئ نه نوروخلکولپاره هم وو، خوهرکله چې دوئ زيات پوهيدونکي ووپه معجزې اوسحرباندې اودوئ ته علم يقيني حاصل شوېدې چې موسىٰ عليه السلام ساحرندې بلکه نبي دې اوعام خلک مقلدين وو دَدوئ، اودغه شان نفع هم پدې معجزاتوسره دوئ ته ميلاؤشوه نوځکه دوئ ځان ته منسوب کړې چې دامونږ ته راغليدې اوبعض فرمائى چې﴿مِنَ ٱلْبَيِّنَٰتِ﴾، نه مراد هغه منازل دى چې کوم دوئ په سجدې کښ کتلى وو(فتح).

﴿وَٱلَّذِى فَطَرَنَا ﴾غوره قول دادې چې واودَعطف دې اوداجمله عطف ده په ماقبل يعنى ﴿مَا جَآءَنَا ﴾باندې اودَ﴿لَن نُّؤْثِرَكَ ﴾تحت واقع شويده، نودَايت مقصد دادې چې مونږه تا،نه غوره کووپه مقابلې اوبدلي دهغه ذات کښ چې مونږ ئي پيداکړي يو،نوګوياچې دوئ فرعون ته دليل عقلي بيان کړو په توحيداوپه ايمان باندې اوبعض فرمائى چې واوقسميه دې اوداقسم دې اوجواب قسم ئى مقدم ﴿لَن نُّؤْثِرَكَ ﴾دې يعنى زمونږ دې قسم وي په غه ذات چې مونږه ئى پيداکړي يو مونږه هرګزتانه غوره کوو،(مدارك) اوصاحب دَبحرفرمائى چې جواب قسم دې دپاره محذوف دې چې ﴿لَن نُّؤْثِرَكَ ﴾دې ځکه چې جواب قسم په لن سره په نفي کښ نه راځي البته دَضرورت شعري دَوجې نه کله کله راشي خوهغه شاذدې (بحر).

﴿فَٱقْضِ مَآ أَنتَ قَاضٍ ﴾دادَهغوئ دَطرف نه دَفرعون دَدهمکيانوجواب دې چې ته زمونږسره دَڅه عمل کولواراده لري هغه کوه زمونږ پرواه نيشته دې، نوغوره خبره داده چې﴿فَٱقْضِ﴾ په معنى دَاصنع سره دې اوماموصوله ده په معنى دَالذى سره دې،اوداپه محل دَنصب کښي مفعول

به واقع شويدې لپاره "اقض"فعل، او ﴿أَنتَ قَاضٍ﴾ ورله صله ده، اوعائدئې محذوف دې ای ماانت قاضيه، اوبعض فرمائى چې قضا، په خپلې معنٰى يعني فيصلې سره دې نوپدې صورت كښې انت قاضٍ، جمله به معفول مطلق وي اومفعول به به نوي ځكه چې دَباب قضا، په مفعول باندى باء داخليدل ضرورى دى، ﴿إِنَّمَا تَقْضِى هَٰذِهِ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَآ﴾ دااوراتلونكى ايت دَماقبل ﴿فَٱقْضِ﴾ لپاره دليل اوعلت دې، يعني ته چې څه كوي هغه كوه ستازور اوفيصله به صرف پدې دنيا كښې چليږي اوآخرت كښې دې څه زوراوفيصلې نه چليږي.

﴿هَٰذِهِ ٱلْحَيَوٰةَ﴾ دامنصوب دې بنابرظرفيت ﴿إِنَّآ ءَامَنَّا بِرَبِّنَا﴾ يعنى كوم ګناهونه چې مونږ كړيدي اوخاص طورسحرچې په هغې باندى تامونږه مجبوركړي وودَايمان په ذريعي اوبركت سره زمونږ رب به مونږته دَهغې معافي اوكړي، اودَالله ﷻ ثواب اواجرډيراعلى اوارفع دې.

﴿وَمَآ أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ ٱلسِّحْرِ﴾ پدې باندى اشكال كيږي چې ساحران خوپه خپلې خوشحالئ سره راغلي وو ځكه چې دوئ دَفرعون نه دَمال اوعهدې مطالبه كړي وه چې وئيلې وو، "اِئنّالنااجراً"، نومعلومه شوه چې ساحران دَمال اوعهدې په لالچ كښې په خوشحالئ سره راغلي وو اومجبوره كړې شوي نوو، نوڅرنګې دوئ اوئيل چې ﴿وَمَآ أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ ٱلسِّحْرِ﴾ جواب تنه په متعددو وجوه سره شويدې (۱) بعضوتنه داجواب كړيدې چې فرعون به څني خلك دَسحرپه تعليم او،زده كړي باندى مجبوره كولونوكله به چې هغه كسان بوډاګان شونوبيابه ئې نورځوانان پدې كارباندى مجبوره كول چې اولاً به ئې تعليم دَسحرحاصل كړومجبورا اوبيابه ئى تعلم باندى مجبوره كولوثانيا، نوځكه ئى اوئيل چې ﴿وَمَآ أَكْرَهْتَنَا﴾ (كبير).

(۲) بعض فرمائي چې فرعون دوئ په مقابلې باندى مجبوره كړى وو، ځكه چې ساحرانودَفرعون نه درخواست اوكړو چې مونږته موسىٰ عليه السلام دَاوده والې په حالت كښې اوښايه يعني چې دې اوده وي نوبيائى مونږ ته اوښايه، نويوځلې موسىٰ عليه السلام اوده وو نوفرعون ساحرانوته اوخودلونوهغوئ دَموسىٰ عليه السلام عصااوكتله چې دَموسىٰ عليه السلام پهره ئى كوله نوهغوئ فرعون ته اوئيل چې داسحرندې اوموسىٰ عليه السلام ساحرندې ځكه ساحرچې كله اوده شي نودَهغه سحرهم ختم شي اودلته خوموسىٰ عليه السلام اوده دې اوعصادده چوكيدارى كوي نودې

ساحرندې اومونږده سره مقابله نه کوو ليکن فرعون په مقابلي کولوباندی مجبوره کړلو(کشاف،کبيره وغيره) اوباقی داکلام دَهغوئ چې انّالنااجرا الخ مخکښې دَمعرفت دَهغوئ نه وو، چې هغوئ ته چې کوم وخته پوري معرفت نوو حاصل شوې نودامذکوره کلام ئی کړې وو اوچې کله ئې دَموسیٰ عليه السلام پيغمبري اوپيژندله نوبياانکاراوکړو او فرعون مجبوره کړو﴿وَٱللَّهُ خَيْرٌ﴾ يعنی الله تعالیٰ ډيرغوره دې دَجهته دَثواب نه چې څوك ئې اطاعت اوکړي وابقیٰ اوچې څوك ئې نافرماني اوکړي نوبيائي عذاب هم دائمي اوسخت دې، اوداکلام دَساحرانودَفرعون دَهغې کلام په جواب کښې اوکړو چې هغه اوئيل﴿وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَآ أَشَدُّ﴾.

فائده: فرعون دوئ ته سزاورکړې وه اوکه نه ئی ورکړې؟ پديکښې دَمفسرينواختلاف دې،بعض فرمائی چې فرعون دوئ ته په سزا ورکولوباندی نووقادرشوې دليل ئی دادې چې الله تعالیٰ موسیٰ عليه السلام اوهارون عليه السلام ته اوفرمائيلوچې، انتما ومن اتّبعکما الغالبون(القصص: ۳۵) ليکن راجحه اوغوره خبره داده چې فرعون دوئ ته داسزاورکړې وه دليل دادې چې دوئ دعااوغوختله،ربّنا افرغ علیناصبرا وّتوفّنا مسلمين(عراف) اودغه شان حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه مروي دی اصبحوا سحرة وامسوا شهداء(ابن کثير) اودغه شان قول دَحضرت قتادة رحمه الله نه هم مروي دې چې هغه فرمائی کانوا اول النهارسحرة وفی آخره شهداء بررة اوباقی انتماومن اتبعکماالغلبون، نو غلبه مستلزم نده عدم شهادت لره دَبعض افرادو، څکه چې حضرت آسيه هم دَمتبيعنو دَموسیٰ عليه السلام نه وه اودهغې شهادت قطعي دې،اوپه نص قرآني سره ثابت دې، اودغه شان غلبه کښې داضروری نوي چې دَمعرکي په ابتداء کښې دي فتحه حاصله شي، بلکه غلبه عبارت دې په انجام کارکښې دَدشمن دَهلاکت اودَهغه دَمتبعينودَهلاکت نه﴿إِنَّهُۥ مَن يَأْتِ﴾ داياکلام دَساحرانو دې اوياادخال الهي دې،اوپدي کښې تخويف اخروي ذکرکيږي، او(ه)ضميرشان دې، او﴿مُجْرِمًا﴾ حال دې دَضميردَ﴿يَأْت﴾نه اومجرم نه مراد هغه څوك دې چې متصف وي په اعلیٰ اواقویٰ درجي دَجرم سره چې هغه کفردې،نولهذا دَمجرم نه مراد کافراومشرك دې،(مدارك) (طبری) او﴿يَأْت﴾ يعنی اتيان نه مراد خاتمه علی الکفرده(العياذبالله) يعنی چې څوك پداسي حالت کښې مړشي چې

مجرم او کافروي نو﴿فَإِنَّ لَهُۥ جَهَنَّمَ﴾(خازن) ﴿لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ﴾دا کنایه ده دډیربد او سخت حالت نه چې جهنمیان به په ډیربدترین حالت کښ وي چې نه به مره کیږي چې دمرګ په ذریعې سره دعذاب نه نجات ورته میلاؤشي اونه به په ژوندسره څه فائده حاصلولی شي،نو دا اعتراض نه واردیږي چې داخو ارتفاع النقیضین ده ځکه چې جسم به یا حي وي اویا به میت وي.

﴿وَمَن يَأْتِهِۦ مُؤْمِنًا﴾دا بشارت اخروي دې﴿قَدْ عَمِلَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ﴾پدیکښ اشاره ده استقامت ته په ایمان باندی﴿ٱلدَّرَجَٰتُ ٱلْعُلَىٰ﴾پدیکښ اشاره ده چې په جنت کښ ډیر درجات او منازل دی، او دجنت درجات څومره دي؟ قرآن کښ تصریح نیشته او احادیث پدي سلسلي کښ دوه(۲)قسمه راغلیدي څني احادیثو کښ دجنت درجات سل(۱۰۰)خودلی شویدی لکه په روایت دحضرت ابوهریرة رضي الله عنه کښي چې نقل کړیدې امام بخاري رحمه الله په کتاب الجهاد باب درجات المجاهدین فی سبیل الله کښي، اودغه شان په روایت دعباده بن صامت کښ اوپه روایت دابوسعید الخدری رضي الله عنه کښ هم دي چې ذکر کړیدې حافظ ابن کثیر رحمه الله، لیکن په یوبل روایت چې دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه مروي دې چې نقل کړیدې امام ترمذی رحمه الله په ابواب فضائل القرآن باب انّ الّذی لیس فی جوفه من القرآن الخ کښ چې يقال يعنی لصاحب القرآن اقرأ وارق ورتل کماکنت ترتل فی الدنیا فان منزلتك عند آخر آیة تقرؤها،نو ددې نه معلومیږي چې دجنت درجات دقرآن دایتونو دتعداد موافق دی،ددې تعارض دحل دپاره محدثینو مختلف رائ پیش کړیدی لیکن په ټولو توجیهاتو کښ غوره توجیه دحضرت شیخ الحدیث مولانا زکریا رحمه الله المدنی والاده، هغه فرمائی چې درجات دوه(۲)قسمه دی یو درجات کبار،اوبل درجات صغار،نو دسلو(۱۰۰)والا روایت محمول دې په درجات کبار باندی اودقرآنی آیاتو تعداد موافق والا روایت محمول دې په درجات صغار باندی،او دا هم ممکنه ده چې(۱۰۰)نه مراد عدد خاص نوي بلکه مراد تنه کثرت وي(والله اعلم).

﴿جَنَّٰتُ عَدْنٍ﴾دا بیان دې د﴿ٱلدَّرَجَٰتُ﴾دپاره اویا تنه بدل دې﴿تَجْرِى﴾ من داحال دې د﴿جَنَّٰتُ﴾ نه اوتحتها، نه مراد لاندې دغرف اودبنګلو نه دې تفصیل ئی تیر شویدې،﴿وَذَٰلِكَ جَزَآءُ مَن تَزَكَّىٰ﴾ ذلك مبتداء ده اومشار الیه ورله ماقبل کښ مذکور اجراو ثواب دې، او﴿جَزَآءُ مَن﴾

ورله خبردې، او ﴿تَزَكّٰى﴾ نه مراد دادې چې خپل ځان د شرك د پليتئ نه پاك كړي او د الله ﷻ بندګي او د رسولانو اتباع اختيار كړي (ابن كثير).

وَلَقَدْ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِى فَٱضْرِبْ لَهُمْ طَرِيقًا فِى ٱلْبَحْرِ يَبَسًا
او بيشكه وحي اوكړه مونږ موسى ته چې د شپې بوځه ته بندګان ځما پس مقرر كړه دوئ د پاره لار په درياب كښې اوچه
لَّا تَخَٰفُ دَرَكًا وَلَا تَخْشَىٰ ﴿٧٧﴾ فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُودِهِۦ
نه به يريږې ته د لاندې كولو نه او نه به يريږې د غرق كيدلو نه، پس ورغلو په دوئ پسې فرعون د خپل لښكرو سره
فَغَشِيَهُم مِّنَ ٱلْيَمِّ مَا غَشِيَهُمْ ﴿٧٨﴾ وَأَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهُۥ وَمَا هَدَىٰ ﴿٧٩﴾
پس راګير (غرق) كړو دوئ د درياب نه هغه څه چې دوئ ئې پټ كړل، او بې لارې كړو فرعون خپل قوم او هيڅ لاره ئې نه وه خودلې دوئ ته

﴿وَلَقَدْ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ﴾ د دې ځائ نه د واقعې پنځم مقام شروع كيږي په دې كښې د بني اسرائيلو نجات او د هغوئ دشمن فرعون غرق كيدل او هلاك كيدل ذكر كيږي. هركله چې موسىٰ عليه السلام او هارون عليه السلام فرعون او د هغه په متبعينو باندې حجت تام كړو مختلف قسم معجزات ئې ورته ظاهر كړو خو بيا هم هغوئ ايمان نه راوړلو او په بني اسرائيلو باندې ئې ظلم نه پريخودلو، نو الله ﷻ د فرعون هلاكت او د بني اسرائيلو د نجات اراده اوكړه نو موسىٰ عليه السلام ته ئې حكم اوكړو چې بني اسرائيل د ځان سره كړه او د شپې د دې علاقې نه روان شه، په لاره كښې به تاسو ته درياب قلزم راځي ليكن هغه به ستاسو په سفر كښې حائل او ركاوټ نوي ته خپله عصا هغې راپريده نو هغه كښې به دولس (۱۲) او چې لارې جوړې شي.

او تاسو مه د فرعون نه يره محسوسه وئ او نه د غرق كيدلو فكر كوئ او لام په ﴿وَلَقَدْ أَوْحَيْنَآ﴾ كښې موطئه للقسم دې، او آن مفسره دې چې تفسيرئې د مايوحى اليه، كړيدې، اَسرِ، وئيلې كيږي د شپې بوتللو ته، او د شپې وخت كښې سفر كولو حكمت يو داوو چې د شپې په وخت كښې زمكه او سفرلنډ او مختصر كيږي كماورد فى بعض الاحاديث، او بل د دې وجه نه چې بني اسرائيل په دغه وخت كښې غلامان وو او د فرعون دبدبه او رعب ورباندې سورو و، نو د دې وجه نه د شپې

وتلوحكم ورته اوشوچې په رنړاكښې ئي فرعون اودَهغه لښكراونه گوري﴿فَاضۡرِبۡ لَهُمۡ﴾ ضرب په صلې كښې چې كله لام راشي نوعام طورپه معنیٰ دَجعل، اومقرركولوسره وي لكه عرب وائي ضرب له في ماله سهما، يعنی دَهغه دپاره ئي په مال كښې حصه مقرره كړه، نولهذا دَايت مقصد داشوچې جوړي كړه ته دوئ لره په درياب كښې اوچې لاري، اوبعض فرمائي چې دَاضرب لپاره مفعول به مقدردې چې هغه البحردې، او﴿طَرِيقًا﴾مفعول به دَفعل محذوف دَپاره، اوجارمجرور(لهم) متعلق دې په فعل محذوف پوري،چې يصيردې، نواصل كښې داسې دې،اضرب البحرليصيرلهم طريقا(روح)اوطريقااسم جنس دې اطلاق په قليل اوكثيرپه تولوباندې كيږي﴿يَبَسًا﴾مصدردې حمل ئي په﴿طَرِيقًا ﴾باندې مبالغة دې، اويايَبَسًا، په سكون دَباء سره دې چې جمع ده دَيابس، لكه صحبٌ جمع دَصاحب ده، اودا اول سبب دې دَامن چې الله ﷻ دوئ لپاره لاري اوچې كړې وې چې دَسمندرنه جوړي شوې به پدغه لاروكښې نه اوبه وي اونه خټه﴿لَّا تَخَٰفُ دَرَكًا ﴾دادويم سبب دَامن دې چې فرعون به تاسوگرفتاركولې هم نشي څه به ستاسواودَهغه په مينځ كښې تاخيرحائل اوگرزوم (كبير).

﴿وَلَا تَخۡشَىٰ ﴾دريم سبب دَامن دې چې تاسوبه په اوبوكښې هم نه غرق كيږئ داوبودَغرق كيدلونه بې فكره شئ﴿فَأَتۡبَعَهُمۡ فِرۡعَوۡنُ﴾ دافرعون دَهلاكت ذكركيږي، حضرت موسیٰ عليه السلام اوهارون عليه السلام بني اسرائيل دَشپې په تياري كښې دَمصرنه روان كړل شام طرف ته،دَمصرنه شام ته دوه(۲)لاري تللي وې يوه لاره په اوچې وه اوهغه نزدې هم وه اودويمه لاره دَلمدې(بحري)وه اوهغه اوږده هم وه الله ﷻ دَخپل حكمت بالغه په اعتبارسره موسیٰ عليه السلام ته حكم اوكړوچې بني اسرائيل په اوږده اوسمندري لاره باندې بوځه، موسیٰ عليه السلام ديرخفيه طريقې سره بني اسرائيل دَشپې په توري تياري كښې روان كړل، دَفرعون عملې دَشپې شپې فرعون ته اطلاع وركړه چې بنی اسرائيل تښتي اومصرپريدي نوفرعون فوري طوربو، زبردست لښكرتياركړواودَبني اسرائيلو تعاقب دَپاره اووتلو،سهارچې رنړاكيدلونوفرعونيانوبني اسرائيلوته نزدې شوي وو اودَبنی اسرائيلومخې ته بحرقلزم وو، نومخ ته سمندراوشاته دشمن وو، بنی اسرائيل پدې وخت كښې

بريريشانه شو اوموسی الطَیّن ته ئي اوئيل چې، انالمدركون، چې بس مونږه گرفتارشو. موسیﷺ دوئ ته تسلي وركړه چې انّ ربّی معی سیهدین، چې ځما رب ځما سره دې. اوهغه به ځماامداد اوكړي اوماته به بندي لاري خلاصي كړي.موسی الطَیّن دالله ﷻ په حكم سره خپله عصاسمندرله راپريخوه نوالله ﷻ سمندرپاوچ كړو اودولس(۱۲)لاري پكښ جوړي كړي.بنی اسرائيل صحيح سلامت پدي لاروباندی پوري شول،په دوئ پسي ورستوفرعون اودهغه لښكرهم راغی اودسمندردي لاروته راكوزشولو چې كله دبنی اسرائيلوآخيری كس دسمندرنه بهرشو، اودفرعونيانوآخيری فرد سمندرته داخل شونوپدي وخت كښ الله ﷻ سمندرجاري كړواوفرعون دلښكرسره الله ﷻ هلاك كړو.

﴿فَأَتْبَعَهُمْ ﴾باب افعال دې "هم" ضميرمفعول اول او﴿بِجُنُودِهِۦ﴾.كښ باء په معنٰی دمع ده اوتبع كله مفعول واحدته متعدي كيږي اوكله مفعولين ته، مفعول واحدته متعدي كيدلومثال لكه چې په سورة اعراف ايت نمبر(۱۷۵)كښ دی، "فاتبعه الشيطن" دې.دلته هم صرف يومفعول ته متعدي دې، اوياباء زائده ده په بجنوده، كښ اوجنود مفعول ثانی دې ﴿فَغَشِيَهُم مِّنَ ٱلْيَمِّ ﴾ابهام لپاره دتعظيم اودډيرهيبت دې يعني چې كوم سمندرچې دوئ پټ كړلو اودوئ غرق كړل دهغې كيفيت اوشدت سيوادالله ﷻ نه بل چاته ندې معلوم دهغې نه بس يوالله ﷻ خبردې،(كشاف، مدارك). ﴿وَأَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهُۥ ﴾يعني دين په معاملي كښ فرعون خپل قوم گمراه كړو چې په دوئ باندی ئی خپل عبادت كولواونسبت داضلال فرعون ته تسبيبادې نه خلقا﴿وَمَا هَدَىٰ ﴾ داياتاكيددې دماقبل اوردې دهغه كلام دفرعون چې خلكوته به ئی وئيل چې ومااهديكم الاّ سبيل الرّشاد، اوياتنه مراد نجات دې دهلاكت نه،يعني دهلاكت نه بچ كيدلولارورته ميلاؤنشوه(بحر).

يَٰبَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ قَدْ أَنجَيْنَٰكُم مِّنْ عَدُوِّكُمْ وَوَٰعَدْنَٰكُمْ جَانِبَ ٱلطُّورِ ٱلْأَيْمَنَ

اي اولاد ديعقوب بيشكه خلاص كړئ مونږه تاسو دډشمن دستاسونه اووعده كړې وه مونږ تاسوسره دخي طرف دكوه طور

وَنَزَّلْنَا عَلَيْكُمُ ٱلْمَنَّ وَٱلسَّلْوَىٰ ۞ كُلُوا۟ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقْنَٰكُمْ

اوراليږلي وومونږ په تاسوباندی من اوسلوی (اوئيل مونږه)خورئ پاك هغي نه چې مونږ دركړيدی تاسوته

وَلَا	تَطْغَوْا	فِيْهِ	فَيَحِلَّ	عَلَيْكُمْ	غَضَبِيْ	وَمَنْ	يَّحْلِلْ	عَلَيْهِ غَضَبِيْ

اوسرکشي مه کوئ په دې کښې کني نازل به شي په تاسو باندې غضب زما[1] او هغه څوک چې نازل شي په هغه باندې غضب زما

فَقَدْ	هَوٰى	﴿۸۱﴾	وَاِنِّيْ	لَغَفَّارٌ	لِّمَنْ	تَابَ	وَاٰمَنَ

نو بیشکه هغه هلاك شو[2] او بیشکه زه خامخا بخنه کوونکی یم هغه چاته چې توبه اوکړی او ایمان راوړی

وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدٰى ﴿۸۲﴾

او عمل اوکړی نیك بیا کلك روان وی په نیغه لاره (دین باندې).

﴿يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ﴾ دَفرعون دَهلاکت نه پس الله ﷻ په بني اسرائیلو باندې خپلو نعمتونو تذکره کوي لپاره دَدې چې دوئ کفر او سرکشي پریدي او په الله ﷻ باندې ایمان راوړي او دهغه اطاعت اوکړي او دلته لفظ دَقلنا ، مقدر دې ﴿قَدْ اَنْجَيْنٰكُمْ﴾ دالوئ منفعت دنیوی دې چې دَدشمن دَظلم نه نجات ، او دَغلامئ نه آزادي ورته میلاؤ شوه.

﴿وَوٰعَدْنٰكُمْ﴾ دا منفعت دیني دې او مراد پدې وعدې سره ورکول دکتاب وو چې په هغې کښې دَدوئ دَشریعت تشریحات او احکامات وو او دا وعده اگرچه صرف دَموسیٰ علیه السلام سره وه لیکن فائده زیاده ترقوم ته وه نو ځکه وٰعدنٰکم ، ذکرشو.

﴿وَنَزَّلْنَا عَلَيْكُمُ﴾ دا دریم انعام او منفعت ذکردې چې دَقید په حالت کښې هم الله ﷻ تاسو ته دَبهترین خوراك بندوبست کړې وو ، تفصیل ئې په سورة البقره وغیره کښې تیر شویدې.

﴿كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ﴾ امر چې کله حکایت واقع شي دَماضي نه نو هلته به قلنا ، مقدر وي نو دلته قلنا ، مقدر دې ای قلنا کلوا او مراد په ﴿طَيِّبٰتِ﴾ سره هغه خوراکونه دي چې طبعیت سلیمه او شریعت

(1) تخویف اخروی.

(2) بشارت اخروی

نې پسند (خوخه) کوي، چې لذيذ او حلال خوراکونه دی ﴿وَلَا تَطْغَوْا﴾ طغيان، په رزق کښې دادې چې په حرام طريقې سره او دَبل چانه په ظلم سره واخستلی شي دَدې وجه نه دَحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه ﴿وَلَا تَطْغَوْا﴾ تفسير په لايظلم بعضکم بعضاً فياخذه من صاحبه سره منقول دې. دغه شان دَطغيان او سرکشئ يوصورت دا هم دې چې دَرزق شکريه ادانه کړې شي، فضول او بې ځايه ځائ کښې استعمال کړې شي، غرور او تکبر پې اختيار کړې شي او دَالله تعالیٰ په معاصي او نافرمانيو کښې استعمال کړې شي او حقوق واجبه پکښې ادانه کړې شي او دغه شان بعضو پکښې تحريمات لغير الله او ذخيراندوزي هم ذکر کړيده دا ټول طغيان دې په رزق کښې (قرطبی، روح).

﴿فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِي﴾ دا جواب دَنهي دې حَلّ يا دَباب نصرينصر نه دې په معنٰی دَنزول سره، يعنی ځما غضب به په تاسو باندی نازل شی او يا دَضرب يضرب نه په معنٰی دَوجوب او لزوم سره دې ای يلزمککم غضبی ويزل بکم (فتح) ﴿وَمَن يَحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِي﴾ دا تخويف اخروی دې، او ﴿هَوَىٰ﴾ دَا اصل کښې وتيلی کيږي چې څوك دَاوچت غرنه اوغورزيږي او هلاك شي کنايه ده دَهلاکت نه (بحر) او بعض فرمائی چې فى النار، لفظ ددې نه ورستو مقدردې نو اصل کښې داسي دې فقدهوٰی فى النّار يعنی دې په جهنم کښې اوغورزيدلو (حداد) او بعض فرمائی چې ﴿هَوَىٰ﴾ په معنٰی دَوقع فی الهاوية سره دې (روح، شربينی، کبير) يعنی دې په هاويه کښې اوغورزيدلو ﴿وَإِنِّي لَغَفَّارٌ﴾ دا بشارت اخروی دې ﴿ثُمَّ ٱهْتَدَىٰ﴾ ددينه مراد مرتبه دَاستقامت ده چې ترمرګ وخته پوري په دين باندی مضبوط وي او خپل ځان دَشکوك نه بچ ساتي او سنت او جماعت باندی مستقيم وي (ابن کثير) او هرکله چې مرتبه دَاستقامت حاصليږي ورستو دَايمان او عمل صالح نه نو ددې وجه نه دَمرتبې دَاستقامت ذکر په ثمّ سره اوشو چې دا راځي دَپاره دَتراخي، او بعض فرمائی چې ثمّ، لپاره دَدلالت ده په هغې فرق باندی چې په مابين دَدوارو مرتبو کښې دې، چې مرتبه دَاستقامت اعلٰی ده دَمرتبې دَانابت، هدايت، او ربط قلبی نه.

وَمَآ اَعۡجَلَكَ عَنۡ قَوۡمِكَ يٰمُوۡسٰى ﴿۸۳﴾ قَالَ هُمۡ اُولَآءِ

اوځه خیزته په جلتئ سره رااوپستلي دَخپل قوم نه اې موسىٰ اوئیل موسىٰ دوئ دغه دی چې راروان دی

عَلٰٓى اَثَرِىۡ وَعَجِلۡتُ اِلَيۡكَ رَبِّ لِتَرۡضٰى ﴿۸۴﴾ قَالَ فَاِنَّا قَدۡ فَتَنَّا

په ماپسې اوزرراغلم ځه تاته اې ربه ځمادې دپاره چې ته راضي شې اوئیل الله جل جلاله پس بیشکه مونږ ازمیښت اوکړه

قَوۡمَكَ مِنۡۢ بَعۡدِكَ وَاَضَلَّهُمُ السَّامِرِىُّ ﴿۸۵﴾

په قوم ستاباندې ورستودَ اتلوستانه اوبې لارې (گمراه) کړو دوئ سامري

﴿وَمَآ أَعۡجَلَكَ عَنۡ قَوۡمِكَ﴾ دادَواقعي شپږم مقام دې، هرکله چې بني اسرائیلوته الله جل جلاله ازادي ورکړه نودَازاد قوم دَپاره یوقانون ضرورت وي، نوبني اسرائیلوهم دَموسىٰ علیه السلام نه قانون طلب کړو، دَحضرت موسىٰ علیه السلام په دعااودرخواست باندې الله جل جلاله موسىٰ علیه السلام ته حکم اوکړو چې دَقوم نقباء دَځان سره کړه اوکوه طورته راشه، مونږ به تاته تورات درکړو، حضرت موسىٰ علیه السلام دَخپل قوم مشران (نقباء) سره کوه طورته روان شو، حضرت موسىٰ علیه السلام دَالله جل جلاله سره دکلام اوخبرودَشوق دَوجې نه تادي (جلدی) اوکړه په تلوکښ اوقوم ته ئې وصیت اوکړوچې تاسوپه ماپسې راځئ اوخپله مخکښ لاړو، دَحضرت موسىٰ علیه السلام خیال داووچې قوم په ماپسې ورستو راروان دی خوقوم سامري گمراه کړې وو، موسىٰ علیه السلام چې کله کوه طورته حاضرشونوالله جل جلاله تنه تپوس اوکړوچې ﴿وَمَآ أَعۡجَلَكَ عَنۡ قَوۡمِكَ﴾ چې ته ولې دخپل قوم نه په تادئ راغلې نودَقوم نه مراد اویا (۷۰) تنه نقباء دي نودَتعجیل اوجلتئ نه مراد دَوخت اومیعادنه مخکښ حاضریدل ندی بلکه دَقوم نه وړمبی کیدل دي اودَدي سوال مقصد (بقول علامه آلوسي، وزمخشري) تنبیه وه موسىٰ علیه السلام ته چې ستادَمنصب اورسالت سره مناسب داوه چې ته دَقوم سره یوځائ راغلی وې اوعجلت دی نوی کړې اوعجلت اگرچه دیني کارکښ ممدوح دې خو دَدي عجلت نتیجه داشوه چې قوم گمراه شونوځکه الله جل جلاله پدې عجلت باندې تنبیه ورکړه اودغه شان پدیکښ اشاره ده دیته چې دَقوم مشردې دقوم پسې ورستوورستویاورسره یوځائ راځي، خوموسىٰ علیه السلام اعتذارپیش کړوچې قوم هم په ماپسې دې اوجلتي ماپه خپل اجتهادسره

کړي ده چې ستازياته رضامې حاصله وله. اوستادَرضادوام مي حاصلولو (روح) اويادَ﴿وَمَآ أَعۡجَلَكَ﴾نه مراددادې چې ته خوپه جلتئ سره راغلی دقوم نه. خوهغوئ دې په کوم حالت کښې پريخې دی نوقوم نه مرادټول قوم دې نوګوياچه دادوه(۲)سوالونه دی په حقيقت کښ.يودَنفس تقديم په باره کښ اوبل دَقوم دَحالت په باره کښ نوپېدې اعتباردَتعجيل نه مرادوقت مقرره اوميعاده مخکښ راتلل دي، اودَدې سوال مقصدموسیٰ عليه السلام ته دهغه دَقوم په باره کښ خبرورکول مقصوددوو ځکه چې موسیٰ عليه السلام دَخپل قوم دَحالت نه ناخبره وو اوداتوقع ئې لره له چې قوم په توحيداوايمان باندی قائم دې، حالانکه قوم په ګمراهئ اوشرك کښ مبتلاشوی وو. نوموسیٰ عليه السلام دَخپل علم مطابق جواب ورکړوچې هم﴿هُمۡ أُوْلَآءِ عَلَىٰٓ أَثَرِي﴾چې هغوئ ځماپه نقش قدم روان دی اوپه توحيداوايمان باندی قائم دې، اوځه دَوخت نه مخکښ ځکه راغلم چې ستازياته رضاحاصله کړم.

فائده: داسوال جواب په کومه موقعه کښ شوې وو،نواکثرمفسرين دافرمائی چې داپه ميقات اول کښ شوي وو،اوپه ميقات اول کښ په نوروسورتونوکښ مثلا په سورة آعراف کښ دَقوم ذکرنيشته دې چې دَقوم نقباء ته هم حکم شوې وي چې تاسوورسره لاړشئ خونفي ئې هم نيشته چې موسیٰ عليه السلام دَدې نه منع کړې شوې وي چې دَقوم کسان به دَځان سره نه بوځي، يعنی نه دَقوم دَتللوحکم ذکرشته اونه دَنه تللواودَدې ايت دَاشارة النص نه دامعلوميږي چې قوم ته هم دَتللو حکم شوې وو خوموسیٰ عليه السلام تنه مخکښ لاړواوقوم ګمراه شو،اوپه موسیٰ عليه السلام پسې نه لاړو،لکه څرنګه په اول توجيه کښ ذکردې، اودَدې وجه نه حضرت مولاناشبيراحمدعثمانی رحمه الله دَدې ايت په تفسيرکښ داسې ليکی:شايد قوم کے بعض نقباء کو ہمراہ لے جانے کا حکم ہو گا وہ ذرا پیچھے رہ گئے حضرت موسیٰ عليه السلام شوق محبت میں آگے بڑھے چلے گئے. اوهم دارائ دَحضرت شيخ القرآن رحمه الله هم ده.

﴿قَالَ فَإِنَّا قَدۡ﴾دااخباردې دَجانبه دَالله تعالیٰ نه موسیٰ عليه السلام ته،اودغوره قول مطابق دااخبار دَحضرت موسیٰ عليه السلام ته ورکړيدې چې په ميقات باندی شل(۲۰)ورځې تيری شوې وي نوقوم ګمراهئ کښ مبتلاشو اوالله تعالیٰ موسیٰ عليه السلام ته خبرورکړو اوياورستودَميقات نه الله تعالیٰ خبرورکړيدې چې ستاقوم په شرك کښ مبتلاشويدې،اوبعض علماء فرمائی چه دااخباردَقوم په ګمراهئ کښ مبتلاکيدلونه مخکښ وواودافتنه مترقبه په منزله دَمتحققه نازل کړې شويده

نوځکه تنه اخبارپه صیغو دَماضي سره کړې شوې دې اوفاء دپاره دَتعلیل ده یعنی ستاد عجلت اودَجلتئ دَوجي نه ستاقوم مونږپه یوازمائش کښ واچولو.اویافاء دَپاره دَتعقیب ده یعنی ته خودلته راغلي قوم ستادَراتلونه پس په یوازمائش کښ واچولی شواوسامری هغوئ ګمراه کړیدي، اواضلال فعل اوصفت دَالله ﷻ دې نسبت ئي سامري ته تسبیباً دې چې دهغه په دعوت سره دوئ ګمراه شولو.

امام بغوئ فرمائی چې بنی اسرائیل پدې وخت کښ شپږلاکه وو،دَ دولس(۱۲۰۰۰)زرو نه علاوه باقی ټول سامری ګمراه کړي وو.

فائده: سامری څوك وو؟ پدیکښ دَمفسرینو متعدد اقوال راغلیدي یوقول دادې چې سامری نوم موسیٰ ابن ظفروو، اودَه تعلق دَسمیری، قبیلی سره وو.اوداقبیله په اصل کښ عراق کښ آباده وه خودَدې قبیلې څه کسان مصرته راغلي وو اوهلته کښ ابادشوي وو چې په هغې کښې دَسامری خاندان خلك هم وو.اوبعض فرمائي چې دې قبطی وو، اوپه موسیٰ علیه السلام باندی ظاهرا ایمان راوړی وو اوپه حقیقت کښ کافر،منافق ووااوبعض فرمائي چې دې بني اسرائیلي وواودسامره، قبیلي سره ئي تعلق وو.اویوقول پکښ داهم راغلیدې چې دَموسیٰ علیه السلام دَترور(خاله)زوی وو، اودې هم بعینه په هغې زمانه کښ پیداشوې وو چې په کومه زمانه کښ فرعون دَبني اسرائیلو بچي قتلولو،نودَه موردَقتل دَیري نه دې دَځنګل په یوغارکښ واچولو،الله ﷻ حضرت جبرئیل علیه السلام دده په حفاظت باندی مامورکړو، اوحضرت جبرئیل علیه السلام به ده ته شهد،کوچ اوپېئ(شودې) راوړلي اوده ته به ئي ورکولي حتی که چې دې غټ شواو دَموسیٰ علیه السلام په ډله اوجماعت کښ داخل شواوځان ئي مسلمان ظاهره ولو خوپه حقیقت کښ کافروو،اودَموسی علیه السلام دَعدم موجودګئ نه ئي فائده واخستله اوبني اسرائیل ئي هم په کفراوشرك کښ مبتلاکړل اودَې وجه نه یوشاعراشعاروئیلی دی:

اذا المرأ لم یخلق سعیدا تحیّرت عقول مربیهِ وخابَ المؤمّلُ

فموسیٰ الّذی ربّاه جبرئیل کافراً وموسیٰ الّذی ربّاه فرعونُ مرسلُ

ترجمه:چې کله یوکس نیك بخت نوي پیداکړې شوې نودَهغه دَپالونکی(تربیت کونکی) عقلونه هم حیران شي اوده نه امیدلرونکی خلك محروم شي، پس هغه موسیٰ چې پاللی وو جبرئیل علیه السلام هغه کافرشو،اوهغه موسیٰ علیه السلام چې پاللی وو فرعون هغه رسول شو(روح).

فَرَجَعَ مُوسَىٰ إِلَىٰ قَوْمِهِ غَضْبَانَ أَسِفًا ۚ قَالَ يَٰقَوْمِ أَلَمْ يَعِدْكُمْ
نو واپس لاړو موسیٰ علیه السلام خپل قوم ته غصي نه ډك غمژن. اوئیل هغه اې قومه ځما آیا وعده نده کړي تاسو سره
رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا ۚ أَفَطَالَ عَلَيْكُمُ الْعَهْدُ أَمْ أَرَدتُّمْ أَن يَحِلَّ
رب ستاسو وعده خائسته آیا پس اوږده شوه په تاسو باندی وعده یا غواړئ تاسو چې نازل شي
عَلَيْكُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّكُمْ فَأَخْلَفْتُم مَّوْعِدِي ﴿٨٦﴾ قَالُوا مَا أَخْلَفْنَا
په تاسو باندی غضب دَستاسو رب دَطرف نه پس خلاف اوکړو تاسو دَوعدي ځمانه. اوئیل دوئ چې خلاف ندي کړي مونږه ستاد
مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا وَلَٰكِنَّا حُمِّلْنَا أَوْزَارًا مِّن زِينَةِ الْقَوْمِ
وعدي نه په خپل اختیار سره اولیکن را بار کړي شو په مونږ باندی بوج دکالو دَقوم دَفرعون نه
فَقَذَفْنَاهَا فَكَذَٰلِكَ أَلْقَى السَّامِرِيُّ ﴿٨٧﴾ فَأَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا
پس اوغورځولو مونږ هغه (په اور کښ) پس دارنګی اوغورځولو سامري. پس جوړ کړو هغه دوئ لره دسخی جثه
لَّهُ خُوَارٌ فَقَالُوا هَٰذَا إِلَٰهُكُمْ وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ فَنَسِيَ ﴿٨٨﴾
چې هغې لره اوازوو پس اوئیل دوئ چې دا معبود دې ستاسو او معبود دې دَموسی پس دَه (موسی) هیر کړیدې خپل رب

﴿فَرَجَعَ مُوسَىٰٓ﴾ هر کله چې موسیٰ علیه السلام میقات پوره کړو چې دا دَذیقعده پوره میاشته وه اولس (۱۰) ورځي دَذی الحجه وي، الله تعالیٰ ورته دَقوم دګمراه کیدلو خبرورکړو نو موسیٰ علیه السلام په ډيري غصي سره واپس شو، او دا غصه ئي دَالله تعالیٰ دَتوحید باندی دَغیرت په بنیاد وه، نو دَدینه معلومه شوه چې په معاصي باندی غصه او خفګان راتلل سنت دَانبیاء کرامو علیهم السلام دي ﴿غَضْبَٰنَ﴾ او ﴿أَسِفًا﴾ دواړه حالین مترادفين دي دَرجع دَضمیر نه، او یا متداخلین دي چې داثانی حال دي دَضمیر مستتر نه په اول کښ، ﴿غَضْبَٰنَ﴾ او ﴿أَسِفًا ۚ﴾ دواړه قریب المعنی دی

﴿غَضۡبَٰنَ﴾په معنى دَغصي سره. او﴿أَسِفٗا﴾په معنى دَشديدالغضب سره دي(مدارك، اويا﴿أَسِفٗا﴾ په معنى دَ حزين سره دي،صاحب دَبحردَامام ابن عطيهﷺ نه نقل كړيدى چې "غضب" هغه غصي اوتكليف ته وئيلى كيږي چې دَطاقتوراوقدرت والانه په كمزورى باندى وي. او﴿أَسِفٗا﴾هغې غصي اوحزن ته وئيلى كيږي چې دكمزوري نه په طاقتورباندى وى

﴿قَالَ يَٰقَوۡمِ ﴾نوموسىٰ‌عليه السلام چې كله خپل قوم دَخسي(عجل)په عبادت باندى اوكتلونوورته ئي اوفرمائيلوچې آياستاسورب دَتاسوسره يوه خائسته وعده نوه كړې؟ تاسودومره زرهغه وعده هيره كړه؟ اوكه ياموډَ اللهﷻ دَعذاب نازليدلو اراده اوكړه؟ چې دَاللهﷻ عذاب درباندى نازل شي، نواستفهام په﴿أَلَمۡ يَعِدۡكُمۡ ﴾كښ لپاره دَانكارتوبيخي دي. اواستفهام انكاري په معنى دَنفي سره وي، او﴿أَلَمۡ﴾هم دَنفي دَنفي دَپاره دې،نونفي چې په نفي باندى داخله شي نواثبات فائده كوي نوداكلام مثبت شوپه طريقي ابلغي سره ،او﴿وَعۡدًا حَسَنًا ﴾نه مراد يادَاللهﷻ اطاعت باندى ثواب اوجنت دې، نودَايت مقصددادي چې تاسودَاللهﷻ هغه خائسته وعده چې جنت دې هغه موهيره كړو، اوكنه ياخوقصداً مخالفت اوكړو اودَاللهﷻ عذاب ته دَدعوت وركولواراده خواوكړه، اويا دَ﴿وَعۡدًا حَسَنًا ﴾نه مرادهغه عهددې چې په ايت نمبر(۸۱)كښ تيرشويدي چې﴿وَلَا تَطۡغَوۡاْ ﴾يعنى اللهﷻ تاسونه عهداخستى وو چې په تاسو باندى به انعامات كوي خوتاسوبه سركشي نه كوئ، كفراوشرك به نه اختياره وئ، نوآياتاسودغه عهددومره زرهيركړو اوكه ياخودَاللهﷻ غضب نازليدلو اراده اوكړه،ليكن اكثرمفسرين فرمائي چې دَ﴿وَعۡدًا حَسَنًا ﴾نه مراد وعده دَتورات وركيدلوده، يعني مونږسره اللهﷻ وعده كړې وه چې تاسوله به تورات دركوم نوتاسودومره انتظارهم اونكړو چې څه راغلى وى اوتاسوته مي تورات راوړى وى دَدي وجه نه چې موده ډيره تيره شوه اوستاسونه داوعده هيره شوه اوكه ياخودااراده اوكړه چې دَاللهﷻ غضب درباندى نازل شي.

﴿قَالُواْ مَآ أَخۡلَفۡنَا ﴾دااعتذاردې دَجانبه دَقوم نه يعنى قوم موسىٰ‌عليه السلام ته عذرپيش كړو چې دَسخي عبادت مونږ په خپل اختيارسره ندې كړې بلكه سامرى داسي چالاكي اوكړه چې مونږبه

اختياره كفراوكړو﴿بِمَلْكِنَا﴾كښې اضافت دَملك ـنا ـضميرته اضافت دَمصدرفاعل ته دې اومفعول ئې محذوف دې اى بملكنا امورَنا.

﴿وَلَٰكِنَّا حُمِّلْنَآ ﴾دابيانې دې دَخپلې بى بسئ اودَمجبورئ. چې كوم كالي مونږ دَفرعون دَقوم نه راوړي وو نوهغه مونږه په مشوري سره اورته اوغورځولواوسامري هم اوغورځولونوبيائې تنه داسخې جوړكړلواواوئيل ئې چې داستاسوخدائ دې چې موسىٰ ﷺ په غره كښې لټوي (العياذ بالله)﴿أَوْزَارًا ﴾دَدينه مرادهغه زيورات دي چې دوئ دَقبطيانونه په استعاري اودَواده په بهانې غوختلې وو اوواپس كړې ئې نوو، چې تفصيل ئې سورة اعراف كښې تيرشويدې، او﴿حُمِّلْنَا﴾ كښې دوه قراته دى يو قرأت په تشديدسره دَمزيدودې صيغه دَمجهولې ده اوفاعل ئې موسىٰ ﷺ دې چې ندې ذكركړې شوې ځكه چې دوئ داموسىٰ ﷺ په حكم سره راخستې وو،نومعنى به ئې داشي چې په ډيرتكليف سره مونږ باندى باركړې شوې وو اوبل قرات دَمجردو حَمَلنا دې يعني په فتحې دَحاء اوميم سره دې صيغه دَمعلوم ده يعنى مونږ ځان سره راباركړي وو﴿أَوْزَارًا﴾ جمع دَوزرده په اصل كښې، بوج، ته وئيلى شي اوپه اصطلاح دَشرع كښې اطلاق ئې په ګناه باندى هم كيږي، نودلته تنه يامرادمعنى لغوى ده يعنى بوج اووزر ئې ورته ځكه اوئيل چې دا زيورات ډيرزيات وو اودرانه وو نودَدې وجه اوزارورته اوئيلى شو اوياتنه مراد ګناه دې، اودې زيوراتوته اوزارځكه اوئيلى شوچې ياخوداغالباسبب دَګناه ګرځي ځكه چې پدې سره اكثرخلك فخراوغروراوتكبركوي،اويادَدې وجه نه ورته اوئيلى شو چې داسبب دَګناه دَدوئ دپاره ګرزيدلى وو،اويادَدې وجه نه چې دوئ دادَفرعونيانونه په عاريت غوختلى وو او چې داامانت وو دَدوئ سره خودوئ بياواپس نكړونوګوياچې دوئ په خپل خيال كښې ګناه دَخيانت اوكړونوځكه ئې ورته ﴿أَوْزَارًا﴾اوئيلو ، داقول ډيرغوره دې، اوبعضې فرمائى چې دازيورات هغه وو چې فرعونيانودَځان سره راخستى وو په غاړه ياپه لاسونوكښې ورسره وو، نوچې كله الله ﷻ فرعونيان هلاك كړل نوزيورات تنه بنى اسرائيلوبطورمال غنيمت واخستلو، اومال غنيمت استعمال دَمخكښيو امتونو دَپاره حلال نوو اودوئ استعمال كړې وو دازيورات، نوځكه ئې ورته اوزار اوئيلو،

﴿فَقَذَفْنَٰهَا﴾في النار. ورسره مقدردي يعنى مونږه په اورکښ اوغورځولو. اودغه شان سامري هم خپله حصه زيورات په اورکښ اوغورځولو، اووجه ئي داوه چې ساري دوئ ته مسئله بيان کړه چې دَدي زيوراتو استعمال ستاسو دَپاره جائزندي ځکه چې داياما غنيمت دي اويا په خيانت سره اخستلي شويدي.نو داپه اورکښ غورځوئ.اوابن کثير رحمه الله په يوروايت کښ دانقل کړيدي چې دازيورات دَهارون عليه السلام په حکم سره دوئ اورته غورځولي وو.

﴿فَأَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا﴾سامرى دَدغي زيوراتونه بني اسرائيلوله سخي شکل جوړکړو. اوپه هغه سخى کښ دَحضرت جبرئيل عليه السلام دَ اس دَخپوخاوره واچوله،کله چې فرعون غرق کيدلونوکلمه ئي اوئيله حضرت جبرئيل عليه السلام په يواس باندى سورراغى اوخته ئي راواغستله اوفرعون ئي په خله کښ اويشتلو،نوسامري دَحضرت جبرئيل عليه السلام دَاس دَخپوخته راواغستله اوهغه ئي پدي خسي کښ واچوله،په هغي خته کښ الله جل جلاله داتاثيرايخي وو، اودهغي خاوري برکت وو چې هغه سخى به اوازونه کول،بابا به ئي کولو ،اوبعض فرمائي چې خاوره ئي هم اچولې وه ليکن اوازئي دَخاوري دَوجي نه نه کولوبلکه ددي سخي په شکل اوصورت کښ ئي داسې سوري پريخي وو چې په هغې کښ به هوادننه کيدله اووتله، نوهغې به دَسخي پشان اوازونه کولو، (کبير)اوداد الله جل جلاله دَطرف نه په دوئ باندى امتحان وو، او﴿جَسَدًا﴾بدل دي دَ﴿عِجْلًا﴾نه اوغوره قول دادي چې داصرف اوصرف صورت اوجسددَعجل وو اوحقيقة عجل نوو، اگرچه بعضى مفسرين دافرمائي چې داحقيقة عجل وو(والتفصيل فى الكبير).

﴿فَقَالُوا هَٰذَا﴾يعني سامري اودهغه متبعينواوئيل چې ستاسواودَموسى عليه السلام خدائ داعجل دي، نوپه ضميردَجمع کښ اشاره ده چې دَسامري سره نورملگري هم وو،اوهغوئ څومره وو؟ نوپدي اتفاق دي چې حضرت هارون عليه السلام دَسخي عبادت نووکړې اوباقى څومره کسانو کړې وو نودَحضرت حسن بصرى رحمه الله نه روايت دي چې ټولوکړې وو ځکه چې موسى عليه السلام دعائي مغفرت صرف دَخپل رور دَپاره کړيده،ربّ اغفرلى ولاخى، کچرته بل څوک مؤمن وي نوموسى عليه السلام به هغه هم په دعاکښ شريک کړې وو،ليکن دَجمهورومسلك دادي چې دَحضرت هارون عليه السلام سره نورهم ډيرکسان وو چې هغوئ عبادت دَسخي نووکړې،په دليل دَدي قول دَالله جل جلاله سره چې ومنهم امة يهدون بالحق وبه يعدلون، نودَهغوئ تعداد اکثرفرمائي چې دولس

اوذريعه دګمراهئ ده،نه دهدايت اودامقصد ندې چې ددوئ ګمراهي صرف په عجل سره وه اوپه بل شي سره نوه(روح، فتح).

﴿وَإِنَّ رَبَّكُمُ ٱلرَّحْمَٰنُ﴾اسم اوخبردانَ دواړه معرفه دی دپاره دحصر اواختصاص يعني ستاسورب صرف اوصرف الله ﷻ دې،اوذکرپه اسم درحمن سره دپاره دتنبيه وو په تذکيردنعمت دنجات باندی،چې دفرعون دغلامئ اودتکاليفونه چې کوم ذات تاسوته نجات اوخلاصي درکړيده،هغه مهربان ذات مستحق دعبادت دې.

﴿فَٱتَّبِعُونِي﴾اتباع عبارت دې په عمل اوطريقه کښې په چاپسې دتللونه، اواطاعت عبارت دې دجاددقول منلونه،يعني هارون ﷺ دوئ ته اوفرمائيلوچې تاسوځماپه طريقه روان شئ اوځماخبره اومنئ، نوددېنه معلومه شوه چې هدايت منحصردې پديکښې چې دالله ﷻ اودپيغمبر خبره دهغه دطريقي مطابق اومنلی شي،اوکچرته دالله ﷻ اودرسول ﷺ خبره اومنلی شي خو طريقه درسول ﷺ نوي نوبدعت تنه جوړشي.

فائده: امام رازی رحمه الله فرمائی چې دحضرت هارون ﷺ ددي دعوت ورکولوبنياد شفقت اومحبت وو، نوددېنه معلومه شوه چې دهرانسان سره شفقت اومحبت ضروری دې اودټولونه لوئ شفقت اومحبت دادې چې يوکس دجهنم اورته روان وي اوغورزيږي اوته ئې دهغې نه بچ کړې نودشفقت اودمحبت په بنياد امربالمعروف په مسلمانانو باندی واجب دې(کبير مع تغيير).

﴿قَالُواْ لَن نَّبْرَحَ﴾پدي آيت کښې دقوم جواب ذکرکيږي هارون ﷺ ته، چې دوئ هارون ﷺ ته دابهانه اوکړه چې ترڅوچې حضرت موسیٰ ﷺ واپس نوي راغلی نوموږبه ترهغې پورې دسخي عبادت کوو،اوداخبره يامحض ددوئ يوه بهانه وه چې دهارون ﷺ ددليل جواب ئې نشوکولی نودځان خلاصولودپاره ئې دا خبره اوکړه اويادوئ په زړونوکښې دسامري خبره راسخه شوه وه اوددوئ خيال داووچې حضرت موسیٰ ﷺ به هم دسامري تقريراوکړي اوزموږ سره به دسخي عبادت شروع کړي.

﴿عَٰكِفِينَ﴾په معنی دمقيمين سره دې،يعني موږ به دسخي په عبادت باندی قائم اولازم به يو.نوددي جواب نه ورستوحضرت هارون ﷺ دخپلومتبعين اوصحيح العقيده کسانو سره

ددغي مشركينونه جداشو ،اودغي مشركانوبه دَسخي عبادت كولو ،اودَسخي نه چاپيره به ئي طواف كولو اورقص، ګډابه ئې كوله اوسازبه ئې ورته وهلو

﴿قَالَ يَٰهَٰرُونُ ﴾دَحضرت هارون عليه السلام په باري كښ دَمداهنت دَتوهم دَازالې نه پس اصل واقعه بيانيږي، حضرت موسىٰ عليه السلام چې دكوه طورنه واپس راتللونو دګډااوسازآوازونه ئې واوريدل چې قوم ئي سخي ته بطورعبادت كولو ، نوقوم نه ئي تپوس اوكړو اوّلا ، نوهغوئ ورته خپل عذرپيش كړو ،خوموسىٰ عليه السلام دَهغوئ دَمعذرت خواهانه جواب نه مطمئن نشو ،نودَډيري غصي نه ئي حضرت هارون عليه السلام دَسراوږيري نه اونيولواوځان ته ئي رانښكلواوورته ئې اوئيلوچې، ﴿يَٰهَٰرُونُ مَا مَنَعَكَ ﴾اوحضرت هارون عليه السلام اګرچه په عمركښ دَموسىٰ عليه السلام نه مشروو ،ليكن په رتبه كښ ورنه موسىٰ عليه السلام لوئ وو ،اوپه شرعي اموروكښ هارون عليه السلام دَده تابع اووزير حيثيت لرو ،اودَموسىٰ عليه السلام خيال داووچې هارون عليه السلام دَقوم په اصلاح كښ پوره كوشش نوي كړې اودَسستئ اوتساهل نه به ئي كاراخستى وي،اودَتبليغ په فرائضوكښ به ئي تقصيركړې وي، نوځكه موسىٰ عليه السلام دومره سخت عتاب اوسخت اندازكښ پوښتنه اوكړه اوداعمل دَموسىٰ عليه السلام دَطرف نه دَسوءادب اويادَهارون عليه السلام دَبې عزتئ په نيت نوو(اَلعياذبالله).

﴿أَلَّا تَتَّبِعَنِ ﴾لام زائددې، اودآيت مطلب داد ې چې كله قوم ګمراه شو اوتاكتلونوتاځه ولي نه خبرولوم، يعني ماته خبرراكولودَپاره،ته په ماپسي كوه طورته ولي نه راتللې، اويامطلب دادې چې تاځمادَعمل اتباع ولي نه كوله، يعني تادَدوئ سره جنګ ولي نه كولوپه شانته دَځما(بحروكبير) ،﴿أَفَعَصَيْتَ أَمْرِى ﴾ استفهام دَپاره دَانكاراوتوبيخ دې اوفاء فصيحيه ده اودا جمله عطف ده په معطوف عليه مقدرباندى،تقديردَعبارت داسي دې اخالفتنى فعصيت امرى(روح) نودَايت مطلب به داشي چې ولي تاځما مخالفت اوكړو اوځمادَحكم تعميل دې اونكړو يعني تاته ځمامخالفت نووپكار،او﴿أَمْرِى﴾نه مراد هغه هدايات او وصيتونه دي چې كوه طورته تللونه مخكښ موسىٰ عليه السلام ،هارون عليه السلام ته كړي وو،اخلفنى فى قومى واصلح ولاتتبع سبيل المفسدين(اعراف ايت نمبر ۱۴۲) ﴿قَالَ يَبْنَؤُمَّ لَا تَأْخُذْ﴾حضرت هارون عليه السلام موسىٰ عليه السلام ته حقيقت

نځل بيان کړوچې ماپه تبليغ کښې څه قسم مداهنت اوسـتى نده کړي بلکه مادوئ ته په
پوره وضاحت سره توحيدبيان کړيدې اودوئ څماسره دقتل مقاتلې اراده هم اوکړه نوکچرته مادوئ
سره جنګ کولى اوياپه تاپسې کوه طورته درتللى نوپدې قوم کښې به تفرقه راغلې وه اودوئ به
بنې دلې شوې وو ،اوخطاب دهارون ﷺ موسى ﷺ ته په ابن الام،اى دمورخويه څماسره
کوڼ دپاره دترحم دې، ګنې موسى ﷺ اوهارون ﷺ دواړه حقيقي،وروڼه وو﴿إِنِّي خَشِيتُ﴾
د تعليل دې دنهي چې مادګيري اوسرويختونه څکه مه نيسه کچرته مادوئ سره جنګ کړې وى
وياتاپسې درغلى وى نوخامخابه دلې جوړيدې نوبيابه تاوئيل چې په بنى اسرائيلوکښې دلې
جوړې کړې اوڅمادواپس راتلوانتظاردِ اونکړو. اود﴿وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِي﴾مطلب دادې چې
څما د راتلوانتظارداونکړو(قرطبى) اوياتنه مراد دموسى ﷺ وصيت دې چې په سورة اعراف
کښې ذکردې چې اخلفنى ف قومى، يعنى تابه بياوئيل چې څمادخبري لحاظ دې اونه ساتلو (ابن
کثير) اويا﴿وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِي﴾،قول دهارون ﷺ دې، اوترقب په معنى دتامل سره دې، يعنى څه
بيرې ويريدم کچرته بنى اسرائيل دلې دلې شوې وى نومابه تاته عذرپيش کولى نوتابه څماپه خبره
کښې سوچ اوفکرنه کولى اوڅماعذربه دنه قبلولى.(جمل).

. فائده ۱: پدې ايت کښې دليل دې پدې چې ويره دومره پريخودل چې موتې کښې نيولى کيږي
واجب دى اوسنت دانبياءکرامو ﷺ دې.

فائده ۲: حضرت سندهي صاحب رحمه الله فرمائى چې داايت دليل دې پدې چې شرك نه هم
قبيح جرم هغه دقوم اجتماعيت ختمول دي اوپه هغوئ کښې تفرقه اچول دي، اودهغوئ وحدت
زياده ول دى اوددې وجه نه حضرت هارون ﷺ قوم کښې وقتې شرك برداشت کړو خودهغوئ
تفرقه ني برداشت نکړې شوه«ازافادات حضرت والدصاحب رحمه الله»

قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يٰسَامِرِيُّ ﴿٩٥﴾ قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوْا
وئيل موسى ﷺ څه سبب وو ستادکاراې سامري. اوئيل هغه څه پوهه شوم په هغه څه چې ندي دوئ پوهه شوي
بِهٖ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ اَثَرِ الرَّسُوْلِ فَنَبَذْتُهَا
په هغي باندى پس راوامې غستله يوموټې خاوره لاندې دقدم،داس، دجبرئيل نه بيامې اوغورځوله دا

وَكَذٰلِكَ سَوَّلَتْ لِيْ نَفْسِيْ ﴿۹۶﴾ قَالَ فَاذْهَبْ فَاِنَّ لَكَ

اوهمدارنگي خائسته كړيدي ماته نفس خما.اوئيل موسیٰ علیه السلام پس خه «ددي قوم نه»پس بيشكه تالره ده

فِي الْحَيٰوةِ اَنْ تَقُوْلَ لَا مِسَاسَ وَاِنَّ لَكَ مَوْعِدًا

په ژوندددنياكښ داوينا دستاچي ماته لاس مه راوړئ اوبيشكه ستادپاره«دسزا»يوه وعده ده

لَّنْ تُخْلَفَهٗ وَانْظُرْ اِلٰى اِلٰهِكَ الَّذِيْ ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا

چي هرګزخلاف نشي كيدي دهغې نه او اوګوره ته خپل معبودته هغه چي ته هروخت وي په هغه باندی عبادت كوونكي،

لَنُحَرِّقَنَّهٗ ثُمَّ لَنَنْسِفَنَّهٗ فِي الْيَمِّ نَسْفًا ﴿۹۷﴾

خامخااوبه سيزو مونږه دي بيابه ئي اونولو «اوشندو» په درياب كښ په نوستلوسره

﴿قَالَ فَمَا خَطْبُكَ﴾ هركله چي موسیٰ علیه السلام دهارون علیه السلام معقول عذرواوريدلونودي ني پريخودلواوسامري ته متوجه شو اوپوښتنه ئي تنه اوكړه.مااستفهاميه دي،اوخطب مصدردي دخطب الشئ نه په معنیٰ دطلب اوقصدسره،اوغرض پديشان عبارت سره نكيروي په هغه كاراوتعظيم وي دكار،والغرض منه الانكارعليه وتعظيم صنعه(كبير) نودلته هم موسیٰ علیه السلام دسامري نه ددومره لوئ كاركولوباعث اودليل تپوس اوكړوچي په تاباندی باعث څه ووچي تادادومره لوئ كاركولوچي سخي ته دي معبوداوئيلو﴿قَالَ بَصُرْتُ﴾ داجواب دي دسامری چي ماداكارصرف دنفساني خواهش پوره كولودپاره كريدي، اوماته پدي باندی نورهيڅ باعث نوو اونه ماسره څه دليل شته دي، او﴿بَصُرْتُ﴾په معنیٰ علمتُ،اوفطنتُ سره دي يعنی مااوپيژندلوهغه چي دوئ نه پيژندلو،اويادبصرتُ، نه مراد رؤيت بصري دي، يعني مااوكتلوهغه چي نووكتلی دوئ. يعنی رايت مالم يروا(قرطبی) اوهركله چي بنی اسرائيل ددرياب نه راپوري وتلونودوئ سره،حضرت جبرئيل علیه السلام هم وو،سامري حضرت جبرئيل علیه السلام اوكتلو،اوچونكه دده تربيت حضرت جبرئيل علیه السلام كړي وو نوددي وجه نه سامري اوپيژندلوچي داجبرئيل علیه السلام دي، اودغه شان حضرت جبرئيل علیه السلام آس به په كوم ځائ قدم ايخودلونوهغه ځائ به شين،كيدلو،نو سامری

دهغې ځائ نه يوموټی خاوره راواخستله اوپه هغې جسدکښې واچوله اوبعض فرمائي چې کله حضرت موسیٰ ﷺ کوه طورته تللونوحضرت جبرئيل ﷺ ورته راغلی وو،نوپه هغې ځائ کښې سامري حضرت جبرئيل ﷺ کتلی ووبهرحال؛ سامری په زړه کښې شيطان يادا خبره واچوله چې ددې خاورې نه يوموټی خاوره راواخله اوپېدې مجسمې دعجل کښې واچوه نودې به دسخې آواز شروع کړي،لکه دېته اشاره ده په روايت دابن عباس ﷺ کښې چې والقی ف روعه انه لايلقيهاعلى شئ فيقول كن كذا الاكان(روح)اوياسامري پخپله دامشاهده اوکړه چې دجبرئيل ﷺ دآس دخپودلاندې ځائ شين کيږي نوپېدې کښې اثردحيات دې نوده هم(ازروئ قياس) خاوره راواخستله اوپه هغې کښې واچوله اودامعنی ده د﴿فَقَبَضْتُ قَبْضَةً﴾يعني مايوموټی خاوره راواخستله، او﴿مِّنْ أَثَرِ ٱلرَّسُولِ﴾ نه مراد اثرفرس الرسول، دې يعنی داس دخپودلاندې چې کومه خاوره وه، اورسول نه مراد حضرت جبرئيل ﷺ دې او﴿فَنَبَذْتُهَا﴾نه مراد په سخې کښې اچول دي، ددې ايت په تفسيرکښې امام رازی ﷫ اوخطيب شيربينی ﷫ وغيره يوه بله توجيه هم ذکرکړيده،چې دمشهورمعتزلي مفسرابومسلم اصفهاني ده چه ،﴿بَصُرْتُ﴾ په معنی دعلمت او عرفت سره دې، اومعلوم عدم حقانيت دموسیٰ ﷺ ووپه نيزدده يعنی ماته دامعلومه شوه چې په کوم دين باندی ته ئې داصحيح ندې،او﴿فَقَبَضْتُ قَبْضَةً﴾نه مراد لږه غوندې تابعداری ده، او﴿أَثَرِ ٱلرَّسُولِ﴾نه مرادنقش قدم دموسیٰ ﷺ دې يعنی درسول يعنی ستاپه نقش قدم روان شوم لږه غوندې اتباع مې ستااوکړه خوماته دامعلومه شوه چې ته برحق نه ئې،اوستادين حق ندې او﴿فَنَبَذْتُهَا﴾نه مراد پريخودل دې ددغه دين، يعنی ارتداد اختياره ول دی او﴿ٱلرَّسُولِ﴾ذکرکول دغائب په ځائ دخطاب باندی،موافق دعرف اوعادت دې، ځکه چې په عرف کښې کله کله خطاب په ځائ غائب استعماليږي، لکه يوسړی بادشاه ته مخامخ وي خوبياهم دبادشاه نوم نه اخلي اونه ورته خطاب کوي بلکه داسې وائي چې بادشاه څه حکم اوکړو ،بادشاه دڅه شئ امراوکړو وغيره اوخطيب شربيني اووغيره دې قول ته ترجيح ورکړيده په دري وجوه سره،اګرچه هغه وجوه محل تامل دی چې تفصيل ئې صاحب دروح المعاني ذکرکړيدې اودهغې نه علاوه

دامذکورتفسیرمشتمل دي په تکلفاتواوتاویلاتوبعیدو باندی څکه چې(۱)﴿الرَّسُول﴾ غائب دحاضرقائمقام کول(۲)﴿قَبْضَة ﴾چې خپله معنی ئي موټی دي په معنی دلږي اتباع سره اخستل(۳)نبذچې خپله معنی ئي غورزول دي په معنی دترک اتباع سره اخستل مجازات کثیره اوتاویلات بعیده دی، اودغه شان(۴)﴿بَصُرْتُ ﴾نه مراد عدم حقانیت دموسی علیه السلام مرادکول هم تکلیف دي اومخالف دي دسیاق کلام نه.

﴿وَكَذَٰلِكَ سَوَّلَتْ ﴾کاف دپاره دبیان کمال دي اومقصدددي دادي چې داکارماصرف اوصرف دخواهش نفساني، اونفس اماره بالسوء په اتباع کښ مي کړیدي نه ماسره پدي څه دلیل عقلي شته دي نه نقلي اونه ماته څه الهام شویدي (روح) قال فاذهب فانّ الخ پدي کښ سزادسامري ذکرکیږي، په دنیاکښ دده دپاره موسی علیه السلام سزا داتجویزکړه چې نه به دي دچاسره میلاویږي اونه به دده سره څوک میلاویږي اودده سره هرقسم معاملات،مکالمات اومواجهات داموسی علیه السلام حرام کړلو ،اودي به په ځنګل کښ دځناوروسره ګرځیدلو . اوکچرته ده سره به چالاس اولګولونوهغه ته اوده ته دواړوته به تبه لګیدله نودداي وجه نه به ده چغي ویستلي چې ﴿لَا مِسَاسَ ﴾یعنی ماسره مه لګئ،اوداسزا ددپاره څکه غوره کړې شوه چې ده په دنیاکښ دخلکو مشری حاصلوله په ناجائزي طریقي سره،او﴿لَا مِسَاسَ ﴾ نفي په معنی دنهی سره دي اوداعلم مصدردي،﴿وَإِنَّ لَكَ مَوْعِدًا ﴾داداخروي سزا ذکردي یعني ددي شرک په جرم کښ په اخیرت کښ به ضرورتاته سزامیلاویږي، اوالله تعالی دخپلي وعدي مخالفت هرګزنه کوي.

﴿وَانظُرْ إِلَىٰ إِلَٰهِكَ الَّذِي ﴾دادسامری دمعبودحشراوانجام ذکرکیږي چې موسی علیه السلام ورته اوفرمائیلو چې ته دي خپل معبودته ګوره چې ته دده په عبادت باندی مضبوط قائم وې، دي څرنګه بی وسه دي چې څه ئي سوزومه اوبیادده ایرې په سمندرکښ غورزوم اودي خپل ځان هم څمانه نشي خلاصولی.

﴿لَّنُحَرِّقَنَّهُ﴾داجواب دي دقسم محذوف دپاره یعنی بالله لنحرقنه الخ اوسخي خودزرونه جوړکړې شوي وونودهغه تحریق(سوزیدل) څرنګه ممکن وو؟ نوبعض علمآء فرمائی چې پدي

سخي کښې حيات وواوغوښې اووينه پکښې وه. حضرت موسیٰ عليه السلام دې ذبحه کړلو اوبيائ په اورباندې اوسوزولو اوايره ئې په سمندرکښې اوغورزوله.لکه داتوجيه ذکرکړيده علامه محلی رحمه الله په جلالين شريف کښې.اوجمهورعلماء فرمائی چې دَدينه په حقيقت کښې عجل نوجوړشوې بلکه داصرف صورت دَسخي وو.اوموسیٰ عليه السلام اوّلاداپه سوان(ريتی)سره اوتوګلواوبيائې اورته اوغورځولو، عن ابن عباس رضي الله عنه والسدی نسحله بالمبارد والقاه علی النار(ابن کثير) اوداهم ممکنه ده چې بطورمعجزه حضرت موسیٰ عليه السلام داسخي سوزولی وي اوايري تنه جوړې شوي وی.﴿ثُمَّ لَنَنسِفَنَّهُۥ فِى ٱلْيَمِّ﴾چونکه پدې سخي کښې خاوره دَسمندرميلاؤشوې وه اودهغې دَوجې نه په ده کښې اثردَحيات راغلی وو نودَدې وجه نه موسیٰ عليه السلام سمندرته اوغورځولوچې خپل اصل ته واپس شي، اودغه شان دې دَهغه زيوراتونه جوړکړې شوې وو چې هغه دَقبطيانو والاوو نومالکان ئې الله تعالیٰ په دغه سمندرکښې غرق کړې وو،نومال وريسې هم الله تعالیٰ هلته اورسولو،اومال ئې پرې دَپاسه غرق کړو.

فائده(۱): امام قرطبی رحمه الله فرمائي چې داايت دليل دې پدې چې مشرکانو،بدعتيانو او ګناهګارانوسره قطع تعلق پکاردې، اودَدوئ سره اختلاط کول ندي پکار.

فائده(۲): قرطبی رحمه الله اونورومفسرينونقل کړيدی چې حضرت موسیٰ عليه السلام دَسامري قتل کولواراده اوکړه خوالله تعالیٰ دَده سخاوت دَوجی نه موسیٰ عليه السلام دَده دَقتل نه منع کړو،يقال ان موسیٰ عليه السلام هم بقتل السامری فقال الله تعالی له لاتقتله فانه سخی(قرطبی).

إِنَّمَآ إِلَٰهُكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ وَسِعَ كُلَّ
[1] بيشکه ستاسو معبود الله جل جلاله دې هغه ذات چې نيشته دې حق دار دَبندګئ سيوادهغه نه ،راګير کړيدې هغه هرڅيز
شَىْءٍ عِلْمًا ﴿٩٨﴾ كَذَٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنۢبَآءِ مَا قَدْ سَبَقَ
په علم خپل کښې [2]همدغسي بيانوو مونږ په تاباندې بعضې دَخبرودَهغې نه چې مخکښې تيرې شويدی

---

1. بنځه ايت دَتوحيد
2. دريم ايت دَتشجيع

وَقَدْ اٰتَيْنٰكَ مِنْ لَّدُنَّا ذِكْرًا ﴿٩٩﴾ مَنْ اَعْرَضَ عَنْهُ فَاِنَّهٗ

اوبیشکه درکړیدي مونږتاته دَخپل طرف نه یاداشت(قرآن)[3] چاچه مخ اوګرځوو دَدي نه پس بیشکه دی به

يَحْمِلُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وِزْرًا ﴿١٠٠﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهِ ۭ وَسَآءَ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ حِمْلًا ﴿١٠١﴾

پورته کوي په ورځي دَقیامت لوئ بار همیشه به وي په هغې کښ اودیربددي دادَدوئ دپاره په ورځي دَقیامت لوئ بار

يَّوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ وَنَحْشُرُ الْمُجْرِمِيْنَ يَوْمَىِٕذٍ زُرْقًا ﴿١٠٢﴾

په کومه ورځ چې پوکی اوکړې شي په شپیلئ کښ اوراجمع به کړو مونږ مجرمان په دغه ورځ شین سترګي.

يَّتَخَافَتُوْنَ بَيْنَهُمْ اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا عَشْرًا ﴿١٠٣﴾ نَحْنُ اَعْلَمُ

خوس خوس به کوي په خپل مینځ کښ چې نه ئی تاسو حصارشوی (په دنیا کښ) مګرلس ورځي مونږ ښه پوهه یو

بِمَا يَقُوْلُوْنَ اِذْ يَقُوْلُ اَمْثَلُهُمْ طَرِيْقَةً اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا يَوْمًا ﴿١٠٤﴾

په هغې چې دوئ چې څه وائي کله چې اوائي دیرهوښیارددوئ په رائ کښ چې نه یئ حصار شوي تاسومګریوه ورځ

﴿ إِنَّمَآ إِلَٰهُكُمُ ﴾ دا پنځم ایت توحید دي، دَسامري دَمعبود عجزبیانولو نه بعد اعلان دَتوحید دي، موسی علیه السلام دَسامری سره خطاب اوتکلم اوهغه ته سزابیانولو نه پس ټولوبني اسرائیلوته مخاطب شواوورته اوفرمائیلوچې ستاسو معبودبرحق صرف اوصرف الله تعالیٰ دي چې دَهغه نه علاوه بل څوك دَعبادت لائق نیشته اودَهغه علم په هرڅه باندی حاوي دي ﴿وَسِعَ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ﴾، علمًا منصوب دي داتمیزعن النسبت دي، اودا ټوله جمله بدل واقع شوې ده دَالذي موصول نه. نو وسعت علم ئی دلیل ګرځولی دي په نفی دَشرك فی الالوهیة دَپاره، یعنی دَعبادت لائق صرف الله تعالیٰ ځکه دي چې هغه په هرڅه باندی عالم دي اوبل داسي څوك نیشته دي چې دَهغه علم په هرڅه باندی حاوي وي نومعلومه شوه چې بل څوك معبود نیشته.

---

(3) تخویف اخروی

﴿كَذَٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ﴾ دحضرت موسیٰ عليه السلام واقعه تفصيلا بيانولو نه پس اوس بياتشجيع ذكركيږي، چې دا يو اهم مضمون دې ددې سورت. نودادريم ايت دتشجيع دې او كاف په ﴿كَذَٰلِكَ﴾ كښې دپاره دبيان كمال دې، چې داسې پوره پوره تفصيلا بيان كول صرف زمونږه كار دې، اودا واقعات څكه په تاباندې بيانوو چې تاته پته اولګي چې سابقه انبياء كرامو دتوحيد دپاره څومره تكاليف او مصائب او چت كړيدي، او صبرئې كړيدې.

﴿وَقَدْ ءَاتَيْنَٰكَ﴾ دا جمله معترضه ده دپاره دصداقت درسول الله ﷺ اودا كرام دهغه دپاره، او مراد په ﴿ذِكْرًا﴾ سره ياقرآن دې، څكه چې قرآن لوئ نصيحت دې اود فكر او عبرت دپاره دې مشتمل دې په قصصو او اخبارباندې، (مدارك) او بعض فرمائي چې ﴿ذِكْرًا﴾ نه مراد دحضور اكرم ﷺ بهترين تذكره او خائسته شهرت دې، ليكن اوله توجيه زياته غوره ده، او مناسبه ده دراتلونكې ايت سره چې ﴿مَّنْ أَعْرَضَ عَنْهُ﴾ ضمير راجع دې ذكرته، او دا تخويف اخروي دې دمنكرينو دپاره، چې كوم خلك ددې ذكرنه اعراض كوي يعني په دې قرآن باندې ايمان نه راوړي او پدې باندې عمل نه كوي نو دقيامت په ورځ به دا دوئ دپاره دګناهونو يولوئ بوج به وي (قرطبي).

﴿يَحْمِلُ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ وِزْرًا﴾ وزر په اصل كښې په دوو (۲) معانيو باندې اطلاق كيږي، ګناه ته هم وائي او غټ بوج ته هم وائي دلته دا دويمه معنی غوره ده يو خود سياق كلام دوجې نه چې دكلام دسياق سره دا معنى ډيره انسبه ده، او بل ددې وجه نه چې پدې صورت كښې كلام محتاجه ندې حذف ته او داول معنى په صورت كښې لفظ دعقوبة، به مقدر كيږي او قيامت په ورځ به الله تعالیٰ هر ګناه ته به يو مخصوص بدترين صورت وركړي او هغه صورت او مجسمه به په هغه ګناه ګارباندې سوروي، دا قسم مضمون په متعددو احاديثو كښې مذكور دې.

﴿خَٰلِدِينَ فِيهِ﴾ دا حال مقدره دې دضمير د ﴿يَحْمِلُ﴾ نه چې راجع دې ﴿مَّنْ﴾ ته او ﴿﴾ مَّن معنى جمع ده نو څكه حال جمع راوړی شو، او ضمير د ﴿فِيهِ﴾ راجع دې وزرته او دوزر نه مراد عقوبت او سزا ده دوزر په طريقې دصنعة الاستخدام سره.

﴿وَسَآءَ لَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ﴾ساء په معنی دبئس سره دافعال ذم نه دي اوفاعل دساء همیشه دپاره ضمیرمبهم وي چې تفسرئي تمیزکوي اوپدیکښې اګرچه اضمارقبل الذکرراځي خوداد هغه مواضعونه دي چې اضمارقبل الذکرپکښې جائزدي(والتفصیل فی کتب النحو)نودلته هم دساء فاعل ضمیرمبهم دي چې راجع دي﴿حِمْلًا﴾ته اوداحملا مذکورتمیزواقع شویدي دضمیرفاعل دساء نه اومخصوص بالذم محذوف دي چې هغه وزرهم دي اولام په ﴿لَهُمْ﴾کښې دپاره دبیان دي. اومتعلق دي په مقدرپوري چې هغه یقال، دي یعنی ډیربددي هغه بوج چه دوئ په ځان باندی بارکړیدي اواعاده، د﴿يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ﴾ دپاره دډیرتهویل اوتخویف دي﴿يَوْمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِ﴾داهم تخویف اخروی دي او﴿يَوْمَ﴾ منصوب دي په فعل مقدرسره چې اذکر،دي اویابدل دي د﴿يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ﴾نه اوغوره خبره داده چې د﴿فِي ٱلصُّورِ﴾نه مراد قرن(ښکر)دي لکه په حدیث دابن عمرؓ کښې دی چې دحضورﷺ نه دصورپه باره کښې تپوس اوکړې شونورسول اللهﷺ ورته اوفرمائیلوچې قرنٌ ینفخ فیه، چې دا یوښکردي چې دې پدې کښې به پوکی ورکولی شي(رواه الترمذی والنسائی) اوددینه مراد نفخه ثانیه ده په قرینی ددې ورستوجمله سره ځکه چې په نفخه اولی سره به حشرکیږي هغې سره به فنادعالم راځي اوحشربه په نفخه ثانیه سره کیږي﴿زُرْقًا﴾ داحال دي د﴿ٱلْمُجْرِمِينَ﴾، نه اوزُرق ونیلی کیږي دسترګوځروالي ته سره دتوروالي دمخ نه، اوپه عربوکښې به دارنګ اوصورت به ډیربدحسابیدلو ،بعض فرمائی چې زرق، تږي ته ونیلی کیږي اوبعض فرمائی چې زرق، ړوندته ونیلی کیږي، اوددې تائیدپه نحشرهٗ یومَ القیمة اعمٰی، سره کیږي، لیکن اولی معنی ته ترجیح ورکړیده علماؤ اوتطبیق په مینځ ددې ایت اود ونحشرهم یومَ القیٰمة علی وجوههم عُمیا الخ وغیره ایتونوسره پدې شان دي چې مواطن اومواقف دقیامت اودحشرمتعدددي نوصفات دکفاروبه هم علی حسب المواطن، مختلف کیږي، اوانواع دعذابونوبه هم مختلف کیږي

﴿يَتَخَٰفَتُونَ﴾دقیامت داهوالوشدت دوجې نه به دوئ په اوچت اوازسره خبري هم نشي کولی، اوداجمله په محل دنصب کښې حال واقع شویده دالمجرمین نه،﴿إِن لَّبِثْتُمْ﴾انْ نافیه ده﴿إِلَّا

عَشْرًا ﴾ معدودئي ياليالِ دي. اوياايّام كچرته معدودئي ايامِ شي نوبياهم عدد مذكرخكه راوړي شو چې كله معدود مذكرحذف كړې شي نوعددمذكرراوړل جائزوي.لكه په حديث كښ دى من صام رمضان ثمّ اتبعه بستٍ من شوال الخ نوپه اصل كښ داسي دي بستة من ايّام. داكنايه ده دكموالي دوخت نه اوپه جلتئ سره تيريدلونه ځكه چې لس(عشر) دجمعي قلت آخيرى حددې. اودَدنيا داژوندبه دَوئ ته ځكه دومره كم ښكاره شي چې په دنياكښ دوئ په سرور،اوخوشحالئ كښ پراته وو اوپه ميدان حشركښ به دوئ ته دَعذاب معائنه اوكړې نودوئ به دډيرهيبت دَوجي نه دَدنياژوندډيركم اوګنړي(مدارك) اويادَدي وجه نه چې دوئ ته به دَدنيااوآخرت حقيقت معلوم شي چې اخرت زندګي نه ختميدونكي ده دَدي په مقابلې كښ دَدنيا، ژوندون ډيركم دې اګرچه فى نفسه ډيرولې نوي. ﴿إِذْ يَقُولُ أَمْثَلُهُمْ ﴾امثل، په معنى دَډيرپوهه، عقل مند،اوپه قول كښ ډيربرابريعني چې په دوئ كښ كوم يوډيرهوښياراوصحيح خبري كوونكى وي نوهغه به دااوائي چې تاسوصرف يوه ورځ تيره كړيده، اوده ته په ټولوكښ زيات هوښيارځكه اوئيلى شو چې دَه دَاخرت دَژوندپه مقابله كښ دنياوالاژوندډيركم اوخودلو، نوخلاصه داده چې دوئ ټول به په دي متفق وي چې مونږ په دنياكښ ژوندډيركم تيركړيدې خوڅومره كم؟؟ نوعام مشركان به داوائى چې په اندازي دَلسو (۱۰)ورځوژوندون موتيركړيدې،اومشران به ئې داوائي چې دَيوي ورځي په اندازي سره زندګي موتيره كړيده،اوځني به پكښ داوائي چې پوره ورځ موهم نده تيره كړې بلكه يوبيګائي يايوصبائي دومره وخت موصرف تيركړيدې لكه په سورة المؤمنون. سورة الاحقاف، اوسورة النازعات كښ دي اودااختلاف دَرائ ددوئ دَعقلونوپه بنيادبه وي ځكه چې څومره هوښياروي نودَهيبت احساس زيات كوي اوچې كم عقل وي نوغافل وي نوهيبت پري هم نسبتاً كم وي،اودَدي خبرونه به دَ دوئ مقصد عذرپيش كول وي چې مونږ ايمان ځكه رانوړلوچې مونږته موقعه كمه راكړې شوي وه خوداعذردَدوئ خلاف واقع اودروغ دى اويابه هسي تخيلات دَدوي وي، يعنى هركله چې دوئ عذاب معائنه كړي نودَدوى خيال به داوي چې مونږپه دنياكښ يوه ورځ تيره كړيده.

وَيَسْـَٔلُونَكَ	عَنِ	الْجِبَالِ	فَقُلْ	يَنْسِفُهَا	رَبِّي	نَسْفًا	﴿۱۰۵﴾

اوتپوس به كوي دوئ ستانه په باري دَغرونوكښ نوته ورته اوايه وابه لوځوي داخمارب په الوځولوسره

فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا ﴿١٠٦﴾ لَّا تَرٰى فِيْهَا عِوَجًا وَّلَآ اَمْتًا ﴿١٠٧﴾ يَوْمَئِذٍ
پس پرېږدي به دا(زمکه) ميدان خويه. نه به وينې ته په هغې كښې كوږوالى اونه ډېرى. په دغه ورځ
يَّتَّبِعُوْنَ الدَّاعِيَ لَا عِوَجَ لَهٗ ۚ وَخَشَعَتِ الْاَصْوَاتُ لِلرَّحْمٰنِ فَلَا تَسْمَعُ
روان به وي خلك بلنه كوونكي پسې نه به وي كګليچ دهغه . اوچپ به شي آوازونه ذېري د رحمان نه پس نه به آورې نه
اِلَّا هَمْسًا ﴿١٠٨﴾ يَوْمَئِذٍ لَّا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ اِلَّا مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ وَرَضِيَ
مګركشار. [2]په دغه ورځ نفع به نه وركوي سفارش مګردهغه چاچې اجازت وركړي وي هغه ته رحمٰن اورضاوي
لَهٗ قَوْلًا ﴿١٠٩﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيْطُوْنَ
دهغه په وينا.خبردي الله ﷻ په هغه څه چه ددوئ نه وړاندي دي اوپه هغه چې ددوئ نه ورستودي اونشي راګيرولى
بِهٖ عِلْمًا ﴿١١٠﴾
دوئ هغه په خپل علم سره.

﴿وَيَسْـَٔلُوْنَكَ﴾داهم تخويفات دى اوهركله چې په ماقبل ايتونوكښې دنفخ صور، حشرنشر،اودقيامت ذكروو،نودمشركينونه داسوال متوقع وو چې قيامت راځي نوداغټ غټ غرونه به چرته وي نوددي وجه نه الله ﷻ اوفرمائيلو چې كچرته دوئ داسوال اوكړي نوته ورته جواب كښې دااوفرمايه چې ﴿يَنْسِفُهَا رَبِّيْ﴾يعنى خما رب به داغرونه والوځوي اوزمكه به صاف ستهرا اوهموارميدان به شي اوفاء په﴿فَقُلْ يَنْسِفُهَا﴾ كښې دغوره قول مطابق جزائيه ده ځكه چې داسوال دكافرانومتوقع وو اومتحقق نوو،نوتقديردعبارت داسي دي، ان سالوك عن الجبال فقل(مدارك) اوكوم ځائ كښې چې سوالات متحقق وو نوهلته په جواب باندى فاء نده داخله شوي لكه ويسئلونك عن المحيض قل هو اذى،يادغه شان نورمواضع شو.ځكه چې هلته سوالات متحقق

(2) نفي شفاعت قهرى

وو اومتضمن نوو معنى دشرط لره نوځكه فاء په جواب كښې نده راوړى شوي. اوامام رازي رحمه الله فرمائي چې داسوال متحقق وو لكه چې پدي دلالت كوي هغه واقعه چې نقل كړيده امام بغوي رحمه الله دحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه. چې دثقيف قبيلې يوكس راغى اودنبي ﷺ نه ئې پوښتنه اوكړه چې دقيامت په ورځ به ددي غرونوڅه كيږي؟ نوالله تعالى داايت نازل كړو. اوفاځكه پدي مقام كښې راوړى شوه چې داسوال متعلق دي دمسئلي اصوليه سره نوتاخيرپديكښې جائزنوو نوددي وجه نه داجواب ئى مصدّركړې شو په فاء سره چې دلالت كوي په تعقيب مع الوصل اومسارعت باندى،په خلاف دهغه نورومواضعونه چې هلته سوالات دفروعاتومتعلق وو چې تاخيرپكښې جائزدې، ليكن اول قول زيات غوره دې اوهغې ته ترجيح وركړيد مفسرينو

﴿فَيَذَرُهَا﴾ضميرراجع دي ياجبال يعنى غرونوته په حذف دمضاف سره نوتقديردعبارت به داسې دي فيذرمواضعها(قرطبى) اوياضميرراجع دي، زمكي ته، اودهغې ذكراگرچه په كلام سابق كښې نيشته دي حقيقتا، ليكن حكمامذكوره ده ځكه چې نسف الجبال،نه بعدزمكه،باقى وي.

﴿قَاعًا﴾داڅلورصفات ددي زمكي بيانيږي چې دقيامت په ورځ به زمكه (١)قاع(ميدان) به وي (٢)﴿صَفْصَفًا﴾صاف ستهراهمواره به وي صفصفا په منزله دتاكيددې دقاعا،دپاره نوگوياچې دادواره په حقيقت كښې يوصفت دې،(٣)﴿لَّا تَرَىٰ فِيهَا عِوَجًا﴾عوج كوږ والى ته وئيلي كيږي مرادتنه دلته ياانخفاض، يعنى ښكته والى دې اوياتنه واديانې مراددې، اوعوج په فتحې دعين سره هغې كوږوالى ته وئيلى كيږي چې په سترگوباندى كتلى شي، يعنى محسوس وي اوپه كسرى دعين هغې نقص اوكوږوالى ته وئيلى كيږي چې په سترگوسره نه ښكاري بلكه معنوي وي، نودزمكي اعوجاج يعني كوږوالى اگرچه حسى دې خوبياهم دلته عوج مكسورالعين ذكرشودپاره دنفى داعوجاج په طريقي ابلغي اواوكدي سره،يعني ظاهري اوڅرگنداعوجاج اوكوږوالى به پكښې بالكل نوي بلكه هغه معمولى غوندي كوږوالي چي په سترگوخونه ښكاري،ليكن آلات اوپيمانې په ذريعي سره معلوميدې شي هغه به هم نوي (ابوسعود)(۴) ولاامتًا، امت اوچت ځاى ته وئيلى كيږي يعنى غونډئ.

﴿يَوْمَئِذٍ ﴾تنوين عوض دجملي نه راغليدې يعنى يوم انخسفت الجبال، يتبعون الداعى اتباع نه مراد رواني دل دى. اوداعى نه مراد(عندالاكثر) اسرافيل الطيلا دي چې په گټ (كانړى) دبيت المقدس باندى به اودريږي اوصوربه پوكړى اوآوازبه اوكړى چې. ايتهاالعظام البالية، والجلود المتمزقة، واللحوم المتفرقة هلموا الى عرض الرحمٰن (خازن)اوضميردَ﴿لَهُ﴾ راجع دي مدعوته په تاويل دكل واحد ، سره،يعنى هرمدعوبه پدي اوازپسي سيدهاروان وي څه قسم انحراف به نه كوي (مدارك) اوياضميرراجع دې داعى ته،اودَ﴿لَا عِوَجَ ﴾ مقصددادې چې پدي اوازكښې څه قسم ركاوټ نوى هرچاته به اوريدې شي(بحر)اويامراد دَاتباع نه خبره منل دى، يعنى چې په كومه ورځ دوئ دَقيامت داسخت سخت مناظراوګوري بيابه دوئ خبره مني اوكوم طرف ته دَتللوحكم ورته آمركوي نوپه ډيرجلتئ سره به هغې طرف ته روان وي، ليكن په دغې ورځې امرمنل به دوئ ته هيڅ فائده ورنكړي كچري دوئ په دنياكښې خبره منلى وي نوفائده به ئې وركړي وه (ابن كثير) اوداهم جائزه ده چې داعي نه مراد دَقوم پيشوا اوراهنما شي چې دَ قيامت په ورځ به مشرمخكښې وي اومتبعين به ورپسي وي.

﴿وَخَشَعَتِ ٱلْأَصْوَاتُ لِلرَّحْمَٰنِ﴾خشعت ياپه معنى دَخضعت يعنى پست كيدل، روكيدل. اوياپه معنى دَسكتت خاموش كيدلوسره دې،اولام په ﴿لِلرَّحْمَٰنِ ﴾كښې تعليليه دې اوعبارت په حذف دَمضاف سره دې اى ذلت الاصوات لهيبة الرحمٰن(حداد) او﴿هَمْسًا﴾نه مراد ياآواز دَقدم دې يعنى صرف به دَمخلوقاتودَقدم اوازونه وي نوربه هيڅ هم نوي يعنى خبري به نشي كولى دَسخت رعب دَوجې نه،اوياتنه مرادډيررو آواز(پس كيدل)دې.

﴿يَوْمَئِذٍ لَّا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ ﴾پدي ايت كښې نفي دَشفاعت قهري ده، اودَ﴿مَنْ أَذِنَ لَهُ ﴾ نه مراد ياشفيع دي نوپدي صورت كښې نفي دَشفاعت دَمعبودان باطلو ده نومطلب دادې چې شفاعت كوونكي به صرف اوصرف انبياء كرام الطيلا اوياأولياء اويابه مؤمنين صالحين وي چې دوئ ته به دَقيامت په ورځ دګناه ګارانو مؤمنانوپه حق كښې دَسفارش كولواذن به ميلاويږي اويادَ﴿مَنْ أَذِنَ

﴾ نه مراد مشفوع له دي اومَن اذن په تقدير دَلام سره دي نو پدي صورت کښې دمشرکينو په حق کښې سفارش مفيد اونافع کيدلونفي ده چې سفارش به صرف دمؤمنانو په حق کښې نافع وي

﴿وَرَضِيَ لَهُ قَوْلاً ﴾ضمير دَله يا راجع دې شافع ته اولام پکښې زائد دې اى رضى قوله(بحر)يعني شفاعت به صرف هغه کس کولى شي چې الله تعالى ورله اجازت ورکړې وي اودهغه په خبره راضي وي، اويا ضمير راجع دې مشفوع له ته. اولام اجليه دې رضى لاجله قول الشافع(فتح) مطلب دَ ايت دادې چې شفاعت به نفع ورکوي هغه چاته چې الله ﷻ ورته اجازت ورکړي دهغه په حق کښې دَسفارش کولو اودَده دَپاره داسي عذر وي چې دَهغې دَوجي دَشافع شفاعت قبول کړې شي .

﴿يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ ﴾دا درحقيقت دليل دې دَماقبل دپاره چې څوك به هم دَقيامت په ورځ غلط سفارش(په حق دکافر کښې) به نشي کولى ځکه چې دَدوئ ټولو علم الله ﷻ ته دې، چې څوك مسلمان دې اوڅوك کافر، اوشفعآء به بغير دَاذن اواجازت نه به سفارش نشي کولى ځکه چې الله ﷻ ته دَدوئ په عجزباندى علم دې اوضمير دَجمعي راجع دې يامحشورينو ته نودَ ﴿أَيْدِيهِمْ ﴾نه مراد مخکښې تلونکى متبوعين دى، او﴿خَلْفَهُم ﴾ نه مراد ورستوتلونکي متبوعين دى اوبعض فرمائى چې مطلق مخلوقاتو راجع دې اوبعض فرمائى ﴿أَيْدِيهِمْ ﴾نه مراد احوال دَقيامت دى اودَ ﴿خَلْفَهُم ﴾نه مراد احوال دَدنيادى، اول احتمال زيات غوره دې، اودَبِهِ ضمير راجع دې ماموصول ته، اوما اګرچه معنًى جمع ده ليکن لفظًا مفرد دې نوځکه ضمير ورته دَواحد مذکر راجع شو.

وَعَنَتِ	الْوُجُوهُ	لِلْحَيِّ	الْقَيُّومِ ط	وَقَدْ	خَابَ	مَنْ	

[1]اوعاجزشي(ټيټ) به شي مخونه هغه ژوندى انتظام کوونکى ذات ته اوبيشکه نااميده دې هغه څوك چې

حَمَلَ	ظُلْمًا	﴿۱۱۱﴾ وَمَنْ	يَعْمَلْ	مِنَ	الصّٰلِحٰتِ	وَهُوَ	مُؤْمِنٌ	فَلَا	يَخٰفُ	

بارئى کړو په ځان پيټى [2]دَظلم اوچاچې عمل اوکړو دَنيك عملونونه اوحال داچې دې مؤمن وو نونه به يريږي

(1) تخويف اخروى.
(2) بشارت اخروى

ظُلْمًا وَّلَا هَضْمًا ﴿۱۱۲﴾ وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا وَّصَرَّفْنَا

د زياتي نه اونه دكمي نه(1)اوهمدارنگي نازل كړيدي مونږ دا ،قرآن په عربۍ ژبه كښې اوقسم قسم بيان كړيدى موږ

فِيْهِ مِنَ الْوَعِيْدِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ اَوْ يُحْدِثُ لَهُمْ ذِكْرًا ﴿۱۱۳﴾ فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ

پديكښې عذابونه دي دپاره چې دوئ بچ شي دګناه نه اويا به پيدا كړي دوئ لره ياداشت پس بلند دې الله ﷻ چې بادشاه

الْحَقُّ ۚ وَلَا تَعْجَلْ بِالْقُرْاٰنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يُّقْضٰٓى اِلَيْكَ وَحْيُهٗ ۖ وَقُلْ رَّبِّ زِدْنِيْ عِلْمًا ﴿۱۱۴﴾

حق دې اوته جلتي مه كوه په قرآن سره مخكښې ددينه چې پوره كړې شي تاته وحي ددې اووايه اې ربه څما زيات كړې څما علم

﴿وَعَنَتِ الْوُجُوْهُ﴾ دا هم تخويف اخروى دي اومراد په "وجوه" سره يالوئ لوئ خلك دي اويا ته اعضاء مخصوصه، مخونه اوتندي مراددي اوتخصيص دوجوه څكه اوشوچې دا اشرف الاعضاء دي او الف لام يا عهدي اومراد تنه وجوه العصاة دى، چې دانافرمان خلك چې كله دقيامت په ورځ خپله نامرادي، بدبختي اوسخت حساب معاينه كړي نوددوئ مخونه به ذليل اورسوا اوګرځي. (كشاف) اويا الف لام استغراقى دې اومراد تنه جميع وجوه، دې يعنى دقيامت په ورځ به ټول مخلوقات بۀ الله ﷻ ته سرونه ټيټ كړى وي.

﴿وَقَدْ خَابَ مَنْ حَمَلَ﴾ مصداق د"مَنْ" يا مشرك دې اوظُلماً نه مراد شرك دې لكه چې دا تفسير منقول دې دابن عباس رضي الله عنه نه، اويا مصداق د"مَن" عام دې اوظلم نه هم مرادعام معصيت دې، يعني هرسړى به دخپل ظلم اومعصيت مطابق په خيبت اوذلت كښې به وي،دمشرك خيبة، به دائمي وي اودمؤمن عاصى خيبة به مقيدوي دوخت دعقوبت سره كچرته معافى ورته اونكړې شوه ابتداءً (روح) ﴿وَمَن يَعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ﴾ دا بشارت اخروى دي، فرق په مينځ دظلم اوهضم كښې دادې چې ظلم دټول حق نه منع كولوته ونيلى كيږي، اوهضم، دبعض حق نه منع كولوته ونيلى كيږي (قرطبى) اويا ﴿ظُلْمًا﴾ نه مراد زياتى كول دى په سيأتو كښې، او ﴿هَضْمًا﴾ نه مراد كمى كول دى په حسناتو كښې (حداد).

(1) ترغيب الى القرآن.

﴿وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَٰهُ ﴾پدي ايت كښ ترغيب دې عمل كولوته په قرآن باندې عام مفسرين فرمائي چې كاف دتشبيه دپاره دې، مشبه كل قرآن دې اومشبه به انزال دجزء دې، اومراد پدي تشبيه سره تنبيه ده پدي چې ټول قرآن په يونمط دې اوداسي ندې چې يوه جمله ياپوه جزء ئي معجزاوفصيح بليغ دې اوبل جزئى ندې، بلكه ټول قرآن معجزاو فصيح، بليغ دې اوحضرت الشيخ رحمه الله فرمائي چې كاف دپاره دبيان كمال دي﴿لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴾داذكر ددوه(۲) فائدو دى دقرآن چې يوه تقوى ده اوبله احداث دذكردې، اومراد په تقوى سره پريخودل دمعاصي دى، اوپه احداث دذكرسره مراد عمل دې په طاعاتو، (روح) اوتقوى دقبيلي دتخليي نۀ ده اواحداث دذكردقبيلي دتحليي نه دې اوتخليه مقدمه وي په تحليي باندى نوځكه دلته هم تقوى مقدمه شوه اويامراد په تقوى سره عمل كول دى په قرآن دوجي دېري دالله ﷻ نه اواحداث ذكرنه مراد وعظ قبلول دي په رغبت سره(طبرى)او، اودپاره دمانعة الخلودي اويا په معنى دواو سره دې.

فائده: نسبت دتقوى سامعينوته اوشواونسبت داحداث دذكر قرآن ته اوشوپه تغيرددي اسلوب كښ بعض علماؤ دانكته بيان كړيده چې تقوى مطلوبه ده بالذات دمخلوقاتونه،نوددي وجه نه نسبت ئي سامعينوته اوشواواحداث دذكردتقوى پشان مطلوب نوو،نوددي وجه نه اسلوب بدل كړې شو ،اوبعض فرمائي چې تقوى نسبت ځكه دوئ ته اوشوچې دايوه ملكه نفسانيه ده نونسبت هغه چاطرف ته مناسب دې چې په چاپوري قائمه وي،اوذكرهغه نصيحت دې چې دقرآن اوريدلوسره حاصليږي(يعنى داكمه درجه ده دتقوى نه) نوددي وجه نه نسبت ئي قرآن ته اوشو(روح).

﴿فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ﴾پدي ايت كښ اول ثمره اونتيجه دماقبل ايتونودتوحيداوثمره دصدق دقرآن بيانيږي يعنى ددي ماقبل ټولونه دامعلومه شوه چې متصرف،مختار،اوعالم الغيب صرف الله ﷻ دي اوصرف هغه حقيقي بادشاه دې، لهذا صرف دهغه عبادت كوئ اوبيا﴿وَلَا تَعْجَلْ ﴾ سره دتشجيع بيانيږي سره دادب دتلاوت دقرآن نه، يعنى دقرآن مجيدنازلي دوپه وخت كښ جلتي مه كوه په تلاوت دقرآن سره بلكه ښه په غورسره ئي اوره اوچې كله وحي ختم شي نوبيائي ښه په جرات اوبهادرئ سره تبليغ كوه لكه چې څرنګه موسى عليه السلام كړې وو،نوپه ﴿وَلَا تَعْجَلْ ﴾

سره نهي دعجلت نه ده په لوستلو دقرآن کښې اوتعليم دادب دې دلوستلو دقرآن يعني چې جبرئيل عليه السلام وحى راوړي نو ترڅو چې هغه نوي فارغ شوي نو دهغه دفارغ کيد لو نه مخکښې دقرآن په لوستلو کښې تلوارمه کوه اوداسې په سورة القيامه کښې هم دى چې، لاتحرّك به لسانك لتعجل به.
اوبعض فرمائى چې دانهي دعجلت دبيان نه. ده اومطلب دايت دادې چې ترڅو دايت اودقرآن په مراد باندې نه ني پوهه شوي نو ترهغې پورې ئى بل چاته مه بيانوه، نوحيُه. په معنٰى دبيانه اوتاويله سره دې،اى من قبل ان يقضٰى اليك بيانه(كبير)المعنى لاتلقه الى الناس من قبل ان ياتيك بيان تاويله(قرطبى) اوپه آخردايت کښې حکم ددعادې دپاره دزياتوالي دعلم چې په وحي کښې دجلتئ کولو ضرورت نيشته دې، بلکه دجلتئ کولو په ځائ ته د زياتوالي دعلم اودوحي دُعاکوه چې. ﴿رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا﴾ اودا دليل دې پدې چې علم دانبياء کرامو علم کلي اومحيط نو وبلکه محتاجه وو زيادت اوترقئ ته په علم کښې اودغه شان دادليل دې په فضيلت دعلم باندې، اوعلماء فرمائى چې رسول الله ﷺ ته دبل شي زيات غوختلو حکم ندې ورکړې شوي سيوا دعلم نه اوهم دا وجه ده چې حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمائى چې نبى عليه السلام به دادعا ډيرغوختله،اللّهم انفعنى بماعلمتنى وعلمنى ماينفعنى وزدنى علماً والحمدلله على كل حال،اودحضرت ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دې چې نبى ﷺ به دادعاغوختله. اللّهم زدنى ايماناوفقهاً ويقينا وعلماً، اوحضرت سفيان بن عيينة رحمه الله فرمائي چې نبي عليه السلام به دزيادت دعلم دعاغوختله نودډي وجه نه ترمرګ وخته پورې په نبي عليه السلام باندې وحي نازليدله لکه چې په صحيح حديث دمسلم کښې دى ان الله تابع الوحى على رسوله حتى كان الوحى اكثرماكان يوم توفى رسول الله ﷺ (ابن كثير).

وَلَقَدْ عَهِدْنَآ إِلَىٰٓ ءَادَمَ مِن قَبْلُ فَنَسِيَ وَلَمْ نَجِدْ لَهُۥ عَزْمًا ﴿١١٥﴾
اوبيشکه حکم کړې وومونږ ادم عليه السلام ته مخکښې دَدينه پس هغه هيرکړو اونوو موندلى مونږه دې قصد(عزم)کوونکى دګناه

﴿وَلَقَدْ عَهِدْنَآ﴾ داابتداء ده دواقعي دآدم عليه السلام اوداووم(۷) مقام دې چې واقعه دآدم عليه السلام بيانيږي. ربط دې ايت دماقبل سره په څووجوه سره دې(۱) ماقبل کښې ترغيب وو په باره دقرآن کښې اوتحريض په زيادة دعلم باندې نواوس پدې ايت کښې واقعه دآدم عليه السلام بطورنمونه بيانيږي دپاره دتحذيردنسيان ،چې علم زده کړه اوسوال دزيادت دعلم کوه ځکه چې ستانيکه حضرت

...ز السلام نه هم خبره هيره شوي وه اوپه تكليف كښ مبتلاء شوي وو(روح) (۲)بعض فرمائي چې په ماقبل كښ ممانعت وو دتعجيل، يعنى جلتي كولونه چې ﴿ وَلَا تَعْجَلْ بِٱلْقُرْءَانِ ﴾نوپدي ...ـنونوكښ نقصان دتعجيل، ذكركيږي په واقعي دادم السلام سره(روح)(۳) امام رازى رحمه الله چې په ماقبل كښ نبى ﷺ دتعجيل نه منع كړې شو چې دامرتبه دافراط وه ځكه چې پدي كښ يعنى جلتئ كولوسره زيادت على الواجب راتلو(ځكه چې استماع واجبه ده) نواوس پدي ايتونوكښ تساهل د ادم السلام ذكركيږي چې دامرتبه دتفريط ده، نوماقبل كښ تحذيروو دمرتبې دافراط نه اوپدي كښ تحذيردې دمرتبې دتفريط نه(۴)حضرت تهانوي رحمه الله فرمائي چې ماقبل ايتونوكښ وعيد ذكرشوي وو منكرينودپاره چې﴿مَّنْ أَعْرَضَ عَنْهُ ﴾اوس دتاكيددپاره واقعه دآدم السلام بيانيږي چې حضرت آدم السلام دكمال مقرب كيدلوباوجود معمولى غُندي بى احتياطى اونسيان هغه ته تكليف اورسولونوعاموخلكو ته هم داعراض سزاميلاويدل مستبعدندي،(۵) اوحضرت الشيخ رحمه الله دكلام نه دامعلوميږي چې دادقبيلى دعطف القصة على القصه نه دې نوماقبل كښ دحضرت موسىٰ السلام واقعه تفصيل سره بيان شوه دپاره دتشجيع اواوس دآدم السلام واقعه مختصرأذكر كيږي دپاره دتحذيردنسيان نه چې دحضرت موسىٰ السلام پشان په عزم اواستقلال سره دعوت اوتبليغ دقرآن اوكړه، اودحضرت آدم السلام پشان په خپل عزم كښ اواستقلال كښ كمي نقص مه راوله.

﴿مِن قَبْلُ﴾يعنى مخكښ ددې منكرينونه، يامخكښ دپيدائش دمخلوقاتونه﴿فَنَسِيَ وَلَمْ نَجِدْ لَهُۥ عَزْمًا﴾ نسيان ياپخپلې معنى سره دې يعنى آدم السلام نه دالله تعالى عهداوحكم چې ممانعت وو دخوراك ددې نه هغه ته هيرشواويادئې نه كړې شو ،اوعتاب په نسيان باندې نوو ځكه چې نسيان دوجې نه مخالفت دامر گناه ندې،بلكه عتاب په ترك داهتمام باندې وو ،اوياپه معنى دترك سره دې يعنې چې دكوم ځيزنه دځان ساتلوحكم ورته شوي وو نوهغه حكم ئې پريخودلواودوني نه ئې ميوه اوخوره، نوپدي اعتبارداخطاء اجتهادي وه، نوعتاب دخلاف اولى اواحسن كارپريخودلودوجې نه اوشو .ليكن اوله معنى زياته غوره ده په دليل دولم نجدله عزما، سره يعنى دده په زړه كښ دگناه اونافرمانئ اراده نوه بلكه هيرشوې وو.

وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ اَبٰى ﴿۱۱۶﴾

اوکوم وخت چې اوئیل مونږه فرښتوته چې سجده اوکړئ آدم علیه السلام ته نوسجده اوکړه دوئ مګر ابلیس.انکارئ اوکړو

فَقُلْنَا يٰٓاٰدَمُ اِنَّ هٰذَا عَدُوٌّ لَّكَ وَلِزَوْجِكَ فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا

پس اوئیل مونږه اې ادم علیه السلام بیشکه دادشمن ستادې اوستادبې بې دې پس هرګزاودې نه باسي تاسو دواړه

مِنَ الْجَنَّةِ فَتَشْقٰى ﴿۱۱۷﴾ اِنَّ لَكَ اَلَّا تَجُوْعَ فِيْهَا وَلَا تَعْرٰى ﴿۱۱۸﴾

دَجنت نه پس په تکلیف به شې.بیشکه تالره دي چې نه به اوږې کیږې پدیکښ اونه به بربنډیږې

وَاَنَّكَ لَا تَظْمَؤُا فِيْهَا وَلَا تَضْحٰى ﴿۱۱۹﴾ فَوَسْوَسَ اِلَيْهِ الشَّيْطٰنُ

اوبیشکه ته نه به تږي کیږې پدیکښ اونه به درله ګرمي کیږي.پس وسوسه واچوله ده ته شیطٰن

قَالَ يٰٓاٰدَمُ هَلْ اَدُلُّكَ عَلٰى شَجَرَةِ الْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَّا يَبْلٰى ﴿۱۲۰﴾ فَاَكَلَا

(او)اوئیل ئي ای ادم آیااوښایم تاته ونه دَهمیش والي اوبادشاهي چې نه به زړیږی. پس اوخوړلودې دواړو

مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْاٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ

دَدغه ونې نه پس ښکاره شول دوئ ته عورتونه دَدوئ اوشروع شول داوړه چې لګولوني په ځان باندی دَپاڼرو دَجنت نه

وَعَصٰٓى اٰدَمُ رَبَّهٗ فَغَوٰى ﴿۱۲۱﴾

اوخلاف اوکړو ادم علیه السلام دَحکم درب خپل نه نومرادنه اونه رسیدلو.

﴿اَسْجُدُوا﴾ تشریح ددې سجدې په متعددومواضعوکښ تیره شویده ﴿فَقُلْنَا يٰٓاٰدَمُ﴾ فاء دَتعقیب دَپاره نودَسجدې دَانکارنه پس الله جل جلاله حضرت آدم علیه السلام ته دانصیحت اوکړو ﴿عَدُوٌّ لَّكَ وَلِزَوْجِكَ﴾ هرکله چې عطف په مجرور باندی بغیردَاعادې دَجرنه صحیح نوعندالجمهور نوځکه اعاده دَحرف جاریعنی دَلام اوکړې شوه، اودغه شان پدیکښ اشاره وه دیته چې دَشیطان

دشمني دحواء سره اصالة وه نه تبعا﴿فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا﴾ نسبت داخراج شيطان ته اوشو تسبيبا ځکه چې اخراج دجنت نه دادیوسبب دوجي نه وي، پخلاف ددخول فى الجنة نه چې محض په فضل دالله ﷻ سره دي نو ددي وجه نه په اسکن کښې نسبت تسبيباً چاته ندي شوي ﴿فَتَشْقَىٰ﴾ماخوذ دي دمشقت نه مرادتنه ددنیادمعاش په سلسلې کښې سترې اوستومانياني دی،(مدارك) اودلته صيغه دتثنيې رانه وړی شوه بلکه اکتفاء دواحدپه صيغې اوکړې شوه ځکه چې طلب دمعاش وظيفه دسړی ده، اودغه شان پدیکښې رعايت دفواصلوهم راغليدي.﴿إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ﴾پدي ايتونوکښې څلورصفتونه اونعمتونه دجنت بيانيږي، چې په جنت کښې لوږه نيشته،بربنډيدل نيشته، تنده نيشته، اوګرمي نيشته،اوهرکله چې دجوع(لوږې) تعلق دذلت باطني سره وواوعريان(بربنډيدلو)تعلق ذلت ظاهري سره وونودډي وجه نه دواړه، يوځائ ذکرشو، اودظمأن(تندې) تعلق دګرمئ باطني سره وو اودضحی تعلق دګرمئ ظاهري سره وونودډي وجه نه دادواړه په يوځائ ذکرشولو ،اوداپه صورت دنفي کښې ذکرشو ،دپاره دآثبات داضدادو دوئ په طريقې اوکدي سرى چې شبع(موړوالى) ری(سيراب والى) ،کسوة(پټ والى) اوکن(حفاظت دګرمئ نه دي)اودغه شان پدیکښې اشاره ده چې جنت کښې دلوږې، تندې وغيره تصوريه نوي، اوخوراك، څکاك وغيره به صرف دخوند اولذت دپاره وي اوداپه حقيقت کښې تفسيردتشقى دي چې په جنت کښې تاته داځيزونه بلاتعب اومشقت ميلاويږي اوپه دنياکښې به بيادډي پاره محنت اومشقت کوي.

فائده: جنت کښې چې څرنګه ګرمي نيشته دي نودغه شان يخني هم نيشته دي ليکن تکليف دګرمئ ډيرزيات دي په نسبت سره يخنئ ته، اوګرمی په خليجي اوعربوممالکوکښې ډيرزياته ده اوهغوئ به دګرمئ نه ډيرتنګيدلودډي وجه نه اکتفاء په نفي دګرمئ سره اوشوه.﴿فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ﴾پدي آيت کښې ذکردوسوسي دي، چې شيطان حضرت آدم عليه السلام ته وسوسه واچوله، اوشيطان په ډيرتاکيدسره دوئ ته قسم اوخوړلوچې داونه چې تاسوتنه منع کړې شوی يئ شجرة الخلد، ده يعنى ددې دخوړو دوجي نه به په تاسوباندی فناء نه راځي يعنى دمرګ نه به بچ شئ،اودويم پدي سره داسي بادشاهى اونعمتونه حاصليږي چې هغه به هميشنه وي اوڅه قسم کمي اونقصان به پکښې نه راځي، اوباقى داخبره چې شيطان وسوسه څرنګه آدم عليه السلام ته واچوله،

اوآدم علیه السلام دَده په خبره خرنګه، يقين اوکړو داټول مباحث په سورة البقره اوپه سورة الاعراف کښې تفصيلا تيرشويدی (من شاء فليطالع ثمه)

فائده: شجرة الخلد په جنت کښې يوه ونه شته دې، چې دهغې په باره کښې په حديث دَابوهريرة رضي الله عنه کښې داسې راغليدی، قال رسول الله ﷺ انّ في الجنة شجرةً يسير الرّاکب في ظلّها مائة عام مايقطعها وهي شجرة الخلد ترجمه: حضرت ابوهريرة رضي الله عنه دَنبی ﷺ نه روايت نقل کړيدې چې نبي علیه السلام ارشاد اوفرمائيلو چې بيشکه په جنت کښې يوه ونه ده چې يوسوارسړی دَهغې په سوري کښې سل کاله سفر اوکړي خوبيا به هم دهغې سوري ترسره نه کړي اودا شجرة الخلد ده دا روايت ابن کثير رحمه الله په حواله دَابوداود طيالسی اوپه روايت دَامام احمد رحمه الله سره نقل کړيدې، ليکن شيطان لعين شجرة الخلد هغې ونې ته اوئيل په دروغوسره چې دکومې ونې نه حضرت آدم علیه السلام منع کړې شوې وو. ﴿فَأَكَلَا مِنْهَا﴾ حضرت آدم علیه السلام اوحوا بي بي علیها السلام دشجرممنوعې نه خوراك اوکړو اوپه سورة اعراف کښې ذاقا ذکرشويدې دَهغې نه مرادهم خوراك دې خوقليل لږ غوندې خوراك ئې اوکړو. ﴿فَبَدَتْ لَهُمَا﴾ دَجمهورو په نيزداپه ظاهرباندی محمول دې چې حقيقةً کيږي ورنه لږي شولي اوعورتونه ئې ظاهرشول، په دليل دَدې ورستو الفاظوسره چې، ﴿وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ﴾ يعنی پيوست کولې ئې اوګنډلې يې ياتړلې دَيوبل سره، اوتثنيه په مقابل دَتثنيې کښې تقاضاکوي دَتقسيم احد على الاحدباندی، يعنی هريوته خپل خپل عورت ښکاره شواوهريوخپل عورت پټولوکوشش کولو، اودَيوبل عورت دَليدلوڅه دليل نيشته دې، اوضميردَ ﴿عَلَيْهِمَا﴾ ياراجع دې آدم علیه السلام اوحوا علیها السلام ته اومضاف مقدردې يعني على سوآتهما، اوياضميرراجع دې ﴿سَوْءَتُهُمَا﴾ ته نوحاجت نيشته دې، بياتقديردَمضاف ته، اوهرکله چې شرم اوحجاب دَانسان دپاره فطري اوطبعي امردې اوبې حجابي طبعًا اوعقلًا مستهجنه اوقبيح عمل دې، نودَدې وجه نه حضرت آدم علیه السلام اوحوا علیها السلام خپل عورتونوپټولوکوشش کولو. ﴿وَعَصَىٰ ءَادَمُ رَبَّهُۥ فَغَوَىٰ﴾ عصيان وئيلی کيږي مخالفت دَامرته برابره خبرده چې حقيقة وي لکه عمداً مخالفت کول اوياصرف صورتًاوي لکه نسياناًشو، نوګوياچې دَعصيان دَپاره دوه (۲) افراد دي يوفردحقيقي اوبل فردصوري، نوګناه دانسته طورباندی قصدا اوارادة خلاف امرکارته وئيلی کيږي،

او دحضرت آدم عليه السلام شجر ممنوعه خوړل نسياناً وو، نو پدي باندی دعصيان اطلاق صورتاً دي. نو دحضرت ادم عليه السلام داعمل ګناه ندې اويا دحضرت آدم عليه السلام داعمل مبني وو په اجتهادي خطاء باندی، ځکه چې شيطان دوئ ته قسمونه خوړل او تاويل ئي ورته او کړو چې تاسو دغي يوي مشهوري وني دخوراك نه منع کړې شوي ی، اوحضرت آدم عليه السلام هم دقسم د وجي نه اود دينه مخکښ ددروغونه اوريدلو دوجي نه د ده په خبري باندی يقين او کړو او دهغې وني، نه ئی خوراك او کړو پدي اجتهاد خپل سره چې څه دیوي مخصوصي وني نه منع کړې شوي يم، نو په خطاء فی الاجتهاد باندی هم اطلاق دعصيان صرف اوصرف صورتادي، نه حقيقة، اودغه شان علماء فرمائی چې عصيان کلي مشکك دي چې افراد ئي متفاوت دي، نودانبياء کرام اودمقربينو په حق کښ دعصيان اطلاق دهغوئ دشان سره غيرمناسب يعنی ترك داحسن اواتيان په حسن باندی کيږي،نودلته هم حضرت آدم عليه السلام ترك داحسن(چې عزيمت وو)کړې وونوځکه پري اطلاق دعصيان اوشو په قانون دحسنات الابرارسيئات المقربين،باندی، ليکن په ټولوکښ غوره توجيه دحضرت علامه شبير احمد عثمانی رحمه الله ده چې هغه فرمائی چې ممانعت داکل نه دانهي تشريعي نوه بلکه نهي تشفيقي وه ځکه چې جنت دارتکليف ندې نوګناه اومعصيت حقيقة مخالفت دامرتشريعي ته وئيلی کيږي، اودامرتشفيقی مخالفت ته ګناه نه وئيلی کيږي نوددي مطلب هم دادي چې اطلاق دمعصيت په فعل دآدم عليه السلام باندی صرف صورتادي اوداصرف اشتراك لفظی دي، اوحقيقت ددواړو جداجدادي(تفصيل ددي په سورة البقره اواعراف کښ تيرشويدي) ﴿فَغَوَىٰ﴾دغويت نه دي په معنیٰ دمحروم کيدلوسره دمقصدنه،يعنی حضرت آدم عليه السلام چې دکوم مقصد دپاره خوراك اوکړو نو هغه مقصدئی پوره نشو،بلکه دابليس دوسوسي په وجه دجنت نه هم رااوتلو،نوددي توجيهاتونه معلومه شوه چې پدي ايت چې پدي ايت سره استدلال کوم په صدوردګناه باندی دانبياء کرامونه، باطل دي.

فائده: ابن العربی په احکام القرآن کښ ددي ايت په ضمن کښ ليکلي دی، لايجوز لاحد مناان يخبربذلك عن ادم الااذا ذکرناه فی اثناء قول الله عنه اوقول نبيه واما ان نبتدئ فی ذلك من قبل انفسنا فليس بجائز الخ (احکام القرآن لابن العربی ص۲۱۵ ج۳) يعنی هيڅ چاد پاره داجائزندی چې داجمله ﴿وَعَصَىٰٓ ءَادَمُ رَبَّهُۥ فَغَوَىٰ﴾دحضرت آدم عليه السلام په باره کښ په طريقه داخبار مستقله سره استعمال

کړي مګرپه هغه صورت کښې ئې ذکرکولی شي چې تلاوت کوي اودتلاوت په دوران کښې داجمله راشي، اوياحديث نقل کوي اوداجمله راشي، اوخپل طرف نه پدي باندې ابتداء کول جائزندي.

امام قرطبي رحمه الله دَدې په تنويرکښې ليکلي دي قلت واذا كان هذا في المخلوق لايجوزفالاخبار عن صفات الله عزوجل كاليدوالرجل والاصبع والجنب والنزول الى غيرذلك اولى بالمنع وانه لايجوزالابتداء بشئ من ذلك الافي اثناء قراءة كتابه اوسنة رسوله الخ يعني هرکله چې دَانبياء کرامو عليهم السلام دَعالي رتبې دَوجې نه ددوئ په باره کښې دامذکوره جمله وئيل جائزندي باوجود دَدې چې انبياء کرام اوعام مخلوقات په مخلوق کيدلوکښې برابردي نودَالله ﷻ هغه صفات چې دَقبيلې دَمتشابهاتونه. دي لکه لاس،خپه، ګوته، سنګ،اوکوزيدل وغيره داپه طريقه دَاخبارمستقله سره ذکرکول بطريق اولى ناجائزدي، اوپديکښې په يوباندې هم ابتداء کول ناجائزدي مګرپه هغه صورت کښې ذکر جائزدي چې په دوران دَتلاوت کښې راشي، اوياپه حديث دَرسول الله ﷺ کښې راشي الخ.دغه شان دَحضرت آدم عليه السلام په باره کښې اګرچه داراغليدي چې﴿وَعَصَىٰٓ ءَادَمُ رَبَّهُۥ فَغَوَىٰ﴾ ليکن حضرت ادم عليه السلام ته عاصي، ياغاوي، وئيل قطعاجائزندي اووجه دَعدم جواز چې عرف کښې دَعاصي اودَغاوي، اطلاق په هغه چاباندې کيږي چې دَهغه نه عصيان باربارمتحقق شوي وي حقيقةً، نودَادب دَوجې نه آدم عليه السلام باندې اطلاق دَعاصيي اوغاوي، نه کيږي اګرچه لغةً کيدلی شي،(کبير) اويودويمه وجه امام رازي رحمه الله داذکرکړيده چې دَدَغي عصيان صورتاًچې دَحضرت ادم عليه السلام نه صادرشوي وو،خوالله ﷻ ورته عفوه مغفرت هم کړې وو، اودَعفوي اومغفرت نه ورستواثردَدَغي عصيان صورتاً برقرارپاتې نشونودَدې وجه نه اطلاق دَاسم فاعل پرې هم جائزندې لکه يوسړی نه کفرصادرشوي وي اوبياتوبه اوباسي نواطلاق دکافرپرې جائزندې، نودغه شان په حضرت آدم عليه السلام باندې هم اطلاق دَعاصي اوغاوي جائزندې.

ثُمَّ	اجْتَبٰهُ	رَبُّهٗ	فَتَابَ	عَلَيْهِ	وَهَدٰى	قَالَ	اهْبِطَا

بياغوره کړو ده لره رب دَده پس رااوګرځوئې رحمت په ده باندې اوکلک ني کړو، اوئيل الله ﷻ کوزشئ

مِنْهَا	جَمِيْعًا	بَعْضُكُمْ	لِبَعْضٍ	عَدُوٌّ	فَاِمَّا	يَاْتِيَنَّكُمْ	مِّنِّيْ	هُدًى

ددې ځائې (جنت)نه ټول څنې ستاسودَځنونوردشمنان به وي پس کچرې راشي تاسوته خمادَطرف نه هدايت

فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقٰى ۝ وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِيْ
نو چاچه تابعداری اوکړه خما دَهدايت نونه به بې لارې کيږي اونه به بدبخت کيږي اوچاچې مخ واړولو دَياداشت خمانه
فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا وَّنَحْشُرُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَعْمٰى ۝قَالَ رَبِّ لِمَ
پس بيشکه هغه لره ژوند تنګ دې اوراپورته به کړو مونږ دې په ورځې دَقيامت ړوند .اوبه وائي دی ای ربه خما ولې
حَشَرْتَنِيْٓ اَعْمٰى وَقَدْ كُنْتُ بَصِيْرًا ۝قَالَ كَذٰلِكَ اَتَتْكَ اٰيٰتُنَا
تا خه راپورته کړمه ړوند اوحال داچې ووم خه ليدونکی په دنيا کښې. اوبه وائي الله ﷻ دغسې راغلې وو تاته اياتونه زمونږ
فَنَسِيْتَهَا ۚ وَكَذٰلِكَ الْيَوْمَ تُنْسٰى ۝وَكَذٰلِكَ نَجْزِيْ مَنْ اَسْرَفَ
نو هيرکړو تاهغه اوهمدا رنګې نن ورځ ته هيرکړې شوې،اودغسې سزاورکوو مونږ هغه چاته چې دَحدنه تيرشويدې
وَلَمْ يُؤْمِنْۢ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ ؕ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَشَدُّ وَاَبْقٰى ۝
اوايمان ئې ندې راوړی په اياتونودرب خپل اوعذاب دَآخرت ډيرسخت دې اوباقې پاتې کيدونکی دې.

﴿ثُمَّ اجْتَبٰهُ﴾يعنی الله ﷻ دَشيطان مزيدوسوسونه دَحضرت ادم ﷺ حفاظت اوکړو اوخان ته ئې قريب کړو﴿فَتَابَ عَلَيْهِ﴾ تاب په معنی دَرجع سره دې، يعنی الله ﷻ په ده باندې رجوع دَرحمت اوکړه اودَده توبه ئې قبوله کړه ای رجع عليه بالرحمة وقبل توبته(روح) اوتوبه دَخواصودَرفع درجاتو دَپاره وي اويامطلب دادې چې کله هم درجه بلنده شي اومرتبه اوچته شي نوماتحت درجه ورته په منزله دَګناه ښکاره شي، نودَمزيداجتبائيت اوقربت نه پس ادم ﷺ ته خپله ماتحت مرتبه په منزله دَګناه ښکاره شوه نوځکه ئې توبه اويستله اوالله ﷻ ئې توبه قبوله کړه﴿وَهَدٰى﴾مراد تنه ثبات اوکلکوالی دې اوبعض فرمائی چې هدايت په معنی لغوي سره دې اومراد تنه راهنمائي اوهدايت دې کيفية دَتوبې ته، اوپدې توجيه سره "واوُ دَمطلق جمعي" دپاره دې نوداسوال نه واريد يږي چې قبول دَتوبې اول وو،او طريقه اوکيفية ښودل ورستو وو ،حالانکه امربالعکس دې. ﴿قَالَ اهْبِطَا﴾قبول دتوبې نه بعدحکم دَهبوط کښې اشاره ده چې داخروج دَجنت نه

په طوردَاعزازسره دي، اودخلافت دَپاره وو، اوپه طوردَ ذلت سره ندي اوخطاب دَغوره قول مطابق حضرت آدم عليه السلام اوابليس ته دي اوحواء تابع وه دَادم عليه السلام اوابليس په اول حكم سره(لكه چې په سورة اعراف،اوسورة الحجركښې دي) دَجنت نه اسمانونوته راخارج كړې شوي وو اوپه دويم خلي په دي حكم سره زمكي ته راكوزكړې شو دَآدم عليه السلام سره، اوهركله چې دوئ دواړه مشتمل وو په خپل ذات كښې په ډيروافرادو باندې نوځكه دَتاكيددَپاره جميعا اوئيلې شو﴿فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى﴾ مراد تنه رسولان، او كتابونه دي ﴿فَمَنِ ٱتَّبَعَ هُدَايَ﴾دابشارت دي﴿فَلَا يَضِلُّ﴾مرادتنه په دنياكښې گمراه كيدل دي﴿وَلَا يَشْقَىٰ﴾مراد تنه په آخرت كښې نامراده كيدل دي.
حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه مروي دي چې چاقرآن اولوستلو اودهغې دَاحكاماتو تابعداري ئې اوكړه نوالله تعالىٰ به دې په دنياكښې دگمراهئ نه اوپه آخرت كښې دَبدبختئ نه بچ كړي(طبري، ابوحاتم رازي).﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي﴾ داتخويف دې اومراد په ذكرسره دين اوقرآن دې (قرطبي).﴿مَعِيشَةً ضَنكًا﴾ضنك مصدردې حمل ئې په﴿مَعِيشَةً﴾باندې مبالغة دې، اوونيلې كيږي تنگوالي ته،اومراد تنه يادَدنيا دَژوندتنگوالى دې لكه چې دَ ده نه به قناعت واخستلې شي، حرص اولالچ به ئې زيات كړې شي هيڅ قسم ارام اودزړه سكون به ورته نه وي حاصل،ظاهري نعمتونه به ورسره وي، دخوراك سكاك سامان به ورسره ډيروي،اواسباب دَتعيش بهٔ ورته فراهم وي خو اطمينان اوسكون ورته نوي حاصل هروخت كښې به دَمال فكروړى وي، لكه دامشاهده ده دَبې دينه دنياداروخلكو، چې دَهرقسم مالي فرواني باوجود ډپريشن(بې اطمينانئ) په مرض كښې مبتلادي،دَخوب راوستلو دپاره مختلف قسم دوايانى استعماله وي(اعاذناالله منها آمين).اوياتنه مراد دَقبرتنگوالى دې لكه روايت دې دَحضرت ابوسعيدالخدرى رضي الله عنه عبدالله بن مسعود رضي الله عنه اودَحضرت ابوهريرة رضي الله عنه نه چې يضيق على الكافر قبره حتى تختلف فيه اضلاعه وهوالمعيشة الضنك چې په كافرباندې به قبرتنگ كړې شي تردي چې دده پوختئ به په يوبل كښې ننوځي اودامراد دې په معيشة الضنك، سره(قرطبي،ابن كثير) اودَاخرت ژوندتنه هم مراد كيدې شي لكه دامروي دې دَسعيدابن زيد رضي الله عنه نه چې دَمعيشة الضنك نه مراد دَجهنم والازقوم، غسلين اوضريع دي.

﴿وَنَحْشُرُهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ أَعْمَىٰ﴾غوره قول دادې چې مراد دَاعمى نه حقيقة اعمى يعنى په سترګوباندى ړوندمراددې. اوداړوند والى به بالكل په ابتداء كښ وي اوورستوبه ورته بيا سترګي وركړې شي، اوبعض فرمائى چې اعمى نه مراد دَدليل نه ړنديدل دى اودَبصير نه مراد خاوند دَدليل دې، يعنى دَقيامت په ورځ بياهيڅ دليل به نشي پيش كولى هردليل به ورنه وروك شي، نودي به ډېرتاسف نه به دااوائى چې﴿رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِىٓ أَعْمَىٰ وَقَدْ كُنتُ بَصِيرًا﴾حماد). ﴿قَالَ كَذَٰلِكَ﴾دا جواب دې دَجانبه دَالله ﷻ اوپديكښ ذكردَسبب دَدغي عذاب دې يعنى څرنګي چې تاته زمونږه ايتونه راغلي وو، اوتادهغې پرواه نوه كړي اودهغې نه دخان ړوندكړې وو نودغه شان دَدغي جرم په سزاكښ نن ستاحشرړوندوالى حالت كښ اوكړې شو، اومراد دَنسيان نه پدې ځائ كښ پريخودل دى﴿وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى مَنْ﴾پدې ايت كښ تعميم دَعذاب ذكردې چې هرڅوك دَالله ﷻ دَحدودُنه، تجاوز اوكړي اوخپلوخواهشاتو پسي روان شي اودَالله ﷻ آياتونوباندى ايمان نه راوړي نوهغه ته به داسي سزاميلاويږي، نوكاف په﴿وَكَذَٰلِكَ﴾كښ دَپاره تشبيه دې اوداتشبيه دَجزاء عام ده دَجزا َخاص سره، اومراد په من﴿أَسْرَفَ﴾سره انهماك دې په خواهشاتوكښ﴿وَلَعَذَابُ ٱلْءَاخِرَةِ﴾يعنى دآخرت عذاب دَدنيا اودَقبرعذاب په نسبت ډېرسخت اوهميشه باقى دې ځكه چې دَدنيااوقبرعذاب منقطع كيږي اودَاخرت عذاب لره انقطاع نيشته دې.

أَفَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّنَ ٱلْقُرُونِ يَمْشُونَ
آيانو نده ښكاره شوي دوئ ته چې څومره هلاك كړيدي مونږه مخكښي ددوئ نه ډېريونه چې ګرځي دوئ
فِى مَسَٰكِنِهِمْ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّأُو۟لِى ٱلنُّهَىٰ ﴿١٢٨﴾ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ
په كورونودَهغوئ كښ بيشكه پدې كښ خامخانښي دى دَعقلونوالودَپاره،اوكچرته نوې فيصله چې مخكښ واقع شويده
مِن رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامًا وَأَجَلٌ مُّسَمًّى ﴿١٢٩﴾ فَٱصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ
ستادرب دَطرف نه نوخامخابه ووعذاب لازم اوكه نوې نيټه مقرره پس صبركوه په هغې باندى چې دوئ ئې وائى

وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا ۚ وَمِنْ اٰنَآئِ الَّيْلِ								
اوتسبیح وایه سره دَحمددَرب خپل نه مخکښ دَختلودنمرنه اومخکښ دَډوبیدلودنمرنه .اوپه څه وختونودَشپې کښ								
فَسَبِّحْ	وَاَطْرَافَ	النَّهَارِ	لَعَلَّكَ	تَرْضٰى ۝	وَلَا	تَمُدَّنَّ	عَيْنَيْكَ	
پس تسبیح اوایه	اوپه طرفونودَورځې کښ		دَدې دپاره چې	ته خوشحاله شې.	اومه	اوږده	وه سترګې خپلې	
اِلٰى	مَا	مَتَّعْنَا	بِهٖٓ	اَزْوَاجًا	مِّنْهُمْ	زَهْرَةَ	الْحَيٰوةِ	الدُّنْيَا
هغې	سامان	دَدنیاته	چې	ورکړیدې	مونږه	مالدارانوته	ددوئ	نه دپاره دَدول دژوندددنیا.
لِنَفْتِنَهُمْ	فِيْهِ ؕ		وَرِزْقُ	رَبِّكَ	خَيْرٌ	وَّاَبْقٰى ۝		
دَپاره دَدې چې ازمیښت اوکړو مونږ دَدوئ په هغې کښ			اوروزی	دَرب ستادَیره	غوره ده	اوهمیشه ده.		

﴿اَفَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ﴾ په دیکښ تخویف اخروی ذکرکیږي سره دزجرنه،او استفهام دَپاره دَتوبیخ دې اودَ هدایت نه مراد تبیین اووضاحت دې اوفاعل دَ﴿یَہۡدِ﴾ دپاره الله ﷻ دې اودَدې تائیدپه قرات دَنون سره هم کیږي اوبعض فرمائي چې هدایت په خپلې معنىٰ سره دې اوفاعل ئې محذوف دې چې "اعتبار-آراء- او عقل" دې اومراد دَهدایت نه دَعقل والاهدایت دې چې دوئ دَخپل عقل نه دومره کارنه اخلي چې سوچ اوفکراوکړي مخښکني قومونه په سبب سره هلاك شوي وو، اوبعض فرمائي چې فاعل دَ﴿یَہۡدِ﴾ دَپاره مفهوم دَدې جملې دې اوجمله دَهغې تفسیردې، تقدیر دَعبارت داسې دې،الم نبين له هلاك من اهلكنامن القرون،ومحوآثارهم فيتعظوا بذلك(بحر) يعنى دَمخکني قومونوهلاکت دوئ ته دومره هدايت هم اونه کړو اودَهغوئ اثارمحو کيدلونه هم دومره وعظ اونصيحت قبول نه کړو.﴿يَمْشُوْنَ فِيْ مَسٰكِنِهِمْ﴾مراد تنه دَقوم لوط،قوم ثمود اواصحاب الحجروغيره علاقې اوديارد ىٔ چې اهل مکه به دامشاهده کوله چې کله به تجارت وغيره دَپاره شام ته تللو﴿وَلَوْلَا كَلِمَةٌ﴾په دیکښ فوري عذاب نه نازليدلوحکمت بيانيږي، اومراد په ﴿كَلِمَةٌ سَبَقَتْ﴾سره تاخيردَعذاب استيصالي دې، او﴿وَاَجَلٌ مُّسَمًّى﴾په رفعې سره عطف دې په کلمة

باندې اومرادتنه اجل حيات يعنې عمرونه دَدوئ دي اوياتنه آجال اهلاك يعنې يوه مخصوصه نيټه دهلاكت ددوئ ده چې معلومه ده فقط الله ﷻ ته اوياتنه دَقيامت عذاب مراددې نودَايت مقصدداډې کچرته الله ﷻ دَدې امت دَمکذبينونه دَعذاب استيصالى دَتاخيرفيصله نوى فرمائيلې اودَدوئ عمرونه،يادَعذاب وخت په علم دَالله ﷻ کښې مقررنوى نوفوراً به دوئ هلاك کړې شوي وو، او﴿لِزَامًا﴾په اصل کښې مصدردې اګرچه دلته په معنى دَاسم فاعل لازماسره دې ﴿فَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ﴾داپنځم ايت دَتشجيع دې اوپديکښې تشجيع ده په پنځه امورو سره اوداامراول دې،اوفاء په ﴿فَٱصۡبِرۡ﴾کښې جزائيه ده اوداجمله جزاء واقع شويده دَشرط مقدردَپاره نوتقديردَعبارت دارنګه دې، اى اذاكان الامرعلى ماذكرمن ان تاخيرعذابهم ليس باهمال بل امهال وانه لازم لهم البتة فاصبر الخ(روح) اومرادپه صبرسره ترك قتال ندې حتى چې احتياج راشي بيانسخ دَايت ته لکه داقول کړيدې بعض مفسرينو، بلکه مرادتنه عدم اضطراب دې يعني پريشانه کيږه مه، اومراد په﴿مَا يَقُولُونَ﴾سره الفاظ اوکلمات کفريه دَدوئ دي لکه نبى ﷺ ته ساحر، کاذب، کاهن وغيره وئيل، ﴿وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ﴾داامرثاني دې اومرادپدې سره دَاکثرمفسرينوپه نيز، مونځ مراددې، په قرينې دَدې ورستوکلام سره چې﴿قَبۡلَ طُلُوعِ ٱلشَّمۡسِ﴾ چې پديکښې اشاره ده پنځه اوقاتودَمونځونوته، په﴿قَبۡلَ طُلُوعِ ٱلشَّمۡسِ﴾کښې اشاره ده دَسحرمونځ ته ځکه دَسحرمونځ وخت دَطلوع دَنمرنه مخکې دې اوپه﴿وَقَبۡلَ غُرُوبِهَا﴾کښې اشاره ده مازيګرمونځ ته، ځکه چې دَغروب نه لږ وړاندې دادَمازيګروخت دې، اومِنۡ په ﴿وَمِنۡ ءَانَآيِٕ ٱلَّيۡلِ﴾ کښې په معنى دَ ،في سره دې اوپديکښې اشاره ده مونځونو دَماښام اوماسخوتن ته، ځکه چې دادواړه مونځونه دَشپې په وخت کښې دى دااقول دَاکثرو مفسرينودې اوقرطبى رحمه الله وغيره فرمائى چې دَ ﴿ءَانَآيِٕ ٱلَّيۡلِ﴾نه مراد صرف مونځ دَماسخوتن دې، اوپه﴿وَأَطۡرَافَ ٱلنَّهَارِ﴾سره مراد مونځ دَ ماسپخين دې بالاتفاق دې، ځکه چې وخت دَماسپخين هم په اطرافودَورځې کښې دې چې داوخت په انتهاء دَنصف اول اوپه ابتداء دَنصف ثاني کښې دې، نوپدې اعتبارمراد دَاطراف يعنې جمعې نه مافوق الواحد،

دادوه (۲) اطرافه مراددي. قرطبي رحمه الله وغيره فرمائي چې اطراف نه مراد دوه (۲) اطرافه حقيقة دي، چې يوطرف انتهاء دنصف اول دي چې داوخت دماسپخين دي. اوبل طرف انتهاء دنصف ثاني دي چې هغه دماښام دي، اوداتوجيه زياته انسبه او اليقه ده دنظم دكلام سره. اوديته ترجيح وركړيده حضرت الشيخ رحمه الله. ﴿لَعَلَّكَ تَرْضَىٰ﴾ دامتعلق دي په سبح پوري، يعنى پدي اوقاتوكښ مونځونه اوعبادتونه كوه پدې اميدچې الله تعالىٰ به تاته پدې باندى داسې بدلې دركړي چې ته به پرې خوشحاله شي. ﴿وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ﴾ داامرثالث دي، اوپديكښ تزهيدفى الدنياذكركيږي چې ددې كفارودمال وغيرنه مه متأثره كيږه، بلكه ښه په شجاعت اودليرئ سره دتوحيد دعوت وركوه اوددوئ دامال، دولت اوشان وشوكت دېوخوورځوازمائش اوامتحان دي اواصل انعام دآخرت دي او ﴿وَلَا تَمُدَّنَّ﴾ كنايه ده نفي دميلان نه دنياته اودعدم تاسف نه په نه ميلاؤيدلودمال اودولت باندى. ﴿أَزْوَاجًا﴾ من په ﴿مِّنْهُمْ﴾ كښ بياني دي ﴿أَزْوَاجًا﴾ مفعول د ﴿مَتَّعْنَا﴾ دې، اومرادتنه رئيسان دكافرانودي، اودوئ ته ازواج پدې اعتبارسره وئيلى شويدي چې دوئ مشابه دي دېوبل سره په دنياپرستئ كښ، ياورته پدې اعتبارسره ازواج وئيلى شويدي چې ددوئ عقائددېوبل سره مشابه دي يعني مشركين، يهود، نصارىٰ وغيره. ﴿زَهْرَةَ الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا﴾ زهرة په معنىٰ د زينت اوخائست سره دي، اودامنصوب دي بناء پدې چې دامفعول به دي دفعل مقدردپاره چې جعلنا دي اوپدې باندى دلالت كړيدې ﴿مَتَّعْنَا﴾ اويادابدل دي د ﴿أَزْوَاجًا﴾ نه په تقديرد ذوي يا اهل سره، نودتقديردعبارت داسې دي ﴿إِلَىٰ مَا مَتَّعْنَا بِهِۦٓ﴾ دوى د ﴿زَهْرَةَ الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا لِنَفْتِنَهُمْ﴾ دامتعلق دي په ﴿مَتَّعْنَا﴾ پورې ﴿وَرِزْقُ رَبِّكَ﴾ مرادتنه ياجنت دي يعني رزق اخروي، اوياتنه مراددې دنياحلال رزقونه اوغنيمتونه دي اوبعض فرمائي چې مرادتنه رزق روحاني نبوت اوهدايت دي.

وَأْمُرْ	أَهْلَكَ	بِالصَّلَوٰةِ	وَاصْطَبِرْ	عَلَيْهَا	لَا	نَسْأَلُكَ

اوامركوه خپل تابعداروته دمونځ كولواوخپله ككلك شه په هغې باندى مونږ پوښتنه نه كوو ستانه

رِزْقًا نَحْنُ نَرْزُقُكَ ۗ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى ﴿١٣٢﴾ وَقَالُوْا
په باري دروزئ پيدا كولو كښې، مونږ دركوو تا له روزي او خائسته انجام دتقوى والودي. [1] او دوئ وائي
لَوْلَا يَأْتِيْنَا بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ اَوَلَمْ تَأْتِهِمْ بَيِّنَةُ مَا فِي الصُّحُفِ الْاُوْلٰى ﴿١٣٣﴾
ولې نه راوړي دې مونږ ته نښه دطرفه رب خپل نه [2] آيا ندې راغلي دوئ ته صفابيان(قرآن) دهغه چې په صحيفو مخكنو كښې وو
وَلَوْ اَنَّآ اَهْلَكْنٰهُمْ بِعَذَابٍ مِّنْ قَبْلِهٖ لَقَالُوْا رَبَّنَا
او كه چرته مونږ هلاك كړي وي داخلك په عذاب سره مخكښې ددينه(دقرآن نه) خامخا به دوئ وئيلي وو اى ربه زمونږ
لَوْلَآ اَرْسَلْتَ اِلَيْنَا رَسُوْلًا فَنَتَّبِعَ اٰيٰتِكَ مِنْ قَبْلِ اَنْ نَّذِلَّ وَنَخْزٰى ﴿١٣٤﴾
ولې تا نه راليږلو مونږ ته رسول چې مونږ تابعدارى كړې وې ستا دآياتونو مخكښې دذليل كيدلو او رسوا كيدلو نه
قُلْ كُلٌّ مُّتَرَبِّصٌ فَتَرَبَّصُوْا فَسَتَعْلَمُوْنَ مَنْ اَصْحٰبُ الصِّرَاطِ السَّوِيِّ
ته او ايه هريو انتظار كوونكى دې نو تاسو هم انتظار كوئ زر ده چې تاسو به خبرشئ چې څوك دي خاوندان دلارې برابر
وَمَنِ اهْتَدٰى ﴿١٣٥﴾
او څوك دي هدايت والا.

﴿وَأْمُرْ أَهْلَكَ﴾ دا خلورم امر دې او دامر مصلح ذكر دې چې ددنيا پرستئ او ددنيا پرستونه دنه متاثره كيدلو علاج دادې چې خپل اهل ته دمونځ حكم كوه او په خپله پرې هم استقامت كوه، دحضرت عروة بن زبيرﷺ په باري كښې ذكرشويدې چې كله به ئې دپادشاهانو خبرې او دهغوئ حالات واوريدلونو فوراً به كورته لاړلو او داايت﴿وَلَا تَمُدَّنَّ﴾به ئې تلاوت كړو او بيابه ئې دمانځه دپاره حكم اوكړو او اوبه ئې فرمائيلو چې، الصّلوة يرحمكم الله. او مراد په اهل سره پدې

---

[1] شكوى.

[2] جواب شكوى.

ايت كښې اهل بيت نبیﷺ خصوصا اوپوره امت عموماً مراددي. اوپه روايت كښې راځي چې نبیﷺ به د دې ايت د نزول بعد د حضرت عليؓ اوفاطمهؓ کورته به هرسحرتللو اوهغوئ ته به ئې اوازكولوچې الصلوة. ﴿وَٱصْطَبِرْ عَلَيْهَا﴾ داپنځم امردې اوغوره قول دادې چې هاضميرراجع دې صلوة ته يعنى پخپله هم د مانځه حفاظت اوپدې باندې مداومت كوه﴿لَا نَسْـَٔلُكَ رِزْقًا﴾ مقصددادې چې مونږه ته د رزق پيداكولوخامخاذمه دارنه.ئې ګرځولى چې دهغې د پيداكولو د وجې نه مونځ په شان اهم عبادت پريخودلى شي،بلكه الله تعالیٰ د صحيح مونځ په بركت سره د انسان رزق معامله هم حل كوي لكه چې الله تعالیٰ فرمائى ومن يتقى الله يجعل له مخرجا و يرزقه من حيث لايحتسب(سورة الطلاق ايت نمبر۲، ۳)اود دې ايت مقصددادې چې كسب معاش پكارندې،بلكه د ايت مطلب دادې كچرته دكسب معاش اوفرض مونځ كښې تعارض راشي نودكسب معاش د پاره مونځ پريخودل جائزندي، بلكه مونځ اول كول پكاردى اوكسب د معاش ورستوپكاردې، د الله تعالیٰ په عبادت كښې مشغوليت د وجې نه د معاش مسئله آسانه كوي.

حضرت ابوهريرةؓ نه روايت دې فرمائى چې: رسول اللهﷺ ارشاداوفرمائيلوچې الله تعالیٰ فرمائى: يا ابن ادم تفرغ لعبادتى املاء صدرك غنىً وأسدُ فقرك وان لم تفعل ملاءت صدرك شغلاً ولم اسدفقرك.ترجمه: اى ابن ادم! ته ځمادعبادت د پاره خپل ځان فارغ كړه نوځه به ستاسينه د غنااواستغناء نه ډكه كړم اوستافقرغربت(محتاجي)بهٔ ختمه كړم، اوكچرته تاداسي اونكړل نوځه به ستاسينه د فكرونو اوشغلونونه به ډكه كړمه اوستافقر(محتاجي) به ختمه نه كړم(ترمذى). ﴿وَٱلْعَـٰقِبَةُ لِلتَّقْوَىٰ﴾عبارت په حذف د مضاف سره دې يعنى اهل التقوىٰ اوپدې كښې اشاره ده چې تقوىٰ اصل د امورشرعيوده.﴿وَقَالُوا۟ لَوْلَا يَأْتِينَا﴾داشكوه ده د مشركينونه، د مشركينوعادت داوو چې د نبي عليه السلام نه به ئې عناداً اوتعنتاً دامطالبې به ئې كولې چې ته د خپلې دعوې د نبوت د تصديق د پاره د مخكينوانبياء كرام عليهم السلام پشان معجزه پيش كړه لكه عصاد موسیٰ عليه السلام ياناقه د ثمود عليه السلام وغيره شو. ﴿أَوَلَمْ تَأْتِهِم بَيِّنَةُ﴾داجواب شكوى ده، يعنى د دې خلكو دامطالبه صرف اوصرف په ضداوعناد باندې مبني ده آيادوئ دې قرآن ته نه ګوري چې دا د الله تعالیٰ د طرف نه يوه عظيمه معجزه ده تيرشوو ټولوكتابونو د مضامينو محافظ اود هغوئ

دَصداقت دَپاره حجت دي نودا په ټولو معجزاتو کښې کامله معجزه ده لکه سورة العنکبوت کښې دی، اولم يکفهم انّا انزلناعليك الکتٰب عليهم الخ(العنکبوت: ۵۱).﴿وَلَوۡ أَنَّآ أَهۡلَكۡنَٰهُم﴾دااستيناف دی دَتقريردَماقبل دپاره يعني دوئ اګرچه اوس داقرآن نه مني اودَ نورو معجزاتومطالبه کوي، کچرته الله ﷻ داقرآن نوی نازل کړی اوددوئ دَفرمائش مطابق معجزه ئې نازله کړې وی نوبيابه هم دوئ نه منله نو الله ﷻ به دوئ هلاك کولواوعذاب به ئې ورته ورکولوپه دنيااواخرت کښې نودوئ به بيابه هغه وخت کښې عذرداپيش کولوچې ای الله ﷻ تاپه خپل رسول باندی کتاب ولې نوونازل کړې چې مونږه ئې اتباع کړې وی، نودَ دوئ دَدغي بهانی اوعذرختمولودَپاره الله ﷻ کتاب نازل کړو.﴿لَوۡلَآ أَرۡسَلۡتَ إِلَيۡنَا رَسُولٗا﴾دلته ورسره مع آيات يامع کتاب مقدردې،﴿مِن قَبۡلِ أَن نَّذِلَّ﴾ ذلت نه مراد په دنياکښې عذاب دې او﴿وَنَخۡزَىٰ﴾نه مراد دخول دې جهنم ته، يعني اخروي عذاب ته مراددي﴿قُلۡ كُلّٞ مُّتَرَبِّصٞ﴾داپه اخيرکښې تخويف دنيوي دې، چې دي متمردينواوضديانوته اوايه چې دادومره عظيمه معجزه هم تاسونه منئ اوضداوسرکشي کوئ اودَنورو معجزاتومطالبه کوئ نواوس دَعذاب انتظارکوئ اومونږه هم ستاسودَانجام انتظارکوو.﴿فَسَتَعۡلَمُونَ مَنۡ أَصۡحَٰبُ﴾استفهام دَشك اوتردد په بنياد ندې بلکه کافرانو باندی تهديد اوزجر دَپاره دې، يعنی داپته به زراولګي چې په صحيح لاري باندی څوك وو اومنزل ته رسيدونکي څوك دی، او دَدينه معلومه شوه چې عمل کول په قرآن ذريعه دَهدايت اودَسعادت ده اوپدي سره انسان دَالله ﷻ خشيت حاصلوي اودنيوي اخروي عذاب نه بچ کيږي،لکه چې دَدي سورت په ابتداء کښې ذکرشويدی.

تم تفسير سورة طٰهٰ،بتوفيق الله وعونهِ،والحمدلله اولا وآخرا، اللهم اغفرلنا ذنوبنا واسرافنا فى امرناوثبت اقدامنا کماثبتَ سيدناموسٰى عليه السلام، اللهم اغفرلوالدنا الکريم، اللهم نورقبره وبردمضجعه وطيب ثراه وجعل الجنة مثواه اللهم ربناآتنا فى الدنياحسنة وفى الاخرة حسنة وقناعذاب النار(آمين ثم آمين).

رکوع	سورة الانبياء مكية	آيتونه
۷	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	۱۱۲
	خاص په نوم د الله سره چه بيحده مهربان او ډير رحم کوونکې دې شروع کوم	

رقمها حسب التسلسل (۲۱) وحسب النزول (۷۳)

تفسيرسورة الانبياء:سورة الانبياء مکي سورة دې په ترتيب قرآني کښې يويشتم(۲۱) اوپه ترتيب نزولي کښې درى اويايم(۷۳) نمبرسورت دې، دَسورة المؤمنون نه مخکښې اوسورت ابراهيم نه وروستونازل شويدې،زمانه دَنزول دورآخيردَمکي معظمي دې، يوسل دولس(۱۱۲)يايوسل يوولس(۱۱۱) آياتونو، اوه(۷)رکوعاتو، (۱۱۲۰)کلماتواو(۴۰۹۸)حروفوباندې مشتمل دې.

ربط:(۱)دسورت الانبيآء دَماقبل سورت سره ربط اسمى دادې چه په سورت طٰهٰ کښې په واقعي دَموسىٰ عليه السلام سره تشجيع اوددين په خاطردَتکاليفوبرداشت کولواوثابت قدمي ذکروو نوپدې سورت کښې دَنورو انبياءکرامو حالات اوواقعات، خاص طورباندې په واقعي دَابراهيم عليه السلام سره تشجيع اوثابت قدمى ذکرکيږى.

دغه شان په سورة طٰهٰ کښې دَحضرت موسىٰ عليه السلام دَغلبى اودَسحردَمغلوب کيدلوذکروو نوپدې سورت کښې دَهرباطل دَمغلوب کيدلواودَختميدلوذکردې چه ، ﴿بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهُ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ﴾ (ايت نمبر۱۸).

دغه شان په سورة طٰهٰ کښې دَفرعونيانوهلاکت اودَبني اسرائيلونجات اودَفرعونيانومال دَبني اسرائيلوپه وراثت اوملك کښې دَراتللوذکروو نوپدې سورت کښې دَهرى زمانى دَنيکانوخلکوسره دَدې وعدې ذکرکيږى چه،ولقدکتبنافى الزبورمن بعدالذکران الارض يرثهاعبادى الصّٰلحون(ايت نمبر ۱۰۵).دغه شان دَسورة طٰهٰ په اخيرکښې قرب دَقيامت ته اشاره وه چه فستعلمون من اصحٰب الخ چەرسين، دلالت کوى په قرب باندې، اودَدې سورت په ابتداء کښې تصريح ده په قرب دَحساب اوقيامت باندې.

ربط معنوي: په اعتبار دَمضامينوسره دَسورت الانبياء دَسورت طٰهٰ سره ربط دادې چه په سورة طٰهٰ کښې دَحضرت موسیٰ علیه السلام پيغام توحيد، اودعوت توحيدذکروو پدې سورت کښې على سبيل الترقي دابيانيږي چه ټولوانبياء کرامو ته داوحی شوی وه چه زماتوحيدخلکوته بيان کړئ. اونبي ﷺ ته الله تعالیٰ فرمائي چه ای خماحبيبه ﷺ ته هم خلکوته کهلم کهلا داخبراوکړه چه﴿إِنَّمَا يُوحَىٰ إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ﴾ايت نمبر۱۰۸).

دعوه دَسورت: دَدې سورت دعوه داده چه عالم الغيب،متصرف اوکارسازصرف اوصرف يوالله تعالیٰ دې عبادت صرف دهغه، کوئی اودادعوه پدی سورت کښې دوه(۲) ځلي ذکرده يوځلي په ابتداء دَسورت کښې په ايت(نبر۴)کښې ذکرده، اودويم ځلي دَسورت په انتهاء کښې ايت(نمبر۱۰۹) کښې ذکرده.

اجمالي خلاصه دَمضامينو: دَسورت په ابتداء اوانتهاء کښې دعوی دَسورت اوبيادَهغې دَاثبات دپاره دري(۳)عقلي دلائل، يو(۱)دليل وحي،يو(۱)دليل نقلي اجمالي دَانبياء کرامونه، اولس(۱۰) دلائل نقليه تفصيليه دَانبياء سابقينونه، اودغه شان په ابتداء کښې دَيوڅوسوالاتوجوابونه اوتخويفات اوزجرونه ذکرکيږي.

تفصيلي خلاصه: داسورت په دری(۳)حصوباندي تقسيم دې، حصه اول دَايت نمبر(۱)نه ترايت نمبر(۱۵)پوری ده پدی حصه کښې صرف زجرونه اودَسوالونوجوابونه ذکرکيږي،دويمه حصه دَايت نمبر(۱۵)نه ترايت نمبر(۹۱)پوری ده چه پديکښې زيات تره دلائل دی عقليه هم نقليه هم، اودريمه حصه دَايت نمبر(۹۱)نه ترآخره پوری ده،پدی حصی کښې يودليل وحی اوزيات ترېکښې بشارات اوتخويفات ذکرکيږي.

تفصيل دَحصَه اوّل: ايت نمبر(۱- ۲) کښې زجرونه اوپه ايت نمبر(۳)کښې زجراوورسره دَمنکرينوپه رسالت باندي شبه ذکرکيږي،په ايت نمبر(۴)کښې دعوی دَسورت بيانيږي، په ايت نمبر(۵)کښې دری طعنونودَمنکرينودَطرف نه په قرآن باندي ذکرکيږي،چه قرآن ته به ئی کله اضغاث احلام اوکله به ئی افتراء اوکله به ئی دَشاعرکلام وئيلواودَ ايت په اخيرکښې دَهغوئ يوسوال ذکرکيږي چه کچرته دانبي علیه السلام برحق وی نومخکښنو انبياء کراموپشان معجزه ولی مونږته نه پيش کوی؟ په ايت نمبر(۴)کښې دَدغی سوال جواب بيانيږي ايت نمبر(۷)کښې دَمنکرينوپه رسالت باندي دَاولی شبهې جواب ذکرکيږي، په ايت نمبر(۸)کښې بيادَيوسوال جواب

دي، په ايت نمبر(۹)كښې تخويف اوپه ايت نمبر(۱۰)كښې ترغيب الى القرآن بيانيږي.اوبيا دَايت نمبر(۱)نه تر ايت نمبر(۱۵) پورې تخويفات دنيويه بيانيږي.

تفصيل دَويمې حصې: دَايت نمبر(۱۲)نه تر(۱۸)اول دليل عقلي ذكركيږي په دعوى دَسورت باندې،بيا په ايت نمبر(۱۹- ۲۰)كښې دويم دليل عقلي ذكركيږي.په ايت نمبر(۲۱)كښې زجراوپه ايت نمبر(۲۲- ۲۳)كښې نتيجه دَدلائلو مذكوره بيانيږي،په ايت نمبر(۲۴)كښې زجراوبطور معارضه مشركينو نه، خپل شرك باندې دَدليل مطالبه كيږي،اوپه ايت نمبر(۲۵)كښې دليل نقلي اجمالي بيانيږي اوايت نمبر(۲۶)نه تر(۲۸)پورې شكوىٰ بمع جواب شكوىٰ ده اوبيا په ايت نمبر(۲۹)كښې تفريع ده په جواب دَشكوى باندې دَآيت نمبر(۳۴- ۳۵)كښې دَمشركينو دَسوال جواب اوتسلي ذكركيږي نبي ﷺ ته، اوپه آيت نمبر(۳۶- ۳۷)كښې زجرذكركيږي، په ايت نمبر(۳۸- ۳۹- ۴۰) كښې شكوىٰ اوجواب شكوى ذكرده سره دَتخويف اخروى نه، په ايت نمبر(۴۱)كښې تسلي ده نبي ﷺ ته،دَآيت نمبر(۴۲) نه تر(۴۵)پورې زجرونه اوپه ايت نمبر(۴۶)كښې تخويف اخروى سره دَزجرنه اوپه آيت نمبر(۴۷)كښې تخويف اخروى ذكركيږي.

اودَايت نمبر(۴۸)نه تر(۹۱)پورې پديكښې لس(۱۰) دلائل نقليه تفصيليه ذكركيږي، په ذكردَاولس(۱۷)انبياء كرامو علیہم السلام واقعاتوسره.(۱)قصه دَموسىٰ علیہ السلام اوهارون علیہ السلام ايت نمبر(۴۸)،(۲)قصه دَابراهيم علیہ السلام (۵۱ تا۷۳)پورې(۳)قصه دَلوط علیہ السلام(۷۴ تا۷۵)،(۴)قصه دَنوح علیہ السلام(۷۶- ۷۷)،(۵)قصه دَداود علیہ السلام اوسليمان علیہ السلام (۷۸ تا۸۲) (۶)قصه دَايوب علیہ السلام(۸۳- ۸۴)،(۷)قصه دَاسماعيل علیہ السلام ،ادريس علیہ السلام اوذالكفل علیہ السلام(۸۵- ۸۶)،(۸)قصه دَيونس علیہ السلام(۸۷، ۸۸)، (۹)قصه دزكريا علیہ السلام (۸۹- ۹۰)،(۱۰) قصه دمريم علیہا السلام اودهغه دَخوى حضرت عيسىٰ علیہ السلام ايت نمبر(۹۱).

دريمې حصې تفصيل: دَايت نمبر(۹۲)نه تر اخرپورې دَسورت دريمه حصه ده په ايت نمبر(۹۲- ۹۳) كښې اعلان كيږي چه اصل مسئله همدغه دَتوحيد مسئله ده او اختلاف پكښې باغيانو اچولې دي، په ايت نمبر(۹۴)كښې بشارت دې او(۹۵)كښې زجراو تخويف دې،دَايت نمبر(۹۶)نه تر(۱۰۰) پورې تخويف ذكركيږي،دَايت نمبر(۱۰۱)نه تر(۱۰۴) پورې بشارت اخروى ذكركيږي. اودَايت نمبر(۱۰۵) نه تر(۱۰۷)پورې دَبشارت دنيوى ذكردې،په ايت نمبر(۱۰۸)كښې په توحيد باندې دليل وحي ذكركيږي.

دَايت نمبر(۱۰۹)نه تر(۱۱۱)پورې اعاده کيږي دَدعوی دَسورت سره دَدليل نه اوپه ايت نمبر(۱۱۲)کښې تخويف اخروي اودَيوسوال جواب ذکرکيږي.

اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ مُّعْرِضُوْنَ ①
رانزدې راغې خلکوته حساب دَهغوئ اودوئ په غفلت کښې دي مخ گرځوونکي دي
مَا يَأْتِيْهِمْ مِّنْ ذِكْرٍ مِّنْ رَّبِّهِمْ مُّحْدَثٍ اِلَّا اسْتَمَعُوْهُ وَهُمْ يَلْعَبُوْنَ ②
نه راځي دوئ ته څه نصيحت دَطرفه دَرب دَدوئ نه نوې مگرغوږ کيدي دوئ هغې ته اوحال داچه دوئ لوبې کوي
لَاهِيَةً قُلُوْبُهُمْ وَاَسَرُّوا النَّجْوَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا هَلْ هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ
مشغوله دی زړونه دَدوئ اوپټې جرگې اوکړې هغه چاچه ظلم ئې کړيدې، چه ندې دامگربشردې ستاسوپشان
اَفَتَاْتُوْنَ السِّحْرَ وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ ③
آيا قبلوئ تاسوجادو اوحال داچه تاسوپوهيږئ

﴿اَقْتَرَبَ لِلنَّاسِ﴾دَسورت ابتداء په زجراوشکوی سره کيږي په غفلت اواعراض باندي،او﴿اَقْتَرَبَ﴾يعني مزيدپه معنٰی دَقرب يعني مجردو سره دې، خوهرکله چه په﴿اَقْتَرَبَ﴾ کښې مبالغه وه څکه چه زيادت دَمبنٰی دلالت کوی په زيادت دَمعنٰی باندي نوځکه مزيدذکرکړې شو،اولام په ﴿لِلنَّاسِ﴾کښې په صلی دَ ﴿اَقْتَرَبَ﴾يعني فعل کښې راغليدې، اودَ ﴿لِلنَّاسِ﴾نه مرادمشرکين دی دَقبيلی دَاطلاق دَاسم جنس نه،په بعضوافرادو باندي، څکه چه راتلونکی صفات يعني﴿مُّعْرِضُوْنَ﴾،او﴿مَا يَأْتِيْهِمْ﴾وغيره داصفات دَمشرکينودی، نه دَمسلمانانو، او، ﴿حِسَابُهُمْ﴾ نه مخکښې لفظ دَوقت مقدردې څکه چه اقتراب يازماني وی اويامکاني، مکانی دلته ندې متصوراوندې صحيح نولهذا مرادبه تنه وخت اوزمانه دَحساب وی، نوځکه ورسره لفظ دَوقت مقدردې، اودَحساب نه مراد ياورځ دَقيامت ده اوياتنه مرگ مراددې، اوقيامت ته قريب دَدې وجې نه اوئيلی شوچه داراتلونکی دې اوکوم څيزچه راتلونکي وي نوهغه قريب وي لکه مثل مشهوردې، ماقرب ماآتٍ ومابعد مافاتٍ، يوسيکنډ کوم چه تيرشونوهغه ډيربعيداولری شو څکه

چه هغه واپس نشي حاصليدې اوکوم وخت چه کروړکاله ورستو راځي نوهغه قريب دې.ځکه چه هغه خامخاراتلونکې اوحاصليدونکې دې،اوياقيامت ته قريب په اعتباردتيرشوي وخت سره وئيلى شويدى ځکه چه ددنياپاتى زندگي ډيره کمه ده په نسبت سره تيره شوي زندگي ته. ځکه چه داامت اخري امت دې، اوکچرته دحساب نه مراد مرگ شي اوحساب دقبرشي چه دمرگ نه پس هرانسان سره کيږي نوپدې اعتبارسره معنى بالکل واضحه ده ځکه چه انسان ته مرگ ډيرقريب دې، هره گهنټه اوهرساعت دمرگ خطره موجوده وي، اونسبت داقتراب يعني نزديکت حساب ته کول دپاره دتفخيم شان اودوجې دتهويل دحساب نه دې يعني الله ﷻ ددې تعليم ورکوى چه ددنياپه خواهشاتوکښ داسي مه مشغوله کيږئ چه دحساب هغه سخته ورځ درنه هيره شي. تاسوته هغه ورځ ډيره نزدې راغله چه تاسوبه دخپلى ټولي زندگئ حساب وکتاب الله ﷻ ته به ورکوئ.

﴿وَهُمۡ فِي غَفۡلَةٖ﴾مرادتنه بى پرواهى ده،﴿مَا يَأۡتِيهِم مِّن﴾داهم زجردې په استهزاء باندي دقرآن سره او(مِنۡ) زائده دې داستغراق ادنفى دپاره راغليدې اوپه﴿مِّن رَّبِّهِم﴾ کښ من دابتدا دغائى دپاره دې اومتعلق دې په ياتيهم فعل پورى،اود(ذکر) نه مراد قرآن دې،او ﴿مُّحۡدَثٍ﴾په جرسره صفت دذکر يعني دقرآن دې، اودټولواهل سنت والجماعت پدى اتفاق دې چه قرآن حادث اومخلوق ندې بلکه قديم اوغيرمخلوق دې اودلته حادث وئيل په نسبت سره قرآن لفظى ته دې چه مرکب دې دحروفواواصواتونه اوهغه حادث دې بالاتفاق،اگرچه پديکښ هم بعضوخلکودقدم قول نسبت کړيدې امام احمدبن حنبل رحمه الله ته) اوکوم چه قديم دې هغه کلام نفسى دې اوياورته حادث په اعتباردنزول سره وئيلى شويدې چه يوآيت به نازليدلوورستودبل آيت نه،يوسورت به نازليدلو ورستودبل سورت نه اوهغه هم الفاظ دجبرئيل عليه السلام وو،اوياورته ﴿مُّحۡدَثٍ﴾په اعتباردزعم دکفاروسره وئيلى شويدى چه دهغوئ زعم داوو چه داقرآن کلام دالله ﷻ ندي، اودحضرت حسن بن فضل رحمه الله نه مروى دى چه دذکر نه مراد دلته نبى عليه السلام دې اومقصودپدى سره دکفاروعادت اوشعاربيانول دى چه کله هم دوئ ته نوې رسول راغلې دې نودهغه خبرى اوريدلونه پس په هغه پورى ئى توقي کړيدې اودليل پرى داورستوايت دې چه﴿هَلۡ هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ﴾.

﴿إِلَّا ٱسْتَمَعُوهُ﴾استثناء مفرغه ده اوداجمله ماضيه په محل دَنصب کښې ده اوپه تقديرد قدسره ضميرمفعول دَ ﴿يَأْتِيهِم﴾نه اوشيخ رضی قانون ذکرکړيدې چه کله جمله ماضيه حال واقع شي اوداواقعه شوی وی ورستودَ(الاَّ) نه نواکتفاء به په ضميرکولی شي،اوواو به نشي راوړلی.لکه په پدی ايت کښې اکتفاء شويده فقط په ضميرباندي،اګرچه دَجمهورو نحويانومذهب دادې چه په دواړو کښې په هريوباندي اکتفاء کيدلی شي.

﴿وَهُمْ يَلْعَبُونَ﴾داحال دې دَضميرمرفوع دَ﴿ٱسْتَمَعُوهُ﴾نه اومراد دَ ﴿يَلْعَبُونَ﴾نه مستهزئين يعني توقی کوونکي دي،يعني دوئ په غفلت اواعراض کولوکښې دومره انتهاته رسيدلي دي چه قرآني احکامات اوتعليماتوسره دَلوبوکوونکوپشان عمل کوي (خطيب)اوياپه معنی دَيشغلون سره دې يعني دوئ په دنياکښې مشغول دی اوقرآن نه اعراض کوی اوياتنه مراددادې چه دوئ په قرآن باندي اعتراضاتو کولو کښې مشغول دی.

﴿لَاهِيَةً قُلُوبُهُمْ﴾داحال دې يادَضميرمرفوع دَ ﴿ٱسْتَمَعُوه﴾نه نو﴿لَاهِيَةً﴾ او﴿يَلْعَبُونَ﴾ دَضمير مرفوع نه نوبيا حالين متداخلين دی او﴿لَاهِيَةً﴾ دَلهٰی يلهٰی نه په معنیٰ دَغفلت سره دې اوداپه منزله دَعلت دې دَماقبل دپاره يعني داکفارقرآن اوری اوپه هغی پوری توقي اومسخري کوي اوقرآن ته توجه نه کوي ځکه چه زړونه ئي غافل دي،يعني دوئ ته صرف دَاستماع(اوريدلو) صفت حاصل دې اوتفکرچه صفت دَزړه دې هغه ورته ندې حاصل نودوئ پشانته دَځناورو دي، بلکه دَهغوئ نه هم بدتردي.

﴿وَأَسَرُّوا ٱلنَّجْوَى﴾دابل صفت دَ کافرانوذکرکيږي چه کله دوئ قرآن اوحق خبري واوري نودَعمل کولوپه ځائ دَهغي خلاف پټي جرګي کوي اودهغي خلاف منصوبي جوړه وي، او(اسروا) پټولوته وائی او﴿ٱلنَّجْوَى﴾هم پټوخبرواوجرګوته وائی نودَ﴿ٱلنَّجْوَى﴾سره دَ﴿وَأَسَرُّوا﴾ذکرکولوپه ظاهرکښې ضرورت نوو خوبياهم ذکرشودَپاره دَمبالغی،چه دوئ به خپلی جرګی اودَاسلام کيخلاف منصوبی ديري په پټه جوړه ولي خوالله ﷻ به دَدوئ دَدي خفيه منصوبواوجرګواطلاع نبیﷺ ته ورکوله.

﴿اَلَّذِينَ ظَلَمُوا﴾ دَظلم نه مراد پدي ځائ کښې شرك دې اى الذين اشركوا بالله(حداد) او دا بدل واقع شويدې دَ ﴿وَأَسَرُّوا﴾ ضميرفاعل نه،اوپديکښې اشاره ده ديته چه دَحق خلاف جرګې کول اومنصوبې جوړول سخت ترين ظلم اوکفردې اويادا فاعل دې دَ﴿وَأَسَرُّوا﴾ دَپاره،او واو په﴿وَأَسَرُّوا﴾ کښې محض علامه دَجمعې ده اودادې دَپاره ذکرکيږى چه دلالت اوکړى پدې چه ورستودَې فعل دَپاره فاعل جمعي را روان دې اودا دَقبيلې ازد لغت دې لکه اكلونى البراغيثُ دَعام عربودَلغت موافق اكلنى البراغيثُ پکاروو اويادافاعل دې دَفعل مقدردَپاره چه يقول دې يعني يقول الذين ظلموا اوبعض فرمائى چه دامبتداده اوداماقبل جمله﴿وَأَسَرُّوا النَّجْوَى﴾ورله خبرمقدم دې. اوتقديم دَخبردَاهتمام شان دَپاره دې اوبعض فرمائى چه داخبردې دَمبتداء مقدرى دپاره چه هُمْ دې يعني، هم الذين ظلموا، نولهذا دا اعتراض نه واردېږى چه کله فاعل اسم ظاهروى نوفعل به واحدراوړى کيږي،لکه چه دامشهورقانون دې اودلته فعل جمع راوړى شويدې.

﴿هَلْ هَٰذَا إِلَّا بَشَرٌ﴾ داجمله په محل دَنصب کښې بدل واقع شويده دَ﴿النَّجْوَى﴾نه اى اسروا هذا الحديث(كشاف) اويادا جمله مفعول به دَه دَفعل مقدردَپاره چه قالوا دې او(هل)په معنى دَنفى سره دې اودادَمنكرينودَطرف نه په رسالت دَنبي ﷺ باندي يولوئي اعتراض وو حاصل دَاعتراض دادې چه داپيغمبرخوزمونږ پشان بشردې خوراك کوي بازارکښې ګرځي نومونږ څنګه ده ته پيغمبراوايو؟؟ نودَدوئ عقيده داوه چه پيغمبربشرنشي كيدلى بلكه پيغمبربه يوه فرشته وي اوکچرته يوبشرخارق للعادة امرپيش کړو(معجزه)نوهغه به ساحروي اومعجزه به ئي سحروي.

﴿أَفَتَأْتُونَ السِّحْرَ﴾مرادتنه قبولول،عمل کول اوتابعداری کول دى اودَ﴿تُبْصِرُونَ﴾نه مراد بصيرت اوعلم دې اواستفهام دَپاره دَانکاراوتوبيخ دې يعني تاسودَده ساحرانه کلام قبولوئى حالانکه تاسوښه پوهيږئى چه داسحردې (حداد).

قُلَ رَبِّي يَعْلَمُ الْقَوْلَ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَهُوَ السَّمِيعُ
اوئيل پيغمبر ﷺ چه رب زما پوهيږي په هره خبره باندې که په اسمان کښې وي اوکه په زمکه کښې وي او هغه اوريدونکى

الْعَلِيْمُ۝ بَلْ قَالُوْٓا اَضْغَاثُ اَحْلَامٍۭ بَلِ افْتَرٰىهُ بَلْ هُوَ شَاعِرٌۚ
پوهه ذات دې، بلکه دوئ وائي چه دا (قرآن گډوډ) خوبونه دي بلکه دغان نه ئي جوړکړيدې بلکه دې شاعردې.
فَلْيَاْتِنَا بِاٰيَةٍ كَمَآ اُرْسِلَ الْاَوَّلُوْنَ ۝ مَآ اٰمَنَتْ قَبْلَهُمْ
پس مونږ ته دې راوړي يوه نخه(معجزه)بلکه چه ليږلي شويدي مخکښې رسولان. ايمان ندې راوړی مخکښې ددوئ نه
مِّنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا ۚ اَفَهُمْ يُؤْمِنُوْنَ ۝
هيڅ يو کلي والؤ چه مونږ هلاك کړيدي آيا پس دوئ به ايمان راوړي.

﴿قَالَ رَبِّيْ يَعْلَمُ﴾ دا دعوی دسورت ده چه دزمکې اودآسمانونوټولو غيبوباندي عالم ذات صرف اوصرف الله ﷻ دې،هغه دهرڅه اوريدونکې اوپه هرڅه باندي عالم دې،اوپدي ايت سره ازاله دېوتوهم اوشوه چه هرکله به ا لله ﷻ نبي ﷺ ته ددوئ دپټوجرګواطلاع ورکوله نوداتوهم کيدلوچه نبي ﷺ عالم غيب دې نوجواب تنه اوشوچه پيغمبر ﷺ پخپله علم غيب صفت الله ﷻ لره ثابت کړيدې،امام رازي رحمه الله وغيره فرمائی چه دادعوئ ددې ماقبل طعن جواب دې چه پيغمبر ﷺ ته ئي ساحراوقرآن ته ئي سحراوئيل په خپلوجرګوکښې نوجواب اوشوچه دې ساحرندې بلکه دالله ﷻ دطرف نه پيغمبردې اوستاسوپه پټوخبروبلکه په هرغيب څيزباندي الله ﷻ عالم دې تاسوته به ددې بدله درکړي

﴿بَلْ قَالُوْٓا اَضْغٰثُ اَحْلَامٍۭ﴾ دادعوئ بل طعن اودعوئ اضطراب اوحيرانتياذکرکيږي لکه څرنګه شان دباطل پرستودې چه په يوې خبرې باندې ورته ثبات اوادوريدل نوي،په تياروګمراهئ کښې کله يوطرف ته منډې وهي اوکله بل طرف ته نودوئ هم دحيرانتيا اودسرګردانئ دوجې نه قرآن ته اونبي ﷺ ته مختلف نسبتونه کول اول ئې قرآن ته سحراوئيل بيائي داخبره پريخودله اودويمې خبرې ته ئي انتقال اوکړو اوقرآن ته ئي ﴿اَضْغٰثُ اَحْلَامٍۭ﴾ (ګډوډخوبونه) اوئيل، بيائی انتقال اوکړو افتراء ته چه ديته دالله ﷻ کلام وئيل دروغ تړل دي په الله ﷻ باندي،بيائی اوئيل چه داپيغمبرشاعراوقرآن شاعرانه کلام دې چه مبني دې په تخيلاتوباندي اوحقيقت نه لرې په خارج کښې،امام رازی رحمه الله فرمائی چه ددوئ اول اعتراض

دَنبیﷺ په نبوت باندي ووچه بشریت اورسالت کښ منافات کنړلوچه نبي بشرنشي کیدلی،اوبیاهرکله چه قرآن دلیل وو په رسالت دَنبیﷺ باندي،نودَدې وجه نه دوئ په قرآن باندي اعتراضات شروع کړل اواوئیل ئي کچرته داتسلیم کړو چه دَنبي اوبشرپه مینځ کښ منافات نیشته دې بلکه بشرنبي جوړیدې شي نوبیادانه منوچه دې نبي دې اوقرآن ده دَثبوت دپاره معجزه ده بلکه داقرآن سحردې،اوکچرته داتسلیم کړو چه سحرندې نوبیاداهسي یوانتهائی رکیك اوباریك کلام دې، فصاحت نه خالي اضغاث احلام، یعني هسی ګډوډ خوبونه دی اوکچرته فصاحت پکښ هم تسلیم کړو اودا اوایوچه دَفصاحت اورکاکة په مینځ کښ دې نوبیاافتراء ده اوکچرته داتسلیم کړو چه بالکل فصیح کلام دې نوبیاسحردې

بهرتقدیردَدوئ دَټولو طعنونورجعه یوطعن ته کیږی چه قرآن دَاللهﷻ کلام ندې اودوئ به په قرآن ځکه طعن کولوچه دادلیل ووپه رسالت باندي نوګویاچه رسالت دَنبيﷺ په منزله دَدعوی وو اوقرآن دلیل وو اونقض په دلیل واردیږی نوځکه دوئ هم زیات زوردَقرآن خلاف لګولی وو،دَدې توجیهاتوپه بناء "بل" پدي مواضعوثلاثوکښ دَاضراب اوانتقال دپاره دې اوعلامه زمخشری فرمائی چه "بل" پدی مواضعوکښ دَترقی دپاره دې اوهرطعن دَبل ډیرسخت اوزیات فاسددې لکه چه ظاهره ده چه دوئ اول قول اوطعن پدی سره اوکړو چه بشرنبي نشي کیدلی اوبیائي په طعن کښ ترقی اوکړه اوقرآن ته ئي اضغاث احلام اوئیلو اوبیائي مزیده ترقي اوکړه اوقرآن ته ئي افتراء اوئیله اوبیائي مزیده ترقی اوکړه اوقرآن پشان مقدس کتاب ته ئي شعراوئیلوچه هغه صرف اوصرف تخیلات وی.

﴿فَلْيَأْتِنَا بِآيَةٍ﴾ دابل طعن اودکفارو یوبل لوئ اعتراض ذکرکیږي په رسالت باندي اودا جواب دي دَشرط محذوف دپاره تقدیردَعبارت داسی دې،إن لم یکن کماقلنابل کان رسولا مّن الله فلیاتنا الخ یعني دوئ به دَااعتراض کولوکچرته زمونږ داالزامات غلط وي اودي حقیقةً دَاللهﷻ دَطرف نه رسول وي نودي مونږته زمونږدَفرمائش مطابق هغه معجزی ولي نه پیش کوي ځکه چه مخکښنوانبیاء کراموپیش کړي وي،لکه عصا دَحضرت موسیٰ علیه السلام اوناقه دَحضرت صالح علیه السلام.

﴿كَمَآ أُرۡسِلَ ﴾كاف اسمي دې په معنىٰ دَمثل سره اوصفت دې دَ﴿بِئَايَةٖ﴾دپاره اومامصدريه ده ارسل په تاويل دَمصدرسره په معنیٰ دَارسال سره دې، نوعبارت داسې دې فلياتنابآية مثل آية ارسال الاولين(بحر).

﴿مَآ ءَامَنَتۡ قَبۡلَهُم ﴾دا جواب دې دَهغوئ ددغې اعتراض اودَطعن حاصل دَجواب دادې چه دغه فرمائشي معجزي كومي چه دوئ طلب كوي نودا دَدوئ نه مخكښ تيرشووقومونوهم غوختلې وې نوهغوئ ايمان نوو راوړى نودوئ خوپه ضداوعنادكښ دَهغوئ نه زيات دي نودوئ به دفرمائشي معجزي په بنياد څرنګه ايمان راوړي.

تنبيه: دكفارو په ټولوطعنونواواعتراضونوكښ صرف دَاول طعن اواعتراض اودَدې اخري طعن اواعتراض جواب وركړې شواودَدې نورو جوابونه ورنكړې شو ځكه چه دانورطعنونه محض په جهالت اوخالص په عنادباندي مبني وو اودادوه په څه ناڅه دليل باندي مبني وو ،هرچه دې اول طعن نوهغه چونكه دَټولوكفارونه په تسلسل سره نقل وو ،اوهرچه دې دااخرى نوداپه يوعقلى دليل باندي مبني وو چه دوئ وئيلوچه مونږ منوچه دې پيغمبردې خومونږ ته دې زمونږ دَفرمائش مطابق دَمخكښنوانبياء كرامو عليهم السلام پشان معجزى پيش كړي نوځكه دَدې دواړو جوابونه اوشو.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ إِلَّا رِجَالٗا نُّوحِيٓ إِلَيۡهِمۡۖ فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ
اوندي ليږلي مونږ ستانه مخكښ مګرنارينه چه وحى كوله مونږ هغوئ ته پس پوښتنه اوكړئ تاسودَعلم والونه
إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ۞ وَمَا جَعَلۡنَٰهُمۡ جَسَدٗا لَّا يَأۡكُلُونَ ٱلطَّعَامَ وَمَا كَانُواْ خَٰلِدِينَ ۞
كچرى تاسونه پوهيږئ اونوو پيداكړي مونږ دوئ داسي جوسي چه نه به ني خوړلو خوراك اونوو دوئ هميشه «پاتي كيدونكي»
ثُمَّ صَدَقۡنَٰهُمُ ٱلۡوَعۡدَ فَأَنجَيۡنَٰهُمۡ وَمَن نَّشَآءُ
بيارښتنى كړه مونږ دوئ سره وعده پس بچ كړل مونږ هغوئ اوهغه څوك چه مونږ غوښتلو
وَأَهۡلَكۡنَا ٱلۡمُسۡرِفِينَ ۞
اوهلاك كړل مونږه دَحدنه تيروتونكي كسان.

﴿وَمَا أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ ﴾ هادا اول طعن اواعتراض نه جواب دې چه دوئ ونيل چه بشرنبي نشي جوړيدلی حاصل دجواب دادې چه مخکښې تيرشوی ټول رسولان نارينه وو اود ﴿رِجَالًا﴾ نه مراد بشرا دې څکه چه په وصف درجليت سره بشرمتصف کيږی، فرشتې نه متصف کيږی. ﴿فَسْئَلُوٓا أَهْلَ ٱلذِّكْرِ ﴾ مرادپه اهل ذکرسره صحيح علم لرونکي علمآء دی. يعني چه کله تاسوپخپله نه پوهيږئ نوبيادعلمآؤنه پوښتنه کوئ اودهغوئ اتباع اوتقليدکوئ اوقرطبی رحمه الله ددې ايت په ضمن کښې ليکلي دی: لم يختلف العلمآء ان العامة عليهاتقليدعلمآئها وانهم المراد بقول الله عزوجل فسئلوا اهل الذكران كنتم لاتعلمون، واجمعوا على ان الاعمى لابدله من تقليدغيره.....فكذلك من لاعلم له ولابصربمعنى مايدين به لابدله من تقليدعالمه(قرطبی ج۶ ص ۱۳۹).

يعني علمآؤ پديکښې اختلاف نيشته چه په عام خلکوباندې تقليددخپلوعلمآؤضروری دې اوبيشکه دوئ مراددي پدی قول دالله تبارك وتعالى سره چه﴿فَسْئَلُوٓا أَهْلَ ٱلذِّكْرِ ﴾ اودغه شان دټولوخلکوپدی اجماع ده چي ړوندسړي دپاره دبل تقليداواتباع ضروري ده، نودغه شان هغه سړی چه هغه لره علم نوي اوددين په امورو کښې ورله پوهه نوی نوپه هغه باندې هم تقليددعالم ضروری دې اوقاضی بيضاوی رحمه الله فرمائي: وفى الاية دلالة على وجوب المراجعة الى العلمآء فيمالايعلم، يعني پدی ايت کښې دليل دې په دې چه مراجعت (تقليد) واجب دې علمآؤته په هغې مسئلې کښې چه علم ورته نوی.

فائده: بعض معاصرومفسرينوپدی مقام کښې دتلبيس نه کاراخستی دې اودا سلافواقوال ئې په يوغلط اندازکښې پيش کړيدي اوكلمة حق اريدبهاالباطل، پورهمصداق ګرزيدلی دې اودعلامه ابن قيم رحمه الله اودحضرت شاه ولى الله رحمه الله دعبارتونوترجمه ئې نقل کړيده اودهغې دمقصدوضاحت ئې ندې کړې، کوم چه دسابقی اولاحقی نه معلوميږی چنانچه ليکی:

فائده: اعلام الموقعين عن رب العلمين دعلامه ابن قيم جوزيه کتاب په (ج۲ ص۱۲) کښې سوال ذکرکړيدي چه ددې ايت نه تقليدمعلوميږی اوبيائی جواب کړيدې.....چه الله تعالى بدې ذکرکړيده دهغه چاچه اعراض کوي دماانزل الله (قرآن کريم اوصحيح حديث) نه اوتقليددمشرانوکوي داتقليدبالاتفاق دامت سره مذموم اوحرام دې الخ: مونږپدی ځائ کښې دحافظ ابن قيم رحمه الله په احوالواواقوالوهغه تبصري نه کوو کوم چه علامه کوثری رحمه الله يانورو

بزرگانو کړيدي صرف دومره عرض کووکچرته دَحافظ ابن قیمرحمه الله دکلام مقصد دغه شي لکه چه دي بعضو مفسرينو بيان کړيدي نو په کلام دَحافظ کښ به ډيرتعارض او اضطرابات پيدا شي، لکه علامه په اعلام الموقعين (ج۲ ص ۲۵۴) کښ ليکلي دي: لاتجداحداً من الائمة الاوهومقلدمن هواعلم منه فی بعض الاحکام يعني يوهم دَائمونه داسي نيشته دي مګرهغه دَخپل ځان نه دَلوئي عالم تقليدپه بعض احکاماتوکښ کړيدي، اودغه شان فرمائي: وقدقال الشافعیرحمه الله فی موضع من الحج (قلته تقليدا لعطاء) يعني امام شافعیرحمه الله په موضع دَحج کښ وئيلي دي چه ډيدي مسئلي کښ ماﺩَعطاء تقليدکړيدي، کچرته تقليدمذموم اوحرام وی مطلقا نودلته بيادَحافظ ابن قيمرحمه الله دَقول مطابق ائمو ولی تقليدکړيدي؟؟ دغه شان حافظ په يوځائ کښ ليکلي دي چه امام شافعيرحمه الله فرمائي: اذا وجدتم فی کتابی خلاف سنة رسول اللهﷺ فقولوبسنة رسول اللهﷺ ودعوا ماقلته (اعلام الموقعين ج۲ ص ۲۶۲) اوبياپه بل ځائ کښ دَامام شافعیرحمه الله قول په باره دَشرائطودَمفتی کښ نقل کړيدي چه لايحل لاحد ان يفتی فی دين الله الارجلا عارفابکتاب الله بناسخه ومنسوخه ومحکمه ومتشابهٖ وتاويله وتنزيله ومکيه ومدنيه ومااريدبه ويکون بعد ذلك بصيرا بحديث رسول اللهﷺ وبالناسخ والمنسوخ ويعرف من الحديث مثل ماعرف من ا لقرآن ويکون بصيرا باللغة وبصيرا بالشعرومايحتاج اليه السنة والقرآن الخ (اعلام الموقعين ج۱ ص۴۶) اوپه بل ځائ کښ ليکلي دي زوی ايضاعن الامام احمدرحمه الله انه قال ان المفتی ينبغی له ان يحفظ اربع مائة حديث (اعلام الموقعين ج۳ ص۲۴۹) نودومره لوئي جلالت شان دَائمو اقوال به څرنګه دَقرآن اوحديث مخالف شي اوڅرنګه به دَهغوئ اتباع اوتقليد اعراض دَماانزل الله شي، کچرته دَعلامه ابن قيمرحمه الله دکلام مقصد دغه واخستلی شي لکه څرنګه چه دي بعضومفسرينو اخستی دي نونورهم ډيرتعارض به په کلام دَابن قيم کښ راشي، چه مخفی ندي په اهل علموباندي، بلکه دَدي عبارت صحيح مقصد دادي چه علامه ابن قيمرحمه الله په هغه خلکو رد کړيدي چه دَتقليدجامدقائل دی چه صرف اوصرف فتاوی ياده وي او استدلال په کتاب اوسنت سره بنه نه کنړي اوبقول علامه ابن قيمرحمه الله چه هغوئ خيال داوی چه زمونږ امام دَصحابه کرامو رضی الله عنهم نه هم زيات پوهه وو (اعلام الموقعين ج۲ ص۲۱۴) اوزمونږ فقهاء کرام مقلدين په مسائلوکښ استدلال په کتاب الله، سنت اواجماع اوبياپه اخيري کښ په قياس سره کوي چه په هغی کښ هم زمونږ دَفقهاء کرامو قول دادي چه قياس صرف مظهرللحکم دي اومثبت للحکم ندي اودغه شان زمونږ فقهاء کرام دَتقليدجامدهم

قائله ندي په مذهب کښ دَننه اختلافات، په ډيرومسائلوکښ دَحضرت امام ابوحنيفه رحمه الله قول پريخودل دَامام ابويوسف يادَامام محمد رحمه الله وغيره قول اختياره ول، بلکه کله کله دَنورو ائموقول اختياره ول لکه امام مالک رحمه الله ياشافعي رحمه الله وغيره شولکه باب تلفيق په کتابونودَفقه کښ داتول دَدې خبري واضح دليل اوثبوت دې چه تقليدجامدته زمونږ فقهاؤهم بنه ندي وئيلي، البته تعين دَيومذهب ضروري دې، ځکه چه پدې زمانه کښ هواپرستي اودَنفساني خواهشاتواتباع عامه ده نوکچرته دَيومتعين مذهب اختيارنه کړې شي اودَيومتعين امام دَمسلک تقليداونه کړې شي نوددين نه به يوه ټوقه اومذاق به جوړشي لکه حضرت شاه ولی الله رحمه الله چه حجة الله البالغه کښ فرمائي: لاسيما فی هذه الايام التی قصرت فيهاالهمم جدا واشربت النفوس الهوىٰ واعجب کل ذی رای برايه(حجة البالغه ص۲۳) يعني خاص طورباندي پدې زمانه کښ تقليدځکه ضروري دې چه همتونه ډيرکمزوري شويدې اونفسونوته خواهشات ډيرخوښ شويدي اوهرراى ورکونکي ته خپله رائ ډيرخوښه ده الخ اودغه شان دَحضرت سليمان التيمي رحمه الله نه منقول دي ان اخذتَ برُخصةِ کلّ عالم اجتمع فيک الشّر کلّه(فوائدفی علوم الفقه ص۲۶)يعني کچرته تقليدضروري نشي نوبيادَهرمسلک په اسانومسئلو(رخصت باندي) عمل کول شروع شي نوکچرته ته دَهرعالم په رخصت باندي عمل اوکړې نوپه تاکښ يعني ستاپه عمل کښ به ټول شرجمع شي، اودَدې وجه نه علامه سيوطي رحمه الله په شرح دَجمع الجوامع کښ ليکلي دی: ويجب علی العامی وغيره ممن لم يبلغ مرتبة الاجتهاد التزام مذهب معين من مذاهب المجتهدين،يعني په عاموخلکوباندي(اگرچه عالم ولي نوي) دَهغه چانه چه مرتبي دَاجتهاد ته نوي رسيدلی دَيومتعين مذهب التزام واجب دې اوعلامه طحطاوي په حاشيه دَدرالمختارکښ ليکلي دي: من کان خارجًا عن هذه الاربعة فهو من اهل البدعة والنار، يعني کوم يوسړی چه دَدې څلورو مذهبونونه خارج شي نوهغه بدعتی اوجهنمي دې اوعلامه منالی رحمه الله اوحافظ ابن حجر رحمه الله هم دغه شان خبره کړيده چه چونکه نن صبادَنورو ائمومجتهدينومذاهب معدوم،غيرمعلوم دې،نودَدې وجه صرف دَدې څلورومذاهبو کښ دَيومذهب تقليدکول ضروري دی: اما اليوم فلايجوزتقليدغيرالائمة الاربعة فی قضاء ولاافتاء(امانی ج۲ ص۸) يعني په قضاء اوافتاء کښ دَدې څلورومذاهبو دَتقليدنه علاوه دَنورو ائمو تقليدجائزندې اوحافظ ابن حجر رحمه الله په شرح دَاربعين کښ فرمائي: امافی زماننا فقال ائمتنا لايجوزتقليدغيرالائمة الاربعة الشافعی رحمه الله،ومالک رحمه الله، وابی حنيفة رحمه الله، واحمدبن حنبل رحمه الله يعني زمونږپدې زمانه

کښ دڅلورو امامانو شافعي رحمه الله ،مالك رحمه الله ،ابو حنيفه رحمه الله او احمد بن حنبل رحمه الله نه علاوه دنورو ائمو تقليد جائز ندي.

اوبیا دغه بعض معاصر ليکي: شاه ولي الله رحمه الله په عقد الجيد کتاب کښ هم ليکلي دي که دې سړي ته په راتلونکي وخت کښ دقرآن او حديث نه صحيح نص معلوم شو او دهغه قول نه خلاف وو نوهغه قول به پريږدي اوقرآن اوحديث باندي به عمل کوي الخ يوادنى طالب هم دشاه ولي الله رحمه الله ددې کلام په مقصد باندي پوهيږی چه ددې عبارت نه دشاه صاحب رحمه الله مقصد څه دي؟ ددې عبارت واضح مقصد دادې چه تقليد واجب دې خوکچرته يوسړی عالم وي اودقرآن اوحديث ماهروی،ناسخ منسوخ، راجح مرجوح باندي واقف وي، نوکچرته هغه ته يومسئله جزئيه کښ خپل مذهب کمزوری ښکاره شي نوعمل دي په هغي اوکړي چه کوم راجح وي اوتقليد شخصي اوتقليد دیو امام صرف دهغه داقوالو منلونه عبارت ندې لکه په سورة النحل ايت نمبر(۴۳)کښ په تفصيل سره ثابته شويده چۀ فقه حنفی صرف دامام ابوحنيفه رحمه الله داقوالو نه عبارت ندې بلکه ددولس زره مستند اوجيد علماء کرامو دشورئ نه عبارت دې چه هغوئ به په يوي يوي مسئلي باندي ترڅو،څو،ورځو پوري بحثونه کولو،اوپخپله شاه ولي الله صاحب په عقد الجيد کښ دیو متعين مذهب اتباع اوتقليد ته ضروری وئيلی دې هغه فرمائي: ولما اندرست المذاهب الحقة الا هذه الاربعة كان اتباعها اتباعا للسواد الاعظم والخروج عنها خروجاً عن السواد الاعظم(عقد الجيد ص۳۸).

يعني هرکله چه مذاهب حقه صرف اوصرف په دې څلورو(ابوحنيفه،مالك،شافعي،احمد بن حنبل) کښ منحصر شويدي نوپه دوئ کښ دیو اتباع،دسواد اعظم اتباع ده اوددې نه وتل دمسلمانانو دیولوئ جماعت نه وتل دي اوپه حجة الله البالغه کښ حضرت شاه صاحب رحمه الله داسي فرمائي: هذه المذاهب الاربعة المدونة المحررة قد اجتمعت الامة اومن يعتد بها منها على جواز تقليدها الى يومنا(حجة الله البالغة ج۱ ص ۱۳۲) يعني ټول امت يا دامت قابل اعتبار خلکو دائمه اربعه دڅلورو مدونو مذهبونو دتقليد په جواز باندي نن ورځي پوری اجماع کړيده نوشاه صاحب دیو متعين امام دتقليد وجوب قائل دي البته ماهرين علوم قرآن،حديث چه داستنباط او اجتهاد صلاحيت لري اوچه په شرائطو باندي پوره وي هغه ته ئي اجازت ورکړيدي چه دتحقيق نه ورستو په يوی مسئلي جزئيه کښ اختلاف کولی شي اودموجوده زمانی غيرمقلدين عوام اواکثرملايان چۀ دعربي عبارت په لوستلو باندي هم قادرندي دهغوئ دپاره داحکم ندې اوددينه دامعلومه شوه چه دکوم اسلافونه دتقليد په باره کښ ممانعت منقول دې نوهغه دهغه خلکو په باره کښ دې چه کوم پخپله

درجه اجتهاد ته تقريبا رسيدلی وی، لکه امام شعرانی رحمه الله په الميزان الکبری کښې ليکلي دي وهومحمول على من له قدرة على استنباط الاحكام من الكتاب والسنة والافقدصرح العلماء بان التقليد واجب على العامي لئلايضل فى دينه يعني دامما نعت محمول دي په باره دهغه چا کښې چه هغه ته دقرآن اوحديث نه استنباط کولو قدرت حاصل وي اوکچرته داسي نوي نوعلماؤپدی تصريح کړيده چه په عام سړي باندي تقليدواجب دي دي دپاره چه دي په خپل دين کښې گمراه نشي

﴿وَمَا جَعَلْنَٰهُمْ جَسَدًا﴾ دادمشرکينودَدويم اعتراض جواب دي چه هغوئ به اعتراض کولوچه داڅرنگه نبي دي، دي خوزمونږ پشان خوراك اوڅكاك کوي، مال هذا الرسول ياكل الطعام ويمشي فى الاسواق اوپه ﴿جَعَلْنَٰهُمْ﴾ کښې ضميردَمفعول راجع دي رسولانوته اودَ ﴿جَسَدًا﴾ اطلاق کله په غيرمتغذي باندي کيږي يعني غذاکوونکی نوي لکه جمادات شو اوکله کله ئي اطلاق په متغذي اوغيرمتغذي دواړوباندي کيږی نودَاول اطلاق په اعتبارسره نفی دَجسدده اوداورستو جمله ﴿لَّا يَأْكُلُونَ﴾ بيان اوتفسيردَجسددي، يعني انبياء کرام مونږه جمادات نووپيداکړی چه خوراك به ئي نه کولو، اودويم اطلاق په اعتبارسره جسدمثبت دي اوموصوف دي اوورستو جمله ورله صفت دي او داجمله منفي ده يعني داسي اجساد نووچه خوراك به ئي نه کولوبلکه داسي اجسادوو چه خوراك به ئی کولو او ﴿جَسَدًا﴾ مفرد ذکرشوځکه چه دينه جنس اراده کړي شويدي، مقصد دايت دادي چه ستانه مخکښې هم انبياء کرام بشروو اودَبشريت دَطبائع نه خارج نوو چه بياخوراك اوڅكاك ته محتاج نوی (قرطبی) اوپديکښې اشاره ده ديته چه خوراك نه کول څه کمال اوعلامه دَمقبوليت نده.

﴿وَمَا كَانُوا۟ خَٰلِدِينَ﴾ دادريم اعتراض جواب دي چه دانبي به هميشه دَپاره نوي بلکه وفات کيږي به، خلاصه داده چه هرکله انبياء کرام محتاجه وو خوراك، څكاك ته اودَخوراك څكاك نه مستغني نوو نودَفناء نه هم نشوبچ کيدلی اوخلود نه مراد يابقاء سرمدي يعني هميشه دَپاره ژوندي پاتي کيدل دي اوياتنه مراد اوږده زمانه پاتي کيدل دي.

﴿ثُمَّ صَدَقْنَٰهُمُ﴾ پديکښې تخويف دنيوي ته اشاره ده دَپاره دَمنکرينواوبشارت دنيوي دي دَپاره دَمؤمنانو اومرادپه صدق سره انجازيعني پوره کول دي اووعدي نه مراد وعده دَهلاکت ده

دښمنانو او نصرت دي دمؤمنانو ﴿فَأَنجَيْنَاهُمْ وَمَن نَّشَآءُ﴾. "من نشاء" نه مراد متبعين دي دانبياء کرامو يعني مؤمنان.

لَقَدْ أَنزَلْنَآ إِلَيْكُمْ كِتَٰبًا فِيهِ ذِكْرُكُمْ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ⑩
بيشکه نازل کړيدې مونږ تاسو ته کتاب په هغې کښې يادداشت ستاسو دې، آيا پس تاسو دعقل نه کار نه اخلئ
وَكَمْ قَصَمْنَا مِن قَرْيَةٍ كَانَتْ ظَالِمَةً وَأَنشَأْنَا بَعْدَهَا قَوْمًا ءَاخَرِينَ ⑪ فَلَمَّآ
او ډير هلاک کړيدي مونږ دکلو والا نه چه وو ظلم کوونکی او پيدا کړل مونږ ورستو دهغوئ نه قوم نور، پس هرکله چه
أَحَسُّوا۟ بَأْسَنَآ إِذَا هُم مِّنْهَا يَرْكُضُونَ ⑫ لَا تَرْكُضُوا۟ وَٱرْجِعُوٓا۟
اوليدلو هغوئ عذاب زمونږ نو دغه وخت دوئ دهغې نه منډې وهلې (اوئيلې شو) منډې مه وهئ او واپس لاړشئ
إِلَىٰ مَآ أُتْرِفْتُمْ فِيهِ وَمَسَٰكِنِكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْـَٔلُونَ ⑬
هغه مالونو ته چه مست کړي شوي وئ تاسو په هغې کښې او خپلو کورونو ته، دې دپاره چه ستاسو نه پوښتنه او کړې شي.
قَالُوا۟ يَٰوَيْلَنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ⑭ فَمَا زَالَت تِّلْكَ دَعْوَىٰهُمْ حَتَّىٰ
اوئيل دوئ هاې تباهي ده زمونږ بيشکه وو مونږ ظالمان، پس هميشه وې دغه آوازونه (چغې) ددوئ تر دې چه
جَعَلْنَٰهُمْ حَصِيدًا خَٰمِدِينَ ⑮
او کرځول مونږ دوئ ريبدلي شوي يخ مړه شوي

﴿لَقَدْ أَنزَلْنَآ﴾ دا ترغيب الى القرآن دې او پديکښې رد دې دهغه طعنونو او خبروکوم به دوئ دقرآن په باره کښې کولې لکه دوئ به وئيل چه قرآن اضغاث احلام يا افتراء او يا دې وشاعر کلام دې او تنوين په ﴿كِتَٰبًا﴾ کښې دتعظيم او تفخيم شان دپاره دې، او په ﴿ذِكْرُ﴾ سره مراد شرف، عزت او ښه شهرت دې، او خطاب عربو ته دې چه هغوئ اول مخاطبين وو، نو مطلب دا دې چه دا قرآن ستاسو دپاره باعث دښه شهرت او باعث دشرف او عزت دې ځکه چه ستاسو په ژبه کښې او ستاسو دقوم نه په نبي باندې نازل شويدې (روح) او دا دې وجه نه نبي ﷺ ارشاد اوفرمائيلو:

احبوا العرب لثلاث فاني عربي والقرآن عربي ولسان اهل الجنة عربي، اوکماقال ﷺ اوياخطاب ټولومؤمنانوته دې اومقصد دادې چه تاسوپه قرآن باندې عمل اوکړئ ځکه چه قرآن باندې عمل کول سبب دَعزت اوشرافت دې،اويادذکرنه مراد اموردينيه اوشرعيه دي اوياذکرپه معنی دَتذکيرسره دې يعني وعظ اونصيحت يعني ستاسودَپاره پديکښې وعظ اونصيحت دې.

﴿وَكَمْ قَصَمْنَا ﴾داتخويف دنيوی دې اوتفصيل دې دَماقبل اجمال چه﴿وَأَهْلَكْنَا الْمُسْرِفِينَ ﴾ دې او"کم" خبريه ده مفيده دَتکثيرده او"قصم" په لغت کښې ماتولوته وئيلی کيږي دلته نه سخت اواستيصالي عذاب مراددې.

﴿مِن قَرْيَةٍ ﴾ددينه مراد يوه خاص قريه نده،بلکه تيرشوي قومونه چه شرک اوکفرئې کړې وو ټول تنه مراد دي، اودَابن عباس رضي الله عنه نه چه منقول دي چه دَدينه مراد حضورا يامدائن وغيره دی هغه علیٰ سبيل التمثيل دې نه علی سبيل الحصر. کانت ظالمةً دلته مضاف مقدردې چه اهلها دې او﴿ظَالِمَةً﴾ په معنی دکافرة سره دې، اوداسبب دَهلاکت دې، ﴿ فَلَمَّآ أَحَسُّوا۟ ﴾ضميردَجمعي راجع دې اهل دَقرية ته اوندې راجع﴿قَوْمًا ءَاخَرِينَ ﴾، ته ځکه چه دَهغوئ څه گناه دلته ندې ذکر،او﴿أَحَسُّوا﴾ دَاحساس نه دې اواحساس وئيلی کيږی ادراك په يودَحواسوسره،دلته نه مراديقين دې دَعذاب اوپه لفظ دَ ﴿أَحَسُّوا﴾کښې اشاره ده ديته چه دَمشاهدې اواحساس دَعذاب نه پس توبه نه قبليږي کچرته دوئ دَمشاهدې اواحساس نه مخکښې توبه ويستلی وی نوقبوله شوی به وه.

﴿إِذَا هُم مِّنْهَا ﴾اذا مفاجاتيه دې اوضميردَ﴿مِّنْهَا ﴾ياراجع دې قريې ته اوياراجع دې ﴿بَأْسَنَا﴾ته اوباس په معنی دَنقمة دې ځکه ضميردَمؤنث ورته راجع شو،اومن په اول صورت کښې ابتدائيه دې اودويم صورت کښې بياتعليليه دې اوركض په لغت کښې وئيلی کيږي زمکه په پونده باندې په تيزئ سره وهل،داکنايه ده دَمنډې وهلونه،يعني دوی چه کله مقدمات دَعذاب اوکتلونومنډې وهل ئې شروع کړې اويارکض ماخوذ دي دَرکض الدابة الارض بالرجل نه يعني تيزئ دَوجې نه دَسورلئ تيندك خوړل اوکلام ياپه حقيقت باندې محمول دې چه دوئ کله عذاب اوکتلونوپه خپلوسورلوباندې کيناستل اوتيختلا ئې شروع کړه اويامحمول دې په تشبيه باندې چه ددوئ

حالت دَهغه خلكو دَحالت سره مشابه كړې شويدې چه ډيرپه تيزۍ سره روان وي اودَيرى اوتيزۍ دَوجى نه ئي سورلۍ تيندكونه خوري،بهرتقديرمقصددَايت دادې چه دَعذاب كتلو دَوجى نه دوۍ منډى وهل شروع كړل،نوفرشتوورته بطوراستهزاء اوئيل چه:

﴿لَا تَرْكُضُوا۟ وَٱرْجِعُوٓا۟ إِلَىٰ مَآ أُتْرِفْتُمْ﴾ مرادورنه هغه سازوسامان اونعمتونه دى چه دَهغى دَوجى نه دوۍ تكبركولو﴿لَعَلَّكُمْ تُسْـَٔلُونَ ﴾ يعني مه تختۍ دې دپاره چه په تاسوباندې چه څه تيرشي نودهغى په باره كښې به بياستاسونه خلك صباپوښتنه كوي چه څرنګه چل وو؟ نوتاسو به ورته خپله مشاهده اوكارګزارى واورَوۍ (مدارك) اويامطلب دادې چه تختۍ مه بلكه خپلوبنګلواومحلاتوكښې كينۍ چه خادمان درنه پوښتنه اوكړي څكه چه كله څه حادثه راشي نو بياخادمان تپوس كوي چه څه حكم دې؟ څه اوكړو؟ څه شۍ راوړو؟ څه شي پريدو(روح) اويامطلب دادې چه ستاسونه پوښتنه اوكړې شي چه تاسوايمان ولى نه راوړۍ؟ لكه څرنګه به دَعذاب دَنزول نه مخكښې به ستاسونه پوښتنه كيدله چه څه وجه ده چه تاسوايمان نه راوړۍ؟ (قرطبي).

﴿قَالُوا۟ يَـٰوَيْلَنَآ ﴾دا ذكردې دَپښيمانتيااودَخپلوګناهونودَاعتراف په داسى وخت كښې چه فائده نه وركوى.﴿فَمَا زَالَت تِّلْكَ ﴾، تلك مرفوع دې محلااسم دې دَ﴿زَالَت﴾ دپاره او﴿دَعْوَىٰهُمْ ﴾ورله خبردې اومشاراليه دَتلك دامخكښې كلمه﴿يَـٰوَيْلَنَا﴾ده اوپديكښې اشاره ده چه ددوۍ ندامت اوپښيمانتيا مسلسل وه.﴿حَصِيدًا ﴾په معنى دَمحصودا سره دې په معنى دَلو كړې شوي فصل سره،او﴿خَـٰمِدِينَ﴾ دَ خمودنه دې په اصل كښې وئيلى كيږى دَاورمړكيدلوته اودا مجموعه يعني ﴿حَصِيدًا﴾ او﴿خَـٰمِدِينَ﴾مفعول ثاني دې دَ ﴿جَعَلْنَـٰهُمْ﴾دپاره اوپديكښې جمع بين التشبيهين ده يعني ﴿حَصِيدًا﴾په معنى دَكالزرع المحصود يعني لوكړي شوي فصل پشان شو، او﴿خَـٰمِدِينَ﴾ يعني كالنارالخامد، په شانته دَتپ ختلي اور،اوپديكښې اشاره ده چه دَدوۍ غروراوتكبردَاورپشان وو،نوڅرنګه چه په اورباندې اوبه وغيره واچولى شي اومړشي نودغه شان دَالله ﷻ قهراوغضب په نازليدلوسره ددوۍ غرور اوتكبردَخاورو سره ميلاؤ شو.

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لٰعِبِيْنَ ⑯ لَوْ اَرَدْنَآ اَنْ نَّتَّخِذَ لَهْوًا

اوندي پيدا کړی مونږ آسمان اوزمکه اوهغه چه دَدي په مينځ کښې دي لوبې کوونکي، کچرې غوختلي مونږ چه اونيسو مشغله

لَّاتَّخَذْنٰهُ مِنْ لَّدُنَّآ ۖ اِنْ كُنَّا فٰعِلِيْنَ ⑰ بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ

نوخامخا به نيولي وی مونږ هغه دَخپلې خوانه کچرې مونږ کولی داکار، بلکه ورګذاروو مونږ حق لره په باطل باندي

فَيَدْمَغُهٗ فَاِذَا هُوَ زَاهِقٌ ۗ وَلَكُمُ الْوَيْلُ مِمَّا تَصِفُوْنَ ⑱

نوزخمي کړی دماغ دَهغه نوفوراً هغه هلاک شي اوستاسو دَپاره تباهي ده دَوجې دَهغه خبرونه چه تاسوئې وايئ

﴿وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ﴾ دادَسورت دويمه حصه ده ترايت نمبر (۳۰) پوری، دا اول دليل عقلي دی په توحيدباندي چه اسمانونه اوزمکي مونږه دَمصالحو اوحکمتونونه خالي ندي پيدا کړي، بلکه دادَالله ﷻ په معرفت اودَهغه په توحيدباندي دلائل دي، لاعبين داحال دی دَضميرفاعل نه لعب وئيلی کيږي هغه فعل ته چه دَهغي نه مقصدصحيح نوي اراده کړی شوی، اوکرماني ﷫ فرمائي چه لعب هغې ته وائی چه مقتضیٰ دَهغي جهل وي ابتداء ئي خاشسته وی خوثبات ورلره نوی: اللعب فعلٌ يدعوا اليه الجهل يروق اوله ولاثبات له (بحربحواله کرمانی).

﴿لَوْ اَرَدْنَآ اَنْ نَّتَّخِذَ لَهْوًا﴾ داتقريراوتوضيح دَماقبل دليل ده اولهو وئيلی کيږی هغی ته چه په هغی سره مقصدمشغولاوی، اودَنور څيزونونه دَهغي په وجه سړی غافله شي، اودَدی وجه نه دَلهو اطلاق په ولداوپه بي بي باندي هم کيږي، دَدي ايت ډيری معانی بيان کړی شويدی (۱) يوه معنی داده چه الله ﷻ فرمائي کچرته دازمکی اواسمانونه مونږه دَخپل تفريح اومشغولا دپاره پيدا کړي وی نو لاتخذناه من لدنا نوهغه تماشه اوتفريح به هم زمونږ دَشان سره مناسب وی اودَالله ﷻ دَشان سره مناسب خوحکمت دی نوهغه تماشه به دَحکمت نه خالي نوه، نومطلب دادی چه محض تماشه دَالله ﷻ دشان سره محاله ده. (۲) دويمه معنی داده کچرته دازمکي اواسمانونه مونږه دَخپل مشغولا دَپاره پيدا کړي وی نو لاتخذناه من لدنا نومونږ به دَخان سره ساتلي وی اوتاسوته به مي دَدي دليلونه نوی ښکاره کړي (۳) دريمه معنی داده چه دَلهوا نه مراد ولداوبی بی ده اومقصد دادي کچرته مونږدَخان دَپاره ولدیابی بی نيولی نو دهغه چانه به مي نيولی وی چه زمونږ سره دي

اوپخپله خوښه به مي نيولی وی لکه حورالعين وغيره شو اوستاسوخوښی ته به مي نه کتلی اوستاسودَجنس نه به مي نه نيولی،نوپديکښ رددې په عقيدې دَيهوديانواونصاری ؤباندي.چه هغویٔ به حضرت عزيرﷺ اوعيسیﷺ ته دَاللهﷻ اولاد وئيلی.

﴿إِن كُنَّا فَٰعِلِينَ﴾دانتيجه ده دکلام سابق او"ان" نافيه دې يعني مونږ داکارکوونکي نه يو اويا ان شرطيه دې اوجزائې مقدره ده اوقرينه په حذف باندې مخکنی کلام دې تقديرداسی دې ان کنافاعلين لاتخذناه، يعني کچرته مونږه دا کارکولی نومونږ به ضرورولددَخان دپاره نيولی وی، ليکن دازمونږ دَشان سره لائق ندې. ﴿بَلْ نَقْذِفُ بِٱلْحَقِّ﴾بل دَپاره دَاضراب دې دَدې مخکښ کلام نه،يعني مونږه دَدينه لهو نده اراده کړي بلکه دا دليلونه دی دَاثبات دَحق اود رد دَباطل دَپاره، اوغوره خبره داده چه په حق سره اسلام، قرآن،رسالت اوهغه ټول حجتونه اودلائل چه په هغی سره اثبات دَتوحيد اوابطال دَشرك اونفی دَاتخاذ ولد کيږی مرادې،اوپه باطل سره شيطان،نسبت کول دَشريك اودَولد اللهﷻ ته اودَمنکرينوشبهات مراددې، اوپه لفظ دَنقذف کښ اشاره ده چه حق هميشه دَپاره دروند اومضبوط وی، او﴿فَيَدْمَغُهُۥ﴾ وئيلی کيږی دماغ زخمی کولوته مرادتنه باطلول دی.﴿فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ﴾اذا مفاجاتيه دې ﴿زَاهِق﴾په معنی دَهالك سره دې اوجمله اسميه راوړی شوه دَپاره دَدلالت په کمال مسارعت باندې په بطلان دَباطل کښ نوګوياچه داباطل اصل دې په هلاکت اوبطلان کښ﴿ ﴾مِمَّا تَصِفُونَ مرادتنه نسبت دَولد شريك اودَلهو دې اللهﷻ ته.

وَ	لَهُۥ	مَن	فِي	ٱلسَّمَٰوَٰتِ	وَٱلْأَرْضِ	وَ	مَنْ عِندَهُۥ

لوخاص دَاللهﷻ په اختيارکښ دې هغه څه چه په اسمانونوکښ دې اوپه زمکه کښ دې اوهغه خوك چه اللهﷻ ته نزدې دې

لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِۦ وَلَا يَسْتَحْسِرُونَ ۝١٩ يُسَبِّحُونَ ٱلَّيْلَ

لوئ نه کوي دَبندګیٔ دَهغه نه اونه ستړي کيږي پاکي وائی دَاللهﷻ په شپې

وَٱلنَّهَارَ لَا يَفْتُرُونَ ۝٢٠ أَمِ ٱتَّخَذُوٓا۟ ءَالِهَةً مِّنَ ٱلْأَرْضِ هُمْ يُنشِرُونَ ۝٢١

اوورځ کښ نه ښکاره کوي سستي آيانيولي دي دویٔ معبودان دَزمکي والونه چه هغویٔ ژوندي کول کولي شي؟

﴿وَلَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾دادويم دليل عقلي دې په توحيدباندي چه زمکي. اسمانونه اوهرڅه دَالله ﷻ په قبضه قدرت کښ دی اودهغه په تصرف کښ دی ﴿وَمَنْ عِندَهُۥ﴾مرادتنه فرشتی دی اوعندية په اعتباردَشرف اومنزلت سره مراد دې اوپه اعتباردَمکان سره ندې مرادځکه چه الله ﷻ دَمکان نه منزه دې.

﴿لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِۦ﴾دابيان دَحال دې دَملائکودَعبادت دې، اونفی دهغه امورو ده دَملائکونه چه هغه مانع دَعبادت دَپاره کرځی، اوموانع دَعبادت دَپاره دری څیزونه دی(۱) استکباريعني لوئ کول دانفی شوپه ﴿لَا يَسْتَكْبِرُونَ﴾سره(۲)ستړيادانفی شوپه﴿وَلَا يَسْتَحْسِرُونَ﴾ (۳) ناراستی راتلل دانفی شوپه لايفترون سره.

﴿يُسَبِّحُونَ ٱلَّيْلَ﴾داحال دې دَضميردَ ﴿وَلَا يَسْتَحْسِرُونَ﴾نه اودَليل اونهارنه مراد دادې چه دَدوئ تسبيح هميشه اوپی درپی(مسلسل)وی اوپه هروخت کښ وی اودَحضرت کعب احبار رحمه الله نه مروی دې چه دَفرشتو دوام تسبيح داسی دې لکه انسان چه ساه اخلی چه نه پری ستړی کيږی اونه پری دَبل کارنه مشغوليږی.

﴿أَمِ ٱتَّخَذُوٓاْ ءَالِهَةً﴾دازجردې په نيولودَالهوسره پس دَنفی دَاتخاذدَولدنه، او ام منقطعه دې اودادَزجرواَنکاردَپاره دې اودااانکاراونفی راجع ده نشورته،يعني دوئ ژوندي کول نشي کولي،اوانکاراونفی دَاتخاذدَالهو نه نده ځکه چه هغه واقع شويدې اوغوره قول دادې چه انکارمستفاد دې دَهمزی دَ اَم نه نومطلب دادې چه دوئ دَزمکی نه الهه نيولی دی نوآياهغه په احياء اوژوندورکولوباندي قادردي؟ نوهرګزندی قادرنولهذا خدايان هم ندی، اوبعض فرمائی چه ام په معنٰی دَهل سره دې اوقيددَ﴿مِّنَ ٱلْأَرْضِ﴾دَتحقيردَپاره دې اودَتخصيص دَپاره ندې،﴿هُمْ يُنشِرُونَ﴾ داجمله صفت دَالهة دَپاره واقع شويده اونفی دَدې قيدمراد ده، يعني دوئ خوپيداکول اوژوندی کول نشي کولی اوڅوك چه په احياء باندي قادرنوی نوهغه اِلٰه هم نشي جوړيدلی.

لَوْ كَانَ فِيهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا ۚ فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ
کچرې وى په زمكه اسمانونوكښې نورمعبودان‌برحق، سيوا دَالله ﷻ نه نوبرباد شوي به وو دواړه پس پاكي ده الله ﷻ لره
رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۲۲﴾ لَا يُسْئَلُ عَمَّا يَفْعَلُ
چه مالك دَعرش دې دَهغه څه نه چه دوئ ئې بيانوي.تپوس نشي كيدې دَالله ﷻ نه دَهغه څه چه هغه ئې كوي
وَهُمْ يُسْئَلُوْنَ ﴿۲۳﴾
اودَدې مخلوق نه‌به‌تپوس کيديشي

﴿لَوْ كَانَ فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ إِلَّا ٱللَّهُ لَفَسَدَتَا﴾دادليل بيانيږي په نفى دَالهوباندي پدى ايت كښې دوه(۲)قسمه تحقيقونه دى، يو لفظى تحقيق اوبل معنوى.

تحقيق لفظي: (لو)دحروف شرط نه دي دادلالت كوى په تلازم دَشرط اوجزا باندي اوديته لواستدلاليه هم وئيلى كيږى او دَدې استعمالات تقريبا(۷۰) اوياقسمه دى چه (رضى)په شرح دكافيى كښې په تفصيل سره مذكوردى اوفيهما ضمير راجع دې زمكى اواسمانونوته اومراد تنه تول عالم دي كه علوى وى ياسفلى وى اومرادپه فيهما سره فى تصرفهما وتدبيرهما دې اوياتنه مراد خلق اوتاثيردي يعني فى خلقهما وتاثيرهما نولهذا دااعتراض نه واردېږى چه دَالله ﷻ دپاره مكان ثابت شو او الله ﷻ متمكن فى المكان دى(العياذ بالله) الاَصفق دي په معنى دَغيرسره دي اوپدى كښې دَنحويانو اختلاف دي چه الا په منزله دَغيردي په اسميت كښې اوكه په نفس معنى كښې چه مغايرت دي، نوبعض نحويان داوائى چه الا اسمى دي اودَدې اعراب په مابعدكښې ظاهريږى لكه څرنگه هغه الف لام چه داخليږى په اسم فاعل اواسم مفعول باندي چه هغه اسمى دي اواعراب ئې په اسم فاعل باندي ظاهريږى لكه الضارب،المضروب شو، ليكن غوره خبره داده چه الاپه معنى اوپه منزله دَغيرسره دي اواسمى ندې يعني الاهم وضع شويدې دَمغايرت دَپاره اوغيرهم دَمغايرت دَپاره وضع شويدې اوفرق په مينځ دَدواړوكښې دادې چه الا دلالت كوى په مغايرت دَمابعددَماقبل نه نفيا اواثباتا اوغيردلالت كوى په مغايرت دَمابعددَماقبل نه ذاتا او وصفابغيردَاعتبار دَاثبات اونفى نه.

نوهرکله چه دَدوئ دوارِوپه مینځ کښ ااشتراك وو په معنی دَمغایرت کښ نودَدې وجه نه یودَبل په ځائ استعمالیږی اوهرکله چه الاً په معنی دَغیرسره وی نو پدے سره مغایرت معتبروی ذاتا،صفتا اومغایرت نفیاواثباتا بیانوی معتبرلکه څرنګه چه غیرچه کله په معنی دَالاً سره شي نوبیاپه مغایرت نفیا اواثباتادلالت کوی اومغایرت ذاتا وصفتانوی معتبر، اوعلامه ابن حاجب په کافیه کښ قانون ذکرکړیدې چه اذاکانت تابعة لجمع منکور غیرمحصور. یعني چه کله الاً واقع شي ورستودَمتعدد نکری غیرمحصورنه نودا به په معنیٰ دَغیرسره وی. نودلته هم الاً ورستودَمتعددنکری غیرمحصورنه واقع شویدې نوځکه په معنی دَغیرسره دې اوقرینه عقلیه پری داده کچرته الاً پخپلی معنیٰ یعني استثنائی شي نومعنیٰ به فاسده شي اوایت به دالنشي په اثبات دَوحدانیت باندې،ځکه چه دَایت معنی به داشي،لوکان فیهماالهة مستثنیً عنهاالله لفسدتا. یعني کچرپه زمکه اواسمان کښ دَالله ﷻ نه مستثنی الهه وی نوفسادبه پراغلی وی، نومقصدداشو چه په تقدیردَمستثنی سره به فسادراځی اودَعدم استثناء په صورت کښ به فساد نوی نوتوحیدثابت نشو،نوځکه الاً دلته په معنیٰ دَغیرسره دې.

تحقیق معنوی: داایت دلیل دې په نفی دَالهو اوعلامه تفتازانی رحمہ اللہ په شرح العقائدکښ فرمائیلی دی چه پدی ایت کښ اشاره ده برهان تمانع ته اوتمانع ئې عبارت ګرځولی دې دَدینه چه تعلق دَارادې دَاحدالواجبین راشي په حرکت دَزیدپوری اودواجب اخرپه سکون دَزیدپوری یعني یوخدائ به دَزیدحرکت اراده کوی اوبل به ئې سکون اراده کوی اودَفسادنه مراد خروج دَنظام مشاهددې چه دَدینه تعبیرپه عدم لاحقه سره هم کیږی یعني داموجود اومشاهد نظام ختمیدل. نوپه شرح العقائدکښ علامه دَدلیل خلاصه داده کچرته په اسمانونواوزمکه کښ دوه(۲) خدایان ممکن وی نودَهغوئ په مینځ کښ به تمانع هم ممکنه وه لیکن تالی یعني امکان دَتمانع باطل دې نولهذا خدایان راتلل هم باطل دی اوملازمه عادیه ده یعني دَبادشاهانو عادت پدی جاری دې چه یوبل دَمخالفت کوی،لکه چه مشهورمتل دې چه دوه(۲) فقیران په یوکمبل کښ ځائیږی اودوه (۲)بادشاهان په یوملك کښ نه ځائیږی نوځامخابه یوخدائ یوکارکولو اوهغه بل به نه پریخودلو اودَهغه مخالف کاربه ئې کولومثلاً یوبه دَزیدحرکت اراده کولو نوبل به دَزیدسکون اراده کولو، اوچونکه حرکت اوسکون دَزیددواړه بنفسه ممکن دی نودَدې وجه نه تعلق دارادې په هریوپوری راتلی شي،اوهرچه دې بطلان التالی نوهغه داسی دې چه یابه دَ دواړو ارادې پوره کیږی اویابه دَیوخدائ والا اراده پوره کیږی اودَبل والا به نه پوره کیږی،اول صورت کښ اجتماع

دضدینو راځی اوپه دویم صورت کښ عجزدَیوخدائ راځی ځکه چه کوم یوپه خپلی ارادې پوره کولوباندې قادرنوی نوهغه عاجزوی اوعاجزخدائ نشي جوړیدې.

په شرح المقاصد کښ علامه دادلیل مزیدپه وضاحت سره بیان کړیدې خلاصه دَهغی داده چه فساد دوه(۲)معنی دی(۱) داموجود اومشاهدنظام ختمیدل چه دَدینه تعبیرپه عدم لاحقه سره کیږی(۲) عدم تکون یعني نیشتوالی دَاسمانونو اودَزمکی، اودَدینه تعبیرپه عدم سابقه سره کیږی نودَاول معنٰی په صورت کښ دَاستدلال تفصیل ذکرشو، اودَدویمی معنی په صورت کښ دَاستدلال خلاصه داده کچرته الهه متعدد شي نوزمکه اواسمانونه به نوو پیداشوی لیکن تالی باطل دې ځکه چه زمکه اواسمانونه خوموجوددی نومقدم ئی مثل دې،دلیل دَملازمی دادې کچرته الله متعدد شي نوتمانع به په ټولوافعالوکښ به ممکن شي حتی که چه په ایجاد دَدې مخلوقاتوکښ به هم ممکنه شي پدیشان چه هرواحددَواجبینونه به اراده متعلقه کړی په ایجاد دَزمکی اودَاسمانونوپوری نواوس به دامصنوع یعني زمکه اواسمان یابه په مجموعه دَقدرتین سره وی یعني دَټولوپه شریکه یوقدرت سره وی اویابه دَهریوپه جداجدا قدرت سره وی،اویاپه دَیوپه قدرت سره وی اودَبل په قدرت سره نوی، اول صورت کښ لازمیږی عجزدَخدایانو ځکه چه قدرت دَهرواحدناقص شونوپه ایجاد کښ محتاجه شوبل ته،اوعاجزخدائ نشي کیدې، اودویم صورت کښ لازمیږی توارد دَعلتینومستقلینوپه معلول واحدباندې اودابا طل دې اودریم صورت کښ لازمیږی ترجیح بلامرجح اوترجیح بلامرجح هم باطله ده، نومعلومه شوه چه امکان تمانع باطل دې،نولهذا تعددد الهو هم باطل شو.

اوعلامه په شرح العقائدکښ دې دلیل ته حجت اقناعی وئیلی دې اوملازمی ته ئی عادیه وئیلی ده اودادلیل حجت قطعی اوملازمه عقلیه نده نودَعلامه رحمه الله مقصددادې چه دَقرآن مجیدداایت فی نفسهاقطعی دې، لیکن په کوم طرز سره پدی ایت کښ استدلال شویدې نوهغه حجت اقناعی دې اوملازمه عادیه ده یعني داځه عقلی اوقطعی خبره نده چه دوه(۲) بادشاهان په یوځائ کښ نشي جمع کیدلی،اودَدوئ جمع کیدل عقلا محال دی، بلکه دامبني ده په عام عرف اوعادت باندې اوچونکه قرآن مجیددَعاموخلکو دَفهم مطابق نازل شویدې، نودَدې وجی نه کله کله په قرآن مجیدکښ دَعاموخلکودَعرف مطابق دلیل ذکرشي، اوپدی سره دَقرآن مجیدپه قطعیت کښ ځه خلل اونقص نه راځی، اوپه اول صورت کښ یعني چه دَفسادنه مراد خروج دَنظام مشاهدشي، چه تعبیرتنه په عدم لاحقه سره کیږی ځکه ملازمه قطعی اوعقلی نده کچرته مونږه

ملازمه عقلي اوحجت قطعي باندي قول اوکړونودَ فساد يعني عدم لاحقه دوه(۲) صورتونه دي(۱)
فسادبالفعل(۲) فساد بالامکان نودَملازمي عقلي کيدلوپه صورت کښې دَ (لفسدتا)نه کوم فساد
مراددي،بالفعل اوکه بالامکان کچرته بالفعل مرادوی نوتعدد دَالهو مستلزم ندې فسادبالفعل
لره ځکه چه عقلا داحتمال شته دې چه الهه متعدد شي اوفساددې نوی راغلی ځکه چه پدی نظام
مشاهدچلولوباندي ئې اتفاق کړې وی، اوکچرته بالامکان فسادمرادوی نوبیاهم پدی سره نفی
دَتعدد دالهونه راځی ځکه چه فساد بالامکان خومسلّم دې يعني في الحال خوپدی نظام
مشاهدکښې فسادنيشته دې ليکن يوه ورځ به داسی راځی خامخاچه دانظام مشاهد به ختميږي.
نصوص پدی ناطق دې لکه الله ﷻ فرمائی: يوم نطوى السّماء كطيّ السجل للكتب. خلاصه داده
چه فساد بالفعل فرعه دَتحقق دَتمانع ده اوفرعه دَامکان تمانع نده اووجود دالهو ندې مستلزم
عقلاً تحقق دَتمانع لره.

اودويم صورت کښې هم ملازمه عقلي نده ځکه چه په دويم صورت کښې شقوق داسی جوړکړې
شويدي چه ايجاد دَزمکی اودَاسمان يابه په مجموع القدرتين سره وی اويابه دَهريوپه جداجدا
قدرت سره وی اويابه صرف دَ يوپه قدرت سره وی اودَبل په قدرت سره به نوی، ليکن جواب تنه
ممکن دې اونوراحتمالات عقليه پکښې شته دې،پديشان چه اختيارِدَشق اول اوکړې شي چه
ايجاد په مجموعه دَقدرتين سره دې اوکه ته وائی چه عجزراغی نوجواب تنه ممکن دې پديشان
چه عجزبه هله راتلوچه هريودَخدايانونه خپل ټول قدرت استعمال کړې وی اوزمکی،اسمانونه په
مجموعی دَقدرتينوسره موجودشوی وی ليکن جائزه ده چه هريودَخدايانودې قادروی په قدرت
کامله سره بنفسها ليکن په ايجاد کښې دې دومره قدرت استعمال کړې وی چه بل خدائ لره هم
دخل پاتی وی يعني هريودې قدرت تام نوی مستعمل کړی، لکه څرنګه چه په افعالودَعبادو کښې
دې، چه الله ﷻ قدرت پکښې هم موثردې اودَبنده خپل قدرت پکښې هم مؤثردې،خوالله ﷻ په
افعال دَبندګانوکښې خپل کامل قدرت ندې مستعمل کړې چه دَبنده خپل قدرت لره پکښې دخل
پاتی نشي، بلکه دومره اندازی باندې الله ﷻ خپل قدرت استعمال کړيدې چه بنده لره هم دَخپل
قدرت استعمالولوموقعه شته دې،لپاره دَدې چه جبرلازم نشي اودَدينه عجزدَالله تعالى نه
لازميږي ځکه چه قدرت دَالله تعالى في نفسها کامل دې اوکافي دې په ايجاد دَفعل کښې ليکن عدم
استعمال ئې دَپاره دَعدم لزوم جبردې، نوايجاد دَفعل دَعبدپه مجموعه دَقدرتين سره دې
اوعجزدَباری تعالى نيشته دې نوهمدغه رنګی دااحتمال عقلي شته دې چه الهه دې متعددشي

اوزمكه او اسمان دي په مجموعه دَقدرتين سره حاصل شوى وى اوعجزځكه نيشته چه هريو دي خپل قدرت كامله نوى استعمال كړي اودغه شان شق ثالث كښ هم يو احتمال عقلى شته دي، پديشان سره چه ايجاد دَيو خدائ په قدرت سره دي راغلى وى اوكه ته وائى چه ترجيح بلامرجح راغله نوجواب تنه دادي چه ترجيح بلامرجح نيشته دي ځكه چه ممكنه ده چه اراده دي يو دَاحد الواجبين اوكړى دَايجاد دَمصنوع ليكن قدرت دي خپل نكړى مستعمل بلكه قدرت دَواجب آخردي مستعمل كړي وى په ايجاد كښ نوترجيح بلامرجح لازمه نشوه ځكه چه دابه هغه وخت كښ لازميدله چه واجب آخر لره بالكل دخل نوى، اوداهم ممكنه ده چه احدالواجبين دي په ارادي خپلى سره تفويض دَتكوين كړي وى واجب آخرته اوداهم ترجيح بلامرجح نده نوخلاصه داده چه دَاستدلال په دواړو صورتونو كښ ملازمه عقلى نده بلكه عادى ده يعني عادت پدى جارى دي چه په مابين دَحاكمينو مستقلينو كښ تمانع واقع كيږى، نوپه ايت كريمه كښ حجت اقناعى دي اوقطعى ندي.

علامه خيالى رحمه الله نورتوجيهات ذكركړيدى چه دهغى په بنياد ملازمه عقلى اوحجت قطعى ګرځيږى، خلاصه دهغى داده چه الهة نه مراد صانعين مؤثرين بالفعل دي اومطلق صانعين ندي مراد اوقرينه پرى داده چه په ايت كښ﴿فِيهِمَآ ءَالِهَةٌ﴾راغلى دي اوفيهما ظرف لغونشي ګرځيدي ځكه چه داخبرمقدم دكان دي اوجارمجروربلامتعلقه خبرنه واقع كيږى نومتعلق ئى مقدردي اومقدربه دَافعال عامونه نشي راتلى چه كائن وغيره دي ځكه چه دامستلزم دي تمكن اوتحيزدَواجب تعالى لره په ارض اوسمآء كښ اوالله ﷻ دَدينه منزه دي،نومتعلق به ئى افعال خاصونه وى چه مؤثرة دي په قرينى دَمقام سره نوپدى تقديرسره استدلال داسى شو،كچرته متعددشي په زمكه اواسمان كښ صانعين مؤثرين نولفسدتا(اوفسادنه مراد عدم تكون يعني عدم سابقه دي) ليكن تالى باطل دي نومقدم ئى مثل دي، دليل دَملازمى دادي چه تاثيردَصانعين به خالى نوى يابه على سبيل التوارد وى يعني هريو به مستقل موثروى اوداصورت باطل دي ځكه لازميږى توارد دَعلتين په معلول واحده باندي اوياصرف يومؤثروى اوبل به نوى نوترجيح بلامرجح لازميږى نوبالضرور دواړه صانعين به اثركوى لاعلى سبيل التوارد، اودَدي دپاره دوه(۲)صورتونه دى(۱) مجموعه دَصانعينودي مؤثره وى په مجموعه دَزمكى اواسمانونو كښ (۲) دواړه دي مؤثروى على سبيل التوزيع والتقسيم يعني يودي مؤثروى په ايجاد دزمكى كښ اوبل دي مؤثروى په ايجاد دَاسمان كښ نوپه هرتقديرتمانع ممكنه ده ځكه چه شان دَالهه نه ايجاد

مستقله دي اوامكان دتمانع فی الايجاد مستلزمه ده عجزلره اوعاجزخوصانع دعالم نشي
گرځيدلی،نواول صورت كښ يعني علی سبيل الاجتماع صورت كښ مجموعه دزمكی اوداسمان
به په طريقه دسلب كلی سره موجوده نشي ځكه چه مجموعه ددواړو صانعينو علت وو دمجمعی
دارض اوسماء دپاره نوكله چه تمانع راشي نويوبه خامخاعاجزه شي موجود دعلت منتفی شواوپه
انتفاء دجزء سره انتفاء دكل راځی نوكل علت منتفی شواوپه انتفاء دعلت تام سره معلوم تام
منتفی كيږی نوځكه به فسادراغلی وو.

اوپه صورت ثانی يعني علی سبيل التوزيع كښ به په طريقه دسلب جزئی سره احدهمايعني
يودزمكی اوداسمانونونه به موجودنشي ځكه چه يابه علت الارض عاجزوی اويابه علت السمآء
نوچه كوم يوعاجزشو نومعلول دهغه موجودنشي اوتالی خوباطل دي بالبداهة ځكه چه
فسادنيشته نومقدم يعني تعدد داٰلهه هم باطل شو(ازافادات بحرمارتونگی رحمه الله).

ددينه علاوه علامه خيالی اوامام رازی نورتوجيهات هم كړيدی چه دخوف تطويل نه ئی پريدو
من شآء فليطالع ثمه.

كه څوك اعتراض اوكړی چه پدی ايت سره استدلال صحيح ندي ځكه چه مقصود اثبات
دتوحيددي اوانتفاء دتعدد ده مطلقا په دليل دانتفاء دفساد سره مطلقا يعني بغيردتخصيص
دیوی زمانی نه اودلته اثبات دتوحيداوانتفاء دتعدد مطلقانه كيږی، ځكه چه كلمه د لو نحاتو
وضع كړيده دپاره دانتفاء ثانی په ماضی كښ دوجی دانتفاء اول نه په ماضی كښ لكه داقول شو
لوجئتنی لاكرمتك نودايت مطلب داشو كچرته الهه په زمانه ماضی كښ متعدد وی نوفساد به
راغلی وو نوتعدد د الهو په زمانه ماضی كښ منتفی شولواوحالانكه مقصود تعدد داٰلهوانتفاء
په مطلق زمانه كښ وو، نوداعتراض خلاصه چه مقصود اومطلوب دوه(۲) امرين دی(۱)انتفاء
اول دوجی دانتفاء ثانی نه(۲) بغيردتخصيص نه په يوی زمانی پوری اودلته دا دواړه مقاصد نه
حاصليږی جواب دادي چه دكلمی د لو دپاره دوه (۲)استعماله دی(۱) يواستعمال دنحاتودي
اودويم(۲) استعمال دمستدلينودي نوپه حسب داستعمال اول سره كلمه د لو وضع شويده دانتفاء
ثانی دپاره په زمانه ماضی كښ دوجی دانتفاء اول نه په زمانه ماضی كښ اوپه حسب داستعمال
ثانی سره لو وضع شويدي دانتفاء اول دپاره مطلقا دوجی دانتفاء ثانی نه مطلقا لكه وئيلی كيږی
په استدلال دحدوث دعالم كښ: لوكان العالم قديما لكان غيرمتغير.

اوکچرته لودلالت په تعين دزماني ماضي باندې اوکړي نوبياهم مقصود اومطلوب پوره کيږي ځکه چه په زمانه ماضيه کښ چه الهه متعدد نشو نوپه استقبال کښ هرګزنشي متعدد کيږي ځکه چه په زمانه ماضيه کښ نوى اوپه استقبال کښ موجود شو نوبالضروره به حادث وى، ځکه چه مسبوق بالعدم دې اوحادث واجب نشي کيدلى

اوکه بياځوك اشکال اوکړي چه پدى ايت کښ خونفى دالهو راغليده يعني الهة جمع ذکرشويده اودتثنيي نفى نده راغلى نوممکنه دې وى داخبره چه الهه دې نوى بلکه دوه (۲)خدايان دې وى نوبياهم توحيد ثابت نشو

علامه خيالي رحمه الله دې دپاره جواب کړيدې چه مرادپه الهة سره جمع حقيقى نده بلکه جمع لغوى مراد ده اوجمع لغوى مطلق اجتماع دېوشي دبل شي سره ته وئيلى کيږي، نوځکه دجمع لغوى اطلاق په مافوق الواحد باندې کيږي ليکن حضرت والدصاحب(نورالله مرقده وبردمضجعه) په نيزغوره جواب دادې چه الهة موصوف دې او الاّ په معنى دغيرسره صفتي دې نوالاالله په معنى دغيرالله سره صفت دې اومقصود بالحکم(نفيا، اثباتا)هغه صفت وى چه داقيدوى دموصوف ، نولهذا مقصود نفى دغيرالله شوه يعني لوكان فيهما غيرالله لفسدتابرابره خبره ده که يووې اوکه دوه يازيات،(والله اعلم بالصواب).

﴿فَسُبْحَانَ اللَّهِ ﴾داانتيجه ده دماقبل دليل يعني الله تعالى دشريکانونه پاك دې ﴿لايسئل عما﴾ اثبات دتوحيدنه ورستوپدى ايت کښ الله تعالى خپل کمال قدرت بيانوى يعني چه هرکله داثابته شوه چه مالك حقيقى، متصرف حقيقى تن تنهاالله تعالى دې نوچاته دهغه په افعالوباندې اعتراض حق ندې حاصل اونه څوك داجرأت کولى شي لکه څرنګه ددنيامجازى بادشاهان اومالکان چه دغلطئ نه محفوظ ندې اودتجانس(هم جنس کيدلو)باوجود رعيت اوغلامان په هغوئ باندې داعتراض کولوجرأت نه کوى نودومره لوئ اوحقيقى بادشاه باندې به څرنګه داعتراض کولوحق چاته حاصل شي چه افعال دهغه خالى هم ندې دحکمت نه. (والتفصيل في الكبير)قرطبى رحمه الله فرمائى داايت دماقبل مضمون تاکيددپاره دې، چه نصارى ؤبه عيسى عليه السلام ته اله وئيلويهوديانوبه عزيزته خدائ اودخدائ بچى وئيلو اومشرکانوبه دملائکوعبادت کولونوالله تعالى ددوئ عجزبيان کړو چه ددوئ نه به دخپلو اعمالوپه باره کښ پوښتنه کيږي اوچانه چه پوښتنه کيدې شي نوهغه

اله اوخدائ نشي جوړی دي. بيّن هٰذا انّ من يَسال غدا عن اعماله كالمسيح والملائكة لايصلح للالٰهية(قرطبی).

﴿وَهُمۡ يُسۡـَٔلُونَ﴾ځكه چه دوئ ټول مملوك اوبندګان دالله ﷻ دی نو الله ﷻ به ددوئ نه ددوئ اعمالوپه باره کښ ضرور پوښتنه کوی اوداسی ذکرپه سورة الحجرايت نمبر(۹۲) کښ هم دي.

اَمِ اتَّخَذُوۡا مِنۡ دُوۡنِهٖۤ اٰلِهَةً ؕ قُلۡ هَاتُوۡا بُرۡهَانَكُمۡ ۚ هٰذَا ذِكۡرُ مَنۡ مَّعِیَ
آيانيولی دی دوئ سيوا دالله ﷻ نه نورمعبودان، نه اوايه چه راوړئ تاسوخپل دليل داوعظ دهغه چادې چه خما ملګری دی
وَذِكۡرُ مَنۡ قَبۡلِیۡ ؕ بَلۡ اَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡلَمُوۡنَ ۙ الۡحَقَّ فَهُمۡ مُّعۡرِضُوۡنَ ﴿۲۴﴾ وَمَاۤ اَرۡسَلۡنَا
اوعظ دهغه چادې چه خمانه مخکښ دی بلکه ډيردې خلکونه،نه پوهيږي په حق باندې نو دوئ مخ ګرځوي. اونه دې ليږلی مونږ
مِنۡ قَبۡلِكَ مِنۡ رَّسُوۡلٍ اِلَّا نُوۡحِیۡۤ اِلَيۡهِ اَنَّهٗ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّاۤ اَنَا فَاعۡبُدُوۡنِ ﴿۲۵﴾
مخکښ ستانه هيڅ رسول مګر وحي کوله مونږ هغه ته بيشکه چه نيشته حق دار دبندګئ سيوا زمانه پس خالص خمابندګئ کوئ

﴿اَمِ اتَّخَذُوۡا﴾حضرت شيخ رحمه الله فرمائی چه دادبعدعهدوجی نه اعاده دمطالبی ددليل ده دمشرکانونه اودااعاده دپاره دمبالغی ده په توبيخ کښ اويادا چه په مخکښنی ايت نمبر(۲۱)کښ مطالبه ددليل عقلی وه اوپدی ايت کښ مطالبه ددليل نقلی ده نومراد په ﴿قُلۡ هَاتُوۡا بُرۡهَانَكُمۡ﴾ سره پخپلی دعوی باندې دليل نقلی پيش کولو مطالبه ده.﴿هٰذَا ذِكۡرُ مَنۡ مَّعِیَ﴾هذا سره اشاره ده وحی الهی،قرآن ته اوذکرنه مراد جزاسزا اودلائل اوبرهان قاطعه دي په توحيداوپه رد دشرك باندې يعني پدی وحی الهی کښ خما دامت دپاره توحيدباندې دلائل دی (ابوسعود) اوپه﴿وَذِكۡرُ مَنۡ قَبۡلِیۡ﴾سره مراد حالات دمخکښنو امتونودی چه چاايمان راوړی وو نجات ورته ميلاؤشوی وو اوچاچه کفر اوشرك کړي وو نوهلاك شوی وو، اويادا چه مشاراليه دهٰذا ذکرمن معی دي اومراد په ذکرمن معی سره قرآن دي اوپه ذکرمن قبلی سره مراد تورات، انجيل وغيره دي، نودايت مطلب

دادې چه دا قرآن او دَدینه مخکښې کتابونه ستاسو مخې ته موجود دی نو او ګورئ په کوم یو کتاب کښې تعدد دَ الهو ذکردې؟؟ بلکه په دی ټولو کښې بیان دَ توحید شوید ې.

فائده: کله چه څوك دعوی او کړې نو په مدعی باندې یادلیل عقلی یادلیل نقلی او یادلیل وحی ذکرکوی، نو په ایت نمبر(۲۱) کښې ددوئ نه مطالبه وه دَدلیل عقلیو دَدې ایت په اولی جملی کښې مطالبه دَدلیل نقلی ده او په اخری جمله کښې مطالبه دَدلیل وحی ده.

﴿بَلْ أَكْثَرُهُمْ﴾ دا اضراب دې یعني هرکله چه په شرك باندې دوئ سره هیڅ قسم دلیل نوو او دَدوئ دعوی مکابرةً او عناداً وه نو الله ﷻ په کلام کښې انتقال او کړو دې خبرته چه دوئ سره بحث مباحثه کولو کښې څه فائده نیشته دې ځکه چه په دوئ کښې اکثرکسان حق دَسرنه پیژنی نه، او دَحق او دَباطل په مینځ کښې فرق نه کوی، او دا اضراب او انتقال دَیو دلیل نه بل دلیل ته نه دې، (ابو سعود) او دَحق نه مراد توحید او قرآن دې.

﴿وَمَآ أَرْسَلْنَا﴾ دا تعمیم بعدالتخصیص دې چه دا توحید صرف دتورات، انجیل او دَقرآن مسئله نده بلکه ټولو پیغمبرانو ته دَدې حکم شوی وو، او دادلیل نقلی اجمالی هم دې دَټولو انبیاء کرامو نه.

وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ؕ بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَ ﴿۲۶﴾
او دوئ وائی چه نیولی دې الله ﷻ اولاد پاکی ده هغه لره، (داولاد نیولو نه) بلکه دوئ بندګان دی عزت ورکړې شوی (معزز).
لَا یَسْبِقُوْنَهٗ بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِاَمْرِهٖ یَعْمَلُوْنَ ﴿۲۷﴾ یَعْلَمُ مَا بَیْنَ اَیْدِیْهِمْ
نه وړاندې کیږی دده نه (الله ﷻ) په وینا کښې او دوئ په حکم دَالله ﷻ سره عمل کوي، خبردې په هغه (حالاتو) چه وړاندې دَدوئ دی
وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا یَشْفَعُوْنَ اِلَّا لِمَنِ ارْتَضٰی وَهُمْ
او په هغې چه ورستو دَدوئ دی او شفاعت نه کوي دوئ مګر صرف هغه چالره چه راضي وي تنه الله ﷻ او دوئ
مِّنْ خَشْیَتِهٖ مُشْفِقُوْنَ ﴿۲۸﴾ وَمَنْ یَّقُلْ مِنْهُمْ اِنِّیْٓ اِلٰهٌ مِّنْ دُوْنِهٖ
دَوجي دَعظمت دَالله ﷻ نه یره کوونکي دی دَهغه نه، او چاچه اوئیل دَدوئ نه چه بیشکه څه هم معبود یم سیوا دَالله ﷻ نه

فَذٰلِكَ	نَجْزِيْهِ	جَهَنَّمَ ؕ	كَذٰلِكَ	نَجْزِي	الظّٰلِمِيْنَ ۝
پس دغه كس له به سزا وركوو مونږ		جهنم همدغسې	سزا وركوو مونږ		ظالمانوته

﴿وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ﴾داشكوه اوزجرديږ په نسبت كولودَولدباندي الله تعالیٰ ته،اودَدي جملى عطف ياپدى قريب ﴿وَمَآ أَرْسَلْنَا﴾په مضمون باندي دي اودَايت مقصدداديږ چه مسْئله توحيد ټولوانبياء كراموبنه په وضاحت سره بيان كړي وه ليكن دهغى باوجود دوئ الله تعالیٰ ته نسبت دَولداوكړو اوياعطف دَدي په مضمون دَ﴿أَمِ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِۦٓ﴾نودابه په محل دَاستفهام كښ شي يعني آيا دوئ داخبره كوى چه الله تعالیٰ ولدنيولى دي؟؟ بغوى وغيره وئيلى دي چه داايت دَخزاعه په باره كښ نازل شويدي چه هغوئ به ملائكوته بنات الله وئيل ليكن زياته صحيح خبره داده چه ايت عام دي اوشامل دي ټولوهغه چاته چه الله تعالیٰ ته به ئى دَولدنسبت كولوبلكه دَحضرت والدصاحب رحمه الله رائ داده چه ولدپه معنى دَنائب سره دي اوداشامل دي هغه چاته چه دَالله تعالیٰ نه علاوه اولياء كراموته دَقدرت دَتصرف قائله دي.

﴿سُبْحٰنَهٗ﴾داجواب دَشكوه اوددوئ دَعقيدي ردكيږى په اوه(۷) وجوه سره،دا اوله وجه ده چه ﴿سُبْحٰنَهٗ﴾يعني ولدخونقص دي ځكه چه ولدمستلزم دي تركيب لره اوتركيب مستلزم دي حدوث اوامكان لره(لكه چه باربارتيرشويدى) اوالله تعالیٰ دَعيب اونقص نه پاك دي نوځنگه به ورله ولدراشي.

﴿بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَ﴾عبادٌ خبردي دَمبتدا مقدرى دپاره يعني بل هم عباد اوداپه دويمى وجى سره جواب دي، يعني داعباد اوبندگان دى او اولاد ندى ځكه كچرته دوئ اولاد وى دَالله تعالیٰ نودوئ به هم دَالله تعالیٰ سره مشابه وى په وجوب اوعدم احتياج كښ اوبندگى به ئى نه كولى ځكه چه بندگى علامه دَعجزده يعني بنده عاجزوى اودوئ خوبندگى كوله يعني دَالله تعالیٰ بندگان وو نومعلومه شوه چه اولاد نوو.

﴿مُّكْرَمُوْنَ﴾يعني دَبندگئ اوعبادت دَوجى نه الله تعالیٰ دوئ ته عزت اوشرافت وركړيدي، اوپديكښ اشاره ده چه قربت دَالله تعالیٰ په عبادت سره حاصليږى.﴿لَا يَسْبِقُوْنَهٗ بِالْقَوْلِ﴾ دادريم

وجي سره جواب دې يعني ترهغه وخته پورې دوئ وينانه کوي ترڅوچه الله ﷻ نوي کړي اوياورته دَالله ﷻ دَطرف نه ورته امرنوي شوي،لکه څرنګه چه فرمان برداراومؤدب غلام اوخادم وي اويادَايت مقصد دادې چه دَځومره خبره ورته کړې شوي وي نودهغې نه زياته نه کوي هغه خبره پوره پوره کوي (حداد) اوداکنايه ده دَ مخالفت نه کولو نه په اقوالو(وينا)کښې.

﴿وَهُم بِأَمْرِهِۦ يَعْمَلُونَ﴾داڅلورمې وجې سره جواب دې يعني دوئ دَالله ﷻ دَحکم پابندې اودَهغه دَحکم مخالفت نه کوي په عمل کښې لکه څرنګه چه ئې مخالفت نه کوي په قول(وينا)کښې.

﴿يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ﴾داپنځمې وجې سره جواب دې يعني دوئ ته دَخپلوټولو حالاتوعلم نيشته دې بلکه دَدوئ په ټولوحالاتوباندې عالم الله ﷻ دې اوددوئ هم پدې باندې يقين دې اودايقين ددوئ دَپاره دَانتهائ عاجزئ اوکمال عبوديت ذريعه ده.اودَ﴿مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ﴾نه مراد راتلونکې او﴿وَمَا خَلْفَهُمْ﴾ نه مرادتيرشوي حالات دي اويادَ﴿مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ﴾نه مراد بعدالتخليق اودَ ﴿وَمَا خَلْفَهُمْ﴾نه مراد قبل التخليق حالات دي، بهرتقديرمقصد دَايت دادې چه دوئ دَالله ﷻ دَعلم اوقدرت ماتحت دې اوڅوك چه تحت القدرت وي نوهغه معبودنشي ګرزيدلې.

﴿وَلَا يَشْفَعُونَ إِلَّا﴾داپه شپږمې وجې سره جواب دې چه دَدوئ دَالله ﷻ نه دَيرې اودَرعب داحال دې چه څوك دَالله ﷻ خوښ نوي نودَهغه سفارش هم نشي کولې، صرف دَهغه چاسفارش به کوي څوك چه دَالله ﷻ خوښ وي.﴿لِمَنِ ٱرْتَضَىٰ﴾نه مراد مؤمن دې اوشفاعت نه مراد يااخروي شفاعت دې اوياتنه دنيوي شفاعت مراددې چه هغه استغفاردې.

﴿وَهُم مِّنْ خَشْيَتِهِۦ﴾داپه اومې(۷)وجې سره جواب دې يعني شفاعت به کوي خودهغې باوجود دَالله ﷻ دَهيبت دَوجې نه يريږي مِن تعليليه دې او ﴿مُشْفِقُونَ﴾دَاشفاق نه دې اوفرق په مينځ دَخشيت اواشفاق کښې دادې چه خشيت هغې يرې ته وئيلې کيږي چه دَتعظيم اودَچادعظمت دَوجې نه وي اودَدې وجې نه دَعلمآؤخوف ته خشيت وئيلې شويدې لکه الله ﷻ فرمائي(انما يخشي الله من عباده العلمآء) اواشفاق وئيلې کيږي هغه خوف ته چه اميددَرحم اواعتناء ورسره وي،

نو کچرته اشفاق متعدی شي په مِن سره نو دَخوف معنی به پکښ ظاهره وی اوکه په علی سره متعدی شي نو دَرحم او اعتنا معنی به پکښ ظاهره وی.

﴿وَمَن يَقُلْ مِنْهُمْ﴾ دا تفریع ده په ماقبل ټولو وجوهو دَجواب شکویٰ باندي، اودَجمهورو په نیز دا ایت محمول دي په فرض او تقدیر باندي، ځکه چه ملائك او انبیاء کرام معصوم دی اودَهغوئ نه دعویٰ دَالوهیت نده متصوره نودَایت مقصددادي کچرته بالفرض والتقدیر په انبیاء کرامو علیهم السلام او یا په ملائکو کښ چادَالوهیت دعوی اوکړه نو دهغه ټهکانه په جهنم وی اودا سی مضمون په سورة النسآ ایت نمبر(۱۷۲) کښ هم دي، اودَحضرت قتاده رحمه الله نه مروی دي چه دَ ﴿وَمَن يَقُلْ﴾ نه مراد ابلیس دي، چه دي دَملائکو نه وو حکماً، اوغرور او تکبرئی اوکړو اوخلکو ئی دَخپل عبادت دعوت ورکول شروع کړل، نو په دي توجیه کلام محمول ندي په فرض باندي.

أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا
آیا نه گوري هغه کسان چه کافران دي چه بیشکه اسمانونه اوزمکي دواړه بندوو نو پرانستل مونږ دواړه.او پیدا کړیدي مونږ
مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ ۞ وَجَعَلْنَا فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَنْ تَمِيدَ بِهِمْ
دَاوبو نه هرځیز ژوندي، آیا پس دوئ ایمان نه راوړي. او پیدا کړیدي مونږ په زمکه کښ کلك غرونه چه اونه خوځي په دوئ باندي
وَجَعَلْنَا فِيهَا فِجَاجًا سُبُلًا لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ۞ وَجَعَلْنَا السَّمَاءَ سَقْفًا
او جوړکړیدی مونږ پدي زمکه کښ فراخي لاري دَدي دَپاره چه دوئ مقصدته اورسي، او جوړکړیدي مونږ آسمان چت
مَحْفُوظًا ۖ وَهُمْ عَنْ آيَاتِهَا مُعْرِضُونَ ۞ وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ
ساتلی شوی دَپریو تلو نه. اودوئ دَنخو دَهغي نه مخ اړونکی دی.او الله جل جلاله هغه ذات دي چه پیدا کړي ئ ده شپه او ورځ
وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ كُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ ۞
او نمر او سپوږمۍ. دا ټول په خپل مدار کښ لامبو وهي.

﴿أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ دا دريم عقلی دليل دي په توحيد باندي ﴿أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ﴾ مراد تنه نوعين دی يعني نوعه دَاسمانونو اونوعه دَزمکی اوددي وجي نه ضميرورته هم دَتثنيي راجع

شویدې په﴿كَانَتَا﴾ کښې﴿رَتْقًا فَفَتَقْنَٰهُمَا ﴾ رتقامصدردې ځکه تثنیه ندې ذکرشوی اوحمل ئې په سموات اوارض باندې یامبالغةً دې اویاپه اعتبارد ذی مقدرسره دې ای ذاتی رتق اورتق په اصل کښې وئیلی کیږی التحام(ضم)اومیلاؤته که خلقةً وی یاصنعة اوفتق وئیلی کیږی نصل(جدائی) اوکولاؤ ولوته،دَدې ایت تفسیرونه متعدد منقول دی لیکن غوره قول پکښې دری(۳)دی یو(۱)داچه دَرتق نه مراد یوجسم والا(متصلا بعضهاببعض(ابن کثیر)) کیدل دی اوفتق نه مراد جداجدا کول یعني ټول اسمانونه یوجسم وو، اوټولی زمکی یوجسم وی نوالله ﷻ جدا جداکړل او اوه(۷)اوه(۷) تنه جوړکړل.

(۲)دویم تفسیردا دې چه رتق په معنی دَبندیدلوسره دې اوفتق په معنی دَفتح یعني کولاؤولوسره دې یعني ټول اسمانونه بندوو باران تنه نه وریدلواوزمکه بنده وه بوټی تنه نه راوتلونو الله ﷻ کولاؤکړل چه دَاسمان نه ئې باران را اوورولو اودَزمکی نه ئې بوټی رااویستلو،اوکه څوك داسوال اوکړی چه دَزمکی اواسمان دَرتق حالت خوچاندې کتلی نوځرنګه به استفهام صحیح شي؟ نوعام مفسرینوتنه پدیشان جواب کړیدې چه دَ رؤیت نه مرادپدی ځائ کښې رؤیت قلبی دې یعني علم تنه مراددې چه ثابت دې په دلیل نقلی سره چه کتب سماویه قبلیه دې اوثابت په هغی سره په منزله دَمشاهدوی نوځکه دَرؤیت لفظ استعمال شو، اواستفهام لپاره دَتقریردې،اوحضرت تهانوی رحمه الله فرمائی چه دَرؤیت نه مراد مشاهده هم ده اودلیل عقلی اونقلی مراددې ځکه چه فتق امرمشاهددې،اورتق په دوه قسمه دې یورتق حالی اوبل رتق ابتدائی نورتق حالی هم مشاهددې اورتق ابتدائی هغه په دلیل عقلی اونقلی سره ثابت دې ځکه چه فتق مشاهد حادث دې اوحادث وئیلی کیږی مسبوق بالعدم ته نوفتق به مسبوق بعدم الفتق وی، اوصدق دَعدم الفتق په دوه طریقوسره دې(۱)دَسرنه محل دَفتق نوی (۲) محل وی خوفتق نووبلکه رتق وو،نوقسم ثانی ثابت دې په دلیل نقلی سره یعني کتب سماویه سابقه سره (۳)اودریم تفسیر علامه آلوسی رحمه الله داکړیدې چه رتق په معنی دَمعدوم سره دې اوفتق په معنی دَالحادث سره دې

﴿وَجَعَلْنَا مِنَ ٱلْمَآءِ كُلَّ شَىْءٍ حَىٍّ ﴾جعل یابسیط دې په معنی دَخلق سره،نو﴿ كُلَّ شَىْءٍ حَىٍّ ﴾ ورله مفعول دې اوجارمجرور متعلق دې په جعل پوری نودَایت معنی به داشي خلق من الماء کل شئ حی، یعني هرژوندې څیزمونږ دَابونه پیداکړیدې اویاجعل مرکب دې په معنی دَصیّرسره،

﴿كُلَّ شَيۡءٍ حَيٍّ﴾ ورله مفعول اول دې اوجار مجرور متعلق دې مقدرپورې چه مخلوق لفظ دې،نومعنى به ئې داسې شي صيرنا كل شئ مخلوقا من المآء يعني گرزوليدې هرژوندې ځيزمونږ مخلوق دَاوبونه. اوهرڅيز دَاوبونه مخلوق كيدل ياحدوثاً دى لكه حشرات الارض چه دادَ رطوباتونه پيداكيږي او اونې بوټې شوچه په ابوسره پيداكيږي،اويابقآءً دى لكه نورحيوانات شو اوكوم عمل چه په كثرت سره كيږي اواحتياج ورته ډيروى نودَهغه ځيزدَدې عمل كوونكى اومحتاج دَپاره په منزله دَماده تخليق دې لكه انسان چه په اكثراموروکښ جلتى كوى نودَدې وجه نه اوئيلى شوخلق الانسان من عجل(سورة الانبياء) نودغه شان حيوانات هم تالاش دَابو په كثرت سره كوى اواحتياج ئې اوبوته شديدوى نودَدې وجه نه دَحيواناتودَپاره ماده تخليق اوبه اوئيلى شوى. اوبعض علماء فرمائى چه﴿وَجَعَلۡنَا﴾په معنى دَ حفظنا سره دې يعني دَژوندې ځيزدَ ژوند حفاظت مو په اوبوسره كړيدې. اوبعض فرمائى چه دَ﴿ٱلۡمَآءِ﴾نه مراد نطفه دَمآء ده يعني هرژوندې شي دَاوبودَنطفى نه پيداكړيدې اودَدې دواړوتوجيهاتوپه اعتبارحكم اكثرى دې. اولفظ دكل تغليبا ذكرشويدې، ځكه چه شاذ ونادراشيآء به داسى وى چه دَهغوئ دَژوند دَحفاظت دپاره دَاوبوضرورت نوى اوماده تخليق كښ ئې دَنطفى كردارنوى. اوقليل په حكم دَمعدوم كښ شمارلى كيږي نوځكه كل شئ حى اوئيلى شو.

﴿وَجَعَلۡنَا فِي ٱلۡأَرۡضِ رَوَٰسِيَ﴾رواسى دَرَسَانه دې په معنى دَثبت سره،اوداصفت دې دَجبالاً موصوف محذوف دپاره،او ﴿تَمِيدَ﴾دَميدنه دې په معنى دَاضطراب اوخوزيدلوسره اودَدېنه مخكښ لفظ دَلا اويالفظ دكراهية مقدردې اودَ﴿فِيهَا﴾ په ضميركښ دوه(۲)احتمالات دى(۱)چه راجع دې ارض يعني زمكى ته (۲)اويا راجع دې﴿رَوَٰسِيَ﴾ته دادويم احتمال زيات غوره دې او ﴿فِجَاجًا﴾جمع دَفج ده دَدوه(۲)غرونوپه مينځ كښ فراخى لارى ته وئيلى كيږي او ﴿سُبُلًا﴾ بدل دې دَ﴿فِجَاجًا﴾نه اوداتفسيردې﴿فِجَاجًا﴾ دَپاره اوداقانون دَنحويانوچه مقصود بالحكم بدل وى اومبدل منه په حكم دَ تنحى اوترك كښ وى اكثرى دې كلى ندې اوپه سورة نوح آيت نمبر(۲)كښ سُبُلاً مقدم اوفجاجاًمؤخرذكرشويدې،فرق په مينځ دَدواړو كښ دادې چه دلته په نفس وسعت

اوكشادګئ دَلاروباندي،تنبيه ده چه دالاری وسيع اوفراخی دی اوهلته تنبيه دَدې وصف په اصالت اوخلقی کيدلوباندي ده، چه داوصف دَوسعت وصف اصلی اوخلقی دې، يعني هلته بيان دَابهام دې ځکه چه وصف په دوه(۲)قسمه دې اصلی اوعارضی، نوکله کله وصف عارضی وی لکه وئيلی کيږی مررت بوحشي القاتل حمزة،نو القاتل حمزة وصف دَوحشي رضي الله عنه دَپاره اصلی ندې ځکه چه په وخت دَمرورکښ حضرت وحشي رضي الله عنه قال دَحمزة رضي الله عنه نوو. نوپه سورة نوح کښ دَدې ابهام رفع اوبيان دې چه دَلاری په کشادګئ سره متصف کيدل داخلقةً اواصلی دې اوعارضی ندې

﴿لَّعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ﴾دَهدايت نه مراد ياظاهری هدايت دې يعني خپل مقصداومنزل ته رسيدل، يعني کچرته پدی غرونوکښ لاری نوی اوټول سيدهاسيدهاکمری اوبندبندوی نودَملك خلك به دَنورملکونوسره نشوميلاويدلی اومنزل ته به څوك نشورسيدلی اويادَهدايت نه مراد شرعی هدايت دې يعني پدی سره دليل اونيولی شي په توحيد اوقدرت دَالله جل جلاله باندي

﴿وَجَعَلْنَا ٱلسَّمَآءَ سَقْفًا ﴾اسمان ته سقف په اعتباردَزمکی سره وئيلی شويدی،اودَ﴿مَّحْفُوظًا﴾ ډيرمفهومات بيان کړې شويدی،(۱)يوداچه محفوظ دې دَسقوط يعني غورزيدلونه لکه په سورة الحج ايت نمبر(۶۵)کښ دې(۲)دويم داچه محفوظ دې دَزړيدلو اودَتغيرنه تروخت معلوم پوری، دامروی دې دَقتادة رحمه الله نه (۳)اودريم داچه محفوظ دې دَشياطينونه په شهاب ثاقب سره لکه په سورة الحجرايت نمبر(۱۷)کښ دی (۴)اوڅلورمه معنیٰ داده چه محفوظ دې دَشرك اومعاصی نه يعني په اسمان کښ دګناهونو والا مخلوق نيشته.

﴿وَهُمْ عَنْ ءَايَٰتِهَا ﴾دَدينه مراد نمر،سپوږمئ،ستوری اودهغی مختلف احوال اوشپه،ورځ اودهغی انقلابات چه دلالت کوی په وجود اوحدت دَصانع اوپه کمال قدرت دَهغه باندي،اواعراض نه مراد عملی اعراض دې يعني سوچ اوفکرنه کول

﴿وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلَّيْلَ ﴾داتفصيل دَدې مخکښ ايت دې اوپه تقديم دَليل کښ اشاره ده چه شپه مقدمه ده په تخليق کښ،﴿كُلٌّ فِى فَلَكٍ﴾ تنوين عوض دَمضاف اليه نه دې ای کلهم اوفلك په اصل کښ هرمستديريعني ګول څيزته وائی دَجمهور اهل سنت والجماعت په نيزدَفلك نه مرادپدی ځائ کښ دَاسمان نه لاندې مدارونه دې چه نمر،سپوږمئ اوستوری په هغی کښ ګردش کوی اوګول چکرلګوی، اوجمهوردَدينه

تعبيركوى په موج مكنون يعني رابندكړې شوى اوراګيركړې شوى موج. اوفلك جنس كلى دې چه ماول دې په تاويل دَجمعى سره نومطلب دادې چه دَهريودَپاره خپل خپل مداردې.لكه وئيلى شي كساهم الاميرحلة، نودامطلب ندې چه يوه حلة، اميرتولوته واچوله.بلكه مطلب دادې چه هريوكس ته ئى خپله خپله حلة واچوله.نودغه شان دلته هم مطلب دادې چه دَهريودَپاره خپل خپل فلك اومداردې اودامطلب ندې چه دَټولودَپاره يك يومداردې، او ﴿يَسۡبَحُوۡنَ﴾دَسبح نه دې اوسبح په لغت كښې وئيلى كيږى لامبووهلوته پديكښې اشاره ده چه مدارونه پشانته دَسمندردې اونمر.سپوږمۍ اوستورى په منزله دَلامبوزن دى يعني داسيارى په خپل مدارونوكښې دَلامبوزن پشان په تيزئ اواسانتيا سره ګردش كوى، اوضميردَجمعى راجع دې نمر،سپوږمۍ اوستوروته اودوئ (مرجع) متعدد دې نوځكه ضميرهم دَجمعى راوړى شو، اوبعض فرمائى چه ضميردَجمعى راجع دې صرف شمس يعني نمرته اوچونكه مطالع دَنمرمتعدددې نوځكه ضميرورته دَجمعى راجع شو،ليكن اوله توجيه زياته غوره ده اوهركله چه دَدوئ دافعل پشانته دَفعل دَذوى العقول وو نوځكه صيغه دَذوى العقول راوړى شوه.

فائده: دَدينه ايت نه معلوميږى چه داټول مشاهدكائنات په حركت كښې دى اودَهريودَپاره خپل يومداردې چه هره سياره په خپل مداركښې حركت كوى اودَهغى نه بهرته نه اوځى اودَهريوحركت مستديردې،دَنمردَپاره دوه(۲)حركته دى، يوحركت ئى مستديردې چه هغه په خپل محوركښې دې اودويم حركت ئى يمينا اوشمالاً دې اونمرته دَټولونه قريب سياره زهره ده بياعطارد، بيازمكه،بيامريخ،بيامشترى اوبيازحل وغيره دې، اودَزمكى كومه حصه چه دَحركت په وخت كښې نمرته مخامخ شي نوپه هغه ځائ ورځ راشي اودكومى حصى چه شانمرته راشي نوهلته شپه شي اوداټول حركتونه اوګردش دَاسمان نه ډيرلاندې دې، اوپه كوموايتونوكښې يارواياتونوكښې چه راغليدى چه نمر،سپوږمۍ اوستورى په اسمان كښې دى دَهغى نه مراد طرف دَاسمان دې اوياتنه معنى لغوى مراده ده يعني په بلندئ كښې دې(والله اعلم).

وَمَا جَعَلۡنَا لِبَشَرٍ مِّنۡ قَبۡلِكَ الۡخُلۡدَ ؕ اَفَا۟ئِنۡ مِّتَّ فَهُمُ الۡخٰلِدُوۡنَ ۞ كُلُّ نَفۡسٍ

اوندې ګرځولي موږ هيڅ بشرلره ستانه مخكښې هميشه والى، آيا پس كه ته مړشي نو دوئ به هميشه وي، هرساه والا

ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ۗ وَنَبْلُوكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً ۗ وَإِلَيْنَا
خکونکی دمرگ دي اوازمیښت کوو مونږ په تاسوباندې په سختئ اوپه راحت سره دپاره دامتحان اوخاص مونږ طرف ته به
تُرْجَعُونَ ﴿۳۵﴾ وَإِذَا رَاٰكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا إِنْ يَّتَّخِذُوْنَكَ إِلَّا هُزُوًا ۗ أَهٰذَا الَّذِيْ
تاسو راګرځولی شئ. اوهرکله چه اوینی تالره کافران، نه نیسي تالره مګربه ټوقوسره (وائی) آیادا هغه سړی دې
يَذْكُرُ اٰلِهَتَكُمْ ۚ وَهُمْ بِذِكْرِ الرَّحْمٰنِ هُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۳۶﴾
چه بدئ سره یاده وي ستاسو خدایان. اوحال داچه دوئ دیاداشت درحمان نه دوئ انکارکوي

﴿وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّن قَبْلِكَ الْخُلْدَ﴾ مخکښې آیاتونو کښ عمومی انقلاباتوذکروو پدی ایاتونو کښ خصوصی دانسان دانقلاب اوانتقال ذکردې اودغه شان په مخکښ ایاتونوکښ اثبات درسالت وو اودکفارو داعتراضونوجواب ورکړې شوی وو نوپدی ایت کښ هم دنبیﷺ درسالت اثبات کیږی اودکفارو داعتراض جواب کیږی کفاروبه دنبیﷺ خبری اوریدلی نو څه جواب به ورسره نوو، نوبیابه ئی داوئیل چه دا ټول قصه صرف دده ترزندګئ پوری محدوده ده اوځرنګه چه دې وفات شي نوبیابه هیڅ هم نوی اومونږ به په ارام اوسکون سره شولکه سورة الطورایت نمبر(۳۰)کښ دی (نتربص به ریب المنون) اودې خبری نه مقصد ددوئ داووچه مرګ راتلل منافی دې دنبوت سره، نوالله ﷻ جواب اوکړو چه ستانه مخکښ هم انبیاء علیهم السلام تیرشویدې، کوم یوداسی دې چه په هغه باندې مرګ نوی راغلی؟ اوهمیشه دپاره ژوندې پاتی شوی وی؟ اوکه دوئ ستامرګ ته خوشحاله کیږی نوآیادوئ به همیشه دپاره ژوندې وی، ځرنګه چه ته وفات کیږی دغه شان دوئ به هم مړه کیږی نوپدی کښ دخوشحالی څه خبره ده؟

﴿الْخُلْدَ﴾ نه مراد بقاء دائمی یعني همیشه دپاره ژوندې پاتی کیدل دی لهذا پدی ایت سره دقادیانانو استدلال په وفات دحضرت عیسی علیه السلام سره صحیح ندې، ځکه چه په نصوص قطعیو کښ دی چه حضرت عیسی علیه السلام به دنزول نه ورستو اوه(۷) کاله پس به څلویښت کالو په عمرکښ به وفات کیږی اوخلود ورته ندې ثابت.

﴿أَفَإِيْن مِّتَّ فَهُمُ ٱلْخَٰلِدُونَ﴾ په محل دَ استفهام کښې دا اخيرى جمله ﴿فَهُم ٱلْخَٰلِدُونَ﴾ ده نو دَ تقاضه صدرات دَوجې نه همزه استفهامی مقدم کړې شوه، او په دې کښې حضورﷺ ته تسلى هم ده چه ستانبوت او دهغې محنت به ستا دَوفات نه ورستو به هم جارى وى

﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ﴾ دا دليل او برهان دې دَ ماقبل دَپاره او مراد دَ ذائقى نه په دې ځائ کښې ادراک دې ځکه چه موت دَ قبيلې دَ مذوقاتو نه، ندې خو هر کله چه حالت دَ مفارقت دَ روح دَ جسد نه عموماً ډير سخت وو (کما ورد فى الحديث ان للموت سکرات) نو ځکه دا حالت دَ قبيلې دَ مذوقاتو نه. او ګرځولې شو او موت نه مراد په دې ځائ کښې مقدمات دَ موت او حالت دَ نزعى مراد دې. ځکه چه ادراک دَ موت مخکښې دَ دخول دَ موت نه ممکن او متصور ندې. او ورستو د دخول دَ موت نه شخص ميت ګرزيږى او ميت او مړى ادراک نشي کولى نو دَ دې وجه نه موت نه مراد مقدمات دَ موت دى

﴿وَنَبْلُوكُم﴾ دا حکمت بيانيږى دَ مرګ نه مخکښې دَ تکليفونو او راحتونو او مراد په الشر سره ټول تکليفونه دى فقر، مرض وغيره شو او په الخير سره مراد ټول دَ خوشحالئ والا امور دى مثلاً صحت. مالدارى وغيره شو او فتنةً مفعول مطلق من غير لفظه دې دَ نبلوکم دَپاره.

﴿وَإِلَيْنَا تُرْجَعُونَ﴾ يعني مونږ به بياتاسو ته بدله درکوو چاچه شکر اداکړو په انعاماتو باندې او صبرئى اوکړو په تکاليفو باندې نو اجر او ثواب به ورته ميلاؤشي او چاچه ناشکرى او بې صبرى اوکړه نو سزا به ورته ميلاؤشي.

﴿وَإِذَا رَءَاكَ ٱلَّذِينَ﴾ دا زجر دې نبى ﷺ پورى استهزاء کولو باندې، او ﴿ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟﴾ نه مراد کافر عنادى دې، لکه ابوجهل وغيره شو، چه يو ځلې ابوجهل په نبى ﷺ باندې تيريدل او شونو په خندا شو او استهزاءئى اوئيل چه هذا نبى عبدمناف دا دَ عبدمناف نبى دې؟

﴿إِن يَتَّخِذُونَكَ﴾ ان نافيه دې او ﴿هُزُوًا﴾ په معنىٰ دَ مهزواً سره دې ﴿أَهَٰذَا ٱلَّذِى﴾ دَ دې نه مخکښې يقولون مقدر دې او دا جواب دې دَ اذا راك دپاره، او ﴿يَذْكُرُ ءَالِهَتَكُمْ﴾ جمله معترضه ده چه واقع شويده په مينځ دَ شرط او جزا کښې او مراد په يذکر الهتکم سره ذکر بالسوء يعني په بدئ سره يادول دى. ځکه چه لفظ دَ ذکر ثناء او ذم دواړو ته شامل دې. تعيين دَ احد الاحتمالين په قرينى حاليى سره کيږى، نو که ذکر دَ جانبه دَ دوست نه وو نو مراد تنه ذکر بالخير يعني ثناء وى او که

ذكر ذجانبه دمخالف نه وو نوبياتنه مراد ذكربالشريعني ذم بيانول وى. لكه سمعنا فتى يذكرهم يقال له ابراهيم(الانبياء ۶۰).

﴿وَهُم بِذِكْرِ ٱلرَّحْمَٰنِ﴾ داجمله حال واقع شويده دمقدريقولون دضميرفاعل نه مقصد دادي چه دوئ په نبي ﷺ باندي الزام لگوى چه زمونږ الهوته بدرد وائى اوددوئ الهه په هيڅ باندي هم ندي قادراوپه خپله د الله ﷻ دذكريعني توحيداوقرآن نه اعراض كوى(روح).

خُلِقَ الْإِنْسَانُ مِنْ عَجَلٍ ۚ سَأُورِيكُمْ آيَاتِي فَلَا تَسْتَعْجِلُونِ ﴿۳۷﴾ وَيَقُولُونَ
پيداكړې شويدې انسان دتادئ نه، زرده چه اوبه ښايم تاسوته نښې خپلې پس په جلتئ سره مه غواړئ عذاب خما اودوئ وائى چه
مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿۳۸﴾ لَوْ يَعْلَمُ الَّذِينَ كَفَرُوا حِينَ
كله به وي داوعده دعذاب، كه يئ تاسو رشتني. كچرې خبروى هغه كسان چه كفرئې كړيدې په تفصيل دهغه وخت چه
لَا يَكُفُّونَ عَنْ وُجُوهِهِمُ النَّارَ وَلَا عَنْ ظُهُورِهِمْ وَلَا هُمْ يُنْصَرُونَ ﴿۳۹﴾ بَلْ تَأْتِيهِمْ
نه به شي اړولى دوئ دمخونو خپلونه اوراونه دشاگانو خپلونه اونه به دوئ سره مدد كيدلى شي. بلكه راځي به دوئ ته
بَغْتَةً فَتَبْهَتُهُمْ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ رَدَّهَا وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ ﴿۴۰﴾
ناگهانه اچانك نوحيران به كړى دوئ نو طاقت به نه لرى دوئ دواپس كولو دهغى اونه به دوئ ته مهلت وركيدې شي.
وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِنْ قَبْلِكَ فَحَاقَ بِالَّذِينَ
اويقينا توقى كړې شوى دي په ډيرو رسولانو پورى مخكښ ستانه پس راگيركړو(عذاب) هغه كسانولره
سَخِرُوا مِنْهُمْ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿۴۱﴾
چه مسخري ئې كولى ددوئ نه هغې عذاب چه دوئ به ورپورې توقې كولې

﴿خُلِقَ ٱلْإِنسَٰنُ مِنْ عَجَلٍ﴾ هركله چه مخكښ ايت كښ دكافرانو استهزاء ذكراوشو نونفس دانسان كښ په جلتئ سره دانتقام اخستلوجذ به پيداكيدله نوددې وجه نه پدى ايت كښ زجر اوممانعت ذكركيږى د استعجال نه، اوددې ايت زيات مشهور اوغوره تفسيردادې چه دانسان په طبعيت كښ استعجال(زرغوښتنل) دې اوهركله چه يوصفت چاته مبالغةً ثابتولى شي نوهغه وصف

دَهغه دَپاره ماده تخليق فرض كړې شي لكه ډيرلوبي كونكي ته وئيلى كيږي انت من لعب ډيرغصناك سړي ته وئيلى كيږي انت من غضب اوډيرشريف سړي ته وئيلى كيږي انت من كرم اودَدې وجه نه په حديث شريف كښې دَزنانوپه باره كښې مروي دي خلقت من ضلع ايسر .چه زنانه دګسۍ(چپي.كينړي) پوښتۍ نه پيدا شويدى، يعني ددوئ په طبعيت كښې كوږوالي دې. نودلته هم مطلب دادې چه دَانسان په طبعيت كښې استعجال دې اودَانسان نه مرادبعض مفسرين فرمائي چه آدم عليه السلام دې دامروي دې دَسدي رحمه الله اوسعيدبن جبير رحمه الله نه فرمائي چه كله الله تعالى ادم عليه السلام كښې روح واچولو اوسرته ئې روح راغى نواوپرنجيدلونوملائكو ورته اوئيل چه الحمدلله اوايه، نوحضرت آدم عليه السلام الحمدلله اوئيلو اوكله چه سترګوته روح راغى نودَجنت ميوى اونعمتونه ئې اوكتلى، اوكله چه ګيډې ته روح راغى نولوږه ئې محسوس كړه اودَخوراك اشتهاء ئې پيداشوه نوفورًا تللو كوشش اوكړو مخكښې دَخپوته دروح رسيدلونه نواوغورزيدلو، نوځكه اوئيلى شو﴿خُلِقَ ٱلۡإِنسَٰنُ مِنۡ عَجَلٖ﴾ اوبعض فرمائي چه انسان نه مراد نضربن حارث دې چه عذاب غوښتلوكښې جلتي اوكړه اواوئيل ئې چه اللهم ان كان هذا هوالحق من عندك فامطرعلينا حجارة مّن السّماءالاية ليكن غوره قول دادې چه﴿خُلِقَ ٱلۡإِنسَٰنُ مِنۡ عَجَلٖ﴾نه مرادجنس انسان دې اوكه څوك اشكال اوكړي چه هركله استعجال دَانسان په فطرت اوطبعيت كښې ايخودلى شويدې نوبياپدې باندې زجراودَدينه ممانعت تكليف بمالايطاق دې نوجواب دادې چه څرنګه الله تعالى دَانسان په فطرت كښې استعجال پيداكړيدې نودغه شانْ الله تعالى انسان ته صبراوخپل ځان دَجلتۍ نه منع كولوباندې قدرت هم وركړيدې، لكه څرنګه شهوت چه دَانسان فطري څيزدې ليكن عدم استعمال باندې ئې انسان قادرهم دې، نو زجر اوممانعت دهغه استعجال نه دې چه بې محل اوپه غيرشرعي امورو كښې وي، اوپه خپل محل كښې استعجال اوپه امورو شرعيه كښې استعجال مذموم ندې.

﴿سَأُوْرِيكُمۡ ءَايَٰتِي﴾داتخويف دنيوي دې ﴿ءَايَٰتِي﴾نه مراد نمونې دَعذاب دي لكه په بدركښې قتل. وغيره شو.﴿وَيَقُولُونَ مَتَىٰ﴾په دې ايت كښې ذكرداستعجال مذموم دې اوداشكوه ده دكافرانو نه اومراد په﴿مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡوَعۡدُ﴾سره استبعاد اوانكاردې دَقيامت نه اوالوعد نه مراد

وعده دعذاب اوقيامت ده او ﴿إِن كُنتُمْ صَـٰدِقِينَ﴾ شرط دې او جزا ئې محذوفه ده: چه فلياتنا بسرعة دې اوپدې حذف باندې مخکښې ايت ﴿خُلِقَ ٱلْإِنسَـٰنُ مِنْ عَجَلٍ﴾ دلالت کرېدې

﴿لَوْ يَعْلَمُ ٱلَّذِينَ﴾ دا جواب دې د شکوې نه مطلب دا دې چه ددوئ داعذاب زرغوښتل ددوئ دجهل دوجې نه دې کچرته دوئ ته داپته اولګې چه دالله ﷻ دعذاب نه خلاصيدل ممکن ندې نودوئ به هرګزپه عذاب غوختلوکښې جلتي نوه کړې جواب د لو محذوف دې چه هغه لماکانوا بتلك الصّفة من الکفر والاستهزاء والاستعجال دی اويالمااستعجلوا دې اوحذف دجواب داابلغ ووپه وعيدکښې نوځکه حذف کړې شو

﴿حِينَ لَا يَكُفُّونَ﴾ دا جمله مفعول به ده د ﴿يَعْلَمُ﴾ دپاره اوعلم دلته په معنی دمعرفت سره دې نوځکه تقاضه دمفعول ثاني نه کوي ﴿عَن وُجُوهِهِمُ﴾ دا کنايه ده داحاطې داورنه دهرجانبه.

اوتخصيص دوجوه اوظهور دوجې دشرافت نه دې ﴿بَلْ تَأْتِيهِم بَغْتَةً﴾ دا متعلق دې د ماقبل سره اوبل داضراب اوانتقال دپاره نوپدې مخکښې ايت کښې بيان دسبب استعجال وو.چه ددوئ داستعجال دپاره سبب ددوئ جهل دې اوپدې ايت کښې انتقال اوشو بيان دکيفية دوقوع عذاب ته، چه داعذاب بالکل اچانك راځي او دهغې تاريخ اومقرره وخت سيوا د الله ﷻ نه بل چاته ندې معلوم،اوضميرفاعل دتاتيهم راجع دې حين ته چه په معنی دساعة سره دې نوځکه ضميردمؤنث ورته راجع شو.

﴿وَلَقَدِ ٱسْتُهْزِئَ﴾ دا تسلی ده نبی ﷺ ته چه دمشرکانو عادت دادې چه دوئ په انبياء کراموپورې استهزاء کوي نوځرنګه مخکښينوکفاروته داستهزاء کولوسزا ميلاؤشويده نودغه شان دې مشرکين مکه ته به هم ميلاؤ شي.

قُلْ مَن يَكْلَؤُكُم بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ مِنَ ٱلرَّحْمَـٰنِ ۗ بَلْ هُمْ عَن ذِكْرِ رَبِّهِم مُّعْرِضُونَ ﴿٤٢﴾

ته اوايه چه څوك ستاسو ساتنه کوي په شپې اوورځې کښې دعذاب درحمن نه بلکه دوئ دياداشت درب خپل نه مخ اړوونکي دي

أَمْ لَهُمْ ءَالِهَةٌ تَمْنَعُهُم مِّن دُونِنَا ۚ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَ أَنفُسِهِمْ وَلَا هُم

آياشته دې دوئ لره معبودان چه اوبه ساتي دوئ سيوا زمونږ نه. طاقت نه لري دامداد دځانونوخپلو اونه دوئ سره

مِّنَّا يُصْحَبُوْنَ ﴿٤٣﴾ بَلْ مَتَّعْنَا هٰٓؤُلَآءِ وَاٰبَآءَهُمْ حَتّٰى طَالَ

زمونږ د طرف نه ملګرتيا کيدې شي. بلکه نفعي د دنيا ورکړيدي مونږ دوئ ته او مشرانو د دوئ ته ترديې چه اوږده شولو

عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ اَفَلَا يَرَوْنَ اَنَّا نَاْتِي الْاَرْضَ نَنْقُصُهَا مِنْ اَطْرَافِهَا

په دوئ باندې عمرونه. آيا نه ګوري دوئ چه بيشکه مونږ راتلل کوو د مکو وطن د دوئ ته چه کمه وو هغې لره د غاړو د هغې نه

اَفَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿٤٤﴾ قُلْ اِنَّمَآ اُنْذِرُكُمْ بِالْوَحْيِ ۫ۖ وَلَا يَسْمَعُ الصُّمُّ الدُّعَآءَ

آيا پس دوئ به غالب شي، ته اووايه چه بيشکه خه يره درکوم تاسونه په وحي سره اونه اوري کوڼ بلني لره

اِذَا مَا يُنْذَرُوْنَ ﴿٤٥﴾

کوم وخت چه دوئ لره يره ورکيدې شي

﴿قُلْ مَنْ يَّكْلَؤُكُمْ﴾ دا تخويف دنيوي دې يعني د شپې اوورځې د تکاليفو او عذابونو نه تاسو لره بچ کونکې ذات صرف الله ﷻ دې کچرې د الله ﷻ خوښه شوې وې نو په تاسو باندې به ئې فورا عذاب رانازل کړې وې او ﴿مِنَ الرَّحْمٰنِ﴾ نه مراد من عذاب الرحمٰن دې او په لفظ د رحمٰن کښې اشاره ده چه عذاب نه راتلل د الله ﷻ د رحمت تقاضه ده کنې تاسو د خپل بدعملونو د وجې نه د دې مستحق ئې چه فورا عذاب درباندې راشي.

﴿بَلْ هُمْ عَنْ ذِكْرِ﴾ دا زجر دې او مراد په ذکر سره قرآن دې ﴿اَمْ لَهُمْ اٰلِهَةٌ﴾ دا بيان د دې مخکښې ايت يعني د ﴿مَنْ يَّكْلَؤُكُمْ﴾ بيان دې او ام کښې ميم زائد دې او مقصود استفهام دې او استفهام انکارى دې او ﴿لَهُمْ﴾ خبر مقدم او ﴿اٰلِهَةٌ﴾ مبتدا مؤخره ده او ﴿تَمْنَعُهُمْ مِّنْ دُوْنِنَا﴾ جمله صفت ده د مبتداء د پاره يعني آيا دوئ د پاره زمونږ نه علاوه بل داسې الهه شته چه دوئ زمونږ د عذاب نه بچ کړې او د دوئ حفاظت اوکړې (ابن کثير) يعني بل څوک نيشته دې چه دوئ ته زمونږ د عذاب نه نجات ورکړې.

﴿لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَ﴾ داعلت دې دَدې اولی جملی دَپاره چه دَدوئ الهه څکه ددوئ نه عذاب نشي دفع کولی چه هغوئ دَخپل ځان په امداد باندي نه دي قادر اودَخپل ځان نه عذاب نشي دفع کولی نو دَدوئ امداد به څرنګه اوکړي؟ نو ضمائر دَجمعی راجع دي الهو ته اوهرکله چه داالهه نازل کړي شو په منزله دَعقلاء باندي نو څکه ضمير دَجمع مذکر ذوي العقول ورته راجع کړې شو اوداحتمال هم شته دي چه ضمائر راجع شي کفاروته يعني کفار به دَخپل ځان امداد کولو طاقت نه لري په خپلو الهوسره اونه به ئی ملګرتيا کيدې شي «روح».

﴿بَلْ مَتَّعْنَا هَٰٓؤُلَآءِ﴾ دااضراب دې دَهغه توهم نه چه دَماقبل نه پيداکيدلو چه دوئ عذاب غواړی هغی باوجود په دوئ باندي عذاب نه راځی نوکيدې شي چه ددوئ الهومنع کړې وی اويادوئ مستحق دَعذاب نوی، نودَدې توهم نه اضراب اوانتقال اوشوچه عذاب نه راتلل دانه ددوئ الهوڅه کمال دې اونه ددوئ استحقاق دې بلکه دااستدراج دې يعني دوئ ته مونږ مختلف نعمتونه اوعيش عشرت والازندګی ورکړه نودوئ په غرور اودهوکه کښی مبتلاشو اوداخيال ئی اوکړو چه دازمونږ استحقاق دې اودااسباب به زمونږ سره هميشه دَپاره وی.

﴿أَفَلَا يَرَوْنَ أَنَّا﴾ داتخويف دنيوی دې يعني داکفارديته نه ګوری اوفکرنه کوی چه اسلام ورځ په ورځ په اطرافوکښی خوريګی اوزمکه دکفرتنګه کيږی، بعض خلك په خپل اختيارسره مسلمانان کيږی اوبعض خلك دَجهادپه ذريعی سره مسلمانان کيږی اومسلمانانوته دَدوئ په ممالکوباندي تسلط حاصليږی اوبعض مفسرين فرمائی چه دَ ﴿نَنقُصُهَا﴾نه مراد برکات دزمکی ختميدل دی يعني قحط سالی وغيره شو، مزيدتفصيل په سورة الرعدايت نمبر(۴۰)کښی تيرشويدې، ﴿أَفَهُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ﴾استفهام دَپاره دَانکاردې.

﴿قُلْ إِنَّمَآ أُنذِرُكُم﴾په دی ايت کښی زجردې اودَدوئ دَمطالبی يعني په جلتئ سره دَعذاب غوختلوجواب دې، يعني دامشرکين دَزرعذاب راتللو مطالبه کوی نوته ورته جواب کښی اوفرمايه چه څه دَوحی په ذريعی تاسوته يره درکوم دَقيامت اودَعذاب نه چه قيامت اوعذاب دَامخ راتلونکی دې څکه چه ثابت دې په وحی سره اوپه وحی کښی احتمال دَخطاء اوامکان دَغلطئ نيشته ديو نولهذا تاسوورته تياری اوکړئ اومرادپه وحی سره قرآن دې

﴿وَلَا يَسْمَعُ الصُّمُّ﴾ داعلت ذكركيږي ددوئ داعراض دپاره دقرآن نه اودقرآن په دوئ باندي

داثرنه كولووجه بيانيږئ اوالف لام په﴿الصُّمّ﴾كښ ياجنسي دي اوكفارئي مصداق اولى دي په

دخول اولى سره نوځكه تنه هغوئ مراد دى اويا الف لام عهدخارجي دي اومرادتنه معهود

اومخصوص كانړه دى چه كفاردى اوالف لام چه كله عهدى شي نو﴿الصُّمّ﴾اسم ظاهردي چه په

ځائ دضميرباندي راغليدي اصل كښ داسى دي لايسمعون الدعآء اذا ماينذرون اووضع داسم

ظاهرپه ځائ دضميرباندي دپاره داشعاراوتنبيه دي پدى چه دوئ خپل خانونه په زوركانړه

كړيدى اوخپل ځانونه ئى دحق اوريدولونه منع كړيدى.

﴿إِذَا مَا يُنذَرُونَ﴾كونړسړى مطلقاًخبره نه اورى،كه انذاروالاوى اوياغيرانذاروالا. خودلته

تخصيص دانذارځكه اوشوچه ددوئ په سخت كونړوالى باندي دلالت اوشي.ځكه چه

انذارعموما په اوچت اوازسره وى نوچه يوسړى دمنذرآوازهم نه اورى نودي ډيرسخت كونړوى

وَلَئِن مَّسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ مِّنْ عَذَابِ رَبِّكَ لَيَقُولُنَّ يَٰوَيْلَنَآ
اوكچري اورسيږي دوئ ته څه ټكړه د عذاب لړ عذاب، دستارب دطرف نه نوخامخادوئ وائى هائ تباهي ده زمونږ
إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿۴۶﴾ وَنَضَعُ الْمَوَٰزِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ
بيشكه مونږ ظالمان وو اوكيږدو به مونږه تلي دانصاف په ورځي دقيامت كښ،نونه به شي كيدلى ظلم په هيڅ نفس باندي
شَيْـًٔا ۖ وَإِن كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا ۗ وَكَفَىٰ بِنَا حَٰسِبِينَ ﴿۴۷﴾
هيڅ قسم اوكچري وي عمل ، په قدرد داني د اوري رابه اورو مونږ هغي لره.اوپوره يومونږ حساب كونكي

﴿وَلَئِن مَّسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ﴾ داتخويف دي اونفحة لړغوندي شي ته، اوحصى ته هم وئيلى كيږى

علامه زمخشرى رحمه الله فرمائى چه﴿مَّسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ﴾كښ درى(۳)مبالغى دى(۱) يولفظ دمس چه

وئيلى كيږى صرف لګيدلوته(۲)دويم نفح چه لږاوادنى حصى ته وئيلى كيږى(۳)دريم تاء دنفحة

چه دمرة اووحدت دپاره ده نومقصدداده چه دكوم عذاب دوئ مطالبه كوى نوكچرى هغه عذاب

دوئ سره صرف یوځلی اولګی نودوئ بیاچیغی وهی اودَخپل ګناهونواقرار اواعتراف به کوی خوپدغه وخت کښې به اعتراف بی فائدې وی.

﴿وَنَضَعُ ٱلْمَوَٰزِينَ﴾داتخویف اخروی دې په ذکردَوزن دَاعمالوسره اومراد په وضع سره احضاردې، اوموازین جمع دَمیزان ده اومیزان اسم آله په اصل کښې مِوزان وو، واو ماقبل تنه کسره په یاء سره بدل شو میزان تنه جوړشو،اومرادپه دې سره هغه مخصوص میزان دې چه دَبندګانو اعمال به ورکښې تول کیږی اوقرآن کریم کښې دالفظ په جمعی سره استعمال شویدې، اومفردندې استعمال شوی اوپه احادیثوکښې مفرد اوجمع دواړه استعمال شویدی. دَجمعی دَپاره توجیهات متعدددی، (۱)بعض علمآء فرمائی چه موازین حقیقةً متعدد دی (الف)اودَهرسړی دَپاره به خپل خپل میزان وی(ب) بعض فرمائی چه دَهرعمل دوزن دپاره به خپل خپل میزان وی، (۲)لیکن اکثرعلماء فرمائی چه میزان واحددې اوجمع دَتفخیم دَپاره ده،قسطلانی اورازیرحمهما الله روایت نقل کړیدې چه: سأل داؤد عليه السلام ربه عزوجل ان يريه الميزان فلماراه اغمى عليه من هوله ثم افاق فقال عليه السلام الهى من يقدرعلى ملء كفة هذا الميزان حسنات فقال الله تعالیٰ یاداؤد انی اذا رضيت على عبدى ملأته بتمرة واحدة،ياداؤد املؤها كلمة لااله الاالله(قسطلانی- کبیر). ترجمه: داؤد عليه السلام دَالله تعالیٰ نه سوال اوکړو چه ماته میزان اوښایه،نوکله چه میزان اوکتلونودَخوف اودَویری نه بی هوشه شو اوکله چه په هوش کښې راغی نوعرض ئی اوکړو چه ای څماربه څوك دې میزان لره په نیکیانوسره ډکولوباندې قادردې؟

الله تعالیٰ ورته اوفرمائیلوچه ای داود عليه السلام چه کله څه دَیوخپل بنده نه راضی شم نوڅه دامیزان دَهغه نه په یوی کهجوری سره ډکه ووم،ای داود عليه السلام ډکه وی دې لره کلمه لااله الاالله(ب) اویاجمع په اعتباردَتعدد دَموزوناتوسره ده یعنې موزونات متعدد دی نوځکه داهم جمعه راوړی شوه(ج) اویاجمع په اعتباردَتعدددَعبادوسره ده او ﴿ٱلْقِسْطَ﴾منصوب دې ځکه چه دې صفت واقع شویدې دَموازین دَپاره او﴿ٱلْقِسْطَ﴾ چونکه مصدردې اومصدرتثنیه اوجمع کیږی نه، نودې وَجه نه﴿ٱلْقِسْطَ﴾مفرد راوړی شو اویادې صفت دې په اعتباردَمضاف محذوف سره چه ذوات لفظ دې یعنې ذوات القسط، اولام په﴿لِيَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ﴾کښې په معنیٰ دَ فی سره دې لکه لايجليهالوقتها

الاهو.کښې لام عندالبعض په معنی دَ فی سره دې اویالام تعلیلیه دې اومضاف محذوف دې چه لفظ دَحساب دې یعني لحساب یوم القیمة اویاپه معنی دعندسره دې

﴿لِيَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ﴾ضمیردکان راجع دې عمل ته چه دلالت پرې کړیدې﴿وَنَضَعُ ٱلْمَوَٰزِينَ﴾خکه چه وضع دَمیزان دَپاره دَ وزن دَاعمالو دې

﴿وَإِن كَانَ مِثْقَالَ﴾مرادتنه حقیرا وادنی ترین عمل دې،﴿أَتَيْنَا بِهَا﴾اتی باتی چه کله متعدي شي په بآء سره نوپه معنی دَبدلی ورکولوسره وی نودلته ئی هم معنی ده جازینا یعني مونږه به ئی بدله ورکوو اودَدې ایت اودَسورة الکهف ایت نمبر(۱۰۵)سره تعارض نیشته دې خکه چه هلته دَمیزان نه قائمه ولومطلب داندې چه دَدوئ دَاعمالو وزن به نه کیږی بلکه مراد تنه دادې چه دَدوئی دَاعمالوبه څه اهمیت نوی اوقدربه ئی نوی اویاداچه اقامت نافع به نه کیږی، اودلته مراد مطلق وزن دَاعمالودې اویاصورت دَجمعی هم ممکن دې چه دکفارو څنو اشخاصو دَپاره به اقامت دَ میزان نه کیږی اوبی حسابه به جهنم ته داخلیږی لکه څرنګه څنی مؤمنانوسره به حساب نه کیږی اوبی حسابه به جنت ته داخلیږی نودَهرایت دَپاره محمل جدا جدا دې اوباقی کیفیت دَوزن وغیره تفصیل په سورة الکهف ایت نمبر(۱۰۵)کښې تیرشویدې(من شآء فلیطالع ثمه).

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ٱلْفُرْقَانَ وَضِيَآءً وَذِكْرًا لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٤٨﴾ ٱلَّذِينَ
اویقیناً ورکړې وو مونږ موسیٰ اوهارون ته فرقان اودیره رڼا دَحق اویاداشت دَپاره دَمتقیانو.هغه کسان
يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِٱلْغَيْبِ وَهُم مِّنَ ٱلسَّاعَةِ مُشْفِقُونَ ﴿٤٩﴾ وَهَٰذَا ذِكْرٌ
چه ویریږی دَخپل رب نه په غیبه سره اودوئ دَقیامت نه هیبت زده دي اوداقرآن نصیحت دې
مُّبَارَكٌ أَنزَلْنَٰهُ أَفَأَنتُمْ لَهُۥ مُنكِرُونَ ﴿٥٠﴾
برکتونو والادې نازل کړیدې مونږدا آیاتاسو دانااشناګنړئ

﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَىٰ﴾دَدې نه دَدلائلونقلیه بیان شروع کیږی اوخلاصه دَټولودلائلوداده چه انبیاء کرامو علیهم السلام نه صدوردَامورخارقه للعادت شویدې خوهغوئ متصرف فی الامورنوو، ربط دَماقبل سره دادې چه مخکښې ایتونوکښې ذکر دَرسالت وواوپه رسالت باندې دَشبهاتوجوابونه

ورچه﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا قَبۡلَكَ إِلَّا رِجَالٗا ﴾پدی ایتونو کښې تخویف دي دمنکرینو درسالت د پاره چه کوم خلکو د رسولانو خبره نده منلې نو هغوئ هلاك شویدي، اودغه شان په مخکښې ایتونو کښې دمنکرینو د اهلاك ذکر وو چه واهلکنا المسرفين. پدی ایتونو کښې کیفیة د اهلاك ذکر کیږی

﴿وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَىٰ ﴾دا اول دلیل نقلی دي دموسی عليه السلام اودهارون عليه السلام نه چه موسی عليه السلام اوهارون عليه السلام هم دتوحيد اعلان کړيدې اوپه تورات کښې همدغه مضمون ذکروو. اوفرقان نه مراد تورات دي چه فرق راوستونکی وو په مينځ دحق اوباطل کښې اوضياءً وذكراً عطف تفسيری دي دفرقان دپاره يعني ددينه مرادهم تورات دي اوبعض فرمائی چه دفرقان نه مراد نصرت اوغلبه ده په مقابلې اوحجت کښې اوغلبی دپاره فرقان لفظ استعمال شائع اوکثيردې. لکه يوم الفرقان يوم بدرته وئيلی کيږی اوضياءً نه مراد تورات دي چه دتيارو دجهل دپاره پکښې رڼا وه اوذكراً نه مراد هغه اموردينيه دي چه دوئ ورته محتاجه وو .ليکن اول قول زيات غوره دي

﴿لِّلۡمُتَّقِينَ ﴾تخصيص دمتقيانو دې وجه نه دي چه نفع اوفائده دتورات نه دوئ اخستې وه اګرچه دټولو خلکو دپاره وعظ اوهدايت ذريعه وه، ﴿ٱلَّذِينَ يَخۡشَوۡنَ ﴾دا صفات دمتقينو بيانيږی

﴿بِٱلۡغَيۡبِ ﴾دا حال دي يادمفعول نه چه رب دي اوغيب دالله جل جلاله دپاره صفت واقع کيږی اوغائب د الله جل جلاله دپاره صفت نه واقع کيږی يعني الله جل جلاله غيب دي اوغائب ندي.يعني دوئ دالله جل جلاله نه يره کوی حالانکه دوئ الله جل جلاله ليدلی نه د . (روح) اوياحال دي دفاعل د﴿يَخۡشَوۡنَ ﴾ نه اوغيب په معنٰی غائب سره دي ای يخشون حال کونهم غائبين عن الناس. يعني دالله جل جلاله نه پدی حالت کښې هم يريږی چه خلك ئې نه ګوری اوکله چه خلك ګوری نو بيا خو په طريق اولی ګناه نه کوی اوبعض فرمائی چه غيب نه مراد قلب يعني زړه دي اوباء داله دپاره ده ای يخشون بقلوبهم(روح) يعني په زړه سره دالله جل جلاله نه يريږی.

﴿وَهَٰذَا ذِكۡرٞ مُّبَارَكٌ ﴾دا ترغيب دي قرآن ته. مطلب دادې چه داقرآن هم دهغې ذکر دپاره نازل شويدې اوپدی کښې هم هغه توحيد ذکر کيږی کوم چه په تورات کښې ذکر وو نو ناسو ددې انکار ولې کوئ؟

﴿مُبَارَكٌ﴾ صفت دې د ذکر يعني د قرآن او مبارك په معنٰی د کثير المنفعت سره دې. لوستونکی نی برکت والا گرځی، څوك ورسره تعلق ساتی هغه د برکت والا گرځی

وَلَقَدْ اٰتَيْنَآ اِبْرٰهِيْمَ رُشْدَهٗ مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا بِهٖ عٰلِمِيْنَ ﴿۵۱﴾	
اويقيناً ورکړې وه مونږ ابراهيم ؑ ته پوهه د دين د مخکښ نه او وو مونږ په حال د ده باندې پوهه ؍ رونکي	
اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ مَا هٰذِهِ التَّمَاثِيْلُ الَّتِيْٓ اَنْتُمْ	
کله چه اوئيل ابراهيم ؑ خپل پلار او قوم ته څه دليل دې د دې شکلونو په عبادت باندې چه تاسو	
لَهَا عٰكِفُوْنَ ﴿۵۲﴾ قَالُوْا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا لَهَا عٰبِدِيْنَ ﴿۵۳﴾ قَالَ	
په عبادت د دوئ باندې کلك ولاړيئ اوئيل دوئ موندلی دې مونږ مشران خپل دوئ لره عبادت کوونکی. اوئيل (ابراهيم ؑ)	
لَقَدْ كُنْتُمْ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۵۴﴾ قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ اَمْ اَنْتَ	
يقيناً يئ تاسو او مشران ستاسو په گمراهئ ښکاره کښ. دوئ اوئيل آيا تا راوړی دې مونږ ته حق اوکه ته نی	
مِنَ اللّٰعِبِيْنَ ﴿۵۵﴾ قَالَ بَلْ رَّبُّكُمْ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الَّذِيْ فَطَرَهُنَّ ۖ	
د ټوقو کوونکونه، ده اوئيل بلکه رب ستاسو رب د آسمانونو او د زمکې دې هغه ذات چه داتې پيدا کړيدې	
وَاَنَا عَلٰى ذٰلِكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۵۶﴾ وَتَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ بَعْدَ	
او زه تاسو ته د دې خبر ورکوونکونه يم او قسم په الله ﷻ خامخا به څه چل جوړومه ستاسو معبودانو ته ورستو د دينه	
اَنْ تُوَلُّوْا مُدْبِرِيْنَ ﴿۵۷﴾	
چه اوگرځئ تاسو شا کوونکي	

﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَآ اِبْرٰهِيمَ﴾ دا دويم دليل نقلی دې په توحيد باندې چه حضرت ابراهيم ؑ جد امجد (نيکه) د انبياء کرامو دې هغه د توحيد په خاطر څومره تکاليف او مشقتونه برداشت کړی وو. رُشده من قبل قبل مبني دې په ضمی باندې مضاف اليه محذوفه منوی ده او په مضاف اليه کښ متعدد اقوال راغليدې غوره پکښ دری دې، (۱) يوه داچی دې د پاره مضاف اليه بلوغ دې

اورشدنه مرادفهم دتوحیددې یعني دبلوغ نه مخکښ په وړوکوالی کښ ورته فهم دتوحیدمیلاؤشوی وو .لکه چه په څنی روایانو کښ دي چه ابراهیم ﷺ پلاربه بتان جوړول اوحضرت ابراهیم ﷺ ته به نی دخرڅولودپاره ورکړل نوحضرت ابراهیم ﷺ به دهغوئ په غاړه کښ پړی واچولو اورابنکلوبه ئی اودا اوازبه ئی لګولو(من یشرینی الها لاینفع ولایضرّ) چه څوك څمانه داسی خدائ اخستلوته تیاردې چه نه ورته نفع ورکوی به عبادت سره اونه ورته ضرررسولی شي په ترك عبادت سره نودادالله ﷻ دطرف نه فهم دتوحیدوو چه دماشوم توب لوبی هم دتوحیدوی.

(۲)دویم قول دادې چه مضاف الیه نبوت دې یعني قبل النبوة نوپدی صورت کښ هم د رشدنه مراد هدایت دامور دینی اودنیوی دې اوځان ساتل دبت پرستئ نه دې.یعني دنبوت میلاویدلونه مخکښ هم حضرت ابراهیم ﷺ په توحیدباندي قائم اوشرك نه بیزاره وو(۳)اودریم قول دادې چه مضاف الیه موسی ﷺ اوهارون ﷺ یعني قبل موسیٰ ﷺ وهارون ﷺ نوپدی صورت کښ درشدنه نبوت دې یعني دحضرت ابراهیم ﷺ نبوت دحضرت موسی ﷺ اودهارون ﷺ نه مخکښ وو ، اواضافت درشدابراهیم ﷺ ته پدی کښ اشارده تعظیم درشد هغه ته چه دابراهیم ﷺ رشد مثالی اوکمالی وو اودده دپاره یوزبردست شان ووپه رشدکښ

﴿وَكُنَّا بِهِۦ عَٰلِمِينَ ﴾یعني مونږته علم وو چه دې ددې اهل دې اوداهم کنایه ده دابراهیم ﷺ دتعظیم نه لکه یوسړی دچاتعظیم بیانوی نوابهام پکښ اوکړی اوداسی اوائی چه اناعالم بفلان.دفلانی نه خوځه خبریم،نودادهغه په عظمت شان باندي دلالت کوی نودغه شان دایت داحصه هم دحضرت ابراهیم ﷺ په عظمت شان باندي دلالت کوی،خلاصه داده چه په ددې دواړو جملو کښ الله ﷻ دحضرت ابراهیم ﷺ کمال مدحه اوعظمت شان بیان کړیدې (بحر).

﴿إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِۦ ﴾دابیان درشد دابراهیم ﷺ دې اذ متعلق دې په﴿ءَاتَيْنَا﴾پورې اویاپه اذکر محذوف پورې متعلق دې،﴿مَا هَٰذِهِ ﴾ماسره تپوس دحقیقت دشي نه کیږی، نودلته هم یاحضرت ابراهیم ﷺ ددې بتانوحقیقت په باری کښ تپوس کړیدې، اوحضرت ابراهیم ﷺ ته اګرچه ددغی بتانوحقیقت معلوم وو خوبیاهم په ماسره تپوس کول دقبیلی دتجاهل عارفانه نه دې،اودادپاره دتحقیراواظهاردنفرت وو اواسم اشاره یعني هذه هم دپاره

دَتحقيردي، اودَاصنام په ځائ ﴿ٱلتَّمَاثِيلُ﴾ذكر كول چه دلالت كوي پدې چه داځيزونه دَالله ﷻ دَمخلوقاتوسره يعني دَانسانانوطيورو اوستورو وغيره سره مشابه اومماثل دي، هم دَتحقيردپاره دي،نوګوياچه حضرت ابراهيم عليه السلام په درې(۳) طريقوسره دَشرك اوبت پرستئ نه اظهاردَنفرت اوكړو ،اويامقصود په ﴿مَا﴾سره پوښتنه دَدليل ده چه داځيزونه خومخلوقات دي اوحقداردَبندګئ ندي نوتاسوپه كوم دليل ددوئ عبادت كوئ؟

﴿أَنتُمْ لَهَا عَاكِفُونَ﴾عكوف وئيلى كيږي يوشي په طريقې دَتعظيم اوعبادت سره لازم نيول اوهغې ته توجه كول اوهركله چه دَده تعديه نده قصدكړې شوى نوځكه دَده په صله كښې لام ذكرشوپه ځائ دَعلى دَپاره دَدې چه دلالت په اختصاص اوتخصيص اوكړي. يعني تاسوخالص ددوئ عبادت لازم نيولى دي اوبعض فرمائي چه لام تعليليه دي اولفظ دَتعظيم ورسره مقدردي، اوصله دَ﴿عَاكِفُون﴾هم محذوفه ده چه على عبادتها دي، نوتقديردَعبارت داسې دي انتم لتعظيمها عكفون على عبادتها(بحر)اوبعض فرمائي چه لام په معنى دَعلى سره دي.

﴿قَالُواْ وَجَدْنَآ ءَابَآءَنَا﴾مشركينوسره په عبادت كولودَبتانوباندي بل څه دليل نووپه غيردَغلط تقليدنه چه دازمونږ دَپلار ،نيكه طريقه ده چه مونږ په روان يو ،حضرت ابراهيم عليه السلام ورته جواب كښې اوفرمائيلو: ﴿قَالَ لَقَدْ كُنتُمْ أَنتُمْ﴾دَجواب خلاصه داده چه ستاسوتقليدصحيح ندي مقلد اومقلد دواړه غلط ئې ځكه چه داموقوف دي په اتباع دَخواهشات نفسانى اوپه اطاعت دَشيطان باندي.﴿قَالُوٓاْ أَجِئْتَنَا﴾استفهام دَپاره دَتعجب دي اودوئ دَابراهيم عليه السلام نه خپل تضليل اوريدل قابل تعجب وويعني دوئ په تعجب سره ابراهيم عليه السلام نه تپوس اوكړو چه تاسره پدې خپلې دعوى باندي څه دليل هم شته اوربښتياخبره كوي اوكه هسې توقى كوې، او اول كلام دَجملې فعليه په صورت كښې ذكرشواودويم كلام دَجملې اسميې په صورت كښې چه دادلالت كوي په دوام اواستمرارباندي ځكه چه دَدوئ اعتقاد اويقين داوو چه ابراهيم عليه السلام توقى كوي اوپدې خپله خبره كښې دروغژن دي.

﴿قَالَ بَل رَّبُّكُمْ﴾حضرت ابراهيم عليه السلام دَدوئ دَدې سوال جواب قولاً هم وركړو اوعملا هم دَپاره دَاظهارحق،نوپدې ايت كښې قولى جواب يعني دليل په توحيدباندي ذكركيږي دَجانبه

دَابراهیمؑ نه، اوبل دَپاره دَاضراب دي اودااضراب دَ ﴿أَمْ أَنتَ مِنَ ٱللَّٰعِبِينَ﴾ نه دي یعني ټوقې کوونکی نه یم بلکه صحیح خبره کووم چه تاسو اوستاسو پلاران.نیکان دَبتانو په عبادت سره ګمراهئ کښې وو ځکه چه دابتان خدایان نه دي، بلکه معبود هغه ذات دې چه ستاسو رب دې اود اسمانونو اودزمکې رب دې اوخالق دې دَټولوخیزونو، نوچه رب صرف هغه دې اوخالق صرف هغه دې نومعبودبه هم صرف هغه وي ځکه چه توحیدفی الربوبیت اوتوحیدفی الخالقیت مستلزم دي توحیدفی الالوهیت لره هم عقلاً اوهم شرعاً.

﴿فَطَرَهُنَّ﴾ضمیردَجمعی یاراجع دې زمکې اواسمانونوته اویاراجع دې تماثیل ته اوزمخشری رحمه الله فرمائي چه ضمیرراجع کول تماثیل ته اولی دې ځکه چه پدی سره حجت ډیرتام کیږی په دوئ باندي ﴿وَأَنَا۠ عَلَىٰ ذَٰلِكُم﴾ مشارالیه ربوبیت اوخالقیت دَالله ﷻ دي اوشاهد په معنی دَمبیّن سره دي یعني څه چه څه وایم نوماسره پدی باندي دلیل موجوددې اوستاسو پشان روندتقلیدکوونکی نه یم (قرطبی).

﴿وَتَٱللَّهِ لَأَكِيدَنَّ﴾هرکله چه ابراهیمؑ دامحسوسه کړه چه دوئ څمادلیل ته څه التفات اوتوجه ورنه کړه نودَدینی غیرت اوحمیت دَوجی نه په الله ﷻ باندي دَمکمل اعتماد اودَتوکل په بناء دَبتانوختمولوعزم ئې اوکړو، دَپاره دَدې چه عملی طورباندي اظهاردَحق اوتوحیداوشي، اودَدې عزم اظهارحضرت ابراهیمؑ یادَیوکس په مخ کښې کړې وو چه هغه بیادارازافشاء کړو دامروی دې دَقتادة رحمه الله نه اویائی دَقوم دَتللونه ورستودَضعفاؤپه مخ کښې کړې وو چه هغوئ جشن اومیلی ته نشوتللی،اوهغوئ بیانورقوم ته داخبره اوکړه چه﴿قَالُواْ سَمِعْنَا فَتًى يَذْكُرُهُمْ﴾، اوداهم ممکنه ده چه حضرت ابراهیمؑ دَدې عزم اظهاردَټول قوم په مخ کښې کړې وی خوقوم ورته څه توجه نوی ورکړی، حضرت تهانوی رحمه الله دیته ترجیح ورکړیده، حضرت ابراهیمؑ خپل عزم مصدرکړوپه قسم سره اوحرف تاء راوړه په ځائ دَ واو ځکه چه تاء دَقسم سره سره په تعجب باندي هم دلالت کوی، اوچونکه دَنمرود اودَقوم دَمخالفت باوجود بت شکنی کول یومشکل کاروو اودامشکل آسانی دل یوامرعجیب وو نوځکه دلته حرف تاء ذکرشو اوفرق په مینځ دَتا،با او واو کښې دادي چه تا خاصه ده فقط په اسم دَالله ﷻ پوری او واو خاص دي په

هر اسم ظاهرپورې که اسم دَ الله دې یارحمن وغیره وی او باء عام ده داخلیږی په اسم ظاهرباندې هم او په اسم ضمیرباندې هم

﴿لَأَكِيدَنَّ﴾ کید ونیلی کیږی چاته ضرررسولو دَپاره خفیه تدبیرجوړول چه هغه پرې پوهه نشي اودامعنی په بتانوکښ دَدوه(۲)وجونه. نه صحیح کیږی، یو(۱)دَدې وجه نه چه بتانوته په ماتولوسره ضرر اوتکلیف نه رسی(۲)دویم دَدې وجه نه چه دکید مفهوم دادې چه چاته ضرر رسوی نوهغه کښ به شعوروی خوپه دې تدبیربه پوهه نشي ځکه چه داخفیه تدبیروی نو امام رازی رحمه الله وغیره فرمائی چه داقول حضرت ابراهیم عليه السلام دهغوئ دَاعتقاد موافق کړیدې. چه دَنمرود دَقوم عقیده داوه چه دابتان شعورهم لری اوپه ماتولوسره ضرر اوتکلیف هم محسوسه وی، (جمل-کبیر) اوبعض فرمائی چه کیدنه مجازا اجتهاد اوکوشش کول په ماتولوکښ مراددې، ځکه چه کیدکښ مشقت او اجتهاد وی ځکه چه کوم کارمقصودوی نودهغی خلاف ظاهره ول مشکل کاروی. ﴿بَعْدَ أَن تُوَلُّوا مُدْبِرِينَ﴾ مدبرین په معنی دَمنطلقین سره دې یعنې چه تاسوخپلی میلی اوجشن والاځائ ته لاړشئ، اودابه په کال کښ یوه ورځ ددوئ یوعیدوو اودوئ به په هغی ورځ دَښارنه بهرجشن اومیلی ته وتلو اودَخوراك سامان، متهیانی وغیره به ئی بتانوته کیخودلی دَپاره تبرك اوکله به چه واپس راغلل نواول به لاړل بتانوته به ئی سجده اوکړه اوبیابه دهغی نه پس کورونوته تللو، نوپدی موقعه دوئ چه کله جشن ته تللو نوابراهیم عليه السلام ته ئی هم اصرار اوکړو خوهغه ورته دَبیماری عذراوکړو اوپاتی شو، لکه چه سورة الصآفات ایت نمبر(۸۸- ۸۹) کښ دې.

فَجَعَلَهُمْ جُذٰذًا اِلَّا كَبِيْرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ اِلَيْهِ يَرْجِعُوْنَ ﴿۵۸﴾ قَالُوْا مَنْ فَعَلَ هٰذَا

پس کړل ئی هغه تول ټوټی ټوټی سیوا دَغټ دَهغوئ نه، دې دَپاره چه دوئ ده طرف ته رجوع اوکړي. اوئیل دوئ چاکړیدي داکار

بِاٰلِهَتِنَاۤ اِنَّهٗ لَمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۹﴾ قَالُوْا سَمِعْنَا فَتًى يَّذْكُرُهُمْ

زمونږ دَمعبودانوسره بیشکه دې دَظالمانونه دې. اوئیل دوئ اوریدلي دې مونږ دَیوځوان نه چه بدي بیانوی ددې بتانو

يُقَالُ لَهٗۤ اِبْرٰهِيْمُ ﴿۶۰﴾ قَالُوْا فَاْتُوْا بِهٖ عَلٰۤى اَعْيُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُوْنَ ﴿۶۱﴾

وئیلی کیږي هغه ته ابراهیم. اوئیل دوئ پس راولئ هغه مخامخ دَخلکو دې دَپاره چه دوئ ئی اوګوری

﴿فَجَعَلَهُمْ جُذَاذًا﴾فاء فصیحیه ده داجمله عطف ده په مقدرجملی باندي، نوتقدیردعبارت دارنګی دي فولوا فاتی ابراهیمالتَلِیْکلاً الاصنام فجعلهم الخ یعني چه کله دوئ دښارنه.بهرمیلی ته لاړو نوابراهیمالتَلِیْکلاً بتانوپسی راغی اوپه تبرسره ئی ټکړي ټکړي کړل سیوا دیوغټ بت نه. اودې بتانوتعداد دغوره ول مطابق دوه اویا(۷۲)وو.

﴿إِلَّا كَبِيرًا لَّهُمْ﴾داغټ والی یاپه اعتباردبدن سره مراددي چه دده بدن اوجثه په ټولوکښ غټه وه اویاغټ والی په اعتباردمنزلت اومرتبی سره مراد دي چه ددې بت مرتبه په ټولوکښ غټه وه اودې دسرو زرونه جوړشوی وو اویاقوت پری لګولی شوی وو، حضرت ابراهیمالتَلِیْکلاً دې پریخواوتبرئی دده غاړی ته واچولو.

﴿لَعَلَّهُمْ إِلَيْهِ﴾داعلت دي دغټ نه ماتولودپاره.اوبه مرجع دضمیرد﴿إِلَيْهِ﴾کښ دری(۳) احتمالات دي غوره احتمال دادې چه داضمیرراجع دي غټ بت ته نومقصدبه ئی داشي لعلهم یرجعون الی الکبیر،یعني چه دوئ کله واپس راشي اودخپلوبتانوداحشراوګوری نودې غټ بت به رجوع اوکړی لکه څرنګه دیومشکلی مسئلی حل دپاره عالم اوپوهه سړی ته رجوع کیږی. نودغه شان دوئ به هم دي غټ بت رجوع اوکړی چه داکارڅرنګه اوشو اوداچااوکړو اومقصود پدی سره الزام حجت وو چه هغوئ به جواب نشي ورکولی نودوئ به پوهه شي چه داخودیرضعیف اوعاجزمخلوق دي چه خپل دښمن هم نشي خودلی نوددوئ عبادت کول هم لوئ جهل دې اودااحتمال هم شته چه ضمیرراجع شي ابراهیمالتَلِیْکلاً ته نومقصدبه داشي چه دوئ ابراهیمالتَلِیْکلاً ته رجوع اوکړی اودې به ورته دلیل بیان کړی اویابه دهغه دعوت ته غوږ کیدې، اوداهم ممکنه ده چه ضمیرراجع شي اللهﷻ ته نومعنی به داشي: لعلهم یرجعون الی الله وتوحیده، یعني دوئ به پدی پوهه شي چه داخودیرکمزوری دي چه دخپل ځان امدادنشي کولی نوځمنګ امدادبه څرنګه اوکړی؟

﴿قَالُوا مَن فَعَلَ هَٰذَا﴾ددینه مخکښ کلام محذوف دي تقدیرئی داسی دي،فلما رجعوا من عیدهم وراوا ماحدث بآلهتهم قالوا من فعل الخ یعني چه کله دوئ دخپل جشن نه واپس راغلو اوددوئ دخدایانوسره چه کومه واقعه شوی وه هغه ئی اوکتله نوداخبره ئی اوکړه. ﴿مَن فَعَلَ هَٰذَا﴾او من یااستفهامیه دي اواستفهام دپاره دتوبیخ اوتشنیع دې یعني چاچه هم داکارکړیدې ډیربدئی

کړيدي اوسخت ظلم ئې کړيدې اوداهم ممکنه ده چه من موصوله شي په معنٰی دَ الذی سره او﴿فَعَلَ هَـٰذَا بِـَٔالِهَتِنَآ﴾ ورله صله شي اوداټوله جمله مبتدا شوه او﴿إِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلظَّـٰلِمِينَ﴾ورله خبردې.

﴿قَالُواْ سَمِعۡنَا فَتًى﴾داجواب دَمن فعل سوال دې اوجواب ورکوونکي هغه څوك وو چه دَابراهيم ﷺ نه ئې ﴿وَتَٱللَّهِ لَأَكِيدَنَّ﴾جمله اوريدلې وه اودا اوريدونکي کچرته ډيرو (على رواية) نوبياخوفعل دَجمعي (قالوا) ذکرکولو کښې څه اشکال نيشته، خوکچرته اوريدونکي يوکس وو (كما روى عن قتادة) نوبيافعل دَجمعي (قالوا) ځکه راوړې شوچه نورو خلکو دَهغه يوکس تائيد اوکړو اوپدې اعتبارسره يَذکرهم نه مراد دَابراهيم ﷺ قسم اودهغه منصوبه ده اويادَيذکرهم نه مراد بدې اوقبح بيانول دې، اوقالوا ضميرراجع دې ټول قوم ته يعني يوځوان دې چه هروخت کښې زمونږ پدې خدايانوپسې لګياوي اوددوئ ذم اوبدې بيانوي (خازن، قرطبی).

﴿يُقَالُ لَهُۥٓ إِبۡرَٰهِيمُ﴾ابراهيم مرفوع دې نائب فاعل دې دَيقال دَپاره ځکه چه مراددلته اسم دې اومسمٰی ندې مراد اى الذى يقال له هذا الاسم(مدارك).

﴿قَالُواْ فَأۡتُواْ بِهِۦ﴾ضميردَجمعي ياراجع دې نمرود ته اواشرافوته ضميردَجمعي راجع کيږي اګرچه شرافت فقط دنيوی وی اوياضميرنمرود اومشرانودَقوم (کابينې والا) ټولوته راجع دې على ﴿عَلَىٰٓ أَعۡيُنِ﴾داجمله په محل دَنصب کښې حال واقع شويده دَضميرمجرورنه، يعني دې راولئ په دسې حالت کښې چه خلکوته مخامخ وی،يعني عام مجمع ته ئې راولئ چه دَعاموخلکوپه مخ کښې دې خپل بيان اوکړی اودَحضرت ابراهيم ﷺ هم مقصد داوو چه ماته دَعاموخلکومخ کښې دَاظهارحق موقعه ميلاؤشي نوالله ﷻ دَابراهيم ﷺ خواهش پوره کړو.

﴿لَعَلَّهُمۡ يَشۡهَدُونَ﴾ددې دوه(۲) معنی دې، يوه(۱) معنٰی داده چه خلك حاضرشي اوپده باندي ګواهان شي چه داکومه سزاده ته ورکولې کيږی نودې دغسې مستحق وو اودينه معلوميږی چه هغوئ به هم دَثبوت دَجرم دَپاره ګواهان ضروری کنړل لکه چه داحکم شرعی هم

دي، دويمه معنى داده چه خلك حاضرشي اوداعقوبة اوسزا اوګوري چه بياڅوك داجرأت اونكړي چه زمونږ خدايانوته بدرد اوائي.

قَالُوٓا ءَأَنتَ فَعَلْتَ هَٰذَا بِـَٔالِهَتِنَا يَٰٓإِبْرَٰهِيمُ ﴿٦٢﴾ قَالَ بَلْ فَعَلَهُۥ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا
اوويل دوئ آياتا كړيدي داكارزمونږه خدايانو سره اى ابراهيمه اونيل هغه بلكه كړيدي داكارلوئ ددوئ نه چه دادي
فَسْـَٔلُوهُمْ إِن كَانُوا۟ يَنطِقُونَ ﴿٦٣﴾ فَرَجَعُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ فَقَالُوٓا۟
پس تپوس اوكړئ ددوئ نه كچري خبري كولى شي دوئ، پس دوئ سوچ اوكړو دخپل خانونوسره پس اوئيل دوئ
إِنَّكُمْ أَنتُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٦٤﴾ ثُمَّ نُكِسُوا۟ عَلَىٰ رُءُوسِهِمْ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هَٰٓؤُلَآءِ يَنطِقُونَ ﴿٦٥﴾
چه يقيناً هم تاسوظالمان يئ بيارا پورته شول په خپلوسرونو باندي اوئيل يئ چه يقينا ته پوهيږي چه نشي كولى دوئ خبري.
قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكُمْ شَيْـًٔا
اونيل ابراهيمعليه السلام آياتاسوبندګى كوئ ماسيوا دالله ﷻ نه دهغه چاچه نفع نشي دركولى تاسوته هيڅ قسم
وَلَا يَضُرُّكُمْ ﴿٦٦﴾ أُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ۖ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾
اونه ضرر دررسولى شي تاسوته. خه بيزاريمه ستاسونه اودهغه نه چه تاسوئى بندګى كوئ ماسيوادالله ﷻ نه آيانو نه لرئ تاسوعقل

﴿قَالُوٓا ءَأَنتَ فَعَلْتَ هَٰذَا﴾ ددينه مخكښ عبارت حذف دي تقديردعبارت داسى دي فاتوبه فقالوا اانت فعلت الخ اوددي سوال نه ددوئ مقصدداوو چه ابراهيمعليه السلام په اقراراواعتراف اوكړي اومونږيه ورته فورا سزا وركړو، ليكن ابراهيمعليه السلام داسى جواب وركړو چه دوئ ئى په خپل سوال اوپوښتنه كښ راګير كړو.

﴿قَالَ بَلْ فَعَلَهُۥ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا﴾ په حديث دبخارى كښ دي چه دا دكذباتو يعني د دروغو دابراهيمعليه السلام نه دي اوحالانكه انبياء كرامعليهم السلام دكذب نه پاك دي ځكه كذب يعني دروغ معصيت دي اوانبياء كرام قبل النبوة اوبعدالنبوة دمعاصى نه پاك دي، نوددي وجه نه پدى باندي دكذب اطلاق كيدل صورتاً دي نه حقيقة ځكه چه داتوريه ده اودضرورت په وخت كښ توريه امرمباح دي خوچونكه دانبياء كرامومرتبه ډيره بلنده ده نوددي وجه نه دهغوئ دپاره توريه خلاف

اولی ده اودخلاف اولی کاردَهغوئ په حق کښې په منزله دذنب دي بناء برقانون حسنات الابرار سیّئات المقربین،نوددې وجه نه پدی توریې باندي هم اطلاق دکذب اوشو. اوددې جملی ډیرتوجیهات شویدي(۱)زمخشری رحمه الله فرمائی چه حضرت ابراهیم علیه السلام په طریقی دکنایي عرضي سره دَدې فعل نسبت خپل ځان ته کړیدې چه داابلغه طریقه وه داثبات دفعل دځان دپاره اونفی دَصنم کبیرنه اوپه کفارو پوری تمسخراوټوقه ئې کړیده ځکه چه قانون دې چه کله فعل دائرشي په مینځ دَفاعل قادراوعاجزکښې،نوثبوت دَدې فعل عاجزته علی سبیل التهکم وی اوانحصارتنه مقصودوی په قادرکښې، اودَدې مثال داسی دې چه تایوخائسته خط اولیکلواوته په خائسته خط لیکلوسره مشهورهم ئې، اویوبل کس دې چه هغه بالکل په خط لیکلو باندې قادرندې، نوهغه ستانه دَدې خط په باره کښې تپوس اوکړی: اانت کتبته؟ نو ته ورته په جواب کښې او وائې بل کتبته انت. یعني تالیکلي دې نودَدینه مقصود هغه عاجزته اثبات دکتابت نوی بلکه په هغه پوری تهکم اوټوقه مقصود اوخپل ځان لره اثبات دکتابت وی نو دغه شان دلته هم حضرت ابراهیم علیه السلام بتانواوکفارو پوری ټوقه اوکړه اواثبات دَفعل اوکړو ځان لره په طریقی دکنائی عرضیي سره.

(۲)دویمه توجیه داده چه﴿بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ﴾ مشروط دې په ﴿إِن كَانُوا يَنطِقُونَ﴾ پوری نو﴿بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ﴾جزما ندې وئیلی شوی بلکه الزام دَخصم اوتبکیت دَخصم دپاره وئیلی شویدې یعني دَدوئ دَتجهیل دپاره یوفرضی احتمال په صورت ددعوی کښې دَپاره دَالزام حجت ذکرکړې شویدې لکه په سورة زخرف کښې دې: ان كان للرحمن ولد فانا اوّل العابدين نومطلب دادې کچرته دامعبودان وی نوخبری به ئې کولی شولی اوخپل قاتل به ئې خودلی وو.(۳)دریمه توجیه داده چه﴿بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ﴾وئیل حكايةً دې یعني حضرت ابراهیم علیه السلام دَدوی عقیده نقل کړیده چه حضرت ابراهیم علیه السلام دوئ ته اوفرمائیلوچه ستاسوعقیده داده چه دَغټ بت په موجودګئ کښې دَوړو بتانوته عبادت کولوباندې لوئ بت خفه کیږی نوداغټ بت به خفه شوی وی اوداوا ړه بتان تول به ئې ټکړې ټکړې کړې وی

او﴿فَسْئَلُوهُمْ إِن كَانُوا يَنطِقُونَ﴾مطلب دادې چه ماسره دَ بحث مباحثی کولوفائده نیشته دې خپله دَخپلوبتانونه تپوس اوکړئ.

(۴)څلورمه توجیه داده چه حضرت ابراهیم عليه السلام کبیریعني غټ بت ته نسبت دفعل تسبیبا کړیدې اوعاموخلکوذهن ته دانسبت کسبا راځی، ځکه نسبت دفعل سبب ته کول مجازدې، اوکبیریعني غټ بت ته نسبت دفعل تسبیباً ځکه دې چه ددې بتانوتکرې کولو دپاره سبب اوبعث په ابراهیم عليه السلام باندې غصه وه په شرك دقوم باندې. چه قوم به ددې بتانوعبادت کولواوزیات عبادت اوتعظیم به دغټ بت اوګرځیدلونودې وجه نه ده ته ئې نسبت اوکړی شو.

﴿إِن كَانُواْ يَنطِقُونَ﴾ دلته یسمعون اویعقلون اونوئیلی شو حالانکه دچادخبری جواب هغه وخت کېږي ورکولی شي چه کله مخاطب واوری اوپوهه شي، خوهرکله چه نطق آسان وو په نسبت سره سمع اوعقل ته نودې وجه نه ﴿يَنطِقُونَ﴾ اوئیلی شو. نودابراهیم عليه السلام مقصداوو چه تاسو دداسی عاجزمخلوق عبادت کوئ چه په خبروباندې هم ندې قادر.

﴿فَرَجَعُوٓاْ إِلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ﴾ پدی ایت کښ دوه(۲) توجیهات دې(۱)یوه داده چه کله دوئ دابراهیم عليه السلام خبری واوریدلی نودوئ خپل مینځ کښ خبری اوبحث اوکړو چه تاسوپه ابراهیم عليه السلام باندې ظلم کوونکی یئ ځکه چه تبردغټ بت په غاړه کښ دې نوابراهیم عليه السلام څرنګه مات کړلو

(۲)دویمه توجیه داده چه کله دوئ دابراهیم عليه السلام دلیل واوریدلونودخپلو ځانونوسره ئې فکراوسوچ اوکړو چه داخومونږ ډیرسخت ظلم کړیدې چه دداسی څیزونوعبادت مو کړیدې چه دخپل ځان په حفاظت باندې هم ندې قادرنومونږ ته به څه فائده راکړی لکه چه مشهوره مقوله ده، من لايرد عن راسه الفاس. كيف يدفع عن عابده الباس.

ترجمه: څوك چه دخپل سرنه تبرنشي واپس کولی نوهغه به دخپل عبادت کوونکی نه څرنګه تکلیف لری کړی(مدارك)﴿ثُمَّ نُكِسُواْ﴾ نکس په اصل کښ وئیلی کیږی دیته چه دیوشي والا پورته حصه لاندې اولاندې حصه پورته کړې شي اودلته تنه مراد دوئ دحق نه باطل طرف ته اوړیدل دې یعني اعتراض اواقرار دحق نه ورستو دضد اوعناد دوجی نه باطل اومجادله ته واپس شو. (بیضاوی) اودوئ ددې حالت تشبیه ورکړې شویده دهغه شي سره چه دهغه پورته حصه لاندې کړې شي، اوداکنایه ده دجهل اودضد،عناد نه.

﴿لَقَدْ عَلِمْتَ﴾ داجواب دې دقسم محذوف دپاره چه والله دې يعني والله لقدعلمت الخ. ﴿قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ﴾ فاء دعطف دپاره ده معطوف عليه مقدردې تقديردعبارت داسې دې اتعلمون ذلك فتعبدون من دون الله الخ.

﴿أُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ﴾اف پدې سره مقصود اظهاردنفرت دې. اوداپه اصل کښې هغه صوت او اواز وی چه دګنده اوبدبودارڅيزکتلوپه وخت کښې استعماليږي. بيااسم فعل اوګرځيدلوپه معنی دأتضجر سره،لام دپاره دبيان متافف له دې يعني لام سره بيان دهغه څيزدې چه دهغه دوجې نه تاافف اوضجر راغليدې چه هغه ماسيوا دالله ﷻ نه دنورو څيزونوعبادت کول دې.

قَالُوا حَرِّقُوهُ وَانصُرُوا آلِهَتَكُمْ إِن كُنتُمْ فَاعِلِينَ ﴿۶۸﴾ قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا
دوئ اووئيل اوسيزئ ده لره اوبدله واخلئ دمعبودانوکچری تاسوڅه کونکي يئ،اووئيل مونږ.ای اوره!يخ شه
وَسَلَامًا عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ ﴿۶۹﴾ وَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَخْسَرِينَ ﴿۷۰﴾
اوارام،برابرحال،په ابراهيم ؑ باندې،اوکوشش اوکړودوئ دابراهيم ؑ سره دبدو(سيزولو)نواوګرځول مونږدوئ تاوان والا

﴿قَالُوا حَرِّقُوهُ﴾ داهل باطلوطيره داوی چه ددلائلوپه ميدان کښې دناکامئ نه پس دظلم اوجبر اوتشدد لاره اختياره وی، نودوئ هم په ابراهيم ؑ باندې ظلم کولو دپاره مشوره اوکړه، نوچا اوئيل چه دې قتل کړئ اوچااوئيل چه اوئې اوسوزوئ لکه په سورة العنکبوت ايت نمبر(۲۴) کښې دې،خوآخرکارفيصله دحضرت ابراهيم ؑ دسوزولو اوشوه.

﴿وَانصُرُوا آلِهَتَكُمْ﴾ مقصدداديې چه دخپلوخدايانو انتقام اوبدله واخلئ.ان كنتم فاعلين يعني که تاسوبدله اخستونکی ئې نوابراهيم ؑ اوسوزوئ، اودامشوره ورکوونکی دکرد قبيلې يوکس وو چه نوم ئې مختلف الفاظو سره ذکرشويدې، چاهينون ذکرکړيدې چاهيزرذکرکړيدې،حضرت ابن عمر ؓ نه روايت دې چه الله ﷻ داسړی په زمکه کښې دننه(خسف)کړيدې اوترقيامت پورې په ښکته روان دې.

﴿قُلْنَا يٰنَارُ كُونِي﴾نوهرکله چه دَابراهیمعليه السلام دَسوزولواتفاقی فیصله اوشوه نوداور بلولو دَپاره دَلرګوراجمع کولوحکم اوکړې شو،یوی میاشتی یاڅلوبینت ورځوپوری لرګی راجمع کړې شو، اوټولوخلکودَثواب په امیدپه ډیرشوق اومحبت سره لرګی راجمعه کولو،حتی چه حاجت مندوخلکوبه دَحاجت پوره کیدلودَپاره دې اورته دَلرګوراوړلونذرمنلو، چه څمافلانی حاجت پوره شي نوڅه به دومره مقدارکښی لرګی راوړم، مریضانوبه دَصحت دَپاره نذردَلرګوراوړلومنلو، وصیتونه به کیدلوچه زمونږ دَمرګ نه پس دومره لرګی دې راوړی شي. اوپدی دوران کښی حضرت ابراهیمعليه السلام په یوکورکښی قیدووااودَقیدپه وخت کښی حضرت ابراهیمعليه السلام به دَدې الفاظو وردکولو: لااله الاانت سبحٰنك رب العلمين لك الحمدولك الملك لاشريك لك(قرطبی).

نوکله چه ښه ډیرلرګی راجمع کړې شو نودَاور بلولوحکم اوشو یوی هفتی پوری اوربل کړې شو اوداسی زبردست اوربل شو چه دَهغی دَپاسه به مرغئ نشوه الوتلی، نودوئ ته پریشانی داراغله چه ابراهیمعليه السلام څرنګه اورته اوغورځوو، نوابلیس ورته مشوره دَمنجنیق ورکړه اوپه روایت دَبخاری کښی دي چه حضرت ابراهیمعليه السلام پدی وخت کښی دَ حسبی الله ونعم الوكيل وردکولو نوچه کله حضرت ابراهیمعليه السلام اورته غورزولی کیدلونوقمیص تنه اوباسلی شو اوځنی مفسرینولیکلي دي چه حضرت ابراهیمعليه السلام ته په دې وخت کښی حضرت جبرئیلعليه السلام راغی اودَخپل امداد پیش کش ئی اوکړو حضرت ابراهیمعليه السلام ورته اوفرمائیلوکه ته دَخپل طرف نه راغلی ئی نوستاضرورت نیشته نوحضرت جبرئیلعليه السلام ورته اوئیلوچه ته دَاللهﷻ نه سوال اوکړه نوهغه به ماته حکم اوکړې نوڅه به ستاامدادته راشم حضرت ابراهیمعليه السلام ورته اوفرمائیلوچه: حسبی من سؤالی،علمه بحالی و یعنی دَاللهﷻ علم څماپه حالت باندي شته دې نوماته دَسوال کولوضرورت نیشته پدی واقعی باندي علامه ابن تیمیهرحمه الله اونورو اهل علموسخت ردکړیدي چه دادَاسرائیلیات دکعب احبارنه ده اوموضوعی واقعه ده ځکه چه دَنصوصوسره متعارض ده ځکه چه دعا یواهم ترین عبادت دي نوحضرت ابراهیمعليه السلام به دَعبادت نه څرنګه انکارکولی شو؟ لیکن حضرت والد صاحب نورالله مرقده وبردمضجعه، یوه توجیه داسی کړیده چه په هغی کښی دَواقعی دَنصوصو سره تعارض نه راځی هغه فرمائی چه چونکه دامقام اووخت دَامتحان وو، اوحضرت ابراهیمعليه السلام دَاللهﷻ اولوالعزم پیغمبرانونه وو نوهغه په داسی وخت کښی دعاغوختل دَازمائش اوامتحان سره مناسب اونه ګڼړل اواعلی درجي صبر اختیاره ول اوپه

مکمل عزیمت باندي عمل کول ئی غوره اوګڼړل لکه څرنګه چه حضرت ایوب علیه السلام ترڅوکالوپوری دَخپل صحت دَپاره دعانوه غوختلی نودغه شان حضرت ابراهیم علیه السلام هم دعااونه غوختله اودائی اوفرمائیلوچه: حسبی من سؤالی علمه بحالی(والله اعلم)

بهرحال حضرت ابراهیم علیه السلام اورته دَمنجیق په ذریعه اوغورځولی شو .نودَانس اوجن نه علاوه هرمخلوق چیغی کړې اودَخفګان اظهارئی اوکړو سیوا دکربوړی نه(ګرګټ)، چه هغه اورته پوکی ورکولواونورئی تیزه ولو ،په بخاری شریف کښ دَحضرت ام شریك رضی الله عنها نه روایت دې فرمائی چه: انّ رسول الله ﷺ امربقتل الاوزاغ وقال کان ینفخ علی ابراهیم علیه السلام (بخاری کتاب الانبیاء).

اوپه مسلم شریف کښ دَحضرت ابوهریرة رضی الله عنه نه منقول دې چه نبی علیه السلام ارشاد اوفرمائیلو چاچه په اول ګزارسره کربوړی مړکړو نوهغه ته بل سل(۱۰۰) نیکیانی میلاویږی اوچاچه په دویم ګزارسره مړکړو نوهغه ته به دَدینه کمی نیکیانی میلاویږی اوپه بل روایت کښ دې چه په اول ګزارمړکولواجردَنصف صاع صدقی برابردې اوحضرت والدصاحب(نورالله مرقده وبرد مضجعه) به فرمائیل چه دکربوړی په پوکی سره اورنه زیاتیدلوخوچونکه نیت ئی خراب وو نودَخراب نیت دَوجی نه پوره نسل ئی ملعون اوګرځیدلو.

هرکله چه ابراهیم علیه السلام اورته اوغورځولی شونو الله جل جلاله دَطرف نه اورته حکم اوشوچه ﴿کُونِی بَرْدًا ﴾نواوریخ شواو﴿وَسَلٰمًا﴾ځکه اوئیلی شو چه دَډیریخوالی دَوجی نه ابراهیم علیه السلام ته تکلیف اونه رسی، حضرت علی رضی الله عنه نه مروی دې کچرته ﴿﴾وَسَلٰمًانوی وئیلی شوی نوابراهیم علیه السلام به دَیخنئ نه هلاك شوی وو،او﴿عَلٰٓی اِبْرٰهِیْمَ ﴾ځکه اوئیلی شوچه په نورخلکوباندي یخ نشي اوابراهیم علیه السلام په اورکښ اوه(۷)ورځی وو، اوردَرسیانونه علاوه کوموسره چه ابراهیم علیه السلام تړلی شوی وو هغی سوزولونه علاوه نورئی دَابراهیم علیه السلام دَبدن نه هیڅ شي هم نووسوزولی. دَالله جل جلاله دَطرف نه دَجنت میوی اواوبه به ورته میلاویدې اوګیرچاپیره تول اورکښ ورته الله جل جلاله سره سره ګلان پیدا کړی وو.

قرطبی رحمه الله وغیره مفسرینونقل کړیدي چه دَحضرت ابراهیم علیه السلام نه یوه ورځ تپوس اوشو چه ستاپه ژوندکښ خائسته وخت کوم یوراغلیدې هغه ورته اوفرمائیلوچه هغه ورځی دیری

خائسته وی چه څه په اورکښ ووم، اوتاریخي روایاتوکښ دي چه دَحضرت ابراهیم‌ عليه السلام عمرپه دې وخت کښ شپاړلس کاله وو، اوځنی فرمائی چه شپږويشت کاله وو

﴿فَجَعَلْنَٰهُمُ ٱلْأَخْسَرِينَ﴾ یعنی مال اووخت ئی خرچ کړو نوهغه ټول ضائع اوبربادشو. اودوئ په ډیرغرور اوتکبرسره دامنصوبه جوړه کړې وه اوپه تکبرسره راجمع شوی وو نوالله تعالیٰ ذلیل کړل نودَدې وجه نه په سورة الصافات کښ الاسفلین وئیلی شوید ي

فائده نمبر۱: دَحضرت ابراهیم‌ عليه السلام په شان واقعه دَامت محمدیه ﷺ دَیوعالم حضرت ابومسلم الخولانی رحمه الله سره هم راغلی وه چه اسودعنسی ملعون دَنبوت دعوی اوکړه نودې ئی رااوغوختلواوورته ئی اوئیلو چه ته دَدې ګواهی ورکوی چه څه دَالله تعالیٰ رسول یم. حضرت ابومسلم ورته اوفرمائیلوچه څه ستاخبره نه آورم، نودې ملعون ورته بیااوئیل چه آیاته دَدې ګواهی ورکوی چه محمد ﷺ دَالله تعالیٰ رسول دې. نوحضرت ابومسلم رحمه الله ورته اوفرمائیلو هاؤڅه دَدې اقرارکووم نوهغه ملعون په اورکښ اوغورځولواوردَحضرت ابومسلم بدن هیڅ قسم تکلیف نه اورسولوښه په سکون اواطمینان باندې څه وخت تیریدلونه پس دَاوړنه اووتلو اومدینی منوری ته چه راغی نورسول الله ﷺ وفات شوی وو، حضرت ابوبکر رضی الله عنه اوحضرت عمر رضی الله عنه دَهغه ډیرعزت اواکرام اوکړو حضرت عمر رضی الله عنه دده سره ملاقات نه پس اوفرمائیلو:

الحمدلله الذی لم یمتنی حق اراني من امة محمد ﷺ من فُعل به کمافُعل بابراهیم عليه السلام خلیل الله.

وَنَجَّيْنَٰهُ	وَلُوطًا	إِلَى	ٱلْأَرْضِ	ٱلَّتِى	بَٰرَكْنَا
اوبچ مواوویستلوده لره اولوط علیه السلام اوورته مواووئیل هجرت اوکړئ هغه زمکی ته چه برکات ایخی دي مونږ					
فِيهَا لِلْعَٰلَمِينَ ۝ وَوَهَبْنَا لَهُۥٓ إِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ نَافِلَةً وَكُلًّا جَعَلْنَا صَٰلِحِينَ ۝					
په هغې کښ لپاره دَټولوخلقو.اوورکړومونږده ته اسحاق اویعقوب زیاتی په سوال.اودا ټول ګرځولی وو مونږ نیکان					
وَجَعَلْنَٰهُمْ	أَئِمَّةً	يَهْدُونَ	بِأَمْرِنَا	وَأَوْحَيْنَآ	إِلَيْهِمْ
اواوګرځول مونږدوئ امامان دَدین لارښودنه به ئې کوله خلکوته زمونږ به حکم سره اووحی کړې وه مونږدوئ ته					

فِعْلَ الْخَيْرٰتِ	وَاِقَامَ الصَّلٰوةِ	وَاِيْتَآءَ الزَّكٰوةِ ۚ	وَكَانُوْا	لَنَا	عٰبِدِيْنَ ﴿٧٣﴾
دنيك كارونوكولو.اوپابندي	كولودمونځ.اودوركولودزكوة.اودوئ	صرف	زمونږعبادت	كونكى	وو

﴿وَنَجَّيْنٰهُ وَلُوْطًا﴾ يعني ابراهيم عليه السلام اولوط عليه السلام ته نجات وركوونكى مونږه وو، لوط عليه السلام دَ حضرت ابراهيم عليه السلام وراره وو هاران خوئ وو، اودوئ درى(۳) وروڼه وو هاران ناخور اوابراهيم عليه السلام، لوط عليه السلام دَهاران خوى وو، اوهاران دوه(۲)وو يودَابراهيم عليه السلام تره وو، چه دَحضرت ساره رضي الله عنها پلاروو، اودويم دَلوط عليه السلام پلاروو چه دَابراهيم عليه السلام ورور وو ﴿إِلَى الْأَرْضِ الَّتِي بٰرَكْنَا﴾ ددينه مراد ملك شام دي، حضرت ابراهيم عليه السلام دَلوط عليه السلام اودساره رضي الله عنها سره دعراق نه هجرت اوكړو نواول حران ته راغلو، څه وخت ئى هلته تيركړوبيامصرته راغلو اوبياڅه وخت ورستوابراهيم عليه السلام شام ته راغى اولوط عليه السلام سدوم كښ پاتى شو اوشام ته بركت ولازمكه څكه وئيلى شويدې چه پديكښ الله تعالى دينى اودنيوى بركتونه ايخيدې، مسكن دَانبياء كرامو عليهم السلام دې فصلونه اوميوى پكښ هم په كثرت سره دې،آب وهوا ئى صحت افزاده ده.

﴿وَوَهَبْنَا لَهٗٓ إِسْحٰقَ﴾ يعني حضرت ابراهيم عليه السلام دَبچى دَپاره دعا اوكړه چه:ربّ هب لى من الصّٰلحين نوالله تعالى فرمائى دعاقبولوونكى اوولد وركوونكى مونږه وو، دَبل چااختيارپكښ نوو﴿نَافِلَةً﴾ داپه اصل كښ وئيلى كيږى زياتى شي ته نفل مونځ ته هم څكه نفل وئيلى كيږى چه په فرضوباندي زائددې نودې منصوب دې بناء په دې چه حال دې دَ﴿وَيَعْقُوْبَ﴾ نه نومطلب داشو چه يعقوب عليه السلام زائدوو په سوال باندي يعني ابراهيم عليه السلام صرف دَولدسوال كړې وو اوالله تعالى په ولدباندي زائدولد الولد(نسى)هم وركړو، اويا﴿نَافِلَةً﴾ منصوب دې په دې چه دې مفعول مطلق دې من غيرلفظه وهبنا دَپاره.

﴿وَجَعَلْنٰهُمْ أَئِمَّةً﴾ضمير منصوب راجع دې حضرت ابراهيم عليه السلام ،لوط عليه السلام ،اسحاق عليه السلام اويعقوب عليه السلام ته، اوائمة جمع ده امام ده چه په اصل كښ پيشوا اومقتدي ته وئيلى كيږى دلته نته هم يادامعنىٰ مراد ده اوياتنه مراد نبوت دې او اولى معنىٰ ته ترجيح وركړيده رازى رحمه الله.

﴿يَهۡدُونَ بِأَمۡرِنَا﴾ مراد تنه دعوت ورکول دي خلکو ته اوبامرنا نه مراد دادي چه دعوت اوتبليغ داامر دَالله تعالیٰ دي اوپدی سره هريو کس مکلف دي خواه که هغه نبي وي ياولي وي اوياعام مؤمن وي اوياامرنا نه مراد اذن اوتوفيق دَالله تعالیٰ دي، اوپديکښ دليل دي پدی چه هرکارپه ارادي دَالله تعالیٰ سره کيږي.

﴿وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡهِمۡ﴾ هرکله چه انسان کښ يوقوت علمي اوبل قوت عملي وي اوپه انبياء کرام عليهم السلام کښ دادواړه قوتونه په درجې دکمال کښ موجودوي، نوپه﴿وَجَعَلۡنَٰهُمۡ أَئِمَّةٗ﴾سره اشاره اوشوه کمال دَقوت علمي ته اوپه﴿وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡهِمۡ﴾سره اشاره اوشوه کمال دَقوة عملي ته اومراد په فعل الخيرات سره ټول اعمال صالحه دي.

﴿وَإِقَامَ ٱلصَّلَوٰةِ﴾ دا تخصيص بعدالتعميم دي دپاره دَاهتمام شان، اوعلامه زمخشری فرمائی چه ﴿فِعۡلَ ٱلۡخَيۡرَٰتِ وَإِقَامَ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءَ ٱلزَّكَوٰةِ﴾ دا مصدرمبني للمفعول دي، يعني په اصل کښ افعال مجهول وو﴿فِعۡلَ ٱلۡخَيۡرَٰتِ﴾په اصل کښ ان تفعل الخيرات وو،بيافعل حذف کړې شو، اودَهغی په ځائ مصدرمجهول راوړی شويعني فعلا اوبيائی اضافت اوشو خيرات وغيره ته نوفعل الخيرات تنه جوړشو، اوصاحب دَبحردَزمخشری دَدې تکلفاتوجه دابيان کړيده چه داافعال مذکوره هرکله خاص نوو صرف په موحیٰ اليهم(انبياء کرامو)پوری،بلکه امتونه هم ورسره شريك وو په ادا ددې امورو کښ، نوکچرته فعل معلوم مصادرمعلوم اومصدرمبني للفاعل شي نودامصادربه مضاف شي ضمائرو دَموحیٰ اليهم ته نوداسی به شي فعلهم الخيرات،واقامتهم الصّلوة وايتائهم الزکوة، نوتخصيص دَدې افعالوصرف په موحیٰ اليهم پوری راغی اومعنیٰ به داشي مونږ وحی کړې وه دوئ ته يعني انبياء کرامو ته چه دوئ يعني داانبياء کرام دې نيك کارونه کوی،مونځ دې کوی اوزکوة دې اداکوی، اوداتخصيص باطل دې نوځکه علامه زمخشری داتکلفات اوکړو، ليکن صاحب دَبحرپه ده باندې ردکړيدې په وجوه ثلاثوسره(۱)دَمصدرمجهول قائل صرف اخفش دې اوجمهوردَدې قائل ندې نوداتوجيه خلاف ده دَمسلك دَجمهورونه(۲)مصدردې معلوم شي اوفاعل دې ضميردَجمعی شي چه راجع دې وی موحیٰ اليهم اوغيرموحیٰ اليهم ټولوته يعني مطلق مکلفين دې ورنه مرادشي(۳) کچرته فاعل موحیٰ اليهم شي نوبياهم تخصيص نه لازميږی

ځکه چه کله انبیاء کرام علیهم السلام ته داحکم ثابت شو، نو امتونو ته په طریق اولی سره ثابت دې، نو لهذا دې تکلفاتو ته ضرورت نیشته دې.

علامه خفاجی رحمه الله یو بله توجیه کړیده صاحب دروح المعانی هغې ته غوره وئیلی دې هغه فرمائی چه داټول مصادرپه معنٰی دامرسره دې لکه ضرب الرقاب نوفعل الخیرات الخ په معنٰی د افعلوا الخیرات، اقیموا الصلوٰة الخ سره دې ځکه چه متعلق به دایحاء قول وی، اوقول امروی ځکه دامرپه تعریف کښې قول راغلیدې یعني هوقول القائل لغیره الخ اوکچرته مصدرمعلوم یامجهول وغیره شي نو متعلق به دایحاء به افعال اوګرځی چه دا خلاف تقرر ده.

﴿وَإِقَامَ ٱلصَّلَوٰةِ﴾ اقام په اصل کښې اقوام وو، حرکت د واو ماقبل(ق) ته نقل کړې شو او واو په الف سره بدل شو التقاء ساکنین دوجی نه یو الف حذف کړې شو اوحذف دالف نه ورستودې په عوض کښې تاء راوړی شي اوداتاء کله کله حذف کیږی نود سیبویه په مسلك داحذف مطلقا جائزدې اومسلك دفراء دادې چه حذف ددې تاء مطلقاندې جائزترڅوچه ددې عوض کښې قائمقام نوی راغلی نودلته تاء ځکه حذف شویده چه اضافت ددې قائمقام راغلیدې، لیکن مسلك داسیبویه غوره دې اوحذف دتاء داضافت دوجی نه، ندې بلکه مشاکلةً شویدې دفعل الخیرات اوایتاء الزکوٰة سره، نودسیبویه په مسلك اقامة الصلوٰة، وئیل جائزدې یعني جمع په مابین داضافة اوتاء کښې جائزده اودفراء په مسلك اقامة الصلوٰة، وئیل جائزندې ځکه چه لازمیږی جمع په مابین دعوض اومعوض منه کښې اوداجائزندې﴿وَكَانُوا لَنَا عَـٰبِدِينَ﴾ پدیکښې اشاره ده استقامت ته په عبادت باندې.

وَلُوطًا ءَاتَيْنَـٰهُ حُكْمًا وَعِلْمًا وَنَجَّيْنَـٰهُ مِنَ ٱلْقَرْيَةِ ٱلَّتِى كَانَت
اولوط علیه السلام چه ورکړې وومونږه ده ته نبوت اوپوهه ددین اونجات ورکړې وو مونږه ده ته دهغه کلی والونه
تَّعْمَلُ ٱلْخَبَـٰٓئِثَ ۗ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمَ سَوْءٍ فَـٰسِقِينَ ﴿٧٤﴾ وَأَدْخَلْنَـٰهُ فِى رَحْمَتِنَآ
چه کول به هغوئ پلیت کارونه، بیشکه دوئ وؤقوم دبدئ، نافرمانه اوداخل کړومونږه لره په خاص رحمت خپل کښې،
إِنَّهُۥ مِنَ ٱلصَّـٰلِحِينَ ﴿٧٥﴾
بیشکه وؤدې دنیکانونه.

﴿وَلُوطًا ءَاتَيْنَهُ حُكْمًا ﴾دادريم دليل نقلي تفصيلي ذكركيږي دلوط ﷺ نه چه هغه هم په نبوت اوعلم اوپه رحمت اونجات کښ الله ﷻ ته محتاجه وو او﴿وَلُوطًا﴾منصوب دي په فعل مقدرسره اودادماضمرعلى شريطة التفسير دقبيلى نه دي.﴿حُكْمًا﴾مرادتنه نبوت دي﴿وَعِلْمًا﴾يعني هغه علم چه دانبياء كرامو دشان سره مناسب وي

﴿مِنَ ٱلْقَرْيَةِ ٱلَّتِي كَانَت ﴾مراد ددې قريې نه سدوم دي اودحضرت لوط ﷺ دقوم علاقه په اوه (۷) لويو شهرونو باندي مشتمله وه خودلته دټولونه تعبيرصرف په يوى قريې سره اوشو .يعني مفرد ذكراوشو اوجمع قرى اونوئيلى شوځكه چه داټول قوم په دې يوفحش كارباندي متفق وو ، نوددوئ اجتماع په فحش په منزله دیوى قرئى دخلكوپه شان حساب كړې شوه نوځكه لفظ دمفرد استعمال كړې شو ،او﴿ٱلْخَبَٰٓئِثَ ﴾جمع د خبيث ده اوخبيث هغى ته وئيلى كيږى چه فطرت سليمه ته نفرت كوى اودلته تنه مراد ياصرف بدفعلى ده دنارينوسره اوهركله چه داعمل په شناعت اوقباحت كښي دډيروبدعملونوپه شان وو اومستلزم وو ديرجرمونولره نوځكه تنه تعبيرپه جمعى سره اوشولو، اوياجمع په اعتباردتعدد دفاعل سره ده يعني ددې بدعمل كوونكى ډيروو، اوبعض فرمائى چه جمع حقيقةً ده اودلوط ﷺ په قوم كښ متعدد بداعمال وو،لكه حضرت حسن بصرى رحمه الله نه مرسلاً روايت دي چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلوچه لس بدخصلتونه په قوم لوط كښ وو چه دهغى دوجى نه الله ﷻ دوئ هلاك كړل چه په هغى كښ (۱)بدفعلى كول دنارينوسره(۲)شراب څكل(۳)لوتى اوكانړى ويشتل(۴)دهولونه وهل(۵)شپيلئ وهل(۶)كونترى لوبول(۷)ريشمى لباس اغوستل(۸)تالى وهل(پرپيش كول)(۹)ږيرى خرئيل(۱۰)بريتونه پريخول اوځنى رواياتو كښ شرك اوكفرذكرهم پكښ راغليدي(ابن كثير، روح بحواله ابن عساكر).

فائده: مفسرين فرمائى چه دنارينوسره بدفعلى كولوابتداء دقوم لوط ﷺ نه شوى وه اودغه شان دګيرى خرئيلوابتداء هم قوم لوط كړې وه په مشورى دشيطان سره اوباعث پرى داوو چه دوئ به په ماشوموالى كښ بدفعلئ باندي عادت شو اوچه كله به غټ شو ږيرى به ئى راغلى نوبيابه چاتوجه نه وركوله، نوشيطان ورته مشوره وركړه چه ږيرى خرئيى نوتاسوبه هغه شان هلكان ښكارئ اوتوجه به درته ميلاويږى نودوئ ږيرى خرئيل شروع كړل. حضرت والد صاحب (نورالله مرقده وبرد مضجعه) به فرمائيلوچه علماؤنكته بيان كړيده چه خنزيرځكه نجس العين دي

چه دې ديوث دې، كه دَده دَمؤنث سره بل څه شي جماع كوي نودې پرې نه خفه كيږي اوغيرت پې نه كوي خوليكن كچرته ده سره څوك بدفعلي كوي نودې ئې ځان ته نه پريږدي، نوهغه انسان چه دَهغه سره بدفعلي كيږي اودې په خپل ځان باندې نه خفه كيږي نودَخنزير نه هم بدتردې.

﴿إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمَ سَوْءٍ﴾دا په منزله دَتعليل دې دَ﴿تَعْمَلُ الْخَبَائِثَ﴾دَپاره﴿وَأَدْخَلْنَاهُ فِي رَحْمَتِنَا﴾ پديكښې اشاره ده هلاكت ته دَقوم اونجات ته دَلوط عليه السلام څكه چه هلاكت دَدشمن لوئ رحمت دې﴿مِنَ الصَّالِحِينَ﴾دا تعليل دې دَ﴿وَأَدْخَلْنَاهُ فِي رَحْمَتِنَا﴾دَپاره اودامقابل دَ ﴿إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمَ سَوْءٍ﴾كښې دې.

فائده: دَلوط عليه السلام دَقوم علاقه چه په اوه(۷)لويو شهرونو باندې مشتمله وه مشهوره داده چه داټوله علاقه الله جل جلاله پرمخې راكوزاره كړې وه اودَدې اهل ئې هلاك كړې وو. ليكن بعض مفسرين فرمائي چه يوشهرچه دهغې نوم زغروو هغه الله جل جلاله دَعذاب نه محفوظ ساتلې وو څكه چه پديكښې لوط عليه السلام اودهغه مؤمنان ملگرې پاتې كيدلو.

وَنُوحًا	إِذْ	نَادَىٰ	مِن	قَبْلُ	فَاسْتَجَبْنَا	لَهُ	فَنَجَّيْنَاهُ
او(ياد كړه) نوح عليه السلام چه كله ده فرياد اوكړو(رب ته) دَدې نه مخكښې نوقبوله كړه مونږ دعا دَهغه پس بچ كړو مونږ دې							
وَأَهْلَهُ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ ﴿٧٦﴾ وَنَصَرْنَاهُ مِنَ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا							
اوكورنئ دَده دَغم لوئ نه. اوبدله واخستله مونږ دَده دَهغه قوم نه چه دروغژن بې گڼړل اياتونه زمونږ							
إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمَ سَوْءٍ فَأَغْرَقْنَاهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٧٧﴾							
بيشكه دوئ وو قوم دَبدئ پس غرق كړل مونږ دوئ ټول په يوځائ							

﴿وَنُوحًا إِذْ نَادَىٰ﴾دا اځلورم دليل نقلي تفصيلي ذكركيږي دَنوح عليه السلام نه چه دَتكليف په وخت كښې نوح عليه السلام مونږته بلنه كړې وه اودعاء ئې مونږ قبوله كړې وه اودَتكليف نه ورته نجات مونږ وركړې وو. دَانبياء كرامو عليهم السلام واقعات چه دليل نقلي ذكركيږي په توحيدباندې نواستدلال دهغونه په درې طريقوسره وي(۱)كله كله دَانبياء كرامو تقريراوبيان ذكركړې شي اودهغې نه استدلال په توحيداوكړې شي لكه په نوروسورتونوكښې دې، يقوم اعبدوا الله الخ (۲)كله كله

استدلال په عمل دَنبي سره اوشي چه دَتکليف په وخت کښ نبي کوم دربارته تلى وو څه عمل ئې کړې وو چاته ئې اواز کړې وو، لکه پدې سورت کښ دي چه اذ ناد ' ربّه الخ(۳)نفس تکاليف اوپريشانئ دَهغو ذکرشي دَپاره دَنفي دَالوهيت، چه دوئ الهه نووځکه چه پريشانئ اوتکاليف پرې راغلى وو، نودلته استدلال په دې دويمې طريقې سره دې، او﴿وَنُوحًا﴾منصوب دې په فعل مقدرسره چه اذکردې اودَ﴿نَادَىٰ﴾نه مراد قوم ته بددعااوخيرى کول دې چه ذکرئې په سورة النوح ايت نمبر۲۲ اوسورة القمرايت نمبر ۱۰ کښ دې.

﴿مِنَ ٱلۡكَرۡبِ ٱلۡعَظِيمِ﴾ددينه مراد تکليفونه اوتکذيب دَقوم دې اوياتنه مراد نجات دې دَعذاب دَغرق نه، ﴿وَنَصَرۡنَٰهُ﴾مراد دَنصرت نه انتصاراوانتقام دې، ځکه چه نصرت کله متعدي شي په من سره نومراد تنه دَدشمن نه بدله اغستل وى.

﴿إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَوۡمَ سَوۡءٖ﴾داتعليل دې دَماقبل دَپاره اومراد په سوءٍ سره هغه سخت سخت مظالم دي چه دوئ به په نوح عليه السلام باندي کولو، اجمعين تاکيددې اوپدى سره دفع دَتوهم اوشوله چه غټ واړه، نارينه اوښځې ټول الله تعالى هلاک کړل.

وَدَاوُۥدَ وَسُلَيۡمَٰنَ إِذۡ يَحۡكُمَانِ فِي ٱلۡحَرۡثِ إِذۡ نَفَشَتۡ فِيهِ
اوريادکړئ داود عليه السلام اوسليمان عليه السلام کله چه دوئ فيصله کوله په باره دَفصل کښ چه دَشپې خريدلى وي په هغې کښ
غَنَمُ ٱلۡقَوۡمِ وَكُنَّا لِحُكۡمِهِمۡ شَٰهِدِينَ ۝٧٨
ګډې، بيزې دَيوقوم او وو مونږ په فيصلې دَهغوئ باندې خبرلرونکي

﴿وَدَاوُۥدَ وَسُلَيۡمَٰنَ﴾داپنځم دليل نقلى ذکرکيږى چه داؤد عليه السلام اوسليمان عليه السلام سره چه کوم علم، حکمت اوفهم وو هغه زمونږ عطاء کړده وو اومونږ ته محتاجه وو اودَهغوئ فيصلى به زمونږ په نګرانئ کښ وى.

﴿إِذۡ نَفَشَتۡ فِيهِ﴾نفش وئيلى کيږى څريدلودَځارووته په وخت دَشپيلى کښ بغيردَرائ نه﴿وَكُنَّا لِحُكۡمِهِمۡ﴾ هم ضميرراجع دې داؤد عليه السلام اوسليمان عليه السلام ته اوضميردَجمعى تعظيما

دي اوبعض فرمائي چه چونکه دَجمعی لغوی اطلاق په مافوق الواحد باندي کیږی نوځکه ضمیردَجمعی راوړی شویعني تثنیه هم جمع ده.

تفصیلی واقعه: امام بغوی رحمه الله، طبری رحمه الله وغیره دَحضرت ابن عباس رضي الله عنه اوابن مسعود رضي الله عنه نه داواقعه داسی نقل کړیده چه حضرت داؤد عليه السلام ته دوه (۲) کسان راغلوچه یودګډوبیزو مالك وو اوبل دَپټی مالك وو ګډو دَمالك نوم آلوخا اوپټی دَمالك نوم ایلیاوو، دَپټی مالك په ګډو، په مالك باندي دعویٰ اوکړه چه دَده مال دَشپی په وخت کښ ځماپټی ته راغلیدي اوفصل ئی خوړلیدي حضرت داؤد عليه السلام دګډودَمالك نه تپوس اوکړو، نوهغه هم اقراراوکړو اوکله چه دَنقصان اندازه اولګوله نونقصان قیمت دومره وو څومره چه دَهغه ګډی. بیزی وی. نوحضرت داود عليه السلام فیصله اوکړه چه داګډی، بیزی دي دَفصل مالك ته حواله شي، نودادواړه کسان چه دَحضرت داؤد عليه السلام دَدربارنه اوتلونوپه دروازه کښ حضرت سلیمان عليه السلام ناست وو. پدی وخت کښ دَسلیمان عليه السلام عمریوولس (۱۱) کاله وو، نوهغه دَدي فریقین نه تپوس اوکړوچه څه فیصله اوشوه ستاسودَمسئلی، نوهغوئ ورته ټوله فیصله واوروله نوحضرت سلیمان عليه السلام ورته اوفرمائیلوکچرته داتنازعه ماته حواله کړي شوی وی نومابه داسی فیصله کړي وه چه دواړوفریقینو ته به پکښ فائده وه نوحضرت داؤد عليه السلام ته چه ددي خبری پته اولګیدله نوسلیمان عليه السلام ئی رااوغوختلواودهغه دَفیصلی تپوس ئی تنه اوکړو چه تابه څرنګه فیصله کوله؟ حضرت سلیمان عليه السلام ورته اوفرمائیلوچه کچرته داسی فیصله اوشي چه دَفصل مالك ته ګډی، بیزی ورکړي شي. اودئ دي دَهغودَپیواودَوړئ وغیره نه دي فائده اوچتوی اوپټی دي دګډو، بیزومالك ته حواله کړي شي اوهغه دي پکښ کاروندہ اوکړی نوچه کله فصل هغی حالت ته راشي چه په کوم حالت کښ ګډو، بیزوخوړلی وو نوبیادي پټی خپل مالك ته اوګډی، بیزی دي خپل مالك ته حواله کړي شي، حضرت داؤد عليه السلام ته دافیصله ډیرخوښه شوه اوفریقین ئی رااوغوختلواودَهغوئ په رضامندئ سره دویمه فیصله ئی نافذه کړه اواوله فیصله ئی منسوخه کړه.

فائده نمبر۱: پدی مقام کښ مفسرینواوخاص طورقرطبی رحمه الله ډیرمفصل بحث کړیدي په باری دَاجتهاد اودَقضاء دَقاضی کښ، خلاصه داده چه دلته یولوئ اعتراض واردیږی چه دَحضرت داؤد عليه السلام دَقضا اوفیصلی نه ورستوحضرت سلیمان عليه السلام څرنګه اعتراض اوکړو؟ اودغه شان یابه فیصله دَداؤد عليه السلام صحیح وه نودَحضرت سلیمان عليه السلام ته دَخطاء نسبت اوشو

اوبابه دَحضرت سليمان عليه السلام فيصله صحيح وه نودَداؤد عليه السلام فيصلى تخطيه اوشوه؟ اوحالانكه انبياء كرام دَخطاء اوغلطى نه پاك وى، نوعلماؤ دَدې متعددتوجيهات كړيدي (۱) بعض علماء فرمائى چه دادرحقيقت فتوى وه اوقضا نوه ليكن داتوجيه ضعيفه ده يودَدې وجه نه چه داؤد عليه السلام نبى وو اوفتوى دَنبى داهم قضاء اوحكم وى، اوبل دَدې وجه نه چه ظاهردَايت هم پدې دال دي چه دامحض فتوىٰ نده بلكه حكم اوفيصله ده ځكه چه دلته الفاظ دَاذيحكمان راغليدي (۲) بعض علماء فرمائى چه حضرت داؤد عليه السلام فيصله كړې وه خونافذه كړې نوه، ليكن داتوجيه هم تسلى بخشش نده ځكه چه داتوجيه صرف دَرجوع دَپاره شوله اودَغلطئ دَدفعيى دَپاره نشوه (۳) بعض علماء فرمائى چه دَداؤد عليه السلام اودَسليمان عليه السلام دَدواړوفيصلى مبني وى په وحى باندي ليكن فيصله دَسليمان عليه السلام ناسخه اوګرزيدله دَفيصلى دداؤد عليه السلام لره ليكن داتوجيه هم كمزورى ده ځكه چه رواياتوكښ دي چه دَسليمان عليه السلام عمرپه دې وخت كښ صرف يوولس (۱۱) كاله وو، نودَدې وجه نه دَ (۴) جمهورو قول دادي چه دادواړه فيصلى مبني وى په اجتهاد باندي ليكن فيصله دَحضرت سليمان عليه السلام اقرب الى الصواب وه اودَ دواړو فريقينو منفعت په كښ وو ځكه داؤد عليه السلام دَسليمان عليه السلام فيصله نافذه كړه اومجتهدپه باره كښ خبره داراغليده چه المجتهدقديخطى وقديصيب چه مجتهد كله په خپل اجتهادكښ صحيح وى اوكله خطاء وى، اوفرق په مينځ دَعام مجتهد اونبى كښ دادي چه انبياء كرام عليهم السلام ته په خطاء اجتهادي باندي فورا تنبيه كيږى اوپه خطاء باندي برقرارنه پاتى كيږى (۵) اوصاحب دَمدارك فرمائى چه دلته دَخطاء اوصحيح خبره نيشته دي بلكه دَحضرت داود عليه السلام فيصله مبني وه په قاعدې دَشرع باندي اوضابطه دَشرع وه اودَسليمان عليه السلام فيصله مصالحت باندي مبني وه اوصلح بهترين وه اوقرآن كښ هم صلح ته خيرونيلى شويدي اودَدې وجى نه حضرت عمر رضي الله عنه قاضيانوته هدايات جارى كړې وو چه كله تاسوته يوه مقدمه راشي نوتاسوفريقين په مصالحت باندي راضى كړئ اوكه مصالحت ناممكن شي نوبياخپله شرعى فيصله جارى كړئ (ملخص ازقرطبى).

فائده نمبر۲: حضرت داؤد عليه السلام دګډو، بيزو په مالك باندي ضمان اوتاوان راويستلى وو زمونږ په شريعت كښ دَدې څه حكم دي چه دَيوكس ګډى، بيزى يابل څاروى دَچافصل ته لاړو اوفصل ته ئى ورله تاوان اورسولونوپه ده باندي به ضمان وى اوكنه؟ نوپه دې كښ دَائمو اختلاف دى، جمهورو قول دادي كچرد انقصان رسول دَشپى په وخت كښ وو نومالك باندي ضمان واجب دى اوكه دَورځى په وخت كښ رسولى وو نوبياپه مالك باندي څه ضمان نيشته لكه څرنګه چه

داؤد علیه السلام فیصله کړې وه، دلیل عقلي دادې چه دَشپې په وخت کښې دَخاروو دَمالك ذمه داري ده چه خپل خاروي اوتړي اوبهرته ئې نه پرېدي ځکه چه شپه دارام دَپاره پیدا کړې شویده نوخلك پدې کښې ارام کوي اوورځې په وخت کښې دَپټي مالك ذمه داري ده چه دَخپل فصل اوپټي خیال ساتي ځکه ورځ دَمعاش اوروزګار دَپاره پیدا کړې شویده، نودَې وجه نه دَشپې په تاوان باندې ضمان شته دې اودَورځې په نقصان باندې نیشته، اودلیل نقلي ئې هغه روایت دې چه امام مالك رحمه الله په خپل موطاء کښې نقل کړیدې اوطبري رحمه الله وغیره هم نقل کړیدې چه دَحضرت براء رضی الله عنه اوښه دَیوکس باغ ته دَشپې په وخت کښې داخله شوه اودهغه باغ ته ئې نقصان اورسولو نورسول الله صلی الله علیه وسلم فیصله اوفرمائیله چه: انّ علی اهل الحوائط حفظها باللیل وان ماافسدت المواشي باللیل ضامن علی اهلها(موطاء امام مالك باب القضاء فی الضواری والحریة) یعني دَشپې په وخت کښې دَپټوحفاظت ددې مالك باندې وي اودهغې باوجود کچرته یوخاروي باغ ته نقصان اورسولو نودهغې ضمان به دَخاروي په مالك باندې وي، اودَامام ابوحنیفه رحمه الله مسلك دادې چه کچرته دَخاروي سره مالك یامحافظ وو اودهغې باوجود دَچاباغ اوپټي ته ئې نقصان اورسولونوپه مالك باندې به ضمان وي اوکه مالك یامحافظ ورسره نوو نوبیاپه مالك باندې ضمان نیشته. دَشپې اوورځې اعتبارپکښې نیشته دې احنافو دلیل هغه مشهورروایت دَحضرت ابوهریرة رضی الله عنه دې چه امام بخاري اومسلم اوټولواصحابودَسنن نقل کړیدې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو چه العجماء جرحهاجبار الخ(بخاری کتاب الدیات) یعني دَخاروو نقصان قابل مؤاخذه ندې بلکه هدردې اوپدې روایت صحیحه کښې تخصیص دَشپې اودورځې نیشته دې، بلکه مطلق دې اوهرچه دې روایت دَبراء بن عازب رضی الله عنه نو(۱)یوپه هغه کښې اضطراب دې وقفارفعا او(۲)ثانیا کله دَحرام راوي اودَ حضور صلی الله علیه وسلم په مینځ کښې واسطه سعدبن محیصه اوکله محیصه ذکرکیږي او(۳) ثالثا حرام یومجهول راوي دې نولهذا سندا داحدیث دَاحنافو دَمستدل حدیث په مقابله کښې ضعیف اوقابل حجت ندې(۴)اودهغې باوجود دَجمهورومستدل حدیث کښې لفظ دَحائط راغلیدې اوحائط وئیلې کیږي هغې باغ ته چه چاریواري ورنه شوې وي نوعین ممکنه ده چه حضرت براء رضی الله عنه دې داخپله اوښه بالاراده داخله کړې وي(روح) او(۵) دَدې ټولوباوجود دَاحنافومستدل حدیث مشتمل دې په قاعدې کلیې باندې اومستدل دَجمهورو مشتمل دې په واقعی جزئیه باندې نوځکه دَاحنافوروایت ته ترجیح ده(والله اعلم).

فَفَهَّمْنٰهَا سُلَيْمٰنَ ۚ وَكُلًّا اٰتَيْنَا حُكْمًا وَّعِلْمًا ۫ وَّسَخَّرْنَا
پس پوهه وركړه مونږ ددغي فيصلي سليمان ته اوهريولره وركړې وه مونږ پيغمبري اوپوهه اوتابع كړي وو مونږ
مَعَ دَاوٗدَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ ؕ وَكُنَّا فٰعِلِيْنَ ۝ وَعَلَّمْنٰهُ صَنْعَةَ لَبُوْسٍ
دداود سره غرونه تسبيح ئي وئيله اومارغان او وو مونږ داكاركوونكي اوخودلې وو مونږ هغه ته جوړول دزغرو
لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُمْ مِّنْۢ بَاْسِكُمْ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ شٰكِرُوْنَ ۝ وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ
دپاره دستاسو چه بچ ساتي تاسو دجنګ ستاسونه. پس آياتاسو شكركوونكي يئ؟اوتابع كړې موه، سليمان لره هوا
عَاصِفَةً تَجْرِيْ بِاَمْرِهٖۤ اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا ؕ وَكُنَّا بِكُلِّ شَيْءٍ عٰلِمِيْنَ ۝
تيزه، روانه به وه په حكم دهغه سره هغه ملك ته چه بركات اچولي دي مونږ په هغي كښې او وو مونږ په هرڅيزباندې علم لرونكي
وَمِنَ الشَّيٰطِيْنِ مَنْ يَّغُوْصُوْنَ لَهٗ وَيَعْمَلُوْنَ عَمَلًا دُوْنَ ذٰلِكَ ۚ
اوتابع كړي مو وو دشيطانانو نه هغه څوك چه غوپې به ئي وهلې دهغه دپاره اوكارونه به ئي كول كارونه سيوا ددې نه
وَكُنَّا لَهُمْ حٰفِظِيْنَ ۝
اووو مونږ دوئ لره حفاظت(نګراني)كوونكي،

﴿فَفَهَّمْنٰهَا سُلَيْمٰنَ﴾ها ضميرراجع دي واقعې اوقضيې ته يعني ددې قضيې اومسئلې صحيح حل مونږه حضرت سليمان ته اوخودلو اوالله ددې فهم اوعلم سليمان ته څكه وركړو چه حضرت داؤد ته دده فضيلت څرګندشي اوپلارته چه دځوى فضيلت اوكمال ښكاره شي نو ډيرخوشحاله شي،نودحضرت داود دخوشحاله كولودپاره الله دافهم سليمان ته وركړو.

﴿وَكُلًّا ءَاتَيْنَا﴾پدې جملې سره مقصود مدحه اوصفت د داؤد اوسليمان ده چه دواړو سره علم اونبوت وو،اوپديكښې اشاره ده چه خطاء دمجتهد،عيب ندي په فيصلې اواجتهاد كښې اوګناه ګارندې، اودغه شان په حديث دمسلم كښې دي چه حضرت عمروبن العاص فرمائي چه مادرسول الله نه اوريدلې دي چه فرمائيلو: اذا حكم الحاكم فاجتهدثم

اصاب فله اجران واذاحکم فاجتهدثم اخطأ فله اجر. یعني چه کله حاکم د اجتهاد کولو نه وروسته فیصله اوکړی اودده دافیصله نفس الامرکښې هم صحیح وه اودې حق ته رسیدلی وو نو ده ته دوه ۲ اجرونه میلاویږی اوکه دې په خپلی فیصلی کښې د اجتهاد باوجود حق ته اونه رسیدلی شو نو ده ته یو اجر میلاویږی ځکه چه اجتهاد بذات خود یو عبادت دې.

﴿وَسَخَّرْنَا مَعَ دَاوُدَ ﴾ پدیکښې ذکر د خصوصی معجزاتو د داؤد علیه السلام دې. ﴿يُسَبِّحْنَ﴾ ددینه مراد تسبیح قالی یعني په لسان القال سره تسبیح کول مراد دې لکه څرنګه د رسول الله ﷺ په لاس مبارك کښې کانړو تسبیح وئیلو یا د خوراك والالقمه (نوړئ) به تسبیح وئیلو. نودغه شان حضرت داؤد علیه السلام به چه کله زبور تلاوت شروع کړو چه هغه مشتمل وو به تسبیح اوتهلیل باندي فقط نو غرونو او مارغانو به ورسره هم تسبیح شروع کړو، نو یو عظیم الشان حلقه د ذکر به اولګیده، او خومره چه حلقه د ذکرو سیع وی نو هومره ئې برکات زیات وی او حضرت داؤد علیه السلام به د دوئ په تسبیح باندي پوهیدلو.

﴿وَكُنَّا فَعِلِينَ ﴾ یعني دا د داؤد علیه السلام ذاتی تصرف نه وو بلکه زمونږ په قدرت سره داټول کارونه کیدلو ﴿وَعَلَّمْنَهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ﴾ دا د حضرت داؤد علیه السلام بله معجزه ذکر کیږی چه الله ﷻ ده ته د زغرو جوړولو طریقه خودلی وه او اوسپنه ئې ورته بغیر اور کښې د کرمولونه، نرمه کړې وه لبوس، په اصل کښې هر هغه څیزته وئیلی کیږی چه په جنګ کښې اچولی کیږی دلته تنه مراد زغری دې او د تولونه اول د زغری ایجاد حضرت داؤد علیه السلام کړې وو، اوددینه مخکښې هسی صفائح وو او مستقلی زغری اوکړئ به پکښې نوی، روح المعانی وغیره نقل کړیدې چه داؤد علیه السلام کله بادشاه شونو د شپې په وخت کښې شاهی لباس به ئې بدل کړو عام لباس ئې واچولو او خلکو نه به ئې تپوس کولو چه داود څنګه بادشاه دې نو فرشتې انسانی صورت کښې راغلی داؤد علیه السلام د هغوئ نه تپوس اوکړو چه داؤد څرنګه بادشاه دې نو ملائکو ورته اوئیلو چه داؤد علیه السلام ډیر ښه سړی دې خو چه د بیت المال نه ئې خوراك نه کولی، نو حضرت داؤد علیه السلام د الله ﷻ نه سوال اوکړو چه ده ته د خپل د لاس کسب نه رزق ورکړی نو الله ﷻ ده ته اوسپنه نرمه کړه او د زغرو جوړولو طریقه ئې ورنه اخودله نو ده به بیا زغری جوړه ولی او خرڅولی به ئې او په هغی به ئې خپله ګذاره کوله.

﴿لِتُحۡصِنَكُم﴾ لام دَپاره دَتعليل دې اوغوره خبره داده چه داعلت دې دَصنعة دپاره اودَدين معلومه شوه چه داسې صنعت اوپیشه اختياره ول چه خلق خداته پکښې فائده وی سنت دَانبياء كرامودې اوعبادت دې بشرط دَدې چه نيت صحيح وی. اوقرطبی رحمه الله فرمائی چه صنعتونو اوپيشو ته كمزوری وئيل اودَدې اختياره وو نكوخلكوته كمزوری نسبت كول جائزندې ځكه چه انبياء كرام پيشې اختياركړې وی، حضرت آدم عليه السلام زميندارى كړې وه، حضرت نوح عليه السلام تركانی كړې وه داؤد عليه السلام لوهارى،لقمان عليه السلام درزی توب، طالوت دَباغ يعني رنګسازی كړې وه.

﴿فَهَلۡ أَنتُمۡ شَٰكِرُونَ﴾استفهام په معنٰی دَامرسره دې يعني تاسودَالله تعالیٰ شكرادا كړئ چه تاسوته ئې داصنعت ميسر كړيدې.(كبير).

﴿وَلِسُلَيۡمَٰنَ ٱلرِّيحَ﴾پدی كښې دَحضرت سليمان عليه السلام معجزات ذكركيږی چه هوا ګانی اوجنات دهغه تابع وو،داؤد عليه السلام دَپاره كثيف اوسخت سخت څيزونه مسخركړې شوی وو لكه غرونه اواوسپنی شوی اوسليمان عليه السلام دَپاره لطيف اونرم نرم څيزونه مسخركړې شوی وو، اوقرطبی رحمه الله فرمائی چه كان امرأ غزاء لايقعدعن الغزو، يعنی سليمان عليه السلام ډيرلوئ مجاهد اوغازی وو اوهروخت كښې به ئې غزاګانی كولی اولری لری به دَجهاد په تكل كښې تللونو الله تعالیٰ ورته هوا مسخره كړه اوحضرت حسن بصری رحمه الله نه مروی دې،كله چې سليمان عليه السلام دَخپلوآسونو سره مشغول شو حتّی چه دَمازيګرمونځ ورنه فوت كيدلوته قريب شو نودَالله تعالیٰ دَپاره ئې غصه اوكړه نو الله تعالیٰ ورته دَهغه اسونوپه بدلی كښې هوا مسخره كړه، تفصيلی واقعه په سورة ص ايت نمبر(۳۱ تا۳۳)كښې ذكرده او﴿وَلِسُلَيۡمَٰنَ﴾عطف دې په﴿مَعَ دَاوُۥدَ﴾باندې اوهركله چه په دواړوتسخيرنوكښې فرق وو حضرت داؤد عليه السلام لره غرونه اوطيور مسخركړې شوی ووپه طريقی دَتبعيت اواقتدې سره يعني غرونواومارغانو به دَحضرت داؤد عليه السلام حكم ته انتظارنه كولوبلكه څرنګه به چه داؤد عليه السلام تسبيح شروع كړو نوهغوئ به ورسره فورا تسبيح شروع كولو، نودَې وجه نه دَداؤد عليه السلام دَمعجزاتوكښې لفظ دَ مع ذكرشوی وو،اوسليمان عليه السلام دپاره تسخيردَهوا په طريقی دَانقياد كلی سره وه اوهوا به دَده دَحكم منتظره وه چه كله به ورته

سلیمان علیه السلام حکم اوکړو اوکوم طرف ته به ئې ورته حکم اوکړو نوهغه به روانه شوه. نوددې وجه نه دَسلیمان علیه السلام دَمعجزاتو ذکرپه لفظ دَلام سره اوشولو.

﴿عَاصِفَةً ﴾دَ عصف نه دې شدید اوتیزته وئیلی کیږی.نوددې ایت نه معلومیږی چه هغه هوا چه دَسلیمان علیه السلام تخت به ئې اوچتولو ډیرتیزه وه اوپه سورة ص ایت نمبر(۳۲)کښ دَدې هوا صفت رخاء(یعني نرمه) ذکرشویدې نوداپه ظاهرکښ تعارض دې نومفسرینو تطبیق پدې طریقې سره کړیدې چه فی نفسها داهوا نرمه وه اوپه عمل کښ عاصفه یعني تیزه وه یعني داهوا نرمه وه خوچه کله به ئې دَسلیمان علیه السلام تخت اوچت کړو نوپه لږه مده کښ به ئې ډیرزیات مسافت اوکړو نوپدې اعتبارسره عاصفه وه اوبعض علماء فرمائی چه چونکه داهوا دَسلیمان دَحکم تابعه وه نوکله به دَسلیمان علیه السلام په حکم سره تیزه شوه اوکله به نرمه وه نوځرنګه به چه هغه ورته حکم کولو نوهوابه هغه وصف اختیاره ولو.

﴿إِلَى ٱلْأَرْضِ ٱلَّتِي ﴾دَدینه مراد ملك شام دې،نوسلیمان علیه السلام به دَورځې په ابتدائی حصې کښ به یوې لرې علاقې ته لاړو، اوبیابه دَورځې په اخیری حصې کښ واپس شام ته راتللو.

فائده: حافظ ابن کثیر رحمه الله په حوالې دَابن ابی حاتم سره دَحضرت سعید بن جبیر رحمه الله نه نقل کړیدې چه دَسلیمان علیه السلام تخت دَلرګونه جوړشوی وو، چه پدې باندې شپږ لاکه(۲۰۰۰۰۰) کرسئ ایخودلې شوې وې اوپدې کرسیانُ باندې به دَسلیمان علیه السلام سره قریب اهل ایمان انسانان کیناستلو اوبیابه وریسې اهل ایمان جنات کیناستلو اوبیابه حضرت سلیمان علیه السلام مارغانوته حکم اوکړو چه پدې ټول تخت باندې ګیرچاپیره سورې اوکړئ، اوبیابه داعظیم الشان مجمع هوا اوچتوله اوکوم ځائ ته به چه سلیمان علیه السلام حکم اوکړو هلته به ئې رسولو، اودې هوائی تخت به دَسحرنه ترغرمې پورې دَیوې میاشتې برابرسفرکولو، اودَغرمې نه ترمانښام پورې به ئې هم دَیوې میاشتې برابرسفرکولو،نوګویاچه په یوه ورځ کښ به ئې دَدوه(۲) میاشتوبرابرسفرکولو.

﴿وَمِنَ ٱلشَّيَـٰطِينِ ﴾دابله معجزه دَحضرت سلیمان علیه السلام ذکرکیږی، چه سرکش شیاطین الله تعالیٰ دَده تابع کړې وو اودَهغوئ نه به ئې سخت سخت کارونه اخستلولکه سمندرملغلرې راویستل اوعبادت خانې وغیره جوړول شو اوشیاطین دَجناتوهغه قسم ته وئیلی کیږی چه کافران وی، نوچونکه مسلمانان جنات خوهسې هم دَحضرت سلیمان علیه السلام تابع وو ،ځکه چه په

سليمان عليه السلام باندي ايمان راوړی وو نوذهغوئ دتسخير ضرورت نوو نودذي وجه نه دلته ذكردتسخيرصرف دشياطينو اوشولو

﴿وَيَعْمَلُونَ عَمَلًا دُونَ ذَٰلِكَ﴾ پدی کښې اشاره ده چه ددې جناتوذمه دارئ مختلفی وی اوتفصيل دهغی په سورة السباء آيت نمبر(۱۳) اوسورة ص ايت نمبر(۳۷)کښې ذکردي ﴿وَكُنَّا لَهُمْ حَافِظِينَ﴾ مقصد دادې چه حضرت سليمان عليه السلام ته تكليف اونه رسوی اودهغه دحکم خلاف اونکړی اوبعض فرمائی چه حفاظت دې دپاره وو چه دجناتو اوبياخاص طورشياطين فطرت دادې چه په ارام سره نشي کيناستلی اوسم څيز ورانه وی نوالله تعالیٰ به حفاظت کولوچه دوئ داخپل کارووران نکړی.

وَأَيُّوبَ	إِذْ	نَادَىٰ	رَبَّهُ	أَنِّي	مَسَّنِيَ	الضُّرُّ	
اوريادكړئ ايوب عليه السلام چه كله ئی فرياد كوو رب خپل ته چه بيشكه رسيدلی دې ماته تكليف(مرض)							
وَأَنتَ	أَرْحَمُ	الرَّاحِمِينَ ۝	فَاسْتَجَبْنَا	لَهُ	فَكَشَفْنَا	مَا	بِهِ
اوته زيات رحم كوونكی ئی درحم كوونكونه،پس قبوله كړه مونږ دعا دهغه پس لري كړو مونږ هغه چه پده باندې							
مِن	ضُرٍّ	وَآتَيْنَاهُ	أَهْلَهُ	وَمِثْلَهُم	مَّعَهُمْ	رَحْمَةً	مِّنْ عِندِنَا
څه تكليف(مرض)وو ، اوورکړو مونږ ده ته بال بچ(اولاد) دده اوپشان دهغوئ ورسره نور،دوجې درحمت زمونږ نه							
وَذِكْرَىٰ لِلْعَابِدِينَ ۝							
اونصيحت دبندګئ كوونكو دپاره							

﴿وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ﴾ داشپږم دليل نقلی دې په واقعی دايوب عليه السلام سره،چه ايوب عليه السلام هم دتكليف په وخت كښې بلنه الله تعالیٰ ته كړې وه اودده تكليف لری كوونكی اوده ته اولاد اومال وركوونكی الله تعالیٰ وو.

حضرت سيدنا ايوب عليه السلام درومیانونه وو .دپلار دطرف نه دحضرت اسحاق عليه السلام په نسل کښ وو اودمور دطرف نه دحضرت لوط عليه السلام په ذريت کښ وو. دحضرت ايوب عليه السلام په باره کښ چه کوم طويل اواوږدې قصې منقول دي اکثر اسرائيليات دي. ابن کثير رحمه الله وغيره چه کومه قابل اعتماد حصه ددې واقعاتو ذکرکړيده دهغې خلاصه داده چه حضرت ايوب عليه السلام ته الله تعالى ډير مال او اولاد اوښه صحت ورکړې وو ده به دالله تعالى ډيرشکرادا کولو لکه څرنګه دانبياء کرامو سنت اوعادت دي نودبعض رواياتو مطابق چه کله ملائکو دحضرت ايوب عليه السلام په عبادت باندي فخراوکړو اوده دعبادت صفت ئې بيان کړو اوشيطان واوريدلو نوشيطان داخبره اوکړه چه اى الله تعالى ايوب عليه السلام به ستاعبادت ولې نه کوى اوشکربه ولې نه اداکوى چه تاپه ده باندي دومره لوئ انعامات کړيدي نوالله تعالى دايوب عليه السلام مرتبه اومقام اظهارد پاره په ده باندې،دده دمال اولاد اوصحت په باره کښ ازمائش راوستلو، مال ئې ټول هلاك شو، اولاد ټول وفات شو اوپه ټول بدن باندي داني رااوختلې اوپه بدن کښ سيوا دژبې اود زړه نه بل داسې ځائ نوو چه روغ وى، خپلو،پردو ورسره تعلق ختم کړو اودکلی نه ئې اويستلو دحضرت ايوب عليه السلام درى کسان ډيرقريبي ملګرو هغوئ هم دايوب عليه السلام ملګرتيا پريخودله اوپه ايوب عليه السلام باندي ئې تهمت هم اولګولو، حضرت ايوب عليه السلام دکلى نه بهرڅان ته يوه جونپړه جوړه کړه اوپه هغې کښ به ئې عبادت کولو اوده سره صرف خپله بى بى وه چه نوم ئې په بعض رواياتو کښ ماضرينت ميسابن يوسف عليه السلام راغليدې اوپه بعض رواياتو کښ رحمت بنت اقراثيم بن يوسف عليه السلام ذکرشويوى، اوپه رواياتو کښ دي چه حضرت ايوب عليه السلام په زمانى دابتلاء کښ دالله تعالى عبادت نورهم زيات کړو اودائي اوفرمائيلوچه اى الله تعالى ماپه هغه حالت هم شکر ادا کړې وو چه تامانه مال اولاد راکړې وو اواوس مى پدى حالت باندي هم شکردې چه تاځمانه مال او اولاد واغستلو اواوس ځما اوستاپه مينځ کښ حائل اورکاوټ هيڅ څيزنيشته دې، اودپيغمبرانه صبر اواستقامت اودالوالعزمئ حالت ئې داوو چه يوه طويله زمانه ئې دصحت دعاهم نه کوله، يوځلې ورته خپلې بى بى عرض اوکړو چه تکليف دې ډيرزيات شو دالله تعالى نه سوال اوکړه چه داتکليف ختم شي نوحضرت ايوب عليه السلام ورته اوفرمائيلوچه اويا(۷۰) کاله ماپه صحت کښ تيرکړل نوکه اويا(۷۰) کاله په تکليف کښ تيرشي نوداڅه مشکله خبره خونده.

دحضرت ايوب عليه السلام پدى مدت دابتلاء کښ اختلاف دې چه داڅومره زمانه وه؟ نودحضرت انس رضي الله عنه نه په يومرفوع روايت کښ اتلس(۱۸)کاله مروى دې،بعضو مفسرينو

دیارلس(۱۳)، نهه(۹)، اته(۸) ذکرکړیدي، اوحضرت حسن بصری رحمه الله نه اوه(۷) کاله مروی دي اووهب بن منبه رحمه الله نه دری(۳) کاله منقول دي، خوبهرحال یوی اوږدې زمانی تیریدلونه پس آخرکارحضرت ایوب علیه السلام مجبوره شو اودعاء ئی اوکړه چه انّی مسّنی الضّر. اوباعث پدی دعاباندي څه وو؟ نوقرطبی پدیکښ اولس(۱۷) اقوال ذکرکړیدي،غوره قول پکښ دادي چه دَحضرت ایوب علیه السلام کمزوری دومره حدته اورسیدله چه عبادت ته پورته کیدل ورته مشکل شونودعائی اوکړه اوبعض علماء فرمائی چه دَده بی بی دَده دَابتلاء دَوجی نه چه نورڅه مزدوری اونه موندله نودَخپل کمسئ ویخته ئی خرڅ کړل اودَه دَپاره ئی دَخوراك بندوبست اوکړو نوحضرت ایوب علیه السلام ته چه پته اولګیدله نودادعاء ئی اوکړه، او بعض فرمائی چه دَخپلی بی بی دَایمان په باره کښ اویریدلوچه دَخُمادَمحبت دَوجی نه دَشیطان په دهوکه کښ رانشي لکه ځنی روایاتوکښ دي چه شیطان ورله څه دوائی ورکړې وه چه داایوب علیه السلام له ورکړه تفصیل به ئی په سورة ص کښ انشاء الله راشي نوځکه حضرت ایوب علیه السلام دادعا اوکړه

دَحضرت ایوب علیه السلام داالفاظ شکایت اوشکوه نوه بلکه دعاده اودَدې وجی نه پدی باندي استجابت هم متفرع شویدې، یعني ﴿فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ﴾په دې پسی وئیلی شویدې اودَدې وجي نه الله تعالی دَایوب علیه السلام مدحه پدی الفاظو سره کړیده چه: انّا وجدنٰه صابرا الخ (ص ایت نمبر۴۴).

﴿وَأَنتَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ﴾پدیکښ تعریض اواشاره ده دعاته چه ځما حالت قابل رحم دې،اوته رحم کوونکی ئی اودغه شان حضرت ایوب علیه السلام دَخان دپاره ضررثابت کړو اوالله تعالی ئی متصف کړو په رحم سره نوپدیکښ اشاره اوکړه دیته چه دَالله تعالی ضرررسول دَپاره دنفع وی یعني الله تعالی ضار،نافع دې.

﴿فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ﴾الله تعالی دَحضرت ایوب علیه السلام دَپاره یوه چینه(چشمه) دَابوپه هغه ځائ کښ پیداکړه اوحکم ئی ورته اوکړو چه پدیکښ غسل اوکړه حضرت ایوب علیه السلام په هغی کښ غسل اوکړو نوفورا ټول بدن ئی ټهیک ټهاك شواوالله تعالی ورته یولباس دَجنت نه،رااولیږو هغه ئی واچولو، دَحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه مروی دي چه دَایوب علیه السلام بی بی پدی وخت کښ حاضره نوه نوچه کله راغله نوایوب علیه السلام یوطرف ته په ډیرخائسته صورت سره ناست وو، دې اونه پیژندلویوطرف ته بل طرف ته ئی تالاش اوکړو نوچه ایوب علیه السلام ورته په هغه زوږ حالت کښ میلاؤنشو نوپه ژړاشوه اودَده نه(ایوب علیه السلام) ئی تپوس اوکړو چه دلته یوبیمارسړی وو هغه

چرته لاړو؟ سپو يا ليوانو اوخوړو؟ څه وخته پورې ئې دهغه سره داخبرې اوشوې آخورته حضرت ايوب عليه السلام اوئيلو چه څه ايوب عليه السلام يم، اوالله تعالىٰ څما دعاقبوله کړه اوځما بدن ئې صحيح اوروغ کړو.

﴿وَءَاتَيۡنَـٰهُ أَهۡلَهُۥ﴾اهل نه مراد يااهل سابقين دي چه کوم وفات کړې شوي وو .نوهغه ورته رادژوندي کړې شو(ځکه چه دوئ مخکښ دَنيتيى نه مړه شوي وو) او﴿وَمِثۡلَهُم مَّعَهُمۡ﴾نه مراد صلبى اولاددي، يعني سابقه اولاد ورته هم ژوندي کړې شو اودهغى مثل نور اولاد هم ورته ورکړې شو .اويادَ اهل نه مراد لاحقين اهل دي کوم چه دَبيمارئ نه دَتهيک کيدلونه پس شوي وو ،اودَ ﴿وَمِثۡلَهُم مَّعَهُمۡ﴾نه مراد اولاد الاولاد يعني نسى(لمسى) مراددي بهرتقدير مقصد دَايت دادي چه دَازمائش اوامتحان نه ورستو بطورانعام الله تعالىٰ دده په اولاد کښ برکت واچولو اودغه شان په رواياتوکښ وى چه مال هم ورله الله تعالىٰ ډير کړو دَسرو زرواوسپين زرو باران په پرې اوکړو. رَحۡمَةً دا علت موثره دي دَاستجابت دعا اودَاعطاء اولاددَپاره،چه داد عاقبولول اواولاد ورکول دَوجى دَرحمت نه وو اواحساناً وو.

﴿وَذِكۡرَىٰ لِلۡعَـٰبِدِينَ﴾پديکښ اشاره ده علت غائيه ته يعني چه څوک دَالله تعالىٰ بندګى کوى، نيکان اوصالحان وى په هغوباندي تکليف راشي نودَايوب عليه السلام واقعه دې ياده کړى چه هغه څومره افضل وواولوئ عابدوو په هغه تکليف راغى نوصبرئې اوکړو اوالله تعالىٰ ته ئې سوال اوکړو.

وَإِسۡمَـٰعِيلَ وَإِدۡرِيسَ وَذَا ٱلۡكِفۡلِ كُلٌّ مِّنَ ٱلصَّـٰبِرِينَ ﴿٨٥﴾ وَأَدۡخَلۡنَـٰهُمۡ
او(يادکړئ)اسمعيل عليه السلام اوادريس عليه السلام اوذوالکفل عليه السلام داټول وو دَصبرکونکونه، اوداخل کړى وو مونږ دوئ
فِي رَحۡمَتِنَآ إِنَّهُم مِّنَ ٱلصَّـٰلِحِينَ ﴿٨٦﴾
په رحمت(نبوت) خپل کښى بيشکه دوئ وو دَنيکانونه.

﴿وَإِسۡمَـٰعِيلَ وَإِدۡرِيسَ﴾دا اوم(۷) دليل نقلى تفصيلى دې په ذکرددرى(۳) انبياء کراموسره، دَحضرت ادريس عليه السلام اواسماعيل عليه السلام تفصيلى حالات مخکښ تيرشويدي اوپه قرآن کښ

متعدد مواضعوكښې مذكوردي، البته ذوالكفل په باره كښې قرآن مجيدكښې دَنوم نه علاوه نورمزيد تفصيل اوواقعات نيشته دي، اواحاديث هم دَدې تفصيل نه ساكت دي،ابن كثير رحمه الله فرمائي چه دَقرآني اسلوب نه معلوميږي چه دې نبي وو ځكه دده ذكردَانبياء كراموسره شويدې اوداقول دَجمهورمفسرينو دې، بعض علماء فرمائي چه ذوالكفل يونيك سړى وو،ابن جرير رحمه الله دَمجاهدنه نقل كړيدې اودغه شان ابن ابى حاتم دَحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه په سندمقطع سره منقول كړيدې ذوالكفل يونيك سړى وو په بني اسرائيلوكښې اوكله چه حضرت اليسع عليه السلام ډيربوډا شو نويوه ورځ ئې اوفرمائيلوچه كاش ځماپه زندګئ كښې يوداسې سړى وى چه ځمانه ورستوځماقائممقام شوى وى اوماته اطمينان حاصل شوى وى چه دې ځمادَنيابت قابل دې، بيااليسع عليه السلام بنى اسرائيلي راجمع كړل اوهغوئ ته ئې اوفرمائيلو چه څه په تاسوكښې يوكس خپل خليفه كوومه پدې شرط چه هغه هغه ځماسره دَدرې(۳)خبرو عهداوكړي(۱)تٌوله ورځ به روژه نيسي(۲)شپې به عبادت كوي(۳) چرته به هم غصه نه كوي، نودَمجلس نه يوكس رااوچت شوچه دَعاموخلكوپه نظركښې دَهغه څه وقعت اواهميت نوو هغه اوئيل چه څه حاضريم، حضرت اليسع عليه السلام ورته بيادامذكور شرائط بيان كړل اوتپوس ئې تنه اوكړو چه دَدې پوره كولوته تيارئې هغه ورته اوئيل چه هاؤ اوداعمل درې(۳) ورځې شواوهره ورځ به دايوكس پاسيدلواوبل څوك به نه تياريدلونواخركارحضرت اليسع عليه السلام دې خپل خليفه اونائب جوړكړو ،دَاليسع عليه السلام دَدې خليفه طريقه داوه چه ټوله شپه به ئې عبادت كولو اودَورځې به ئې روژه وه اودَخلكو مسائل به ئې هم حل كول، اوپه شپې ورځې كښې به ئې صرف دَغرمې قيلوله كوله نورارام ئې نوو، شياطين په ده باندې ډيركوشش اوكړو خوناكام شو نوآخرپه خپله ابليس دده مقابلې ته راغى چه په څه طريقه باندې دې دهوكه كړم اودې دَاليسع عليه السلام سره كړى عهدونوكښې پاتې راؤلم،نوابليس منصوبه داسې جوړه كړه چه يوډيركمزورى اودَضعيف انسان په صورت كښې دَغرمې په وخت كښې ده ته راغى، دروازه ئې اوټكوله نوخليفه تنه تپوس اوكړو چه څوك ئې؟ نوابليس ورته اوئيل چه څه يوډيرمظلوم اوكمزورى انسان يم، نوهغه ورته دروازكهولاؤكړه، ابليس ورته دخپل قوم دَظلم او دَخپل مظلوميت يواوږد داستان بيان كړو چه دَقيلولې وخت ختم شو،نوخليفه ورته اوئيل چه ته اوس لاړشه اومابنام چه كله مجلس اولګى نوبياراشه څه به ستاحق تاته دركړم،نودې لاړو اوچه مابنام شو خليفه دَده ډيرانتظار اوكړو خوداسړى نوو،اومجلس ختم شو، سحربيامجلس اولګيدلو اوهغه مظلوم كس بياهم رانغلى، خوچه كله

دَخلیفه دَقیلولی وخت شو اوخلیفه خپل ارام ځائ ته لاړو نوهمدغه سړی راغی اودروازه ئی اوټکوله نوچه خلیفه را اُوتلو نوهم هغه سړی اولاړو اوبیائی یو اوږد داستان شروع کړو اودَخلیفه دَخوب وخت ئی خراب کړو ،خلیفه ورته اوئیل چه تاته ماوئیلی وو چه کله مجلس اولګی نوبیاراشه اوته رانغلې. ده ورته اوئیل چه ځماقوم ډیرظالم اوخبیث دې ستاپه مجلس کښې اقراربه اوکړی خوورستوبیاپه ماباندې سختی کوی اوحق نه راکوی. خلیفه ورته اوئیل چه ته ماښام خامخاراشه اوپه هغه وخت کښې به څه ستاحق تاته درکړم، داسړی لاړو خلیفه دَخوب وخت ئی هم خراب کړو اوچه ماښام شو اومجلس دَقضا اولګیدلو نوبیاداسړی غائب وو. اوسهاربیاغائب اوچه کله دَقیلولی وخت راغی نوخلیفه کوروالوته حکم اوکړو چه ځماسنګ ته به هیڅ څوک هم نه راپریدئ ځکه چه خلیفه ډیرستړی اوخوب عاجزکړې وو ، نوعین پدی وخت کښې بیاداسړی راغی نوکوروالومنع کړوچه خلیفه حکم کړیدې چه پدی وخت کښې به هیڅ څوک ملاقات ته نه راپریدئ، ابلیس چه دَانسانی صورت کښې وو ډیرکوشش اوکړو خوکوروالونه پریخودلو خوابلیس په بندې دروازی باندې دننه لاړو،اودَخلیفه دکوټی دروازه ئی اوټکوله. نوخلیفه چه اوکتلوچه بهردروازی بندکیدلوباوجود داسړی دننه راغی نوفوراپه حقیقت حال باندې پوهه شو چه داخوابلیس دې، نوورته ئی اوئیلوچه ته دَخدائ دشمن ابلیس ئی؟ نوهغه ورته اوئیل چه هاؤ ځه ابلیس یم مااوځماذریت ستاخلاف هرقسم کوشش اوکړو خوناکام شو دااخری حربه چه مااستعمال کړه اوپدیکښې هم ناکام شوم،نودَدې وجه نه دې په ذوالکفل سره مشهورشو ځکه چه دکومو شرائطو ده دَالیسع سره تکفل کړې وو ، اوهغه دې ذمه دارګرځولی وونوهغه ئی پوره کړو، پدی واقعه کښې تصریح ده چه ذوالکفل رجل صالح یعني یونیك سړی وو، لیکن دَسندپه اعتبارسره هم داواقعه کمزوری ده اودَاسلوب قرآنی اوسیاق قرآنی سره هم مناسبه نده، البته داممکنه ده چه اولاً دې ذوالکفل نیك سړی وو اوبیادې ورستو ورته نبوت میلاؤشوی وی، نوپه اثردَابن عباس رضی الله عنه وغیره کښې دې قبل النبوة واقعه ذکرشوی وی،اوقرآن مجید کښې دَانبیاؤ په فهرست کښې ذکرکول دَدې وجه نه، دې چه ورستوورته نبوت میلاؤ شوی وو.

علامه آلوسی رحمه الله یوبل قول هم ذکرکړیدې اوحضرت شاه صاحب رحمه الله هم هغی ته ترجیح ورکړیده چه ذوالکفل دَحضرت ایوب علیه السلام ځوی وو ،دَچاضمانت اخستی وو نودهغی دَوجی نه ده ته څوقیداوسخت تکلیفونه میلاؤشو دې وجی نه ورته ذوالکفل وئیلی کیږی، اوبعض فرمائی چه دادَحضرت حزقیل علیه السلام لقب دې.

خلاصه داده چه ذوالکفل دقرآني سياق په دليل نبي وو اوتفصيلي حالات ئې قرآن اواحاديث صحيحه کښې ندي ذکر، مونږ به پرې اجمالاً ايمان راوړو.

وَذَا النُّوْنِ اِذْ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ اَنْ لَّنْ نَّقْدِرَ عَلَيْهِ
اوياد کړئ مهي والا کله چه لاړ په حالت دغصي کښې دخپل قوم نه پس ګمان ئې اوکړو چه هرګز تنګسيا به رانلو مونږ په ده باندې.
فَنَادٰى فِي الظُّلُمٰتِ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ اِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ۸۷
نوفرياد ئې اوکړو په تيروکښې چه نيشته معبود (فرياد قبلونکى)سيوا ستانه،پاك ئې ته بيشکه څه يم دظلم کوونکونه دخان سره
فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ وَنَجَّيْنٰهُ مِنَ الْغَمِّ ؕ وَكَذٰلِكَ نُنْجِي الْمُؤْمِنِيْنَ ۸۸
پس قبول کړو مونږ فرياد دده اوخلاصي مو ورکړو ده ته دغم نه اوهمدارنګى خلاصي ورکوو مونږ مؤمنانوته

﴿وَذَا النُّوْنِ اِذْ ذَّهَبَ﴾ دا اتم دليل نقلي تفصيلي دې په واقعي ديونس ﷺ سره، چه دتکليف په وخت کښې يونس ﷺ الله ﷻ ته بلنه کړې وه، اوالله ﷻ ورنه تکليف لرې کړې وو، او نون مهي (کب) ته وئيلې کيږي اودالقب ديونس ﷺ دې اويونس ﷺ دپاره ذالنون اوصاحب الحوت القاب ځکه استعمال شويدې چه ده دمهي په خيټه کښې څه وخت تير کړې وو.

يونس ﷺ دموصل شهر (عراق ملك) کښې يوې قريئ ته چه نوم ئې نينوئ دې مبعوث شوې وو، يونس ﷺ خپل قوم ته ډيردعوت ورکړو، ليکن دقوم سرکشي اوکفربه نورهم زياتيدلو، يونس ﷺ ددوئ نه خفه شو اودَ کلي نه اووتلو اودوئ ته ئې بددعا اوکړه اودوئ ته ئې اوئيلو چه په درې ورځوکښې به په تاسوباندې عذاب راځي، يونس ﷺ په وتلوسره قوم په خپل عملونوباندې پښيمانه شو اودبعضورواياتومطابق دوئ دعذاب دبعض آثارومشاهده هم اوکړه نودوئ اول په يونس ﷺ پسې اووتلوچه دهغه تالاش اوکړې اودهغه په لاس توبه اوباسي ليکن چه هغه ميلاؤنشونوټول قوم صحراء ته راووتلو اوزنانوواړه بچي دخان نه جدا کړل، څاروې اودهغوئ دَ بچوپه مينځ کښې هم جدائي راويستله، نوزبردستي چيغې اونعرې جوړې شوې دوئ الله ﷻ ته زارې اوعاجزې شروع کړه اواجمالي ايمان ئې راوړونوهغه عذاب دفع کړې شو، يونس ﷺ په بل ځائ کښې پدې خيال کښې وو چه قوم باندې به حسب وعده عذاب راغلې وې اوهلاك شوې به وي، خوچه کله ورته پته اولګيدله چه قوم باندې عذاب ندې راغلې

نو دا فیصله ئی او کړه چه که څه واپس خپل قوم ته ځم نو هغوئ به ځما تکذیب نور هم زیات کړی او په بعضی روایاتو کښ دي چه دیونس ﷺ دقوم دستور داوو چه دروغژن سړی به ئی قتلولو نو حضرت یونس ﷺ سره دخپل ځان خطره هم پیدا شوه نو دي وجه نه خپل قوم ته واپس راتللو په ځائ بغیر دالله ﷻ داجازت نه بل طرف ته هجرت شروع کړو .حضرت یونس ﷺ بحرروم ته اورسیدلو نو یوه کشتئ تیاره وه یونس ﷺ په کشتئ کښ کیناستلو نو دلږ سفر کولو نه، ورستو کشتئ په یوی غولئ(گرداب) کښ راگیره شوه،نو کشتئ والاو ئیلو چه ځما تجربه داده چه داکشتئ چه کله هم دسی راگیره شویده نو په دیکښ ضرور دمالك نه تختیدلی غلام وی،یونس ﷺ ورته او ئیل چه تختیدلی غلام څه یم چه بغیر دالله ﷻ داجازت نه می هجرت شروع کړیدي .

بهرحال: مشوره او شوه چه یو کس به سمندر ته اوغورځوو چه دا نور خلك بچ شي او دَدي دپاره ئی قرعه او کړه نو قرعه دیونس ﷺ په نوم رااووتله،او دریم ځلی هم دَهغه په نوم رااووتله نو حضرت یونس ﷺ ئی سمندر ته اغورځولو نو الله ﷻ یو مهی ته حکم او کړو نو هغه راغی او یونس ﷺ ئی تیر کړو او الله ﷻ مهی ته حکم کړي وو چه دیونس ﷺ دَبدن یو اندام ته هم نقصان او نه رسوی او دا دیونس ﷺ دپاره په منزله دَیو جیل خانه وه، تردری یا اوه او یا څلویښت ورځو پوری یونس ﷺ دَمهی په خیټه کښی وو.

﴿إِذ ذَّهَبَ مُغَٰضِبًا﴾ مغاضبا دَپاره مفعول محذوف دي چه "لقومه" دي او لام په معنی دَعلی سره دي ای غضبان علیهم(جلالین) او بعض مفسرین فرمائی چه مفعول ورله لر به دي او لام دَتعلیل دَپاره دي یعني لاجل ربه او دَالله ﷻ دَپاره غصه کول عین ایمان دي او ﴿مُغَٰضِبًا﴾ اگرچه باب مفاعله دي خو مراد تنه مجرد دي او مقصود مبالغه ده لکه عاقبت اللص او دا هم ممکنه ده چه مفاعله دي په خپلی معنی سره شي یعني مشارکت دي مراد شي او یونس ﷺ په قوم باندي غصه وو او قوم ده ته غصه وو خو دا په هغه وخت کښ وو چه قوم ایمان نو و راوړی.

﴿فَظَنَّ أَن لَّن نَّقْدِرَ عَلَيْهِ﴾ ان مخففه عن المثقله دي اسم ئی ضمیر شان دي چه محذوف دي(۱)

او نقدر دَقدر نه دي په معنٰی دَتنگستیا سره نو مقصد دَایت دا دي چه حضرت یونس ﷺ داگمان او کړو چه څه دَدي عمل دَوجی نه به الله ﷻ په ما باندي تنگستیا نه کوی، (۲)دَقتاده رحمه الله نه

مروی دي چه قدر په معنٰی دَقضاء اوفیصلی سره دي اومفعول ئی محذوف دي چه عقوبةً دي نومقصد دادي چه یونس الطّنِیْلاً گمان دااوکړو چه الله ﷻ به په ماباندي دَعقوبت اوسزا فیصله نه کوی، (قرطبی)(۳) اوبعض فرمائی چه دادَقدرت نه دي اودلته نفی دَقدرت نه ده مرادبلکه نفی دَاعمال قدرت اواستطاعت مراده مجازاً. یعني یونس الطّنِیْلاً گمان داوو چه مونږ به دَده خلاف خپل قدرت نه استعمالو(۴)بعض مفسرین فرمائی چه دلته حرف استفهام مقدردي اواستفهام دَپاره دَتوبیخ اوزجردي یعني آیادده گمان داووچه مونږ په ده باندي قادرنه یو(۵) اوبعض علماء فرمائی چه دادَباب تمثیل نه دي یعني دَیونس الطّنِیْلاً دحالت تشبیه ورکړي شویده دَهغه سړی دَحالت سره چه هغه دَالله ﷻ په باره کښی گمان دَعدم قدرت وی اووجه دَشبهی تغافل دي، لیکن دااخری توجیه ضعیف ده.

﴿فَنَادَىٰ فِي ٱلظُّلُمَٰتِ﴾ظلمات یاحقیقة جمع مراده څکه چه دری(۳)تیری وی یوظلمت دَشپی اوبل دَبحر اودریم ظلمت دَمهی دَخیتی وو اوبعض فرمائی چه جمع تشبیهی اومجازی ده چه داسخت ظلمة اوتیره په منزله دَډیروظلمتونوحساب کړیده

﴿أَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ﴾ان یامخففه عن المثقله دي اسم ورله ضمیرشان محذوف دي اویاان تفسیریه دي اوخپل ځان ته دَظالم نسبت کول دَخطاء فی الاجتهاد دَوجی نه دي اوخطاء فی الاجتهاد معصیت اوگناه ندي بلکه یونس الطّنِیْلاً دَیوخلاف اولی کارارتکاب کړي وو، چه خپل اجتهاد ئی اوکړو اودَحکم الهی انتظارئی اونکړواوچونکه ظلم کلی مشکك دي نوځرنگه چه ددي اطلاق په کفراوشرك باندي کیږی نوهمدغه شان په خلاف اولی کارباندي ئی هم اطلاق کیږی. اودینه امام بخاری تعبیرپه ظلم دون ظلم سره کوی، اوپه یونس الطّنِیْلاً باندي دآبق اطلاق پدی ایت کښی چه اذ ابق الی الفلك اوابق معصیت دي نودااطلاق صرف صورتاً دي.

فائده: دَحضرت یونس الطّنِیْلاً دادعاپه دری(۳) جملوباندي مشتمله ده اوله جمله کښی تهلیل دي اومقصود پدی سره حصر دَالوهیت دي په ذات دَالله ﷻ پوری، چه حقداردَبندگئ سوادَالله ﷻ نه بل څوك نیشته، دویمه جمله مشتمله ده په تسبیح اوتنزیه دَالله ﷻ باندي اوداجمله په منزله دَدلیل دي دَماقبل جملی دَپاره، چه حقداردَبندگئ څکه الله ﷻ دي چه دَهرقسم عیب نه پاك دي، که هغه عیب دَشرك وی یاعجز، یافناء وی دَټولونه الله ﷻ پاك اومنزه دي

اودریمه جمله مشتمله ده په اقراردَذنب باندي چه دَداسی ذات حکم ته انتظارنه کول هم یوقسم ظلم دي.

فائده نمبر۲: په احادیثوکښ دَدي ډيرفضیلت اوخاص طوردَتکلیف اوپریشانئ په وخت کښ دَدي ورد ډيرمؤثردي،حدیث کښ دي چه نبی ﷺ ارشادمبارك دي: مامن مكروب يدعو بهذاالدعاء الااستجيب له(ترمذی) يعني کوم پريشان حاله انسان چه پدی الفاظوسره دعااوغواړی نودهغه دعاضرور قبليږی، اوبل روايت کښ دي دَحضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه نه روايت دي چه نبی ﷺ ارشاد اوفرمائيلوچه: دعآء ذی النون فی بطن الحوت لااله الاانت سبحنك انی كنت من الظلمين لم يدع به رجل مسلم فی شئ قط الااستجيب له(ابوداؤد،ترمذی، حاکم) يعني دَ ذوالنون علیه السلام هغه دعاچه دَمهی په خيټه کښ کړي وه چه لااله الاانت الخ ده چه کوم مسلمان دَخپل کوم حاجت دَپاره پدی الفاظوسره دعااوغواړی نو الله جل جلاله به ضرورقبلوی.

اوابن کثير رحمه الله دَحضرت حسن بصری رحمه الله نه نقل کړيدي چه لااله الاانت الخ اسم اعظم دي.

﴿فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ﴾دَدي تفصيل په سورة الصافات کښ ذکردي چه څوورځې ورستو مهی حضرت يونس علیه السلام په ساحل باندي ډيردَضعف په حالت کښ اوغورځولو،اوالله جل جلاله پری کدوبوټی رازرغون کړو،تفصيل به په سورة الصافات کښ راشي(انشاء الله).

﴿وَنَجَّيۡنَٰهُ مِنَ ٱلۡغَمِّۚ﴾غم نه مراد هرقسم خفګان دي که هغه خفګان دَخلاف اولی کارکولوباندي وو، يادَمهی په خيټه کښ خفګان وو،﴿وَكَذَٰلِكَ نُـۨجِي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ﴾كاف دَتشبيه دَپاره دي اومشاراليه نجات دَيونس علیه السلام دي نومقصددادي چه څرنګه يونس علیه السلام ته نجات ميلاؤشوی وو چه هغه ډيرپه اضطرابی، اوعجزکيفيت سره دعااوغوختله نودغه شان چه کوم مؤمن دَشرائطو اوادابو موافق دعااوغواړی نوهغه به هم قبولولی شي اوده نه به هم دَپريشانيونه نجات ورکولی شي،نوګويا چه داشرط دي دَدعا کوونکوسره دَجانبه دَالله جل جلاله نه چه ددوئ دعاګانی څه قبلوُم ابن جرير رحمه الله روايت نقل کړيدي دَحضرت سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه نه چه هغه اوفرمائيلو:سمعت رسول الله ﷺ يقول اسم الله الذی اذادعی به اجاب واذاسئل به اعطی، دعوة يونس بن متی. قال قلت يارسول الله هی ليونس خاصة ام لجماعة المسلمين قال هی ليونس بن متی خاصة ولجماعة المؤمنين عامة اذا دعوابها الم تسمع قول الله عزوجل فنادی فی الظلمات ان لااله الاانت سبحنك انی كنت من

الظلمين، فاستجبناله فنجيناه من الغم وكذلك ننجي المؤمنين، فهوشرط من الله لمن دعاء به. يعني مادَنبي ﷺ داارشاد واوريدلو چه هغه اوفرمائيلوچه دَالله ﷻ هغه نوم چه كله هم په هغې سره دعااوكړې شي قبلولې شي اوچه څه ورسره اوغوختلې شي وركولې شي دعادَيونس بن متى عليه السلام وه.سعد رضي الله عنه فرمائي چه ماعرض كړوچه اى دَالله ﷻ رسوله چه داصرف دَيونس عليه السلام سره خاص وه«داصرف دَهغه خصوصيت ووچه پدې الفاظوسره دعاقبوله شوه» اوكه هرمسلمان لره عام ده، نبي ﷺ اوفرمائيلوچه دادعاخاص طورغوختلې يونس عليه السلام وه خوداعامه ده ټوله جماعت دَمسلمانانوته چه هغوئ پدې سره دعااوكړې«نودعابه ئې قبليږي»آياتادَالله ﷻ قول ندې اوريدلى چه الله ﷻ فرمائي﴿فَنَادَىٰ فِي ٱلظُّلُمَٰتِ﴾ الايه. نودادالله ﷻ دَطرف نه شرط دې «دَقبوليت» دهغه چادَپاره چه پدې سره دعااوكړي.

وَزَكَرِيَّآ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥ رَبِّ لَا تَذَرْنِي فَرْدًا وَأَنتَ
او«يادكړئ»زكريا عليه السلام كله چه فريادئې اوكړو رب خپل ته اى ربه ځمامه پرېږده ماله يواځي اوته ئې
خَيْرُ ٱلْوَٰرِثِينَ (٨٩) فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ وَوَهَبْنَا لَهُۥ يَحْيَىٰ وَأَصْلَحْنَا
ډيرغوره دَباقي پاتې كيدونكونه .پس قبوله كړه مونږ دعا دَهغه او وركړو مونږ هغه ته يحيى اوقابله كړه مونږ
لَهُۥ زَوْجَهُۥٓ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلْخَيْرَٰتِ وَيَدْعُونَنَا
هغه لره بي بي دَهغه«لپاره دَاولاد» بيشكه دوئ به وو چه سيالي به ئې كوله په نيك كارونوكښ اوحاجتونه ئې غوختل زمونږ نه
رَغَبًا وَرَهَبًا ۖ وَكَانُوا۟ لَنَا خَٰشِعِينَ (٩٠) وَٱلَّتِىٓ أَحْصَنَتْ
اميدلرونكي«دَقبوليت»اوويره كوونكي«دَعذاب نه»او وو دوئ مونږ ته عاجزي كوونكي. اوهغه زنانه«مريم» چه بچ ئې ساتلې وو
فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيهَا مِن رُّوحِنَا وَجَعَلْنَٰهَا وَٱبْنَهَآ ءَايَةً لِّلْعَٰلَمِينَ (٩١)
خپل عورت نوپوكې اوكړو مونږ په هغې كښ دروح دَطرف زمونږنه اواوګرځوله مونږ دغه«مريم» اوځوئ دَدې نخه دَپاره دَخلكو

﴿وَزَكَرِيَّآ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥ﴾ دانهم دليل نقلي تفصيلي دې دَزكريا عليه السلام نه،چه اولاد دَپاره ئې زمونږ نه سوال كړې وو. اوهغه ته اولاد وركوونكي مونږ وو. واقعه دَحضرت زكريا عليه السلام په

سورة آل عمران، اوسورة مريم کښ تفصيلا ذکرشويده ﴿وَأَنتَ خَيْرُ ٱلْوَٰرِثِينَ﴾ داعطف دې په مقدرباندې يعني فارزقني وارثا وانت خير الخ (خازن) ﴿فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ﴾ يعني دَده دعاقبوله زمونږه کاروو، ﴿وَوَهَبْنَا لَهُۥ يَحْيَىٰ﴾ ولداً ورسره مقدردې، ﴿وَأَصْلَحْنَا لَهُۥ زَوْجَهُۥٓ﴾ غوره قول دادې چه ددينه مراد صلاحيت دهغې وو دَپاره دَولد، ځکه چه دَدې دعانه مخکښ دَهغې اولادنه کيدلو اودَاولاد صلاحيت پکښ نوو.

﴿إِنَّهُمْ كَانُوا۟ يُسَٰرِعُونَ﴾ ضميرراجع دې مذکورتول انبياء کرامو علیهم السلام ته، اودرې اسباب ذکرکيږي په هغوئ باندې دَانعاماتو دَپاره نودااول سبب دې چه په دوئ باندې دَالله تعالیٰ دَطرف نه داانعامات اودَدوئ دعاګانې قبوليدل دَدې وجې نه وو (۱) چه دوئ به مبادرت کولوپه طاعاتو کښ (بحر) اودَمسارعت په صله کښ عام طورباندې الى راځي لکه سارعوا الى مغفرة (ال عمران: ۱۳۳) ليکن دلته په ځائ دَالى في راوړې شوه پديکښ اشاره ده ددوئ ثبات اواستقامت ته په اصل کارونودَخيرباندې، چه ګويادوئ پدې خيرکارونوکښ وو، اوصرف دانوچه هغې طرف ته به ئې ميلان کوو، اودهغې نه خارج وو (ابوسعود).

﴿وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا﴾ دادويم سبب دې يعني دوئ په هرحالت کښ سوال الله تعالیٰ ته کړيدې اورغبا ورهبا (۱) يومقصددادې چه ددوئ دَدعاکيفية داووچه دَالله تعالیٰ دَرحمت اميدئې لرلو اودهغه دَعذاب نه ويره لره لم (۲) دويم مقصددادې چه دوئ به په حالت دَامن اوخيرکښ هم دَالله تعالیٰ نه سوال کوو اودهغه عبادت به ئې کولو اوپه حالت دَسختئ اوتکليف کښ هم دَالله تعالیٰ نه سوال کولو.

﴿وَكَانُوا۟ لَنَا خَٰشِعِينَ﴾ دادريم سبب دې چه دوئ الله تعالیٰ ته عاجزي کوونکې وو اوعاجزي اواخلاص شرط دې دَقبوليت دعبارت دَپاره، ﴿وَٱلَّتِىٓ أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا﴾ دالسم (۱۰) دليل نقلي تفصيلي دې دَحضرت مريم اوحضرت عيسیٰ علیه السلام نه چه حضرت مريم صديقه علیها السلام دَالله تعالیٰ حکم ته مجبوره وه اوعاجزه وه اوحضرت مريم علیها السلام اګرچه نبي نوه خودَدې ذکرصرف دَاتمام دَواقعي دَعيسیٰ علیه السلام دَپاره کيږي اواحصان دلته په معنی لغوي سره دې يعني مطلق منع اوحفاظت په معنی سره دې، فرج نه مراد عورت اوشرمګاه ده مقصددَايت دادې چه هغې دَخپل عورت حفاظت

کړي وو نه ورته چاپه جائزطريقي سره نزديکت کړي وو اونه په ناجائزطريقي سره اويافرج نه مراد فرج دَقميص دي چه هغه څلوردي دوه(۲)لستونړي يوګريبان اويولاندې دَلمن نه يعني طاهرة الاثواب وه چه دَدې په کپړو کښې هم دَڅه شك ځائ نوو.اوپديکښې دَهغې دکمال عفت بيان دې.

﴿فَنَفَخۡنَا فِيهَا﴾نفخ روح نه مراد احياء يعني ژوندې کول دې اونفخ حقيقة نده مراد اوروح نه مراد روح دَعيسى عليه السلام دې او اضافت دَروح ضميردَمتکلم ته تشريفادې اويانفخ حقيقة مراددہ اومن ابتدائيه دې اوروح نه مراد جبرئيل عليه السلام دې اواضافت دَنفخ ضميردَمتکلم ته مجازادې،لکه په سورة مريم کښې دې فارسلنااليهاروحنا الخ مقصددادې چه دَحضرت جبرئيل عليه السلام په ذريعې سره مونږ روح پو کړو(بحر) اوکه څوك اشکال اوکړی چه نفخ دَروح عبارت دې دَاحياء نه نوددينه خواحياء دَحضرت مريم عليها السلام ثابته شوه،نه دَحضرت عيسى عليه السلام ځکه چه فيهاکښې ضميرراجع دې حضرت مريم عليها السلام ته جواب تنه علامه زمخشري رحمه الله وغيره داکړيدې چه په عبارت کښې تقديردې اصل عبارت داسى دې فنفخناالروح في عيسىٰ فيها، يعني مونږ عيسى عليه السلام دَدې په خيټه کښې ژوندې کړو،اونظيردَدې قول دَزمّار(باجى وهونکى) دې. چه وائى نفخت فى بيت فلان،نوداپه اصل کښې داسى دې،نفخت في المزمارفي بيته، باقي دَدې ايت تفصيل په وسورة النساء کښې تيرشويدې تفصيلا.

﴿وَجَعَلۡنَٰهَا وَٱبۡنَهَآ ءَايَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ﴾اية مفردذکرشوځکه دَدوئ دواړو مجموعه حالت يولويه نشاني وه يعني ولادت دَعيسى عليه السلام بغيردَنزديکت دَنارينه نه، حضرت مريم عليها السلام ته.اويايوآية محذوف دې تقديردَعبارت داسى دې وجعلناهاآية وابنهاآية.

إِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ وَأَنَا۠ رَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُونِ ۝
بيشکه دادين دَانبياء مذکوره،دين ستاسودې په داسي حال چه يودين دې اوځه رب ستاسويمه نوخاص ماله بندګي کوئ.
وَتَقَطَّعُوٓاْ أَمۡرَهُم بَيۡنَهُمۡۖ كُلٌّ إِلَيۡنَا رَٰجِعُونَ ۝ فَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ
اوټکړې ټکړې کړو دوئ دين خپل په کورنۍ کښې .ټول به زمونږ طرف ته راګرځي پس چاچه عمل اوکړو دَنيك عملونونه
وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَا كُفۡرَانَ لِسَعۡيِهِۦ وَإِنَّا لَهُۥ كَٰتِبُونَ ۝
اوحال داچه دې مؤمن وو پس نه به کيږي ناشکري دَده دسعى(عمل)اوبيشکه مونږ دهغې دپاره ليکونکى يو،

وَحَرَٰمٌ	عَلَىٰ	قَرۡيَةٍ	أَهۡلَكۡنَٰهَآ	أَنَّهُمۡ	لَا يَرۡجِعُونَ	⑮
اومقرر ده	په هريوكلي	چه هلاك كړيدي مونږ	چه بيشكه	دوئ به دنياته	واپس نشي راتللي	

﴿إِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمۡ﴾ دا متعلق دي د ټولو مذكوردلائلو نقليو سره امت دلته په معنى د ملت سره دي اومرادتنه ملت اسلام دي اودين توحيددي. او ﴿أُمَّةً وَٰحِدَةً﴾ كښې واحدة په معنى د متوحدة يعني غيرمتفرقة سره دي نومقصددادي چه ملت اسلام اوتوحيدد ټولو انبياء كرامو عليهم السلام ملت اودين دي نو تاسوهم پدې ملت باندي قائم دائم شئ اود دينه انحراف مه كوئ(مدارك).

﴿وَأَنَا۠ رَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُونِ﴾ حضرت شيخ رحمه الله فرمائي چه .واو تفسيريه دي اوداجمله تفسيراوبيان دي د ماقبل جملى يعني ﴿أُمَّةً وَٰحِدَةً﴾ چه ملت واحده دادي چه ځمانه بغيربل چاته رب اونوئيلى شي اوځمانه علاوه د بل چاعبادت اونكړي شي ﴿وَتَقَطَّعُوٓاْ﴾ داد سوال مقدرنه جواب دي سوال دادي چه كله ټول انبياء كرام په توحيدباندي متفق وو اوټولود توحيد پيغام رسولى دي نوبيا شرك اودااختلافات په دين كښې څرنګه راغلو؟ نوجواب تنه اوشوچه ټولوانبياء كرامو د توحيددعوت اوپيغام رسولي وو، ليكن ورستوبياخلف كسانود خپلو خواهشاتوپه بنياد پدې دين كښې اختلافات پيدا كړل،نومراد د تقطع نه اختلافات پيدا كول دي او امرهم نه مراد دين توحيددي اودامنصوب دي بنزع الخافض په اصل كښې فى امرهم دي اويادامفعول به ده د ﴿وَتَقَطَّعُوٓاْ﴾ دپاره اودي ورته بالذات متعدي دي ځكه چه تفعل په معنى د تفعيل سدي دي اويادي وجه نه چه تقطعوا متضن دي معنى د جعل لره اى جعلوا الرد بينهم فيمابينهم قطعا(روح).

﴿كُلٌّ إِلَيۡنَا رَٰجِعُونَ﴾ داتخويف اخروى دي ﴿فَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ﴾ دابشارت اخروى دي اوتفصيل اوتشريح د ماقبل ده چه مونږته ئى رجوع اوشي نونيكانوته به د نيك عمل اجرميلاؤشي. اوبدكاروته به د بدعمل سزاوركړي شي ﴿فَلَا كُفۡرَانَ لِسَعۡيِهِۦ﴾ مرادتنه ناقدرى اوضائع كول د اعمالودي يعني ددوئ د اعمالوناقدرى به نه كيږى اوثواب به ئى نه ضائع كيږى

اودلته نفی دَجنس اوشوه ځکه چه داابلغه ده نفی دَجنس مستلزم وی نفی دجمیع افرادولره (کشاف).

﴿وَإِنَّا لَهُۥ كَٰتِبُونَ﴾تاکیددې دَماقبل دَپاره ځکه چه کوم شي اولیکلي شي نوهغه نه ضائع کیږی ﴿وَحَرَٰمٌ عَلَىٰ قَرْيَةٍ﴾داتخویف دې منکرینوته اودَدې ایت په تفسیرکښې ډیرتوجیهات دې ځکه چه دَدې ایت ظاهری معنی نده مراد چه هغه متعارضه ده دَنورونصوصو سره، ځکه چه دَدې ایت ظاهری معنی داده چه کوم خلك مونږهلاك کړیدې دکفردَوجی نه هغه به دنیاته واپس کیږی اویابه توبه اوباسی ځکه چه حرام معنًا نفی ده او ﴿لَا يَرْجِعُونَ﴾هم نفی ده اونفی چه په نفی باندې داخله شي نودَاثبات فائده ورکوی او﴿يَرْجِعُونَ﴾نه مراد یارجوع الی الدنیاده اویارجوع الی التوبة ده، نومعنی ئی داشوه چه هلاك شوی قومونوباندې رجوع کول حرام یعني منع دې نولهذا رجوع کول ضروری شو، اودامعنی دَنورایتونوسره متعارضه ده لکه سورة المؤمنون ایت نمبر(۱۰۰)اوسورة یس ایت نمبر(۳۱)شو، نودَدې وجه نه پدی ایت کښې دَمفسرینو متعدد توجیهات دې(۱)حضرت ابن عباسﷺ نه مروی دې چه﴿وَحَرَٰمٌ﴾دلته په معنی دَوجب اوقدرسره دې نومعنی ئی داشوه چه کوم خلك هلاك شویدې دکفردَوجی نه په هغوئ باندې داخبره ثابته اومقرره چه هغوئ به دنیاته نشي واپس کیدلی(۲)دویمه توجیه داده چه حرام په معنی دَممتنع الوجود یعني ناممکن سره دې اواهلکنا په معنی دَقدرنا اهلاکهم سره دې او﴿لَا يَرْجِعُونَ﴾ نه مراد عدم رجوع الی الاخرة دې، نوحرمت اوامتناع راجعه ده عدم رجوع ته، نودَایت مقصدداشو چه دکوموخلکودَ هلاکت فیصله مونږ کړیده نودَهغوئ عدم رجوع الی الاخرة محاله اوناممکنه ده نوچه کله عدم رجوع محاله شو نو رجوع ئی واجبه شوه، نومطلب داشو چه دوئ به زمونږ طرف ته خامخا راځی دَپاره دَسزا دَخپلوعملونو(بحر).

(۳)دریمه توجیه داده چه لا زائددې او﴿أَهْلَكْنَٰهَا﴾په معنی دَقدرنا اهلاکهم سره دې او﴿لَا يَرْجِعُونَ﴾نه مراد رجوع الی الاسلام والتوبه ده نودَایت مقصددادې چه دکوموخلکودَهلاکت فیصله مونږه کړیده نودَهغوئ اسلام ته راتلل اودکفرنه توبه ویستل حرام یعني ناممکن دې ځکه

چه دَدوئ په زړونو باندي مهردَجباريت ثبت شويدي(۴) څلورمه توجيه داده چه ﴿أَهْلَكْنٰهَا﴾ به خپلی معنی سره دي اولازائددي اورجوع نه مراد رجوع الی الدنياده. نومقصد دادي چه کوم خلك مونږ هلاك کړيدي دَهغوئ دنياته واپس کيدل ناممکن وي.

(۵)حضرت شيخ رحمه الله دَدي تفسيرداسی کړيدي چه حرام خبردي دَمبتداء مقدري دَپاره نو اصل کښ داسی دي الايمان حرام علی قرية اهلكنها، او ﴿أَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُونَ﴾ بيان دي دَماقبل چه کوم قومونو مونږ هلاك کړی وو نوهغوئ دَخپل کفرنه. نه واپس کيدلو يعني ازلی بدبخت وو اوحضرت شاه منصورباباجی رحمه الله توجيه داده چه ﴿وَحَرَامٌ﴾ په معنی دَممتنع سره دي او ﴿أَهْلَكْنٰهَا﴾ يا په معنی خپلی سره اويا په معنی دَقدرنااهلاكهم سره دي او ﴿لَا يَرْجِعُونَ﴾ کښ لام زائدندي بلکه مفعول دَ﴿يَرْجِعُونَ﴾ دَپاره محذوف دي چه الی الله دي يعني الله ﷻ نه رجوع کول دَ دوئ دَاممتنع دي.

حَتّٰٓى إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ وَهُمْ مِّنْ كُلِّ حَدَبٍ يَّنْسِلُوْنَ ﴿۹۶﴾

تردي پوري چه کله پرانستی شي ياجوج وماجوج اودوئ به دَهري ديرئ نه منډی وهی.

وَاقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ فَإِذَا هِيَ شَاخِصَةٌ أَبْصَارُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۖ

اوډيره به نزدي شي وعده حقه پس دغه وخت به وازي وی سترګي دَهغه خلکو چه کفرئی کړيدي

يٰوَيْلَنَا قَدْ كُنَّا فِيْ غَفْلَةٍ مِّنْ هٰذَا بَلْ كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿۹۷﴾ إِنَّكُمْ

(وائ به) هائی تباهي ده زمونږ. يقيناً وو مونږه په غفلت کښ دَدي نه بلکه وو مونږه ظالمان.بيشکه تاسو

وَمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ ۖ أَنْتُمْ لَهَا وٰرِدُوْنَ ﴿۹۸﴾

اوهغه څوك چه تاسوئی بندګی کوئ سيوادالله ﷻ نه،خشاك دَجهنم دي، تاسوبه هغي ته ورننوځئ

لَوْ كَانَ هٰٓؤُلَآءِ اٰلِهَةً مَّا وَرَدُوْهَا ۖ وَكُلٌّ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۹۹﴾ لَهُمْ

کچری وي دوئ حقدارِبندګئ.نه به ورننوتلي جهنم ته اودوئ ټول به په هغي کښ وي هميشه دَپاره، ددوئ دپاره به وي

فِيهَا	زَفِيرٌ	وَهُمْ	فِيهَا	لَا	يَسْمَعُونَ	⊙
په هغې کښې	هنراري	اودوئ به	په هغې کښې	هیڅ نه	اوري،	

﴿حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ ﴾داتخویف اخروی دې او﴿حَتَّىٰٓ﴾ابتدائیه دې ځکه چه عاطفه اوجاره بغیردتاویل نه نه صحیح کیږی اوفتح دیاجوج ماجوج عبارت دې دوقوع دقیامت نه اودائی ځکه عبارت اوګرځودوقوع دقیامت نه چه دقیامت په علامات کبری کښې دټولونه زیاته قریبه اواخری علامه به داوی لکه صاحب دروح المعانی په حواله دامام احمدبن حنبل رحمه الله روایت نقل کړیدې ان الساعة بعدان یهلك یاجوج وماجوج کالحامل المتم لایدری اهلها حتی تفجاهم بولادها لیلاً اونهاراً یعني دماجوج، ماجوج هلاکت نه بعدقیامت به داسی قریب وی لکه هغه زنانه چه حمل ئې پوره شوی وی اودکوروالوته ئې داپته نه لګی چه څه دشپې یادورځې په کوم وخت کښې ددې بچی پیداکیږی اودغه شان دقیامت نه لږ مخکښې سخت ددهشت اوخوف والاوخت اوحالت به داوی، نوځکه ئې دوقوع دقیامت نه تعبیرپدی سره اوشواوحتی نه بعدمجموعه کلام غایه ده دماقبل مجموعی دپاره نودایت مقصددادې چه دوئ به پدی خپل حالت یعني امتناع اهلاك وغیره باندې مستمروی حتی چه یاجوج، ماجوج په کولاؤشي اودهغی نه بعدزربه قیامت قائم کړې شي اودوئ به مونږ ته حاضرشي نوپدی وخت کښې به افسوس اوکړی چه یاویلناقدکنا اوغایه ده دحرمت دپاره فقط چه په دنیاکښې په دوئ باندې مهرجباریت ثبت کیدلودوجی نه رجوع الی التوبة خوناممکنه ده خوچه کله دیاجوج اوماجوج راوتلونه پس قیامت قائم شي نوبیابه دوئ توبه اوباسی خودارجوع الی التوبه به دوئ ته نفع نه ورکوی ((روح)) اویاغایه ده دلایرجعون دپاره مقصد دټولو احتمالاتویودې.

﴿وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٍ ﴾غوره قول دادې چه ضمیرراجع دې یاجوج اوماجوج ته اوحدب ډیرئ اواوچت ځائ ته وائی او﴿يَنسِلُونَ﴾دباب ضرب یضرب نه په معنی دسرعت سره دې اوپدیکښې ددوئ کثرت ته اشاره ده اودغه شان دیته هم اشاره ده چه ددوئ دراتګ اودزمکی دتسلط حاصلولوکښې به هیڅ شئ به رکاوټ نوی،اوبعض علماء فرمائی چه ضمیرراجع دې عام مخلوقاتوته.اوحدب نه مراد قبردې اودحضرت مجاهد رحمه الله نه په یوقرائت کښې په ځائ د حدب جدث لفظ راغلیدې اوجدث قبرته وئیلی کیږی لکه په سورة یس ایت نمبر(۵۱)کښې دې نومطلب

دادي چه دَنفخ ثانیه نه پس به هرڅوك دَخپل قبرنه راپاسی اومحشرته به ځی. باقی دیاجوج اوماجوج پوره تفصیل په سورة الکهف کښ تیرشویدي.

﴿وَٱقۡتَرَبَ ٱلۡوَعۡدُ ٱلۡحَقُّ﴾الوعد الحق نه مرادقیامت دې اومزیدیعني افتعال په ځائ دَمجردو یعني قرب راوړل دَپاره دَمبالغی دې په قرب اونزدیکت کښ چه دَیاجوج اوماجوج دَراوتلونه پس به قیامت دیرقریب وی اوپه روایاتوکښ دي چه یاجوج،ماجوج به دَحضرت عیسیٰ علیه السلام وفات اودَنفخ اولی په مینځ کښ به یوسل شل(۱۲۰) کاله عمربه وی، لیکن کال به دَمیاشتی په برابروی اومیاشت به دَجمعی اوجمعه به دَورځی برابروی،نوپدی اعتبارسره دَحضرت عیسیٰ علیه السلام وفات اودَنفخ اولی په مینځ کښ به صرف(۱۲)کاله معتادو، فرق به وی (جمل)

﴿فَإِذَا هِيَ شَٰخِصَةٌ﴾داجزاء ده دَماقبل شرط ﴿﴾دَپاره اودا ذکردَیوهیبتناك حالت دي دَقيامت او اذا مفاجاتیه دي، او﴿حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتۡ﴾ ضمیرقصه دي او ﴿أَبۡصَٰرُ ٱلَّذِينَ﴾مبتدا مؤخره ده او﴿شَٰخِصَةٌ﴾خبرمقدم دي اوداټوله جمله بیاخبردي دَضمیرقصه دَپاره، ځکه چه ضمیرقصه دَپاره تفسیرجمله واقع کیږی اوکه څوك اشکال اوکړی چه شخوص دَابصاربه دَنفخ ثانیه نه ورستووی، نودَدي ترتب به په فتح دَسدیاجوج وماجوج اوپه اقتراب دَقيامت باندي به څرنګه صحیح شي؟ نوجواب تنه دادي چه داتعقیب اوترتب عرفی دي اوپدی سره مقصود مبالغه ده یعني عرف پدی جاری دي چه علامت اقرب ظاهریدلونه اودَاقتراب دَامرنه تعبیرپه عین شئ اوپه عین امرسره کولی کیږی، اویاتنه جواب دادي چه دَفتح دَیاجوج،ماجوج اودَنفخ ثانیه په مینځ کښ تفاوت قلیل په منزله دَعدم فرض کړي شویدي،نودَدي وجه نه دَدي ترتب په فتح دَ یاجوج،ماجوج باندي اوشوه(جمل). ﴿يَٰوَيۡلَنَا﴾دَدي نه مخکښ یقولون مقدر دي اودابه دَوئ دَقيامت په ورځ دَخپلوجرمونواقرارکوی، خوهیڅ فائده اونفع به ورته نه ورکوی.

﴿بَلۡ كُنَّا ظَٰلِمِينَ﴾اعراض دي دَماقبل نه چه غفلت کښ نوو ،ځکه چه انبياء کرام راغلی وو اودلائل اومعجزات ظاهری شوی وو،خومونږ په خپل ځانونوباندي قصدا اوعمدا ظلم کوونکی وو(بحر). ﴿إِنَّكُمۡ وَمَا تَعۡبُدُونَ﴾دَدینه مرادبتان،ګمراه پیران اوګمراه ملایان دي، چه هغوئ خلکوته دَالله ﷻ نه علاوه نورچاته دَعبادت کولوحکم کړی وی،اویائی خپلوځانونوته

سجدې لګولو حکم کړې دي. او د الله ﷻ نیکان بندګان لکه انبیاء کرام یا اولیاء الله چه دهغوئ عبادت شویدې او هغوئ خپلو خانو نو ته معبودان ندي وئیلی او نه ئی دخلکو دا عمل خوښ کړیدې هغوئ ته ندي مراد په دلیل ددې ورستو ایت سره چه ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ سَبَقَتۡ لَهُم مِّنَّا ٱلۡحُسۡنَىٰٓ﴾ ځکه چه کله دا ایت نازل شو نو کفار ډیر سخت خفه او غصه شو او ابن الزبعری ته راغلو نو هغه په دې ایت باندې اعتراض اوکړو چه ددې ایت مطابق حضرت عزیر ﷺ او حضرت عیسی ﷺ او ملائکو به هم جهنم ته ځی ځکه چه دهغوئ عبادت هم شویدې. نو الله ﷻ دا ورستو ایت ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ سَبَقَتۡ﴾ نازل کړو او د ابن الزبعری دا اعتراض بی ځایه او بی محله هم وو ځکه چه په ایت کښ داسی ندې وئیلی شوی چه ﴿إِنَّكُمۡ وَمَا تَعۡبُدُونَ﴾ یعني صیغه دغائب مجهول نده ذکرشوی بلکه صیغه دفعل مخاطب معلوم ذکرشویده، او مخاطبین کفار وو. او کفار مکه د حضرت عزیر ﷺ او یا د حضرت عیسی ﷺ عبادت نو وکړې او حصب وئیلی کیږی خشاک ته او خشاک دحطب یعني دعامولرګو په مقابله کښ کمتر او ناقدره وی نو په دیکښ دهغوئ دبتانو ذلت طرف ته اشاره ده.

﴿لَوۡ كَانَ هَٰٓؤُلَآءِ﴾ دا دلیل دې په ابطال دالهو باطلو باندې، یعني کچرته دابتان خدایان وی نو دوئ به جهنم ته نه داخلیدې.

﴿وَكُلٌّ فِيهَا﴾ مراد ترنه عابد او معبود دواړه دي، ﴿لَهُمۡ فِيهَا زَفِيرٌ﴾ زفیر وئیلی کیږی دغمژن اوژړیدونکی سړی هغه اوازته چه دزړه نه راوځی او دزړه خواری ورسره وی او دا اوازبه د کافرانو چه عابدین وو او دهغوئ د ګمراه معبودینو دانسانانو نه او دشیاطینو د پاره به وی او د اصنام یعني بتانو د پاره به وی او که نه؟ نو په دیکښ د مفسرینو نه دوه (۲) اقواله راغلیدې. یو قول دادې چه اصنام جهنم ته غورځول به صرف د کفارو تذلیل د پاره وی او اصنامو ته به تعذیب مقصود نوی، ځکه چه هغوئ مکلف ندې نو ددې وجی نه به دهغوئ د پاره به زفیر هم نوی، دویم قول دادې چه الله ﷻ به اصنامو ته حیات ورکړی او دهغوئ حالت به هم هغه وی کوم چه ددې کفارو دې.

﴿وَهُمۡ فِيهَا لَا يَسۡمَعُونَ﴾ نه اوریدل به یا ددې وجی نه وی چه دوئ به کاڼه وی لکه سورة الاسراء ایت نمبر (۹۷) کښ دې چه: ونحشرهم يوم القيمة على وجوههم عميا او یا به ددې وجی نه وی

چه دَجهنمیانو شور اواوازونه به په جهنم کښ داسې وې چه څوك به دَیوبل خبرې نه اورې اودغه شان دَجهنم خپل شور اودَغصې اوازونه به هم دومره سخت وې چه جهنمیان به دَیوبل خبرې نشي اوریدلې(اعاذناالله منها).

اِنَّ الَّذِيۡنَ سَبَقَتۡ لَهُمۡ مِّنَّا الۡحُسۡنٰٓى ۙ اُولٰٓـئِكَ عَنۡهَا مُبۡعَدُوۡنَ ۞ لَا يَسۡمَعُوۡنَ
بیشکه هغه کسان چه مخکښ مقررشویدي دوئ دَپاره زمونږ دَطرف نه جنت دوئ به دَجهنم نه لرې کړې شوې وي نه به اوري دوئ
حَسِيۡسَهَا ۚ وَهُمۡ فِىۡ مَا اشۡتَهَتۡ اَنۡفُسُهُمۡ خٰلِدُوۡنَ ۞ لَا يَحۡزُنُهُمُ الۡفَزَعُ الۡاَكۡبَرُ
کشاردَهغې، اودوئ به په هغه مزو کښ وي په غواړي یې دَدوئ نفسونه همیشه ،نه به غمژن کوي دوئ لره هیبت لوئ
وَتَتَلَقّٰٮهُمُ الۡمَلٰٓـئِكَةُ ؕ هٰذَا يَوۡمُكُمُ الَّذِىۡ كُنۡتُمۡ تُوۡعَدُوۡنَ ۞ يَوۡمَ نَطۡوِى
اودَدوئ مخې له به راځي ملائك (وائی به)داورځ ده ستاسو هغه چه تاسو سره ئې وعده کړې شوې وه هغه ورځ چه راوبه نغاړو مونږ
السَّمَآءَ كَطَىِّ السِّجِلِّ لِلۡكُتُبِ ؕ كَمَا بَدَاۡنَاۤ اَوَّلَ خَلۡقٍ نُّعِيۡدُهٗ ؕ
اسمانونه پشان دَرانغختلو دَرجسترو الا کتابونو لکه چه شروع کړې وه مونږ به اول پیدائش دوباره به هم دغسې کوو.
وَعۡدًا عَلَيۡنَا ؕ اِنَّا كُنَّا فٰعِلِيۡنَ ۞
وعده ده په مونږ باندې بیشکه مونږ کوو داکار

﴿اِنَّ الَّذِيۡنَ سَبَقَتۡ﴾ دا بشارت اخروی دې اوجواب دې دَابن الزبعری دَقول او ﴿سَبَقَتۡ لَهُمۡ مِّنَّا الۡحُسۡنٰٓى﴾ نه یامراد وعده دَجنت ده یعني دوئ سره زمونږ دَطرف نه دَجنت وعده کړې شویده اویاتنه مراد دَنیك اعمالو اودَسعادت حاصلولو توفیق دې اویاتقدیرالهی دې یعني مونږ دوئ دَپاره په تقدیرازلی کښ جنت لیکلې دې اومرادپه موصول سره عیسی علیه السلام اوعزیر علیه السلام اواولیاء الله دي.

﴿اُولٰٓـئِكَ عَنۡهَا مُبۡعَدُوۡنَ﴾ پدې باندې اشکال واردیږی چه دَدې ایت دَسورة مریم ایت نمبر(۷۱) وان منکم الاّ واردها سره تعارض دې ځکه چه دهغې نه دَهرچادخول معلومیږی جهنم ته او ورود تقضادَقرب کوی بداهة، بعضوته جواب پدې شان کړیدې چه دَمبعدون دَپاره مفعول مقدردې چه

عذاب او ألم دي نومعنی داده چه دَورود باوجود دوئ به دَعذاب دَجهنم اودَتکلیف دَجهنم نه به لری اومحفوظ وی (جمل) اوبعض فرمائی چه دابُعد ورستودَدخول جنت نه،به وی یعني جنتیان چه جنت ته داخل شي نوبیابه داسی نوی چه جهنم ته په راوستلی شي بلکه دَوئ به دَجهنم نه ډیرلری شي.

﴿لَا يَسْمَعُونَ حَسِيسَهَا﴾حسیس وئیلی کیږی اوازته دَاور لمبی ته غوره قول دادې چه داجمله تاکیدده دَماقبل دَپاره یعني جنتیان په دَجهنم نه دومره لری وی چه دَجهنم دَاورمعمولی اوازبه هم نه آوری،حالانکه دَجهنم دَاور آوازبه په زرګاؤمیله لری اوریدلی شي اوداهم ممکنه ده چه داجمله بدل شي دَمبعدون نه.

﴿وَهُم فِي مَا اشْتَهَتْ﴾مرادتنه صحت،خوانی اوقسم قسم نعمتونه دَجنت دي﴿لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ﴾داهم بشارت اخروی دې دَ اورنه نجات ذکرکولونه بعددَفزع بالکلیه نه نجات ذکرکیږی، چه په دوئ باندي به هیڅ قسم ګبهراهټ نوی، اوفزع اکبرنه مراد بقول ابنَ عباس رضی الله عنه نفخه ثانیه ده ځکه چه کله نفخ ثانیه اووهلی شي نوپدی وخت کښ به ډیرخلك په ګبراهټ کښ وی لکه سورة النمل کښ الله تعالی فرمائی یوم ینفخ فی الصور ففزع من فی السموات الخ اوبعض فرمائی چه فزع اکبربه دَذبح دَموت سره وی چه کله مرګ ذبح کړې شي اوفرشته آوازاوکړئ یااهل النّارخلودٌ بلاموت، نوپه دې وخت کښ به په کافرانوباندي سخته فزع راشي اوبعض فرمائی چه فزع اکبرنه مراد اهوال اوسختئ دَقیامت دې اوداقول عام دې شامل دې نفخه ته، ذبح دَمرګ ته اوقول دَملائکوته، اوپه ځنی روایاتوکښ چه راغلیدي چه ګبراهټ دَقیامت به په هرچاباندي وی لکه حدیث دَشفاعت کښ دي چه انبیاء کرام علیهم السلام به نفسی، نفسی، وائی نوداګبراهټ به لږ ساعت دَپاره وی اوپه نسبت دکفاروګبراهټ ته ډیرکم اوضعیف به وی نوهغه په منزله دَمعدوم حساب کړې شویدي.

﴿وَتَتَلَقَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ﴾ملاقات دَملائکوبه دَقبرنه پاسیدلووخت کښ اودغه شان جنت ته دَداخلیدلو په وخت کښ وی چه ملائك به دَدوئ دَاستقبال دَپاره دَجنت په دروازوباندي اولاړی وی اودابه ورته وائی چه هذا یومکم الذی کنتم توعدون.

﴿يَوْمَ نَطْوِى ٱلسَّمَآءَ﴾ بعض مفسرين دَيوم دَپاره عامل مقدروائی چه اذکردې اوداجمله مستانفه ده. لیکن غوره قول دادې چه دامتعلق دې په ﴿لَا يَحْزُنُهُمُ﴾ پورې اومقصد دادې چه نه به غمژن کوی دوئ لره لوئی هیبت دهغه ورځ چه رااونغاړو مونږ اسمانونه اویامتعلق دې په ﴿وَتَتَلَقَّـٰهُمُ﴾ پورې، یعني دَملائکوملاقات به دَدوئ سره په هغه ورځ وی چه په کومه ورځ مونږ اسمانونه رااونغاړو. اویامتعلق دې په توعدون پورې.

﴿كَطَىِّ ٱلسِّجِلِّ لِلْكُتُبِ﴾ سجل نه مرادهغه رجسترډې چه په هغې کښې نومونه. فیصلې اومضامین درج کیږی نوهغه رجسترپه خپلومضامینوباندې مشتمل وی اومضامین په هغې کښې رانغختلې شوی وی نودغه شان به الله ﷻ هم دااسمانونه راټول کړی اوراۍونغاړی به ئې. نوپدې اعتبارلام په ﴿لِلْكُتُبِ﴾ کښې په معنٰی دَعلٰی سره دې اوبعض علماء فرمائی چه سجل نوم دَیوی فرشتې دې چه په دویم اسمان کښې وی کراماً کاتبین هغې ته دَهرپیراوجمعرات په ورځ دَانسانانودَاعمالوصحائف اوړی اوکله چه انسان وفات شي نوهغه فرشته دَانسان ټول صحائف رااونغاړی. نوپدې اعتبارسره لام په ﴿لِلْكُتُبِ﴾ کښې زائددې، اوبعض فرمائی چه سجل دَحضور ﷺ دَیوکاتب نوم دې اومقصد دادې چه څرنګه سجل کاتب تحریراوکړی اوبیاصحیفه راټوله کړی نودغه شان به مونږهم دااسمانونه راټول کړو نوداتشبیه دَغائب ده دَشاهداوحاضرسره، اودَاروایت امام ابوداؤد اونسائی نقل کړیدې دَابن عباس ﷺ نه چه سجل دَنبی ﷺ کاتب وو. لیکن ثعلبی، قرطبی اوابن کثیر رحمه الله پدې قول باندې سخت ردکړیدې چه دَرسول الله ﷺ په کاتبانوبلکه په صحابوکښې هم دَسجل په نوم باندې څوک نه وو. ابن جریر رحمه الله اوابن کثیر رحمه الله روایات نقل کړیدې اوبیائې اخیرکښې فرمائیلې دې چه داټول روایات ضعیف، منکراوغیرمحفوظ دې، بلکه بعض علماؤورته موضوعی هم وئیلې دې، لیکن حافظ ابن حجر رحمه الله پدې اصرارکړیدې چه دَسجل په نوم کاتب نبی ﷺ نه انکارکول غلط دې، ځکه چه داروایت په متعددوطرقوسره منقول دې، چه په هغې کښې ځنی طرق صحیح هم دې. ابن منده اوابونعیم په سنددَابن نمیر عن عبیدالله بن عمرعن نافع عن ابن عمر ﷺ سره نقل کړیدې کان للنبی ﷺ کاتب يقال له سجل اوداسندقوی اوصحیح دې اودَابن نمیر رحمه الله په باره کښې فرمائی چه

دي دكبارثقاتُ نه وو اودَدي وجه نه حافظ فرمائي چه فهذا الحديث صحيح بهذه الطرق وغفل من زعم انه موضوع(الاصابة ج۳ حرف السين) دَحافظ تحقيق اقرب الى الصواب دي اګرچه مسلك دَجمهورونه خلاف دي(والتفصيل فى الفتح البارى ج۱۰ والاصابه ج۳).

﴿كَمَا بَدَأْنَآ أَوَّلَ خَلْقٍ﴾ داتشبيه دَاعادي ده دَابداء سره دپاره دَشمول دَقدرت.يعني څرنګه الله ﷻ په ابدا يعني عدم محض نه وجودراويستلوباندي قادردي نودغه شان دَفناء نه ورستوپه اعادي دَوجودباندي هم قادردي﴿وَعْدًا عَلَيْنَآ﴾ وعداً مفعول مطلق دي دَفعل محذوف دپاره اى وعدناهذا وعدا(حداد).

وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِنْۢ بَعْدِ الذِّكْرِ اَنَّ الْاَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصّٰلِحُوْنَ ۞
اويقيناً ليكلي دي مونږ په زبوركښ ورستوذكرنه چه بيشكه زمكه وارثان به وي ـهغي بندګان ښانيكان
اِنَّ فِيْ هٰذَا لَبَلٰغًا لِّقَوْمٍ عٰبِدِيْنَ ۞ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ۞
بيشكه په دي كښ مقصد ته رسيدل دي دپاره دَهغه قوم چه بندګي كوي اونهٔ لیږلی مونږته مګر رحمت دپاره دټولو خلكو

﴿وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِى ٱلزَّبُورِ﴾ دابشارت اخروى دي كچرته پدى ايت كښ ﴿أَنَّ ٱلْأَرْضَ﴾نه مراد زمكه دَجنت شي اوپه جنت باندي اطلاق دَارض شويدي لكه په سورة الزمر ايت نمبر(۷۴) كښ واورثنا الارض اوياد ابشارت دنيوى دي كچرته دَ﴿ٱلْأَرْضَ﴾نه مراد ملك شام اويانورسلطنتونه دكفاروشي اوزبورنه مراد يامشهوركتاب دي چه په داؤد عليه السلام باندي نازل شوى وو. او﴿مِنۢ بَعْدِ ٱلذِّكْرِ﴾كښ بعد په خپلى معنى سره دي اوذكرنه مراد ياتورات دي اويالوح محفوظ دي اويابعدپه معنى دَقبل سره دي اوذكرنه مرادقرآن دي اويادَزبورنه مراد معنى لغوى ده اوزبور دَلغوى معنى په اعتبارسره ټولوكتب سماويه ته شامل دي او ذكرنه مراد لوح محفوظ دي يعني لوح محفوظ كښ دَليكلونه بعدپه ټولواسمانوكتابونوكښ هم مونږ داخبره ليكلي ده چه﴿أَنَّ ٱلْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِىَ ٱلصَّٰلِحُونَ﴾كچرته دَالارض نه مراد زمكه دَجنت شي نوپدى باندي اشكال وارديږى چه دَدي ايت ظاهردليل دي پدى چه جنت به صرف صالحينوته ميلاويږى

اوفاسق، گناه گارمسلمانانوته به نه میلاویږی، نو امام رازی رحمه الله تنه جواب کړیدې پدی شان چه جنت الله تعالی بالاصالة دَصالحانودَپاره جوړکړیدې، اوفساق مؤمنانوته چه ورکوی نوهغه غیراصالة اوتبعأدې: دویم جواب دادې چه صالحینونه مراد عام دې، حقیقة صالحین وی یاحکماً صالحین هغه څوك دې چه دَسزاپوره کولونه اودَصفاکیدلونه ورسته جَنت ته لاړشي. نوداپه حکم دَصالحینوکښ دې اوکچرته دَالارض نه مراد ملك شام وغیره شي نودادَالله تعالی دَطرف نه مسلمانانوته دَاسلام دَغلبی بشارت وو نوپدی اعتبارسره ایت عبادی الصلحون نه مراد امت محمدیه ﷺ دې اودا وعده الله تعالی دَحضرت عمر رضی الله عنه په دورخلافت کښ پوره کړه چه ملك شام قبضه کړې شو اوحضرت سیدناامیرمعاویه رضی الله عنه ئی دَهغی والی مقررکړو.

نوپدی ایت کښ دلیل دې پدی چه صحابه کرام رضی الله عنهم قول دَالله تعالی نیك اوصالحین بندګان ووچه دَهغوئ په لاس الله تعالی فتوحات مسلمانانوته نصیب کړو

که څوك اشکال اوکړی چه دَالله تعالی وعده دَصالحینوسره ده چه څه به دوئ ته فتح ورکوم نواوس یعني نن صبائی ولی ورنکړو اوصرف په زمانی دَصحابه رضی الله عنهم کښ ولی ورکړې وو؟

نوحضرت تهانوی رحمه الله تنه جواب داکړیدې چه داجمله﴿وَلَقَدۡ كَتَبۡنَا فِي ٱلزَّبُورِ﴾ قضیه مطلقه عامه ده چه په منزله دَشئ مطلق کښ ده،نوداوعده په ضمن دَبعضوافرادوکښ چه صحابهٔ کرام دې موجوده ده،اوداعامه مطلقه نده فلااشکال.

﴿إِنَّ فِي هَٰذَا لَبَلَٰغًا﴾پدی ایت کښ جنت ته دَتللواوپه دنیاکښ فتح اوکامرانی حاصلولوذریعه بیانیږی﴿هَٰذَا﴾دَپاره مشارالیه یادَدې سورة مضامین دې اویاټول قرآن دې اوبلاغ وثیلی کیږی ماتبلغ به البغية چه په کوم شي سره منزل مقصودته رسیدل کیږی اومطلوب ورسره حاصلیږی،مطلب دادې چه دآخرت مسافراودَجنت طلبګاردَپاره دَجنت ته دَتللو اوپه دنیاکښ فتح اوکامرانی حاصلولوذریعه قرآن ده اوعابدین نه مراد حاملین دَقرآن دې اوهغه مؤمنان دې چه دَسنت موافق دَالله تعالی عبادت کوی اوعمل کوی، امام رازی رحمه الله فرمائی چه دَقرآن علم په منزله دَشجریعني ونی دې اوعمل ئی په منزله دَثمریعني میوی دې،نوثمربغیردَشجرنه، حاصلیدلی نشي اوشجربغیردَثمرنه غیرمفیدوی.

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا رَحۡمَةٗ﴾ددې جملې عطف په ماقبل﴿إِنَّ فِي هَٰذَا﴾باندي دي اوهركله چه ماقبل ايت كښې قرآن كريم دمؤمنانودپاره توشه اوزاد راه اوګرځولې شوچه دايوقسم رحمت دې.
نوپدې ايت كښې چه په كوم هستئ باندې داقرآن نازل شويدې نودهغه دعمومي رحمت بيانيږي چه هغه دټولو مخلوقاتودپاره دالله ﷻ دطرف نه رحمت راغليدې، ﴿إِلَّا رَحۡمَةٗ﴾استثناء مفرغه ده چه مستثنى منه محذوف دې اوپدې محذوف كښې دوه(۲)احتمالات دې.يواحتمال دادې چه مستثنى منه محذوف حالة لفظ دې اوتقديردعبارت داسې دې چه وماارسلنٰك حالةً مَن الاحوال الاّ رحمةً نوپدې اعتباررحمةً ځكه منصوب دې داحال دې دكاف ضميرخطاب نه اوحمل دحال په ذوالحال باندې يامبالغةً دې اويامصدرمبني للفاعل دې دراحم په معنى سره اويامجازفي الحذف د يعني ذارحمة اودويم احتمال دادې چه مستثنى منه علة لفظ دې اوتقديردعبارت داسې دې چه وماارسلنٰك لعلّة مَن العللِ الاّ رحمةً،نوپدې اعتبارسره نصب درحمة دمفعول له دوجې نه دې چه دې مفعول له دې د﴿أَرۡسَلۡنَٰكَ﴾فعل دپاره او﴿لِّلۡعَٰلَمِينَ﴾كښې اشاره ده چه ذات اقدس درسول الله ﷺ دټول عالم دپاره ذريعه درحمت ده.
اوكه څوك اشكال اوكړي چه عالم لفظ خوكافرهم ته شامل دې اونبي ﷺ دكافرانوسره جهادكول اودهغوئ مالونه اخستل اوامت دجهادتعليم وركول داټول درحمت سره منافي دي نوڅرنګه به نبي ﷺ دكافردپاره رحمت اوګرځي؟ (۱)نوبعضوتنه جواب پدې شان كړيدې چه دعالمين نه مرادخاص مؤمنين دي ليكن داجواب ضعيف دې مناسب ندې دمقام دمدحې سره.
(۲)دويم جواب امام رازي رحمه الله په خپل تفسيركښې ذكركړيدې چه نبي عليه السلام مطلقاًرحمت وو دټول عالم دپاره، خوچه په چاكښې درحمت قبولواستعدادوو هغوئ دارحمت قبول كړو اوسعادت دارين ورته حاصل شو اوپه كوموخلكوكښې چه ضداوعنادوو اودځان نه ئې قبول رحمت استعداد ختم كړيدې نودهغوئ دپاره دارحمت،رحمت پاتې نشو،لكه دباران په باره كښې الله ﷻ فرمائي ونزّلنامن السّماء ماءً مّباركاً الخ(ق: ۹)خوبياهم داباران كله كله ذريعه دفساداوګرځي،نودامام رازي رحمه الله دجواب خلاصه داده چه ذات اقدس درسول الله ﷺ خالص رحمت دې اودادځنې مخلوقاتو خپل نقصان اوقصوردې چه ددې رحمت نه فائده نه آخلي اودځان دپاره ئې ذريعه دعذاب اورحمت اوګرځوي.

(۳) دريم جواب چه اکثرمفسرينو کړيدي دادې چه نبیﷺ دکافرانو دپاره رحمت وو پدی شان چه مخکښنو امتونو به چه کله تکذيب اوکړو نوپه هغوئ باندې به عذاب استيصالی نازليدلو په صورت دَخسف کښې يامسخ کښې اوياغرق وغيره کښې اودَدې امت دکافرانو نه دَنبیﷺ په برکت داقسم عذاب مؤخرکړې شويدې لکه اللهﷻ فرمائی وماکان الله ليعذبهم وانت فيهم(انفال) نوخلاصه داده چه نبیﷺ دَمؤمنانو دَپاره هم رحمت وو چه دَايمان په ذريعې سره دوئ ته سعادت دنيوی،اخروی حاصل شو،اودکافرانو دَپاره هم رحمت دې چه تاخيردَعذاب اوحفاظت دَعذاب استيصالی ورته حاصل شويدې اودغه شان دَخاروو دَپاره هم رحمت وو .لکه دَيو اوښ شکايت شو دَخپل مالك خلاف،نبیﷺ ته،ياواقعه دَمرغئ دبچی شوه چه يوصحابی نيولی وه چه داواقعات امام مسلم وغيره محدثينوپه باب دَمعجزات النبیﷺ کښې اوپه باب دَرحمت کښې ذکرکړيدي(۴) علامه ابن قيمؒ هم يوبحث کړيدې چه دَهغې خلاصه داده چه انسانان قسمه دي(۱) مؤمنان(۲) کافرظاهری(۳) اومنافق نونبیﷺ دَمؤمنانو دَپاره رحمت کيدل خوظاهره خبره ده ځکه چه مؤمنانو دَنبیﷺ دَتابعدارئ دَوجې نه،دَدنيا اواخرت سعادت حاصل کړيدي. دنياکښې دَجهادپه ذريعې سره دکفارو په اموالواوسلطنتونوباندې تسلط حاصل کړو اواخرت کښې اجرونه، اوجنتونه،ورته ميلاؤشي،اوکفارودَپاره رحمت ځکه دي چه دَهغوئ خلاف جنګ اوجهادئی اوکړو،اوهغوئ ئی اسلام قبولوباندې مجبوره کړل اويائی په اداء دجزئی باندې مجبورکړل چه دَهغې دَوجې نه بيادوئ دَيواسلامی حکومت دَلاندې دَارام اوسکون ژوندتيره وی. اومنافقين دَپاره پدی شان رحمت دې چه دَهغوئ سره په ظاهرکښې دَمؤمنانوپه شان معامله اودَمؤمنانوپشان هغوئ ته هم حقوق ورکول، اودَهغوئ رسوائی نه کول داټول دَهغوئ دَپاره رحمت وو.

هرکله چه نبوت مستلزم وو رحمت لره اودَنبیﷺ رحمت کيدل دَغهﷺ دَنبوت اثروو نودَدې وجه نه پدی ايت کښې اشاره ده چه نبی کريمﷺ اخری نبی دې اودَټول عالم دَپاره دې اونبوت ئی مخصوص په يوی زمانی اويا په يوقوم پوری ندې.

قُلۡ	اِنَّمَا	يُوۡحٰۤى	اِلَىَّ	اَنَّمَاۤ	اِلٰهُكُمۡ	اِلٰهٌ	وَّاحِدٌ	فَهَلۡ اَنۡتُمۡ
اوايه	ته	چه بيشکه	وحی کيدې شي	ماته	دَدې چه	حقداردَبندګئ	ستاسويو(ذات)دې	نوآيا يئ تاسو

مُّسْلِمُوْنَ ﴿۱۰۸﴾ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ اٰذَنْتُكُمْ عَلٰى سَوَآءٍ ۭ وَاِنْ اَدْرِيْٓ
غاړه كيښودونكي(دي مسلمان) ته. پس كه دوئ مخ اوګرځوي نوته اوايه چه ماتاسوخبركړئ يوره يوره. اونه پوهيږم څه چه
اَقَرِيْبٌ اَمْ بَعِيْدٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ ﴿۱۰۹﴾ اِنَّهٗ يَعْلَمُ الْجَهْرَ مِنَ الْقَوْلِ وَيَعْلَمُ
آيانږدي دي يالري دي هغه عذاب چه تاسوسره ئې وعده شويده. بيشكه الله ﷻ پوهه دي په ښكاره ويناپوهه دي
مَا تَكْتُمُوْنَ ﴿۱۱۰﴾ وَاِنْ اَدْرِيْ لَعَلَّهٗ فِتْنَةٌ لَّكُمْ وَمَتَاعٌ ۭ
په هغه څه چه تاسوئې پټوئ. اوځه نه پوهيږم كيدې شي دا(ورستوكيدل دعذاب)امتحان وي تاسولره اونفع وي
اِلٰى حِيْنٍ ﴿۱۱۱﴾ قٰلَ رَبِّ احْكُمْ بِالْحَقِّ ۭ وَرَبُّنَا الرَّحْمٰنُ الْمُسْتَعَانُ
ترڅوخته پوري.اوئيل رسول ﷺ اى ربه څمافيصله اوكړه حقه فيصله. اورب زمونږ رحمن دي مددغوښتلى كيږي دهغه نه
عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ ﴿۱۱۲﴾
په برداشت دهغه خبرو چه تاسوئې بيان كوئ.

﴿قُلْ اِنَّمَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ﴾ دا دليل وحى ذكركيږي په توحيدباندي علامه زمخشري اوآلوسى فرمائي چه پدې ايت كښې دوه(۲)قصرونه دي يوقصردصفت دي په موصوف كښې اودويم قصردموصوف دي په صفت كښې اودَدوئ په مسلك چه څرنګه انما(بالكسر)دَقصردپاره دي نودغه شان انّما بالفتح هم دَقصردپاره دي اوعلامه آلوسى رحمه الله دي قول ته دَجمهورو قول وئيلى دي اوابوحيان صاحب دبحردَ انّما(بالفتح) دَقصردپاره استعماليدلونه انكاركړيدي

بهرحال: دَجمهوروپه نيزاول قصرچه دَانّما(بالكسر) نه مستفاددي داقصردَصفت دي په موصوف كښې يعني قصردَوحى راغليدي په وحدانيت دَالله ﷻ كښې اودويم قصرچه مستفاددي دَ انّما(بالفتح) نه داقصردَموصوف دي په صفت كښې نودَايت مقصددادي چه اى پيغمبره ﷺ ته دي خلكوته دا اوايه چه(په امردَمعبودكښې ماته(دَبل هيڅ شي وحى نده شوى سيوادَوحدانيت نه اومعبود دَستاسوتن تنهايوذات دي. اوكه څوك اشكال اوكړي چه دلته به قصردَوحى په وحدانيت كښې څرنګه صحيح شي حالانكه نبى ﷺ ته خودَډيرو امورو وحى كړې شوى وه مثلاً مونځ،زكوة، روژه وغيره اوصرف دَتوحيدوحى نوه فقط؟ يوجواب تنه دادي چه داقصرادعائى

دي ځکه چه توحيد اصل الاصول دي، دټولو اصولو داسلام بناء په توحيد باندي ده نو دا اهتمام شان او عظمت شان دپاره قصر دوحی په وحدانيت کښې اوکړې شو ادعاءً.

دويم جواب دادې چه دا قصر قلب دي چه مخاطبين هغه خلك وو چه دهغوئ اعتقاد دشرك وو نو مقصود پدی سره دهغوئ داعتقاد تبديلی وه دشرك نه توحيد ته نو ځکه دا قصر قلب شو

﴿فَهَلۡ أَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾ استفهام په معنٰى دامر سره دي ﴿فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقُلۡ ءَاذَنتُكُمۡ﴾ آذن منقول دي داذن نه اوپه آذن (بالمد) کښې يوه همزه دنقل ده اوفرق په مينځ ددواړو کښې (بالمد او بالقصر) دادې چه اذن (بالقصر) استعماليږی په مطلق علم او اجازت کښې او آذن (بالمد) متضمن دې معنٰى دانذار لره (كشاف بتغير) او دلته په معنٰى داعلمتكم سره دې يعني اطلاع او علم ورکول سره دېری نه او مفعول ثانی ئی مقدر دې اوهغه يا ما اُمِرتُ بِهِ جمله ده ای اعلمتكم ماامرت به (مدارك) او يا حرب لکم دې او مراد دحرب نه يا عقوبت او عذاب دې او يا اتنه محاربه او جنګ کول مراد دې او على سوآءٍ دا يا حال دي دمفعول اول نه چه کم ضمير دې نو دا يت معنٰى او مقصد دا شو چه دکومو امورو ماته وحی کړې شويده او دهغه دتبليغ حکم ماته کړې شويدې مثلاً توحيد وغيره ددې اطلاع او خبرداری ما تاسو ټولو ته درکړيدې بلا تخصيص، منل او نه منل ستاسو کار دې، ما خه شي پټ ندې ساتلی (حداد) او يا حال دې دفاعل او مفعول دواړو نه، او دا يت مقصد دادې چه که دوئ اوس هم اعراض او انکار کوی نو ته ورته دا اوايه چه دا مسئله توحيد ما تاسو ته په دسی واضحی طريقی سره بيان کړه چه مونږ تاسو ټول پری ښه پوهه شوی يو .نو ستاسو دا انکار محض دضد او عناد په بنياد دې (روح) او پدې کښې رددې په مذهب دباطنيه (شيعه ګانو) باندې چه هغوئ ددې قائله دې چه نبی ﷺ ځنی احکامات پټ حضرت علی رضی الله عنه ته خودلی وو او هغه ئی ورسره خاص کړې وو يا دغه شان امامان خصوصی خبرو سره خپل مخصوص کسان خاص کوی او کچری مفعول ثانی حرب شي او دحرب نه مراد عقوبة او عذاب شي نو په دې صورت کښې على سوآء حال دې د کم ضمير نه، نو دا يت مقصد دادې چه ستاسو دانکار په صورت کښې کوم عذاب راځی دهغی اطلاع ما تاسو ټولو ته درکړيده، څه افراد می خاص کړی او څه می پريخی ندې، او يا حرب نه مراد محاربة او جنګ کول دې او على سوآء حال دې دفاعل او مفعول دواړو نه نو مقصد دادې چه

خمادطرف نه تاسوواضح بيان دي چه دجنګ په مسئلی کښ مونږ تاسوبرابريو اوزمونږ اوستاسوپه مينځ کښ صلح نه کيږی (قرطبی).

﴿وَإِنْ أَدْرِيٓ أَقَرِيبٌ ﴾داعاده ده دعوی دسورت ان نافيه دي او﴿مَّا تُوعَدُونَ ﴾نه مراد غلبه دمسلمانانو. ظهوردين اووقوع دقيامت چه مشتمل دي په عذاب داټول تنه مراددي. مقصد دادي چه داټول مذکورشيزونه خامخاواقع کيدونکی دي خوکله به واقع کيږی؟ نوددي تعيين علم ماته نيشته دي ځکه چه الله ﷻ ماته ددي دوخت تعيين علم ندي راکړي.(مدارك) نوپديکښ نفی دشرك فی العلم ده چه نبیﷺ ته هم علم غيب نوو.

﴿إِنَّهُۥ يَعْلَمُ ٱلْجَهْرَ ﴾داعلت دي دماقبل دپاره خلاصه ئی داده چه علم غيب مختص دي په الله ﷻ پوری په ظاهراوباطن باندي هغه خبرداردي فقط نوددي وجه نه ماته علم غيب ندي حاصل ځکه چه د اختصاص په مفهوم کښ داده چه لايوجدفی غيره

﴿وَإِنْ أَدْرِي لَعَلَّهُۥ ﴾پديکښ حکمت دتاخيردعذاب ذکرکيږی. يعني پوره دحکمت علم خوماسره هم نيشته خوکيدي شي چه داتاخيردعذاب ستاسودپاره استدراج وی. نوفتنة نه مراد ازمائش اواستدراج دي.

﴿وَمَتَٰعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴾داخبردي دمبتدامحذوفی دپاره چه هذادي اودامتعلق دماقبل سره ندي يعني دترجی ماتحت ندي ځکه چه دامحل دترجی دپاره ندي بلکه دامتحقق دي.﴿قَٰلَ رَبِّ ٱحْكُم بِٱلْحَقِّ ﴾داتخويف دي﴿قَٰلَ﴾په صيغی دماضی سره دي اوحکايت دي ددعادنبیﷺ نه او ﴿بِٱلْحَقِّ ﴾ ياپه معنی دعذاب سره دي (حداد) (کبير) يعني زمونږ اودکافرانوپه مينځ کښ فيصله په عذاب سره اوکړی اويا﴿بِٱلْحَقِّ ﴾ په معنی دعدل اوانصاف سره دي اويا﴿بِٱلْحَقِّ ﴾صفت دي دحکمك موصوف مقدردپاره،موصوف حذف کړي شواوصفت دهغی قائمقام کړي شو. تقديردعبارت داسی دي رب احکم بحکمك الحق اودالله ﷻ هره فيصله په حق اوانصاف سره وی خوبياهم دادعاپه حق قيدسره مقيدکولوکښ اشاره ده ديته چه دکفارو داعمل يعني انکاردحق نه مقتضی

دي دَتعجیل دَعذاب دَپاره نو گویا چه ﴿بِٱلۡحَقِّ﴾ قید دَپاره دَاستعجال دَنصرت اوپه دوئ باندي په جلتئ سره دَعذاب غوختلو دَپاره دي (زادالمسیر).

﴿وَرَبُّنَا ٱلرَّحۡمَٰنُ ٱلۡمُسۡتَعَانُ﴾ پدیکښې رددي په شرك فی الاستعانة اوشرك فی التصرف باندي. او ﴿مَا تَصِفُونَ﴾ نه مراد الله ﷻ دَپاره شریك ثابتول یاولد ثابتول وغیره وی

تم بحمدالله وتوفیقه وبمنته تفسیرسورة الانبیاء.اللهم اغفرلناولوالدینا ولجمیع المؤمنین والمؤمنات اللهم اجعل رفاقتنا مع النبیین والصدقین والشهداء والصلحین، وحسن اولئك رفیقا. وصلی الله تعالی علی خیرخلقه محمدواله وصحبه وسلم(امین).

رکوع	سورة الحج مدنية	آيتونه
۱۰	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	۷۸
	خاص په نوم د الله سره چه بیحده مهربان او ډیر رحم کوونکې دې شروع کوم	

رقمها حسب التسلسل (۲۲) وحسب النزول (۱۰۳)

تفسیرسورة الحج: سورة الحج مدنی سورت دې سیوا دڅلورو ایاتونونه. یعنی ایت نمبر ۵۳ تا ۵۷ چه دامکی دی، دا قول دابن عباس رضی الله عنه اوقتاده رحمه الله نه مروی دې اوبعض فرمائی چه داسورت مکی دې سیوا دیوڅو ایاتونونه. چه هغه پکښې مدنی دی. لیکن غوره قول اودجمهورو قول دادې چه داسورة مختلط دې بعض حصه ئی مکی ده اوبعض حصه ئی مدنی ده اوقرطبی رحمه الله دې قول ته اصح وئیلی دی اوقرطبی رحمه الله فرمائی چه دډې سورة دعجائباتونه. داده چه دډې سورت بعض ایاتونه دشپې نازل شویدی اوبعض دورځې، بعض په سفرکښې اوبعض په حضر کښې نازل شویدی، بعض په مکه کښې اوبعض په مدینه کښې نازل شویدی، بعض ایاتونه پکښې دجنګ اوبعض پکښې دصلحی دی، بعض پکښې ناسخ اوبعض پکښې منسوخ دی اوبعض پکښې محکم اوبعض پکښې متشابه دی (قرطبی) اودډې وجې نه دډې زمانه نزول دبعضې حصې دوراخیر دمکی معظمی دې اودبعضی حصی نزول زمانه دورابتدائی دمدینی دې. په ترتیب قرآنی کښې دویشتم (۲۲) اوپه ترتیب نزولی کښې (۱۰۳) نمبرسورت دې، دسورة النورنه ورستو اودسورة المنافقون نه مخکښې نازل شویدې، داسورة (۷۸) ایاتونو (۱۰) رکوعاتو (۱۲۹۱) کلماتو او (۵۰۷۵) حروفوباندی مشتمل دې.

ربط: دسورة الحج دسورة الانبیاء سره ربط اسمی دادې چه په سورة الانبیاء کښې حال دسعادت مندو اودبدبختو بیان شو اوس پدې سورت کښې دفزع اکبراوزلزلة الساعة نه دبچ کیدلو اوسعادت حاصلولو اوشقاوت نه بچ کیدلوطریقه بیانیږی چه سعادت حصول اوشقاوت نه بچ کیدل په تقوی سره کیږی.

ربط مضمونی: دمضامینو په اعتبارسره دډې سورة دماقبل سره ربط دادې چه په سورة الانبیاء کښې نفی دشرك فی التصرف وه چه حاجاتو پوره کوونکی صرف یو الله تعالیٰ دې نو پدې سورة کښې

نفي دشرك فعلي کیږي چه نذرونیازخالص دالله ﷻ په نوم باندي ورکوئ. نوګوچه داسمه دماقبل ده،دغه شان سورة الانبیاء کښ عجزدانبیاء کراموذکرشوچه دتکلیف په وخت کښ الله ﷻ ته فریادکړي وو،نوپدې سورة کښ رددې په هغه چاچه خپل عجزبل چاته پیش کوی دغه شان په سورة الانبیاء کښ مسئله دتوحیدعقلاً نقلاً ثابته کړې شوه نواوس پدې سورة کښ داذکرکیږي چه څوك دامسئله نه مني نودهغه سره جهاد اوکړئ

دعوه دسورت:ددې سورت دعوی رد علی الشرك. اواثبات دتوحید رسالت اوقیامت دي په دلائلو سره.

خلاصه مضامين: ددې سورة دمضامینو مختصره خلاصه داده چه دا سورة په څلورحصو باندي تقسیم دي،**حصه اوله** دایت نمبر(۱) نه ترایت نمبر(۲۲)پورې ده پدې حصه کښ نفي دشرك في التصرف مضمون ذکردې. اودلائل عقلیه په نفي دشرك فی التصرف باندي. اوڅه یکښ زجرونه اوتخویفونه هم ذکرکیږي.**دویمه حصه** دایت نمبر(۲۲)نه ترایت نمبر(۳۸)پورې دد اوپدې حصه کښ نفي دشرك فعلي بیان دې. بیاپکښ دلیل نقلي بیانیږي درد دشرك فعلي دپاره اودڅلور مضامینوپه ضمن کښ رد په شرك فعلي باندي کیږي. هغه څلورمسائل اومضامین دادي

(۱) تحریمات الله قائم اوساتئ(۲)تحریمات غیرالله ختم کړئ(۳)نذرلله پوره کړئ(۴)نذرلغیرالله مه کوئ.

دریمه حصه دایت نمبر(۳۸)نه تر(۵۷)پورې ده پدیکښ دجهاد اجازت اوحکم وعده دنصرت اواعلان دفتحی کیږي سره دبعض صفاتو دمجاهدینونه،اودغه شان څه زجرونه وغیره هم پکښ ذکرکیږي او**څلورمه حصه** دایت نمبر(۵۸)نه تراخردسورت پورې ده، پدې حصه کښ ددواړو مضامینواعاده، دلائل عقلیه په توحید،ددواړو مضامینودتوضیح دپاره مثال اودټولو مضامینو دسورت اجمالي اعاده په طریقی داف. نشرمرتب سره کیږي،سره دیودلیل نقلي نه

تفصیلي خلاصه: ایت نمبر(۱ ، ۲)کښ تخویف اخروی ذکرکیږي.ایت نمبر(۳ . ۴)کښ زجردې. ایت نمبر(۲ ، ۷) کښ دوه دلیل عقلي بیانیږي په اثبات دتوحیداوقیامت باندي.دایت نمبر(۸)نه تر(۱۳)پورې دوه(۲)زجرونه. یوتخویف اخروی اویوتخویف دنیوی ذکرکیږي.په ایت نمبر(۱۴) کښ بشارت اخروی ذکرکیږي.په ایت نمبر(۱۵)کښ زجراوپه(۱۲)کښ ترغیب الی القرآن ذکرکیږي،په ایت نمبر(۱۷)کښ تخویف اخروی دې،په ایت نمبر(۱۸)کښ په توحیدباندي دویم

دليل عقلي مذکوردي، دآيت نمبر(۱۹)نه تر(۲۲)پورې تخويف اخروي دي.په ايت نمبر(۲۳. ۲۴) کښې بشارت اخروي اوپه(۲۵)کښې تخويف اخروي دي

دآيت نمبر(۲۲)نه تر(۳۸)پورې دويمه حصه شروع کيږي. چه پديکښې دنفي دشرک فعلي بيان دي نوپه ايت نمبر(۲۲)نه تر(۳۸)پورې دويمه حصه شروع کيږي. چه پديکښې دنفي دشرک فعلي بيان دي نوپه ايت نمبر(۲۲)کښې دليل نقلي ذکرکيږي دحضرت ابراهيم عليه السلام نه.په ايت نمبر(۲۷، ۲۸، ۲۹)کښې بعض مسائل اومنافع دحج اودنذرلله دپوره کولوحکم ورلولې کيږي.په ايت نمبر(۳۰)کښې ذکردتحريمات الله دی اوابطال دتحريمات لغيرالله اونذرلغيرالله کيږي .ايت نمبر(۳۱)کښې تمثيل دمشرک بيانيږي، په ايت نمبر(۳۲، ۳۳)کښې بطورتاکيد دنذرونيازدالله جل جلاله دنوم والاذکرکيږي. دآيت نمبر(۳۴)نهتر(۳۸)پورې نذرلله اعاده اوبعض شرائط دقبوليت عندالله بيانيږي.

ايت نمبر(۳۹)نه تر(۵۷)پورې دريمه حصه ده، نوپه ايت نمبر(۳۹. ۴۰. ۴۱) کښې ترغيب الی القتال بيانيږي چه دتوحيد دنشرواشاعت دپاره جهاد اوکړئ اودغه شان علت دمشروعيت دقتال اودمجاهدينوبعض صفات بيانيږي، دآيت نمبر(۴۲)نه تر(۴۲)پورې ايتونوکښې تسلی نبی ﷺ ته ذکرکيږي اومنکرينوته تخويف دنيوي ذکرکيږي، ايت نمبر(۴۷. ۴۸) کښې زجرسره دتخويف اخروي اودنيوي بيانيږيو په ايت نمبر(۴۹)کښې ترغيب الی الايمان اواثبات درسالت کيږي.په ايت نمبر(۵۰) کښې بشارت اخروي دي مؤمنانوته، په ايت نمبر(۵۱)کښې تخويف دي منکرينوته. دآيت نمبر(۵۲)نه تر(۵۵)پورې اياتونوکښې دمنکرينودانکاروجه بيانيږي.په ايت نمبر(۵۲) کښې بشارت اوايت نمبر(۵۷)کښې تخويف ذکرکيږي.

دآيت نمبر(۵۸)نه تراخره پورې څلورمه حصه دسورت ده، نوپه ايت نمبر(۵۸. ۵۹)کښې بشارت اخروي اودنيوي ذکرکيږي مهاجرينوته، په ايت نمبر(۶۰)کښې بشارت دنيوي ذکرکيږي په نصرت سره په ايت نمبر(۶۱)کښې دليل انی ذکرکيږي دنصرت دپاره .په ايت نمبر(۶۴)کښې دويم دليل عقلي ذکرکيږي په توحيدباندې په ايت نمبر(۶۵)کښې دريم او(۶۶)کښې څلورم دليل عقلي ذکرکيږي، په ايت نمبر(۶۷، ۶۸، ۶۹)کښې اعاده دمضمون ثاني يعنی نفي دشرک فعلي اعاده کيږي سره دتشجيع اوبيان دطريقې دعوت نه، ايت نمبر(۷۰)کښې پنځم دليل عقلي ذکرکيږي چه متعلق دي ددواړو مضامينوسره، په ايت نمبر(۷۱، ۷۲)کښې زجردي منکرينوته. سره دتخويف اخروي نه، په ايت نمبر(۷۳، ۷۴)کښې ددواړو مضامينوسره متعلق يومثال بيانيږي دپاره د اظهار

عجز دَمعبودانو باطلو . سره دزجرنه. په ایت نمبر ۷۵ کښې دَملائکو اوانبیاء کرامو متعلق داظهار
عجز دَمعبودانو باطلو . سره دَزجرنه. په ایت نمبر(۷۵) کښې دَملائکو او انبیاء کرامو متعلق دیوی شبهې جواب ذکر کیږی. په ایت نمبر(۷۶) کښې بل دلیل عقلی بیانیږی په توحید باندی. په ایت نمبر(۷۷) کښې دَمضامینو دَسورت اجمالی اعاده ده. په ایت نمبر(۷۸) کښې حکم دَجهاد ورکولی کیږی او دلیل نقلی دَابراهیم عليه السلام ته اشاره کیږی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُوا۟ رَبَّكُمْ ۚ إِنَّ زَلْزَلَةَ ٱلسَّاعَةِ شَىْءٌ عَظِيمٌ ① يَوْمَ تَرَوْنَهَا

ای خلکو یره او کړئ دَرب خپل نه. یقیناً زلزله دَقیامت یو څیز لوئ هیبتناك دې په هغه ورځ چه او به وینئ تاسو هغې لره

تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّآ أَرْضَعَتْ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى

چه غافله به شي هره پئ ورکوونکې دَهغه بچی نه چه پئ ورکوي هغه لره او او به غورځوي هر حمل والا حمل خپل. او وبه وینې ته

ٱلنَّاسَ سُكَٰرَىٰ وَمَا هُم بِسُكَٰرَىٰ وَلَٰكِنَّ عَذَابَ ٱللَّهِ شَدِيدٌ ②

خلك نشه او حال داچه نه به وي په دوئ باندي نشه په څکلو دَنشي والا چیزسره، او لیکن عذاب دَالله تعالی ډیر سخت دی

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُوا۟ رَبَّكُمْ﴾ دَسورت ابتدا په تخویف دَاثبات قیامت سره کیږی دَپاره دَدې چه په زړونو کښې خشیت او انابت الی الله پیداشی، او غوره خبرداده چه په تقوی سره مراد مطلق تقوی ده چه متضمنه ده ټولو مراتبو دَتقوی لره او دهغی نه تعبیر په الاجتناب عن کل مایؤثم من فعل وترك، سره کیږی یعنی هرهغه عمل نه ځان بچ ساتل چه دهغی په کولو سره او یادَهغی په پریخودلو سره انسان ګنهګاریږی، امام رازی رحمه الله فرمائی چه امر بالتقوی مستلزم دې دوه(۲) امورلره یو(۱) اتیان په ماموراتو(۲) دویم اجتناب دَمعاصینو نه نو پدیکښې دَهرحرام کارکولو نه ځان بچ ساتل او دغه شان دَواجب پریخودلو نه ځان بچ ساتل، دا ټول پکښې داخل دی. باقی مراتب دَتقوی په سورة البقره کښې تفصیلاً تیرشویدی.

﴿إِنَّ زَلْزَلَةَ ٱلسَّاعَةِ﴾ داعلت دې دَماقبل دَپاره، او زلزله په اصل کښې تحرك شدیده ته وئیلې کیږی ،دلته دَزلزلة نه مراد حقیقة زلزله ده او که استعاره ده دَهیبت نه نو دواړه قولونه پکښې راغلیدی چه بعض فرمائی چه دَزلزلی نه مراد حقیقةً زلزله نده بلکه داکنایه او استعاره دَهیبت او دَګبراهټ نه په میدان حشرکښې، او په هیبت او ګبراهټ او پریشانئ باندی اطلاق دَزلزلی کیږی

لکه سورة الاحزاب کښې الله ﷻ فرمائی: هنالِكَ ابتلیَ المؤمنون وزلزلوا زلزالاً شدیدا اوددې قول تائیدپه هغه روایت سره دې چه امام بخاری اوټولو کتب دَاحادیثوکښې مروی دې په زیادت اوکمی سره چه یوصحابیﷺ فرمائی چه داایت مذکوره په سفرد غزوه بنی المصطلق کښې نازل شو نونبیﷺ دَصحابونه تپوس اوکړو چه اتدرون ای یوم ذلك؟ یعنی تاسوته پته شته چه دابه کومه ورځ وی؟ صحابوعرض اوکړو الله ورسوله اعلم. چه الله ﷻ اورسولﷺ ته ښه علم دې نونبیﷺ اوفرمائیلو چه دابه هغه ورځ وی چه کله الله ﷻ آدم ﷺ ته اوفرمائی چه دخپل اولادنه دَجهنم والا ډله راجدا کړه. هغه به عرض اوکړی چه څومره خلك دَجهنم دپاره راجدا کړم؟ الله ﷻ به ورته اوفرمائی چه هرزرو(۱۰۰۰)کسانوکښې نهه سوه نهه نوی. یعنی په زرو کښې کسانوکښې یوکم زرکسان دَجهنم دَپاره راجداکړه اویوکس به جنت ته ځی،صحابه کرامﷺ چه داواوریدلونو ډیرپریشانه شو عرض ئې اوکړو چه یارسول اللهﷺ نوپه مونږ کښې به داسې څوك وی چه نجات به اومندی؟ نونبیﷺ تسلی ورکړه اوورته ئې اوفرمائیلو چه تاسونیك عمل کوئ اوثابت قدم اوسیږئ اوزیری قبول کړئ چه جهنم ته تلونکی خلکوکښې به (۱۰۰۰)زرکسان دَیاجوج ماجوج نه به وی اویوکس به ستاسونه وی،اوبیانبیﷺ اوفرمائیلوچه زه امیدلرم چه تاسو(زما امت)به دَټول اهل جنت څلورمه حصه ئې، نوصحابوالله اکبراوئیلوبیانبیﷺ اوفرمائیلو چه تاسوبه دریمه حصه دَاهل جنت ئې، صحابوﷺ بیاتکبیر اوئیلوبیانبیﷺ اوفرمائیلوچه تاسوبه نیمه حصه دَاهل جنت ئې،صحابوبیاتکبیراوئیلو اودویم قول دادې چه دَدینه مراد حقیقةً زلزله ده، نودازلزله به کله واقع کیږی نوپدی کښې بیا دری(۳)اقوال دی(۱)یوقول دادې چه دازلزله به قریب قیامت کښې به واقع کیږی اودادَاشراطو دَقیامت نه به وی،داقول دَعلقمهؒ اودَشعبیؒ دې اودَحضرت ابی بن کعبﷺ نه مروی دی چه قیامت ته قریب شپږلوئ لوئ علامات به ظاهریږی(۱)نمر رنړاختمیدل (۲)دَستورو یوبل سره ټکراؤکیدل(۳)سخته زلزله راتلل(۴)سمندرکښې اورلګیدل (۵)، زمکه په زمکه کښې ننوتل(۶)، هواچلیدل چه دهغی دَوجی نه به سخت مرګونه واقع شی(زادالمسیر).

(۲)دویم قول دَحضرت حسن بصریؒ وغیرودې چه فرمائی چه دازلزله به دَنفخه اولی په وخت کښې وی لکه سورة النازعات کښې دی یوم ترجف الراجفة

(۳) دريم قول دادې چه دا زلزله به د نفخه ثانيه په وخت کښې وي چه کوم وخت انسانان د قبورنه راپاځي لکه سورة الزلزال کښې دي (اذا زلزلت الارض زلزالها).

بهرحال هره زلزله چه وي اوکله چه هم واقع کيدونکې ده يو خودغه ورځ به ډيره دهيبت اود سختئ والا ورځ به وي ﴿يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ﴾ دا دهيبت د زلزلې بيان دې چه دومره سخته دهيبت والا ورځ به وي چه د تئ ورکوونکې زنانه نه به خپل بچي هيرشي اود خوف دوجې نه به د حاملې زنانه حمل به اوغورزيږي. د دې ايت په تفسيرکښې دوه (۲) اقوال دي. (۱) يو قول دادې چه داايت حمل دې په فرض، تقديراوتشبيه باندې. يعنې کچرته بالفرض والتقدير يوه مرضعه اوياحامله زنانه موجوده شي نومرضعه به د خپل بچي نه غافله شي اود حاملې زنانه به د دهشت اوخوف نه حمل ضائع شي.

(۲) دويم قول دادې چه ايت حمل دې په حقيقت باندې مرادتنه هغه زنانه دي چه د حمل اويابچي ته پيوورکولو زمانه کښې ورته مرګ راغلې وي نو ددغه شان زنانو بعث به هم په دغه حالت کښې کيږي.

فائده: مرضع اومرضعة دواړه لفظونه دهغه زنانو دپاره استعماليږي چه بچي ته پئ ورکوي خو د دواړو په مينځ کښې فرق دادې چه مرضعة ورته هغه وخت کښې وئيلې کيږي چه بچي ته ئې تئ په خوله کښې ورکړې وي اومرضع ورته عاموحالاتوکښې وائي. اوبچي ته د پيوورکولو داخاص وخت ډيرد مينې وي اوزنانه د ډيرتکليف باوجود بچي د سينې نه، نه لرې کوي خود قيامت اود زلزلې هيبت به دومره زيات وي چه دغه شان زنانه به هم خپل بچي د ځان نه، لرې کړي اود بچي نه به بالکل غافله شي.

اودغه شان ذات حمل اوحامل دواړه صفات د زنانو دي چه په خيټه ئې بچي وي خوفرق په خپل مينځ کښې دادې چه ذات حمل ورته هغه وخت کښې وئيلې شي چه حمل ئې ښکاره اوظاهرشوې وي اوحامل ورته په عامواوقاتوکښې ورته وئيلې شي اوهرکله چه زنانه ذات حمل وي نوپدغه وخت کښې دا ډيرزيات احتياط کوي چه حمل ناتمام اونه غورزيږي. خود قيامت د ورځې هيبت به دومره زيات وي چه زنانه به د خپل حمل حفاظت اونکړې شي.

﴿وَتَرَى ٱلنَّاسَ سُكَٰرَىٰ﴾ غوره قول دادې چه رؤيت په خپلې معنى سره دې او سکارى نه مراد مشابه د سکارى دې يعنې دهيبت د وجې نه به د دې خلکوپه عقلونوکښې داسې فتورراغلې وي

اوبدحاله به وی لکه څرنګه چه دنشيي سړی عقل کښې فتوروی اوپه هيڅ باندی هم نه پوهيږی اوبدحاله وی اوبعض فرمائی چه﴿وَتَرَى﴾په معنی دظن سره دي﴿ٱلنَّاسَ﴾ورله مفعول اول او﴿سُكَٰرَىٰ﴾ورله مفعول ثانی دي.يعنی ته به په خلکو باندی داسی ګمان کوی چه دوئ نشه دي داسی دليونو په شان منډی به وهی اوحالانکه دوئ به حقيقت نشه نوی

﴿وَلَٰكِنَّ عَذَابَ ٱللَّهِ﴾دااستدراك دي دمحذوف نه.مقصددادي چه دامذكوراحوال يعنی ذهول دمرضعه وضع دحمل اوخلك بيهوشه بنکاريدل دا ټول څه ناڅه درجی کښې به آسان وی ليکن ددينه ورستوچه كوم عذاب به چه الله ﷻ دطرف نه وی هغه به ډيرسخت وی څه قسم نرمی اوآسانی به پکښې نوی،(بحر).

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَيَتَّبِعُ كُلَّ شَيۡطَٰنٖ مَّرِيدٖ ۝٣
اوبعض دخلكونه هغه څوك دی چه جګړه كوي په باره دتوحيددالله ﷻ كښې بغيرد پوهي نه اوروان دی په هرشيطان سركش پسی
كُتِبَ عَلَيۡهِ أَنَّهُۥ مَن تَوَلَّاهُ فَأَنَّهُۥ يُضِلُّهُۥ وَيَهۡدِيهِ
فيصله كړي شويده په باره دهغه چاكښې چه چاتابعداری ئ اوكړه دشيطان نويقيناً هغه به ګمراه كوي دده لره اوړسوي به دده لره
إِلَىٰ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ۝٤
عذاب دګرم اورته

﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ﴾منكرينودتوحيداوقيامت ته زجردي اوجدال فی الله نه مراد دالله ﷻ په قدرت اوصفاتو كښې جهګړا مرادده چه دوئ به داوئيل چه الله ﷻ په بعث بعدالموت باندی ندي قادر، ملائكوته بنات الله وئيلو اودقرآن په باره كښې به اساطيرالاولين قول كولو﴿بِغَيۡرِ عِلۡمٖ﴾ددينه مراد دليل عقلی دي.

﴿وَيَتَّبِعُ كُلَّ شَيۡطَٰنٖ﴾ددينه جنی اوانسی دواړه شيطانان مراددي، جنی شيطان مختلف قسم خيالات،شبهات دكفاروپه زړونوكښې اچوی اوكفاردهغی اتباع كوی اوانس شياطين هغه

مشران متبوعين دي چه خپلو اتباعو ته دكفر، شرك او بدعت دعوت وركوي او دوئ ئې قبلوي. او په هغوئ پسې روان دي.

﴿كُتِبَ عَلَيۡهِ أَنَّهُۥ مَن تَوَلَّاهُ﴾ كتب نه مراد كتابت تقديري دې. په معنى دقضى سره او ضمير د ﴿عَلَيۡه﴾ شيطان ته راجع دې اى قضى على الشيطان (مدارك) او أَنَّهُ كښې ه ضمير شان دې او ﴿تَوَلَّاه﴾ په معنى دتبع سره دې او دا ضمير هم شيطان ته راجع دې. او باقي ضمائر من ته راجع دي. نو دا يئ مقصد دا دې چه په شيطان باندې دا فيصله كړې شويده چه څوك هم دده اتباع كوي نو هغه به گمراه كيږي او شيطان به ئې جهنم ته بوځي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمۡ فِي رَيۡبٖ مِّنَ ٱلۡبَعۡثِ فَإِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ

اى خلكو كچرې يئ تاسو په شك كښې ددوباره ژوندنه نو (دليل واورئ) يقيناً مونږ جوړ كړى وئ تاسو اول د خاورونه. بيا د نطفې نه

ثُمَّ مِنۡ عَلَقَةٖ ثُمَّ مِن مُّضۡغَةٖ مُّخَلَّقَةٖ وَغَيۡرِ مُخَلَّقَةٖ

بيا تكړې دوينې نه بيا تكړې دغوښې نه چه (څني) پوره اندامونه والاوي او (څني) كم اندامونو والاوي

لِّنُبَيِّنَ لَكُمۡۚ وَنُقِرُّ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ مَا نَشَآءُ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمّٗى

دپاره ددې چه مونږ وضاحت اوكړو تاسو ته. او ساتونې په رحمونو كښې څومره چه زمونږ خوښه وي ترنيتې مقررې پورې

ثُمَّ نُخۡرِجُكُمۡ طِفۡلٗا ثُمَّ لِتَبۡلُغُوٓاْ أَشُدَّكُمۡۖ وَمِنكُم مَّن

بيا او باسو تاسو لره واړه بيا پالنه كوو ستاسو د پاره ددې چه اورسيږئ ځوانئ خپلې ته. او څنې دستاسو نه هغه دي

يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرۡذَلِ ٱلۡعُمُرِ لِكَيۡلَا يَعۡلَمَ

چه مړه كړې شي او څنې دستاسو نه هغه دى چه اوگرځولى شي سپك عمر ته عاقبت داشي چه نه پوهيږي

مِنۢ بَعۡدِ عِلۡمٖ شَيۡـٔٗاۚ وَتَرَى ٱلۡأَرۡضَ هَامِدَةٗ فَإِذَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡهَا

وروستو دپوهې نه په هيڅ څيز باندې. او وينې ته زمكې لره اوچه پرته پس كله چه راواورو مونږ په هغې باندې

الْمَآءَ	اهْتَزَّتْ	وَرَبَتْ	وَأَنۢبَتَتْ	مِن	كُلِّ	زَوْجٍۭ	بَهِيجٍ ۝٥
اوبه‌باران	نوتياره	شي	دپاره	دزرغونئ	اوأوپرسيږي	اوراابوکوی	دهرقسم تازه نه

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِن كُنتُمْ ﴾پدی ايت کښ په اثبات دتوحيدوپه اثبات دقيامت باندی دوه،۲، دليل عقلی ذکرکيږی اول استدلال په پيدائش دانسان په مختلف اطوارو اوانقلاباتوسره دې اودويم استدلال دزمکی په مختلفواحوالوسره دې﴿إِن كُنتُمْ فِى رَيْبٍ﴾شرط دې اوجزاء ورله مقدره ده چه فازيلوا ريکم دې يعنی خپل شك پدی دليل سره زائله کړئ او ﴿فَإِنَّا خَلَقْنَٰكُم ﴾ تفصيل دجزاء دې اوقائمقام دجزاء دې.

﴿فَإِنَّا خَلَقْنَٰكُم﴾دااول دليل دې پديکښ دانسان دابتداء نه ترانتهاء پوری اوه،۷،منازل اومراحل بيان شويدی،۱،تراب ،۲،منی،۳،علقه ،۴،مضغه،۵،طفولت،۶،اشديت،۷،ارذل العمر.من تراب دااوله مرحله ده ددينه مراديا حضرت آدم عليه السلام دې، چه الله تعالی دخاورونه جوړکړو اوبيائی پکښ روح واچولو .اوچونکه حضرت آدم عليه السلام اصل وو ټولوانسانانودپاره نودهغه پيدائش دخاورونه دادټولوانسانانودخاورو نه پيدائش دې،نوپدی اعتبار﴿مِن نُّطْفَةٍ ﴾نه مراد پيدائش داولاد آدم دې خکه چه توالداوتناسل دپاره ظاهری ذريعه نطفه انسانی يعنی منی ده. اويادَ﴿خَلَقْنَٰكُم مِّن تُرَابٍ ﴾نه مراد هرهرفرد انسانی دې خکه چي دانسان دپاره مبدأ اول يعنی منی جوړيږی دغذاء نه اوغذا حاصليږی دخاورونه يعنی دزمکی نه، نودايت مقصدداشوچه ستاسوغذا دخاورونه ده چه هغه غذا مختلف مراحلوکښ دتيريدلونه پس بيا په منی سره بدله شی. نودادويمه مرحله اومنزل شو ﴿ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ﴾دادريمه مرحله ده چه حقيقت اوماهيت دمنی کښ الله تعالی انقلاب راولی اودوينی په حقيقت باندی ئی بدل کړی.

﴿ثُمَّ مِن مُّضْغَةٍ﴾داخلورمه مرحله ده چه دوينی ماهيت په غوښی سره بدل شی ﴿مُّخَلَّقَةٍ وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ﴾دادواړه په جرسره صفات دې دَ ﴿مُّضْغَةٍ﴾دپاره، ددې يوه معنی داده چه مخلقة نه مراد تام الخلقت دې يعنی دظاهری جسم په اعتبارسره دعيبواونقائصونه پاك وی. قدوقامت. رنګ.

شکل اوصورت اوصحت په اعتبارسره کامل وی او ﴿وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ﴾ نه مراد غیرتام الخلقة وی، یعنی قدوقامت، اعضاء وغیره کښی فرق وی.

دویمه معنیٰ ئی داده چه ﴿مُخَلَّقَة ﴾نه مرادهغه دې چه حیات ورته ورکړې شوې وی او ﴿وَغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ﴾ نه مراد هغه دې چه صرف مضغه وی اونوراعضاء ئی نوی راغلی اونه پکښی حیات وی اوتفصیل اوترتیب داوی چه کله نطفه مادررحم ته لاړه شی نوترڅلویښت ورځوپوری دغه شان نطفه وی، دڅلویښت ورځونه پس داپه منجمدې وینی سره بدله شی.بیاڅلویښت ورځونه پس مضغه شی چه دایوه ټکړادغوښی وی اوشکل وصورت ورته نوی ورکړې شی نوبیا ددغی(۱۲۰)ورځویعنی څلورمیاشتونه پس دالله ﷻ په حکم سره شکل وصورت ورته ورکولی کیږی،سر،خپی،لاسونه وغیره اعضاء ورته جوړکړې شی،نوځنی وخت کښی حمل دتشکیل یعنی شکل جوړیدلونه مخکښی ساقط شی نودیته غیرمخلقة وائی اوځنی وخت کښی حمل پوره شی اودنیاته راشی نودیته مخلقة وائی.

فائده: ددینه معلومه شوه چه دانسان په جسمانی انقلاباتواوظاهری طورحدکمال ته رسیدلوکښی دڅلویښت ورځواو(۱۲۰)ورځولوئ دخل دې نوپه باطنی انقلاباتو اوپه مراتبوکښی حدکمال ته رسیدلودپاره هم پدی اعدادو اعتمادکړې شویدې، چنانچه صوفیاکرامو معمول دخپلومریدانو سره داوی چه په هغوئ باندی چلی تیره وی اوتبلیغی حضرات اواکابرین هم داصلاح دپاره چله اوڅلورمیاشتی نصاب مقررکړیدې، اوتقرر ددې نصاب ته بدعت نشی وئیلې کیدلې کماتوهم بعض الجهلاء.

﴿لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ﴾دامتعلق دې په﴿خَلَقْنَٰكُم﴾پوری اومفعول ئی مقدردې چه هغه کمال حکمتاوقدرتنا دې یعنی پدی انقلاباتوسره مونږتاسوته خپل کمال حکمت اوقدرت واضح کوو، چه تاسوپدی سره استدلال اوکړئ چه کوم ذات پدی انقلاباتوباندی قادردې هغه په اعادې دانسان باندی هم قادردې.

فائده: هرکله چه په انسان کښی دوه(۲)قسمه انقلابات وو یوانقلاب په اعتباردماهیت اوحقیقت سره، چه یوماهیت په بل ماهیت باندی بدلیدل دی. اودویم انقلاب په اعتباردوصف

سره دي، نو ترديې ځائ پورې دَاول قسم انقلاب ذکر او شو او هرکله چه دا قسم زيات صريح او واضح دَپاره دَاستدلال په بعث باندې نو دَدې وجه تنبيه او کړې شوه په استدلال باندې په نين لفظ سره

﴿وَنُقِرُّ فِي ٱلْأَرْحَامِ﴾ يعنې څو مره چه دَالله ﷻ غوښته وې نو هومره وخت حمل په مادر رحم کښې تيره وي ځنې شپږ مياشتې، ځنې اوه (۷) ځنې اته ځنې نهه او ځنې ددېنه زيات وخت تيره وي.

﴿إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى﴾ دَمقررې نيټې اقل مدت شپږ مياشتې وي او اکثر مدت ئې زمونږ په مسلك دوه (۲) کاله او دَامام شافعي رحمه الله په مسلك څلور کاله وي.

﴿ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا﴾ دا ذکر دَانقلاباتو دې په اعتبار دَوصف سره او داپنځمه مرحله ده او ﴿طِفْلًا﴾ اسم جنس دې او دَطفوليت دَمدت اطلاق دَپيدائش نه تر حد بلوغ پورې کيږي. ﴿ثُمَّ لِتَبْلُغُوٓا۟ أَشُدَّكُمْ﴾ دا دَشپږمې مرحلې ذکر دې او غوره قول دادې چه ﴿لِتَبْلُغُوٓا۟﴾ علت دې دَمحذوف دَپاره نو تقدير دَعبارت داسې دې ثم نعمركم يا ثم نبقيكم لتبلغوا اشدكم، او اشديت نه مراد مرتبه دکمال قوت او عقل او تميزده.

﴿وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ﴾ يعنې ځنې کسان په مرتبې دَاشديت کښې او يا دَهغې نه مخکښې وفات کړې شي، او ځنې کسان داسې وي چه هغوئ عمر درازشي او اومې (۷) مرتبې ته اورسيږي يعنې ﴿يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرْذَلِ ٱلْعُمُرِ﴾ شي او ارذل العمر هغه مرحلې دَشيخوخة ته وئيلې کيږي چه په هغې کښې انسان بل چاته محتاجه شي لکه څرنګه چه په ابتداء کښې او زمانې دَطفوليت کښې محتاجه وي

﴿لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِنۢ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْـًٔا﴾ لام دَعاقبت دې او "شيئا" نکره ده په سياق دَنفي کښې واقعه شويده نو عموم ئې فائده کړيدې او من زائده دې دَتاکيد دَنفي دَپاره راغلې دې او هرکله چه دلته مراحل زيات او متعدد ذکرشو نو دَدې وجه نه دَنفي تاکيد په من زائده سره او شو، او په سورة النحل ايت نمبر (۷۰) کښې صرف دَتخليق او بيا رد الى ارذل العمر ذکر کړې دې او مراحل متعدد ندي ذکرشوي نو ځکه هلته دَنفي تاکيد په من سره ندې شوې او لکيلا يعلم بعد علم ذکرشويدې او حضرت عکرمه رحمه الله نه منقول دی چه من قراء القرآن لم يصر بهذه الحالة يعنې څوك چه قرآن لولي نو هغه

باندي به داحالت نه راځي يعني اهل علم او اهل قرآن الله ﷻ ددې حالت نه محفوظ ستنې دهغوئ عمرونه اګرچه اوږده شي خودهغوئ عقل اوفهم بالکل صحيح وي

﴿وَتَرَى الْأَرْضَ هَامِدَةً﴾ دادويم دليل دې مخکښې دليل عقلي انفسي وو اودادليل عقلي

افاقي دې اوپديکښې دزمکې ځلوراحوال مذکوردي. ﴿هَامِدَةً﴾ دهمودنه دې اوچې اوبې ګياه والا زمکې ته وئيلې کيږي. يعني زمکه اوچه اومړه وي نوالله ﷻ پرې باران راوروي نوحيات اوژوندون پکښې پيداشي، او ﴿اهْتَزَّتْ﴾ دااهتزازنه دې په معنى دحرکت سره اوهرکله چه تخم په زمکه کښې اوغورزولې شي اودغه تخم چه بيابهرته رااوځي دبوټي په صورت کښې. نوزمکه ورسره معمولي غوندې حرکت کوي ځکه چه بغيردحرکت دزمکې نه دتخم بهرته راوتل ممکن ندی اوبعض فرمائي چه دااهتزازنسبت کول زمکې ته مجازادې يعني اسنادمجازي دې اصل کښې حرکت او اهتزاز دبوټي مراددي، نواهتزت معنى ده تحرکت نباتها اوبعض فرمائي چه اهتزازنه معنى مجازي مراده ده. يعني قابل کيدل دزمکې دپاره دبوټي راويستلو اوداحرکت حکميه دي.

﴿وَرَبَتْ﴾ داياپه معنى دارتفعت سره دې يعني اوچته شي. اوياپه معنى دانتفخت اوازدادت سره دې يعني اوپړسيږي اودادواړه معاني قريبي قريبي دی

ذٰلِكَ بِأَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَأَنَّهُ يُحْيِ الْمَوْتٰى وَأَنَّهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝۶

دادليل دې پدې چه بيشکه الله ﷻ حق دې اوبيشکه هغه به ژوندې کوي مړولره اوبيشکه هغه په هرڅيزباندې پوره پوره قادردې

وَّأَنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيْهَا ۙ وَأَنَّ اللّٰهَ يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُوْرِ ۝۷

اوبيشکه قيامت راتلونکې دې نيشته شك په هغې کښې اوبيشکه الله ﷻ ژوندې کوي به هغه خوك چه په قبرونوکښې دی

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّلَا هُدًى وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ۝۸

اوبعضې دخلکونه هغه خوك دی چه جګړه کوي په توحيد دالله ﷻ کښې بغيردپوهې نه اوبغيردهدايت نه اوبغيردکتاب روښانه نه

ثَانِيَ عِطْفِهٖ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ لَهٗ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَّنُذِيْقُهٗ

تاووي دده خپله ډډ دپاره چه ګمراه کړي خلك دلارې دالله ﷻ نه دده دپاره په دنياکښې شرمندګي ده اوبه څکوو ده نه

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَذَابَ الْحَرِيْقِ ۝ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدٰكَ وَاَنَّ اللّٰهَ
په ورځ دقيامت عذاب داور سوزوونکي داپه وجه دهغې عملونوچه وړاندي ليږلي دي لاسونوستاويدي وجه چه الله ﷻ
لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ۝
ندي ظلم کوونکي په بندګانو خپلو باندی

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ﴾ "ذلك" سره اشاره مذكورفى الدليل ته ده. او﴿بِأَنَّ ٱللَّهَ﴾ جارمجرورمتعلق دې په محذوف پورى چه لتستيقنوا اولتعلموا دې اوپه دې دوه،۲،اياتونوکښ نتيجه دماقبل دواړو دليلونوذكركيږى،په پنځه وجود اوامورسره.اوهغه پنځه اموربالترتيب دادی ،۱،الله ﷻ حق دې ،۲،مړی به ضرورژوندی کيږی،۳،الله ﷻ په هرڅه باندی قادردې،۴،قيامت به خامخا راځى،۵، مړی به دخاورونه دوباره رااوچتيږی

﴿بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ﴾ دااوله نتيجه ده حق معنى داده چه وجود دالله ﷻ يقيني دې اوتغيراوتبديل نه پاك دې. كنى داسى مضبوط اومنظم اوحكيمانه اموربه څرنګه ظاهريدلو؟ يعنى دادهغه كمال ذاتى دې ﴿وَأَنَّهُۥ يُحْيِ ٱلْمَوْتَىٰ﴾ دادويمه نتيجه ده چه څرنګه الله ﷻ په ابتداء دانسان باندی قادردې چه يوى نطفى نه ئى علقه، علقى نه ئى مضغه اومضغى نه خائسته صورت والاانسان پيداكړو نوپه اعادې باندی هم قادردې. يعنى هغه متصف دې په كمال فعلى سره

﴿وَأَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ﴾ دادريمه نتيجه ده چه يوحقيقت په بل باندی بدلول داوچى زمكى نه ګياه رازرغونول وغيره داپدی دلالت كوی چه هرڅه دالله ﷻ دقدرت ماتحت دې.كنى داكارونه به چرته هم نوې شوې،يعنى هغه متصف دې په كمال وصفى سره.نوپدی ايت كښ دری،۳،امورثابت شو،۱،الله ﷻ په كمال ذاتى سره متصف دې،۲،الله ﷻ په كمال فعلى سره متصف دې،۳، الله ﷻ په كمال وصفى سره متصف دې

﴿وَأَنَّ ٱلسَّاعَةَ﴾ داڅلورمه نتيجه ده چه الله ﷻ په خپل قدرت بالغه سره اويوعجيب اوغريب نظام سره انسان پيداكړو نوداتخليق عبث اوفضول ندې بلكه دازندګى يوامتحان دې اوددې

نتیجي دَپاره دَقیامت ورځ هم پیداکړیده نوقیامت به خامخاراځي دي دَپاره چه انسان ته جزا اوسزا ورکړې شي

﴿وَأَنَّ ٱللَّهَ يَبْعَثُ مَن﴾ داپنځمه نتیجه ده چه څرنګه الله ﷻ ونی بوټی دَخاورونه پیداکوی نودغه شان دَدې خاورونه به دَقیامت په ورځ انسان دوباره راپورته کړی ﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ﴾ اتفصیلی اعاده ده دَزجراول خلاصه ئی داده چه داضدیان اومعاندین چه دَالله ﷻ په دین کښ شکوك اوشبهات پیداکوی اوناحق جهګړې کوی دَالله ﷻ په وحدانیت کښ نودوئ سره په دې خپلې دعوی باندی نه دلیل عقلی،نه نقلی، اونه وحی شته نو﴿بِغَيْرِ عِلْمٍ﴾ نه مراد نفی دَدلیل عقلی ده﴿هُدًى﴾ نه مراد دلیل وحی دې او﴿ كِتَٰبٍ مُّنِيرٍ﴾ نه مراد دلیل نقلی دې اویادَعلم نه مراد علم بدیهی اوضروری دې او﴿هُدًى﴾ نه مرادعلم استدلالی اواکتسابی دې ځکه چه نظرصحیح هادې اورسوونکی وی معرفت ته، اودکتاب منیرنه مراد دلیل نقلی دې.﴿ثَانِيَ عِطْفِهِۦ﴾داحال دې دَضمیرمرفوع دَیجادل نه او'ثانی' اسم فاعل دې دَثنی نه په اصل کښ اړول اوتاوولوته وئیلې کیږی او'عطف'جانب اوطرف ته وئیلې کیږی. دلته تنه مراد عدم قبول دَحق ایمان اوتوحیددې دَوجی دَتکبراوعنادنه﴿لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾داعلت غائی دې دَجدال.﴿لَهُۥ فِى ٱلدُّنْيَا خِزْىٌ﴾ تخویف دنیوی دې﴿وَنُذِيقُهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ﴾داتخویف اخروی دې.

﴿ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدَاكَ﴾دَدینه مخکښ يقال لهم في الاخرة اذا دخل النار جمله مقدرره ده ﴿وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيْسَ بِظَلَّٰمٍ﴾ددې جملې تفصیل په سورة ال عمران کښ تیرشویدې

وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَعْبُدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ حَرْفٍ ۖ فَإِنْ أَصَابَهُۥ خَيْرٌ ٱطْمَأَنَّ بِهِۦ ۖ
اوبعضې دَخلکونه هغه دی چه بندګي کوي دَالله تعالی په طرف(شك)باندی،پس که اورسیږی ده ته خیرکلك شي په هغې،
وَإِنْ أَصَابَتْهُ فِتْنَةٌ ٱنقَلَبَ عَلَىٰ وَجْهِهِۦ خَسِرَ ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةَ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْخُسْرَانُ ٱلْمُبِينُ ⑪
اوکه اورسیږي ده ته تکلیف نو رااوګرزي په مخ خپل باندی،تاواني کړه ده دنیااوآخرت لره.داتاوان دې ښکاره

يَدْعُوا مِنْ دُونِ اللّٰهِ مَا لَا يَضُرُّهٗ وَمَا لَا يَنْفَعُهٗ ذٰلِكَ هُوَ الضَّلٰلُ
دوئ بلنه کوي سیوا د الله تعالی نه هغه چاته چه ضررنشي ورکولی ده ته او هغه چاته چه نفع نشي ورکولی ده ته دا بی لاري کیدل
الْبَعِيْدُ ۞ يَدْعُوا لَمَنْ ضَرُّهٗٓ اَقْرَبُ مِنْ نَّفْعِهٖ ۭ لَبِئْسَ الْمَوْلٰى
دی لری د حق نه. عبادت کوي د هغه چاچه ضرر د بندگئ د هغه زیات نزدې دې د فائدې د هغه نه. یقیناً چه ناکاره دوست دې
وَلَبِئْسَ الْعَشِيْرُ ۞
او یقیناً چه ناکاره ملگری دې

﴿وَمِنَ النَّاسِ مَن يَعْبُدُ اللّٰهَ﴾ دا دویم زجر دې تفصیلا پدیکښ حالات د مذبذبینو خلکو بیانیږی چه د دین منلو او ایمان راوړلو د پاره مدار دینوی مفادات گرځوی، کچرته مفادات ئی پوره کیدلو مال، دولت وغیره میلاویدلو نو ظاهرکښ دین قبلولو ته تیاروی او کچرته مفادات ئی نه پوره کیدلو بلکه مشقت او تکلیف ورته اورسیږی نو دین قبلولو ته تیارنوی بلکه بدرد وائی، امام بخاری رحمه الله وغیره د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل کړیدی: كان الرجل يقدم المدينة فان ولدت امرأته غلاما ونتجت خيله،قال هذا دين صالح وان لم تلدامرأته،ولم تنتج خيله، قال هذا دين سوء(بخاری، كتاب التفسير) یعنی مدینی ته به یو کس(ظاهری مسلمان) راغې نو کچرته نارینه بچی به ئی پیدا شو او اسپه به ئی لنگه شوه نو بیائی وئیلوچه دا دین ښه دې یعنی پدیکښ مزی دی، او کچرته نارینه بچی به ئی پیدا نشو او یا به ئی اسپه لنگه نشوه نو بیا به ئی وئیلوچه دا دین ډیر بد دې یعنی پدیکښ تکلیفونه دی.

﴿عَلٰى حَرْفٍ﴾ دا حال دې د فاعل د ﴿يَعْبُدُ﴾ نه ای حال كونه متزلزلاً او حرف په اصل کښ طرف ته وئیلې کیږی دلته تنه مراد شك دې اوشك نه تعبیر په حرف سره اوشوځکه چه دا هم د یقین نه یو طرفته وی، او دغه شان شك کوونکی سړی د دین نه یو طرف ته وی او د دین په وسط کښ نوی، او علامه زمخشری رحمه الله فرمائی چه دا استعاره تمثیلیه ده،تشبیه ورکړې شویده د هغه کس چه خپل دین باندی ثبات نوی په قلق،اضطراب اوبی سکونئ کښ وی د هغه کس د حالت سره چه د لښکرنه یو طرف ته وی او پدی انتظارکښ وی کچرته لښکرته کامیابی حاصله شی نودې به

پکښې هم شامل شي اومال غنيمت به حاصل کړي اوکچرته لښکرته شکست ميلاؤشي نودې به اوتختي اوبعض فرمائي چه ﴿عَلَىٰ حَرْفٍ﴾په معنى دعلى شرط سره دې يعنى دين ته په شرائطو باندې راځي. اودالله جَلَّ جَلَالُهُ دعبادت دپاره شرطونه مقرره وي. لکه قرطبي نقل کړيدي چه شيبه بن ربيعه نبي ﷺ ته راغي اودرخواست ئې اوکړوچه ماته دعااوکړه چه الله جَلَّ جَلَالُهُ ماته ډيرمال. اوبنان اوآسونه اونارينه اولاد راکړي نوځه به ايمان راوړم. اوستادين به اختيارکړم.نونبي ﷺ دده دپاره دعااوکړه نوده ظاهراً اسلام قبول کړو. نوبياورباندې الله جَلَّ جَلَالُهُ ازمائش راويستلونودې مرتدشو

﴿فَإِنْ أَصَابَهُۥ خَيْرٌ﴾دابيان دماقبل جملې دې اوخيرنه مراد دنيوي خيردې لکه مالداري. صحت اونارينه اولاد ميلاويدل شولو ﴿وَإِنْ أَصَابَتْهُ فِتْنَةٌ﴾فتنې نه مراد ازمائش دې لکه غربت بيماري اونارينه اولادنه ميلاويدل شولو﴿ٱنقَلَبَ عَلَىٰ وَجْهِهِۦ﴾مرادتنه کفرته واپس کيدل دي.

﴿خَسِرَ ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةَ﴾تاوان ددنيايې دادې چه جان، مال اوعزت ئې غيرمحفوظ شواودنيوي عزت وکرامت ئې لاړو اوتاوان داخرت ئې دادې چه ددائمى عذاب مستحق شو .اوکه څه نيک عملونه ئې کړي وي نوکفرته واپس کيدلودوجې نه هغه ټول بربادشو

﴿يَدْعُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ﴾دامتعلق دې دماقبل سره اوبيان د﴿ٱنقَلَبَ عَلَىٰ وَجْهِهِۦ﴾ دې اوتفصيل دې د﴿خَسِرَ ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةَ﴾ چه دې ظالم دالله جَلَّ جَلَالُهُ توحيداوعبادت پريخودلواو ددامې عاجزمخلوق عبادت ئې شروع کړو. چه هغه ده ته په نفع ياضرر رسولو باندې قادرندي ﴿يَدْعُواْ لَمَن ضَرُّهُۥٓ﴾دادمشرك بدانجام ذکرکيږي. پدې آيت کښې يوڅومباحث دي

اول مبحث دادې چه دامذکورايت دماقبل ايت دپاره تاکيددې اوکه داايت په تاسيس باندې مبني دې، نوبعض فرمائي چه داايت تاکيددې دماقبل ايت دپاره.اوپدې سره اشاره مقصود ده ديته چه داکفاردغيرالله عبادت اوهغوئ ته بلنه په کثرت سره کوي

اوبعض فرمائي چه تکرارلفظي نيشته دې بلکه دلته تاسيس دې ځکه چه مخکښې ايت کښې ﴿يَدْعُواْ﴾په خپلې متعارفي معنى سره وو،اودلته ﴿يَدْعُواْ﴾په معنى ديطيعوا سره دې. او من نه مراد روساء دمشرکينودي. اوقرينه پرې داورستو جمله ده چه لبئس المولى ولبئس العشير ده

دویم بحث دادې چه دلته په من باندې لام داخل شویدې اوداجمله یعنی ﴿لَمَن ضَرُّهُ﴾ په ظاهرکښې مفعول به دې د ﴿يَدْعُوا﴾ دپاره اومفعول به باندې لام.نه داخلیږي خکه چه مفعول به دکلام په مینځ کښې وی اوپه مینځ دکلام کښې لام نه راځی نو(۱)علامه محلی رحمه الله وغیروحضراتو تنه جواب داسې کړیدې چه دالام زائددې (۲)اوبعض مفسرین فرمائی چه﴿لَمَن ضَرُّهُ﴾ جمله مفعول به ندې د﴿يَدْعُوا﴾ دپاره بلکه مفعول به د﴿يَدْعُوا﴾ محذوف دې چه من دون الله دې او﴿لَمَن ضَرُّهُ﴾ جمله مستانفه ده چه من ضره اقرب الخ موصول مبتدا ده او﴿لَبِئْسَ الْمَوْلَىٰ﴾ ورله خبردې نوپه من باندې لام الابتداء داخل شویدې خکه چه ابتداء ده(۳)اوبعض فرمائی چه محل دلام صله ده یعنی ضره اقرب الخ خودالام دصلې نه رامقدم کړې شواوپه موصول باندې داخل کړې شونوپه اصل کښې داسې وویدعوا من لضرّه اقرب من نفعه.اوابن جریرطبری رحمه الله ددې دپاره دکلام عرب نه ډیرمثالونه بیان کړیدی چه دلام محل ورستوصله وی اوددې داخل کړې شی په مقدم موصول باندې. لکه عرب وائی عندی لماغیره خیرمنه. چه په اصل کښې داسې دې عندی مالغیره خیرمنه(طبری)

دریم بحث پدې مقام کښې یو اشکال دې.چه ددې ایت دمخکنی ایت سره تعارض دې خکه چه مخکښنی ایت کښې نفی دضرر اونفعې اوشودمعبودانوباطلونه مطلقا.اوپدې ایت کښې دمعبودانوباطلودپاره نفع اوضررثابته کړې شویده، نوجواب تنه په متعددو وجوهوسره شویدې(۱)یوجواب دادې چه دلته﴿يَدْعُوا﴾په معنی دیطیع سره دې اومن نه مراد رؤساء اومتبوعین دې.مطلب دادې چه داروساء اومتبوعین چه خپلوتابعین سره ددنیوی مفاداتووعدې کوی نودهغې وعدوپه بنیاد دوئ چه دمشرانواطاعت اوکفرکوی نوددغې اطاعت نقصان دفائدې نه ډیردې، نوخلاصه دجواب داده چه مخکښې ایت کښې نفی دنفعې اوضردمعبودانوباطلونه شوې وواوپدې ایت کښې چه اثبات شویدې دنفعې اودضررنوهغه درؤساء داطاعت شویدې

دویم جواب دادې چه مخکې ایت کښې نفی دضرربالذات وه یعنی دامعبودان باطله بالذات انسان ته ضرررسولوباندې قادرندې، اودلته اثبات دضررتسبیبًا دې یعنی ددې معبودان باطلوعبادت کول سبب دضرردې، اودغه شان په مخکښې ایت کښې نفی دنفعې حقیقی وه اودلته

اثبات دَنفعي توقعي دي چه دَدي مشرکینو عقیده اوخیال داوو چه دابتان به زمونږ شفاعت کوی اومونږ ته به فائده راکوی نودَایت مطلب داشوچه کوم ددوئ خیال دي چه دامعبودان به مونږ ته فائده راکړی هغه ډیربعیده ده ځکه چه هغه صرف اوصرف یوه توقع ده اوضررقریب دي ځکه چه هغه متقین دي اوبعض فرمائي چه پدی ایت کښې ضررته اقرب وئیلې شویدې نونفع ئی بعیده شوه اوپه کلام دَعربو کښې بعید کله کله دَمعدوم دَپاره استعمالیږی لکه سورة ق کښې دکفارو قول په باره دَبعث کښې الله ﷻ نقل کړیدې چه ذلك رجع بعید دلته بعید په معنی دَمعدوم سره دي.
نودَجواب خلاصه داده چه مخکښنی ایت کښې هم نفی دَنفعي شوې وه اوپدی ایت کښې هم وجود دَنفعي معدوم کړې شو البته په مخکښني ایت کښې نفی دَضررشوې وه خوهغه بالذات وه اودلته چه کوم اثبات دَضررشویدې هغه تسببيادې.

دریم جواب امام رازی رحمه الله کړیدې چه نفی دَنفعي اودَضرر حقیقة ده اوپدی ایت کښې اثبات دَنفعي اودَضرر فرضادې یعنی دامعبودان باطله چاته نفع اوضررنشی ورکولی خوکچرته بالفرض نفع اوضررئی ورکولې هم شوې نوبیابه هم ضرربه ئی ډیروو په نسبت سره نفعي ته اونفع ئی به ډیرکمه وه. والله اعلم.

إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي
یقیناً الله ﷻ به داخلوي هغه کسان چه ایمان ئی راوړی وي اوعملونه ئی کړیدی نیك (موافق دَسنت) جنتونوته چه بهیږی
مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۚ إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ﴿١٤﴾ مَن كَانَ يَظُنُّ أَن لَّن
به لاندې دَ بنګلو دَهغې نه نهرونه بیشکه الله ﷻ کوي هغه څه چه اوغواړي، څوك چه ګمان کوي چه هیڅرې به
يَنصُرَهُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ إِلَى السَّمَاءِ ثُمَّ لْيَقْطَعْ فَلْيَنظُرْ
امداد اونکړی دَده (نبی پاك) الله ﷻ په دنیا اوآخرت کښې نو اوګده دې کړی یوه رسئ اسمان ته بیادې پریکړی نو اودې ګوري
هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهُ مَا يَغِيظُ ﴿١٥﴾ وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَاهُ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ
چه آیا لرې کوي داچل دده هغه څه لره چه دې ئی غصه کړیدې. اوهمدارنګی نازل کړیدې مونږ داقرآن ایاتونه واضح

وَأَنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَن يُرِيدُ ﴿١٦﴾ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا
اوبیشکه الله ﷻ هدایت کوي هغه چاته چه اراده ئې اوکړي بیشکه هغه کسان چه مؤمنان دي اوهغه کسان چه یهودیان دي
وَالصَّابِئِينَ وَالنَّصَارَىٰ وَالْمَجُوسَ وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا إِنَّ اللَّهَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ
اونصاری اومجوسیان دي اوهغه کسان چه شرك ئې کړیدي. بیشکه الله ﷻ فیصله به کوي په مینځ ددوئ کښې
يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿١٧﴾
په ورځ دقیامت بیشکه الله ﷻ په هرڅیز باندې حاضرناظر دې

﴿إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ﴾ دابشارت اخروی دې مؤمنانوته، ﴿إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ﴾ داعلت دې دماقبل دپاره یعنی دالله ﷻ داراده دپاره څه مانع نیشته چه څه اراده اوکړي نوهغه امرخامخاواقع کیږي نومؤمن ته اجراوکافرته سزا دابه هم خامخاواقع کیږي. ﴿مَن كَانَ يَظُنُّ﴾ دادریم زجرذکرکیږي اوپدې ایت کښې ډیرتوجیهات دي

اوله توجیه سره دربط نه دماقبل سره داده چه ﴿لَّن يَنصُرَهُ﴾ کښې ضمیرراجع دې نبی پاك ﷺ ته نوماقبل ایت کښې حال دمؤمنانوذکرشو نوپدې کښې حال دنبی ﷺ ذکرکیږي اودغه شان په ماقبل ایت کښې دکفارو دمعبودانوپه باره کښې ذکرشول چه معبودان باطله خپلو عابدانوته نه نفع ورکولی شي اونه ضرر تنه دفع کولی شي، نوکفاروبه دنبی ﷺ مخالفت کولوپدې بنیادچه الله ﷻ دخپل نبی ﷺ امداد اونصرت نه کوی نوالله ﷻ ددوئ دغه فاسدخیال رد کوي چه کچرته دوئ خانونه هم مړه کړي دغصی نه خوالله ﷻ به دخپل نبی ﷺ امداد اونصرت ضرورکوی، نوپدې اعتباردایت مقصد دادې چه کچرته دیوکس کوشش داوی چه په نبی ﷺ باندې غالب شم اوالله ﷻ دخپل پیغمبرامداد اونکړي نوداکس دې داسی اوکړي چه آسمان ته ورسئ اورسوی. خکه چه امداد دجانبه د اسمان نه راځی نودې د رسئ په ذریعه اسمان ته اوخیژی اوامداد دې قطع یعنی بندکړي، نودې دې اوګوری چه پدی طریقی سره دې په خپل تدبیراومقصدکښې کامیاب کیدلی شی؟؟ اواستفهام دپاره دانکاردې یعنی بیابه هم دې پدی خپل مقصدکښې کامیاب نشي.

دويمه توجيه پدى اعتبارچه ﴿يَنصُرَهُ﴾ ضميرراجع شى نبي ﷺ ته داده چه ﴿يَظُنُّ﴾ به معنى دتمناسره دي او ﴿سَمَآءِ﴾ نه مراد اسمان دي ﴿لِيَقْطَعْ﴾ نه مراد وحي بنده ول دي خكه چه وحي راتلل موقوف عليه دامداد دپاره ده. نودايت مقصد دادي كچرى ديوكس داخواهش وى چه دي په پيغمبرباندى غالب شي او الله ﷻ دي دخپل پيغمبرسره امداد اونكړى نوداكس دي اسمان ته اوخيژى اوسلسله دوحي دبنده كړى نو اودگورى چه پدى طريقى اوتدبيرسره دي نصرت دنبي ﷺ ختمولى شي؟ يعنى نشى ختمولى نوولى خان هسى سترى كى. **دريمه توجيه** پدى اعتبارچه ضميرنبي پاك ﷺ ته راجع شى داده چه ﴿ٱلسَّمَآءِ﴾ نه مراد سقف دبيت يعنى دكوروالا چهت مراددي او ﴿لِيَقْطَعْ﴾ به معنى دليختنق سره دي يعنى خان پهانسى كول. نودايت مقصددادي چه څوك داگمان كوى چه الله ﷻ به دخپل نبي ﷺ امدادنه كوى نوهغه كس دي چهت سره رسئ غوټه كړى اوپيادي خپل ځان له پهانسى وركړى نواودي گورى چه پدى طريقى سره دده غصه ختميږى اوكنه لكه په بل ځائ كښ الله ﷻ فرمائى موتوا بغيظكم اوپدى توجيه په اعتبارسره دايت محمول دي په تهديدباندى اومحمول ندي په تجويزدخود كشئ باندى

بل احتمال دادي چه ﴿يَنصُرَهُ﴾ ضميرراجع دي من ته نودايت بيامتعلق دي دايت نمبر(۱۱)سره چه په هغى كښ حالت دمرتدينو اومنافقينوذكروو چه تكليف اوازمائش راتللوسره به ئى خپل دين پريخودلواودابه ئى وئيل كچرته دادين صحيح وى نوولى به په مونږ باندى تكاليف راتلل.نوپدى آيت كښ دغه شان خلكوته زجرذكركيږى.نوپدى اعتبارهم متعددتوجيهات دى اوله توجيه داده چه پديكښ مقصود حث دي په تسليم دتقديرباندى.يعنى انسان ته تقديرتسليمولوباندى رغبت وركول مقصوددي. خلاصه داده چه كله يومنافق اوضعيف الاعتقاد انسان ته تكليف اوربېرى نوهغه ته غصه ورشى اودالله ﷻ درحمت نه مايوسه شى اودتقدير په تسليمولوباندى باندى راضى نشى اوداخيال اوگمان كوى چه الله ﷻ خماامداد په دنياكښ اونكړو نوپه آخرت كښ به هم نه كوى نو الله ﷻ فرمائى چه داخيال كوونكى انسان دي يوه رسئ چت ته غوټه كړى اوخان له دي پهانسى وركړى نوبيادي اوگورى چه پدى طريقى سره دي په تقديرباندى غالب كيدي شى؟ يعنى نشى غالب كيدي نوبيا ولى تقديرنه تسليمه

وی.نوپدی توجیه هم ﴿ٱلسَّمَآءِ﴾نه مراد چت دي او ﴿لِيَقۡطَعۡ﴾نه مرادخپله زندګی ختمول یعنی ځان له پهانسی ورکول دی اوداهم په تهدیدباندی محمول دي نه په تجو یزدخود کشئ باندی

بله توجیه دحضرت شاه صاحب رحمه الله ده چه هغه فرمائی چه دامثال بیانیږی دهغه سړی چه ددنیوی تکلیفونودوجی نه دمعبودانوباطلوعبادت شروع کړی یعنی کوم کس چه ددنیوی تکلیفونودوجی نه دالله ﷻ نه مایوسه شی اودغیرالله نه امدادغوختل شروع کړی بابا ګانونه اوقبرونوته چیغی اوفریادونه شروع کړی، نودده مثال داسی دي لکه چه یو اسمانی رسئ پوری نی ځان غوټه کړي وو، نوکه دي په خپله نشوختلی اسمان ته.نوکم ازکم دانوقع اوامیدخوو چه څوك هم دارسئ په بره راکاږی اودي به خپل منزل مقصودته اورسیږی خودا انسان صبراونکړی اودمعبودانوباطلوپه عبادت سره دغه اسماني رسئ کټ کړی.اومنزل مقصودته درسیدلو هغه امیداوتوقع هم ختم شوه نوبیاداوګوري چه دغیرالله پدی عبادت سره دده غصه ختمیږي اوغیرالله به دده امداداوکړي شی؟ دذي توجیه په اعتبارسره﴿بِسَبَبٍ إِلَى ٱلسَّمَآءِ﴾نه مراد قرآن اوتوحیددي او"امر"بمعنی الاخباردي اودحضرت شاه صاحب رحمه الله توجیه ته حضرت الشیخ ترجیح ورکړیده ځکه چه پدی اعتباردآیت دماقبل سره ربط بالکل واضح دي.ځکه چي ماقبل آیت کښ دمعبودانوباطلو"غیرنافع اوغیرضار"ذکرووا وپدی ایت کښ هم دغه مضمون دیومثال په ذریعي سره ذکرشو .ددینه علاوه نورهم توجیهات مفسرینوذکرکړیدي

﴿وَكَذَٰلِكَ أَنزَلۡنَٰهُ﴾پدیکښ ترغیب الی القرآن ذکرکیږي.عام مفسرین فرمائی چه"کاف" دپاره دتشبیه دي،مشبه به آیات سابقه دي اومشبه باقی قرآن دي.یعني څرنګه مونږ آیات دتوحیداثبات درسالت اواثبات دحشرپه دلائلوعقلیوسره اوکړونودغه شان به ټول قرآن هم مونږ نازل کړیدي چې په هغې کښ واضح واضح دلائل دی.اوحضرت شیخ رحمه الله فرمائی چې"کاف" دپاره دبیان کمال دي یعني دامسئله توحیدوغیره دقرآن په دلائلوسره واضح کول.زمونږکمال دي

﴿وَأَنَّ ٱللَّهَ يَهۡدِي مَن يُرِيدُ﴾"یرید"دپاره فاعل ضمیردي.اودهغې په مرجع کښ دوه(۲)احتماله دی،یو احتمال دادي چه ضمیرراجع دي"من"ته نودآیت مقصددادي چې الله ﷻ هغه چاته هدایت

ورکوي چې هغه دهدايت اراده کړي وي اوانابت الى الله ئى کړې وى اويا ضمير راجع دې الله ته اوعائد محذوف دې اى يريدالله هدايته.

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا﴾ هرکله چې ماقبل آيت کښې ددې ذکراوشوچې هدايت ورکول دالله ﷻ کار دي، نواوس پدى آيت کښې ذکردهدايت يافته اودغيرهدايت يافته خلکو کيږي. حضرت قتاده رحمه الله نه مروي دي چې اصول داديانو پنځه دي (پدى آيت کښې مذکوردي) څلوردشيطان دي اويو درحمان دي قال قتادة الاديان خمسة، اربعة للشيطان وواحدللرحمن (قرطبي) ﴿ءَامَنُوا﴾ مرادتنه امت محمديه ﷺ دي، ﴿هَادُوا﴾ نه مرادامت دموسى عليه السلام دي ﴿وَٱلصَّٰبِـِٔينَ﴾ ،نه مرادامت دابراهيم عليه السلام دي، ځکه چې دصابئين په تفسيرکښې ډيراقوال دي مشهورقول پکښې دادي چې داهغه خلک ووچه دستوروعبادت به ئي کولواوداپه دوردحضرت ابراهيم عليه السلام کښې وو ﴿وَٱلنَّصَٰرَىٰ﴾ مرادتنه امت دعيسى عليه السلام دي ﴿وَٱلْمَجُوسَ﴾ مرادتنه داورعبادت کوونکي دي ﴿وَٱلَّذِينَ أَشْرَكُوٓا﴾ مرادتنه عام مشرکين دي چې په يومخصوص نوم سره ندي مسمّى، لکه څرنګه چې صابئين اومجوسيان په مخصوصونومونوسره مسمّىٰ دي، نولهذاداعطف دمغايرت فى التسميه دوجې نه دي اوحقيقةً مغايرت نيشته دي. ﴿إِنَّ ٱللَّهَ يَفْصِلُ﴾ غوره قول دادې چه دا انّ سره داسم اوخبر په محل د رفع کښې خبرواقع شويدي دماقبل انّ دپاره اودآيت مقصددادي چه په دنياکښې هريوه فرقه دادعوى کوى چه مونږ په حق يوخوددوئ ټولوپه مينځ کښې به حقيقى اوعملى فيصله الله ﷻ دقيامت په ورځ اوکړي دنياکښې هم الله ﷻ فيصله کړيده خودافيصله قولى ده اواخرت والافيصله به عملى وى. ﴿إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ﴾ داعلت دې دماقبل يعنى ﴿يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ﴾ دپاره.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَسْجُدُ لَهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِى ٱلْأَرْضِ وَٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ
آيانه ګوري ته چه بيشکه الله ﷻ ته سجده کوي هغه خوک چه په اسمانونوکښې دى اوهغه خوک چه په زمکه کښې دى اونمراوسپوږمۍ
وَٱلنُّجُومُ وَٱلْجِبَالُ وَٱلشَّجَرُ وَٱلدَّوَآبُّ وَكَثِيرٌ مِّنَ ٱلنَّاسِ ۖ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيْهِ ٱلْعَذَابُ ۗ وَمَن
اوستوري اوغرونه اوونې او څارپايان اوډيردخلکونه اوډيروباندى پوره شويده فيصله دعذاب اوهغه خوک

يُّهِنِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّكْرِمٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ؕ۩
چه سپك كړي هغه لره الله ﷻ نونيشته هيڅ څوك هغه لره عزت وركوونكي،بيشكه الله ﷻ كوي هغه څه چه اوغواړي

﴿اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يَسْجُدُ﴾دادويم دليل عقلي دې په توحيدباندی،چه ټول كائنات دَالله ﷻ مطيع اوالله ﷻ حكم ته منقاددی.دَسجدې نه مراد ياحقيقة سجده ده اودَهرمخلوق سجده دَهغه دَذات سره مناسب مخصوص كيفيت باندی وی نودَانسان سجده وضع الجبهة علی الارض ده اودَنمرسجده دَهغه يوطرف ته بل طرف ته ګرځيدل دی لكه الله ﷻ فرمائی اولم يروا الی ماخلق الله من شيئ يتفيؤ ظلله عن اليمين والشمائل سجداً لله (النحل) اودغه شان نورڅيزونه چه دَهغو مخصوص كيفيت سجده وی (ابن كثير)اودغه شان په حديث دابوذر رضی الله عنه كښې هم دی چه نقل كړيدې امام بخاری رحمه الله اومسلم رحمه الله وغيره قال رسول الله ﷺ اتدری اين تذهب هذه الشمس؟ قلت الله ورسوله اعلم قال فانها تذهب فتسجدتحت العرش ثم تستامر الخ اوداقسم سجده اختياری ده اوهركله چه الله ﷻ شعورپه هرشی كښې پيداكړيدې، كه انسانان دی ياځناور اويانباتات دی نودَدې وجی نه هريوشی الله ﷻ ته اختياری سجده لګوی، البته دَسجدې تكليفی حكم فقط انسانانواوجناتوته دې. اوبعض فرمائی چه دَسجدې نه مراد انقياد اواطاعت دې تكوينی طورباندی اوپدی اعتبارسره دامعنی ذوی العقول،غيرذوی العقول، سجده تكليفی اوغيرتكليفی ټولوته شامله ده يعنی داټول مذكوراشيا تكوينی طوردَالله ﷻ دَحكم منقاددی.

اوكائنات ټول الله ﷻ ته سجده لګوونكی اوالله ﷻ ته منقاددی، ليكن تخصيص دَدې مذكوره اشياؤځكه اوشوچه دامعبودان ګرځولی شوی وو ،صاحب دَبحروغيره دَابن عطيه رحمه الله نه نقل كړيدی چه حميرقبيلی به دَنمرعبادت كولو ،كنانه به دَقمر، تميم به ددبران ستوری، لحم به دَمشتری ستوری،قريش به دَشعری، طی به دَثريا، اسدبه دَعطارد اوربيعه به دَمرزم ستوری عبادت كولو اودغه شان مشركينوځنی بتان دَغرونونه تراش كړی وو،اوځنی به ئې دَوونونه جوړكړی وو اودغه شان دَځنی وونوعبادت هم كړې شويدې، اودغه شان دَدوابويعنی دَځاروو عبادت هم كړې شويدې لكه غواوغيره شو.

﴿وَكَثِيرٌ مِّنَ ٱلنَّاسِ﴾ کثیر مرفوع دي او ددې په رفع کښې درې اقوال دی (۱) یو قول دا دې چه
دا عطف دې په ﴿وَمَن فِي ٱلْأَرْضِ﴾ باندې او دعطف الخاص علی العام دقبیلې نه دې
(۲) دویم قول دا دې چه دا فاعل دې دفعل مقدر دپاره چه یسجدي او عطف دجملې په جملې باندې
دې. او سجدې نه مراد سجده تکلیفي او تشریفي ده (۳) او دریم قول دا دې چه ﴿وَكَثِيرٌ﴾ مبتداء
ده او خبرئې محذوف دې چه مثاب لفظ دې
﴿وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيْهِ ٱلْعَذَابُ﴾ کچرته دسجدې نه مراد انقیاد شي طوعا یاکرها، نوبیا دادې عطف په
﴿وَمَن فِي ٱلْأَرْضِ﴾ باندې دې. او ﴿حَقَّ عَلَيْهِ ٱلْعَذَابُ﴾ ورله صفت دې او هرکله چه دوئ منکروو
دسجدې تکلیفي نه نو ددې وجه نه توصیف ئې په ﴿حَقَّ عَلَيْهِ ٱلْعَذَابُ﴾ سره اوشو او کچرته
دسجدې نه مراد سجده تکلیفي او تشریعي شي نو بیا کثیر مرفوع دې بناء برابتدائیت او ﴿حَقَّ عَلَيْهِ
ٱلْعَذَابُ﴾ جمله ورله خبر واقع شویدې او یا ﴿حَقَّ عَلَيْهِ ٱلْعَذَابُ﴾ صفت دې او خبر دمبتدا دپاره
محذوف دې چه محرمون لفظ دې ﴿وَمَن يُهِنِ ٱللَّهُ﴾ مرادتنه ازلي بدبختي او ایمان نه محروم کیدل دی

هٰذٰنِ	خَصْمٰنِ	اخْتَصَمُوْا	فِيْ	رَبِّهِمْ	فَالَّذِيْنَ	كَفَرُوْا

دا دواړه، مؤمنان او کافران مخالفې ډلې دي چه جګړه کوي په باره درب خپل کښې. بس هغه کسان چه کفرئې کړیدی

قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ	مِّنْ نَّارٍ	يُصَبُّ	مِنْ فَوْقِ رُءُوْسِهِمُ	الْحَمِيْمُ ﴿۱۹﴾	يُصْهَرُ

جوړولې به شي ددوئ دپاره کپړې جامې داور. اچولې به شي پورته دسرونو ددوئ نه یشیدلې او به ویلې کیدې به شي

بِهٖ مَا فِيْ بُطُوْنِهِمْ	وَالْجُلُوْدُ ﴿۲۰﴾	وَلَهُمْ	مَّقَامِعُ	مِنْ	حَدِيْدٍ ﴿۲۱﴾	كُلَّمَآ

په هغې سره هغه څه چه به خیټو ددوئ کښې دی او څرمني او ددوئ، دوهلو دپاره ګرزونه دی داوسپنې نه. هرواري

اَرَادُوْٓا	اَنْ	يَّخْرُجُوْا	مِنْهَا	مِنْ	غَمٍّ	اُعِيْدُوْا فِيْهَا

چه دوئ اوغوښتې چه اوځي ددې اورنه دغم تکلیف دوجې نه نو واپس به اوغورځولې شي به هغې کښې

وَذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ ﴿۲۲﴾

«اوبه وئیلې شي ورته اوڅکئ عذاب داور سوزوونکی»

﴿هَٰذَانِ خَصْمَانِ﴾ په هذان سره اشاره پدی مخکښې ایت کښې مذکورشپږو ډلوته ده چونکه دَدې تولورجع دوه «۲» ډلوته کیږی چه یوه ډله دمؤمنانوده اوبله ډله دکافرانوده. اوبیاالګرچه دکافرانوپنځه ډلی ذکرشویدی خوبناء برالکفرملة واحدة یوه ډله حساب کړې شویده نودَدې وجی نه اشاره تثنیه ذکرکړې شوه اوجهګړا دَدوئ په ذات اوصفاتو دَالله ﷻ کښې اوپه دین دَالله ﷻ کښې اودغه شان په بعث بعدالموت کښې ده اوجهګړاهم عامه ده که قولی وی یعنی بحث مباحثی په صورت کښې وی یاعملی وی لکه جنګ بدروغیره کښې شو. اوپه روایت دبخاری وغیره کښې چه راغلیدی چه داایت دَمبارزین دَبدرپه باری کښې نازل شویدې چه ابتداءً دَمؤمنانودطرف نه حضرت حمزه ؓ، علی ؓ اوعبیده ؓ اووتلواودکافرانودَطرف نه عتبه، شیبه اوولیدرااوتلو نودَدې تعارض دَدې ماقبل قول اوتفسیرنیشته دې ځکه چه اعتبارعموم دَالفاظوسره وی اوخصوص دَواقعی لره نوی.

﴿فَالَّذِينَ كَفَرُوا﴾ داتخویف اخروی دې ډلی دکافرانوته اوتفصیل اووضاحت دَ﴿إِنَّ اللَّهَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾ دې چه الله ﷻ به ددوئ په مینځ کښې څرنګه فیصله کوی؟ اودغه شان تخویف اخروی ذکرکیږی کافرانوته او ﴿قُطِّعَتْ﴾ په معنیٰ دَخیطت اوسویت سره دې یعنی دوئ دپاره به دَجهنم دَاورنه جامی جوړی کړې شی اودایااستعاره تمثیلیه ده یعنی څرنګه چه لباس په انسان باندی احاطه کړې وی دغه شان به په دوئ باندی دَجهنم اوراحاطه کړې وی اوياایت په ظاهراوحقیقت باندی محمول دې چه دَدوئ لباس به دَجهنم دَاورنه جوړکړې شوې وی. داقول دَحضرت سعیدبن جبیر رحمه الله دې.

﴿يُصَبُّ مِن فَوْقِ رُءُوسِهِمُ الْحَمِيمُ﴾ حمیم هغه سختی ګرمی اوبه دَجهنم دی چه دَهغی په باره کښې ابن عباس ؓ نه مروی دی کچرته دَدې یوه قطره دَدنیاپه غرونوباندی توئی کړې شی نوداغرونه به ویلی شی نودغه ګرمی اوبه به دَجهنمیانودَسردَپاسه اړولی شی «اعاذناالله منها»

﴿يُصۡهَرُ بِهِۦ مَا فِي بُطُونِهِمۡ﴾صهرويلی کیدلو ته وئیلې کیږی، دَحضرت ابوهریرة رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه سمعت رسول الله ﷺ يقول ان الحميم ليصب من فوق رؤسهم فينفذمن جمجمة احدهم حتى يخلص الى جوفه فيسلب مافي جوفه حتى يمرق من قدميه وهوالصهرثم يعاد كماكان(ترمذی) يعنی يقيناحميم به ددوئ دَسرو نودَپاسه راتوئی کړې شی نودابه دَدوئ دَخپتودننه ته به اورسيږی اوددوئ په خيټوکښ چه څه دی هغه به لاندې ترخپوپوری به اوبهيږی اودا صهردې اوبيابه دوباره دوئ جوړکړې شی(داعمل به ورسره باربارکيږی).

﴿وَٱلۡجُلُودُ﴾غوره قول دادې چه دَدينه مخکښ تحرق ياتشوی فعل مقدردې څکه چه څرمنی بهيږی ياتوويږی نه بلکه سوزيږی﴿وَلَهُم مَّقَٰمِعُ مِنۡ حَدِيدٖ﴾مقامع جمع دَمقمع يادَمقمعة ده اودا ماخوذ دې دَقمع نه چه ذلت اورسوائی ته وئيلې کيږی، دلته تنه مراد ګرزونه دی اوچونکه پدی سره وهلوکښ به دوئ ته ذلت رسول هم مقصودوی نوځکه لفظ دَمقامع ذکرشو ، اودَحضرت ابوسيعدخدری رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو:لوان مقمعاً من حديد وضع في الارض فاجتمع له الثقلان مااقلوه من الارض(ابن كثير) يعنی کچری داګرزدَاوسپنی په زمکه باندی کيخودلی شی اوبياټول انسانان اوجنات دَدې دَرااوچتولودَپاره راجمع شی نونه به ئی کړی اوچت دزمکی نه اوپه يوبل روايت کښ دی، لوضرب الجبل مبقمع من حديد لتفتت ثم عادكماكان، يعنی دَاوسپنی په دغه ګرزباندی کچرته غراووهلی شی نوهغه به ټکړې ټکړې شی(نوچه کافرپری اووهلی شی نوهغه به هم دغه شان شی) اوبيابه دوباره هغه شان جوړکړې شی لکه څرنګه چه وو(ابن كثير).

﴿كُلَّمَآ أَرَادُوٓاْ أَن يَخۡرُجُواْ مِنۡهَا﴾يعنی دَجهنم جوش چه کله داکافران اورلمبوسره رااوچت کړی نوپدی وخت کښ به دَدوئ اميدپيداشی چه دااوربه مونږ دَجهنم نه بهرته اوغورځوی اودوئ به اراده دَبهرته دَوتلواوکړی نوفرشتی به ئی دَاوسپنوپه ګرزونواووهی اوواپس به ئی لاندې جهنم ته ګذارکړی اودَاويا(۷۰)کالومسافت په اندازی سره به لاندې لاړشی نوارادې نه مراد هغه اراده ده چه په وخت دَاشراف کښ به وی اواعاده مرتبه ده په هغی اشراف باندی چه دوئ پکښ دَخروج اراده کړې وی، نولهذا دااعتراض نه واردیږی چه اعاده وئيلې کيږی سابقه حالت يامکان ته

واپس کیدل نو د اتقاضا کوی دخروج دجهنم نه نو ددې ایت تعارض راغی دایت د سورة البقره سره
چه وماهم بخارجین من النار دي

(۲) او حضرت تهانوی رحمه الله فرمائی چه اعاده به قعر دجهنم نه به کیږي او دا به ددوئ یو طبعي
کوشش وي چه دوئ به ئې کوي اگرچه دوئ به پدې باندې نه پوهه وي چه مونږ ددې نه بهرنه
نشو وتلی خو دوئ به دقعرنه دروازې او کنارې دجهنم ته به راشي نو هلته به ورته ملائك ولاړ وي
او دا وسپنې په گروزنو باندې به ئې اووهي او قعرته به ئې واپس کړي

(۳) بعض فرمائی چه اعاده مرتبه دده په خروج حقیقة باندې خو مراد دخروج نه یوې طبقې نه
بلې طبقې دجهنم ته خروج مراددې. یعنی ځنې جهنمیان به دخپلې طبقې نه مراد بلې طبقې نه
لاړشي نو فرشتې به وریسې لاړې شي او په گروزنو باندې به ئې اووهي او خپلې طبقې ته به ئې
واپس کړي او د مِن غَمٍّ بدل اشتمال دي د مِنها د ضمیر نه په اعادې د حرف جر سره او یا مِن
اجلیه دي یعنی لاجل الغم او تنوین دپاره دتعظیم دي

إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي
بیشکه الله جل جلاله به داخلوي هغه کسانو لره چه ایمان ئې راوړیدي او عملونه ئې کړیدي نیك جنتونو ته چه بهیږي به

مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا ۖ
لاندې د بنگلو دهغې نه ولې نهرونه، ښائسته کیدې به شي دوئ به په هغې کښې په بنگړو دسرو زرو سره او ملغلرې.

وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴿٢٣﴾ وَهُدُوا إِلَى الطَّيِّبِ مِنَ الْقَوْلِ ۚ وَهُدُوا
او جامې ددوئ به په هغې کښې ریښم وي او هدایت ورکړې شوي وو ددوئ پاکې وینا ته. او هدایت ورکړې شوي وو

إِلَىٰ صِرَاطِ الْحَمِيدِ ﴿٢٤﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ
لارې دستائیلي شوي ذات ته. بیشکه هغه کسان چه کفر ئې کړیدې او منع کوي خلك دلارې د الله جل جلاله نه او مسجد حرام نه.

الَّذِي جَعَلْنَاهُ لِلنَّاسِ سَوَاءً الْعَاكِفُ فِيهِ وَالْبَادِ ۚ وَمَنْ يُرِدْ فِيهِ
هغه چه گرځولی دې مونږ هغه دخلکو دپاره برابر دی. دیره مقیم په هغې کښې او مسافر. او چا چه اراده او کړه په هغې کښې

بِالْحَادٍ	بِظُلْمٍ	نُّذِقْهُ	مِنْ	عَذَابٍ	اَلِيْمٍ	۲۵
دکګ لیچ	په ظلم	سره نواوبه	څکوومونږ هغه	نه	دعذاب	دردناک نه

﴿إِنَّ ٱللَّهَ يُدْخِلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا﴾دابشارت اخروی دي مؤمنانوته اودمؤمنانودپاره د فیصلی بیان دي. ﴿يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ﴾داپه مقابله د ﴿وَلَهُم مَّقَـٰمِعُ مِنْ حَدِيدٍ﴾کښ دي یعنی دکفارو دپاره به ذلت آمیزوهل وی اومؤمنانوته به فرشتی اساور یعنی بنګړی اوتاجونه اچوی اودابه دمؤمنانو داعزاز اواکرام دپاره وی لکه څرنګه چه پخوانو بادشاهانوبه په لاسونوکښ به دسرو زرو اودسپینوزرو بنګړی وو. اوپه سورة الکهف ایت نمبر(۳۱) کښ دابنګړی فقط دسرو زرو وئیلی شویدی اوپه سورة الدهرکښ فقط دسپنوزرونه وئیلی شویدی اوپدی سورة کښ اوپه سورة فاطرکښ ورسره ذکر دلؤلؤ یعنی ملغلرو هم دي. نوددي وجه نه مفسرقرطبی رحمه الله فرمائی چه دهرمؤمن په لاس کښ به دری(۳)قسمه بنګړی وی دملغلرو دسرو زرو اودسپینوزرو اوبعض فرمائی چه اصل بنګړی به دسرو اوسپینوزرو به وی اودملغلرو نقش نګاری به پری کړي شوي وی

﴿وَلُؤْلُؤًا﴾دا منصوب دي ځکه چه داعطف دي په محل د﴿أَسَاوِرَ﴾باندی. اوکه په جرسره شی لکه داقراءت دبعضو دي نوبیاعطف دي په اساور باندی لفظاً. ﴿وَهُدُوا إِلَى ٱلطَّيِّبِ مِنَ ٱلْقَوْلِ﴾ددي هدايت نه مراديا په اخرت کښ دي نوبيادقول طيب نه مراد هغه کلمات دی چه په سورة الزمر ايت نمبر(۷۴)کښ دی چه دوئ به داوائی په جنت کښ الحمدلله الذی صدقنا وعده واورثنا الارض الخ او ﴿صِرَٰطِ ٱلْحَمِيدِ﴾نه مراد جنت ته داخليدل دی اوکه هدايت نه مراد دنيوی شی نوقول طيب نه مراد کلمه توحيدده اوصاحب دروح المعانی ذکرکړيدی چه قول طيب نه مراد امربالمعروف اونهی عن المنکردي او﴿صِرَٰطِ ٱلْحَمِيدِ﴾نه مراددين اسلام دي.

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا﴾تخويف اخروی ذکرکيږی هغه خلکوته چه دالله تعالی ددين نه خلک منع کوی. ﴿وَيَصُدُّونَ عَن﴾واو ياحاليه دي اوداجمله حال واقع شويده دضميرمرفوع د ﴿كَفَرُوا﴾ نه

اویا دا جمله خبرده دمبتدا محذوفي دپاره، يعنى هم يصدون نوپدى دواړو اعتباراتوسره خبردان محذوف دي چه معذبون دي په قرينى د ﴿نُذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ﴾ سره اویاواو زائددي او ﴿يَصُدُّونَ﴾ خبردي د ان يعنى دالله ﷻ ددين نه خلك منع كول داكاردكافرانودي او ﴿يَصُدُّونَ﴾ اګرچه مضارع ده خومرادتنه استمرار دي لکه وئيلي کيږی فلان يعطى،فلان يحسن الى الفقرآء نوددينه مراد صرف يوځلى اعطاء اوصرف يوځلى احسان كول ندى بلكه استمرار داعطاء اواستمرارداحسان دي

﴿وَٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ﴾ دمسجدحرام نه مراد ياټول حرم دي په طريقى دذكر دجز مرادتنه كل. لكه په سورة التوبة کښې دی انما المشركون نجس فلايقربوا المسجدالحرام الخ قرينه پرى داورستو جمله ده ﴿وَمَن يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ بِظُلْمٍ﴾ داقول دابن عباس ﷺ دي اوددينه بعض اهل علمو استدلال كړيدي چه ارض حرم وقف عام دي اوملك خاص ندي نولهذا دهغى خرڅول اوپه كرايه وركول جائزندی داقول دامام ابوحنيفه ﷺ نه هم مروى دي. نوپدى اعتبارسره ﴿سَوَآءً ٱلْعَٰكِفُ فِيهِ وَٱلْبَادِ﴾ په اعتباردحق اوملكيت سره مراد دي يعنى په ارض حرم کښې دمقيم حرم اودمسافر يوشانتى حق دي. اويادالمسجدالحرام نه مراد خالص مسجدحرام دي نوپدی اعتبارسره سواءن العاكف فيه والباد تسويه په اعتباردقبلى اودتعظيم سره ده يعنى مسجدحرام قبله دهرچادپاره ده كه څوك په مكه کښې وی اويابهروی دمكى نه اودهغى تعظيم په هرچاباندى ضرورى دي

فائده پدى باندى دټولو اهل علمو اتفاق دي چه دارض حرم اودمكى دزمكى هغه حصه چه دهغى سره مناسك دحج اوافعال دحج وابسته دی هغه دچاپه ملك خاص کښې ندي بلكه وقف عام دي دهغى خرڅول په كرايه وركول جائزندی البته عامى زمكى دحرم اودمكى داپه ملك خاص کښې دي اوكه نه؟ نوپدى کښې په ابتداء کښې داهل علمو اختلاف وو بعضوبه نيزجائزاودبعضوپه نيزناجائزوو اودامام ابوحنيفه ﷺ نه هم پدى سلسلى کښې دوه،٢، قولونه رانقل كړي شويدى صاحب دهدايى په باب الكراهية کښې عدم جوازقول ته ترجيح وركړيده اوصاحب دمظهرى هم پدى باندى زوروركړيدي.ليكن مفتى به قول دجواز والادي. اودامسئله اوس اتفاقى ګرځيدلی

ده چه دَمناسك حج سره تعلق لرونكي زمكي نه علاوه باقي زمكي دَمكي كښې ملك خاص راتلې شي نولهذا دَهغې خرڅول اوپه كرايه وركول جائزدي اوپدې ايت كښې ذكردهغې حصې دي چه هغې سره مناسك دَحج تعلق لري

﴿سَوَآءً ٱلۡعَٰكِفُ فِيهِ وَٱلۡبَادِ﴾سواءً په معنی دَمستويا سره دي مفعول ثاني دي دجعلناه دپاره (مدارك) ﴿وَمَن يُرِدۡ فِيهِ بِإِلۡحَادِۭ بِظُلۡمٖ﴾الحاد نه مراد دلته خروج اوعدول دَقصد اواعتدال نه دي اودادواړه يعني ﴿بِإِلۡحَادِۭ﴾ او ﴿بِظُلۡمٖ﴾ ياحالين مترادفين دی دَيرد دَضميرنه اويا ﴿بِإِلۡحَادِۭ﴾ حال دي دَضميرديرد نه او ﴿بِظُلۡمٖ﴾بدل دي دَ﴿بِإِلۡحَادِۭ﴾ نه په اعادي دحرف جارسره اوباء په دواړو مواضعوكښې يادَملابست دپاره ده اويا په ﴿بِإِلۡحَادِۭ﴾كښې ملابست دپاره اوپه بظلم كښې دسببيت ده اي ملحداً بسبب الظلم اومفعول دَ﴿يُرِدۡ﴾دَپاره محذوف دي دَپاره دَعموم چه شيناما دي اوظلم نه مرادهغه ټول اموردی چي دهغې ارتكاب يامطلقاًممنوع وي.لكه شرك.كفر.كنځل اوغيبت شواوياًدهغې ارتكاب صرف حدود دَحرم كښې ممنوع وی لكه په ارادې دَعمرې ياحج سره بغيرداَحرام نه حرم ته داخليدل. ښكاركول يادَحرم بوټي شوكول شو اوپه حديث كښې دی دَابن عباس رضي الله عنه نه مروی دی چه نبی ﷺ اوفرمايئلوچه دری كسان الله جل جلاله ته ډيرمبغوض دی په هغې كښې يوكس ملحدفي الحرم دي اوزيادت دَظلم پس دَالحاد نه پدې كښې اشاره ده چه په حدود دَحرم كښې هرقسم خروج عن الاعتدال ظلم دي په خلاف دَعامومقاماتونه چه هلته كله كله خروج عن الاعتدال ظلم نوی بلكه حق وی بدليل قوله تعالی وجزآء سيئة سيئة مثلها (جمل).

فائده: په ارض حرم كښې صغيره ګناه كبيره جوړه شي اوپه عامومقاماتوكښې په ارادې دګناه باندې مؤاخذه نيشته دي خوپه ارض حرم كښې په ارادې باندې هم مؤاخذه كيږي

وَإِذۡ بَوَّأۡنَا لِإِبۡرَٰهِيمَ مَكَانَ ٱلۡبَيۡتِ أَن لَّا تُشۡرِكۡ بِي شَيۡـٔٗا وَطَهِّرۡ

او هركله چه ځای وركړو مونږ ابراهيم عليه السلام ته په ځای دبيت الله كښې اوويل مونږ چه شريك مه جوړه ماسره هيڅ څيز اوپاك ساته

بَيۡتِيَ لِلطَّآئِفِينَ وَٱلۡقَآئِمِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ ﴿٢٦﴾

كورځما دپاره دطواف كوونكو.اوپه ولاړه سره عبادت كوونكو.اوركوع.سجده كوونكودپاره

﴿وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ﴾ددې ځائ نه ترايت نمبر(۳۸)پورې دويمه حصه شروع کيږي چه پدې کښ نفی دشرك فعلي دې اوپدی ايت کښ دليل نقلی ذکرکيږي دابراهيم ﷺ نه.هرکله چه ماقبل ايت کښ زجرو و په الحاد اوظلم باندی په مسجدحرام کښ نوپدی ايت کښ طعن دې په مشرکينوباندی په حالت دابراهيم ﷺ سره چه بانی دمسجدحرام اودخانه کعبی وو چه حضرت ابراهيم ﷺ ته دخانه.کعبی جوړولوپه وخت کښ الله ﷻ دطرف نه حکم شوې وو چه خماداکورته دبتانو نه پاك کړه. نودخانه کعبی تعمير مقصدبت پرستی اوشرك ختمول وو

﴿بَوَّأْنَا﴾په معنی دجعلناه مباءة سره دې يعنی ټهکانه گرځول اويا په معنی دبينا اوعينا يعني وضاحت کول اورده ځائی تعين کول سره دې نوپدی دواړو اعتباراتوسره لام په ﴿لِإِبْرَاهِيمَ﴾کښ دپاره دتعدية دې.

خانه کعبه په زمانی دطوفان دنوح ﷺ کښ ورانه شوې وه ابراهيم ﷺ چه کله خپل بچی اسماعيل ﷺ اودهغه مورحضرت هاجره ؓ په خوشی صحراء کښ پريخودلو نوڅه وخت ورستو بيا الله ﷻ ابراهيم ﷺ ته دخانه کعبی بنيادونه اوخودلو اودتعميرحکم ئی ورته اوکړو

﴿أَن لَّا تُشْرِكْ﴾ان مفسره دې په اعتباردقول مقدره سره هرکله چه لوئ مقصددتعميردخانه کعبی نه شرك ختمول وو اوتوحيدقائمه ول وو.نوددې وجه نه ﴿أَن لَّا تُشْرِكْ﴾په نورو مقاصدباندی مقدم کړې شو. اوهرکله چه دمعمولی غوندې شرك دلوئ هستئ نه هم قابل برداشت ندې نوددې وجی نه بالذات نسبت اوخطاب ابراهيم ﷺ ته اوشو. ﴿وَطَهِّرْ بَيْتِيَ﴾مراد دطهارت نه هرقسم طهارت دې که حسی وی لکه گندگئ نه پاکی شوه.يامعنوی وی لکه شرك.کفراوبدعات وغيره گناهونه شولو. ﴿لِلطَّائِفِينَ﴾غوره قول دادې چه ددينه مرادطواف کوونکی دی اوهرکله چه طواف مخ په زمکه په بلی حصی کښ نده اداکيږي سيوادمسجدحرام نه نوددې وجی نه تخصيص ئی هم اوکړې شو اوتقديم ئی هم اوشولو

﴿وَالْقَائِمِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ﴾ددينه مراد مونځ کوونکی دی اوچونکه قيام. رکوع اوسجده دری(۳) اهم ارکان دمانځه دی اودری واړو دپاره طهارت دمکان شرط دی لکه چه

دامذهب داهل السنة والجماعت دي،په خلاف دشيعگانو نه چه هغوئ صرف دسجدې دلگولو ځائ دصفائی قائله دی، نوددې وجه نه ددې دری (۳) ارکان ذکراوکړې شو اوبعض فرمائي چه د ﴿لِلطَّآئِفِينَ﴾ نه مراد بهرنه راتلونکی کسان دی او ﴿وَٱلْقَآئِمِينَ﴾ نه مراد مقيمين کسان دی اوکه څوك اشکال اوکړی چه امرپه تطهيردخانه کعبی سره تقاضه کوی اولاً وجود دخانه کعبی اوحالانکه خانه کعبه پدغه وخت کښ نوه جوړه کړې شوې نوځنګه به امرپه تطهيرسره صحيح شی؟ نويوجواب تنه امام رازی رحمه الله داکړيدې چه داحکم قبل بناء الکعبه وو اوممکنه ده چه په هغی ځائ کښ څه گندگی وی نوددې وجه نه دهغی د پاکی حکم ورکړې شو. ليکن داجواب خلاف ذوق سره سره دسياق کلام سره هم مناسب ندې نوصحيح جواب دادې چه داحکم ورستو دبناء نه دې،مقصد دادې چه دتعميراوبناء نه ورستوداخانه کعبه دشرك اوبدعاتواودغه شان دحسی گندگئ نه پاکه اوساته.

وَأَذِّن فِي ٱلنَّاسِ بِٱلۡحَجِّ يَأۡتُوكَ رِجَالٗا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٖ يَأۡتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٖ ۝٢٧

اواعلان اوکړه په خلکوکښ دحج. راځي به دوئ تاته پياده اوسواره په هره تيزرفتاره سورلئ چه راځي به دهرې لارې لرې نه

﴿وَأَذِّن فِي ٱلنَّاسِ بِٱلۡحَجِّ﴾ اعلان توحيدنه بعداعلان حج ذکرکيږی چه پديکښ دعملی توحيداظهاردې اوغوره قول دادې چه داحکم داعلان حج ابراهيم عليه السلام ته شوې وو. دابن عباس رضي الله عنه نه مروی دې چه کله ابراهيم عليه السلام دتعميردکعبی نه فارغ شو، نوالله تعالی ورته اوفرمائيلو چه اوس خلکوته دحج اعلان اوکړه نوحضرت ابراهيم عليه السلام عرض اوکړو چه ای ربه چه څما اواز به څرنگه خلکوته اورسيږی الله تعالی ورته اوفرمائيلو چه ته اعلان اوکړه رسول څما کاردې نوپه بعضی رواياتوکښ اودريدلو اواعلان ئی اوکړو: يآيهاالناس ان ربكم قدبنى بيتا وكتب عليكم الحج الى البيت فحجوه. چې ای خلکوستاسو رب کور جوړکړيدې اودهغی حج ئی په تاسوباندی فرض کړيدې نوتاسودهغی حج اوکړئ

نودآواز الله تعالی بطور معجزه دابراهيم عليه السلام په هغه دورکښ موجود ټولومخلوقاتو نه اورسولو اوکوم خلك چه موجود نووبلکه په ارحامودمينودو کښ وو ياپه اصلاب داباؤکښ وو هغوئ ته هم الله تعالی اورسولو اوچه دکوموکسانو په تقديرکښ الله تعالی حج ليکلی وو نوهغوئ ټولو ددې اعلان جواب په تلبيی سره ورکړويعنی لبيك ئی اوئيلو اوقسطلانی نقل کړيدی چه

چاچه څوځلي تلبيه ووئيلي وي هومره ځلي به ورته دحج سعادت نصيب کيږي.اللهم ارزقنا مرارا امين. ﴿يَأْتُوكَ رِجَالًا﴾ داجواب دامر دي او﴿رِجَالًا﴾جمع دراجل ده يعني پيدل اونسبت داتيان دخلکو ابراهيم عليه السلام ته کول تشريفا دي ځکه چه حضرت ابراهيم عليه السلام منادي وو اودده نداقبولول داداسي دي لکه دده طرف ته راتګ شو ﴿وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ﴾ ضامرياد تضمير الخيل نه دي چه په يو مخصوص طريقي سره اس وغيره نرى کول چه بيا په جهاداوسفرکښ نه ستړي کيږي اودهغې مخصوصي طريقي ذکرپه کتب داحاديثو اوفقه کښ په تفصيل سره موجوددي. اوياد ضمورنه دي په معنى دکمزورسره، يعني هغه خاروى چه ډېرو اوږدسفرونو دوجې نه کمزوري شوي وي.

﴿يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ﴾ داجمله صفت واقع شويده د﴿كُلِّ ضَامِرٍ﴾دپاره اوهرکله چه ﴿كُلِّ ضَامِرٍ﴾معنى مؤنث دي اګرچه په اعتباردلفظ سره مذکردي نودي وجې نه صفت ورله هم مؤنث راوړى شو.

فائده. امام مالک رحمه الله په دې ايت سره استدلال کړيدې چه سورلۍ په استطاعت کښ نده يعني يو کس سره حرم ته درسيدلودپاره سورلۍ نيشته دي خوداسړى تندرست اوصحت منددې نوامام مالک رحمه الله په مسلک باندى پدى سړى باندى حج فرض دي پيدل دې روان شي اوپه لاره دې محنت اومزدورى کوي اوحج دې اداکړي،ځکه چه په جواب د امريعني د ﴿وَأَذِّن﴾په جواب کښ چه څرنګه ذکردسورلۍ لرونکو خلکوشويدې همدغه شان دپيدل اوسورلۍ نه لرونکو خلکوهم شويدې،ليکن احناف تنه جواب کوي چه ذکرد ﴿رِجَالًا﴾صرف دتشريف اوتعظيم دپاره دي اودې دپاره ندې چه راحله په استطاعت کښ نده داخله. اويا په ﴿رِجَالًا﴾سره مرادقريب خلک دى حرم ته چه هغوئ پياده راځي او ﴿كُلِّ ضَامِرٍ﴾نه مراد بعيداولرى خلک دى اواحنافو استدلال کړيدې په روايت ددارقطني سره عن جابربن عبدالله رضي الله عنه قال لما نزلت هذه الاية ولله على الناس حج البيت من استطاع اليه سبيلاً قام رجلٌ فقال يارسول الله صلى الله عليه وسلم ماالسبيل؟ قال الزاد والراحلة اوداروايت په متعددو طرقو سره منقول دې اودغه شان په روايت ددارقطني کښ دحضرت علي رضي الله عنه نه مروي

دي ان النبيﷺ سئل عن السبيل فقال الطَيْنِلاَ ان تجد ظهر بعير . اودغه شان تفسير د استطاعت په زاد اوراحلى سره كول منقول دي دحضرت ابن عباسؓ. ابن عمر او ابن زبيرؓ نه والتفصيل فى كتب الفقه

فائده نمبر۲: پدى ايت كښ دحج دپاره صرف ددوه (۲) قسمه سفرونو ذكر اوشو او يودريم قسم سفرچه هغه بحرى سفردي دهغى ذكر اونشو .نو بعض اهل علمو پدى سره استدلال كړيدي چه دسمندر دوجى نه وجوب دحج ساقط كيږى. ليكن دا مسلك ضعيف دي ځكه چه عدم ذكر مستلزم ندي عدم وجوب لره بلكه دلته بحرى سفر نه ذكرول ددي وجى نه دي چه مكى ته رسيدلو دپاره اوخاص طورحرم ته درسيدلو دپاره دغه دوه (۲) حالتونه دى چه يا به پيدل وى او يا به په سورلئ باندى وى او دريم قسم سفرځكه ندي متصورچه مكه په ساحل دسمندرباندى نده واقعه والله اعلم

فائده نمبر۳: پيدل حج غوره دي او كه په څورلئ سره غوره دي نو پديكښ هم اختلاف شته دي خو دا اختلاف محض په افضليت اوعدم افضليت كښ دي امام ابوحنيفهؒ نه مروى دي چه كوم كس پيدل تلى شي نوهغه دپاره پيدل حج كول افضل دي ځكه چه پدى ايت كښ الله جل جلاله پيدل حج كوونكى مقدم كړيدى تشريفا اوتعظيما ،نو ددي وجى نه پيدل حج افضل دي. دغه شان استدلال ئى كړيدي په واقعى دام عقبه بنت عامر سره چه هغى نذرمنلى وو چه ځه به حج كوومه ماشيا ،نوطاقت ئى اونه لرلو، نونبى الطَيْنِلاَ ورته اوفرمائيلوچه په سورلئ باندى حج ته لاړشه اوقربانى وركړه. نو ددي نه معلومه شوه چه پيدل حج كول اطاعت دي او ادنى مرتبه داطاعت استحباب دي نو ددي وجى نه پيدل حج كول مستحب دي اودغه شان استدلال ئى كړيدي په اثر دابن عباسؓ چه فرمائى مآسى على شئ الاانى وددت انى كنت حججت ماشيالان الله تعالى يقول ياتوك رجالاً (احكام القرآن) يعنى ابن عباسؓ فرمائى چه ماته په بل هيڅ څيزباندى دومره افسوس ندې راغلې سيوا ددينه چه ځما خواهش دې چه پيدل حج اوكړم (خو دضعف دوجى نه نشم كولى) ځكه چه الله جل جلاله پيدل حج كوونكى مقدم كړيدى فرمائيلى دى چه ياتوك رجالاً، اودغه شان دحضرت حسن بن علىؓ په باره كښ مروى دى چه هغه پنځلس (۱۵) حجونه كړى وو اوټول پيدل وو. سورلئ به ئى هسى ځان سره روانه كړې وه اودغه شان مشهورقانون دې چه العطايا على متن البلايا. چه څومره تكليف زيات وى هومره ئى اجراوثواب زيات وى اوباقى نبى ﷺ چه آخرى

حج اداکړي وو په سورلۍ باندې تلی وو نوظاهره ده چه به هغه وخت کښې نبی ﷺ عمرمبارک دضعف والا وو. اونبی ﷺ متبدن شوې هم وو. والله اعلم.

لِّيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ عَلَىٰ مَا

دپاره ددې چه حاضرشي فائدو خپلوته اویادکړي نوم دالله ﷻ په ورځو معلوموکښې په ذبح دهغه څه باندې

رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ ۖ فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْبَائِسَ الْفَقِيرَ ﴿٢٨﴾

چه ورکړیدی الله ﷻ دوئ ته دڅارو نه. نو خپله هم خورئ دهغې نه اوخوروئ ئې په مصيبت وهلي محتاج باندې

ثُمَّ لْيَقْضُوا تَفَثَهُمْ وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ ﴿٢٩﴾

بيادې لرې کړي دوئ خيرې خپل اوپوره دې کړي منختې خپلې اوطواف دې اوکړي دکورازاد قديم نه

﴿لِّيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ﴾ په دیکښې ذکردبعضې منافعودحج دې اومنافع نه مرادعام دې دینی وی اوکه دنیوی وی. دینی لکه عفواومغفرت شو اودنیوی لکه دقربانۍ غوخې اوتجارت وغیره شو.

﴿وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ﴾ داد څلورو مسائلو ذکردی (١) نذرلله جائز (٢) تحريمات الله برحق (٣) نذرلغيرالله حرام (۴) تحريمات لغيرالله باطل نود ﴿وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ﴾ نه مراد دالله ﷻ په نوم باندې قربانی اودهغه په نوم باندې نذرونو کول دی اودَدینه تعبیرپه ﴿وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ﴾ سره ځکه اوشو چه په دیکښې اشاره راشی دیته چه دمسلمان ذبح دالله ﷻ دنوم نه. جدانوی بحر په خلاف دَذبح دکفارو نه چه دَهغوئ ذبح اونذرونیازدبتانوپه نوم باندې وی

﴿فِي أَيَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ﴾ غوره قول دادې چه دَدینه مرادایام دنحریعنی دقربانۍ ورځې تنه مراددی چه هغه په نیزدجمهورو دری (٣) ورځې دی لسم (١٠)، يوولسم (١١) اودولسم (١٢) دذی الحجی. اوامام شافعی رحمه الله په نیزڅلور ورځې دی یوه (١) دَاخترورځ اودری (٣) ورپسې ورځې

﴿عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّنۢ بَهِيمَةِ ٱلْأَنْعَٰمِ﴾ درزقهم نه مخکښې لفظ د ذبح مقدردې اى على ذبح
ما رزقهم او اضافت دبهيمة انعام ته اضافت بيانى دې او مراد دانعام نه ابل. بقر. غنم او معز دې. چه
تفصيل ئې به سورة الانعام کښې تير شوى دې

﴿فَكُلُوا۟ مِنْهَا﴾ امر دپاره داستحباب دې او چونکه زمانه جاهليت کښې دقربانۍ غوخې خپله
خوړل به ناجائز گڼړلی شو نو ددې وجې نه حکم او شو چه خپله ئې خورئ. ﴿وَأَطْعِمُوا۟ ٱلْبَآئِسَ﴾ بائس
سخت اوږى او محتاج ته وئيلې کيږى ﴿ٱلْفَقِيرَ﴾ دابيان او تفسير د ﴿ٱلْبَآئِسَ﴾ دې يعنى داوږى
فقيروى او دا تفسير ځکه اوکړې شو چه کله کله يو سړى اوږى وى خو دغربت دوجې نه. نوى بلکه
دبخل يا دبل څه وجې نه وى

﴿ثُمَّ لْيَقْضُوا۟ تَفَثَهُمْ﴾ پديکښې ځنې احکامات دحج بيانيږى. يعنى دوقوف عرفه. ذبح
او درمى نه پس حلق وغيره اوکړئ نفث په اصل کښې خيرى ته وئيلې کيږى دلته ترنه مراد هغه
امور دى چه محرم ئې دځان حلالولو دپاره کوى لکه حلق وغيره شو اوقضاء په اصل کښې وئيلې
کيږى پوره کولو ته. اودقضاء نه ورستوفراغت لازمى دې، نو ددې وجې نه بعض
مفسرينو دقضا ترجمه په فراغت سره کړيده يعنى تاسو مناسك دحج پوره کړئ نو بيا ځان فارغ کړئ
دمناسك دحج نه په حلق سره او بعض مفسرينو دقضا تفسير په ازالې سره کړيدې مجازا ځکه چه
دقضاء په مفهوم کښې قطع او فصل معتبر دې او دقطع سره ازاله لازمه ده يعنى دباقى افعالو پوره
کولو نه پس تاسو ازاله دخيرى اوکړئ يعنى ويخته دسر کټه کړئ زيرناف ويخته ترخونو ويخته
وغيره لرى کړئ

﴿وَلْيُوفُوا۟ نُذُورَهُمْ﴾ يعنى. نذرلله برحق دې نو که څه نذرمومنلى وى نو هغه هم پوره کړئ
او ايفاء وئيلې کيږى پوره پوره کولو ته نو پديکښې اشاره ده چه نذر منوونکى به په خپل دنذرنه
څه نه خورى، او حضرت عکرمه ﷺ نه مروى دې چه دلته دنذرنه مراد اصطلاحى نذرندې بلکه
واجب حج ته مراد دې يعنى هغه امور چه په حاجى باندى دحج دوجې نه ضرورى شوې وى

﴿وَلْيَطَّوَّفُوا﴾ددينه مراد طواف افاضه اوزيارت دي چه دارکان دحج نه دي او پدې سره انسان دَاحرام راځي. او مسجدحرام نه ﴿بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ﴾ ونيل په ډيرو وجوهاتو سره دی عتيق په معنی دَازاد سره نو ددې يو مقصد دادې چه داکورازاد دې دَلاسونو دجبابروا اوظالمانو نه. يعنی دهغوئ دَتسلط نه محفوظ ساتلی شويده. اوداوجه تسميه په روايت دَابن الزبيرؓ کښې ده چه نقل کړيدي امام ترمذی وغيره اوپدې وجه تسميه باندې دااشکال نه واردېږی چه خانه کعبه خوحجاج بن يوسف ورانه کړې وه نوځرنګه دَظالمانودلاس نه محفوظ شوله ځکه چه دجبابرونه.مراد کافرجبابره دی لکه ابرهه وغيره شو(کذافی الروح) اودغه شان اشکال نه واردېږی په عمل دَحبشي سره چه حديث کښې دی چه په اخيره زمانه کښې به يوحبشي خانه کعبه وارنه وی اوددې حبشي به سمندرته اوغورځوی، ځکه چه په تقدير دَتسليم دَصحت ددې حديث هغه نه به تسلط کُلاً نوی حاصل بلکه هغه به يوخوځښتی اوباسی نوسوربه يوکړې شی. اويادآزاد مطلب دادې چه دې آزاد دې دَملکيت دَخلکونه اويا ازاد پدې معنی سره دې چه پديکښې ګناه ګاران دَجهنم اودګناهونو نه آزاده ولی شی اويا ﴿الْعَتِيقِ﴾په معنی دَقديم سره دې.اوددې تائيد په صحيح حديث سره هم کيږی چه انه اول مسجد وضع فی الارض(متفق عليه) يعنی مخ په زمکه باندې دَتيولونه.اول مسجدحرام جوړ کړې شويدې، اوياعتيق په معنی دکريم اوجيدسره دې.

ذٰلِكَ ۗ وَمَنْ يُّعَظِّمْ حُرُمٰتِ اللّٰهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ ۗ وَاُحِلَّتْ لَكُمُ

دا يادلرئ،اوچاچه تعظيم اوکړو دحرمتونو دَالله جلّ جلاله نوداۤ بهره غوره ده،ده لره په نيز درب خپل. اوحلال کړې شويدی ستاسو دپاره

الْاَنْعَامُ اِلَّا مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْاَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوْا قَوْلَ الزُّوْرِ ۙ﴿۳۰﴾

څاروی مګرهغه چه لوستلی کيدې شي په تاسوباندې پس ځان بچ کړئ دَپليتئ نه چه بت پرستی ده اوځان بچ کړئ ددروغو وينانه

حُنَفَآءَ لِلّٰهِ غَيْرَ مُشْرِكِيْنَ بِهٖ ؕ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَكَاَنَّمَا

کلک شئ په اخلاص کولو الله جلّ جلاله لره مه کيږئ شرک کوونکی دهغه سره،اوچاچه شرک اوکړو دَالله جلّ جلاله سره نوګو ياچه دې

خَرَّ مِنَ السَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ اَوْ تَهْوِيْ بِهِ الرِّيْحُ فِيْ مَكَانٍ سَحِيْقٍ ﴿۳۱﴾

رااوغورزيدلو داسمان نه پس اوتختوی ده لره مارغان يا اوغورځوی ده لره سيلئ په مکان لرې کښې

﴿ذَٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ﴾ دا ذكر د تحريمات الله دي. يعنى كوم څيزونه چه الله ﷻ حرام كړيدى هغه برحق دى او د هغې حرام ګڼړل عين تقوى ده. او ﴿ذَٰلِكَ﴾ خبر دې د مبتدا محذوفي د پاره يعنى الامر كذلك او ﴿حُرُمَٰتِ ٱللَّهِ﴾ نه مراد هغه ټول اموردى چه د هغې ارتكاب حلال نوى. په مناسك د حج كښ وى او يا په نورافعالو كښ وى. اګرچه دلته تنه مراد هغه اموردى چه په حرم كښ او يا حج په موقعه كښ جائزندى. لكه په حالت داحرام كښ ښكاركول د حرم بوټى شوكول وغيره شو. او د حرمات الله تعظيم دا دې چه د دغې ممنوع امورو ارتكاب اونكړې شى ﴿وَأُحِلَّتْ لَكُمُ ٱلْأَنْعَٰمُ﴾ دا رددې په تحريمات لغير الله باندى چه تحريمات لغير الله باطل دى. يعنى مشركانو چه كومى بحيرى. سائبى وغيره جوړى كړيدى او د هغې د حرمت قائل دى دا ټول باطل دى او ﴿ٱلْأَنْعَٰمُ﴾ نه مخكښ لفظ د اكل اوذبح مقدردې. ځكه چه ذات د انعام په حلت او حرمت سره نه متصف كيږى. او انعام نه مراد اته (۸) قسمه څاروى دى چه د هغې ذكرپه سورة الانعام كښ دې

﴿إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ﴾ دا بيان د تحريمات الله دې. اوددې تفصيل په سورة المائده ايت نمبر (۳) حرمت عليكم الميتة الخ كښ تيرشويدې ﴿فَٱجْتَنِبُوا۟ ٱلرِّجْسَ﴾ رجس وئيلې كيږى پليتى او ګندګى ته. ﴿مِنَ ٱلْأَوْثَٰنِ﴾ كښ من بيانيه دې. او يدى سره مقصود بيان د رجس دې او د اوثان نه مخكښ لفظ د عبادت مقدردې نو مقصد د ايت دا شو فاجتنبوا الرجس الذى هو عبادة الاوثان. يعنى خپل ځان د پليتئ نه بچ كړئ چه هغه عبادت د بتانو دې. او عبادت نه مراد عام دې كه قولى وى يا بدنى وى او يا مالى وى. نو د دې وجى نه د غير الله په نوم ذبح كول يا نذرمنل دا ټول په عبادت د اوثان كښ داخل دې

﴿وَٱجْتَنِبُوا۟ قَوْلَ ٱلزُّورِ﴾ دا عطف دې په ماقبل ﴿وَٱجْتَنِبُوا﴾ باندى اعاده د فعل د تاكيد او مزيد اهتمام د پاره ده. او ﴿ٱلزُّورِ﴾ يا د زَوَر نه او يا د اِزورار نه دې په معنى د انحراف سره او هر شى چه مخالف او منحرف وى د حق نه هغى ته زور وئيلې كيږى. كه هغه كفرى او شركى عقيده وى يا تلبيه وى د غير الله په نوم يا د دروغو شهادت وى او يا د والدينو نافرمانى وى. او حضرت شيخ رحمه الله

فرمائی چه ﴿قَوْلَ ٱلزُّورِ﴾ نه مرادهغه الفاظ دی چه دَغیرالله په نوم ذبح کولووخت کښ به اغستلی کیدلو

﴿حُنَفَآءَ لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ﴾ دا دواړه یعنی ﴿حُنَفَآءَ﴾ او ﴿غَيْرَ مُشْرِكِينَ﴾ حالین مترادفین دی دَضمیردَفاجتنبوا نه حنفاء جمع دَحنیف ده اودالفظ دَاضدادونه دي اطلاق ئی په استقامت باندی هم کیږی اوپه میلان باندی هم کیږی چه ضددَاستقامت دي. دلته تنه مراد استقامت دي په دین اوپه توحیددَ الله جَلَّ جَلَالُهُ باندی اوبعض فرمائی چه دالفظ حقیقة دي په میلان کښ اواستقامت ورسره لازمی دي نودَحنیف معنی داده چه دَټولو ادیانو نه بیزاره وی اومائل وی دین حق اوتوحیدطرف ته او ﴿غَيْرَ مُشْرِكِينَ﴾ کښ اشاره ده دیته چه دین حنیف اختیاره ول صرف دَدنیوی مفاداتو دَوجی نه. نوی بلکه دَشرك سره دَنفرت په بنیاد باندی وی

﴿وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ﴾ دامثال بیانیږی دَحالت دَمشرك. اودایاتشبیه مرکبه ده اویامتعدد اوتفصیلی ده کچری تشبیه مرکبه شی نوحاصل ئی دادي چه حالت دَمشرك مشابه گرځولی شویدي دَحالت دَهغی چاسره چه دَاسمان نه راغورزیږی اومارغان ئی پوټی پوټی کړی اودَبدن غوښی ئی په خپلوججوروکښ مختلف مقاماتوته یوسی. اویایوه طوفانی سیلئ پری راشی اوپه کندوکښ ئی اوغورځوی اووجه دَشبه هلاکت اوعدم نجات دي یعنی څرنګه په دغه احوال مذکوره باندی متصف انسان دَهلاکت نه نشی بچ کیدلی نودغه شان مشرك هم دَهلاکت نه نشی بچ کیدلی اویاتشبیه متعدده اوتفصیلی ده خلاصه ئی داده چه ایمان مشابه کړي شویدي دَاسمان سره اوشرك مشابه کړي شویدي دکندي اوپستئ سره اومشرك مشابه کړي شویدي دهغه کس سره چه دَاسمان اوبلندئ نه لاندي زمکی اوپستئ ته ځان راغورځوی اودهغه دَخواهشاتو تشبیه ورکړي شویده دَښکاری مارغانوسره اوپده باندی دَشیطانی تسلط تشبیه ورکړي شویده دَطوفانی سیلئ سره نوحاصل ئی دادي چه کوم کس شرك اختیارکړی اوایمان پریدی نوهغه داسی دي لکه چه خپل ځان دَاوچت اوبلند ځائی نه لاندي پستئ ته رااوغورځوی اودَده دبچ کیدلو هیڅ امکان نوی ځکه چه یوخوراغورځیدلی وی دَاوچت ځائ نه اوبله داچه یائی په هواکښ مارغان پوټی پوټی کړی چه دادَمشرك خواهشات نفسانی دی چه دَده عقل اوفکرداسی معطل کړی اوپه دنیاپسی ئی داسی لیونی کړی چه دَهدایت والاسوچ اوفکرنه هم محرومه شی

اوپه دَشیطان تیزهواګانی پری راشی اوپولری صحراګانو کښې نی اوغورځوی اوداسې مضمون ته په یوحدیث کښې هم اشاره راغلیده. من جعل الهموم هماً واحداً کفاه الله عن سائر الهموم الخ.

حضرت شاه صاحب رحمة الله علیه فرمائی چه دامثال دَغیرمخلص فی الدین دپاره دې. یعنی کوم کس چه په خپل دین کښې مخلص وی نو هغه دَهرقسم افات دینیه نه محفوظ وی اوکوم کس چه په خپل دین اوایمان کښې مخلص نوی بلکه دَدنیوی مفاداتونیتونه ئې کړی وی نو په دنیاکښې به ئې مختلف قسم فتنې پوتې پوتې کړی. یعنی خپلومفاداتودپاره به دې هرقسم کارکوی اوهرمذهب به اختیاره وی. کله به عیسائی شی. کله یهودی اوکله به بل څه شئ؟ اویابه دَدې ټولو ادیانونه به بیزارشی نودَدهریت هوابه ئې دَخان سره یوځی. نوپه دواړو حالاتوکښې به دنیا اوآخرت کښې به ذلیل وی اودَدې توجیهاتو نه معلومه شوه چه اوپه اوتهوی کښې مانعة الخلو دپاره دې اوقاضی بیضاوی رحمة الله علیه فرمائی چه او دَتوزیع اوتقسیم دپاره دې اوپدیکښې دوه مثالونه دَدوه قسمه مشرکانو دپاره بیانیږی. ځکه چه مشرك په دوه قسم دې. یو (۱) هغه دې چه هغه ته دَتوبې توفیق بالکل نه میلاویږی اودَنجات امیدتنه قطع شوې وی. دویم (۲) قسم هغه دې چه دَهغه دَشرك نه دَنجات اوتوبې ویستلو امیدوی نو اول مثال دَاول قسم مشرك دپاره دې اودویم مثال دَدویم قسم مشرك دپاره دې

ذٰلِكَ ۚ وَمَنْ يُّعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللّٰهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ ﴿۳۲﴾ لَكُمْ

داپیادکړئ اوچاچه تعظیم اوکړو دَخاص نخوچه الله تعالیٰ مقررکړیدی نویقیناً داتعظیم دَاخلاص دزړونونه ستاسودپاره

فِيْهَا مَنَافِعُ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ مَحِلُّهَآ اِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيْقِ ﴿۳۳﴾ وَلِكُلِّ اُمَّةٍ

په هغې کښې فائدې دی ترنیټې مقررې پورې بیاانتهادې فائدوپه طواف دکورازاد یاقدیم سره ده. اودپاره دهرامت

جَعَلْنَا مَنْسَكًا لِّيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِّنْ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ

مقررکړیده مونږ طریقه دقربانی دې دپاره چه یادکړی نوم دالله تعالیٰ په هغه باندې چه ورکړیدی الله تعالیٰ دوی ته دچارپایانو دخړوونه

فَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ فَلَهٗٓ اَسْلِمُوْا ؕ وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِيْنَ ﴿۳۴﴾

نوځکه حقدار دبندګئ ستاسویوذات دې نو خاص دهغه حکم منئ اوزیری ورکړه عاجزی کوونکوته

﴿ذَٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ ﴾ذلك مبتدا دي اوخبرئې محذوف دي ای ذلك امرالله اویاخبردې دمبتدا محذوفې دپاره ای الامرذلك اویامفعول به دي دفعل محذوف دپاره چه اتبعوا دي(قرطبی)

﴿شَعَٰٓئِرَ﴾ جمع دشعيرة ده وئيلې کیږی ظاهری علامی ته. نودشعائرالله نه مراد داللهﷻ ددين علامات دی. لکه کعبه. صفا مروه. منی. عرفات. مساجد. مدارس دينيه.عبادات ظاهريه اوسنت ظاهريه وغيره شو. اودلته تنه مرادهغه څاروی دی چه حرم ته دذبح دپاره بوتللی کیږی. اوتعظيم دهغوداې چه دهغودحقوقو ادائيګی اوکړې شی. دهغوادب اوکړې شی اوهغوته تکليف رسولونه. اوبی ادبئ نه ځان اوساتلی شی.

﴿فَإِنَّهَا مِن تَقْوَى ٱلْقُلُوبِ﴾ها ضميرراجع دي تعظيم ته. اومن ابتدائيه دي نومقصد د عبارت داشو چه فانّ تعظيمها ناشئٌ من تقوى القلوب(قرطبی) اوبعض فرمائی چه من اجليه دي ای فان تعظيمها لاجل تقوى القلوب(روح)اواضافت دتقوی قلوب ته کول ددې وجی نه دي چه حقيقة تقوی په زړه کښې وی اوتقوی دپاره محل حقيقة زړه دي اوددې وجی نه حديث کښې راغليدې چه نبی پاکﷺ زړه ته اشاره اوکړه اوفرمائيلوچه التقوى ههنا (تقوی دلته ده).

﴿لَكُمْ فِيهَا مَنَٰفِعُ ﴾فيها ضميرراجع دې شعائرته، نوکچرته دشعائرنه مراد عام مواقف دحج شی نودمنافع نه مراد دينی منافع دی، لکه وقوف په منی، عرفه اومزدلفه کښې او﴿أَجَلٍ مُّسَمًّى﴾ نه مراد اخری وخت دوقوف دې او﴿ثُمَّ مَحِلُّهَآ﴾ کښې ثم دتراخی زمان دپاره ده اومحل نه مراد احلال دمحرم دي او ﴿ٱلْبَيْتِ ٱلْعَتِيقِ﴾نه مراد خالص مسجدحرام اوخانه کعبه ده، چه محرم ددينه طواف وداع اوکړی نوبياحلال شی، نومطلب داشو چه ددې ټولواعمالو منتهی په طواف وداع سره راځی. اوکچرته دشعائرنه مراد بدنه اوهدايا شی نوبيادمنافع نه مراد دنيوی اودينی دواړه مراد کيديشی نوکچرته دنيوی منافع مرادشی لکه په بدنی باندی رکوب وغيره شو نواجلِ مسمّٰی نه مراد يوم النحرده اوثمّ دتراخی زمانی دپاره دې او﴿مَحِلُّهَا﴾نه مراد دذبح ځائ دې او﴿ٱلْبَيْتِ ٱلْعَتِيقِ﴾ نه مراد ټول حرم دې نوپه ټول حرم کښې قربانی کول جائزده البته په منی کښې افضل ده. اوکه

دمنافع نه مراد دینی منافع شی نو بیانم دتراخی رتبی دپاره دي. یعنی په دیکښی ستاسو دپاره مختلف دینی منافع دی خو په ټولو کښی عظیمه نفع هغه ددې ذبح ده په حرم کښی

فائده دبدنی اوهدیی دحرم نه فائده اغستل جائزدی اوکه ندی؟ نو پدیکښی د آئمه مجتهدینو اختلاف دي امام مالک رحمه الله اوامام احمدبن حنبل رحمه الله مطلقا دجواز قائله دي. اوامام ابوحنیفه رحمه الله امام شافعی رحمه الله اوجمهورعلماء دعدم جواز قائله دی البته دشدیدضرورت په بنیاد په هغی باندی رکوب کول بیاجائزدي اودروایت دبخاری اومسلم نه په بدنی باندی دسورلئ کولو کوم اجازت چه معلومیږی لکه چه دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه مروی دي. فرمائی ان رسول الله ﷺ رای رجلا یسوق بدنة فقال ارکبها،فقال انهابدنة فقال ارکبها،قال انهابدنة الخ نوهغه محمول دي په ضرورت شدیده باندی. اودلیل پدی حدیث دجابر رضی الله عنه دي چه امام مسلم وغیره نقل کړیدي فرمائی سمعت النبی ﷺ یقول ارکبها بالمعروف اذا الجئت الیها حتی تجدظهرا(مسلم باب جواز رکوب البدنة).

﴿وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا﴾ داهم دالله جل جلاله په نوم باندی دنذرونیازبیان دي. خلاصه ئی داده چه دالله جل جلاله په نوم باندی نذرو نیازورکول. ذبح اوقربانی کول دادستورپه هرامت کښی وو.بیوامت هم ددې نه مستثنی نوو (کشاف.روح). ﴿لِّيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ﴾ دافائده بیانیږی دالله جل جلاله په نوم باندی دنذرورکولو اودهغه په نوم باندی دذبح کولو چه دالله جل جلاله په نوم باندی نذرورکولو اودهغه په نوم باندی ذبح کولوفائده داده چه په وخت دذبحی کښی دالله جل جلاله نوم ذکر اودهغه ادا ددي انسانانوعادت جوړشی

﴿فَإِلَٰهُكُمْ﴾ فاء تعلیلیه ده داعلت ذکرکیږی په وخت دذبح کښی دالله جل جلاله دنوم اغستلودپاره، چه ذبح اوقربانی اودغه شان نورنذرونه دالله جل جلاله په نوم باندی څکه ورکوئی چه ستاسو معبود اورازق هغه دي ﴿وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِينَ﴾ دابشارت دي او ﴿الْمُخْبِتِينَ﴾ نه مراد تواضع اوعاجزی کوونکی دی. اودعمروبن اوس نه منقول دی چه مخبت هغه چاته وئیلي کیږی چه ظلم نه کوی اوکچری په ده ظلم اوشی نوانتقام نه اخلی. اوصاحب دروح المعانی فرمائی چه ولایخفی حسن موقع ذلك هنامن حیث ان نزول الخبت مناسب للحاج، یعنی لفظ دخبت پدی مقام کښی ذکرکول

ډیرمناسب دی دحالت دحاجیانو سره څکه چه دحاجیانو احوال، افعال اوصفات په حالت دحج کښ دعاجزئ دی لکه حالت داحرام کښ ګنډلي شوي لباس پریخودل، سرتورسرګرځیدل معمولی غونډي پیزارپخپو کول، عرفات کښ قیام اوزاری کول اوتکلیفونه اومشقتونه برداشت کول وغیره داټول دعاجزئ والااحوال دی نوددي مناسبت په بنیاد لفظ دمخبتین دلته ذکرکړې شو

اَلَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ عَلٰى مَآ اَصَابَهُمْ
هغه خلك چه كله يادكړې شي الله ﷻ اوبيريږي زړونه ددوئ اوصبركوونكي وي په هغه تكليف چه رسيدلې وي دوئ ته.
وَالْمُقِيْمِي الصَّلٰوةِ ۙ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَالْبُدْنَ جَعَلْنٰهَا
اوپابندي كوونكي دمونځ دی اودهغه مال نه چه مونږ دوئ ته وركړيدي خرچ كوي. اواوښان غټ خاروي ګرځولي دي مونږ دا
لَكُمْ مِّنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ لَكُمْ فِيْهَا خَيْرٌ ۖ فَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا
ستاسو دپاره دخاص نخودَ الله تعالى نه، ستاسو دپاره په هغي (خارو) كښ فائدي دي، پس يادوئ نوم دالله ﷻ په هغي باندی
صَوَآفَّ ۚ فَاِذَا وَجَبَتْ جُنُوْبُهَا فَكُلُوْا مِنْهَا وَاَطْعِمُوا الْقَانِعَ
چه ولاړ وي، پس هركله چه راوغورځيږي اړخونه دهغوئ (خارو) نو پخپله خورئ دهغي نه اوخوروئ صبركوونكي ګذاره كوونكي
وَالْمُعْتَرَّ ۚ كَذٰلِكَ سَخَّرْنٰهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۳۶﴾
اوبی قراره ته. همدارنګه تابع كړيدي مونږ داخاروي ستاسو دپاره. دي دپاره چه تاسو شكراوكړئ

﴿اَلَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ﴾ دابعض علامات دمخبتین ذکرکیږی اوپه﴿وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ﴾ کښ اشاره ده کمال استحضاراوکمال قوت ایمانی ددوئ ته ﴿وَالصّٰبِرِيْنَ عَلٰى مَآ اَصَابَهُمْ﴾ دااثردکمال یقین دي. ﴿وَالْمُقِيْمِي الصَّلٰوةِ﴾ کمال عمل ته اشاره ده، اومراد ددینه مداومت اوهمیشوالی دي په مونځ باندی په صحیح اوکاملی طریقی سره.

فائده نمبر۱: هرکله چه حالت اوکیفیت دزړه بدلیږی رابدلیږی. کله خوف غالب وی اوکله طمع اوامید کله یره وی اوکله نوی کماوردفی الحدیث یاحنظلة ساعة هذه وساعة هذه. نو ددي وجی نه دمؤمنانو دزړه کیفیت اوصفت په فعل یعنی وجلت سره ذکرشوځکه چه فعل په تجدد باندی

دلالت کوی او دغه شان انفاق هم کله وی او کله نوی هغه هم په فعل سره ذکرشو . او صبر په مصائبو او اقامت صلوة چونکه هر وخت کښې مطلوب دي نو ددې وجی نه دا دواړه په اسم سره ذکر کړې شو چه دي په دوام او استمرار باندی دلالت کوی.

فائده نمبر۲: علامه قرطبی رحمه الله ددې ایت په ضمن کښې لیکلی دی چه الله جل جلاله دمؤمنانو حالت دا ذکر کړیدې چه کله دالله جل جلاله ذکر اوشی نو ددوئ په زړونو کښې دالله جل جلاله دعذاب نه خوف اویره پیداشی، لکه پدی ایت کښې او په سورة الانفال ایت نمبر(۲) کښې او په سورة المائده ایت نمبر(۳۸) کښې هم دغه شان ذکر دی، او هغه پیران چه چغې اوباسی او ټوپونه وهی او دیته وجدوائی ددوئ داعمل مخالف دې دشریعت نه او مخالف دې دعمل دصحابه کرامو نه او بدعت دې.ددوئ حالت او کیفیت په معرفت دالله جل جلاله کښې نه کیفیت دنبی ﷺ ته رسیدلی دې او نه حالت دصحابه کرامو رضی الله عنهم ته دهغوئ حالت ډیر بلند او اعلی وو او دهغې باوجود دنبی ﷺ او دصحابو نه داطریقه او عمل ندې منقول.

﴿وَالْبُدْنَ جَعَلْنَاهَا﴾ داهم دنذرلله بیان دې بُدن جمع ده بدنة ده اودا ماخوذدې دبدانة نه.لغت کښې وئیلې کیږی لوئی جسم والاشی ته او په عرف کښې ددې اطلاق په هغه خاروی باندی کیږی چه په حرم کښې ذبح کیږی، امام شافعی رحمه الله په نیز اطلاق ددې خاص دې په اوښ او اوښې پورې او امام ابو حنیفه رحمه الله اطلاق ددې عام دې ټولو غټو خاروو ته، که هغه ابل وی یا بقروی

﴿مِّن شَعَائِرِ اللَّهِ﴾ دادبدنی احکامات بیانیږی دائی اول حکم دې چه بدنه دشعائرالله نه،ده نو لهذا تعظیم ئی ضروری دې،﴿لَكُمْ فِيهَا خَيْرٌ﴾ یعنی پدیکښې ستاسو دپاره دنیوی او اخروی منفعتونه او فائدې دی،دنیاکښې دهغې دغوښو ،څرمنی او ویښتو فائده اغستل دی او په آخرت کښې اجراوثواب دې

﴿فَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهَا﴾ دابل حکم دې چه دذبحی په وخت کښې په دې باندی بسم الله یا الله اکبر وائی او مفسرین فرمائی چه مستحبه ده چه دقربانئ په خاروی باندی دا کلمات اوئیلې شی. الله اکبر الله اکبر لااله الاالله والله اکبر، اللهم منك والیك(بحر، روح) ﴿صَوَآفَّ﴾ حال دې دها ضمیر نه. او صواف اګرچه اسم فاعل دې لیکن دلته په معنی داسم مفعول مصفوف سره دې. یعنی په

قطار کښ په دسې حالت سره اودره ولي شوې وی چه يوه خپه ئې تړلې شوی وی. او په اوښانو کښ نحر کول په ولاړه باندی مسنون عمل دې

﴿فَإِذَا وَجَبَتْ جُنُوبُهَا﴾ وجبت په معنی دسقطت سره دې. او داکنايه ده دمرګ نه. يعنې چه کله ددې نه روح اوځی نوبيائی خپله هم خورئی اوفقراء ومساکينوته تنه هم ورکوئ. ﴿فَكُلُوا مِنْهَا﴾ امر دندب او استحباب دپاره دې او په ديکښ رددې په مشرکينو باندی چه دوئ به دهدې دځاروی نه خوراك کول جائزنه کنړلو ﴿وَأَطْعِمُوا الْقَانِعَ﴾ دلته هم امر دندب او استحباب دپاره دې قانع هغه فقيرته وئيلې کيږی چه قناعت کوونکی وی ځان دسوال کولو نه. بچ کوی اومعتر هغه ته وئيلې کيږی چه بې قراره وی. فرياد کوونکی اوځان پيش پيش کوونکی وی

﴿كَذَٰلِكَ سَخَّرْنَاهَا﴾ کاف يادپاره دکمال بيان دې. يعنې داځاروی باوجود ددې چه عظيم الجثه اوطاقتور مخلوق دې خوبيا هم مونږ ستاسو تابع کړيدی. يوکمزورانسان لګياشی اوداطاقتور ځاروی رااوغورځوی اوذبحه ئې کړی. اويا کاف دپاره دتشبيه دې مشبه به امر دې په نحر سره اومشبه تسخير دې. يعنې لکه څرنګه چه مونږ تاسوته ددې په نحرسره امر کړيدې نو همدغه شان هغوئ مو ستاسو په کنترول کښ راويستلی دې، (مدارك) اوصاحب دجلالين فرمائی چه کاف اسمی دې په معنی دمثل سره اوذلك سره اشاره هغه تسخيرته ده چه په صواف کښ مذکور دې او ﴿سَخَّرْنَاهَا﴾ کښ تسخير ددپاره دنحر اورکوب مراددې

لَنْ يَّنَالَ اللّٰهَ لُحُوْمُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ ۚ كَذٰلِكَ					
هرگزنه رسی الله ﷻ ته غوښې ددوئ اونه وينې ددوئ اوليکن رسي هغه ته اخلاص ستاسونه همدارنګه					
سَخَّرَهَا	لَكُمْ	لِتُكَبِّرُوا	اللّٰهَ	عَلٰى	مَا
تابع ګرځوليدی الله ﷻ داځاروي ستاسودپاره. دې دپاره چه تکبيراوايئ په هغې باندی په هغه طريقې سره					
هَدٰىكُمْ	وَبَشِّرِ	الْمُحْسِنِيْنَ ۝	إِنَّ اللّٰهَ	يُدٰفِعُ	عَنِ الَّذِيْنَ
چه خودلي ده الله ﷻ تاسونه اوزيری ورکړه احسان کوونکوته. بيشکه الله ﷻ دفع کوی (جنګ. ضرر) دهغه کسانونه					

اٰمَنُوْا	اِنَّ	اللّٰهَ	لَا	يُحِبُّ	كُلَّ	خَوَّانٍ	كَفُوْرٍ ۳۸
چه ایمان	ئې راوړیدي.	بیشکه	الله ﷻ	نه	محبت	کوي	دهرخیانت گر ناسکرسره.

﴿لَن يَنَالَ ٱللَّهَ لُحُومُهَا﴾ په یکښې دقربانۍ اصل فلسفه اوشرط دقبولیت ذکر کیږي. خلاصه ئې داده چه دقربانۍ اصل مقصد دالله ﷻ رضا. او دالله ﷻ دعظمت اولوئې اقرار اودخپل عبودیت اودعجزاظهاردي اوداصرف په وینې تویولوسره اوغوښې سره نه حاصلیږي. ترڅوچه په زړونوکښې اخلاص اوتقوی نوی راغلې. ﴿يَنَالَ ٱللَّهَ﴾ کنایه ده دقبولیت عندالله نه. اورضادالله ﷻ نه، (ابوسعود) اودَدینه معلومه شوه چه کومه قربانۍ دصحیح نیت نه خالي وي هغه مقبول عندالله نده اونه دیته شرعاً قربانۍ وئیلي کیږي بلکه فقهاء فرمائي کچرې داسې کس چه دهغه دقربانۍ نه مقصدصحیح نیت نوو بلکه محض دغوښې خوراك یاشهرت اوریامقصود وه نودي که دبل چاسره شریك شي نودده دغلط نیت دَ وجې نه دَوجې نه دَټولوقربانۍ فاسده شوه ﴿وَبَشِّرِ ٱلْمُحْسِنِينَ﴾ دابشارت دي توحیدمنونکوته محسنین نه مراد موحدین دي یعنې هغه خلك چه خپل ځان دَهرقسم شرك نه بچ ساتي، خواه که شرك جلي وي یاخفي، اعتقادي وي یافعلي

﴿إِنَّ ٱللَّهَ يُدَٰفِعُ عَنِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ﴾ ددې ځائ نه دریم باب شروع کیږي تفصیل ئې مخکښې تیرشویدي. اوهرکله چه ماقبل ایتونوکښې نفي دَشرك فی التصرف اونفي دَشرك فعلي تفصیلاً اوشوه نواوس جهاد ته ترغیب اوتمهیدذکرکیږي، اوتسلي ذکرکیږي مؤمنانوته چه ستاسوحفاظت دَدښمنانونه. الله ﷻ به کوي، اوداتسلي الله ﷻ دعام الحدیبیه په کال چه کله کفارو مسلمانان دَعمرې اداکولونه. منع کړل، نازله کړه، اودَدینه ورستو بیادکفارو په طاقت کښې مسلسل کمې راتله اوشکستونه به ئې خوړلوحتّی چه (۸هـ) کښې لکه فتح شوه.

دَ ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُورٍ﴾ داعلت دې دَمدافعت دَپاره. او ﴿خَوَّانٍ﴾ او ﴿كَفُورٍ﴾ دواړه دَمبالغې صیغې دی. مرادتنه دلته هغه خلك دي چه دَذبحې اوقربانۍ په وخت کښې دَبتانونوم اخلي اوهغوئ ته تقرب حاصله وي. (زاد المسیر، خازن) اوهرکله چه دي انسان دَالله ﷻ په ورکړې

شوی مال کښې د الله ﷻ سره بل څوك شريك اوګرځوو او د هغه تقرب ورسره حاصلولو کوشش اوکړو نو څکه دې ډیر خیانت ګر او ډیر ناشکره اوګرځیدلو

اُذِنَ لِلَّذِيْنَ يُقٰتَلُوْنَ بِاَنَّهُمْ ظُلِمُوْا

اجازت ورکړې شویدې د جنګ هغه کسانو ته چه هغوئ سره جنګ کیدلی شی په سبب د دې چه دوئ باندې ظلم کړې شویدې

وَاِنَّ اللّٰهَ عَلٰى نَصْرِهِمْ لَقَدِيْرُ ۙ﴿۳۹﴾ الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ

اوبیشکه الله ﷻ په مدد کولو د دوئ باندې یقیناً چه قادر دې د اهغه کسان دی چه ویستلی شویدی د خپلو کورونو نه بغیر د څه جرم نه

اِلَّاۤ اَنْ يَّقُوْلُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ؕ وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ

ماسیوا د دینه چه دوئ وائی چه رب زمونږ الله ﷻ دې. اوکه نوې اړول د الله ﷻ خلکولره بعضولره په بعضو سره

لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَّصَلَوٰتٌ وَّمَسٰجِدُ يُذْكَرُ فِيْهَا

نو خامخا نړولی شوې به وې ګرجې او عبادت خانې د نصارې او عبادت ګاهونه د یهودیانو او جماتونه چه یادولی شی په هغې کښې

اسْمُ اللّٰهِ كَثِيْرًا ؕ وَلَيَنْصُرَنَّ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَقَوِىٌّ عَزِيْزٌ ﴿۴۰﴾

نوم د الله ﷻ ډیر. او خامخا مدد کوی الله تعالی د هغه چا سره چه مدد کوی د دین د هغه سره. بیشکه الله ﷻ قوت والا دې زور اور دې

﴿اُذِنَ لِلَّذِيْنَ يُقٰتَلُوْنَ﴾ د اترغیب او تمهید نه ورستو اوس اصل مسئله جهاد بیانیږی چه د شرك اوکفر ظالمانه نظام خاتمی د پاره او د توحید عادلانه نظام قائمولو د پاره خپل جان. مال ورکړئ. اوهرکله چه د مکی دور د تربیت جهاد .اصلاح نفس او د ریاضت دوروو. نو په هغې کښې د کفارو په اذیتونو او تکلیفونو باندې د صبر کولو او د صفح او اعراض حکم وو .صحابه کرام ﷺ به حضور ﷺ ته په داسې حالت کښې کله کله راغلو چه کفارو به وهلی وو ،د چابه سر زخمی وو او په چابه نور ظلم کړې شوې وو .اودوئ به د حضور ﷺ نه د قتال اجازت غوختلو خو حضور ﷺ به ورته اوفرمائیلو چه څما رب ماته د قتال اجازت ندې راکړې، حتی چه څه د پاسه اویا (۷۰) ایاتونه د صفحی او اعراض او صبر او تحمل په باره کښې نازل شو ،اوکله چه حضور ﷺ مدینی ته هجرت اوکړو نو لږ وخت ورستو دا ایت نازل شو .نو غوره قول دا دې چه دا ایت مدنی دې. او دا اول ایت دې په باری د قتال کښې. او په دیکښې اذن د قتال ورکړې شویدې چه دلالت په اباحت کوی. نو لهذا د دې

قول تعارض دهغی روایت سره نیشته دي چه په هغی کښ دي چه دټولونه اول ایت په باره دجهادکښ وقاتلوا فی سبیل الله الخ نازل شویدي.لکه ابن جریر رحمه الله دابو العالیه رحمه الله نه نقل کړيدی: انّ اول ایت نزلت فیه وقاتلوا فی سبیل الله الخ ځکه چه دهغی نه مراد فرضیت دقتال دي. نودي ایت ته اوّلیت حقیقی حاصل دي چه داباحت په اعتبارسره دي اووقاتلوا فی سبیل الله ته اولیت په اعتباردفرضیت سره دي، اودحضرت شیخ رحمه الله دکلام نه معلومیږی چه دلته ددفاعی جهادحکم دي، اوپه وقاتلوافی سبیل الله کښ اقدامی جهادحکم دي اودعام مفسرینوپه نیزدلته ماذون فیه محذوف دي چه لفظ قتال دي. یعنی اذن فی القتال للذین یقٰتلون بانهم ظلموا اوحضرت شیخ رحمه الله فرمائی چه "القتال" مفعول به دي د ﴿أُذِنَ﴾دپاره یعنی اذن للذین یقتلون القتال. یعنی کوم خلك چه دستاسوسره قتال کوی نودهغوئ سره تاسوته دقتال اجازت درکړې شویدي. نودادفاعی جهادشو.

﴿بِأَنَّهُمْ ظُلِمُواْ ﴾دا سبب دمشروعیت دجهاددي. چه جهاد اوقتال درحقیقت دظلم خلاف دي. اوچونکه شرکی اوکفری نظام هم په ظلم باندی مبنی دي اواسلامی نظام په عدل اوانصاف باندی مبنی دي،نوددي وجی نه دکفردنظام خلاف جهادضروری شویدي، اوددات دکافرخلاف جهادندي راغلي دذات دپاره صرف دعوت دي.

﴿وَإِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ نَصۡرِهِمۡ ﴾داوعده دنصرت ده دجانبه دالله جل جلاله نه. ﴿ٱلَّذِينَ أُخۡرِجُواْ ﴾داپه موضع دجرکښ صفت واقع شویدي دماقبل﴿لِلَّذِينَ﴾دپاره، اومقصود پدی سره بیان دظلم دکفارودي.

﴿بِغَيۡرِ حَقٍّ ﴾دامتعلق دي په اخراج پوری یعنی ددوئ داخراج دپاره څه موجب اوسبب هم نوو. بغیردموجب اوسبب نه ویستلی شویدي.

﴿إِلَّآ أَن يَقُولُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ﴾بعض علماء فرمائی چه استثناء منقطعه ده الاّ په معنی دلکن سره دي.لیکن غوره خبره داده چه دااستثناء متصله ده، اوداکلام دقبیلی دتاکیدالمدح بمایشبه الذم نه دي، مقصد دادي چه ددوئ داخراج دپاره هیڅ قسم سبب نوو سیوا ددینه چه دوئ دتوحیداقرار کړې وو.اواقرار دتوحیدجرم ندي چه سبب داخراج دپاره اوګرځی بلکه داخوسبب دتمکین اوتوقیردپاره دي.

﴿وَلَوْلَا دَفْعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ﴾داحکمت بیانیږی دَمشروعیت دجهاد. چه دجهاد په ذریعی سره دَمراکز دینیه حفاظت کیږی، څومره دینی مراکزاوعبادت خانی دی. داټول دَجهادپه برکت سره محفوظ دی، کچرته جهادنوی نودَدې مراکزوحفاظت به هم نوی،اودغه شان په سورة بقره ایت نمبر(۲۵۱) کښ هم ذکردی. اومراد په﴿دَفْعُ ٱللَّهِ﴾سره تسلط ورکول دی بعضولره په بعضو باندی.اودَدی مختلف صورتونه دی کله الله ﷻ مؤمنانولره تسلط ورکړی په کافرانوباندی په ذریعی دَجهاد سره اودامعنی په ټولوکښ مقدمه ده. اودغه شان صورت دَدفع دَالله ﷻ داهم دې چه دحاکمانو عادلانو په ذریعی سره دَظالمانو ظلم منع کوی اودغه شان دګواهانو دګواهئ ذریعی سره دَیوحقدارته خپل حق میلاویږی اوغیرحقداردَهغه دَحق خوړلونه منع کوی. اودغه شان دفع الله صورت داهم دې چه الله ﷻ دَصالحینوپه دعاګانوسره دَفاسقانونه عذاب دفع کوی. اودغه شان دفع دَبدعاتواودَفسق اوفجورده په تبلیغ دَاهل حق سره کوی اوداټول معانی ابن جریرطبری رحمه الله اوآلوسی رحمه الله په خپلوتفاسیروکښ لیکلی دی

﴿لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ﴾هدم ظاهری نړیدلودَعمارت ته وئیلې کیږی، دلته په معنی دَ عطلت سره دې، اوتعطیل چه څرنګه ظاهری فسادته شامل دې نودغه شان معنوی فسادته هم شامل دې. استعمال دَهدم دَپاره دَمبالغی دې په فسادکښ اوصوامع جمع دَصومعة ده په اصل کښ وئیلې کیږی هغی بناء اوتعمیرته چه په اوچت ځائ باندی جوړکړې شوې وی، اوبیائی تخصیص شویدې په مخصوص،عبادت خانی دَراهبانوپوری(خانقاه دَراهبانو)اوبیع جمع دَبیعة ده وئیلې کیږی عام عبادت خانودَنصاریٰ ؤته(کنیسا)اوصلوٰة جمع دَصلاة ده دَیهودیانوعبادت خانی ته مرادی.

﴿يُذْكَرُ فِيهَا ٱسْمُ ٱللَّهِ﴾ضمیردَفیهایاراجع دې مساجدوته اوداجمله صفت واقع شویده دَمساجددَپاره اویاضمیرراجع دې په تاویل دکل واحدسره مذکورټول عبادت خانوته، خوپدی اعتباردَمساجدنه علاوه باقی عبادت خانوکښ دَالله ﷻ ذکرقبل النسخ. دَهغوئ په خپلوخپلو ادواروکښ مراددې نوخلاصه داده کچرته جهادنوی نوبه دَراهبانوخانقاګانی اونه به دَعیسایانو عبادت خانی نه به دَیهودیانوعبادت خانی په خپلوادوارو کښ اونه به دَمسلمانانوجماتونه اومدارس محفوظ وی

﴿وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ﴾ دا اعلان فتح دي او الله ﷻ د چا امداد او نصرت ته محتاج ندي اونه ئې ضرورت شته دي خود الله ﷻ د دين خدمت. د اهل حق په صف کښې شامليدل د الله ﷻ د دوستانو او علماؤ سره محبت او تعلق ساتل. د هغوئ سره تعاون کول دا داسې دي لکه چه د الله ﷻ سره امداد کول دي

الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ
دا مهاجرين هغه کسان دي کچرته طاقت ورکړو مونږ دوئ ته په زمکه کښې پابندي به کوي د مونځ او ورکوي به زکوة
وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ ۗ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ ﴿٤١﴾
او حکم به کوي د نيکئ او منع کوي به خلك د بدئ نه. او خاص الله ﷻ لره دي انجام د ټولو کارونو.
وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَعَادٌ وَثَمُودُ ﴿٤٢﴾
او کچرې دوئ دغروزن وائي تا ته نو يقيناً دروغژن کنړلي وو مخکښې د دوئ نه قوم د نوح ؑ او عاديانو او ثموديانو خپلو پيغمبرانو لره،
وَقَوْمُ إِبْرَاهِيمَ وَقَوْمُ لُوطٍ ﴿٤٣﴾ وَأَصْحَابُ مَدْيَنَ ۖ وَكُذِّبَ مُوسَىٰ فَأَمْلَيْتُ
او قوم د ابراهيم ؑ او قوم د لوط ؑ. او اُسيدونکو د مدين، او دروغژن کنړلي شوي وو موسى ؑ، پس مهلت مي ورکړو
لِلْكَافِرِينَ ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ ۖ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٤٤﴾ فَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا
کافرانو ته. بيا او نيول ما هغوئ پس څرنګه شو عذاب ځما هغوئ لره. پس ډيرد کلونه هلاك کړيدي مونږ هغه
وَهِيَ ظَالِمَةٌ فَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَبِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ وَقَصْرٍ مَّشِيدٍ ﴿٤٥﴾
او حال دا چه هغوئ ظلم کونکي وو نو هغه پريوتلي دي په چتونو خپلو باندې او ډير کوهيان شاړ او ډير محلونه پاخه شاړ دي.

﴿الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ﴾ دا ايت د استخلاف دي او دا جمله يا بدل واقع شويده د ﴿مَن يَنصُرُهُ﴾ نه او يا بدل واقع شويده د ﴿الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِم﴾ نه او پديکښې د الله ﷻ د دين امداد کوونکو خلکو او د مجاهدينو. مهاجرينو صفات بيانيږي او ﴿إِن مَّكَّنَّاهُمْ﴾ شرط دي او ﴿أَقَامُوا الصَّلَاةَ﴾ ورله جزاء ده او مراد په تمکن سره سلطنت او قوة نافذه دي او پدې باندې ترتب د څلور امور شويدي

(۱) ﴿أَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ﴾ (۲) ﴿وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ﴾ پديكښ دوئ انفراد اوذاتي اصلاح ته اشاره ده. چه دحكومت ميلاويدلوپه وجې سره په دوئ كښ څه غرور اوتكبرنه راځي. اونه دالله ﷻ په احكاماتوكښ سستي كوي (۳) امربالمعروف (۴) نهي عن المنكر. ددينه مراد اجراء داحكام شرعيوده په مملكت كښ

اوهركله چه ﴿ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمۡ﴾ كښ وقوع دمقدم په اخبارمتواتروسره ثابت دې اووقوع دتالي په نصوص قطعيه سره ثابت دې ځكه چه تالي په حقيقت كښ اخباردې دجانبه دالله ﷻ نه اوددې وجه نه مفسرين فرمائي چه دااګرچه بظاهرجمله شرطيه ده ليكن حقيقة داجمله خبريه ده. نوددې وجې نه داايت دليل دې په حقانيت دخلافت دخلفاء راشدين باندې. اودادهغوئ دپاكيزه سيرت پيشنګوئ ده (لعنة الله على اعدائهم) اوجمله شرطيه په ځائ دخبرئي ځكه راوړې شوه چه داشرط شامل شي هرهغه چاته چه الله ﷻ ورله بادشاهي اوحكومت وركړې. لكه قرطبي رحمه الله دضحاك نه نقل كړيدى چه الله تعالى داشرط لازم كړيدې په هغه چاباندې چه بادشاهي اوحكومت ورله وركړې وي.

﴿وَلِلَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلۡأُمُورِ﴾ داتاكيددې دماقبل دپاره اواشاره ده ديته چه څرنګه حكمراني وركول دالله ﷻ په قدرت اواختياركښ دې نودغه شان دهغې دوام هم دالله ﷻ په قدرت اواختياركښ دې. ﴿وَإِن يُكَذِّبُوكَ﴾ داتسلي ده حضور ﷺ اومؤمنانوته چه كچرته داكفارستاتكذيب كوي اوتاسوته اذيت اوتكليف دركوي نوتاسو زړه مه تنګوئ اوصبركوئ الله ﷻ به دوئ هلاك كړي لكه څرنګه مخكښني مكذب، قومونه ئې هلاك كړيدى.

﴿وَعَادٞ وَثَمُودُ﴾ داپه رفع سره عطف دې په ﴿قَوۡمُ﴾ باندې اوتعبيردقوم هود اوصالح نه په علم سره ځكه اوشوچه داقومونه په دې نوم سره مشهور وو اواختصاص هم دې واصحاب مدين ددينه مرادقوم شعيب عليه السلام دې. دلته قوم شعيب عليه السلام اونوئيلې شوځكه چه شعيب عليه السلام دوه (۲) قومونوته ليږلې شوې وو. يواصحاب مدين وو اوبل اصحاب الايكه وو اصحاب مدين په تكذيب اوهلاكت كښ مقدم ووپه اصحاب الايكه باندې اوهلاكت ددوئ مشهورهم وو په عربوكښ نوددې وجې نه دلته ذكرصرف داصحاب مدين اوشو

﴿وَكُذِّبَ مُوسَىٰ﴾ دلته اسلوب دکلام بدل کړې شو اوداسی اونه وئیلې شوچه وقوم موسٰی څکه چه دموسی الطیلا خپل قوم بنی اسرائیل وو اوبنی اسرائیل و دموسی الطیلا تکذیب نوو کړي. بلکه تکذیب کوونکی دموسی الطیلا قبطیان وو اوهغوئ غیروو دقوم دموسی الطیلا نه ﴿فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ﴾ استفهام دپاره دتقریردې اونکیر په معنی دانکارسره دې یاء دمتکلم محذوفه ده اکتفاء په کسری باندی شویده اونکیراوانکارپه اصل کښ تغیراوبدلولوته وئیلې کیږی دلته نه مراد عذاب دې .څکه چه پدی سره نعمتونه په زحمتونو سره ژوند په مرګ سره بدل شی

﴿فَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ﴾ داتفصیل دې دعذاب دنیوی ﴿وَهِيَ ظَالِمَةٌ﴾ داجمله حال واقع شویده دضمیر منصوب د﴿أَهْلَكْنَاهَا﴾ نه اوپدیکښ اشاره ده علت دهلاکت ته چه ددې قرئی خلك ظالمان یعنی مشرکان وو .نودشرك دوجی نه الله جَلَّ جَلَالُهُ دوئ هلاك کړل .(مدارك).

﴿فَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا﴾ خاوية دخوی الدارنه دې غورځیدلوته وئیلې کیږی. نومقصد دادې چه ددې کورونو اوبنګلوچتونه اول راوغورځیدلواوبیادپاسه پری دیوالونه را اوغورځیدلو اوبعض فرمائی چه خاویه دخوی البطن نه دې چه کله ګیډه خالی شی. نومقصد دادې چه داعظیم الشان اوخائسته بنګلی په خپلو دیوالونوباندی خالی اولاړی وی اواهل ئی ټول هلاك شوې وو(کبیر).

﴿وَبِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ وَقَصْرٍ﴾ معطلة دتعطیل نه دې وئیلې کیږی ابطال دمنافعوته. او﴿مَّشِيدٍ﴾ یادشید (بالفتح)نه دې وئیلې کیږی اوچتوالی اورفعت ته اویادشید (بالکسر) نه دې په معنی دمحکم سره. چه په چونی وغیره سره مضبوط کړې شوې وی. اوددینه یامراد دادې چه ددې هلاك شوی قومونوپه کلو.اوکورونوکښ کوهیان وو. چه شاړی پاتی شواواوچ شو اودهغوئ غتی اومضبوطی بنګلی هم وی. لکه دقوم ثمود چه څرنګه بنګلی وی اوقرطبی رَحِمَهُ الله وغیره نقل کړیدی چه داکوهی اوقصردواړه دحضرت موت په یوی قرئی چه حاصورا نوم ئی وو په هغی کښ وو.قصرئ غره په سرکښ وو اوکوهی دغره په لمن کښ وو اودا حاصورا شهرهغه څلورزره مؤمنانوجوړکړې وو چه دحضرت صالح الطیلا سره حضرموت ته راغلې وو .دلته راتلونه څه وخت ورستودحضرت صالح الطیلا وفات اوشو .اوددې وجی نه دې شهرته حضرموت وئیلې کیږی چه

دلته حضرت صالح علیه السلام ته مرګ حاضرشوي وو .دده دوفات نه ورستو دده متبعينو دخان دپاره يوحصاراووهلو اوحاصورا ئې تعميرکړو اودکوهې خواته ئې قيام اوکړو. اويوکس چه نوم ئې جهلست بن جلاس ياعلس بن جلاس وو اميرئې مقررکړو. اودې ډيرنيك سيرت اوحسن صورت والاوو .څه وخت ورستو ددوئ په نسلونوکښې شرك شروع شو نو الله تعالى ددوئ دهدايت دپاره حنظله بن صفوان علیه السلام پيغمبررااوليږلو خودوئ دهغه خبره اونه منله اوهغه ئې شهيدکړو .نو الله تعالى په دوئ باندې عذاب رااوليږلو اودوئ ټول هلاك شول اوکوهې اوبنګلې ئې شاړې پاتې شوې

أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَتَكُونَ لَهُمْ قُلُوبٌ يَعْقِلُونَ بِهَا أَوْ آذَانٌ يَسْمَعُونَ

آيانودوئ ګرځي نه په ملك کښې.چه بس پيداشي دوئ لره داسې زړونه چه پوهيږي به هغې سره.غوږونه چه اورېدل کوي

بِهَا فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَكِنْ تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ ﴿٤٦﴾

په هغې سره.بيشکه قصه داده چه نه ړندېږي سترګي اوليکن ړنديږي هغه زړونه چه په سينوکښې دي

وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ وَلَنْ يُخْلِفَ اللَّهُ وَعْدَهُ ۚ وَإِنَّ يَوْمًا عِنْدَ رَبِّكَ

اودوئ په جلتئ سره غواړي ستانه عذاب اوهرګزخلاف نه کوي الله جل جلاله دوعدي خپلي نه اوبيشکه يوه ورځ

كَأَلْفِ سَنَةٍ مِمَّا تَعُدُّونَ ﴿٤٧﴾ وَكَأَيِّنْ مِنْ قَرْيَةٍ أَمْلَيْتُ

په نيزدرب ستا،دورځو دآخرت نه،پښان دزروکالوده دهغې نه چه تاسوئې شمارکوئ په دنياکښې،اوډيرکلي دي چه مهلت ورکړېدې ما

لَهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ ثُمَّ أَخَذْتُهَا ۚ وَإِلَيَّ الْمَصِيرُ ﴿٤٨﴾

هغوئ ته اوحال داچه ظلم کوونکي دي بيااونيول ماهغوئ لره اوخاص ماطرف ته راګرځيدل دي

﴿أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ﴾ دا ترغيب دې سيروسياحت ته، دپاره دعبرت حاصلولو اوپديکښې اشاره ده چه کوم سيروسياحت دعبرت حاصلولودپاره وي هغه عبادت دې اويوامرمستحبه دې ﴿فَتَكُونَ لَهُمْ قُلُوبٌ يَعْقِلُونَ بِهَا﴾ يعقلون په معنی ديعلمون سره دې. اومفعول به ئې محذوفه ده

اى يعلمون بهامايجب ان يعلم من التوحيد(روح) يعنى ددې زړنو په ذريعې سره دوئ په توحيد باندې پوهه شوي وي

﴿فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى ٱلْأَبْصَٰرُ﴾ها ضميرقصه دې ﴿لَا تَعْمَى ٱلْأَبْصَٰرُ﴾ورله تفسيردې اودا كلام محمول دې په مبالغې فى النفى باندې. اودامقصدندې چه سترګې نه ړنديږي. لكه څرنګه چه ظاهرد صيغې دمضارع د اسنادتقاضاده څكه چه داخلاف واقع اوحقيقت دې اوپديكښې اشاره ده چه ړندوالي فقط دسترګو دومره مضرندې لكه څومره چه ړندوالي دزړه مضردې

﴿وَلَٰكِن تَعْمَى ٱلْقُلُوبُ ٱلَّتِى فِى ٱلصُّدُورِ﴾زيادت دفى الصدور دتاكيدد پاره دې لكه يقولون بافواههم، اوتلك عشرة كاملة وغيره شو، پديكښې اشاره ده چه محل دعقل اوعلم دپاره زړه دې

فائده پديكښې اختلاف دې چه عقل كوم ځائ كښې وي؟ نو اكثرحكماء اوبعض متكلمين ددې قائله دى چه محل دعقل دماغ دې. اواستدلال ئې په ظاهرى اثارو اوقرائنوسره كړيدې. مثلاً كله كله دیوكس دماغ خراب شي اوزړه ئې صحيح وي نوداكس تندرست اوصحت مندوي. خوعقل نه لري بلكه پاګل اومجنون وي اودغه شان كه يوكس په سرباندې دكانړي ګذارلګيدلو دوجې نه كله كله حافظه خرابه شي يادشي ورنه هيرشي بلكه كله كله ورنه عقل هم زائله شي اوديروخت يوكس داسې وي چه زړه ئې خراب شي خودهغې باوجود عقل اوحافظه ئې ټهيك وي اوددې قول نسبت امام ابوحنيفه رحمه الله ته هم كړې شويدې ليكن قرطبى رحمه الله فرمائي چه امام صاحب ته ددې قول نسبت صحيح ندې

جمهورمتكلمين ددې قائله دى چه محل دعقل زړه دې. اواستدلال ئې پدى ايت مذكورو اودغه شان نورو آيتونوسره كړيدې چه په هغې كښې محل دعقل دپاره زړه خودلى شويدې. دبعض متكليمن اودحكماؤ دطرف نه دايت مذكوروغيره نه جواب كړې شويدې چه محل دعقل دپاره زړه وئيل دامحمول دى په عرف اوپه خيال دعربو باندې چه دهغوئ خيال داوو چه محل دعقل زړه دې اوددې وجې نه په عربو كښې به هوښيارسړي په باره كښې به وئيلې كيدلو چه ددې دوه زړونه دى ليكن مذهب ددې بعضو موافق ندې دنصوصوسره. بلكه دجمهورو مذهب اوفق دې دنصوصوسره اوحضرت شاه صاحب رحمه الله وغيره حضراتو په ددې دواړوقولينوكښې تطبيق داسې كړيدې چه داصل په اعتبارسره محل دعقل زړه دې. اودماغ محل دعقل په اعتبارد تصرف سره دې. نوګوياچه منبع دعقل زړه دې اومحافظ ئې دماغ دى.

وعندی وجه اخروان لم اجدفی الکتب المتداولة والله اعلم بصحته. چه دَزِړه دوه ۲، تاثیره دی. یوظاهری او بل باطنی. دَظاهری تاثیرتعلق دَجسم سره دې او په جسم کښې ظاهریږی اوباطنی تاثیر تعلق دَدماغو سره دې. اودماغ ددغی تاثیرمحافظ خانه ده اوداتاثیرهلته محفوظ کیږی. نودَدماغو په فسادسره څکه سرې پاګل کیږی چه محافظ خانه فاسده شی. اوپه فسادبطنی دَقلب سره اصل تاثیرختم شی اودَدې وجی نه په ځنوایتونوکښې داسی راغلیدی ﴿لَهُمْ قُلُوبٌ يَعْقِلُونَ بِهَآ﴾ اوهرچه دې فسادظاهری دَقلب نوهغه مستلزم ندې فساد باطنی لره. نوددې وجه نه دَزړه په ظاهری بیماریٔ سره په عقل کښې فتورنه راځی (والله اعلم بالصواب)

﴿وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِٱلْعَذَابِ﴾ دازجرمع التخويف دې په استعجال دَعذاب سره. چه دامشرکین عبرت خونه اخلی بلکه عذابونه په جلتئ سره غواړی ﴿وَلَن يُخْلِفَ ٱللَّهُ وَعْدَهُۥ﴾ ددينه مراد وعده دعذاب ده په قرينی دَ﴿وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِٱلْعَذَابِ﴾ سره اوعذاب نه مراد عام دې دنيوی وی اوکه اخروی اودنيوی عذاب وعده الله ﷻ په بدرکښې پوره کړه ﴿وَإِنَّ يَوْمًا﴾ داتنبيه ده په حماقت اوجهالت دکفاروباندی. چه داجاهلان دَالله ﷻ عذاب په جلتئ سره غواړی حالانکه دَهغی نه پناه غوختل پکاردی څکه چه داعذاب به دومره سخت او اوږدبه وی چه دهغی یوه ورځ به دَزرو (۱۰۰۰) کالو برابروی

﴿كَأَلْفِ سَنَةٍ﴾ دَیوی ورځ تشبیه دَزرو کالوسره ورکول یاپه عددکښې ده چه دَقیامت یوه ورځ ستاسودَزرو (۱۰۰۰) کالوسره برابرده. نودغی ورځی ته الله ﷻ داعذاب مؤخرکړیدې اوددې تائید په هغی حدیث سره کیږی چه ابن کثیر ﷫ ذکرکړیدې چه دَحضرت ابوهریرة ﷛ نه روایت دې چه نبی پاک ﷺ ارشاد اوفرمائیلوچه فقراء به دَمالداروخلکونه نیمه ورځ مخکښې جنت نه داخلیږی اونیمه ورځ دَاخرت پنځه سوه (۵۰۰) کاله ده. نوددې حدیث نه معلومه شوه چه داخرت یوه ورځ به زر (۱۰۰۰) کاله وی. اوکه څوک اشکال اوکړی چه دَسورة المعارج ایت نمبر (۴) کښې دقیامت ورځ پنځوس زره کاله وئیلی شویده نوداخوتعارض دې؟

یوجواب تنه دادې چه اصل اوږدوالی دَدغی ورځی زرکاله دی خوپه خلکوباندی دَشدت اوسختئ دَوجی نه به پنځوس زره کاله اوګرځی. نوخلاصه دَجواب داده چه پدی ایت ایت

اوحديث مذکورکښې اصل اوېږدوالی مذکوردې اوپه سورة المعارج کښې دسختۍ دوجې نه اوږدوالی ذکردې. ۲) بعضوتنه جواب داسې کړېدې چه مواقف دقيامت پنخوس دی اوهرموقف زرکاله دې. نوپدې آيت کښې زمانه دېوموقف ذکرده اوپه سورة المعارج کښې دټولو مواقفو مجموعه ذکرده (والله اعلم) اوياتشبيه ده په قدرت اوانفاذ دارادې کښې. مراددادې چه کوم کارتاسوپه زرکاله کښې کوئ الله ﷻ ئې په يوه (۱) ورځ کښې کوی اوذکردزرکالودتحديددپاره ندې بلکه داکنايه ده دکثرت نه. نوخلاصه داده چه تاسوته فوراً عذاب درکول ياځه وخت دپاره مهلت درکول. دادواړه حالتونه الله ﷻ ته مساوی اوبرابردی. الله ﷻ په هروخت کښې عذاب ورکولوباندی قادردې اوياتشبيه ده په شدت دعذاب کښې چه دالله ﷻ عذاب تاسو په جلتۍ سره غواړئ نودهغې دېوې ورځې شدت اوتکليف به دومره سخت اوزيات وی لکه زر(۱۰۰۰) کاله ځکه چه تکليف اودسختۍ والاورځ اوږدې وی اودراحت اوخوشحالۍ والا ورځې لنډې اومختصرې وی ﴿وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ﴾ پديکښې هم تخويف اخروی ذکرکيږی اوتمهيددې دترغيب الی الايمان دپاره. اوهرکله چه ددينه مخکښې جمله ﴿فَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ﴾ بدل واقع شوې وه دنکيرنه اودواړه په حکم دجملې واحدې کښې وی نوددې وجه نه هغه په فاء سره ذکرشوه اودلته دواړه مستقلې جملې دی نودې وجې نه به دلته په واؤسره عطف کړې شوه

قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّمَآ أَنَا۠ لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٤٩﴾ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ

ته اوايه اې خلکو بيشکه زه تاسوته يره درکوونکې ښکاره يم. پس هغه کسان چه ايمان ئې راوړېدې اوعملونه ئې کړيدی نيک

لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿٥٠﴾ وَٱلَّذِينَ سَعَوْا۟ فِىٓ ءَايَٰتِنَا مُعَٰجِزِينَ أُو۟لَٰٓئِكَ

د دوئ دپاره بخښنه اورزق عزت والادې. اوهغه کسان چه کوشش کوې په اياتونوزمونږ کښې مقابله کوونکې دهغې سره دغه کسان

أَصْحَٰبُ ٱلْجَحِيمِ ﴿٥١﴾ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ وَلَا نَبِىٍّ إِلَّآ إِذَا تَمَنَّىٰٓ أَلْقَى

اور والا دی. اوندې ليږلی مونږ ستانه مخکښې هيڅ رسول اونه يونبي مګرهرکله چه هغه به لوستل کول نوغورځولی به

ٱلشَّيْطَٰنُ فِىٓ أُمْنِيَّتِهِۦ فَيَنسَخُ ٱللَّهُ مَا يُلْقِى ٱلشَّيْطَٰنُ

شيطان وسوسې دخلکوپه زړونوکښې په وخت دلوستلودهغه کښې. نوورانوي الله ﷻ هغه شبهات چه اچول شيطان

ثُمَّ	يُحْكِمُ	اللهُ	اٰيٰتِهٖ	ط	وَاللهُ	عَلِيْمٌ	حَكِيْمٌ	۞
بیا	محکم «کلك»	اوساتل	الله ﷻ	ایاتونه خپل	اوالله ﷻ	پوهه	دي	حکمتونوالادي

﴿قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ﴾داترغیب الی الایمان ذکرکیږی اواثبات درسالت کیږی سره دجواب داستعجال دعذاب نه، چه تاسوځمانه په جلتئ سره عذاب غواړئ حالانکه داځمایه اختیارکښ ندي، ځه خوداَلله تعالیٰ دطرف نه رسول یم اویره ورکوونکی اودعذاب خبرورکوونکی یم اودلته ذکرصرف دنذیرصفت اوشواوصفت بشیرذکراونشوځکه چه مقصود بالخطاب دلته صرف مشرکان اوکافران دی اوهرچه دي ذکردانعاماتودپاره دمؤمنانو بالاصاله ندي بلکه دکفارو غیظ غضب دزیاتولودپاره دي«کذاذکره الکشاف» اویاوجه داده چه نذیرصفت عام دي مؤمنانودپاره هم دي اوکفارودپاره هم دي، په خلاف دبشیرصفت نه چه هغه خاص دي په مؤمنانو پورې

﴿فَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟﴾بشارت دي مؤمنانوته﴿وَرِزْقٌ كَرِيمٌ﴾کریم په معنی دعزت سره دي نومصداق ئی په دنیاکښ مال دغنیمت دي چه هغه دعزت والا رزق دي اویاکریم معنی بغیرتعب یعنی چه پغیردکړاؤنه وی نومصداق ئی بیاجنت دي ځکه چه ددنیاپه رزق کښ خامخاکړاؤوی.

﴿وَٱلَّذِينَ سَعَوْا۟ فِىٓ ءَايَٰتِنَا﴾داتخویف اخروی دي او﴿سَعَوْا۟ فِىٓ ءَايَٰتِنَا﴾نه مراد کوشش دي په ابطال دایتونودَ الله ﷻ کښ چه هغی ته سحر،شعروغیره وئیل وو،﴿مُعَٰجِزِينَ﴾داحال دي د﴿سَعَوْا۟﴾ ضمیر فاعل نه، اوباب مفاعله یادمشارکت دپاره ده چه دوئ صاحب ایت پیغمبر دعاجزه کولو اراده کوی اوایاتونه دقرآن دوئ عاجزه کوی دمقابلی نه اویاباب مفاعله دمبالغی دپاره ده یعنی ددوئ کوشش دادي چه زمونږ داختیارنه اوځی اویا ﴿مُعَٰجِزِينَ﴾په معنی دمثبطین سره دي. یعنی منع کوونکی دی خلکولره دایمان نه «خازن».

﴿وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ﴾داایت دمشکلاتودقرآن نه دي پدیکښ څلورمباحث دي«۱»ربط ماقبل«۲» دایت صحیح تفسیر«۳»دایت په سبب نزول کښ یوه غلطه واقعه اودهغی رد«۴» منشاء دغلطی.

(۱) ماقبل سره ربط دادې چه مخکښې اياتونوکښې دکافرانودکفراوانکاربيان وو اوس پدې ايت کښې دهغوئ دَ نه منلووجه ذکرکيږي اودغه شان ماقبل اياتونوکښې نبي پاکﷺ ته تسلي ورکړې شوې وه وان يکذبوك فقدکذّبت قبلهم اوپدې ايت کښې بله تسلي ذکرکيږي نبيﷺ ته

(۲) ددې ايت په تفسيرکښې دَمفسرينو متعدد اقوال ذکرکړې شويدي ليکن غوره اوصحيح اقوال پکښې دوه(۲) دي.ځکه چه لفظ دتمنی په کلام عرب کښې په دوه(۲) معانيوکښې مستعمل شويدي يو(۱) په معنی دَقرائت سره لکه په مرثيه دَحضرت حسانؓ کښې چه دَحضرت عثمانؓ په باره کښې ئې وئيلې وه:

تمنى كتاب الله اول ليلة— واخرها لاقى حمام المقادر

نودلته ﴿تَمَنَّىٰ﴾ په معنی دَقرء سره دې اودويم(۲) معنی دَ﴿تَمَنَّىٰ﴾ مشهوره اومعروفه ده چه خواهش اوآرزو ته وئيلې کيږي. دلته که﴿تَمَنَّىٰ﴾ په معنی دَقرء سره شي.نو فی به په ﴿فِىٓ أُمۡنِيَّتِهِۦ﴾ کښې په معنی دَعندسره وي. لکه لبثتَ فينا(الشعراء: ۱۸) کښې فی په معنی دَعندسره ده اوامنيّته به په معنی دَمتلوسره وي اوشيطان نه مراد عام دې که انسي وي ياجني وي،نودَايت مقصد دادې چه دايوقديم عادت دې اوهرنبي اورسول سره دامعامله شويده چه کله به هم هغه تلاوت ياوعظ اونصيحت کولو .نوشيطان په دغه وخت کښې دَخلکوپه زړونوکښې وسوسې اچولې. اومختلف شکوک اوشبهات پيداکولوکوشش کولو. لکه حرمت عليكم الميتة، نه داشبه کول چه دَاللهﷻ وژلې شوې خيزته حرام وائي اوخپل وژلې شوې ښاروی ته حلال وائي اودَانكم وماتعبدون من دون الله حصب جهنم نه داشبه پيداکول چه عبادت دَحضرت عزيرؑ اوعيسیؑ اودَملائکو هم شويدې نولهذا هغوئ به جهنم ته ځي(العياذبالله) اودغه شان دَ ورورځ مَنه نه ابنيت وسوسه اچول وغيره شونو ﴿فَيَنسَخُ ٱللَّهُ﴾يعني بياالله ﷻ داسې وحي رانازله کړي چه دهغې په ذريعې سره دَشيطان دَدغه سطحي اعتراضاتو جواب اودَوسوسودفعيه اوکړې شي

﴿ثُمَّ يُحۡكِمُ ٱللَّهُ ءَايَٰتِهِۦ﴾يعني اللهﷻ محکم اياتونه نازل کړي اونبيﷺ مضبوط اومحکم کړي په دلائلو سره. نوخلاصه داده چه شيطان دَمتشابهات اياتونوظاهري معنی په اعتبارسره عامو خلکوګمراه کولوکوشش کوي. نو اللهﷻ دَده داکوشش په ايات محکمات سره ناکام کوي.

اوکه څوك اشکال اوکړی چه الله ﷻ ابتداءً ولی ایات محکمات نه نازله وی اوشیطان ته دوسوسواچولوموقعه ولی ورکوی؟ نوددې جواب اوحکمت ذکرپه راتلونکی ایاتونوایت نمبر(۵۳، ۵۴) کښې بیانیږی اوداتفسیراکثراهل علمو اختیارکړیدې امام بخاری هم په بخاری شریف کښې دې تفسیرته ترجیح ورکړیده

اوکه تمنی په خپلی مشهوراومعروف معنی سره شی نوبیاد ایت مقصددادې چه دهرنبی اورسول خواهش داوی چه خلك ایمان راوړی. اودې دپاره به چی پیغمبرخپل قوم ته وعظ،نصیحت کولونوشیطان به دپیغمبرپه دې تمنا اوخواهش کښې رکاوټ پیداکولو اودخلکوپه زړونوکښې به ئی وسوسی اچولی لیکن الله ﷻ دمحکم ایاتونوپه ذریعی سره دشیطان وسوسی ختموی

(۳)ددې ایت یوبل تفسیرهم شویدې اودهغی تفسیربناء په یوسبب نزول باندی دې اوهغی سبب نزول کښې یوه واقعه ذکرکیږی چه ابن جریر رحمه الله. بغوی رحمه الله. صاحب دجلالین اوزمخشری رحمه الله وغیرهم ذکرکړیده چه یوځلی نبی پاك ﷺ سورة النجم تلاوت کولو نوچه کله افرايتمُ اللاّت والعزّىٰ ومناة الثّالثة الاخرى ته راورسیدلو نود نبی ﷺ په زبان مبارکه باندی داالفاظ جاری شوچه تلك الغرانيق العلى وان شفاعتهن لترتجى(دابتان بلندمرتبی والادی بیشکه دوئ نه دشفاعت امیدکیدلی شی) نومشرکینوچه کله داواوریدلونوډیرخوشحاله شو چه نبی ﷺ زمونږ دبتانو صفت بیان کړو.دسورت په اختتام باندی چه کله نبی ﷺ سجده اوکړه نودوئ ټولومشرکینوهم سجده اوکړه سیوادیوکس نه چه دبیماریٔ دوجی نه ئی سجده نشوه کولی نوهغه خاوری خپل تندی ته رااوچتی کړی. څه وخت پس حضرت جبرئیل عليه السلام نبی ﷺ ته ددې واقعی اوالفاظو خبرورکړو نونبی پاك ﷺ ډیرخفه شو.نوالله ﷻ تسلی دپاره دامذکوره ایاتونه نازل کړلو. داواقعه اګرچه مشهوره ده لیکن محققین مفسرینوپه نیزمردوده ده. امام رازی رحمه الله دې واقعی ته موضوعی وئیلی دی. خازن.ابوسعود. شربینی وغیره هم پدی باندی سخت رد کړیدې بیهقی رحمه الله فرمائی هذه القصة غیرثابت من جهة العقل. محمدابن اسحاق ددې واقعی په باره کښې فرمائی ان هذه القصة من وضع الزنادقة لااصل لها چه داواقعه زنادقوایجاد کړیده شرعاً دې دپاره څه اصل نیشته. اوکوم حضرات چه ددې واقعی داثبات قائله دی نودهغوئ په خپل مینځ کښې ددې الفاظو دمتکلم په باره کښې اختلاف دې. چه داالفاظ وئیلی چاوو؟ نوپدیکښې دری(۳)اقوال

دی(۱)بعض فرمائی چه شیطان دَنبی پاکﷺ په لهجه کښې وئیلی وو(۲)بعض فرمائی چه مشرکینوکښې چاوئیلی وو(۳)نبی پاکﷺ وئیلی وو . په دریم قول کښې بیادری اقوال دي. عمدائی وئیلی وو، خطاءً ئی وئیلی وو . سهوائی وئیلی وو

کوموحضراتوچه پدی واقعی باندی ردکړیدي اودَدي واقعی دَصحت نه ئی انکارکړیدي نو وجوه دَبطلان ئی متعدد ذکرکړیدی(۱) داواقعه سنداً ضعیفه ده اودَدي په سندکښې انقطاع ده اومتناً مضطربه ده(۲) داواقعه منافی دَعصمت ده ځکه چه دَدي واقعی دَصحت په بنیاد نبی پاکﷺ غیروحی ته وحی اوقرآن اوئیل لازمیږی

(۳)داکلمات وئیل به دوه(۲)حالاتونه خالی نوی. یابه ددَینه ظاهری معنیٰ نبی پاکﷺ مراد کړی وی اودَمعبودان باطله صفت اومدحه به ئی اراده کړی وی. داشق باطل دي بداهةً ځکه چه مستلزم دي کفرله. اویابه ظاهری معنی نوی مراد بلکه یوه بله معنی به مرادوی چه دَهغی بیان ندي شوي،لیکن مشرکینودامطلب فهم کړوچه نبی پاکﷺ زمونږ دَبتانو مدحه اوکړه اوبیانبی پاکﷺ ددوئ دامطلب اومراد رد هم نه کړو بلکه خاموشی اختیارکړه.داصورت هم باطل دي بداهةً ځکه چه داتقریردکفردي

(۴)ددي واقعی په صحت باندی لازمیږی تسلط دَشیطان په انبیاء کراموباندی. اوحالانکه شیطان ته په یوعام انسان باندی تسلط طاقت ندي ورکړي شوي لکه په سورة النحل ایت نمبر(۹۹) اوسورة بنی اسرائیل ایت نمبر(۲۵)کښې دی، نوپه انبیاء کراموباندی تسلط شیطانی محال دي په طریق اولی سره

اوکچری څوک دااوائی چه داالفاظ شیطان وئیلی وو په لهجه دنبیﷺ کښې. اودَنبی پاکﷺ په زبان ئی نوو جاری کړی. نولهذا تسلط نه لازمیږی، نوجواب تنه دادي چه اللهﷻ شیطان ته داطاقت هم ندي ورکړي چه هغه دَپیغمبرلهجه اختیارکړی. لکه څرنګه شیطان ته دَپیغمبرپه صورت کښې دَمتمثل کیدلوطاقت ندي ورکړي شوي اوڅرنګه چه وحی اوقران محفوظ دي دغه شان مجالس دَوحی هم محفوظ دي لکه سورة الجن ایت نمبر(۲۷ ، ۲۸)کښې دي چه فانه یسلکه من بین یدیه ومن خلفه رصدا الخ.

اوکه څوک داوائی چه دَنبی پاکﷺ نه داالفاظ سهواً یاخطاءً صادرشویدي. نولهذا نه تسلط شیطانی راغی اونه عدم حفاظت راغی دَمجالسودَوحی، نوجواب تنه دادي چه پدی

صورت کښې تقوّل على الله (الله ﷻ ته د داسې خبرې نسبت کول چه الله ﷻ نوې فرمائيلې) لازميږي اګرچه خطاءً يا سهواً ده. او پيغمبرنه په سلسلې د تبليغ او په امورد شرعه کښې خلاف واقع وينامحاله ده مطلقا خواه عمدا وي يا سهوا ياخطاء وي او دغه شان پدې تقدير قرآن باندې به اعتماد هم باقي پاتې نشي

ليکن حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کښې پدې زور ورکړيدې چه داواقعه ثابته ده اوصحيح ده. حافظ متعدد طرق او سندوسره داواقعه ذکرکړيده او په هغې کښې دوه (۲) طرق صحيح او موافق دی د شرائطو د صحيحو سره اګرچه مرسل دي

۴: منشاغلطي: محدثين فرمائي چه منشاء د غلطئ د بعض رواتوداده چه په حديث د بخاري کښې دی: سجدالنبي ﷺ بالنجم وسجدمعه المشركون والجن والانس يعني د سورة النجم په ختتام باندې نبي ﷺ سجده اوکړه محدثين فرمائي چې کله نبي ﷺ سورة النجم تلاوت اوکړواوپه آخرکښې يې سجده اوکړه، اودي مجلس کښې مشرکينوسرداران هم موجودوو، نوهغوئ باندې هم تاثيراوشواوبې اختياره يې سجده اوکړه نومشرکينوته چې کله روستوددي پته اولګيده چې مونږ خوسجده اوکړه، نوهغوئ داپروپيګنډه اوکړه چې مونږ داسجده ځکه اوکړه چې نبي ﷺ زمونږ دابتانومدح بيان کړه اودالفاظ يې ويلې ووچې: تلك الغرانيق العلىٰ، حالانکه دي خبره کښې هيڅ حقيقت نووصرف بدنامئ او پيغورنه بچ کيدلو دپاره يې داخبره خوره کړه اود نبي ﷺ سره ټولو مشرکينواوجناتو اوانسانانو سجده اوکړه، نودې بعضو راويانودافهم کړه چه د مشرکينو سجده د تلك الغرانيق العلى الخ دالفاظو وئيلو دوجې نه وه. اوحالانکه داسجده د ټولو مخلوقاتو د دې وجې نه وه (بقول شاه ولي الله رحمه الله) چه الله ﷻ خپلې تجلي قهري ظاهرې کړې وې. د دينه علاوه نور متعدد توجيهات هم پکښې راغلې دی چه محدثينو ذکرکړيدي (من شآء فليطالع ثمه) والله اعلم بالصواب.

لِّيَجْعَلَ مَا يُلْقِى الشَّيْطٰنُ فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ فِىْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ

دې دپاره چه او ګرځوي (الله) هغه شبهې چه اچوي شيطان امتحان. هغه کسانو لپاره چه په زړونو د هغوئ کښې مرض دې.

وَّالْقَاسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ ۚ وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ لَفِىْ شِقَاقٍۢ بَعِيْدٍ ۙ﴿۵۳﴾ وَّلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ

او د سخو زړونو والو لپاره. او بيشکه ظالمان خامخا په دشمنئ لرې کښې دی اودې دپاره چه يقين اوکړي هغه کسان

أُوْتُوا الْعِلْمَ اَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ فَيُؤْمِنُوْا بِهٖ فَتُخْبِتَ لَهٗ قُلُوْبُهُمْ

چه علم ورته ورکړي شويدي چه يقيناً داحق دي دطرفه درب ستانه. نوايمان راوړي پدي باندي نوزرم به شي دده زړونه ددوئ

وَاِنَّ اللّٰهَ لَهَادِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٥٤﴾ وَلَا يَزَالُ الَّذِيْنَ

او بيشکه الله ﷻ رسوونکي دي هغه کسانولره چه ايمان لرونکي وي لاري نيغي ته. او همېشه به وي هغه کسان چه

كَفَرُوْا فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْهُ حَتّٰى تَاْتِيَهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً اَوْ يَاْتِيَهُمْ عَذَابُ

کفرئي کړيدي په شك کښ ددينه سمي لاري نه، تردي پوري چه راشي دوئ ته قيامت ناګهانه او يا راشي دوئ ته عذاب

يَوْمٍ عَقِيْمٍ ﴿٥٥﴾ اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ ؕ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ ؕ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

دورځي شنډي بادشاهي په دغه ورځ صرف دالله ﷻ ده. فيصله به کوي په مينځ ددوئ کښ. پس هغه کسان چه ايمان ئي راوړي وي

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿٥٦﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا

او عملونه ئي کړيدي نيك موافق دسنت په جنتونو دنعمتونو کښ به وي او هغه کسان چه کفرئي کړيدي او دروغژن ګڼړي

بِاٰيٰتِنَا فَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿٥٧﴾

ايانونه زمونږ پس دغه کسان دوئ لره عذاب ذليل کوونکي دي

﴿لِيَجْعَلَ مَا يُلْقِى الشَّيْطٰنُ﴾ هرکله چه ماقبل کښ دوه (۲) فعلونه ذکرشو (۱) القا دشيطان (۲) نسخ دالله ﷻ نو اوس پدي باندي دوه (۲) تفريعات ذکرکيږي نو داجمله مرتبه ده په القاء باندي او پديکښ شيطان ته دوسوسو اچولوطاقت اوقدرت ورکولوحکمت بيانيږي. چه دا القاء شيطاني دپاره دازمائش ده، پدي سره دمنافقينو او مشرکينو زړونه نورهم سخت کيږي. او ددوئ ګمراهي ورسره نورهم زياتيږي

﴿فِىْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ﴾ دينه مراد منافقين دي. ﴿وَالْقَاسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ﴾ دينه مراد مشرکين دي.

﴿وَلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ﴾ دامرتبه ده فينسخ باندي. يعني اهل ايمان ته پدي باندي فائده رسيږي او ايمان ئي زياتيږي په حق باندي. نود ﴿اُوْتُوا الْعِلْمَ﴾ نه مراد مؤمنان دي او ﴿فَيُؤْمِنُوْا بِهٖ﴾ نه زياتوالي

دَایمان مراد دي په اعتبار دَمؤمن به سره اویاد او تو العلم نه مراد اهل علم دَیهودیانو دی. اوفیؤمنوا به مقصد دادي چه کله حقانیت دقرآن ورته معلوم شی نوبیاپری ایمان راوړی ﴿فَتُخْبِتَ لَهُۥ قُلُوبُهُمْ﴾ددینه مراد انابت اونرم والی دي. ﴿وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهَادِ ٱلَّذِينَ﴾مراد دادي چه شیطان دَمؤمنانو په زړونو کښې وسوسې اچوی لیکن الله ﷻ ددغی وسوسونه ددوئ حفاظت کوی

﴿وَلَا يَزَالُ ٱلَّذِينَ﴾دایافقط تخویف دنیوی دي.کچرته دَ ﴿عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيمٍ﴾نه مراد دَجنګ بدر ورځ شی اویاتخویف دنیوی اخروی دواړه دی کچرته ﴿يَوْمٍ عَقِيمٍ﴾نه دَبدر اودقیامت دواړه ورځی مرادشی. اوعقیم شنډته وئیلې کیږی اوشنډ دَپاره اولادنه نی چه هغه دَده مثل وی. نودَدي وجی نه عقیم نه مراد لامثل له دي یعنی داسی سخت عذاب به وی چه دهغی دَپاره به څه مثل نوی اویاد َعقیم نه مراد صرف دَقیامت ورځ ده. اوقیامت ورځ ته عقیم پدی اعتبارسره هم وئیلي کیږی چه دي دَپاره شپه نیشته دي اوهویوم القیمة لالیل له(جلالین).

﴿ٱلْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ لِّلَّهِ﴾غوره خبره داده چه تنوین عوض دَجملی نه راغلیدي اوهغه محذوفه جمله یوم تزول مریتهم وشکهم ده. یعنی چه کوم ورځ دوئ په عذاب کښې مبتلاشی اوددوئ شك زائله شی چه دابه دَقیامت ورځ وی نوپه دغه ورځ ټول اختیارات اوتصرفات به دَالله ﷻ وی. مجازا متصرف به هم څوك نوی، په خلاف ددنیادَزندګئ نه چه پدیکښې مخلوقات مجازا متصرف دي

﴿فَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟﴾داتفصیل دَ﴿يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ﴾دي اودابشارت اخروی دي مؤمنانوته.

﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟﴾داتخویف اخروی دي

وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ثُمَّ قُتِلُوْٓا اَوْ مَاتُوْا لَيَرْزُقَنَّهُمُ اللهُ رِزْقًا حَسَنًا

اوهغه کسان چه هجرت ئی کړیدي په لاره دالله تعالی کښې بیااووژلی شویامړه شوخامخا رزق به ورکوي دوئ ته الله ﷻ رزق ښائسته

وَاِنَّ اللهَ لَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿٥٨﴾ لَيُدْخِلَنَّهُمْ مُّدْخَلًا يَّرْضَوْنَهٗ ۗ وَاِنَّ اللهَ

اوبیشکه الله ﷻ بنه روزی ورکوونکی دي خامخا داخل به کړی دوئ ځای داخلیدلو ته چه دوئ به نی خوښوي اوبیشکه الله ﷻ

لَعَلِيمٌ حَلِيمٌ ﴿٥٩﴾ ذٰلِكَ ۚ وَمَنْ عَاقَبَ بِمِثْلِ مَا عُوقِبَ بِهٖ	
پوهه دې صبر کوونکې دې. دا زیرې یقیني دې او چا چه بدل واغستلو پشان د هغې چه دوئ ته تکلیف ورکړې شوېدې په هغې سره	
ثُمَّ بُغِيَ عَلَيْهِ لَيَنْصُرَنَّهُ اللّٰهُ ۗ إِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ ﴿٦٠﴾	
بیا ظلم او کړې شي په هغه باندې نو خامخا به مدد کوي د ده سره الله ﷻ بیشکه الله ﷻ خامخا معافي کوونکې بخنه کوونکې دې	

﴿وَٱلَّذِينَ هَاجَرُواْ﴾ د دې ځائ نه اخري باب د دې سورت شروع کیږي. تفصیل ئې اول کښې ذکر شویدې او دا متعلق دې د ﴿إِنَّ ٱللَّهَ يُدَٰفِعُ﴾ سره، چه هلته د مشرکینو سره د جهاد کولو اجازت میلاؤشو نو اوس پدې ایتکښې ترغیب الی الهجرت والجهاد ذکرکیږي یعنی کوموکسانو چه د الله ﷻ د رضا د پاره هجرت کړیدې او بیا په جهاد کښې شهیدان شویدې او یا په خپل مرګ باندې وفات شویدې نو دوئ د پاره په اخرت کښې رزق حسن یعنی بلا مشقته او نه ختمیدونکې رزق به وی.

سبب نزول: د دې ایت سبب نزول قرطبی رحمه الله وغیره دا ذکرکړیدې چه کله د نبی پاک ﷺ رضاعی رور حضرت عثمان بن مظعون رضی الله عنه او یو بل صحابی حضرت ابو سلمه بن عبد الاسد رضی الله عنه وفات شونو بعضو خلکو داخبره اوکړه چه دوئ ته افضل او غوره مرګ چه د شهادت والا دې میلاؤنشو نو پدې باندې دا ایت نازل شو. چه پدیکښې الله ﷻ د شهید او غیرشهید دواړو د پاره انعام ذکرکړیدې.

د دې ایت د ظاهر نه د مهاجر شهید او غیر شهید په مینځ کښې تسویه معلومیږی او د دې وجې نه بعضی اهل علمو د دې ایت نه استدلال هم کړیدې چه مهاجر مقتول او میت په ثواب او اجرکښې برابردې، اودغه شان استدلال ئې کړیدې په ایت سورة النساء نمبر(۱۰۰) سره اودغه شان په حدیث دام حرام رضی الله عنها سره چه ذکرکړیدې امام بخاری رحمه الله په کتاب الجهاد باب غزوة المراة فی البحرکښې. چه حضرت ام حرام رضی الله عنها د سورلئ نه غورځیدلې وه وفات شوې وه شهیده شوې نو. خو حضور ﷺ هغې ته فرمائیلي وو انت من الاولین. لیکن اکثر علماء فرمائی چه مقتول ته زیادت فضیلت حاصل دې په میت باندې. او په دې باندې ډیر احادیث دال دی باقی وعده د رزق حسن یاد نفس اجر دال ندې په تفضیل یا په تسویه باندې، یعنی پدې مذکورایاتونو سره صرف دا ثابته

شوه چه مقتول اومیت دواړو دپاره رزق حسن اواجرشته دي. اوفضیلت دیوپه بل یاددواړو په مینځ کښ تسویه ددې مذکوراياتونونه معلومیږي. تفضیل دمقتول په نورو نصوصوسره دې اومراد په رزق حسن سره هغه رزق دې چه بی کړاوه اونه ختمیدونکی وی اودارزق به په قبرکښ به هم وی لکه سورة ال عمران ایت نمبر(۱۲۹)کښ دی اوپه جنت کښ به هم وی

﴿وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ خَيْرُ ٱلرَّٰزِقِينَ﴾رازقین جمع په اعتباردظاهرسره وئیلې شویده چه خلك یوبل ته ورکړه کوی، نومخلوق ته رازقین وئیل مجازا دی اوخیرورسره ځکه ذکرکړې شو چه اعطاء یعنی ورکړه دالله ﷻ اصالةً اوحقیقةً ده اودمخلوقاتو ورکړه اواعطاء تبعا اومجازاده ځکه چه مخلوق پخپله الله ﷻ ته محتاجه دي کچرته الله ﷻ ورته څه شی ورکړې وی نودې به ئی هم بل چاته ورکړی ورنه نشی ورکولی اودغه شان اعطاء دالله ﷻ محض احساناً ده دمخلوق نه ئی طلب دعوض اویاڅه طمع نه کوی، په خلاف داعطاء دمخلوقاتونه، چه هغه محض احساناً نوی بلکه دپاره دطلب دعوض وی. ﴿لَيُدْخِلَنَّهُم مُّدْخَلًا﴾دابشارت اخروی دې په اعتباردمکان سره اومدخلا اسم مکان دې مراد تنه جنت دې.

﴿ذَٰلِكَ وَمَنْ عَاقَبَ﴾هرکله چه ماقبل ایت کښ دمهاجرینو .اومقتولینو اواموا‌تو دفی سبیل الله ثواب ذکرشونواوس پدی ایت کښ اعاده دوعدې دنصرت اودفتح کیږی (بحر) او﴿ذَٰلِكَ﴾ خبردې دمبتدامحذوفی دپاره یعنی الامرذلك، ﴿بِمِثْلِ مَا عُوقِبَ﴾عقاب هغی بدلی ته وئیلې کیږی چه دظلم نه ورستو بطورعوض ورکړې شی، اوابتداءً ظلم باندی اطلاق دعقاب نه کیږی اوحالانکه دلته په ابتداء دظلم باندی اطلاق دعقاب شویدې نودایامشكالةً دې دماقبل عاقب سره اویامجازا دې دقبیلی دتسمية السبب باسم المسبب نه دې، ځکه چه ابتداء په ظلم باندی سبب ګرځی دپاره دبدلی اوبعض علماء فرمائی چه ابتداء دظلم دپاره لفظ دعقاب استعمالول عرفاً دی. یعنی عرف عام کښ لفظ دعقاب استعمالیږی مطلق تکلیف دپاره. اګرچه په اعتباردأصل سره وضع شویدې دبدلی دتکلیف دپاره.

﴿ثُمَّ بُغِيَ عَلَيْهِ﴾ ثم دتعقيب ذکردپاره دي اويادتراخي زماني دپاره دي نومقصد دادي چه اولا ئې دوئ ته سخت سخت جسماني اذيتونه اوتکليفونه ورکړل اوبيائې دعلاقې نه اويستلواوهجرت ته ئې مجبوره کړو. نوثم بغي په معنى د ثم اخرجوا سره دي

﴿لَيَنصُرَنَّهُ ٱللَّهُ﴾ يعنى ددې ظالمانوپه مقابله کښې به الله جل جلاله دمظلوم مؤمنانوضرورامدادکوى

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ﴾ ددې جملې دماقبل سره ربط اوتعلق دادې چه ماقبل کښې ذکرشو کچرته دامظلوم مؤمن بدله اوانتقام اخلي نوالله جل جلاله به دده امدادکوى اوپدې جمله کښې ترغيب دې عفوى اودرګذرته. چه الله جل جلاله باوجود ددې چه قادرمطلق ذات دې هغه عفواودرګذرکوى. نوانسان چه دهغه قدرت کامل ندې نوهغه ته په طريق اولى سره عفو اودرګذرنه کاراخستل پکاردى. اويامقصد دادې چه دې مظلوم اګرچه خپله بدله واخستله اوجهادئې اوکړو. ليکن پدې بدلې اخستلوکښې دنفس دطرف نه دانتقام جذبه خامخاوى نودااګرچه من وجه دنفساني جذبې تکميل دې خوالله جل جلاله معاف کړيدې اوحضرت تهانوى رحمه الله فرمائي چه عفواومغفرت دلته راجع دى عدم مراعات ته په بدله کښې. يعنى دې مظلوم ته دومره بدله اخستل پکاروه څومره چه پده باندې ظلم شويدې. خوامظلوم کله کله په اجتهاد ددې مماثلت کښې خطاء شي اوزياتي ورنه اوشي نوپدې اجتهادې خطاء باندې دالله جل جلاله دطرف نه څه مواخذه اوګرفت نيشته دې

فائده دمماثلت دارعايت په سلسلې دجهاد کښې نيشته دى. بلکه داصرف په معاشرتي معاملاتوکښې دې. لکه قصاص وغيره شو. دغه شان ددينه هغه بدلې هم مستثنى دې کوم چه په هرحالت کښې دقبيلې دمعصياتونه دې لکه پلاربچي اووهي ياورته کنځل اوکړي نوبچي ته بدله ورکرځول حرام دى. يادغه شان دچاسره زنااوکړې شي نودهغې بدله په زناسره ورکول حرام دى

ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ يُولِجُ ٱلَّيْلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيْلِ وَأَنَّ ٱللَّهَ

دامددپدې چه دې چه بيشکه الله تعالى داخله وې شپې لره په ورځې کښې اوورننه باسي ورځې لره په شپه کښې اوبيشکه الله تعالى

سَمِيعٌۢ بَصِيرٌ ۝ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدْعُونَ

هرڅه اوري هرڅه ويني. دامددپدې وجه دې چه بيشکه الله تعالى برحق معبوددې اوبيشکه هغه چه دوئ بندګي کوي بلنه ورنه کوي

مِنْ دُوْنِهٖ هُوَ الْبَاطِلُ وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ﴿۶۲﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ

سیوا دالله ﷻ هغه باطل دي اوبیشکه الله ﷻ بلندي لوئ ذات دي.آیا نه گوری ته چه بیشکه الله ﷻ راوروليدی

مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ز فَتُصْبِحُ الْاَرْضُ مُخْضَرَّةً ط اِنَّ اللّٰهَ لَطِيْفٌ خَبِيْرٌ ﴿۶۳﴾ لَهٗ

داسمان دطرف نه اوبه باران پس شي صباله زمكه شنه بیشکه الله ﷻ مهربان دي خبرداردی.خاص دهغه په اختيارکښ دی

مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ط وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿۶۴﴾

هغه څه چه په اسمانونوکښ دی اوهغه څه چه په زمکه کښ دی اوبیشکه الله ﷻ صرف هغه بی حاجته ستائیلی شوي ذات دي

﴿ذٰلِكَ بِأَنَّ اللّٰهَ يُولِجُ﴾ ذلك سره اشاره ده نصرت اوامداد دمظلوم اومؤمن ته اودادليل ائي دي په دعوی دنصرت اوفتح باندی. اوداسره امداد کولو اوهغه ته فتح ورکولو دپاره ددوه (۲) څیزونوضرورت وی. یو (۱) کمال قدرت او (۲) بل کمال علم. نوکمال قدرت دالله ﷻ ذکرکیږی په ایلاج سره. چه دالله ﷻ دقدرت یوه نمونه داده چه شپه په ورځی اوورځ په شپی باندی بدله وی.شپې پسی ورځ اوورځی پسی شپه راولی. نودغه شان پدی هم قادردي چه یوجماعت په بل باندی غالب کړی. اوشمول وکمال علم دالله ﷻ ثابت شوپدی جملی سره چه.

﴿وَأَنَّ اللّٰهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ﴾ یعنی الله ﷻ په صفت دسمع اوعلم سره متصف دي دمظلوم فریاداوری. اودهغه په امدادکولوباندی پوهیږی

﴿ذٰلِكَ بِأَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ﴾ دادلیل لمی ذکرکیږی په دعوی دفتح اونصرت باندی. یعنی د امداد اونصرت دپاره اصل علت اولم داخبره ده چه الله ﷻ معبودبرحق دي اومشرکین چه دچاعبادت کوی هغه معبودان باطله دی، نودمعبود برحق عبادت عابدینوته فائده ورکوی نولهذا دذوئ به غالب وی اودمعبودان باطلوعبادت عابدینوته هیڅ فائده نه ورکوی، اونه ئی امدادکولی شی نوځکه به دوئ مغلوب وی اویاداعلت دي دماقبل دلیل دپاره چه الله ﷻ په کمال قدرت اوپه کمال علم باندی ځکه متصف دي چه هغه معبود برحق اومستحق دالوهیت دي اودمشرکینو معبودان.معبودان باطله دی. نولهذا څوك چه مستحق دالوهیت وی نوهغه به په هرڅه قادر اوعالم وی

﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ﴾ دا په اخیرکښ یوځلی بیانفي دشرك اعتقادي او ددلائلو عقلیو اعاده کیږی.
نودااول عقلي دلیل ذکرکیږی اودادلیل عقلي افاقي جوی دې ﴿فَتُصْبِحُ الْأَرْضُ مُخْضَرَّةً﴾ فاء په
فتصبح کښ یادمطلق عطف دپاره ده، اوتصبح په معنی دتصیرسره دي اویافاء دتعقیب مع الوصل
دپاره ده اوتصبح په خپلی معنی سره دي. اوداحکم یعنی چه دشپی باران اوشی اوبیاسهارله په زمکه
کښ شینکی ښکاره شوی وی په نسبت سره بعضومقاماتوته دي لکه دحضرت عکرمه رحمه الله نه منقول
دی چه په مکه اوتهامه کښ داسی کیږی اوابن عطیه رحمه الله فرمائی چه دسوس علاقه کښ هم ماداسی
لیدلی دی، اوهرکله چه اثردباران باقي ترډیروخته پوری اوصرف دوریدلو وخت پوری خاص نوی
نوددې وجی نه عدول دماضی نه، مضارع ته اوشواوتصبح اوئیلي شو اوفاصبحت الارض اونوئیلي
شو. ﴿لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ﴾ لام داختصاص دپاره دي اوتقدیم دخبردپاره دحصردي یعنی زمکی
اواسمانونه اوپدیکښ داټول خیزونه دالله جل جلاله په تصرف کښ اودهغه په قبضه قدرت کښ دی

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي الْأَرْضِ وَالْفُلْكَ تَجْرِي
آیانه گوری ته چه بیشکه الله جل جلاله په کارلګولی دی دپاره دفائدي ستاسو هغه څه چه په زمکه کښ دی او کشتئ رواني دی
فِي الْبَحْرِ بِأَمْرِهِ ۗ وَيُمْسِكُ السَّمَاءَ أَن تَقَعَ عَلَى الْأَرْضِ إِلَّا بِإِذْنِهِ ۗ
په دریاب کښ په حکم دالله جل جلاله سره. اوراټینګ کړیدي اسمان دراپریوتلونه په زمکه باندی سیوا دحکم دهغه نه
إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٦٥﴾ وَهُوَ الَّذِي أَحْيَاكُمْ ثُمَّ
بیشکه الله جل جلاله په خلکو باندی شفقت کوونکی رحم کوونکی دي اوالله جل جلاله هغه ذات دي چه ژوندی کړی يئ تاسو. بیابه
يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ۗ إِنَّ الْإِنسَانَ لَكَفُورٌ ﴿٦٦﴾ لِّكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا
مره کوي تاسو بیابه ژوندي کوي تاسو. بیشکه انسان خامخاناشکره دي دپاره دهري ولي مقررکړیده مونږ یوه طریقه دبندګئ
هُمْ نَاسِكُوهُ ۖ فَلَا يُنَازِعُنَّكَ فِي الْأَمْرِ ۚ وَادْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ ۖ
چه دوئ چلیږي په هغي. بس دوئ دي نه کوي تاسره جګړی په دین کښ اوته دعوت ورکوه دخپل رب طرف ته.

إِنَّكَ لَعَلَىٰ هُدًى مُّسْتَقِيمٍ ﴿٦٧﴾ وَإِن جَادَلُوكَ فَقُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا

یقیناً ته خامخائی په هدایت برابرباندی اوکچري دوئ جگړه کوي تاسره پس اووايه چه الله ﷻ ښه پوهه دي په هغه کارونو

تَعْمَلُونَ ﴿٦٨﴾ اللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كُنتُمْ فِيهِ

چه تاسوئی کوئ. الله ﷻ به فیصله اوکړي په مینځ دستاسوکښ په ورځ دقیامت په هغه څیزکښ چه تاسوئ په هغې کښ

تَخْتَلِفُونَ ﴿٦٩﴾ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۗ

اختلاف کوونکی، آیاته نه پوهیږی چه یقیناً الله ﷻ پوهه دي په هغه څه چه په اسمان کښ دی اوزمکه کښ دی

إِنَّ ذَٰلِكَ فِي كِتَابٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٧٠﴾ وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا

یقیناً داټول په کتاب (لوح محفوظ) کښ دی، بیشکه دا په الله ﷻ باندی اسان دی اوبندګی کوي دوئ سوا دالله ﷻ نه دهغه چاچه

لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا وَمَا لَيْسَ لَهُم بِهِ عِلْمٌ ۗ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ﴿٧١﴾

ندي نازل کړي شوي په هغې باندی هیڅ دلیل اودهغه چاچه نیشته دوئ لره په هغې باندی علم اونیشته ظالمانو لره هیڅ مددګار

﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُم﴾ داهم دلیل عقلی دې په نفی دشرك فی التصرف باندی اوداعقلی افاقی دې مشتمل دې په علوی اوسفلی باندی، چه دبروبحراواسمان دټولو امورومتصرف الله ﷻ دې، ﴿لَكُم﴾ لام دپاره دانتفاع دې اوتسخیرمطلب په کارباندی لګول اودانسان دپاره قابل انتفاع ګرځول دی.

﴿وَيُمْسِكُ السَّمَاءَ﴾ امساك مطلب دادې چه الله ﷻ په خپل قدرت سره بغیردستنونه، راټینګ کړیدې. ﴿أَن تَقَعَ عَلَى الْأَرْضِ﴾ دایاپه موضع دنصب کښ بدل اشتمال دې دالسماء نه اویامجروردې په تقدیردحرف جرسره ای عن ان تقع علی الارض اویامفعوله دې اولفظ دکراهة ورسره مقدردې یعنی لاجل کراهة ان تقع علی الارض. ﴿إِلَّا بِإِذْنِهِ﴾ غوره قول دادې چه مستثنی دحکم دمستثنی منه، نه په درجی دمسکوت عنه کښ وی نولهذا ددې ایت نه دانه ثابتیږی چه

آسمان به دقیامت په ورځ په زمکه باندی غورځیږی او که نه؟ ددې ایت دوی سره څه تعلق نیشته دې. البته په نورو نصوصو سره داثابته ده چه اسمان به شلیږی او راتوليږی به

﴿وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَحۡيَاكُمۡ﴾ دادلیل عقلی انفسی دې. دری حالاته دانسان پکښې ذکردی. انّ الانسان لکفورٌ دازجردې چه ددې عظیم انعاماتو اودلائلوذکرکولوباوجود انسان ناشکری اوکفرکوی. ﴿لِّكُلِّ أُمَّةٖ جَعَلۡنَا﴾ دااعاده دمضمون ثانی یعنی نفی دشرک فعلی ده اوتشجیع ده په دعوت ددین باندی. بغوی رحمه الله وغیره ذکرکړیدی چه کفاروبه مؤمنانوته وئیل چه کوم څاروی تاسومرکړئ یعنی ذبحه ئی کړئ نوهغه خوتاسوخورئ. خوکوم څاروی چه الله تعالیٰ ئی مرکړی (میته) نوهغه نه خورئ؟ نودهغی په جواب کښې داایت نازل شو. چه دهرامت دپاره الله تعالیٰ یومخصوص شریعت اوذبحی یوه طریقه مقررکړیده چه دهغی مطابق هغوئ عمل کوی: نودمسلمانانوطریقه دذبحی جائزه اوموافق دشرع ده. اومشرکین چه دکوم شرک فعلی ارتکاب کوی نوداپه یومذهب اودین کښې جائزندی، نوجعل نه مراد عام دې تشریعی وی یاتکوینی وی. صحیح وی اویاغلط وی. نودکفارومسلك اوطریقه دذبحی تکویناً ده اوغلطه ده اودمؤمنانوطریقه دذبحی تشریعا اوصحیح ده، اومنسك په اصل کښې هغه ځائ ته وئیلې کیږی چه هلته خلك عادةً جمع کیږی یادخیرکاردپاره اویادبدکاردپاره اوددې وجی نه مناسك حج ته مناسك وئیلې کیږی چه دغی مقاماتوته هرکال خلك ځی اوجمع کیږی اوغوره خبره داده چه دلته د﴿مَنسَكًا﴾ نه مراد معنی مصدری ده. یعنی په معنی دطریقی اوشریعت سره یعنی دهرامت دپاره خپل خپل شریعت اوطریقه دذبحی وه چه هغوئ به په هغی باندی عمل کولو. لکه امت دموسیٰ علیه السلام دپاره دین موسوی، امت دعیسیٰ علیه السلام دپاره دین عیسوی وو. اوامت محمدیه علی صاحبهاالصلوة والسلام دپاره دین محمدی ﷺ دې اوباقی پاتی شو مشرکین نودهغوئ داطریقه په یو شریعت کښې نیشته دې، او﴿فِي ٱلۡأَمۡرِ﴾ نه مراد یاټول دین دې اویامعامله دذبحی ده.

﴿وَٱدۡعُ إِلَىٰ رَبِّكَ﴾ هرکله چه په دعوت سره ثبات اواستقامت علی الدین حاصلیږی نوددې وجی نه دممانعت دنزاع نه ورستو حکم په دعوت سره اوشو. ﴿إِنَّكَ لَعَلَىٰ هُدٗى﴾ پدیکښې اشاره ده نسخ دباقی ادیانوته. ﴿وَإِن جَٰدَلُوكَ﴾ یعنی دظهورحق اولزوم حجت باوجود اوس بیاهم دوئ

تاسره جهګړه اوبحث مباحثه کوی نوددوئ داجهګړه اوبحث مباحثه دضد اوعناد په بنیادده نولهذا دمعاند دجهګړی نه خاموش شه. اومعامله ئی الله ﷻ ته اوسپاره. ﴿ٱللَّهُ يَحۡكُمُ بَيۡنَكُمۡ﴾ دا ادخال الهی دپاره دتسلی دنبی ﷺ دي. چه دقیامت په ورځ به الله ﷻ ستاسوپه مینځ کښ عملی فیصله اوکړی. اوپدیکښ اشاره ده چه معاندانسان سره بحث ومباحثه نده پکار. ځکه چه بحث ومباحثه دپاره دظهار دحق اوالزام دحجت وی. اومعاندته حق ښه معلوم وی اوالزام دحجت ورباندی هم شوي وی لیکن دضداوعناد دوجی نه انکارکوی. نودهغه سره دبحث مباحثی څه فائده نوی

﴿أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ﴾ دادلیل عقلی دي اومتعلق دي ددواړو مضامینو نفی دشرك اعتقادی اونفی دشرك فعلی، سره، ﴿إِنَّ ذَٰلِكَ فِي كِتَٰبٍ﴾ په ذلك سره اشاره ده زمکی. اسمانونو اوهغه ټول امورو ته چه پدیکښ واقع اوثابت دي اومرادپه کتاب سره لوح محفوظ دي. یعنی دازمکی، اسمانونه اوپدیکښ ټول واقع کیدونکی امورپه لوح محفوظ کښ لیکلی شویدی ﴿إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ﴾ پدی ذلك سره اشاره ده نوشته ئی تقدیرته. یعنی پدی زمکو، اسمانونواوپه ټولو امورو باندی علم اوداټول په لوح محفوظ کښ لیکل الله ﷻ ته اسان دی ﴿وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ﴾ دازجردي اودلائلوسابقودپاره په منزله دنتیجی ده. مالم ينزل به سلطانا ددینه مراددلیل وحی نقلی دي، ومالیس لهم به علمٌ ددینه مرادعقلی دلیل دي. یعنی مشرکانوسره په خپل شرك باندی نه نقلی دلیل شته اونه عقلی دلیل شته

وَإِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُنَا بَيِّنَٰتٖ تَعۡرِفُ فِي وُجُوهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ

اوکله چه تلاوت کړی شي په دوئ باندی ایاتونه زمونږ ښکاره پیژنی ته به مخونودهغه کسانوکښ چه کفرئی کړیدی

ٱلۡمُنكَرَۖ يَكَادُونَ يَسۡطُونَ بِٱلَّذِينَ يَتۡلُونَ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِنَاۗ قُلۡ

خفګان نزدي دي چه دوئ حمله اوکړی په هغه کسانوباندی چه لولي په دوئ باندی ایاتونه زمونږ. نه اوايه

أَفَأُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكُمُ ۗ النَّارُ ۖ وَعَدَهَا اللَّهُ الَّذِينَ

آیا بس خبردرکړم تاسو ته په ډېربدخیز سره ددي نه چه هغه اور دي. وعده کړېده د هغي الله ﷻ د هغي کسانو سره

كَفَرُوا ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿٧٢﴾

چه کفرئی کړیدي. او ډېربدخای دور گرځېدلو ورتللو دي دا اور

﴿وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ﴾ دا هم زجر او شکوی ده، چه دوئ سره خو په شرک باندی څه دلیل نیشته دي خو کله چه قرآن لوستلی کیږي چه په هغی کښ د اثبات د توحید د پاره. واضح دلائل دی نو د دوئ په مخونو کښ د خفګان اثرات ظاهرشي. اونزدې وی چه دوئ په دې تلاوت کوونکو باندی حمله اوکړي

﴿قُلْ أَفَأُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ﴾ دا تخویف اخروی دې. یعنی د قرآن تلاوت او د توحید بیان ستاسو د پاره ذریعه د غیظ وغضب ګرځی، لیکن څه تاسو ته د یوبل داسی شی خبردرکوم چه هغه ستاسو د پاره د دینه هم زیات د غیظ وغضب ذریعه ګرځی. چه هغه د جهنم اور دې. چه ستاسو د پاره تیارشویدې او ﴿النَّارُ﴾ خبردې د مبتداء محذوفی د پاره چه هو دې.

يَا أَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوا لَهُ ۚ إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ

اې خلکو بیانیږی یو مثال نوغوږ کیدئ هغي ته. بیشکه هغه معبودان چه تاسوئی عبادت کوئ سیوا د الله ﷻ نه.

لَن يَخْلُقُوا ذُبَابًا وَلَوِ اجْتَمَعُوا لَهُ ۖ وَإِن يَسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْئًا

هرګزنشي پیداکولی دوئ یو مچ اګرکه دوئ ټول راجمع شي هغې ته.اوکچرې اوتختوی ددوئ نه مچ څه څیز

لَّا يَسْتَنقِذُوهُ مِنْهُ ۚ ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ ﴿٧٣﴾

نونشي خلاصولی دوئ هغه څیزددې مچ نه. کمزوري دي غوښتونکي او دچانه چه غوښتنه کیدې شي

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ﴾ د سورة د ابتداء نه تردې ځای پوری اثبات د توحید او نفی د شرک اعتقادی اوفعلی اوشوه په دلائل نقلیه، عقلیه سره اوس نفی د شرک دیو مثال په ذریعی سره

کیږی. اودَدې مثال تعلق ددواړو مضامینوسره دې البته تعلق ئې دَمضمون اول سره بالذات اومضمون ثانی سره بالتبع دې اومثال مصدرکول کوپه حرف نداء سره اوحرف نداء اومنادی له په مینځ کښې فصل په ایهاسره راوړل ټول دَپاره دَاستحضاردې. چه ډیرمهتم بالشان مثال ذکرکیږی.
ښه په غورسره ئې واوریٔ، اوضرب په ډیرمعنوسره راځی، دلته په معنی دَبیان سره دې اومثل یاپه معنی دَعجیب اوبدیع سره دې یعنی دَدې معبودان باطلویوعجیب حالت بیانیږی. اویامثل په معنی دَمثال سره دې، یعنی ذکردَذباب په طریقی دَمثال سره دې خلاصه دَمثال داده چه مشرکین چه کوم معبودان باطله دَالله ﷻ سره شریکه وی اوعبادت ئې کوی اوامدادتنه غواړی نوهغه دومره کمزوری دی کچرته ټول راجمع شی نودَیومچ غوندې کمزوری مخلوق هم نشی پیداکولی. پیداکول خولری خبره ده بلکه داکمزوری مخلوق کچرته دَدې معبودنه څه شی په خلبه کښې یاپه پنجوکښې اوتختنه وی نودَدویٔ دومره وس اوطاقت نوی چه هغه څیزتنه واخلی. نودومره کمزوری شی ته معبودوئیل اودَهغه نه دَامداد امیدلرل لویٔ حماقت اوجهالت دې. چه هغه ځان دَمچ نه نشی بچ کولی نوستاسوامدادبه څه اوکړی اوذباب ته ذباب یادَدې وجی نه وئیلې کیږی چه دامرکب دې دَذب او اب نه ذب معنی ده شړل، اواب معنی ده، انکارکول. نومچ هم خلك دَنفرت دَوجی نه شړی اودې انکارکوی بیابیابه راځی، کلماذب لاستقذاره آب لاستکباره(مدارك) اویا دامشتق دې دَ ذبذبة نه په معنی دمتحرك سره نومچ هم یوطرف ته اوبل طرف ته مسلسل په حرکت کښې وی

اودلته په مثال کښې تخصیص دَذباب دَدیرووجوهاتونه دی(۱)مشرکینوبه بتانوته متهیانی(شیرنی) ایخی وه اودَهغویٔ په جسمونوباندی به ئې زعفران لګولی وو نوپه هغی پسی به مچان ډیرراتلو. نوځکه ذکردَمچانواوشو(۲)مچ قلیل الاعضاء حیوان دې ځکه چه دَده اعضاء دَماشی نه هم کم دې.نوچه دامعبودان باطله قلیل الاعضاء حیوان نه پیداکولی شی اونه ئې مقابله کولی شی نوستاسوبه څه امداد اوکړی(۳)مچ قلیل الحیوة هم دې دَده دَزندګئ اکثرمدت څلویښت ورځی وی(جمل)نوچه یومعبود دومره کمزوری وی چه هغه قلیل الحیوة حیوان نشی پیداکولی اونه ئې مقابله کولی شی نوتاسوته به څه فائده درکړی(۴)مچ په ټولوحیواناتوکښې اجهل حیوان دې خپل ځان په خپله په هلاکت کښې غورځوی اودَمهلکاتونه.ځان نه بچ کوی اودغه شان احرص یعنی ډیرحریص هم دې، نودَجهالت اوحرص دَوجی نه دې زرهلاك کیږی نوچه

يو معبود دومره کمزوری وی چه هغه د دغه شان اجهل او احرص نه ځان نشی بچ کولی نو دعابدينو به څه امداد او کړی ۵ پديکښی دعابدينو او منجورانو ذم ته اشاره ده چه دامنجوران دمچ پشان جاهلان او قابل دنفرت دی

﴿فَٱسۡتَمِعُواْ لَهُۥٓ﴾ استماع مستلزم دي انصات لره. او ځکه حافظ ابن کثير ترجمه داستماع په انصات سره کړيده ای انصتوا وتفهموا (ابن کثیر) ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ﴾ دابيان دمثال دي او په ﴿تَدۡعُونَ﴾ کښی خطاب کفارو او مشرکينو ته دي ﴿ضَعُفَ ٱلطَّالِبُ﴾ طالب نه مراد ياصنم يعنی بت دي او مطلوب نه مراد مچ دي او يادطالب نه مراد عابد دي او مطلوب نه مرا معبود من دون الله دي يعنی داعابد دعقل په اعتبار سره دومره کمزوری دي چه دغيرمحل نه حاجت پوره کول غواړی. او معبود ئی ځکه کمزوری دي چه خپل عابد ته هيڅ هم نشی ورکولی

فائده صاحب دروح المعانی ددي ايت په فوائدو کښی باب الاشارة کښی ليکلی دی. وفی قوله تعالی ان الذين تدعون اشارة الی ذم الغالين فی اولیآء الله تعالی حيث يستغيثون لهم فی الشدة غافلين عن الله تعالی، وينذرون له النذور. والعقلاء منهم يقولون انهم وسائلنا الی الله تعالی وانما ننذرهم لله عزوجل ونجعل ثوابه للولی ولايخفی انهم فی دعواهم الاولی اشبه الناس بعبدة الاصنام القائلين انما نعبدهم ليقربونا الی الله زلفیٰ.....ومنهم من يثبت التصرف لهم جميعًا فی قبورهم.....ومنهم من يزعم انهم يخرجون من القبور ويتشكلون باشكال مختلفة. وعلماؤهم يقولون انما تظهر ارواحهم متشكلة وتطوف حيث شاءت. وربما تشكلت بصورة اسد اوغزال اونحوه اونحوه، وکل ذلک باطل لااصل له، فی الکتاب والسنة وکلام سلف الامة وقدافسدعلی هولاء علی الناس دينهم (روح ص۲۱۳ ج۱۲).

يعنی پدی ايت کښی رد دي په هغه خلکو باندی چه غلو او تجاوز کوی په حق د اولياء کښی چه دتکليف په وخت کښی دهغوئ نه امداد غواړی او دالله جل جلاله نه غافل وی او د اولياؤ په نوم باندی نذرونه ورکوی. او پوهه کسان ئی داوائی چه دامونږ وسيله ګرځوو الله تعالی ته او مونږ خونذر دالله جل جلاله ديارہ ورکوو او ثواب ئی ولی ته بخو. ليکن دوئ په دي خپلی دعوی کښی مشابه دی دمشرکانو سره. چه هغوئ به داوئيلو چه مونږ ددي بتانو عبادت او ددوئ په نوم باندی نذرونياز ددي ديارہ ورکوو چه الله جل جلاله ته ځان قريب کړو. او ځنی په دوئ کښی داسی کسان هم دی چه اهل قبورته په ټولو امورو کښی تصرف ثابته وی او ځنی پکښی داسی هم دی چه داوائی چه اولياء

دَقبرونونه. رااوخي اوپه مختلفوشکلونوباندی ظاهربږي، اوګرځي رِاګرځي چرته ئې چه خوښه شي. اوکله کله په صورت دَزمري اوکله په صورت دَغزالههوسئ، کښې اوکله دَبل شي په صورت کښې ظاهره شي. اوداټول باطل خبرې دي اوواهيات دي مخالف دي دکتاب الله اودسنت اودامت دبزرګانونه اودغه شان علماؤدَخلکودين اوعقائدخراب کړل

مَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدۡرِهٖؕ اِنَّ اللّٰهَ لَقَوِيٌّ عَزِيۡزٌ ﴿۷۴﴾ اَللّٰهُ يَصۡطَفِيۡ مِنَ الۡمَلٰٓئِكَةِ

نه دي پيژندلی دوئ الله ﷻ لائق دپيژندلودهغه.بيشکه الله ﷻ قوت والادي زورآوردي الله ﷻ غوره کوي دملائکونه

رُسُلًا وَّمِنَ النَّاسِؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيۡعٌ ۢ بَصِيۡرٌ ﴿۷۵﴾ يَعۡلَمُ مَا

پيغام رسوونکي اودانسانانونه.بيشکه الله ﷻ اوريدونکي کتوونکي ذات دي.علم دي الله ﷻ په هغه څه چه

بَيۡنَ اَيۡدِيۡهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡؕ وَاِلَى اللّٰهِ تُرۡجَعُ الۡاُمُوۡرُ ﴿۷۶﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا

وړاندي ددوئ دي اوهغه چه ورستودوئ دي. اوخاص الله ﷻ ته ورګرځولی شي ټول کارونه.اې ايمان والو

ارۡكَعُوۡا وَاسۡجُدُوۡا وَاعۡبُدُوۡا رَبَّكُمۡ وَافۡعَلُوا الۡخَيۡرَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُوۡنَ ﴿۷۷﴾

رکوع کوئ اوسجدي کوئ اوبندګئ کوئ صرف درب خپل اوکوئ دخيرکارونه ددي دپاره چه کامياب شئ

﴿مَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدۡرِهٖ﴾ دازجراوشکوی ده مشرکينوته. چه دوئ الله ﷻ پريښي دي اودَهغه صفات اودهغه عظمت عظمت ئې هيرکړيدي اويوکمزوري مخلوق ته ئې معبود وئيلي دي. نودَ قدر نه مراد معرفت دي اومعرفت په اعتباردکنه سره ندي مراد ځکه چه دَهغې په نفی کښې موحد اومشرك برابردي يعنی په کنه دَالله ﷻ باندی معرفت نه موحدته حاصل دي اونه مشرك ته. بلکه معرفت په اعتباردَاوصافوسره مراددي يعنی هغه اوصاف چه الله ﷻ خان لره ثابت کړيدي مشرکينوپه هغې باندی ايمان نيشته دي اودهغې معرفت ئې ندي حاصل کړي

﴿اَللّٰهُ يَصۡطَفِيۡ مِنَ﴾ داديوی خبری اوديوتوهم جواب دي چه بعض خلك وائي چه مونږ دَانبياء كرامو.ملائکواودَاولياؤعبادت اودَدوئ نه خپل حاجتونه ځکه غواړو چه دوئ دَالله ﷻ نازه وليدی اوالله ﷻ دوئ ته اختيارورکړيدي، حاصل دجواب دادي چه ملائك. انبياء كرام اواولياء الله دَالله ﷻ منتخب هستئ دی خوخدائ طاقت ورته ندي حاصل. دوئ دَصفات

دخدائ اومعبودیت نه خالی اوعاری دی. صفات دالوهیت صرف دالله ﷻ په ذات کښې منحصردی ﴿إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌۢ بَصِيرٌ﴾ دادرحقیقت دلیل دې دماقبل جواب دپاره.چه الوهیت صرف په ذات دالله ﷻ کښې ځکه منحصردې چه صفات دالوهیت په الله ﷻ کښې منحصردی. لکه سمع. بصر وغیره شو.

﴿يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ﴾ داهم دلیل دې دماقبل دپاره چه په کل اموروباندی عالم صرف الله ﷻ دي بل چاته علم کلی ندې حاصل نولهذا ماسیوا دالله ﷻ بل ځوک خدائ هم نشی جوړیدې ﴿وَإِلَى ٱللَّهِ تُرْجَعُ ٱلْأُمُورُ﴾ دابل دلیل دې دماقبل دپاره چه قادرمطلق. مختارکل اودټولوامورو متصرف صرف اوصرف الله ﷻ دې نولهذا الوهیت هم صرف په الله ﷻ کښې منحصردې

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟﴾ داپه اخیرکښې دسورت دمضامینو بالاجمال اعاده کیږی.

﴿ٱرْكَعُوا۟ وَٱسْجُدُوا۟﴾ ددینه مرادټول مونځ دې خوهرکله چه دا دواړه اعظم ارکان دمانځه وو چه په هیڅ حالت کښې دمونځ کوونکی نه. نه ساقطیږی په خلاف دقیام اوقراءت نه چه دمعذورنه ساقط دې اوافضل ارکان دمانځه وو چه دعاموم‌تکبرینونه،فرق په رکوع اوسجدې سره راځی. نه په قیام اوقرأت سره،نوددې وجی نه تخصیص درکوع اوسجدې تخصیص اوشو. اوتخصیص دمونځ دوجی داهتمام شان نه دې. چه په ټولوعبادات بدنیه کښې مهتم بالشان مونځ دې

﴿وَٱعْبُدُوا۟ رَبَّكُمْ﴾ داتعمیم بعدالتخصیص دې بدنی اومالی ټول عبادتونه تنه مراددې. یعنی عبادت صرف دالله ﷻ دپاره کوئ اونذروغیره دغه په نوم باندی ورکوئ.

﴿وَٱفْعَلُوا۟ ٱلْخَيْرَ﴾ دامزید تعمیم دې حقوق الله اوحقوق العباد ټولوته شامل دې اوپه حقوق الله کښې فرضی. وجوبی اونفلی ټولوعباداتو ته شامل دې، اوپه حقوق العبادو کښې دعامومخلوقاتوسره احسان کول. ښه اخلاق اختیارول وغیره ته شامل دې

فائده پدی ایت کښې دسجدې حکم دې نوپدی سره سجده تلاوت واجبه ده اوکه نده واجبه؟ پدیکښې اختلاف دې. دامام شافعی رحمه الله په نیزواجبه ده اواستدلال ئی کړیدې په روایت دعقبه بن عامر رضی الله عنه سره چه نبی پاک ﷺ ارشاد اوفرمائیلوچه سورة الحج ته په دووه ۲ سجدوسره فضیلت

ورکړې شویدي(رواه الترمذی) اودغه شان استدلال ئې کړیدې په روایت دعمروبن العاص ﷺ سره.فرمائی چه نبی پاک ﷺ ماته په قرآن مجید کښ پنځلس ایاتونه دسجدې والاتلاوت کړل چه په هغې کښ دری(۳)په مفصلاتو کښ دی دوه(۲)په سورة الحج کښ وی(رواه ابوداود)اوپه مسلك دامام ابوحنیفه رحمه الله او د امام مالك رحمه الله او د سفیان ثوری رحمه الله کښ پدې باندې سجده نده واجبه.ځکه چه ددې نه مراد سجده صلوة ده یعنی دمونځ دسجدې حکم دې اودډینه مرادسجده تلاوت نده. دقرآنی اسلوب نه داسې معلومیږی چه په کوم ځائ کښ درکوع اوسجدې حکم په یو ځائ کښ ورکړې شی نو هلته به د سجدې نه مراد دمونځ والاسجده وی اوپه هغې سره به سجده تلاوت نوی واجبه. لکه چه سورة ال عمران ایت نمبر(۴۳)کښ دی اوددې تائید په اقرداًبن عباس ﷺ سره هم کیږی چه هغه فرمائی انهم کانوا فی اول اسلامهم یرکعون فی صلاتهم بلاسجود تارة ویسجدون بلارکوع اخری فامروا بفعل الامرین جمیعا(قرطبی،طبری) یعنی داسلام په ابتداء کښ به خلکو په مونځ کښ کله رکوع کوله اوسجده به ئې نه کوله اوکله به ئې سجده کوله اورکوع به ئې نه کوله نو پدې ایت سره، ددواړو دکولوحکم اوکړې شو

باقی روایت دعقبه بن عامر ﷺ دهغې په باره کښ امام ترمذی رحمه الله فرمائی چه داروایت ضعیف دې ځکه چه په هغې کښ ابن لهیعه راوی دې چه هغه ته اکثرمحدیثینوضعیف وئیلی دی اودغه شان په روایت دعمروبن العاص ﷺ کښ عبدالله بن منین کلالی راوی دې چه هغه غیرمعروف دې اودهغه نه روایت کوونکی حارث بن سعیدثقفی دې اوهغه هم مجهول دې نوداروایت هم ضعیف دې.قابل استدلال ندې(والله اعلم).

وَجَاهِدُوْا فِي اللّٰهِ حَقَّ جِهَادِهٖ ۭ هُوَ اجْتَبٰىكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّيْنِ

اوجهاد کوئ په لاره دالله ﷻ کښ پوره جهاد .هغه غوره کړی یئ تاسو اونده ګرځولی الله ﷻ په تاسو باندې په دین کښ

مِنْ حَرَجٍ ۭ مِلَّةَ اَبِيْكُمْ اِبْرٰهِيْمَ ۭ هُوَ سَمّٰىكُمُ الْمُسْلِمِيْنَ ڏ مِنْ قَبْلُ

څه تنګسیا،تابع سئ ددین دپلار ستاسو چه ابراهیم ﷺ دې هغه نوم ایخودلی دې تاسو مسلمانان مخکښ ددې قرآن نه

وَفِيْ هٰذَا لِيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ شَهِيْدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُوْنُوْا شُهَدَاۗءَ عَلَى النَّاسِ ښ

په نورو کتابونو کښ اوپدې قرآن کښ ددې دپاره چه شي رسول ګواه په تاسو باندې. اوتاسو شئ ګواهان په نورو امتونو باندې.

فَأَقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاعْتَصِمُوْا بِاللهِ ۭ هُوَ مَوْلٰىكُمْ ۚ فَنِعْمَ الْمَوْلٰى

پس پابندي کوئ دمونځ اوورکوئ زکوة اوکلك شئ په دين دالله ﷻ پوري. هغه ستاسو مولى دې پس ښه مولى دې هغه

وَنِعْمَ النَّصِيرُ ﴿٧٨﴾

اوښه مددګار دې هغه

﴿وَجَٰهِدُواْ فِي ٱللَّهِ﴾ داترغيب الى الجهاددې اوجهاد مصدردمفاعلى نه دې مشتق دې يادجُهد (بضم الجيم) نه اويادَجَهد (بفتح الجيم) نه جُهد اوجَهد (بالضم و الفتح) دبعضوعلماؤ په نيز دواړوكښې فرق نيشته دې ليكن اكثرعلماء فرمائى چه جُهد (بالضم) وسعت اوطاقت ته وئيلې كيږي اوجَهد (بالفتح) مشقت ته وئيلې كيږي اوباب مفاعله دپاره دمبالغې ده نومعنى ئې ده ډيرطاقت خرچ كول ياډيرمشقت كول اوچونكه په جهاد اصطلاحى شرعى كښې هم ډيرطاقت خروج كول اوډيرمشقت اچتول وى نوددې وجى نه ورته جهادوئيلې كيږي.

حافظ ابن حجر رحمه الله اونورو حضراتودجهاد مختلف اقسام ذكركړيدى، خلاصه ئې داده چه جهاد په دوه (٢) قسمه دى. يوظاهرى اوبل باطنى. بيادظاهرى جهاد دوه (٢) اقسام دى (١) جهاد مع الكفار (٢) جهادمع الفساق. دجهاد مع الكفارعموماًواصالةً اطلاق په قتال باندى كيږي يعنى اعلاء كلمة الله دپاره دكفارو خلاف مسلح قتال كول. اوكله ئې اطلاق په دعوت باندى هم كيږي. اودجهاد مع الفساق عموماً اطلاق په دعوت اوامربالمعروف ونهى عن المنكرباندى كيږي لكه ابن ماجه په باب دامربالمعروف ونهى عن المنكركښې حديث ذكركړيدې: افضل الجهاد كلمة عدلٍ عندسلطان جائر.

اوجهاد باطنى هم په دوه (٢) قسمه دې (١) جهادمع الشيطان (٢) جهادمع النفس. دجهاد مع الشيطان مقصددادې چه شيطان دانسان په زړه كښې مختلف قسم شكوك اوشبهات اچوى. اوګناهونه ورته خائسته كوى نوانسان ددغې شكوك وشبهانونه ځان بچ اوساتى اوګناه باندى آماده نشى اودجهاد مع النفس مقصددادې چه انسان دخپل نفس په ناجائزاموروكښې اتباع اونكړي. اوخپل ځان ددين په زده كړه كښې اوپه دين باندى عملى كولوكښې مشغول اومصروف كړي. نودلته دجهاد نه عامه معنى مرادده. كه دكفارو ياظلمانوسره قتال وى ياامربالمعروف اونهى عن المنكروى اويادنفس اوشيطان سره مجاهده او رياضت وى

﴿حَقَّ جِهَادِهِۦ﴾داپه اصل کښ جهادا فيه حقا دي خواضافت دصفت اوشوموصوف ـه اوحرف جر(ف) حذف کړې شو اواضافت دجهاد ضميرته اوشوچه راجع دې الله ﷻ ته. دوجې دادنې ملابست نه. چه جهاد محض دالله ﷻ درضادپاره اودهغه ددين داعلاء دپاره کيږي. اوحق الجهاد مقصددادې چه په جهادکښ خپل پوره طاقت خرچ کړې شي. جان ومال هرڅه اولګولی شي. اودابن عباس ﷺ نه يوبل روايت کښ دی چه حق الجهاد دادې چه انسان دالله ﷻ په اوامروپوره کولو کښ دملامت کوونکی دملامتيانه ويره اونکړي. ومعنى حق الجهاد استفراغ الطاقة فيه قاله ابن عباس ﷺ، وعنه قال لاتخافوا في الله لومة لائم فهوحق الجهاد(خازن) اوبعض فرمائی چه حق الجهاد .مقصد دادې چه دجهاد ټول افرادپه شرعی طريقی سره اداکړې شي. لکه قتال دپاره صحيح نيت اواعلاء كلمة الله عزم كول وغيره شو .﴿هُوَ ٱجْتَبَىٰكُمْ﴾دامربالجهاد دپاره دپنځو علتونو ذکردې. نودااول علت دې چه تاسو الله ﷻ دخپل دتائيداونصرت اودجهاد دپاره منتخب کړی ئی. نوځکه تاسوجهاد کوئ.لکه سورة ال عمران ايت نمبر(۱۰۹)کښ دی كنتم خيرامة اخرجت للناس.

﴿وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ﴾دويم علت دې، يعنی په ټول دين کښ(چه هغی کښ جهاد هم دې)الله ﷻ ستاسودپاره تنګی اوسختی نده پيداکړې. بلکه ستاسودوس اوطاقت مناسب احکامات ئی په تاسوفرض کړيدي، نولهذا حکم دجهاد هم ستاسودوس اوطاقت نه بهرندې

﴿مِّلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَٰهِيمَ﴾غوره قول دادې چه ملة منصوب دې په فعل مقدرسره چه اتبعوا دې اى اتبعوا ملة ابيكم الخ اودريم علت دې دامربالجهاد دپاره، يعنی تاسودخپل پلارحضرت ابراهيم عليه السلام دملة اودين اتباع اوکړئ چه هغه خپل جان اومال دالله ﷻ ددين دپاره وقف کړې وو،نوتاسوهم دپلارپه نقش قدم روان شئ .﴿هُوَ سَمَّىٰكُمُ﴾ داڅلورم علت دې يعنی ستاسونوم مسلمان ايخودلی شويدې اودمسلمان مقصددادې چه تاسوبه هروخت دالله ﷻ حکم ته غاړه ايخی وی اودهغه په لاره کښ خپل جان ومال قربان کولوته هروخت کښ تياروئی. بعض مفسرين فرمائی چه ﴿هُوَ﴾ضميرابراهيم عليه السلام ته راجع دې او ﴿مِن قَبْلُ﴾نه مراد قبل هذاالوقت دې اومقصد دادې چه تاسوته مسلمان نوم ابراهيم عليه السلام درکړې وواوتاسودهغه دمقبول

دعا اثر دی چه ابراهیم علیه السلام دعا کړې وه ربنا واجعلنا مسلمین لك ومن ذریتنا امة مسلمة لك البقرة ۱۲۸ ځینو اکثرو مفسرینو فرمائی چه ﴿هُوَ﴾ ضمیر راجع دې الله جل جلاله ته او ﴿مِن قَبْلُ﴾ نه مخکنی کتابونه لکه تورات انجیل وغیره مراد دی او وفی هذا نه مراد قرآن دې. یعنی مخکنی کتابونو کښې هم الله جل جلاله تاسو ته مسلمان لقب درکړیدې او په دې قرآن کښې هم تاسو ته د مسلمان نوم درکړې شوې دې. او په دې کښې اختلاف دې چه دا تسمیه وصفی ده او که علمی ده غوره مسلك دا دې چه دا تسمیه علمی نه ده یعنی دا علم ندې. بلکه تسمیه وصفی او صفتی ده لکه په روایت د نسائی وغیره کښې د دې ایت په تفسیر کښې د حارث اشعری رضی الله عنه نه روایت نقل کړیدې فرمائی چه رسول الله ﷺ ارشاد و فرمائیلو چه څوك د جاهلیت په نومونو سره اوازونه اوبلنه کوی نو هغه به د جهنم ځناور وی نو یو کس عرض اوکړو چه یارسول الله ﷺ! اګرکه دا کس روژې نیسی او مونځونه کوی، نبی کریم ﷺ اوفرمائیلو هاؤ. اګرکه دې روژې نیسی او مونځونه کوی تاسو یو بل په هغه نومونو سره رابلئ چه تاسو ته الله جل جلاله ایخودلی دې، مسلمین. مؤمنین. عبادالله. نو معلومه شوه چه مسلمان تسمیه دې امت د پاره علم ندې بلکه وصف او لقب دې.

﴿لِيَكُونَ ٱلرَّسُولُ شَهِيدًا﴾ حضرت شیخ الهند رحمه الله او حضرت عثمانی رحمه الله دلته شهید په معنی د معلم سره اخستی دې او د ایت مقصد دا دې چه په دې کښې پنځم علت د جهاد ذکر کیږی چه تاسو جهاد ځکه کوئ چه ستاسو پیغمبر حضرت محمد ﷺ هم د دنیا د پاره معلم وو او تبلیغی جهادئی کوو، نو لهذا تاسو هم د خپل پیغمبر ﷺ اتباع اوکړئ پیغمبر تاسو ته تعلیم درکړو تاسو ئې نورو اقوامو ته ورکړئ حضرت عثمانی رحمه الله فرمائی: *گویا جو مجد و شرف اس کو (امت کو) ملا ہے اسی وجہ سے ہے کہ یہ دنیا کیلئے معلم بنی اور تبلیغی جہاد کریں۔*

عامو مفسرینو شهید په معنی د ګواه سره اخستی دې یعنی تاسو به د قیامت په ورځ په نورامتونو باندې ګواهی ورکوئ او د هغوئ د انبیاء کرامو په حق کښې به ستاسو ګواهی قبلیږی. نو ستاسو دا ګواهی قبلیدل به هم ستاسو د پیغمبر د وجې نه وی. هغه به ګواهی ورکوی چه تاسو ته ئې د الله جل جلاله د دین تبلیغ کړیدې نو دا اعزاز او اکرام د دې وجی نه دې چه تاسو د الله جل جلاله په لاره کښې جهاد اوکړئ او د دې شهادت تفصیل په سورة البقرة ایت نمبر (۱۴۳) کښې تیر شویدې

﴿فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ﴾ داپه اخیرکښې دری(۳)امور مصلحه ذکرکړی چه پدی امورو سره اصلاح دَنفس اوتثبت فی الجهاد حاصلیږی اودغه شان پدیکښې اشاره ده چه مجاهد . اومبلغ نه دَنورو خلکو دَاصلاح سره سره دخپل ځان اصلاح هم ضروری ده چه صرف دَګفتارحدپورې غازي نوی بلکه کردارهم صحیح پکاردي

دَ ﴿فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ﴾ نه عبادات بدنیه مراددی. ﴿وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ﴾ نه عبادات مالیه مراددی او ﴿وَٱعۡتَصِمُواْ بِٱللَّهِ﴾ نه قولی عبادات مراددی. یعنی تکلیف په وخت کښې اعتماد اوبهروسه په الله ﷻ باندی کوئ اودغه نه امداد غواړئ اوسوال ورنه کوئ. نوهغه به ستاسو امدادکوی.قال ابن عباس رضي الله عنه سلوا ربكم ان يعصمكم من كل مايكره(بحر).

﴿هُوَ مَوۡلَىٰكُمۡ﴾ دَسورت ابتداء په تخویف سره شوې وه اواختتام ئې په بشارت سره کیږی. نوپدیکښې اشاره ده چه څوك دامذکورامورخپل کړی،یعنی مونځ په پابندئ سره کوی. زکوة ورکوی اودَالله ﷻ دین ئې مضبوط نیولی وی اوپه سختئ سره ورباندی عمل کوی نوالله ﷻ به په هره سخته کښې دده امداد کوی اودغه شان دَقیامت دَسختیونه به ئې هم حفاظت اوکړی. ... اجعلنامن مقيمي الصلوة وموتي الزكوة والمعتصمين بك واجرنا من خزي الدنيا وعذاب الاخرة، انت ... وناصرنا فنعم المولى انت ونعم النصير، امين ثم امين يارب العلمين، وصلى الله على النبي الامي ... وصحبه وسلم.

تم تفسيرسورة الحج بفضل الله تعالى وبمنته ۲۱ رمضان المبارك يوم الجمعة سنه(۱۴۳۳ھ)مطابق ۱۰ اگست سنه(۲۰۱۲ء).

رکوع	سورة المؤمنون مكية	آيتونه
۶	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	۱۱۸ ۱۱۹

خاص په نوم د الله سره چه بیحده مهربان او ډیر رحم کوونکي دي شروع کوم.

رقمها حسب التسلسل (۲۳) وحسب النزول (۷۴)

سورة المؤمنون مکی سورت دي. ترتیب نزولی کښې څلوراویایم نمبرسورت دي اوپه ترتیب قرآنی کښې دیرویشتم (۲۳) نمبرسورت دي. سورة الانبیاء نه وروستو اوسورة السجدة نه مخکښې نازل شویدي، زمانه دنزول ئی دور متوسط دمکی دي. (۱۱۸ یا ۱۱۹) ایاتونو، شپږو رکوعاتو او (۱۸۴۰) کلماتو او (۴۸۰۰) حروفو باندې مشتمل دي

ربط: دسورة المؤمنون دماقبل سره ربط اسمی دادي چه په سورة الحج کښې اعلان دحج اوشو عاموخلکو ته. په سورة المؤمنون کښې دغه حکم منونکو اوحج ته راتلونکوخلکواوصاف بیانیږي

ربط معنوی: دسورة المؤمنون دماقبل سره ربط په اعتباردمضمون سره متعددو وجوهاتوسره دي: (۱) دسورة الحج په اخیرکښې مؤمنانو ته څواوامر ذکرشو اوپه هغې باندې امیددفلاح مرتب کړې شوې وو، چه﴿يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا ـــ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ (۷۷) اوپه سورة المؤمنون کښې دمؤمنانو یوڅواوصاف ذکرکیږي اوپه هغې باندې تحقق دفلاح مرتب کیږي چه ﴿قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ﴾ (۲) دسورة الحج په ابتداء کښې تخویف وو په عذاب اوزلزلې دقیامت سره. دسورة المؤمنون په ابتداء کښې دسختئ اوعذاب دقیامت نه دنجات طریقه اوعلاج بیانیږي (۳) په سورة الحج کښې رد وو په شرك اعتقادی اوشرك فعلي باندې. په سورة المؤمنون کښې په شرك اعتقادی باندې مزید ردکیږي اوعلی سبیل الترقی ددوئ مزید نورغلط عقائداورسمونه ذکرکیږي چه﴿وَلَهُمْ أَعْمَالٌ مِّن دُونِ ذَٰلِكَ﴾ (۶۳) اوپه هغې رد کیږي اودغه شان دنفي دشرك فعلي بالاجمال اعاده کیږي.

خلاصه مضامين دَسورت دمضامينو مختصرخلاصه داده چه داسورت دوه(۲)حصونه منقسم دي يوه حصه دَشروع نه ترايت نمبر(۷۷)پورې ده اوبله حصه دَايت نمبر(۷۸)نه تراخيره پورې ده.په اولې حصې کښې درې(۳)عقلي دلائل شپږ نقلي دلائل اوپه ابتداء کښې دعذاب نه بچ کيدلوطريقه اوپه مينځ کښې څه زجرونه ذکرکيږي. اوپه دويمې حصې کښې په نفي دَشرک اعتقادي باندې څلور عقلي دلائل چه په هغې کښې يوتفصيلي غيراعترافي دې اودرې(۳)، پکښې على سبيل الاعتراف من الخصم دي اوڅه پکښې زجرونه. تخويفونه اوبشارتونه ذکرکيږي اوپه اخيرکښې دَسورت خلاصه بيان کړې شويده

تفصيل ئې دادې چه دَايت نمبر(۱)نه ترايت نمبر(۱۱)پورې دعذاب نه دبچ کيدلوطريقه بيانيږي اوايت نمبر(۱۲)نه تر(۱۴)پورې اول دليل عقلي انفسي په توحيدباندې ذکرکيږي.په ايت نمبر(۱۵- ۱۶)کښې دَانسان دَزندګئ مزيد دورونه اوتخويف بيانيږي.دَايت نمبر(۱۷)نه ترايت نمبر(۲۰)پورې په توحيدباندې دويم دليل عقلي ذکرکيږي.ايت نمبر(۲۱- ۲۲)کښې دريم دليل عقلي دې. دَايت نمبر(۲۳)نه ترايت نمبر(۳۰)پورې اول دليل نقلي ذکرکيږي دَپاره دنفي شرک فی التصرف والبرکة. دَايت نمبر(۳۱)نه تر(۴۱)پورې دويم دليل نقلي تفصيلي ذکرکيږي. دَايت نمبر(۴۲)، نه تر(۴۴)پورې دريم دليل نقلي ذکرکيږي خواجمالي دې.دَايت نمبر(۴۵)نه تر(۴۹)، پورې څلورم دليل نقلي تفصيلي دې، په ايت نمبر(۵۰)کښې پنځم دليل نقلي دې دعيسى عليه السلام نه،اوپه ايت نمبر(۵۱- ۵۲)کښې شپږم دليل نقلي اجمالي ذکرکيږي دَتولو انبيـ كرامونه. اوبيادَايت نمبر(۵۳)نه تراخردَحصې اولې يعنى ايت نمبر(۷۷)پورې څه زجرونه دي. په مينځ کښې دکفاروحالات او اوصاف بيانيږي اوبيادَمؤمنانوحالات ذکرکيږي اودهغې امور ثلاثه ئې ددذکيږي كوم چه دَسورت په ابتداء کښې دي اوپه اخيرکښې څوتخويفات دي

اودَايت نمبر(۷۸)نه دويمه حصه دَسورت ده.نودَايت نمبر(۷۸)نه ترايت نمبر(۸۰)پورې اول دليل عقلي دې. ايت نمبر(۸۱)نه تر(۸۳)پورې زجرونه دي. دَايت نمبر(۸۴)نه تر(۸۹)پورې درې(۳)، دلائل عقلي على سبيل الاعتراف من الخصم ذکرکيږي،په ايت نمبر(۹۰)کښې زجردې.په ايت نمبر(۹۱- ۹۲)، کښې تفريع ده په دلائلو اوذکر ددعوىٰ دَسورت ده. په ايت نمبر(۹۳- ۹۴- ۹۵)کښې تخويف دنيوي دې، په ايت نمبر(۹۶- ۹۷- ۹۸)کښې طريقه ددعوت وتبليغ ذکرکيږي اودَايت نمبر(۹۹)، نه تر(۱۰۱)پورې تخويفات دي، په ايت نمبر(۱۰۲)، کښې مختصربشارت دې اوبيادَايت

نمبر ۱۰۳ نه تر(۱۱۵)پوري تخويفات دی.اوپه اخيری اياتونوکښ خلاصه دسورت بطورثمره ذکر کيږی.اوپه ايت نمبر(۱۱۸)کښ امرپه دعاسره ورکولې کيږي

قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١﴾ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خٰشِعُونَ ﴿٢﴾

تحقيق کامياب دي مؤمنان هغه مؤمنان چه دوئی په حيلومونځونوکښ عاجزی کوونکي دی

﴿قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ﴾ دا اوله حصه دسورت ده. ﴿قَدْ﴾ دپاره دتحقق اودثبوت دمتوقع دي. لکه څرنګه چه لمّا دنفی دمتوقع دپاره دي اوقد چه په ماضي داخل شي نودتحقق سره سره په قرب دزمانې باندې هم دلالت کوي.يعنی زمانه ماضی حال ته قريب کوي حتی که کله کله ماضی په حکم دحال کښ کړی. لکه قدقامت الصلوة دلته ماضی په حکم دحال کښ ده.ځکه چه اقامت دمونځ نه وړاندې کيږی نوپدی ځائی کښ هم ماضی(افلح) په حکم دحال کښ ده. يعنی مؤمنان په فلاح باندې دی اوفلاح وئيلی کيږی الظفربالمطلوب والنجاة من المرهوب يعنی مطلوب موندل اومرهوب نه نجاة حاصلول.نودفلاح په مفهوم کښ دوه(۲)څيزونه دی(۱)يوداچه مطلوب اوموندلې شي(۲)دويم داچه دکوم څيزنه خطره کيږی هغې نه نجات ميلاؤشي اوخطره بالکليه ختم شي اوپه حديث دترمذی کښ دی چه حضرت عمرؓ فرمائی چه کله دا اياتونه نازل شو اونبی پاکﷺ قبلې ته مخ کړو اولاسونه ئی پورته کړل اودادعائی اوکړه اللهم زدنا ولاتنقصنا واکرمناولاتهنا واعطنا ولاتحرمنا وآثرنا ولاتؤثرنا علينا وارض عنا وارضنا.اوبيائی ارشاد اوفرمائيلو چه بيشکه ماباندې لس(۱۰)اياتونه نازل کړې شويدی، چاچه پدی باندې عمل اوکړو نوجنت ته به داخل شي.نومعلومه شوه چه فلاح نه مراد جنت ته داخليدل دی اوچونکه جنت ته په داخليدلوسره انسان ته مرغوب اومطلوب حاصل شي اودخطرې اوتکليف والاځائ يعنی جهنم نه بچ شي اودغه شان جنت ته داخليدلونه پس دهرقسمه خطرې والااموره نه محفوظ شي لکه بيماريځ. بوډهاوالي. مرګ وغيره نودې وجهې نه اصل اوحقيقي کاميابی جنت ته داخله ده اودا سې ذکرپه سورة آل عمران ايت نمبر(۱۸۵)کښ هم دي چه فمن زحزح عن النّار وادخل الجنّة فقدفاز اودې نه معلومه شوه چه ددنيا بادشاهی. صدارت.وزارت. ممبری اوعهده موندل څه کاميابی نده بلکه اُلټه زحمت اوعذاب دې چه حاسدين اومخالفين زيات شي اوهروخت دختميدلو خطره ئی موجوده وي

﴿الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ﴾ داصفات دمؤمنينَ ذكركيږي چه پدې سره فلاح راځي اوصفات كله احترازيه اومخصصه وي اوكله مادحه غيراحترازيه وي.نوكچرته دا صفات احترازيه شي. نوالمؤمنون نه به كامل مؤمنان مرادوي.اوفلاح نه به هم كامله فلاح يعنى جنت ته دخولى اولى يعنى ابتداءً جنت ته داخليدل به مرادوي. اومطلق فلاح بيانده مراد.ځكه چه عاصى مؤمن به هم جنت ته داخليږي. اوكچرته داصفات مذكوره مادحه غيراحترازيه شي نوبياد مؤمن نه هم عام مؤمن مراددي اودفلاح نه هم مطلق فلاح مرادده. برابره خبره ده كه دخول ابتداءً وي يا انتهاءً. نواول صفت دمؤمن داذكرشوچه په مونځ كښ خشوع كوونكى وي اوخشوع ونيلى كيږي دزړه توجه ته نومحل دخشوع زړه دې اوكله چه په زړه كښ خشوع راشي نواثرئې په ظاهري اعضاؤكښ ظاهرشي اوټول بدن په سكون اواطمينان سره وي. اوددې وجهې نه په يوحديث كښ دى چه نبى پاكﷺ يوكس اوكتلو چه مونځ ئې كولو اوپه مانځه كښ ئې په ږيره باندې لاس راځكلو نونبى كريمﷺ اوفرمائيلو چه لوخشع قلب هذا خشعت جوارحه(ترمذى) يعنى كچرته دده به زړه كښ خشوع وې نودده ظاهرى اعضاء به هم په ارام اوسكون سره وو .اوددې وجهې نه فقهاء كرامو چه كوم مكروهات دمانځه بيان كړيدى لكه په سترګوسره(يعنى دمخ اړولونه بغير)بوطرف ته بل طرف ته كتل، پوزه صفاكول، اوګى كول، خله پټول.تشي نيول، څادرپه ځان راززندول. كاڼړي لرې كول(بلاضرورته)، اودګوتونه ټكونه ويستل وغيره ټول منافى دى خشوع اوخضوع سره.اوپه مانځه كښ اصل مقصود خشوع اوخضوع ده اودې وجهې نه يوحديث كښ دى چه نبى كريمﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه كم مّن قائم حظّه من قيامه التعب والنّصب(اتحاف السادة المتقين) يعنى ډيرمونځ كوونكى داسې دي چه دهغوئ په حصې كښ دمانځه نه صرف سترپيا اوستومانتياوي يعنى په مانځه باندې ورته څه اجراوثواب نه ميلاويږي.اوخشوع په مانځه كښ هغه وخت حاصليږي چه زړه دمانځه دپاره فارغ كړې شي،دنوروځيزونوتوجه ختم كړې شي اومانځه ته په نورو كارونو باندې ترجيح وركړې شي. نوداسې مونځ دانسان دپاره ذريعه دراحت اوسكون ګرځي. لكه په حديث دنسائى وغيره كښې دي چه نبى پاكﷺ اوفرمائيلو جعلت قُرّة عينى فى الصّلوة. اوپه يوبل روايت كښ دى چه په يوې موقعې باندې نبى پاكﷺ حضرت بلالؓ ته اوفرمائيل فم يابلالُ فارحنا بالصّلوة(ابن كثير) اوكوم مونځ چه دخشوع نه خالي وي نوهغه مونځ ذريعه دراحت نه ګرځي بلكه مونځ كوونكى ئې په ځان يوبوج ګڼړى چه انتهاء ئى دمانځه په پريخودلوسره راځي. لكه

دحضرت حذيفه رضي الله عنه نه مروي دی چه اول ماتفقدون من دينكم الخشوع واخرماتفقدون من دينكم الصلوة. اودغه شان مضمون په يوحديث كښې هم دی چه نبی كريم ﷺ اوفرمائيلو چه قيامت ته قريب دټولونه اول به دمانځه نه خشوع پورته كړې شي. حتی كه چه پوره جماعت كښې به يو كس هم خشوع سره مونځ كوونكې به نوي او اضافت دمونځ مونځ كوونكوته اوشو يعني فِي صَلَاتِهِمْ اونئيلی شو اوفي الصلوة يافي صلوة الله اونه نئيلې شو ځكه چه مونځ اګرچه دالله ﷻ اودبنده په مينځ كښې دتعلق يو ذريعه ده. خوپدې سره فائده صرف مونځ كوونكې ته ميلاويږي اودغه ترينه فائده اخلي اوالله ﷻ دفائدې اخستلونه عالی اوبلندې. نودې وجهې نه مونځ كوونكوته نسبت اوكړې شو قرطبی رحمه الله اونورحضرات فرمائی چه خشوع په مانځه كښې فرض ده اګرچه په ټول مانځه كښې لږوخت دپاره ولې نوي. ليكن اكثراهل علم فرمائی چه خشوع جزتركيبی دمونځ ندې. چه ددې په فوت كيدلو سره دإعادې دمونځ حكم اوكړې شي البته دقبول كامل اوتام دپاره جزء دې حضرت تهانوی رحمه الله فرمائی چه خشوع دصحت صلوة دپاره موقوف عليه نده ليكن دقبول صلوة دپاره موقوف عليه ده اوظاهردآيت نه هم معلوميږي چه خشوع ركن اوجزء دمانځه ندې اوفرض نده ځكه چه دلته مونځ ظرف ګرځولې شويدې دخشوع دپاره اوخشوع مظروف ده نو دا دجزئيت تقاضانه كوي (والله اعلم)

وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ ﴿٣﴾ وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ ﴿٤﴾

اودغه كسان چې دوئ دبې فائدې خيزونونه مخ ګرځوي اودغه كسان چې دوئ زكوة لره وركوونكي دي په پابندئ سره

وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ ﴿٥﴾ إِلَّا عَلَىٰ أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ

اودغه كسان چې دوئ دخپلوعورتونو حفاظت كوونكي دي. مګرپه خپلو بيبيانوباندې ياهغه وينځې چې مالكان دي

أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ ﴿٦﴾ فَمَنِ ابْتَغَىٰ وَرَاءَ ذَٰلِكَ

چې لاسونه ددوئ پس بيشكه دوئ ندې ملامته كړې شوي. پس چاچه اولټوو،پوره كول دشهوت سيوادديته

فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْعَادُونَ ﴿٧﴾

نودغه كسان دوئ دحدنه تيريدونكي دي

﴿وَٱلَّذِينَ هُمْ عَنِ ٱللَّغْوِ﴾ دادویم صفت دمؤمنانودي. اولغو تفسیربعض حضراتوپه معاصی سره کړیدي. اوبعض حضراتوپه حرام سره کړیدي لیکن غوره خبره داده چه لغوهرعبث اوباطل کارته اوئیلي شي اوپدیکښ ټول معاصی اوحرام کارونه لکه شرك. دروغ. غیبت. رقص، کنزل، بدعات رواجونه وغیره ټکښ داخل دی. اودغه شان هغه کارچه مباح وي خوعبث اوبلافائدې وي هغې ته هم شامل دې اوپه مشهورصحیح حدیث کښ دی. من حسن اسلام المرء ترك مالایعنیه(بخاري) او ﴿مُعْرِضُونَ﴾ جمله اسمیه راوړې شوه دپاره د لالت په دوام اوثبات باندې. چه دلغوکارنه ځان بچ کول دادمؤمن دائمی صفت وي. داسې نه چه صرف یوخل یادوه(۲) ځلې ځان بچ کړی

﴿وَٱلَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَوٰةِ فَٰعِلُونَ﴾ دابل صفت دې اوزکوة نه یازکوة دنفوس یعني تزکیه نفس مرادده، یعني خپل ځان دشرك اوبداعمالونه پاك ساتی اویاترینه زکوة مالیه مراددې اوتحقیقی قول دادي چه زکوة فرضیت په مکې کښ راغلې وو. اونصاب اومقادیرئی په مدینه کښ سنه(۲ه) کښ مقرر شوی وواوکله چه زکوة نه مراد زکوة مالیه وي نود زکوة نه مخکښ به لفظ د اداء مقدر وي ای لادآء الزکوة فاعلون(بحر) اویا ﴿فَٰعِلُونَ﴾ متضمن دې معنی دمؤدون لره خو مؤدون ذکرنکړې شو ځکه چه﴿فَٰعِلُونَ﴾ لفظ په دوام دلالت کوي، په خلاف دمؤدون نه

﴿وَٱلَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ﴾ دابل صفت دفلاح موندونکو خلکودې چه دخپل عورتونوحفاظت کوي اوحفاظت دفرج بچوالې دې دحرام کارنه، لکه چاته خپل عورت ښکاره کول یازنا اولواطت کول

﴿إِلَّا عَلَىٰٓ أَزْوَٰجِهِمْ﴾ دادماقبل نه استثناء ده اوپدیکښ کمال عفت طرف ته اشاره ده چه دوئ شهوات لري اوخواهش ئی وي خوبې محله ئی نه استعماله وي. په خپل محل کښ استعماله وي اوپدې ایت کښ دسړي دپاره د دوه(۲) قسمه زنانونه خپل حاجت اوخواهش پوره کولو اجازت دې یوزوجه یعني په نکاح شرعي سره دې دهغې نه دفائدې اخیستلو مالك ګرځولې شوې وی اودویم چه په ملك یمین سره دې مالك ګرځیدلې وي یعنی دده وینزه وي نوویزه نه فائده اخستل

بغیردنکاح نه جائزه ده اوپه علی کښې دمفسرینوډیراقوال راغلیدی خوغوره قول دادی چه دلته علی په معنی دمن ' سره دی یعنی الآمن ازواجهم.

﴿فَمَنِ ٱبْتَغَىٰ وَرَآءَ ذَٰلِكَ﴾ .ذلك سره اشاره ده منکوحه اومملوکه نه.دمنکوحه اومملوکه نه علاوه باقی چه څومره صورتونه دخواهش پوره کولودی ټول حرام اوناجائزدی.لکه زنا . لواطت. استمناء بالید .اومتعه اودا ایت صریح دي په حرمت دمتعي کښې اوشیعه ګان داوائی چه چونکه متعه په نکاح کښې داخله ده نودي وجهي نه ددي ایت نه دمتعي حرمت نه راځي.لیکن ددوئ دا خبره ځکه باطله ده چه متعه بالکل نکاح نه دي(۱)یوخودي وجهي نه چه متعه په لفظ دامتع سره وي یعنی یوسړي دیوي زنانه. نه دمخصوص پیسوپه عوض دیومخصوص وخته پوري په لفظ دامتع سره فائده اخستل طلب کړي اوزنانه ورسره راضي شي. اولفظ دنکاح یاتزویج پکښې نوی اودي وجهي نه حضرت شاه ولی اللهؒ اوعلامه قرطبیؒ فرمائی چه متعه په حقیقت کښې بضع په اجرت باندي ورکول دی.(۲)اوبل ددي وجهي نه چه دنکاح اومتعي په مینځ کښې داحکاماتو اوداغراضو په اعتبارسره هم ډیرفرق دي،دنکاح نه غرض توالد اوتناسل وي اودمتعي نه غرض صرف خواهش پوره کول دی. دغه شان دنکاح نه غرض حفاظت دنسب وي اوپه متعه کښې اختلاط دنسب وي. دغه شان دنکاح نه غرض عفت اواصلاح دمعاشرې وي اوپه متعه سره فساد په معاشره کښې راځي.وغیرذلك اوددواړوپه احکاماتوکښې هم فرق دي په نکاح کښې توارث وي. یعنی کچرته خاوند مړشي نوښځه دمیراث مستحقه وي اوکه ښځه مړه شي نوسړي به دمیراث دهغي مستحق وي اوپه متعه کښې توارث نه وي بلکه دواړه دیوبل دپاره اجنبی وي. دغه شان په نکاح کښې چه کوم اولاد پیداشي دهغي نسب دخاوندنه وي اوپه متعه کښې اولاد دخاوندسره نه ملحق کیږي. دغه شان په نکاح کښې چه ترڅوخاونددطرف نه ښځي ته طلاق نوي میلاؤشوي نوښځه دخاوند دعقد نه نشي بهرکیدلې اوپه متعه کښې مخصوص وخت په

(۱) ابن العربی فرمائی چه دالس(۱۰)ایاتونه عام دی په حق دنارینو اوزنانوکښې لیکن دادوه(۲)ایاتونه خاص دی په نارینوپوري په دلیل دماملکت ایمانهم. سره ځکه چه زنانه دپاره دخپل غلام سره مباشرت کول جائزندی. قرطبیؒ واقعه نقل کړیده چه دعمرؓ په دورکښې یوزنانه دظاهر اودعموم دایت نه استدلال اوکړو اودخپل یوخایسته غلام سره ئی زنااوکړه نوحضرت عمرؓ هغه دصحابه کرامو اوعلماؤپه مشوري سره ځکه رجم نکړه چه هغي تاویل کړو اوعلم ورته نوو قرطبی ج ۲ ص ۸۲.

ختمیدلو سره ښځه خودبخود دَخاوندنه لاړه شي. دغه شان په نکاح کښې ښځې ته طلاق میلاویدلو نه پس په ښځه باندې عدت تیرول ضروري وي .بغیر دَعدت دَتیریدلو نه ښځه بل ځائ کښې نکاح نشي کولې. اوپه متعه کښې ښځې ته مکمل اجازت وي لکه دَخناورچه یوکس ورنه خپل خواهش پوره کړو او مخصوص وخت ختم شي نودافورا دبل کس سره عقد کولې شي. نو ددې وجهې نه داپه الا علی ازواجهم کښې نده داخله. بلکه داپه فمن ابتغی ورآء ذلك. کښې داخله ده. باقي دَمتعې متعلق مکمل بحث دَسورة النساء ایت نمبر(۲۴)کښې تیر شویدې

اودغه شان پدې ایت سره حرمت دَاستمناء بالید یعني دَخپل لاس یادَخپل بدن په یوې عضوې سره شهوت پوره کړلوحرمت هم ثابت شو.ابن کثیر رحمه الله روایت نقل کړیدې چه دَحضرت انس رضي الله عنه نه روایت دې فرمائی چه نبی کریم ﷺ ارشاداوفرمائیلو چه اووه(۷)قسمه کسان دی چه دَقیامت په ورځ به الله ﷻ دوئ ته.نه دَرحمت په نظراوګوري اونه به دَدوئ تزکیه معافي اوکړي. اونه به دوئ دَنیکوکاروخلکوسره جمع کړي اودوئ به اورته دَاول تلونکوخلکوسره به داخل کړي. مګرکچرته دوئ توبه اوکړي اوځوك چه توبه کوي نو الله ﷻ دَهغه توبه قبولوي(۱)لاس سره شهوت پوره کوونکې(۲)بدکاري(غلام بازي)کوونکی(فاعل)(۳)مفعول یعني بدکاري چه ورسره کیږي(۴)شراب باندې مداومت کوونکې(۵)مورا وپلار وهونکې(۶)کاونډي ته تکلیف ورکوونکې چې هغه پرې لعنت اوائي(۷)دکاونډي دَزنانه سره زناکوونکې(ابن کثیر)

وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ ﴿٨﴾ وَالَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَوَاتِهِمْ

اوهغه کسان چې دوئ دخپلوامانتونواودخپلواوظونولحاظ کوونکي دي اوهغه کسان چې دوئ خپلومونځونو باندې

يُحَافِظُونَ ﴿٩﴾ أُولَٰئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ ﴿١٠﴾ الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ

ساتنه کوي دغه کسان هم دوئ اغستونکي دي(حقداران دي)هغه وارثان چې میراث کښې به واخلي جنت فردوس

هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿١١﴾

دوئ به په هغې کښې همیشه وي

*وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ :دانور(۲)دوه صفات دَفلاح موندونکوخلکو ذکرکیږي چې امانت کښې خیانت نه کوي اوپه عهدکښې خلاف ورزي نه کوي.او امانات نه مرادهغه ټول اموردي چې

انسان ني ذمه دارګرځولې شوې وی.که هغه ديني وي لکه تکاليف شرعيه يادنيوي وي لکه اموال مودعه او عهد نه مرادهغه اموردي چې انسان ني په ځان باندې لازم اوګرځوي.که هغه حقوق الله وي ياحقوق العباد وي

﴿وَٱلَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَوَٰتِهِمْ﴾دابل صفت دې.او محافظة على الصلوة نه مراددادي چې مونځ په خپل وخت کښې.دپوره شرائطواوارکانواوداداب ورعايت سره اداکړې شي اوهميشوالې پرې اوکړې شي.دمکروهاتواومفسداتونه.بچ اوساتلې شي،نوخشوع په حالت دمونځ کښې باطني صفت دې،او حفاظت عام دې په حالت دمونځ کښې هم وی اودمونځ نه مخکښې هم وي اودغه شان ظاهري صفت دې دمانځه

﴿أُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْوَٰرِثُونَ﴾دابيان دفلاح دې اوبشارت دې او﴿أُوْلَـٰٓئِكَ﴾نه مرادمؤمنان دي چې پدې اوصاف مذکوره باندې متصف وي او﴿أُوْلَـٰٓئِكَ﴾مبتدامعرفه ده ﴿ٱلْوَٰرِثُونَ﴾خبرمعرف باللام دې اوپه مينځ کښې ضميرفصل هم راوړې شونوتول په حصرباندې دلالت کوي.خوداحصرپه اعتبار دعظمت شان سره دې اوحصرحقيقي ندې يعني دوئ ددې مستحق دي چې وارثين ورته اوئيلې شي.الاحقاء بان يسموا وراثاً دون من عداهم (مدارك) اودامقصدندې چې عصاة مؤمنين به جنت ته نه ځي

﴿ٱلَّذِينَ يَرِثُونَ ٱلْفِرْدَوْسَ﴾داعطف بيان اويابدل دې دماقبل نه او فردوس په جنتونوکښې اعلى اوبهترين جنت دې.اوپه حديث دبخاري کښې دي "انّ رسول الله ﷺ قال"اذاسألتم الله الجنة فاسألوه الفردوس فانه اعلى الجنة واوسط الجنة، ومنه تفجرانهار الجنة، وفوقه عرش الرحمن.يعني نبي پاك ﷺ اوفرمائيل چې کله تاسو دالله ﷻ نه دجنت سوال کوئ نوجنت الفردوس ورنه غواړئ چې داپه ټولوکښې اعلى اوبهترين جنت دې.اوددې نه نوروجنتونوته نهرونه جاري دي اوددې دپاسه دالله ﷻ عرش دې.باقي جنت ته ميراث ولې وئيلې شويدی؟ نوددې تفصيل په سورة مريم آيت نمبر(۶۳)اوسورة الاعراف آيت نمبر(۴۳)کښې تيرشويدې

وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَـٰنَ مِن سُلَـٰلَةٍ مِّن طِينٍ ﴿١٢﴾ ثُمَّ جَعَلْنَـٰهُ نُطْفَةً فِى قَرَارٍ مَّكِينٍ ﴿١٣﴾

اويقيناپيدا کړيدی مونږ انسان دچاڼ کړې شوې خټې نه اوبيااوګرځولومونږ هغه نطفه په ځائی دقراري مضبوط کښې

ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظٰمًا

بیا موجود کړه د نطفې نه پکړه دوینې. بیا موجود کړود پکړې دوینې نه یوټوټه د غوښې بیا موجودې کړې هډوکي والا

فَكَسَوْنَا الْعِظٰمَ لَحْمًا ۙ ثُمَّ اَنْشَاْنٰهُ خَلْقًا اٰخَرَ ۚ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ

بیا وغستوله مونږ هډوکی نه غوښه. بیا پیدا کړو مونږ هغه په پیدائښت بل سره. پس برکت ور کوونکی دی الله جل جلاله

اَحْسَنُ الْخٰلِقِیْنَ ﴿۱۴﴾ ثُمَّ اِنَّكُمْ بَعْدَ ذٰلِكَ لَمَیِّتُوْنَ ﴿۱۵﴾ ثُمَّ اِنَّكُمْ

چې د هر څه نه ښائسته شکل جوړوونکي دي بیا بیشکه تاسو ورستو د دې نه خامخا به مړه کیږئ بیا بیشکه تاسو به

یَوْمَ الْقِیٰمَةِ تُبْعَثُوْنَ ﴿۱۶﴾

په ورځ د قیامت دوباره ژوندی کیږئ

﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ﴾ دا اول دلیل عقلی دي. په دیکښې د انسان د ژندګئ پنځه ادوار ذکر کړې شویدی (۱) خالص خاوره (۲) رحم مادر (۳) روح اچولو نه پس دنیوی زندګی (۴) برزخی زندګی (۵) اخروی زندګی. او بیا دویم دور یعنی مادر رحم والا دور په شپږو مراحلو باندې مشتمل دې (۱) منی (۲) علقه (۳) مضغه (۴) عظام یعنی هډوکی پیدا کیدل (۵) لحم یعنی په هډوکی باندې غوښه راتلل (۶) روح اچیدل او بهرته راتلل. او مقصد دادې چه د انسان د ژندګئ او د وجود ټول تصرفات او حالات د الله جل جلاله په اختیار او قدرت کښې دی، نو لهذا ستاسو کارساز او معبود هم صرف هغه دې

او ﴿الْاِنْسَانَ﴾ کښې الف لام د عهد د پاره دې او مراد ترې نه حضرت ادم علیه السلام دي او سلالة هغه خالص خټې ته وئیلی کیږی چه په موټی کښې اونیولې شي او زور ورکړې شي نو په ګوتو نو کښې را اوځي او ﴿مِنْ سُلٰلَةٍ﴾ کښې من ابتدائیه دی او په ﴿مِّنْ طِیْنٍ﴾ کښې من یا بیانیه دې او یا تبعیضیه دې. نو دا اول دور دې د تخلیق انسانی. او د حضرت ادم علیه السلام د پیدائش اطوار هم مختلف وو چه د هغې تفصیل په سورة النحل ایت نمبر (۲۲) کښې تیر شویدی

﴿ثُمَّ جَعَلْنٰهُ نُطْفَةً﴾ دا دویم دور اوله مرحله ده. چه انسان د منی په صورت کښې د مور په رحم کښې وي. او ضمیر راجع دې اولاد ادم علیه السلام ته او مرجع اګرچه حقیقتاً ذکر نه دی خو حکماً په ضمن

دَالانسان کښې مذکوره، اوياپکښې صنعة الاستخدام دی چه ﴿ٱلۡإِنسَٰنَ﴾اسم ظاهره سره آدم﷣ مراددې. اوپه اسم ضمیرسره ترينه اولاد ادم مراددی او﴿ قَرَارٍ ﴾ اګرچه مصدردې خودلته په معنی دَظرف یعنی مستقرسره دې او﴿مَّكِينٍ﴾په معنی دَمحفوظ سره دې.دامجازاًصفت د ﴿قَرَارٍ﴾د پاره واقع شويدې،ځکه چه ﴿مَّكِينٍ﴾صفت دَذی المکان یعنی نطفې دَپاره وي

﴿ثُمَّ خَلَقۡنَا ٱلنُّطۡفَةَ عَلَقَةً ﴾پديکښې مزيدپنځه نور مراحل دَدويم دورانسانی ذکرکيږی.علقه منجمدې وينې ته وئيلې کيږی نونطفه په مادررحم کښې څلويښت ورځې پرته وي.اوبياپکښې انقلاب راشي نوپه علقه باندې بدله کړې شي

﴿فَخَلَقۡنَا ٱلۡعَلَقَةَ مُضۡغَةً ﴾نوبياڅلويښت ورځې پس په علقه کښې انقلاب راشي اوپه مضغه باندې بدله کړې شي اوبياڅلويښت ورځې ورستوپدې مضغه کښې روح واچولې شي اودَ هغې نه پس بيادَنورو اعضاؤ تکميل کيږی،نودَروح اچولوپورې هره هره مرحله په څلويښت ورځوېوې چلي، باندې مشتمله وي،يعني دَيوې چلې نه پس انقلاب راځي اودَدې وجهې نه اسلافواو صوفياءکراموبوه چله دَحالت دَبدليدلو دَپاره نصاب مقرر کړيدې،اودَروح اچيدلوپورې داټوله دورانيه په څلورمياشتوباندې مشتمله ده نوددې وجهې نه بزرګان فرمائی چه انسان اصل مقصد ته دَراتلودَپاره هم کم ازکم څلورمياشتې دَالله ﷻ په لاره کښې لګول ضروري دي.

﴿فَخَلَقۡنَا ٱلۡمُضۡغَةَ عِظَٰمًا ﴾نوبيادَنورو اعضاؤ تکميل کيږی یعنی هډوکي پيداکړې شي

﴿فَكَسَوۡنَا ٱلۡعِظَٰمَ لَحۡمًا ﴾اوبيادَهډوکي دَپاسه غوښه راخوره کړې شي، اوپديکښې اشاره ده چه دَانسان دَوجودقوام په هډوکي سره دې اوغوښه دَهډوکي دَپاره دَلباس حيثيت لري،نوچه هډوکې صحيح وي نوعضوبه کارکوي اوچه هډوکې خراب شي اګرچه غوښه صحيح وي نوعضو هم معطل شي اوکارکول پريږدي.

﴿ثُمَّ أَنشَأۡنَٰهُ خَلۡقًا ﴾دَدينه اجمالي طوردَروح اچولونه پس.ترمرګ وختِه پورې ټول حالت مراددې.

﴿فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ﴾ دانتیجه ده دَدلیل مذکور. او احسن یا په معنی دَمضبوط اومحکم سره دي. یعنی دَحقیر او کمزور نطفې نه الله ﷻ مضبوط انسان پیدا کړو. او یا احسن په معنی دَخائسته سره دي او ﴿الْخَالِقِينَ﴾ په معنی دَمصورین یا مقدرین سره دي

فائده نمبر۱: په حدیث دابن مسعود ﷛ کښې دي چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو ان احدکم لیجمع خلقه فی بطن امه اربعین یوماً نطفة ثم یکون علقةً مثل ذلك ثم یکون مضغة مثل ذلك ثم یرسل الیه الملك فینفخ فیه الروح. یعني په تاسو کښې هر یو کس دَمور په ګیډې کښې څلویښت ورځې دَنطفې په صورت کښې وي بیا دغه شان یعنی څلویښت ورځې علقه په صورت کښې وي بیا دغه شان مضغې په صورت کښې وي بیا فرشته را اولیږلې شي هغه پکښې روح پو کړي او هغې ته حکم اوکړې شي په لیکلو دَڅلور خبرو سره(۱) دده رزق(۲) دده اجل(۳) دده عمل(۴) او دې به بدبخت وي که نیك بخت. پس څمادې قسم وي په هغه ذات چه نیشته دی حقدار دَبندګئ بل څوك سیوا دهغه نه. چه په تاسو کښې به یو کس عمل کوي دَجنتیانو حتّی چه دده اودَجنت په مینځ کښې به صرف یو ګز فاصله پاتې وي نو په ده باندې به تقدیر غالب شي او دده خاتمه به دَجهنمیانو په عمل اوشي او جهنم ته به داخل شي او یو کس به په تاسو کښې داسې وي چه دَهغه عمل به دَجهنمیانو وي حتّی که چه دده اودَجهنم په مینځ کښې به صرف دَیو ګز فاصله پاتې وي خو تقدیر به غالب شي او دده خاتمه به دَجنتیانو په عمل او کړې شي او دې به جنت ته داخل کړې شي

نو دَدې ایت او حدیث په مینځ کښې په ظاهر کښې تعارض دې. ځکه چه په حدیث کښې ټول مراحل په (ثم) سره ذکر شویدی چه هغه دلالت کوي په تراخي باندې، نو دَحدیث نه دا معلومیږي چه دَدې ټولو مراحلو کښې تراخي ده، او ایت کښې اول او دویمه مرحله په ثمّ سره ذکر شویده او اخري مرحله په ثم سره ذکر شویده او نور باقي دري (۳) مراحل په (فاء) سره ذکر شویدی چه هغه په وصل او اتصال باندې دلالت کوي؟ نو جواب تنه دا دي چه دَدې مراحلو په مینځ کښې دورانیه څلویښت ورځې شته دې لکه حدیث کښې تصریح هم ده او دَدې وجهې نه حدیث کښې دا مراحل په ثم سره ذکر شویدی، خو هر کله چه دا دورانیه دَدومره عظیم تبدیلئ دَپاره په حقیقت کښې څه حیثیت نه لري، نو دَدې وجهې نه په کلام الهي کښې دَدغې دورانیې اعتبار او نکړې شو بلکه خالص دَالله ﷻ دَقدرت اعتبار او کړې شو نو ځکه "فاء" راوړې شوه چه ګویا دا دومره معمولي وقفه او دورانیه دَدومره عظیمې تبدیلئ دَپاره په منزله دَعدم د وقفې ده خو بیا هر کله چه اول دوه (۲) مراحل او اخري مرحله

عقلاً ډیرزیات مستبعدوو. په خلاف دَدې نورو مراحلونه یعني ماده سلالة په ماده نطفې سره بدلول اوبیانطفه محض څلویښت ورځې پس په علقه باندې بدلول عقلاً ډیره مستبعده خبره ده. په خلاف دَتبدیلۍ دَ علقې نه په مضغې سره چه دادومره مستبعده نده ځکه چه وینه کله منجمده شي نوظاهري شکل اوصورت ئې دَمضغې شي اودغه شان غوښه چه اوچه شي نوکلکوالې اومضبوط والې پکښې راشي. نوپدیکښې اګرچه استبعاد شته دې خوډیرندې اوبیادَدې ټول مراحلو نه تیریدلونه پس یوځائسته اوحسین صورت والاانسان پیداکیدل عقلاً ډیرمستبعدوو. نوځکه دادې(۳)مراحل په(ثُمَّ)سره ذکرشو، دَپاره دَدلالت په استبعاد اوبعدرتبې باندې

فائده نمبر۲ دَدې ایت نه معتزلو دَخپلو دوه(۲)مسائلو دَاثبات دَپاره استدلال کړیدې اول داچه انسانان دَخپلو افعال اختیاریه خالق دی،ځکه چه دلته ﴿ٱلۡخَٰلِقِينَ﴾ جمع ذکرشویده.نولهذا دَجمعې تقاضه داده چه خالقین ډیردی اوانسان هم خالق دې اودویم داچه دَدې ایت نه داهم معلومه شوه چه الله ﷻ خالق دَخیردې اودَشراودکفرندې

دَاول استدلال نه ئې جواب دادې چه خلق وئیلې کیږی هرهغه فعل ته چه دَیوفاعل نه قصداً اوارادةً صادرشوې وي.نودَدې وجهې نه دَخلق اطلاق په افعالو دَعبادو باندې شویدې لکه حضرت عیسی علیه السلام فرمائیلی وو:انی اخلق لکم،اودغه شان الله ﷻ فرمائی:وتخلقون افکاً (عنکبوت:۱۷) لیکن فرق دادې چه کله دَخلق نسبت اوشي افعالو دَعبادوته نوهلته بیاخلق په معنی دَایجاد المعدوم سره نه وي، بلکه په معنی دَمطلق فعل ایجاد اوصنعت سره وي ځکه چه دَنصوصونه ثابته ده چه خلق په معنی دَ ایجاد المعدوم صفت مختصه دَالله ﷻ دې اودَدې وجهې نه په عبد باندې اطلاق دَخالق بغیردَاضافة نه نشي کیدلې،لکه څرنګه چه دَرب اطلاق بغیردَ اضافة نه نشي کیدلې، نودَدې وجهې نه احسن الخالقین دلته په معنی دَاحسن الصانعین سره دې،او یاخلق په معنی دَاندازې اوتقدیرسره دې نواحسن الخالقین په معنی دَاحسن المقدرین سره دې اویا په معنی دَمصورین سره دې،اوبعض حضراتو داکلام دَ قبیلې دَ فرض اوتقدیر نه ګرځولیدې. یعني نورخالقین خونشته خوبالفرض کچرته وې نوبیا به هم الله ﷻ په دوئ ټولو کښې افضل وو. اوباقې دویمه خبره نوچه کله خالقین په معنی دمصورین یامقدرین سره شونوځه قسم اشکال پاتې نشو، اودویم جواب ترینه دادې چه احسن په معنی دَ اتقن سره دې (والله اعلم)

فائده نمبر۳ مفسرینو واقعه ذکرکړیده چه دنبي پاكﷺ په کاتبین کښې یوکاتب وو. چه نوم ئې عبدالله ابن ابی سرح وو. نونبی پاكﷺ په هغه باندې داایت تلاوت کوو دلیکلو دپاره نوچه کله ثم انشاناه خلقا اخر ته راورسیدلو نودهغه دخولې نه بې اختیاره اووتلو چې فتبارك الله احسن الخالقين نونبیﷺ ورته اوفرمائیلو چه داهم اولیکه داداَیت حصه ده نوهغه انکاراوکړواوبیائی ارتداداختیار کړو اوخلکوته ئې داوئیلو کچرته محمدﷺ ته وحي راځي اودې نبی وي نوماته هم وحي راغلیده اوځه هم نبی یم. یعنی موافقت ته ئې عین وحي نوم ورکړو اومکې ته لاړو. نوچه کله فتح مکه اوشوه نونبیﷺ دعام معافئ اعلان باوجود ځنې کسان واجب القتل قرار کړی وو.نودده په باره کښې هم نبیﷺ اعلان کړې ووچې کوم ځائ کښې میلاؤ شي نوهلته ئې قتل کړئ.بیادحضرت عثمانؓ په سفارش سره نبیﷺ ورته امان ورکړو اوده بیاپه دغه ورځ ایمان راوړواومخلص مسلمان شو.اګرچې په بعض روایاتوکښې دي چه دې په حالت دکفرکښې مړ شویدي، لیکن اول قول زیات راجح دې.

بعض مفسرین فرمائی چه دعبدالله ابن ابی سرح دارتداد واقعه په مدینه کښې شوي وه اودامذکور ایت مکي دې.ځکه چې سورة المؤمنون په مکه کښې نازل شویدې لیکن علامه الوسيؒ ترینه جواب کړیدې چې سورة اوایت اګرچه مکي دې اوپه مکه کښې نازل شویدې لیکن ممکنه ده چې په مکه کښې لیکلې شوي نوي اولیکلوحکم ده ته نبیﷺ په مدینه کښې ورکړې وو، اوده ته داایت یادهم نوو اونه ورته دنزول پته وه اوداهم ممکنه ده چې سورت دې مکي وي اومذکوره ایت پکښې مدني وي، لکه څرنګه بعضوعلماؤ ځنې نورایاتونودې سورت په باره کښې وئیلی دی چه دامدنی دي

﴿ثُمَّ إِنَّكُم بَعْدَ ذَٰلِكَ﴾پدیکښې دریم،خلورم دور طرف ته اشاره ده چې دبرزخ زندګی ده اوپه ﴿ذَٰلِكَ﴾سره اشاره اطوارمختلفه بدیعه ته ده اواشاره بعیده ئې دبعدمنزلت دوجهې نه راوړې شوه.او ﴿لَمَيِّتُونَ﴾جمع ده میّت ده اوفرق په مینځ دمَیّت(بالتشدید)اودمیت(بالتخفیف)کښې دادې چې په تشدید سره وئیلی کیږی هغه چاته چې مرګ ورته راغلې نوي په مستقبل کښې ورته راځي اوپه تخفیف سره هغه چاته وئیلې کیږی چې هغه مړ شوې وي اودمَیّت یعنی بالتشدید سره مرادف لفظ دمائت هم دې، خودلته مائت اونه وئیلې شو ځکه چې هغه دلالت کوي په حدوث دصفت

دَموت باندي، اومیّت پـه دوام اوپـه ثبات باندي دلالت کوي نو لفظ دَ ﴿لَمَيِّتُونَ﴾ تاکید اَوبلی شویدی اودغـه شان دَدې نـه عـلاوه پـدې جملـه کښ دوه (۲) نـورادوات دَتاکیـد راوړې شویدی. چـه (ان) دی پـه ابتـداء کښ اولام تاکیدیـه دې پـه ﴿لَمَيِّتُونَ﴾ کښ ﴿ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ﴾ داداَنسان دَزندګئ اخري دوردې، چې دَمرګ نه پس بیابه دَ نفخ ثانیه سره راژوندی کیږئ

وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ طَرَآئِقَ ۖ وَمَا كُنَّا عَنِ الْخَلْقِ غٰفِلِيْنَ ﴿١٧﴾ وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ
اویقیناًپیداکړیدی،مونږپاسه دَستاسونه اوه (۷) لارې اونه یومونږ دَمخلوق نه ناخبره اوراورولي دي مونږ دَاسمان دطرف نه
مَآءًۢ بِقَدَرٍ فَاَسْكَنّٰهُ فِي الْاَرْضِ ۖ وَاِنَّا عَلٰى ذَهَابٍۢ بِهٖ لَقٰدِرُوْنَ ﴿١٨﴾
اوبه په اندازې سره پس اوسولی دی مونږ هغه اوبه په زمکه کښ .اوبیشکه مونږ په اوچولو دَهغې باندې یقیناچې قدرت لرونکي یو
فَاَنْشَاْنَا لَكُمْ بِهٖ جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ لَكُمْ فِيْهَا فَوَاكِهُ كَثِيْرَةٌ
پس پیداکړل مونږستاسودپاره په اوبوسره باغونه دکجورو اودانګورو .ستاسودپاره په هغې کښ میوې ډیرې دي
وَّمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿١٩﴾
اوبعضې دهغې نه تاسو خورئ

﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ﴾ دادویم دلیـل عقلـي دې پـه توحید بانـدې اودادلیـل مشـتمل دې پـه درې (۳) اقساموباندې، علوی، جوی. سفلي نوداعلوی دی یعنـی ستاسـودپاخه عظـیم الخلقـت مخلوق یعنې آسمانونوخالق اومتصرف صرف الله ﷻ دې اودَهغې په ټولو امورو اوحـالاتو بانـدې خبردارهم صرف الله ﷻ دې نولهذا معبود هم صرف اوصرف هغـه دې. اودَ ﴿سَبْعَ طَرَآئِقَ﴾ نـه مراد اوه (۷) آسمانونه دی اوآسمانونو ته طرائق ځکه ونیلې کیږی چې دادَیوبل دَپاخه دی اوکوم څیزونه چې دَ یوبل دَپاخه وي(تهه به تهه) نوهغې ته طریقة او طرائق ونیلې کیږی (کشـاف) اویـا طرائـق جمـع دَطریق ده لارې ته ونیلې کیږی نوآسمانونوته طرائق دَدې وجهې نه ونیلې کیږي چې دامشـتمل دی په لارو دملائکو باندې. یعنی پدیکښې دَملائکو دَپاره دَختلو اوراکوزیدلو لارې دی

﴿وَمَا كُنَّا عَنِ ٱلْخَلْقِ غَٰفِلِينَ﴾ خلق په معنی دمخلوق سره دی اوغوره خبره داده چې ددینه مراد ټول مخلوقات دی او ﴿غَٰفِلِينَ﴾ په معنی دمهملین سره دی، یعنی دټول عالم اومخلوق الله ﷻ مهمل ندي پریخي بلکه الله ﷻ دمقتضی حکمت موافق دهر مخلوق حفاظت اوپه هغه کښې تصرف کوي. لکه اسمان ئې محفوظ کړیدي دراغورزیدلونه، په مخلوقاتوباندې، دغه شان نور څیزونه دی چې الله ﷻ دحکمت موافق دهغې تدبیر کوي

﴿وَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ﴾ دادویمه حصه ددلیل عقلی ثانی ده داجوی دې او ﴿مِنَ ٱلسَّمَآءِ﴾ نه مراد جهت دسماء یعنی بلندی مرادده اوپه ﴿مَآءً﴾ سره مراد خوږې اوبه دی اوددې خوږو اوبو دپاره اصل ماده دسمندر اوبه دی الله ﷻ دبخاراتو په صورت کښې دسمندرنه دامادة اوچته کړی اوپیدې رفع اوتصعید کښې الله ﷻ په دې اوبوکښې خوږلت پیدا کړی، اوبیائی دمخلوقاتو دنفع دپاره واپس زمکې ته رانازلی کړی ﴿بِقَدَرٍ﴾ جارمجرور دمتعلق سره صفت د ﴿مَآءً﴾ دې او قدر نه مراد مقداردې یعنی یو معلوم مقدار موافق چې څومره مخلوقاتوضرورت وی اودهغوی مصلحت پکښې وی

﴿فَأَسْكَنَّٰهُ﴾ ددینه مراد دادې چې اوبه الله ﷻ دپاخه طرف نه رانازلې کړی اوبیائی دچینوخوړونو، سیندونو اوکوبانوپه صورت کښې دمخلوقاتو دپاره ئې محفوظ کړیدی اودانسان دپاره ئې قابل انتفاع گرځولیدی اونسبت داسکان اوسولو الله ﷻ خپل ذات طرف ته اوکړو پدیکښې اشاره ده چې دابو طبعی تقاضا جاذبیت اوپه زمکه کښې لاندې تلل دی خو الله ﷻ په خپل قدرت باهره سره یاخوئې مخ په زمکه جاری کړیدی اویائې په کوبانو کښې هم پدومره اندازې سره لاندې محفوظ ساتلې دی چې دانسان په قدرت اووس اوطاقت کښې دی

﴿وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابٍۭ بِهِۦ﴾ پدیکښې یو قسم تخویف دنیوی دې یعنی الله ﷻ پدې قادردې چې دغه محفوظ کړې شوې اوبه اوچې کړی اوانسانان اوڅاروي دتندې دلاسه هلاك کړی دغه شان ذکرپه سورة الملك ایت نمبر (۳۰) کښې هم دې.

﴿فَأَنشَأْنَا لَكُم بِهِۦ﴾ دادریمه حصه ددلیل عقلی ده داسفلي دې اوتخصیص د ﴿نَّخِيلٍ وَأَعْنَٰبٍ﴾ یعنی دکهجورې اوانګور دوجهې دشرافت اوکثیرالمنفعت نه دې اوخاص طورعربو کښې ددې

استعمال ډیرزیات وو او دغه شان دافاکه هم ده اوغذا هم ده من وجه. اوبیا اوله میوه یعنی کهجور داونې په نوم سره ذکرشوه اومیوه ذکرنشوه په خلاف دانګورنه چې هلته دمیوې نوم ذکرشویدې. ځکه چې دکهجورې په اونه کښې ډیرزیات منافع دي او دانګورپه میوه کښې اګرچه منافع ډیردي خو بوټه ئې مقصود ندې. په هغې کښې دکهجورې پشان ډیرمنافع نیشته دي

﴿لَكُمْ فِيهَا فَوَاكِهُ كَثِيرَةٌ﴾ددینه مراد دکهجورې او انګورنه سیوا نورې میوې دی. ﴿وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ﴾ "من" یاتبعیضیه دې او اکل نه مراد حقیقي معنی ده. یعنی ځنې میوې تاسو خورئ. نو په دیکښې اشاره ده چې ددې میوونه تاسو دخوراك نه علاوه نورې فائدې هم ترینه حاصلوئ لکه تجارت وغیره شو. اوبیا من ابتدائیه دې او د اکل نه مجازي معنی مرادده. یعنی تعیش. یعنی روزی ګټل یعنی پدې میوو سره تاسوخان له روزی پیدا کوئ

وَشَجَرَةً تَخْرُجُ مِن طُورِ سَيْنَاءَ تَنبُتُ بِالدُّهْنِ وَصِبْغٍ لِّلْآكِلِينَ ﴿٢٠﴾ وَإِنَّ لَكُمْ
اوپیداکړې موږ هغه اونه چې راوځي دغره دسیناء نه راټوکوي تیل اوسالن دخوراك کوونکو دپاره اوبیشکه ستاسو دپاره
فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً ۖ نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهَا وَلَكُمْ فِيهَا
په څارووکښې خامخا عبرت دې. څکوو په تاسو دهغې نه چې په خیټو دهغې کښې دی اوتاسولره په هغې کښې
مَنَافِعُ كَثِيرَةٌ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿٢١﴾ وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُونَ ﴿٢٢﴾
فائدې ډیرې دي اوبعضې دهغې نه تاسوخورئ اوپه دغه څارووباندې اوپه کشتوباندې سوره ولی شئ تاسو

﴿وَشَجَرَةً تَخْرُجُ﴾داهم ددلیل عقلي ددریمې حصې یعنی سفلي یو قسم دې او ﴿وَشَجَرَةً﴾عطف دې په ﴿جَنَّٰتٍ﴾باندې اود ﴿فَأَنشَأْنَا لَكُم﴾تحت واقع دې اوددینه دخونه ونه مراد ده.

طورسیناء مشهورغردې په ملك شام کښې چې حضرت موسیٰ علیه السلام پرې دالله جل جلاله سره همکلام شوې وو اوطور دعربی یانبطی یادحبشی یادسریانی ژبې لفظ دې، وئیلې کیږی غرته، اوسیناء په دغه مذکورژبوکښې وئیلې کیږی هغه غرته چې پکښې ډیرې اونې وي نو په غره کښې چې خومره زیاتې اونې وي نوهومره خائسته ښکاري نوددې وجهې نه بعض مفسرینو ئې ترجمه په خائسته غره سره کړیده، نو طور عام غرته وئیلې کیږی او سیناء معنی ده مبارك یاخائسته، او اضافت د

طور ،سيناء ته دقبيلي داضافت دعام دي خاص ته، اوبعض فرمائي چې مضاف اومضاف اليه مجموعه علم گرځيد ليدى دمخصوص غرډپاره لكه امرؤ القيس پشان.

﴿تَنْبُتُ بِالدُّهْنِ ﴾دا جمله صفت د ﴿وَشَجَرَةً﴾دپاره دي اوپه﴿تَنْبُتُ﴾كښ دوه(۲)قرائتـه راغليدى يوقراءت دابن كثير رحمه الله دي چې په ضمي د تاء اوپه كسرې د باء سره منقول دي اوداد ثلاثي مزيد افعالو نه دي، نو پدې اعتبار باء په بالدهن كښ زائده ده او "الدهن" مفعول د ﴿تُنْبِتُ﴾دپاره دي اودويم قراءت دجمهورقراؤودې چې په فتحې د تاء اوپه ضمې د باء سره منقول دي دثلاثي مجردنه دي نو پدې اعتبار باء يامصاحبت اوملابست دپاره ده اومتعلق ئې محذوف دي چې متلبسة يامصحوبة دي اوهغه حال واقع شويدي دضميرفاعل دتنبت نه اى تنبت متلبسة اومصحوبة بالدهن(روح) يعنى چې دااونه پيدا كيږي نوتيل هم ورسره وي اوددې دهن اوتيلونه دزيتون مراد دي چې په هغې سره غوړول هم كيږي اودخوراك په ځائ هم استعماليږي.

﴿وَصِبْغٍ لِلْآكِلِينَ ﴾دا عطف دي په الدهن باندې اوصبغ په اصل كښ رنگ تـه وئيلي كيږي، دلته ترينه مراد سالن دي اوصبغ اودهن په اعتبارد ذات سره واحد دى اوپه اعتبار دمفهوم سره مغايردى نو ځكه صبغ په﴿بِالدُّهْنِ﴾باندې عطف كړې شو ،اوپه عربو كښ به بهترين سالن زيتون تيل حسابيدو اوپه احاديثو كښ هم ددې پرفضيلت راغليدې، حضرت ابوهريرة رضي الله عنه دنبى پاك ﷺ نه نقل كړيدى چې نبى كريم ﷺ اوفرمائيلو چې كلوا الزيت و ادهنوا به فانه شفاء من سبعين داء منها الجذام(روح بحواله ابونعيم) يعنى تاسو زيتون خورئ اوپه هغې سره ځانونه غوړه وئ داد اوياؤ ۷۰ مرضونو علاج دي چې په هغې كښ يو مرض جذام دي.

﴿وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ ﴾دا دريم دليل عقلي دي يعنى په ځاروو كښ هم ستاسو دپاره په توحيد باندې دلائل موجود دي﴿نُسْقِيكُمْ مِمَّا فِي بُطُونِهَا ﴾ مما په اصل كښ من ما دي نو من تبعيضيه دي اوماعبارت دي دالبان يعنى پيؤ نه اوبطون نه مراد حقيقي بطن يعنى صرف خيټه نده مراد ، بلكه مرادترينه جوف دي ځكه چې پئ په غولانځو كښ وي اوپه خالص خيټه كښ نوي اوكچرته بطن حقيقي معنى مراد شي نو بيابه من ابتدائيه وي اوما به دهغه تول خوراك نه عبارت وي چې ځاروي ئې كوي اودهغې په نتيجه كښ بياځاروي پئ وركوي نودايت مقصدبه داشي چې دځاروو

دخیتي دغوشانو اوويني نه بالکل صاف ستهرا پئ تاسو ته الله ﷻ درکوي ﴿وَلَكُمْ فِيهَا مَنَافِعُ﴾ يعنی دپیونه علاوه نورپکښ هم ډيري منافع دي لکه کچ. غوړي پشان قیمتی خوراکونه دَدینه دي اودغه شان دڅاروو دڅرمنو. ويختو اووړئ نه هم خلك ډيري فائدي اخلی اودغه شان د تجارت ذريعه هم ده

﴿وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ﴾ اکل نه عام معنی مرادده که خوراك وي اويامطلق تعيش وي لکه مخکښ تيرشويدي ﴿وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُونَ﴾ يوبله غټه فائده دڅاروو ذکرکيږي چې لکه څرنګه په اوبوکښ ستاسودپاره الله ﷻ دکشتيوبندوبست کړيدي چې په هغې باندي تاسوخپله هم سورلی کوئ اوسامانونه پکښ اوړئ نودغه شان په اوچې کښ هم الله ﷻ تاسو ته انتظام کړيدي پدي څاروو باندي تاسوسورلئ هم کوئ اوسامانونه پرې هم چلوئ. اوعلامه قرطبي رحمه الله اوالوسي رحمه الله وغيره فرمائی چې ﴿وَعَلَيْهَا﴾ ضمير اګرچه انعام ته راجع دې خو په طريقې دَصنعة الاستخدام سره، مرادترينه اوښان دی اوټول انعام ندي مراد، ځکه دَسورلئ فائده دَاوښانونه اخستلي کيږي او اوښان سفائن البر دی اوغويانونه دَسورلئ فائدې اخستلونه حديث کښ اشارة منع راغليده لکه حديث کښ دی چې مخکښ زمانه کښ يوکس په غوابانديې سوروو نوالله ﷻ هغې ته دګويائی طاقت ورکړو نوهغه غوادي سړي ته ګوياشوله چې: انالم نخلق لهذا وانما خلقت للحرث يعني مونږ دَسورلئ دَپاره نه يوپيدا کړي شوی بلکه مونږ دکاروندې دَپاره پيدا کړي شوي يو (قرطبی).

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ

اويقيناًليږلي دي مونږنوح علیه السلام دهغه قوم ته.پس اوئيل هغه ای څماقومه بندګي کوئ خاص دَالله ﷻ نيشته تاسولره

مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۚ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ مَا هَٰذَا

حقدار دبندګئ سوا دهغه نه آیانو تاسو ولي نه يريږئ؟ پس اوئيل مشرانوهغوچې کفرئی کړي وودَقوم دَهغه نه چې ندې دا

إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُرِيدُ أَن يَتَفَضَّلَ عَلَيْكُمْ ۚ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ

مګر بشر دي ستاسوپه شان غواړي چې غوره والي (مشري) حاصله کړي په تاسوباندي اوکه غوختلي الله ﷻ (رسول

لَاَنْزَلَ	مَلٰٓئِكَةً	مَّا	سَمِعْنَا	بِهٰذَا	فِيْٓ	اٰبَآئِنَا	الْاَوَّلِيْنَ ۝
نوخامخا به نی. نازلي کړي	وي ملائکولړه	ندي اوريدلي	مونږ دا خبرې	په	مشرانو	خپلو	مخکېنو کښې

﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا﴾ د دلائلو عقليو ذکر کولو نه پس اوس دلائل نقليه په توحيد باندې ذکر کيږي نو دا اول دليل نقلي دې د نوح عليه السلام نه او هر کله چې ماقبل کښې د انعاماتو حسيو ذکر وو او پېدې اياتو نو کښې انعامات معنويه ذکر دي او دغه شان ماقبل کښې ايت کښې په کشتئ باندې د سورلئ کولو ذکر وو او نوح عليه السلام او د هغه ملګرو ته هم په کشتئ سره نجات ميلاؤ شوې وو نو د دې مناسبت د وجهې نه دا واقعه په واو حرف عطف سره ذکر کړې شوه.

﴿فَقَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ﴾ (اعبدوا الله) په معنى د وحدوا الله سره دې، يعنى توحيد اختيار کړئ او شرك پريدئ، په لفظ د عبادت ذکر کولو کښې اشاره مقصود ده چې حقيقتاً عبادت هغه دې چې صرف د الله جل جلاله او کړې شي او عبادت سره د شريك جوړولو ديته د سرنه عبادت نشي وئيلې کيدلې.

﴿فَقَالَ ٱلْمَلَؤُا۟ ٱلَّذِينَ﴾ د حضرت نوح عليه السلام د دعوت په جواب کښې د قوم مشرانو په حضرت نوح عليه السلام باندې پنځه طعنونه اولګولو او ممکنه ده چې مختلف طعنونه د وجهې د مختلف طبقاتو د قوم نه وو اول طعن نى دا اولګولو چې ﴿مَا هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ﴾ دا طعن په نسبت سره د عوامو طبقې ته وو، چې دې خوستاسو غوندې يو عام انسان دې د غريبې کورنئ سره تعلق لري د عامو خلکو پشان خوراك او څکاك کوي نو دې څنګه نبى شو؟

﴿يُرِيدُ أَن يَتَفَضَّلَ عَلَيْكُمْ﴾ دا دويم طعن دې او دا طعن په نسبت سره سرمايه داره طبقې (مالدارانو) ته دې چې د نبوت په دعوې سره دې ستاسو نه مشرى اخلې او دا خبره فرعون هم د موسى عليه السلام او هارون عليه السلام په باره کښې کړې وه، لکه سورة يونس ايت نمبر (۷۸) کښې دى. ﴿وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَأَنزَلَ﴾ دا دريم طعن دې او دا طعن د مذهبى طبقې د اطمينان د پاره وو چې رسول بشر ندې بلکه رسول يو فرشته پکار ده مفعول د مشيئت محذوف دې چې (يرسل رسولا) دې. اى: (لوشاء الله ان يرسل رسولا لانزل ملائکه (بيضاوي) او سابقه دوه (۲) طعنونو کښې انکار د نبوت د نوح عليه السلام وو، او پېديکښې انکار د نبوت د مطلق بشر نه دې.

﴿مَّا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِيٓ ءَابَآئِنَا﴾ دا خلورم طعن دي او دا طعن په نسبت دقوم پرست طبقې ته وو.
چې دده دا دعوى دتوحيد زمونږ درسم او رواج نه هم خلاف ده. ځکه چې زمونږ اباء واجداد پلار.
نيکه دا نعره نوه او چته کړې. نو هـذا سره اشاره ده توحيد ته او ددوئ دا انکار يا د ضد او عناد
دوجهې نه وو او يا حقيقةً تر يوې اوږدې زمانې پورې دوئ ته پيغمبر نه وو راغلي. او د سابقه انبياء
کرامو والا تعليمات دوئ هير کړی وو

إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌۢ بِهِۦ جِنَّةٌ فَتَرَبَّصُوا۟ بِهِۦ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٢٥﴾ قَالَ رَبِّ

نه دي دا مګر يو سړی دي په ده باندې ليونتوب دي نو انتظار کوئ په باره دده کښې تر يو وخته پورې او نبل نوح ﷺ: ای ربه خما

ٱنصُرْنِى بِمَا كَذَّبُونِ ﴿٢٦﴾ فَأَوْحَيْنَآ إِلَيْهِ أَنِ ٱصْنَعِ ٱلْفُلْكَ

امداد او کړې خما په سبب ددې چې دوئ ماته دروغژن وائي. پس وحې او کړه مونږه ده ته چې جوړه کړه کشتئ

بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا فَإِذَا جَآءَ أَمْرُنَا وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ ۙ

په مخامخ دسترګو زمونږ (نګرانئ زمونږ کښې) او په وحې زمونږ سره پس کله چې راشي حکم دعذاب زمونږ او اُخوتکيږي تنور

فَٱسْلُكْ فِيهَا مِن كُلٍّ زَوْجَيْنِ ٱثْنَيْنِ وَأَهْلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ

نو ورننه باسه په کشتئ کښې دهر قسم حيوان نه جوړې دوه (۲) او اهل خپل ماسوا دهغه چانه چه مخکښې شويده

عَلَيْهِ ٱلْقَوْلُ مِنْهُمْ ۖ وَلَا تُخَٰطِبْنِى فِى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ ۖ

په هغه باندې فيصله دعذاب ددوئ نه. او مه کوه خبرې ماسره په باره دهغه کسانو کښې چې ظلم ئې کړيدي

إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ ﴿٢٧﴾ فَإِذَا ٱسْتَوَيْتَ أَنتَ وَمَن مَّعَكَ عَلَى ٱلْفُلْكِ فَقُلِ

بيشکه دوئ غرق کولې کيږي. پس هرکله چې برابر شې ته او هغه خوک چې ستاسره دي په کشتئ باندې نو اوايه ته چې

ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى نَجَّىٰنَا مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٨﴾ وَقُل

ټول صفات دالوهيت خاص دي الله تعالی لره هغه ذات چې خلاصې راکړيدې مونږ له دقوم ظالمانو نه او اوايه ته

رَّبِّ اَنْزِلْنِیْ مُنْزَلًا مُّبٰرَكًا وَّاَنْتَ خَیْرُ الْمُنْزِلِیْنَ ﴿۲۹﴾ اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیٰتٍ

ای ربه خما راکوزکړې ماځئ دکوزېدلو برکت والا ته اونه غوره نې دکوخوونکونه بیشکه پدیکښې خامخاعبرتونه دي

وَّاِنْ كُنَّا لَمُبْتَلِیْنَ ﴿۳۰﴾

اوبیشکه مونږامتحان کوونکي یو

﴿اِنْ هُوَ اِلَّا رَجُلٌ﴾ دا پنځم طعن دې او دا طعن د سابقو ټولو طعنونونه لوئ او د ټولو مجموعه ده. چې دده دعوی د نبوت (العیاذبالله) د لیونتوب د وجهې نه ده چې دې لیوني دې ځکه داخبرې کوي اولیوني خو پیغمبرنوي اونه دَهغه خبره قابل اعتباروي اود لیونی نه دخلاصئ دوه (۲) طریقې دی یو (۱) داچې دده لیونتوب ختم شي اوروغ شي. دویم (۲) داچې مړشي. نو دامقصد دی د ﴿فَتَرَبَّصُوْا بِهٖ حَتّٰی حِیْنٍ﴾ چې دو مره انتظار او کړئ چې یا خودې روغ شي نوخپله دادعوی به پریدی اویابه مړشي. نو تاسو به ترینه په ارام شئ.

﴿قَالَ رَبِّ انْصُرْنِیْ﴾ نهه نیم سوه (۹۵۰) کاله مسلسل دعوت ورکولونه پس حضرت نوح علیه السلام ته د وحي په ذریعه پته اولګیده چې چاایمان راوړو نوهغوئ ایمان راوړې دې مزید نورخلك ایمان نه راوړي لکه سورة هود ایت نمبر (۳۶) کښې دی، نو حضرت نوح علیه السلام دد غه ازلي بدبختو د هلاکت بددعااوکړه نو باء په ﴿بِمَا كَذَّبُوْنِ﴾ کښې سببیه ده او ما مصدریه ده. او ﴿كَذَّبُوْنِ﴾ په تاویل د مصدر سره اضافت ئې شویدې یاء د متکلم ته چې په حالت د وقف کښې حذف شویده او اکتفاء په کسرې باندې شویده، نومعنی ئې داشوه بسبب تکذیبهم ایای (روح) اویا باء موصوله ده او ﴿كَذَّبُوْنِ﴾ جمله ورله صله ده اوعائد محذوف دې چې به دې ای انصرنی بالذی کذبونی بـه (روح) اوموصول عبارت دې د عذاب موعوده نه، یعنی خماامداد په هغې عذاب سره اوکړې چې مابه ترینه دوئ ته یره ورکوله اودوئ به دهغې په باره کښې خماتکذیب کولو

﴿فَاَوْحَیْنَآ اِلَیْهِ﴾ پدیکښې د حضرت نوح علیه السلام د دعاء قبولیت اود قوم هلاکت اود مؤمنانو د هلاکت نه دنجات سد بیرذکرکیږی ﴿اَنِ اصْنَعِ الْفُلْكَ﴾ غوره قول دادې چې ان مفسره دې یعني حضرت

نوح عليه السلام ته د الله تعالی د طرف نه د کشتئ جوړولو حکم او تعليم ورکړې شو ، ﴿بِأَعْيُنِنَا﴾ اعين جمع د عين ده او د اجمع د پاره د مبالغې ده او مراد ترينه حفاظت او نګراني ده لکه دا منقول دی د ابن عباس رضي الله عنه نه او په ځنې اسرائيلي او تاريخي رواياتو کښې دي چې الله تعالی حضرت جبرئيل عليه السلام را اوليږلو او هغه به حضرت نوح عليه السلام ته د کشتئ جوړولو طريقه خودله حضرت نوح عليه السلام به دوه «۲» کالو کښې دا جوړه کړه چې د دې اوږدوالي درې سوه «۳۰۰» ګزه او پلن والي پنځوس «۵۰» ګزه او اوچتوالي ئې ديرش «۳۰» ګزه وو «والله اعلم» د دې ايت ځنې تفصيل په سورة هود ايت نمبر «۴۰» کښې تير شويدې

﴿فَإِذَا جَآءَ أَمْرُنَا﴾ يعنې چه کله کشتئ جوړه شي نو بيا به زمونږ د طرف نه عذاب راځي نو امرنا نه مراد امر د عذاب دې . ﴿وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ﴾ د اعلامه وه د نوح عليه السلام د پاره چې د دينه پس بيا په کشتئ کښې سوريدل وو ﴿فَٱسْلُكْ﴾ مراد ترينه داخلول او سواره کول دی . ﴿مِن كُلٍّ زَوْجَيْنِ﴾ غوره قول دا دې چه کلّ د استغراق عرفي د پاره دې او استغراق حقيقي ندې او تنوين پکښې عوض د مضاف اليه نه دې يعنې من کل نوعٍ او په سورة هود کښې تير شويدی چې «اثنين» ذکر د تعين د احد الاحتمالين د پاره دې . ځکه چې د «زوجين» اطلاق کله په څلورو باندې کيږی او کله په دوه «۲» باندې ځکه چې زوجين تثنيه د زوج ده نو د دې زوج يعنې واحد اطلاق کله په مجموعې د هغه دوه «۲» څيزونو باندې او شي چې يو بل ته محتاج وي ، لکه مذکر ، مؤنث دا يوه جوړه ده په پرتوګ ، قميص دا يوه جوړه ده نو پدې مجموعې باندې اطلاق د زوج کيږی نو پدې اعتبار سره د زوجين يعنې تثنيې اطلاق په څلور افرادو باندې کيږی او کله د زوج اطلاق صرف په يو «۱» فرد باندې او شي لکه صرف خاوند ته زوج وئيلې کيږی نو پدې اعتبار سره د زوجين يعنې تثنيې اطلاق صرف په دوه «۲» افرادو باندې کيږی نو دلته دا دويمه معنې مراد وه نو ځکه د تعيين د پاره اثنين ذکر شو .

﴿إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيْهِ﴾ د دينه يا مراد د نوح عليه السلام کافر بچې کنعان او کافره بی بی ده او يا ترينه ټول کفار مراد دی ، تفصيل په سورة هود کښې تير شويدی . ﴿إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ﴾ يعنې دوئ محکوم عليه بالاغراق دی يعنې د غرق کيدلو فيصله پرې کړې شويده .

﴿فَإِذَا ٱسْتَوَيْتَ ﴾په دیکښ تصریح ده چې دَمصائبو او تکالیفو نه نجات ورکوونکې صرف الله ﷻ دې. ﴿فَقُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى ﴾هرکله چې نجات دَظالم نه ډیر لوئ نعمت وو نو ځکه نوح ﷺ ته امر په شکر او حمد باندې او کړې شو .او دلته تصریح په هلاکت او نشوه بلکه تصریح په نجات باندې او شوه یعنی داسې او نوئیلې شو «فقل الحمدلله الذی اهلك القوم الظلمین» بلکه ﴿نَجَّىٰنَا﴾ او ئیلې شو اګرچه دا متضمن دې معنی دَهلاکت لره .دَپاره دَاشارې دیته چې محض دَچا په تکلیف باندې خوشحاله کیدل ندی پکار اګرچه دشمن ولې نوې البته دَظالم په مرګ او هلاکت باندې دَدې وجهې نه خوشحاله کیدل چې مخلوقاتو ته دَده دَظلم نه نجات میلاؤ شو جائز او مستحسن دی او دغه شان په دیکښ اشاره ده چې دَظالم په مرګ او هلاکت باندې الحمد لله وئیل جائز او مستحسن دی

﴿وَقُل رَّبِّ أَنزِلْنِى ﴾په دیکښ تصریح ده چې برکات ورکوونکې ذات هم صرف الله ﷻ دې﴿مُنزَلًا﴾ یا مصدر میمي دې په معنیٰ د انزال سره یعنی انزلنی انزالا مبارکا او یا ظرف دې یعنی ځائ دکوځیدلو ،ای انزلنی موضعا مبارکا او "مبارکا" مقصد دا دې چې هلته دَدشمن نه نجات او سلامتیا وي. دَرزق کثرت وي او دَالله ﷻ عبادت او دَهغه دَدین اشاعت وي.
قرطبی رحمه الله فرمائی چې په دې ایت کښ تعلیم دې چې څوك کشتئ ته خیژي. یا کوزیږی او یا یو ځائ ته داخلیږي نو دا دعا او لوستل پکار دی، دَحضرت علی رضی الله عنه په باره کښ مروي دی چې هغه به جمات ته داخلیدلو په وخت کښ هم دا دعا لوستله او حضرت قتاده رحمه الله نه مروي دی چې دَاوبو والا سورلئ ته ختلو په وخت کښ ،بسم الله مجریها (هود :۴۱) او دَاوچې سورلئ ته ختلو وخت کښ سبحٰن الّذی سخّرلنا (زخرف ۱۳) او دکوزیدلو په وخت کښ دا مذکوره دعا یعنی ربّ انزلنی منزلاً او یو ځائ ته، کلي او علاقې ته داخلیدلو په وخت کښ ربّ ادخلنی مدخل صدق (الاسراء: ۸۰) وئیل پکار دی (کبیر ص۲۷۳)

﴿إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ﴾په ذٰلك سره اشاره واقعې مذکورې ته ده چې نجات دَ مؤمنانو او اهلاك دکفارو دې یعنی په دې واقعې مذکورې کښ دَالله ﷻ دکمال قدرت ډیر دلائل دی. "وان کنّا لمبتلین" ان مخففه من المثقله دې اسم ئې ضمیرشان محذوف دې او لمبتلین کښ لام فارقه دې یعنی دَدې لام په

ذريعې سره ان نافيه او ان مخففه په مينځ کښې فرق راځي. او "مبتلين" يا مشتق دي د بلاء نه په معنی د معذبين سره او يا مشتق دي د ابتلاء نه په معنی د مختبرين سره دې يعنې پېدې واقعې سره مقصود ازمائش او امتحان وو چې انسانان پدې سره عبرت واخلي او ايمان راوړي

ثُمَّ أَنْشَأْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ قَرْنًا آخَرِينَ ﴿٣١﴾ فَأَرْسَلْنَا فِيهِمْ رَسُولًا مِنْهُمْ

بيا پيدا کړه مونږ وروستو د دوئ د هلاکت نه نيرئ بله. پس او ليږلو مونږ په هغوئ کښې رسول هود د هغوئ نه

أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۖ

دا موورته او وئيل چې بندګي کوئ خاص د الله ﷻ نيشته تاسو لره حقدار د بندګئ سوا د هغه نه

أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٣٢﴾ وَقَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِهِ الَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا

آيا پس نه بچ کيږئ تاسو د شرک نه او وئيل مشرانو د قوم د هغه نه هغه کسانو چې کفرئې کړې وو او د روغژن ئې ګڼړلو

بِلِقَاءِ الْآخِرَةِ وَأَتْرَفْنَاهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا مَا هَٰذَا إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ

ملاقات د اخرت او بدمسنه کړي وو مونږ دوئ په ژوند د دنيا کښې چې ندې دې مګرېنده دې پشان ستاسو

يَأْكُلُ مِمَّا تَأْكُلُونَ مِنْهُ وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُونَ ﴿٣٣﴾ وَلَئِنْ أَطَعْتُمْ

خوراک کوي د هغې نه چې تاسو خوراک کوئ د هغې نه او څښاک کوي د هغې نه چې تاسو ئې څښئ. او کچرې فرمانبرداري او کړه تاسو

بَشَرًا مِثْلَكُمْ إِنَّكُمْ إِذًا لَخَاسِرُونَ ﴿٣٤﴾ أَيَعِدُكُمْ أَنَّكُمْ إِذَا مِتُّمْ وَكُنْتُمْ

ديوبنده چې ستاسو پشان وي بيشکه تاسو به بې د غه وخت تاوان والا آيا وعده کوي دې تاسو سره چې يقيناً کله مړه شئ او شئ تاسو

تُرَابًا وَعِظَامًا أَنَّكُمْ مُخْرَجُونَ ﴿٣٥﴾ هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا تُوعَدُونَ ﴿٣٦﴾

خاورې او هډوکي نو بيشکه تاسو به بيا راويستلې کيږئ لرې ده لرې ده هغه چې تاسو سره ئې وعده کيدې شي

﴿ثُمَّ أَنْشَأْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ﴾ د دينه مراد قوم عاد وغيره دي. ﴿فَأَرْسَلْنَا فِيهِمْ رَسُولًا﴾ دا دويم دليل نقلي دې د پاره د نفي د شرک فی التصرف او غوره قول دا دې چې د ﴿رَسُولًا﴾ نه مراد حضرت

هود ﷺ دي او دا واقعه دقوم نوح نه بعد قوم عاد دزمکي خليفګان جوړکړې شوی وو او دغه شان په سورة الشعرآء کښې هم دقوم نوح واقعې نه بعد دقوم عاد واقعه ذکرکړې شويده. نومعلومه شوه چې دلته هم د ﴿رَسُولًا ﴾نه مراد هود ﷺ دي.داقول منقول دي دابن عباس رضی الله عنهمانه اوديته اکثرو مفسرينو ذهاب کړيدي. او بعض فرمائی چې ددينه مراد صالح ﷺ او دهغه قوم ثمود يان دی اودليل ئی دا پيش کړيدي چې ددې واقعې په اخيرکښې عذاب دصيحې (چغې) ذکر دي او عذاب دصيحې په ثمود يانو راغلي وو او په عاديانو نه وو راغلي بلکه هغوئ دسيلئ په عذاب سره هلاك کړې شوی وو ،ليکن قرطبی رحمه الله اوآلوسي رحمه الله ترينه جواب کړيدي چې (۱)ممکنه ده چې دواړه قسمه عذابونه دې په عاديانو باندې جمع شوی وی سيلئ سره سره دې په فرشتې چيغه هم وهلې وي (۲) او دا هم ممکنه ده چې دصيحې نه مراد دلته مصطلحه صيحه نشي ،بلکه مرادترينه مهلکه سزا او سخت ترين عذاب شي او په سخت او مهلك عذاب باندې اطلاق دصيحې کيږي لکه پدې قول دشاعر کښې:

صاح الزمان بآل برمك صيحة- خروا لشدتها على الاذقان

(۳)او بعضو ترينه دا جواب کړيدي چې مراد دالصيحة نه هغه سخت آواز دسيلئ دي لکه سورة الحاقه کښې ددغې سيلئ صفت صرصر بيان شويدې او سيلئ چې کله ډيره تيزه وي نو آواز کوي نودې وجهې نه دلته ئی صفت صيحة بيان شويدې او بعضو وئيلي دی چې ددينه مراد شعيب ﷺ او دهغه قوم دي ليکن دا قول ډير ضعيف دې ځکه چې ددې قصې په اخيرکښې دی (ثم ارسلنا رسلناترا)يعنی ددې قوم دهلاکت نه بعد پرله پسې ډير رسولان راغلو حتی چې موسی ﷺ هم راغې نو کچرته ددينه مراد حضرت شعيب ﷺ شي نو بيادا يت معنی نه صحيح کيږي، ځکه چې دشعيب ﷺ او دموسی ﷺ په مينځ کښې نور انبياء کرام ندي راغلي.

﴿وَقَالَ ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِهِۦ﴾دهود ﷺ ددعوت په جواب کښې هم دقوم مشرانو هغه اوئيل کوم چې نوح ﷺ ته خپل قوم وئيلی وو ﴿ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَكَذَّبُوا۟ ﴾ دا دواړه صفات يعنی کفر او تکذيب دپاره دبيان دغلو د کفر دوئ او مزيد قباحت ددوئ دپاره ذکرکړې شويدي او يا صفات احترازيه دی ځکه چې ځنې مشران داسې وو چې کفر او تکذيب ئی نه وو کړی بلکه ايمان ئی راوړې وو.

﴿وَأَتْرَفْنَٰهُمْ﴾ دا سبب د کفر او تکذیب د دوئ بیانیږي چې د دنیا په عیش و عشرت کښې انهماك او مال باندې حرص د دوئ د کفر د پاره ذریعه او ګرځیدله ﴿مَا هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ﴾ دا هم هغه اعتراض دې چې قوم نوح علیه السلام په نوح علیه السلام باندې کړې وو.

﴿يَأْكُلُ مِمَّا تَأْكُلُونَ مِنْهُ﴾ مراد ترینه ټول لوازم د بشریت دی او د ﴿تَشْرَبُونَ﴾ نه ورستو عائد "منه" محذوف دې په قرینې د اول "منه" سره

﴿وَلَئِنْ أَطَعْتُم بَشَرًا﴾ یعنی هود علیه السلام ته په تاسو باندې څه فضیلت ندې حاصل، بلکه ستاسو پشان یو بشر دې چې بیا هم تاسو د ده خبره منئ او د خپلو معبودانو عبادت پریدئ نو دا خو ستاسو ډیر لوئ ذلت دې، اکثر مفسرین فرمائی چې "واو" دلته قسمیه دې او "لام" په لئن اطعتم کښې موطئه للقسم دې، او ﴿إِنَّكُمْ إِذًا لَّخَٰسِرُونَ﴾ جمله جواب قسم دې او جواب شرط ندې څکه چې د شرط په جواب کښې فاء داخلیږي (کله چې جمله اسمیه وی) نو جواب شرط محذوف دې چې په هغې باندې جواب قسم دلالت کړیدې

﴿أَيَعِدُكُمْ أَنَّكُمْ﴾ استفهام یا انکاري دې او دا یو بل اعتراض وو د قوم عاد د طرف نه په هود علیه السلام باندې خلاصه ئې دا ده چې مونږ د ده نبوت څکه نه منو چې دې د بعث بعد الموت قائله دې او بعث بعد الموت خو نیشته دې څکه چې خلاف عقل دې او یا استفهام تقریری دې او مقصود پدې سره د ماقبل جملې یعنی د خسران تقریر او وضاحت دې یعنی که تاسو د ده خبره منئ او اطاعت ئې کوئ نو نقصان کښې به وئ څکه چې دې خو د بعث بعد الموت قائله دې او پدې عقیدې سره انسان د دنیا د عیش و عشرت او ازاد زندګئ تیرولو نه محرومیږی. ﴿أَنَّكُم مُّخْرَجُونَ﴾ دا دویم څلې "انکم" تاکید دې د اول "انکم" د پاره او ﴿أَنَّكُم مُّخْرَجُونَ﴾ خبر دې د اول "انکم" د پاره، نو د عامل او معمول په مینځ کښې طول فصل او بعد د وجهې نه تاکیداً تکرار د "ان" اوشو.

﴿هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ﴾ دا اسم فعل په معنی د بَعُدَ ماضی سره دې او مکرر استعمالیدل یا د دې وجهې نه دې چې اول "هیهات" نه مراد عقلاً بُعد دې او دویم "هیهات" نه مراد نقلاً بُعد دې، یعنی عقلا او نقلا بعث بعدالموت بعیده خبره ده او یا تکرار د پاره تاکید دې یعنی بعث بعد الموت ډیره بعیده خبره ده

دَعقل نه، او دا لفظ په كلام عرب كښې مكرر استعماليږي، دَبعض شعرا په كلام كښې اګرچې بلا تكرار استعمال شوي دي خو هغه شاذ دي او ﴿لِمَا تُوعَدُونَ﴾ كښې لام يا متعلق دي په محذوف پورې چې هغه لفظ دَتصديق دي اي هيهات هيهات تصديق لماتوعدون او يا لام دَپاره دَبيان دې لكه په هيت لك كښې لام دَپاره دَبيان دي دلته هم لام بيان دَمستبعد او كړو، چې هغه بعيد دَعقل نه څه شي دي؟ نو ﴿لِمَا تُوعَدُونَ﴾ سره بيان اوشو او يا لام زائده دي او ﴿لِمَا تُوعَدُونَ﴾ فاعل دَ ﴿هَيْهَاتَ﴾ دَپاره دي.

إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا نَحْنُ
نيشته دي نور ژوند مګر صرف ژوند زمونږ د دنيا دې مره كيږو مونږ او پيدا كيږو مونږ او نه يو مونږ
بِمَبْعُوثِينَ ﴿٣٧﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا وَمَا نَحْنُ
چه دوباره به راژوندي كړې شو، ندې دا (هود) مګر يو سړي دې چې جوړ كړې نې دې په الله ﷻ باندې دروغ او نه يو مونږ
لَهُ بِمُؤْمِنِينَ ﴿٣٨﴾ قَالَ رَبِّ انصُرْنِي بِمَا
ده له ايمان لرونكي (دده په خبره يقين كوونكي)، هود (ﷺ) اوئيل اې ربه خما مدداوكړې خما په دې وجه
كَذَّبُونِ ﴿٣٩﴾ قَالَ عَمَّا قَلِيلٍ لَّيُصْبِحُنَّ نَادِمِينَ ﴿٤٠﴾ فَأَخَذَتْهُمُ
چې دوئ دروغژن واني ماته. اوئيل الله ﷻ چې ورستو دلږ وخت نه خامخا به اوګرځي دوئ پښيمانه. پس اونيولو دوئ لره
الصَّيْحَةُ بِالْحَقِّ فَجَعَلْنَاهُمْ غُثَاءً ۚ فَبُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿٤١﴾
چيغې هيبت ناكې په عذاب حق سره پس اوګرځول مونږ دوئ خس خاشاك پس هلاكت دې قوم ظالمانو لره
ثُمَّ أَنشَأْنَا مِن بَعْدِهِمْ قُرُونًا آخَرِينَ ﴿٤٢﴾ مَا تَسْبِقُ مِنْ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسْتَأْخِرُونَ ﴿٤٣﴾
بيا پيدا كړې مونږ ورستو ددوئ نه پيړئ نورې. نه وړاندې كيږي هيڅ امت دَخپلې نيتې نه او نه ورستو كيږي

﴿إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا﴾ دا تاكيد دي دَماقبل دَپاره ﴿نَمُوتُ وَنَحْيَا﴾ دَدې مقصد دا دي چې ژوندون صرف دا دي چې مونږه ئې په سترګو وينو چې بعضې مره كيږو او بعضې پيدا كيږو، نورې زندګئ

نيشته دي اودَ ﴿نَمُوتُ وَنَحْيَا﴾ مقصد داندي چې مونږه به مړه کيږو او بيابه ژوندي کيږو. ځکه چې دامقصد مخالف دي دَسياق اوسباق دکلام نه. ﴿إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ﴾ يعنى دَهود عليه السلام ادعاء نبوت اوعقيده دَحشر نشر (العياذبالله) افتراء ده په الله جل جلاله باندي.

﴿قَالَ رَبِّ ٱنصُرْنِى﴾ حضرت هود عليه السلام چې کله دَخپل قوم دَايمان راوړلو نه. مايوسه شونو دَهغوئ د هلاکت بد دعائی اوکړه اودا تصريح ده په دې چې انبياء کرام محتاجه وو الله جل جلاله ته نو معلومه شوه چې مشکل کشا، حاجت روا صرف الله جل جلاله دې.

﴿قَالَ عَمَّا قَلِيلٍ﴾ الله جل جلاله حضرت هود عليه السلام ته دَدعا قبليدلو خبرورکړو او عن په ﴿عَمَّا﴾ کښې په معنى دَبعدُ سره دي او ما زائده ده دَتاکيد دَقلت دَپاره ده او قليل صفت دې دَ زمن محذوف دَ پاره اي: بعدزمنٍ قليلٍ، اوداهم جائزه ده چې ما نکره موصوفه شي اوقليل ورله صفت شي يعنى الله جل جلاله ورته اوفرمائيلو چې صبر اوکړه ډيرلږ وخت ورستو په دوئ باندې عذاب راتلونکې دې

﴿لَّيُصْبِحُنَّ نَـٰدِمِينَ﴾ اکثر عذابونه په وخت دَصبا کښې راغليدى نوځکه ليصبحن اونيلې شواو ﴿نَـٰدِمِينَ﴾ مقصد دادې چې کله دوئ معاينه اومشاهده دَعذاب اوکړى نو په دغه وخت کښې به دوئ په دې خپل کفر اوتکذيب باندې به پښيمانه شي، ليکن په دغه وخت کښې پښيمانتيا فائده نه ورکوي

﴿فَأَخَذَتْهُمُ ٱلصَّيْحَةُ﴾ تفصيل ئې مخکښې تيرشويدې چې دَسيلئ سره سره په دوئ باندې عذاب دَصيحې هم راغلې وو اوياد صيحة نه مراد مهلك عذاب دې اوياترينه مراد صيحه دَسيلئ ده.

﴿بِٱلْحَقِّ﴾ جار مجرور متعلق دي په اخذت پورې او حق نه مراد هغه عذاب ثابت دې چې ماسوا دَ الله جل جلاله نه څوك هم دَهغې دَپاره دفع کوونکې نه وو (روح) اويا حق په معنى دَعدل او استحقاق سره دې، يعنى دوئ ته عذاب ورکول اودوئ هلاکول په عدل سره وو يعنى دوئ ئې مستحق

وو (کبير) ﴿فَجَعَلْنَـٰهُمْ غُثَآءً﴾ غثاء هغه خس وخشاك ته وئيلې کيږى چې دَسيلاب په وخت کښې دَابو دَپاسه روان وي، په دې کښې اشاره ده سختئ دعذاب ته، چې قوم عاد باوجود دَدې چې دَ من اشدّ منا قوّة نعره ئې لګولې وه، خو دالله جل جلاله دَعذاب په مخکښې بالکل بې حيثيته وو. لکه څرنګه

چې د سیلاب د پاسه خس وخشاك بې حیثیته روان وي ﴿فَبُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ﴾ دا په معنی د
بدعا سره دي او د دینه مخکښې فعل مقدر دې چې بعّدوا دي لکه شکرا،سقیا،جدعاوغیره شو
﴿ثُمَّ أَنْشَأْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ﴾ دا دریم دلیل نقلي دې.مرادترینه قوم صالح علیه السلام. قوم لوط علیه السلام اوقوم
شعیب علیه السلام دي﴿مَا تَسْبِقُ مِنْ أُمَّةٍ﴾ امة فاعل دتسبق دي او من زائد دې.یعنی کوم وخت چې
د هلاکت د پاره مقرر وو په هغې کښې څه ردوبدل نه وو راغلې.

ثُمَّ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا تَتْرَا ؕ كُلَّمَا جَآءَ اُمَّةً رَّسُوْلُهَا كَذَّبُوْهُ

بیا اولیږلو مونږ خپل رسولان پرله پسې. هرکله چې راغې یو امت ته رسول د هغوئ نو دروغژن به اوئیل دوئ هغه ته

فَاَتْبَعْنَا بَعْضَهُمْ بَعْضًا وَّجَعَلْنٰهُمْ اَحَادِيْثَ ۚ فَبُعْدًا لِّقَوْمٍ

پس هلاك كړل مونږ بعضي د دوئ ورستو د بعضونه او اوګرځولو مونږ دوئ قصې د عبرت.پس هلاکت دي هغه قوم لره

لَّا يُؤْمِنُوْنَ ۝٤٤ ثُمَّ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى وَاَخَاهُ هٰرُوْنَ ۙ بِاٰيٰتِنَا وَ سُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ۝٤٥

چې ایمان نه لري بیا اولیږلو مونږ موسیٰ او ورود هغه هارون په خپلو نښانو (دلائلو) سره او په دلیل ښکاره سره

اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا قَوْمًا عَالِيْنَ ۝٤٦ فَقَالُوْٓا

فرعون ته او د هغه د قوم د غټانو ته نو لوئي اوکړه دوئ او وو دوئ قوم زوراور.پس اوئیل دوئ

اَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا عٰبِدُوْنَ ۝٤٧ فَكَذَّبُوْ

آیا خبره او منو مونږ د دوه سرو چې زمونږ پشان دي او قوم د دې دواړو زمونږ بندګی کوونکې دي نو دروغژن ئې اوګڼړل

هُمَا فَكَانُوْا مِنَ الْمُهْلَكِيْنَ ۝٤٨ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُوْنَ ۝٤٩

هغوئ.نو شول دوئ د هلاك كړې شوونه .او یقیناً ورکړې وو مونږ موسی ته کتاب د دې د پاره چې دوئ هدایت اومومي

وَ جَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ وَ اُمَّهٗٓ اٰيَةً وَّ اٰوَيْنٰهُمَآ

او ګرځولي دي مونږ خوئ د مریم او مور د هغه نخښه او ځائی ورکړې وو مونږ دواړو ته

﴿إِلَىٰ رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَمَعِينٍ ۝٥٠﴾

په خړبې غونډۍ باندې چې د آرام ځای او چینه دارو

﴿ثُمَّ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا﴾ اجمالي طور هغه ټول رسولان مراد دی چې د هود علیه السلام نه تر موسی علیه السلام پورې پرله پسې راغلي وو، ﴿تَتْرَا﴾ په وزن د فعلی باندې مأخوذ دې د وتر نه، او واو په تاء سره بدل شوېدې او د دینه متواتر هم دې او "تترا" او متواتر وئیلې کیږی هغه پرله پسې والی ته چې سره مهلت او فصل نه وي ﴿كُلَّ مَا جَآءَ أُمَّةً﴾ مراد په مجیئت سره دعوت ورکول دی د احکاماتو د الله تعالی ﴿كَذَّبُوهُ﴾ مراد ترینه تکذیب د اکثرو دې چونکه اکثر لره حکم دکل وي نو د دې وجهې نه نسبت د تکذیب ټولو ته اوشو. ﴿وَجَعَلْنَاهُمْ أَحَادِيثَ﴾ د اجمع د "احدوثة" ده، لکه اعاجیب جمع د اعجوبة ده او احدوثه هغې واقعې ته وئیلې کیږی چې بطور تعجب بیانیږی او مقصود ترینه عبرت وي، او اخفش فرمائی چې دا لفظ په شر کښ استعمالیږي.

﴿ثُمَّ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ﴾ دا خلورم دلیل نقلي دې په نفي د شرك في التصرف باندې، د موسی علیه السلام او هارون علیه السلام نه او ﴿بِآيَاتِنَا﴾ نه مراد نهه معجزات دی چې په سورة اعراف او سورة اسراء کښ ذکر شویدی او ﴿وَسُلْطَانٍ مُّبِينٍ﴾ نه مراد یا حجت واضحه دی او یا ورنه عصا د موسی علیه السلام مراد ده او عطف د قبیلې عطف الخاص علی العام نه دې او تخصیص ئې د پاره د تعظیم دې ځکه چې دا عصا ام المعجزات وه ډیر معجزات پدې سره صادر شوی وو، او بعض فرمائی چې ﴿وَسُلْطَانٍ مُّبِينٍ﴾ نه مراد رعب او دبدبه د موسی علیه السلام وه په دشمن باندې. ﴿إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيهِ﴾ د ملأ نه مراد یا مشران د قوم دی، او تخصیص د مشرانو ځکه اوشو چې کشران د دوئ تابع دی او یا ملاء په معنی د مطلق قوم سره دې ﴿فَقَالُوٓا أَنُؤْمِنُ﴾ دا بیان د ﴿فَاسْتَكْبَرُوا﴾ دې او ایمان چې کله متعدی شي په لام سره نو مراد تینه اطاعت او انقیاد وي، یعنی دوئ اوئیل چې مونږ د دوئ خبره او منو داخو زمونږ پشان بشر دې ﴿وَقَوْمُهُمَا لَنَا عَابِدُونَ﴾ دا بیان د ﴿قَوْمًا عَالِينَ﴾ دې یعنی د دوئ قوم بنی اسرائیل

خوزمونږ خادمان اوغلامان دی ﴿فَكَذَّبُوهُمَا﴾ مراد ترینه استمراردې په تکذیب اواصراردې په استکبار.

﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى﴾ دکتاب نه مراد تورات دې چې موسی علیه السلام ته ورستودغرق کیدلودَ فرعونیانونه.ورکړې شوې وو.

﴿وَجَعَلْنَا ٱبْنَ مَرْيَمَ﴾ دا پنځم دلیل نقلي دې دَحضرت عیسی علیه السلام اودهغه دَمورحضرت مریم رضي الله عنها نه چې حضرت مریم رضي الله عنها حمل جوړیدل، حضرت عیسی علیه السلام بغیردَپلارنه پیدا کیدل اوورکوالی کښې دَموربه غیږکښې اعلان توحید کول،داټول دَالله جل جلاله دکامل قدرت دلائل دی.

اوهرکله چې دَحضرت مریم رضي الله عنها حامله کیدل بغیردَنزدیکت دَبشرنه اوحضرت عیسی علیه السلام پیدا کیدل بغیردَپلارنه، دواړه یوه نشاني وه نوځکه آیة مفرد ذکرشو.اویاترینه مراد جنس ایة دې نوپدې اعتبارسره بیادَهریو والا جداجدا حالاتوته اشاره مقصودده لکه حضرت مریم بی بی ته بې موسمه میوې راتلل،خلاف عادت غتې دل،بغیردَنزدیکت دَبشرنه حامله کیدل وغیره شو، اوحضرت عیسی علیه السلام بغیردَپلارنه پیدا کیدل، وړوکوالې کښې خبرې کول، مړی ژوندی کول، برص مریض اومادرزاد ړوند علاج کول وغیره شو.

﴿وَءَاوَيْنَٰهُمَآ إِلَىٰ رَبْوَةٍ﴾ربوه اوچتې سطحې والا سربې زمکې ته وئیلې کیږي،(ابن کثیر) اودَ﴿ذَاتِ قَرَارٍ﴾مقصد دادې چې دغه زمکه دَاوسیدلودَپاره صالحه وه،میوې اوفصلونه پکښې وو،او "معین"مقصد دادې چې دَاوبو والاچینې پکښې وې،یعنی دې مورااوځوی ته مونږ په داسې ځائ کښې پناه ورکړه چې بلند ،میوواوفصلونواودَچینووالاځائ وو، قرآن اویااحدیث صحیحه کښې دَدې تصریح نیشته دې چې دَدینه کومه علاقه مرادده؟ دَدی وجهې نه دَدې په تعیین کښې دَ مفسرینومختلف ارآء دی، چې دَدینه مرادبیت اللحم، رمله،مصر، فلسطین، شام وغیره دې، لیکن غوره قول دادې چې ددینه مرادبیت المقدس دې اوسبب دَدې ایواء(پناه)دااووچې یو مجوسي بادشاه(هیرودس)دَحضرت عیسی علیه السلام دَقتل اراده اوکړه نوحضرت مریم بی بی دَعیسی علیه السلام سره دغې مذکورمقام ته هجرت اوکړو ،اودولس کاله ورستوچې کله الله جل جلاله دغه بادشاه هلاك کړو نودوئ واپس خپلې علاقې ته راغلو.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُواْ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعۡمَلُواْ صَٰلِحًاۖ إِنِّي بِمَا تَعۡمَلُونَ عَلِيمٞ ۵۱
اې رسولانو خورئ دحلال څيزونو نه اوعملونه کوئ نيک.بيشکه زه په هغه عملونو چې تاسو ئې کوئ پوهه يم
وَإِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ وَأَنَا۠ رَبُّكُمۡ فَٱتَّقُونِ ۵۲ فَتَقَطَّعُوٓاْ أَمۡرَهُم بَيۡنَهُمۡ
اوبيشکه دا دين ستاسو دي دين يو .او زه ستاسو رب يم پس او يريږئ زمانه. نو ټکړې کړو دوئ دين خپل په خپل مينځ کښې
زُبُرٗاۖ كُلُّ حِزۡبِۢ بِمَا لَدَيۡهِمۡ فَرِحُونَ ۵۳ فَذَرۡهُمۡ فِي غَمۡرَتِهِمۡ
ټکړې ټکړې هره فرقه په هغه دين چې ددوئ سره دي خوشحاليږي.پس پريږده دوئ لره په ګمراهئ ددوئ کښې
حَتَّىٰ حِينٍ ۵۴ أَيَحۡسَبُونَ أَنَّمَا نُمِدُّهُم بِهِۦ مِن مَّالٖ وَبَنِينَ ۵۵ نُسَارِعُ لَهُمۡ
تريو وخته پورې. آيا ګمان کوي دوئ چې بيشکه هغه چې مونږ زياته وو دوئ لره مال او ځامن دا زر بدله ورکوو دوئ ته
فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِۚ بَل لَّا يَشۡعُرُونَ ۵۶
دنيک عملونو دوجهې نه،بلکه دوئ نه پوهيږي

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُواْ﴾ دا شپږم دليل نقلي اجمالي دي دټولو انبياء کرامو نه، مخکښې دلائل په نفي دشرک فی التصرف باندې وو، او دا دليل په نفي دشرک فعلي باندې دې او د انداء او خطاب ټولو انبياء کرامو ته په خپل خپل دور او خپل خپل وخت کښې وو او ددېنه مخکښې (قلنا) مقدر دې يعنې مونږ هر پيغمبر ته په خپل خپل دور کښې دا خطاب او حکم کړې چې حلال او پاک خوراک کوئ او حلال څيزونه ته حرام مه وايئ او ناپاک څيزونه مثلا نذر لغير الله وغيره نه ځان بچ ساتئ. نو د

﴿ٱلطَّيِّبَٰتِ﴾ نه مراد هغه رزق دې چې دحرمت دشبهې نه هم پاک وي.

﴿وَٱعۡمَلُواْ صَٰلِحًا﴾ هر کله چې رزق حلال ذريعه دبرکات علمي او عملي دپاره ګرځي يعنې په حلال خوراک سره انسان ته په عبادت کښې شوق او رغبت ميلاو يږي نو ددې وجهې نه دحلال خوراک حکم ورکولو پسې متصل دعمل صالح حکم ورکړې شو او چونکه حلال خوراک سبب دقبوليت عمل صالح وو ،يعنې حلال خوراک موقوف عليه دې دقبوليت عمل صالح دپاره، نو ددې وجهې نه

دحلال خوراك حكم اول وركړې شو اوپه مشهورحديث كښې دي ان الله تعالى لايقبل عبادة من فى جوفه لقمة من حرام، يعنى الله ﷻ دهغه چاعبادت نه قبلوي چې دهغه په ګېډه كښې يوه لقمه دحرامو وي، اوپه يوبل روايت كښې دي انما لحم نبت من سحت فالنار اولى به يعنى كومه غوښه چې دحرام مال په ذريعې سره شوې وي نوهغه داورسره ډېره مناسبه ده

حكايت بعض تاريخي كتابونو واقعه ذكركړېده چې يوځلې امام شافعي رحمه الله خپل شاګرد امام احمدبن حنبل رحمه الله ته خبراوكړوچې څه ملاقات له مصرته راشه، نو امام احمدبن حنبل رحمه الله راروان شو، امام شافعي رحمه الله خپل كوركښې كوروالوته اوبچوته ډېرتاكيد اوكړوچې يوعظيم شخصيت اودوخت امام به زمونږكوركښې ميلمه وي په ښه شان دهغه ميلمستيا اوكړئ، بهرحال امام احمدبن حنبل رحمه الله چې كله راغي اوماښام روټۍ دپاره دسترخوان واچولې شواوخوراك شروع شو نو امام احمدبن حنبل رحمه الله ډېرزيات خوراك اوكړو، نودامام شافعي رحمه الله كوروالاخلك حيران شوچې داڅرنګه امام دې چې دومره ډېرخوراك كوي بياچې كله دشپې ارام دپاره ځائ جوړكړې شونودتهجد دكولودپاره اودس والااوبه هم ورته كېخودلې شوي، نوسهارچې دكور خلكو اوكتلونو هغه اوبه هم هغه شان پرتې وې، نونورحيرانه شواو امام شافعي رحمه الله نه ئې پوښتنه اوكړه چې داڅرنګه امام دې چې يوخوئې خوراك ډېرزيات اوكړو، چې دادا اهل علموشان ندې، اودويم دشپې ئې تهجدهم ندى كړى امام شافعي رحمه الله دخپل شاګرد امام احمد رحمه الله نه پوښتنه اوكړه چې داتبديلي په تاكښې كوم وخت نه راغلېده چې دشپې تهجد دې هم پرېخې دى، نو امام احمد رحمه الله ورته حقيقت حال بيان كړوچې كله ماته خوراك كېخودلې شو نوماپه هغې كښې انوارات محسوس كړل نوماته پته اولګېده چې داډېرپاك اوحلال مال دې، نوماپدې بنياد ډېر خوراك اوكړوچې پته نشته دې چې بيادغه شان پاك اوحلال رزق كله ماته نصيب كېږي اودهغې خوراك بركت وو چې ټوله شپه الله ﷻ ماته دعبادت توفيق راكړواودقرآن مجيددآيات نه سل ۱۰۰ هغه مسائل مامستنبط كړوچې تراوسه پورې ماته پكښې مشكلات وو.

﴿وَإِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمۡ﴾ داعطف دى په (كلوا) باندې اوداخطاب هم انبياء كرامو ته دې اوياخطاب عام دې انبياء كرامو اوغيرانبياؤټولو خلكوته دې اوپه (هذه) سره اشاره ده مذكوراحكاماتوته او ﴿أُمَّةً﴾ په معنى دملت اوشريعت سره دې او ﴿أُمَّةً وَٰحِدَةً﴾ حال دې دمضمون د ﴿وَإِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمۡ﴾ نه اود دې ايت تعلق دماقبل ټولودلائلوعقليواونقليوسره دې، يعني دماقبل ټولو دلائلو عقليو، نقليوته

داثابته شوه چې دټولو انبیاء کرامو ملت اوشریعت په اعتبار دَاصولو سره یو وو ، په عقیدۀ دتوحید اوپه نفي دَشرك اعتقادي اوفعلي باندې ټول متفق وو

﴿وَأَنَا رَبُّكُمْ﴾ داعطف تفسیري دې دَدینه مقصود تفسیر دَ﴿هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمْ﴾ دې او ﴿فَاتَّقُونِ﴾ په منزله دَنتیجې دې اوهرکله چې دلته په ماقبل کښې ذکر دَهلاکت دَامتونو وو ، نو ځکه ورپسې ذکر دَ﴿فَاتَّقُونِ﴾ اوشو چې داډیر مناسب دې دَتحذیر اوویرې سره اودغه شان ذکر په سورة الانبیاء کښې هم دی، خو هلته کښې دَ﴿فَاتَّقُونِ﴾ په ځائ دَ فاعبدون ذکر وو ، ځکه چې هلته کښې ماقبل کښې ذکر دَانعاماتو اواحساناتو وو نو دَهغې سره مناسب حکم په عبادت سره وو (بحر).

﴿فَتَقَطَّعُوٓاْ أَمْرَهُم﴾ دادَیو مقدر سوال جواب دې، سوال دا کیدلو چې هرکله ټول انبیاء کرام په عقیدې دَتوحید اوپه نفي دَشرك اعتقادي ،فعلي وغیره باندې متفق وو نو بیا داشرك اعتقادي اوفعلي وغیره څرنګه پیداشول؟ نو جواب ترینه اوشو چې ټولو انبیاء کرام اودَهغوئ ملتونه په توحید باندې متفق وو ،خو دنیاپرست اوخواهش پرستو مشرانو اوملایانو دامتفق دین ټکړې ټکړې کړونو ﴿فَتَقَطَّعُوٓاْ﴾ کښې ضمیر راجع دې مشرانو اوملایانوته،چې په هغې باندې ملت لفظ دلالت کریدې:الضمیرلمادل علیه الامة من اربابها (روح) په سورة الانبیاء کښې داسې ذکر په "واو" سره شویدې یعنی "وتقطعوا" وئیلی شویدی اودَ "زبرا" ذکرورسره هم نیشته دې، وجه داده چې هلته کښې اولاذکر دَانعاماتو شوې وو اوانعاماتو نه ورستو حکم په عبادت سره ورکړې شوو ،نو دَانعام اواحسان نه ورستو عبادت کښې تفرقه راتلل زر (جلتې سره) نه وی اوچې کومه تفرقه راشي نو ډیره زیاته نه نوي، نو دَدې وجهې نه هلته تفرقي ذکر په "واو" سره اوشو ،اولفظ دَ "زبرا" هم ورسره ذکر نشو ، اودلته چونکه په ماقبل کښې نفي دَشرك فعلي شوې وه اوحکم ورکړې شویدې دَحلال خوراك اودَحرام نه بچ کیدلو ،اودَخوراك (رزق) په معاملې کښې اختلافات ډیرهم دی اوزرهم پیداشویدی، نو دَدې وجهې نه دلته په فاء سره ذکر اوشو او "زبرا" لفظ هم ورسره ذکر شو.

﴿كُلُّ حِزۡبِۭ بِمَا لَدَيۡهِمۡ﴾ یعنی دوئ پدې خپل بداعمالو باندې نښپیمانه نو ، بلکه دا بداعمال ئې دَځان دَپاره ثواب باعث کنړلو اوخوشحاله وو رته، ﴿فَذَرۡهُمۡ﴾ داشکوی بطور زجر ذکر کیږی اودکفارو والایو څوحالات بیانیږي چې موجب دَعذاب دی،نو پدې ایت کښې یوحالت ذکر کیږي

چې دَ الله ﷻ دَ احکاماتو نه، غفلت او دَ ناپوهئ باوجود دَ پوهې دعوی کول دی. مراد په غمـزة سره غفلت، ضلالت او دَ ناپوهئ باوجود دَ پوهې دعوی کول دی.

﴿حَتّٰى حِيْنٍ﴾ مراد ترینه یا په دنیا کښې دَ دوئ قتل دې، او یا اخروي عذاب دې. ﴿أَيَحْسَبُوْنَ أَنَّمَا﴾ دَ امزید نور احوال موجب دَ عذاب دَ پاره ذکر کیږي چې غلط گمان. او عدم شعور دې. یعنې دوئ ته چې کوم ډیر مال او اولاد ورکړې شویدی، دَ دې په باره کښې دَ دوئ خیال دې چې دا زمونږ دَ اعمالو ښه اثر او ښه نتیجه او مونږ په حقه یو، حالانکه دا دَ الله ﷻ دَ طرف نه استدراج دې، خو دوئ نه پوهیږي نو په ﴿أَنَّمَا﴾ کښې ما موصوله اسم دَ ان دَ پاره دې او عائد پکښې محذوف دې چې (به) دې او ﴿لَا يَشْعُرُوْنَ﴾ دا دَ ﴿أَيَحْسَبُوْنَ﴾ دَ مضمون نه استدراك دې یعنې د دوئ دا گمان غلط دې چې دا دوئ دَ ښه اعمالو نتیجه ده بلکه دا استدراج دې خو دوئ دَ خاروو پشان دی یدې هم نه پوهیږي چې دا استدراج دې او که مسارعة فی الخیرات دې (کشاف).

إِنَّ الَّذِيْنَ هُمْ مِّنْ خَشْيَةِ رَبِّهِمْ مُّشْفِقُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِاٰيٰتِ
بیشکه هغه کسان چې دوئ دَ وجهې دَ ډیرې دَ رب خپل ته مینه کوونکي دي دهغه سره. او هغه کسان چه دَوئ په ایاتونو
رَبِّهِمْ يُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۸﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِرَبِّهِمْ لَا يُشْرِكُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَالَّذِيْنَ يُؤْتُوْنَ مَآ
دَ رب خپل باندې ایمان لري او هغه کسان چې دوئ دَ خپل رب سره شرك نه کوي. او هغه کسان چې ورکوي هغه څه چې
اٰتَوْا وَّقُلُوْبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلٰى رَبِّهِمْ رٰجِعُوْنَ ﴿۶۰﴾ أُولٰٓئِكَ يُسٰرِعُوْنَ فِي الْخَيْرٰتِ
ورکوي او زړونه دَ دوئ یره کوونکي وي چې بیشکه دوئ خپل رب طرف ته به گرځي. دغه کسان منډې وهي نیکو کارونه ته
وَهُمْ لَهَا سٰبِقُوْنَ ﴿۶۱﴾
او دوئ هغې ته وړاندې کیږي دَ یو بل نه

﴿إِنَّ الَّذِيْنَ هُمْ مِّنْ﴾ دا اعاده دَ صفات دَ مؤمنینو په مقابله دَ حالاتو دَ کفارو کښې یعنې کفار دنیوي وسائل او مادی منفعتونه ذریعه دَ خیر او دَ الله ﷻ دَ رضا گڼږي چې دا مادي منفعتونه څکه مونږ ته میلاؤ شویدی چې الله ﷻ زمونږ نه راضي او خوشحاله دې، حالانکه دغه مال دولت دوئ

دَپاره دَخیراوبرکت ذریعه نده بلکه دوئ دَپاره ذریعه دَعذاب ده. اصل خیروبرکت مؤمنانوته میلاویږي چې هغوئ پدې صفاتومذکوره سره متصف دی ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ هُم﴾ کښې اعاده دَمضمون ﴿ٱلَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ﴾ ده اوخشية اواشفاق دواړه جمع کول یاتاکیداً دی معنی دَدواړو یوه ده. اویاخشیة په معنٰی دعذاب سره دې، لیکن غوره خبره داده چې خشیت دَزړه حالت دې او اشفاق دَظاهري بدن او اعضاؤوحالت دې. ځکه چې اوّلاپه زړه کښې خشیت پیداشي. اوچې حدکمال ته اورسیږي نوپه ظاهري اعضاؤوکښې ئې اثرښکاره شي نوبیاورته اشفاق وئیلی کیږی چې دا کمال مرتبه دَخوف خداده (کبیر).

﴿وَٱلَّذِينَ هُم بِـَٔايَـٰتِ﴾ پدیکښې دَ﴿قَدْ أَفْلَحَ ٱلْمُؤْمِنُونَ﴾ دَمضمون اعاده ده اوغوره قول دادې چې دَایت نه مراد هرقسم ایاتونه دی که هغه تنزیلیه وي لکه قرآنی ایاتونه شو اویاتکوینیه وي لکه وجوددَمخلوقاتوچې ایات اودلائل دی په وجود دَخالق اوصانع باندې، او﴿يُؤْمِنُونَ﴾ په معنی دَیصدقون سره دې اودَدینه مرادپه نفس وجود دَدې اشیاؤباندې تصدیق ندې ځکه چې وجود دَدې اشیاؤ ثابت دې بداهة اوحسا، نوپدې باندې تصدیق سبب دَمدحې ندې. بلکه مرادترینه تصدیق دې په مدلولاتودَدې اشیاؤ باندې، چې داټول دلائل حق دی اومدلولات دَدې ثابت دی.

﴿وَٱلَّذِينَ هُم بِرَبِّهِمْ﴾ داد َوالّذين هم عن اللغومعرضون دَمضمون اعاده ده اودَ﴿لَا يُشْرِكُونَ﴾ نه مراد نفی دَهرقسم شرك ده که جلي اویاخفي وي،

﴿وَٱلَّذِينَ يُؤْتُونَ﴾ دادَ والّذين هم للزكوة فاعلون دَمضمون اعاده ده او ﴿يُؤْتُونَ﴾ په معنی دَيعطون سره دې اودَ﴿مَآ ءَاتَوا﴾ نه مراد ټول هغه حقوق دی چې دَهغې ایتاءیعنی پوره کول ضروری وي که هغه حقوق الله وي لکه مونځ، زکوة وغیره شو، یاحقوق العباد وي لکه امانات وغیره شو ﴿وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ﴾ یعني دَنیك کارونوکولوباوجود دَدوئ په زړونوکښې داخوف موجودوي چې دَدوئ دانیك اعمال به قبول کړې شي اوکه نه؟ اوداد کمال ایمان علامه ده چې انسان ته خپل نیك اعمال ناقص ښکاره شي، اودَنه قبولیت خوف اوخطره ئې په زړه کښې موجوده وي بلکه دَمؤمن شان دادې چې هغه دَخپل ایمان په باره کښې هم بې فکره نه وي اوپه خوف کښې وي، امام بخاري رحمه الله پدې باندې

مستقل باب وضع کړیدي په کتاب الایمان کښ باب خوف المؤمن ان یحبط عمله. اوپه حدیث د ترمذی شریف کښ دي چې حضرت عائشې ﷺ د دې ایت په باره کښ د نبي پاك ﷺ نه پوښتنه اوکړه چې یارسول الله ﷺ د دینه مراد هغه خلك دي چې غلا ،زناکوي اوشراب څکي خو د الله ﷻ نه یره کوي. نبي پاك ﷺ اوفرمائیلوچې نه،بلکه د دینه مراد هغه خلك دي چې روژې نیسي. مونځونه کوي اوزکوة ورکوي خوبیاهم یریږي چې قبول به کړې شي اوکه نه. اوحضرت حسن بصري رحمه الله نه مروي دي چې مؤمن کښ نیکیاني اوخوف جمع وي اوکافرکښ ګناه اوامن جمع وي ﴿أَنَّهُمْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ﴾ دا علت دي د ماقبل د پاره اودلته لام تعلیلیه مقدر دي.یعنی دوئ کښ دایره څکه موجوده وي چې د دوئ عقیده داوي چې مونږ به د الله ﷻ دربارته واپس کیږو اوحساب وکتاب به راسره کیږي،اویادلته من ابتدائیه مقدر دي یعنی د دوئ خوف ناشي وي د دینه چې د دوئ عقیده د قیامت وي، چې مونږ به د الله ﷻ په دربارکښ پیشی ورکوو.

﴿أُولَٰئِكَ يُسَارِعُونَ﴾ په "اولئك" سره اشاره ده هغه کسانوته چې متصف دی په اوصافو مذکورو سره ﴿يُسَارِعُونَ﴾ باب مفاعله د پاره د مبالغې ده او"خیرات" نه مراد طاعات دی یعنی کوم کسان چې پدغه مذکوراوصافوباندې متصف وي نوهغوئ د طاعاتو پابندي کوي اوهغې طرف ته جلتی کوي اود خپل وخت نه ئې نه بې وخته کوي (کشاف) اویاد خیرات نه مراد برکات اومنافع دنیوي دی،چې هغه یومؤمن ته د نیك اعمالود وجهې نه په دنیاکښ د اخرت نه مخکښ میلاویږي، اوپه اخرت کښ ورته بیالوئ لوئ اجرونه دی.نود ایت مطلب دادې چې په دغه مذکوراوصافوسره متصف کسان د نیك اعمالو په ذریعې سره منافع اوبرکات دنیوي،اخروي حاصلولود پاره مسارعت اوتیزي کوي اودغه شان مضمون ذکرپه سورة ال عمران ایت نمبر(۱۴۸)کښ هم ذکر دی.

﴿وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ﴾ "لها" کښ "لام" یاپه معنی د "الی" سره دې لکه بانّ ربّك اوحٰی لها کښ لام په معنی د "الی" سره دې اویالام اجلیه اوتعلیلیه دې ای وهم لاجلها فاعلون السبق(روح) یعنی د دې برکاتوحاصلولود وجهې نه دوئ نیك اعمالو ته جلتی کوونکی دی اوبعض فرمائی چې لام زائده دې د پاره د تاکید دې (فتح)

وَلَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا وَلَدَيْنَا كِتَٰبٌ يَنطِقُ بِالْحَقِّ
او تکلیف نه ورکوو مونږ هیڅ یو نفس ته مګر په قدر د وس د هغه او زمونږ سره کتاب دې چې ګویا به شي په حق ویلو سره
وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ۝٦٢ بَلْ قُلُوبُهُمْ فِي غَمْرَةٍ مِّنْ هَٰذَا وَلَهُمْ أَعْمَٰلٌ مِّن دُونِ
او په دوی باندې به ظلم نشي کیدې. بلکه زړونه د دوی په غفلت کښې دی د دې کتاب نه او دوی لره نور عملونه دي سیوا د دې
ذَٰلِكَ هُمْ لَهَا عَٰمِلُونَ ۝٦٣ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَخَذْنَا مُتْرَفِيهِم بِالْعَذَابِ إِذَا هُمْ
عملونه دوی هغې لره کوونکي دی، ترهغې پورې چې کله اونیسو مونږ عیش پرست د دوی په عذاب سره نو دغه وخت به
يَجْـَٔرُونَ ۝٦٤ لَا تَجْـَٔرُوا الْيَوْمَ إِنَّكُم مِّنَّا لَا تُنصَرُونَ ۝٦٥
دوی کړنجیګي (فریاد به کوي) او به وئیلې شي مه کړنجیګئ نن ورځ بیشکه زمونږ د طرف نه هیڅ مدد نشي کیدلې دستاسو
قَدْ كَانَتْ ءَايَٰتِي تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فَكُنتُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَٰبِكُمْ تَنكِصُونَ ۝٦٦
یقیناً وو ایاتونه خما چې لوستلې به شو په تاسو باندې پس وئ تاسو په پوندو خپلو باندې اوړیدلي
مُسْتَكْبِرِينَ بِهِۦ سَٰمِرًا تَهْجُرُونَ ۝٦٧
لوئی کوونکي وئ په دې (قرآن یا حرم) باندې قصې کوونکي وئ پریخودو به تاسو دي قران لره.

﴿وَلَا نُكَلِّفُ نَفْسًا﴾ دا جمله معترضه د پاره د دفع د توهم ده چا به توهم کولو چې چه دغه صفات مذکوره او نیک کارونه کول او درجات حاصلول به ډیر مشکل او ګران وي نو د دې توهم د دفعیه او کړې شوه چې دا صفات مذکوره په ځان کښې راویستل ګران ندی ځکه چې د انسان د وسعت او طاقت نه بهرندی ﴿وَلَدَيْنَا كِتَٰبٌ﴾ دا تسلی ده مؤمنانو ته او تخویف دې کافرانو ته، او کتاب اسم جنس دې مراد ترینه عملنامې یعنی صحیفه اعمال دی (قرطبی) ﴿وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ﴾ یعنی د چا حق تلفی به نه کیږي چې په نیکیانو کښې ئی کمې راوستلې شي او یا په ګناهونو کښې اضافه او کړې شي .

﴿بَلْ قُلُوبُهُمْ فِي غَمْرَةٍ﴾ بل اضرابيه دي اودارجوع ده حالاتو دَمنكرينو ته، اويا بل دَپاره دَترقي دي اوداِمتصل دي دَ﴿بَل لَّا يَشْعُرُونَ﴾ سره اوپه مشار اليه دَ هذا كښې درې (۳) احتمالات دي:
(۱) يوداچې مشار اليه دَدې قرآن دې (۲) دويم داچې مشار اليه دَدې عملنامې شي (۳) اودريم داچې مشار اليه ددې اعمال البر يعني صفات دَمؤمنانو شي، ﴿وَلَهُمْ أَعْمَالٌ مِّن دُونِ ذَٰلِكَ﴾ په ذلك سره اشاره ده كفر او غمرة طرف ته يعني دكفر او شكرنه علاوه دوئ دَپاره نور هم ډيربدعملونه دي چې هغه موجب دَدخول دَنار دپاره دي اويا په ذلك سره اشاره ده اعمال دَمؤمنانو ته يعني دوئ دَپاره دَمؤمنانو دَاعمالونه علاوه نور اعمال دي يعني كفر او شرك. ﴿هُمْ لَهَا عَامِلُونَ﴾ په ديكښې اشاره ده استمرار ددوئ ته په بدو اعمالو باندې
﴿حَتَّىٰ إِذَا أَخَذْنَا﴾ دا تخويف دنيوي دې، حتى حرف ابتداء دي او اذا شرطيه دي اوجمله شرطيه غايه دَماقبل ﴿هُمْ لَهَا عَامِلُونَ﴾ دپاره ده، اودويم اذا مفاجاتيه دي، قائمقام دَ فا جزائيه دې اوداجمله جزاء ده دَشرط او ﴿مترفيهم﴾ كښې اشاره ده سبب عذاب ته چې هغه عيش پرستي ده اومراد په عذاب سره عام دي، كه هغه په جنګ بدر كښې رؤساء مشركينو قتل وويا په مشركين مكه باندې قحط مسلط كيدل وو اويا نور دنيوي عذابونه وو
﴿لَا تَجْأَرُوا الْيَوْمَ﴾ دَدينه مخكښې لفظ دَ قلنا مقدر دې اوداورته ملائك په حالت دَنزع كښې وائي اويا تقدير ته ضرورت نيشته دي بلكه دا به ورته په زبان حال سره وئيلې كيږي، چې چيغې اوفرياد مه كوئ داتاسو ته هيڅ فائده نه دركوي اويا مقصود دَنهي نه اخبار دي يعني كه تاسو ډيرې چيغې اوهئ نوتاسو ته به هيڅ فائده نه دركوي (قرطبي). ﴿إِنَّكُم مِّنَّا لَا تُنصَرُونَ﴾ منا په معنی دَ من عذابنا سره دي او ﴿لَا تُنصَرُونَ﴾ په معنی دَ لاتمنعون سره دي.
﴿قد كانت آيتي﴾ داعلت دي دَ﴿لَا تُنصَرُونَ﴾ دپاره، ﴿فَكُنتُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ﴾ داكنايه ده دَاعراض اوعدم قبول نه، يعني دَقران اياتونو تلاوت او اوريدلو وخت كښې به تاسو اعراض كولو.

﴿مُسْتَكْبِرِيْنَ﴾ داحال دي دَضمير فاعل دَ تنكصون نه او سبب دَاعراض دَدوئ ذكر كيږي، يعني تاسو به دَقرآن نه اعراض ځكه كولو چې تاسو لوئي او تكبر كوونكي وئ، ﴿بِهٖ﴾ باء سببيه ده او ضمير راجع دي حرم او يا خانه كعبې ته او دا اگر چه مذكور ندي ماقبل كښې ليكن دَدوئ تكبر او فخر په حرم او خانه كعبه باندې معروف او مشهور وو ځكه چې دوئ به ډېر په فخر سره دا خبره كوله چې مونږ اهل حرم يو په مونږ باندې څوك نشي غالب كيدلې، نو دَشهرت دَوجهې نه بغير دَذكر نه ارجاع دَضمير ورته او كړې شوه (كشاف) او يا باء په معنى دَ عن سره ده او ضمير راجع دي قرآن ته، چې هغه مفهوم كيږي دَ آيتونو نه ﴿سٰمِرًا﴾ دا يا په معنى دَ تسمرون (جمعي) سره دي او دا دَمشركينو عادت وو چې دَشپې په وخت كښې به راجمع شول او گپ شپ به ئې لگولو نو دَقرآن نه به ئې تكبر كولو او دَشپې فضول گپ شپ لگول خصلت دَمشركانو دې او دې وجهې نه په حديث كښې دَماسخوتن نه ورستو گپ شپ لگولو نه ممانعت راغليدې سوا دَدين خبرو او دَخپل اهل وعيال سره خبرو كولو نه او ﴿تَهْجُرُوْنَ﴾ دَ هجر (بالفتح) نه دي په معنى دَفضول او بې هوده خبرو سره دي يعني دوئ به دَقرآن خلاف بيهوده خبرې كولې، چا به قرآن ته سحر، چا به شعر او چا به كذب وئيلو او يا ﴿سٰمِرًا﴾ مفرد اسم فاعل دي او دَدينه مخكښې عبارت مقدر دي چې تظنون دي يعني تظنون به سٰمرا يعني په دې نبي ﷺ باندې تاسو دَقصه گو گمان كوئ او تهجرون پدې اعتبار سره يا دَ هَجر (بالفتح) نه دي او يا دَ هجر (بالكسر) نه دي په معنى دَ پريښودلو سره او حضرت شيخ رحمه الله رائ داده چې ﴿سٰمِرًا﴾ په معنى دَ واعظا سره دي او دا مفعول به مقدم دي دَ ﴿تَهْجُرُوْنَ﴾ دَپاره او ﴿تَهْجُرُوْنَ﴾ دَ هجر (بالكسر) نه دي اى هجرون واعظا، يعني تاسو دَدې قرآن قاري او واعظ لره پريښودونكي يئ او دَهغه دَوعظ او تلاوت نه اعراض كوونكي يئ.

أَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا الْقَوْلَ أَمْ جَآءَهُمْ مَّا لَمْ يَأْتِ اٰبَآءَهُمُ الْأَوَّلِيْنَ ﴿۶۸﴾

آيا پس سوچ نه كوي دوئ پدې قرآن يا راغليدي دوئ ته هغه څيزچې نوو راغلې مشرانو دِدوئ مخكنو.

اَمْ لَمْ يَعْرِفُوْا رَسُوْلَهُمْ فَهُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿٦٩﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ بِهٖ جِنَّةٌ ؕ بَلْ

آيادوئ نه پيژني رسول خپل پس دوئ هغه نا آشنا گڼونکي دي آيادوئ وائي چې په ده باندې ليونتوب دې بلکه

جَآءَهُمْ بِالْحَقِّ وَاَكْثَرُهُمْ لِلْحَقِّ كٰرِهُوْنَ ﴿٧٠﴾ وَلَوِ اتَّبَعَ الْحَقُّ اَهْوَآءَهُمْ

هغه راوړې دي دوئ ته حق او اکثر ددوئ نه حق لره بدگڼونکي دي او کچېرې تابع وې موافق وې حق ددوئ دخواهشاتو

لَفَسَدَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهِنَّ ؕ بَلْ اَتَيْنٰهُمْ بِذِكْرِهِمْ

خامخا خراب شوې به وې اسمانونه او زمکې او هغه څوک چې پدې کښ دي بلکه راوړې دي مونږ دوئ له يادا شت ددوئ

فَهُمْ عَنْ ذِكْرِهِمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٧١﴾ اَمْ تَسْئَلُهُمْ خَرْجًا فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيْرٌ ۖ وَّهُوَ

پس دوئ د يادا شت خپل نه مخ گرځوي آيا ته غواړې ددوئ نه آمدن (مزدوري) پس آمدن (بخشش) د رب ستا ډير غوره دې او هغه

خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿٧٢﴾ وَاِنَّكَ لَتَدْعُوْهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٧٣﴾ وَاِنَّ الَّذِيْنَ

ډير غوره رزق ورکوونکې دې او بيشکه ته يقيناً رابلې دوئ سمې (نيغې) لارې ته او بيشکه هغه کسان

لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ عَنِ الصِّرَاطِ لَنٰكِبُوْنَ ﴿٧٤﴾ وَلَوْ رَحِمْنٰهُمْ

چې يقين نه لري په اخرت باندې د سمې لارې نه خامخا اوړيدونکي دي او کچېري رحم او کړو مونږ په دوئ باندې

وَكَشَفْنَا مَا بِهِمْ مِّنْ ضُرٍّ لَّلَجُّوْا فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿٧٥﴾

او لرې کړو هغه چې په دوئ باندې څه تکليف وي خامخا بيا به هم ورننوځي به په سرکشئ خپله کښ سرگردانه به وي

وَلَقَدْ اَخَذْنٰهُمْ بِالْعَذَابِ فَمَا اسْتَكَانُوْا لِرَبِّهِمْ وَمَا يَتَضَرَّعُوْنَ ﴿٧٦﴾

او يقيناً نيولي وو مونږ دوئ په عذاب سره پس فرمانبرداري او نکړه دوئ د رب خپل او نه ئې وړه عاجزي او کړه

حَتّٰۤى اِذَا فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَابًا ذَا عَذَابٍ شَدِيْدٍ اِذَا هُمْ فِيْهِ مُبْلِسُوْنَ ﴿٧٧﴾

[illegible] هغې پورې چې کله [illegible] دوئ باندې دروازه د سخت عذاب [illegible] دوئ به هغې کښ [illegible]

﴿أَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا الْقَوْلَ﴾ دا زجر دې په اعراض دَدوئ باندې دَاتباع حق نه او په غور نه کولو باندې په قرآن کښې او مراد په قول سره قرآن دې، ﴿أَمْ جَاءَهُم﴾ استفهام دلته دپاره دَانکار دې خو انکار دَواقع نه دې، نه ده وقوع نه. بلکه وقوع ثابت او متقرر دې. نو مقصد دا دې چې دوئ ته داسې خبره او داسې مسئله نده راغلې چې دَدوئ مشرانو ته نوې راغلې چې دوئ ترينه انکار کوي، بلکه هم هغه مسئله ورته دا پيغمبربيانوي کومه چې ددوئ مشرانو ته راغلې وه يعنې مسئله توحيد، او دا دومره پخوانئ ده چې دَآدم ﷺ نه ئې را اونيسه ټولو انبياء کرامو دا مسئله بيان کړيده

﴿أَمْ لَمْ يَعْرِفُوا﴾ دلته هم واقع ثابت او وقوع منفي دې يعنې دوئ دَپيغمبر ﷺ اوصاف صداقت، ديانت، شجاعت، حسن اخلاق وغيره دَمخکښې نه ښه معلوم دی چې دا اوصاف لائق دی په انبياء کرامو پورې، ليکن بيا هم دوئ دَضد او عناد دَوجهې نه ايمان نه راوړي.

﴿فَهُمْ لَهُ مُنكِرُونَ﴾ يعنې دوئ دَدې پيغمبر نه، څه نااشناخو نه دې څلويښت کالو پورې دوئ په ده باندې ازميښتونه کړيدي دده ريښتونې او صدق ورته ښه معلوم دې

﴿أَمْ يَقُولُونَ بِهِ جِنَّةٌ﴾ مقصد دا دې چې دوئ نبی پاک ﷺ ته نسبت دَجنون اوليونتوب کوي.

حالانکه دې په عقل، رائې او سوچ وفکر کښې دَهرچانه زيات دې ﴿بَلْ جَاءَهُم بِالْحَقِّ﴾ دا اضراب دې دَاعتقاد دَدوئ نه چې په هغې باندې سابقه کلام دلالت کوي يعنې خبره داسې نده لکه چې دوئ ئې کوي بلکه دې پيغمبرحق دين دوئ ته راوړيدې او دوئ دَضد او عناد او دَخپلو مشرانو غلط تقليد دَوجهې نه حق قبولو ته تيار نه دی (قرطبي).

﴿وَلَوِ اتَّبَعَ الْحَقُّ أَهْوَاءَهُمْ﴾ نه مراد دَدوئ اعتقاد دَشرك او نسبت دَولد دې الله ﷻ ته او اتباع نه مراد حقيقة اتباع ده نو دا يت مقصد دا دی کچرته الله ﷻ دَدوئ دَخواهش اتباع اوکړی او دَ ځان سره په الوهيت کښې شريك اونيسي. يا اولاد اختيار کړی نو دکائنات دا نظام مشاهد به ټول درهم برهم شي اوکه دَ حق نه مراد پيغمبر ﷺ شي نو دَايت مقصد به دا شي کچرته پيغمبر ﷺ دَدوئ دَخواهش اتباع اوکړی او دوی ته دَشرك اجازت ورکړی يا الله ﷻ له ولد ثابت کړي نو دَالله ﷻ دَغصې او غضب دَوجهې نه به دا ټول نظام فاسد شي او يا دَ حق نه مراد امر ثابت للواقع يعنې دين ترينه مراد دې او دَاتباع نه مراد معنی

مجازي ده يعنى موافقت نو دَ ايت مقصد دادي کچرته دادين دَدوئ دَخواهش مطابق وى او دَمعبودان باطلو عبادت پکښې جائزوي. او دَدوئ خرافات ته دين ونيلى شوى وى نو داپوره نظام به فاسد او درهم برهم وى. لکه سورة الانبياء ايت نمبر (۳۳) کښې ذکر دى. ﴿بَلْ أَتَيْنَاهُم بِذِكْرِهِمْ﴾ بل دَاضراب او انتقال دَپاره دي او دا انتقال دَيو حالت دَهغوئ نه بل حالت او صفت طرف ته دي چې هغه اعراض دي دَحق نه او مراد په ذکر سره قرآن دي، چې دادوئ دَپاره ذريعه دذکر ،شهرت او فخر وه او يا ذکر ته مراد ددوئ تمناده لکه سورة الصفآت آيت نمبر (۱۲۸) کښې دى يعنى دوئ چې دکوم ذکر تمنا کوله او غوختلوئى هغه ورته راغي خو بيا هم دوئ هغې نه اعراض کوي او حضرت شيخ رحمه الله فرمائى چې ذکر په معنى دَمذکور سره دي. يعنى هغه خبره چې دوئ ئى په خپل مينځ کښې ذکر کوي. چې هغه دَالله تعالىٰ دَوحدانيت اقرار دي. چې دَحج په موقعې باندې به دوئ په تلبيه کښې دَالله تعالىٰ وحدانيت اقرار کولو. او دا به ئى ونيلو چې لبيك اللهم لبيك لبيك لاشريك لك لبيك نو الله تعالىٰ فرمائى چې دا خبره دوئ هم کوي خو مونږ ورته تشريح او وضاحت او کړو نو دوئ ترينه انکار او کړو

﴿أَمْ تَسْأَلُهُمْ خَرْجًا﴾ دا هم زجر دي يعنى ته دَدوئ نه په دعوت او په تعليم دَدين باندې خو څه نه غواړې، خو بيا هم دوئ ايمان نه راوړي او حق نه انکار کوي، ﴿فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيْرٌ﴾ خير دَادَماقبل يعنى نفي دَاجرت دَپاره دليل دي او مراد په خراج سره دلته اجر او ثواب دي يعنى دَپيغمبر ﷺ نه دا متصوره نده چې هغه په تعليم او دعوت باندې اجرت واخلي. ځکه دَدنيا معمولى اجرت په مقابله کښې دَالله تعالىٰ دَ طرف نه ميلاويدونکى اجر او ثواب ډير غوره دي

فائده خرج په سکون دَراء سره او خراج کښې فرق دادي چې خرج هغې اعطاء ته ونيلې کيږي چې تبرعاً يعنى بطور بخشش وي او خراج هغې ته ونيلې کيږي چې لزوماوي. او دغه شان خرج قليل او لږ شي ورکولو ته ونيلى کيږي او خراج ډير شي ورکولو ته او بار بار ورکولو ته ونيلې کيږي. نو په جانب دَالله تعالىٰ کښې خراج ذکر کول دَپاره دکمال مبالغې دي او لزوم پکښې تفضلا او احسانا دي

﴿وَإِنَّكَ لَتَدْعُوهُمْ﴾ يعنى اي پيغمبره ستا مطالبه ددين دوئ نه څه ناجائزه نده چې دوئ ستا خبره نه منى. بلکه کومې لارې او دين طرف ته چې ته دوئ رابلې او دعوت ورکوې هغه دين صحيح او حق دين دى ﴿وَإِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ﴾ يعنى دَدوئ دَايمان راوړلو دَپاره دَپيغمبر ﷺ دَطرف نه او ياڅه بل څه مانع

نیشته دي.صرف وجه داده چې ددوئ په زړونو کښې خوف خدا او دَحساب و کتاب یقین نیشته دې. دې وجهې نه دوئ اعراض کوي

﴿وَلَوْ رَحِمْنَٰهُمْ﴾ دا تخویف دنیوي دې او په کفرسرکشئ باندې دَدوئ دوام ذکر کیږي چې ددوئ کفراوسرکشي دومره حد ته رسیدلې ده چې کچرې دَدوئ دکفراوبد اعمالو دوجهې نه په دوئ باندې راغلې عذاب لرې کړیشی، اوپه دوئ باندې رحم اوکړې شي.نوبیاهم دوئ ایمان نه راوړی بلکه په کفراوسرکشئ کښې نوره ترقي کوي

﴿وَلَقَدْ أَخَذْنَٰهُم﴾ ضمیر راجع دې کفار مکه ته او مراد په عذاب سره قحط والا عذاب دې چې دَنبی ﷺ دَبد دعا دَوجهې نه په دوئ باندې تراوه (۷) کالو پورې مسلط وؤ ،نبی پاك ﷺ بد دعا اوکړه. اللـهم اعـنـی علیهم بسنین کسنی یوسف(نسائی ،بیهقی) ترجمه:ای الله ﷻ څما دَمدد دپاره په دوئ باندې داسې قحط سالي راولی لکه دَیوسف ﷺ په دور کښې دې راوستې وه او دَدې بد دعا په وجهې الله ﷻ په دوئ باندې داسې قحط مسلط کړو چې دَلوږې دَلاسه به اهل مکه په گندگئ کښې به دَخرمنې ټکړه اپرته وه هغه به ئې راواخستله اوا وبه ئې خوړه،آخرکار ابوسفیان چې لاتر هغه وخته پورې مسلمان شوي نه وو، یو ورځ نبی ﷺ ته راغي اوعرض ئې اوکړو چې آیا ته رحمة للعلمین نه ئې او ته خلکو ته دَصله رحمئ حکم نه کوې، نبی پاك ﷺ ورته اوفرمائیلو چې هاؤخه رحمة للعلمین یم اوخلکو ته دَصله رحمئ حکم ورکوم، نو ابوسفیان عرض اوکړو چې ستادَقوم مشران په بدر کښې په توري سره هلاك کړې شو او کشران ئې په لوږې سره هلاك کیږي.نو ته دعا اوکړه چې دا مسلط قحط ختم کړې شي.نو دَنبی ﷺ په دعا سره هغه قحط اوچت کړې شو نو دَدومره سخت عذاب باوجود اهل مکه نه ایمان راوړو او نه ئې الله ﷻ ته سوال اوزاري اوکړه.

﴿حَتَّىٰٓ إِذَا فَتَحْنَا عَلَيْهِم﴾ غوره خبره داده چې دا تخویف اخروي دې او دَ ﴿عَذَابٍ شَدِيدٍ﴾ نه مراد عذاب دَجهنم دې یعنی دوئ دَخپل رب اطاعت گزاری نه کوی تردې چې جهنم ته ئې داخل کړو لیکن بیا به دوئ ایمان نشي راوړلې اودَهرخیرنه به نا امیده وي لکه سورة الزمر ایت نمبر (۷۱) کښې دي چې کله دوئ جهنم ته اورسیږي نو دَجهنم دروازې به ورته پرانستې شي.نو ﴿إِذَا هُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ﴾ یعنی پدې وخت کښې به دوئ دَهرقسم خیرنه مایوسه شي اوبعض فرمائی چې دا تخویف دنیوي دې او عذاب نه مراد فتح مکه او یا جنگ بدر دې

وَهُوَ الَّذِیْٓ اَنْشَاَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ؕ قَلِیْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿٧٨﴾

او الله جل جلاله هغه ذات دی چی پیدا کړیدي ستاسو دپاره غوږونه او سترګې او زړونه. لږه غوندې شکر ادا کوئ تاسو

وَهُوَ الَّذِیْ ذَرَاَكُمْ فِی الْاَرْضِ وَاِلَیْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿٧٩﴾ وَهُوَ الَّذِیْ

او الله جل جلاله هغه ذات دی چې خواره کړي یې تاسو په زمکه کښې او خاص هغه ته به تاسو جمع کړې شئ او الله جل جلاله هغه ذات دي

یُحْیٖ وَیُمِیْتُ وَلَهُ اخْتِلَافُ الَّیْلِ وَالنَّهَارِ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿٨٠﴾ بَلْ

چې ژوندي کول کوي او مړه کول کوي او خاص د هغه په اختیار کښې دي بدلیدل د شپې او د ورځې آیا پس عقل نه لرئ تاسو بلکه

قَالُوْا مِثْلَ مَا قَالَ الْاَوَّلُوْنَ ﴿٨١﴾ قَالُوْٓا ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا

دوئ وائی پشان دوینا د مخکنو خلکو دوئ وائی چې آیا کله چې مړه شو مونږ او خاوري شو مونږ او هډوکي شو آیا مونږ به

لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿٨٢﴾ لَقَدْ وُعِدْنَا نَحْنُ وَاٰبَآؤُنَا هٰذَا مِنْ قَبْلُ اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِیْرُ

دوباره ژوندي کیږو یقیناً وعده کړې شوې ده مونږ سره او د مشرانو زمونږ سره د او عده د مخکښې راسې، ندي دا مګر د دروغو قصې دي

الْاَوَّلِیْنَ ﴿٨٣﴾ قُلْ لِّمَنِ الْاَرْضُ وَمَنْ فِیْهَآ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٨٤﴾ سَیَقُوْلُوْنَ

د مخکنو خلکو، ته او وایه د چا په اختیار کښې ده زمکه او هغه څوک چې په دې کښې دي که چرې تاسو پوهه لرئ نو خامخا به دوئ وائی

لِلّٰهِ ؕ قُلْ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٨٥﴾ قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ

الله جل جلاله لره اختیار دي او وایه ته آیا پس ولې تاسو نصیحت نه قبلوئ او وایه څوک دي اختیارمند د او (۷) اسمانونو

وَرَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِیْمِ ﴿٨٦﴾ سَیَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ؕ قُلْ اَفَلَا

او څوک اختیارمند دي د عرش لوئ شان والا، نو خامخا به دوئ وائی الله جل جلاله لره اختیار دي. او وایه ته آیا پس ولې

تَتَّقُوْنَ ﴿٨٧﴾ قُلْ مَنْۢ بِیَدِهٖ مَلَكُوْتُ كُلِّ شَیْءٍ وَّهُوَ یُجِیْرُ

خان نه ساتئ تاسو د شرک نه ته او وایه د چا په لاس (قدرت) کښې پوره بادشاهي د هر څیز ده او هغه پناهي ورکوي د هر مصیبت نه

وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۸﴾ سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ

او پناهي نشي ورکيدي دهغه په مقابله کښ کچرې تاسو پوهيږئ خامخا به دوئ اوائي چې الله ﷻ لره اختيارونه

قُلْ فَاَنّٰى تُسْحَرُوْنَ ﴿۸۹﴾ بَلْ اَتَيْنٰهُمْ بِالْحَقِّ وَاِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۹۰﴾

نو ته ورته اوايه پس څرنګه اړولی شئ تاسو د حق نه بلکه راوړې دې مونږ دوئ ته حق او بيشکه دوئ خامخا دروغ ويونکي

﴿وَهُوَ الَّذِىٓ اَنْشَاَ لَكُمُ﴾ د دې ځائ نه دويمه حصه د سورت شروع کيږي خلاصه ئې په ابتداء د سورت کښ ذکرشويده. نو دا اول دليل عقلي دې، په نفي شرک اعتقادي باندې. او مراد په سمع، ابصار او افئدة سره قوتونه د ادراکاتو دی او تقديم د سمع په بصر او افئده باندې ځکه او شو چې د سمع منافع ډيردی او دغه شان منافع د سمع اعلی او اولی دی په نسبت د منافعو د بصر ته ځکه چې څوک د قوت د سمع نه محروم وي نو د ډير څيزونو د ادراك نه محروم وي ځکه چې ادراکات د سمع کثير دی په خلاف د قوت بصارت نه، چې د هغې ادراکات قليل او کم دی. ﴿قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ﴾ د هر عضوې شکر دا دې چې د الله ﷻ په اطاعت کښ صرف کړې شی او د هغه په معصيت کښ استعمال نکړې شي، مثلا په سترګو سره کائنات ته د عبرت په نظر او کتلې شي، په غوږونو سره دلائل قدرت او وحدانيت واوريدلې شي او په زړه او دماغو سره پرې فکر او غور او کړې شي، او په ﴿قَلِيْلًا مَّا﴾ کښ "ما" زائده ده، د تاکيد د قلت د پاره ده يعنی ډير لږ شکر ادا کوئ او "قليل" ځکه او ئيلې شو چې کفارو به اقرار د نعمتونو کولو سره د شرک نه او بعض فرمائی چې قليل په کلام د عربو کښ کله کله په معنی د عدم سره راځي نو مقصد د آيت دا دې چې تاسو بالکل شکر نه اداکوئ.

﴿وَهُوَ الَّذِىْ ذَرَاَكُمْ﴾ يعنی مختلف اطرافو د زمکی کښ ئې ستاسو نسلونه خواره کړيدی او بيابه تاسو د قيامت په ورځ يو ميدان ته راجمع کړی

﴿وَهُوَ الَّذِىْ يُحْيِ﴾ يعنی انقلابات د احوال د الله ﷻ په تصرف او قبضه، قدرت کښ دی ﴿وَلَهُ اخْتِلَافُ الَّيْلِ﴾ يعنی شپه بو تلل او ورځ راوستل يا ورځ بوتلل او شپه راوستل او دغه شان شپه اوږدول او ورځ لنډه ول، يا ورځ اوږدول او شپه لنډه ول

﴿بَلْ قَالُوا۟ مِثْلَ ﴾ دا شکوی ده او دا جمله عطف ده په مقدر باندې چې په هغې باندې دلالت ماقبل جملې یعنی استفهام انکاري کړیدي. چې فلم یعقلوا دي یعنی فلم یعقلوابل قـالوا او ﴿اولون﴾ نه مراد ددوئ اباؤ واجداددی چې هغوئ به هم داسې خبرې کولې لکه ددې سورت په ایت نمبر(۳۵)کښې تیرشویدی

﴿قَالُوٓا۟ أَءِذَا ﴾دا تفسیر دَماقبل اجمال دې ﴿لَقَدْ وُعِدْنَا ﴾یعنی دَبعث بعد الموت وعدې دیروخت نه کیږي. زمونږ اباؤاجدادو سره هم شوې وې خوتراوسه پورې ریښتونې نشوې

﴿قُل لِّمَنِ ٱلْأَرْضُ﴾دا اولیم عقلي دلیل دې او داعلی سبیل الاعتراف من الخصم دې او مقصود اصلي پدې دلیل سره نفی دَشرك اعتقادی دې،خو اشاره پدې سره اثبات دَحشرونشر(بعث بعد الموت) ته هم کیږي. او دا استدلال په باره دَزمکې او دَاوسیدونکو دَهغې کښې دې،چې دَدې زمکې او دَدې دَاوسیدونکو اکدار خوك دې؟ ﴿إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴾جواب دَشرط محذوف دې چې فاخبروني دې

﴿سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ﴾ دا اخبار دې دَهغوئ دَاعتراف او اقرار نه او هرکله چې دَدوئ دَطرف نه دا اعتراف او اقرار متقین وو. نو دَدې وجهې نه الله ﷻ ددوئ دکلام نه اخبار ورکړو ﴿قُلْ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴾ یعنی دَدې دلیل نه تاسو وعظ او نصیحت ولې نه اخلئ؟ چې کوم ذات دَدې واکداري دې نو هغه ئی متصرف هم دې او دهغه سره دَخدائ په صفاتو کښې څوك شریك هم نیشته دې او دغه شان کوم ذات دَدې خالق دې نو هغه دَدې مخلوق په فناء او اعادې هم قادر دې،(کشاف، مدارك).

﴿قُلْ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ ﴾دا دریم عقلي دې او دا هم علی سبیل الاعتراف من الخصم دې، یعنی دوئ دَدې اقرار کوي چې دَاوه(۷)اسمانونو او دَعرش عظیم رب صرف الله ﷻ دې﴿قُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴾ یعنی دَدې اقرار باوجود تاسو دَالله ﷻ سره شرك کوئ او دَ هغه دَعذاب نه،نه یریږئ او ځان دَشرك نه،نه بچ کوئ؟ (ابن کثیر).

﴿قُلْ مَنۢ بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ ﴾دا هم دلیل عقلي علی سبیل الاعتراف دې، یعنی مشرکین دَدې اقرار هم کوي چې دکائنات هر څیز دَالله ﷻ په ملك کښې دې﴿وَهُوَ يُجِيرُ ﴾ یعنی هغه چاته خوښه شي

نو دهرقسم تكليفونو او مصائبونه.ورله پناه وركړي. ﴿وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ﴾ يعنى چه چا ته څه تكليف
رسول اوغواړي نو دده په مقابله کښې څوك دچا امداد نشي كولې. ﴿فَأَنَّىٰ تُسْحَرُونَ﴾ يعنې ددې
اعتراف اواقرارباوجود تاسوحق ته باطل اوباطل ته حق وايئ داتاسو څرنګه دهوکه کښې
مبتلايئ. چې دواضح حق نه اعراض كوئ

فائده پدې دلائلوکښې احسن ترتيب اختيار کړې شويدې څکه چې انسانانو ته نزدې زمکه ده نو
اول تپوس په باره دزمکه كښې اوشو .بيادزمكې نه پورته اسمان اودهغې نه پورته عرش دې
نودويم تپوس دهغې په باره کښې اوشواوبيادريم تپوس دټول كائنات دبادشاهئ په باره کښې
اوشوچې هغه دمجموعې دآسمان، زمکې وغیرهمانه اوچونکه دزمکې دنزديكت دوجهې نه د
هغې سره ياداشت اوتذكره زياته مناسبه وه نوددې وجهې نه په اول دليل باندې تذكره متفرع شوه
اودآسمان اوعرش دعظمت شان اورفعت دوجهې نه هغې سره تقوىٰ اوخوف الهي حاصلیدل
زيات مناسب دى نوددې وجهې نه په دويم دليل کښې تتقون ذکراوشو اوهركله چې دوئ دالله ﷻ
دعظيم قدرت اوبادشاهئ اقراركولو اودمخلوق دعجز اوضعيف اعتراف ئې كولو نوددغې اقرار
اواعتراف باوجود بياهم دالله ﷻ سره په ذاتو اوصفاتو كښې شريك جوړول انتهائى حماقت اودبې
وقوفئ انتهائى درجه ده نوځکه په دريم دليل کښې ﴿فَأَنَّىٰ تُسْحَرُونَ﴾ په تعجب سره متفرع شو،
چې تعجب راشي ددوئ په عقلونو باندې.

﴿بَلْ أَتَيْنَاهُم بِالْحَقِّ﴾ دا اضراب دې ددې قول ددوئ نه چې ﴿إِنْ هَٰذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ﴾ دې
يعنى دقرآن مضامين،توحيد ، رسالت، اوقيامت وغيره دروغ ندى بلكه ددوئ خبرې دروغ دى
چې منكردبعث دى يا الله ﷻ لره ولد اوشريك ثابته وي.

مَا اتَّخَذَ اللَّهُ مِن وَلَدٍ وَمَا كَانَ مَعَهُ مِنْ إِلَٰهٍ إِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ إِلَٰهٍ
ندې نيولې الله ﷻ هيڅ قسم څوئې اونيشته دهغه سره برابر څوك واكدار .ګني دغه وخت به بيل کړې وؤهر اختيارمند
بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٩١﴾
هغه مخلوق چې ده پيداكړى دى اوخامخا به زورآورشوى به وې په يوبل باندې پاك دې الله دهغې نقص عيب نه چې دوئ بيانوي

عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۹۲﴾ قُلْ رَّبِّ اِمَّا تُرِيَنِّيْ

عالم دي په هريټ او ښكاره باندې پس بلند دې دهغې نه چې دوئ ئې دهغه سره شريك كوي ته اوايه اې ربه خما كچرې ته مانې

مَا يُوْعَدُوْنَ ﴿۹۳﴾ رَبِّ فَلَا تَجْعَلْنِيْ فِي الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۹۴﴾ وَاِنَّا عَلٰى

ماته هغه عذاب چه دوئ سره ئې وعده كيدې شي اې ربه خما پس مه گرځوې ما په قوم ظالمانو كښې او يقينًا مونږ خبره يقينًا چې

اَنْ نُّرِيَكَ مَا نَعِدُهُمْ لَقٰدِرُوْنَ ﴿۹۵﴾ اِدْفَعْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ السَّيِّئَةَ

او خايو مونږ تا ته هغه عذاب چې دوئ سره ئې وعده كوو خامخا قدرت لرونكي يو دفعه كړه په هغې طريقې سره چه ځانسته ده بدئ لره

نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَصِفُوْنَ ﴿۹۶﴾ وَقُلْ رَّبِّ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ هَمَزٰتِ الشَّيٰطِيْنِ ﴿۹۷﴾

مونږ ښه پوهيږو په هغه خبرو چه دوئ ئې بيانوي او ته اوايه اې ربه خماپناه نيسم په تاسره د وسوسو د شيطانانو نه

وَاَعُوْذُ بِكَ رَبِّ اَنْ يَّحْضُرُوْنِ ﴿۹۸﴾

او پناه نيسم په تاسره اې ربه خما د حاضريدلو د دوئ نه ماته.

﴿مَا اتَّخَذَ اللّٰهُ مِن وَلَدٍ﴾ دا دعوىٰ دَسورت ده سره دَدليل نه او ﴿اِذًا لَّذَهَبَ﴾ تالي يعني جزاء ده
ځكه چې "اذاً" په تالي او جزا باندې داخليږي او مقدم (شرط) محذوف دى چې هغه لو كان معه الٰه دې
او ﴿لَّذَهَبَ﴾ په معنى دَ "انفـرد" او "ميـز" سره دې، خلاصه دَدليل دا ده كچرته دَالله ﷻ سره به
صفاتو دَخداىٔ كښې څوك شريك وې نو هغه شريك به قادر وې په خلق و الا لازم به شي
عجز او عاجز خو اله نشي جوړې دې، نو خامخا به هغه شريك قادر په خلق وي او دَهغه دَپاره به
بالفعل مخلوق وي، نو دا شريك به خپل مخلوق جدا كوي او ځان ته به ئې مستقل حكومت
جوړولو، يعني لذهب كل اله بما خلق، او دا جدا ئى او مستقل حكومت او خداىٔ ناممكنه او باطله
ده، ځكه چې لازميږي دَدې وجهې نه تحارب او جنگ نو په ﴿وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ﴾ كښې اشاره
ده بطلان التالى ته او ملازمه پكښې عاديه ده يعني دَبادشاهانو عادت پدې جاري دې چې يو په بل
باندې غلبې حاصلولو كوشش كوي او چې كله دَدوئ په مينځ كښې جگړه شروع شوې وې نو دا نظام
مشاهد بلكه دا ټول كائنات به درهم برهم شوې وې ليكن پدې نظام مشاهد كښې څه قسم فتور

اونقصان نیشته دي، نو معلومه شوه چې د (۱)یو نه زیات خدایان نیشته دي او الله ﷻ تن. تنها ذات دي او دادلیل په ظاهرکښې حجت اقناعي دې. ځکه چې ملازمه پکښې عقلیه نده بلکه عادیه ده ځکه چې استلزام دتحارب بین الملوك عقلا ندي بلکه عادةً دي اودغه شان برهان هم جوړیدلې شي علی تقدیرٍ ،تفصیل ئې په سورة الانبیاء کښې تیرشویدي ﴿سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ﴾ دا تفریع ده په نتیجې باندې

﴿عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ﴾ دا یا بدل دي دلفظ ﴿ٱللَّهِ﴾ نه او یا صفت دي یعني متصرف او مختار د ټول اشیاؤ الله ﷻ دي او په هرغیب باندې عالم هغه دي نو لهذا دهر قسم شرك نه هغه پاك دي.

﴿قُل رَّبِّ إِمَّا تُرِيَنِّي﴾ د دلائلو او تفریعاتو ذکرکولو نه پس اداب د دعا او طریقه د تبلیغ تعلیم ورکولې کیږي او تخویف ته پکښې هم اشاره کیږي، او ﴿إِمَّا﴾ اصل کښې إن ما وو . ما زائده ده دپاره د تاکید ده او مقصد دادي چې ای الله ﷻ ته خودوئ نه عذاب خامخا ورکونکې ئې یا په دنیا کښې اویا په اخرت کښې خو کچرته دا عذاب په دنیا کښې وي نو ځما حفاظت ترینه اوکړې.

﴿رَبِّ فَلَا تَجۡعَلۡنِي فِي ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ وضع داسم ظاهر په ځائ دضمیر دپاره داشعار دي په سبب دعذاب باندې، چې هغه ظلم او شرك دي او نبي پاك ﷺ باوجود ددې چې معصوم وو خو بیا هم هغه ته ددعا غوختلو حکم او تعلیم ورکول دپاره داظهار دکمال عبودیت دي، اودغه شان پدې کښې اشاره ده شدت دعذاب ته اودغه شان پدې کښې اشاره ده چې په دنیوي عذاب کښې عام طور باندې عموم او شمول وي لکه په سورة الانفال کښې دی. واتقوا فتنة لاتصيبن الذين ظلموا منكم خاصة اودغه شان دعا په حدیث دترمذي کښې هم دنبي ﷺ نه منقوله ده چې: اذا اردتّ في النّاس فتنةً فاقبضني اليك غيرمفتونٍ.

﴿وَإِنَّا عَلَىٰٓ أَن نُّرِيَكَ﴾ یعني الله ﷻ پدې قادر دي چې ستا په ژوندون کښې په دوئ باندې عذاب راولي لیکن دحکمت دوجهې نه الله ﷻ عذاب مؤخر کوي ځکه چې دالله ﷻ په علم کښې ځنې کسانو ایمان راوړل مقدر دی.

﴿ٱدۡفَعۡ بِٱلَّتِي﴾ دا طریقه دتبلیغ ذکر کیږي. یعني دا مشرکین اګرچه ستاددین او توحید دعوت په سخت لهجې سره ردکوي خو ته دنرمئ او حسن اخلاق مظاهره کوه، نو مراد په ﴿بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُ﴾

نرمه لهجه او خانسته اخلاق دی او دَ ﴿اَلسَّيِّئَةَ﴾ نه مراد د کفارو بد اخلاقي او سخته لهجه ده. او دغه شان ﴿بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ﴾ نه مراد عفو. درګزر دي او د ﴿اَلسَّيِّئَةَ﴾ نه مراد د کفارو ظلم دې ﴿نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَصِفُونَ﴾ يعنی ددوئ خبرې او کارونه زمونږ په علم کښ دی. مونږ به ورته پوره پوره سزا ورکړو

﴿وَقُل رَّبِّ أَعُوذُ بِكَ﴾ دا دَبلې دعا تعليم دې او مراد د ﴿هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ﴾ نه شيطانی وسوسې دی چې دَانسانانو په زړونو کښ اچوي چې دهغې په ذريعې سره انسان دَالله ﷻ دَذکر نه غافله کړی او دَقبول ايمان نه ئې منع کړي او ﴿أَن يَحْضُرُونِ﴾ مقصد دا دې چې شيطان انسان ته په مختلف اوقاتو کښ حاضريږي دَهغه په امورو کښ خلل واقع کوي دَانسان په زړه کښ تکبر. ريا. غضب او نور اخلاق رذيله پيدا کوي او دَثواب نه ئې محرومه کوي، امام مسلم رحمه الله دَحضرت جابر رضي الله عنه نه روايت نقل کړيدې چې رسول الله ﷺ ارشاد او فرمائيلو چې شيطان ستاسو هر کار ته په هر وخت کښ راځي او په هر کار کښ دَګناهونو او بد کارونو وسوسې تاسو ته اچوي نو دې دَپاره دَدې دعا خصوصي تعليم ورکړې شو، امام ترمذی رحمه الله دَعمرو بن شعيب رحمه الله سند سره حديث نقل کړيدې فرمائی چې نبی پاک ﷺ مونږ ته يو څو کلمات خودليدی چې دَګبهراهټ نه دَبچ کيدلو دَپاره او ده کيدلو په وخت ئې مونږه وايو، هغه کلمات دا دی: بسم الله اعوذ بكلمات الله التامة من غضبه وعقابه وشر عباده ومن همزات الشيطين وان يحضرون او راوي فرمائی چې حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه به دا دعا په خپلو مشرانو اولاد باندې ياده وله او ماشومانو له به ئې اوليکله او په غاړه به ئې ورله واچوله.

حَتّٰٓى اِذَا جَآءَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُوْنِ ﴿۹۹﴾ لَعَلِّيْٓ
دوئ به انکار کوي ترهغې وخته پورې چې راشي يو تن ددوئ ته مرګ نو وائی به اې ربه خما واپس کړی ما لره. دَپاره ددې
اَعْمَلُ صَالِحًا فِيْمَا تَرَكْتُ كَلَّا ؕ اِنَّهَا كَلِمَةٌ
چې عمل او کړم نيک په بدله دَهغې کښ چې ما پرېخودلې دې او به ونيلې شي، هيچرې دا نه کيږي بيشکه دا يوه خبره ده
هُوَ قَآئِلُهَا ؕ وَمِنْ وَّرَآئِهِمْ بَرْزَخٌ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿۱۰۰﴾
چې دې وائی هغې لره او مخې د دوئ نه لويه پرده ده تر هغه ورځ پورې چه دوئ به دوباره ژوندي کولې شي

فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَلَآ أَنْسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ

پس هركله چې ووكړې اوكړې شي په شپيلۍ كښې پس نه به وي نسبونه په مينځ ددوئ كښې په دغه ورځ

وَلَا يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿۱۰۱﴾ فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۰۲﴾

او نه به دوئ تپوسونه كولې شي ديوبل نه پس هغه څوك چې درانه شي عملونه دهغه پس دغه كسان هم دوئ كامياب دي

وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ فَأُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا أَنْفُسَهُمْ فِيْ جَهَنَّمَ

او هغه څوك چې سپك وي عملونه د هغه نو دا هغه كسان دي چې تاواني كړى ني دى خانونه خپل په جهنم كښې به وى دوئ

خٰلِدُوْنَ ﴿۱۰۳﴾ تَلْفَحُ وُجُوْهَهُمُ النَّارُ وَهُمْ فِيْهَا كٰلِحُوْنَ ﴿۱۰۴﴾

هميشه دپاره. سوزوي به مخونه د دوئ اور او دوئ به په هغې كښې بدشكله وي

﴿حَتّٰٓى إِذَا جَآءَ﴾ دا تخويف اخروي دي اودَدې تعلق دَ آيت نمبر(۹۰) كښې ﴿وَإِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ﴾ سره دي، يعنې دوئ په تكذيب او غفلت كښې پراته دی او شرك، كفر كښې مشغوله دی ليكن چې كله به دوئ كښې چاته مرګ راشي اودَخپل اعمالو سزا او نتيجه اوګوري نو بيا به ارمان كوي او باربار به دنياته دَواپس كيدلو تمنا او درخواست كوي دَپاره دَنيك عمل ليكن دَدوئ دا درخواست به نه قبليږي ﴿رَبِّ ارْجِعُوْنِ﴾ جمع دَپاره دَتعظيم دَمخاطب ده چې الله ﷻ دي، او څرنګه چې واحد متكلم دَتعظيم دَپاره صيغه دَجمع استعماليږي نو دغه شان دَمخاطب واحد تعظيم دَپاره هم صيغه دَجمعې استعماليږي او بعض فرمائي چې مقصود دَجمعې نه تكرار دي، لكه څرنګه چې كله كله تثنيې نه تكرار مراد كړې شي لكه: قفانبك من ذكرى حبيب ومنزل، كښې "قفا" دَديو (۱) قول مطابق په معنى دَ قف قف" سره دي، نو دغه شان "ارجعون" په معنى دَارجعنى، ارجعنى، ارجعنى سره دي او بعض فرمائي خطاب په اصل كښې ملائكوته دي او ذكر دَ"رب" ځكه اوشو چې مستغاث په حقيقت كښې الله ﷻ دي

قرطبي وغيره فرمائي چې دا تمنا او درخواست په كافر پورې ندې مختص، بلكه مؤمن فاسق به هم دا تمنا كوي. لكه سورة المنافقون ايت نمبر(۱۰) كښې دی او دغه شان دا تمنا به په مختلف اوقاتو كښې وي، په وخت دَمعاينې دَموت كښې به وي لكه پدې سورت او سورة المنافقون كښې دی،

په عالم برزخ کښې به وي لکه په سورت ابراهيم ايت نمبر(۴۴)کښې دی ،په وخت دنشوراوحشر کښې به وي لکه سورة الاعراف ايت نمبر(۵۳)کښې دی. په وخت دپيښئ درب کښې به وي لکه سورة الانعام ايت نمبر(۲۷)کښې دی.اودغه شان دجهنم په اور کښې به هم دغه چيغې اوباسي لکه په سورة فاطر ايت نمبر(۳۷)کښې دی

﴿لَعَلِّيٓ أَعۡمَلُ﴾"لعلّ"دامید اوتردد دپاره ندي.ځکه پدغه وخت کښې به ددوئ عزم دنيک عمل وي نوکلمه دترجي به دوئ تواضعاً استعماله وي. اوبعض فرمائی چې داترجي په نسبت سره رد الی الدنيا ته ده يعنی زمونږ اميد دې چې مونږ دنياته واپس کړې شو نومونږ به ضرور نيک عمل کوو. اوبعض فرمائی چې دنيک عمل کولوبه ددوئ عزم وي خوچونکه دنياته واپس کيدل اونيک عمل کول دامورو مستقبلونه دی اوعلم دهغې بغيرد الله ﷻ نه بل چاته نيشته دې نودې وجهې نه. يعني دوجهې دعدم تيقن دعلم نه،دوئ خپل کلام کښې به کلمه ترجي استعماله وي اومراد په عمل صالح سره ايمان اوطاعات ټول دی اود﴿تركت﴾نه مراد مال،اولاد اوبد اعمال دی چې دوئ په دنيا کښې پريخي وي اويا ترکت په معنی دضيّعتُ سره دې، يعني کوم شی چې ماضائعه کړيدې،چې ايمان اونيك اعمال دی.

﴿كَلَّآۚ إِنَّهَا﴾"كـلا" كلمه ردعه ده اودده درخواست مسترد كيدل اودتمنا جواب دې. چې دنياته واپسي كيدل اوبياموقعه ميلاويدل هرګزنشي کيدلې او"ها ضمير راجع دې تمناده ته، چې ﴿رَبِّ ٱرۡجِعُونِ﴾دې. ﴿هُوَ قَآئِلُهَاۖ﴾ يعنی دحسرت اوندامت دوجهې نه به دې داتمنابار بار کوي، خوداتمنابه ئی صرف تمنا پاتې شي اوڅه فائده به پرې نشي مرتبه ﴿وَمِن وَرَآئِهِم﴾دامانع ذکر کيږي دواپس راتلو دپاره يعني دده دنياته واپس راتلل محال دي ځکه چې اوس خودې برزخ ته رسيدونکې دې اودعالم برزخ نه عالم دنياته واپس راتلل نشي کيدې.اوبرزخ په لغت کښې ددوو(۲)څيزونو په مينځ کښې حائل اومانع ته وئيلی کيږئ اوپه اصطلاح دشرع کښې هغه مدت ته وئيلې کيږي چې دمرګ نه پس تردوباره راژوندي کيدلو پورې دې.اوبدې عالم کښې اثرات دسزا اوانعاماتو بالذات په روح باندې مرتب کيږي اوروح بابه عليين کښې وي اويابه سجين کښې وي اودروح په واسطې بدن اواجزاؤدبدن ته هغه اثرات رسيږي اوبدن اودهغې اجزاء اوذرات ئی

محسوسه وي اګرچې دغه بدن خاورې شوې وي یاغرق شوې وي. څکه چې د روح د بدن سره تعلق وي او دا تعلق کله کله اقوی وي حتی چې هغه بدن باندې څنې دنیوي احکامات مرتب شي او کله قوي وي. کله ضعیف او کله اضعف وي. لکه څرنګه چې عالم دنیا کښې جزاء او سزا بالذات په بدن باندې مرتبه کیږي او بالواسطه اثرئې په روح کښې ظاهریږي او په اخرت کښې جزاءاو سزا روح او بدن دواړو ته بالذات وي، او دې وجهې نه په دنیا کښې د نیك عمل یا د بد عمل جزاء او سزا پوره بدله نده دغه شان په قبر کښې جزا او سزا د اعمالو پوره بدله نده، بلکه پوره بدله د اعمالو په اخرت کښې ده چې روح او بدن دواړو ته بالذات میلاویږي. نو لهذا د کومو اسلافو نه چې منقول دي چې د برزخ نه مراد دادي چې نه د اهل دنیا سره وي چې خوراك وڅښاك او کړي او نه د اهل اخرت سره وي چې د اعمالو بدله ورته ورکړې شي نو ددینه مراد پوره پوره بدله ورکول دي لکه ابن کثیر رحمه الله د اقول د محمدبن کعب رحمه الله نه نقل کړیدی چې: البرزخ مابین الدنیاو الاخرة، لیسوا مع اهل الدنیایاکلون و یشربون، ولامع اهل الاخرة یجازون باعمالهم (ابن کثیر) نو لهذا د داسې اقوالونه استدلال کول په نفي د عذاب قبر یا تنعیم قبر باندې غلط دی او هر کله چې په عالم برزخ کښې د تعذیب یا تنعیم، بالذات تعلق د روح سره وي او روح غیر مرئ او غیر محسوس شئ وي، نو د دې وجهې نه برزخي زندګي هم غیر محسوسه زندګی ده. ایمان پرې راوړل ضروري دي.

﴿فَإِذَا نُفِخَ فِي ٱلصُّورِ﴾ دا تخویف اخروي دې او د نفخ نه مراد نفخه ثانیه ده چې په هغې سره به ابتداء د عالم اخرت کیږي. ﴿فَلَآ أَنسَابَ﴾ ددینه د مطلق نسب نفي نده مراد، بلکه نفي د منفعت د نسب ترینه مرادده یعني نسبونه به چاته فائده نشي ورکولې، بلکه هر یو کس به د یو بل نه تختي، لکه په سورة عبس ایت نمبر(۳۵) کښې دی او یا ترینه نفي د تفاخر د نسب ده یعني فخریه نسبونو باندې به نه وي.

﴿وَلَا يَتَسَآءَلُونَ﴾ ددینه یا نفي د سوال تراحم مرادده چې د یو بل نه به د رحم سوال نشي کولې د ډیر دهشت او د خوف وجهې نه او یا دا چې مواقف او مقامات د قیامت ډیر دی نو په څنې مواقفو کښې به پوښتنه او سوالونه د یو بل نه، به نشي کولی، او په څنې مواقفو کښې به د یو بل نه تپوس کولی شي، بهر تقدیر د دې ایت تعارض د سورة الصّافات د ایت نمبر(۲۷) سره نیشته دې چې هلته د یو بل نه. د تپوس کولو ذکر دې حضرت تهانوي رحمه الله فرمائی چې نفی د منفعت د نسب او نفي

دَتسائل دواړه مختص دي په کفاروپورې. اوهرچې دي مومنان نوهغوئ ته به نسب اوتعلق فائده ورکوي لکه سورة الطور ايت نمبر(۲۱)اوپه سورة الزخرف ايت نمبر(۶۷)کښې دي اودغه شان مؤمنان به دَيوبل سره خبرې هم کوي

﴿فَمَن ثَقُلَتْ مَوَٰزِينُهُۥ﴾ دا بشارت اخروي دې او اضافت دَ موازين ضميرته دَپاره دَعهد دې اومراد ترينه موازين الحسنات دى اوقرينه پرې دا ورستو مرتبه جمله ﴿فَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ﴾ ده.دَدې ايت مزيده تشريح حضرت والد صاحب نورالله مرقده په سورة الاعراف ايت نمبر(۸)کښې په جامع اندازسره کړيده

﴿وَمَنْ خَفَّتْ﴾ دا تخويف اخروى دې ﴿تَلْفَحُ وُجُوهَهُمُ﴾ تخصيص دَ وجه دَوجهې دَشرافت نه دې چې دا اشراف الاعضاء ده اوعام طورباندې دَتکليف په وخت کښې خلك دَمخ بچ کولو کوشش زيات کوي.نوچې مخ دَعذاب نه بچ شي نونوراعضاء به په طريق اولى سره نشي بچ کيدلې

﴿كَـٰلِحُونَ﴾ دَدې تفسير په حديث دَترمذى وغيره کښې دَنبى ﷺ داسې منقول دې.چې ددوئ مخونه به په جهنم کښې اوسوزى نوبره شونډه به ئې دَسرتر مينځ پورې اورسيږي اولاندې شونډه به ئې ترنامه پورې به اورسيږي اوغاښونه به ئې ښکاره پاتې شي

أَلَمْ تَكُنْ ءَايَـٰتِى تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فَكُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ ۝١٠٥ قَالُوا۟ رَبَّنَا

آيانه وو اياتونه خماچې لوستلې کيدل په تاسوباندې پس تاسوونى چې دروغژن ګڼړل مو هغې لره وائى به دوئ اې ربه زمونږ

غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا وَكُنَّا قَوْمًا ضَآلِّينَ ۝١٠٦ رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا مِنْهَا

غالبه شوې وه په مونږباندې بدبختى زمونږه اومونږ وو يوه ډله بې لارې اې ربه زمونږاوباسه مونږه ددې جهنم نه

فَإِنْ عُدْنَا فَإِنَّا ظَـٰلِمُونَ ۝١٠٧ قَالَ ٱخْسَـُٔوا۟ فِيهَا

پس کچرې وابس شو مونږ ګمراهئ ته نوبيشکه مونږ به ظالمان يو اوبه وائى الله ﷻ کوزې شئ اوسيرئ به جهنم کښې

وَلَا تُكَلِّمُونِ ۝١٠٨ إِنَّهُۥ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْ عِبَادِى يَقُولُونَ رَبَّنَآ ءَامَنَّا

او سره خبرې مه کوئ بېشکه وه يوه ډله دَ بندګانو خماڅخه چې ويل به هغوئ اې ربه زمونږه ايمان راوړې دې مونږ

فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿١٠٩﴾ فَاتَّخَذْتُمُوْهُمْ سِخْرِيًّا

نو بخښه اوکړې مونږ ته اورحم اوکړې په مونږ باندې اوته ئې زيات مهربان د رحم کوونکونه پس نيولې وو تاسو هغوئ لره په ټوقو سره

حَتّٰٓى اَنْسَوْكُمْ ذِكْرِيْ وَكُنْتُمْ مِّنْهُمْ تَضْحَكُوْنَ ﴿١١٠﴾ اِنِّيْ جَزَيْتُهُمُ الْيَوْمَ

تردې چې غافل ئې کړئ د ياد زمانه اووئ تاسو چې په هغوئ پورې موخندا کوله بيشکه بدله ورکړه ما هغوئ ته نن ورځ

بِمَا صَبَرُوْٓا ۙ اَنَّهُمْ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿١١١﴾ قٰلَ كَمْ لَبِثْتُمْ فِي الْاَرْضِ

په وجه د صبر د دوئ چې بيشکه خاص هم دوئ کامياب دي اوبه وائی الله ﷻ څومره وخت تير کړو تاسو په زمکه کښې

عَدَدَ سِنِيْنَ ﴿١١٢﴾ قَالُوْا لَبِثْنَا يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ فَسْـَٔلِ الْعَآدِّيْنَ ﴿١١٣﴾

په شمار د کالونو سره دوئ به اوائی تيره کړيده مونږه يوه ورځ يا يوه حصه د ورځ پس تپوس اوکړه د شمار کوونکونه

قٰلَ اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا قَلِيْلًا لَّوْ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿١١٤﴾

اوبه وائی الله ﷻ نه دې تير کړې تاسو مگر ډير کم وخت کچرې تاسو پوهيدلی

﴿أَلَمْ تَكُنْ﴾ دې آياتونو کښې جهنميانو ته په مذکورې تمنا زجردې چه د جانبه د الله ﷻ نه ورته زجرا اوئيلې شي، چې څما اياتونه په تاسو تلاوت کيدلو شونو تاسو به ئې تکذيب کولو

﴿غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا﴾ د دينه مراد ياشقاوت تقديري دې او يا ترينه دنيوي خواهشات مراد دي

﴿وَكُنَّا قَوْمًا ضَآلِّيْنَ﴾ دا وينا به د دوئ اعتذارا نه وي بلکه اقرارا به وي. لکه سورة المؤمن ايت نمبر ۱۱ کښې تصريح ده.

﴿قَالَ اخْسَـُٔوْا فِيْهَا﴾ اخسئوا کلمه د تحقير او تذليل ده، په عربو کښې د سپي شړلو او چپ کولو د پاره استعماليږي او ﴿وَلَا تُكَلِّمُوْنِ﴾ مقصد دا دې چې تاسو د دې قابل نه يئ چې رفع د عذاب يا دنيا ته د واپس کيدلو په باره کښې درخواست اوکړئ، ابن عباس ؓ نه مروي دی چې جهنميان به په جهنم کښې شپږ قسمه درخواستونه کوي او هر درخواست به زر (۱۰۰۰) کاله ورستووي د بل نه، او د ترمذی روايت مطابق د دوئ درخواست او د فرشتي جواب ورکولو مينځ کښې به هم زر (۱۰۰۰) کاله

مدد وي (۱) **اول** درخواست به اوکړي ربنا ابصرنا وسمعنا (السجدة:۱۲) نو دهغې په جواب کښې به ورته اوئيلې شي چې حق القول مني (السجدة ۱۳) (۲) **دويم** درخواست به اوکړي چې ربنا امتنا اثنتين واحييتنا اثنتين فاعترفنا (المؤمن ۱۱) نو دهغې په جواب کښې به ورته اوئيلې شي ذلكم بانه اذا دعى الله (المؤمن ۱۲) (۳) **دريم** درخواست به اوکړي يامالك ليقض علينا ربك. دهغې په جواب کښې به ورته اوئيلې شي انكم مكثون (الزخرف ۷۷) (۴) **څلورم** درخواست به اوکړي ربنا اخرنا الى اجل قريب نجب. دهغې په جواب کښې به ورته اوئيلې شي اولم تكونوا اقسمتم من قبل (ابراهيم:۴۴) **پنځم** درخواست به اوکړي اخرجنا نعمل صالحا نو دهغې په جواب کښې به ورته اوئيلې شي اولم نعمركم مايتذكر فيه (فاطر:۳۷) او **شپږم** درخواست دا مذکور اوکړي چې ﴿ رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا مِنْهَا فَإِنْ عُدْنَا ﴾، او دې په جواب کښې به ورته دا مذکوره کلام اوکړې شي چې ﴿ٱخْسَـُٔوا۟ فِيهَا ﴾ د دينه ورستو به بيا دوئ درخواستونه نشي کولی او په جهنم کښې به دَسپو او خرو پشان اوازونه به را اوباسي (اعاذنا الله منها بفضله العظيم).

﴿إِنَّهُۥ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْ عِبَادِى ﴾ حضرت شيخ رحمه الله فرمائي چې دا ادخال الهى دې او علت دې دَما قبل دَپاره يعنى تاسو ته دا سزاځکه درکولې کيږي چې تاسو به په دنيا کښې دَدين منونکو خلکو پورې ټوقې، مسخرې او خندا ګانې کولې، نو دَ ﴿فَرِيقٌ مِّنْ عِبَادِى ﴾ نه مراد موحدين او دَالله تعالى ددين منونکې ضعفاء مسلمانان دی، لکه حضرت بلال رضي الله عنه، خبيب رضي الله عنه، صهيب رضي الله عنه وغيرهم شو (قرطبي) او ﴿سِخْرِيًّا﴾ مصدر دَسخر نه دې او يا ء کښې دَمبالغې دَپاره ده.

﴿حَتَّىٰٓ أَنسَوْكُمْ ذِكْرِى ﴾ نسبت دَانساء مؤمنانو ته کول مجازا دی يعنى په هغوئ پورې ټوقې او مسخرو کولو کښې تاسو دومره مشغوله شوئ چې دَدغې شغل دَوجې نه ستاسو نه ځما ذکر او عذاب هير شو

﴿إِنِّى جَزَيْتُهُمُ ٱلْيَوْمَ ﴾ يعنى ستاسو حالت خو دا دې چې دَسپو پشان په جهنم کښې پراته يئ او هغه ضعفاء مؤمنان چې تاسو به ورپورې خندګانې کولې دَهغوئ په ايمان باندې صبر او دينى مشقتونو کښې دَتحمل دَوجې نه هغوئ ته پوره پوره بدله ميلاؤ شوه اونن ورځ په کاميابئ او خوشحالئ کښې دی

﴿قٰلَ كَمْ لَبِثْتُمْ﴾ غوره قول دادي چې دا تپوس به دجانبه دالله ﷻ نه وي په واسطه دملائكو سره ومقصود ددې سوال نه توبيخ وي. او ﴿فِي الْأَرْضِ﴾ نه مراد دنيوي زندگي ده او بعض فرمائي چې قبرزندگي ترينه مراد ده ځكه چې كفاردفنا دائمي قائله وو. او برزخي زندگي قائله نه وو. نو توبيخا به ترينه داتپوس اوكړې شي ليكن اول قول زيات غوره دې

﴿قَالُوا لَبِثْنَا يَوْمًا﴾ دآخرت دتكليفونو او سختئ دوجهې نه. به دوئ ته ددنيا زندگي ډيره كمه ښكاره شي او دغه شان دقيامت دشدائدو او اهوالو دوجهې نه. به دوئ حواس باخته شي او دنيا والامدت به ورنه هيرشي، او ډير هيبت او حيرانتيا دوجهې نه به اوائي چې ﴿فَسْئَلِ الْعَادِّينَ﴾ يعنى دشماركوونكونه تپوس اوكړئ مونږ ته خوهيڅ پته نه لگي، او دوينه مراد ياحساب دان خلك دى او ياترينه ملائك مراد دى. چې هغوئ دانسانانو اعمالو سره دهغوئ عمرونه هم ليكي

﴿قٰلَ إِنْ لَبِثْتُمْ﴾ "ان" نافيه دې او دآيت مقصد دادى چې دالله ﷻ دطرف نه به ورته او ئيلې شي چې تاسو په دنيا كښ ډيرلږ وخت تيركړيدې خو تاسو دهغې په قدرنه وئ پوهه شوي او دهغې نه موفائده نه وه اغستې

أَفَحَسِبْتُمْ	أَنَّمَا	خَلَقْنٰكُمْ	عَبَثًا	وَّأَنَّكُمْ	إِلَيْنَا

آيا پس گمان كړيدې تاسو داچه بيشكه پيداكړي يئ مونږ تاسو بې فائدې او داچه بيشكه تاسو به مونږ طرف ته

لَا تُرْجَعُونَ ﴿۱۱۵﴾ فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ۚ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ ﴿۱۱۶﴾

نشئ راگرځولې. پس بلند دې الله ﷻ بادشاه دې حق دې نيشته حقدار دبندگئ سوا دهغه نه رب دې دعرش عزت مند

وَمَنْ	يَّدْعُ	مَعَ	اللّٰهِ	إِلٰهًا	أٰخَرَ	لَا	بُرْهَانَ	لَهُ بِهٖ

او څوك چه بلنه اوكړه (عبادت ئې اوكړو) دالله ﷻ سره بل مددگارته نيشته دليل ده لره په هغې باندې

فَإِنَّمَا حِسَابُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ ۚ إِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ وَقُلْ رَّبِّ اغْفِرْ

پس بيشكه دده پوره حساب درب دده سره دې بيشكه نشي بچ كيدلې كافران او او وايه نه اې ربه خمابخښنه اوكړې

وَارْحَمْ وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۱۱۸﴾

او رحم او کړې او ته ښې زيات مهربان د رحم کونکو نه

﴿أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا﴾ دا زجر دې منکرينو ته او همزه په مقدر جملې باندې داخل دې او فاء فصيحيه ده نو تقديرد عبارت داسې دې اغفلتم و تلاهيتم فحسبتم يعنې تاسو په غفلت او بې پرواهئ کښې پراته يئ په دې خيال او ګمان چې تاسو عبث پيدا کړې شوی يئ او عبث ونيلې کيږي هرهغه خيزته چې د فائدې نه خالي وي او يا هغه فعل چې مقصد د هغې نه غرض صحيحه نه وي او ﴿عَبَثًا﴾ يا حال دې د ضمير متکلم نه. په معنى د عابثين سره دې او يا مفعول له دې د خلق دپاره يعنې ستاسو ګمان دا دې چې ستاسو خلق او پيدائش د عبث دپاره شوې دې او تاسو به په زندګئ تيره ولو کښې مکمل ازادئ چې احکامات د ثواب و عقاب په تاسو باندې نه دی مقرر کړې شوي. لکه څرنګه چې بهائم دي

﴿وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ﴾ دا عطف دې په ﴿أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ﴾ باندې او د ﴿أَفَحَسِبْتُمْ﴾ تحت واقع شوې دې. يعنې حسبتم انکم الينا لا ترجعون.

﴿فَتَعَالَى اللَّهُ﴾ دا تفريع په ټول سورت ده او په دې سورت کښې بيان شوی دلائل عقليه، نقليه ثمره او نتيجه ده يعنې د ټولو دلائل عقليو او نقليو نه دا ثابته شوه چې الله جل جلاله لوئ ذات دې. او د هر قسم شريك او د عبث کارونو نه پاك دې ﴿الْمَلِكُ الْحَقُّ﴾ صفت اول دی د الله جل جلاله د پاره يعنې حقيقي بادشاه او متصرف صرف الله جل جلاله دې ﴿لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ﴾ صفت ثانى دې يعنې د هغه نه علاوه بل معبود، حاجت روا او مشکل کشا نيشته دې ﴿رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ﴾ دريم صفت دې او الله جل جلاله اګر چه د ټولو مخلوقاتو رب دې خو تخصيص د عرش د دې وجه نه او شو چې عرش په ټولو مخلوقاتو باندې احاطه کړيده او د ټولو مخلوقاتو د پاره په منزله د سقف دې او دغه شان اعظم المخلوقات دې نو چې د عرش رب شو د نورو مخلوقاتو په طريق اولى سره رب شو او کريم ورته خکه ونيلې شوي دي چې ده ته لوئ شرافت د نسبت استواء الله جل جلاله حاصل دې. او دغه شان دا اعزاز او اکرام ورته هم حاصل دې چې مرکز د تجليات الهيو دې او ټول رحمتونه او فيوضات د عرش نه نازليږي او دغه شان کريم په معنى د حسن او خانسته سره د

﴿وَمَن يَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ﴾ دا تخويف اخروي دي﴿لَا بُرۡهَٰنَ لَهُۥ بِهِۦ﴾ دا صفت لازمه دي دَ﴿إِلَٰهًا ءَاخَرَ﴾ دَپاره يعني په شرك باندې چاسره څه دليل هم نيشته دي﴿فَإِنَّمَا حِسَابُهُۥ﴾ دا جزا ده دَشرط دَپاره اوحساب كنايه ده دَبدلې وركولونه اوبدله په لفظ دَحساب سره ذكركولو كښې اشاره ده دَغتيوالي دَعذاب اوسزاته﴿إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡكَٰفِرُونَ﴾ پديكښې اجمالاً سزا طرف ته اشاره ده چې دَمشرك دَپاره معافي اودَجهنم نه خلاصى نيشته دي اودَسورت ابتداء په﴿قَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ﴾ سره شوى وه، او اختتام ئې په﴿لَا يُفۡلِحُ ٱلۡكَٰفِرُونَ﴾ سره اوشونو پديكښې حسن مناسبت دې دَابتداء دَاختتام سره

﴿وَقُل رَّبِّ ٱغۡفِرۡ﴾ دا په اخيركښې دَفلاح اوكاميابئ دَپاره دَدعا تعليم وركولې كيږي چې دَ الله ﷻ نه طلب دَمغفرت اورحمت كوئ اومفعولين دَمغفرت اودرحمت حذف كړې شويدى دَپاره دَشمول اوعموم، نوپه مغفرت كښې اشاره ده دفع دَمضرت ته، چې هرقسم مضرت وي اوپه رحمت كښې اشاره ده جلب منفعت ته، چې هرقسم منفعت وي اودغه شان په مغفرت سره تخليه عن الرزائل ته اشاره ده اوپه رحمت سره تحليې ته اشاره ده اودَدې وجهې طلب دَمغفرت مقدم كړې شو په طلب درحمت باندې اونبى ﷺ ته حكم دَطلب دَمغفرت كول باوجود دَدې چې نبى ﷺ معصوم دې دادَپاره دَحصول دَمراتبودې اودغه شان دَپاره دَدې چې امتيان هم دَنبى ﷺ اقتداء اوكړي.

بغوي روايت نقل كړيدې چې دَحضرت ابن مسعود ﷺ تيريدل په يو ډيرسخت بيمارباندې اوشو نوحضرت ابن مسعود ﷺ دَهغه په غوږكښې دامذكورايا تونه اوئيل اودهغه ئى پرې دم كړو نوهغه فوراً صحيح شو ،نبى ﷺ دَده نه تپوس اوكړوچې تادَدې مريض په غوږكښې څه اوئيل؟ حضرت ابن مسعود ﷺ ورته عرض اوكړو چې مادا (مذكور) ايا تونه اوئيل،نبي پاك ﷺ اوفرمائيلوچې خمادې قسم وي په هغه ذات باندې چې دَهغه په قبضه كښې خماروح دې چې يويقين لرونكې كس دا اياتونه په غرباندې اووانى نوهغه به هم دَخپل ځائ نه لرې كړى، دغه شان ابن السنى دَابراهيم بن حرث نه نقل كړيدى چې نبى ﷺ مونږ په لښكركښې دَجهاد دَپاره اوليږلو اومونږته ئى حكم اوكړو چې سهاراو ماښام دامذكورا ياتونه لولئ مونږبه لوستل،نو الله ﷻ مونږه په سلامتيا سره اومال غنيمت سره واپس كړو.

تم تفسير سورة المؤمنون بفضل الله وعونه وكرمه (۲۷) ذى الحجة سنة (۱۴۳۳ هـ) ۸ نومبر سنه ۲۰۱۲ء۔

عنوان	د مضامینو فهرست	صفحه

سورة الكهف

سوره مريم

سورة طٰه

سورة الانبیاء

سورة الحج

سورة المؤمنون

تمت بالخير

تم فهرس الكتاب بعون الملك الوهاب

وصلى الله تعالى على خير خلقه محمد وعلى اله وصحبه وسلم اجمعين برحمتك يا ارحم الراحمين